# تسہیل الحقائق

[illegible]

# کنز الدقائق

تالیف

[illegible]

[illegible]

[illegible]

مکتبۃ الاشاعت

# تسهيل الحقائق

پښتو شرح

# كنز الدقائق

تصنيف: مولانا **نصيب الله** (ابن الحاج عبد الصمد ماليزئي نوّر الله مرقده)

جلد دوهم

پښتو ژباړه

مولوی سعید اکبر (رستاد) فاضل احسن العلوم کراچی

مفتی نور احمد (نور) فاضل دار العلوم کراچی

مکتبة الارشد کوئٹه

فون: 03138895104,03013725288

دکتاب نوم : ........ تسهیل الحقائق پښتو شرح کنزالدقائق

مؤلف: مولانا نصیب الله (ابن الحاج عبدالصمد مالیزئی نوراللہ مرقدہ)

ناشر: مکتبة الارشد کوئټه ،فون نمبر . ۰۳۱۳۸۸۹۵۱۰۴۰۳۰۱۳۷۷۲۵۲۸۸ -

دلاسته راوړلو ځایونه:

مکتبه رشیدیه سرکی روډ کوئټه

مکتبه حنفیه کاسی روډ کوټه

مکتبة العرفان کاسی روډ کوئټه

مکتبه دارالاخلاص پشاور

مکتبه اسلامیه کاسی روډ کوئټه

مکتبه عمرفاروق پشاور

مکتبه دارالعلوم کاسی روډ کوټه

مکتبه رشیدیه اکوړه ختک

مکتبه حقانیه چمن

مکتبه علمیه اکوړه ختک

مکتبه عمرفاروق کراچی

مکتبه الاحسان بنو

# كتاب البيوع

دا كتاب د بيع په بيان كې دى.

بيع په لغت كې مبادلة الشئ بالشئ (يو شى په بل شي سره بدلولو) ته وايي. او شرعي تعريف يې هغه دى كوم چې مصنف رحمه الله كړى دى. د بيع لفظ له اضدادو څخه دى د خريد او فروخت دواړو لپاره مستعمل دى. سوال دا دى چې لفظ د بيع مصدر دى او مصدر خو تثنيه او جمع نه راوړل كيږي نو مصنف رحمه الله بيا ولې بيوع د جمع په صيغه سره ذكر كړى دى؟ يو جواب خويې دادى چې دلته بيع د مبيع اسم مفعول په معنى دى او مبيعات ډيرې انواعې او اقسام دي نو ځكه دا د جمع په صيغه سره ذكر شوى دى. دوهم جواب دادى چې مصنف رحمه الله د كثرت انواع طرفته په اشاره كولو سره د بيع لفظ جمع راوړى دى.

د بيع لفظ متعدي و دوو مفعولو ته وي لكه چې ويل كيږى (بعتك الشئ) او كله د تاكيد لپاره پر اول مفعول باندې (من) داخلوي لكه (بعت من زيد الدار) او كله لام زائده پر داخلوي لكه چې ويل كيږى (بعت لك الشئ).

د مبيعى په اعتبار سره مطلق بيع پر څلور قسمه ده: سامان د سامان په عوض خرڅول دي ته بيع مقائضه ويل كيږى. سامان د پيسو په عوض خرڅول دي قسم ته بيع ويل كيږى. ځكه چې دا د بيع د انواعو هغه مشهور قسم دى. پيسې د پيسو په عوض خرڅول دي ته بيع صرف ويل كيږى. پور د عين په عوض خرڅول دي ته بيع سلم ويل كيږي. د بيع ركن ايجاب او قبول دى او حكم د بيع ملك دى او شرطونه د بيع دا دي چې عقد كوونكى به عاقل او مميز وي او مبيعه به مال متقوم او مقدور التسليم وي.

**الحكمة**: اعلم ان الله سبحانه وتعالى خلق الانسان مدنيا بالطبع اى يحتاج الى من يتبادل معه المنفعة فى كل الامور سواء كان ذالك من طريق البيع والشراء او الاجارة او غرس الارض والاشتغال بالفلاحة او غير ذالك من جميع الوجوه التى هى سبب فى جعل الناس مجتمعين غير متفرقين ومتجاورين غير متباعدين واذا كان الامر كذالك وكان الانسان ذا نفس أمارة بالسوء والحرص والطمع من عاداتها الماصلة فيها وضع الشارع الحكيم قانونا للمعاملات حتى لاياخذ المرء ماليس له بحق وبذالك تستقيم احوال الناس ولا تضيع الحقوق وتكون المنافع متبادلة بين بنى الانسان على احسن الوجوه واتمها. (حكمة التشريع).

> (۱) هو مبادلة المال بالمال بالتراضى (۲) ويلزم بايجاب وقبول وضعا للمضى (۳) وبتعاط (۴) واى قام عن المجلس قبل القبول بطل الايجاب (۵) ولا بدمن معرفة قدر ووصف ثمن غيرمشار (۶) لا مشار.

**ترجمه**: هغه بدلول د مال دي په مال سره د طرفينو په رضا سندي سره. او لازميږى په ايجاب او قبول سره چې دواړه په ماضي لپاره وضع شوي وي. او په تعاطى سره. او هر يو له طرفينو چې له مجلس څخه ولاړ شي تر قبلولو مخكې نو ايجاب باطليږي. او ضروري دى معلومول د مقدار او د وصف د پيسو هغه چې غير مشار وي نه هغه چې مشار وي.

بيع په لغت كې مَبَادَلَةُ الشَّيْ بِالشَّيِ (يو شي په بل شي سره بدلولو) ته وايي. او شرعي تعريف يې هغه دی كوم چې مصنف رحمه الله كړی دی. دبيع لفظ له اضدادو څخه دی دخريد او فروخت دواړو لپاره مستعمل دی. سوال دادی چې لفظ دبيع مصدر دی او مصدر خو تثنيه او جمع نه راوړل كيږي نو مصنف رحمه الله بيا ولې بيوع د جمع په صيغه سره ذكر كړی دی؟ يو جواب خو يې دادی چې دلته بيع د مبيع اسم مفعول په معنی دی او مبيعات ډيرې انواعې او اقسام دي نو ځكه دا د جمع په صيغه سره ذكر شوی دی. دوهم جواب دادی چې مصنف رحمه الله د كثرت انواع طرفته په اشاره كولو سره دبيع لفظ جمع راوړی دی.

دبيع لفظ متعدي وذو مفعولو ته وي لكه چې ويل كيږي (بِعتُكَ الشَّيَ) او كله د تاكيد لپاره پر اول مفعول باندې (مِن) داخلوي لكه (بعت من زيد الدارَ) او كله لام زائده پر داخلوي لكه چې ويل كيږي (بعتُ لكَ الشّيَ).

دمبيعې په اعتبار سره مطلق بيع پر څلور قسمه ده: سامان د سامان په عوض خرڅول دي ته بيع مقائضه ويل كيږي. سامان د پيسو په عوض خرڅول دي قسم ته بيع ويل كيږي. ځكه چې دا د بيع د انواعو هغه مشهور قسم دی. پيسې د پيسو په عوض خرڅول دي ته بيع صرف ويل كيږي. پور د عين په عوض خرڅول دې ته بيع سلم ويل كيږي. دبيع ركن ايجاب او قبول دی او حكم دبيع ملك دی او شرطونه دبيع دادي چې عقد كوونكی به عاقل او مميزوي او مبيعه به مال متقوم او مقدور التسليم وي.

**الحكمة**: اعلم ان الله سبحانه وتعالى خلق الانسان مدنيا بالطبع اى يحتاج الى من يتبادل معه المنفعة فى كل الامور سواء كان ذالک من طريق البيع والشراء او الاجارة او غرس الارض والاشتغال بالفلاحة او غير ذالک من جميع الوجوه التى هى سبب فى جعل الناس مجتمعين غير متفرقين ومتجاورين غير متباعدين واذا كان الامر كذالک وكان الانسان ذا نفس أمارة بالسوء والحرص والطمع من عاداتها الماصلة فيها وضع الشارع الحكيم قانونا للمعاملات حتى لا ياخذ المرء ماليس له بحق وبذالک تستقيم احوال الناس ولا تضيع الحقوق وتكون المنافع متبادلة بين بنى الانسان على احسن الوجوه واتمها. (حكمة التشريع).

(۱) هو مبادلة المال بالمال بالتراضى (۲) ويلزم بايجاب وقبول وضعا للمضى (۳) وبتعاط (۴) واى قام عن المجلس قبل القبول بطل الايجاب (۵) ولابد من معرفة قدر ووصف ثمن غير مشار (۶) لا مشار.

**ترجمه**: هغه بدلول د مال دي په مال سره د طرفينو په رضامندي سره. او لازميږي په ايجاب او قبول سره چې دواړه د ماضي لپاره وضع شوي وي. او په تعاطی سره. او هر يو له طرفينو چې له مجلس څخه ولاړ شي تر قبلولو مخكې نو ايجاب باطليږي. او ضروري دی معلومول د مقدار او د وصف د پيسو هغه چې غير مشاروي نه هغه چې مشاروي.

**تشريح**: (۱) مصنف رحمه الله دبيع شرعي تعريف كړی دی چې بيع شرعًا (مبادلة المال بالمال بالتراضى) (يو مال د بل مال په عوض د طرفينو په رضامندي سره بدلولو) ته وايي. د مال په قيد سره احترازراغی له هغه صورت نه چې په هغه كې له يوه طرفه مال وي او له بل طرف څخه هيڅ نه وي. ځكه چې هغه ته هبه يا وصيت ويل كيږي. همدارنګه له هغه صورت څخه هم احترازراغی په كوم كې چې له يو طرف څخه مال وي او له بل طرف

څخه منفعت وي ځکه چې هغه ته اجاره ويل کيږي او د (بالتراضی) قيدیی ځکه ورسره ذکرکړی دی چې دلته مقصود دبيع شرعی بيانول دی او بيع شرعی له تراضی بغيره نه وي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي :( يا أيها الذين آمنوا لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل إلا أن تكون تجارة عن تراض منكم )( ای مؤمنانو امه خورئ مالونه يو دبل پخپلو کي په باطله طريقه سره مګر دا که تجارت وي په خوښه سره يو دبل ) . يو بل قيدهم پکاردی چې ولګيږی (أی مبادلة المال بالمال بطريق التجارة بالتراضی ) دغه قيدته ځکه ضرورت شته چې هبه بشرط العوض ووځي ځکه چې هبه بشرط العوض که څه هم په ابتداء کي بيع نه ده مګر بقاءً دبيع په حکم کې ده .

**فائده** : خرڅوونکي ته په اصطلاح کی بائع او اخستونکي ته مشتري او ددواړو ترمنځ فيصله شوي نرخ ته ثمن ويل کيږی هغه تر بازاري نرخ کم وي اوکه زيات وي او دبازارعام نرخ ته قيمت ويل کيږي، اوکوم شی چې خرڅيږي هغه ته مبيعه ويل کيږي له متعاقدينو څخه چې کوم يو اول خبره وکړي هغه ته ايجاب او دهغه بل خبري ته قبول ويل کيږي .

(۲) مصنف رحمه الله فرمايلي دي چې بيع په ايجاب او قبول سره لازميږی چې کله دادواړه لفظونه په ماضی سره وي، مګردا تخصيص په لفظ ماضی پوري نه دی بلکه امر (غير الدال علی الحال) او داسي مضارع څخه داحترازلپاره دی چې په سوف ياسين سره مقرونه وي که نه په امر دال علی الحال سره هم بيع منعقده کيږي لکه يو څوک چی ووايی (خذبكذا) هغه بل ووايی (اخذت) يا (رضيت) نو دابيع سمه اوصحيح ده همدارنګه په مضارع غير مقرون په سوف اوسين سره هم بيع منعقده کيږي لکه يو څوک چی ووايی (ابيعک) هغه بل ووايی (اشتريه) نو بيع منعقده کيږي په دي شرط چې دمتعاقدينو نيت به سمدستي دخرڅولو وي يوازي دبيع دوعدي نيت به يی نه وي .

**تنبيه** : دامام شافعی رحمه الله په نزد يوازي په ايجاب او قبول سره بيع نه لازميږي بلکې دمجلس تر پايه پوري له متعاقدينو څخه هر يو دبيع دردولو اختيار لري ددوئ په اصطلاح کي دي ته خيارمجلس وايی، داحنافو په نزد تر ايجاب او قبول وروسته متعاقدينو لره خيارمجلس نشته ځکه چې له ايجاب او قبول وروسته په مبيعه کی دمشتري مِلک ثابت شونو اوس که چيرته يو له دوئ څخه دخيار مجلس په وجه بيع فسخ کوي نو په دي سره دهغه بل دحق ابطال لازميږي (وقال عليه السلام: لاضرر ولاضرار في الاسلام) .

(۳) قوله وبتعاط ای ويلزم البيع بتعاط، يعنی په تعاطی سره بيع لازميږی دتعاطی په صورت کي که څه هم له متعاقدينو څخه يو هم څه ونه وايی نو بيع لازميږي، بيع دتعاطی داده چی عاقدين دعقدبيع په وخت کی په ژبه ايجاب او قبول ونه کړي بلکې بغيرله ايجاب او قبول نه مشتري دمبيعی قيمت بائع ته ورکړي او بائع مبيعه مشتري ته ورکړي، يعنی لاس په لاس يی ورکړي په دا ول بيع کی په خوله څه ويل ضروري نه دي، ځکه چې په بيع تعاطی کې دبيع معنی (يعنی دمتعاقدينو رضامندي ) راځی ځکه چې په جوازبيع کی اصل مؤثرتراضی ده نه صورد الفاظو، البته څرنګه چې دمتعاقدينو رضامندي يوپټ (باطني) شی دی چې په هغه باندي دخبريدلو لپاره علامه ضروري ده نو شريعت ايجاب او قبول دهغه قائم مقام ګرځولي دي، او تعاطی څرنګه چې پخپله پرتراضی باندي دال دی نو ځکه بغير ايجاب او قبول دغه بيع منعقده کيږي .

**فائده** : خريداو فروخت څرنګه چې په ژبه سره کيږي همدارنګه دضرورت په وخت کې دخط او کتابت ليږلوپه ذريعه سره هم کيږي ، په دي شرط چې خرڅيدونکی شی او دهغه قيمت دليکلوپه ذريعه په مناسب دول متعين کړای شي اوپه معامله کي داسي ابهام پاتی نه شی چې په آينده کې دنزاع (جګړي) انديښنه وي،البته داضروري ده چې په دي صورت کې به اخستونکي اوخرڅوونکي شی دسرواو سپينوزرولـه قسم څخه نه وي،اونه به دواړه له يوه جنس څخه وي ځکه چې دهم جنس شيانوپه خريداوفروخت کې دسامان اوقيمت قبض کول په يوه مجلس کې ضروري دی ،څرنګه چې دخط اوليک په ذريعه خريداوفروخت صحيح دی همدارنګه دټيلي فون حکم هم دغسي دی ځکه چې خط اوټيلی فون دواړه پخپلوکې قريبي مماثلت سره لري،اوظاهره ده چې همدارنګه دفيکس په ذريعه باندي هم دخريداوفروخت معامله جائزشي،په اوسنۍ زمانه کې چې دفون يافيکس اومراسلت په ذريعه په ملک کې دننه يابهرله يوه ښاره بل ښارته کوم خريدوفروخت کيږي هغه جائزاوصحيح دی . (جديدفقهي مسائل ۲۷۰ص).

(۴)يعني له متعاقدينو څخه چې کوم يودبيع ايجاب وکړي نوهغه بل ته اختياردی چې کل مبيع دکل ثمن سره په همدغه مجلس کي قبول کړي اويايي په همدغه مجلس کې ردکړي،خوکه چيرته دهغه بل له قبليدوڅخه مخکي له متعاقدينوڅخه يوهسي له مجلس څخه ولاړشي نودهغه اول کس ايجاب باطليږي،نوځکه هغه بل يياقبول نشي کولای ځکه چې ولاړيدل داعراض اورجوع دليل دی اوله متعاقدينوڅخه هريوه لره دهغه بل له قبليدوڅخه مخکي داعراض اورجوع حق شته .همداحکم دهرهغه عمل دی چې پراعراض باندي دال وي .

**فائده** : شريعت مقدسه دخريدوفروخت په وخت دايجاب اوقبول لپاره اتحادمجلس ضروري ګڼلی دی خودغه اتحادعام دی که حقيقي وي اوکه حکمي،حقيقي خوظاهردی اودحکمي صورت دادی چې په يوه مجلس کې ايجاب وشي اومشتري ته په مناسبه طريقه (دخط ياپيغام رسوونکي په ذريعه ) اطلاع (خبر) ورکول شي ،په موجوده زمانه کې فقهاء کرامودانساني ضرورياتو اوحاجتونوپه وجه دټيلفون په ذريعه بيع شراء اوطلاق هم په دغه قسم کې شمارلي دي نوځکه دټيلفون په ذريعه که ديوشي په باره کې باقاعده ايجاب اوقبول شوي نودابيع شرعًانافذ العمل ګرځي . (حقانيه ۶جلد ۳۰صفحه).

**تنبيه** : دامام شافعي رحمه الله په نزدخيارقبول دمجلس ترختميدوپوري نه اوږديږي بلکې په ايجاب پوري متصل قبلول ضروري دی، داحنافوپه نزدخيارقبول دمجلس ترپايه شته ځکه چې له ايجاب وروسته هغه بل عاقدلره په قبلولوکې دغوراوفکرضرورت دی نوځکه دمجلس ترپايه پوري په مهلت (فرصت) نه ورکولوکې حرج عظيم دی اوحرج مدفوع بالنص دی الله تعالى فرمايي : (وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ)

(۵)کوموپيسوته چې اشاره ونه کړای شي هغوته ثمن مطلقه ويل کيږي ،په ثمن مطلقه سره بيع ناجائزده ځکه چې دمبيعه ياثمن مقدارکه چيرته مجهول وي اودهغه طرفته اشاره هم ونه کړای شي نودثمن يامبيعه جهالت راځي چې دايامفضي ونزاع (جګړي ) ته ده اوداقاعده ده چې کومه بيع مفضي ونزاع (جګړي)ته وي هغه ناجائزه ده نوځکه دثمن (پيسو ) وصف اومقدارمعلومول ضروري دی .

**تنبیه** : مصنف رحمه الله دوصف لفظ وثمن ته مضاف کړی دی دې خبرې ته یې اشاره کړې ده چې دوصف معلومول یواځې په ثمن کې شرط دی په مبیعه کې شرط نه دی،مګردمقدارمعلومول په ثمن اومبیعه دواړوکې شرط دی.ځکه نومصنف رحمه الله (قدر) مطلق ذکرکړثمن اومبیعی ته یې نه دی مضاف کړی.

**تنبیه** : په خریداوفروخت کې دثمن اومبیعه ترمنځ په څودوله فرق شوی دی : ۱-دراهم،دنانیر اونوټ دهمیشه لپاره ثمن دي که دوئ پخپل منځ کې سره تبادله شي اوکه دکوم بل سامان په بدله کې وي . ۲-که قیمي شی دمثلي شي په عوض کې وي نوهغه مثلی شی ثمن کیږي اوقیمی شی مبیعه کیږي مثلاً پسه دغنمو په عوض خرڅ کړي نوغنم ځرنګه چې مثلی شی دی نوغنم ثمن کیږي اوبزه (پسه) مبیعه کیږي. ۳-که له دواړوطرفو څخه سره یاسپین زروي یاله دواړوطرفوڅخه قیمی سامان وي یاله دواړوطرفو څخه مثلی سامان وي نوپر کوم شي چې (ب) یا(علی) داخل وي چې په عربی ژبان کې دعوض په معنی راځي هغه شی ثمن ګڼل کیږي اوهغه بل شی مبیعه مثلاً وواېي :بعت هذه الفضة بهذا الذهب) نوسره زرثمن کیږي اوسپین زرمبیعه،یاوواېي چې : بعت هذه البقرة بهذه الشاة ) نوپسه ثمن شواوغویی مبیعه شو.

(۶)قوله :مشار ای لایشترط ذالک فی مشار الیه .یعنی دمبیعی اوثمن طرفته که چیرته متعاقدینو اشاره وکړه مثلاً غنموته یې اشاره وکړه ویې ویل مادغه غنم خرڅ کړي دي دهغودراهموپه عوض کې چې ستاپه لاس کې دي ،نودابیع جائزده په دغه صورت کې دعوضینودمقداراووصف دمعلومولوضرورت نشته (مثلاًدابیانول چې غنم څوسیره دي یادرهمونه پنځه دي یالس دي اویادرهمونه سمرقندي یابخاري دي ) ځکه چې دعوضینوجهالت داشاره په وجه رفع شوځکه چې اشاره دمعلومولوپه اسبابوکې ترټولوابلغ سبب دی نوځکه دنزاع (جګړې ) احتمال نشته.

**تنبیه** : البته په ربویه مالونوکې اشاره نه ده کافي چې کله دغه مال دخپل جنس په بدله خرڅ کړل شي بلکې مقدارمعلومول ضروري دی ځکه چې دربوااحتمال شته مثلاًغنم دغنموپه عوض خرڅ کړي یااوربشې داوربشوپه عوض خرڅې کړي نودانا جائزه ده ځکه چې داربویه مالونه دي په ربویه مالونوکې دسود(ربوا) داحتمال په وجه اشاره نه ده کافي بلکې مقدارمعلومول ضروري دی.

(۷)وصح بثمن حالٍ وباجلٍ معلومٍ(۸)ومطلقه علی النقد الغالب وان اختلف النقود فسد ان لم یبین احدها

**ترجمه** : اوصحیح ده بیع په نقدوپیسوسره اوپه معلومه موده سره او مطلق ثمن محمول کیږي پر غالب نقدباندي اوکه نقود مختلف وونوبیابیع فاسدیږي که چیرته بیان شوی نه وویودوئ.

**تشریح** : (۷)یعنی بیع په ثمن حال (یعنی نقدوپیسو) سره هم جائزده اوپه ثمن مؤجل (قرض) سره هم جائزده ځکه چې دالله تعالی ارشاد ﴿واحل الله البیع﴾ مطلق دی په هغه کې دقرض اونقدوتخصیص نشته نوځکه دواړه صورتونه جائزدي،خوپه صورت دتاجیل (قرض) دمودي معلومول ضروري دی چې مفضي ونزاع (جګړې) ته نه شي ځکه چې دمودي دنه معلومولوپه صورت کې دمتعاقدینوترمنځ نزاع راتلای شي مثلاًبائع په یوه میاشت کې دننه پیسې غواړي اومشتري یوکال وروسته پیسوورکولوته تیاروي.

(۸)په بيع كې كه يې چيرته ثمن مطلق پريښودل (له اطلاق ثمن څخه مطلب دا دى چې ديو مقدار خومعلوم كړي مګرصفت يې ذكرنه كړي مثلاداسې ووايي : بعت منک بعشرة دراهم .اوحال داچې په ښاركې مختلف قسم درهمونه دي ) شارحينوددي څلورعقلي صورتونه بيان كړي دي چې په ښاركې كه نقودمختلف وونوعه اختلاف به يا په رواج اوماليت دواړوكې وي يا به يواځې په ماليت كې وي په رواج كې به نه وي اويابه يواځې په رواج كې وي په ماليت كې به نه وي ياخوپه رواج اوماليت كې اختلاف نه وي البته په نامه كې اختلاف وي لكه مصري درهمونه،دمشقي درهمونه وغيره .

نوله مذكوره څلوروصورتونو څخه داول صورت حكم صاحب كتاب بيان كړى دى چې ويلي يې دي : ومطلقه على النقد الغالب .يعنې په ښاركې چې كومه پيسه زياته رواج وي مشتري به هغه وركوي. ځكه زياته رواج زياته متعارفه وي او المعروف لكه مشروط داسې وي نوګوياد متعاقدينو دعقدپه وخت زياته مروجه پيسه شرط كړي ده ،ددوهم صورت حكم يې داسې بيان كړى دى : وان اختلف النقود (في المالية دون الرواج) فسد.يعنې نقودكه چيرته په ماليت كې مختلف وو او په رواج كې مختلف نه وو نو دابيع فاسده ده ځكه چې دامفضي ونزاع لره ده ځكه چې مشتري دكم ماليت والاپيسې وركوي اوبائع دزيات ماليت والاغواړي .البته كه يې په همدغه صورت كې له نقودو څخه يو بيان كړ معلوم يې كړنو بيابيع صحيح ده ځكه چې اوس دابيع منفضي ونزاع لره نه ده،دريم اوڅلورم صورت صاحب كتاب نه دي بيان كړي حكم هغه دواړه داول صورت په شان جائزدي ځكه چې مفضي ونزاع لره نه دي .

(۹)ويباع الطعام كيلا وجزافاً وباناءٍ اوحجرٍ بعينه لم يدرقدره(۱۰)ومن باع صبرة كل صاع بدرهم صح في صاع(۱۱)ولو باع ثلةاوثوباً كل شاة اوذراع بدرهم فسد في الكل(۱۲)ولو سمى الكل صح في الكل.

**ترجمه** : اوخرڅولاى شي غله په پيمانه سره .په اندازه (اټكل) سره اوپه معلوم لوښي يامعلومه ډبره سره. چې مقداريې معلوم نه وي اوكه چاخرڅه كړه دغلي كوټه هره كاسه په يوه درهم نودابيع صحيح ده په يوه كاسه كې،اوكه يې خرڅه كړه (رمه) دپسوياتان دكپړو هرپسه ياهرګزپه يوه درهم نودابيع په كل كې فاسديږي،اوكه يې كل بيان كړل نوبيع صحيح كيږي په كل كې .

**تشريح** : (۹)بيع الطعام (له طعام څخه مراد په عرف كې غنم او اوړه دي) مكائلة (يعنې په پيمانه) هم جائزده اومجازفةً (يعنې په اټكل او اندازه ) سره هم جائزده.اوپه كوم معلوم لوښي سره هم جائزده چې مقداريې معلوم نه وي همدارنګه په معلوم كاڼي (ډبره) سره هم جائزه ده چې مقداريې معلوم نه وي .مګرداخبره يادساتئ چې بيع مجازفةً هغه وخت جائزه ده چې له خپل جنس نه غيروي مثلاغنم دجوارو په مقابل كې خرڅ كړاى شي اوكه چيرته له خپل جنس سره وي مثلاغنم دغنموپه عوض كې خرڅ كړاى شي نوبيادابيع جائزه نه ده ځكه چې په دغه صورت كې دربوا احتمال دى چې ناجائزه ده .

(۱۰)كه چاصبره طعام (دغلي كوټه) خرڅه كړه هره كاسه ديوه درهم په عوض كې نوكه يې چيرته دكوټې كل صاع ونه ښودل اونه يې په همدغه مجلس كې پيمانه كړه چې مقداريې معلوم شي نوپه داسې

صورت كې دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد ځكه چې كل صاع معلوم نه دي نو.كل ثمن هم معلوم نه دي نو دجهالت مبيع اوثمن په وجه ايجاب او قبول دټولې كوټې خواته ګرځول متعذر دى نو ځكه داقل معلوم يعنې يوې كاسې خواته ګرځول كيږي نو په يوه كاسه كې بيع صحيح ده په دانوره باقى كښې نه ده صحيح، البته كه يې چيرته دكوټې ټولې كاسې وروښودلې يايې په همدغه مجلس كې پيمانه كړي نو ځكه چې جهالت دمبيع رفع شو ځكه نو دابيع په ټولو كاسو كې دغلې صحيح شوه، دصاحبينو رحمهما الله په نزد په دواړو صورتونو كې بيع صحيح ده ځكه چې په دغه بيع كې چې كوم جهالت دى دهغه رفع كول دبائع او مشترى دواړو په لاس دى نوله دوئ ځخه هريو په همدغه مجلس كې ناپ كولاى شي هغه جهالت رفع كولاى شي نو ځكه دغه جهالت مفضى ونزاع لره نه كيږي.

**فائده:** دقوت دليل په اعتبار سره دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دى،اومن حيث التيسير (دآسانتيا) په وجه دصاحبينو رحمهما الله ،قول راجح دى لماقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وبه يفتى) عزاه فى الشرنبلالية الى البرهان وفى النهرعن العيون وبه يفتى لالضعف دليل الامام بل تيسيرا على الناس وفى البحروظاهرالهداية ترجيح قولهمالتاخيره دليلهماكماهوعادته،قلت لكن رجح فى الفتح قوله وقوى دليله على دليلهمادنقل ترجيحه ايضا العلامة قاسم دن الكافى والمحبوبى والنسفى وصدرالشريعة ولعله من حيث قوة الدليل فلاينافى ترجيح قولهمامن حيث التيسيرلم رأيته فى شرح الملتقى افادذالك وظاهره ترجيح التيسير على قوة الدليل (ردالمحتار ۴ج۱ ۴صفحه)

(۱۱) ثُلّة بفتح الثاء دپسونو رمې ته ويل كيږي مګر داحكم اوښانو،غوايانو،هرهغه شي ته شامل دى چې دهغه په تبعيض كې ضرروي، يعنى كه چاپسونو رمه خرڅه كړه هرپسه ديوه درهم په عوض نو دصاحبينو رحمهما الله ،په نزددابيع په ټوله رمه كې جائزده صاحبين رحمهما الله ،رمه دغلې پركاسه باندې قياسوي ،دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزدپه يوه كې هم جائزنه ده،دامام صاحب رحمه الله په نزدپه ټوله رمه كې دابيع ځكه جائزه نه ده چې مبيع اوثمن مجهول دي ځكه چې دپسونومعلوم تعداد (شمير) نه دى معلوم نودسابقه مسئلې په ډول په يوه كې خوبايد چې جائزواى حال داچې په يوه كې هم جائزنه دى .داځكه چې په پسونو كې فرق دى مشتري به اعلى پسه غواړي اوبائع به ادنى درجه پسه وركوي نو په همدي وجه چې دامفضي ونزاع لره كيږي په يوه كې هم جائزنه دى.

همدارنګه كه چاكپړه په ګزونوسره خرڅه كړه هريوګزديوه درهم په عوض كې نودابيع دصاحبينو رحمهما الله ،په نزدپه ټوله كپړه كې جائزده اودامام ابو حنيفة رحمه الله په نزدپه يوه ګزه كې لاهم جائزه نه ده داځكه چې په پخوا زمانه كې به كپړې په لاس جوړيدلې چې هرګزبه يې دپسونو په ډول له بل ګزڅخه مختلف وو،ځكه نو په يوه ګزه كې لاهم جائزه نه ده.

**فائده:** په پورتنيودوومذكورومسئلوكې هم دآساني په وجه دصاحبينو رحمهما الله پرقول باندې فتوى وركوله كيږى لمافى تنويرالابصار وشرحه: وفسدفى الكل فى بيع ثلة ولوب كل شاة وذراع بكذاو كذاالحكم فى كل معدودمتفاوة وصححاه فيهمافى الكل وبقولهمايفتى تيسيرا،قال العلامة ابن عابدين الشامى رحمه الله: واجازاه فى الكل كمالوعلم فى المجلس بكيل اول وبه يفتى (الدرالمختارمع الشامية: ۴/ج۳۲ صفحه).

(۱۲) او که په پورتنیو ډریو (۳) مسئلو کې د ټولو تعداد (شمیر) په مجلس کې بیان کړي مثلاً ووايي چې سل پسونه د سلو درهمونو په عوض کې یا سل گزه کپړه د سلو روپو په عوض نو دا بیع صحیح کیږي ځکه چې په دغه صورت کې جهالت نه پاتیږي نو په دي وجه چې مفضي و نزاع لره نه ده دا بیع صحیح او جائزه ده.

(۱۳) فلو نقص كيلاً أخذ بحصته أو فسخ وإن زاد فللبائع (۱۴) ولو نقص ذراعاً أخذ بكل الثمن أو ترك (۱۵) وإن زاد فللمشتري ولا خيار للبائع (۱۶) ولو قال كل ذراع بكذا ونقص أخذ بحصته أو ترك وإن زاد أخذ كله كل ذراع بكذا أو فسخ (۱۷) وفسد بيع عشرة أذرع من مائة ذراع من دار لا أسهم.

**ترجمه**: که چیرته پیمانه کمه شوه نو یا دي دهغې پاتي حصې په عوض رانیسي یا دي پرېږدي او که زیاته شوه نو هغه د بائع ده. او که په کپړه کې یو گز کم شو نو یا دي په پوره ثمن سره رانیسي یا دي پرېږدي، او که گز زیات شو نو هغه د مشتري دی او بائع لره خیار نشته، او که یې ورته وویل چې هر گز په دومره دی هغه کپړه کمه شوه نو یا دي دهغې پاتي حصې په عوض رانیسي یا دي پرېږدي. او که زیاته شوه ټول تان دي رانیسي هر گز په دومره قیمت یا دي پرېږدي او بیع فاسده ده په لسو گزونو کې د کور ند په حصو کې.

**تشریح**: (۱۳) که یو چا دغلې کوټه واخیستله په دي شرط چې دا سل کاسې دي د سلو روپو په عوض. بیا په ناپ کیدو سره معلومه شوه چې دا غله تر سل کاسې کمه ده مثلاً (۹۰) کاسې دي نو مشتري لره اختیار دی که غواړي چې دا موجوده غله د روپو په مقدار رانیسي یعنې (۹۰) کاسې دي د (۹۰) روپو په عوض رانیسي او که غواړي چې بیع فسخ کړي ځکه چې په دا ول پردي باندي د عقد تر تام کیدو مخکې تفرق معامله لازمیږي ځکه چې دده مطلوب سل کاسې دي نو د باقي لسو کاسو لپاره به کوم بل خریدار ته ځي او که چیرته غله تر سلو کاسو زیاته شوه مثلاً یو سلو لس کاسې شوه نو هغه زیاته د بائع ده ځکه چې بیع پر مقدار معین (معلوم) باندی واقع شوې ده چې هغه عقد زائد لره شامل نه دی.

(۱۴) که یو چا په دي شرط کپړه رانیوله چې دا مثلاً لس گزه ده د لسو درهمونو په عوض، یا یې ځمکه رانیوله مثلاً په دي شرط چې دا ځمکه سل گزه ده د سلو درهمونو په عوض. او س دا سي وشول چې دا مذکوره کپړه یا ځمکه د مذکور مقدار څخه کم و ختل نو مشتري لره اختیار دی چې یا دي په پوره مسمّی پیسو سره رانیسي یا دي پرېږدي ځکه چې ذراع عبارت دی له اوږده او ساره څخه او اوږده او ساره اوصاف دي او داوصافو په مقابل کې ثمن نه وي نو ځکه د مبیع دوصف د کمبوت یا زیادت په صورت کې په پیسو کې کمبوت او زیادت نه کیږي.

(۱۵) او که تر مذکور مقدار کپړه یا ځمکه زیاته شوه نو هغه د ثمن مسمی په عوض کې د مشتري کیږي ځکه چې زیادت ذراع وصف دی چې په مقابل کې یې ثمن نه وي او بائع لره اختیار نشته ځکه چې دا داسي دی لکه یو څوک چې معیوب مبیع خرڅ کړي او دهغه عیب له حساب څخه ثمن مقرر کړي وروسته مبیع غیر معیوب شي نو په هغه صورت کې بائع لره دبیع دفسخ کیدو اختیار نشته همدارنگه په پورتني مذکور صورت کې هم بائع لره دبیع د فسخ کیدو اختیار نشته.

(۱۶) که چادهر ګزه قیمت وروښو دمثلاً سل ګزه ځمکه یې خرڅه دسلو درهمونو په عوض هر یو ګز دیوه درهم په عوض. او س چې یې ځمکه یې په ګزونو کړه هغه کمه وخته مثلاً پنځه نوي ګزه شوه نو مشتري لره اختیاردی چې یاموجوده ځمکه په هغونه پیسو رانیسي یعني په پنځه نوي درهمونویې رانیسي ځکه چې ذراع (ګز) که څه هم وصف دی مګردلته دهرګزه دقیمت په معلومولو سره اصل شوګویاهرګزمستقله کړه ده نوځکه دګزه په کمبوت یازیادت سره په پیسو کې هم کمبوت اوزیادت راځي. اویادي پرېږدي په وجه دتفرق دعقد، ځکه چې ددغه اخستونکي مقصودسل ګزه وونوچې هغه یې پوره وند موندل نوخامخابه دی دهغوپنځوګزونو اخستلوپاره کوم بل خریدارته ورځي اوکه ځمکه ترمذکورمقدارزیاته شوه مثلاً یوسلولس ګزه شونومشتري لره اختیاردی که غواړي ټوله ځمکه دي رانیسي هرګزدیوه درهم په عوض. ځکه چې ټول ګزونه دسلودرهمونو رانیولوپه صورت کې هرګزدیوه درهم په عوض کې نه شو. اوکه غواړي بیع دي فسخ کړي ځکه چې ټول ګزونه پرمشتري باندي دلازم کیدوپه صورت کې دمشتري ضرر (تاوان) دی ځکه چې که څه هم ده ته لس ګزه زیاته کېږه ملاوېږي مګرپیسي خوبه هم هغومره زیاتي ورکوي اومشتري ته دسلوګزونوکاټولو اختیارنه ورکول کیږي ځکه چې دابائع په حق کې تفریق بیع دی چې ناجائزدی.

(۱۷) که چاله سل ګزه سرای څخه لس ګزه خرڅ کړل نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددابیع فاسده ده اودصاحبینو رحمهما الله په نزدجائزه ده، اوکه چادسرای له سلوحصوڅخه مثلاً لس حصې خرڅي کړې نوبه اتفاق سره جائزدی. په اول صورت کې دصاحبین رحمهما الله دلیل دادی چې دسرای له سلوګزونو څخه دلسوګزونوخرڅول دهغه سرای لسمه حصه خرڅول دی چې کله لسمه حصه خرڅول په اتفاق جائزدی نوله سلوګزونو څخه لس ګزه خرڅول هم جائزکیږي. دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې ګزدهغې آلې نوم دی چې په هغه سره شی ناپ کیږي څرنګه چې دلته دغه معنی متعذره ده نوځکه مجازاً له ګزه څخه هغه ځمکه مرادیږي چې په ګزسره ناپ کیږي اوپرځمکه باندي دګزاطلاق هغه وخت کیدلای شي چې کله هغه معین اومشخصه وي ځکه ناپول فعل محسوس دی محل محسوس غواړي نودلته خولس ګزه غیرمعلوم دي ځکه چې دانه ده معلومه چې دسرای له کوم جانب څخه لس ګزه مراددي. اوداجهالت مفضي ونزاع لره دی ځکه چې بائع به وایي زه لس ګزه دسرای له فلان جانب څخه درکوم اومشتري به وایې چې نه زه یې له هغه بل جانب څخه غواړم نوځکه دابیع فاسده ده، خلاف له لسوحصوڅخه چې هغه امرعقلی دی محل محسوس نه غواړي نودغه لس حصې په ټول سرای کې مشاعاًمرادیږي اومشتري له بائع سره په ټول سرای کې دلسوحصوپه اندازه شریک ګڼل کیږي څرنګه چې په دغه صورت کې داسي جهالت نشته چې مفضي ونزاع لره شي نوځکه دغه صورت جائزدی.

**فائده**: دصاحبینو رحمهما الله قول مفتی به دی. ځکه چې ددغه جهالت رفع کول دمتبائعینو په لاس دی چې دمبیعې ځای متعین او معلوم کړي لمافی الدرالمختار: وفسد بیع عشرة اذرع من مائة ذراع من دار اوحمام وصححاه وان لم یسم جملتها على الصحیح لان از التهاید هما لابفسد بیع عشر اسهم من مائة سهم اتفاقاًلشیوع السهم، قال ابن عابدین رحمه الله: حاصله انه اذاسمی جملة الذرعان صح والافقیل لایجوز عندهماللجهالة والصحیح الجواز عندهمالانهاجهالة بیدهمااى المتبائعین ازالتهاان تقاس کلهافیعلم نسبة العشرة منهافیعلم المبیع. (الدرالمختارمع الشامیة ۴/۳۵).

خومولانامفتي غلام قادرنعماني صاحب مدظلهم فرمايلي دي چې په اوسني زمانه کې فتوی دامام صاحب رحمه الله پرقول مناسبه ده لکه چې فرمايي (القول الراجح هوقول الصاحبين رح لكن الفتوى على قول ابي حنيفة رحمه الله في زماننااليق في هذه المسئلة (بيع الدارو الحمام) لاسيمافي الاسواق الكبيرة والبلدان لان جوانبهامتفاوتة قيمة والفسادوالنزاع في هذاالزمان اكثر (القول الراجح ۲جلد/صفحه ۳).

(۱۸)ولواشترى عدلاًعلى انه عشرة اثواب فنقص اوزادفسد(۱۹)ولوبين لكل ثوب ثمناًونقص صح بقدره(۲۰)وخيروان زادفسد(۲۱)ومن اشترى ثوباعلى انه عشرة اذرع كل ذراع بدرهم اخذه بعشرة في عشرة ونصف بلاخيار وبتسعة في تسعة ونصف بخيار.

**ترجمه** : که يې رانيوه يو سربسته ګاټ په دې شرط چې دا لس کپړې دي بيا هغه زيات ياکم شونو دا بيع فاسده ده ،اوکه يې بيان کړ دهرې کپړې قيمت بيا هغه کم شونو دا بيع صحيح ده دهغه په اندازه او اختيار ورکول کيږي اوکه زيات شونو بيع فاسديږي اوکه چايوه کپړه رانيوه په دې شرط چې هغه لس ګزه ده هرګزديوه درهم په عوض نوراديني دلسو درهمو په عوض دلس نيم ګزه په صورت کې بغيراختيارا و په نه (۹) درهمه دنه نيم په صورت کې په اختيارسره .

**تشريح** : (۱۸)که يوچا دکپړو سربسته (ګاټ) په لس درهمه په دې شرط واخيست چې دا لس کپړې دي دهرې کپړې ثمن يې نه دی بيان کړی بيا هغه کپړې ترلسو کمي يازياتي وختي مثلاًنه يايوولس کپړې شوې نوپه دواړو صورتونو کې دابيع فاسده ده ځکه په اول صورت کې چې کومه کپړه معدومه ده دهغې قيمت معلوم نه دی نو دموجوده کپړو ثمن هم نه معلوميږي نو دجهالت ثمن په وجه دابيع فاسده ده اوپه دوهم صورت کې (چې کپړې ترلسو زياتي شي ) هم دابيع فاسده ده ځکه چې په دغه صورت کې دانه ده معلومه چې مبيعه کومې لس کپړې دي اوکومه يوه کپړه به مشتري بيرته واپس کوي نو دمبيعې دمجهول کيدو په وجه بيع فاسده ده .

(۱۹)که يوچا وويل چې دا(ګاټ) زه له تاڅخه رانيسم په دې شرط چې په دې کې لس کپړې دي دلسو درهمونو په عوض ،هره کپړه دلسو درهمونو په عوض يعنې دهرې کپړې ثمن يې بيان کړ ،بيا داسې وشول چې کپړې کمې وختې مثلاً اته کپړې يې ومونديې نو دموجوده کپړو په اندازه بيع صحيح ده ځکه چې په دغه صورت کې ثمن مجهول نه دی ځکه چې دهرې کپړې ثمن يې بيان کړی دی دا رنګه يې په معدوم کې قبوليت عقد دموجود دعقد لپاره شرط کړی هم نه دی بلکې په عدد (شمير) کې يې غلطي کړې ده نو په همدې وجه چې هيڅ يو فاسد شرط نشته دا عقد صحيح دی .

(۲۰)البته په پورتني مذکور صورت کې مشتري لره داخيستلو او نه اخيستلو اختيار شته ،ځکه چې يو اځې داتو(۸)کپړو په اخيستلو سره په معامله کې تفرق لازميږي حال داچې دده مطلوب پريوه ځای لس کپړې وې ،اوکه چيرته په همدغه صورت کې کپړې ترلسو زياتې شي نو بيا دابيع فاسده ده ځکه چې دانه ده معلومه چې مبيعه کومې لس کپړې دي اوکومه زياته کپړه به مشتري واپس کوي نو دمبيعې دمجهول کيدو په وجه سره دابيع مفضي ونزاع لره ده ځکه فاسده ده .

(۲۱)که يوچا يوتان کپړه په دې شرط واخيسته چې هغه لس ګزه ده اوهرګز په عوض ديوه درهم کې دی ،بيا هغه کپړه لس نيم يانه نيم ګزه شوه نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد په اول صورت کې به يې مشتري په

لس درهمه اخلي بلااختياره يعنى مشتري لره دفسخ كولو اختيارنه وركول كيږي اوپه دوهم صورت كې ده لره اختيارشته كه غواړي دنهو(۹) درهموپه عوض دي واخلي اوكه غواړي فسخ دي كړي دامام ابويوسف رحمه الله په نزدبه يې په اول صورت كې په يوولس درهمه اخلي اوپه دوهم صورت كې به يې په لس درهمه اخلي اومشتري لره په دواړوصورتونوكې دبيع دفسخ كولو اختيارشته ځكه چې دايې وويل چې هريوګزپه عوض ديوه درهم دهرګزه په مقابله كې ثمن ذكرشوى دى نوځكه ګزوصف نه بلكې اصل شونوپه ګزكې دكمبوت په وجه سره په ثمن كې كمبوت نه كيږي ځكه نودټولوګزونوثمن واجبيږي ،دامام محمد رحمه الله په نزدپه اول صورت كې به يې په لس نيم درهمه اخلي اوپه دوهم صورت كې به يې په نه نيم درهمه اخلي ځكه چې كله ديوه ګزه په مقابله كې يودرهم دى نودګزه دهرجزء په مقابله كې به ددرهم هغسې مثل جزء وي نودنيم ګزپه مقابله كې به نصف درهم وي.

دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادى چې دنصف ګزپه عوض كې يې هيڅ قيمت نه دى بيان كړى نوځكه نيم ګزبغيرقيمت يواځې وصف شمارل كيږى په اصل كې ګزخپله هم وصف دى مګرځرنګه چې دلته ديوه درهم شرط كيدوپه وجه ګزه دمقدارحكم وموندە اوپه شرط كې يې ديوه ګزه قيد ذكركړى دى نوديوه ګزه دكميدوپه صورت كې دى خپل اصل يعنى وصفيت طرف ته راګرځي نوپه همدې وجه نيم ګزوصف زائددى چې په عوض كې يې ثمن نه وي نوځكه دانيم ګزمشتري ته مفت وركول كيږي نوپرمشتري باندې دلسو درهمونوپه عوض بيع لازميږي اوده ته دفسخ اختيارنه وركول كيږي ځكه چې په دغه بيع كې دمشتري هيڅ ضررنشته اوپه دوهم صورت كې هم ځرنګه چې نيم ګزوصف دى نوپه نه (۹) درهمه به يې اخلي مګرځرنګه چې دمبيعې مطلوب مقداركم دى ځكه چې مشتري خوپوره لس ګزه غوښته اوداكيږه لس ګزه نه ده بلكې نه نيم ګزه ده نوځكه ده ته دفسخ بيع اختياروركول كيږي.

**فائده** : دامام محمد رحمه الله قول راجح دى لماقال المفتي غلام قادرالنعماني: القول الراجح هوقول محمد رحمه الله وقال العلامة الحصفكي رحمه الله: وفي الطحاوى وهواعدل الاقوال قال الاتقاني وبقول محمد رحمه الله ناخذانتهى وقال الكمال ثم من الشارحين من اختارقول محمد رحمه الله وفي الذخيرة قول ابي حنيفة اصح انتهى وذكرتحت قوله فعليه الفتوى فيه ان الفتوى قدتكون على الصحيح لاالاصح اوعلى غيرمافي المتون لمافيه من التيسيراوجريان التعامل فلايتم هذاالتفريع وقدعلمت ماقاله الاتقاني وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: قوله وهواى قول محمداعدل الاقوال قال الاتقاني وفي غاية البيان وبه ناخذقال المفتي غلام قادرالنعماني : الرجح هوقول محمد كماقال الاتقاني لان في زماننا ينقسم الثمن باعتبارحصص الذراع.(القول الراجح ۲/۷).

## فصل

دافصل دهغوشيانوپه بيان كې دى چې بې له بيانه په بيع كې داخليږى اوهغه شيان چې نه داخليږى.

(۱)يدخل البناء والمفاتيح في بيع الدار(۲)والشجرفي بيع الارض بلاذكر(۳)ولايدخل الزرع في بيع الارض بلاتسمية ولاالثمرفي بيع الشجر الابالشرط(۴)ويقال للبائع اقطعها وسلم المبيع(۵)ومن باع ثمرة بدا صلاحها اولا صح البيع ويقطعها المشترى في الحال(۶)وان شرط تركها على النخل فسد.

**ترجمه** : او داخليږي ديوالونه او كيلۍ دمكان په بيع كې ،او درخته دځمكې په بيع كې بلاذكره داخليږي، او نه داخليږي كښت دځمكى په بيع كې بې له نوم اخيستلو او نه ميوه د درختي په بيع كې مگر په شرط سره،او بائع ته به ويل كيږي چې ميوه درو شكوه او مبيعه ماته حواله (وسپاره ) كه چا خرڅه كړه ميوه كه پخه وه كه نه وه پخه نو بيع صحيح ده او مشتري به يې في الحال شكوي او كه يې شرط كړه دا چې ميوه به پر درختو باندې پاتې وي نو بيع فاسديږي .

**تشريح** : (۱)يعنى كه چا مكان (سراى) خرڅ كړ نو په دغه بيع كې عمارت (آبادي) هم داخليږي كه څه هم عمارت (آبادي) يې په نامه نه يې ياد كړې ځكه په عرف كې د(دار) لفظ صحن (ميدان) او عمارت دواړو لره شامل دى همدارنگه دعمارت اتصال له مكان سره دقرارلپاره دى نه دانقطاع لپاره همداډول دمكان دقلفونو كلياني (چاپياني) هم په دغه بيع كې داخليږى ځكه چې كلياني دقلفانو دجزء په ډول دي ولي قلفان بغير دكليانو قابل دگټي اخيستونه دي خو شرط دادى چې قلفان به په دروازوپوري متصل وي ځكه چې په دروازوپوري غير متصل داوسپني قلفان په اتفاق له نوم اخستو بغيرپه بيع كې نه داخليږي نو دهغو كلياني هم په بيع كې نه داخليږي .

**تنبيه** : په دغه باب كې اصل دادى چې دمبيعه نوم چې په عرف كې كوموشيانولره شامل دى هغه شيان دمبيعه تابع او په بيع كې داخل دي همدارنگه هغه شيان چې په مبيعه پوري لپاره دقرار متصل وي نه لپاره دانقطاع هغه هم دمبيعه تابع او دنوم اخستو بغيرپه بيع كې داخل دي او هغه شيان چې داډول نه وي هغه بغير دنوم اخستلو په بيع كې داخل نه دي مگر دا كه په بيع كې دهغو دداخليدو عرف جاري وو لكه دسراى په بيع كې چې دسراى دقلفانو دكليانو (چاپيانو ) په باره كې دداخليدو عرف جاري دى .

(۲)قوله والشجرفي بيع الارض اى ويدخل الشجرفي بيع الارض ،يعنى كه چا ځمكه خرڅه كړه نو په هغى كې چې كومي درختي دخرمايانورو شيانووي هغه دځمكې تابع او دځمكې په بيع كې داخليږى كه څه هم د درختونوم نه وي اخيستل شوى ځكه چې د درختو اتصال هم دآبادي په ډول له ځمكې سره دقرارلپاره دى نه دانقطاع لپاره .

(۳)يعنى كه چا ځمكه خرڅه كړه نو په هغى كې ولاړ(شين ) كښت په دغه بيع كې نه داخليږي مگر دا چې دكښت په بيع هم تصريح وكړي ځكه چې دكښت اتصال له ځمكې سره دانقطاع لپاره دى نه دقرارلپاره نو ځكه په ځمكه كې كښت دهغه سامان په ډول دى چې په ځمكه كې هسي پروت وي همدارنگه كه يو څوک دخرمايانورې ميوه دارې درختې خرڅې كړي نو د درختو په دغه بيع كې ميوه نه داخليږي بلكې دبائع حق ده ځكه چې دميوه اتصال دانقطاع لپاره دى نه دقرارلپاره نو دكښت سره مشابه دى،البته كه چيرته مشتري له درختو سره دميوي

شرط ولگاوه نو بيا ميوه په مبيعه كې داخليږي .

(۴)البته په پورتنيو دوومذكوروصورتونو كې بائع ته ويل كيږي چې خپل كښت يا خپله وشكوه مبيعه فارغه كړه مشتري ته يې حواله كړه كه څه هم كښت يا ميوه تراوسه پوري دگټي اخستو قابل نه وي ځكه

چې دمشتري ملک دبائع له ملک سره مشغول دی نو داداسي دی لکه دبائع سامان چې په هغه ځمکه کې پروت وي نوپربائع باندي لازم ده چې دمشتري ملک فارغ اوورته وسپاري.

(۵)که چاميوه خرڅه کړه که دخوراک قابله وي اوکه نه وي (له قابل انتفاع څخه مراد دادی چې دانسانانويا حيوانانو دخوړلوقابل وي ) په هرصورت دابيع جائزده ځکه چې دامال متقوم اوقابل دګټې اخستودی اودمال متقوم بيع جائزه ده په دي شرط چې ميوه پردرختوباندي ښکاره شوې وي ځکه چې که چيرته ميوه ښکاره شوې نه وي نوپه اتفاق سره يې بيع ناجائزده ،خوپرمشتري باندي لازم دی چې خپله ميوه في الحال (سمدستي) له درختوڅخه وشکوي دبايع ملک (درختې) فارغ کړي اوداجوازهغه وخت دی چې بيع په دي شرط شوي وي چې مشتري به خپله ميوه له درختوڅخه شکوي يامطلقابيع شوي وي دائی نه يې سره ويلي چې ميوه شکوم يايې پرېږدم .

(۶) اوکه يې داشرط اينبی ووچې مشتري به خپله ميوه پردرختوباندي پرېږدي نودابيع فاسده ده ځکه چې داداسي شرط دی چې عقدېې مقتضي نه دی اودمقتضی العقدخلاف چې کوم شرط په بيع کې راشی هغه عقدفاسدېږي داامام محمد رحمه الله په نزددعموم بلوی په وجه جائزدی اوهمداقول مفتی به دی لماقال ابن الهمام في فتح القدير: ويجوزعندمحمد رحمه الله استحسانا وهوقول الائمة الثلاثة واختاره الطحاوی لعموم البلوی (فتح القدير: ۵/ ۴۸۹).

**تنبيه** : په دغه مسئله کې څه تفصيل شته : (۱)هغه داچې که چيرته تراوسه پوري ميوه پردرختوباندي نه وه ښکاره شوې نوددي بيع په اتفاق حرامه ده لکه داننن سباچې دميوه تربنکاريدومخکې باغونه په ټيکه ورکول کيږي ددي يوبل ډيربدصورت داراځي چې هغه باغ دڅوکلونولپاره په ټيکه ورکوي اوبائع له مشتري څخه دآينده راتلونکوميووقيمت اوس وصولوي داصورت بلکل ناجائزاوله نص څخه صريح خلاف دی په حديث مبارک کې راځی :نهی رسول الله ﷺ عن بيع السنين.

(۲) اوکه درختوميوه ښکاره کړي وه خوتراوسه پوري پخه نه وه نودداډول ميوي دبيع دري صورتونه دي : ۱-**بيع** په شرط دپرېکولوداصورت په اتفاق سره جائزدی . ۲-**بيع** په شرط دپرېښودلو (پردرختوباندي) داصورت په اتفاق ناجائزدی ۳-**بيع** مطلق نه يې پرېکول شرط کړی وواونه يې پرېښودل داصورت داامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدجائزدی خوعلامه شامی رحمه الله ليکلي دي چې که چيرته عاقدين بيع مطلقه وکړي خودبائع اومشتري ترمنځ ډاخبره معروفه وه چې له بيع وروسته به ميوه ترپخيدوپوري پرېښودله کيږي نوپه دغه صورت کې دالمعروف کالمشروط په قاعده سره داصورت هم ناجائزګرځي،مګرددغي مسئلي يوبل اړخ هغه دی چې دهغه طرفته ځينی فقهاؤدعصر توجه کړي ده هغه دادی چې کوم شرط له مقتضاء العقدخلاف وي که چيرته دهغه رواج عام شي نويا هغه شرط دعقد مفسدنه ګرځي لکه يوڅوک چې بائع ته ووايي چې زه دابوټونه په دي شرط رانيسم چې ته به دغوته نعل ورلګوي يابه يې ماته راکوي ظاهره خبره ده چې دنعل لګولوشرط دعقددمتقضاء خلاف دی خوڅرنګه چې ددغه شرط رواج عام شوی دی ځکه نوداشرط جائزدی ددي قاعدي تقاضاداده چې دميوه پرېښودلوشرط چې کله رواج

شوی دی نوپه دغه وخت کې که چیرته په عقدکې صراحةً دپرېښودلوشرط ولګول شي نوداحنافوپه نزدداعقدصحیح کیږي ځکه چې داشرط مفضي ونزاع لره نه ګرځي . ٣-اوکه چیرته میوه په پوره ډول نه یې ښکاره شوې تراوسه لاځه حصه ښکاریدل باقي دی نوپه دغه صورت کې امام محمد رحمه الله بیع ناجائزه بللې ده لیکن متاخرین احناف دابیع جائزه ګڼې دجائزکیدووجه یې داده چې په دغه صورت کې معدوم دموجودتابع ګرځي بیع صحیح کیږي (تقریرترمذی للشیخ الاسلام مفتی محمدتقی عثمانی مدظله ١/ ٩٠)

**فائده** : لیکن دپورتني مذکورصورت یوه بله حیله هم شته چې بلااختلافه جائزه ده هغه داده چې دامعامله دې دځمکې داجاري په ډول وکړای شي مثلاً دمیوې قیمت زر(١٠٠٠) روپۍ دې نواته سوه روپۍ دې دمیوې قیمت وګڼل شي اوپه دوه سوه روپۍ دې ځمکه په اجاره ورکړي داجاري موده دې هغه معلومه کړي کومه چې دمیوې دپخیدوآخرې موده وي نوپه دغه صورت کې به دمیوې پردرختوباندې پرېښودل جائزشي خوپه دې کې داضروري ده چې دمیوې بیع دې مخکې اواجاره دې وروسته وکړای شي . (کفایت المفتی : ٨/ ٣٤) .

(٧)وَلَواستَثنى مِنهَاارطَالاًمَعلُومَةًصَحَّ(٨)كَبَيعِ بُرٍّفِى سُنبلِهِ وَبَاقِلاًّفِى قِشرِهِ(٩)وَأُجرَةُالكَيَّالِ عَلَى البَائِعِ وَأُجرَةُنَقدِالثَّمَنِ(١٠)وَوَزنُهُ عَلَى المُشتَرِى(١١)وَمَن بَاعَ سِلعَةًبِثَمَنٍ سَلَّمَهُ أَوَّلاًوَاِلاَّسَلَّمَامَعًا.

**ترجمه** : اوکه یې استثناء کړې له هغوڅخه معلومې پیمانې نودابیع صحیح ده لکه دغنموبیع پخپلوږیو کې اودلوبیابیع پخپلوپوستکوکې اودناپوونکي (تول کوونکي) اجرة (مزدوري) پربائع باندې ده اودروپو دصافولو(معلومولو) اجرة اودهغودوزن کولواجرة پرمشتري باندې دی اوکه چاخرڅ کړسامان دروپوپه عوض نوهغه دې روپۍ اول ورکړي که نه دواړه دې یوځای سره ورکړي .

**تشریح** : (٧)یعنې داجائزده چې پردرختوباندې موجوده میوه خرڅه کړي اوله هغوڅخه معلومې پیمانې (کیلو) مستثنی کړي مثلاداډول ورته ووایې چې پردرختوباندې میوه پرتاباندې خرڅوم پرته له لسوپیمانو(کیلو) چې هغه په دې بیع کې داخل نه دي هغه زه دځان لپاره ورم ،ځکه چې دکوم شي په باره کې چې انفراداًعقدصحیح وي هغه شی له عقدڅخه مستثنی کول هم صحیح دی مګرحسن بن زیاد رحمه الله له امام ابوحنیفة رحمه الله څخه روایت کړی دی چې دابیع جائزه نه ده امام طحاوی رحمه الله هم هغه قول ته تګ کړی دی ځکه چې دمذکوره پیمانوله استثناء وروسته دانه ده معلومه چې دمشتري لپاره باقي میوه څومره پاته کیږي اوداهم نه ده معلومه چې دمشتري لپاره څه هم پاته کیږي که نه نودمبیعه دمجهولتیایامعدوم والي په وجه دابیع جائزه نه ده .

**فائده** : ظاهرروایة راجح دی لماقال المفتی غلامقادرالنعمانی :القول الراجح هوظاهرالروایة ذکرصاحب الهدایة دلیل ظاهرالروایة آخراوهذایشیرالی اختیاره وترجیحه کماهودابه .(القول الراجح: ٢/ ١٠).

(٨)قوله کبیع بزفی سنبله ای کصحة بیع بز .یعنې لکه څرنګه چې بالامذکوره بیع جائزه ده همدارنګه غنم په خپلووږوکې اولوبیاپخپلوپوستکوکې خرڅول هم جائزدی ځکه چې دامال متقوم اوقابل دګټې دی ځکه

نو دهغو بيع جائزه ده مګر شرط يې دا دی چې د خپل جنس خلاف يې خرڅ کړي مثلاً د جوارو يا او وربشو په عوض کې او که چيرته غنم د غنمو په عوض کې خرڅ کړي نو دا بيا ناجائز دی لاحتمال الربا.

**فائده** : او که خالص غنم دوړيو تر غنموزيات وونو بيا جائز ده لمافي الشامية : اذاباعه بسنبل الرای نالرمع سنبله فانه لايجوز اذالم يكن الحب الخالص اكثر امااذاكان اكثريكون الزائد بمقابلة التبن فيجوز (ردالمحتار: ۴/ ۴٦).

**فائده** : دامام شافعي رحمه الله په نزد دا بيع ناجائزه ده ځکه چې مبيعه مستوره او له ستر ګو نه غائبه ده دا داسي ده لکه دپسه په تيانو کې شيدې خرڅول چې بيع يې ناجائزه ده ،احناف وايې چې مستوره خو بيشکه چې ده مګر معدومه نه ده نو ځکه دا بيع جائزه ده.

(۹) يعني دمبيعه دناپوونکي اجرة (مزدوري يا حق الزحمة) پر بائع باندي دی ځکه چې دتسليم مبيعه لپاره ناپول ضروري دی او تسليم دمبيعه دبائع پر ذمه دی نو ناپول او دهغه اجرة هم دبائع پر ذمه کيږي،او دثمنو معلومولو (صافولو) اجرة او دهغو دوزن کولو اجرة پر مشتري باندي دی ،له امام محمد رحمه الله ځخه يو روايت دی چې دثمن معلوموونکي اجرة هم پر بائع دی ځکه چې ثمن نقدول بائع ته له سپارلو وروسته کيږي نو او س خو بائع دي ته ضرورت لري چې دسمو او خرابو ترمنځ امتيازو کړي چې معيوبې پيسې بيرته مشتري ته وروا پس کړي.

**فائده** :مګر مفتی به قول هغه دی کوم چې مصنف رحمه الله ذکر کړی دی چې دثمنو (صافولو) اجرة پر مشتري دی ځکه پر مشتري باندي لازم دی چې بائع ته صاف درهمونه حواله کړي داچې صافول دپيسو دمشتري پر ذمه دی لهذا دصافولو اجرة هم دمشتري پر ذمه کيږي خو داهغه وخت چې کله بائع پيسې قبض کړې نه يې که نه بيا پر بائع باندي دی لمافي الجوهرة وروی ابن سماعة عن محمد انه علی المشتری لان حق البائع عليه الجياد وعليه تسليمها اليه فلزمته اجرته وهذا اذاكان قبل القبض وهو الصحيح امابعده فعلی البائع. (الجوهرة: ۲/ ۲۴۴) وقال ابن عابدين رحمه الله : واما الثاني فهو ظاهر الرواية وبه كان يفتي الصدر الشهيد وهو الصحيح كمافي الخلاصة(ردالمحتار: ۴/ ۴٦).

(۱۰) قوله ووزنه علی المشتري ای واجرة وزن الثمن علی المشتري ،يعني دثمنو دوزن کوونکي اجرة په اتفاق دڅلورو امامانو پر مشتري باندي دی ځکه چې دپيسو تسليمول دمشتري پر ذمه دی نو دپيسو وزن کول او دوزن کوونکي اجرة هم دمشتري پر ذمه کيږي ،قال ابن عابدين الشامي رحمه الله : واما كون اجرة وزن الثمن علی المشتري فهو باتفاق الائمة الاربعة وبه كان يفتي الصدر الشهيد وهو الصحيح (ردالمحتار: ۴/ ۴۵).

(۱۱) يعني که چا سامان دپيسو په عوض خرڅ کړ نو مشتري ته ويل کيږي چې مخکی ته پيسې راکړه ځکه چې دمشتري حق په مبيعه کې متعين شو نو مشتري ته دپيسو ورکولو حکم ورکول کيږي چې دبائع حق بالقبض متعين شي ځکه چې پيسې داسي شی دی چې ترقبض کولو مخکي په متعين کولو سره نه متعينې کيږي نو لهذا ضروري ده چې مخکی پيسې دبائع په قبضه کې ورکړي چې دهغه حق په پيسو کې متعين شي په دې طريقه دمتعاقدينو ترمنځ مساوات راځي او دپيسو ورکولو ځخه وروسته بائع ته ويل کيږي چې مبيعه حواله کړه .او که يې سامان

دسامان په عوض یا پیسې دي په عوض خرڅې کړي نو دواړو ته ویل کیږي چې سمدلاسه هریو خپل شی هغه بل ته حواله کړه لاستوائهمافی التعین وعدمه.

## باب خیار الشرط

### داباب دخیارشرط په بیان کې دی

خیارشرط دادی چې له متعاقدینو څخه هریو یا له دواړو څخه یو مثلاً مشتري وو ایې :اشتریت علی انی بالخیار ثلاثة ایام ،یعنې مالره دري ورځې اختیاردی که مي بیع خوښه شوه نوسمه ده که نه بیایې فسخ کومه .

ددي باب له ماقبل سره مناسبت دادی چې بیع دوه قسمه ده .بیع لازمه (چې په هغې کې یوه لره هم دفسخ کولواختیارنه وي) اوبیع غیرلازمه (چې په هغې کې له متعاقدینو څخه یوه ته یادواړولره دفسخ اختیاروي) څرنګه چې بیع لازمه قوي ده نوځکه یې ترديِ مخکې بیع لازمه بیان کړه اوس دهغوبیوعو بیان کوي چې غیرلازمي دي (یعنې په کوموکې چې له متعاقدینو څخه یوه لره دفسخ خیاروي) .

بیاخیارپردري قسمه دی : خیارشرط،خیاررؤیة اوخیارعیب.له دوئ څخه خیارشرط دبیع دحکم لپاره مانع دی،یعنې بیع منعقده کیږي مګرحکم یې نه ثابتیږي یعنې داسې نه شي کیدای چې مبیعه دبائع له مِلک څخه ووځي دمشتري په مِلک کې داخله شي،اوخیاررؤیت دحکم دتمامیت لپاره مانع دی.یعنې دخیاررؤیت په صورت کې دبیع حکم ثابتیږی مګرحکم تامیږي نه په دي وجه یې خیاررؤیت ترخیارشرط وروسته ذکرکړی دی اوخیارعیب دلزوم حکم لپاره مانع دی یعنې دخیارعیب په صورت کې دبیع حکم ثابتیږي مګرلازمیږي نه اولزوم ترتمام وروسته راځي ځکه یې نوباب خیارعیب وروسته راوړی دی .

په خیارشرط کې دخیاراضافت وشرط ته له قبیلې داضافة دمسبب دی وسبب ته ځکه چې شرط دخیارسبب دی،اوپه خیارشرط کې شرط مصدربه معنی داسم مفعول دی یعنې خیار المشروط .

داچې خیارشرط په کوموشیانوکې جاري کیږي اوپه کوموکې نه جاري کیږي دایوه شاعرپه لاندي اشعاروکې داسې راوړي دي :

یأتی خیارالشرط فی الاجارة: والبیع والابراء والکفالة
والرهن والعتق وترک الشفعة: والصلح والخلع مع الحوالة.
والوقف والقسمة والاقالة: لاالصرف والاقرار والوکالة
ولاالنکاح والطلاق والسلم: نذروایمان والاقرار وهذایغتنم.
(المعتصر الضروری: ص۲۹۷).

(۱)وصح للمتبایعین اولاحدهما خیارثلثة ایام اواقل (۲)ولواکثرلا (۳)فان اجازفی الثلث صح (۴)ولوباع علی انه ان لم ینقدالثمن الی ثلثة ایام فلابیع صح والی اربعة لا (۵)فان نقدفی الثلث صح.

**ترجمه**: صحيح د متعاقدينو لپاره يا له دوئ څخه ديوه دري ورځي خيار يا تر هغه كم. او كه زيات وونه دى صحيح. بيا كه يې په دري ورځي كې دننه اجازه وركړه نو صحيح كيږي او كه يې يو شى خرڅ كړ په دې شرط چې كه مې په دري ورځي كې قيمت ادا نكړي نو بيا بيع زما وستا نشته. دا بيع صحيح ده او كه يې تر څلورو ورځو پورې شرط كړ نو بيا نه دى صحيح بيا كه يې په دري ورځي كې دننه قيمت ادا كړ نو صحيح كيږي.

**تشريح**: (۱) يعني خيار شرط په يوه وخت د بائع او مشتري دواړو لپاره هم جائز دى او له دواړو څخه ديوه لپاره هم جائز دى په دې شرط چې دخيار موده به يې دري ورځي تا تر دري ورځي كمه تاكلي وي لقوله عليه السلام :اذابايعت فقل لاخلابة ولى الخيار ثلاثة ايام. (يعني رسول الله ﷺ وحضرت حبان بن منقذرض ته وفرمايل چې دبيع كولو په وخت ورته ووايه چې دوكه نه ده او مالره دري ورځي اختيار شته).

(۲) قوله ولو اكثر لا اى ولو شرط اكثر من ثلاثة ايام لايصح. يعني كه يو چا تر دريوو ورځو زيات مثلا يوه يا دوي مياشتي دخپل ځان لپاره خيار شرط ولګاوه نو دا صحيح نه دى، بلكې دا صورت مختلف فيه دى دامام ابو حنيفة رحمه الله، امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد جائز نه دى ځكه چې خيار خلاف قياس په مذكورنص سره ثابت دى نو څومره موده چې په نص كې ذكر شوي ده پر هغه باندي زيادت صحيح نه دى، دصاحبينو رحمهما الله په نزد تر دريوو ورځو زيات هم جائز دى ځكه چې خيار ددي لپاره مشروع شوى دى چې متعاقدين دغور او فكر موقع ولري او تر ختى الامكان پورى دخساري دفع وشي او كله تر دريوو ورځو زيات غور او فكر ته ضرورت پيدا شي نو ځكه تر دريوو ورځو زيات ته موده شرطول جائز دى.

**فائده**: دامام صاحب رحمه الله قول صحيح دى لما في الهندية: فعند ابى حنيفة رحمه الله لايجوز اكثر من ثلاثة ايام وعندهما يجوز اذا سمى مدة معلومة كذا في مختار الفتوى والصحيح قول الامام (الهندية: ۳۸/۳) وفى تكملة فتح الملهم: ولم يثبت في شئ من الاحاديث الخيار الى مافوق ثلاثة ايام فالاحوط الاقتصار عليها (تكملة فتح الملهم: ۳۲۸/۱).

وقال المفتي غلام قادر النعماني: والاوجه ان يقال ان كانت المبيعة ممايعلم حالها في ثلاثة ايام او اقل فالعمل على قول ابى حنيفة رحمه الله وان كانت المبيعة ممالايعلم حالها في ثلاثة ايام بل تحتاج الى اكثر من ذالك فالعمل على قول الصاحبين رحمهما الله. (القول الراجح: ۱۳/۲).

(۳) بيا كه چيرته په پورتني مذكور صورت كې (يعني تر دريوو ورځو دزيات اختيار اخستلو په صورت كې) صاحب اختيار په دريوو ورځو كې دننه خپل دغه اختيار ساقط كړ او دبيع دتاميد و فيصله يې وكړه نو بيا دا بيع صحيح كيږي ځكه چې كوم شى دفساد باعث وو (يعني تر دريوو ورځو زيات اختيار شرطول) هغه له منځه ولاړ، دامام زفر رحمه الله په نزد په دريوو ورځو كې دننه په خيار ساقطولو سره دا بيع نه صحيح كيږى ځكه چې دا بيع تر دريوو ورځو نه دزيات شرط لګولو په وجه فاسده منعقده شوې ده او قاعده ده چې كوم شى فاسد منعقد شي هغه بيا بيرته صحيح نه ګرځي ځكه چې دشي بقاء دهغه دابتدائي ثبوت مطابق راځي.

(۴) كه چا يو شى په دي شرط خرڅ كړ چې كه مشتري په دريوو ورځو كې دننه قيمت ادا نكړ نو بيا بيع نشته. دا شرط جائز دى او كه يې څلورو ورځي شرط ولګاوه چې كه مشتري په څلورو ورځو كې قيمت ادا نكړ نو دا بيع معدم ده. دا صورت دشيخينو رحمهما الله په نزد جائز نه دى په اصل كې دا هم دخيار شرط په

معنی دی بناء برضرورت مشروع دی داځکه چې کله کله مشتري دقیمت اداکولو قدرت نه لري مګر دبیع په فسخ کولو کې ځان شاته شاته کوي چې په دي کې دبائع ضرر دی نو ددغه ضرورت پربناء دخیارشرط په ډول داصورت هم دامام ابوحنیفة رحمه الله اوامام ابویوسف رحمه الله په نزدتردریوورځو پوري جائزدی تردريوورځوزيات نه دی جائز.

همدارنګه ددریوورځودجائزکیدویوه وجه داهم ده چې حضرت ابن عمر رضی الله عنه خپله اوښه داډول خرڅه کړې وه له صحابه کرامورضي الله عنهم څخه یوه صحابي هم پرده ردنه ووکړی. دامام محمد رحمه الله په نزدڅلورورځي اوترڅلورووځوزیات هم جائزدی.

**فائده**: دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی: القول الراجح هو قول الشیخین رحمهما الله لایصح الی اربعة ایام قال العلامة ابن الهمام والی اربعة ایام لم یجز عندابی حنیفة رحمه الله وابی یوسف رحمه الله فان نقد الثمن قبل مضی الثلاثة تم البیع وان لم ینقد فیها فسدالبیع ولاینفسخ نص علیه ظهیر الدین وقال لابدمن حفظ هذه المسئلة. (القول الراجح:۲/۱۳)

(۵) تردریوورځونه دزیاتي مودي شرطولوپه صورت کې که چیرته مشتري په دریوورځوکې دثنه قیمت اداکړنوپه اتفاق دڅلوروامامانوسره دابیع صحیح کیږي ځکه چې باعث دفسادتراستحکام مخکې ساقط شولکه په خیارشرط چې بیان شوی دی، دامام زفر رحمه الله په نزدکه په دریوورځوکې دثنه قیمت اداکړي نوهم دابیع نه صحیح کیږی ځکه چې دابیع ددریوورځونه دزیات شرط لګولوپه وجه فاسده منعقده شوې ده اوقاعده ده چې کوم شی فاسدمنعقدشي هغه بیاصحیح نه ګرځي ځکه چې دشي بقاء دهغه دابتدائی ثبوت مطابق وي.

(۶) وخیارالبائع یمنع خروج المبیع عن ملکه (۷) وبقبض المشتري یهلک بالقیمة (۸) وخیار المشتري لایمنع ولایملکه (۹) وبقبضه یهلک بالثمن کتعیبه.

**ترجمه**: اودبائع اختیارمنع کوي داچې مبیعه دده له ملک څخه ووځي، اودمشتري په قبض کولوسره مبیعه هلاکیږي دقیمت په عوض، اودمشتري خیارنه منع کوي (خروج دمبیعه) اونه دی دهغه مبیعه مالک ګرځي اودده په قبض کولوسره مبیعه هلاکیږي دثمنوپه عوض لکه دمبیعه دعیب داره کیدوپه صورت کې.

**تشریح**: (۶) یعني که چیرته په بیع کې خیارشرط دبائع لپاره وونو داخیارددي مانع دی چې خروج دمبیعه وشي له ملک دبائع څخه، یعني مبیعه دبائع له ملک څخه نه وځي، ځکه دابیع تامه نه ده ولی بیع خوددطرفینوپه رضامندي سره تامیږي اوپه طرفینوکې چې کوم یوه لره خیاردی دهغه رضاتراوسه پوري نه دمعلومه شوې نوپه موده دخیارکې بائع په مبیعه کې دتصرف اختیارلري مګرمشتري دتصرف اختیارنه لري که څه هم دی دبائع په اجازه سره پرمبیعه باندي قبضه وکړي.

(۷) که چیرته مشتري په بالامذکورصورت کې مبیعه قبض کړه اوبیاپه موده دخیارکې دثنه مبیعه دمشتري په لاس کې هلاکه شوه نوکه چیرته مبیعه قیمتی شی وي مشتري دقیمت ضامن دی اوکه چیرته مثلی شی وي نودمثل ضامن دی دپیسوضامن نه ګرځی ځکه چې دامبیعه دمشتري په لاس کې مبقوض علی

سوم الشراء ده يعني لكه يو څوک چې يو شی داخستلو لپاره پخپله قبضه کې واخلی او بيا له هغه څخه داشی هلاک شي نو په داسي قبضه سره دضائع كيدو په صورت کې په قيمتی شي کې قيمت واجبيږي او په مثلی شی کې مثل واجبيږي ثمن نه واجبيږي نو لهذا په مذکور صورت کې هم مشتري دقيمت ضامن گرځی نه دثمنو .

(٨)يعني كه چيرته په بيع کې خيار مشتري لره وونو دا خيار مانع دخروج دمبيعه له ملک دبائع څخه نه دی يعني په دغه صورت کې مبيعه دبائع له ملک څخه وتلای شي ځکه چې دبائع په حق کې بيع لازمه ده ،بيا دصاحبينو رحمهما الله په نزد مشتري دمبيعه مالک گرځی ځکه چې كله دامبيعه دبائع له ملک څخه ووته نو بيا كه چيرته دمشتري په ملک کې رانه شي نو بيا بغير ددي چې دچا ملک شي زائليږي چې ددي په شرع کې هيڅ يو مثال نشته ،امام ابو حنيفة رحمه الله فرمايي چې مشتري هم دمبيعه مالک نه گرځي ځکه كه چيرته دا ومنله شي چې مشتري مالک دی نو تر اوسه پوري ثمن دمشتري له ملک څخه نه دي وتلي نو دمشتري په ملک اجتماع دبدلينو (يعني مبيعه او ثمن) لازميږي چې په شرع کې هيڅ اصل نه لري،تر كومه چې زوال دملک لاالی المالک دی نو دهغه نظير په شريعت کې موجود دی لكه دكعبی مكرمی غلام اوپردي چې دمالک له ملک څخه وځی مگر دكوم بل مالک په ملک کې نه داخليږي .

**فائده** : دامام ابو حنيفة رحمه الله قول صحيح دی لمالی الدر المختار: ولايملكه المشترى خلافاً لهما لئلا يصير سائبة قلنا السائبة هى التى لاملک فيها لاحدٍ ولاتعلق ملک والثانى موجودهنا . (الدرالمختار على هامش ردالمحتار:٣/ ٥١) همدا رنگه دفتاوی قاضيخان دمصنف رحمه الله داعادت دی چې دی په مختلف فيه مسئله کې مفتی به قول مخکي ذكر كوي په مذكوره مسئله کې چې بيان كوي نو دامام صاحب رحمه الله قول يې مخکي ذكر كړی دی لكه چې فرمايلی يې دي : ولو كان الخيار للمشترى لايخرج الثمن عن ملكه في قولهم ويخرج المبيع عن ملک البائع ولايدخل فى ملک المشترى فى قول ابى حنيفة رحمه الله وعندهما يدخل (الهداية ٣/ ٤٦).

(٩)يعني په صورت دخيار مشتري کې كه چيرته مبيعه دمشتري په لاس کې هلاكه شي نو دا په عوض دثمنو هلاكيږي ځكه چې كله مبيعه هلاكيدوته نژدي شوه نو مشتري دهغې له ردولو څخه عاجز شو نو اوس بيع لازمه شوه اودلزوم بيع په صورت کې ثمن لازميږی همدغه حكم هغه وخت هم دی كه چيرته په مذكور صورت کې له مشتري سره په مبيعه کې عيب پيدا شي (برابر دی كه فعل دمشتري څخه وويا دا جنبی څخه يا دآسماني آفت څخه وو) يعني مبيعه په عوض دثمن معيوب كيږي نه په عوض دقيمت ځكه چې دعيب په وجه بيع لازميږي اودلزوم بيع په صورت کې ثمن لازميږی البته له عيب څخه مراد داسی عيب دی چې دهغه ازاله ممكنه نه وي مثلاً مبيعه غلام وو او دخيار په موده کې دهغه كوم اندام پري شو .

(١٠)فلو اشترى زوجه بالخيار بقى النكاح (١١)فان وطيها له ان يردها (١٢)ولو اجاز من له الخيار بغيبة صاحبه صح ولو فسخ لا (١٣)وتم القديم بموته وبمضى المدة (١٤)والاعتاق وتوابعه (١٥)والاخذ بشفعة.

**ترجمه** : نو كه يې چيرته واخيسته خپله بي بي په خيار سره نو نكاح باقي ده بيا كه يې چيرته له هغې سره صحبت (كوروليي) وكړ نو بيا هم ده لره اختيار دی چې هغه رد كړي او كه يې اجازه وكړه (خيار يې ساقط كړ) صاحب

خيار د خپل ملكري په نه موجودګي كې نو دا صحيح دى او كه يې فسخ كړ نو بيا صحيح نه دى او عقد تاميږي د ده په مرګ سره او د موديې په تيريدو سره او په آزادولو سره او د آزادي په تو ابعو سره او په اخستلو د شفعې په طريقه سره.

**تشريح** : (۱۰) كه د چا په نكاح كې منځه وه نو زوج هغه منځه د دې له مولى څخه په دې شرط واخيسته چې ماله دري ورځې اختيار دى يو اځى په اخيستو سره د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد د دوئ ترمنځ نكاح نه شكيږي ځكه د خيار په وجه مبيعه د مشتري په ملك كې نه داخليږي نو زوج لره ملك يمين نه دى ثابت شوى په ملك يمين سره نكاح ماتيږي چې تر او سه دلته نه دى ثابت ،د صاحبينو رحمهما الله په نزد ځرنګه چې د مشتري لپاره د خيار شرط په صورت كې مشتري د مبيعه مالك ګرځى نو په مذكور صورت كې د مشتري لپاره پر خپله بي بي ملك يمين ثابت شو نو ځكه يې ترمنځ نكاح ماته شوه .

**فائده** : په دغه مسئله كې هم د امام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافى الخانية : ولو كانت زوجه لايفسد النكاح بينهما لانها لم تدخل فى ملكه فى قول ابى حنيفة رحمه الله (فتاوى قاضى خان: ۲/۱۷۸).

(۱۱) بيا كه چيرته زوج په دغو دريو ورځو كې له هغى سره صحبت (كورولي) وكړي بيا هم د رد ولو اختيار لري ځكه چې د اصحبت د پخوانى نكاح د موجود والي په وجه دى د دغى معاملې (يعني اخيستلو) په وجه سره نه دى نو دى د واپس كولو حق لري،د صاحبينو رحمهما الله په نزد ځرنګه چې نكاح ماته شوې ده نو دغه وطى (صحبت) د هغه عقد په وجه دى نو په وطى كولو سره د اعقد تاميږي په دې وجه مشتري لره د مبيعه د رد ولو اختيار نو رنشته .

(۱۲) كه چيرته د خيار په صورت كې صاحب خيار بيع نافذه كړه د هغه بل د حضور (يعني علم) بغير نو دا جائز ده ځكه چې دا د خپل حق اسقاط دى نو دا د هغه بل پر حضور او علم باندې نه موقوف كيږي او كه يې دد و هم عاقد په نه حضور (يعني عدم علم) كې فسخ وكړه نو د طرفينو رحمهما الله په نزد نه دى جائز ځكه چې رفع د عقد د عقد په ډول ده په يوه عاقد سره نه شي قائميدلاى البته كه د و هم عاقد لره علم وونو بيا جائز دى ،د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد جائز دى ځكه چې من له الخيار خو غائب خپله پر فسخ عقد باندې مسلط كړى دى نو دده عقد فسخ كول دده د غائب ملګري پر علم موقوف نه دى لكه عقد نافذول چې د غائب پر علم باندې موقوف نه دى ، طرفين رحمهما الله جواب وركوي چې من له الخيار د غائب د طرف څخه پر فسخ عقد باندې مسلط نه دى ځكه چې غائب خپله د عقد د فسخ كولو حق نه لري نو بل پر هغه باندې څرنګه مسلط كوي .

**فائده** : د امام ابو يوسف رحمه الله قول راجح دى لمافى الشامية : وقال ابو يوسف رحمه الله يصح وهو قول الائمة الثلاثة قال الكرخى رحمه الله وخيار الرؤية على هذا الخلاف الخ ورجح قوله فى الفتح (رد المحتار: ۳/۲۱).

(۱۳) يعني د متعاقدينو څخه چې كوم يوه لره خيار ووهغه كه چيرته مړشي نو خيار يې باطليږي او دهغه له طرفه بيع تاميږي د فسخ او نفاذ اختيار يې وورثه ؤته نه منتقل كيږي ځكه چې خيار مشيت او اراده ته ويل كيږي چې د هغه انتقال د ورثه ؤ طرف ته نه متصور نه دى ،د امام شافعى رحمه الله په نزد دا حق ورثه ؤته منتقل كيږي ځكه چې دا په بيع كې لازم او ثابت حق دى نو لهذا په دې كې د خيار عيب په شان وراثت جاري كيږي .

(۱۴)قوله والاعتاق ،دالفظ پر(بموته ) باندي عطف دی ای یتم العقدایضًامع الاعتاق ،یعنې که چاپومریی په شرط دخیارسره اخیستی وویبایې دخیارپه موده کې هغه آزادکړیایې مدبرکړیایې مکاتب کړنوبیع تامیږي ځکه چې اعتاق وغیره دملک مقتضي دي چې کله دخیارپه موجودګې کې مشتري مالک نه شوای کیدلای نوداسي ګڼله کیږي چې ګویاهغه خپل خیارختم کړی دی .

(۱۵)قوله والاخذبشفعة،اخذیې شرط نه دی بلکې یواځي په طلب دشفعه سره هم بیع تامیږي که یې واهم خلي یایې نه واخلي .

نوپه عبارت کې مضاف مقدردی تقدیرعبارت داسي دی : وطلب الاخذبشفعة ،یعنې که چاپه خیارشرط سره یوه ځمکه رانیولې وه بیادهغې ځمکې سره متصل بله ځمکه خرڅه شوه هغه اول اخستونکي په دغه دوهمه متصله ځمکه باندي دحق شفعه دعوی وکړه نوپه دغه صورت کې هم بیع تامیږي او خیارشرط ختم کیږي ځکه چې دشفعه دعوی کول دثبوت مِلک لپاره مقتضی دی چې کله دخیارپه موجودګی کې مشتري مالک نه شوای کیدلای نوداسي ګڼله کیږي چې ګویاهغه خپل خیارختم کړی دی .

(۱٦)ولوشرط المشتری الخیاز لغیره صح فای اجازاو نقض صح (۱۷)فان اجاز احدهما و نقض الآخر فالاسبق احق (۱۸)وان کانامعا فالفسخ (۱۹)ولوباع غبدین علی انه بالخیار فی احدهما ان فصل وعین صح والالا .

**ترجمه** : اوکه چیرته مشتري شرط کړخیاردبل چالپاره نوصحیح دی بیاکه له دوئ دواړو څخه هریوه نفاذوکړیایې فسخ وکړه صحیح ده اوکه له دواړو څخه یوه نفاذوکړاوهغه بل فسخ وکړه نوپه دوئ کې چې کوم سابق وي هغه زیات حقداردی اوکه دواړوپه یوه وخت نفاذاوفسخ وکړه نوبیافسخ زیاته حقداره ده اوکه یې دوه مریيان خرڅ کړل په دي شرط چې بائع لره اختیاردی له دواړو څخه په یوه کې بیاکه ده تفصیل بیان کړاومتعین یې کړنوصحیح دی که نه بیانه دی صحیح .

**تشریح** : (۱٦)که چایوشی واخیست اودکوم بل ځالپاره یې خیارشرط کړمثلاداسی یې وویل : که چیرته په دغو دریوورځوکې دننه زیددابیع خوښه کړه نوعقدصحیح دی که نه بیانه دی صحیح،نودابیع صحیح ده دقیاس تقاضاخوداده چې نه شي جائزاوهمداامام زفر رحمه الله مسلک دی ځکه چې خیاردبیع له احکامو څخه دی نوځکه دهغه شرط دبل چالپاره لګول ناجائزدی لکه له مشتري علاوه پرکوم بل چاباندي چې دثمن شرط لګول ناجائزدی، مګراستحساناً دغه بیع جائزه ده ځکه چې ده غیره څواک خپل نائب ګرځولی دی داداسي دی لکه ده چې دخپل ځان لپاره خیارشرط کړی وي،اوس که له دوئ دواړو څخه هریودبیع دنفاذاجازه وکړي بیع صحیح کیږي اوکه له دواړو څخه هریوبیع فسخ کوي نوفسخ کیږي ځکه چې هریودتصرف اختیارلري یوه لره اصالةً هغه بل لره نیابتًا دی .

**فائده** : دجمهوروقول راجح دی لمافی شرح تنویرالابصار:ولوشرط المشتری اوالبائع الخیارلغیره صح استحسانا وثبت الخیارلهمافان اجازاحدهمامن النائب والمستنیب اونقض صح ان وافقه الآخروان اجازاحدهماوعکس الاخرفالاسبق اولی لعدم المزاحم .(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۴/۴۳).

(۱۷)اوکه چیرته په پورتني مذکورصورت کې له دوئ دواړوڅخه یوه دخیارپه موده کې دبیع دنفاذحکم وکړاوهغه بل ردکړه نوچې له دوئ څخه کوم یوه مخکي اقدام کړی دی دهغه تصرف معتبربږي ځکه چې کوم وخت یوله دوئ نه دفسخ یانفاذتصرف کوي په هغه وخت کې دده هیڅ مزاحم نشته نوځکه دهغه تصرف نافذکیږي هغه بل چې وروسته کوم تصرف کوي دهغه تصرف لغوکیږي.

(۱۸)اوکه دواړوپه یوه وارخبره وکړه یوه دبیع اجازه وکړه اوهغه بل فسخ وکړه نودامام محمد رحمه الله په نزددعقدکونکي تصرف معتبربږي که هغه اجازه کړي وي اوکه یې فسخ کړي وي،ځکه چې دعاقدتصرف اقوی دی په دي وجه چې نائب خوولایت تصرف له ده څخه حاصل کړی دی ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدچې کوم یوه فسخ کړي ده دهغه تصرف زیات قوي دی ځکه چې فسخ قوي ده داځکه دکوم عقدچې اجازه ورکړه شوې وي هغه فسخ کیدای شي مثلادبیع داجازي وروسته مبیعه دبائع په لاس کې هلاکه شوه نودابیع داجازت وروسته فسخ کیږي مگردکومې بیع چې فسخ شوې وي دهغې اجازت نه شي ورکول کیدای مثلاتراجازت مخکې مبیعه دبائع په لاس کې هلاکه شوه نودابیع فسخ شوه اوس که صاحب خیارغواړي چې دابیع جائزه وګڼي نودانه جائزه کیږي حاصل داچې نسخ پراجازت باندي راتلای شي مگراجازت پرفسخ باندي نه شي راتلای نودادفسخ دقوي کیدوعلامه ده ،همدارنګه فسخ دمشتري لپاره حرمت ثابتوي اواجازت اباحت ثابتوي والحرمة مقدمة علی الاباحة،نودفسخ کوونکي تصرف معتبربږي

**فائده** : دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لمافي شرح التنویر: ولوکانامعًافالفسخ احق فی الاصح لان المجازیفسخ والمفسوخ لایجاز قال ابن عابدین الشامی رحمه الله : (قوله في الاصح) صححه قاضیخان معزیًاللمبسوط. (الدر المختار مع الشامیة:۳/۶۴).

(۱۹)که یوچادوه مریيان پریوه ځای په دي شرط خرڅ کړل چې له دواړوڅخه په یوه کې مالره تردریوورځوپوري اختیاردی که مي خوښه شوه بیع به یې وکړم اوکه مي خوښه شوه فسخ به یې کړمه، نوکه چیرته دده دواړومریيانوڅخه دهریوه قیمت علیحده بیان کړی وواوپه کوم مریې کې چې یې خیارشرط کړی ووهغه یې هم متعین کړی وونوبیادابیع صحیح کیږي ځکه چې مبیعه اوثمن دواړه متعین دي هیڅ ډول جهالت نه په مبیعه کې شته اونه په پیسو کې،نودابیع جائزه ده،اوکه یې دهریوه قیمت نه وو بیان کړی اونه یې هغه مریې متعین کړی ووپه کوم کې چې یې خیارشرط کړی دی نودابیع نه صحیح کیږي،ځکه چې هغه مریې په کوم کې چې یې خیارشرط کړی دی هغه دحکم یعني مِلک په اعتبارله بیع څخه خارج دی ولي مشتري دهغه مالک نه ګرځي نوګویالاعلی التعین دیوه مریي بیع شوې ده نومبیعه مجهوله ده کله چې مبیعه مجهوله شوه نوثمن هم مجهول کیږي اوداسي بیع نه صحیح کیږي په کومه کې چې مبیعه اوثمن مجهول وي،دوه صورتونه نوردي :یوداچې مبیعه معلومه وي ثمن مجهول وي دوهم دهغه عکس دادوه صورتونه هم ناجائزدي ځکه په اول صورت کې ثمن مجهول دی اوپه دویم کې مبیعه مجهوله ده.

(۲۰) وصح خیار التعیین فیما دون الاربعة (۲۱) ولو اشتریا علی انهما بالخیار فرضی احدهما لا یرده الآخر (۲۲) ولو اشتری عبدا علی انه خباز او کاتب وکان بخلافه اخذه بکل الثمن او ترکه.

**ترجمه**: او صحیح دی خیار تعیین تر څلورو په کم کې، او که واخیست دوو کسانو په دې شرط چې دواړو له اختیار دی بیا له دواړو څخه یو راضي شو هغه بل رد نه شي کولای او که یې واخیست مریی په دې شرط چې (نانوای) دی یا (کاتب) دی بیا هغه ددې خلاف وونو وادې خلي هغه دټولو روپو په عوض یا دې پریږدي.

**تشریح**: (۲۰) او تر څلورو په کمو شیانو کې خیار تعیین شرطول صحیح دی په څلورو کې نه دی صحیح مثلا یو چادروو یادریو کپړو یا مریبیانو په باره کې وویل: له دوئ څخه چې په دریوور خو کې دننه یو لا علی التعیین زما خوښ شو هغه اخلم نو دا خیار شرط په شان جائز دی او که دا صورت په څلورو کپړو یا مریبیانو کې وونو جائز نه دی دقیاس تقاضا خو دا ده چې په اولو دوو صورتونو کې هم بیع فاسده وي ځکه چې مبیعه مجهوله ده مګر استحسانا اول دوه صورتونه جائز ګڼل شوي دي د استحسان وجه دا ده چې خیار تعیین ته ضرورت دی ځکه مشتري کله دي ته ضرورت لري چې اخستل شوی شی په یو داسې چا باندې خوښ کړي چې دهغه پر رایه باندې دده اعتماد وي نو چې کله مدار پر ضرورت شو نو چې څومره ضرورت دی هغومره جائز تر هغه زیات نه دی جائز او ضرورت په دریو شیانو سره رفع کیږي چې یو اعلی یو وسط دریم ادنی وي له هغو څخه دې یو خوښ او متعین کړي تر دریو زیات ضرورت نشته نو ځکه په څلورو شیانو کې خیار تعیین صحیح نه دی، دامام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد تر څلورو په کمو کې هم دا بیع نا جائزه ده ځکه مبیعه مجهوله ده. احناف جواب ورکوي چې دا داسې جهالت دی چې مفضي ونزاع لره نه دی ځکه معامله مشتري ته مفوّضه ده نو چې هغه کوم یو اختیار وي دبائع پر هغه باندې اعتراض نه راځي.

(۲۱) که دوو کسانو په شریکه یو شی په خیار شرط واخیست چې دننه خوښید لو په صورت کې دهغه دواپس کولو اختیار دوئ لره شته بیا له دوئ څخه دیوه هغه شی خوښ شو هغه بیع منظوره کړه او دهغه بل نه شو خوښ نو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد اوس دغه بل ملګری داشی نه شي واپس کولای. دصاحبینو رحمهما الله په نزد دی دواپس کولو اختیار لري ځکه چې ددواړو اختیار دهریوه لپاره هم اختیار دی نو دیوه په خپل اختیار ساقطولو سره دهغه بل اختیار نه ساقطیږي، ځکه په دې ډول پر هغه بل باندې داشی دهغه درضامندۍ بغیر لازم شو چې په دې کې دهغه دحق ابطال راځي یعنې دخیار په وجه هغه لره دخسارې (تاوان) دفع کولو اختیار وو چې اوس یې دا اختیار نشته، دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دا دی چې دبائع له ملک څخه مبیعه په داسې حالت کې ووته چې په هغې کې دشرکت عیب نه وو نو که له دوئ دواړو څخه یو اځې یو نفر هغه رد کړي او هغه بل بیع نافذه کړي په هغه کې له بائع سره حصه دارشي نو په دې کې خود بائع ضرر دی او دبائع داضرر دهغه مشتري تر ضرر زیات دی کوم مشتري چې مبیعه ردیدل غواړي.

**فائده**: دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لمافي شرح التنویر: ولو اشتریا شیئا علی انهما بالخیار فرضی احدهما بالبیع صریحا او دلالة لا یرده الآخر بل بطل خیاره خلافا لهما، وکذا الخلاف في خیار الرؤیة والعیب فلیس لاحدهما الرد بعد رؤیة الآخر او رضاه بالعیب خلافا لهما. (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۴/۶۵).

(۲۲) يعني که چا مريی خرڅ کړيه دي شرط چې دا مريی نانوای دی يا کاتب دی او س قصه داشوه چې مريی دهغه خلاف وخوت يعني په مريی کې دنانوای توب يا کتابت صفت نشته نو مشتري لره اختيار دی که يې خوښه ده پری دي ږدي ځکه چې په مبيعه کې دمرغوب فيه صفت (کوم چې په بيع شرط شوی وو) دنيستي والي په وجه مشتري په دي مبيعه باندي راضي نه دی نو مشتري لره دپريښودلو اختيار شته او که يې خوښه ده دبائع له طرفه چې څومره قيمت ورته بيان شوی دی هغه دي پوره ورکړي مريی دي بوځي ځکه چې دصفاتو په مقابله کې پيسي نه وي نو دبائع له طرفه چې څومره قيمت ورته ښودل شوی دی هغه به پوره اداکوي دنانوای توب يا کتابت دمعدوم والي په وجه په پيسو کې کمبوت نه کيږي .

## باب خيار الرؤية

داباب دخيار رؤيت په بيان کې دی .

ددغه باب له ماقبل سره دمناسبت وجه دمخکيني باب په شروع کې تيره شوې ده .خيار رؤيت دادی چې څوک په نه ديدو شی رانيسي نو هغه لره اختيار دی چې له ليدو وروسته هغه شی اخلي او که يې پريږدي. خيار رؤية په معنی دخيار عدم الرؤية يعني هغه خيار چې دعدم رؤيت په وجه ثابت دی نو دا اضافت له قبيل داضافت المسبب دی الی السبب ته ځکه چې ددغه خيار سبب عدم رؤيت دی .

په کوموشيانو کې چې خيار رؤيت ثابتيږي هغه شيان علامه حموی رحمه الله په لاندي عباراتو کې داسي راوړي دي :

في اربع خيار رؤية يری: اجارة وقسمة كذا الشراء

كذاک صلح في ادعاء المال: فاحفظ سريعا نظمتها في الحال.

(المعتصر الضروری: ص ۲۰۰).

(۱) شِرَاءُ مَالَمْ يَرَهُ جَائِزٌ وَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُ اِذَا رَاٰهُ وَاِنْ رَضِيَ قَبْلَهُ (۲) وَلَا خِيَارَ لِمَنْ بَاعَ مَالَمْ يَرَهُ (۳) وَيَبْطُلُ بِمَا يَبْطُلُ بِهِ خِيَارُ الشَّرْطِ (۴) وَكَفَتْ رُؤْيَةُ وَجْهِ الصُّبْرَةِ وَالرَّقِيقِ وَالدَّابَّةِ وَكَفَلِهَا وَظَاهِرِ الثَّوْبِ مَطْوِيًّا (۵) وَدَاخِلِ الدَّارِ (۶) وَنَظَرُ وَكِيلِهِ بِالْقَبْضِ كَنَظَرِهِ لَا نَظَرُ رَسُولِهِ.

**ترجمه** : اخيستل دداسي شي چې نه يې وي ليدلی جائز ده او مشتري ته روا دی چې رديې کړي داشي چې کله يې وويني که څه هم تر ليدلو مخکي راضي شوی وي او خيار نشته هغه چالره چې خرڅ کړي داسي شی چې هغه نه يې ليدلی او په کوم شي چې خيار شرط باطليږي په هغه سره خيار رؤية باطليږي او کافي دی ليدل دظاهر دکوټي او دمريي او حيوان مخ او دمخ خوا ليدل او دکپړي ظاهر چې دغسي پيچلي پروته وي او دسرای دننه خوا او دوکيل بالقبض ليدل داسي دی لکه دموکل ليدل او دقاصد ليدل يې داسي نه دی لکه دمشتري .

**تشريح** : (۱) يعني که چاپه نه ديدو شي واخيست نو دابيع جائزه ده او مشتري لره له ليدلو وروسته (دقول اصح مطابق تر ليدلو مخکي هم ) اختيار دی که يې خوښه ده وادي خلي که نه واپس دي کړي که څه هم تر ليدلو مخکي يې ويلي وو چې زه راضي يم لقوله عليه السلام من اشترى شيئا لم يره فله الخيار اذا رآه ) يعني که چايو داسي شی واخيست چې نه يې وو ليدلی چې کله يې وويني بيا ده لره خيار حاصل دی ) .

**فائده** : دامام شافعي رحمه الله په نزدپه نه ديديوشي رانيول ناجائزدي ځکه مبيعه مجهوله ده .احناف جواب ورکوي چې داجهالت مفضي ونزاع (جګړې) لره نه دی اوکوم جهالت چې مفضي ونزاع لره نه وي هغه مفسدديبع نه دی .

**فائده** : له رؤيت څخه مرادعلم بالمقصوددی ځکه چې داسي مبيعه هم راځي چې دهغه مقصود په رؤيت سره نه معلوميږي بلکې په بوئ کولوسره معلوميږی لکه مشک چې په ليدلوسره نه معلوميږی بلکې په بوئ کولوسره معلوميږي . (کذافی الهنديه :۳/۶۲).

(۲)يعنې که چاپه نه ديديوشي خرڅ کړمثلاپه ميراث کې يې يوشي ومونديه نه ديدېې خرڅ کړنوبائع لره خياررؤيت نشته ځکه چې له روايت څخه خياررؤيت يواځې دمشتري لپاره ثابت دی بائع لره نشته،همدارنګه روايت دی چې حضرت عثمان رضي الله عنه خپله څه ځمکه چې په بصره کې وه پرحضرت طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه باندي خرڅه کړه،بياچاوحضرت طلحه رضي الله عنه ته وويل چې ته خوتاواني شوې .نوحضرت طلحه رضي الله عنه وويل چې مالره خوخياررؤيت حاصل دی ځکه چې ماپه نه ديدشي اخيستی دی،اوحضرت عثمان رضي الله عنه ته خلکوويل چې ته تاواني شوی يې نوحضرت عثمان رضي الله عنه وويل چې مالره خوخياررؤيت حاصل دی ځکه چې ماپه نه ديدشي خرڅ کړی دی بيادواړوحضرت جبيربن مطعم رضي الله عنه پخپل منځ کې حکم مقرر کړنو جبيرابن مطعم رضي الله عنه دحضرت طلحه رضي الله عنه په حق کې فيصله وکړه چې خيارحضرت طلحه رضي الله عنه ته حاصل دی داواقعه دصحابه کرامو په حضورکې پيښه شوه مګريوه صحابي هم ردنه دی کړی نوګويادصحابه کرامو پردي خبره باندي اجماع شوه چې خياررؤيت مشتري ته حاصل دی نه بائع ته.

**فائده** : مګرداخبره يادساته ! چې بائع لره خياررؤيت هغه وخت نه دی حاصل چې دی سامان ديسيوپه عوض خرڅ کړي اوکه يې چيرته سامان دسامان په عوض خرڅ کړنوبيامتعاقدينوهريوه لره خياررؤيت حاصليږي ځکه چې په دغه صورت کې متعاقدين دواړه مشتريان (اخستونکي) دي . (کذافی الهنديه : ۳/۵۸).

(۳)يعنې خياررؤيت هم په هغوامورسره باطليږی په کوموسره چې خيارشرط باطليږي مثلامشتري مبيعه عيب جنه کړه يايې يوداسي تصرف وکړچې اوس رفع کيدای نه شوای مثلامبيعه مريي دی مشتري هغه آزادکړنودمشتري خياررؤيت باطليږی ياپه مبيعه پوري دغيرحق متعلق شومثلامشتري مبيعه پرکوم بل چاباندي خرڅه کړه يايې ورهبه کړه نوپه دغه وخت کې هم خياررؤيت باطليږي البته که چيرته په مبيعه پوری دغيرحق نه ومتعلق شوی مثلامشتري مبيعه بل چاته بلاتسليم هبه کړي وه نوپه دغه صورت کې څرنګه چې تراوسه پوري لادغيرحق نه ترپوري متعلق شوی خياررؤيت نه باطليږي .

(۴)يعنې چاوزني شي يادکيلي شي کوټه دغسی په ظاهره وليده يايې دمريی مخ وليديايې دحيوان تسخ اودشاخواوليده (مرادله حيوان څخه آس،خراوخچردي که نه بزه ،غوا،يانورچې دشيدوياتسل لپارمساتل کيږي په هغوکې دتيانوله ليدلوبغيرخيارنه ساقطيږي ) ياکپړه دغسي پيچلي پروته وه ويې ليدله نوداورؤيت کافي دی اودده خياررؤيت ساقطيږي ځکه چې په مبيعه کې چې کوم شی مقصودبالعلم وي دهغه په ليدلوسره خياررؤيت ساقطيږي اوپه مذکوروشيانوکې مقصودبالعلم امورهمدادي چې بيان شوي دي .

**فائده**: د رؤيت په باب كې اصل دادی چې د مبيعه د مره حصه وويني چې د مقصود بالمبيع حال معلوم شي د تولې مبيعی ليدل شرط نه دی ځكه چې دا كلنه متعذر وي په خوندلرونكو شيانو كې په خوند ځكلو او په خوشبويه شيانو كې په بوئ كولو سره خيار رؤيت ساقطيږي او په شيدو كوونكو حيوانانو كې د تيانو په ليدلو او د غوبنې په حيوانانو كې په لاس لګولو سره خيار رؤيت ساقطيږي (كذافی الدّر المختار علی هامش ردّ المحتار: ۴ / ۷۳).

**فائده**: او كه چيرته مبيع يوشی نه وو بلكې متعدد (يوشمير) شيان وو نو بيا اورته كتل كيږي چې د دوئ د افرادو د ماليت په اعتبار پخپل منځ كې فرق شته كه نشته، كه چيرته يې د افرادو تر منځ فرق نه وو لكه غنم او وربشې وغيره نو په داسي شيانو كې په ديوه په ليدلو سره خيار رؤيت باطليږي، ځكه چې ديوه په ليدو سره د نورو اوصاف هم معلوميږي او كه باقي ډيرزيات .....، وو بيا خيار رؤيت نه ساقطيږي او كه شيان متفاوت الاحاد وو لكه بزې، غواوې يا نور، نو بيا د هرې يوې ليدل ضروري دی ځكه چې په دوئ كې د يوې په ليدو سره د نورو اوصاف نه شي معلوميدای. (پورتنی حواله).

(۵) قوله وداخل الدار ای كفت رؤية داخل الدار فانها كرؤية كلها، يعنی كه چا د سرای منځ وليدی د هغه خيار رؤيت ساقطيږي كه څه هم كمرې يې د ننه نه يې ليدلي ځرنګه چې د مكان هره هره حصه كتل مشكل دی نو ځكه يې يوائی ميدان ليدل كافی ګڼلی دی دا د امام ابو حنيفة رحمه الله قول دی، د امام زفر رحمه الله په نزد كمرې د ننه كتل ضروری دی.

**فائده**: د امام زفر رحمه الله قول راجح دی لمافی الدّر المختار: وقال زفر رحمه الله لابدّ من رؤية داخل البيوت وهو الصحيح وعليه الفتوی، قال ابن عابدين الشامی رحمه الله: قيل هذا قول زفر رحمه الله وهو الصحيح وعليه الفتوی (الدّر المختار مع الشامية: ۴/۷۳).

**فائده**: د امام صاحب رحمه الله او امام زفر رحمه الله دا اختلاف مبني دی پر اختلاف د عادات و باندي دی چې د كوفې په ښار كې سرايونه د باندي له د ننه څخه ډير تفاوت نه درلود ځكه نو امام صاحب رحمه الله د ننه خوا ليدل ضروري نه ده ګڼلې، مګر د نن زمانی سرايونه داسي نه دي په دي كې خوله د ننه څخه ډيرزيات تفاوت وي د ظاهري سرای په ليدلو سره د ننه حال نه شي معلوميدای ځكه نو امام زفر رحمه الله د ننه كمرې ليدل ضروري ګڼي.

(۶) كه چا په نه ديديو شی واخيست بيا يې پر هغه باندي د قبضه كولو لپاره څوك وكيل كړ وكيل ورغی مبيعه يې وكته نو د وكيل ليدل د مشتري ليدل بلل كيږي ځكه د وكيل په ليدلو سره د مشتري خيار رؤيت ختم كيږي مګر د قاصد ليدل د مشتري د ليدو په ډول نه دی مثلاً مشتري چاته وويل چې ته ورشه زما له طرفه د مبيعه قبض كولو قاصد شه، يا بائع ته ورشه ورته ووايه چې هغه مبيعه تاته حواله كړي نو د دغه قاصد په ليدو سره د مشتري خيار نه ساقطيږي ځكه چې د قاصد كار يوائی پيغام رسول دی، دا د امام ابو حنيفة رحمه الله مسلک دی د صاحبينو رحمهما الله په نزد وكيل او قاصد دواړه برابر دي يعنې ديوه په ليدو سره هم د مشتري خيار رؤيت نه ختم كيږي ځكه وكيل يوائي د قبض كولو وكيل دی د خيار ساقطولو وكيل نه دی نو د وكيل په كتو سره هم د مشتري خيار نه ساقطيږي.

**فائده**: په دې مسئله كې د اهل ترجيح اختلاف دی ځينو د امام صاحب رحمه الله قول او ځينو نورو بيا د صاحبينو رحمهما الله، قول راجح بللی دی خو حق او بهتر هغه تطبيق دی چې ځينو مشائخو اختيار كړی دی

هغه داچې که چيرته مشتري څوک وکيل بالقبض وګرځاوه اوهغه ته يې پوره اختيار ورکړچې مبيعه واخله يايې واپس کړه يعني مبيعه که سم شی وونوو ايې خله اوکه خراب وومه يې اخله نوبيا دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی که نه بيا دصاحبينو رحمهما الله قول راجح دی قال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله: اختلف اهل الترجيح في التصحيح فبعضهم رجح قول الامام وبعضهم قولهما ولعل الحق هو التوفيق الذی اختاره بعض المشائخ هو ان المشتری ان وكل احدا بالقبض وفوض اليه الامر جميعا من الفسخ في الردی والاجازة في الجيد فالقول ماقاله الامام وهذا التوكيل جائز اتفاقا وان لم يجز قصدا والافالراجح قولهما. (هامش الهندية ۳۰ ۲ ۲)

**فائده** : دوکيل اوقاصدترمنځ فرق دادی چې وکيل لره دخصومت حق حاصل وي اوقاصدلره دخصومت حق نه يې حاصل يعني که چيرته بائع دمبيعه له تسليمولو څخه انکاروکړي نو وکيل له بائع سره دعوه کولای شي مګرقاصددعوي کولوحق نه لري .

**فائده** : له وکيل څخه دمصنف رحمه الله مرادوکيل بالقبض دی (يعني هغه وکيل چې موکل دمبيعه دقبض کولولپاره وکيل ګرځولی وي) وکيل بالشراء (هغه وکيل چې موکل ديوشی داخستولپاره وکيل ټاکلی وي) مرادنه دی ولي چې دوکيل بالشراء رؤيت په اجماع سره خياررؤيت ساقطوي ځکه چې په وکيل بالشراء کې خياررؤيت ثابت وي دوکيل لپاره نه دموکل لپاره . (كذافی ردّالمحتار: ۴/ ۷۵)

(۷) وَصَحَّ عَقدُ الاعمى (۸) وسقط خيارُه اذااشترى بجس المبيع وشمه وذوقه (۹) وفي العقار بوصفه (۱۰) ومن رأى أحد الثوبين فاشتريهما ثم رأى الآخر له ردهما (۱۱) ولايورث كخيار الشرط (۱۲) ومن اشترى مارأى خير ان تغير والالا (۱۳) وان اختلفافي التغير فالقول للبائع (۱۴) وللمشتري لوفي الرؤية (۱۵) ولواشترى عدلاً وباع منه ثوباأووهب رده بعيب لابخيار رؤية أوشرط

**ترجمه** : اوصحيح دی عقدړانده اوساقطيږي خياردده چې کله هغه شی واخلي ويې مښي يايې بوی کړي يايې وڅکي اوپه ځمکه کې دهغې له وصفه سره اوکه چاوکته له دووکپړوڅخه يوه بيايې دواړې واخيستي بيايې دوهمه وليده نوده لره اختياردی دهغودواړوردولو ،اوميراث کيدای نه شي دخيار شرط په شان ،اوکه چاواخيست هغه شی چې ليدلی يې وونوده لره اختياروركول کيږی که چيرته هغه شی متغيرشوی ووکه نه بيانه ورکول کيږي اوکه دداړواختلاف په تغيرکې راغی نوبياقول دبائع معتبريږي اودمشتري قول که چيرته اختلاف په ليدلوکې وو ،که چاسربسته (ګاټړ) دکپړوواخيست بيايې له هغوڅخه يوه کپړه خرڅه کړه يايې هبه کړه (اوويې هم سپارله) نوردولای يې شي دعيب په وجه نه دخياررؤيت ياشرط په وجه .

**تشريح** : (۷)يعني دنابينا(ړوند) خريدوفروخت جائزدی ځکه چې ړوندهم مکلف اوخريدوفروخت ته محتاج دی اونابينالره خياررؤيت هم شته ځکه ړوندپه خريدوفروخت کې دبيناپه شان دی نوکوم حقوق چې بينالره حاصل دي هغه نابينالره هم حاصل دي .

**فائده** : په دوولسو (۱۲)مسئلوکې دنابيناحکم له بيناڅخه مختلف دی :(۱)پرړانده جهادفرض نه دی (۲) جمعه پرفرض نه ده (۳) په جماعت سره لمونځ اداکول پرواجب نه دی (۴)حج پرفرض نه دی که څه هم په دغوڅلوروکې دنابيناکوم رهبراوترلاس نيوونکی هم وي .(۵)نابينا(ړوند) ګواه نه شي ګرځيدای که څه هم په داسي معامله کې وي چې په هغې کې په اوريدوسره ګواهي ورکول صحيح وي . (۶)دنابينا(ړوند) دسترګي په ايستلوپرجارح باندي ديت نه دی واجب بلکې په دي صورت کې ديوه عادل چافيصله معتبره ده

(۷)يو اځي له اندازي ځخه آذان كول يې مكروه دی (۸)دړانده امامت مكروه دی،په دي شرط چې دی تربولولو عالم نه وي كه نه بيانه دی مكروه (۹)يو ځوك پخپله كفاره كې ړوندمريي نه شي آزادولای . (۱۰)ړوند د مسلمانانو خليفه نه شي كيدای (۱۱)قاضي نه شي كيدای (۱۲)دړانده ذبح كول مكروه دی ، داځكه چې په دي كې ځيني داسي شيان دي چې دهغوترسره كول دړانده لپاره مشكل وي لكه جمعه،جماعت او حج او ځيني هغه دي چې په هغو كې له ړانده ځخه غلطي راځي لكه ذبح،آذان وغيره او ځيني هغه دي چې دهغو فرائض دړانده لپاره ناممكن دي لكه خلافت ،قضاء وغيره او ځيني هغه دي چې په هغو كې شرعًا بدني نقصان نه شي برداشت كيدای لكه ړوندمريي په كفاره كې آزادول او ځيني هغه دي په كوموكې چې دحكم بنيادبينائي ده نو كه چيرته بينائي نه وي حكم به هم نه وي لكه دسترګي ايستل (ړندول) چې په دي كې ديت ځكه واجبيږي چې سترګه ايستونكی دبينائي قوت ضائع كوي په داسي حال كې چې داقوت له مخكي لاله منځه تللی دی .

(۸) ځرنګه چې ړونديوشی ليدلای اوكتلای نه شي ځكه نودده دخياررؤيت دسقوط مختلفي طريقي دي كه چيرته دمبيعه حال په لاس تيرولوسره معلوميدی نوپه لاس وروړلوسره دده خياررؤيت ساقطيږي اوكه په بوی كولوسره معلوميدی نوپه بوی كولوسره دده خياررؤيت ساقطيږي اوكه په ځكولوسره معلوميدی نوچې ځكه په وكړی بس خياررؤيت يې ساقطيږي ځكه چې لاس وروړل ،بوی كول وغيره دهغه لپاره دعلم اسباب دي نودړانده په حق كې دادرؤيت قائم مقام دي .

(۹)البته دځمكی چې ترڅوپوري اوصاف بيان نه شي دړانده خياررؤيت نه ساقطيږی ځكه دړانده په حق كې دځمكې په باره كې داوصافوبيانول سبب دعلم دی لكه په بيع سلم كې دمسلم فيه داوصافوبيانول دمسلم فيه قائم مقام منل شوی دی ،امام ابويوسف رحمه الله فرمايې چې كه چيرته ړوندپرداسي ځای ودريږي چې كه چيرته روغ (بينا ) وای نومبيعه يې ليدای شوای اودلته دی دخپلی رضامندي اظهاروكړي نودده خياررؤيت ساقطيږي كه څه هم دمبيعې اوصاف نه يې ذكركړای شوي ځكه چې دحقيقت دمتعذركيدو په صورت كې تشبه بالحقيقت واجبيږي لكه ګونګی چې له حقيقتًاقرائة ويلو ځخه عاجزدی نوده لره حكم دادی چې دتشبه لپاره خپلوشونډانوته حركت وركړي،حسن بن زياد رحمه الله فرمايې چې ړونددي يوڅوک خپل وكيل وګرځوی چې هغه مبيعه وګوري اوقبض يې كړي بياچې كله دهغه وكيل مبيعه ووينې قبض يې كړي نودړانده خياررؤيت ساقطيږي داقول دامام صاحب رحمه الله له قول سره زيات مشابه دی،ځكه دامام صاحب رحمه الله په نزددوكيل كتل (ليدل) دموكل دليدوپه شان دي .

**فائده** : دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادر النعمانی:القول الراجح هوقول ابی حنيفة رحمه الله قال العلامة اكمل الدين البابرتی رحمه الله : قال الفقيه وهذا احسن الاقاويل وبه ناخذ وقال العلامة فخر الدين قاضی خان رحمه الله :قال السرخسی رحمه الله الاشبه فی هذا بقول ابی حنيفة رحمه الله ان يوكل بصيرا بالقبض فاذاقبضه الوكيل وهوينظر اليه بطل خياره.(القول الراجح:۲/۲۲)

(۱۰)يعنې يو چاله دووكپړوځخه يوه وليده بيايې بيايې دواړي كپړي واخيستي بيايې دادوهمه هم وليده نومشتري لره خياررؤيت حاصل دی ځكه ديوې رؤيت دهغې بلي رؤيت نه دی ځكه په كپړوكې فرق راځي نوپه هغه كپړه كې چې نه يې وه ليدلې خياررؤيت پاتي دی بيادخياررؤيت په وجه سره دی دواړي كپړي

ردولای شي يوه نه شي ردولای چې بياله تاميدوڅخه مخکې تفريق معامله رانه شي ولي خياررؤيت ديع دتاميدومانع دی .

(۱۱)يعنې چالره چې خياررؤيت ووهغه که چيرته مړشي نودهغه خياررؤيت ساقطيږی دخيار شرط په شان خياررؤيت هم ورثه ؤته نه منتقل کيږي ولی خياررؤيت دعاقدلپاره په نص يعنې دنبي کريم ﷺ په قول (من اشترى شيئا لم يره فله الخيار اذا راٰه ) يعنې که چايو داسي شی واخيست چې ليدلی يې نه دی نوچې کله يې ويني ده لره خيارحاصل دی) سره ثابتيږي اووارث عاقدنه دی نووارث لره خيارهم نه ثابتيږي .

(۱۲)يعنی چايوشی وليدی بيايې څه زمانه پس هغه شی واخيست نوکه يې چيرته پخوانی ليدلی شی اوس متغيرومومندنومشتري لره خياررؤيت حاصل دی ولي دتغيرپه وجه داشي داسي شوی دی چې گوياده له سره ليدلی نه دی،اوکه مبيعه پرهغه صفت وه پرکوم چې مشتري ليدلې ده نوبيامشتري لره خياررؤيت نشته ځکه دمخکينی رؤيت په وجه مشتري لره دمبيعی داوصافوعلم حاصل دی په داسی حال کې چې خياررؤيت دمبيعی پراوصافودعلم نه درلودلوپه صورت کې وي .

**فائده** : دمشتري خياررؤيت ،په رؤيت سابقه هغه وخت ساقطيږی چې هغه پخوامبيعه په قصددشراء ليدلي وي نوپه مطلق رؤيت سره دهغه خياررؤيت نه ساقطيږي لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله : واختلفوا فى ان مطلق الرؤية يكفى ام الرؤية الخاصة القصدية وظاهر الرواية الاول لكن الراجح والاشبه هو الثانى رجحه فى البحر الرائق وهو مختار الهداية (هامش الهداية:۳/۳۳).

(۱۳)که په پورتني مذکورصورت کې دبائع اومشتري اختلاف شوبائع وايې چې په مبيعه کې هيڅ قسم تغيرنه دی راغلی اومشتري وايی چې تغيّرراغلی دی نودبائع مع اليمين( قسم) معتبريږی يعنې که چيرته مشتري په مبيعه کې تغيّرپه گواهانوسره نه شوای ثابتولای نوله بائع څخه قسم اخستل کيږی دهغه قول معتبريږی ولی په مبيعه کې تغيرپيداکيدل امرحادث اوخلاف ظاهردی نودمشتری قول له ظاهرحال خلاف دی اودچاقول چې له ظاهرحال خلاف وي له هغه سره که چيرته گواه نه وي نودهغه بل قول مع اليمين معتبريږی نودمدعی عليه قول مع اليمين معتبريږي .

(۱۴)قوله وللمشترى لوفى الرؤية اى القول للمشترى لواختلفا فى الرؤية ،يعنی که چيرته په ليدوکې ددواړو اختلاف شومثلامشتری وايی چې ماپه نه ديدداشي اخيستی وونومالره دخياررؤيت حق شته اوبائع ورته وايی چې تاليدلی ووبيادي اخيستی وونوتالره دخياررؤيت حق نشته په دغه صورت کې دمشتري قول معتبريږی ولی مبيعه ليدل يوامرحادث دی بائع دهغه دعوی کوي اومشتري انکارکوي نوبائع مدعي دی اوله مدعي سره دگواه دنشت والي په صورت کې دمنکريعنی مشتري قول سره له يمين معتبريږی .

(۱۵)که چادکپړويو(سربسته ) گاټ اخيستی ووبيايې له هغه څخه يوتان راواخيست خرڅ يې کړيايې چاته هبه کړورحواله يې کړاوس په گاټ کې يوعيب پيداشونودهغه عيب په وجه سره مشتري دهغه گاټ دواپس کولوحق لري،ولي کوم تان چې دمشتري له ملک څخه دخرڅولوياهبه کولوپه وجه وتلی دی په هغه پوري دمشتري ثاني ياموهوب له حق متعلق شوی دی نوځکه دهغه واپس کول متعذرشويعنې په هغه تان کې خياررؤيت ساقط شواودنوروباقي تانونوپه واپس کولوکې تفريق عقد مخکې ترتاميدو لازميږي

حال داچې تفريق عقدمخکي ترتاميدوشرعًاناجائزدی،اوتفريق عقدمخکي ترتاميدوځکه راځي چې خياررؤيت اوخيار شرط دعقدله تاميدوڅخه مانع دي پاتې شوعيب هغه خوله قبض کولوورروسته دعقدله تاميدوڅخه مانع نه دی نودعيب په صورت کې تفريق عقدمخکې ترتاميدونه لازميږي .

**فائده** : که چيرته خرڅ کړای شوی تان ددوهم عقدد فسخ کيدوپه وجه بيرته اول مشتري ته واپس راوګرځيدنوداول مشتري ساقط شوی خياررؤيت هم بيرته راګرځي،ځکه چې اوس يې هغه مانع يعنې تفرق معامله ختم شو،په داسی حال کې چې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدخياررؤيت له ساقطيدو وروسته دوباره نه راګرځي ځکه يوځل ساقط شوی بيرته دوباره نه راګرځي،لکه خيارشرط چې له ساقطيدووروسته بيرته نه راګرځي،دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دی لماقې الدرالمختار:وهل يعود خيار الرؤية بعدسقوطه عن الثاني لاکخيار الشرط وصححه قاضيخان وغيره(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۴/۷۸).

## باب خيار العيب

داباب دخيارعيب په بيان کې دی

له ماقبل سره دمناسبت وجه يې تيره شوې ده،په خيارالعيب کې اضافت له قبيلې داضافة الشی الى سببه ته دی ولې ددغه خيارسبب عيب دی .کوم شی چې دخپل اصل فطرتِ سليمه له لحاظه له کوم نقص څخه خالي وي هغه نقص ته عيب ويل کيږي،دلته له عيب څخه مراد داسې عيب دی چې دبائع په نزدپيدا شوی وي اومشتري دبيع اوقبض په وخت کې هغه عيب نه يې ليدلی اوبائع له هغه عيب څخه دبرائت شرط هم نه يې لګولی .

(۱)من وجدبالمبيع عيبًااخذه بکل الثمن اوردّه(۲)وماأوجب نقصان الثمن عندالتجار عيب کالاباق والبول في الفراش والسرقة(۳)والجنون (۴)والبخروالذفر(۵)والزناوولده في الامة(۶)والکفرفيهما.

**ترجمه** : څوک چې په مبيعه کې عيب پيداکړي نوهغه دي ياپه پوره پيسو واخلي يادي واپس کړي اوکوم شی چې دپيسو کمبوت راولي دتجارانو په نزدهغه عيب دی لکه دمريی تښتيدل يابولي کول په بستره کې ياغلاکول،ليونتوب.دخولې بدبوئی درلودل يادبغلوبدبوئی درلودل،زناکارکيدل. ياولدزناوي په منځه کې ياکافرکيدل په دواړوکې .

**تشريح** :(۱)يعنې که چيرته په مبيعه کې دبائع په نزدعيب پيداشوی وومشتري دبيع په وخت يادقبض په وخت عيب نه وو ليدلی اوس خبرشواومشتري په مبيعه درضامندي اظهارهم نه ووکړی نومشتري لره اختياردی يادي دپوره پيسوپه عوض واخلي يادي ردکړي ځکه مطلق عقددمبيعی دوصف سلامت مقتضي دی يعنې عقددي تقاضاکوي چې مبيعه له عيبونو څخه سالمه وي نوګوياد مبيعی سالم کيدل په عقدکې شرط شوی دی نواوس که وصف دسلامتی نه لري بياخودمشتري نقصان دی ځکه نومشتري ته دردولواختيارورکړل شوی دی البته مشتري لره دااختيارنشته چې معيوبه مبيعه قبوله کړي اود مبيعی

دعيب په اندازه دبائع په پيسو كې نقصان وكړي ځكه دمبيعې سلامتى يو وصف دى او داوصافو په مقابله كې ثمن نه وي، نو دوصف دنشتوالى په صورت كې په ثمنو كې هم كمبوت نه كول كيږي.

**فائده** : ځرنګه چې عقد بيع دمبيعه دسلامتى مقتضي دى داداسې شو ګويا په مطلق عقد كې دمبيعه سلامتيا مشروطه ده نو لهذا بائع او مشتري ته داناجائزه ده چې دمبيعه يا ثمنو كوم عيب پټ كړي ولې په دې كې دوكه بازي راځي چې هغه حرام كار دى لقوله ﷺ: من غشنا فليس منا.

(۲) شرعًا دمبيعه عيب هغه دى چې دهغه په وجه دتجارانو په نزد دمبيعه په قيمت كې كمبوت راشي ځكه ضرر كيدل يې دماليت په كمبوت سره معلوميږي اودماليت كمبوت يې دقيمت له كمبوت ځخه معلوميږي اودقيمت كمبوت دتجارانو له عرف ځخه معلوميږي نو ځكه په دې كې دتجارانو عرف معتبريږي نو دمريى له خپل مالك ځخه تښتيدل عيب دى همدارنګه كه چيرته هلک مريى مميّزوي نو دهغه پربستره باندې بولي كول اوغلاكول عيب دى ځكه چې دتجارانو په نزد دمريى په قيمت كې ددغو عيبونو په وجه كمى راځي.

**فائده** : كه چيرته پورتني ذكرشوي عيبونه دبائع په نزد په نابالغ مريى كې وو. اوس چې كله مشتري هغه واخيست اوهغه بالغ شو بيا هم دغه عيبونه په هغه كې پيدا كيږي نو داهغه عيبونه نه دي كوم چې دبائع په لاس كې وو. بلكې دانوي عيبونه دي ولې پربستره باندې بولي كول په ماشومتوب كې دمثانې دضعف په وجه كيږي اوپه بلوغ كې دباطني ناروغي په وجه كيږي همدارنګه بداخلاقي اوغلاكول په ماشومتوب كې دلاپرواهي په وجه كيږي اوله بلوغ وروسته دباطني خباثت په وجه پيدا كيږي نو دمشتري په نزد چې كوم عيبونه دي داهغه عيبونه نه دي كوم چې دبائع په لاس كې وو نو ددغو عيبونو په وجه سره مشتري هغه مريى نه شي ردولاى. (الدّر المختار على هامش ردّ المحتار: ۴/ ۸۳).

**فائده** : دمريى اومنځي له مولى ځخه تښتيدل هغه وخت عيب شمارل كيږي چې ددوئ تيښته دمولى دظلم په وجه سره نه وي، نو كه چيرته كوم مريى دمولى دظلم په وجه وتښتي نو دا عيب نه دى داسې مريى ته هارب ويل كيږي لما في ردّالمحتار: وفي الجوهرة عن الثعالبي الآبق الهارب من غير ظلم السيد فلو من ظلمه سمّي هاربًا فعلى هذا الاباق عيب لا الهرب. (ردّالمحتار: ۳/ ۸۲).

**لطيفه** : رفعت امرأة زوجها الى القاضي تبغي الفرقة وزعمت انه يبول في الفراش كل ليلة فقال الرجل للقاضي ياسيدى لاتعجل علىّ اقصّ عليك قصتي اني ارى في منامي كاني في جزيرة في البحر وفيها قصر عال وفوق القصر قبة عالية وفوق القبة جمل وانا على ظهر الجمل وان الجمل يطاطئ برأسه ليشرب من البحر فاذا رأيت ذالك بلت من شدة الخوف فلما سمع القاضي ذالك بال في فراشه ثيابه وقال: ياهذه انا قد اخذني البول من هول حديثه فكيف بمن يرى الامر عيانا؟ (المستطرف).

(۳) دمريى ليونى كيدل عيب دى ولې ليونتوب دباطني فساد په وجه پيدا كيږي اوپه ليونتوب كې په دې اعتبار فرق نشته چې داپه ماشومتوب كې وو يا له بلوغ وروسته ووحتى كه چيرته دبائع سره په ماشومتوب كې ليونتوب وو بيا دمشتري سره له بلوغه وروسته بيا پيدا شو نو بيا هم مشتري دردولو اختيار لري ځكه دليونتوب سبب (يعني باطني فساد) په هرحال يو وي چې په كې ماشومتوب اوبلوغ دواړه برابر دي.

**فائده** : دمشائخوترمنځ په دی اعتباراختلاف دی چې دليونتوب څومره درازيدل عيب شمارل کيږی دځينورايه داده چې يوه ګړی ليونتوب هم عيب شميرل کيږی،دځينورايه داده چې که چيرته تريوه شپه يوه ورځ زيات شي عيب شمارل کيږي که کم وويباعيب نه دی اودځينورايه داده چې مطبق ليونتوب عيب دی غيرمطبق ليونتوب عيب نه دی وخيرالاموراوسطهانوکوم ليونتوب.چې تريوه شپه يوه ورځ زيات شي هغه عيب شميرل کيږي لماقال الشيخ عبدالحکيم الشهيد رحمه الله : ومقدارالجنون على القول الراجح ان يكون اكثرمن يوم وليلة ومادونه لايكون عيبا وبه جزم الزيلعي(هامش الهداية: ٣/ ٣٠).

(۴)بخر(يعنی دخولې بدبويی) اودفر(دبغلوبدبويی) که په منځه کې وونوعيب دی ولی چې له منځي څخه کله مقصودهمبستري وي اوداعيبونه دهمبستري لپاره مخل دي نودغه عيبونه په منځه کې عيب شمارل کيږي،په داسی حال کې چې په مريی کې بخراودفرعيب نه دی ولی له مريی څخه مقصوداستخدام (خدمت آخستل) دی اوداعيبونه داستخدام لپاره مخل نه دي البته که چيرته دخولې بدبوئی يادبغلوبدبوئی په مريی کې ترحدزيات شي نوداياپه مريی کې هم عيب شمارل کيږي.

(۵)دمنځې زناکاره کيدل ياولدزناکيدل عيب دی څکه چې دامخل دی ولی له منځي څخه کله مقصوداستفراش اوطلب ولدوي چې دهغه لپاره زنااوولدزناکيدل مخل دی په داسی حال کې چې په مريی کې داعيب نه دی ولې په مريی کې مخل بالمقصودنه دی څکه له مريی څخه مقصودخدمت اخستل دی اوخدمت اخستلولپاره دامخل نه دی البته که مريی دزناکاري عادي وي نوبياعيب شمارل کيږي ولی چې دی به ټوله ورځ په ښځوپسي وی دادمقصود(يعني استخدام )لپاره مخل دی.

(۶)کافرکيدل دمريی اومنځي دواړولپاره عيب شمارل کيږی ولی دمسلمان طبيعت له کافرې منځې سره دصحبت کولونه نفرت کوي اودکافرمريی په ځينوکفاروکې آزادول نه دی روانودده په خريد کې درغبت دکميدو په وجه دده په قيمت کې کمی راځي پس کافرکيدل په مريی کې عيب شمارل کيږي.

(٧)وعدم الحيض والاستحاضة(٨)والسعال القديم والدين(٩)والذفر والشعر والماء في العين(١٠)فلوحدث آخرعندالمشتري رجع بنقصانه (١١)اوردّه برضاء بائعه.

**ترجمه** : اوحيض نه دړلودل اواستحاضة کيدل اوزوړټوخ کيدل اوقرض ورباندي کيدل اوپرشاباندی زخم کيدل اوويښتان يااوبه پيداکيدل په سترګوکې بيا پس که چيرته پيداشي بل عيب دمشتري سره نوودي ګرځوي دهغه نقصان يادي ردکړي دبائع په رضامندي سره.

**تشريح** : (٧)قوله وعدم الحيض والاستحاضة اى كل شيء اوجب نقصان الثمن عندالتجار فهو عيب كعدم الحيض والاستحاضة : يعني له بلوغ وروسته د(اياس) ترکلونومخکي منځي ته حيض نه راتلل يااستحاضة کيدل عيب شمارل کيږي څکه دادواړه دناروغي علامه ده اودمنځې ناروغ کيدل عيب دی.

**فائده** : حیض نه راتلل دبلوغ له انتهائی موده څخه شمارل کیږی اودبلوغ انتهائی موده دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد اوولس (۱۷) کاله دي، دصاحبینو رحمهما الله په نزد پنځلس کاله دي ،دصاحبینو رحمهما الله قول زاجح دی لمافی الدّرالمختار: وعندهما خمسة عشر وبقولهما یفتی (الدّرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۸۵/۴) بیا که چیرته مشتري په لږه موده کې دهغی دحیض نه راتللو دعوی وکړه دعوی یې نه اوریدله کیږي اوکه یې له اوږدې مودې وروسته دعوی وکړه دعوی یې اوریدله کیږی ،لږه موده دامام ابویوسف رحمه الله په نزددرې میاشتې دي تردریو میاشتوزیات اوږده موده ده،دامام محمد رحمه الله په نزد څلورمیاشتې لس ورځې لږه موده ده ترهغه زیاته اوږده موده ده اودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدلږه موده دوه کاله ده ترهغه زیاته طویله موده ده .

(۸)همدارنګه زوړتوخ یعنې داچې مریی په سالندي ناروغي مبتلاوی داعیب دی ولی دائمی توخ دناروغي علامه ده پس که چیرته توخ زوړنه ووبلکې دعادت مطابق یادزکام په وجه وونوداعیب نه دی،اودمریی مقروض کیدل عیب دی ولی چې مشتري اوس هغه دقرضدارانوله اجازې پرته نه شي خرڅولای په دې شرط چې داسې قرض وي چې دهغه مطالبه ترآزادي مخکې وي اوکه چیرته ترآزادي وروسته وونوداسې قرض بیاعیب نه دی .

(۹)دکنزپه ځینونسخوکې (والدّین) نشته دهغه پرځای (والدّبر) دی چې معنی یې ده دشازخمی کیدل یعنې دمنځې پرشاباندی زخم پیداکیدل عیب دی ولی داناروغی ده همدارنګه دمنځې په سترګوکې وینښتان راتلل یاله سترګواوبه بهیدل عیب دی ولی چې له دې څخه دنظرکمزوري اوړوندوالی پیداکیږي .

(۱۰)یعنې که چیرته په مبیعه کې دمشتري په نزدعیب پیداشویادرک معلوم شوچې په مبیعه کې خوتردې وړاندې دبائع په نزدهم عیب وونو دبائع سره دپیداشوي عیب په وجه چې دمبیعه په قیمت کې څومره کمی راغلی دی مشتري دهغه کمبوت بائع ته رجوع کولای شي مګرمشتري مبیعه واپس کولای نه شي ولي په دې کې دبائع ضرردی ځکه چې بائع خومشتري ته (دمشتري سره له پیداشوي عیب نه ) سالمه مبیعه سپارلې وه په داسې حال کې چې اوس معیوبه شوي ګرځي بائع ته مګرځرنګه چې دبائع په لاس کې دپیداشوي عیب په وجه دمشتري هم نقصان شوی دی نودهغه نقصان دلیري کولوصورت دادی چې مشتري دې بائع ته په قدرنقصان رجوع وکړي .

**فائده** : په قدرنقصان درجوع کولوپه صورت کې دنقصان معلومولوطریقه داده چې اول دې له بائع سره دپیداشوي عیب نه دسلامتي په صورت کې دمبیعه قیمت اندازه کړي بیادي له هغه عیب سره دمبیعه قیمت اندازه کړي ددغودواړوقیمتونوترمنځ چې کوم فرق وي هغه نقصان عیب دی مثلاترعیب مخکې یې قیمت لس روپۍ دی اوله عیب وروسته اته روپۍ دي نونقصان عیب دوې روپۍ دي .

(۱۱)البته که چیرته بائع دمعیوبی مبیعی په اخستلوراضی شي نوپه دغه صورت کې مشتري هغه واپس کولای شي ولی بائع پخپل ضرردرضامندي اظهاروکړی خپل حق یې ساقط کړ .

(۱۲) وَمَن اشترى ثوبا فقطعه فوجده معيبا رجع بالعيب (۱۳) فان قبله البائع كذالك له ذالك (۱۴) فان باعه المشترى لم يرجع بشئ (۱۵) فلو قطعه وخاطه او صبغه او لت السويق بسمن فاطلع على عيب رجع بنقصانه (۱۶) كما لو باعه بعد رؤية العيب (۱۷) او مات العبد (۱۸) او اعتقه مجانا (۱۹) فان اعتقه على مال (۲۰) او قتله (۲۱) او كان طعاما فاكل كله او بعضه لم يرجع بشئ.

**ترجمه** : که چاکپړه رانیوه بیایې کاټ کړه بیایې په هغې کې عیب وموندهٔ نو رجوع دې وکړي بقدر عیب، او که بائع قبوله کړه دغه کپړه همدغسې کاټ شوې نو ده لره اختیار دی او که چیرته مشتري هغه خرڅه کړه نو بیا رجوع نشي کولای او که یې کاټ کړه او وې ګنډله یایې ورنګوله یایې په پنیر کې غوړي ګډ کړل بیا په عیب خبر شو نو د هغه نقصان په باره کې دې رجوع وکړي لکه چې خرڅه کړي هغه د رؤیت عیب وروسته یا مړ یې مړ شو یایې دغسې مفت آزاد کړ پس که یې چیرته هغه آزاد کړی وو په مال سره یایې وژلی وو یا خوراکي شی وو هغه ټول وخوړ یایې څه څنې وخوړ نو بیا به رجوع نه کوي.

**تشريح** : (۱۲) یعنې که چاکپړه واخیسته بیایې پرې کړه یا اوس مشتري ته په هغې کې د داسې دعیب درک معلوم شو چې د بائع په نزد پیدا شوی وو نو په قدر نقصان پیسې واپس اخیستلای شي کپړه نه شي واپس کولای ځکه چې په پرېکولو سره په هغې کې نوی عیب پیدا شو چې د هغه په وجه یې اوس رد نشي کیدلای ولې په واپس کولو کې د بائع نقصان دی او د مشتري د نقصان دلیرې کولو صورت دادی چې مشتری بائع ته په قدر نقصان رجوع وکړي.

(۱۳) خو که چیرته بائع په دې راضي وو چې دغه کپړه دغسې پرې شوې راکړه نو دی اختیار لري قبلولای یې شي ولې د واپس کولو ممانعت د هغه د حق په وجه وو په داسې حال کې چې اوس دی د خپل حق په سقوط پخپله راضي شوی دی.

(۱۴) او که چیرته مشتري هغه پرې کړای شوې کپړې پر بل چاخرڅې کړې برابره ده چې د خرڅولو په وخت دی په عیب علم لري یایې نه لري بیا له بائع څخه نقصان عیب نه شي اخیستلای ولې چې تر خرڅولو مخکې د اول بائع په رضامندي سره د هغو واپس کول ممکن کار وو مشتري چې پر بل چاخرڅې کړې د مبیعې د واپس کولو مانع دی خپله جوړ شو نو ځکه دی د نقصان اخیستلو حق نه لري.

(۱۵) یعنې که چیرته مشتري کپړه واخیستله پرې یې کړه وې ګنډله یایې ورنګوله او یا مبیعه ستودی مشتري په هغه کې غوړي ګډ کړل بیا مشتري په هغه عیب باندې خبر شو کوم چې د بائع په نزد پیدا شوی وو نو له بائع څخه په قدر نقصان پیسې بیرته اخیستلای شي ځکه چې د هغه د نقصان د جبیره کیدو همدا صورت دی.

مګر مبیعه نه شي واپس کولای که څه هم بائع پرې راضي وي ولې د مشتری له طرفه چې په مبیعه کې کوم زیادت راغلی دی هغه له مبیعه سره متصل دی د هغه بغیره رد نه شي کولای او نه یې له هغه زیادت سره رد کولای شي ځکه په هغه صورت کې ربوا لازمیږي ولې د مشتري له خوا شوی زیادت بائع ته بلاعوض ورکول کیږي نو مبیعه رد ول شرعًا ممتنع دی.

(۱۶)قوله كمالوباعه بعدرؤية العيب اى رجع بالنقصان فى الصورة المذكورة كمايرجع بالنقصان لوباعه بعدرؤية،يعني پورتني مذكورصورت داسي دى لكه يوځوك چې ددغو مذكوروشيانو (كپړه،ياستو) په عيب خبريدلو وروستة دغه شيان پربل چاباندي خرڅ كړى نومشتري دهغه عيب نقصان له بائع څخه اخيستلاى شي ولى په بياخرڅولوسره دى دمبيعه مانع نه دى بلكې تر بياخرڅولومخكي هم دمشتري له طرفه په مبيعه كې دزيادت راتلوپه وجه مبيعه نه شواى واپس كيدلاى نوچې دبياخرڅولوپه وجه مشتري دمبيعه دواپس كولولپاره مانع نه دى نوځكه دى په قدرنقصان درجوع حق لري .

**فائده** : په مبيعه كې زيادتى له دووحالوڅخه خالي نه ده يابه په مبيعه پوري متصل وي يابه منفصل ، يامتصل پردوه قسمه دى يابه له اصل يعني مبيعه څخه متولداوپيداشوى وي لكه دمبيعه چاغيدل داډول زيادتى دواپس كولومانع نه گرځى ځكه په دغه صورت كې زيادت محض تابع دى . دوهم قسم داچې زيادت له مبيعه څخه نه وي پيداشوى لكه دكپړورنگول ،گنډل،اوپه ستوكې غوړي اچول داډول زيادت په اتفاق دواپس كولوڅخه مانع دى لماقلنا ،اوكه زيادت له مبيعه څخه منفصل وونوهم له دووحالوڅخه خالي نه دى يابه له مبيعه څخه پيداشوى زيادت وى لكه مثلامبيعه منځه وي دهغى بچىٔ وزيږى داصورت هم دواپس كولوڅخه مانع دى دوهم صورت يې دادى چې زيادت له مبيعه څخه نه يې پيداشوى مثلامبيعه مريى دى مزدوري يې وكړه روپۍ يې وگټلى داصورت دواپس كولولپاره مانع نه دى په دي دووصورتونوكې وجه دفرق داده چې كوم زيادت له مبيعه څخه متولدشوى وي دهغه هماغه حكم دى كوم چې دمبيعى دى نوهغه له مبيعه سره يوځاى خوشي واپس كول جائزنه دى ځكه داډول بياسودراځي اوپه دوهم صورت كې گټه مبيعه نه ده ولى گټه خوله منافعوڅخه پيداشوې ده اومنافعى له مبيعى څخه غيردي نوگټه دمبيعه دواپس كولولپاره مانع نه دى .

(۱۷)قوله اومات العبداى يرجع بالنقصان ان هلك الغلام عندالمشترى ،يعني كه چيرته مبيعه مريى وواوهغه مړشويامشتري ددغه مريې په داسى عيب باندي خبرشوكوم چې له بائع سره ورته پيداشوى وونودمريې په قيمت كې چې دهغه عيب په وجه كوم كمبوت راغلي وويقدرنقصان بائع ته رجوع كولاى شي.ځكه دمرگ په وجه ملك خپلى انتهاء ته رسيږي اوشى چې خپلى انتهاء ته ورسيږى مقرراوثابت كيږي نوگويا ملك موجود دى مگر دمرگ په حكم يعني غيراختيارى امرپه وجه مريى چې مبيعه ده دهغه واپس كول متعذرشوى دى اودواپسى په ممتنع كيدوكې دمشترى دفعل هيڅ دخل هم نشته اوچې كله دمبيعى واپس كيدل ديوغيراختيارى امرپه وجه متعذركيږي نودقديم عيب په وجه مشتري لره دنقصان عيب دواپس اخيستلواختياروي .

(۱۸)قوله اواعتقه مجاناًاى يرجع بالنقصان لواعتق العبدبلامال ثم اطلع على العيب ،يعني كه چيرته مبيعه مريى وواومشتري هغه دغسى مفت آزادكړيادهغه په كوم پخوانى عيب باندي خبرشونوپه دغه صورت كې هم استحساناًدنقصان اخستلواختيارلري، داستحسان وجه داده چې آزادول ملك ترانتهاء پورى رسول دى ولى داصل خلقت په اعتبارسره انسان دملك محل نه دى پيداكړاى شوى بلكې په مريى كې ملك تريوه

محدودوخت يعني آزادي پوري ثابت وي نو د مريي آزادول ګويا د هغه ملک ترانتهاء پوري رسيدل دي او شي چې کله انتهاء ته رسيږي نو کامل کيږي همدا وجه ده چې د آزادکړای شوي مريي ولاء (تصرف) آزادوونکي ته ورکول کيږي او ولاء د ملک له آثارو څخه ده نو داسي ويل کيږي چې د مشتري ملک پاتي دي مګر د آزادولو په وجه د مريي واپس کيدل متعذر شوي دي او چې کله د بائع له طرفه د مبيعه واپس کول متعذر کيږي نو مشتري لره د نقصان عيب د واپس کولو اختيار وي لکه د مريي د مرګ په صورت کې څکه نو د آزادولو په صورت کې هم مشتري لره له بائع څخه د نقصان عيب اخستلو اختيار وي.

**فائده** : په پورتنی مذکورصورت کې مشتري لره په قدرنقصان درجوع کولو حق شته مګرشرط دادی چې د آزادولو په وخت به د مبيعه پرعيب علم نه لري که نه که چيرته هغه په عيب خبريدوو روسته مريي مفت آزادکړنو بيا د نقصان په باره کې بائع ته د رجوع کولو حق نه لري څکه چې د مبيعه په عيب خبريدوسره د هغه آزادول د هغه له طرف څخه په معيوبه مبيعه باندي د رضامندي علامه ده.

(۱۹) قوله فان اعتقه علی مالٍ، له خپلو معطوفاتو سره شرط دی او (لم يرجع بشئ) يې جزاء ده. يعني که چيرته مشتري مذکور مريي د مال په عوض آزادکړبيا د مريي په کوم عيب باندي خبرشو نو مشتري په قدرنقصان بائع ته د رجوع کولو حق نه لري ولی مشتري د مريي بدل له خپله ځانه ګرځولی دی او د بدل ګرځول داسي دی لکه د مبدل منه ګرځول پس مشتري مبيعه ګرځوونکی شمارل کيږي او په داسی صورت کې مشتري لره د رجوع حق نشته.

(۲۰) همدارنګه که چيرته مشتري هغه وواژه نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد نو په دغه صورت کې مشتري په قدرنقصان بائع ته رجوع نه شي کولای ولی مريي او س نه شي رديدلای او نه ردول يې د مشتري د فعل په وجه دی نو مشتري مبيعه ګرځوونکی دی او مبيعه ګرځوونکی مشتري درجوع حق نه لري، د صاحبينو رحمهما الله په نزد مشتري په قدرنقصان رجوع کولای شي ولی د مشتري خپل دغه مريي وژل داسي عمل دی چې په هغه پوري کوم دنياوي حکم متعلق نه دی يعني نه له هغه څخه د هغه قصاص اخيستل کيږي او نه ديت ورکول لازميږي نو داسي دی ګويا مريي په خپل مرګ مړشوی دی او په هغه صورت کې چې مريي په خپل مرګ مړشي مشتري درجوع کولو حق لري کمامرّ.

**فائده** : د امام ابوحنيفة رحمه الله قول ظاهرالرواية دی او پرهغه فتوی ده لمافي الدّرالمختار: ولو اعتقه او قتله لايرجع بشئ لامتناع الرد بفعله. وقال ابن عابدين الشامي رحمه الله: (قوله او قتله) وهو ظاهر الرواية عن اصحابنا (الدر المختار مع الشامية: ۴/۹۳).

(۲۱) همدارنګه که چيرته مبيعه د خوراک شی وو نو مشتري ټول وخوړيا يې څه وخوړ بيا د مبيعه په عيب باندي خبرشو نو هم د امام صاحب رحمه الله په نزد مشتري ته په قدرنقصان د يرته اخستلو حق نشته. په داسی حال کې چې د صاحبينو رحمهما الله په نزد مشتری درجوع حق لري ولی مشتري چې د کوم مقصدلپاره مبيعه اخيسته وه په هغه مقصدکې يې مصرف کړه او د امعتادهم دی نو ګويا په خوړلو سره د مشتري ملک کمال ته ورسيدنو دا د مريي آزادولو په ډول شونو لکه څرنګه چې د مريي د آزادولو په صورت کې مشتري

درجوع لري همدارنګه دمبیعه خوړلو په صورت کې هم مشتري درجوع حق لري، دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې دمبیعه په خوړلو سره دهغې واپس کیدل دمشتري په داسې فعل سره متعذر شوی دی چې پر هغه یې ضمان واجبیږی داسې مثلاً که مشتري دبل چاغله خوړلې وای نو پر ده ضمان واجب کیده مګر دلته څرنګه چې مشتري خپله مالک دی نو ځکه ضمان ورځنې ساقط دی نو ګواکې مشتري له خپل ملک څخه عوض حاصل کړ دا صورت دمبیعې خرڅولو په شان دی په کوم کې چې مشتري لره درجوع حق نشته لهذا په دغه صورت کې هم درجوع کولو حق نه لري.

**فائده** : دصاحبینو رحمهما الله قول مفتی به دی لمافی الدرالمختار: او کان المبیع طعاما فاکله اوبعضه فانه یرجع بالنقصان استحسانا وعلیه الفتوی وقال ابن عابدین الشامی رحمه الله : قلت ماذکره الشارح من ان الاستحسان قولهما ذکره فی الاختیار وتبعه فی البحر وکذا نقله عنه العلامة قاسم ونبه علی انه عکس مافی الهدایة وسکت علیه فللذامشی علیه المصنف رحمه الله فی متنه الخ، والحاصل انهما قولان مصححان ولکن صححوا قولهما بان علیه الفتوی ولفظ الفتوی اکد الفاظ التصحیح ولاسیما هوارفق بالناس وهذا فی الاکل اما البیع ونحوه فلارجوع فیه اجماعا. (الدرالمختار: ۳/۹۳).

(۲۲) ولو اشتری بیضا او قثاء او جوزا فوجده فاسدا ینتفع به رجع بنقصان العیب والا بکل الثمن (۲۳) ولو باع المبیع فرد علیه بعیب بقضاء رده علی بائعه (۲۴) ولو برضاء لا (۲۵) ولو قبض المشتری المبیع وادعی عیبا لم یجبر علی دفع الثمن ولکن یبرهن او یحلف بائعه (۲۶) فان قال شهودی بالشام دفع الیه ان حلف بائعه.

**ترجمه** : اوکه یې واخیستلې هګۍ، یاچمبرخیال، یاچارمغز، هغه دومره خراب ووچې فائده ورڅخه اخستل کیدای شوای نورجوع دې وکړي دنقصان عیب په اندازه که نه رجوع دې وکړي دټولو روپو په باره کې، اوکه یې خرڅه کړه مبیعه بیا رارد کړای شوه هغه پر ده باندې دعیب په وجه دقاضي په حکم سره نو دې دې خپل بائع ته ورواپس کړي اوکه یې چیرته پخپله رضامندۍ سره قبول کړ (یعني دقاضي په قضاء سره نه) نو بیا دې دې نه ردوي. اوکه مشتري مبیعه قبض کړه او دعوی دعیب یې وکړه نو دی دې نه مجبور کړای کیږي دپیسو په ورکولو لیکن دی به ګواه وړاندې کوي یا به خپل بائع ته قسم ورکوي اوکه ده وویل چې زما ګواهان په شام ښار کې دي نو بیا دې بائع ته پیسې ورکړي که چیرته قسم وکړ بائع دده.

**تشریح** : (۲۱) که یو چاهګۍ یاچمبرخیال یاچارمغز واخیستل او هغه داسې خراب وختل چې یو معمولي کار ورڅخه اخیستل کیدای شوای نو مشتري دې ددغې خرابۍ په وجه چې کوم کمبوت دهغو په قیمت کې راغلی دی هغه دې له بائع څخه واپس واخلي ولې په ماتیدو سره په دغو شیانو کې نوی عیب پیدا شو چې دهغه په وجه یې اوس نه شي ردولای نو دمشتري چې څومره تاوان شوی دی هغه دې واپس واخلي. اوکه چیرته مذکور شیان ډیر زیات خراب او بلکل ناکاره وو نو بیا دې مشتري پوره پیسې له بائع څخه واپس واخلي ولې په دغه صورت کې مبیعه مال نه دی نو دا بیع باطله ده.

**فائده** : امام شافعي رحمه الله فرمایلي دي چې که یې چیرته یو ډیادوې دانې هندوانې یاچمبرخیال مات کړل چې له هغو څخه ددوئ عیب ورته معلوم شو نو بیا مشتري دردولو اختیار لري ولې که څه هم ماتول عیب دی مګر څرنګه چې همدغه بائع مشتري پر ماتولو باندې مسلط کړی دی ځکه نو دی دواپس کولو حق لري، احناف جواب ورکوي چې بائع دمشتري په ملک کې په ماتیدو باندې

راضي دي پخپل ملک کې په ماتولونه دی راضي نو دبائع د طرف څخه تسليط يواځي دمشتري دملک په صورت کې دی دبائع دملک په صورت کې نه دی ولی دعقد بيع په وجه دبائع ملک نه پاتې کيږي او دمشتری په ملک کې تسليط لغوه دی ولی دبائع پرمشتري باندي حق دولايت نشته نو ددوار ورعايت په دي کې دی چې په قدرنقصان درجوع کولو حق دمشتری لپاره ومنل شی مگر دمبيعه واپس کولو اجازه ورنکړای شي څکه مبيعه نه شي ردولای.

(۲۳) يعني بائع مثلا مريی خرڅ کړ مشتري پربل چاباندي خرڅ کړ اوس دغه دوهم مشتري دمريی په پخواني عيب باندي خبرشونو که چيرته دوهم مشتري دقاضی محکمې ته ورغی دعوی يې دائره کړه اوقاضی دمريی دواپس کولو حکم جاري کړ او اول مشتري دقاضی حکم قبول کړ هغه معيوب مريی يې بيرته قبول کړنو دغه اول مشتري دامعيوب مريی پربائع اول باندي ردولای شي. ولی په حکم دقضا. دمبيعه واپس کيدل دټولو په حق کې دبيع دفسخ حکم لري نوگواکې دوهمه بيعه له سره شوې نه ده څکه نو اول مشتري دعيب په وجه دمبيعه دردولو حق لري.

**فائده**: مگر شرط دادی چې پردوهم مشتري دخرڅولو په وخت کې به اول مشتري دمبيعی په عيب علم نه لري که نه بيا اول مشتري پراول بائع باندي دمبيعی ردولو اختيار نه لري ولی ددې باوجود چې دی په عيب علم لري بيا يې پربل خرڅوي داپه عيب باندي درضامندي علامه ده.

(۲۴) قوله ولوبرضاء لا ای لو کان ردالمشتری الثاني علی المشتری الاول برضاء لايرده علی بائعه. يعني که دوهم مشتري مريی واپس کړ اول مشتري په خپله رضامندي سره دقاضی دقضاء بغير هغه قبول کړنو بيا اول مشتری پراول بائع باندي مذکورمريی نه شي ردولای. ولی چې داول اودوهم مشتری په حق کې که څه هم دافسخ بيع ده مگر ددريم په حق کې دافسخ بيع نه ده بلکې جديده بيع ده او اول بائع ددغې بيع په لحاظ دريم دی نوپراول بائع ردنه شی کيدلای ولی دبائع اول په حق کې دوهمه بيعه قائمه ده چې دهغې په وجه اول مشتري دمبيعی واپس کولو اختيارنه لري.

(۲۵) که چامثلا يومريی واخيست اوقبض يې هم کړ بيا يې په هغه کې دعيب دعوی وکړه نوقاضي دي مشتري ديپسو په اداکولو سره نه مجبوروي ولی که چيرته قاضی مشتري ته دپيسو اداکولو حکم وکړي نوممکنه ده چې په مبيعه کې عيب ثابت شي نوبيا خو دقاضی قضاء ماتيږي څکه نوقاضي دي دخپلی قضاء دحفاظت په خاطر مشتري ته حکم نه ورکوي، بلکې مشتري دي پرخپله دعوی باندي گواهان وړاندي کړي که واقعًا هغه گواهان وړاندي کړل نوبيع دي فسخ اومبيعه دي واپس کړي اوکه مشتري گواه نه شو وړاندي کولای نوله خپل بائع څخه دي په مبيعه کې دعيب په نه درلودلو قسم واخلي که بائع قسم واخيست نوقاضی دي مشتري ته دپيسو اداکولو حکم وکړي اوکه بائع له قسم اخستلو څخه انکاروکړنوبيع دي فسخ کړي.

(۲۶) که مشتري وويل چې زماگواهان په شام ښارکې دي (مراددا چې په کوم ښار کې چې دعوی ده هلته نشته بلکې ددريوورځو مسافت په اندازه ليري دي) نوگواکې په دي وخت دی دگواهانو وړاندي کولو څخه عاجزدی نو څکه به بائع ته قسم ورکړي که بائع قسم واخيست نومشتري به بائع ته دمبيعی قيمت

ورکوي ولی دګواهانو ترراتلو پوري په انتظار کولو کې دبائع ضرر دی په داسی حال کې چې دمشتري زيات ضررنه دی ولی دمشتري دضررمخ نيوی دادول کيدای شي چې که هروخت دده ګواهان له شام څخه راشي ګواهي ورکړي مشتري لره داحق ثابتيږي چې هغه مبيعه واپس کړي له بائع څخه روپۍ واخلي.

(۲۷)فان ادعی اباقالم يحلف بائعه حتی يبرهن المشتری انه ابق عنده (۲۸)فان برهن حلف بالله ماابق عندک قط (۲۹)والقول فی قدر المقبوض للقابض (۳۰)ولو اشتری عبدين صفقة وقبض احدهما ووجد باحدهما عيبا اخذهما اوردهما (۳۱)ولو قبضهما ثم وجد باحدهما عيبا رد المعيب فقط.

**ترجمه**: اوکه چیرته یې دعوی وکړه دمریي تښتیدلو نو قسم دي نه ورکوي بائع ته ترڅو چې مشتري ګواه وړاندي کړي چې هغه له ده څخه تښتیدلی دی بیا ده که ګواهان وړاندي کړل نو قسم دي واخلي بائع چې والله له ما څخه هيڅکله هم نه دی تښتيدلی او قول په قدر مقبوض کې دقابض معتبر دی او که یې دوه مریان واخيستل په يوه عقد کې يو يې قبض کړ بيا يې له دوئ څخه په يوه کې عيب وموندنو دي يا دواړه واخلي يا دي دواړه رد کړي او که دواړه قبض کړي وو بيا يې له دواړو څخه يو عيب جن وموندنو يواځې هغه معيوب دي واپس کړي.

**تشريح**: (۲۷)که چاپومريي واخيست بيا يې دهغه دتښتيدواو (بداخلاقي) دعوی وکړه اوبائع انکار وکړنو بائع ته قسم نه ورکول کيږي ترهغه پوري چې مشتري داخبره په ګواه سره ثابته کړي چې دا مريی له ده څخه تښتيدلی دی ولي دتيښتې ثابتيدو څخه وروسته عيب ثابتيږي او هغه وخت دده له طرفه خصومت هم صحيح دی .ترتښتيدو مخکې عيب نه ثابتيږي نو دمشتري له طرفه خصومت هم صحيح نه دی چې کله خصومت نه دی صحيح نو دمشتري دعوی هم نه ده صحيح او چې کله يې دعوی صحيح نه ده نو پرهغې باندي يو ډول ترتب هم صحيح نه دی نو منکر يعني بائع ته قسم نه ورکول کيږي .دصاحبينو رحمهما الله په نزد مشتري له بائع څخه قسم اخستلای شي ولی دمشتري دعيب دعوی صحيح او معتبره ده ولی دده پردغه دعوی باندي دګواهي ترتب راځي يعني له مشتري څخه دګواهانو غوښتنه کيږي نو دادغي دعوی دمعتبريدو علامه ده نو چې کله پردغه دعوی باندي دګواهي ترتب کيږی نو دقسم ترتب هم صحيح کيږي ځکه له بائع څخه قسم اخيستل کيږي.

**فائده**: دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی يعني که مشتري ګواهان نه شو وړاندي کولای نوله بائع څخه قسم نه اخيستل کيږي لمالی ردالمحتار: وان لم يبرهن لايمين على البائع عندالامام على الصحيح وعندهماعليه يمين على نفی العلم. (ردالمحتار: ۴/۹۸).

(۲۸)که چيرته مشتري ګواهان وړاندې کړل چې واقعًامريی له ده څخه تښتيدلی دی نواوس دي قاضي له بائع څخه داسی قسم واخلي چې والله دامريی له ما څخه هيڅکله نه دی تښتيدلی که بائع دادول قسم واخيست نو بيا مشتري دمبيعه دواپس کولو حق نه لري .له بائع څخه دي داسي قسم نه اخلي چې والله مادامريی پرده باندی خرڅ کړپه هغه کې داعيب نه وو ،ولی په داسی قسم اخستو کې دمشتری دضرر امکان دی ځکه چې عيب کله ترخرڅولو وروسته ترتسليمولو مخکې پيدا کيږی نو بائع په دغه خپل قسم کې رښتينی دی حال دا چې دادول عيب هم موجب رد دی يعني په دادول عيب سره هم دمشتري لپاره خيار عيب ثابتيږی.

**فائده**: عیوب څو قسمونه دي: (۱) یو قسم هغه عیبونه دي چې خفی وي لکه تبنتېدل، دا عیب حکم معلوم شوی دی (۲) بل هغه عیبونه چې ظاهر وي لکه ګونګی کیدی یاګوتي کمیدل ددي په باره کې به قاضي بغیر ددي چې بائع ته قسم ورکړي دواپس کولو فیصله کوي ولی داداسي عیبونه دي چې په یقیني توګه معلوم دي چې له بائع سره پیدا شوي دي په دي شرط چې بائع دادعوی ونکړي چې مشتري پردغه عیب درضامندي اظهار کړی وو. (۳) هغه عیبونه چې یواځي ډاکتران (طبیبان) یې معلومولای شي لکه باطني ناروغی دهغو په باره کې دیوه عادل چاقول کافی دی او که داثابتول ووچې داعیب له بائع سره ورپیدا شوی دی نوبیا ددوو کسانو عادلانو قول معتبر دی(۴) هغه عیبونه چې خالص ښځي پري خبرېدای شي نو دهغو دفی الحال قائمیدو په باره کې دیوې ثقه ښځی قول معتبر دی، خو که چیرته مشتری مبیعه قبض کړي وه بیایې دښځو په قول نه شی ردولای بلکې بائع ته قسم ورکول کیږي، دامام محمد رحمه الله په نزدتر قبض کولو مخکې هم همدغه حکم دی په داسی حال کې چې دامام ابویوسف رحمه الله په نزدتر قبض کولو مخکی بائع ته له قسم ورکولو بغیر دښځو په قول یې ردولای شي، دعلامه شامی رحمه الله آخري تحقیق دادی چې په کومو عیبونو چې خالص ښځې پوهیدلای شی په هغو کې حکم دادی چې دیوې یادوو ښځو په ګواهي سره عیب ثابتیږی دخصومت په حق کې یعنی دقاضی په محکمه کې غږ ښتنه کولای شي ردنه شی کولای که ترقبض مخکې وي که وروسته وي والحاصل ان شهادة الواحدة او الثنتین یثبت بها العیب المذکور فی حق توجه الخصومة لافی حق الرد سواء کان ذالک قبل القبض اوبعده فی ظاهر الروایة عن علمائنا الثلاثة وهو المشهور فکان هو المذهب المعتمد وان اقتصر فی کثیر من الکتب علی خلافه الخ فاغتنم تحقیق هذا المحل فانک لاتجده فی غیر هذا الکتاب والحمد لله الملک الوهاب. (ردالمحتار: ۳/۹۹)

(۲۹) اودمقدار مقبوض په باره کې دهغه چاقول معتبریږی دچاپه قبضه کې چې هغه شی وي مثلاً چایوتان کپړه واخیسته بیا په هغی کې یو عیب ورته معلوم شو اوس نودی غواړي چې کپړه واپس کړي خوله بائع سره یې دهغه په اندازه کې جنجال راغی، بائع وایی چې کپړه دیرش ګزه وه اوس شل ګزه ده، اومشتري وایي چې له اول څخه شل ګزه وه نوپه دي صورت کې دمشتري قول معتبریږی ولی بائع دلسو ګزونو په بدله کې چې کومی پیسی راځی دهغو دعوی کوي اومشتري له هغه څخه انکار کوي اودمنکر قول معتبریږي.

(۳۰) که چاپه یوه عقد دوه مرییان واخیستل مثلاً بائع وویل چې ماداد دوه مرییان په زروپیو پرتابانده دي خرڅ کړي دي مشتري قبول کړل بیایې یو قبض کړ اوپه دوهم کې یې عیب پیدا کړنو مشتري لره اختیار دی که یې خوښه وي دواړه دي وګرځوي او که یې خوښه وي دواړه دي واپس کړي داسي نه شي کولای چې په کوم یوه کې عیب دی هغه واپس کړي اوپه کوم کې چې عیب نشته هغه وګرځوي ولی عقد تامیږی په قبض سره او قبض تراوسه پوري ددواړو نه دی شوی نوداد ول له عقد تامید و څخه مخکې تفریق عقد لازمیږی چې هغه صحیح نه دی او همدا قول راجح دی لما قال المرغینانی رحمه الله: والاصح انه یاخذهما او یرد هما لان تمام الصفقة تعلق بقبض المبیع وهو اسم للکل.

(هدایه: ۳/۵۰)

۱

امام ابویوسف رحمه الله په نزدکه چیرته عیب په قبض شوي مریی کې پیداشونومشتري ته دااختیار ـــ چې هغه یواځې دغه معیوب مریی واپس کړي ولی دمقبوض په باره کې عقدتام شوی دی نوتفرق عقدقبل الاتمام نه لازمیږي.

(۳۱)که په پورتنی مذکورصورت کې مشتري دواړه مریيان قبض کړي وویاپه یوه کې عیب ورته معلوم شونواوس دي یواځې هغه ردکړي په کوم کې چې عیب پیداشوی دی ولی په دغه صورت کې تفریق عقد دعقدترتامیدووروسته دی له عقدتامیدومخکي نه دی اوترعقدتامیدووروسته تفرق عقدجائزدی.

**فائده** : دامام زفر رحمه الله په نزدپه دغه صورت کې هم یواځې معیوب مریی واپس کول جائزنه دی بلکې یابه دواړه واپس کوي یابه دواړه راګرځوی ولی یواځي دمعیوب مریی په واپس کولوکې تفرق عقددی چې دبائع ضرردی ولی عام عادت دادی چې خلک اعلی اوادنی مریيان سره یوځای کړي بیایې خرڅوي نوکوم یوچې معیوب دی هغه ادنی دی .دادني په واپس کولواواعلی راګرځولوکې دبائع ضرردی ، احناف جواب ورکوي چې دبائع ضررخپله دبائع دتدلیس په وجه دی فلایعتبرلی حق المشتری ،همداقول راجح دی لمافی الدرالمختار:ولوقبضهمارد المعیب بحصته سالماًوحده لجوازالتفریق بعدالتمام.(الدرالمختار:۴/۱۰۳).

(۳۲)وَلَوْ وَجَدَ بِبَعْضِ الْكَيْلِيّ أَوِ الْوَزْنِيِّ عَيْباً رَدَّ كُلَّهُ أَوْ أَخَذَهُ (۳۳)وَلَوِ اسْتُحِقَّ بَعْضُهُ لَمْ يُخَيَّرْ فِي رَدِّ مَا بَقِيَ (۳۴)وَلَوْ ثَوْباً خُيِّرَ (۳۵)وَاللُّبْسُ وَالرُّكُوبُ وَالْمُدَاوَاةُ رِضًا بِالْعَيْبِ (۳۶)لَا الرُّكُوبُ لِلسَّقْيِ أَوْ لِلرَّدِّ أَوْ لِشِرَاءِ الْعَلَفِ.

**ترجمه** :اوکه یې وموند بعض کیلي یاوزني عیب جن نویادي کل ردکړي یادي ټول واخلي اوکه بعض مستحق شونودمابقي دردولواختیارنه ورکول کیږي اوکه کپړه وه بیااختیارورکول کیږي اوآغوستل. سوریدل اوعلاج کول په عیب باندي درضامندي علامه ده نه هغه سوریدل چې اوبولپاره وي یادواپس بیولولپاره یادوښواخیستلولپاره.

**تشریح** : (۳۲)که چاپه وزني یاکیلي شی واخیست بیاپه هغوکې په بعضوکې یوعیب پیداشونواوس مشتري ته اختیاردی که یې خوښه وي ټول شی دي واپس کړي اوکه یې خوښه وي ټول دي وګرځوي ولی دیوه جنس وزني یاکیلي شیان حکمًایوشی شمارل کیږی ځکه چې په وزني اوکیلي شیانوکې مالیت دانضمام اواجتماع په اعتباردی یواځې یوه دانه نه مال متقوم دی اونه یې بیع جائزه ده اودیوه شي په باره کې قاعده داده چې که چیرته په هغه کې عیب پیداشونویابه ټول ګرځوي یابه ټول واپس کوي نوکوم چې حکمًاشی واحددی دهغه هم همداحکم دی نوځکه بعض راګرځول اوبعض واپس کول صحیح نه دی.

(۳۳)اوکه چیرته په کیلي یاوزني شی کې کوم عیب ظاهرنه شي مګرپه هغوکې بعض دبل چاملک ثابت شونوچې په څومره کې دهغه ملکیت ثابت شوی دی هغه خودهغه شودنورو دردولواختیارمشتري ته نه ورکول کیږي ولی داداسي شی دی چې دهغه ټکړي کول تاواني نه دی نوله مبیعه څخه دي دمستحق حصه جلاکړي مستحق ته دي ورکړي باقی دي مشتري له خپل ځان سره وساتي.

**فائده** : مګرپردغه باندي داسوال کیدای شی چې داډول خوتفرق عقدقبل التمام لازمیږی ولی مستحق څوک په هغه عقدنه وو راضي چې دهغه درضامندي بغیرداییع تامه نه ده اوقبل التمام تفرق عقدناجائز دی نومشتري ته دباقی دردولوحق باید ورکړای شي ؟ جواب : داتفرق قبل التمام نه دی بلکې بعدالتمام دی ولی عقددعاقدپه رضامندي سره تامیږی دمستحق په رضامندي سره نه اودعاقدرضامندي خوشته.

(۳۴)قوله ولولوبالخیرای لوکان المبیع ثوبافاستحق بعضه خیرالمشتری فی ردمابقی) یعني که چیرته یوچایوه کپړه واخیسته بیاهغه بعض مستحقه شوه نواوس مشتري ته اختیارشته چې دی داباقی کپړه بائع ته واپس کړي ولی دکپړي ټکړه کیدل دکپړی لپاره تاوان دی چې په اخیستوکې یې دمشتري تاوان دی نودغه عیب په وجه دواپس کولواختیارلري اوداعیب (یعني استحقاق) داسی هم نه دی چې دمشتري په لاس کې پیداشوی دی بلکې دادبائع په لاس کې پیداکیږی دمشتري په لاس هسې ظاهرشوی دی .

(۳۵)که چایوه کپړه واخیسته اوپه هغی کې دنقصان لیدوو روسته یې بیاهم هغه واغوسته یایې دسوریدوشی واخیست اوپه هغه کې دنقص لیدوو روسته پرهغه باندی دخپل کارلپاره سورشو، یاحیوان ناروغ ووهغه یوڅه دوایی ورکړه نودمشتري داعمل دهغه له طرفه په عیب باندي راضی کیدل ګڼل کیږي ولی دادادي خبري دلیل دی چې دی مبیعه خپل ځان ته کول غواړي اومبیعه چې ځان ته ګرځوي همدایی صورت دی چې مشتري په هغه عیب باندي راضی وي نوله هغه وروسته دهغه عیب په وجه دمبیعی واپس کولواختیارنه ورکول کیږي .

(۳۶)قوله لاالرکوب للسقی ای لایکون رضاالرکوب للسقی،یعني که چیرته مشتري حیوان داوبه کولولپاره تالاب ته دبیولوپه وخت پرهغه باندي سورشویابائع ته دواپس کولولپاره پرلاره وورباندي سورشویایې دحیوان لپاره څه خوراکی شیان اخیستی ووهغه یې راوړل پرسورشونودادمشتری له طرفه په هغه عیب باندي رضامندي نه شمارل کیږي داحکم استحساناً دی ولی په دغووختونوکې پرحیوان دسوریدوضرورت دی.

(۳۷)وَلَوْقُطِعَ الْمَقْبُوضُ بِسَبَبٍ عِنْدَ الْبَائِعِ رَدَّهُ وَاسْتَرَدَّ الثَّمَنَ (۳۸)وَلَوْبَرِیَ مِنْ کُلِّ عَیْبٍ صَحَّ وَإِنْ لَمْ یُسَمِّ الْکُلَّ (۳۹)فَلَایَرُدُّ بِعَیْبٍ .

**ترجمه** : اوکه لاس غوڅ کړای شوی وودمقبوض مریی دیوداسي سبب په وجه چې دبائع په لاس کې وونوردې کړي اوپیسې دي واپس واخلي اوکه یې دبرائت اعلان وکړله هرعیب څخه نوصحیح دی که څه هم په نامه ټول عیوب یادنکړي نواوس ردنه شي کولای دیوعیب په وجه .

**تشریح** : (۳۷)که چایومریی واخیست اوهغه یې قبض هم کړبیادهغه مریی لاس دیوه داسي جرم په وجه غوڅ شوچې ده هغه جرم له بائع سره ترسره کړی وو(مثلاً دبائع سره ده غلاکړې وه چې دهغې په وجه یې اوس لاس غوڅ شو) نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمشتري لره اختیاردی که یې خوښه وي واپس دي کړي اوکوم قیمت چې ده بائع ته ورکړی دی هغه دي له بائع څخه بیرته واخلي ولی لاس غوڅ کیدل که څه هم له مشتري سره

ترسره شول مګر دهغه سبب خوله بائع سره پيدا شوی دی اوکه يې خوبنه وي مريی دي راوګرځوي اودلاس غوځيدو په وجه دی

له بائع ځخه نيمې پيسې واخلي ولې دانسان يو لاس له نيم قيمت سره برابر دی .

**فائده** : صاحبين رحمهما الله فرمايي چې په داسې صورت کې مشتري مريی نه شي ردولای بلکې دغله اوهغه مريی چې غلانه کوي ترمنځ چې کوم تفاوت دی هغه دي واخلي مثلاً دغله مريی قيمت پنځه سوه روپۍ دی اوچې غلانه کوي دهغه مريی قيمت يوزرروپۍ دی نومشتري دي له بائع ځخه پنځه سوه روپۍ واخلي ولې دغله اوهغه چې غلانه کوي ترمنځ تفاوت پنځه سوه روپۍ ثابت شوځکه دبائع په لاس کې دغوځيدوسبب پيدا کيدل دمريی له ماليت سره منافي نه دی نوعقدنافذدی بياځرنګه چې لاس دمشتري سره غوځ شوی دی اودا يونوی عيب دی چې دمريي له واپس کولوځخه مانع دی اوپه داسې صورت کې مشتري لره درجوع حق شته چې بائع ته په قدرنقصان رجوع وکړي .

**فائده** : دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله: الراجح والمختارقول الامام ابی حنيفة رحمه الله وايده فی فتح القديرواختارفی البحر الرائق ومجمع الانهر والشامی واليه مال كلام الهداية الخ والعبارة الجامعة ان يقال ان له ان يرده وياخذالثمن جميعًااويمسک المبيع ويرجع بنصف الثمن كذافی المعتبرات من كتب المذهب (هامش الهداية: ۳/ ۵۱)

(۳۸)يعنی که چامريی واخيست اوبائع شرط ولګاوه چې دمريي له هرډول عيبونوځخه زه بري يم نومشتري دهيڅ قسم عيب په وجه مذکورمريی نه شي واپس کولای که څه هم دټولوعيبونونوم يې نه وي اخيستی اونه يې ټول عيبونه شمارلي وي ولې ټول عيوب که څه هم مجهول دي مګربرائت کول له قبيل داسقاطات دی اوپه اسقاطات کې جهالت مفضي ونزاع لره نه دی ولې جهالت هغه وخت مفضي ونزاع ته کيږی چې کله ديوشي دسپارلوضرورت وي اوپه اسقاطات کې ځرنګه چې يوشی نه سپارل کيږی نوپه اسقاطات کې جهالت مفضي ونزاع ته نه کيږي .

**فائده** : دامام شافعی رحمه الله په نزدبائع لره دمبيعه له ټولوعيبونوبرائت کول نه دی صحيح مګرداچې ټول عيبونه شمارکړي ځکه چې ټول عيبونه مجهول دي اودشوافعوپه نزدله مجهولوحقوقوځخه ابراء نه ده صحيح ولې په ابراء کې دتمليک معنی پيدا کيږي اوقاعده ده چې دمجهول شي تمليک نه دی صحيح نوله مجهولوعيبونوځخه برائت کول هم نه صحيح کيږي .

(۳۹)يعني په پورتنې مذکورصورت کې که چيرته مشتري ترقبض کولومخکې په مريي کې کوم عيب پيدا شونودامام ابويوسف رحمه الله ددغه نوي عيب په وجه هغه نه شي ردولای ولې له ټولو عيبونوبرائت موجوداوحادثوهرډول عيبونولره شامل دی ځکه له ټولوعيبونوځخه دبرائت مقصود مشتري لره دمبيعی دسلامتياحق ساقطول بيع لازمول دی اودامقصودهغه وخت حاصليږی چې بائع له ټولوموجودو اوحادثودواړه قسمه عيبونوځخه بري وګڼل شي ،په داسې حال کې چې دامام محمد رحمه الله اوامام زفر رحمه الله په نزدله ټولوعيبونوځخه برائت يواځې پخوانيوموجودوعيبونولره شامل دی له عقدوروسته ترتسليم مخکې راپيداکيدونکوعيبونولر شامل نه دی ولې برائت له ثابتوعيبونوځخه کيږی نوبرائت خالص په موجوده عيبونوپوري خاص شوی دی نودنوي عيب په وجه مشتري دمبيعه دواپس کولوحق لري .

**فائده** : دامام ابویوسف رحمہ اللہ قول راجح چې په حقیقت کې دامام ابوحنیفة رحمہ اللہ قول دی لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمہ اللہ: واعلم ان قول ابی یوسف هو قول الامام ابی حنیفة رحمہ اللہ وهو الراجح وهو ظاهر الروایة صرح به شمس الائمة السرخسی فی المبسوط وابن الهمام فی الفتح وفی الخالیة انه ظاهر مذهبنا لان المراد لزوم انعقد باسقاط حقه فی صفة الاسلام وذالک بالبراتة عن الموجود الحادث (هامش الهدایة: ۵۳/۳).

## باب البیع الفاسد

داباب دبیع فاسد په بیان کې دی.

بیع پرپنځه قسمه ده :(۱)باطل (۲)فاسد (۳)صحیح نافذلازم (۴)صحیح نافذ غیرلازم (۵)صحیح موقوف ،باطله هغه بیعه ده چې نه باصله مشروع وي اونه بوصفه (له باصله مشروعیت ځخه مراددادی چې مال متقوم نه وي ) لکه مرداره خرځول،دبیع باطل حکم دادی چې ملک نه فائده کوي که مشتري مبیعه قبض کړي اوکه یې نه کړي قبض ،بیع فاسده هغه ده چې مشروع باصله وي(یعني مبیعه مال متقول وي) مګربوصفه مشروع نه وي (دبوصفه عدم مشروعیت ځخه مراددادی چې قبح دعقدله لوازمویعني شرطونوځخه وي مثلاپه یوه داسې شرط سره بیع کول چې عقددهغه مقتضي نه وي یامبیعه مقدورالتسلیم نه وي لکه تښتیدلی مریی خرځول ) دبیع فاسدحکم دادی چې له قبض کولووروسته ملک فائده کولای شي بغیرقبض ملک نه شي فائده کولای.

ځینی حضراتودبیع فاسداوباطل ترمنځ داسی فرق بیان کړی دی چې که له عوضینوځخه کوم یوداسي نه ووچې کوم آسمانی دین مال ګڼلی وونوداسي بیع باطله ده که هغه مبیعه وي که ثمن وي مثلادمرداري خرځول اخیستل،همدارنګه دآزادانسان خرځول اخیستل اوکه له عوضینوځخه کوم یوداسي یوشی ووچې یوه دین مال ګڼلی دی بل دین نه دی ګڼلی نوبیادي ته کتل پکاردي چې که چیرته هغه شي ثمن کیدای شوای نوپه دغه صورت کې بیع فاسده ده لکه مریی دشرابوپه عوض خرځول یاشراب دمریي په بدل خرځول ،اوکه چیرته هغه شي ثمن نه شوای کیدای بلکې دهغه مبیعه کیدل ضروري وي نوپه دغه صورت کې هم بیع باطله ده لکه یومسلمان چې شراب دروپوپه عوض خرځ کړي.

بیع صحیح نافذلازم هغه بیع ده چې باصله ووصفه هرلحاظ سره مشروع وي نه په هغې پوری دغیرحق متعلق وي اونه په هغې کې کوم قسم خیاروي ددی بیع حکم دادی چې دافی الحال ملک فائده کوي،بیع صحیح نافذغیرلازم هغه بیع ده چې مشروع خووي لکه دریم قسم اودکوم چاحق هم په هغه پوری متعلق نه وي خوپه هغی کې خیارشرط،خیاررؤیت،یاخیارعیب وي ددغه قسم بیع حکم دادی چې داداسي ملک فائده کوي چې موقوف وي تراسقاط خیارپوري،اوبیع صحیح موقوف هغه بیع ده چې مشروع خو وي لکه دریم قسم په هغی کې کوم قسم خیارهم نه وي خوپه هغی پوری حق دغیرمتعلق وي (مثلالکه دغیرملک خرځول )ددی بیع حکم دادی چې داداسي ملک فائده کوي چې موقوف پراجازه وي.

دباب بیع الفاسدله ماقبل سره مناسبت دادی چې بیع دوه قسمه ده : ۱-صحیح ۲-فاسد، نوماتن رحمہ اللہ بیع صحیح بیان کړه اوس غواړي چې بیع فاسده بیان کړي ځرنګه چې بیع فاسدعقد مخالف للدین دی

ځکه یې نومؤخرکړ،بیایې داباب دبیع فاسدپه نامه ونوماوه حال داچې په دی باب کې یې دبیع باطل صورتونه هم بیان کړي دي نودهغه وجه داده چې فاسداعم مطلق اوباطل اخص مطلق دی ولی چې هربیعه باطله فاسده هم ده نودزیات واقع کیدوپه وجه یې ټولوته فاسدویلی دي.

(۱)لَمْ یَجُزْ بَیْعُ الْمَیْتَةِ وَالدَّمِ وَالْخِنْزِیرِ وَالْخَمرِ (۲)وَالْحُرِّ (۳)وَأُمِّ الْوَلَدِ وَالْمُدَبَّرِ وَالْمُکَاتَبِ (۴)فَلَوْهَلَکُوا عِنْدَ الْمُشْتَرِی لَمْ یَضْمَن (۵)وَالسَّمَکِ قَبْلَ الصَّیْدِ وَالطَّیْرِ فِی الْهَوَاءِ (۶)وَالْحَمْلِ وَالنِّتَاجِ (۷)وَاللَّبَنِ فِی الضَّرعِ (۸)وَاللُّؤْلُؤِ فِی الصَّدَفِ (۹)وَالصُّوفِ عَلَی ظَهْرِ الْغَنَمِ (۱۰)وَالْجِذْعِ فِی السَّقْفِ (۱۱)وَذِرَاعٍ مِنْ ثَوبٍ.

**ترجمه**: جائزه نه ده بیع دمرداري، دوینې، دخنزیر، دشرابو، دآزاد، دام ولد، دمدبراومکاتب، که چیرته داشیان هلاک شي دمشتری په لاس کې نوهغه ضامن نه ګرځي او(جائزنه ده) بیع دماهي (کب) ترښکارکولومخکې اودمارغه په هواکې اودحمل اودحمل دبچې اودشیدودپسه په تیانوکې اودملغلروپه صدف کې اودوریودپسه پرشاباندي اودلګریوپربام باندي اوله کپړونه یوګز.

**تشریح**: (۱)یعنې دمرداري، وینې، شرابواوخنزیربیع ناجائزه ده،صاحب کتاب دمذکوروشیانوپه باره کې لم یجزویلي دي ددي لپاره چې فاسدی اوباطلی هرقسم بیع ته شامل شي ولی په کتاب کې له مذکورو بیوعوڅخه ځینی باطلی اوځینی فاسدی دي لکه دمرداري اووینوپه عوض کوم شی اخیستل بیع باطله ده ولی دبیع رکن معدوم دی یعنې مبادلة المال بالمال، ځکه داشیان دهیڅ یوچاپه نزدهم مال نه دي البته شراب اوخنزیرچې په روپوبدل شی دهغوپه عوض کوم شی واخیستل شی نوبیع فاسده ده،ولی حقیقت دبیع یعنې مبادلة المال بالمال) شته یکی ولی چې دځینوکفاروپه نزدداوه شیان مال دی مګرځرنګه چې مسلمان دشرابواوخنزیرپر تسلیمولواوقبضولوقادرنه دی نوغیرمقدورالتسلیم شی چې ثمن ګرځي دابیع فاسدیږي.

**فائده**: داخبره یادولرئ چې شراب اوخنزیرکه چیرته په بیع کې ثمن کیدای شوای نوداسی بیع فاسده ده لکه مریی دشرابوپه عوض خرڅول یاشراب دمریی په بدله خرڅول چې په دي دواړوصورتوکې شراب ثمن ګرځي اومریی مبیعه،نوځکه دابیع فاسده ده،اوکه چیرته داسی صورت ووچې شراب اوخنزیرثمن نه شوای ګرځیدلای بلکې دهغومبیعه کیدل ضروري وونوپه داسی صورت کې دابیع باطله ده لکه یومسلمان چې شراب دروپوپه عوض کې خرڅ کړی ولی شرعًادشرابواوخنزیرداهانة (توهین) حکم دی په داسی حال کې چې دهغومبیعه ګرځول دهغواهانت نه بلکې اعزازدی نودابیع باطله ده.

(۲)همدارنګه که چیرته یوله عوضینوڅخه دهیچاپه نزدهم مال نه وي نوداسی بیع باطله ده لکه آزادڅوک خرڅول ولی دلته رکن دبیع یعنې (مبادلة المال بالمال) معدوم دی ځکه آزادمال نه دی.

(۳)همدارنګه امّ الولد(هغه منځه چې له خپل مولی څخه یې دمولی په ملک کې بچی پیداشی) اومدبر(هغه مریی چې دهغه مالک دهغه آزادی ترخپله مرګه پوري متعلقه کړی مثلامولی خپل مریي ته ووایی چې ته زماله مرګه پس آزادیې) اودمکاتب بیع باطله ده ولی دامّ الولدلپاره عتق خودپیغمبر ﷺ په

قول (اعتقها ولدها) (یعنې دهغې بچې داآزاده کړه ) سره ثابت دی او دمدبر دتدبیر صحت دهغه دحریت سبب دی چې فی الحال ثابت دی اومکاتب دخپلوځانی تصرفاتو مستحق ګرځي نوکه چیرته دبیع په ذریعه دمشتري لپاره په ده کې مِلک ثابت شي نو دهغه داټول حقوق باطلیږی حال داچې دهغه لپاره داحقوق ثابت دي نولامحاله مشتري لره نه ثابتیږی که نه ددوومتنافیینو جمع لازمیږی نوچې کله دمشتري لپاره مِلک نه ثابتیږي نو دا بیع مفیده مِلک لره نه

ده اوکومه بیع چې مفیده مِلک لره نه وي هغه باطله وي نو مذکوره بیوع باطلې دي .

(۴)که چاله مذکوروشیانوڅخه یوشی واخیست (یعنې دبیع باطل په صورت کې) اوتراوسه یې لاقیمت بائع ته نه دی ورکړی چې داشی دمشتري په لاس کې هلا ک شونوډامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمشتري دهغه دقیمت نه ضامن کیږی ولی په بیع باطله کې عقد معتبرنه دی نوداشی دمالک په اجازه سره دمشتري په قبضه کې راغلی دی نو مشتري یې ځکه ضامن نه ګرځي .

**فائده** : دصاحبینو رحمهما الله په نزدپرمشتري باندی ضمان واجب دی لکه مقبوض علی سوم الشراء چې مضمون وي،دصاحبینو رحمهما الله قول راجح دی لمافی الدّرالمختار:والبیع الباطل حکمه عدم ملک المشتری ایاه اذاقبضه فلاضمان لوهلک المبیع عنده لانه امانة وصحح فی القنیة ضمانه قیل وعلیه الفتوی(الدر المختار علی هامش رد المحتار:۱۱۸/۳).

(۵)قوله والسمک قبل الصید ای لم یجز بیع السمک قبل الصید. یعنې کوم ماهی (کب) چې په اوبوکې وي تراوسه پوري ښکارکړی شوی نه وي دهغه بیع ناجائزه (یعنې باطله ده ) ولی په اوبوکې موجودماهی دهیچامِلک نه دی بلکې مباح دی هرڅوک یې نیولای شي اودغیرمملوک شي بیع باطله ده ،همدارنګه په هواء کې دګرځیدونکو مارغانو بیع هم باطله ده ولی په هواء کې ګرځیدونکې مارغان هم دهیچامِلک نه دي اودغیرمملوک بیع باطله ده .

**فائده** :که چیرته ددریاب دکناري په حوض کې ماهیان سره راپوځای کړای شوي وونو که چیرته حوض کوچنی وو بیله حیلې ماهیان نیول کیدای شوای نوپه داسې حوض کې دماهیانو خرڅول جائزدی ولی دادول ماهیان مملوک هم دي اومقدورالتسلیم هم دي اوکه چیرته حوض دومره لوی ووچې بغیرحیله په هغه کې موجودماهیان نه شوای نیول کیدلای نوبیایې خرڅول ناجائزدی ولی مقدورالتسلیم نه دي،اوکه چیرته ماهیان (کبان) خپله په یوه ګرداب کې راغلي وواوبائع دهغوئ دیرته تلولاره هم نه وه تړلې نودهغوئ خرڅول ناجائزدی ولی دادول ماهیان مملوک نه دي .(ردّالمحتار:۱۱۹/۴)

**فائده** :که چایومارغه ښکارکړبیایې له لاسه پریښودنوبیایې هم بیع ناجائزه ده ولی که څه هم په ښکارکولوسره مارغه دده په مِلک کې راغلی خودپریښودلوپه وجه اوس هغه مقدورالتسلیم نه دی اودکورراپتې کوترې که چیرته بغیرحیله نیول کیدای شوای نودهغوبیع جائزه ده که نه بیانه ده جائزه ولی مقدورالتسلیم نه دي .

(۶)قوله والحمل ای لم یجز بیع الحمل ،یعنې دیوه حیوان یامنځی دحمل خرڅول ناجائزدی مثلابائع مشتري ته ووایې چې ددي پسه په خیټه کې چې کوم بچی دی هغه ماپه سل روپۍ پرتاباندي خرڅ کړی دی

نو دا بیع ناجائزه ده ،همدارنګه د نتاج یعني د حمل د حمل بیع ناجائزه ده ولي په دي کې دوکه راځی امکان لري چې د پسه په خیټه کې بچی نه وي بلکې د هوا په وجه پړسیدلی ښکاري او دا راز امکان لري چې د احیوان د بچي په نه زیږید و یا زیږید و سره مړشي او په کومه بیع کې چې دوکه وي هغه ممنوع ده لحدیث ابی هریرة رضی الله تعالی قال: نهی رسول الله ﷺ عن بیع الغرر و الحصاة ) نبي کریم ﷺ د دوکه او کاڼي غورځولو له بیع څخه منع فرمایلي ده .

**فائده** : د دوکې په وجه بیمه ناجائزه ده چې په انګلیسي کې ورته (انشورنس) او په عربي کې (تامین) ویل کیږي بیمه دري قسمه ده : ۱-د زندګي بیمه ۲-د شیانو او سامان بیمه ۳-د مسؤلیات بیمه . د دي ټولو صورت دادی چې بیمه کوونکي ته بیمه کمپنی وایې چې ترلسو کالو پوري مثلاً د میاشتي یو زر روپۍ د قسط په ډول اداکوه په د غو لسو کالو کې که چیرې ته مړشوې یا ستا مال هلاک شو یا پرتا باندي د چا قرض باندي شو نو د مرګ په صورت کې کمپنی لس لکه روپۍ ستا ورثه ؤته ورکوي یا ستا د مال د هلاکت یا پرتا باندي د قرض راتلو د نقصان تلافي کمپنی کوی که نه کمپنی ستا پیسي ضبط کوي،نو په دغو ټولو صورتونو کې چې کوم څوک بیمه کوي د هغه له طرفه د قسط اداکول یقیني دی خو د بیمه کمپنی له طرفه د رقم اداکول تر نقصان او حادثي موقوف دی نو له یوه طرفه ادائیګی یقیني او له بل طرف څخه محتمل دی ځکه نو په دي کې هم دوکه راځی چې د هغې په وجه دا معامله حرام او ناجائزه ده . (له تقریر ترمذی :۱/ ۹۸) څخه .

**فائده** : که کله بیمه کول قانوناً ضروري وي مثلاً پر سړک باندي د موټر چلوونکي لپاره د مسؤلیات بیمه کول چې قانوناً ضروري ده نو څرنګه چې موټر چلول د هر چا حق دی نو او س د قانوني مجبوري له مخي دا بیمه کول لاره لري،خو که چیرته کومه پیښه را منځ ته شوه چې د هغې په نتیجه کې دیو چا نقصان وشو نو په د غه وخت کې له انشورنس کمپنی څخه یواځی دومره رقم وصولول جائزدی څومره چې ده د قسط په ډول اداکړی وي تر هغه زیات وصولول ناجائزدی . (پورتنی حواله)

(۷) قوله واللبن فی الضرع ای لم یجز بیع اللبن فی الضرع ،یعني د پسه په تیانو کې د شیدو بیع ناجائزه ده ولی د شیدو لو شلو په کیفیت کې نزاع راځي ولی مشتري به غواړي چې یو څاڅکی هم په تیانو کې پاتی نه شي او بائع غواړي چې څه شیدې په تیانو کې پاتی شی او کومه بیع چې مفضي و نزاع ته وي هغه صحیح نه ده دا راز امکان لري چې د پسه په تیانو کې شیدې نه وي بلکې له هوا څخه ډک شوي وي .

(۸) قوله واللؤلؤ فی الصدف ای لم یجز بیع اللؤلؤ فی الصدف ،یعني بغیرله دي چې صدف وسپري ملغلره وویني او مشتري ته یې ورښکاره کړي د هغې خرڅول ناجائزدی ،ولی د ملغلري وجود معلوم نه دی امکان لري چې په صدف کې ملغلره نه وي،همدارنګه د بائع له ضرر بغیر ملغلره مقدور التسلیم نه ده ولی د صدف له ماتولو بغیر ملغلره تسلیمول ممکن نه ده حال دا چې په صدف ماتولو کې د بائع ضرر دی ،دا د امام محمد رحمه الله قول دی د امام ابویوسف رحمه الله په نزد جائزدی ولی له صدف ماتولو بغیرله هغه څخه فائده نه شی اخیستل کیدای نو صدف ماتول ضرر نه شمارل کیږي .

**فائده** : د امام محمد رحمه الله قول مفتی به دی لما فی الدر المختار : و فسد بیع السمک لم یصد الخ ،ولؤلؤ فی صدف للغرر وقال ابن عابدین الشامی رحمه الله : (قوله للغرر) لانه لا یعلم وجوده وینبغی ان یکون باطلا للعلة المذکورة فهو مثل اللبن قلت

وبلهيده مالي التجنيس رجل اشترى لؤلؤة في صدف قال ابويوسف رحمه الله البيع جائز وله الخيار اذا راه وقال محمد البيع باطل وعليه الفتوى (الدر المختار مع الشامية: ۴/ ۱۲۱)

(۹) قوله والصوف على ظهر الغنم اى لم يجز بيع الصوف على ظهر الغنم ،يعني دپسه پرشاباندي دوړيو بيع هم ناجائزه ده ولې نبي كريم ﷺ دپسه پرشاباندي دولاړو،وړيو خرڅولو څخه منع فرمايلې ده ،همدارنګه له پسه څخه وړۍ مقصودنه دي نووړۍ ګواكې وصف دى اودوصف مستقل بيع نه كيږى،دريم دليل دادى چې وړۍ خوله كښتې خواراشنې كيږي نو پرشاباندي له وړيو خرڅولوروسته چې كومې وړۍ تړيكيدونكي راشنې شوي دي هغه دمبيعى حصه نه ده نودمبيعه اوغيرمبيعه داختلاط په وجه بيع ناجائزه ده.دامام ابويوسف رحمه الله په نزدجائزه ده په دې شرط چې دفى الحال پريكيدوپه شرط يې خرڅې كړي ولې وړۍ خومال متقوم اومقدورالتسليم دي اوكوم شى چې متقوم اومقدورالتسليم وي دهغه بيع جائزده .مګرامام ابويوسف رحمه الله ته جواب وركړى شوى دى چې دنص په مقابله كې تعليل مردود(بې اعتباره) دى .

(۱۰) قوله والجذع في السقف اى لم يجز بيع الجذع في السقف ،يعني له ولاړبام څخه يومعلوم تير(ګاډر) خرڅول ناجائزدى ولې دهغه تسليمول دبائع له ضرربغيرنه دى ممكن،البته كه چيرته بائع له بام څخه تيرراكښته كړي په دې شرط چې مشتري لاتراوسه پوري بيع نه يې فسخ كړي نوبيابيع صحيح ده ځكه هغه مفسدله منځه ولاړ .

(۱۱) يعني له كپړي څخه (داسې كپړي څخه چې دهغې په پريكولوكې دبائع ضرروي) يوګزخرڅول دبائع دضررپه وجه ناجائزدى البته كه بائع له كپړي څخه يوګزپرې كړنوبياجائزه ده په دې شرط چې مشتري لابيع فسخ كړي نه وي ولې اوس يې هغه مفسدزائل شو .

**فائده** : په هندوانه كې دننه تخم خرڅول ناجائزدى،كه څه هم دمشتري دفسخ كولونه مخكې بائع هندوانه ماته كړي تخم راوباسي ولې دبيع په وخت مبيعه له ستركونه غائبه ده نوامكان لرى چې دبيع په وخت په هندوانه كې تخم نه وي ياخراب وي نوپه دغه صورت كې ګواكې دابيع بلامبيعه ده اوبيع بلامبيعه باطله ده اوقاعده ده چې په بيع باطله كې دمبطل په ليري كولوسره هم بيع نه صحيح كيږي .

(۱۲) وَضربة القانص (۱۳) وَالمزابنة (۱۴) وَالملامسة وَإلقاء الحَجَرِ (۱۵) وَثوب من ثوبين (۱۶) والمراعى واجارتها (۱۷) والنحل (۱۸) وَبَيْعُ دُوْدُ القَزِ وبيضه.

**ترجمه** : اوبيع ناجائزه ده ديوځل جال غورځولو ،اوبيع مزابنه،اوبيع ملامسه.اوكاڼي غورځولو ،اويوي كپړي له دووڅخه اودچراګاه اودهغې اجاره،اوبيع ناجائزه ده دشاتودمچيواوخرڅيدلاى شي دوريښمو چينجي اودهغوهګۍ .

**تشريح** (۱۲) قوله وضربة القانص اى لم يجز بيع ضربة القانص ،ضربة القانص دادى چې بائع ووايې چې زه داجال يوځل غورځوم په دې كې چې څومره ښكارراغى هغه مثلاً په لس درهمه پرتاباندي خرڅوم.نوځرنګه چې دانه ده معلومه چې ښكار راځي كه نه نودابيع دمجهول ده داناجائزه ده ،همدارنګه له نبي كريم ﷺ څخه دضربة القانص دممانعت روايت راغلى دى نودابيع ناجائزه ده .

(۱۳) قوله والمزابنة اى لم يجز بيع المزابنة يعني بيع دمزابنه هم ناجائزه ده .هغه داده چې پردرخته باندې پخې خرماوې په اندازه سره په عوض دهغوخرماووكې خرڅې كړي چې له درختې څخه پرې شوې وي ولې له

حضرت انس S څخه روايت دی ان النبی ﷺ نهی عن المحاقلة والمنابذة والملامسة ) يعني نبي کريم ﷺ له خرخولو څخه دغنموپه وړوکي په اندازه سره په عوض دصافوغنمو کي اومنابذه اوملامسه څخه منع فرمايلي ده ) اومزابنه دمحاقله په شان ده نوځکه مزابنه هم ناجائزه ده ،همدارنګه يې دعدم جوازداوجه هم ده چې مکيلي دمکيلي په عوض په اندازه سره په خرڅولو کي دربواشبه ده ،اوپه باب دربواکي شبه ربواملحقه دحقيقت ربواده يعني کوم حکم چې دحقيقت ربوادی هغه دشبه ربواهم دی نوځکه ناجائز دی.

**فائده** : دامام شافعي رحمه الله په نزد ترپنځووسقوپه کم کي محاقله اومزابنه جائزه ده لان النبی ﷺ نهی عن بيع المزابنة ورخص فی العرايا (يعني نبی کريم ﷺ له مزابنه څخه منع فرمايلي ده اودعرايااجازه يې کړه ده) دعراياتفسيرله امام شافعي رحمه الله څخه مروي دی چې ترپنځووسقوکمي خرماوې په اټکل سره دلاندي پرتوخرماوپه عوض کي خرڅي کړي،احناف جواب ورکوي چې دعرايادامعنی نه ده بلکې عريه په معنی دعطيه دی دحديث شريف مطلب دادی چې دباغ مالک يوچاته عطيهٔ ديوې درختي ميوه ورکړې ده بيادمعطی له په تلوراتلوسره کله دباغ مالک ته تکليف رسيږي نودهغه تکليف ددفع کولوله پاره مالک هغه پردرخته چې کومه ميوه ده دهغې په عوض کي لاندي پروته ميوه ورکوي نودمذکورحديث شريف له رويه داجائزدی ولی داپه حقيقت کي بيع نه ده ولی معطی له تراوسه پوری لاهغه ميوه چې په درخته پوري ده نه ده قبض کړي نودادباغ دمالک له طرف څخه ازسرنوهبه ده .

(۱۴)قوله والملامسة والقاء الحجر ای لم يجز بيع الملامسة والقاء الحجر ،په متن کي دادوه مذکورصورتونه دجهالت دزماني ديوعوصورتونه دي دبيع دخبروپه دوران کي چې به دمشتري مبيعه خوښه شوه نوپه مبيعه به يې لاس وواهه بس په همدغه لاس وروړلوسره بيع تاميده که به مالک راضي ووکه به نه ووراضی.همدارنګه دبيع دخبروپه وخت چې به دمشتري مبيعه خوښه شوه نوده به پرمبيعه باندي يووړوکی کاڼی ورواچاوه دهغه کاڼي په لويدلوسره بيع تاميده که به مالک راضي ووکه به نه ووراضی ، اول قسم ته يې بيع ملامسه اودوهم قسم ته بيع بالقاء الحجرويل ،څرنګه چې پيغمبر ﷺ له بيع ملامسه څخه منع فرمايلي ده ځکه نودابيع صحيح نه ده اوبيع بالقاء الحجر دبيع ملامسه سره هم معنی ده نوداهم په ممانعت کي له بيع ملامسه سره ملحقه کيږي .

(۱۵)قوله وثوب من ثوبين ای لم يجز بيع ثوب من ثوبين ،يعني له دووکپړوڅخه لاعلی التعين يوه اخيستل جائزه نه ده ځکه مبيعه مجهوله ده اوداسی جهالت دی چې مفضی ونزاع ته دی نودابيع ناجائزه ده ،البته که دبيع په وخت کي داسی ووايي چې په دي دواړوکي ماله اختياردی کوم يوه چې مي خوښه شي هغه اخلم نواستحساناًجائزه ده ولی اوس دغه جهالت مفضي ونزاع ته نه دی .

(۱۶)قوله والمراعی ای لم يجز بيع المراعی ،چراګاه يعني پرڅمکه باندي دولاړوونبوخرڅول ياپه کرايه ورکول ناجائزدی.بيع خويي ځکه نه ده رواچې دولاړوونبوبائع مالک نه دی لقوله ﷺ :الناس شرکاء فی ثلاث فی الماء والکلاء والنار. (خلک په دريوشيانوسره شريکان دي اوبه ،وابنه اواور) . اودغيرمملوک بيع نه ده جائزه،اوپه

اجاره ورکول یې ځکه نه دی روا چې له حدیث شریف څخه ثابته شوه چې وابنه دهیچا ملک نه دي ،همدارنګه دغه عقد دعین پر تلف
کولو باندي منعقد کیږي حال دا چې عقد اجاره پرعین نه بلکې پر منافعو منعقد کیږي .
**فائده** : دایادولرئ چې داتفصیل دهغو وښوپه باره کې دی چې خپله راشنه شوي وي،دځمکې مالک هغه ریبلي اوجمع کړي نه وي، پاتې شوهغه وابنه چې کرل کیږی اودځمکې مقصودی پیداوار ګڼل کیږی داسې وابنه دکروونکي ملک دی دهغو خرڅول جائزدی په حدیث شریف کې چې په وښوکې دټولو خلکو اشتراک ثابت دی له هغو څخه هم هغه وابنه مراددي چې خپله راشنه شوي وي . (الدّرالمختار :۴/ ۱۲۳)
(۱۷)قوله والنحل ،ای لم یجزبیع النحل ،دشیخینو رحمهماالله په نزددشاتو دمچیو بیع ناجائزه ده،دامام محمد رحمه الله په نزددشاتو مچی. که دیوچاپه تصرف کې جمع وي نوبیادهغو بیع جائزه ده ولی دشاتو مچی داتنفاع قابل حیوان دي اومقدورالتسلیم هم دی نودادخره ،خچروغیره په شان دي نولکه څرنګه چې دخچراوخره خوراک ناجائزدی مګردګټي اخیستلواومقدورالتسلیم کیدوپه وجه سره دهغوبیع جائزه ده همدارنګه دشاتو مچی. که څه هم خوړل کیږی نه مګردهغوبیع جائزه ده وبه یفتی ، دشیخینو رحمهماالله دلیل دادی چې دشاتو مچی. دنوروچیچوونکوحشراتوپه شان دي لکه مار،لړم وغیره،نوځکه یې بیع ناجائزه ده ،پاتی شوه له هغوڅخه نفع اخیستل هغه دشاتوپه اعتبارده دهغوذات په اعتبارسره نه ده نوڅرنګه چې ترشاتو ایستلو مخکی هغه مال نه دی ځکه یې بیع ناجائزه ده .
**فائده** :دامام محمد رحمه الله قول مفتی به دی لمافی الدّرالمختار:وبیاع دودالقزای لابریسم وبیضه ای بزره والنحل المحرزوهودودالعسل وهذاعندمحمد رحمه الله وبه قالت الثلاثة وبه یفتی عینی وابن الملک وخلاصة وغیرها(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار:۳/۱۲۳).
(۱۸)دامام محمد رحمه الله په نزددوریښمو دچینجواودهغودهګیوخرڅول جائزدی،ولی داداسی حیوان دی چې نفع ورنه اخیستله کیږی اودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدنه دی جائز،ولی دوریښموچینجې هم دنوروچینجواوحشراتوپه شان دي چې بیع یې ناجائزه ده اودوریښمودچینجودهګیوبیع ځکه نارواده چې هګی خپله قابل انتفاع نه دي بلکې دغیر(یعني چینجیانو) په اعتبارسره قابل داتنفاع دي اوهغه غیرفی الحال معدوم دی نوځکه یې دهګیوبیع هم ناجائزه ده .
**فائده** : دامام محمد رحمه الله قول مفتی به دی ځکه نومصنف رحمه الله هم جوازصراحتًابیان کړی دی لمافی الخلاصة الفتاوی وفی بیع دودالقزالفتوی علی قول محمد رحمه الله انه یجوز(خلاصة الفتاوی:۳/۳۲).

(۱۹)وَالآبِقِ الّاَاَن یبیعه ممن یزعم انه عنده(۲۰)وَلَبَنِ امرأة(۲۱)وَشَعرِ الخنزیرِ وینتفع به للخرز(۲۲)وَشَعرِ الانسان وَالانتفاع به.

**ترجمه** : اوبیعه جائزه نه ده دتښتیدلي مریي مګرداکه یې خرڅ کړپرهغه چاباندي چې ووایي مریی له ده سره دی،اودښځي دشیدوبیع جائزه نه ده اودخنزیردوینتانو ،اوفائده اخیستلای شي دخنزیرله ویښتانو دبوټوپه ګنډلوکی،اوبیع ناجائزه ده دانسان دویښتانو اوله جائزه نه ده له هغوڅخه ګټه اخیستل.

**تشريح** : (۱۹)قوله والآبق اى لايجوز ايضا بيع الآبق ،يعني كه دڅامريي تښتيدلى وونو دهغه خرڅول ناجائزدى ولى نبي كريم ﷺ له هغه څخه منع فرمايلې ده،همدارنګه پربائع باندى لازم دى چې مبيعه مشتري ته حواله كړي (وسپاري) په داسى حال كې چې دلته بائع دتښتيدلي مريي پرسپارلو باندي قادرنه دى ، البته تښتيدلى مريى پرداسي چاباندي خرڅول چې ووايې دامريى له ماسره موجوددى ،نودايياجائز دى،ولى په حديث شريف كې دمطلق تښتيدلى ذكرراغلى دى اوله مطلق څخه فردكامل مرادوي اوكامل تښتيدلى هغه دى چې دبائع اومشتري دواړوپه حق كې تښتيدلى وي په داسى حال كې چې دلته خودمشتري په حق كې مريى نه دى تښتيدلى اوپه دي وجه هم چې ددغه مريى مشتري ته تسليمول مقدوردى .

(۲۰)قوله ولبن امراة اى لم يجز بيع لبن امراة ،يعني كه ديوې ښځې شيدې په لوښى كې راايستل شوې وي نودهغوبيع ناجائزه ده ولى دښځى شيدې مال نه دى همدارنګه دښځى شيدې دانسان جزء دى اوانسان دخپلوټولواجزاوُپه اعتبارمحترم دى دهغه هرجزء له دې محفوظ دى چې ديبع په ذريعه ارزانه كړاى شي خرڅ كړاى شي،دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددآزادي ښځي اومنځي شيدې برابرې دي،دامام ابويوسف رحمه الله په نزددمنځي شيدې خرڅول جائزدى .

**فائده** : دامام ابوحنيفة رحمه الله قول ظاهر الرواية اوراجح دى لماقال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله :اطلقه فشمل لبن الحرة والامة وهو ظاهر الرواية .(البحر الرائق:۶/۸۰)

**فائده** :دامام شافعي رحمه الله په نزددښځي شيدې خرنګه چې پاک مشروب دى نوبيع يې جائزه ده،احناف جواب وركوي دښځې شيدى مطلق مشروب نه دى همدا وجه ده چې درضاع له مودې وروسته دښځې شيدې څښل حرامي دي ،له امام ابويوسف رحمه الله څخه مروى دى چې دمنځې شيدې خرڅول جائزدى دى جزء پركل قياسوي،مګرهغه ته جواب وركول شوى دى چې دشيدواومنځې ترمنځ فرق دى ولى دمنځې په ذات كې رقيت موجوددى په داسى حال كې چې په شيدوكې رقيت نشته ځكه رقيت په داسى محل كې وي چيرته چې آزادي متحققه وي اوآزادي هلته متحققه كيږي چيرته چې ژوندوي په شيدوكې ژوندنشته نوپه هغوكې رقيت اوآزادى هم نه شى متحقق كيداى نودشيدوبيع هم نه جائزه كيږي .

**فائده** :دضرورت په وخت ديوه انسان وينه بل انسان ته لګول هم رواده البته لاندينې شرطونه لري : ۱-له وينې علاوه په بله متبادله دوائي نه وي چې په هغى سره ناروغ ته دژوند اميدپيداشي ياصحت مندشى . ۲-يوماهرډاكټرپه دوينې له استعمال څخه لاچاري ښودلې وي ۳-خالص قوت ياجسمانى حسن په مقصودنه وي چې دادضرورت په درجه كې شى نه دى . ۴-همدارنګه كه يوه داسې دوائي موجوده وي چې دهغى په استعمال سرد دصحت امكان خووي مګردهغه دتاخيراندېښنه وي،په دغه صورت كې هم بهتره داده چې دوينى له استعمال څخه ځان وساتي،ولى په داسى صورت كې په حراموشيانوسره دعلاج په جائزكيدواونه جائزكيدوكې دفقهاوُترمنځ اختلاف دى .(جديدفقهى مسائل : ۱/ ۳۱۵)

**فائده** : ترکومه ځایه چې دوینې اخستلو خبره ده هغه خو دحاجت له مخې رواده مګر مسئله دوینې خرڅولو ده ،هغه نه ده جائزه دنبی کریم ﷺ صریح حدیث موجوددی چې هغه ﷺ دوینې له بیع څخه منع فرمایلې ده نو دوینې خرڅوونکی ګناهګاریږي او دهغه قیمت ورته حرام دی . (جدید فقهی مسائل :۱/ ۳۲۶)

**فائده** :حرام شیان مثلا بولې ،شراب وغیره دعلاج په ډول استعمالول هغه وخت جائزدی چې کله مریض ته یو مسلمان ،عادل او ماهرډاکتروو ایې چې ستادمرض لپاره له دغه حرام شي نه علاوه هیڅ یو مباح شی مفید نه دی لماقال شارح التنویر: وکذا کل تداو لایجوز الابطاهر وجوزه فی النهایة بمحرم اذا اخبره طبیب مسلم ان فیه شفاء ولم یجد مبا حایقوم مقامه قلت وفی البزازیة ومعنی قوله ﷺ ان الله لم یجعل شفائکم فیما حرم علیکم نفی الحرمة عند العلم بالشفاء دل علیه جواز شربه لازالة العطش وقال ابن عابدین الشامی رحمه الله یجوز للعلیل شرب البول والدم والمیتة للتداوی اذا اخبره طبیب مسلم ان شفائه فیه ولم یجد من المباح مایقوم مقامه الخ ,وحاصل المعنی حینئذ ان الله تعالی اذن لهم بالتداوی وجعل لکل داء دواء فاذا کان فی ذالک الدواء شئ محرم وعلمتم به الشفاء فقد زالت حرمة استعماله لانه تعالی لم یجعل شفائکم فیما حرم علیکم (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۲۷۵)

**فائده** :په دم او تعویذ سره هم یو ډول علاج کول کیږي ،په تعویذ کې چې اسمآء الله تعالی،قرآنی آیاتونه او ماثوره دعاګانې وي نو بیا جائزاو ثابت دی هغه ته ناجائز ویل جهالت دی ولې په داډول تعویذ کې مؤثر بالذات یو ائې الله تعالی ګڼل کیږي حاصل داچې دتعویذ دجواز لپاره لاندې شرطونه شته : ۱-لغت به یې مفهومه وي ۲-الفاظ به یې ماثور او منقول وي شرکیه الفاظ به نه وي ۳- دااعتقاد به یې نه وي چې تعویذ مؤثر بالذات دی ،وکان عبدالله بن عمر یعلمهن من عقل من بنیه ومن لم یعقل کتبه فاعلقه علیه . (ابوداؤد:۲/ ۹۷) حضرت عبدالله بن عمر ؓ خپلو زامنو ته چې په څه به پوهیدل معوذات ورزده کول او چې کوم زامن به یې واړه وو پوهیدل به نه لیکل به یې دهغوی په غاړه به یې ځړول . ۴-دکوم غیرشرعی مقصد لپاره به نه وي لکه دوو مسلمانانو ترمنځ دنفرت او عداوت پیدا کولو لپاره یا دکوم پردي سړي یا ښځې سره دناجائز تعلق لپاره تعویذ کول .

پاتې شوه داچې دتعویذ ځړولو عمل که څه خپله رسول الله ﷺ نه دی کړی خوله دې څخه داخبره ثابتول چې داعمل ناجائز دی،نه دی صحیح ،په پورتنی مذکور حدیث شریف کې دیوه صحابی ؓ عمل نقل کړای شوی دی چې ددغه عمل دجواز لپاره کافی دی هر شرعي عمل په روایت متواتره سره ثابتول ضروري نه دی،پردغه عمل باندې خپله اجرت جائزدی لکه په روایت کې چې تصریح راغلې ده،تفصیل یې په کتاب الاجاره کې تیر شوی دی خو دامستقل کسب ګرځول ددین دار و لپاره مناسب نه دی . (جدید معاملات کې شرعی احکام : ۳/ ۱۶۴)

(۲۱)قوله وشعرالخنزیرای ولم یجزایضابیع شعرالخنزیر،یعني دخنزیرو ویښتان خرڅول ناجائزدی،ولې دخنزیر ذات نجس دی نو دده دویښتانو دبیع په جائز بللو کې دده اعزاز دی په داسی حال کې چې خنزیر مستحق داهانت دی نو اهانة یې دویښتانو بیع ناجائزه ده ، البته دبوټونو ګنډلو لپاربنا برضرورة دخنزیر له ویښتانو څخه فائده اخیستل جائزه ده ولی داضرورت له کوم بل شي داستحکام په طریقه نه پوره کیږي .

**فائده** :نو که دداډول ضرورت لپاره بغیر اخیستلو نه پیدا کیدل نو دضرورت په وجه یې اخیستل هم جائزدی مګر دخرڅوونکي لپاره یې به هر حال خرڅول ناجائزدی دځینو علماؤ رایه داده چې بیع یې جائزه مګر مکروه ده

،دامام ابويوسف رحمه الله په نزديې دبوټونوګنډلو لپاره هم استعمال مكروه دى ولى داكاردخنزيرله ويښتانونه علاوه له بل شي څخه هم اخيستل كيداى شي ،دعلامه شامى رحمه الله آخرى تحقيق دادى چې كه چيرته دخنزيرله ويښتانونه علاوه په بل شي دبوټونوګنډلوضرورت پوره كيداى شواى (لكه نن سباچې په پلاستيک،څرمې،وړى وغيره سره داضرورت پوره كيداى شي) نودخنزيرله ويښتانوڅخه فائده اخيستل حرام دى قال فى البحر ظاهر كلامهم منع الانتفاع به عندعدم الضرورة بان امكن الخرزبغيره.(ردالمحتار:۴/۱۲۷)

**فائده** : كه په لږواوبوكې دخنزيرويښتان ولوېږي نودامام محمد رحمه الله په نزدنه ناپاكه كيږي،ولى دګنډلوپه كاركې داستعمال اجازه وركول دهغودپاكيدوعلامه ده ،په داسې حال كې چې دامام ابويوسف رحمه الله په نزداوبه ناپاكه كيږي ولى دبوټودګنډلولپاره اجازه وركول بناء برضرورت دى اوالضرورة تتقدربقدرالضرورة، نودګنډلوله كارنه علاوه په نوروكې هغه اجازه اثرنه كوي،دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :والصحيح الراجح قول ابى يوسف رحمه الله لان ماثبت للضرورة لايتعداهافلايجوزبيعهاويتنجس الماء بوقوعهافيه ومافى بعض الكتب من جوازالصلوة مع اكثرمن قدرالدرهم فمبنى على قول محمد رحمه الله المرجوح(هامش الهداية:۳/۵۸)

(۲۲)قوله وشعرالانسان،اى لم يجزبيع شعرالانسان،يعنې دانسان ويښتان خرڅول اوله هغوڅخه ګټه اخيستل ناجائزه ده ،ولى انسان دخپلوټولواجزاؤپه اعتبارمحترم دى نودهغه كوم جزء ذليل اوآرزان ګرځول استعمالول اوخرڅول يې ناجائزدى،همدارنګه دنبي كريم ﷺ ارشادمبارک دى چې :لعن الله الواصلة والمستوصلة (الله تعالى پرهغه ښځه چې ويښتان منښلوي اوپرهغه ښځه باندې چې ويښتان منښليدل غواړي لعنت كوي) نوله انسانى ويښتانوڅخه فائده اخيستل ناجائزه ده .

**فائده** : تردې مخكې يې دخنزيردويښتانوپه باره كې وويل چې په خرڅولوكې دهغه اعزازدى حال داچې خنزيرمستحق داهانت دى اودانسان دويښتانوپه باره كې يې وويل چې په خرڅولوكې دهغواهانت دى،په ظاهره ددې دواړوخبروترمنځ تعارض معلوميږي ولى يوشى يعنې بيع داعزاز اواهانت دليل څرنګه كيداى شي ؟ جواب : داممكنه ده چې ديوه شي يوامرته نسبت كول سبب داعزاز وي اودبل امرطرف ته نسبت كول يې موجب داهانت وي لكه پاچاچې دبيت الخلاء پاكوونكي اوقاضى دواړوته ووايې چې له خلكوسره يوځاى په درباركې كښېنئ نوداامرله دوئ دواړوڅخه ديوه (يعنې دبيت الخلاء دپاكوونكي) په حق كې اعزازدى اودهغه بل (يعنې قاضى ) په حق كې اهانت دى .

**فائده** : دانسانى اجزاؤدخريداوفروخت دحكم معلومولولپاره داضرورې ده چې دهغوداستعمال حكم معلوم كړاى شي، داعضاؤ(اندامونو) دپيوست كولوڅلورصورتونه دي : ۱-دكوم بل انسان يوجزء ،سترګه،زړه، بډوګى وغيره چې پيوندكړاى شي ۲-دخپل بدن دغوښې ياپوستكي يوه حصه چې راواخلى په بله حصه پورې يې پيونده كړي ۳-دبل انسان وينه استعمال كړاى شي ۴-ديوه حيوان سترګه يابل شى چې پيوندكړاى شي.

دانسانى اندامونودپيوندكارى زياتره صورتونه چې نن سباپه روغتونونوكې پېښيږي اودكومولپاره چې غوښتنې (اپيلونه) كيږي هغه دادي چې كوم انسان مري دكوم عارض په سبب ياپه يوجرم

کې دقتل کيدو په وجه له هغه څخه ددې خبرې اجازت واخيستل شي چې له مرګه وروسته دهغه فلانی اندام (عضو) کوم بل انسان ته ورلګول کيږي، دغه صورت په عامه توګه خلک جائزاو مفيد ګڼي او دا فکرکوي چې هسې خوهم دهغه ټول اندامونه فناکيدونکي دي له هغو څخه دې يو اندام ديوه ژوندي انسان پکارراشي او دهغه دمصيبت علاج دي وګرځي نوپه دې کې څه حرج دی ؟ تردې لا بله داچې زياتره خلک خپل اندامونه پخپل ژوند کې خرڅوي او ډير خلک دلاوارثه مړيو اندامونو راباسي بيايې خرڅوي .

څرنګه چې انسان دالله تعالى په نزد ډير محترم دی په ژوند کې خو قابل احترام وي مګرله مرګه پس هم دهغه احترام برقرارپاتې دی، دهغه وجه داده چې له انسان سره دهغه بدن ،اندامونه او جوارح دادالله تعالى يو امانت دی ،نوده ته ددې اجازت نشته چې دااندامونه تلف کړي اونه ورته دخرڅولو اجازت شته له همدې وجه نه خودکشي کول حرامه ګڼل شوې ده اوفرمايلي يې دي چې څوک خودکشي کوي ترقيامته پورې به په هغه عذاب کې مبتلاوي ،چې کله انسان دخپلو اعضاؤ مالک نه دی نو دی اندامونه نه خرڅولای شي نه يې هبه کولای شي نه دهغو وصيت کولای شي اوکه څوک وصيت وهم کړي نو داوصيت په غيرملک کې دی په دې وجه شرعًا باطل دی په هغه سره عمل کول حرام دی .

خلاصه داچې دبل انسان اعضاء ځان ته لګول ناجائزدی ددغه مقصد لپاره داعضاؤ خريد وفروخت هم حرام دی اوپردغوباندې دپه لاس راغلوپيسو استعمال هم حرام دی :روی عن ابی امامة بن سهل بن حنيف ﷜ ان النبی ﷺ داوی وجهه يوم احد بعظم بال، فيه دليل جواز المداواة بعظم بال وهذا لان العظم لايتنجس بالموت على اصلنا لانه لاحياة فيه الاان يكون عظم الانسان اوعظم الخنزيرفانه يكره التداوی به لان الخنزيرنجس العين فعظمه نجس كلحمه لايجوزالانتفاع به بحال والآدمی محترم بعدموته على ماكان عليه فی حياته فكمالايجوزالتداوی بشیٔ من الآدمی الحی اكراماله فكذالک لايجوزالتداوی بعظم الميت قال رسول الله ﷺ كسرعظم الميت ككسرعظم الحی . (شرح السيرالكبير: ۱/ ۸۸) الانتفاع باجزاء الآدمی لم يجزقيل للنجاسة وقيل للكرامة هوالصحيح كذافی جواهرالاخلاطی (عالمګيريه: ۱/ ۳۵۴)

۲-همدارنګه دوهم صورت هم چې مريض دخپل بدن ديوې حصې څخه غوښه راوباسي په بل ځای پورې يې متصله کړي دامعمول ګرځيدلی دی داهم ناجائزدی . ۳-ديوه حيوان سترګه،زړه ، بډوګی وغيره لګول په دې شرط سره جائزکيږي چې هغه ديوه حلال حيوان وي لکه ،پسه،غويی يا داسې نور ،ددغه مقصد لپاره داعضاؤ اخيستل هم جائزدی . ۴-وينه دانسان جزء دی اوچې کله وايستله شي نو نتجـه هم ده دانسان دجزئيت په حيثيت سره دهغې مثال دبنځې دشيدو په شان دی،چې دهغو استعمال دعلاج لپاره فقهاؤ جائزکړی دی . (فتاوی عالمګيريه طبع مصر: ۴/ ۱۱۲)

په کوموصورتونو کې چې دوينې استعمال جائزدی دهغولپاره وينه ورکول هم جائزدی البته وينه خرڅول ناجائزدی که څوک دوينې اخيستلوته مجبورشي نواضطرارپه حالت کې اخيستل ورته جائزدی خود خرڅوونکي لپاره دهغوروپو استعمال حرام دی .(جديد معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۹۴) .

(۲۳) وَجِلْدُ الْمَيْتَةِ قَبْلَ الدَّبْغِ (۲۴) وَبَعْدَهُ يُبَاعُ وَيُنْتَفَعُ بِهِ كَعَظْمِ الْمَيْتَةِ وَعَصَبِهَا وَصُوفِهَا وَقَرْنِهَا وَوَبَرِهَا (۲۵) وَعُلْوٍ سَقَطَ (۲۶) وَالْمُسِيلِ وَهِبَتِهِ .

**ترجمه**: او نه ده جائزه دمرداري دپوستکي (څرمن) تردباغت مخکې اوله دباغت وروسته خرڅیدلای شي اوکټه ورځنې اخیستل کیدای شي لکه دمرداري له هډونو، پلو، وړیو، ښکرونواوازغنوڅخه اوبیع جائزه نه ده دبالاخانې چې رنګه شوې وي اوداوبو بهیدلوځای اودهغه هبه کول.

**تشریح**: (۲۳) قوله وجلد المیتة ای ولم یجز ایضا بیع جلد المیتة، یعني دمردارحیوان پوستکي تردباغت مخکې خرڅول ناجائزدي ولې تردباغت مخکې دانتفاع (ګټې اخیستو) قابل نه دی لقوله ﷺ لاتنتفعوا من المیتة باهابها (دمردارله پوستکي څخه نفع مه اخلئ) اهاب غیرمدبوغ پوستکي ته وایي.

**فائده**: څرنګه چې دپوستکي نجاست دمرداري دغوښې په شان اصلي دی نوځکه ورځنې هیڅ قسم فائده اخیستل صحیح نه دی ترڅوپورې چې پخه نه کړای شي خلاف له مرداروغوړو اومرداروکپړو اونوروچې دهغوبیع جائزه ده اوله هغوڅخه دخوراک نه علاوه فائده اخیستل صحیح دی ولې ددغوشیانونجاست اصلي نه دی عارضي دی لمافي الدر المختار: وفي المجمع نجیز بیع الدهن المتنجس والانتفاع به في غیر الاکل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار: ۴/۱۲۸)

(۲۴) البته له دباغت وروسته دهغه خرڅول اوله خوراک نه علاوه کومه بل ګټه ترې اخیستل جائزدي ولې اوس داپاک دی لکه دمرداري هډونه، پلې، وړۍ، اوښکرونه چې استعمال یې جائزدی همدارنګه داوښې وړۍ استعمالول جائزدی ولې داشیان پاک دي ځکه چې دمرداري په نوروااجزاؤکې موت حلول کوي ځکه نونجس کیږي په داسې حال کې چې دااجزاء داسې دي چې پکې موت حلول نه کوي ولې په دوئ کې شرعًا حیوة نشته اوپه کوم شی چې حیاة نه وي په هغه کې موت حلول نه کوي نو دحیوان دغه اجزاء دعدم حلول موت په وجه نجس هم نه دي، دامام شافعي رحمه الله په نزددمرداري دمذکورواجزاؤبیع اوله هغوڅخه فائده اخیستل ناجائزه ده ولې مرداره نجسه ده نواجزاء یې هم نجس دي.

(۲۵) قوله وعلو سقط ای لم یجز بیع علو سقط، که چیرته لاندې سرای دیوچاوپرهغه باندې بالاخانه دبل چاوه بیاهغه بالاخانه رنګه شوه اودبالاخانې مالک خپل حق خرڅ کړنوداناجائزه ده ولې بالاخانه جوړول دهغه حق دی اوداحق مال نه دی په داسې حال کې چې دبیع محل مال وي البته دبالاخانې رنګیدوڅخه مخکې دهغې بیع جائزه ده ولې تعمیرقائم دی اوتعمیرمال دی نودهغه بیع هم جائزه ده.

(۲۶) قوله والمسیل وهبته ای لایجوز بیع المسیل وهبته، یعني داوبوبهیدولاره خرڅول اوهبه کول ناجائزدی، ددې مسئلې دوه صورتونه دي، یوداچې عین مسیل خرڅ کړي یعنې هغه ځمکه خرڅه کړي چې اوبه پرې بهیږي داناجائزه ده ولې داوبوبهیدوځای مقدارمعلوم نه دی نودمبیعه دمجهول کیدوپه وجه دابیع ناجائزه ده، البته داوبوبهیدوځای مقدارمتعین کړي بیاجائزدی ولې بیاخومبیعه مجهوله نه ده، دوهم صورت یې دادی چې داوبوتیریدوحق خرڅ کړي دزیادات دروایت مطابق داهم ناجائزدی ولې دامحض حق دی اوتنهادحقوقوبیع نه ده جائزه.

**فائده**: خوفتوی پردې باندې ده چې داوبوتیریدوحق خرڅول هم جائزدی لمافي الدرالمختار: وصح بیع حق المرور تبعا للارض بلاخلاف وحده في روایة وبه اخذ عامة المشائخ وفي اخری لا وصححه ابوالليث، قال ابن عابدین الشامي رحمه الله (قوله وبه اخذ عامة المشائخ) قال السائحاني وهو الصحیح وعلیه الفتوی مضمرات والفرق بینه وبین حق التعلي حیث لایجوز هو ان حق المرور حق یتعلق

برقبة الارض وهي مال هو عين فمايتعلق به له حكم العين اما حق التعلي فمتعلق بالهواء وهو ليس بعين مال (الدر المختار مع الشامية: ۴/۱۴۲) والتفصيل في فقهي مقالات للشيخ محمدتقي العثماني دامت بركاتهم: ۱/۸۷)

**فائده**: مولانا خالد سيف الله رحماني صاحب دهندوستان له مشهورو علماؤ څخه دی په ډيرو داسي مسائلو کي نرمي اختيار وی چي هغه علماء ناجائزې ګڼي، دحقوقو دخريد و فروخت په باره کي دهغه يو مضمون خپله دده په الفاظو کي نقل کوم: دی فرمايي: دحقوقو په باره کي تفصيل دی ځيني حقوق مجرده دي چي خرڅولي ناجائزدی او ځيني حقوق غيرمجرده دي چي اخيستل خرڅولي جائزدی، مولاناصاحب فرمايي: زما په نظر دحقوقو دوه تقسيمه دي ۱-اول دادی چي هغه حقوق چي په داسي محل پوري متعلق نه وی چي هغه دحس په ذريعه درک کيدلای شي لکه حق دمشوري، داحقوق مجرده دي، او کوم حق چي په داسي محل پوري متعلق وي چي محسوس وي او مادي وجود ولري هغه غيرمجرده حقوق دي، مثلا حق دقصاص داد قاتل په ذات کي ثابت دی او دمقتول وارث له دي څخه دستبردار کيدای شي پردغه تقسيم دځينو فقهاؤ تصريحات هم شاهد دي، صاحب هدايه ديوه روايت مطابق دحق مرور دبيع دصحيح والي داوجه ويلي ده: اماحق المرور متعلق بعين تبقى وهوالارض فاشبه الاعيان.

۲-دحقوقو دوهم تقسيم هغه دی چي مولانامحمدتقي عثماني دامت بركاتهم کړی دی چي خلاصه يې داده چي ځيني حقوق خالص ددفع ضررلپاره ورکړل شوي دي په داسي حال کي چي انسان ته اصلاداحقوق نه وو پکار چي حاصل شي مثلاحق دشفعه، حق دحضانت (پرورښت) پرخاونددښځي حق دعدل، او داسي نور داحقوق ضرورتًا انسان ته ورکول کيږي ځکه چي که چيرته يو څوک له دغو حقوقو څخه دستبردار کيږي نو داددي خبرې علامه ده چي هغه دي حقوقو ته اړتيانه لري، نو ځکه اوس هغه ددغو حقوقو په باب کي حقدارپاتې نه شو، ددغسي حقوقو نه خريد و فروخت صحيح دی اونه په کوم بل ډول دهغو عوض وصولول جائزدی، علامه شامي رحمه الله دموصی له دحق خدمت او دشفيع دحق شفعه ترمنځ په فرق بيانوسره پردي نکته باندي رڼا اچولي ده: وحاصله ان ثبوت حق الشفعة للشفيع وحق القسم للزوجة وكذالك حق الخيارفي النكاح للمخير انماهو لدفع الضرر عن الشفيع والمرأة ومالبت لذالك لايصح الصلح عنه واماحق الموصى له بالخدمة فليس كذالك بل ثبت له على وجه البر والصلة فيكون ثابتاله اصالة فيصح الصلح عنه اذانزل عنه لغيره.

دوهم قسم حقوق هغه دي چي دشرعي حكم ياعُرف پربناء چي دشريعت له عمومي مصالحو سره مطابق لري اصالة ديوچا لپاره ثابت وي داهم دوه قسمه دي ځيني هغه دي چي له يوچاڅخه بل چاته منتقل کيدای شي ځيني هغه ډول دي چي له يوچاڅخه بل چاته نه شي منتقل کيدای په دغه دوهم صورت کي خريد وفروخت نه شي کيدای چي دبيع لپاره انتقال مِلک ضروري دی او داحقوق قابل دانتقال نه دي البته دصلح اوتنازل په طريقه دهغو عوض وصولولای شي ددغو حقوقو دبيع نه رواکيدو دليل هغه حديث شريف دی چي په هغه کي نبي کريم ﷺ دحق ولاء له خرڅولو او اخيستلو او دهغه له هبه کولو څخه منع فرمايلې ده، او دتنازل بالصلح په ذريعه دعوض وصولولو دليل قصاص او خلع ده، په کوم کي چي دمقتول وارث دقصاص

له حق او دخاوند پر ښځه باندي د ملکيت نکاح له حق ځنځه دخپل منځي طی شوي عوض په بدله کي خلاصيدلای شي او داد شريعت له مسلماتو او د فقهاؤ له متفقاتو ځخه دی.

پاتی شول هغه حقوق چي انتقال يي ممکن دی هغه د مال په حکم کي دي او د هغو اخيستل او خرڅول صحيح دی هرڅومره که مولاناصاحب حقوق شپږ قسمه کړي دي مګر د حکم په لحاظ سره د هغو ماحصل همدادري قسمونه دي: ضروري حقوق، اصلي حقوق قابل د انتقال، اصلي حقوق غير قابل د انتقال، واقعاً د مولانا عثماني دامت برکاتهم تقسيم ډير جامع، چسپ، او پر فقهي نظائرو او شواهدو مبنی دی.

دحقوقو او منافعو د بيع کوم صورتونه چي په اوسنۍ زمانه کي رواج شوي دي هغه دادي، خلو يعنی دحق اجاره بيع، چي په پګړی سره تعبيريږي، حق ايجاد، حق تاليف، رجسټر مارک، اودنومونو بيع. دفضا بيع، له تجارتي لائسنس ځخه د استفادي موقع ورکول. (جديد فقهی مسائل: ۴/ ۱۶۴)

**فائده**: خلاصه داچي کوم حقوق خالص د دفع ضرر لپاره دي د هغونه بيع صحيح ده اونه يي عوض اخيستل، کوم حقوق چي اصالةً ثابت وي او انتقال يي هم کيږي هغه له قبيل د مال ځخه دي او کوم حقوق چي اصالةً ثابت وي د انتقال قابل نه وي او بالعوض له هغو ځخه تنازل معروف او رواج شوی وي له هغو ځخه تنازل بالعوض جائز دی، د تاليف حق د ناشر او مصنف دواړو په حق کي د مال په منزله دی د هغه خرڅول او اخيستل صحيح دی او بي له استحقاقه چاپول د غصب کړای شوي مال ځخه د فائدي اخيستو په حکم کي دی او قابل ضمان دی، حق خلو (پګړی) خرڅول صحيح دی اود امنفقه، قبضه، ياحق اجاره د تل لپاره خرڅول دی، د رجسټر نوم او تجارتي نښانونه خرڅول جائز دی په دي شرط چي د ملک د تبديلي اظهار هم وکړای شي چي بيادوکه او غررنه وي (نو که لائسنس په يو شخص معين پوری متعلق وي او قانوناً له هغه ځخه استفاده کيدلای شي په داسي صورت کي کوم بل چاته د لائسنس منتقل کولو اجازه نه لري) د فضاء بيع د احنافو د روايت مطابق جائزه نه ده د مالکيه وُ په نزد جائزده او د عرف او رواج پر بناء د مالکيه وُ مسلک ته دعدول کولو لاره شته. (جديد فقهی مسائل: ۴/ ۱۷۵)

(۲۷) وَاَمَةٍ تَبَيَّنَ اَنَّهُ عَبْدٌ وَكَذَا عَكْسُهُ (۲۸) وَشِرَاءُ مَا بَاعَ بِالْاَقَلِّ قَبْلَ النَّقْدِ (۲۹) وَصَحَّ فِيْمَا ضُمَّ اِلَيْهِ

**ترجمه**: او د منځي چي دا معلومه شي چي مريی دی همدارنګه د هغه عکس او اخيستل د هغه شی چي خرڅ شوی وي په کمه قيمت تر وصولی مخکی او صحيح دی په هغه کي چي هغه ته ورضم شوی وي.

**تشريح**: (۲۷) قوله وامة تبين انه عبد اي لايجوز بيع امة تبين انه عبد، يعني که چا منځه خرڅه کړه بيا وروسته معلومه شوه چي هغه منځه نه بلکي مريی دی نو دا بيع نه ده صحيح مثلاً مريی پر ځان کيږه اچولي وه مالک دخپلي خيال پري وکړ د منځي په نامه يي خرڅ کړو وروسته يي چي وکتل هغه مريی وو نو دا بيع فاسده ده، همدارنګه که ددي عکس وي يعني مريی يي خرڅ کړ هغه منځه وخته نو دا بيع هم نه ده صحيح ولی مذکر او مؤنث په بنی آدم کي دوه مختلف جنس دي نو ددوئ په مقاصدو کي ډير زيات تفاوت دی او دا چي مقاصد ډير مختلف وي هغه مختلف الاجناس دي او اصول دادي چي په مختلف الجنس کي که اشاره او مسمّی دواړه سره يو ځای شي نو عقد د مسمّی سره متعلق کيږي او د لته په اول صورت کي مسمّی منځه ده او مشار اليه مريی دی نو عقد له

منځی سره متعلق کیږی او منځه نامعلومه ده نو دمعدوم والي په وجه دا بيع باطله ده همدا تفصيل په دوهم صورت کې هم دی . او که په متحد الجنس کې اشاره او مسمّی دواړه سره راشي نو عقد د مشار اليه سره متعلق کيږي مثلا بزې ته يې اشاره وکړه ويې ويل چې دا مېږه پرتا باندې خرڅوم، نو ځرنګه چې مړا و بزه متحد الجنس دي نو عقد د مشار اليه سره متعلق کيږی او مشار اليه دلته بزه ده چې موجوده هم ده ځکه نو دا بيع صحيح ده .

(۲۸) قوله وشراء ما باع قبل النقد اى لايجوز شراء ما باع بالاقل قبل النقد، يعني که چا يو شی خرڅ کړله مشتري څخه د قيمت تر وصوليدو مخکی همدغه مبيعه بائع له مشتري څخه د خرڅلاو تر قيمت په کم قيمت واخلي مثلا دوه تانه يې په لس روپۍ خرڅ کړل له مشتري څخه يې لاهغه قيمت نه و وصول کړی چې بيرته يې هغه تان له مشتري څخه په پنځه روپۍ واخيست نو دا بيع ناجائزه ده ولی يو ښځی حضرت عائشې ﷺ ته وويل چې له مازيد بن ارقم ﷺ څخه يو منځه په اته سوه درهمه په قرض تر هغه وخته پوري واخيسته چې کله له بيت المال څخه وظيفه راکوله شی نو به يې قيمت اداکوم، بيا مودې ترپوره کيدو مخکی ماهغه منځه پر زيد بن ارقم S باندې په شپږ سوه درهمه خرڅه کړه ،حضرت عائشې ﷺ ورته وفرمايل چې تا ډير بد خريد و فروخت کړی دی زيد بن ارقم ﷺ ته زما دا پيغام ورورسوه چې که دی توبه ونه کاږي نو ده چې له نبي کريم ﷺ سره کوم حج او جهاد کړی دی الله تعالى به هغه باطل کړي، د حضرت عائشې ﷺ دومره سخت وعيد بيانول ددغه عقد د فساد دليل دی،همدارنګه په دغه صورت کې بائع ته خپله مبيعه صحيح سلامت په لاس ورغله زيات پرهغه پنځه سوه روپۍ بيله څه عوضه ورپاتيږي او بلاعوض زيادت ربوا وي نو دا بيع پر ربوا باندې دمشتمل کيدو په وجه ناجائزه ده .

**فائده** :دامام شافعی رحمه الله په نزد مذکوره بيع جائزه ده ولی چې کله مشتري مبيعه قبض کړه نو دده ملک پوره شو ځکه ملک په قبض کولو سره پوره کيږي او دملک له پوره کيدو وروسته پرغير دبائع خرڅول جائزدی نو پر بائع باندې يې هم خرڅول جائزدی،همدارنګه دسابقه قيمت برابر يا تر هغه په زيات ياد سامان په عوض پر خپل بائع باندې خرڅول جائزدی نو تر هغه په کم قيمت خرڅول پر خپل بائع باندې هم جائزدی .

(۲۹) البته که مشتري په مبيعه کې اضافه وکړه مثلاله دغو دوو تانو سره يې يو بل دريم تان هم ملګری کړ بيا يې په سابقه قيمت يا تر هغه په کم پر بائع باندې خرڅ کړ نو په دغه دريم تان کې بيع صحيح ده په اولو دوو کې ناجائزه ده په اولو دوو کې دناجائزه کيدو وجه يې هماغه ده چې پورته بيان شوې ده،ځرنګه چې د دريم تان په بيع کې هيڅ مفسد نشته نو په ده کې بيع جائزه ده ،په اولو دوو کې چې کوم فساد راغلی دی هغه دغه دريم ته سرايت نه کوي ولی په اولو دوو کې تالو کې فساد ضعيف او کمزوردی او ضعيف فساد بل شی ته نه متعدي کيږي په اولو دوو کې فساد ضعيف په دي وجه دی چې دهغه په فساد کې دمجتهدينو اختلاف دی ولی دامام شافعی رحمه الله په نزد جائزدی او په کوم شي کې چې دمجتهدينو اختلاف وي دهغه فساد کمزوروي

(۳۰) وَزِيْتٍ عَلٰى اَنْ يَزِنَه بِظَرْفِه وَيَطْرَحَ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ ظَرْفٍ خَمْسِيْنَ رِطْلًا (۳۱) وَصَحَّ لَوْ شَرَطَ اَنْ يَطْرَحَ عَنْهُ بِوَزْنِ الظَّرْفِ (۳۲) وَاِنِ اخْتَلَفَا فِى الزِّقِّ فَالْقَوْلُ لِلْمُشْتَرِى (۳۳) وَلَوْ اَمَرَ مُسْلِمٌ ذِمِّيًّا بِشِرَاءِ خَمْرٍ اَوْ بَيْعِهَا صَحَّ (۳۴) وَ اَمَةٍ عَلٰى اَنْ يُعْتِقَ الْمُشْتَرِى اَوْ يُدَبِّرَ اَوْ يُكَاتِبَ

أَوْ يَسْتَوْلِدَ(۳۵)أَوِ الاَّ خَمْلَهَا(۳۶)أَوْ يَسْتَخْدِمَ الْبَائِعُ شَهْرًا أَوْ دَارًا عَلٰى أَنْ يَسْكُنَ أَوْ يُقْرِضَ الْمُشْتَرِىْ دِرْهَمًا أَوْ يُهْدِىْ لَهٗ أَوْ لَا يُسَلِّمَهٗ إِلٰى كَذَا(۳۷)أَوْ ثَوْبٍ عَلٰى أَنْ يَقْطَعَهُ الْبَائِعُ وَيَخِيْطَهٗ قَمِيْصًا.

**ترجمه** :اونه ده جائزه دزيتون (تيلو) بيع په دي شرط چې دی (مشتري) به يې پخپل لوښي سره وزن کوي اوله هغوڅخه به دهرلوښي په عوض کې پنځوس رطله کموي اوصحيح ده که يې داشرط کړچې کموي به يې له هغوڅخه دهرلوښي دوزن په اندازه،اوکه دواړودزي (ګوډي) په وزن کې اختلاف راغی نوقول دمشتري معتبريږی اوکه امرکړيوه مسلمان ذمي دشرابوپه اخيستلويا خرڅولو سره نوصحيح ده اونه ده جائزه بيع دمنځې په دي شرط چې مشتري به هغه آزادوي يابه يې مدبره يامکاتبه ياام ولده ګرځوي،يابه خرڅوي منځه مګرنه دهغی حمل ، يابه بائع تريوې مياشتې پوري له هغی څخه خدمت اخلي ،اوجائزه نه ده دسرای بيع په دي شرط چې په هغه کې بائع اوسيږي يابه قرض ورکوي مشتری څه درهم يابه بائع ته هديه ورکوي يابه يې دومره وخت نه سپاري ومشتري ته،اوجائزه نه ده بيع دکپړي په دي شرط سره چې دابه بائع پريکوي اوقميص به تري نه ګنډي.

**تشريح** : (۳۰)قوله وزيت على ان يزنه بظرفه،اى لايجوز بيع زيت على ان يزنه بظرفه،يعني دانه ده جائزه چې زيتون تيل په دي شرط خرڅ کړي چې دابه دمشتري په لوښي سره وزن کوي يابه په هرتول کې دلوښي په بدله کې يومعين مقدارمثلاً پنځوس رطلونه کموي په داسی حال کې چې دلوښی وزن معلوم نه دی ولی کيدای شي چې دلوښي وزن ترپنځوس رطله کم يازيات وي نودداسي شرط په وجه چې هغه دمقتضی عقدخلاف دی دابيع فاسده ده .

**فائده** :ددغی بيع دتصحيح يوه ييله حيله داهم کيدای شي چې دلوښي دوزن کيدوڅخه وروسته عقدوکړي مثلاً له وزن کيدوڅخه وروسته بائع ووايې چې په دغه لوښي کې چې څومره زيتون تيل دي هغه زه پرتاددومره روپوپه عوض خرڅوم اومشتري هغه قبول هم کړي نودابيع صحيح کيږي لمافى ردالمحتار:والحيلة فى جوازه ان لايعقدالعقدالابعدوزنه تحريا للصحة فيقول بعدالوزن بعتک مافى هذاالظرف بكذا ويقول الآخر قبلت فيكون هذامن بيع الجزاف وهو الصحيح. (ردالمحتار:۴/ ۱۳۰)

(۳۱)البته که چيرته يې زيتون تيل په دي شرط باندي خرڅ کړل چې دلوښي چې څومره وزن وي په هغه حساب به ورڅخه کميږي نوځکه چې داشرط له مقتضی دعقدنه خلاف نه دی نودابيع جائزه ده ولی وروسته دي لوښی وزن کړي دوزن په اندازه تيل دي کم کړي په دي ډول مبيعه له غيرمبيعه څخه جلاکول ممکن دی نوداصورت جائزدی .

**فائده** :دمقتضی عقدمطابق شرط هغه دی چې بلاشرطه خالص په عقدسره واجب وي لکه دمبيعه دتسليم شرط لګول يادثمنودتسليم شرط لګول چې دابلاشرطه خالص په عقدسره هم واجبيږي اودعقدمقتضی خلاف شرط هغه دی چې بيله شرطولونه په خالص عقدبيع سره نه واجبيږي .

(۳۲)که دمشتري اوبائع د زي (ګوډي) (زی هغه ظرف دی چې پکې تيل ،غوړي اونورشيان ساتل کيږي ) په وزن کې اختلاف راغی مثلاً بائع غوړي په زئي کې وزن کړل وريې کړل مشتري زی خالي کړواپس

يې ورکړاوس بائع وايې چې په کوم زي کې چې ماتيل وزن کړي ووهغه دپنځورطلو برابروواودادلسورطلوسره برابردی اومشتري وايې چې نه هغه له لسورطلوسره برابروو، نوقول دمشتري معتبرېږی ولی مشتري قابض دی اودګواه نه درلودلوپه صورت کې دقابض قول سره له يمينه معتبرېږي .

(۳۳)که يومسلمان ذمي ته دشرابواخيستلويا خرڅولوامروکړيعنې ذمي يې وکيل وګرځاوه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددا جائزدی اودصاحبينو رحمهما الله په نزدنه دی جائزولی کوم کارچې مسلمان خپله نه شي کولای دهغه کارلپاره وکيل هم نه شي مقررکولای اوکوم حکم چې دوکيل په واسطه ثابتېږی هغه دموکل طرف ته منتقلي کيږی نوګواکې موکل خپله داخريدوفروخت کړی دی نودانا جائزدی، دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې وکيل پخپل اهليت اوولايت سره عقدکوي اوپه نصراني کې اهليت دتصرف موجوددی دموکل طرف ته يواځې دهغه شي ملکيت منتقل کيږی اودملکيت منتقل کيدل يوامرحکمی اوشرعی دی يعنې په غيراختياري شکل سره ثابتيږي اوپه غيراختياری شکل سره ثابتيدونکی ملکيت دا سلام په وجه نه ممنوع کيږی ولی داداسي دی لکه يومسلمان چې شراب په ميراث باندي وموومي نودا سلام په وجه ممنوع نه دي البته اوس دي له هغوڅخه سرکه جوړه کړي .

**فائده** :دصاحبينو رحمهما الله قول راجع دی لماقال شارح التنوير:اوامر المسلم ببيع خمراوخنزيراوشرائهماای وکل المسلم ذميااوامرالمحرم غيره ای غيرالمحرم ببيع صيده يعنی صح ذالک عندالامام مع اشدکراهة کماصح مامزلان العاقدينصرف باهليته وانتقال الملک الی الآمرامرحکمی وقالالايصح وهوالاظهرشرنبلالية عن البرهان. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار:۴/۱۳۵)

**فائده** :همدارنګه که يوه مسلمان بل غيرمسلم څوک دخنزيراخيستلووکيل وګرځاوه يايومحرم له احرام ترلوڅخه مخکی ښکارکړی وواوس يې له احرام ترلووروسته دښکارخرڅولولپاره بل غيرمحرم وکيل وګرځاوه نوپه دي دواړوصورتوکې هم دصاحبينو رحمهما الله اوامام ابوحنيفة رحمه الله ترمنځ پورتنی مذکوراختلاف دی ،دصاحبينو رحمهما الله قول راجح دی (پورتنی حواله)

(۳۴)قوله وامة علی ان يعتق المشتری ،ای لم يجز ايضا بيع امة علی ان يعتق المشتری،يعنې که يوڅامنځه په دي شرط خرڅه کړه چې مشتري هغه آزادوي يايې مدبره ګرځوي يايې مکاتبه ګرځوي يايې منځه په دي شرط خرڅه کړه چې مشتري به هغه أم ولده ګرځوي نودابيوع فاسدي دي ،ولی په دغوبيوعوکې بيع مع الشرط ده ،اوله بيع مع الشرط څخه نبي کريم ﷺ منع فرمايلی ده ،همدارنګه په دغوبيوعوکې داسي شرط لګول شوی دی چې بيع دهغه مقتضي نه ده اوداقاعده ده چې په بيع کې داسي شرط لګول چې عقديې مقتضي نه وي اودمتعاقدينويامبيعی (په دي شرط چې له استحقاق څخه وي يعنې يوانسان وي) په هغه کې فائده وي نوپه داسي شرط لګولوسره بيع فاسديږي ځکه په بيع کې ثمن دمبيعه مقابل وي يعنې دمبيعی کل عوض ثمن وي نواوس داسي شرط لګول چې په هغه کې مثلا دبائع فائده وي داشرط خوله عوض نه خالي اوزائدشواوداسي زيادت چې له عوض څخه خالي وي په سودکې شمارل کيږي هغه چې ناجائزدی،نوکوم عقدچې پرسودباندي مشتمل وي هغه هم ناجائزګرځي .

**فائده** :داسی شرط چې دمقتضی عقدخلاف وي په کوم کې چې له متعاقدينوڅخه ديوه فائده وي که په عرف عام کې هغه رواج شوی وي مثلاکه چيرته بوټونه په دي شرط سره خرڅول په عرف عام کې رواج وي چې بائع

به په هغوکې تسمي هم لګوي نو دعرف عام په وجه دابيع نه فاسديږي ولې په عرف عام سره ثابت له دليل شرعي څخه ثابت ګڼل کيږي لقوله ﷺ ماراه المسلمون حسنافهو عندالله حسن . (يعنې کوم شی چې عام مسلمانان خوښ اوښه وګڼي هغه دالله تعالی په نزد هم خوښ دی) .

(۳۵) قوله والاحملها اى لم يجز بيع الامة الاحملها ،يعنې که چامنځه خرڅه کړه يايې حيوان خرڅ کړاو دهغه حمل يې مستثنی کړچې ددې حمل نه خرڅوم نودابيع فاسده ده ولې داقاعده ده چې دکوم شی انفرادًا (يواځې) خرڅول نه وي صحيح دهغه له عقد څخه استثناء هم نه ده صحيح او حمل له هغې قبيلې څخه دی چې انفرادًايې خرڅول نه دی صحيح ولې حمل دحيوان اومنځې له اجزاؤ څخه شمارل کيږي او دحيوان اجزاء انفرادًا خرڅول نه دی صحيح نو حمل خرڅول هم انفرادًا نه صحيح کيږي .

**فائده** :له عقد څخه داستثناء حمل درې مرتبې دي يوه داده چې په استثناء سره عقد او استثناء دواړه فاسديږی لکه په بيع، اجاره، رهن او کتابت کې دحمل په مستثنی کولوسره عقد او استثناء دواړه فاسديږي دوهمه مرتبه داچې په استثناء سره يواځې استثناء باطليږي عقد صحيح پاتيږی لکه په هبه، صدقه، نکاح، خلع او صلح عن دم عمد کې دحمل په مستثنی کولوسره استثناء باطليږی عقد صحيح پاتيږی مثلاً منځه هبه کړي حمل يې مستثنی کړي ،په دغو عقودوکې حمل دمورتابع وي، دريمه مرتبه داده چې عقد او استثناء دواړه صحيح کيږي لکه په وصيت کې چې ديوچالپاره دمنځې وصيت وکړي او دهغې حمل مستثنی کړي نو وصيت هم صحيح دی او استثناء هم ،نو منځه دموصی له کيږي او حمل يې دورثه ؤدی .

(۳۶) همدارنګه که چيرته يوچامريی په دې شرط خرڅ کړچې يوه مياشت به دبائع خدمت کوي، يوه مياشت وروسته به يې مشتري ته حواله کوي، يايې سرای په دې شرط خرڅ کړچې يوه مياشت به بائع پکې اوسيږي يوه مياشت وروسته به يې مشتري ته تسليموي يايې په دې شرط خرڅ کړچې مشتري به بائع ته څو درهمونه قرض ورکوي، ياپه دې شرط سره چې مشتري به بائع ته يو شی هديه ورکوي ،يايې يو شی په دې شرط خرڅ کړچې بائع به هغه مشتری ته تريوې مياشتې پورې نه ورکوي نو دابيع داټول صورتونه فاسد دي ولې نبي کريم ﷺ له بيع مع الشرط څخه منع فرمايلې ده، په داسې حال کې چې مذکوروتولويوعوکې داسې شرط دی چې پکې داحدالمتعاقدين فائده شته، همدارنګه که دخدمت ياسکونت په مقابله کې څه پيسې وي نوبياخودااجاره شوه او که نه وي نواعاره شوه، نوداپه عقدبيع کې اجاره او اعاره شوه په داسې حال کې چې نبي کريم ﷺ له صفقتين فی صفقة څخه منع فرمايلې ده .

(۳۷) قوله وثوب على ان يقطعه البائع اى لم يجز بيع ثوب الخ ،يعنې که چاپه دې شرط کپړه واخيسته چې بائع به هغه پريکوي قميص به ترې جوړوي نودابيع فاسده ده ،ولې په دې کې يې داسې شرط (يعنې پريکول اوقميص جوړول ) لګولی دی چې عقد دهغه مقتضي نه دی چې داحدله متعاقدينو فائده هم پکښې ده په داسې حال کې چې بيع مع الشرط ممنوع ده کمامر.

(۳۸) وَصَحَّ بيع نَعْلٍ عَلَى أن يَحذوه أو يُشرِّكه (۳۹) لا البيعُ الى النَّيروزِ وَ المِهرجانِ وَصَومِ النَّصارى وَ فِطرِ اليَهودِ ان لَم يَدرِ المُتَعاقِدانِ ذَالِكَ (۴۰) وَ الى قُدُومِ الحَاجِّ وَ الحَصادِ وَ الدِّيَاسِ وَ القِطَافِ (۴۱) وَلَو كَفَلَ الى هذه الأوقاتِ صَحَّ (۴۲) وَ إن أسقط الأجلَ قبلَ حُلُولِهِ صَحَّ

**ترجمه** :اوصحیح ده بیع دبوټونوپه دي شرط چې بائع به هغه برابروي یابه تسمې ورلګوي،نه بیع ترنوروزپوري یاترمهرجان پوري اودنصارى ؤترروژي پوري اودیهودوتراختره پوري که نه پیژندل داړوعقدکوونکیوهغه لره،اونه ده صحیح بیع دحاجیانوترراتګ پوري یادکښت تررېبلویاکرلوپوري اودمیووترپرېکولوپوري اوکه ضامن شوددغووختونوترراتګ پوري بیاصحیح دی اوکه یې ساقطه کړه موده ددغووختونوترراتګ مخکې نوصحیح کیږي .

**تشریح** :(۳۸) یعنې که چابوټونه په دي شرط واخیستل چې بائع به هغه په خاص ډول کاټوي یابه تسمې ورلګوي مشتري ته به یې ورکوي نودقیاس تقاضاخوداده چې دابیع ناجائزه شي ولی په دي کې دمقتضی عقدخلاف شرط(یعنې برابرول یاتسمې ورلګول) لګول شوی دی اوپه داسې شرط سره بیع فاسدیږی چې دمقتضی عقدخلاف وي،مګراستحساناًفقهاؤهغه صحیح ګڼلې ده،داستحسان وجه یې دخلکوتعامل دی اوتعامل ترقیاس قوي دلیل دی .

**فائده** :دهمدي تعامل په وجه په آرډرسره شی تیارول جائزشوی دی حال داچې دآرډرپه صورت کې مبیعه معدومه وي اودمعدوم بیع نه جائزه کیږي مګردتعامل اوعرف په وجه سره هغه جائزه ګڼله شوې ده .

**فائده** :دهمدي تعامل اوعرف په وجه نن سباعلماؤداصورت هم جائزبللی دی چې یوه کمپنۍ دخپل مال یوکال ګارنټي ورکوي دخرابتیاپه صورت کې کمپنۍ دهغه مرمت مفت ورکوي،هسې خواصل اوقاعده داده چې بائع مبیعه خرڅه کړه نودهغې مرمت کول دهغه پرذمه نه دی دعقدپه وخت دمرمت شرطول دمقتضی عقدخلاف دی خوڅرنګه چې په عرف کې ددي رواج عام شوی دی نوځکه داجائزدی ولی دعام عرف په وجه اوس دامفضی ونزاع لره هم نه دی . (تفصیل په تقریرترمذی :۱/ ۹۴کې کتلای شئ)

(۳۹)یعنې یوشی یې خرڅ کړاودپیسواداکولونیټه یې نوروز(دایرانی شمسی کال لومړۍ ورځ چې پریوویشت (۲۱) مارچ باندی وي) یامهرجان (دفارسیانوداختروزځ ) یاصوم نصاری یادیهودوداختروزځ وټاکله نوکه چیرته متعاقدینوته دامذکورتاریخونه نه پیژندل نودابیوع فاسد دي ولی دمودي دجهالت په وجه مفضي ونزاع ته دي اوداقاعده ده چې کومه بیع مفضي ونزاع ته وي هغه فاسده ده،البته که چیرته متعاقدینودامذکورتاریخونه پیژندل نوبیاجائزدی ولی دفسادوجه نه پاتیږي .

(۴۰)قوله والی قدوم الحاج والحصادای لایصح الی قدوم الحاج والحصاد،یعنې داسې بیع جائزنه ده چې پکې دپیسو ورکولو موده دحاجیانودراتګ وخت مقررکړي یادکښت رېبلویاکرلویادانګوروشکولووخت مقررکړي ولی دامذکور وختونه مختې شاته کیږي نودمودي دجهالت په وجه دابیوع مفضي ونزاع ته دي اومفضي ونزاع ته بیوع جائزنه دي .

(۴۱)که څوک ترمذکوروووختونوپوري دچاضامن شونوداضمانت یې جائزدی ولی په کفالت کې دمعمولی جهالت څه لاره شته ځکه په کفالت کې داصل دین دمجهول کیدوهم څه لاره شته مثلاًکفیل مکفول له ته داسې ووایې چې :ستاچې دفلان پرذمه څه شی راځي زه دهغه ضامن یم،نوداجائزدی ،په وصف یعنې موده کې خوبه په طریقه اولی سره جائزوي،البته دجهالت فاحشه هیڅ ګنجائش (لاره) نشته ،جهالت یسیره

هغه دي چې په تقديم او تاخير کې يې اختلاف وي لکه پورتني مذکورتاريخونه او جهالت فاحشه هغه دي چې په وجود کې يې اختلاف وي لکه دتيزباد (هوا) دچليدو وخت دمودې په ډول مقررول.

(۴۲)البته که متعاقدين له مذکوروبيوعووروسته د ټاکلې مودې راتلوڅخه مخکې ددغونيټوپر سقوط باندې راضي شول مثلاً دحاجيانودراتګ اودکښت ريبلويا کرلودوخت ترشروع کيدومخکې دمذکورو مودوپرسقوط باندې راضي شي اوموده ساقطه کړي پيسې ورکړي نودابيع جائزه اوصحيح کيږي ولې وجه دفساددمودې جهالت ووچې مفضي ونزاع ته وواوس څرنګه چې وجه دفسادله منځه لاړه نوبيع صحيح شوه.

**فائده**: دامام زفر رحمه الله په نزد مذکوره بيوع دمودې ساقطولووروسته هم نه جائزې کيږي ولې کوم عقدچې يوځل فاسدمنعقدشي هغه بيرته په جائزنه بدليږي لکه څوک چې ترټاکلي وخت پورې نکاح وکړي نودانکاح په دې وجه چې ترمخصوص وخته پورې ده جائزه نه ده بيا که دهغې موده ساقطه کړي نوهم دانکاح نه جائزه کيږي،امام زفر رحمه الله ته جواب ورکول شوی دی چې دمفسد ترثابتيدومخکې دمفسدپه اسقاط سره عقدفاسدپه جائزسره بدليدلای شي،مګريوعقدپه بل عقدسره (چې له اول سره مغايروي) نه شي بدليدلای اوپه نکاح کې همداسې ده ولې ترمعلوم وخت پورې نکاح متعه ده اومتعه له نکاح څخه غيرده نودمودې په ساقطولوسره متعه نکاح نه شي کيدلای په داسې حال کې چې پورتني مذکورعقدونه دمجهولې مودې په وجودسره هم عقدبيع دي اودمودې ساقطولووروسته هم عقدبيع دي نومجهوله موده پرنکاح متعه باندې قياسول نه دي صحيح.

(۴۳)وَمَن جَمَعَ بَينَ حُرٍّ وَعَبدٍ وَشَاةٍ ذَكِيَّةٍ وَمَيتَةٍ بَطَلَ البَيعُ فِيهِمَا (۴۴) وَإِن جَمَعَ بَينَ عَبدٍ وَمُدَبَّرٍ وَبَينَ عَبدِهِ وَعَبدِ غَيرِهِ وَمِلكٍ وَوَقفٍ صَحَّ فِي القِنِّ وَعَبدِهِ وَالمِلكِ

**ترجمه**: اوکه چاسره يوځای کړل آزاداومريي ياحلال پسه اومردارشوی نوبيع باطليږي په دواړوکې، اوکه چاسره جمع کړل مريي اومدبرياخپل اوپردی مريي ياملک اووقف،نوصحيح کيږي په مريي کې اوپخپل کې اوپه ملک کې.

**تشريح**:(۴۳)يعنې که چاحراومريي يوځای سره خرڅ کړل ياپې حلال شوی پسه اومردارسره خرڅ کړل نودهغه دوه صورتونه دي:

**نمبر ۱**-: ددواړوپې يوقيمت ښودلی وو. **نمبر ۲**-: دهريوه يې جلاقيمت بيان کړی وو،په اول صورت کې خوپه اتفاق سره بيع باطله ده،ولې آزاداومردارپه مال نه دي اوغيرمال ترعقدبيع لاندې نه شي داخليدلای نوآزاداومردارمبيعه نه دي اوکوم مريي اوحلال پسه چې يې له دوئ سره يوځای خرڅ کړل هغه دواړه مبيعه دي نوګواکې بائع په مبيعه کې دعقدقبلولولپاره په غيرمبيع کې دعقدقبلولو شرط لګولی دی اوداشرط فاسددی اوپه شرط فاسدسره بيع فاسديږي نوځکه په مريي اوحلال پسه کې هم بيع فاسده شوه اوپه دوهم صورت کې دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدبيع باطله ده په داسې حال کې چې دصاحبينو رحمهما الله په نزدپه مريي اوحلال پسه کې بيع

جائزه ده او په حُرا و مردار په کې بيع باطله ده ولې د تفصيل ثمن په وجه عقد متعدد دی نو ديوه فساد د هغه بل طرف ته سرايت نه کوي، د امام ابو حنيفة رحمه الله دليل دا دی چې عقد يو دی ترڅو چې ايجاب او قبول متعدد نه وي عقد نه متعدد کيږي ځکه عقد د ټولو په باره کې فاسديږي.

**فائده**: د امام ابو حنيفة رحمه الله قول مفتی به دی لمافي الدر المختار: وبطل بيع قن ضم الی حر وذکية ضمت الی ميتة ماتت حتف انفها وان سمی لمن کل خلافا لهما ومبنی الخلاف ان الصفقة لاتعدد بمجرد تفصيل الثمن بل لابد من تکرار لفظ العقد عنده خلافا لهما وظاهر النهاية يفيد انه فاسد. (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۳/۱۱۲)

(۴۴) يعنې که چيرته يې په بيع کې مريی او مدبر يا خپل مريی او د غير مريی جمع کړل يا يې يو خپل مملوک شی او يو وقف شوی شی سره يو ځای کړل خرڅ يې کړل نو دائمه ثلاثه په نزد يوائې په مريي او خپل مريي او مملوک شي کې د پيسو د حصی په اندازه بيع صحيح ده او په مدبر، د بل چا په مريي او وقف شوي شي کې نه دی صحيح، د جواز وجه يې دا ده چې مدبر او د بل چا مريی تر عقد بيع لاندې راتلای شی ولې د دوئ ماليت قائم دی نو دا محل بيع دي البته په خپل مريي او ملک کې د پيسو د حصی په اندازه فی الحال بيع نافذه کيږي او په مدبر کې د بيع نفاذ د قاضی تر قضاء پورې موقوف کيږي او د بل چا په مريي کې د مالک تر اجازې پورې موقوف کيږي او که چيرته هغوئ بيع رد کړه نو رد يږي او د هغوئ بيع رد ول د دې خبرې دليل دی چې په مدبر او د بل چا په مريي کې بيع موجوده وه نو دا هم مبيعه دي نو په دغه صورت کې په مبيعه کې د عقد قبلولو لپاره په غير مبيعه کې د بيع قبلولو شرط لګول نه لازميږي، نو د مريي بيع نه فاسديږي ولې په تير صورت کې د بيع مفسد همدغه شرط وو، د وقف په صورت کې په مضموم اليه شي کې بيع نافذه کيږي که نه؟ په دې کې دوه قولونه دي اصح قول دا دی چې په ملک کې بيع صحيح کيږي ولې وقف هم مال دی البته په هغه پورې د موقوف عليهم حق متعلق دی په دې وجه د هغه خرڅول صحيح نه دی مګر دا په مضموم اليه کې د عقد فساد نه لازموي ولې دا فساد ضعيف دی نو دا داسې دی لکه له مريي سره چې مدبر يو ځای کړي خرڅ يې کړي.

**فائده**: مصنف رحمه الله د وقف قيد د دې لپاره لګولی دی چې احتراز راشي له هغه صورت نه چې څوک له خپل ملک سره مسجد يو ځای کړي خرڅ يې کړي ولې آباد مسجد بلکل مال نه دی نو چې کوم ملک له هغه سره يو ځای خرڅ شوی دی په هغه کې هم بيع جائزه نه ده.

## فصل

**فائده**: دا فصل د بيع فاسد په بيان کې دی څرنګه چې حکم د شی ترشی وروسته وي ځکه يې اول بيع فاسده بيان کړه له هغه وروسته يې د هغه حکم بيان کړی دی او د بيع حکم ملک دی نو په همدې فصل کې د ا بيان کوي چې بيع فاسده ملک فائده کوي که نه.

(۱) اذا قبض المشتري المبيع في البيع الفاسد بامر البائع و كل من عوضيه مال ملك المبيع بقيمته (۲) و لكل منهما فسخه (۳) لا ان باع المشتري او وهب او اعتق او بنى (۴) وله ان يمنع المبيع عن البائع حتى ياخذ الثمن منه (۵) و طاب للبائع ما ربح لا للمشتري (۶) و لو ادعى على آخر مالا فقضاه اياه ثم تصادقا انه لا شيء عليه طاب له ربحه.

**ترجمه**: كله چې مشتري قبض كړي مبيعه په بيع فاسده كې دبائع په امر سره او هر يو له عوضينو څخه مال وي نو دى دمبيعه مالک ګرځي په قيمت سره ، او هر يو لره دفسخ كولو حكم شته ، مګر دا چې مشتري يې خرڅ كړي يا يې هبه كړي يا يې آزاد كړي يا آبادي پرې جوړه كړي او مشتري ته جائز دى منع كول دمبيعى تر هغه چې پيسې اخلي له هغه څخه ، او كوم نفع چې له مبيعى څخه حاصل شي بائع ته حلاله ده مګر مشترى ته نه ده حلاله او كه يې په بل دعوه وكړه د څو درهمو نو هغه وراداكړل ده ته نو دوارو تصديق وكړ چې پر ده باندي نو رهيڅ نه دي واجب نو حلاله ده هغه ته نفع دهغه .

**تشريح**: (۱) يعنې چې كله په بيع فاسده كې مشترى دبائع په حكم سره مبيعه قبض كړي او په عقد كې دواړه عوض (يعنې ثمن او مبيعه) مال وي نو مشتري دمبيعى مالک ګرځي ولى ركن دبيع يعنې ايجاب او قبول له اهل بيع څخه په محل دبيع كې صادري شوي دي ولى اهل بيع بائع او مشتري دي چې دواړه دبيع اهليت لري او محل دبيع مال دى نو دا بيع منعقده كيږي مفيده دملک ګرځي البته مفسد شرط پكې راغلى دى چې زمو ږ د اصولو مطابق دنفس بيع دمشروعيت دليل دى ، نو چې كله دمشترى ملک ثابت شو بيا كه له مشتري سره مبيعه هلاک شوه نو ورته كتل كيږي چې مبيعه له ذوات القيم څخه ده كه له ذوات الامثال څخه ، كه چيرته له ذوات القيم څخه وي مثلا يو حيوان وي نو پر مشتري باندي دمبيعى قيمت لازميږي او كه مبيعه له ذوالامثال څخه وي مثلا موزوني يا مكيلي شى وي نو د مشتري پر ذمه دمبيعى مثل لازميږي .

**فائده**: دقبض په قيد سره احترازراغى دهغه صورت څخه چې په هغه كې مشتري مبيعه قبض كړي نه وي ولى په هغه صورت كې دمشتري ملک نه ثابتيږي او دبيع فاسد په قيد سره احترازراغى له باطل څخه ولى دبيع باطل په صورت كې دمشتري لپاره ملک نه ثابتيږي كه څه هم مشتري مبيعه قبض كړي او دقبض په امر دبائع سره احترازراغى له هغه صورت څخه چې مشتري دبائع دامر بغير مبيعه قبض كړي ولى دا صورت هم مفيد دملک نه دى او له عوضينو څخه هر يو به مال وي په دې قيد سره احترازراغى له هغه صورت څخه چې پكې له عوضينو نه يو يا دواړه مال نه وي ولى دا بيع باطله ده چې ملک نه فائده كوي (كذا في الدر المختار على هامش رد المحتار: ۱۳۸/۴)

**فائده**: دامام شافعي رحمه الله په نزد بيع فاسده ملک نه فائده كوي ولى پر بيع فاسده باندي نهى راغلې ده نو بيع فاسده منهى عنه او حرام فعل دى او ملک حاصلول يو نعمت دى او حرام فعل دنعمت دحصول سبب نه شي كيداى ځكه دسبب او مسبب ترمنځ مناسبت ضروري دى په داسى حال كې چې دحرام فعل او نعمت ترمنځ هيڅ مناسبت نشته ، امام شافعي رحمه الله ته جواب وركول شوى دى چې نهى پر فعل شرعى باندي راتلل ددې خبرې دليل دى چې بنفسه دا (بيع) مشروع ده البته دغير به وجه په هغه كې قباحت دى يعنى ديو وصف يا له هغى سره متعلق په يو شى كې قباحت دى نو دملک دنعمت دحصول لپاره نفس بيع سبب دى چې فعل حرام نه دى نو دا خبره صحيح نه ده چې دنعمت ملک سبب فعل حرام دى .

(۲)اوله متعاقدينوڅخه پرهريوه باندي ددفع فسادلپاره دبيع فاسدی فسخ كول لازم دی كه ترقبض مخكي وي كه وروسته وي ولی دبيع دفاسدوالي په وجه په دي كې ګناه ده،البته مخكی ترقبض له متعاقدينوڅخه دهريوه وجود(يعني علم ) ضروري دی ځكه دعقدپه فسخ كولوكې پرهغه بل الزام دی ګواكي فسخ كوونكي پرخپل ملګری باندي دضرررسولو الزام لګولی دی اوپرچاباندي دالزام لګولوپه صورت كې دهغه علم ضروري دی،اوترقبض وروسته كه چيرته فسادپه صلب عقدكې وومثلاً له عوضينوڅخه يوشراب ياخنزيروونوهم له متعاقدينوڅخه هريوه لره دفسخ اختيارشته ولی فسادقوي دی اوكه چيرته فسادپه صلبِ عقدكې نه وومثلاموده مجهوله وه يابائع يوه مياشت له مبيعه څخه خدمت اخيستل شرط كړل نوپه دغه صورت كې دعقدفسخ اختياريوائی هغه چالره دی چاته چې په شرط كې فائده وي هغه بل ته خيارفسخ نشته.

**فائده** : دلته مصنف رحمه الله د(وَلكُل مِنهما) لفظ ذكركړی دی چې په ظاهره له هغه څخه دامعلوميږی چې له متعاقدينوڅخه هريوه لره بيع فسخ كول جائزدی مګرصحيح دادی چې پرهريوه باندي بيع فسخ كول جائزنه بلكې لازم دی نوددغه عبارت (لكل منهما) پرځای (على كل منهما) ويل پكاردی چې پرهريوه باندي دبيع فسخ كولووجوب ثابت شي ياداسي ويل پكاردی چې لام په معنی دعلی دی كمافی قوله تعالی (وَاِن اسأتم فلها)

(۳)كه چيرته مشتري دبيع فاسدپه صورت كې دبيع فسخ كولوپرځای مبيعه پربل چاباندي خرڅه كړه نودابيع نافذه كيږی يامشتري مبيعه يوچاته هبه كړه يامبيعه مريی وومشتري هغه آزادكړنوداهم صحيح دی ولی مشتري په قبض كولوسره دمبيعه مالك ګرځيدلی دی اومالك لره دمذكوروتصرفاتو اختياروي،اوس څرنګه چې په مبيعه پوری دبل چاحق متعلق شوی دی ځكه نواول بائع اواول مشتری بيع نه شي فسخ كولای ولی دبيع فسخ كولوحكم دشريعت دحق په وجه دی په داسی حال كې چې دبنده حق دشريعت ترحق مقدم دی ولی بنده محتاج دی اوشارع غيرمحتاج دی ،همدارنګه كه مبيعه ځمكه وه مشتري پرهغه باندي سرای جوړكړنوداهم بيع نافذه ګڼله كيږی ولی دمبيعی په قبض كولوسره مشتری دهغه مالك ګرځی نوپه هغی كې دمشتري تصرف صحيح دی پاتی شوه داخبره چې دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددبائع حق استردادپه دي وجه ختم كيږی چې مشتري خوبائع پخپله پرمبيعه باندي دآبادي پرجوړولومسلط كړی دی.

**فائده** :دصاحبينورحمهما الله په نزدداستردادحق نه منقطع كيږی بلكې آبادي دي ړنګه كړي اوځمكه دي بيرته مالك ته واپس كړي ولی دشفيع حق ضعيف دی (ځكه حق شفعه په تاخيرسره ساقطيږی اودقاضی وقضاء ته احتياج لری) بياهم كه چيرته مشتري پرمشفوعه ځمكه باندي آبادي جوړه كړي نودده آبادي ړنګيږی ځمكه شفيع ته وركوله كيږی اودبائع حق خوډيرقوي دی نودبائع دحق په وجه په طريقه اولی سره دده آبادي ړنګيږي ځمكه بائع ته واپس وركوله كيږي.

**فائده**: د امام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی لما قال الشیخ عبد الحکیم الشهید رحمه الله: والراجح قول الامام ابی حنیفة رحمه الله عند جمهور اهل الترجیح وعلیه الفتوی وحکی السرخسی قول امام ابو یوسف رحمه الله ایضا معه وهو ظاهر الروایة وهو الاقوی درایة وروایة الا انه رجح الکمال قولهما وقال: ان قولهما اوجه لکن رد قوله صاحب النهر وضعف دلیل الکمال فالراجح والمفتی به قول الامام ابی حنیفة رحمه الله (هامش الهدایة: ۳/۶۸)

(۴) یعنې مشتري لره دا اختیار شته چې په بیع فاسدکې ترڅو چې هغه خپلې پیسې چې ده بائع ته ورکړې دي له بائع څخه وصول نه کړي مبیعه دي هغه ته نه ورکوي ولی مبیعه د هغو پیسو مقابله ده نو د هغو په عوض کې محبوسه ده لکه رهن چې د قرض په عوض کې محبوسه وي، بیا که چیرته هغه پیسې د بائع سره موجودې وي چې له مشتري یې اخیستی دي نو مشتري دي ترې نه واخلي ځکه په بیع فاسد کې درهمونه هم متعین کیږی او که چیرته
هغه هلاک شوي وو نو بیا دي د هغو مثل واخلي.

(۵) که په بیع فاسد کې بائع د مبیعی په پیسو تجارت وکړ څه ګټه یې وکړه نو هغه بائع ته حلاله او مباحه ده او که مشتري ته له مبیعی څخه فائده حاصله شوه نو هغه ده ته حلاله نه ده مثلا یو چا بیع فاسده وکړه یوه منځه یې په زر درهمه واخیسته بیا مشتری هغه منځه په یوولس سوه خرڅه کړه یعنې سل درهمه یې وګټل او بائع د منځی په پیسو یعنې زرو درهمو تجارت وکړ یوولس سوه یې کړل نو بائع ته دا نفع جائزه ده مګر مشتري ته نه ده جائزه وجه د فرق یې دا ده چې منځه له هغو شیانو څخه ده چې په متعین کیدو سره متعینه کیږي نو هغه د وهم عقد چې بائع او مشتری ترسره کړی دی هغه تر دغې متعینې منځی پوري متعلق دی په داسې حال کې چې دا منځه د بیع اول د فساد په وجه د مشتري ملک فاسد وو او له ملک فاسد څخه په نفع حاصلولو کې خبث راځی او په کوم شي کې چې خبث راځي د هغه صدقه کول واجب دی او دراهم او دنانیر زمونږ په نزد په متعین کیدو سره نه متعین کیږی نو دوهم عقد د هغو دراهمو تر ذات پوري نه دی متعلق شوی کوم دراهم چې بائع ته د منځې په عوض په لاس ورغلي دي نو چې کله دوهم عقد تر هغو دراهمو پوري نه دی متعلق شوی له هغو څخه په نفع حاصلولو کې خبث هم نه راځي نو د هغو صدقه کول نه واجبیږي.

**فائده**: کوم مال چې له حلال او حرام څخه داسې مخلوط شوی وي چې یو له بل څخه جلا او ممتاز نه وي نو په داسې صورت کې خلط کوونکی د ټول مال مالک ګرځی البته څومره مال چې حرام دی د هغه ضمان ادا کول پر ده باندې واجب دی ترڅو پوري چې د هغه ضمان ادا نه کړي یا ضمان پر خپله ذمه لازم نه کړي تر هغه وخته پوري په هغه مال مخلوط کې یو ډول تصرف کول او له هغه څخه قسم نفع حاصلول جائز نه دی او کوم مال چې خالص حرام دی د هغه حکم په طریقه اولی سره همداسې دی.

که یو څوک د هغه مخلوط مال چې حرام یې غالب دی یا خالص حرام مال په ذریعه کاروبار وکړي نفع حاصله کړي نو هغه ګټه څرنګه چې ده ته حلاله نه ده نو هغه نفع له اصل پیسو سره یو ځای اصل مالک ته یا د هغه ورثاؤ ته بیرته واپس کول ضروري دی د اصل مالک یا د هغه

دورڅاؤپه نه موجود کې یانه موندلو په صورت کې دهغه له طرفه صدقه کول یې واجب دی . للخبث فیه .

اوکه دمخلوط مال اکثر حلال وونو بیاپه هغه کې تصرف کول اوګټه حاصلول جائزدی اوکه دهغه په ذریعه کاروبار وکړی څه نفع حاصله کړي نوهغه هم ده ته حلاله ده،بیاهم څومره حرام مال چې ورسره ګډشوی دی هغه اصل مالک ته واپس کول ضروری دی دنه معلومیدو په صورت کې یې صدقه کول لازم دی اوڅومره ګټه چې په حرام مال سره ترلاسه شوې ده هغه ګټه صدقه کول هم لازم دی مثلا لس فیصده حرام مال شامل وونودګټې لس فیصده صدقه کول لازمیږي . (جدید معاملات کی شرعی احکام ۱۱/ ۱۷۹)

(۶)که یوچاپه بل مثلا دزرو درهمونودعوی وکړه اومدعی علیه دحاکم په حکم سره هغه دراهم دغه مدعي ته ورکړل مدعی هغه دراهم رااخیستل ګټه یې څنی حاصله کړه بیامدعی اومدعی علیه پردې خبره باندې سره متفق شول چې دمدعی علیه پرذمه دمدعی هیڅ واجب نه وومدعی خالص ددروغو دعوه کړې وه نوپه دغه صورت کې چې مدعی له دغو دراهمو څخه کومه ګټه ترلاسه کړې ده هغه ده لره حلاله ده ولی مدعی علیه چې کوم مال اداکړی دی هغه دهغه دَین (قرض) بدل دی چې دهغه په اقرارسره پرمدعی علیه باندې دمدعي حق ګرځیدلی دی بیاچې کله دواړوپردې خبره باندې اتفاق وکړچې پرمدعی علیه باندې هیڅ واجب نه دي نوپرمدعی علیه باندې دین ثابت نه شوګواکې په دَین باندې چادا استحقاق دعوی وکړه وایې خیست نودهغه په بدل یعنې زرودرهمونوکې دمدعی مِلک فاسد ثابتیږی اودمِلک فاسدپه باره کې داقاعده ده چې که چیرته متعین شی وونوله هغه څخه په ګټه حاصلولوکې خبث پیداکیږي دهغه صدقه کول واجبیږی اوکه غیرمتعین شی وونوله هغه څخه په نفع حاصلولوکې خبث نه پیداکیږي نودهغه صدقه کول هم نه واجبیږی په داسی حال کې چې دراهم په متعین کولوسره نه متعین کیږی نوچې له هغو څخه کومه ګټه حاصلیږي په هغې کې خبث نه راځی اونه دهغې صدقه کول واجبیږي .

## فصل

دبیع مکروه احکام یې دبیع فاسدی پوری متصل ذکرکړل وجه یې داده چې په دغو ځایو کې له مکروه څخه مرادمکروه تحریمی دی چې حراموته نژدې دی خو څرنګه چې په دغه عقدبیع کې فساد حراموته په نسبت کم دی ځکه یې له بیع حرام وروسته هغه ذکرکړل .

(۱)کُرِہَ النَّجَشُ (۲)وَالسَّومُ علی سَومِ غَیرِہ (۳)وَتَلَقِّی الجَلَبِ (۴)وَبَیعُ الحَاضِرِ لِلبَادِی (۵)وَالبَیعُ عِندَ آذَانِ الجُمُعَۃِ (۶)لا بَیعُ مَن یَزِیدُ (۷)وَلا یُفَرِّقُ بَینَ صَغِیرٍ وَذِی رَحِمٍ مَحرَمٍ مِنهُ (۸)بِخِلافِ الکَبِیرَینِ (۹)وَالزَّوجَینِ.

**ترجمه** : مکروه ده بیع دنجش اودبل پرنرخ باندې نرخ ورکول اوسوداګرانوته له ښاره وروتل اوبیع دښاري دصحرائي لپاره اودجمعي دآذان په وخت بیع کول،نه نیلام،اوتفریق به نه راولي دماشوم اودهغه دذی رحم محرم ترمنځ،خلاف له دوولویانو اوزوجینو څخه .

**تشريح** : (۱)يعني بيع دنجش مکروه ده.بيع دنجش داده چې يوه خريدار دمبيعې پوره قيمت ځان ته معلوم کړغوښتل يې چې سودا وکړي يوبل سړی راغی نيت دخريداري يې نه درلودهسې ددې لپاره دمبيعې قيمت بالاکوي چې مشتري نورو هڅوي بيع ته نودامکروه دی لقوله ﷺ :لاتناجشوا(بيع دنجش مه کوئ ) همدارنګه ځرنګه چې دنجش په صورت کې مشتري ته دوکه ورکوله کيږي نوځکه مکروه ده .

(۲)قوله والسوم على سوم غيره اى کره بيع السوم على سوم غيره،يعني بيع پربيع باندې مکروه ده ،سوم على سوم غيره داده چې متعاقدين دمبيعې قيمت سره بيان کړي دپيسو پرمقدار باندې سره راضي شوي وي خالص عقدبيع پاتی وي په دې وخت کې يوبل څوک راشی له بائع سره دهمدغې مبيعې عقدشروع کړي نوداهم مکروه دی لقوله ﷺ : لايستام الرجل على سوم اخيه. (يعني بيع دی نه کوي څوک دخپل ورور پربيع باندې )همدارنګه دبيع پربيع په صورت کې دمسلمان وروړ په وحشت کې اچول دی او هغه ته ضرر رسول دی .

**فائده** :سوم على سوم غيره،هغه وخت مکروه ده چې متعاقدين په معامله کولو کې دپيسو پرڅه مقدار باندې سره راضي شوي وي او که چيرته هغوئ تراوسه پورې په پوره ډول مائل شوي نه وو هغه دريم څوک راغی په زياتو پيسو يې اخيسته نودامکروه نه دی ولی داپه حقيقت کې سوم على سوم غيره ،نه دی بلکې دابيع دمن يزيد يعني نيلامي دی او بيع دمن يزيد جائزه ده .

(۳)همدارنګه تلقي الجلب مکروه ده،تلقي الجلب داده چې يوتجارپه راتلونکې قافله باندې خبرشي نومخې ته وروو ځي ښارته له داخليدو څخه مخکې دقافلې والاوو څخه توله غله واخلي (دښارخلک هغې غلې ته احتياج هم لري) اوپه ښارکې يې دخپلې مرضې په نرخ باندې خرڅه کړي نودامکروه ده .ولی په دې کې دښاريانوضرردی،همدارنګه که چيرته دقافلې له والاوو څخه دښارقيمت پټ کړي له هغوئ نه په ارزانه قيمت غله واخيسته نودامکروه ده که څه هم دښاريانوضررنه وي پکې ولی په دې صورت کې دقافلې والاوو ته دوکه ورکړله شوې ده،ضرراودوکه دتلقي الجلب دکراهت علت دې نوهرچيرته چې داعلت وموندل شي هلته کراهت شته که علت نه وو بياکراهت نشته .

**فائده** :دانن سباچې سول ايجنټ کيږي چې منډی ته له داخليدو څخه مخکې له بهره راتلونکي سامانونه اخلي او اجاره دارګرځی که چې دوئ ددې سامان قيمت دومره لوړکړي چې دهغه په وجه عامو خلکوته ضرررسيږي نونجائزدی که نه بياجائزدی . (تقرير ترمذی : ۱/ ۷۵)

(۴)همدارنګه بيع الحاضر للبادی ،مکروه ده ،بيع الحاضر للبادی داده چې يوښاري سړی له بهره راغلي چاته ووايې چې ته بيره مه کوه غله ماته پرېږده زه به يې په ګران قيمت درته خرڅه کړم نودامکروه ده لقوله ﷺ : لايبيع الحاضر للبادی (ښاري سړی دې دصحرايي لپاره نه خرڅوي) . همدارنګه ځرنګه چې په دغه بيع کې هم دښاريانوضرردی نوځکه مکروه ده ولی بازاري په چل سره دهغه مال اخلی پخپل ګودام کې يې ذخيره کوي بياچې کله په بازارکې هغه مالونه کم شي نودی هغه مال په ګران قيمت خرڅوي چې په دې کې دعامو خلکو ضرردی.نوددې بيع دکراهت علت ضرردی .چيرته چې داضررنه وي هلته کراهت هم نشته .

(۵) دجمعې دآذان په وخت کې بيع مکروه ده ،لقوله تعالى ﴿إذا نودي للصلاة من يوم الجمعة فاسعوا إلى ذكر الله وذروا البيع﴾ (يعني كله چې دجمعې په ورځ آذان شي نوتاسې په چټكي سره ځئ دالله تعالى يادته اوپرېږدئ خريدوفروخت) .

په دغه بيع کې قباحت دادی له آذان وروسته دخريدوفروخت لپاره په کښيناستلو کې كله داسي هم پېښيږي چې په واجب سعی کې خلل واقع شي چې دايوامرقبيح دی نوځکه دجمعې له آذان وروسته خريدوفروخت مکروه کيږي، داڅلورقسمه بيوع مکروه تحريمي دي فاسدی نه دي ځکه فسادپه صلب عقدکې نه دی بلکې دامرخارج زائديعنې مجاورپه وجه دی .

**فائده** :دجمعې له آذان څخه اول آذان مراددی يعنې تراول آذان وروسته خريدوفروخت مکروه دی لمافی الدرالمختار:وكره تحريمامع الصحة البيع عندآذان الاول :وهوالذی يجب السعی عنده (الدرالمختارمع الشامية:۳/ ۱۴۷) ،اوريدلي مودي چې حضرت مولانامفتی رشيداحمدلدهيانوی رحمه الله به دجمعې داول اودوهم آذان ترمنځ يوائې دڅلوروركعتونو سنتودکولووخت ورکاوه چې دايوه ډيره ښه طريقه ده ځکه په دې کې دکاروباريانو خلکولپاره سهولت دی ،اوس ماشاء الله په کراچی کې دحضرت رحمه الله داطريقه په ډيرومسجدونوکې جاري ده .

(۶) قوله لابيع من يزيداى لايكره بيع من يزيد ،يعنې بيع دمن يزيدنه ده مکروه يعنې دنيلام په ډول كه څوك زيات قيمت وركړي نوپرهغه باندې خرڅول نه دی مکروه ولی داثابته ده چې نبي كريم ﷺ ديوه انصاری صحابی S يوه پياله اوكمبله نيلام كړه خرڅ يې كړه .

(۷) يعنې كه څوك ددوو (۲) وروياڼوه ووړاويوه لوی مريې مالک وګرځي په داسې حال کې چې هغوئ دواړه پخپل منځ کې ذورحم محرم (يعنې داسی قريبان چې دهميشه لپاره يې پخپل منځ کې نكاح سره حرامه وي هغه ته ذورحم محرم وايي )وونودهغوئ ترمنځ به دبلوغ تروخته پوري تفريق نه راولي چې يوپرچاباندې خرڅ کړي ياېې چاته هبه کړي، لقوله ﷺ :من فرق بين والدة وولدها فرق الله بينه وبين احبته يوم القيامة. (يعنې كه چادموراودهغې دبچي ترمنځ جدائي راوسته نوالله تعالى به دقيامت دهغه اودهغه داحبه ؤ(دوستانو) ترمنځ جدائی راولي . )

**فائده** :خوكه يوچاداسي وکړل يعنې لـه دادول مريانوڅخه يې يوخرڅ كړنودامام ابويوسف رحمه الله په نزددابيع فاسده ده ،ولی نبي كريم ﷺ وحضرت علی ته دوه نابالغ مريان چې سره وروڼه ووهبه كړل، بيا يې يووخت پوښتنه ورڅخه وكړه چې هغه مريان څنګه شول؟ حضرت علی رضی الله وفرمايل چې لـه هغوئ څخه مې يوخرڅ كړ،هغه ﷺ ورته وفرمايل :هغه واپس واخله،هغه واپس واخله ،مراددادی چې دابيع رده كړه اودبيع رديدوحكم په بيع فاسده کې وي نه په بيع صحيح کې ،دطرفينو رحمهما الله په نزددابيع جائزه ده ولی ركن دبيع (ايجاب اوقبول )له اهل بيع (يعنې عاقل مميز)څخه په محل دبيع (يعنې مال ) کې صادرشوي دي نوځكه دابيع جائزه ده البته دمعنی

مجاورې (نابالغ په وحشت کې اچولو اوپر هغوئ دشفقت پرېښودلو) په وجه په دغه بيع کې فساد پيدا شوی دی لکه په سوم علی سوم غيره کې نو ځکه دا بيع مکروه شوه .

(۸) اوکه چيرته مريبان دواړه بالغ وونو بيا په تفريق کې څه حرج نشته ولی داسکندريه پاچا (مقوقس قبطی) دنبي کريم ﷺ په خدمت کې دوې منځې وراندې کړې وې اوهغه دواړې سره خويندې وې ديوې نوم ماريه قبطيه وه اودبلې نوم سيرين وه ،نبی کريم ﷺ ماريه قبطيه خپل ځان ته راوګرځوله او سيرين يې حضرت حسان ته هبه کړه ،همدارنګه دلويانو ترمنځ په تفريق راوستلو کې ددوئ ترمنځ وحشت اوپرهغوئ دشفقت پرېښودل نه لازمېږی ولی لويان دشفقت محتاج نه دي .

(۹) قوله والزوجين ای بخلاف الزوجين ،يعني دزوجينو ترمنځ هم تفريق مکروه نه دی که څه هم نابالغ وي ولی نص خلاف دقياس نه دووداسي قريبانو په باره کې راغلی دی چې دهغوئ ترمنځ ترمجرميت رشته وي اوکوم شی چې خلاف قياس ثابتيږی هغه پخپل موردپورې خاص وي پرهغه بل شی قياسول جائزنه دی نوزوجين پرماوردبه النص باندې قياسول صحيح نه دی .

## باب الاقالة

داباب داقاله په بيان کې دی .

اقاله په لغت کې په معنی درفع الشئ وإسقاط الشئ اوپه اصطلاح کې رفع البيع ته ويل کيږي ،بعض وايې چې اقاله اجوف واوي دی له قول څخه ماخوذدی بيا په اقاله کې همزه دسلب مأخذلپاره ده په معنی اَزَالَ القَولَ الاول ای البَيع ،يعني بيع يې زائله کړه مګرداقول صحيح نه دی بلکې اقاله اجوف يائی دی ولی اهل لغت اقاله په قاف مع الياء په ماده کې ذکرکړې ده نه په قاف مع الواوکې ،همدارنګه ويل کيږی قِلتُ البَيعَ (ما بيع رفع کړه ) نوکه چيرته اجوف واوي وای نوقلتُ به نه ويل کيدای بلکې قُلتُ بضم القاف به وای .

اقاله په اتفاق سره جائزه ده لقوله ﷺ : من اقال نادما بيعته اقال الله تعالى عثراته يوم القيامة . (يعني کوم څوک چې پښيمان چاته دهغه بيع اقاله کړي نوالله تعالی به دقيامت په ورځ دهغه لغزشونه ليري کړي ) ګواکې نبي کريم ﷺ داقاله په کولوسره داقاله کوونکي دثواب خبرورکړی دی اودثواب خبرورکول پرامرمشروع باندې مرتب کيږی نه پرامرغيرمشروع باندی نوداثابته شوه چې اقاله مشروع او جائزه ده .

دباب الاقاله له ماقبل سره مناسبت دادی چې په ماقبل کې دبيع فاسداومکروه بيان ووچې رفع يې پرمتعاقدينو باندې واجبه وه او اقاله هم رفع دبيع ده .

(۱) هِیَ فَسخٌ فِی حَقِّ المُتَعَاقِدَينِ بَيعٌ فِی حَقِّ ثَالِثٍ (۲) وَتَصِحُّ بِمِثلِ الثَّمنِ الاَوَّلِ (۳) وَشَرطُ الاَکثَرِ وَالاَقَلِّ بِلَاتَعيبٍ (۴) وَجِنسٍ اٰخَرَ لَغوٌ فَلَزِمَهُ الثَّمَنُ الاَوَّلُ (۵) وَهلاکُ الثَّمنِ لايَمنَعُ الاِقَالَةَ وَهلاکُ المَبيعِ يَمنَعُ وَهلاکُ بَعضِهِ بِقَدرِه .

**ترجمه** :اقاله فسخ ده دمتعاقدينو په حق کې اوبيع ده ددريم چاپه حق کې اوصحيح ده دثمن اول په مثل سره اودزيادت ياکمبوت شرط لګول صحيح دی بغيرله عيب داركيدو نه اودجنس بدليدل لغوه دی اولازم دی پرده باندې ثمن اول اودثمنو هلاکيدل اقاله نه شی منع کولای اودمبيعی هلاکيدل مانع دی اودبعض مبيعی هلاکيدل دهغی په اندازه (مانع ) دی .

**تشريح** : (۱)يعني كه چيرته مشتري مبيعه قبض كړي وه او اقاله يې په لفظ د اقاله سره وكړه نو د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد د متعاقدينو په حق كې دا د عقد سابق فسخ گڼله كيږي د لفظ د اقاله په عملي كولو سره ولې لفظ د اقاله د فسخ او رفع خبرور كوي مگر د دريم چا په حق كې په معنى د اقاله سره په عمل كولو نه د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد د اعقد فسخ نه ده بلكې جديده بيع ده ولې اقاله په معنى د مبادلة المال بالمال بالتراضي سره ده او همدا د بيع تعريف دى .

يا د دريم چا په حق كې د جديد بيع مفاد په هغه صورت كې راځي چې مثلاً زيد پر عمر يا ندي ځمكه خرڅه كړه بكر لره حق د شفعه حاصل وو مگر بكر د شفعه دعوى پرېښوده او س كه چيرته زيد او عمر اقاله وكړه نو د بكر په حق كې دا اقاله بيع جديده ده نو ځكه بكر لره په دغه ځل كې هم د شفعه د دعوى حق حاصل دى .

**فائده** :د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد اقاله بيع ده ولې اقاله هم د بيع په شان مبادلة المال بالمال بالتراضي ده،خو كه چيرته هغه بيع كيدل ممكن نه وو مثلاً مشتري تراوسه پوري مبيعه نه وه قبض كړې نو بيا هغه فسخ گڼله كيږي او كه فسخ كيدل هم ممكن نه وو مثلا اول عقد د دراهمو په عوض كې شوى وو او اقاله د غنمو په عوض كيدله نو په دغه صورت كې اقاله باطليږي،د امام محمد رحمه الله په نزد اقاله فسخ د بيع ده ولې لفظ د اقاله د فسخ خبرور كوى خو كه چيرته د بيع فسخ كيدل ممكن نه وو نو بيا بيع گڼله كيږي ولې په لفظ د بيع كې د بيع احتمال هم شته او كه بيع كيدل هم ممكن نه وو نو په هغه صورت كې اقاله باطليږي .

**فائده** :د امام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دى لما قال العلامة الشامي رحمه الله :تحت قوله (وهي فسخ في حق المتعاقدين) والصحيح قول الامام كما في تصحيح العلامة قاسم (رد المحتار: ۴/ ۱۶۲).

(۲)يعني په بيع كې اقاله د بائع او مشتري لپاره د ثمن اول په مثل سره جائزه ده ولې عقد بيع د متعاقدينو حق دى نو هغوئ يې د رفع كولو مالكان دي بيا د اقاله لپاره د قاف او لام ماده ذكر كول ضروري نه دى بلكې كه چيرته يو وويل :تَرَكتُ البَيعَ هغه بل وويل رَضِيتُ نو هم اقاله كيږي .

(۳)خو كه چيرته بائع تر ثمن اول كم يا مشتري تر ثمن اول زيات شرط ولگاوه مثلاً كتاب يې په لس روپۍ خرڅ كړى وو او س بائع شرط ولگاوه چې اقاله خو كوم مگر پر اتو روپو يا مشتري وويل اقاله كوم مگر پر دوولسو روپو ،نو دا شرط باطل دى ولې اقاله وايي دې ته چې پر كوم وصف باندي عقد شوى وي له هغه وصف سره هغه رفع شي،او دا په هغه صورت كې كيداى شي چې پر ثمن اول باندي اقاله وكړي تر هغه د زياتو يا كمو په شرط لگولو سره دغير ثابت شوي شي رفع كيدل لازميږي په داسي حال كې چې د غير ثابت شوي شي رفع كيدل محال دى نو اقاله صحيح ده د ثمن اول په رديدو سره چې د اقاله معنى ثابته شي،البته كه چيرته په مبيعه كې د مشتري په لاس كې عيب پيدا شوى وو نو په قدر د عيب په پيسو كې كمبوت جائز دى ولې په پيسو كې كمبوت كول له مبيعى څخه د هغه شي په مقابل كې گڼل كيږي چې د عيب په وجه فوت شوى دى .

**فائده** :د صاحبينو رحمهما الله په نزد تر ثمن اول د زيات شرط لگولو په صورت كې دا اقاله فسخ بيع نه بلكې بيع كيږي ولې د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد اقاله بيع ده او د امام محمد رحمه الله په نزد اقاله فسخ بيع ده كه چيرته ممكن نه وو نو بيا بيع گڼله كيږي نو ځكه په همدغه صورت كې د دواړو په

نزداقاله بيع شمارله کيږي اوپه هغه صورت کې چې ترثمن اول نه دکموپيسوشرط ولګوي دامام ابويوسف رحمه الله په نزددهغه داصولو مطابق دابيع ده په داسې حال کې چې دامام محمد رحمه الله په نزدپه دغه صورت کې فسخ بيع ده ولې ثمن کمول داسې دی ګواکي هغه له بعض ثمن څخه سکوت اختيارکړاچې له ټولوثمنوڅخه دسکوت اختياروله په صورت کې فسخ ګڼله کيږي نودبعض څخه دسکوت په صورت کې په طريقه اولی سره فسخ شمارله کيږي .

**فائده** : دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزداقاله فسخ ده که يې ترثمن اول زيات شرط لګولی وي اوکه يې دکموپيسواوهمدا قول راجح دی لمافي الشامية: الواجب هو الثمن الاول سواء سماه اولا فال في الفتح والاصل في لزوم الثمن ان الاقالة فسخ في حق المتعاقدين وحقيقة الفسخ ليس الارفع الاول (ردالمحتار: ۱۶۵/۳)

(۴) همدارنګه که يې له ثمن اول څخه علاوه پرکوم بل جنس باندې اقاله وکړه مثلاً ثمن اول درهم ونه وواوس يې اقاله پرغنموسره وکړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزداقاله پرثمن اول يعنې دراهمو باندې کيږي دغنمو ذکرکول لغوه دی اقاله فسخ بيع ده اوفسخ بعينه پرهغوپيسو باندې کيږي پرکوموباندې چې عقد شوی وي نودثمن اول خلاف شرط لګول باطل دی

(۵) يعنې دمشتري ورکړل شوې پيسې که له بائع څخه هلاکې شي نودااقاله دصحت لپاره مانع نه دی بلکې له خپله طرفه دنوروپيسو په ورکولو سره اقاله کولای شي ،خوکه له مشتري څخه مبيعه هلاکه شوه نو دمبيعه هلاکت دااقاله دصحت لپاره مانع دی بائع ته بله مبيعه ورکول او اقاله کول صحيح نه دی ولې اقاله يعنې دبيع رفع کول دقيام بيع مقتضي دی ځکه دمعدوم رفع کول محال دی اوبيع په مبيعه پورې قائمه ده ولې اصل مبيعه ده اوبيع په ثمنوپورې نه ده قائمه ځکه ثمن پرمنزله دوصف دی نوچې کله مبيعه پاتې نه وي نوبيع هم نه پاتې کيږي نواقاله هم نه صحيح کيږي اوکه بعض مبيعه هلاکه شوې وه نوپه باقي مانده کې اقاله صحيح ده ځکه بيع په باقي کې قائمه ده نوبعض پرکل باندې قياسيږي .

**فائده** : که يې سامان دسامان په عوض خرڅ کړچې بيع مقايضه ورته ويله کيږي بيادې وه جانب سامان هلاک شونوپه باقي کې اقاله صحيح ده ولې په بيع مقايضه کې هريوعوض مبيعه هم ده اوثمن هم دی نوچې کوم يو هلاک شوی دی هغه ثمن ګڼل کيږي اوچې کوم باقي دی هغه مبيعه ګڼله کيږي اودمبيعه دموجودګۍ په صورت کې بيع سابقه باقي ده نوځکه اقاله صحيح کيږي . (الدّرالمختار على هامش ردّالمحتار : ۱۶۸/۴)

**فائده** : داقاله اقاله هم جائزه ده نوکه له بيع وروسته متعاقدينواقاله وکړه بيايې دغه اقاله هم ماته کړه نوهغه سابقه بيع راګرځي البته په بيع سلم کې داقاله اقاله نه ده صحيح ولې مسلم فيه دين دی چې په اقاله سره ساقطيږي اوکوم شی چې ساقط شي هغه بيرته نه راګرځي . (پورتنی حواله)

## باب التولية والمرابحة

دا باب دبيع توليه اومرابحه په بيان کې دی

له ماقبل سره دمناسبت وجه یې داده چې تردي مخکې دهغوبیوعوذکروویه کوموکې چې جانب دمبیعه ملحوظیدی اواوس دهغو بیوعو بیان کوي په کوموکې چې جانب دثمنو ملحوظیږي .

خاص له اقاله سره یې مناسبت دادی چې په اقاله کې نقل دمبیعه دی وبائع ته په ثمن اول سره اوپه بیع تولیه کې هم همداسې دی خوتولیه زیاتره له غیربائع سره کیږي اوپه مرابحه کې هم داقاله په شان نقل المبیع وي مګرپه هغې کې ربح هم وي اوپه هغې کې داهم شرط نه دی چې نقل دمبیع وبائع ته وی نواقاله په نسبت وتولیه اومرابحه ته پرمنزله دمفرد من المرکب دی ولی اقاله یواځې له بائع سره کیږي په داسې حال کې چې بیع تولیه اومرابحه له بائع اوغیربائع دواړوسره کیدای شي .

**فائده** :بیع په نسبت دپیسوپرڅلورقسمه ده : مساومه،وضیعه ،مرابحه ،تولیه ، مساومه هغه بیع ده په کومه کې چې دثمن اول طرف ته هیڅ التفات نه کیږي پرکوم مقدارچې دمتعاقدینواتفاق راشي بس هغه سم دی نن سباعام دول همدابیع رواج ده،وضیعه هغه بیع ده چې په کوم مقداریې شی اخیستی وي ترهغه یې په کم قیمت خرڅ کړی ،څرنګه چې دادوه قسمه ظاهردي ځکه یې نه دي بیان کړي دپاتی دووقسمونوتعریفونه مصنف رحمه الله په متن کې بیان کړي دي .

(١) هِيَ بَيعٌ بِثَمنٍ سَابِقٍ وَالمرَابحَةُ بِهِ وَبِزِيَادَةٍ (٢) وَشَرطُهمَا كَونُ الثَّمَنِ الاوَّلِ مِثلِيًا (٣) وَلَهُ اَن يَضُمَّ اِلى رَأسِ المَالِ اُجرَةَ القَصَّارِ وَالصَّبغِ وَالطِّرَازِ وَالفَتلِ وَحَملِ الطَّعَامِ وَسَوقِ الغَنَمِ (۴) وَيَقُولُ قَامَ عَلَيَّ بِكَذَا (٥) وَلَا يَضُمَّ اُجرَةَ الرَّاعِي وَالتَّعلِيمِ وَكِرَاءَ بَيتِ الحِفظِ

**ترجمه** :تولیه بیع ده په ثمن سابق سره اومرابحه بیع ده په ثمن سابق اوپرهغه دزیادت سره ددوئ دواړولپاره شرط دثمن اول مثلی کیدل دی اوبائع ته جائزدی چې یوځای کړي له رأس المال سره ددوبي اجرة ،درنګ اجرة،دنقاش اجرة،دکناره لګوونکي اجرة،دغله باروونکي اجرة،دپسونوشړوونکي اجرة،اووایې دي چې ماته په دومره پروت دی اونه دي ورسره یوځای کوي اجرة دشپانه ،اجرة دتعلیم اودحفاظت دمکان کرایه .

**تشریح** : (١)بیع تولیه هغه ده چې په کوموپیسویې مخته اخیستی وي په هماغوپیسویې پربل چاخرڅ کړي بې له زیادة اونقصان نه مثلاً په لس روپۍ یې کتاب اخیستی ووپه لس روپۍ یې خرڅ کړ،اوبیع مرابحه هغه ده چې په کوموپیسویې مخته اخیستی دی ترهغوپه زیاتوپیسویې پربل خرڅ کړي مثلاً په اته روپۍ یې کتاب اخیستی ووپه لس روپۍ یې خرڅ کړ.

(٢)یعنې دبیع مرابحه اوتولیه دصحت لپاره داشرط دی چې په عقداول کې ثمن مثلی وي لکه دراهم،دنانیر،مکیلی اوموزونی شیان اوعددي متقارب شیان،که چیرته په عقداول کې ثمن مثلی نه وي بلکې ذوات القیم وي مثلاً دکیږی ثمن یې آس مقررکړی وونواوس همدغه کیږه مرابحةً یاتولیةً خرڅول نه صحیح کیږی ولی مشتری په دغه صورت کې نه هغه آس ورکولای شي اونه دهغه مثل ورکولای شي ،آس ځکه نه شي ورکولای چې مشتري دهغه آس مالک نه دی اودهغه مثل ځکه نه شي ورکولای چې آس له ذوات الامثال څخه نه دی نوخامخابه دآس قیمت ورکوي په داسې حال کې چې دآس قیمت مجهول دی ولی دآس

حتمي قيمت مقررول ممکن نه دی بلکې له اندازې څخه به قيمت ورته مقررېږي او په اندازه کې غلطي کېدای شي نو په قيمت مقررکېدو کې که څه هم حقيقي خيانت نشته مګر شبه دخيانت خو خامخا پکې راځي او په مرابحه او توليه کې له شبه خيانت څخه هم ځان ساتل ضروري دی نو ځکه په مرابحه او توليه کې ثمن سابق له ذوات الامثال څخه کېدل ضروري دی.

(۳) يعني داجائزده چې دمبيعه دعقداول له ثمنوسره ددوبي اجرة، درنګريز، دنقاش، دکناري اينبودونکي اجرة يوځای کړي او که مبيعه پسونه وونو دهغوئ دشړونکي اجرة دهغوئ له قيمت سره يوځای کول صحيح دی همدارنګه که مبيعه غله وه نو دغلې له قيميت سره دغله باروونکي اجرة يوځای کول صحيح دی.

**فائده**: په دې باره کې قاعده داده چې دکوم شي په وجه دمبيعه په ذات کې اضافه راځي يا دمبيعي قيمت لوړېږي هغه له رأس المال سره يوځای کول صحيح دی نو له مذکوروشيانو څخه بعض داسې شيان دي چې دهغو په وجه دمبيعه په ذات کې اضافه راځي او بعض داسې دي چې دهغو په وجه قيمت لوړېږي مثلاً له يوځای څخه بل ځای ته دغلې او پسونو په وړلو سره که څه هم دهغو په ذات کې اضافه نه راځي مګر دهغوئ قيمت لوړېږي. (الدّرالمختارعلی هامش ردّالمحتار: ۴/ ۱۷۳)

(۴) مګر چې څوک يې مرابحةً يا توليةً خرڅوي هغه به داسې وايې چې داشی ماته په دومره (مثلاً په لس روپۍ پروت دی په هغو کې اته روپۍ رأس المال دي دوې روپۍ ددوبي اجرت دی) پروت دی داسې دې نه وايې چې ما په دومره (مثلاً لس روپۍ) اخيستی دی چې بيا دروغ پکې راځي ولی خريدې په لس روپۍ نه دی شوی.

(۵) او که چېرته مبيعه پسونه وونو دپسونو دشپانه اجرة دپسونو له ثمن سره يوځای کول جائزنه دی همدارنګه که يې دمبيعه دحفاظت لپاره يوځای کرايه کړی وونو دمکان کرايه هم له ثمنوسره يوځای کول نه دی جائز، ولی دادواړه شيان نه دمبيعه په ذات کې اضافه راولي اونه دمبيعی قيمت لوړوي حال داچې دمذکوروشيانو يوځای کولو سبب همدادوه شيان دي، همدارنګه که مبيعه مريی وومشتري هغه ته تعليم ورکړنو دهغه خرچه هم دمريې له ثمنوسره نه يوځای کېږي ولی په دغه صورت کې دمريې په ماليت کې زيادت راغلی دی مګرداسی صفت په وجه چې هغه خپله په مريې کې موجوددی يعني دمريې ذکاوت او ذهانت، دتعليم اوتعلم په هغه کې هيڅ دخل نشته همداوجه ده چې کانوته تعليم بلکل فائده نه رسوي همدارنګه دتجارانو عرف

دادی چې هغوئ دتعليم اجرة له رأس المال سره نه يوځای کوي.

**فائده**: همدارنګه دتاجرلپاره دخپل سفرپه دوران کې خرچه، کرايه اونور مصارف يوځای کول هم صحيح نه دي، ولی دتجارانو عرف دادی چې هغوئ دا ډول خرچې دمبيعی له ثمنوسره نه يوځای کوي، البته که چېرته يوځای دارواج وونو بيا يې په يوځای کولو کې هيڅ حرج نشته لما في الدّرالمختار: ولايضم اجرة الطبيب ولانفقة نفسه ولااجرعمل بنفسه وكراء بيت الحفظ الااذاجرت العادة بضمه هذاهوالاصل

قال ابن عابدين رحمه الله: (قوله هذاهوالاصل) اى ولولى لنفقة نفسه كمايقتضيه العموم (الدّرالمختار مع الشامية: ۴/ ۱۷۳)

**فائده**: نن سبا د حکومت عائد کړيو ټيکسونو لکه ضلع ټيکس، پل ټيکس، محصول چونګی ظالمانه او جابرانه صورت اختيارکړی دی ددغو اضافي مصارفو دمبيعه له قيمت سره يوځای کول يانه يوځای کول دتجارانو ترعرف پوري موقوف دی نو که چيرته دتجارانو عادت اوعرف ديوځای کولوو نوبيا داسي کول جائزدی که نه داضافي اخراجاتو له اصل قيمت سره يوځای کول جائزنه دی. (حقانيه: ۱۴۱/۶)

(۶) فَإِنْ خَانَ فِي مُرَابَحَةٍ أَخَذَهُ بِكُلِّ ثَمَنِهِ أَوْ رَدَّهُ (۷) وَحَطَّ فِي التَّوْلِيَةِ (۸) وَمَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا فَبَاعَهُ بِرِبْحٍ ثُمَّ اشْتَرَاهُ فَإِنْ بَاعَهُ بِرِبْحٍ طَرَحَ عَنْهُ كُلَّ مَا رَبِحَ قَبْلَهُ (۹) وَإِنْ أَحَاطَ بِثَمَنِهِ لَمْ يُرَابِحْ (۱۰) وَلَوِ اشْتَرَى مَأْذُونٌ مَدْيُونٌ ثَوْبًا بِعَشَرَةٍ وَبَاعَ مِنْ سَيِّدِهِ بِخَمْسَةَ عَشَرَ يَبِيعُهُ مُرَابَحَةً عَلَى عَشَرَةٍ وَكَذَا الْعَكْسُ.

**ترجمه**: بيا که يې په مرابحه کې خيانت وکړنو يا دي په ټولو پيسو واخلي يا دي ردکړي او په توليه کې دي کم کړي، او که چا کپړه واخيسته بيا يې خرڅه کړه په ګټه سره بيا يې واخيسته بيا که يې په ګټه خرڅه کړه نو ساقطه دي کړي له هغه څخه ټوله سابقه ګټه او که محيطه شي نفع پر ثمنو نو بيا دي په ګټه نه خرڅوي او که واخيسته ماذون مقروض مريي کپړه په لس درهمه او خرڅه يې کړه پر خپل بادار باندي په پنځلس درهمه نو هغه دي خرڅه کړي په نفع سره په لس درهمه کې او همدا رنګه ددي برعکس.

**تشريح**: (۶) يعني که مشتری ته په بيع مرابحه کې دبائع خيانت معلوم شو (مثلاً په پنځه روپۍ يې شی اخيستی وو ده وويل چې په اته روپۍ مي اخيستی دی) نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد مشتری ته اختيار دی يا دي په ټولو پيسو واخلي او يا دي بيع فسخ کړي ولی په مرابحه کې په خيانت سره بيع له عقد مرابحه څخه نه ده وتلې اوس هم بيع مرابحه ده، البته دمشتری دنارضايت په وجه بيع فسخ کول جائزدی او په پيسو کې کمبوت کول جائزنه دی ولی بائع په دي نه دی راضي چې له ثمن مسمّٰی څخه په کمو پيسو مبيعه دده له لاسه ووځي.

(۷) که په بيع توليه کې دبائع خيانت معلوم شو (مثلاً په پنځه روپۍ يې شی اخيستی وو ده ويل په اته روپۍ مي اخيستی دی) نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دخيانت په اندازه دي روپۍ کمې کړي ولی که چيرته دخيانت په اندازه روپۍ کمې نه کړي نو دابيع بيا بيع توليه نه پاتيږی بلکې بيع مرابحه ګرځي ولی توليه هغه بيع ده چې پر ثمن اول باندي منعقده وي په داسی حال کې چې دابيع تر ثمن اول په زياتو باندي منعقده شوي ده چې دهغه په وجه تصرف بدل شو يعنې بيع توليه په بيع مرابحه بدله شوه او تصرف بدليدل جائزنه دی نو خامخا به په پيسو کې کمبوت راولي.

**فائده**: مګر امام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دي چې بيع که توليه وي که مرابحه وي په دواړو صورتونو کې چې کله دبائع خيانت معلوم شی نو په قدر دخيانت روپۍ کميږي اودامام محمد رحمه الله په نزد په دواړو کې نه کميږي البته مشتری لره اختيار شته چې که يې دټولو روپو په عوض اخلي او که يې پريږدي بيع فسخ کوي ولی متعاقدينو په اختيارسره دمعلومو روپو په عوض پخپل منځی رضامندی سره عقد کړی دی نو عقد منعقد کيږی پاتی شو دتوليه او مرابحه ذکر يو اځی دترويج او ترغيب لپاره دی نو دا دوصف مرغوب په

درجه کې دی اودوصف مرغوب دفوت کیدوپه صورت کې مشتری لره اختیار وي په دغه صورت کې هم مشتري ته دبیع دفسخ کولو اختیار شته.

**فائده**: دامام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی لما قال الشیخ عبد الحکیم الشهید رحمه الله: والراجح قول الامام ابی حنیفة رحمه الله لما فیه من الاحتیاط والاحتراز عن الشبهات خصوصا فی العقود الربویة ومال الی ترجیحه صاحب الهدایة وایده ابن الهمام فی الفتح وصاحب البحر الرائق (هامش الهدایة: ۳/۷۳)

(۸) که یو چا یوه کپړه مثلاً په شل روپۍ واخیسته بیایې په دیرش روپۍ خرڅه کړه له هغه وروسته یې بیا له هغه مشتري څخه په هغه قیمت یعني شل روپۍ واخیسته اوس که هغه غواړي چې دوباره دا کپړه مرابحة خرڅه کړي نو دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد به سابقه ټوله ګټه له هغه څخه کموي چې هغه لس روپۍ دي نو داسي به وایې چې دا کپړه ماته په لس روپۍ پروته ده داسې به نه وایې چې په شل روپۍ راته پروته ده ولې هغه لس روپۍ چې په عقد اول سره ګټه لاس ته راغلې وې دهغې ګټې دحصول شبه له عقد ثانی څخه هم ثابت دی ولی تردوهم عقد مخکې دهغو دساقطیدو امکان شته په دې ډول چې مشتری به دهغې کپړې په کوم عیب باندې خبرشی اودهغه عیب په وجه به دا کپړه واپس کړي اوخپلی دیرش روپۍ به واخلی خوچې کله دوهم عقد ترسره شونو اوس دانفع مستحکمه شوه نودلس روپۍ ګټه حقیقة خوپه اول عقد سره حاصله شوې ده مګر څرنګه چې په دوهم عقد سره دا ګټه مستحکمه شوې ده ځکه شبهةٌ له دوهم عقد څخه هم ثبوت راځي نو داداسې دی ګواکې په دوباره عقد کې هغه په شل روپۍ یوه کپړه اولس روپۍ اخیستې دي نولس روپۍ دلسوروپوپه عوض کې شوې اوکپړه دلسوروپوپه مقابله کې پاتی شوه نواوس هغه پرلسوروپو باندې مرابحه کولای شی.

(۹) اوکه په اول ځل دومره ګټه ترلاسه شوې وه چې داصل قیمت سره برابره یاترهغه هم زیاته وه مثلاً په څلور روپۍ یې کپړه اخیستې وه په لس یا اته روپۍ یې خرڅه کړه بیایې هغه کپړه هغه له هماغه مشتری څخه دوباره په څلور روپۍ واخیسته نواوس دغه کپړه مرابحةً نه شی خرڅولای بلکې ازسرنوبه یې په کوم قیمت چې یې خوښه وي خرڅه کړي ولی په لومړي ځل چې کومه ګټه ده لره حاصله شوې وه دهغه دکمولو نه وروسته ثمن پاتی نه شوې نوپرڅه شی باندی مرابحه کوي مرابحه خوداده چې تراول قیمت یې زیاته خرڅ کړی، دصاحبینو رحمهما الله په نزدیې په دې دواړوصورتونو پرثمن آخیرباندی په ګټه خرڅولای شی ولی دادوهم عقد جدید عقد دی چې له اول سره یې هیڅ تعلق هم نشته نومرابحه که پردویم عقد باندې بناء شی په دې کې څه حرج نشته.

**فائده**: دامام ابو حنیفة رحمه الله قول احوط اودصاحبینو رحمهما الله په قول کې دخلکو لپاره آسانی ده، پردواړو باندې فتوای ورکول کیدای شی خودامام صاحب رحمه الله قول دقوة دلیل په لحاظ سره راجح دی لما فی الدر المختار: واعلم ان قول الامام اولی ای احوط لما علمت ان الشبهة کالحقیقة هنا للتحرز عن الخیانة خلافاً للهمام وهوارفق فمن اخذ بقوله فقد اخذ بالاحتیاط ومن اخذ بقولهما اوالفتابه فلاباس به وهوارفق بالناس بل قوله هوالراجح من جهة الدلیل. (الدر المختار مع الشامیة: ۳/۱۷۳)

**فائده**: دغه اختلاف په هغه صورت کې دی چې بائع دچاپه لاس دغه کپړه مرابحةً خرڅه کړی ده هغه پرکوم بل چانه وي خرڅه کړی که نه په اتفاق سره پرثمن آخیرباندی مرابحه جائزه ده

،همدارنګه دغه اختلاف هغه وخت دی چې بائع مشتري ته تفصیل نه وي ورکړی او که چیرته بائع مشتري ته تفصیل ورکړی وو چې مابیعه په دومره خرڅه کړه او بیا مي په دومره واخیسته او س یې پرتابانډي په دومره باندی مرابحۀ خرڅوم نو بیا په اتفاق سره جائزه ده .

(۱۰) که یوه ماذون قرضدار مریي یوتان په لس روپۍ واخیست بیایې پرخپل بادار باندی په پنځلس روپۍ خرڅ کړنو اوس که چیرته بادار غواړي چې مرابحۀ دغه تان خرڅ کړي نو اصل قیمت لس روپۍ به ورته ښيي همدا حکم ددي برعکس هم دی یعنی که چیرته مولی تان په لس روپۍ واخیست بیایې پرخپل مریي باندی په پنځلس روپۍ خرڅ کړاوس که مریی غواړي چې مرابحۀ یې خرڅ کړي نو اصل قیمت لس روپۍ به ورته ښيي وجه یې داده چې دمولی اودهغه مریی ترمنځ دبیع دنه جوازشبه شته حقیقتًا جائزه ده ولی دامریی دقرض په وجه دقرضدارانو ملک دی نو دمولی اومریي ترمنځ دمالک اومملوک نسبت نه دی پاتی ځکه نوددوئ ترمنځ بیع جائزه ده مګردنه جوازشبه یې ځکه شته چې ترڅوپوری دامریی قرضداران له مولی څخه وانه خلی ترهغه پوری دامریی دمولی ملک شمارل کیږی نوله دغه مریي څخه دمولی خریدګواکي خپل ملک اخیستل دی اوپه دوهم صورت کې ګواکی مولی خپل ملک پرخپل ځان خرڅ کړی دی ظاهره خبره ده چې داناجائزدی نودعدم جوازشبه پیداشوه اوپه بیع مرابحه کې له شبهی څخه هم ځان ساتل ضروري دی نودمولی اومریي ترمنځ واقع شوې بیع معدومه شمارده اواولی بیعی لره اعتباردی نوپه اول صورت کې ګواکی مریي تان په لس روپۍ دمولی لپاره اخیستی دی اوپه دوهم صورت کې ګواکی مریی هغه تان دمولی لپاره خرڅوي نو چې هرکله دوهم عقدمعدوم دی اوله بیع معتبره ده نو مرابحه کول پرهغو ثمنو جائزه کیږی کوم چې په بیع اوله کې مذکوردی کوم چې په بیع ثانی کې موجوددی پرهغه باندی مرابحه نه رواکیږی اوپه اوله بیع کې ثمن لس روپۍ دي نوپرهغو لسو باندی مرابحه جائزه ده .

(۱۱) وَلَوْ كَانَ مُضَارِبٌ بِالنِّصْفِ مَعَ رَبِّ الْمَالِ بَاعَ بِاثْنَي عَشَرَ وَنِصْفٍ (۱۲) وَيُرَابِحُ بِلَا بَيَانٍ بِالتَّعَيُّبِ وَوَطْءِ الثَّيِّبِ (۱۳) وَبِبَيَانٍ بِالتَّعْيِيبِ وَوَطْءِ الْبِكْرِ (۱۴) وَلَوْ اشْتَرَى بِأَلْفٍ نَسِيئَةً وَبَاعَ بِرِبْحِ مِائَةٍ وَلَمْ يُبَيِّنْ خُيِّرَ الْمُشْتَرِي (۱۵) فَإِنْ أَتْلَفَ فَعَلِمَ لَزِمَهُ بِأَلْفٍ وَمِائَةٍ (۱۶) وَكَذَا التَّوْلِيَةُ (۱۷) وَمَنْ وَلَّى رَجُلًا شَيْئًا بِمَا قَامَ عَلَيْهِ وَلَمْ يَعْلَمْ الْمُشْتَرِي بِكَمْ قَامَ عَلَيْهِ فَسَدَ (۱۸) وَلَوْ عَلِمَ فِي الْمَجْلِسِ خُيِّرَ.

**ترجمه** : که بائع مضارب بالنصف وونوپررب المال دی مرابحۀ په دوولس نیمی خرڅ کړي اوبیع مرابحه کولای شي بیله بیانه که چیرته مبیعه خپله عیب داره شوې وه یایې له ثیبه سره وطی کړې وه اوپه بیانولو سره که چیرته یې معیوبه کړې وه یایې له باکره سره وطی کړې وه اوکه یې یوشی اخیستی وو په قرض په یوزرروپۍ اوخرڅ یې کړپه سل روپۍ ګټه باندی اوبیان یې ونکړنو مشتری ته اختیارورکول کیږی پس که چیرته یې تلف کړه بیاهغه ته معلومه شوه نولازمیږی په یوزریوسل (یوولس سوه) باندی اوهمدارنګه تولیه ده اوکه چادبل په لاس یوشی په هغه قیمت سره خرڅ کړپه کوم قیمت چې ده ته پروت وو اومشتری ته معلومات نه وو چې ده ته په څومره پروت دی نوفاسدیږی اوکه پرې خبرشو په مجلس کې نو اختیارورکول کیږی .

**تشريح** : (۱۱)دمسئلې صورت دادی چې مثلايوچالس درهمه په مضاربت بل چاته ورکړل اودايې شرط کړچې ګټه به موسره نيمی وي مضارب په لس درهمه يوتان واخيست اوپررب المال يې په پنځلس درهمه خرڅ کړنوظاهره ده چې له پنځلسو درهمو څخه دوه نيم درهمه درب المال نفع ده نوکه چيرته رب المال هغه تان پربل چامرابحةً خرڅاوه نوداسی به ورته وايې چې داکپړه ماته په دوولس نيم درهمه پروته ده داسی به نه ورته وايې چې په پنځلس درهمه راته پروت دی ولی داسی ويناکول دروغ دي.

**فائده** : دامام زفر رحمه الله په نزد دمضارب پرخپل رب المال باندی داکپړه خرڅول نه دی جائزولی داکپړه هم درحقيقت درب المال مال دی اوپنځلس درهمه هم درب المال مال دی اوپه بيع کې له مبادلة المال بالمال څخه مبادلة المال بمال الغير مراد ده په داسی حال کې چې دلته خومبادلة المال بمال نفسه ده ،احنافو جواب ورکړی دی چې مال دمضاربت ترڅوچې دمضارب په لاس کې وي رب المال په هغه کې هيڅ تصرف نه شی کولای اوچې کله يې له مضارب څخه واخلی نوبيارب المال ته دتصرف کولو اختيار حاصليږی نودابيع صحيح ده ولی داملک تصرف فائده کوي اودبيع دصحت مدارپرفائده دی نه پرعين مِلک باندی ،خوبياهم په دغه بيع کې شبه شته ولی مضارب چې کله کپړه اخيستله په هغه وخت کې دی من وجه درب المال وکيل وواودوکيل پرخپل موکل باندی شی خرڅول ناجائزدی ځکه يې نودنيمی ګټې په باره کې دوهمه عقدمعدوم شمارکړ.

(۱۲)که په مبيعه پخپله يونقصان راپيداشويامبيعه ثيبه منځه وه مولی صحبت ورسره وکړنودي دواړوخبروله بيانولوپرته پربل باندی مرابحةً خرڅول صحيح دي يعني دابيان کولوته ضرورت نشته چې دامبيعه ماله عيبه سالمه په دومره اخيستې وه بياپه هغی کې داعيب زماله لاسه پيداشوله دغی منځی سره ماصحبت کړی دی ولی په اول صورت کې له ده سره له مبيعی نه هيڅ شی نه دی کم شوی يواځی دمبيعه په اوصافوکې تغيرراغلی دی اواوصاف خوتابع وی چې په مقابله کې يې ثمن نه وي اوپه دوهم صورت کې مالک منافع دبضع حاصلی کړي دی چې دهغوپه مقابله کې هم ثمن نه وي البته مشتری ته له معلوماتووروسته دوصف دفوت کيدو په وجه دااختيارورکول کيږی چې هغه يې يادتولوپيسوپه عوض واخلی اويايې پريږدي

(۱۳)البته که اول مشتری قصداً عيب داره کړه يامنځه باکره وه هغه صحبت ورسره وکړنو دمرابحةً خرڅولوپه وخت کې ددي دواړوخبروظاهرول ضروري دی ولی په لومړي صورت کې په تلفيدوسره وصف مقصودی شونوګواکی هغه دمبيعی يوجزء ځان ته ګرځولی دی اوپه داسي صورت کې بيله بيان کولو څخه پرچاباندی مرابحةً خرڅول جائزنه دی اوپه دوهم صورت کې دباکره پرده دمنځی دتن يوجزء دی چې په مقابله کې يې ثمن وي حال داچې اول مشتری هغه جزء له منځه وړی دی نوګواکی هغه ځان ته ګرځولی دی نودمرابحةً خرڅولوپه وخت کې هغه عيب ښکاره کول ضروري دی.

(۱۴)که يوچايوشی په زرروپۍ قرضواخيستی ووبيايې په سل ګټه روپۍ خرڅه کړه مګردايې ښکاره نه کړه چې ماپه قرض اخيستی ده وروسته مشتری ته معلومه شوه چې هغه په زرروپۍ قرضواخيستی وه نوپه دغه صورت کې مشتری لره اختياردی که يې زړه وي په يوولس سوه دي واخلی اويادي پريږدي ولی

دقرضوله مبیعه سره مشابهت شته همدا وجه ده چې دمودې په وجه قیمت لوړیږی او په باب دمرابحه کې شبه دحقیقت ملحقه وي نوګواکي بائع دوه شیان په زررو پې قرض اخیستی وو بیایې ددواړو قیمت هغه ته یووښودهغه یو یې مرابحةً خرڅ کړنوددغه خیانت په وجه مشتري ته اختیارورکول کیږی چې یادی دټولو پیسو په عوض واخلي اویادي پریږدی .

(۱۵)اوکه دوهم مشتري مبیعه ورکه کړه وروسته هغه ته معلومه شوه چې بائع خو په یو زررو پې قرض واخیستی وه اوپرمابانديي په یو ولس سوه نقدوخرڅه کړه نو دی به هماغه یوولس سوه روپې ورکوي ولی دمودې په مقابله کې حقیقةً ثمن نه وي البته دشبهې په وجه دوهم مشتری ته دفسخ اختیارورکړل شوی وواوهغه هم هغه وخت چې مبیعه موجوده وي اوس څرنګه چې مبیعه نشته نودهغې په مقابل کې دثمنو هیڅ حصه نه ساقطیږی .

(۱۶)اومذکورحکم دتولیه هم دی یعنی که دمبیعه دوجودپه صورت کې دتولیه په ډول خرڅولو نکی داخیانت ښکاره شي چې هغه په قرض اخیستی وه نواوس دوهم مشتری لره اختیارشته که یې دټولو پیسو په عوض اخلي اوکه یې واپس کوي لماقلنا ،اوکه مبیعه له لاسه وتلې وه نوبیاچې کوم قیمت مقررشوی دی هغه به ورکوي . کمافی بیع المرابحة .

**فائده** :امام ابویوسف رحمه الله فرمایلي دی چې دوهم مشتری به دمبیعه قیمت واپس کوي اوله اول مشتری څخه به پوره ثمن اخلی داپه هغه صورت کې کیږی چې دمبیعه قیمت کم وي اوثمن زیاتی وي اوکه دمبیعی قیمت ترثمنو زیات یا برابروونو بیا دوهم مشتري ته دتبدیلی هیڅ ضرورت نشته ،فقیه ابوجعفر رحمه الله فرمایې چې دنقدواوقرضودي په ثمنوکې موازنه وشی ددواړوترمنځ چې څومره فرق وي دوهم مشتری دي هغه واپس واخلی مثلاً دمبیعه نقدقیمت اته روپې دي اوقرض لس روپې دی نودوهم مشتری به له اول مشتری څخه دوې روپې واپس اخلی ،همدا قول راجح دی لمافی الدّرالمختار:قال ابوجعفر رحمه الله المختارللفتوی الرجوع بفضل مابین الحال والمؤجل بحر ومصنف ،قال ابن عابدین رحمه الله :ومثله فی الزیلعی معللاًبالتعارف .(الدّرالمختارمع الشامیة:۴/۱۷۷)

(۱۷)که چاپربل باندی یوشی تولیةً خرڅ کړیعنی داورته ووایې خرڅ یې کړی چې ماته په څومره پروت دی په هغومره یې پرتاباندی خرڅوم اومشتری ته دامعلومات نشته چې بائع ته په څومره پروت دی نودابیع فاسده ده ولی ثمن مجهول دي .

(۱۸)اوکه په هماغه مجلس کې داورته معلومه شي چې اول مشتری ته په څوپروت دی نوبیا دابیع صحیح ده ولی دمجلس دنه بدلیدوپه وجه فسادنه دی مستحکم شوی چې کله په آخرمجلس کې دثمنومقدار معلوم شونوداداسي دی لکه په اول دمجلس کې چې دثمنومقدارمعلوم شوی وي،البته ده لره اختیارشته که یې اخلی اوکه یې پریږدي ولی په ثمنوترعلم مخکی دمشتری رضاتامه نه ده ځکه نوهغه ته اختیارورکړل شوی دی .

## فصل

څرنګه چې ددغه فصل مسائل دبيع مرابحه اوتوليه په ډول پرقيدزائدباندي مشتملی دي نوددغه فصل له مرابحه اوتوليه سره مناسبت شته مګرڅرنګه چې دمرابحه اوتوليه له قبيل څخه نه دي ځکه دجلا فصل په عنوان سره ذکرکړای شوي دي .

(١) صَحَّ بَيْعُ الْعِقَارِ قَبْلَ قَبْضِهِ (٢) لَابَيْعُ الْمَنْقُولِ (٣) وَلَوِاشْتَرٰى مَكِيْلًا كَيْلًا حَرُمَ بَيْعُهٗ وَاَكْلُهٗ حَتّٰى يَكِيْلَهٗ (٣) وَمِثْلُهُ الْمَوْزُوْنُ وَالْمَعْدُوْدُ (٥) لَاالْمَذْرُوْعُ (٦) وَصَحَّ التَّصَرُّفُ فِي الثَّمَنِ قَبْلَ قَبْضِهٖ (٧) وَالزِّيَادَةُ فِيْهِ وَالْحَطُّ مِنْهُ وَالزِّيَادَةُ فِي الْمَبِيْعِ (٨) وَيَتَعَلَّقُ الْاِسْتِحْقَاقُ بِكُلِّهٖ (٩) وَتَاجِيْلُ كُلِّ دَيْنٍ غَيْرِ الْقَرْضِ .

**ترجمه** : صحيح ده دځمکی بيع دهغې ترقبض کولو مخکی نه بيع دمنقول شی ،اوکه يې واخيست مکيلی شی په کيل سره نودهغه خرڅول اوخوراک ترهغه حرام دی ترڅوچې ناپ يې کړي اوهمداسي دي موزونی اوعددي شيان نه هغه شی چې په ګزسره ناپ کيږي اوصحيح دی تصرف کول په ثمنو کې ترقبض کولو مخکی اوزيادت کول په هغو کې اوکمبوت کول له هغونه اوزيادت کول په مبيعه کې ، اومتعلق کيږی استحقاق له دغوټولو سره اوصحيح دی مؤخرکول دهرډول پور غيرله قرضونه .

**تشريح** : (١) يعني دشيخينو رحمهما الله په نزدکه مبيعه ځمکه وه نومخکی ترقبض کولو يې خرڅول جائزدی ولی دځمکی هلاکيدل نادرالوقوع دی نوپه هغې کې دفسخ بيع احتمال نشته،مګردامام محمد رحمه الله په نزدځمکه مخکی ترقبض کولو خرڅول ناجائزدی لقوله ﷺ : اذااشتريت شيئا فلاتبعه حتی تقبضه (کله چې تاسی يوشی رانيسئ نوهغه مه خرڅوئ ترڅوچې قبض يې نه کړئ ) همدارنګه امام محمد رحمه الله ځمکه پرمنقولی شيانوباندي قياسوي .

**فائده** : دشيخينو رحمهما الله قول راجح دی لمافی الدرالمختار: صح بيع عقار لايخشی هلاکه قبل قبضه من بائعه لعدم الغرر لندرة هلاک العقار حتی لوکان علوا اوعلی شطط نهر ونحوه کان منقولا فلايصح اتفاقا. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۴/۱۸۱)

**فائده** : سوال دادی چې شيخينو رحمهما الله چې دجوازتعليل بيان کړی دی داتعليل په مقابله دنص کې دی اوتعليل په مقابله دنص کې مقبول نه دی ؟ جواب : دانص مخصوص منه البعض دی ولی په مهراوثمنو کې قبل القبض تصرف کول په اتفاق سره جائزدی اودنص مخصوص منه البعض تخصيص په قياس سره جائزدی نودغه نص پرمنقولی شيانوباندي حمل کيدای شي .

**فائده** : معنوی قبضه ياضمان راتلل هم کافی دی مثلاماسل بوری غنم واخيستل اوهغه ماخپل ګودام ته نه دي راوړي بلکې يوبل څوک مې وکيل وګرځاوه چې ته زماله طرفه هغه سل بوری له بائع څخه وصول کړه نوڅرنګه چې دوکيل په قبض کولوسره دهغوغنموضمان ماته منتقل شوی دی ځکه نوددغو غنمو خرڅول ماله جائزدی مثلاماسل بوری غنم واخيستل اوتراوسه لاهغه دبائع په ګودام کې پراته دي خوبائع تخليه کړې ده اودايې راته ويلی دی چې داستاغنم زماپه ګودام کې پراته دي چې کله يې وړي يوسه زه يې له نن ورځی بعدذمه وارنه يم که داغنم خراب شی ياتباه شی نوستاذمه داري ده په دغه صورت کې که څه هم ماپه حسی ډول هغه نه دي قبض کړی خوڅرنګه چې هغه زماپه ضمان کې راغلی دي نوځکه يې ماله خرڅول

جائزدى وجه يې داده چې په حسي قبضه لازمولوسره حرج شديدراځي ولې ځينې وختونه چې مبيعه دبائع له گودام څخه دمشتري گودام ته انتقالوي پردې باندې په زرگونه بلكې په لكونوروپۍ مصرف راځي . (تقريرترمذى : ۱/ ۱۱۸)

**فائده** :ځينې خلک له بيرون ملک څخه مالونه راغواړي اوهغه مالونه تررارسيدومخکې خرڅوي اوداځکه کوي چې دوئ ذاريږي چې دمال تررارسيدووروسته هسې نه مال ته تاوان ورسيږي نوځرنگه چې دمال بيع ترقبض كولومخكې شرعًاناجائزه ده نودهغه متبادل جائزصورت دادى چې دمال تررارسيدومخكې دې بيع نه كوي بلكې وعده دې كوي بيع دې هغه وخت وكړي چې كله مال راورسيږي په دغه صورت کې كه له جانبينوڅخه يوانكار

وكړي نويواځې دوعده خلافی گناه به وي پربيع باندې هغه نه شي مجبوركيداى . (احسن الفتاوى :۶/ ۵۲۶)

(۲)قوله لابيع المنقول اى لايصح بيع المنقول ،يعنې كه چامنقولی شی واخيستونوچې ترڅوپورې يې هغه قبض كړى نه وي دهغه خرڅول جائزنه دى ولې ممكن دى چې منقولي شي چې تاله چاڅخه اخيستی دى هغه ستادبائع په لاس کې هلاک شي نوظاهره خبره ده چې تاپركوم چاباندى خرڅ كړى دى له هغه سره به بيع فسخ كوې نوبه دي کې تامشتري ته يوقسم دوكه وركړه نوداڅول بيع جائزه نه ده .

(۳)يعنې كه چامكيلي شي په كيل واخيست نوترڅوچې هغه خپله ناپ كړي دهغه خرڅول ياخوړل مكروه تحريمي دى لحديث جابر انه ﷺ نهى عن بيع الطعام حتى يجرى فيه صاعان صاع البائع وصاع المشترى.(يعنې پيغمبرعليه السلام له بيع دطعام څخه منع فرمايلې ده ترڅوچې په هغې کې دوه كاسې جارى نه شي يودبائع تول اوبل دمشترى تول (له بائع څخه مراداول مشتري دى چې صورت يې داسې دى : زيدله بكرڅخه غنم واخيستل اوبرخالديې خرڅ كړل نوداغنم به يوځل زيدناپوي بل ځل به يې خالد ،په حديث شريف کې زيدبائع بلل شوى دى اوخالدمشترى ) بله وجه يې داده چې ممكن دى دبائع (زيد) ترښودل شوي مقدارزيات شي نوهغه زائدخودبائع دى په هغه کې دمشترى تصرف ناجائزدى ولې دبل په مال کې تصرف كول حرام دى .

**فائده** :په كيلي شيانوکې دمشترى تصرف په هغه صورت کې ناجائزدى چې دبيع ترانعقادمخکې دمشترى په نه موجودگی کې بائع هغه پيمانه كړي وي كه نه دبيع ترانعقادوروسته كه دمشترى په موجودگی کې بائع پيمانه كړي ده نوبيا هغه صورت کې همدايوه پيمانه كافي ده ولې دمبيعې مقدارمعلوم شواوس په هغې کې دتصرف كولوڅخه دغيرپه مال کې تصرف كول نه لازميږي . (ردالمحتار:۴/ ۱۸۴)

**فائده** :نن سبادېرشيان د مختلفووزنونوپه ډبواوپاكټونوکې بندوي ،گراک دوكاندارته وايي چې فلان شى يوياده كيلوراكړه دوكاندارهغه يوسيرډبه ياپاكټ راواخلي وركوي يې ،نه يې دوكاندارخپله تول كوي اونه يې گراک تول كوي نوځرنگه چې دبائع اومشترى دواړومقصدهغه خاص ډبه اولفافه (پاكټ) وي پرهغه ليكلی شوى وزن په بيع کې مشروط نه وي نوبيله وزن كولونه په هغه کې تصرف جائزدى . (احسن الفتاوى : ۶/ ۴۹۹)

(۴)مذکورحکم دهغوشیانوهم دی چې په وزن یاشمیرلوسره خرڅیږی چې دمشتری لپاره یې له دوباره تول کولویاشمیرلو بغیرخرڅول ناجائزدی ولی په دغوشیانوکې هم داامکان شته چې دبائع ترښودل شوې مقدار
زیات شی اوزیات خودبائع دی چې په هغه کې مشتري ته تصرف کول نه دی جائز.
(۵)البته کوم شیان چې په ګزونوسره خرڅیږی هغه له قبض کولووروسته په ګزونوسره له ناپ کولونه مخکی خرڅول جائزدی ولی په داسی شیانوکې که زیادت راشی نوهغه دمشتري دی ځکه ګزدمبیعی یووصف دی اووصف دمبیعی تابع وی نوچې کله دازیادت مشتري لره ثابت شونودبل په مال کې تصرف نه لازمیږی حال داچې ترناپ تول مخکی تصرف کول په دي وجه ناجائزووچې ترناپ تول مخکی په تصرف کولوسره دبل په مال کې دتصرف کولواحتمال وو.
(۶)په ثمنوکې ترقبض مخکی تصرف کول جائزدی یعنې تربیع وروسته بائع لره جائزدی چې کومی پیسی چې دمشتری پرذمه دي دهغوپه عوض له مشتری یابل چاڅخه یوشی واخلي ددغه خرید لپاره ثمن قبض کول دبائع لپاره شرط نه دی ولی په ثمنوکې دتصرف اجازه ورکوونکی شی یعنی مِلک دبائع قائم دی اوپه ثمنوکې په تصرف کولوسره دبیع دفسخ احتمال هم نشته ولی دثمن معین دهلاکت په صورت کې بیع نه فسخ کیږی نوپه ثمنوکې دتصرف کولوڅخه هیڅ مانع موجودنه دی ځکه په ثمنوکې تصرف کول جائزدی.
(۷)یعنې مشتري ته جائزه ده چې دبائع لپاره په پیسوکې اضافت وب وکړی په دي شرط چې مبیعه هلاکه شوې نه وي،همدارنګه که مشتری له بائع څخه څه پیسی کمی کړی یابائع په مبیعه کې څه اضافه کړي نوداهم جائزدی ولی بیع پردري قسمه ده :عادله،خاسره،رابحه،عادله هغه بیع ده چې نه تاوان پکې وي نه ګټه،اوخاسره هغه بیع ده چې تاوان پکې وي اورابحه هغه بیع ده چې ګټه پکې وي تاوان نه وي پکې،دبیع دادري واړه قسمونه جائزدي نودپیسوپه کمولویازیاتولواوپه مبیعه کې په اضافه کولوسره زیات ترزیات دافرق راځی چې بیع له یوه قسم څخه بل قسم ته اوړي مثلاً که په لومړي ځل بیع عادله وي نودپیسوپه زیاتولوسره دبائع په حق کې بیع خاسره کیږي اودمشتری په حق کې رابحه کیږی یعنې بیع له یوه وصف څخه بل وصف ته متغیره شوه چې هیڅ قباحت نشته پکی ولی بائع او مشتري خوداصل عقددفسخ کولوهم اختیارلري نودبیع له یووصف څخه بل وصف ته دمتغیرکولوخوپه طریقه اولی سره اختیارلري ولی په وصف کې تصرف کول په اصل شي کې ترتصرف کولوآسان وي.
(۸)داکمی اوزیاتی له اصل عقدسره محلق کیږی نوترکمبوت اوزیادت وروسته چې پرکوم مقدارباندی عقدوکړای شی له بائع اومشتري څخه هریودهغه استحقاق لري مثلاً مشتری لس کېږي دسلوروپوپه عوض واخیستی بیاپې بائع ته لس روپی نورې اضافه کړي اوس دمبیعی یوبل څوک مستحق پیداشونومشتري به یوسل لس روپی له بائع څخه واپس اخلی همدارنګه

مشتري لره داحق نشته چې دمبیعې طلب وکړي ترڅو چې ثمن سره له اضافي بائع ته ورونه سپاري، اودبائع داحق شته چې مبیعه وګرځوي ترڅو چې ثمن سره له اضافه وصول کړي .

**فائده**: دامام زفر رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله په نزد کمبوت اوزیادت له اصل عقدسره ملحقول نه دی صحیح بلکې په ثمنوکې اضافه کول دمشتري له طرفه ازسرنواحسان اوهبه ګڼله کیږي اودبائع له طرفه په مبیعه کې اضاف کول ابتداءً هبه شمارله کیږي ولی مشتري چې په څومره پیسوسره مبیعه اخیستی ده دهغه مقدار عوض دی دټولی مبیعې مالک ګرځیدلی دی اوس چې په پیسوکې کومه اضافه توب کوي هغه دمبیعې دکوم جزء په مقابل کې کیږي په داسی حال کې چې دمبیعې ټوله اجزاء خپله دمشتري په ملک کې راغلي دي نواضافه پیسی دمشتري دخپل ملک عوض ګرځي حال داچې دیوچاملک خپله دهغه دملک عوض کیدل ناجائزدی .

(۹)هردول پور (مثلادیوشي قیمت وغیره چې دچاپرذمه وي) که چیری مالک وغواړي چې موده ورکړي نوورکولای یې شي بیادمقرره وخت څخه مخکې دهغه دغوښتلواختیارنه لري ولی مالک لره خودااختیارهم شته چې دی مدیون له دین څخه بري کړي نودموده ورکولواختیارخوپه طریقه اولی سره لري مګرقرض ته موده ورکول صحیح یعنې لازم ته دی (مثلایوچاته یې سل روپی په قرض ورکړې یوه میاشت وخت یې ورکړنولس ورځې وروسته هم دی دواپس کولومطالبه کولای شي دمیاشتی ترتیریدوپوري انتظارپرده باندی لازم نه دی ) ولی قرض ابتداءً تبرع ده اوپه تبرع کې جبرنشته .

**فائده**: که یوچاوصیت وکړچې زما دمال له دریمې څخه فلان شخص ته زرروپی تریوه کال پوری قرض ورکړئ نوداجائزدی ورثه بیادکال ترتیریدومخکی دهغه زرو،روپودمطالبی حق نه لري ولی په وصیت کې دوصي دمراعات په خاطر چشم پوشی کیږي چې په نوروقرضونوکې نه کوله کیږي .

## بَابُ الرِّبٰوا

داباب دی په بیان کې دسود

ربوا په لغت کې مطلق زیادت ته وایي اوشرعي تعریف یې شیخ خالدالاتاسي په دي الفاظوکې کړی دی : هو أی(الرِّبٰا) فَضلٌ خالٍ عَن عِوَضٍ بِمعیارٍ شرعي مَشرُوطٍ لأحدِ المُتعاقِدَینِ فی المُعاوضَة) یعنې ربواهغه زیادت دی چې بیله عوضه په شرعي معیارسره داحدله متعاقدینولپاره په معاوضه مالی کې شرط کړای شوی وي ،وړاندې یې لیکلي دي :وَالمرادُ بِالفَضلِ مایعُمُّ الحُکمي وَهُوَ رِبَا النَّسا کمایأتي، وَالمرادُ بِالمِعیارِ الشرعي الکَیلُ وَالوَزنُ فَلیسَ فی المَذرُوعاتِ وَالعَددیاتِ رِبا (الفضل) وَخرجَ بِالمتعاقِدَینِ مالَو شرطَ الفَضلَ لِغیرِهما فَانّه لایکُونُ رِبًا. (شرح المجلة: ۲/۳۳۲)

دباب ربواله ماقبل سره مناسبت دادی چې په بیع مرابحه کې هم زیادت وي اوپه ربواکې هم ،مګراول حلال اودوهم حرام دی اوپه شیانوکې اصل حلت دی ځکه یې دبیع مرابحه بیان مخکې کړی دی اودربوابیان یې وروسته کړ .

دربوا حرمت په کتاب الله ،سنت رسول ﷺ او اجماع دري واړو ثابت دی ،اما الكتاب فقوله تعالى ﴿ وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ﴾ يعني الله تعالى بيع حلاله او ربوا حرامه ګڼلې ده ) واما السنة فقوله عليه السلام :آكل دِرْهَمٍ واحدٍ من رِبوا أشدّ من ثلاث وثلاثين زَنْيَةً يزنيها الرّجل. (يعني دسود يو درهم خوړل ترديرش ځله زنا کولو نه بدتر دی ) او دربوا پر حرمت باندي دټول امت اجماع ده .

( ۱ ) وهو فضلُ مالٍ بلاعِوَضٍ في مُعاوضةِ مالٍ بمالٍ ( ۲ ) وعِلّته القدرُ والجنسُ ( ۳ ) فحَرُمَ الفضلُ والنَّساءُ بهما والنَّساءُ فقط بأحدِهما وحلّا بعدمهما ( ۴ ) وصحّ بيعُ المكيلِ كالبُرّ والشعيرِ والتمرِ والملحِ والموزونِ كالنقدينِ وما يُنسبُ إلى الرطلِ بجنسه متساوياً لا متفاضلاً ( ۵ ) وجيّده كرديئه ( ۶ ) ويُعتبرُ التعيينُ لا التقابضُ في غير الصرفِ.

**ترجمه** :ربوا هغه مالي زيادت دی بيله عوضه دمال په مال بدليدو کي او دهغه علت قدر او جنس دی نو حرام دی زيادت او پور دواړه ددغو دواړو (جنس او قدر) په صورت کي او يو اځي پور ديوه (قدر يا جنس) په صورت کي او دواړه (ربوا الفضل والنسأ) حلال دي ددواړو (يعني قدر او جنس) دنه موجودګی په صورت کي او صحيح ده بيع دکيلي شيانو لکه غنم،اوربشي،خرما ،مالګه او دوزني شيانو لکه نقدين (سره او سپين زر) او کوم شيان چي رطل ته منسوبيږی دهغوله جنسه برابر ،برابر نه په زيادت سره،او دهغه عمده او کوټه دواړه برابر دي او له بيع صرف نه پرته په نورو کي تعين معتبر دی نه تقابض .

**تشريح** : ( ۱ )مصنف رحمه الله په خپل دغه عبارت کي دربوا شرعي تعريف کړی دی چي ربوا هغه مالي زيادت دی چي مال دمال په عوض بدليدو کي بيله عوضه وي مثلا دوه کيلو غنم ددريو کيلو په عوض واخلي يا لس درهمه دي وولسو په عوض ورکړي،په اول صورت کي يو کيلو غنم بلاعوض دي چي په مقابله کي يې هيڅ شی نشته او په دابل صورت کي يو درهم بلاعوض دی چي په مقابله کي يې هيڅ شی نشته نو دا دواړه صورتونه پر ربوا (سود ) باندي مشتمل دي .

**فائده** :ربوا پر دوه قسمه ده :ربوا الفضل ،ربوا النسأ) داځکه چي زيادت دا حدله بدلينو يا حقيقي وي لکه يو ه پيمانه غنم ددوو پيمانو په عوض خرڅول او يا به حکمي زيادت وي چي احد بدلينو نقد وي او بل پوری وي لکه يوه پيمانه غنم نقد په عوض ددوو پيمانو اوربشو په پورلومړی قسم ته ربوا الفضل او دوهم قسم ته ربوا النسأ وايي .

( ۲ )دسود په باره کي نبی کريم ﷺ فرمايلي دي :الحنطةُ بالحنطةِ والشعيرُ بالشعيرِ والتمرُ بالتمرِ والملحُ بالملحِ والذهبُ بالذهبِ والفضةُ بالفضةِ مثلاً بمثلٍ يداً بيدٍ والفضلُ ربوا (يعني غنم دغنمو ،اوربشي داوربشو ، خرما دخرماؤ ،مالګه دمالګي ،سره زرد سرو زرو ،سپين زرد سپينو زرو په عوض برابر لاس په لاس خرڅوئ په دي کي زيادت سود دی

له اهل ظواهرو نه پرته دنورو مجتهدينو پر دي باندی اتفاق دی چي په حديث شريف کي پر مذکورو شيانو باندی نور شيان قياسيږي په نورو شيانو کي هم سود راتلای شي ،او دمقيس ومقيس عليه ترمنځ

اشتراک علت هم ضروري دی مجهتدین په دي کي مختلف دي چي آیا په مذکورو شیانو کي د حرمت علت څه شی دی چي که چیرته هغه علت له دغو شیانو پرته په نورو شیانو کي وموندل شو نو هغوئ هم حرامیږی.

د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد علت کیل سره له جنس یا وزن سره له جنس دی ،په لنډو عباراتو کي قدر مع الجنس هم ویل کیدای شی ،ولی په حدیث شریف کي : الحنطة بالحنطة والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح والذهب بالذهب والفضة بالفضة مثلا بمثل يدا بيد والفضل ربوا ) له مثلا بمثل څخه معلومیږی چي مماثلت ضروري دی او مماثلت دوه قسمه وي ،یو په اعتبار د صورت بل په اعتبار د معنی ،نو په کیل او وزن سره مماثلت صوری حاصلیږی او په اتحاد جنس سره مماثلت معنوی حاصلیږی،نو په قدری شیانو کي (یعني وزنی او کیلی شیانو کي) زیادت او پورله اتحاد جنس سره سود گرځي، او د امام شافعی رحمه الله په نزد طعم په مطعوماتو کي او ثمنیت په اثمانو کي علت دی،او اتحاد جنس یي شرط دی نو چونه په عوض د چونه خرڅولو کي د شوافعو په نزد کمبوت او زیادت جائز دی ولی دلته دواړه علتونه (طعم او ثمنیت) نشته ،د احنافو په نزد نه دی جائز ولی علت د حرمت (یعني قدر او جنس) دواړه موندل کیږي .

(۳)چي کله دا خبره ثابته شوه چي د حرمت علت قدر مع الجنس دی نو چیرته چي دا دواړه صفتونه وموندل شی هلته تفاضل او پور دواړه حرام دي لکه غنم په عوض د غنمو خرڅول زر د زرو په عوض سپین زر د سپینو زرو په عوض خرڅول ولی علت د حرمت (قدر مع الجنس ) موجود دی او چیرته چي له دا دواړو صفتونو څخه یو وموندل شی یعني عوضین له یوه جنس څخه وي لکه هروی کپړه د هروی کپړي په عوض خرڅول یا عوضین له یوه جنس خو نه وي مگر دواړه قدری وي لکه یو من غنم دیوه من اوربشو په عوض خرڅول نو په دغه وخت کي تفاضل جائز دی مگر پور نا جائز دی لقوله عليه السلام: اذا اختلف النوعان فبيعوا كيف شئتم يدا بيد ولا خير فيه نسيئة .او چیرته چي دا دواړه صفتونه نه وموندل شی هلته په عوضینو کي تفاضل هم جائز دی او پور هم جائز دی لکه چار مغز د هگیو په عوض خرڅول ولی علت د تحریم دلته نشته یعني نه دواړه کیلی او وزني دي او نه دواړه له یوه جنسه دي .

(۴)مکیلی شیان لکه غنم ،اوربشي ،خرما ،مالگه وغیره او موزونی شیان مثلا نقدین یعني سره او سپین زر وغیره او هغه شیان چي رطلی (پیمانی والا) ورته ویل کیږی مثلا لکه غوړي وغیره دا شیان که چیرته د خپل جنس په عوض خرڅیدل نو برابر برابر خرڅول یي جائز دی او کمبوت او زیادت نه دی پکي روا ولی په زیادت او نقصان خرڅولو کي سود لازمیږی .

**فائده** :عراقی رطل دیوسل اته ویشت درهمونو د وزن برابر راځی ،هسی خو رطل دیوه ظرف او لوښي نوم دی لکه لیټر چي دیوه لوښي نوم دی مگر په رطل سره چي کوم شیان خرڅیږی اخیستل کیږی هغه شیان وزني شمارل کیږی لکه نن سبا چي د شید و خرید و فروخت په لوښي سره نا پیږی مگر له هغه څخه وزن مراد یږي څرنگه چي د بهیدونکو شیانو په مختلفو لوښو کي تول کول حرج دی نو تیسیراً د دوئ لپاره رطل لیټر وغیره جوړ شوي دي .

**فائده**: دکوموشیانو په باره کې چې پیغمبر ﷺ تصریح فرمایلي ده چې په هغوکې تفاضل حرام دی دکیل له لحاظه خوداشیان دهمیشه لپاره کیلی دي که څه هم خلک په خپل عُرف کې دهغوئ خرید وفروخت په کیل سره پریږدي لکه غنم، اوربشې، خرما، مالګه وغیره ولی نص ترعرف اقوی دی او اقوی دادنی په وجه نه شی پریښودل کیدای نوکه غنم دغنموپه عوض برابر وزناً خرڅ کړي دانا جائزدی ولی دزیادت توهم کیږی (غنم له کیلی شیانوڅخه دی) اودکوموشیانوپه باره کې چې پیغمبر ﷺ تصریح فرمایلي ده چې په هغوکې تفاضل حرام دی دوزن له لحاظه خوداشیان دهمیشه لپاره وزني دی که څه هم دهغوئ خرید وفروخت خلکو وزناً پرې ایښی وي لکه سره زر، سپین زر، نوکه چاسپین زردسپینوزروپه عوض برابرسرابرخرڅ کړل دانا جائزدی ولی دزیادت توهم کیږی (سپین زرله وزني شیانوڅخه دی) اودکوموشیانوپه باره کې چې پیغمبر ﷺ تصریح نه ده فرمایلي نو هغه دخلکوپرعادت باندی محمول دي که دخلکوعادت وزني وي نووزني دي اوکه کیلی وي نوکیلي دي.

**فائده**: امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې مطلقاًدعرف اعتباردی یعني کوم شیان چې دپیغمبر ﷺ په زمانه کې کیلی ووکه چیرته دخلکوعادت په دي زمانه کې داشي چې هغه شیان وزني کړي نووزني ګرځي ځکه دپیغمبر ﷺ په زمانه کې چې کوم شیان وزني یاکیلی ووهغه وخت دخلکوعادت همداسي وو پیغمبر ﷺ دخلکوعادت مطابق فیصله کړې وه، دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله: والراجح قول ابی یوسف رحمه الله تیسیراعلی الناس واعتبار اللعرف وعلیه الفتوی صرح به فی الکافی ورجحه ابن الهمام فی الفتح واقرفی المنح واختاره فی البرهان (هامش الهدایة:۳/۸۲)

(۵) په ربویه مالونوکې دعمده اوردي ترمنځ هیڅ فرق نشته نوجیّددردي په عوض په کمبوت اوزیادت سره خرڅول جائزنه دی مثلایومن عمده قسم غنم دجودت دوجه نه ددومنوردّي غنموپه عوض خرڅول ناجائزدی، البته برابربرابرخرڅول یې جائزدی لقوله ﷺ: جیدها وردیها سواء (یعني په ربویه مالونوکې کره اوکوټه سره برابردي) نودعمدهٔ په عوض کې زیات ردّی اخیستل یاورکول صحیح نه دی، همدارنګه که دوصف په اعتبارتفاوت معتبرکړای شي نوپه ربویه مالونوکې دخرید وفروخت دروازه بندیږی ولی په کیلی اووزني شیانوکې دوصف په اعتبارمن کل وجه مماثلت ناممکن دی.

(۶) یعني له عقدصرف نه بغیرپه نورو ربویه مالونوکې دعوضینوتعین په مجلس کې شرط دی تقابض (دمتعاقدینوقبض کول) شرط نه دی ولی له تقابض څخه اصل مقصودپه مبیعه کې دتصرف کولوقدرت، دی دغه فائده یواځې په تعین سره هم حاصلیدای شی نوتقابض یې شرط نه دی نوکه یوچامتعین غنم دمتعینوغنموپه عوض خرڅ کړل بیاترقبض که مخکې متعاقدین سره جلاشول نوداجائزه ده، البته په عقدصرف کې (چې پرجنس پیسوباندی واقع کیږی یعني پیسې دپیسوپه عوض خرڅیږی) داشرط دی چې عوضین به دعقدپه مجلس کې قبض کیږي لقوله علیه السلام: الفضة بالفضة هاءً وهاءً (یعني سپین زردسپینوزروپه عوض لاس په لاس).

**فائده**: دامام شافعی رحمه الله په نزدبیع الطعام بالطعام په صورت کې که چیرته متعاقدین ترقبض لومخکې سره ولاړل نودابیع جائزه نه ده، ولی په حدیث دربواکې له یداً بیدٍ څخه قبض مرادادی، امام

شافعي رحمه الله ته جواب ورکړای شوی دی چې یدًابید څخه عینًابعینٍ مراددی لکه دمسلم شریف په روایت کې چې (عینًابعینٍ ) راغلی دی یعنی دعوضینومتعین کیدل ضروري دی نوپه بیع الطعام بالطعام کې دعوضینومتعین کیدل شرط دی نه دهغوقبض کول.

(۷)وَصَحَّ بَيْعُ الحَفْنَةِ بِالحَفْنَتَيْنِ وَالتُّفَاحَةِ بِالتُّفَاحَتَيْنِ وَالبَيْضَةِ بِالبَيْضَتَيْنِ وَالجَوْزَةِ بِالجَوْزَتَيْنِ وَالتَّمْرَةِ بِالتَّمْرَتَيْنِ وَالفَلْسِ بِالفَلْسَيْنِ بِأَعْيَانِهِمَا(۸)وَاللَّحْمِ بِالحَيَوَانِ(۹)وَالكِرْبَاسِ بِالقُطْنِ وَكَذَا بِالغَزْلِ كَيْفَمَا كَانَ(۱۰)وَالرُّطَبِ بِالرُّطَبِ وَبِالتَّمْرِ مُتَمَاثِلًا وَالعِنَبِ بِالعِنَبِ وَبِالزَّبِيبِ (۱۱)وَاللُّحُومِ المُخْتَلِفَةِ بَعْضِهَا بِبَعْضٍ مُتَفَاضِلًا وَلَبَنِ البَقَرِ بِلَبَنِ الغَنَمِ(۱۲)وَخَلِّ الدَّقَلِ بِخَلِّ العِنَبِ وَشَحْمِ البَطْنِ بِالأَلْيَةِ أَوْ بِاللَّحْمِ.

**ترجمه** : اوصحیح ده بیع دیوې لپې غلې له دوولپوغلې سره اودیوه سیب له دووسیبونوسره دیوې هګۍ له دوو هګیوسره دیوه چارمغزله دووچارمغزوسره دیوې خرماله دووخرماؤسره دیوې پیسې له دوو پیسوسره ددوئ دووپه تعین کیدوسره اوغوښه له حیوان سره اودپنبه ؤدکپړې له پنبه ؤسره همدارنګه له وریوسره څرنګه چې وي،اودپخوخرماؤله پخوخرماؤسره یاله وچوخرماؤسره برابربرابر،اودانګوروله انګورویاکشمشوسره اومختلف قسم غوښې ځینې په عوض دځینونوروکې په کمبوت اوزیادت سره اودغوادشیدودبزې له شیدوسره اودردي خرماؤدسرکې دانګوروله سرکې سره اودلړمون دوازګودلم له وازګویاسوښوسره.

**تشریح** : (۷)قوله حفنة (بفتح الحاء وسكون الفاء په معنی دیوه مُټ یاپه معنی دیوې لپې یعنې ددواړو مُټانومجموعه)یعنی یوه لپه غله ددوولپوغله په عوض خرڅول جائزدی همدارنګه یوسیب ددوو سیبانوپه عوض یوه هګۍ ددووهګیوپه عوض یوچارمغزددووچارمغزوپه عوض یوه خرماددوو خرماؤ په عوض یوه پیسه ددووپیسوپه عوض خرڅول جائزدی په دې شرط چې دواړه شیان معین وي ولی مخکې داخبره ذکرشوه چې دربواعلت قدریعنی ناپ اوتول اوجنس دی ظاهره خبره ده چې ددغوشیانو په یوه دانه یادوودانوکې ناپ وتول نه چلیږي یعنې شرعًادهغوئ دمقدارمعلومولولپاره کوم معیار نشته نودعلتْ ربوادنه موجودګې په وجه دابیوع جائزدي.

**فائده** :قوله باعیانهما،دالفظ له مذکوروټولوبیوعوسره متعلق دی یعنې په مذکوروبیوعوکې دعوضینومتعین کول ضروری دی ولی که عوضین متعین نه وي نوبیع دالکالي بالکالي یعنې بیع الدین بالدین لازمیږي حال داچې له بیع الدین بالدین څخه پیغمبر ﷺ منع فرمایلې ده ،اوکه یوعوض مجهول وي نوبیع جائزه نه ده ولی کوم یوعوض چې مجهول وي ظاهره خبره ده چې هغه نقدنه وي بلکې په هغه کې تاخیراځي وخت لګیږي په داسې حال کې چې دعوضینوترمنځ اتحادجنس موجوددی اودجنس اتحادچې راشي هغه نسأیعنې پورحراموي.

**فائده** : دغه روایت چې(یوه لپه غله په دوولپوغله خرڅول جائزدی اویوسیب په عوض ددووسیبانو خرڅول جائزدی) که څه هم په متونوکې مشهوردی خوضعیف دی ،وقدروی المعلی عن محمد رحمه الله صراحة انه قال کل شئ حرم التفاضل فی کثیره حرم فی قلیله واقره منهم صاحب البحر الرائق،والنهر،والفتح،وشرنبلالیه،والمقدسی والدرّ المختار،خاص بیاچې خلک یوه لپه ددوولپوپه عوض خرڅول دیوه من په دوومنوخرڅولولپاره وسیله ګرځوی، همدارنګه دامام

محمد رحمه الله په نزديوه خرماددوو خرماؤ په عوض خرڅول مكروه دى همدا صحيح دى،وقدسبق الترجيح لعدم جواز هذه البيوع فلايجوز بيع الثمرة بالتمرتين الاالى اخرتها ممالايكون مقدراكالبيضة والجوزة ) اويوه پيسه ددوو پيسو په عوض خرڅول هم دامام محمد رحمه الله په نزدناجائزدى اوپرهمدي باندي فتواده صرح به اهل كتب الفقه منهافتح القدير والبحرالرائق والمنح والشرنبلالية وغيرها ) همدارنګه نن سبااوراق نقديه يعني نوټونه هم څرنګه چې اصطلاحى ثمني دي نويوه روپۍ ددوو روپو په عوض خرڅول سوداوحرام دى ځكه ناروادى ،وهوقول الامام محمد الشيباني رحمه الله وعليه الفتوى في هذا الزمان سدّالباب الربا (هامش الهداية: ۳/ ۸۳)

**فائده** :دخوراک اوڅيښاک په كوموشيانوكې چې له تسامُح څخه كاراخيستى كيږى په هغوكې دقرض وركولو او اخيستلو مقصد ګټه كول نه وي بلكې خالص دوخت دضرورت پوره كول يې مقصدوي په هغوكې معمولى كمبوت او زيادت په سودكې نه دى داخل نوځكه دوديې عدداًقرض اخيستل جائزدى وذالک لماروى عن عائشة رضى الله عنها قالت قلت يارسول الله !ان الجيران يستقرضون الخبز والعجين ويردون زيادة ونقصانا فقال لابأس ان ذالک من مرافق الناس لايرادبه الفضل .همدارنګه معمولى اندازه مالګه،مرچ وغيره په قرض اخيستل دستوردى په هغوكې هم سودكول مقصدنه وي نويه واپس كولوكې يې معمولى كمبوت يازيادت ته سودنه ويل كيږي . (جديد معاملات كى شرعى احكام: ۱/ ۱۸۸)

(۸)قوله واللحم بالحيوان اى وصح بيع اللحم بالحيوان ،ويعني دشيخينو رحمهما الله په نزدغوښه په عوض دحيوان خرڅول جائزدى كه څه هم يوجنس وي مثلادبزې غوښه دبزې دغوښې په عوض خرڅه كړي نوداجائزه ده ولى دادموزون بيع ده دغيرموزون په عوض ،ځكه حيوان موزونى نه دى عددي دى نوچې هردول وي جائزدى .

**فائده** :دامام محمد رحمه الله په نزددانه دى جائز،البته كه چيرته غوښه ترهغه غوښه زياته وه چې په حيوان كې ده نوبيادامام محمد رحمه الله په نزدهم جائزدى ولى په دغه وخت كې به غوښه دغوښې په مقابله كې شى اوزياته غوښه به دسقط (يعني هډونو ،څرمن وغيره ) په مقابله كې شى،امام محمد رحمه الله ته جواب وركړاى شوى دى چې په مذكورصورت كې نه په عوضينوكې وحدت قدرشته كمامراونه دواړه يوجنس دي،ولى غوښه غيرحساس ده اوژوندى بزه حساس،متحرک بالاراده ده نوچې علت دربوانه موندل كيږى ځكه نوجائزه ده .

**فائده** :دشيخينورحمهما الله قول راجح دى اكثره علماؤهغه راجح ګڼلى دى مګردامام محمد رحمه الله په قول كې احتياط دى ،چاچې دشيخينو رحمهما الله پرقول فتوى وركړې ده هغه استحسان اختياركړى دى اوچاچې دامام محمد رحمه الله پرقول باندى فتوى وركړې ده هغه احتياط كړى دى اوله اختلاف څخه يې ځان ويستلى دى قال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله : واختاراكثرالعلماء فى هذه المسئلة قول الشيخين رحمهما الله وقالواهوالاستحسان وقول محمدقياس وظاهر كلام ابن الهمام هوالميل الى مااختاره محمد (هامش الهداية: ۳/ ۸۳)

(۹)قوله والكرباس بالقطن اى وصح بيع الكرباس بالقطن ،يعني دپنبه ؤجامه په عوض دپنبه ؤخرڅول جائزدى كه برابروي اوكه زيادت اونقصان پكې وي همدارنګه جامه په عوض دنه وودل شويو ورېو په عوض خرڅول

هم جائزدى ولى دادواړه يوجنس نه دي چې ربواراشي همدارنګه پنبه اوورېږ وزنى شيان دى جامه وزنى نه ده نوقدريې هم يونه دى حال داچې دربوالپاره علت جنس اوقدردى .

(۱۰)قوله والرطب بالرطب اى وصح بيع الرطب بالرطب الخ،يعني دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدپخه خرماپه عوض دپخي خرمايادوچى خرماپه عوض برابر،برابرخرڅول جائزدى ولى رطب كه تمروي نودمشهورحديث شريف له ابتداء (مثلا بمثلٍ) څخه يې جوازثابتيږى اوكه رطب تمرنه وي نودحديث شريف له آخرڅخه (يعني اذااختلف النوعان فبيعوا كيف شئتم) څخه يې جوازثابتيږى ،همدارنګه انګورپه عوض دانګورويا په عوض دكشمشو برابر،برابرپه مذكوردليل سره خرڅول جائزدى .

**فائده** :دصاحبينو رحمهما الله په نزدرطب په عوض دتمرواوانګورپه عوض دكشمشوخرڅول ناجائزدى ولى له نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې رطب په عوض دتمرخرڅول برابر،برابرجائزدى كه نه ؟ نونبى كريم ﷺ پوښتنه وكړه چې آيارطب چې وچې شى كميږى ؟ خلكوورېل هو!كميږي،پردى باندي نبى كريم ﷺ وفرمايل چې بيانوبيع درطب په عوض دتمروبرابرنه ده جائزه،دامام ابوحنيفة رحمه الله قول كه څه هم مذهب دى مګردصاحبينو رحمهما الله په قول كې احتياط دى،اوهمدارنګه له اختلاف څخه هم خالى دى څكه نوراجح دى قال العلامة ابن عابدين الشامى رحمه الله :وبقولهما قالت الائمة الثلاثة امابيع الرطب بالرطب فهو جائز بالاجماع.(ردالمحتار:۲۰٦/۴)

(۱۱)قوله واللحوم المختلفة اى صح بيع اللحوم المختلفة الجنس ،يعني مختلف قسم غوښې (مثلادغوايى داوښ دبزې غوښي) بعض په عوض دبعض نوروسره متفاضلاخرڅول جائزدى په دي شرط چې نقدپه عوض دنقدوي نسأنه وي،اوددواړوجنس مختلف وي لكه دبزې غوښه دغوايى دغوښې په عوض اودغوايى غوښه داوښ دغوښي په عوض خرڅول،وجه دجوازيې داده چې ددغو غوښواصول يعني اوښ ،غويى وغيره مختلف اجناس دي اواختلاف داصولوداختلاف فروع لپاره موجب دى نوداثابته شوه چې دهغوئ دغوښوجنس مختلف دى نوعلت دربوايعنى اتحادجنس نشته څكه نوپه هغوكي كمبوت اوزيادت جائزدى،همدارنګه دغواشيدې دبزې دشيدوپه عوض متساويا ومتفاضلادواړه ډوله خرڅول جائزدى ولى دهغوئ اصول هم اجناسِ مختلفه دي نوكمبوت اوزيادت پكي روادى.

**فائده** :په حيواناتوكې داختلاف جنس اواتحادجنس قاعده داده چې په باب دزكوة كې چې ديوه حيوان نصاب په كوم حيوان سره پوره كيږى نودادهغوئ دوحدت جنس علامه ده لكه غوااوګاميښ،بزه اومږ،اوكه ديوه نصاب په بل نه پوره كيده نودادهغوئ داختلاف جنس علامه ده لكه بزه اوغوا.

(۱۲)قوله وخلّ الدقل اى صح بيع خل الدقل بخل العنب،يعني دخرماؤسركه دانګورودسركې په عوض متفاضلا ومتساويًادواړه ډوله خرڅول روادى ولى دهغوئ اصول هم اجناس مختلفه دي نوپه هغوكي په كمبوت اوزيادت سره سودنه راځى،همدارنګه دلرمون وازګي دلم په عوض يادغوښوپه عوض خرڅول جائزدى كه څه هم وازګى اوغوښي دواړه دپسه وي ولى دهغوئ نومونه،صورتونه او مقاصدمختلف دي نواتحادجنس نشته كه په هغوكې كمبوت اوزيادت سودنه شمارل كيږى .

(۱۳) وَالخبزِ بِالبرِّ وَالدَّقِيقِ مُتَفَاضِلًا (۱۴) لَابَيعُ البُرِّ بِالدَّقِيقِ أَوْ بِالسَّوِيقِ (۱۵) وَالزَّيْتُونِ بِالزَّيْتِ وَالسِّمْسِمِ بِالشَّيْرَجِ حَتَّى يَكُونَ الزَّيْتُ وَالشَّيْرَجُ أَكْثَرَ مِمَّا فِي الزَّيْتُونِ وَالسِّمْسِمِ (۱۶) وَيُسْتَقْرَضُ الخُبْزُ وَزْنًا لَا عَدَدًا (۱۷) وَلَا رِبَوا بَيْنَ السَّيِّدِ وَعَبْدِهِ (۱۸) وَبَيْنَ المُسْلِمِ وَالحَرْبِيِّ ثَمَّهْ.

**ترجمه**: او جائزه ده بیع دډوډۍ له غنمو یا له اوړو سره په تفاضل باندې، نه دغنمو بیع له اوړو یا ستو سره، او دزیتونو دزیتونو له تیلو سره او دشرشمو دشرشمو له تیلو سره ترهغه چې دزیتونو تیل او دشرشمو تیل زیات وي ترهغو چې په زیتون یا په شرشم کې دي او قرض کوي دي ډوډۍ په وزن سره نه په شمار سره، او سود نه راځي دمولی او دهغه دمریې ترمنځ، او نه دمسلمان او حربي ترمنځ هلته (په دارحرب کې).

**تشریح**: (۱۳) قوله والخبز ای صح بیع الخبز بالبر، یعني دډوډۍ بیع دغنمو او اوړو په عوض متفاضلا جائزه ده، ولی په ډوډۍ جوړولو سره بل جنس ګرځي ځکه چې غنم او اوړه مکیلي دي او ډوډۍ دامام محمد رحمه الله په نزدعددي ده او دامام ابویوسف رحمه الله په نزدوزني دي له امام ابوحنیفة رحمه الله یو روایت دی چې ډوډۍ په عوض دغنمو خرڅولو کې هیڅ خیرنشته یعني ناجائزده.

**فائده**: مګر صحیح او مفتی به قول دادی چې جائزدی لمافی الدرالمختار: وجازبیع خبز ولومن بربر او دقیق ولو نه متفاضلا او وزنا. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۳/۲۰۶)

(۱۴) قوله لابیع البربالدقیق ای لایصح بیع البربالدقیق الخ، یعني غنم داوړو او ستو په عوض نه متساویا خرڅول جائزدي او نه متفاضلا، همدارنګه اوړه دستو په عوض خرڅول هم ناجائزدی، ولی غنم، اوړه او ستو یو جنس دی او په ثابتو غنمو کې اوړه مجتمع وي په ماتیدو سره داوړو یا ستو په جوړولو سره منتشر کیږي زیاتیږي نو په پیمانه کولو سره ددوئ داوړو ترمنځ تسویه نه شي راتلای.

**فائده**: اوړه داوړو په عوض متساویا په پیمانه سره خرڅول جائزدی متفاضلا نه دی جائز، ولی په اوړو کې دربوا علت یعني قدرمع الجنس موندل کیږي ځکه نوزیادت نه دی جائز، البته اوړه داوړو په عوض وزنا متساویا خرڅول دصحیح قول مطابق نه دی جائز ولی اوړه مکیلي شی دی په وزنا خرڅولو کې قطعي مساوات ممکن نه دی نو دکمبوت او زیادت دامکان په وجه جائزنه دی. (ردالمحتار: ۴/۲۰۸)

(۱۵) قوله والزیتون بالزیت ای لایصح بیع الزیتون بالزیت، یعني دزیتونو بیع دزیتون تیلو په عوض او شرشم دشرشم تیلو په عوض جائزنه دی ترڅو چې زیتون تیل او شرشم تیل ترهغو تیلو زیات نه وي کوم چې له زیتونو او شرشمو څخه وځي ددي لپاره چې تیل په عوض دتیلو کې شي او زیات تیل دخالی زیتونو او شرشمو په عوض کې شي.

**فائده**: که چیرته زیتون تیل او شرشم تیل ترهغو تیلو کم یا برابروي چې په زیتونو یا شرشمو کې دي نو بیا دا بیع ناجائزه ده ولی تیل په عوض دتیلو کې راځي او خالي بلاعوضه زائد پاتی شو، او دیوه عوض زیاتیدل دبل کمیدل سود دی نو ځکه ناجائزدی، او که دانه معلومیده چې له زیتونو او شرشمونه څومره تیل وځي نو داحتمال ربوا په وجه دا بیع ناجائزه ده.

(۱۶) دامام ابویوسف رحمه الله په نزدیوه ډوډۍ په تول سره قرض اخیستل جائزه ده په شمار اخیستل یې ناجائزدی ولی په ډوډۍ کې دتفاوت په وجه دزیادت او کمبوت امکان شته چې په وزن سره داتفاوت ختم کیږي، دامام محمد رحمه الله په نزددخلکو دضرورت او تعامل په وجه وزنا او عددا هردول صحیح دی، دامام

ابوحنيفة رحمه الله په نزدمطلقاًناجائزدی،ولی په ډوډۍ ،تنور،اونانوائيانوکې ډيرزيات فرق راځی نوددووترمنځ نه وزنًااونه عدداًمساوات ممکن دی نوربواته دمستلزِم کيدوپه وجه جائزنه دی .

**فائده** :دامام محمد رحمه الله قول مفتی به دی لمافی الدرالمختار: ويستقرض الخبزوزناًوعدداًعندمحمدوعليه الفتوی واستحسنه الکمال واختاره المصنف رحمه الله تيسيرا،قال العلامة ابن عابدين الشامی رحمه الله: وجعل المتاخرون الفتوی علی قول ابی يوسف رحمه الله واناأری قول محمداحسن. (الدرالمختارمع الشامية:۴/۲۰۸)

(۱۷)دمولی اودهغه دمريي ترمنځ ربوانه راځی يعني که مولی اودهغه مريی پخپل منځ کې په کمي وزياتی سره لين دين وکړي نوپه دي دربواحکم نه کيږي ولی مريی اودهغه په لاس کې چې کوم مال دی هغه دمولی مِلک دی نودمولی اودهغه دمريی ترمنځ بيع له سره راځی نه اوچې کله بيع نه ده راغلې نوددوئ ترمنځ ربوانه راځي .

(۱۸)کوم مسلمان ته چې داهل حرب له طرفه آمان ورکړای شوی وي دهغه اودکافرحربی ترمنځ په دارحرب کې دطرفينورحمهماالله په نزدربوانه راځي ولی دپيغمبرعليه السلام فرمان دی چې : لاربابين المسلم والحربی فی دارالحرب (يعني په دارحرب کې دمسلمان اوحربی ترمنځ سودنشته ) همدارنګه دکافرانومال په دارحرب کې مباح دی نومسلمان چې هغه په څه ډول هم حاصلوي دمباح مال ورونکی شمارل کيږي په دي شرط چې په غدراودوکه سره به يې نه وړي،ولی هلته ورغلي مسلمان له هغوئ سره عهدکړی دی چې دهغوئ مالونه به دهغوئ له رضامندی بغيرنه وړي نوغدراودوکه حرام دي،په داسی حال کې چې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپه دارحرب کې دمسلمان اوحربی ترمنځ ربواشته ولی که کوم حربی په امن سره داراسلام ته راشی نودمسلمان اودهغه حربی ترمنځ په داراسلام کې ربواممنوع ده نوپه دارحرب کې هم ممنوع ده لکه زنا،غلاوغيره .

**فائده** :دنژدي زماني اوعصرحاضرعلماءاحتياطادامام ابويوسف رحمه الله قول مختارګنې قال العلامة ظفراحمدالعثمانی رحمه الله :مع ذالک فلاشک فی کون التوقی عن الربا ولومع الحربی فی دارالحرب احسن واحوط وازکی،واحری خروجامن الخلاف ,وهوالذی ذهب اليه شيخناحکيم الامة والتی به واختاره لترجيحناالقول ابی يوسف رحمه الله والجمهور. (اعلاء السنن:۴/ ۳۷۲) کذافی فتاوی حقانيه:۶/۲۱۰)واحسن الفتاوی:۷/۲۰).

### باب الحقوق

حقوق د(حق ) جمع دی له دي څخه هغه حقوق مراددي چې دمبيعی تابع وی بيله ذکرکولونه په مبيعه کې داخليږی،مصنف رحمه الله چې کله دبيع له مقصودی دشيانولکه مبيعه اوثمن له بيان څخه وزګار شونواوس په دغه باب کې دمبيعه اوثمن تابع حقوقِ معهوده بيانوي ولی تابع له متبوع وروسته وي

(۱)اَلعُلوُلايَدخُلُ بِشِراءِبَيتٍ بِكُلِّ حَقٍّ(۲)وَبِشِراءِمَنزِلٍ اِلّابِكُلِّ حَقٍّ هُوَلَهُ اَوبِمَرَافِقِهِ اَوبِكُلِّ قَلِيلٍ وَكَثِيرٍ هُوَفِيهِ اَومِنهُ(۳)وَدَخَلَ بِشِرَاءِ دَارٍ كَالكَنِيفِ لاالظُّلَّةِاِلّابِكُلِّ حَقٍّ هُوَلَهُ(۳)وَلايَدخُلُ الطَّرِيقُ وَالمَسِيلُ وَالشِّربُ اِلّابِنَحوِكُلِّ حَقٍّ هُوَلَهُ(۵)بِخِلافِ الاِجَارَةِ اِلَيهَا.

**ترجمه** : خونه (كمره) چې له ټولو حقوقو سره واخیستله شي بالاخانه نه داخلیږي،او د سرای په اخیستلو کې مګر دا که یې دغه سرای له هغو ټولو حقوقو سره اخیستی وو چې د هغه لپاره دي یا له ټولو منافعو سره وو یا له هغو ټولو لږ او ډیرو شیانو سره وو چې په هغه کې وو یا له هغه څخه وو ،او داخلیږي د سرای په اخیستلو کې پاخانه (بیت الخلاء) نه سائبان مګر دا که یې له هغو ټولو حقوقو سره اخیستی وو چې د هغه لپاره وي،او نه داخلیږي لاره او د اوبو بهیدو ځای او د اوبو حصه مګر که یې له هغو ټولو حقوقو سره اخیستی وو چې د هغه لپاره وي خلاف له اجاره کولو د هغه .

**تشریح** : په عربي ژبه کې درې لفظه مستعمل دي :بیت،منزل ،دار،په دوئ کې فرق دادی چې بیت هغې حجرې یا کمرې ته وایې چې په هغې کې دروازه لګیدلې وي،او منزل هغه ته وایې چې په هغه کې څو کمرې او دالان او مسقف میدان وي،او دار هغه لوی سرای ته ویل کیږی چې پکې له کمرو او غیر مسقف میدان نه علاوه اصطبل ،بالاخانه وغیره ټول ضروري شیان وي لکه د امیرانو لوی لوی مکانونه، یو بل لفظ (ظله) ده،ظله هغه دی چې پر دروازه باندی جوړوي چې لاندی لاره تیره شوې وي د بعض حضراتو په نزد ظله هغه سائبان دی چې یو طرف یې پر دار مبیعه باندی وي او بل طرف یې پر بل سرای باندي وي .

(۱) که چا یوه کمره له ټولو حقوقو سره واخیسته نو په هغه بیع کې د کمرې بالاخانه نه راځي ولې بیت هغه ځای ته وایې چې په هغې کې شپه تیریږي بالاخانه خود مستقل شپه تیر ځای دی نو د کمرې نه تابع کیږي ولې شي داعلی تابع کیږی دادنی او مثل نه تابع کیږی مګر دا چې په بیع کې د هغې د داخلید و تصریح وشي .

(۲) قوله وبشراء منزل ای لایدخل العلوبشراء منزل الخ ،همدارنګه د حقوقو وغیره له ذکر کولو بغیر د سرای د اخیستو په صورت کې هم د منزل بالاخانه په بیع کې نه داخلیږي البته که مشتری د سرای اخیستو په وخت داسې وویل چې زه دغه سرای د هغه له ټولو حقوقو سره اخلم یا دا چې له ټولو منافعو سره یې اخلم یا دا چې په هغه کې کوم شیان که لږدي که ډیر ټول اخلم ،یا هر هغه شی چې له هغه سره متعلق دی ټول اخلم نو په دغو صورتونو کې بالاخانه د سرای په بیع کې راځي ولې سرای په یوه لحاظ د کمرې مشابه دی او په یوه اعتبار له دار سره مشابه دی نو په لومړی صورت کې چې د(ټولو حقوقو وغیره ذکر یې نه وي کړی) د بیت مشابهت ته اعتبار ورکړی ویې ویل چې بالاخانه په بیع کې نه داخلیږي او په باقی صورتونو کې (چې د ټولو حقوقو یا ټولو منافعو وغیره ذکر یې کړی وي) د دار مشابهت ته اعتبار ورکړی دی ویې ویل چې بالاخانه په بیع کې داخلیږي .

(۳) که چا سرای واخیست نو د هغه په اخیستو کې بالاخانه بیله نوم اخیستلو راځي لکه پاخانه چې د سرای په اخیستلو کې بیله نوم اخیستو راځي ولې بالاخانه او پاخانه د سرای له توابعو څخه دي، البته ظله یعنې سائبان بیله نوم اخیستو د دار په بیع کې نه داخلیږي تر څو چې دار له ټولو حقوقو سره وانه خلي یعنې داسې وو وایې چې دغه دار سره له ټولو حقوقو اخلم ،یا وو وایې چې له

ټولومنافعوسره يې اخلم ولي سائبان دسراى له حدودو څخه خارج پرلاربانـدى وي نـودادلارې پـه حکم کې دى لکه څرنګه چې لاره ددارپه بيع کې نه داخليږى همدارنګه سائبان هم نه داخليږى.

**فائده**: دبيت، منزل او دارمذکورتفصيل داهل کوفه اوعربو داصطلاح مطابق دى زموږپه عرف کې بالاخانه په دري واړه صورتونوکې په بيع کې داخليږى ولى ددې ځاى په عرف کې هرمسکن ته په فارسي ژبه خانه په اردوکې ګهروايې که کوچنى وي که لوى وي نودهربناراوهرې زمانې خپل عرف معتبريږى. (الدّرالمختار: ۴/ ۲۱۱)

(۴) اوددار اخيستوپه صورت کې خاص لاره (يعنې داسى لاره چې خاص ديوچاپه ملک کې تيره شوې وي ولى عامه لاره په بيع کې بيله ذکردحقوقوداخليږى) اوداوبوتلوځاى په بيع کې نه داخليږى همدارنګه دځمکى اخيستوپه صورت کې داوبوحصه په بيع کې نه داخليږى، البته که يې داسى وويل چې : دارله ټولوحقوقوسره ياځمکه له ټولوحقوقوسره اخلم، نوبياخاص لاره اوداوبوتلوځاى اوداوبوحصه په دغه بيع کې داخليږى ولى خاصه لاره ياداوبوځاى ياداوبوحصه هريوپه ددغى مبيعى له حدودوڅخه خارج دى ځکه نوبيله ذکردټولوحقوقوداشيان په بيع کې نه شامليږى مګردتابع کيدوپه وجه دټولوحقوقوذکرپه صورت کې داخليږى.

(۵) اوکه يې سراى ياځمکه په اجاره چاته ورکړل نومذکورشيان دسراى اوځمکى تابع دي په اجاره کې بيله ذکرکيدوداخليږى ځکه سراى اوځمکه ددې لپاره اجاره کيږى چې له هغوڅخه نفع واخيستله شى اوله سراى اوځمکې نه بيله خاصى لارې داوبوله ځاى اوداوبوله حصى نفع نه شى اخيستله کيداى نودعقددتصحيح لپاره دغه شيان په اجاره کې داخليدل ضروري دي.

### باب الاستحقاق

په استحقاق کې سين اوتاء دطلب لپاره دي يعنې حق طلبول، په اصطلاح کې استحقاق دي ته ويل کيږى چې يوڅوک ديوشي په سبب دشى مستحق وګرځي، ددغه باب له باب الحقوق سره لفظاً اومعنًى دواړه ډوله مناسبت ثابت دى، لفظ خوظاهردى چې استحقاق له حق څخه دى اومعنًى داډول چې استحقاق (يعنې حق طلبول) له حق وروسته وي.

(۱) اَلْبَيِّنَةُ حُجَّةٌ مُتَعَدِّيَةٌ لَا الْإِقْرَارُ (۲) وَالتَّنَاقُضُ يَمْنَعُ دَعْوَى الْمِلْكِ (۳) لَا الْحُرِّيَّةِ وَالطَّلَاقِ وَالنَّسَبِ (۴) بِيعَتْ وَلَدَتْ فَاسْتُحِقَّتْ بِبَيِّنَةٍ يَتْبَعُهَا وَلَدُهَا وَإِنْ أَقَرَّ بِهَا لِرَجُلٍ لَا.

**ترجمه**: ګواه حجت متعديه دى نه اقرار، اوپه کلام کې تناقض راتلل دملک ددعوى مانع دى، نه ددعوى دحريت اودعوى دطلاق اوله دعوى دنسب نه، دمبيعى بچى وزيږيد ياهغه دبل چاحق وګرځيد په بيّنه ؤسره نودابچى دهغى مبيعى تابع کيږى اوکه يې اقراروکړ دهغه دبل چالپاره نوبيانه تابع کيږى.

**تشریح** :(۱)گواه حجت متعدیه دی یعنې دګواهانو په ذریعه سره پرهرچا باندې هرډول دعوی ثابتیږی ،په دې شرط چې په ګواهانو کې دګواهي ورکولو شروط موجود وي،همدارنګه داهم شرط دی چې له ګواهي سره دقاضی قضاء متصله شی ولی قاضی لره پرعامو خلکوولایت حاصل دی نودقاضی قضاء چې کله دګواهانوله ګواهي سره یوځای شی نوپرټولو نافذه کیږی،اواقرارحجت غیرمتعدیه دی یعنې څوک چې دیوشي اقرارو کړي هغه شی دهغه پرذمه ثابتیږی په هغه سره دبل چاپرذمه هیڅ شی نه شی ثابتیدای ولی اقرارکوونکی پرخپل ځان ولایت لري
پربل باندې هیڅ ولایت نه لری نوځکه دمقراقرار دمقرترځان پوری محدود وي بل چاته نه متعدي کیږی .

(۲)که دملک په دعوی کې تناقض ثابت شي نودادملک ددعوی غلطیدل ثابتوي مثلایوچایو منځه واخیسته بیایې دادعوی وکړه چې دامنځه خودزیدملک دی نو هغه چې دزید دملکیت دعوی کوي غلطه ده ولی خپله دده په اخیستلوسره دامعلومیږی چې دهغه په نزددامنځه دهغه بائع ده له چانه چې ده اخیستی ده اوس چې دی کومه دعوی کوي چې دادزیدملک دی نوله هغی څخه دملک په دعوی کې تناقض پیداکیږی نودهغه دادعوی چې دادزیدملک دی غلطه ده .

**فائده** :دملک په دعوی کې تناقض ددعوی غلطیدل ځکه ثابتوي چې دقاضی لپاره دکلام دتناقض په صورت کې حکم کول ناممکن دی ولی له دواړو کلامونو څخه یوترهغه بل اولی نه دی نوپه داسی صورت کې دواړه کلامونه ساقطیږی . (والتفصیل فی ردّالمحتار:۴/ ۲۱۸)

(۳)قوله لاالحریة ای لایمنع التناقض دعوی الحریة،یعنې که دحریت ،طلاق اونسب په دعوی تناقض راشي نوپه دغه تناقض سره دهغی دعوی غلطیدل نه ثابتیږی مثلایوچامنځه واخیسته اوهغه یې قبض هم کړه بیایې دعوی وکړه چې دادزیدآزاده کړای شوې ده اوپرهغه یې ګواه هم وراندې کړنودهغه په دغه دعوی اوخریدکې که څه هم تناقض راغی خوځرنګه چې دادحریت دعوی ده نوسره له تناقضه هم دادعوی مقبوله کیږی اوهغه داحق لري چې له بائع څخه خپلې پیسی واپس واخلی وجه یې داده چې په آزادولوکې مولی مستقل دی نوداپرنوروباندې دڅه وخت لپاره مخفی کیدای هم شي نوداویل کیدای شي چې مخکی ده لره دمنځی دآزادیدوعلم نه وو ځکه یې هغه واخیسته ورروسته یې دآزادي په معلومیدو سره دآزادی دعوی وکړه همدارنګه که یوې ښځی خپل خاوندته څه مال ورکړخلع یې وکړه طلاق یې واخیست بیایې دعوی وکړه چې ماته خاوندترخلع مخکی دري طلاقونه راکړي وونودښځی ددغي دعوی اوخلع ترمنځ تناقض راغی مګرځرنګه چې دطلاق معامله ده نوځکه له تناقض سره دهغې دعوی مقبوله کیږی وجه یې داده چې په طلاق ورکولوکې هم خاوند مستقل دی نوممکنه ده چې ښځی ته په ابتداء کې دخاوند دطلاق ورکولو معلومات نه وو وروروسته چې کله ورته معلومه شوه نویې دعوی وکړه ،علی هذالقیاس که یوچامریی خرڅ کړبیایې دعوی وکړه چې دازمازوی دی نوسره له دې چې دهغه ددې دعوی اوخرڅولوترمنځ تناقض راځي مګرځرنګه چې دنسب دعوی ده نودتناقض باوجودیې دادعوی مقبوله کیږی وجه یې داده چې نسب پرعلوق مبنی دی اودعلوق یعنې نطفه قرارنیول یومخفی شی دی اودمخفی شي په باره کې تناقض معاف دی .

رجوع دي وكړي مشتري پرمرېي باندي او مرېي پربائع باندي ،خلاف له رهن نه ،اوكه چاپه مكان كې دحق دعوى وكړه بياصلح وشوه پرسل باندي بيامستحق ښكاره شو دبعض مكان نومدعي رجوع نه شي كولاى اوكه يې دعوى وكړه دټول مكان نورجوع دي وكړي دهغې حصې په اندازه .

**تشريح** :(۵)كه يوچابل ته وويل چې ته ما رانيسه زه مرېي يم ،هغه دي واخيست بيامعلومه شوه چې دى خومرېي نه بلكې آزاد دى مشتري ته يې دوكه وركړي ده چې دهغه پيسې يې يوفرضي مولى ته وركړي دي نوپه داسې صورت كې كه خرڅوونكى حاضروويا داسې غائب وو چې هغه ځاى وپته يې معلومه وه نوفرضي بائع ته وركړاى شوې پيسې مشتري له مرېي څخه نه شي اخيستلاى بلكې خرڅوونكى دي ونيسي اوله هغه دي خپلې پيسې وصول كړي ولې پيسې خوهغه قبض كړي دي او مشترى لره پرهغه باندي رجوع كول ممكن هم دي .

(۶)قوله والارجع المشترى على العبداى وان لم يدرالبائع اى هورجع المشترى على العبد،يعني كه بائع حاضرنه وو اونه يې پته معلومه وه چې چيرته دى نودطرفينورحمهماالله په نزدپه دغه صورت كې څرنګه چې له فرضي بائع څخه دپيسو اخيستل متعذردى نوځكه به مشترى دغه فرضي مرېي ته رجوع وكړي هغه ته په عوض كې ته وركړي پيسې به له ده څخه وصول كړي ولې هغه خپل ځان مرېي ظاهركړى دى مشتري ته يې دوكه وركړي ده مشتري دهغه په دي ويناچې زه مرېي يم اعتمادكړى هغه يې اخستى وولې په حركيدو كې دهغه قول معتبردى نوددي دوكه وركولوپه وجه له مشتري څخه دضررليري كولولپاره مرېي دمشتري دپيسوضامن بلل كيږى،بياچې كله مذكورمرېي دمشتري پيسې اداكړي نواوس به مرېي دهغوپيسوپه باره كې بائع ته رجوع كوي ورنه اخلي به يې ولې دغه پيسې اداكول پربائع باندي لازم وونوګواكې مرېي دهغه قرضه اداكړه ځكه مرېي هغه ته درجوع كولوحق لري .

(۷)البته درهن داحكم نه دى يعني كه يوچاخپل ځان ديوچامرېي وښودبل ته يې وويل زه دفلان مرېي يم ستاپرهغه باندي قرض دى دهغه قرض په بدله كې ماله خپل ځان سره درهن په ډول وساته،هغه دى درهن په ډول وساتى بيامعلومه شوه چې دى مرېي نه دى آزاددى نواوس دامرتهن له هغه مرېي څخه په هيڅ حال كې هم قرض نه شي وصول كولاى كه راهن حاضروي كه غائب وي اوچيرته چې اوسيږي هغه ځاى معلوم وي كه نه وي معلوم،ولې دپيسو واپس اخيستو اختيارپه عقودمعاوضه ؤكې وي يا په كفاله كې وي په داسې حال كې چې رهن نه عقدمعاوضه دى اونه كفاله ده بلكې دوثوق اواعتمادذريعه ده ددي لپاره چې مرتهن لره خپل هغه حق حاصل شي كوم چې ده راهن ته دقرض په ډول وركړى دى نوپه دغه صورت كې مرتهن هغه مرېي ته دقرض دپيسوپه باره كې رجوع نه شي كولاى .

**فائده** :دامام ابويوسف رحمه الله په نزددبيع په صورت كې هم مشتري هغه مرېي ته درجوع كولوحق نه لري كه څه هم بائع داسې غائب وي چې اوس هغه ته رجوع كول متعذروي ولې درجوع حق په عقدمعاوضه كې وي يا په كفاله كې وي په داسې حال كې چې دلته دمرېي له طرفه له مشتري سره نه كومه معامله شوې ده اونه مرېي دبائع له طرفه دپيسوكفيل شوى دى بلكې يوازې دخپل ځان په باره كې يې دمرېتوب

ددروغو اقرار کړی دی نو مشتري په هيڅ حال کې هم ده ته د رجوع کولو حق نه لري ، د طرفينو رحمهما الله قول راجح دی لما قال الشيخ عبدالحکيم الشهيد رحمه الله: والراجح قول الطرفين رحمهما الله وهو ظاهر الرواية عن ائمتنا الثلاثة (هامش الهداية: ۳/ ۸۹)

(۸)که چا ديو مکان په باره کې دعوی وکړه چې په دي کې يوه مجهوله حصه زما هم شته او مدعی عليه يعني مالک مکان سل روپۍ ورکړي صلح يې ورسره وکړه بيا دهغه مکان ديوې حصې يو بل څوک مستحق پيدا شو نو د مکان مالک به له اول مدعی (چې د څه حصې دعوی يې کړې وه) څخه هيڅ واپس نه اخلي ولی دا احتمال شته چې بنايي د دغه دوهم مستحق حق په هغه حصه کې وي چې په هغه باندی مدعی دعوی نه ده کړي ولی هغه مدعی خو د ټول مکان دعوی نه وه کړي .

**فائده** :البته دا شرط دی چې مستحِق به په ټول مکان کې استحقاق نه ثابتوي که نه اول مدعی ته د خپلو سلو درهمونو په باره کې رجوع کول صحيح کيږي ولی په ټول مکان کې د دريم چاپه استحقاق ثابتيدو سره معلومه شوه چې هغه ناحقه دعوی کړې وه او بيله وجه يې سل درهمونه وصول کړي وو . (الدّرالمختار علی هامش ردّالمحتار : ۴ / ۲۲۲)

**فائده** :له مذکور صورت څخه دا معلومه شوه چې د صلح د صحت لپاره صحت دعوی شرط نه دی ولی په مذکور صورت کې د اول مدعِی حق مجهول دی او د مجهول حق دعوی نه ده صحيح ولی د مجهول په حق کې چې کومه دعوی وي هغه هم مجهوله وي . (پورتنی حواله )

(۹)او که اول مدعی د ټول مکان دعوی کړې وه چې دا ټول مکان زما دی د مکان مالک هغه ته سل درهمونه ورکړل صلح يې ورسره وکړه اوس د دغه مکان د څه حصې مثلاً د نيم مکان يو بل دريم شخص مستحِق پيدا شو نو د مکان څښتن به له اول مدعِی څخه د مستحَق په اندازه يعنې د نيم مکان په اندازه درهمونه واپس واخلي ولی د مکان مالِک د ټول مکان په بدله کې پر سلو درهمونو باندې صلح کړې وه او اوس چې کله دا خبره ثابته شوه چې ټول مکان د اول مدعی نه دی بلکې نيم دی نو د هغه نيم عوض يې بلاسببه وړی دی نو د غه نيم عوض دي له هغه نه واپس واخلي .

**فائده** :مذکوره مسئله د دې خبرې دليل دی چې د مجهول شي په باره کې پر معلوم مال باندې صلح کول جائزه ده ولی په ساقطيدونکو شيانو کې جهالت مفضی و نزاع ته نه دی او کوم جهالت چې مفضي و نزاع ته نه وي هغه د عدم جواز سبب نه گرځي . (پورتنی حواله)

## فصل

دا فصل د فضولي د احکامو په بيان کې دی .

فضولي (بضم الفاء) معنی په مالايعنی سره مشغول کيدل،د فقهاؤ په اصطلاح کې فضولي هغه څوک دی چې نه اصيل وي او نه وکيل وي او نه وصی وي بلکې يو پردی څوک ديو چا په حق کې له شرعی اجازت بغير تصرف وکړي مثلاً ديو چا يو شی د هغه له اجازته بغير په دي اميد خرڅ کړی چې هغه به په دغه بيع سره راضي

کیږي یا یې دچا لپاره په دي امید مال واخیست چې په دغه خرید سره هغه راضي کیږي دفضول دغه عقد داصل مالک پراجازه باندي موقوف کیږي که هغه اجازه ورکړه نونافذه کیږي که نه بیانه کیږي.

له ماقبل سره یې مناسبت دادی چې فضولي دبیع استحقاق له صورتونوڅخه یوصورت دی ولي چې مستحق کله مشتري ته داوایې چې داشی زما ملک دی فلاني چې پرتاباندي خرڅ کړی دی زماله اجازت بغیریې خرڅ کړی دی نودابعینه دفضولي بیع ده.

(۱) وَمَن بَاعَ مِلْکَ غَیْرِهِ فَلِلْمَالِکِ أَن یَفْسَخَهُ أَوْ یُجِیزَهُ (۲) إِنْ بَقِيَ الْعَاقِدَانِ وَالْمَعْقُودُ عَلَیْهِ وَلَهُ وَبِهِ لَوْ کَانَ عَرَضًا (۳) وَصَحَّ عِتْقُ مُشْتَرٍ مِن غَاصِبٍ بِإِجَازَةِ بَیْعِهِ (۴) لَا بَیْعُهُ (۵) وَلَوْ قُطِعَتْ یَدُهُ عِندَ الْمُشْتَرِي فَأَخَذَ أَرْشَهُ فَأُجِیزَ فَأَرْشُهُ لِلْمُشْتَرِي (۶) وَتَصَدَّقَ بِمَا زَادَ عَلَی نِصْفِ الثَّمَنِ.

**ترجمه**: اوکه چاخرڅ کړدبل چاملک نومالک لره اختیارشته چې هغه یادغه بیع فسخ کړي یااجازه ورکړي، که باقي وومتعاقدین، معقودعلیه، معقودله اوبه که ثمن سامان وو، اوصحیح دی آزادول دمشتري له غاصب څخه له اجازي دبیع سره، نه دهغه بیع اوکه پرې کړای شولاس دهغه دمشتري سره اوهغه یې تاوان واخیست بیادبیع اجازه ورکړای شوه نوتاوان دمشتري کیږي اوصدقه دي کړي هغه چې زیات وي ترنصف ثمن.

**تشریح**: (۱) که یوه فضولي دیوچامملوک شی دهغه له اجازي بغیرخرڅ کړنوداجائزدی ولي عروی بن ابی الجعد روایت کوي چې پیغمبرعلیه السلام دیوې بزې اخستولپاره ماته یودیناررا کړ ماپه هغه باندي دوې بزې واخیستي بیامې له هغوڅخه یوه دانه په یوه دینارخرڅه کړه پیغمبر علیه السلام ته مي یوه بزه اویودیناررااوړ راغلم، پیغمبرعلیه السلام هغه ته په خریدوفروخت کې دبرکت دعاء وکړه، که دفضولي عقدناجائزوای نوبیاپیغمبر ﷺ هغه بیع نه نافذوله (ویل کیږي چې دنبي کریم ﷺ ددعاء دااثرشوچې بیابه ابن ابی الجعد خاورې هم اخیستلې نوپه هغوکې به یې ګټه کوله) بیامالک لره اختیارشته که غواړي چې هغه بیع فسخ کړي اوکه غواړي چې برقراره یې وساتي اختیارځکه ورکړل شوی دی چې دمالک ضررنه وي ولي ممکنه ده چې هغه په دي خبره راضي نه وي چې داشی دهغه له لاسه ووځي.

**فائده**: دامام شافعي رحمه الله په نزددفضولي تصرف جائزنه دی ولي هغه لره شرعي ولایت حاصل نه دی ځکه شرعي اجازت خپله په مالک کیدوسره یادمالک په اجازه ورکولوسره ثابتیږي په داسي حال کې چې فضولي نه مالک دی اونه مالک هغه ته اجازه ورکړي ده اوداقاعده ده چې کوم شی له شرعي ولایت څخه صادرنه وي هغه نه منعقدکیږي، احناف وایې چې داتصرف له خپل اهل یعني عاقل بالغ څخه پخپل محل یعني مال متقوم کې صادرشوی دی نوددي دعدم انعقادهیڅ وجه نشته، همدارنګه په دي کې دمالک هم ضررنشته ولي مالک لره خودعقدقبلولواوردولودواړواختیارشته که دی په دي کې خپل ضررمحسوسوي نوعقددي ردکړي بلکې په دی کې خودمالک فائده ده چې هغه دمشتري له تلاش کولواودثمن مقررولوله مشقت څخه ژغورل کیږي نوداویل کیږي چې دمالک له طرفه دلالةً اجازه معلومیږي.

(۲) خودانعقادعقدلپاره داشرط دی چې متعاقدین یعني بائع اومشتري اومعقودعلیه یعني مبیعه اومعقودله یعني اصل مالک ټول به موجودوي همدارنګه که یې معقودبه (یعني ثمن) یوسامان مثلاً کپړه ،لوښي یابل شی ورکړي وورویې یې نه وې ورکړي نودهغه موجودیدل هم ضروري دی ولي داصل مالک

اجازه ورکول تصرف فی العقد دی اودتصرف فی العقدلپاره دعقدقائمیدل ضروري دی چې په هغه کې تصرف کول ممکن وي اومذکورعقدپه مذکوروشیانو (بائع،مشتری، معقودعلیه، معقودله اوبه ) سره قائمیږی .

(۳)که چادبل مریی غصب کړخرڅ یې کړمشتری هغه مریی آزادکړاوس دمریي اصل مالک غاصب ته دخرڅولو اجازه ورکړه نودشیخینو رحمهما الله په نزددمشتری آزادیدل صحیح کیږي،اودامام محمد رحمه الله په نزدصحیح نه دی،دقیاس تقاضاهم همداده چې دمشتري اعتاق بایدصحیح نه وي،مشتري دهغه مریي مالک نه دی ګرځیدلی ځکه په داسی بیع سره چې پراجازه باندي موقوفه وي ملکیت نه ثابتیږی اوبیله ملکیت څخه آزادول نه دی صحیح لقوله ﷺ :لاعتق فیمالایملک ابن آدم (یعني عتق نشته په هغه شی کې په کوم کې چې :بنی آدم ملک حاصل نه وي) دشیخینو رحمهما الله دلیل دادی چې مشتری له غاصب څخه دیوډول شرط بغیرپه مطلق بیع سره اخیستی دی اوداسی بیع مفیده ملک لره ده اودهمدي بیع پربنیاددمشتري هغه آزادکړنومریی آزادیږي خوځرنګه چې دابیع دمالک پراجازه موقوفه ده نودمشتري آزادیدل هم دمالک تراجازي پوري موقوف دی نوچې کله مالک اجازه ورکړه نودبیع له نفاذسره اعتاق هم نافذکیږی لکه راهن چې :مرتهن له اجازي بغیرمرهون مریی خرڅ کړی اومشتري هغه آزادکړي نودمریي آزادي دمرتهن تراجازي یادمرهون مریي ترآزادیدو موقوف دی چې کله مرتهن دبیع اجازه ورکړي نومریی هم آزادیږي .

**فائده** :دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی لمافی الدّر المختار:اشتری من غاصب عبدًافاعتقه المشتری اوباعه فاجاز المالک بیع الغاصب وادی الغاصب الضمان الی المالک اوادی المشتری الضمان الیه نفذ الاول ای العتق قال ابن عابدین الشامی رحمه الله : هذاعندهما وقال محمد لایجوز عتقه ایضا لانه لم یملکه (الدّر المختار مع الشامیة:۱۵۹/۳)

(۴)قوله لابیعه ای لاصح بیع المشتری من الغاصب وان اجاز المولی بیعه،یعني که مشتری نه وو آزادکړی بلکې پربل چاپي خرڅ کړی وواوس دمریي اصل مالک غاصب ته دخرڅولو اجازه ورکړه نودمشتري خرڅیدل نه صحیح کیږی ولی چې کله مالک اجازه ورکړه نودمشتری من الغاصب لپاره ملک قطعی ثابت شوپه داسی حال کې چې ده لره ملک موقوف له وړاندي څخه ثابت دی اوس ملک قطعی پرهغه ملک موقوف باندي طاري شوچې په هغه سره ملک موقوف باطلیږی ولی ملک قطعی اوملک موقوف جمع کیدل محال دی نوچې کله ملک موقوف باطل شونوله هغه سره اجازه هم نه ملحقه کیږي نودمشتری من الغاصب مخته خرڅول هم نه صحیح کیږي .

(۵)که دمغصوب مریي لاس چادمشتري سره پریکړچې مشتری دهغه تاوان واخیست اواوس چې اصل مالک دخرڅولو اجازه ورکړه نودتاوان روپۍ دهمدغه مشتري سره پاتیږی ولی داجازي په وجه دمشتری ملکیت دخریدله وخته پوره شوځکه خریددملک سبب دی نوښکاره شوه چې لاس پریکیدل دمشتري پرملکیت باندي واقع شوی دی اوچې کله لاس دمشتري سره غوڅ کړای شوی دی نوتاوان به یې هم دمشتري لپاره وي،اوکه دمریي لاس دغاصب سره غوڅ کړای شویاغاصب دمریي قیمت اداکړنودلاس تاوان دغاصب حق نه کیږي ولی غصب سبب دملک نه دی .

(۶)په مذکورصورت کې پرمشتري باندي واجب دی چې دلاس تاوان چې ترنيمی پيسو څومره زيات وي هغه صدقه کړي (دآزادبنی آدم دلاس تاوان نصف ديت دی اومريي دلاس تاوان دهغه دنيم قيمت برابردی) ولی په دي کې دعدم ملک شبه ده ځکه دمشتري ملک په طريقه داستنادثابت دی اوکوم ملک چې په طريقه داستنادثابت وي هغه من وجه ثابتيږی ځکه نوپه دي کې دعدم ملک شبه پيدا شوه .

(٧) وَلَوْ بَاعَ عَبْدَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ فَبَرْهَنَ الْمُشْتَرِي عَلَى إقْرَارِ الْبَائِعِ أَوْ رَبِّ الْعَبْدِ أَنَّهُ لَمْ يَأْمُرْهُ بِالْبَيْعِ وَأَرَادَ رَدَّ الْبَيْعِ لَمْ تُقْبَلْ بَيِّنَتُهُ (٨) وَإِنْ أَقَرَّ الْبَائِعُ بِذَلِكَ عِنْدَ الْقَاضِي بَطَلَ الْبَيْعُ إنْ طَلَبَ الْمُشْتَرِي ذَلِكَ (٩) وَمَنْ بَاعَ دَارَ غَيْرِهِ فَأَدْخَلَهَا الْمُشْتَرِي فِي بِنَائِهِ لَمْ يَضْمَنْ الْبَائِعُ .

**ترجمه** :اوکه يې خرڅ کړ دبل چامريی دهغه له اجازي بغيراوګواهان يې وړاندي کړل مشتري دبائع پراقرار يادمريي دمالک پراقرارباندي چې هغه ده ته دبيع اجازه نه ده ورکړې،اومشتري اراده وکړه دبيع دردولو نو ګواهان يې نه منظوريږي،اوکه اقراروکړ بائع ددغی خبري دقاضی په وړاندي نوبيابيع باطليږی که مشتري دامطالبه وکړه،اوکه چاخرڅ کړ دبل چاسرای اومشتري هغه ګډ کړ له خپل سرای سره نوبائع ضامن نه ګرځي .

**تشريح** :(٧)که چادبل چامريی دهغه له اجازی بغيرخرڅ کړبيامشتري پردي باندي ګواهان ودرول چې دمريي خرڅوونکی زمانه مخکي دااقرارکړی ووچې اصل مالک ماته دخرڅولواجازه نه ده ورکړې يايې ګواهان ودرول پردي باندي چې اصل مالک زمانه مخکی دااقرارکړی ووچې ماددغه مريي دخرڅولواجازه نه ده ورکړې په دي دوړاوصورتونوکي دمشتري په ګواهانووړاندي کولوسره مقصوددبيع ردول دی نودهغه داګواهان نه منظوريږي، ولی دهغه په دعوی کې تناقض دی داځکه چې کله هغه داخيستلواقدام وکړنوګواکی ده دشراء دصحت اقراروکړ اواوس بيادغيرصحيح کيدودعوی کوي نودده په دعوی کې تناقض راغی اودتناقض په صورت کې دعوی نه صحيح کيږی اوبينه (ګواهان) پرصحت دعوی باندي مبنی وي نوچې دتناقض په وجه دعوی صحيح نه شوه نودمشتری بينه (ګواهان) هم نه منظوريږي .

(٨)اوکه خرڅوونکي فضولی دقاضی په وړاندي خپله دااقراروکړچې بيشکه اصل مالک ماته دخرڅولواجازه نه ده راکړې نوبيابيع باطليږی په دي شرط چې مشتری هم دبطلان مطالبه کړي وي ځکه دلته هم تناقض شته مګرڅرنګه چې فضولی اقرارکوي اوتناقض له صحت داقرارڅخه مانع نه دی همداوجه ده چې که چيرته يوڅوک دشي څخه انکاروکړي بياپه هغه اقراروکړي نودهغه دااقرارصحيح دی البته څرنګه چې دفضولی اقرارحجت قاصره دی اوحجت قاصره دغيرپه حق کې نه نافذ کيږی نوپرمشتری باندي نه نافيږی البته که چيرته مشتري پردغه اقرارباندي له بائع سره موافق وي نودبيع فسخ کول جائزکيږي .

(٩)که چادبل چاسرای دهغه له اجازي بغيرخرڅ کړاومشتري راولاړشوهغه سرای يې له خپل سرای سره يوځای کړيعني قبض يې کړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدخرڅوونکی ددي سرای دقيمت ضامن نه ګرځي،که څه هم هغه دغصب اقرارکوي،ولی دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدغصب په غيرمنقول جائيداد کې نه متحقق کيږي نوغاصب نه ضامن کيږي،همداامام ابويوسف رحمه الله آخري قول دی،په داسی حال کې چې

دامام محمد رحمه الله په نزد ضامن کرځي ،ولې دامام محمد رحمه الله په نزد غصب په غیرمنقول جائیداد کې متحقق کیږي ،دغیرمنقول جائیداد دغصب کولو تفصیل ان شاء الله تعالی په کتاب الغصب کې راځي.

## باب السلم

### داباب دبيع السّلم په بيان کې دی

مصنف رحمه الله چې کله دهغوبيوعوله بيان څخه فارغ شوپه کومو کې چې دعوضينويا ديوه په مجلس عقد کې قبض ضروري نه دی اوس دهغوبيوعو بيان شروع کوي په کومو کې چې عوضين يا يوپه مجلس عقد کې قبض کول ضروري دی،بيا په بيع السلم کې احدله عوضينو قبض کول ضروري دی اوپه بيع صرف کې ددواړو عوضينو قبض کول ضروري دی نو بيع السلم په منزله دمفرد دی او بيع صرف په منزله دمرکب دی ځکه يې نو بيع سلم مقدم کړ.

بيع سلم په لغت کې عبارت دی له هغې بيع څخه په کوم کې چې ثمن معجّل وي اوپه اصطلاح دفقهاؤکې عبارت ده له :اخذعاجل بآجل (مؤجل دمعجّل په عوض اخيستل) څخه يعنې بيع سلم هغه عقد دی چې پکې پرثمن باندې عاجلا اوپرمبيعه باندې آجلا ملک ثابتيږي،صاحب ثمن يعنې مشتري ته رب السلم ،صاحب دمبيعه يعنې بائع ته مسلم اليه ،ثمنو ته رأس المال او مبيعه ته مسلم فيه وايي.

**فائده** :دبيع سلم مشروعيت په کتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ او اجماع دروواړو سره ثابت دی ،اماالکتاب فقال ابن عباس اشهدان الله احل السّلم المؤجل وتلاقوله تعالى ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ﴾ واماسنت رسول الله ﷺ فقوله عليه السلام :من اسلم منكم في تمرفليسلم في كيل معلوم ووزن معلوم الى اجل معلوم، رواه البخاری ومسلم) همدارنګه دبيع سلم پرجوازباندې درسول الله ﷺ له وخته ترنن پورې دامت اجماع راروانه ده،البته دقياس تقاضاداده چې بيع سلم نه وي جائزه ولې په بيع سلم کې بيع دمعدوم کيږي اوبيع خودموجودغير مملوک ياموجودغيرمقدورالتسليم لاهم نه ده جائزه نودغيرموجودبيع په طريقه اولی سره نه جائزه کيږي.

**فائده** :دبيع سلم دجوازعقلي وجه دخلکو احتياج دی يعنې بيع سلم ته دخلکوديرشديدضرورت دی او قاعده ده چې :الضرورات تبيح المحظورات ،دبيع سلم حکم دادی چې په رأس المال يعنې ثمنو کې دمسلم اليه ملک فی الحال ثابتيږي اوپه مسلم فيه يعنې مبيعه کې درب السلم مِلک په مؤجل (موقت) دول سره ثابتيږي .(الفقه الاسلامی وادلته :۵/ ۳۶۰۳)

(١)مَاأَمكَنَ ضَبطُ صِفَتِهِ وَمَعرِفَةُ قَدرِهِ صَحَّ السَّلَمُ فِيهِ وَمَالَا فَلَا فَيَصِحُّ فِي الكَيلِيِّ وَالمَوزُونِ المُثَمَّنِ (٢) وَالعَدَدِيِّ المُتَقَارِبِ كَالجَوزِ وَالبَيضِ وَالفَلسِ وَاللَّبِنِ وَالآجُرِّ إِن سُمِّيَ مِلبَنٌ مَعلُومٌ (٣) وَالذَّرعِيِّ كَالثَّوبِ إِن بَيَّنَ الذِّرَاعَ وَالصِّفَةَ وَالرُّقعَةَ وَالصَّنعَةَ.

**ترجمه** :هغه شی چې ممکن وي ضبط کول دصفت دهغه او معلومول دمقدار دهغه صحيح دی په هغه کې بيع دسلم اوکوم شی چې داسې نه وي په هغه کې صحيح نه دی،نوصحيح دی په کيلي ،وزني ثمن والا وعددی متقارب شيانو کې لکه :چارمغز،هګۍ،پيسې ،کچه خښتې ،پخې خښتې که يې وربنودلی وو معلوم غالب ،اوپه ګزناپيدونکيو شيانوکې لکه کپړه که چيرته يې ورته ښودلی وو ګزاو صفت اوپنډوالی او جوړښت.

**تشريح** :(۱)يعنې بيع دسلم جائزه ده په هرهغه شی کې چې دهغه دصفت (يعني جودة اوردائت ) اومقدارد معرفت ضبط کيدای شي اوداځکه ضروري دی چې جهالت رفع شی دابيع مفضی ونزاع ته نه شی قوله ومالافلای کل شئ لايمکن فيه ضبط الصفة ومعرفة القدرفلايصح بيع السلم فيه،يعني دکوموشيانوچې دصفت اومقدارد معرفت ضبط ممکن نه وي په هغوکې دجهالت په وجه بيع دسلم نه ده جائزه،ولی داد ول بيع مفضي ونزاع ته کيږي،نوهغه کوم شيان چې په ناپ سره خرڅيږی مثلالکه غنم اوربشي وغيره په هغوکې بيع دسلم جائزه ده ،همدارنګه په موزونی مبيعاتويعنې هغه شيان چې په تول سره خرڅيږی لکه شهد(عسل) زيتون وغيره په هغوکې هم بيع دسلم جائزه ده ولی په ناپ اوتول سره ددغوشيانو دمقدار ضبط کيدای شي اوپه بيان سره يې دصفت ضبط کيدای شي اوداقيدچې مبيعه به مثمنه وي يې ځکه لګولی دی چې دراهم اودنانيروڅې چې دادواړه بيشکه چې وزنی دي مګرذی ثمن نه دي بلکې په پيداښتی ډول خپله ثمن دي په داسی حال کې چې په بيع سلم کې مسلم فيه مبيعه وي ثمن نه وي، نوپردراهمواودنانيرو باندي دبيع سلم دتعريف نه صادقيدوپه وجه په دوئ کې بيع دسلم نه ده جائزه .

(۲)قوله والعددی المتقارب ای يصح السلم فی العددی المتقارب عددًا،يعنې په عددی متقارب شيانوکې (عددی متقارب هغه شيان دي چې په احادوکې دقيمت په اعتبارتفاوت نه وي ) هم په شمارلوسره بيع سلم جائزه ده لکه چارمغز،هګی،پيسې،اوکچه خښتې په دي شرط چې دخښتوغالب به يې متعين کړی وي ولی ددغوشيانو مقدارپه شمارسره ضبطيدای شي اووصف يې په بيان سره ضبط کيدای شی ،همدارنګه دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدپه عددی متقاربوشيانوکې دکيل په ذريعه هم بيع سلم جائزه ده البته دامام زفر رحمه الله په نزدپه عددی شيانوکې دکيل په اعتباربيع سلم نه ده جائزه .

**فائده** :په فلوس (پيسو )کې دامام محمد رحمه الله په نزدبيع سلم نه ده جائزه ولی فلوس ثمن دي مبيعه نه دي اومخکې داخبره ذکرشوه چې په ثمن کې بيع سلم جائزه نه ده،امام محمد رحمه الله ته جواب ورکړای شوی دی چې دفلوس ثمن کيدل دعرف اومتعاقدينوپه اصطلاح سره دی نوددوئ په اتفاق سره دفلوس ثمن کيدل باطليږی اوچې کله دفلوس ثمن کيدل باطل شونوفلوس دهغوئ په حق کې سامان ګڼل کيږی ثمن نه دي نوځکه په فلوس کې بيع سلم جائزه ده،علامه شامی رحمه الله فرمايې چې له امام محمد رحمه الله څخه هم ظاهرالروايةهم هغه دی کوم چې له شيخينورحمهما الله څخه مروي دی . (ردالمحتار:۴/ ۲۲۷)

**فائده** :نوټ خپله ثمن دی اوکه داصل ثمن سنددی ؟ په دي باره کې دعلماؤرايه مختلفي دي ديوې ټولی خيال دادی چې نوټ اوسګه دوثيقه حکم لري ،بعينه ثمن نه دي ،زموږله علماء هند څخه په دي باره کې په خاصه توګه دحضرت مولانااشرف علی تهانوی رحمه الله اوحضرت مولانامفتی محمدشفيع رحمه الله نوم دياد ولووړدی په عام ډول دهنداوپاکستان علماؤدهغه مطابق فتوی ورکړې ده ،ددوهمې ټولی رايه داده چې سکه اونوټ خپله دثمن درجه لري،مولاناعبدالحی لکهنوی رحمه الله اوددہ شاګرد رشيد حضرت مولانافتح محمد رحمه الله ددي قائل دي .

ظاهره خبره ده چې په دي باره کې مورډ کتاب اوسنت تصریحات نه شو موندلی ځکه چې په قدیم زمانه کې دخرید او فروخت لپاره یواځې سره اوسپین (دارهم اودنانیر) استعمالیده، دسکو اوپه خاص ډول دنوټ استعمال خودیرو روسته شروع شو، البته دفقه په ځینو کتابونو داسي نظرونه موندل کیږی چې له هغو څخه پرمذکوره مسئله باندي رڼا اچول کیږي، ځینی خلک نوټ یواځې وثیقه اوسند ګڼي، دهغوئ دلیل واضح اوپه بادی النظرکې قرین قیاس دی ،پرنوټ باندی ددي عبارت درج کیدل چې :ددومره روپو اداکولو اجازه ورکوو،،، دنوټونو دوثیقه کیدو خبره په ډاګه کوي، چې دریزروبانک دوزیردتوثیق په وجه قبلیږی، که نه ظاهره ده چې خپله په دغه کاغذیاسکه کې دخرید دومره قوت نه وي کوم چې دهغه توثیق په وجه پکې تسلیم کړای شی اونه دهغه توثیق بغیرڅوک هغه دخرید او فروخت لپاره قبلوي، دبل نوټ ترویج اودهغه آغاز چې په څه ډول شوی دی هغه خپله ددي تائید کوي، ویل کیږی چې په ابتداء کې دبانک دنوټ پرځای خلکو خپله درقوموو ثیقی لیکلي اوهغه به یې قبلولي، کوم چې ظاهره ده چې دچیک اووثیقه شکل دی ،وروسته دغه اختیار حکومتونو ترلاسه کړاو دهغوئ دتصدیق په مهرسره نوټ چلیږی، بیاحکومت پر،،، دکنټرول لپاره داحق ریزروبانک ته وروسپاری اوپه همدي ډول اوس بانک نوټونه جاري کوي ،دائرة المعارف برطانیه دنوټ حیثیت داسي ښودلی دی چې داګواکی دهغه قرض سند دی کوم چې دنوټ دڅښتن له طرفه دبانک پرذمه دی دنوټ په باره کې دي مذکورتفصیل داخبره واضحه کړي ده چې نوټ دوثیقه حیثیت لري، اودفقه په اصطلاح کې داحواله ده ،دنوټ اداکوونکی محیل ،وصولوونکی محتال ،اوبانک محتال علیه دی، چې دهغه دادائیګی ذمه یې اخیستی ده .

کوم حضرات چې نوټ ثمن ګڼي دهغوئ په نظر داامردی چې دنوټ چلیدل په اوسنی زمانه کې بعینه همداسي دي لکه په پخوا زمانه کې چې دراهم اودنانیر چلیدل، حکومت دنوټ اخیستو ته مجبوروي، که نوټ ضائع شی نودهغه عوض نه اداکوي، پاتی شوه دحکومت له طرفه دنوټ توثیق دادنوټ ثمنیت ته چندان تاوان نه رسوي، څرنګه چې نوټ پخپل ځان کې مالیت نه لري، ځکه نودهغه دثمنیت دیقینی کولو اواعتبار دقائمولو لپاره دحکومت له طرفه داتوثیق دی چې دهغه له ثمنیت سره منافي نه دی..

ددغو تفصیلاتو په رڼاکې راقم الحروف عرض کوي چې دنوټ حیثیت په اوسنی زمانه کې داصطلاحی ثمنوشوی دی اوزمورډ زمانی له لحاظه په هغه کې هیڅ شبه نه ده پاتی شوي په نن زمانه کې چې څوک بل ته نوټ اداکوي نودهغه په ذهن کې داخبره بلکل نه وي چې دی هغه ته وثیقه اداکوي، چې دهغه ادائیګی دبانک پرذمه دی، بلکې دی هغه مستقل ثمن ګڼي اداکوي یې ددي برخلاف نن سباهم په بانکوکې چیک اوډرافټ وغیره ورکول کیږي، نودورکوونکی اواخستونکي دواړو په ذهن کې دهغه داحیثیت دی چې دااصل رقم نه دی بلکې وثیقه ده اولکه څرنګه چې مخکی ذکرکړای شو فقهاؤ چې دپیسو په باره کې کوم تفصیلات ذکرکړي دي له هغو څخه داخبره واضحه معلومیږي چې ثمنیت ،درلودل په اصل کې پرعرف اورواج باندي مبنی دی اوهغه په دي باب کې داصل اوبنیاد حیثیت لري فلوس نافقه اوداډول درهم

اودينارچې پرهغوباندې كوټ غالب وي اوهغه دسرواوسپينوپه حكم كې نه وي ددي واضح نظيردی چې دهغو دثمنيت تسليميدلو وجه له رواج اوتعامل پرته بله څه ده ؟ . (جديد فقهى مسائل :۴/ ۳۰)

**فائده** :څرنګه چې كرنسي نوټ په خلقي ډول ثمن نه دي بلكې دعرف اورواج په وجه يې دثمنوحيثيت خپل كړی دی اوبيع صرف،يوائې په خلقي ثمنو(سرواوسپينو) كې جاري كېږي ،نودشيخينو رحمهما الله په نزد په مجلس بيع كې ددواړونوټوقبض كول شرط نه دی بلكې له يوه جانبه دنوټ قبض كول شرط دی نوكه يوچاامريكائي ډالروصول كړل دهغوپه عوض كې يې دپاكستاني كرنسي نوټ وركولموده مقرره كړه معامله يې طی كړه چې درې مياشتې وروسته پاكستاني كرنسي نوټ اداكوم نوداډول بيع جائزه ده لماقال العلامة محمدتقى العثمانى حفظه الله بحياتهم: لان الاثمان لايشترط فيها كونهامملوكة للعاقدعندالبيع عندهم فيصح فيهاالتاجيل عنداختلاف الجنس.(بحوث:١٦٨/١)البته كه دسود خوري لپاره داطريقه اختيار كړی شي نوبياله هغې نه پرهيزكول لازم دی .

(٣)قوله والذرعى اى يصح السلم فى الذرعى ذرعا،يعنې كوم هغه شيان چې په ګزسره خرڅيږي لكه كپړه وغيره په هغوكې هم بيع سلم چې په ګزسره ناپ كړی شي جائزده ولې په ګزونوسره په ناپولوكې دهغوضبطول ممكن دی په دې شرط چې دايبان شوی وي چې په كوم ګزسره ناپيږي ولې ګزدوه قسمه وي يوقسم هغه ګزدی چې په هغه سره ځمكې پيمايشيږي دوهم قسم هغه دی چې په هغه سره كپړه وغيره ناپيږي نودګزبيانول ضروري دی په ننني زمانه كې ګزاوميټراستعماليږي،اوداهم شرط دی چې دكپړې صفت بيان كړي چې كوم قسم كپړه ده (دوون، دوريښمو،دپنبهؤ) ولې بيله بيانولوپه هغې كې دبائع اومشتري ترمنځ نزاع راتلای شي همدارنګه دكپړې جوړښت اونرم والی اوپنډوالی بيانول هم شرط دی چې دكوم ځای جوړه شوې كپړه ده ولې بيله بيانولوپه هغه كې هم دبائع اومشتري ترمنځ نزاع راتلای شي،(مشتري به جاپانی كپړه غواړي مثلا بائع به چينائی يا ايرانی كپړه وركوي ) .

(۴)لافِي الحَيَوَانِ وَاطرَافِهِ وَالجُلُودِ عَدَدًا(۵)وَالحَطَبِ حَزمًا وَالرَّطبَةِ جُرزًا(٦)وَالجَوَاهِرِ وَالخَرَزِ وَالمُنقَطِعِ(٧)وَالسَّمَكِ الطَّرِيِّ وَصَحَّ وَزنًالوَ مَالِحًا(٨)وَاللَّحمِ(٩)وَبِمِكيَالٍ اَوذِرَاعٍ لَم يُدرَقَدرُهٗ(١٠)وَبُرِّ قَريَةٍ اَوثَمرِ نَخلَةٍ مُعَيَّنَةٍ.

**ترجمه** :اوبيع سلم جائزه نه ده په حيوان كې اودهغه په اطرافوكې اوپه څرموكې دعدد په لحاظ سره اوپه لرګوكې

دباړونوپه لحاظ سره اوپه سبزيوكې دګيډيوپه لحاظ سره اوپه جواهراتو اوملغلروكې اوپه هغوشيانوكې چې نه موندل كيږي اوپه تازه ماهيانو(كبانو)كې اوصحيح دی دوزن په اعتبار سره كه په مالګه لړل شوي وواونه دی صحيح په غوښوكې ،اوپه داسی پيمانه ياګزسره چې دهغومقدارمعلوم نه وي اودخاصی علاقی (سيمې ) په غنموكې اودمعلومې درختی(ونی) په خرماؤكې .

**تشريح** :(۴)قوله لافى الحيوان واطرافه،اى لايصح السلم فى الحيوان واطرافه،يعنې په حيوان اودهغه په اطرافوكې (يعنې سراوپښوكې) بيع سلم نه ده جائزه اونه په څرموكې په شمارسره ولې داټول عددی متفاوت شيان دي

يعني ددي په دانوكې غيرمعمولي تفاوت راځي چې مفضي ونزاع ته دي ،همدارنګه نبي كريم ﷺ په حيوان كې له بيع سلم څخه منع فرمايلې ده .

**فائده** :دامام شافعي رحمه الله په نزد په حيوان كې بيع سلم جائزه ده ولې دحيوان :جنس،نوع،عمراووصف يعنې چاغ اوډنګرپه بيانولوسره دهغه معرفت ممكن دى ددغوشيانوله بيانولووروسته په حيوانانوكې ډيركم فرق پاتې كيږي نوپه حيوان كې بيع سلم جائزه ده،احناف جواب وركوي چې داتعليل دنص په مقابل كې دى همدارنګه دحيوان دجنس ،نوع وغيره له بيانولووروسته بياهم په حيوانانوكې دماليت په اعتباردباطني خوبيانوپه وجه ډيرفرق راځي مثلاديوه عمردوه آسان وي خوكله يې دقيمت په اعتبارسره ډيرفرق وي په دى وجه چې په يوه كې دتيزرفتاري اونوربه صفتونه وي په هغه بل كې نه وي نودماليت په اعتبارسره دزيات تفاوت په وجه په حيوانانوكې بيع سلم نه ده جائزه . (ردّالمحتار:۴/۲۲۸)

(۵)قوله والحطب حزماوالرطبة جرزا،اى لايصح السلم فى الحطب حزماوالرطبة جرزا،يعنې بيع سلم په لرګيوكې دبارونوپه لحاظ اوپه سبزيوكې دګډيوپه لحاظ سره جائزه نه ده،ولې بارونه اووو،،متفاوت اومجهول دي يعنې دبائع اومشترى ترمنځ نزاع پكې راځي البته كه دهغې رسۍ اوږدوالى بيان كړاى شي چې بارونه په ترل كيږي نوكه داسې ووچې دبارونوترمنځ تفاوت نه راتلى ياپې دنوع اووصف په بيانولوسره دوزن په اعتباركړل نوبياجائزه ده ځكه بيادامفضي ونزاع ته نه دي ،همداحكم دسبزيوهم دى چې دوصف په بيانولوسره دوزن په اعتبارپه عقدكولوسره په هغوكې بيع سلم جائزه كيږي .

(۶)قوله والجواهروالخرزوالمنقطع،اى لايصح السلم فى الجواهروالخرزوالشئ المنقطع عن ايدى الناس،يعنې څرنګه چې جواهراوملغلرى عددي شيان دي اودهغوپه دانوكې دماليت په اعتبارډيرفرق راځي نوپه دي وجه چې مفضي ونزاع ته كيږي په هغوكې بيع سلم نه ده جائزه،همدارنګه په داسې شيانوكې بيع سلم نه ده جائزه كوم چې دبيع په وخت كې يادمسلم فيه داداكولوپه وخت كې په آسانۍ سره په لاس نه راځي آن تردې كه چيرته مسلم فيه دعقدپه وخت كې موجودووااودادائيګۍ په وخت كې منقطع شويادهغه برعكس ياپه منځ موده كې منقطع شونوبيع سلم نه ده جائزه ،لحديث ابن عمر انه ﷺ نهى عن بيع الثمار حتى يبدوصلاحها.(يعنې نبي كريم ﷺ په ميووكې له بيع سلم څخه منع فرمايلې ده ترهغه چې هغه ښكاره شي ) له دهغه حديث شريف څخه معلومه شوه چې دعقدپه وخت كې دمسلم فيه په ښكاره شكل موجوديدل ضروري دى ،همدارنګه دمسلم اليه لپاره دمسلم فيه پرتسليمولوباندى قدرت درلودل ضروري دى نوپه ټاكلى شوې موده كې دمسلم فيه دوامداره وجودضروري دى .

**فائده** :كه له ټاكلى شوې مودې وروسته هغه شى منقطع شونورب السلم لره اختياردى كه بيع سلم فسخ كوي اوكه دمسلم فيه ترموجوديدوپورى انتظاركوى ولې عقدجائزواقع شوى دى ځكه شرط دجواز موندل شوى دى يعنې ترټاكلې مودې پورې دمسلم فيه دموجوديدوشرط شته البته ديوه عارض په وجه دمسلم فيه تسليمول متعذرشوى دى اوداعارض ليرې كيداى هم شي نوداداسې شولكه مبيعه چې مريې وي اوهغه

دمشتري ترقبض كولومخكى وتښتي نومشتري لره دبيع دفسخ كولواودمريې ترراتګ پوري دانتظاركولواختيارشته بس بعينه همداحكم دمسلم فيه دانقطاع په صورت كې هم دى . (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ۴/ ۲۲۸)

**فائده**:دامام شافعي رحمه الله په نزديوائې داداكولوپه وخت كې دمسلم فيه موجوديدل شرط دى ولى دمسلم فيه له وجودڅخه مقصودداده چې مسلم اليه دمسلم فيه پرسپارلوباندى قادروي،اوسپارل داداكولوپه وخت كې راځي ترهغه مخكى نه وى نوله وړاندې نه دمبيعى موجوديدل شرط نه دى،امام شافعي رحمه الله ته جواب وركړاى شوى دى چې له مذكورحديث شريف څخه معلوميږى چې دعقدپه وخت دمبيعه موجوديدل ضروري دى نوستاسى تعليل په مقابله دنص كې معتبرنه دى .

(۷)قوله والسمک الطرى،اى لايصح السلم فى السمک الطرى فى غيرحينه،يعني له خپل مخصوص وخت نه علاوه په تازه ماهيانو(كبانو)كې بيع سلم جائزه نه ده ولى تازه ماهيان له خپل موسم نه علاوه بل وخت په لاس نه راځى يعنې دژمي په موسم كې نه موندل كيږى په داسى حال كې چې په بيع سلم كې دمبيعى هروخت لاس ته راوړل شرط دى،البته كه په كوم ښاركې هروخت په لاس راځي نوبياصحيح دى ولى دجوازشرط وموندل شو،البته دوچوماهيانوچې مالګه پري اچول شوې وي بيع سلم دوزن په اعتبارسره صحيح ده ولى دداډول ماهيانو(كبانو) مقداراووصف ضبطول ممكن دى اومنقطع كيږي هم نه،هروخت په لاس راتلى شي .

(۸)قوله واللحم،اى لايصح السلم فى اللحم،يعني دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدپه غوښوكې بيع سلم نه ده جائزه،ولى په غوښه كې هډونه راځى كله واړه اوكله غټ وي نودغوښومقدارمجهول دى،همدارنګه دچاغو،ډنګروحيوانانوپه غوښه كې فرق وي نوپه دي وجه چې مفضى ونزاع ته كيږي په غوښوكې بيع سلم نه ده جائزه .

**فائده**:دصاحبينو رحمهما الله په نزدكه دغوښوجنس،نوع اوصفت بيان كړي مثلادخصي شوي دوه كلني ؤزكړي دورانه يومن مسلم فيه مقرركړي نوبياجائزه ده ولى غوښه موزوني شى دى اودوصف په بيانولوسره متعين كيداى شى همداوجه ده چې غوښه مضمون بالمثل دى اووزناغوښه په قرض اخيستل جائزدى نوپه دي وجه چې مفضى ونزاع ته نه ده په غوښه كې بيع سلم جائزده .

**فائده**:فتوى دصاحبينو رحمهما الله پرقول ده لماقال شارح التنوير:لايجوز السلم فى الحيوان ما،،،،ولحم ولومنزوعاعظم وجوزه الابين وصفه وموضعه لانه موزون معلوم وبه قالت الائمة الثلاثة وعليه الفتوى بحروشرح المجمع(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۴/ ۲۲۸)

(۹)قوله وبمكيال اى لايصح السلم بمكيال معين لايعرف مقداره،يعني په داسي پيمانه اوګزسره بيع سلم جائزه نه ده چې مقداريې معلوم نه وي ولى داكيداى شي چې داپيمانه اوګزضائع شي څكه دمسلم فيه مقدارمجهول كيږى چې دهغه په وجه دمتعاقدينو ترمنځ جګړه راځي اوعقدمفضى ونزاع ته جائزنه دى.

**فائده** :په داسى پيمانه سره بيع سلم جائزه ده چې مقداريې معلوم وي په دي شرط چې هغه پيمانه به خرابيږي نه سره ننوځي به نه لكه دټوكراوتوشه دان وغيره ولى په داډول پيمانه سره دبيع سلم په كولوكې جګړه پيداكيږي ولى مشتري به غواړي چې سره ننوځي اوبائع به په هغه باندي نه راضي كيږي . (ردالمحتار:۴/ ۲۲۹)

(۱۰)همدارنګه دمعلومي سيمي دکليوپه غله اودمعلوم ودرختوپه ميووکې هم بيع دسلم جائزه نه ده ولې پرهغوآفت راتلل اودهغومعدوميدل ممکن دی نودمعدوم کيدوپه صورت کې دمسلم فيه دسپارلوقدرت نه وي نوځکه داسې بيع جائزه نه ده .

**فائده** :که يې دمتعين کلي طرف ته نسبت وکړويې ويل،دهغه کلي مسلم فيه مثلادوه منه غنم کيږي اومقصوديې له دغه نسبت څخه دغنموصفت بيانول وي چې غنم اعلى قسم دي اوکه ادنى قسم دي نوپه دغه صورت کې بيع سلم جائزه کيږي ولې له هغه څخه مقصوددمتعين ځاى غنم مرادنه وي بلکې مراداوي چې غنم اعلى دي ياادنى دي . (الدّرالمختارعلى هامش ردّالمحتار: ۴/ ۲۲۹)

(۱۱)وَشَرطُه بَيانُ الجِنسِ وَالنّوعِ وَالصِّفَةِ وَالقَدرِ وَالأجَلِ وَاقلّه شهرٌ وَقَدرِ رَأسِ المَالِ فِي المَكِيلِ وَالمَوزُونِ وَالمَعدُودِ وَمَكَانِ الإيفاءِ فِيمَا لَه حَملٌ مِنَ الأشياءِ (۱۲)وَمَالاحَملَ لهُ يُوَفِيه حَيثُ شَاءَ وَقَبضُ رَأسِ المَالِ قَبلَ الإفتِرَاقِ.

**ترجمه** :اودسلم شرط دى بيانول دجنس،نوع،صفت اومقدار اوموده اولږترلږه موده يوه مياشت ده،او بيانول درأس المال دمقدارپه کيلي ،وزني اوعددي شيانوکې داداکولودځاى په هغوشيانوکې چې دبارولوضرورت وي،اوپه کوموشيانوکې چې دبارولوضرورت نه وي هغه چيرته يې خوښه وي ورديې کړي اوشرط دى درأس المال قبض کول ترجلاکيدومخکې .

**تشريح** :(۱۱)داامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدبيع سلم دصحت لپاره اته شرطونه دي :**نمبر ۱**-دمسلم فيه جنس به معلوم وي چې غنم به وي يااوربشي .**نمبر ۲**- نوع به يې معلومه وي چې داسې غنم به وي چې دبرمې په اوبوسره اوبه شوي وي ياداسې غنم چې دباران په اوبو(يعني للمي ) وي . **نمبر ۳**-دمسلم فيه صفت به معلوم وي مثلاجيدغنم دي که ردّي که متوسط . **نمبر ۴**-دمسلم فيه مقداربه معلوموي چې شل منه دي ياشل رطله ياشل پيماني . **نمبر ۵**-موده به معلومه وي چې څومره موده وروسته مسلم فيه اداکوي اوموده به لږترلږه يوه مياشت وي،تاکي ولې تريوه مياشت کمه موده مؤجل نه ده معجّل ده په داسې حال کې چې دبيع سلم لپاره تاجيل شرط دى . **نمبر ۶**-درأس المال (يعني ثمنو) مقداربه معلوم وي،که عقدسلم دهغه له مقدارسره متعلق وولکه دثمنومکيلي، موزوني اومعدودي کيدل (خلاف له حيوان کپړه وغيره نه چې داشيان په اشاره سره هم معلوميږي دهغودمقدار معلومولوضرورت نشته )**نمبر ۷**-دمسلم فيه دسپارلوځاى به معلوموي که چيرته مسلم فيه داسې شی ووچې بارولويې غوښتل اوپرهغه باندى مصرف راتلى ،داامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدداشرطونه ځکه لګول شوي دي چې که چيرته له دغوشرطونوڅخه کوم شرط ونه موندل شي نودابيع مفضي ونزاع ته کيږي .

**فائده** :مګرصاحبين رحمهما الله په آخري دووشرطونوکې اتفاق نه کوي هغوئ فرمايي چې که چيرته رأس المال په اشاره سره متعين کړاى شوى وونويادهغه دمقداردبيانولوضرورت نشته ولې درأس المال دمقدارمعلومولو مقصددرأس المال پرسپارلوباندې قادرکيدل دى اودغه مقصوددرأس المال په اشاره سره دمتعين کولوپه صورت کې هم حاصليږي نوددي ضرورت نشته چې رأس المال دوزن ياکيل ياعددپه ذريعه معلوم کړي ،صاحبينورحمهما الله ته جواب ورکړاى شوى دى چې کله داسې هم کيداى شي چې مسلم اليه ته

مسلم فيه په لاس ورنه شي نو هغه رأس المال واپس کوي که چيرته د رأس المال مقدار معلوم نه وي نو واپس کيدل متعذر دی، او دآخري شرط په باره کې فرمايي چې مسلم فيه به په هغه ځای کې سپاري چيرته چې عقد سلم شوی دی ولی موجب د تسليم عقد دی نو چيرته چې عقد شوی وي مسلم فيه به په هغه ځای کې واپس کوي نو د مسلم فيه د سپارلو دځای بيانولو ضرورت نشته،صاحبينو رحمهما الله ته جواب ورکړای شوی دی چې مسلم فيه فی الحال سپارل واجب نه دی او قاعده ده چې دکوم شي سپارل فی الحال واجب نه وي د هغه دسپارلو لپاره دهغه مکان عقد نه متعين کيږي .

**فائده** :دامام ابو حنيفة رحمه الله قول مختار او مفتی به دی کما فی شرح التنوير (و) بيان قدر رأس المال) ان تعلق بمقداره كما (فی مکيل وموزون وعددی غير متقارب) واكتفيا بالاشارة كما فی مذروع وحيوان قلنا ربما لا يقدر علی تحصيل المسلم فيه فيحتاج الی رد رأس المال (و) السابع بيان (مکان الايفاء للمسلم فيه (فيما له حمل) او مؤنة قال ابن عابدين رحمه الله فعنده يشترط بيان مکان الايفاء وهو الصحيح وعندهما لا يشترط (ردالمحتار:۴/ ۲۳۱)

(۱۲)که مسلم فيه داسی شی وو چې بوج وباريې نه درلود او د نه هغه پر منتقل کولو باندي مصرف نه راته لکه لږ غوندی مشک،کافور او وړې وړې ملغلرې وغيره،نو بيا په اتفاق سره دهغو دسپارلو دځای بيانولو ضرورت نشته بلکې داصح قول مطابق چيرته چې يې زړه وي هلته دي وسپاري کمافی شرح التنوير (ومالا حمل له کمسک وکافور وصغار لؤلؤ لا يشترط فيه بيان مکان الايفاء) اتفاقا (ويوفيه حيث شاء) فی الاصح (ردالمحتار:۴/ ۲۳۱)

**نمبر ۸**- دبيع سلم له شرطونو څخه آخري شرط دادی چې په مجلس عقد کې داضروري ده چې مسلم اليه رأس المال قبض کړي يعنې بيع سلم نه ده صحيح ترڅو پوري چې په هغه مجلس کې درب السّلم له مفارقت (جدائی ) نه مخکی مسلم اليه رأس المال قبض نه کړي ولی بيع سلم دهغی بيع نوم دی چې پکی ثمن عاجل وي او داهله کيږی چې بائع ثمن په عقد بيع کې قبض کړی که نه ،که چيرته تر قبض مخکی متعاقدين له مجلس څخه ولاړ شي نو ثمن عاجل نه دي بلکې آجل يعنې پور کيږي او مسلم فيه هم مؤجل يعنې پور دی نو دا بيع الکالی بالکالی يعنې بيع ددين په دين سره کيږي چې له هغی څخه نبی کريم ﷺ منع فرمايلې ده،درب السلم له مفارقت څخه مراد مفارقت بالابدان دی نو که چيرته په هم هغه مجلس کې دواړه ويده شول يا سره روان وو نو بيع سلم نه باطليږي .

(۱۳)فَاِنْ اَسْلَمَ مِائَتَی دِرهمٍ فِی کُرِّ بُرٍّ مِائَةٌ دَيْنًا عَلَيْهِ وَمِائَةٌ نَقْدًا فَالسَّلَمُ فِی الدَّيْنِ بَاطِلٌ (۱۴)وَلاَ يَصِحُّ التَّصَرُّفُ فِی رَاْسِ الْمَالِ وَالْمُسْلَمِ فِيْهِ قَبْلَ الْقَبْضِ (۱۵)بِشِرْکَةٍ اَوْ تَوْلِيَةٍ (۱۶)فَاِنْ تَقَايَلاَ السَّلَمَ لَمْ يَشْتَرِ مِنَ الْمُسْلَمِ اِلَيْهِ بِرَاْسِ الْمَالِ شَيْئًا (۱۷)وَلَوِ اشْتَرَی الْمُسْلَمُ اِلَيْهِ کُرًّا وَاَمَرَ رَبَّ السَّلَمِ بِقَبْضِهِ قَضَاءً لَمْ يَصِحَّ (۱۸)وَصَحَّ لَوْ قَرْضًا (۱۹)اَوْ اَمَرَهُ بِقَبْضِهِ لَهُ ثُمَّ لِنَفْسِهِ فَفَعَلَ.

**ترجمه** :که يې عقد سلم وکړ دوه سوه درهمو په عوض ديوې پيمانې غنمو کې حال دا چې يو سل قرض دي پر ده باندي او يو سل نقد دي نو سلم په قرض کې باطل دی او صحيح نه دی تصرف کول په رأس المال کې او په مسلم فيه کې مخکی تر قبض کولو ،دشرکت يا توليه په ذريعه سره پس که يې اقاله وکړه دسلم نو نه دي اخلي له مسلم اليه څخه د رأس المال په عوض کې هيڅ شی او که يې واخيستل مسلم اليه يو من او حکم يې وکړ رب السلم ته د قبض کولو دخپل حق دوصول کولو لپاره نو نه دی صحيح ،او که قرض وو بيا صحيح دی يا يې هغه ته حکم کړی وو د هغه د قبض کولو د هغه لپاره بيا دخپل ځان لپاره بس هغه همداسي وکړل .

**تشريح:**(۱۳)که څادو وسوو درهمونو په عوض په يوې پيمانې غنموکې بيع سلم وکړه چې له هغوڅخه لس درهمه مخکې لادمسلم اليه پرذمه قرض دي او لس درهمه يې نقد ورکړل نوپه لسو درهمونو قرض کې بيع سلم باطله ده ولې اتم شرط نشته يعنې پرسلودرهمونوباندې په مجلس عقدکې قبض نه دی راغلی حال داچې دراس المال قبض کول په مجلس عقدکې ضروري دی کمامر،البته په سلو درهمونقدوکې بيع سلم جائزه ده ولې په هغه کې ټول شرطونه موجوددي.

**فائده:** دامام زفر رحمه الله په نزدپه قرض اونقدودواړوکې بيع سلم باطله ده ولې په قرض کې بيع قبلول يې شرط کړی دی په نقدوکې دبيع قبلولولپاره اوداشرط فاسددی اودعقدديووالي په وجه فسادپه ټول عقدکې خورېږي،احناف جواب ورکوي چې عقدابتداءً صحيح دی همداوجه ده چې که چيرته دمجلس ترجلاکيدومخکې هغه قرض هم نقدکړي وربې کړي نوبيع صحيح کيږی نودافسادابتدائی نه بلکې عارضی دی اوعارضی فسادپه قدرد مفسِدوي اومفسِديواځې دقرض په حصه کې راغلی دی يعنې يواځې دقرض په اندازرأس المال په مجلس کې نه دی قبض کړای شوی ځکه خالص دقرض په اندازه بيع سلم باطلېږی دنقدطرف ته فسادنه متعدي کيږي.

**فائده:** کُر(بضم الکاف وتشديدالراء) شپيته قفيزه يوه پيمانه ده،اويوقفيزدوولس کاسی کيږي په همدي دول يوګرداووه سوه شل کاسي سره برابردی.

(۱۴)ترقبض کولومخکې دمسلم اليه لپاره دبيع سلم په رأس المال کې تصرف کول ناجائزدی اودرب السلم لپاره په مسلم فيه کې تصرف کول ناجائزدی،په رأس المال کې تصرف کول ځکه نه دی رواچې دتصرف په وجه سره دهغه قبض تفويت راځی کوم چې دعقدپه وجه واجب شوی دی يعنې په مجلس عقدکې رأس المال قبض کول واجب دی ترقبض کولومخکې په تصرف کولوسره داواجب قبض فوت کيږی ځکه نوترقبض مخکې دمسلم اليه لپاره په رأس المال کې تصرف کول ناجائزدی،اودرب السلم لپاره په مسلم فيه کې تصرف کول ځکه نارواده چې مسلم فيه مبيعه وي اومبيعه که منقولی شی وونوپه هغه کې ترقبض کولومخکې تصرف کول ناجائزدی نودرب السلم لپاره په مسلم فيه کې ترقبض مخکې تصرف کول نه جائزکيږي.

(۱۵)په مسلم فيه کې دتصرف کولومصنف رحمه الله دوه صورتونه بيان کړي دي يوداچې په مسلم فيه کې بل څوک شريک کړي مثلايوچاپه دوومنوغنموکې دلس درهمه په عوض بيع سلم وکړه بيايوه بل چارب السلم ته ووېل چې داپنځوس درهمه واخله ماپه هغودوومنوکې شريک کړه،نودرب السلم لپاره په مسلم فيه کې داډول تصرف کول ناجائزدی،دوهم صورت يې دادی چې رب السلم راوړلاشي مخکې ترقبض پريوبل چاباندي مسلم فيه (دوه منه غنم) توليةً يعنې دسلو درهموپه عوض خرڅ کړي نوداصورت هم ناجائزدی ځکه داپه مسلم فيه کې مخکې ترقبض تصرف دی چې نارواده.

(۱۶)که سلم کوونکيوله بيع وروسته اقاله وکړه يعنې بيع سلم يې ماته کړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدبه بيارب السلم له مسلم اليه څخه دراس المال په بدله کې کوم بل شی نه رانيسی،بلکې رأس المال به

واپس اخلي،ولی دنبی کریم ﷺ ارشاددی :لاتاخذالاسلمک اوراس مالک (یعني که عقد قائم وونو مسلم فیه اخله که نه خپل رأس المال اخله) .

**فائده** :دامام شافعی رحمه الله او امام زفر رحمه الله په نزدرب السلم ته جائزه ده چې درأس المال په عوض کې چې څه يې زړه غواړي هغه دي واخلي ولی داقاله په وجه عقدله منځه تللی دی اورأس المال دمسلم الیه پرذمه قرض دی نودنوروقرضونوپه شان په دغه قرض سره هم چې دی څه غواړي هغه دي واخلي،پرامام شافعی رحمه الله او امام زفر رحمه الله باندي مذکورروایت حجت دی .

(۱۷)که متعاقدینوپه یوه کړغنموکې عقدسلم وکړ ترهغه وروسته مسلم الیه یوبل ځای یوکړغنم واخیستل اومسلم الیه پرمذکوروغنموباندي ترقبض کولومخکی رب السلم ته وویل چې ته له ماڅخه کوم مسلم فیه اخلې دهغه په عوض کې ورشه هغه غنم واخله کوم چې مارانیولي دي نورب السلم ته داغنم دخپل حق لپاره اخیستل صحیح نه دي،ولی دلته په شرط دکیل سره دوه عقدونه جمع شول یودمسلم الیه اودهغه دبائع ترمنځ بل دمسلم الیه اورب السلم ترمنځ اوقاعده ده چې کله په شرط دکیل دوه عقدونه سره جمع شي نودوه ځله پیمانه کول ضروري دی یوځل به بائع پیمانه کوي بل ځل مشتري،چې دلته داسي نه دي شوي نوځکه دانا جائزدی .

(۱۸)اوکه بیع سلم نه وه بلکې قرض وومثلایوچاله بل څخه یوکړغنم په قرض یووړل بیا مقروض له بل چاڅخه یوکړغنم واخیستل قرض خواه ته يې وویل چې ماکوم غنم اخیستی دي ورشه هغه قبض کړه دخپل حق په ډول يې واخله قرض خواه هغه قبض کړل یويې وړل نوداجائزدی ولی دلته دوې بیع نه دي راغلي ولی قرض خواه چې کومه قرضه ورکړه هغه دعاریهٔ ورکولوپه معنی دی همداوجه ده چې قرض په لفظ داعاره سره منعقدکیږي نودوه ځله پیمانه کول ضروري نه دی ځکه داجائزدی .

(۱۹)قوله لوامره بقبضه له ای صح لوامر المسلم الیه رب السلم الخ،یعني که چیرته عقدسلم شوی وواومسلم الیه ربّ السلم ته وویل چې ورشه اول زماله طرف څخه غنم قبض کړه بیایې له خپل طرف څخه قبض کړه،هغه همداسي وکړل یعنې لومړی یې دمسلم الیه لپاره پیمانه کړل بیایې دخپل ځان لپاره پیمانه کړل نوداصورت جائزدی ولی په دي صورت کې دوه ځله پیمانه راغله نوځکه داجائزدی .

(۲۰)وَلَوْ اَمَرَ رَبّ السَّلَمِ أَنْ يَكِيلَهُ فِي ظَرْفِهِ فَفَعَلَ وَهُوَ غَائِبٌ لَمْ يَكُنْ قَبْضًا(۲۱)بِخِلَافِ الْمَبِيعِ(۲۲)وَلَوْ أَسْلَمَ أَمَةً فِي كُرٍّ وَقُبِضَتِ الْأَمَةُ فَتَقَايَلَا فَمَاتَتْ أَوْ مَاتَتْ قَبْلَ الْإِقَالَةِ بَقِيَ وَصَحَّ وَعَلَيْهِ قِيمَتُهَا(۲۳)وَعَكْسُهُ شِرَاءُهَا بِأَلْفٍ(۲۴)وَالْقَوْلُ لِمُدَّعِي الرَّدَاءَةِ وَالتَّأْجِيلِ لَا لِنَافِي الْوَصْفِ وَالْأَجَلِ(۲۵)وَصَحَّ السَّلَمُ وَالِاسْتِصْنَاعُ فِي نَحْوِ خُفٍّ وَطَسْتٍ وَقُمْقُمَةٍ(۲۶)وَلَهُ الْخِيَارُ إِذَا رَآهُ(۲۷)وَلِلصَّانِعِ بَيْعُهُ قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ(۲۸)وَمُؤَجَّلُهُ سَلَمٌ

**ترجمه** :اوکه امروکړرب السلم مسلم الیه ته چې داناپ کړه زماپه لوښی سره هغه ناپ کړل حال داچې دی غائب دی نوداقبض نه ګڼل کیږي ،خلاف له مبیعی نه ،اوکه يې سلم وکړمنځه يې ورکړه دیوه کړپه عوض اوقبض يې کړه منځه بیادواړواقاله وکړه اومنځه مړه شوه یاتراقاله مخکی مړه شوه نواقاله باقی اوصحیح پاتیږی اوپرده باندي لازمیږی قیمت دمنځي ،اوددی عکس دی اخستل دمنځي په یوزر روپی، اوقول دردائة

ددعوه کوونکي اودمودې دمدعی معتبردی نه دوصف اومودې دنفی کوونکي اوصحیح دی سلم اوپه فرمایش جوړول په موزه ،تال اوګل دانی غوندې شیانوکې اوفرمایش ورکوونکي لره اختیاردی چې کله یې ووینې اوجوړونکي لره اختیارشته دخرڅیدوترلیدلومخکې اوپه فرمایش دجوړولو ،مؤجل صورت بیع سلم ده.

**تشریح**:(۲۰)که رب السلم مسلم الیه ته حکم وکړچې مسلم فیه زما په لوښي کې ناپ کړه اومسلم الیه دهغه په نه موجودګي ناپ کړل دهغه په لوښي کې یې واچول نودادرب السلم دخپل حق قبض کول نه ګڼل کیږی ولی درب السلم حق په هغه قرض کې دی کوم چې دمسلم الیه پرذمه واجب دی اوقرض یووصف دی چې درب السلم په لوښي کې اچول یې ناممکن دی نورب السلم چې دناپولوکوم حکم ورکړی دی هغه ددې شي مِلک نه مونډلی بلکې دمسلم الیه مِلک یې وموندنه نودرب السلم داامرنه دی صحیح ،داداسې دی ګواکې مسلم الیه درب السلم لوښی په عاريّة (خواست) راوړی دی اوپه هغه کې یې خپل مِلک واچاوه نوظاهره ده چې دمسلم الیه درب السلم په لوښي کې خپل شی اچول درب السلم خپل حق وصولول نه شمارل کیږي.

(۲۱)البته په مطلق بیع کې دمبیعه داحکم نه دی مثلاً یوچامتعین غنم واخیستل اوبائع ته یې وویل ،غنم وتله زما په دغه لوښي کې یې واچوه ،بائع دمشتری په نه موجودګي کې داسې وکړل نوداصحیح ده ولی په خالص اخیستوسره مشتری دغنومالک شوی دی نومشتري دخپل مملوک شي پخپل لوښي کې داچولوحکم ورکړی دی اومشتری لره دخپل مملوک شي پخپل لوښی کې داچولوحکم صحیح دی نوبائع دمشتری له طرفه دمشتري دلوښوډکولووکیل ګرځیدلی دی اولوښی دمشتری دمملوک کیدوپه وجه څرنګه چې حکمًا دمشتری په قبضه کې دی ځکه نوکوم غنم چې په هغه کې اچول شوي دي هغه هم دمشتری په قبضه کې راغلي نومشتری قابض شمارل کیږی همداوجه ده چې دبائع غنم تلل کافی ګڼل کیږي دمشتري لپاره ددوباره تللوحکم نشته ولی بائع په پیمانه کولوکې دمشتری له طرفه وکیل دی.

(۲۲)که یوچادراهمواودنانیروپرځای مسلم الیه ته یوه منځه ورکړه په یوه پیمانه غنموکې یې بیع سلم ورسره وکړه اومنځه یې مسلم الیه ته وروسپارله بیاداواړوپه بیع سلم کې له اقاله کولووروسته یاتراقاله کولومخکې منځه دمسلم الیه سره مړه شوه نوپه هغه صورت کې چې تراقاله کولووروسته مړه شي اقاله پخپل ځای پاتیږی اوتراقاله کولومخکې چې مړه شي اقاله صحیح کیږی ولی داقاله دصحت مدارد معقودعلیه پربقاء باندې دی اومعقودعلیه په دواړوصورتوکې باقی دی ځکه چې په بیع سلم کې معقودعلیه مسلم فیه دی چې دمنځي ترمرګ وروسته هم دمسلم الیه پرذمه واجب دی نواقاله ابتداءً یعنې دمنځي ترمړه کیدومخکې صحیح ده اوبقاءً یعنې دمنځي له مرګ وروسته هم صحیح ده ولی بقاء ترابتداء آسانه ده،پس چې کله عقد فسخ شونوپرمسلم الیه باندې دمنځي قیمت لازمیږی ولی دمنځي دمړینې په وجه دی اوس دعین منځي له ردولوڅخه عاجزشو.

(۲۳)اوددې عکس دی که چادمطلق بیع په ذریعه (یعنې چې بیع سلم نه وي) دیوزرروپوپه عوض کې منځه واخیسته یعنې که چامنځه په زرروپۍ واخیسته منځه چې مشتري راوړه هلته مړه شوه بیابائع

اومشتري اقاله وكړه نو دااقاله نه ده صحيح باطله ده ولې په دغه صورت كې معقود عليه منخه ده نوله مرګه وروسته محل دااقاله نه ده په دي وجه اقاله په هرصورت باطله ده .
**فائده** :دلته څلورصورتونه جوړيږي :(۱)په بيع سلم كې يې دمنځې ترمرګ مخكې ياوروسته اقاله وكړه د دغه صورت حكم تيرشو. (۲)دمطلق بيع په صورت كې يې دمنځې ترمرګ مخكې اقاله وكړه د دغه صورت حكم هم تيرشو. (۳)په بيع المقايضه يعني دبيع العروض بالعروض په صورت كې داحدعوضينو ترهلاكت وروسته يامخكې يې اقاله وكړه نواقاله صحيح ده، ولې په دي صورت كې له عوضينو څخه هريو معقود عليه دى نوديوه عوض دبقاء په صورت كې هم اقاله صحيح ده (۴)دبيع صرف په صورت كې يې داحدعوضينو يادواړوعوضينوله هلاكت وروسته ياترهلاكت مخكې اقاله وكړه نوپه دغه صورت كې اقاله صحيح پاتيږي ولې په بيع صرف كې معقود عليه هغه حق دى چې له متعاقدينو څخه دهريوه پرذمه باندي واجب دى اوهغه غيرمعين دى چې هلاكت يې متصورنه دى نو دعوضينو يادديوه هلاكيدل د اقاله دصحت مانع نه دى .
(۲۴)كه په بيع سلم كې يو څوك په ردي شي كې دبيع كيدودعوى كوي مثلا مسلم اليه وايي چې مادعقدپه وخت كې داشرط لګولى دى چې مسلم فيه به ردي غنم وي ،رب السلم وايي چې ماهيڅ شرط هم نه وولګولى،يادټاكلي مودې دمتعين كيدودعوى كوي مثلاوايي چې مادعقدپه وخت كې دمسلم فيه دسپارلولپاره وخت مقرركړى وو ،اورب السلم وايي چې مادمسلم فيه دسپارلولپاره هيڅ معلومه موده نه ده مقرره كړې ،نو دمسلم اليه قول معتبريږى ځكه چې هغه دسلم دصحت مدعي دى ولې دمسلم فيه دجيديا ردي ديانولوبغيريادمودې بيانولوبغيربيع سلم نه ده صحيح،نوظاهرحال دهغه موافق دى ولې مسلمان دحرام په وجه دعقدفاسدمباشرت نه كوي اوله معلومې مودې اووصف بغيربيع سلم فاسده وي،هغه بل چې دمودې اووصف نفي كوي چې دسلم مفسد دى نو دهغه قول ته اعتبارنه وركول كيږي .
**فائده** :كه متخاصمين دواړه پريوه عقدباندي متفق وواورب السلم دمودې له شرط څخه انكاروكړي نوپه داسي صورت كې دامام صاحب رحمه الله په نزددهغه قول معتبردى چې دعقددصحت مدعي وي اودصاحبينو رحمهما الله په نزددمنكرقول معتبريږى كه څه هم دى دعقددصحت منكروي .دامام صاحب رحمه الله قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :الراجح قول الامام كمايظهرمن صنيع اكثرالشروح والفتاوى وهوالاستحسان(هامش الهداية:۳/۱۰۱)
**فائده** :متعنّت هغه څوك دى چې بل ته دضرررسولوپه غرض دځپل ځان لپاره دمفيدشي نه انكاروكړي اوخصم هغه دى چې دځپل ځان لپاره دضررناك شي نه انكاروكړي،قاعده داده چې دمتعنّت قول نه دى معتبر،يعني كه څوك دداسي شي انكاروكړي چې دده لپاره مفيدوي نوپه اتفاق سره دهغه قول نه معتبريږي مثلامسلم اليه وايي چې دعقدپه وخت زمالپاره دمودې شرط نه دى لګول شوى اورب السلم وايي چې شرط لګول شوى وو ،نوپه موده كې دمسلم اليه فائده ده بياهم انكاركوي نو دمتعنّت كيدوپه وجه دمسلم اليه قول نه دى معتبر .

(۲۵) دموزه ،تال،ګل داني (دوولاستو والادا وسپنې څخه جوړګول لوښی چې دزینت لپاره عام تورپرمنبرباندې ښودل کیږی)وغیره په جوړولوکې بیع سلم جائزه ده،ولی داشیان په وصف بیانولوسره منضبط کیږي نو دغوشیانوپه سپارلوکې دکومې شخړې درامنځ ته کیدو امکان نشته نوپه دوئ کې بیع سلم جائزه کیږي،همدارنګه داشیان په کاریګرباندې په فرمایش جوړل هم جائزدی ولی پردې باندې دامت عملی اجماع ده که څه هم دقیاس تقاضاداده چې جائزنه شي ولی دیوه شي په فرمایش دجوړولوپه صورت کې مبیعه معدومه وي اودمعدوم بیع نه ده جائزه .

(۲۶)قوله وله الخیار اذا رآه ای اذاعمله الصانع للمستصنع خیار الرؤیة یعنې له جوړولو وروسته چې کله مشتري هغه ووینې نو ده لره اختیارشته که یې اخلي اوکه یې پریږدي،ولی ده داسي شیان اخیستی دي چې ده لیدلي نه دي نوځکه ده ته خیاررؤیة حاصل دی مګرکاریګرته خیاررؤیة نه ورکول کیږی ولی کاریګربائع دی اوبائع لره خیاررؤیة نه وي،له امام ابوحنیفة رحمه الله څخه یوروایت دادی چې کاریګرته هم خیاررؤیة حاصل دی ولی کاریګرچې مثلاً موزې جوړوي نوچمړه به پریکوي بیابه یې جوړوي اودچمړې په پریکولوکې دکاریګرتاوان دی نوله ځان څخه دتاوان ددفع کولولپاره کاریګرته داروا ده چې معامله پریږدي .

**فائده** :دامام صاحب رحمه الله لومړی قول ظاهرالروایة اومفتی به دی یعنې کاریګرته خیاررؤیة نه ورکول کیږي ،البته مشتری ته خیاررؤیة شته ولی دوکه ورکول دکاریګرانوعادت ګرځیدلی دی،البته که کاریګرپه دي صفت سره یوشی تیارکړچې مشتری دهغه فرمایش ورکړی وونوبیامشتري لره هم خیاررؤیة نشته . (انظرالقول الراجح :۲/ ۸۱)

**فائده** :دامام ابویوسف رحمه الله په نزدمستصنِع اوصانع دواړولره خیاررؤیت نشته،صانع لره ځکه نشته چې هغه بائع دی اوبائع لره خیاررؤیت نه وي اومستصنِع لره ځکه نشته چې په هغه کې دصانِع تاوان دی ولی کله داسي هم کیدای شی چې مستصنِع دخیاررؤیت په وجه عقدفسخ کړي نودصانِع جوړکړای شوی شی بل څوک په قیمت مثل سره هم نه اخلی نوظاهره ده چې په دي کې دصانِع تاوان دی . (هدایه :۳/۱۰۲)

(۲۷)اودمشتري ترلیدومخکی بائع لره هم اختیارپکاردی چې پربل چاباندې یې خرڅولای شي ولی دغه شی چې ترڅوپوری مستصنِع (مشتري) اختیارنه کړي نه متعین کیږی نودمشتری ترلیدومخکی صانِع ته داجائزه ده چې پربل چایې خرڅ کړی ،البته دمشتری له لیدووروسته صانِع لره دانه جائزکیږی چې دی هغه شی پرکوم بل چاباندې خرڅ کړي ولی دمشتری له لیدووروسته داشی دمشتري لپاره متعین کیږی نواوس یې پربل چاباندي خرڅول ناجائزدی .

(۲۸)قوله وموجله سلم،ای مؤجل الاستصناع سلم،یعنې داستصناع په صورت کې که یوشی جوړکړي دورکولوموده یې تاکل شوې وه نودامام صاحب رحمه الله په نزدابیع سلم ده ځکه نوپه هغې کې دبیع سلم دټولوشرطونورعایت ضروري دی، دصاحبینو رحمهما الله په نزدکه ددې تعامل په خلکوکې وونواستصناع ده سلم نه دی ځکه استصناع اوسلم دنوم اوحکم دواړوپه

اعتبار سره دوه مختلف عقدونه دي، نودیوه په نوم یادولوسره هغه بل نه منعقد کیږي، دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې داعقد استصناع اوبیع سلم دواړه کیدای شی اوله دغو دواړو څخه بیع سلم له هردول شبهې پرته په اجماع سره جائزه ده په داسی حال کې چې تعامل په استصناع کې یو قسم شبهه ده ولی دامام زفر رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په هغه کې اختلاف دی نودا پر بیع سلم باندي حمل کول اولی دی.

**فائده**: دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لماقال العلامة الشامی رحمه الله: وله انه دین یحتمل السلم وجواز السلم باجماع لاشبهة فیه وفی تعاملهم الاستصناع نوع شبهة فکان الحمل علی السلم اولی. (ردالمحتار: ۴/۲۳۷)

## باب المتفرقات

### داباب دمتفرقه مسائلو په بیان کې دی

دمصنفینو رحمهم الله داعادت دی چې په تیروبابونوکې دکوموسائلو ذکرپاتی شی هغه مسائل د باب المتفرقات، یا (مسائل منثوره) یا (مسائل شتی) په عنوان سره بیانوي، دلته هم زمونږ مصنف رحمه الله دداسی څو مسائلو بیان کړی دی:

(۱) صَحَّ بَیْعُ الْکَلْبِ وَالْفَهْدِ وَالسِّبَاعِ وَالطُّیُورِ (۲) وَالذِّمِّیُّ کَالْمُسْلِمِ فِی بَیْعِ غَیْرِ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِیرِ (۳) وَلَوْ قَالَ بِعْ عَبْدَکَ مِنْ زَیْدٍ بِأَلْفٍ عَلَی أَنِّی ضَامِنٌ لَکَ مِائَةً سِوَی الْأَلْفِ فَبَاعَ صَحَّ بِالْأَلْفِ وَبَطَلَ الضَّمَانُ (۴) وَإِنْ زَادَ مِنَ الثَّمَنِ فَالْأَلْفُ عَلَی زَیْدٍ وَالْمِائَةُ عَلَی الضَّامِنِ (۵) وَوَطْءُ زَوْجِ الْمُشْتَرَاةِ قَبْضٌ (۶) لَا عَقْدُهُ.

**ترجمه**: اوصحیح ده بیع دسپي، پړانګ، درندواومارغانو، اوذمی دمسلمان په شان دی دشرابواوخنزیرنه علاوه دنوروشیانو په بیع کې، اوکه یې وویل چې خرڅ کړه خپل مریی پرزید باندي په یوزرروپۍ په دي شرط چې زه ستاپاره ضامن یم دسلوروپولره زروبغیرنوهغه خرڅ کړدابیع صحیح ده په زروکې اوباطل دی ضامن کیدل، اوکه یې دالفظ (من الثمن) زیات کړنوبیازرروپۍ پرزید باندي کیږی اوسل پرضامن باندي کیږي اوداخیستل شوې منځې سره وطی کول دخاوند قبض دی نه یواځی دهغه عقدنکاح کول.

**تشریح**: (۱) دسپي، پړانګ اوځناورو (مثلالیوه، زمري وغیره) اودمارغانوبیع جائزه ده ولی له دوئ څخه اوددوئ له څمروڅخه ګټه اخیستل ممکن دی، امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې دخوږي سپي اوزمري (خوږی سپی هغه چې تعلیم نه قبلوی) بیع نه ده جائزه ولی خوږی سپی غیرمتنفع به دی اودغیرګټورشي بیع ناجائزه ده، امام صاحب رحمه الله فرمایي چې خوږی سپی که څه هم دښکارکولوقابل نه دی امادکینت، پسونواودکور دحفاظت قابل خودی نوځکه په دي وجه چې منتفع به دی دده بیع هم جائزه ده.

**فائده**: دامام ابویوسف رحمه الله قول احوط دی لماقال العلامة الشامی رحمه الله: والحاصل ان المتون علی جوازبیع ماسوی الخنزیرمطلقاوصحح السرخسی رحمه الله التقیید بالمعلم منها. (ردالمحتار: ۴/ ۲۳۹) وقال المفتی غلام قادرالنعمانی: والاحوط فی هذه المسئلة قول السرخسی یعنی التقیید بالمعلم منها. (القول الراجح: ۲/۸۳)

**فائده**: دامام شافعی رحمه الله په نزد مطلقا دسپی بیع ناجائزه ده، لحدیث ابی هریرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال ان مهرالبغی ولمن الکلب وکسب الحجام من السحت (یعني دزانیه ښځي اجرت، دسپي روپۍ، دښکرلګونکي

گټه حرامه ده) ،امام شافعي رحمه الله ته جواب ورکړل شوی دی چې داحديث پرابتداء اسلام باندی محمول دی يعنې په شروع داسلام کې دسپې بيع ناجائزه وه وروسته داحکم منسوخ شوولی له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی : انه ﷺ نهی عن بيع الکلب الا کلب صيداوماشية (يعنې نبی کريم ﷺ دسپی له بيع څخه منع فرمايلی ده پرته دښکارد سپي يادحفاظت دسپي له بيع) .

(۲)ذميان (هغه خلک چې په داراسلام کې جزيه ورکوي کفارذميان ورته وايې ) په خريدوفروخت کې دمسلمانانوپه شان دي ولی ذمی هم مکلف دی اودخپل ځان دبقاء لپاره معاملاتوته محتاج دی اودنبی کريم ﷺ فرمان دی چې : فاعلمهم ان لهم ماللمسلمين وعليهم ماعلی المسلمين (يعنې ذميان خبرکړئ چې دهغوئ لپاره هم هغه حقوق دي کوم چې دمسلمانانولپاره دي اوپرهغوئ باندي هغه ذمه واريانې دي کومی چې پرمسلمانانوباندي وي ) . البته دوه شيان لکه شراب اوخنزيرپه خاص ډول دذميانولپاره حلال دي ولی دادواړه ددوئ په اعتقادکې مالونه دي اوموږلره داحکم دی چې دهغوئ عقيدي ته تعارض ونکړونودذميانو دشرابو عقدکول داسي دی لکه مسلمانان چې دانګورودشيره عقدکوي اوپرخنزيرباندي دهغوئ عقدداسي دی لکه مسلمانان چې پرپزه باندي عقدکوي .

(۳)صورت دمسئلي دادی چې بائع غواړي خپل مريی په يوولس سوه روپی خرڅ کړي او مشتري په يوولس سوه باندي نه دی راضي بلکې په يوزرروپی يې غواړي يايوبل دريم څوک راغی هغه بائع ته ووېل چې ته خپل مريی ديوزرروپوپه عوض پرمشتري باندي خرڅ کړه په دي شرط چې له هغوزرروپوپرته دسلوروپوستالپاره زه ضامن يم،هغه دده په خبره مريی پرمشتري باندي خرڅ کړنودده په زرروپی خرڅيدل صحيح دی له زروپرته سل روپی هغه ته نه ورکولی کيږی اودده دريم سړي دده لپاره ضمانت باطل دی ولی داسل روپی ثمن نه دي بلکې داابتداءً التزام دمال دی نودادمريي دخرڅولورشوة دی چې حرام دی نودضامن داضمانت نه دی صحيح ځکه په نوبائع خالص له مشتري څخه زرروپی اخلی.

(۴)البته که چيرته هغه دريم سړي په خپل قول کې دااضافه وکړه چې ددي مريي له قيمت څخه له يوزرروپوپرته دنوروسلوروپوزه ضامن يم يعنې (من الثمن) لفظ يې اضافه کړنوبيازرروپی دمشتري پرذمه کيږي اوسل روپی دهغه ضامن پرذمه لازميږی ولی په دغه صورت کې دااضافه په عين قيمت کې ده اوپه قيمت کې اضافه دبدل خلع په شان داجنبی له جانبه هم صحيح ده مګرشرط دادی چې ددغی اضافه اوزيادت په صورةً اوتسميةً مقابله وي يعنې اضافه کوونکی به په لفظ د(من الثمن) سره تلفظ کوي اواضافه به په مقابله دمبيعه کې وي .څرنګه چې داشرط په همدغه صورت کې موندل کيږي ځکه نوداصورت جائزدی .

(۵)که چايوه منځه واخيسته اوترقبض کولومخکی مشتری دهغې نکاح له بل چاسره وکړه نودانکاح صحيح ده ولی مشتري دخريدپه وجه دمنځې مالک ګرځی نودمنځې له چاسره دنکاح کولوولايت مشتری ته حاصل دی بياکه چيرته دمنځې خاوندله هغې سره صحبت وکړنودخاوندصحبت کول دمشتري له طرفه قبض ګڼل کيږي ولی خاوندله منځې سره پروطی کولوباندي مشتري مسلط کړی دی ځکه دهغه نسبت

ومشتري ته کیږی ګواکی مشتری خپله له منځې سره وطی وکړه اوله منځې سره دمشتري په وطی کولو باندي دمشتري قبض ثابتيږی.

(۶) قوله لاعقده ای وان لم يطأها الزوج بعد النكاح فليس بمجرد عقد زوج الامة المشتراة بقبض، یعنې که چیرته مشتري خالص دهغې نکاح له چاسره وکړه دخاوندله طرفه دوطی صدور نه دی راغلی نو خالص عقدنکاح دمشتري له طرفه قبض نه شمارل کیږی که څه هم دقیاس تقاضاداده چې نفس عقدنکاح قبض شمارشي ولی عقدنکاح حکمًاعیب دی اودحقیقةً عیب دارکولوپه صورت کې مشتري قابض ګڼل کیږی نودحکمًاعیب دارکولوپه صورت کې هم مشتري قابض ګڼل کیږی ،وجه داستحسان داده چې دحقیقةً عیب دارکولوپه صورت کې دمشتری پردغه معیوبه منځه باندي غلبه حاصله وي اوپه همدي وجه سره دی پرهغې باندي قابض کیږی په داسی حال کې چې دحکمًاعیب دارکیدوپه صورت کې دمشتری پرمنځه باندی غلبه نه وي حاصله نودداوړوترمنځ فرق دی یوپربل باندی قیاسول صحیح نه دی.

(۷) وَمَنِ اشْتَرَى عَبْدًا فَغَابَ فَبَرْهَنَ الْبَائِعُ عَلَى بَيْعِهِ وَغَيْبَتُهُ مَعْرُوفَةٌ لَمْ يُبَعْ لِدَيْنِ الْبَائِعِ (۸) وَإِلَّا بِيعَ لِدَيْنِهِ (۹) وَلَوْ غَابَ أَحَدُ الْمُشْتَرِيَيْنِ فَلِلْحَاضِرِ دَفْعُ كُلِّ الثَّمَنِ وَقَبْضُهُ وَحَبْسُهُ حَتَّى يَنْقُدَ شَرِيكُهُ (۱۰) وَمَنْ بَاعَ أَمَةً بِأَلْفِ مِثْقَالٍ ذَهَبٍ وَفِضَّةٍ فَهُمَا نِصْفَانِ (۱۱) وَإِنْ قَضَى زَيْفًا عَنْ جَيِّدٍ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ وَتَلِفَ فَهُوَ قَضَاءٌ.

**ترجمه** :اوکه چامریی واخیست اوغائب شوبیابائع ګواهان وړاندی کړل په داسی حال کې چې دمشتری پرخرڅولوباندي اودخریدار دغائبیدوځای معلوم وونومریی نه خرڅیږی دبائع دقرض لپاره که نه بیاخرڅیدای شی دقرض لپاره، اوکه غائب شوله دوو مشتریانو څخه یویې نودحاضرلپاره جائزدی ټولی پیسې ورکول اوهغه شی قبض کول اودهغه ساتل ترهغه پوري چې دهغه شریک پیسی اداکوي، اوکه چاخرڅه کړه منځه دسرو اوسپینو دیوزرمثقالوپه عوض نودادواړه نیم نیم کیږی اوکه یې اداکړلې کوټه روپۍ دجیدوروپوپرځای او صاحب حق نه پوهیده اوهغه تلف شوې نوداادائیګی ده.

**تشریح** :(۷)که چایومریی واخیست بیادمریې له قیمت اداکولواودهغه دقبض کولونه مخکې چیرته غائب شوبائع دهغه پرخرڅیدواودمشتری پرغائب کیدوباندي ګواهان وړاندې کړل په داسی حال کې چې دمشتری پته معلومه ده چې په فلان ځای کې مقیم دی نودثمن عبدکوم قرض چې دبائع له طرفه دمشتري پرذمه دی دهغه قرض په وجه حاکم هغه مریی نه شي خرڅولای ولی په دي کې دغائب مشتری دحق فی العبدابطال راځی په داسی حال کې چې بائع لره دامکنه ده چې خپله مشتری ته ورشي اوخپل حق ترې نه وصول کړي.

(۸) قوله والابيع لدينه اى وان لم يكن غيبته معروفة، یعنې که دمشتري هيڅ پته نه وه معلومه نوبیادبائع په مطالبه سره حاکم وخت دغه مریی خرڅولای شي ولی په خرڅولوکې دطرفینورعایت دی ولی بائع ته خپل حق رسیږي اودمریي له ضمان څخه بري کیږي اومشتری دمریي له نفقې څخه ژغاریږي.

**فائده** :بیاکه یې مریی خرڅ کړله قیمت څخه دبائع دقرض له اداکولونه وروسته څه پیسی پاتی شوې نوداپیسی دمشتری لپاره ساتلی کیږی هرکله چې هغه راشی هغه ته ورکولی کیږی ولی دغه پیسې دمشتري

دحق يعنې مريې بدل دي،اوکه دمريې پيسې دبائع له حق څخه لرشوې نوبائع به خپل حق له مشتري څخه دهغه له راتلووروسته وصولوي . (الدّرالمختارعلی هامش ردّالمحتار : ۴/ ۲۴۱)

(۹)که دوونفروپه ګډه يوشی واخيست اودهغه له قيمت ورکولونه مخکې له دوئ نه يويې چيرته غائب شو نودطرفينو رحمهما الله په نزدهغه موجودمشتري لره دومره اختيارشته چې ټول قيمت له خپل ځانه ورکړي هغه شی خپله قبض کړي اوترڅوپوري چې له خپل شريک څخه نيم قيمت وصول نه کړي مبيعه له ځانه سره وساتی،داځکه چې حاضرمشتري دټولوپيسواداکولوته مجبوردی ولی دعقدديووالي په وجه بائع دټولوپيسو دترلاسه کولوپوري دمبيعی دمنع کولوحق لري نودمبيعه دخلاصون لپاره حاضرمشتری دثمن پراداکولو مجبوردی .

**فائده** :دامام ابويوسف رحمه الله په نزدموجودمشتري دټولوپيسواداکولووروسته هم دغائب پرحصه باندي قبضه نه شي کولای ولی دغائب دحصی په باره کې دی اجنبي (يعنې پردی ) دی او اجنبي لره دبل دحصی قبضولواختيارنه وي بياڅرنګه چې موجودمشتري دغائب له طرفه دثمن په اداکولوکې متبرع دی نوځکه دغائب مشتري له راتلووروسته موجودمشتري له هغه څخه رجوع هم نه شی کولای ولی تبرع کوونکي لره له تبرع کولووروسته درجوع اختيارنه وي .

**فائده** :دطرفينو رحمهما الله قول راجح دی لماقال شارح التنوير:وان اشترى اثنان شيئاوغاب واحدمنهمافللحاضردفع كل ثمنه ويجبرالبائع على قبول الكل ودفع الكل للحاضروله قبضه وحبسه عن شريكه اذاحضرحتى ينقدشريكه الثمن .(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۴/ ۲۴۲) وهكذارجحه قولهماغيرواحدحتى اكتفى اكثراصحاب المتون والشروح بقولهما،په خودغه مذکورحکم په هغوشيانوکې دی چې قابل دتقسيم نه وي لکه مريی اويوحيوان وغيره .

(۱۰)که چاچله منځه دسرواوسپينوديوزرمثقالونوپه عوض خرڅه کړه نوپه دغه صورت کې دامثقالونه دوي حصی کيږی پنځه سوه مثقاله دسرواوپنځه سوه دسپينوپه مقابل کې راځی ولی ده مثقالونه سرواوسپينوته يودول منسوب کړي دي نوځکه يوپربل باندي ترجيح نه لري اوچې کله يوپربل ترجيح نه لري نودواړه نيم نيم واجبيږي.

(۱۱)که ديوچاپرذمه دبل چاسم دراهم ووهغه ددي درهمونوپه عوض کې ناچله دراهم ورکړل اواخستونکي ته دامعلومه نه شوه چې درهمونه سم دي يا ناچله دي بيادهغه له لاسه داناچله دراهم ووتل يابې مصرف کړل نودادطرفينو رحمهما الله په نزددمقروض له طرفه اداشيګي شمارله کيږي دهغه پرذمه مزيدڅه ورکول واجب نه دي ولی ناچله درهمونه هم دقرض غوښتونکي دحق له جنس څخه دي همداوجه ده چې که چيرته په بيع سلم کې درأس المال په ډول دسمودرهمونوپرځای ناچله درهمونه ورکړي اوبياداواړه سره بيل شول بياوروسته معلومه شوه چې دراهموخوناچله وومګرهغه چشم پوشي وکړه خپل نقصان يې برداشت کړنودا جائزه ده حال داچې که چيرته ناچله دراهم دسمودرهمونوله جنس څخه نه وای نوداپه رأس المال کې ترقبض کولومخکي دتصرف په وجه بايدناجائزوای نومعلومه شوه چې ناچله درهمونه هم درهمونه دي نوپه ناچله درهمونوترلاسه کولوسره هم حق حاصليدل ثابتيږی له صفاوالي پرته دهغه بل هيڅ حق پاتي نه دی

اوصفاوالي یووصف دی او قاعده داده چې دیوشي مقابله دهغه له جنس سره وکړای شي نووصف یې هیڅ قیمت نه لري او دکوم شي چې قیمت نه وي دهغه ضمان هم نه وي.

**فائده**: دامام ابویوسف رحمه الله په نزد په مذکور صورت کې چې قرض غوښتونکي کوم ناچله درهمونه مصرف کړي دي دهغه مثل دي قرضدارته وروایس کړي او له هغه نه دي خپل سم درهمونه واخلي ولی دقرض غوښتونکي حق لکه څرنګه چې په مقدار کې دی په وصف کې هم دی خو څرنګه چې تنها دوصف ضمان واجبول ممکن نه دی ولی مخکې داخبره ذکرشوه چې دشي مقابله چې کله له خپل جنس سره وي نو دهغه دوصف هیڅ قیمت نه وي اودکوم شي چې قیمت نه وی دهغه ضمان نه واجبیږي نو دقرض غوښتونکي دحق درعایت همدا صورت دی چې قرض غوښتونکی ناچله دراهم واپس کړي له مقروض څخه دي خپل سم درهمونه واخلي، دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لماقال ابن عابدين الشامی رحمه الله: وقولهما قياس كما ذكره فخر الاسلام وغيره وظاهره ترجيح قول ابي يوسف رحمه الله بحر (ردّالمحتار: ۳/۲۴۳)

(۱۲) وَاِنْ افْرَخَ طَيْرٌ اَوْ بَاضَ اَوْ تَكَنَّسَ ظَبْيٌ فِي اَرْضِ رَجُلٍ فَهُوَ لِمَنْ اَخَذَهُ (۱۳) مَا يَبْطُلُ بِالشَّرْطِ الْفَاسِدِ وَلَا يَصِحُّ تَعْلِيقُهُ بِالشَّرْطِ اَلْفَاسِدِ الْبَيْعُ وَالْقِسْمَةُ وَالْاِجَارَةُ وَالْاِجَازَةُ وَالرَّجْعَةُ وَالصُّلْحُ عَنْ مَالٍ وَالْاِبْرَاءُ عَنِ الدَّيْنِ وَعَزْلُ الْوَكِيلِ وَالْاِعْتِكَافُ وَالْمُزَارَعَةُ وَالْمُعَامَلَةُ وَالْاِقْرَارُ وَالْوَقْفُ وَالتَّحْكِيمُ

**ترجمه**: که مارغه بچي وایستل یایې هګۍ واچولي یاهوسۍ دیوچاپه ځمکه کې اوسیده نو دادهغه چادي چاچې واخیستل، کوم معاملات چې باطلیږي په شرط فاسد سره او صحیح نه وي دهغو معلق کول دشرط فاسد سره هغه دادي: بیع، قسمت، اجاره، اجازت، رجعت، صلح له ماله، له قرض څخه بري کیدل، وکیل معزول کول، اعتکاف، مزارعت، معامله، اقرار، وقف او حکم (دریم، منځګړی) مقررول.

**تشریح**: (۱۲) که دچاپه ځمکه کې مارغه بچي وایستل یایې هګۍ واچولي یادیوچاپه ځمکه کې هوسۍ اوسیدله بیابل چادمارغه هګۍ یابچي واخیستل یایې هوسۍ ګیرکړه نو دادنیوونکي دي دځمکې مالک داحق نه لري چې دادعوه وکړي چې دازماپه ځمکه کې وو نوزمادي ولی دامباح شیان دي اومباحو شیانو حکم دادی چې دچالاس ته ورغلل دهغه دي.

**فائده**: دراتلونکو مسئلوتربیانولو مخکې دوې قاعدې پیژندل ضروري دي یوه داچې په کوم عقدکې مبادله دمال په مال وي هغه عقدپه شروط فاسده ؤسره باطلیږی ولی روایت دی چې پیغمبر علیه السلام له بیع اوشرط څخه منع فرمایلې ده اوپه کوم عقدکې چې مبادله دمال په غیرمال سره وي لکه نکاح، یاله قبیلی دتبرعات څخه وي هغه په شروط فاسده ؤسره نه باطلیږی وجه یې داده چې شروط فاسده له ربوا څخه دي ځکه ربواداسي یوزیادت ته ویل کیږی چې له عوض څخه خالي وي اوشرط فاسدهم داسي یوزائدشی دی چې عقدیې مقتضي نه دی نوپه دي وجه چې خالي له عوض دی شرط فاسدپه ربواکې شمارل کیږی څرنګه چې ربواپه معاوضات غیرمالیه ؤکې نه متصوریږی لکه نکاح، طلاق علی مال وغیره همدارنګه په متبرعاتوکې هم نه متصوریږی ځکه نوپه داسي شیانوکې خپله شرط باطلیږی، دوهمه قاعده داده چې له شرط محض سره تعلیق په تملیکاتوکې جائزنه دی البته کوم امورچې د اسقاطاتوله باب څخه دي مثلا: طلاق

اوعتاق یاله قبیلی داطلاقاتوڅخه دي مثلا مربې ته اجازه ورکول یاله قبیلی دولایاتوڅخه دي مثلا قاضي اوامیرټاکل نو داله شرط محض سره معلق کول صحیح دی.

(۱۳)معاملات پردوه قسمه دي یوهغه چې په شرط فاسدسره باطلیږی اودهغوله شرط سره معلق کول صحیح نه دی دوهم هغه معاملات دي چې په شرط فاسدسره نه باطلیږی ،نوهغه معاملات چې په شرط فاسدسره باطلیږی اوپه شرط فاسدپوري معلق اومشروط کیدای نه شي هغه څوارلس شیان دي : ۱- بیع،مثلاڅوک داسي ووایې چې زه خپل مربی په دي شرط پرزیدباندي خرڅوم چې هغه به یوه میاشت زماخدمت کوی نوپه دغه شرط سره دابیع باطلیږی ۲-تقسیم،مثلادمړي پرنورو خلکوباندي قرض باندي ووارثان ترکه تقسیم کړي په دي شرط چې قرض به له دوئ څخه دیوه لپاره وي اوعین مال به دباقی ورثه ؤلپاره وي،نوداتقسیم باطل دی ولی په تقسیم کې دمبادله دمال په مال معنی شته نودبیع په شان په شرط فاسدسره باطلیږی ۳-اجاره،مثلاکوربې په اجاره ورکړاوداشرط یې ولګاوه چې مستاجربه دکورڅښتن ته قرضه ورکوي ۴-اجازت،مثلایوه بیګانه شخص دیوچاپوشی خرڅ کړمالک یې وویل :زه ددي بیع اجازه ورکوم په دي شرط چې هغه ماته قرضه راکړي نودااجازه ددغه شرط فاسدپه وجه باطله ده ولی اجازه دبیع معنی بیع ده .

۵-رجعت،رجعت په شرط فاسدسره نه باطلیږی البته په شرط سره معلق کول یې صحیح نه دی مثلایوچا خپلي منکوحې ته طلاق رجعی ورکړبیایې وویل :زه دې ته رجوع کوم که چیرته زیدراغی . ۶-صلح له ماله،مثلاویې ویل دکوم مال چې ته پرماباندي دعوه کوي له هغه څخه زه دمدعی به له جنس څخه پرته دبل مال په عوض له تاسره صلح کوم په دي شرط چې ته تریوه کاله پوري ماپه دي سرای کې پریږدي نوداصلح ددغه شرط فاسدپه وجه باطل دی ولی صلح له ماله مبادله دمال په مال ده چې په شرط فاسدسره باطلیږي.

۷-له دین څخه بري کول،له دین څخه بري کول معاوضه مالی نه ده ځکه نوپه شرط فاسدسره نه باطلیږی البته په دي وجه چې دتملیکاتوله قبیلی ده په شرط سره معلق کول یې صحیح نه دیَ مثلاداسی ووایې زه تاله قرض څخه بري کوم که زیدله سفرڅخه راغی نوداتعلیق صحیح نه دی ۸-وکیل معزول کول ،دوکیل معزول کول څرنګه چې مالی معاوضه نه ده ځکه نوپه شرط فاسدسره نه باطلیږی البته په شرط سره معلق کول یې صحیح نه دی مثلاموکل وکیل ته وویل :زه تامعزول کوم که زیدله سفرڅخه راغی نوداتعلیق صحیح نه دی.

۹-اعتکاف،دعلامه ابن نجیم رحمه الله رایه داده چې تعلیق بالشرط داعتکاف لپاره مبطل نه دی که چاوویل :لله علی اعتکاف شهران دخلت الدار ،بیاکورته داخل شونوزموږدائمه ؤپه نزدپرده باندي اعتکاف لازم شونوداعتکاف ذکرکول دلته صحیح نه دی .

۱۰-مزارعت،مثلادځمکی مالک وویل زه خپله ځمکه دزراعت (کښت) لپاره درکوم که زیدله سفرنه راغی.

۱۱-معامله،یعني مساقات مثلادباغ مالک چاته وویل زه خپلی درختی مساقاةً درکوم که چیرته زیدله سفرڅخه راغی ۱۲-اقرار ،مثلاچاوویل دفلانی زماپرذمه زرروپی دي که چیرته باران ووریدیاهواراوالوته.

۱۳-وقف،مثلادسرای مالک وویل ،زه خپل سرای فلان وفلان ته وقف کوم که دالله تعالی رضاوه .۱۴-

تحکیم ، دوو کسانو چاته وویل که فلان سړی له سفرڅخه راغی نوته به زموږترمنځ په هغه فلانی شخړه کې حکم یعنې فیصله کوونکی شي،نوداتعلیق صحیح نه دی ولی دامعنٰی صلح ده نوځکه یې له شرط سره معلق کول صحیح نه دی ،دامام محمد رحمه الله په نزددااصورت جائزدی په داسی حال کې چې دامام ابویوسف رحمه الله په نزدصحیح نه دی.

**فائده** :دامام ابویوسف رحمه الله قول مفتی به دی لماقال شارح التنویر:التحکیم فلایصح تعلیقه ولا اضافته عندالثانی وعلیه الفتوی کمافی قضاء الخانیة قال ابن عابدین رحمه الله (قوله عندالثانی) وعندمحمدیجوز کالوکالة والامارة والقضاء بحر . (الدرالمختارمع الشامیة :۴/ ۲۵۴)

(۱۴)وَمَالَایَبطُلُ بِالشَّرطِ الفَاسِدِ القَرضُ وَالهِبَةُ وَالصَّدقَةُ وَالنِّکَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالخُلعُ وَالعِتقُ وَالرَّهنُ وَالإِیصَاءُ وَالوَصِیَّةُ وَالشَّرکَةُ وَالمُضَارَبَةُ وَالقَضَاءُ وَالإِمَارَةُ وَالکَفَالَةُ وَالحَوَالَةُ وَالوَکَالَةُ وَالإِقَالَةُ وَالکِتَابَةُ وَإِذنُ العَبدِ فِی التِّجَارَةِ وَدَعوَةُ الوَلَدِ وَالصُّلحُ عَن دَمِ العَمدِ وَالجِرَاحَةِ وَعَقدُ الذِّمَّةِ وَتَعلِیقُ الرَّدِّ بِالعَیبِ أَو بِخِیَارِ الشَّرطِ وَعَزلُ القَاضِی.

**ترجمه** : اوکوم معاملات چې په شرط فاسدسره نه باطلیږي هغه دادي :قرض،هبه، صدقه،نکاح، طلاق،خلع، عتق،رهن،وصی ګرځول ،وصیت کول،شرکت،مضاربت،قاضی ټاکل،امیرټاکل،کفیل کیدل،حواله کول،وکالت کول ،اقاله کول،مکاتبة کول،مریي ته دتجارت اجازه ورکول،دماشوم دعوی کول،له دم عمداوزخم څخه صلح کول،دذمی جوړیدوعقدکول،اومعلق کول دمبیعی واپس کیدل په عیب یاخیارشرط سره اوقاضی معزول کول .

**تشریح** : (۱۴)په مذکورعبارت کې مصنف رحمه الله دوهم قسم معاملات ذکرکړي دي یعنې هغه معاملات چې په شرط فاسدسره نه باطلیږي بلکې خپله شرط باطلیږی داډول معاملات اووه ویشت دي : ۱-قرض،مثلاچابل ته وویل :زه تاته سل روپی قرض درکوم په دي شرط چې ته به یوه میاشت زماخدمت کوي نوداشرط باطل دی ولی قرض ورکول معاوضه مالي نه ده ۲-هبه،مثلایوچابل چاته وویل :زه تاته دامنځه درهبه کوم په دي شرط چې دهغی حمل به زماوي ،نوداشرط باطل دی لماقلنا. ۳-صدقه،مثلایوه سړي بل ته وویل چې زه تاته صدقه درکوم په دي شرط چې ته به یوه هفته زماخدمت کوي ۴-نکاح،مثلایوسړي یوې ښځې ته وویل زه له تاسره نکاح کوم په دي شرط چې ستابه مهرنه وي نوداشرط باطل دی .
۵-طلاق،مثلاخاوندښځې ته وویل زه تاته طلاق درکوم په دي شرط چې ته به له بل چاسره نکاح نه کوې . ۶-خُلع،مثلایوښځی خپلې میړمنې ته داسې ووایې زه له تاسره خلع کوم په دي شرط چې مالره به لس ورځې اختیاروي ۷-عتق،مثلامالک خپل مریی ته وویل :زه تاآزادوم په دي شرط چې مالره به اختیاروي ۸-رهن،مثلایوسړي بل ته وویل زه خپل مریی تاته رهن ږدم په دي شرط چې زه هغه څخه خدمت اخلم ۹-ایصاء،مثلایوسړي بل ته وویل زه تاخپل وصي ګرځوم په دي شرط چې ته زماله لورسره نکاح وکړي ۱۰-وصیت،مثلایوسړي بل ته وویل زه ستالپاره دخپل په دریمه وصیت کوم په دي شرط چې فلان اجازه راکړي .
۱۱-شرکت،مثلایوسړي بل ته وویل چې زه تاشریک کوم په دي شرط چې ته به ماته هدیه راکوي ۱۲-مضاربت ،مثلایوسړي بل ته وویل زه تاته زرروپی په نیمی مضاربت درکوم که دفلان خوښه

و ۱۳-قضاء،مثلاً خليفه دوخت چاته وويل :زه تادمکې مکرمې قاضي تاکم په دي شرط چې ته به دهميشه لپاره نه معزول کيږي نو دا شرط باطل دی ۱۴-امارت،مثلاً خليفه يو چاته وويل زه تا د شام امير تاکم په دي شرط چې ته به پر سوارلی نه سوريږې ۱۵-کفاله،مثلاً چاقرض غوښتونکي ته وويل زه ستا د مقروض کفيل جوړيږم په دي شرط چې ته به ماته قرض راکوي ۱۶-حواله،مثلاً زه تاته پر فلان باندي حواله درکوم په دی شرط چې ستا دحق دضائع کيدو په صورت کې به ته ماته رجوع نه کوې ،نو دا حواله صحيح ده او شرط باطل دی.
۱۷-وکالت،مثلاً يو سړي بل ته وويل زه تا وکيل گرځوم په دي شرط چې زما پر ذمه چې کوم ستا حق دی ته به ماله هغه څخه بري کوي نو وکالت صحيح دی او شرط باطل دی ۱۸-اقاله،مثلاً يو سړي بل ته وويل زه د دي بيع اقاله کوم په دي شرط چې ته ماته قرضه راکړې ۱۹-کتابت،مثلاً مولی خپل مريي ته ووايې چې زه تا په زرروپی مکاتب کوم په دي شرط چې ته به له فلان سره معامله نه کوې يا دا چې ته به له ښار څخه وځي ۲۰-اذن فی التجارة،مثلاً مولی خپل مريي ته وويل زه تاته دتجارت اجازه درکوم په دي شرط چې ته به تريوې مياشتې يا يو کال پوري تجارت کوې يا دا چې ديو مخصوص قسم مال تجارت به کوې نو دا شرط باطل دی هغه ته هروخت او عامه اجازه کيږي.
۲۱-دعوة الولد،مثلاً مولی وويل زه دماشوم دنسب دعوی کوم په دي شرط چې هغه به زما وارث نه وي ۲۲-صلح له دم عمد څخه مثلاً دمقتول عمداً وارث له قاتل سره پريوشي باندي صلح کوي په دي شرط چې هغه به ده ته قرضه ورکوي يا به يوشی هديه ورکوي نو صلح صحيح ده شرط باطل دی ۲۳-صلح له زخم څخه مثلاً څوک د داسي زخم څخه صلح کوي چې په هغه کې قصاص واجب دی خو دا شرط لگوي چې هغه به ده ته يوشی هديه ورکوي ۲۴-عقدالذمه، مثلاً يو کافر د مسلمانانو له امام سره دعقد ذمه کولو په وخت کې دا شرط لگوي چې دی به ټيکس دا هانت په دول نه اداکوي ځکه څرنگه چې هغه مشروع دی نو دا عقد صحيح او شرط باطل دی . ۲۵-تعليق الرد بالعيب،مثلاً مشتري بائع ته وويل که ما په مبيعه کې عيب پيدا کړنو زه مبيعه واپس کوم په دي شرط چې ته به هغه آزادوي نو دا شرط باطل دی ۲۶-تعليق الرد بخيار شرط،مثلاً په بيع کې چې چا لره خيار شرط دی هغه وويل زه دخپل خيار شرط په وجه مبيعه ردوم په دي شرط چې ته به هغه آزادوي نو دا شرط باطل دی ۲۷-عزل دقاضی،مثلاً خليفه قاضي ته وويل ماته معزول کړی يې که دفلاني خوبنه وه نو دا مذکور ټول تصرفات صحيح دي مگر شرطونه يې باطل دي.

## باب الصرف

دا باب دبيع صرف په بيان کې دی

دصرف لغوي معنی ده گرځيدل او منتقل کول،څرنگه چې دعقد صرف دواړو عوضونو لاس پر لاس گرځيدل او منتقل کول ضروري دی ځکه نو دغه عقد نوم (صرف) کيښودل شوی دی او دبيع الصرف اصطلاحی

تعریف داسي شوی دی چې بیع صرف هغه دی چې پکي دواړه عوضونه دثمن له جنس څخه وي مثلاً سره زر دسرو زرو په عوض سپین دسپینو په عوض خرڅول روپۍ د روپو په عوض خرڅول.

دغه باب له ماقبل سره دمناسبت وجه داده چې مصنف رحمه الله بیع صرف له ټولو بیوعو نه وروسته ځکه ذکر کړې ده چې په بیع صرف کې دواړه عوضونه ثمن وي او په عقد بیع کې ثمن دوصف قائم مقام وي او مبیعه داصل قائم مقام وي او داصل ذکر مخکي او دوصف وروسته مناسب وي ځکه یې بیع صرف ترنورو ټولو بیوعو وروسته ذکر کړې ده.

په بیع صرف کې ترافتراق بالابدان مخکي تقابض (یعني دمتعاقدینو پر عوضینو باندي قبض) شرط دی او په هغه کې خیار صحیح نه دی او موده مقررول هم صحیح نه دی ولی دا دوه امرونه دواجب قبض لپاره مفوت دي.

(۱) هُوَ بَيْعُ بَعْضِ الْاَثْمَانِ بِبَعْضٍ.

**ترجمه**: هغه خرڅول دي دبعضو روپو دنورو روپو په عوض

**تشریح**: (۱) په دغه عبارت کې مصنف رحمه الله دبیع صرف تعریف کړی دی کوم چې پورته بیان شوی دی.

(۲) فَلَوْ تَجَانَسَا شُرِطَ التَّمَاثُلُ وَالتَّقَابُضُ وَإِنِ اخْتَلَفَا جَوْدَةً وَصِيَاغَةً (۳) وَإِلَّا شُرِطَ التَّقَابُضُ (۴) فَلَوْ بَاعَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ مُجَازَفَةً صَحَّ إِنْ تَقَابَضَا فِي الْمَجْلِسِ (۵) وَلَا يَصِحُّ التَّصَرُّفُ فِي ثَمَنِ الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِهِ فَلَوْ بَاعَ دِينَارًا بِدَرَاهِمَ وَاشْتَرَى بِهَا ثَوْبًا فَسَدَ بَيْعُ الثَّوْبِ (۶) وَلَوْ بَاعَ أَمَةً مَعَ طَوْقٍ قِيمَةُ كُلٍّ أَلْفٌ بِأَلْفَيْنِ وَنَقَدَ مِنَ الثَّمَنِ أَلْفًا فَهُوَ ثَمَنُ الطَّوْقِ وَإِنِ اشْتَرَاهَا بِأَلْفَيْنِ أَلْفٍ نَقْدٍ وَأَلْفٍ نَسِيئَةٍ فَالنَّقْدُ ثَمَنُ الطَّوْقِ

**ترجمه**: بیا که دواړه یو جنس وو نو شرط یې برابر والی او عوضین قبض کول دی که څه هم دواړه مختلف وي په صاف والي او جوړښت کې که نه یو اخي قبض شرط دی، بیا که یې خرڅ کړه سره زر دسپینو په عوض په اټکل سره نو صحیح دی که یې دواړه په مجلس کې قبض کړل او صحیح نه دی تصرف کول دعقد صرف په پیسو کې تر قبض کولو مخکي که یې خرڅ کړ دینار د درهم په عوض او په هغه یې کړه واخیسته نو دکپړي بیع فاسدیږي، او که یې خرڅه کړه منځه له غاړکۍ سره په دوه زره روپۍ دهریوه قیمت زر روپۍ دی او له ثمن څخه یې نقد ورکړي یو زر روپۍ نو دغه نقد دغاړکۍ ثمن دي او که یې منځه واخیسته په دوه زره یو زر نقد او یو زر قرض نو هغه نقد دغاړکۍ ثمن کیږي.

**تشریح**: (۲) یعني که دواړه نقدین هم جنس وو مثلاً یو سرې سره زر دسرو زرو په عوض یا سپین زر دسپینو زرو په عوض خرڅ کړي نو دا عقد په دوو شرطونو سره جائز دی یو دا چې دواړه عوضین به سره برابروي که څه هم په صافوالي او جوړښت کې مختلف وي په دې ډول چې له دواړو عوضینو څخه یو عوض زیات صاف وي او دوهم دهغه په نسبت ترهغه په صاف والي کې کم وي یا یو ډیر ښه جوړ شوی وي او دوهم دومره ښه نه وي جوړ شوی لقوله علیه السلام: جیدها ورديها سواء (یعني دهغو جید او ردي برابر دي) دوهم شرط دا دی

چې په بیع صرف کې ترتفرق بالابدان مخکې عوضین قبض کړي لقوله علیه السلام: یدا بید (یعنې لاس په لاس یې خرڅوئ).

**فائده**: نن سبا دمیعادي چیک یوه طریقه رواج شوې ده مثلاً دپنځوس زره روپی چیک دی دوې اوونی وروسته قابل وصول دی نو مخکې تروخت دهغه رقم دحاصلولو لپاره دچیک مالک په پنځه څلویښت زره روپی دغه چیک خرڅوي، خرڅوونکي ته هغه رقم په لاس ورځي خو تروخت مخکې خریدار ته رقم وروسته په لاس ورځي خو په کتّه سره، څرنګه چې دا دبیع صرف صورت دی او په بیع صرف کې له دواړو طرفو څخه دورکوونکي عوضینو برابروالی هم ضروري دی او نقدهم په داسې حال کې چې دلته له یوه طرفه رقم زیات دی او له بل طرفه کم دی اوله یوه طرفه ادائیګی نقد دی اوله بل طرف قرض دی نو ځکه دا شان معامله قطعًا حرامه او پرسود مبنی ده او ددې پرناجائزوالی باندې دفقهاؤ اتفاق دی. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۴۱۴)

(۳) قوله والاشرط التقابض ای وان لم یتجانسا بأن با ع ذهبا بفضة شرط التقابض دون التماثل، یعنې که نقدین دواړه یوجنس نه وو مثلاً سره زر دسپینو په عوض خرڅ کړي نو په دغه صورت کې یوائې دعوضینو قبض کول په مجلس کې واجب دی ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې سره زر دسپینو په عوض خرڅید لای شي خو لاس په لاس، دعوضینو ترمنځ برابري شرط نه ده یعنې په عوضینو کې تفاضل (یعنې دیوه کمیدل دبل زیاتیدل) جائزدی ولی تفاضل هغه وخت ناجائزدی چې عوضین له یوه جنس څخه وي.

(۴) پس که چاسره دسپینو په عوض په اټکل سره خرڅ کړل سره او سپین یې تول نکړل نو که په هغه مجلس کې بائع او مشتري دواړو پرعوضینو باندې قبضه وکړه نو بیا دابیع صحیح ده ولی دادبیع صرف صورت دی نو په مجلس عقد کې پرعوضینو باندې دمتعاقدینو قبض ضروري دی پاتې شوه دعوضینو ترمنځ برابري هغه په دې وجه چې دوئ مختلف الجنس دي ضروري نه دی نو دا اټکل په وجه که په عوضینو کې زیاتوب او کمبوت وي هغه دعقد پرجواز باندې هیڅ اثر نه کوي.

(۵) ترقبض کولو مخکې په ثمن صرف کې تصرف کول ناجائزدی ولی په بیع صرف کې هرعوض من وجهٍ مبیع دی او من وجهٍ ثمن دی او په مبیعه کې مخکې ترقبض تصرف کول جائزنه دی ځکه نو دعقدصرف په عوضینو کې مخکې ترقبض کولو تصرف کول جائزنه دی نو که چا یو دینارد څو درهمو په عوض خرڅ کړاو تراوسه یې درهمونه قبض کړي نه وو چې په هغوې کپړه واخیسته نو په ثمن صرف کې مخکې ترقبض دتصرف کولو په وجه دکپړې بیع فاسده ده.

(۶) که چا منځه سره له غاړکۍ په دوه زره مثقاله خرڅه کړه دهریوه (یعنې منځې او غاړکۍ) قیمت یې یوزرمثقال کښیښود او مشتری یوزرمثقال په دغه وخت کې ورکړل نو دا زرمثقاله دغاړکۍ قیمت ګڼل کیږي چې بیع صحیح شي ولی دغاړکۍ بیع، بیع صرف ده نو که دا زرمثقالونه دمنځې قیمت وبلل شي نو دغاړکۍ قیمت قرض کیږي، په داسې حال کې چې په بیع صرف کې دعوضینو قبض کول په مجلس کې ضروري دی دیوه عوض قرض کول جائزنه دی، همدارنګه که چا منځه سره دغاړکۍ په دوه زره واخیسته چې

يوزريې نقدورکړي اويوزريې قرض کړي نوددي بيع دصحيح کيدولپاره داضروري ده چې دغه نقدي روپۍ دغاړکۍ قيمت شي ولې دغاړکۍ په حق کې دابيع صرف ده چې په هغې کې ديوه عوض قرض کول جائزنه دی نومناسب داده چې نقدي دغاړکۍ قيمت شمارشي چې عقدصحيح شي ولې ديوه عاقل،بالغ مسلمان ظاهرحال داتقاضاکوي چې دی لومړۍ واجب اداکوي اوپه مجلس عقدکې دغاړکۍ قيمت اداکول واجب دی دمنځي قيمت اداکول په مجلس عقدکې واجب نه دی .

(۷)وَإِنْ بَاعَ سَيْفًا حِلْيَتُهُ خَمْسُونَ بِمِائَةٍ وَنَقَدَ خَمْسِينَ فَهُوَ حِصَّتُهَا وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ (۸) أَوْ قَالَ مِنْ ثَمَنِهِمَا (۹) وَلَوْ افْتَرَقَا بِلَا قَبْضٍ صَحَّ فِي السَّيْفِ دُونَهَا إِنْ تَخَلَّصَ بِلَا ضَرَرٍ وَإِلَّا بَطَلَا.

**ترجمه** :اوکه يې خرڅه کړه داسي توره چې دهغې ګينه پنځوس درهمه قيمت لري په سل درهمه اوپنځوس يې نقدورکړي نودغه نقددګينې حصه کيږی که څه هم بيان يې نه وي کړی يا داسي ووايي چې ددواړوله ثمنوڅخه دي اوکه دواړه سره جلاشول له قبض بغيره نوبيع صحيح کيږي په توره کې نه په ګينه کې که چيرته توره اوګينه بلاضرره سره جلاکيدای شوای که نه ددواړوبيع باطليږی .

**تشريح** : (۷) که چاپه زروپوښلې توره دسلودرهمونوپه عوض خرڅه کړه چې ګينه يې پنځوس درهمه قيمت درلودیامشتري له ثمنوڅخه پنځوس درهمه اداکړل نودابيع جائزه ده اوداشوي پنځوس درهمه دګينې ثمن شمارل کيږی که څه هم مشتري دابيان نه وي کړی چې داپنځوس درهمه دزيورعوض دی يادتوري يادددواړو،ولې دزيوردثمن قبض کول واجب ووځکه دمشتري دظاهرحال تقاضاهمداده چې هغه اول هغه اداکړی دی چې دهغه اداثيګي په مجلس عقدکې دده پرذمه واجب دی .

(۸)همدارنګه که مشتری تصريح وکړه چې داپنځوس درهم دتوري اوزيوردواړوثمن دي نوپه دغه صورت کې هم دادزيورثمن شمارل کيږي ولې دمسلمانانوامورتروس پوري پرجوازمحمول کيږی اودلته داهم ممکن دی چې له (ثمنهما) څخه زيورمرادکړي ولې تثنيه ذکرکوي واحدمرادول جائزدی کمافی قوله تعالى (فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا) بياچې کله ورسيدل ددوودريابونودیوځای کيدلوترځايه هيرېې شوځپل ماهی (کب) .

(نسيا) تثنيه ده مګرهيريدونکی يويعنې يواځي حضرت يوشع عليه السلام دی،وقال تعالى: (يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ) راوځي له دغودوو(دريابونو) څخه ملغلري اومرجان) . مِنهُمَا ،تثنيه ده مګرله دي څخه يواځی ترش درياب مراددی ولې ملغلرې اومرجان يواځي له ترش درياب څخه وځي .

(۹)يعني که په مذکورصورت کې په مجلس کې دعوضينوترقبض کولومخکي متعاقدين سره جلاشول نودزيورپه حصه کې عقدباطليږی ولې دزيورپه حصه کې دابيع صرف ده چې په هغی کې ترافتراق مخکي تقابض (دمتعاقدينوقبضول) شرط دی بياکه چيرته داممکن ووچې زيورله توري څخه بغيرضررجلاکيدای شوای نودتوري بيع جائزه ګرځي ولې په دی صورت کې مبيعه بغيرضررسپارل ممکن دی اودزيوربيع باطليږی لمامرّ،اوکه زيورله توري سره داسي مبنتي ووچې دزيورله توري څخه بغيرضررجلاکيدل ممکن نه وونودتوري بيع هم باطليږی ولې بغيرضرردمبيعی سپارل ممکن نه شو،نوداداسی دی لکه په چت کې لګيدلي لرګي خرڅول

نو ځرنګه چې په چت کې لګيدلي لرګي بغير ضرر نه سپارل کيږي څکه نو دداډول لرګو خرڅول جائز نه دی.

(۱۰) ولو باع اناء فضة وقبض بعض ثمنه وافترقا صح فيما قبض والاناء مشترک بينهما (۱۱) وان استحق بعض الاناء اخذ المشتري مابقي بقسطه او رده (۱۲) ولو باع قطعة نقرة فاستحق بعضها اخذ مابقي بقسطه بلا خيار

**ترجمه**: او که يې خرڅ کړل د سپينو زرو لوښي او دهغه څه ثمن يې قبض کړي او دواړه سره جلا شول نو بيع صحيح ده په هغه کې چې قبض کړی يې دی او لوښی د دواړو سره مشترک دی او که نيم لوښی د بل چا حق وګرځيد نو مشتري دي واخلي باقي دهغی په ثمنو سره او يا دي رد کړي او که يې خرڅه کړه د زرو ټکره بيا د بل چا حق وګرځيد دهغه څه حصه نو دا دي خلي هغه باقي دهغی په اندازه سره بلا اختياره.

**تشريح**: (۱۰) که چا د سپينو زرو لوښی خرڅ کړ او بائع دهغه څه ثمن قبض کړي او څه يې نه دي قبض کړي بيا دواړه سره جلا شول نو پر څومره پيسو چې بائع قبضه کړي ده په هغه اندازه بيع صحيح شوه او چې څومره يې نه دي قبض کړي په هغه اندازه بيع باطليږی مثلا بائع نيمی پيسی قبض کړي نو په نيم لوښي کې بيع صحيح کيږي په باقی نيم کې باطليږی ولی دا عقد صرف دی او په عقد صرف کې دبقاء جوازلپاره مخکی ترجلا کيدو دعوضينو قبضول شرط دی نو چې په څومره حصه کې شرط راغلی دی په هغی کې بيع صحيح کيږی او په څومره کې چې شرط نه دی راغلی په هغی کې عقد باطليږی پاتی شوه داخبره چې ديوې حصی فسادبلې حصی ته نه متعدی کيږي هغه په دې چې دافسادپه ابتداء عقدکې نه دی راغلی بلکې دافساد وروسته پيښ شوی دی او عارضی فسادبقدرفسادوي. او لوښی دمتعـ... نو سره مشترک دی او په مبيعه کې شرکت که څه هم عيب دی مګر دهغه په وجه مشتري ته دخيارفسخ حق نه ورکول کيږي ولی تفريق دصفقة دمشتری په فعل سره لازم شوی دی که ده مخکی ترجلا کيدو پوره ثمنی اداکړي وای نو تفريق صفقة نه لازميدی نو ددي جرم په وجه هغه دخيارحق نه ورکول کيږی.

(۱۱) که دلوښي کوم بل مستحق (له مشتري او بائع نه علاوه دريم چا دلوښي دمالک کيدو دعوی وکړه هغه يې ثابته کړه نو هغه ته مستحق ويل کيږی) پيدا شو نو مشتري ته اختيار ورکول کيږی چې هغه مابقي لوښي دهغی حصی دثمنو په عوض واخلی يا مابقي هم رد کړي ولی شرکت عيب دی او دمعيوب خومشتري ته دقبلولو او ردلو اختيار وي او ځرنګه چې په دغه صورت کې په مبيعه کې دشرکت عيب دمشتري په فعل سره نه دی لازم شوی څکه نو مشتري ته دخيارفسخ حق ورکول کيږي.

(۱۲) که چا يوه ټکره د سپينو زرو خرڅه کړه بيا دهغی دڅه حصی يو بل څوک مستحق پيدا شو نو څومره حصه ټکره چې دمشتري سره باقی ده مشتري دي هغه دثمنو په عوض واخلی په خپله اندازه او مشتري لره دمابقي ټکري په باره کې پربائع باندي دردولو خيارهم نشته ولی دزرو ټکره يو داسي شی دی چې دهغی ټکره کول تاواني نه دی نو بلا شرکت دي مشتري خپله حصه جلاکړي بغير ضرر دهغی مالک ګرځيدای شي.

(۱۳) وصح بيع درهمين ودينار بدرهم ودينارين وكر بر وشعير بضعفيهما (۱۴) واحد عشر درهما بعشرة دراهم ودينار (۱۵) ودرهم صحيح ودرهمين غلتين بدرهمين صحيحين ودرهم غلة (۱۶) ودينار بعشرة عليه او بعشرة مطلقة ودفع الدينار وتقاصا العشرة بالعشرة

**ترجمه**: او صحيح ده بيع د دوو درهمينو او يوه دينار د يوه درهم او دوو دينارونو په عوض او يوه پيمانه غنم او اوربشې د هغوى په دوه چنده او ديولسو درهمونو په لسو درهمو يوه دينار په عوض او يو صاف دوه ناچله درهمونه د دوو صافو يوه ناچله درهم په عوض او يو دينار د لسو درهمونو په عوض چې د ده پر ذمه قرض دي يا د مطلق لسو په عوض او چې دينار ورکړي او مجرا کړي لس د لسو په عوض کې.

**تشريح**: (۱۳) که چا دوه درهمونه يو دينار د يوه درهم دوو دينارونو په عوض خرڅ کړل نو زموږ په نزد دا بيع جائزه ده اوله دواړو څخه هر جنس د هغه خلاف عوض بلل کيږي يعنې دوه درهمه د دوو دينارونو عوض او يو درهم د يوه دينار عوض شمارل کيږي ولې د دې بيع د صحت هم دا صورت دی ځکه نو عاقدينو له پکار دی چې د عقد د صحيح کيدا لپاره عقد د دغه صورت طرف ته راوګرځوي ولې که د خلاف جنس طرف ته راونه ګرځول شي بلکې هر يو د خپل جنس مقابل وبلل شي نو سود لازميږی ځکه په دې ډول دوه درهم د يوه درهم په عوض کې کيږی او دوه ديناره د يوه دينار عوض چې له هم دې څخه سود لازميږی همدارنګه يو کُر (کُر د کاف په ضمه سره په تشديد د راء سره د شپيتو قفيزو يوه پيمانه ده چې يو قفيز دوولس کاسې کيږی په دې ډول يو کُر اوه سوه شل کاسې ۷۲۰ برابر کيږي) غنم او يو کُر اوربشې د دوو کُره غنمو او دوو کُره اوربشو په عوض خرڅول جائز دی او هر يو به د خپل جنس خلاف عوض بلل کيږي. لما قلنا.

**فائده**: د امام شافعي رحمه الله او امام زفر رحمه الله په نزد مذکور صورت د ريا په وجه ناجائز دی، او دا چې د جواز کوم صورت يې بنودل شوی دی چې هر يو به د خپل جنس خلاف ته راګرځول کيږی د انو ځکه صحيح نه دی چې په دې کې د عاقدينو د تصرف متغير کول لازميږی ولې عاقدينو دوه درهمه يو دينار مجموعه د يوه درهم دوو دينارونو له مجموعې سره مقابل کړی دی او د عاقدينو تصرف متغير کول ناجائز دی که څه هم د عاقدينو د تصرف صحيح کولو لپاره عقد متغير کړي. احناف جواب ورکوي چې هر يو د خپل جنس خلاف طرفته په ګرځولو کې د عقد متغير کول نه لازميږی ولې د عقد اصلی حکم دا دی چې د هر عاقد د کل په مقابله کې پر کل باندې ملکيت حاصل شي او دا په هغه صورت کې چې هر يو د خپل جنس خلاف طرفته وګرځوي هم حاصليږی. البته د عقد د وصف متغير کول لازميږی ولې له عوضينو څخه د دې پر ځای چې کل په عوض د کل وبلل شي دوه په عوض د دوو کې او يو په عوض د يوه کې مراد شوی دی نو دا د عقد متغير کول نه دی بلکې عقد له يو وصف څخه (چې کل په عوض د کل) دی بل وصف ته چې (هر يو د خپل جنس خلاف طرفته ګرځول) متغير کول دی چې په دې کې هيڅ قباحت نشته.

**فائده**: صحيح خبره دا ده چې زموږ د دريو امامانو په نزد دا ډول بيع صحيح ده مګر مکروه او حرامه ده ولې په دې کې د سود لپاره يو د حيله تراشل شوې ده لما قال الشيخ عبد الحكيم الشهيد رحمه الله: واما عند ائمتنا الثلاثة فجائز بمعنى انه صحيح لكنه مكروه وحرام لسافيه وحيلة وحيلة للربا وامالم يصرح بالكراهة اعتمادا منه على ذكر القاعدة الكلية الاتية عن قريب (هامش الهداية ۳/۱۰۹:)

**فائده**: دغې مسئلې ته نژدې د موجوده زماني یوه مسئله ده یعنې د کمپنیو د شرکت د خرید و فروخت مسئله ،خولومړی دا پېژندل ضروري دي چې شیئر څه شي دی ؟ شیئر په اردو ژبه په حصه سره تعبیرېږي او په عربي کې ورته سهم ویل کیږي دا شیئر په حقیقت کې دیوې کمپنۍ په منافعو کې دشیئر د حامل دملکیت دیوې متناسبې حصې نمائندګي کوي لهذا د کمپنۍ چې څومره عوائد او املاک دي د شیئر دا خستلو په نتیجه کې زه په هغو ټولو کې د متناسبې حصې مالک وګرزیدم.

دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد د شیئر خرید و فروخت جائز دی په دې شرط چې دشیئر قیمت تر هغو نقودو او دیونو زیات وي چې دشیئر په حصه کې راځي که یې قیمت تر هغو کم یا برابروي بیا جائز نه دی مثلاً دیوه شیئر قیمت سل روپۍ دي او دیوه شیئر په حصه کې دراتلونکو عروضو قیمت شپېته روپۍ دي او باقي څلوېښت روپۍ د نقودو او دیونو په مقابله کې دي اوس که چیرته هغه یو شیئر په یو څلوېښت روپۍ خرڅ کړای شي یا تر هغو په زیات قیمت خرڅ کړای شي نو دا صورت جائز دی ځکه چې څلوېښت روپۍ خو د نقودو او دیونو په مقابله کې کیږي او یوه روپۍ چې پاته ده د ټولو عروضو په مقابله کې کیږي مګر هغه شیئر په څلوېښت یا په نه دیرش روپۍ خرڅول ناجائز دي ځکه د څلوېښتو روپو خرڅولو په صورت کې د نقودو او دیونو په مقابله کې څلوېښت روپۍ وصول شوې او باقي عروض خالي له عوض نه پاتې یږي ځکه نو دا صورت جائز نه دی او که یې په نه دیرش روپۍ خرڅ کړ دا صورت په طریقه اولی ناجائز دی ،ځکه چې د نقودو او دیونو تر منځ هم تماثل پاتې نه شو بلکې تفاضل راغی او عروض هم خالي له عوض څخه پاتې شول ځکه نو دا صورت هم جائز نه دی،نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد د شیئر بیع هغه وخت جائزه کیږي چې کله د شیئر په حصه کې د راتلونکو نقودو او دیونو قیمت د ثمن په مقابله کې کم وي او ثمن د هغه په مقابله کې زیاتي وي. (تقریر ترمذی :۱/ ۱۸۴)

(۱۴)قوله واحدعشر درهمابعشرة دراهم ودينار ای صح بيع احدعشر درهمابعشرة دراهم ودينار ،یعنې که چا یوولس درهم په عوض د لسو درهمو یوه دینار خرڅ کړل نو دا بیع جائزه ده ،لس درهم به د لسو درهمو په عوض شي او یو دینار دیوه درهم په عوض کیږي ولې د جواز عقد همدا صورت دی او د عاقدینو ظاهر حال د همدې خبرې مقتضي دی چې هغوئ به د جائز عقد ارتکاب کړی وي نه د عقد فاسد.

(۱۵)قوله درهم صحيح ودرهمين غلتين الخ ای صح بيع درهم صحيح ودرهمين غلتين الخ غلة بفتح الغين وتشديد اللام ، دیوه درهم هغو اجزاؤ او وروړو ته وایې چې په وزن او مالیت کې د درهم برابروي چې بیت المال ردکړی وي او تجاران یې قبلوي لکه په دغه زمانه کې زموږ د روپیانو اټانی .لس پیسې پنځه پیسې وغیره، مګر بیت المال هم هغه د کوټه کیدو په وجه نه ردوي بلکې د وړوالي په وجه یې ردوي ولې د وړو روپو حفاظت او شمارل مشکل وي ،صورت د مسئلې دا دی چې که چا د وه صحیح درهم یو غلة درهم د دوو غلة او یوه صحیح په عوض خرڅ کړل نو دا بیع جائزه ده ولې د وزن او مالیت په اعتبار عوضین برابر دي البته په وصف کې فرق دی چې درهم تر وړو اجزاؤ عمده وي مګر څرنګه چې په وصف کې برابر والی شرط نه دی ځکه نو دا عقد صحیح دی.

(۱۶)قوله ودينار بعشرة عليه اى صح بيع دينار بعشرة عليه،يعني که دچاپربل چاباندي لس درهمه قرض ووييا قرضدارپرقرض غوښتونکي باندي دلسودرهمونوپه عوض کې يودينارخرڅ کړنوددي دوه صورتونه دي :يوداچې قرضدارخپل دينارده‌غولسو درهمونوپه عوض خرڅ کړي چې پرده باندي دقرض غوښتونکي له طرفه واجب وو،داصورت په اتفاق سره جائزدی ولی دديناربيع دلسودرهمونوپه عوض بيع صرف ده اومخکي داخبره تيره شوه چې په بيع صرف کې بدلين قبض کول لازم دی چې داکارشوی دی چې قرض خولادمخه قبض شوی دی اودينارا وس قبض شونوداعقدصحيح دی ،دوهم صورت دادی چې قرضدارخپل دينارمطلقًا دلسودرهمونوپه عوض خرڅ کړي يعني دديناربيع هغودرهمونوته منسوب نه کړي کوم چې پرقرضدارباندي واجب دي بياقرضدارقرض غوښتونکي ته دينارورکړاودواړوپه رضامندي سره ددينارثمن يعني لس درهم قرض يې له لسودرهمونوسره مقاصه کړل يعني ادل بدل يې وکړاومعامله يې برابره کړه په دي ډول چې دقرضدارپرذمه چې دقرض غوښتونکي کوم لس درهمونه ووهغه دهغولسودرهمونوپه بدل کې شوکوم چې دقرض غوښتونکي پرذمه دقرضداردبيع ديناربه وجه واجب شوي وونودقياس تقاضاداده چې داصورت جائزنه وای ولی دقرض غوښتونکي پرذمه چې ددينارا خستلوبه وجه لس درهم لازم شوي دي دهغوقبض کول په مجلس کې ضروري دی اودمقروض پرذمه چې کوم لس درهم قرض دي دهغوقبض کول ضروري نه دی نوګواکي دادوه مختلف الجنس شيان دي نوددوئ ترمنځ مقاصه بايدجائزنه وي ولی په مقاصه کې ددواړوشيانوترمنځ اتحادجنس ضروري دی البته استحساناداصورت جائزدی ولی چې کله متعاقدينو مقاصه وکړه نوپه دي ډول يې صحيح کول ممکن دی چې عقداول (يعني ددينارا ودرهمو مطلقه ترمنځ چې کوم عقدصرف شوی دی ) فسخ کړای شي اوددينار بيع دهغولسو درهمونوطرف ته منسوبه کړي کوم لس درهم چې دمقروض پرذمه دقرض غوښتونکي له طرفه واجب دي بيانودالومړی صورت ګرځي څکه نوروادی.

(۱۷)وغالب الفضة والذهب فضة وذهب حتى لايصح بيع الخالصة بهما ولابيع بعضها ببعضها الا متساويا وزنا (۱۸) ولايصح الاستقراض بهما الاوزنا (۱۹) وغالب الغش ليس في حكم الدراهم والدنانير فصح بيعها بجنسها متفاضلا.

**ترجمه** :اوپه کوموشيانوکې چې سره اوسپين غالب وي هغه دسرواوسپينوله جملې څخه شمارل کيږي حتی چې صحيح نه ده دخالص بيع دهغودوپه عوض اونه بيع دهغودبعض دبعض په عوض مګرکه داسي که برابرووداوزن په اعتبارسره اوصحيح نه دی قرض اخيستل دهغوپه عوض مګرپه وزن سره اوپه کوموکې چې غش غالب وي هغه ددرهمونواودنانيروپه حکم کې نه دي نوصحيح ده بيع دهغوله خپل جنس سره په زيات اوکمبوت سره .

**تشريح** :(۱۷)کـه پـه دراهمـوکې سپين غالـب وونودغـه درهمونـه دخالصوسپينوزروپه حکم کې دي پـه دي ډول کـه چيرتـه پـه دنـانيروکې سـره زرغالـب وونوداددنانيردخالصوسـروزروپه حکم کې دي نوڅکـه خـالص سـره اوسپين دداډول سرواوسپينوپه عوض خرڅول ناجائزدی مګرداچې دواړه پـه وزن کې سره برابروي لکـه دخـالص سرواوسپينوحکم ،همدارنګـه هغـه دخپـل جنس پـه عوض خرڅول

هم ناجائزدی مګرداچې دواړه په وزن کې سره برابروي ولې په کمبوت اوزیادت کې سود لازمیږي.

(۱۸) همدارنګه د درهمونو او دینارونو قرض اخیستل هم صحیح نه دی مګرداچې هریووزن کړي بیایې

واخلي ولی له غش درلودلو سره سره داډول دراهم اودنانیرسره اوسپین شمارل کیږي اوسره اوسپین خوزني شیان دي دهغوقرض اخیستل یواځي دوزن په اعتبارسره جائزکیږي دکیل په اعتبارنه دي جائز.

(۱۹) قوله وغالب الغش لیس فی حکم الخ ای الدراهم والدنانیر التی غلب علیها الغش لیس فی حکم الدراهم والدنانیر . یعني که په دراهمواودنانیروکې غش غالب وونوداد خالص دراهمواودنانیروپه حکم کې نه دي بلکې دسامان په حکم کې دي ولی اعتبارغالب لره وي بیاکه داډول دراهم اودنانیرپخپل جنس سره په کمبوت اوزیادت سره خرڅ کړای شي نودابیع جائزه ده هریودهغه خلاف جنس ته منسوبیږي یعني دیوه عوض غش دهغه بل عوض دسپینوپه مقابله کې اودهغه سپین ددابل عوض دغش په مقابله کې شمارل کیږي ولی دد غه عقددصحیح کیدوهمدا صورت دی که نه که چیرته هریودهغه دجنس خلاف ته منسوب نه کړای شي نوسود لازمیږي.

(۲۰) والتبایع والاستقراض بماتروج وزنااوعدداًاوبهما (۲۱) ولایتعین بالتعیین لکونهما اثماناوتتعین بالتعین ان کانت لاتروج
(۲۲) والمتساوی کغالب الفضة فی التبایع والاستقراض وفی الصرف کغالب الغش

**ترجمه**: اوصحیح دی په دوئ سره خرید وفرخت کول اوقرض اخیستل (جائزدی) درواج مطابق په وزن سره یاپه شمیرسره یاپه دواړوسره اومتعین کیږي نه په متعین کیدوسره ولی دادواړه ثمن دي اومتعین کیږی په متعین کیدوسره که مروج نه وو. اوپه کوموکې چې غش داصل برابروي هغه دهغوپه شان دي په کوموکې چې سپین غالب وي په خرید وفروخت کې اوپه قرض اخیستلوکې اوپه عقدصرف کې دهغوپه شان دي په کوموکې چې غش غالب وي.

**تشریح**: (۲۰) قوله والتبایع والاستقراض بماتروج الخ ای صح التبایع والاستقراض بماتروج . یعني په داډول دراهمواودنانیروچې غش پرې غالب وي خرید وفروخت کول قرض اخیستل درواج مطابق صحیح دی که په تول سره رواج وونوپه تول دي که دشمیررواج وونوپه شمیرسره که دواړه رواج وونوپه دواړوطریقوسره جائزدی ولی چیرته چې نص نه وي هلته رواج ته اعتباروړکول کیږي.

(۲۱) اودسرواوسپینوداسې دنانیراودراهم (پرکوموباندې چې غش غالب وي) چې ترکومه چیرته هم رواج وي نوهغه په دي وجه چې داثمان له قبیلې څخه دي په متعین کولوسره نه متعین کیږي اوکه چیرته هم رواج نه وونوبیاپه متعین کولوسره متعین کیږي ولی بیادنه رواج په وجه له ثمن څخه نه شمارل کیږي بلکې دسامان له قبیلې څخه دي نوځکه په متعین کولوسره متعین کیږي.

**فائده**: دمذکورودرهمونواودنانیرودمتعین کیدواونه کیدومطلب داړی چې که داډول دراهم دمشتري په لاس کې وي بائع هغوته اشاره وکړه وې ویل چې ددغودراهموپه عوض خپل داسامان پرتاباندې خرڅوم نوکه

دادراهم رواج وونو دبائع په اشاره سره هغه نه متعين كيږي يعني كه دمشتري له لاسه هغه دراهم هلاك شول نومشتري دهغوپه بدله كې نوردادول دراهم وركولاى شي اوكه دهغورواج ختم شوى وونوپه متعين كيدوسره متعين كيږي نو دهغو دهلاكيدوپه صورت كې مشتري له هغو څخه علاوه نه شي وركولاى.

(۲۲)اوكه سپين اوغش ياسره اوغش سره برابروونو دخريداوفروخت اوقرض اخيستلوپه باره كې دادهغودراهمو اودنانيروپه حكم كې دي په كوموكې چې سپين اوسره غالب وي نوله وزن بغيرپه هغوسره خريدوفروخت كول ياقرض وركول جائزنه دى ولى دادول دراهم اودنانيرثمن دي چې په متعين كيدوسره نه متعين كيږي نوپه وزن كولوسره دهغومقدارمتعين كول ضروري دى اوپه بيع صرف كې دادهغودراهموپه شان دي پركوموچې غش غالب وي يعني هغه دخپل په مقابل كې په كمبوت اوزيادت سره خرڅول جائزدى ولى داګواكي دوه شيان دي سپين اوغش نوهريوخلاف جنس ته په ګرځيدوسره عقدصحيح كيږي اودواړوعوضينوپه هغه مجلس كې قبض كول شرط دى ولى په دواړوعوضينوكې دسپينوزروپه وجه دابيع صرف ده اوپه بيع صرف كې دعوضينوقبض كول په مجلس عقدكې ضروري دى لكه چې مخكې تيرشول.

**فائده**: دنوټ په باره كې زموږپه نزددهغوعلماء كراموخبره صحيح ده كوموچې نوټ ثمن اصطلاحي ګڼلى دى چې پرهغه دفلوس نافقه احكام جاري كيږي اوهغه دادى چې دفلوس پخپل منځ كې تبادله په تفاضل سره جائزنه ده على المفتى به فى هذالزمان سدًالباب الربا وهوقول الامام محمدالشيبانى رحمه الله. البته كه دانوټ مختلف الجنس وي لكه پاكستانى روپۍ اوسعودي ريال نوبيادوئ ترمنځ دتبادلې په وخت تفاضل جائزدى اوځرنګه چې داكيلى اووزني هم نه دى بلكې عددي دى ځكه نوقرض يې هم حرام نه دى ولي قرض هغه وخت حراميږي چې كله له قدراوجنس څخه يووصف پيداشى اوچيرته چې قدراوجنس دواړه نه وي هلته پورنه حراميږي له همدي څخه دحوالې مسئله هم راووته هغه داچې مثلايوسړى په سعودي عرب كې دى هغه بل چاته وويل چې زه تاته دومره ريالونه دركوم دهغوپه عوض ته دومره پاكستانى روپۍ په كراچي ښاركې فلان ته وروړسوه،دي ته په اوسنى زمانه كې دحوالې كاروباروايي داكاروبار جائزدى خوځرنګه چې داكاروباردسودحاصلولوحيله جوړيږي ځكه نوپه قيمت مثل سره جائزه ده ترقيمت مثل زياته نه ده جائزه كه نه دسوددروازه پرانيستله كيږي مثلاديوه ريال قيمت اته روپۍ دي مايوچاته لس رياله وركړل اوهغه ته مي وويل چې ته به يوه مياشت وروسته ماته سل پاكستانى روپۍ راكوي.نوځرنګه چې دلسوريالونوقيمت مثل ۸۰ اتيارروپۍ جوړيدي ۲۰وزه له هغه څخه سل روپۍ وصولوم نودايوقسم سودشوكه داجائزوبلل شي نوبياچې دسوددلين دين خلك دي هغوئ په دي ذريعه سره سودحاصلوي ځكه نوتفاضل كه څه هم جائزدى مګرپه قيمت مثل سره كيدل يې ضروري دى دايوموقف دى چې تراوسه حق بلل كيږي والله سبحانه اعلم (تقريرترمذى: ۱/ ۱۴۶بتغير)

(۲۳)ولواشترى به اوبفلوس نافقة ثم كسدقبل دفعه بطل البيع (۲۴)وصح البيع بالفلوس النافقة وان لم يعين وبالكاسدة لاحتى يعينها (۲۵)ولوكسدت افلس القرض يجب رذمثلها.

**ترجمه**: اوكه يې واخيست دهغودرهمونوچې غش په ګډووپه عوض يادرواجي پيسوپه عوض يوشى يادهغورواج ختم شو دهغوتروركولومخكي نوبيع باطليږي اوصحيح ده بيع په رواجي پيسوكه څه متعينې

شوې نه وي او په ناچله پیسو سره نه ده صحیح ترڅو چې هغه متعینې نه شي او که رواج ختم شو د قرض د پیسو نو واجب دی د هغو مثل رد ول.

**تشریح** :(۲۳)که چا د دا دول درهمو نو یا دنانیرو سره چې غش پکې ګډ وي یا د رواجي پیسو په عوض یو سامان واخیست بیا بائع ته ترو رکولو د دغو درهمونو رواج ختم شو یعنې خلکو د هغو معامله کول پریښوده نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد دا بیع باطلیږي ولې د درهمونو ثمن کیدل د خلکو په اصطلاح سره وو د رواج د ختمیدو په وجه د خلکو اصطلاح او د هغو ثمن والی پاتی نه شو نو بیع بلا ثمن پاتی شوه او بیع بلا ثمن باطله ده.

**فائده** :د صاحبینو رحمهما الله په نزد مذکوره بیع نه باطلیږي بلکې پر مشتري باندي د هغو دراهمو قیمت واجبیږي د صاحبینو رحمهما الله دلیل دادی چې مذکور عقد بیع صحیح شوی دی البته د رواج د ختمیدو په وجه د ثمنو تسلیمول متعذر شوی دی او د ثمنو د تسلیمیدو د متعذر کیدو په وجه بیع نه فاسدیږي نو ځکه د ثمنو قیمت ورکول واجبیږي ولې د هغو دراهمو ضمان د همدې بیع په وجه واجب شوی دی که دا بیع نه وای شوې نو پر مشتري باندي به ضمان نه واجبیده نو ځکه قیمت هم هغه د بیع د ورځې واجبیږي او د امام محمد رحمه الله په نزد په کومه ورځ چې خلکو د هغو معامله پرې ایښې ده په هغه ورځ چې د دغو دراهمو کوم قیمت وو پر مشتري باندي هغه واجبیږي ولې ضمان له مغشوشه دراهمو څخه د هغې ورځې د قیمت طرف ته منتقل شوی دی نو چې د کومې ورځې د قیمت
طرف ته ضمان منتقل شوی دی د هغې ورځې قیمت معتبریږي.

**فائده** :د صاحبینو رحمهما الله قول مفتی به دی کما فی الدّر المختار و صححاه بقیمة المبیع و به یفتی رفقا بالناس بحر و حقائق (الدّر المختار علی هامش ردّ المحتار: ۳/ ۲۶۹)

(۲۴)په فلوس (د فلس جمع ده یعنې پیسه، فلوس د پیتلو او نورو شیانو څخه جوړیږي) سره بیع جائزه ده ولې فلوس مال دی چې مقدار او وصف یې معلوم دی او په مال معلوم القدر او وصف سره بیع جائزه ده، بیا به دغه فلوس د عقد په وخت یا رواج وي یا به یې رواج ختم شوی وي، که رواج وو نو د درهمونو او دنانیرو په دول په بیع کې د هغو تعین کول ضروري نه دی بلکې د عقد په وخت د متعین شویو فلوس غیر (بدیل) هم ورکولای شي او که په وخت د عقد نه وو رواج یعنې خلکو د هغو معامله پرې ایښې وه نو متعین کول یې ضروري دی ولې دا اوس سامان دی او په وخت د عقد کې د سامان متعین کول ضروري دی.

(۲۵)او که یې فلوس (د پیتلو وغیره پیسې) د قرض په دول ورکړي بیا د هغو پیسو رواج ختم شو نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد د هغو په دول پیسې قرض غوښتونکي ته ورواپس کول واجب دی ولې قرض په منزله د عاریت دی نو د عین شي د واپس کولو مقتضي دی خو څرنګه چې عین شی باقي نه دی نو ځکه د هغه مثل واپس کول ضروري دی.

**فائده** :د صاحبینو رحمهما الله په نزد پر قرضدار باندي د دغو پیسو قیمت واجب دی ولې چې کله په دغو پیسو کې د ثمنیت وصف پاتی نه شو نو چې څرنګه یې قبض کړي وي هغسې یې واپس کول ممکن نه دي

نو قيمت واپس كول يې واجب دي بيا د امام ابويوسف رحمه الله په نزد د قبضې د ورځې قيمت به واپس كوي او د امام محمد رحمه الله په نزد چې په كومه ورځ يې رواج ختم شوى دى د هغې ورځې قيمت به اداكوي.

**فائده**: د صاحبينو رحمهما الله قول راجع دى لمافي الدر المختار: واوجب محمد قيمتها يوم الكساد وعليه الفتوى بزازية وفي النهر وتاخير صاحب الهداية دليلهما ظاهر في اختيار قولهما قال ابن عابدين الشامي رحمه الله: وفي الفتح وقولهما انظر للمقرض من قوله لان في ردّ المثل اضرار به. (الدر المختار مع الشامية: ۴/۲۷۰)

(۲۶) وَلَوِ اشْتَرٰى شَيْئًا بِنِصْفِ دِرْهَمٍ فُلُوسٍ صَحَّ (۲۷) وَلَوْ اَعْطٰى صَيْرَفِيًّا دِرْهَمًا فَقَالَ اَعْطِنِيْ بِهِ نِصْفَ دِرْهَمٍ فُلُوسًا وَنِصْفًا اِلَّا حَبَّةً صَحَّ.

**ترجمه**: او كه يې واخيست يو شى په نصف درهم پيسو سره نو صحيح دى او كه يې وركړل صراف ته يو درهم او ورته وې ويل چې ماته راكړه ددې په بدله كې د نصف درهم پيسې او نيم درهم په حبّه كم نو صحيح دى.

**تشريح**: (۲۶) كه چا يو شئ د نيم درهم پيسو په عوض واخيست يعني د دومره پيسو په عوض يې واخيست څومره پيسې چې د نيم درهم په عوض خرڅيږي نو د فلوس د عدد د بيانولو بغير دا بيع جائزه ده ولې د خلكو ترمنځ دا متعين دى چې د نيم درهم په عوض څومره پيسې خرڅيږي نو د فلوس د مقدار معلومولو په وجه د فلوس د عدد د بيانولو ضرورت نشته.

**فائده**: د امام زفر رحمه الله په نزد دا بيع جائزه نه ده ولې مشتري مبيعه د فلوس په عوض اخيستى ده او فلوس له معدوداتو څخه دي او نيم درهم له موزوناتو څخه دى نو د نصف درهم ذكر د فلوس د عدد د بيانولو لپاره كفايت نه كوي نو د ثمن د مجهول كيدو په وجه دا بيع جائزه نه ده امام زفر رحمه الله ته جواب وركړاى شوى دى چې د نصف درهم په عوض خرڅيدونكي فلوس معلوم دى مو ږ مسئله هم په همدې صورت كې فرض كړې ده چې خلكو ته دا معلومه ده چې د نصف درهم په عوض څومره فلوس خرڅيږي نو ثمن مجهول نه دي ځكه نو دا بيع صحيح ده.

(۲۷) كه چا صرّاف ته يو درهم وركړ ورته وې ويل چې ماته د دغه درهم په عوض كې نصف درهم فلوس او په حبّه (د دوو اوربشو برابر وزن دى) كم نصف درهم راكړه نو دا پوره بيع جائزه ده ولې په دغه صورت كې مشتري ديوه درهم په مقابل كې د نصف درهم قيمت فلوس او حبه كم نصف درهم ذكر كړى دى نو حبه كم نصف درهم عوض حبّه كم نصف درهم كيږي چې هيڅ مانع نشته پكي ولې عوضين په مقدار كې سره برابر دي او د نصف درهم يوه حبّه عوض فلوس كيږي او د درهمونو او فلوس ترمنځ ځرنګه چې اختلاف جنس دى ځكه نو په هغو كې كمبوت او زيادت جائز دى.

## كتاب الكفالة

### دا كتاب د ضامن كيدو په بيان كې دى

كفاله په لغت كې ضم يعني يو ځاى كيدو ته وايي قال تعالى (وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا اى ضمها الى نفسه) او په شرع كې ضَمّ ذِمّةٍ الى ذِمّة في المطالبة (يعني يوه ذمه له بلې سره يو ځاى كول په مطالبه كې چې مطالبه بيا له كفيل او مكفول عنه دواړو څخه كيدلاى شي) او ذِمّه يوداسې وصفِ شرعي دى چې د هغه په وجه د صاحب وصف لپاره ماله

او ماعليه اهليت ثابتيږی وفسرها فخر الاسلام بالنفس والرقبة التي لها عهد والمراد انها العهد لي ذمته اى في نفسه باعتبار عهدها من باب اطلاق الحال وارادة المحل.

مصنف رحمه الله كتاب الكفاله له كتاب بيوع وروسته ځكه ذكر كړی دی چې دكفاله اوضمانت ضرورت عموماً له بيوع وروسته پيښيږی ولی كله بائع له مشتري څخه مطمئن نه وي نو دضامن ضرورت پيدا كيږی چې هغه دمشتري له طرفه دثمن ضامن شي اوكله مشتري له بائع څخه مطمئن نه وي نو دضامن ضرورت وي چې څوك دبائع له جانبه دمبيعی كفيل شي.

دمقروض له خواچې څوك ضامن شوی وي هغه ته مكفول عنه او اصيل وايي او ددائن (قرض غوښتونكي) له خوا چې څوك ضامن شوی وي هغه ته مكفول له وايي .ضامن او ملتزم ته كفيل او نفس يادين ته مكفول او مكفول به وايي.

(۱) هي ضم ذمة الى ذمة في المطالبة (۲) وتصح بالنفس وان تعددت (۳) بكفلت بنفسه وبما عبر عن البدن وبجزء شائع (۴) وبضمنته وبعلي والي وانا زعيم به وقبيل به (۵) لابانا ضامن لمعرفته.

**ترجمه**: هغه يوځای كول دذمي دی له ذمه سره په مطالبه كې او صحيح دی كفالت دنفس كه څه هم متعدد وي (او كفالت منعقد كيږی) په دي ويلو سره چې زه دده دذات كفيل شوم يا يوه داسي عضو دبدن ذكر كړي چې په هغې سره دټول بدن تعبير كيږی يا جزء شائع ذكر كړي او په دي ويلو سره هم چې ووايي :زه دده ضامن شوی يم يادی زما پر ذمه دی يا زما پرغاړه دی يا زه دده ذمه وار يم يا زه دده كفيل يم نه په دي ويلو سره چې زه دده دپيژندلو ضامن يم.

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله دكفاله شرعي تعريف داسي كړی دی چې په حق دمطالبه كې يوه ذمه له بلی سره يوځای كولو ته كفالت وايي مثلاً پرزيد باندي دڅلوېښت روپۍ قرض وي بكر قرض غوښتونكي ته وويل چې دا لس روپۍ زه دركوم نو بكر دزيد له ذمي سره خپله ذمه يوځای كړه چې پخوا به قرض غوښتونكي يواځي له زيد څخه مطالبه كولای شوای او س له بكر څخه هم مطالبه كولای شي.

كفاله (ضمانت )پردوه قسمه دی :۱- نمبر:كفاله بالنفس (دذات ضامن كيدل) ۲- نمبر كفاله بالمال (دمال ضامن كيدل) دا دواړه قسمه جائزه ده لاطلاق قوله عليه السلام: الزعيم غارم (يعني كفيل ضامن دی) او له مطلق ارشاد څخه دا ثابتيږی چې كفاله په خپلو دوو قسمونو سره جائزه ده.

(۲) كفاله بالنفس جائزه ده كه څه هم ديوه سري ډير ضامنان وي دا مطلب په هغه صورت كې دی چې دتعددت ضمير كفاله ته راجع وي او دا هم جائزدی چې ضمير دنفس طرفته راجع شي او مطلب يې داوي چې كفاله جائزده كه څه هم يو سړی دڅو كسانو كفيل وي.

**فائده** :دامام شافعي رحمه الله يو قول دادی چې كفاله بالنفس صحيح نه ده ولی په كفاله بالنفس كې كفيل ديو داسي شي التزام كوي چې دهغه پر سپارلو دی قادر نه دی ولی كفيل خو پرنفس مكفول به باندي ولايت او قدرت حاصل نه دی .احناف جواب وركوي چې دنبی كريم ﷺ حديث مبارک : الزعيم غارم (يعني كفيل ضامن دی) مطلق دی چې ور څخه ثابته شي چې كفاله په خپلو دواړو قسمونو سره مشروع ده .همدارنګه

دمکفول به دسپارلو کفیل ته دا ډول قدرت حاصل دی چې دقاضي دپولیسوپه مرسته مکفول خپله دقاضي په مجلس کې حاضرولای شي .

(۳)قوله بکفلت بنفسه ای تصح الکفالة بقول الکفیل کفلت بنفسه ،یعنې کفاله بالنفس په کومو الفاظو سره منعقده کیږی؟ نوپه دې باره کې ضابطه داده چې په کومو الفاظو سره دانسان دټول بدن تعبیر کیږی که حقیقة وي لکه لفظ دنفس،جسد ،روح یاعرفًا وي لکه لفظ درقبه،وجه،رأس وغیره(مثلا چاوویل چې زه دفلاني دځان کفیل یم،یادهغه دغاړې ،یاروح،یاجسم یاسریادهغه دبدن کفیل یم)نوپه دغو الفاظوسره کفاله منعقده کیږی همدارنګه که کفاله دجزء شائع (یعنې دجزء غیرمعین)طرفته منسوبه کړي مثلا ووایي :زه دفلاني دنصف یاثلث کفیل یم نوهم کفاله منعقده کیږی ولی یونفس دکفاله په حق کې متجزي کیدای نه شي نودجزء شائع ذکرکول داسی دی لکه دټول بدن ذکرکول .

(۴)قوله وبضمنته ای وتصح بقوله ضمنته ،یعنې که کفیل وویل چې ضمنته (زه دهغه ضامن شوی یم)نوهم کفاله منعقده کیږی ولی دکفاله دموجب صراحت وشویعنې په کفاله سره ضمانت واجبیږی اوقاعده ده چې عقدموجب په تصریح سره منعقدکیږی همدارنګه که یې وویل :هو علیّ یاالیّ نوهم کفاله منعقده کیږی ولی لفظ دعلیّ دالتزام صیغه ده اوپه کفاله کې هم دمطالبی التزام وی ځکه نوپه لفظ دعلیّ سره منعقده کیږی اولفظ دالیّ په دغه موقع کې دعلیّ په معنی ده نودالی په لفظ سره هم منعقده کیږی همدارنګه که یې وویل :اَنَابِهٖ زَعِیم .زه دهغه ذمه واریم یااَنَاقَبِیلٌ بِهٖ زه دهغه کفیل یم نوکفاله منعقده کیږی ولی زعیم اوقبیل هم دکفیل په معنی دي .

(۵)قوله لابانا ضامن الخ ای لاتصح الکفالة بالنفس بقوله اناضامن لمعرفة فلان ،یعنې که چاوویل :اناضامن لمعرفة فلان،زه دفلاني دپیژندلو ضامن یم نوپه دغو الفاظوسره کفاله بالنفس نه منعقده کیږی ولی هغه په خپله دي خبره سره دمعرفت التزام کړی دی نه دمطالبی یعنې هغه داالتزام نه دی کړی چې مکفول له ماڅخه دمکفول به دحاضرولو مطالبه کولای شي نوځکه په دغه قول سره کفاله نه منعقده کیږی .

(٦)فان شرط تسلیمه فی وقت بعینه احضره ان طلبه فان احضره والاحبسه الحاکم(٧)فان غاب امهله مدة ذهابه وایابه فان مضت ولم یحضره حبسه(٨)وان غاب ولم یعلم مکانه لایطالب به(٩)فان سلمه بحیث یقدر المکفول له ان یخاصمه کمصر برئ(١٠)ولو شرط تسلیمه فی مجلس القاضی یسلمه ثمه.

**ترجمه** :که یې شرط کړ دمکفول عنه دتسلیمولو معین وخت نوحاضر دي کړي په هغه وخت کې که مکفول له دهغه مطالبه وکړه بیاکه یې هغه حاضرکړ خو فبها که نه قید دي کړي حاکم ضامن لره اوکه هغه غائب شونوضامن ته دي مهلت دتګ راتګ تروخته ورکړل شي بیاکه هغه موده تیره شوه اوضامن هغه حاضرنه کړنوضامن دي قید کړي اوکه هغه غائب شواودهغه ځای معلوم نه وونوبیادهغه مطالبه له ضامن څخه نه کیږی اوکه ضامن هغه حاضرکړ په داسي ځای کې چې هلته دمکفول له قدرت ووچې له هغه سره خصومت وکړي لکه په ښار کې نوضامن بري کیږي اوکه یې شرط کړ دهغه تسلیمول په مجلس کې دقاضي نوهلته دي ورتسلیم کړي .

١١

**تشریح** :(۶)که په کفاله بالنفس کې مکفول له په یوه معلوم وخت کې دمکفول عنه دسپارلو شرط ولګاوه نو بیا کفیل باندې په هغه معلوم وخت کې دمکفول عنه سپارل لازمیږي چې کله مکفول له له کفیل څخه دهغه مطالبه په هغه وخت کې وکړي ولې دعقدکفاله په وخت کې کفیل په معلوم وخت کې دمکفول عنه داحاضریدو شرط قبول کړی وو نو اوس دهغه شرط پوره کیدل پرده لازمیږي بیاکه کفیل په معلوم وخت کې مکفول عنه مکفول له ته وروسپاره خو ډیره ښه،اوکفیل بري کیږي ځکه هغه خپله ذمه واري پوره کړه اوکه کفیل مکفول عنه نه شو حاضرولای نو حاکم دې کفیل قید کړي ولې هغه دداسي حق له اداکولو څخه پاتې راغلی چې پرده باندې واجب دی یعني دمکفول عنه په معلوم وخت کې سپارل، اوشرعًا حبس اوقید داسې خلکوله دی چې دواجب حق له اداکولو څخه پاتې راشي ولې داسې خلک په شریعت کې ظالم شمارل کیږي.

(۷)اوکه مکفول عنه چیرته غائب شو نو حاکم دې مکفول عنه ته ترور تللو او راتللو مهلت ورکړي ولې مذکور کفیل دمقروض مفلس په شان عاجز دی نو لکه څرنګه چې مفلس مقروض ته مهلت ورکول کیږي همدارنګه به ده ته هم مهلت ورکول کیږي بیاچې ترڅو مره پوري حاکم هغه ته مهلت ورکړی دی که چیرته په دغه موده کې ضامن ونه شو کولای چې مکفول عنه حاضر کړي نو بیادې حاکم ضامن قید کړي ولې اوس هغه دیو داسې حق اداکولو نه پاتې راغلی دی چې دهغه پر ذمه واجب دی.

(۸)اوکه مکفول عنه داسې غائب شوی ووچې دهغه ځای اودرک معلوم نه وو که مکفول له خپله ددې خبرې تصدیق وکړي چې واقعاهم دمکفول عنه ځای نه دی معلوم یاضامن په ګواهانو سره داثابته کړي نو په دغه صورت کې له ضامن څخه بالاجماع فی الحال هیڅ مطالبه نه کوله کیږي ترڅوچې دمکفول عنه ځای نه وي معلوم شوی ولې په دغه صورت کې کفیل اومکفول له دواړه فی الحال دمکفول عنه له سپارلو څخه پرعاجز کیدو باندې متفق دي.

(۹)که کفیل مکفول عنه را ووست په داسې ځای کې یې مکفول له ته حواله کړ چیرته چې مکفول له له هغه سره پر مخاصمه او محاکمه باندې قادر وو مثلا دښار په منځ کې ورته حواله کړ نو کفیل له کفالت څخه بري کیږي که مکفول له دا قبلوي اوکه یې نه قبلوي ولې کفیل یو ځل حاضرول پر خپل ځان لازم کړي وو ،هغه دغه ذمه واري پوره کړه بیاکه کفیل دمکفول له له مطالبي وروسته مکفول عنه هغه ته حواله کړ نو بیاکفیل بري کیږي که څه هم هغه داونه وایې چې زه په حکم دکفاله مکفول عنه تاته حواله کوم اوکه کفیل دمکفول له له مطالبي بغیر مکفول عنه هغه ته وسپاره نو بیانه بري کیږي ترڅوچې هغه داونه وایې چې زه په حکم دکفاله مکفول عنه تاته درسپارم.

(۱۰)اوکه یې داشرط کړ چې کفیل به دقاضي په محکمه کې مکفول عنه ومکفول له ته سپاري نو دشرط مطابق یې په هغه محکمه کې سپارل لازم دی ولې خپله کفیل ددې التزام کړی دی چې دقاضی په محکمه کې به مکفول عنه ومکفول له ته ورسپاري نو اوس دهغه شرط پوره کول ضروري دي.

**فائده** :که کفیل مکفول عنه په بازار کې ومکفول له ته حواله کړ نو کفیل بري کیږي ولې په بازار کې خلک دمکفول له سره مرسته کوي چې مکفول عنه دقاضي مجلس ته حاضر کړي نو ځکه کفیل بري کیږي،مګر دامام

زفر رحمه الله په نزدنه بري کيږي ولی نن سباخلک دمکفول له پرځای دمکفول عنه معاونت کوي اودهغه دخلاصولوکوشش کوي ځکه نوترڅوچې مکفول عنه دقاضي مجلس ته حاضراوونه سپاري کفيل نه بري کيږي لمافي الدر المختار (ولو شرط تسليمه في مجلس القاضي سلمه فيه ولم يجز) تسليمه (في غيره) به يفتى في زماننا لتهاون الناس في اعانة الحق. قال ابن عابدين رحمه الله (قوله به يفتى) وهو قول زفر رحمه الله وهذا احدى المسائل التي يفتى فيها بقول زفر (الدر المختار مع الشامية: ۴/۲۹۶)

**فائده**: که کفيل مکفول عنه په يوه ځنګل يايوه کلي کې حواله کړنوکفيل نه بري کيږي ولی مکفول له په ځنګل اوکلي کې پرمخاصمت باندي قادرنه دی ځکه په ځنګل اوکلي کې هيڅ يوحاکم ياقاضي نه وي نومقصود دنه حاصليدوپه وجه کفيل نه بري کيږي لمافي الدر المختار: (و) يبرأ (بدفعه الى من كفل له حيث) اى في موضع (يمكن مخاصمة) قال ابن عابدين رحمه الله: واحترز به عما لو سلمه في برية او سواد (الدر المختار مع الشامية: ۴/۲۸۶)

(۱۱) وَتَبْطُلُ بِمَوتِ المَطْلُوبِ (۱۲) وَالكَفِيلِ لا الطَّالِبِ (۱۳) وَبَرِئَ بِدَفْعِهِ إِلَيهِ وَإِن لَم يَقُل إِذا دَفَعتُهُ إِلَيكَ فَأَنَا بَرِئٌ (۱۴) وَبِتَسلِيمِ المَطْلُوبِ نَفسَهُ مِن كَفالَتِهِ (۱۵) وَبِتَسلِيمِ وَكِيلِ الكَفِيلِ وَرَسُولِهِ.

**ترجمه**: او کفالت باطليږي دمطلوب اوکفيل په مرينه سره نه دطالب په مرګ سره اوبري کيږي دهغه په حواله کولوسره ومکفول له ته که څه هم دانه ورته ووايي چې کله زه مکفول عنه تاته حواله کړم نوزه بري کيږم، او خپله دمکفول عنه دحاضريدلو دهغه له کفالت څخه اودکفيل دوکيل اودهغه دقاصد په تسليمولو سره.

**تشريح**: (۱۱) که چيرته مکفول عنهٗ مړشونوکفالت باطليږی ولی په دي وخت کې کفيل دهغه له حاضرولو څخه عاجزشواودکفيل دعجزپه صورت کې کفاله ساقطيږي، همدارنګه دمکفول عنه دمرګ په صورت کې خپل دمکفول عنه حاضريدل ساقطيږی نودکفيل څخه په طريقه اولی سره حاضرول دهغه ساقطيږی.

(۱۲) قوله والكفيل اى وتبطل الكفالة بموت الكفيل ايضا، يعني که کفيل مړشونوکفالت باطليږی ولی خپله کفيل دهغه دحاضريدوڅخه عاجزشواوورثه دهغه قائم مقام نه شی کيدای اودکفيل مال هم داکارنه شي کولای ولی مال دهغه واجب (يعني دمکفول عنه حاضريدل) داداکولونه اصالةً صلاحيت لري اونه نيابةً، اصالةً خويې ځکه نه لري چې کفيل دمال التزام نه دی کړی بلکې دمکفول عنه دحاضرولو التزام يې کړی وو، اونيابةً ځکه چې مال دنفس قائم مقام نه وي، اوکه طالب يعني مکفول له مړشونوکفاله نه باطليږی ولی دمطالبه په حق کې دهغه وصي دهغه قائم مقام دی که وصي نه وونودهغه ورثه دهغه قائم مقام کيږي.

(۱۳) اوکه کفيل مکفول عنه ومکفول له ته وروسپاره نوکفيل له کفالت څخه بري کيږي که څه هم هغه دضامن کيدوپه وخت کې دانه يې ورته ويلي چې کله زه تاته مکفول عنه درتسليم کړم نوزه به بري کيږم، ولی په کفاله بالنفس کې دتسليمولواوسپارلوموجب همدادی چې کله کفيل مکفول عنه وسپاري نودی له کفاله څخه بري کيږي که څه هم دی په موجب تصريح ونکړي اودلته څرنګه چې کفيل مکفول عنه سپارلی دی نوځکه دکفيل بري کيدل هم ثابتيږي.

(۱۴) قوله وبتسليم المطلوب نفسه من كفالته اى وبرئ الكفيل من الكفالة بتسليم المطلوب نفسه من كفالته. يعني كه چيرته مكفول عنه خپله حاضرشي بيا هم كفيل له ضمانت څخه بري كيږي ولى له مكفول به سره خپله دخصومت مطالبه ده نو دهغه دخصومت ددفع كولو ولايت هم حاصل دى بيا چې كله هغه خپل ځان وسپاره نو دكفيل دطرف څخه خصومت ليري شوا وسپارنه صحيح شوه، مگر شرط دادى چې مكفول عنه ددي خبري تصريح وكړي چې زه خپل ځان دكفيل لهٔ طرفه سپارم ولى پرمكفول عنه باندي ځان سپارل په دوه جهته واجب دى له خپله طرفه او دكفيل له طرفه نو ترڅو چې هغه ددي تصريح ونه كړي چې زه خپل ځان دكفيل له طرفه سپارم ترهغه پوري داسپارل دكفيل له طرفه نه شمارل كيږي او كفيل نه بري كيږي.

(۱۵) قوله وبتسليم وكيل الكفيل ورسوله اى وبرئ الكفيل من الكفالة بتسليم وكيل الكفيل المكفول عنه الى المكفول له. يعني كه دكفيل وكيل يا دهغه قاصد دهغه له طرفه مكفول عنه حاضركړنو بيا هم كفيل بري كيږي ولى دكفيل وكيل او قاصد دهغه قائم مقام دى نو ځكه دهغوئ سپارل دكفيل سپارل شمارل كيږي.

(۱۶) فَإِن قَالَ إِن لَم يُوَافِ بِهِ غَدًا فَهُوَ ضَامِنٌ بِمَا عَلَيهِ فَلَم يُوَافِ بِهِ أَو مَاتَ المَطلُوبُ ضَمِنَ المَالَ (۱۷) وَمَن ادَّعَى عَلَى آخَرَ مِائَةَ دِينَارٍ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ إِن لَم يُوَافِ بِهِ غَدًا فَعَلَيهِ المِائَةُ فَلَم يُوَافِ بِهِ غَدًا فَعَلَيهِ المِائَةُ (۱۸) وَلَا يُجبَرُ عَلَى الكَفَالَةِ بِالنَّفسِ فِي حَدٍّ وَقَوَدٍ (۱۹) وَلَا يُحبَسُ فِيهِمَا حَتَّى يَشهَدَ شَاهِدَانِ أَو عَدلٌ.

**ترجمه**: كه كفيل وويل چې كه ما سبا ته هغه حاضرنه كړاى شو نو زه دهغه څه ضامن يم چې دده پرذمه دي بيا يې هغه حاضرنه كړاو يا مطلوب (مكفول عنه) مړشو نو دمال ضامن گرزي او كه چا دعوه وكړه پر بل باندي دسلو دينارو نو بل سړي هغه ته وويل چې كه چيرته ما دى سبا حاضرنه كړاى شو نو دغه سل روپۍ پرمادي، بيا يې هغه حاضرنه كړ سبا ورځ نو دغه سل روپۍ پرده كيږي او نه مجبوركيږي پركفالت بالنفس په حداو قصاص كې او نه قيد كيږي په دغو دوو كې ترهغه چې دوه گواهان گواهي وركړي يا يو عادل سړى گواهي وركړي.

**تشريح**: (۱۶) كه يو څوك دبل چا دنفس وكيل شو بيا يې ويل كه چيرته سبا ما مكفول به حاضرنه كړاى شو نو پر مكفول به چې څه واجب دي (يعني زرروپۍ) نو زه دهغه ضامن يم، اتفاقا داسي وشول چې كفيل سبا ورځ مكفول به حاضر نه كړاى شو يا مكفول عنه مړشو نو كفيل ومكفول له ته ديو زرروپۍ ضامن گرځي ولى دمال دضامن كيدو شرط دمكفول به نه حاضرول دى څرنگه چې دا شرط پر ځاى شوى دى ځكه نو پر كفيل باندي مال واجبيږي.

**فائده**: مگر بيا هم له كفاله بالنفس څخه نه بري كيږي ولى هغه له كفاله بالنفس سره كفاله بالمال هم ضم كړي ده او ددي دواړو ترمنځ هيڅ منافات نشته ځكه له دواړو څخه مقصد دمكفول له اعتماد وي نو كه كفيل يو كار پوره كړ هغه بل خو دده پرذمه پاتي دى، دامام شافعي رحمه الله په نزد په مذكورصورت كې نه كفاله بالنفس صحيح ده او نه كفاله بالمال، دكفاله بالنفس په باره كې خو دهغه مسلك مخكي بيان شوى دى چې دهغه په نزد دكفاله بالنفس جائزنه ده پاتي شوه كفاله بالمال په مذكورصورت كې دهغه په نزد ځكه صحيح نه ده چې په دي كې دمال دوجوب سبب ترامرمتردد (چې كه يې مكفول عنه حاضركړنو كفيل بري دى ورنه دزرروپو ضامن گرځي) پوري معلق شوى دى او كفاله بالمال دبيع سره دمشابهت په وجه ترامرمتردد پوري

معلق كول صحيح نه دى ،احناف جواب وركوي چې كفاله بالمال ديبع په شان له نذر سره هم مشابه ده له بيع سره مشابهت كه څه هم داتقاضالري چې په هيڅ يوه شرط پوري يې تعليق صحيح نه وي مګردنذرمشابهت يې دصحت مقتضي دى.نوپه دواړوشبهوسره دعمل كولوپه خاطرموږوايوچې په شرط متعارف پوري معلق كول يې صحيح دى اوپه غيرمتعارف شرط پوري معلق كول يې صحيح نه دى اومذكورشرط متعارف دى غيرمتعارف نه دى.

(۱۷)كه چاپه بل سړي باندي دسلودينارونودعوه وكړه اومدعي ته كوم بل چاوويل چې ته اوس مدعى عليه پرېږده سبابه زه هغه راحاضركړم كه ماسباته هغه حاضرنه كړاى شونوهغه ستاسل ديناره زماپرذمه دي،چې په دي كې مدعى عليه مدعي پرېښود بيا اتفاقاضامن سباورځ مدعى عليه حاضرنه كړنودشيخينورحمهماالله په نزددشرط مطابق سل ديناره دضامن پرذمه لازمېږي په داسى حال كې چې دامام محمد رحمه الله په نزدداكفاله صحيح نه ده ولى كفيل سل ديناره مطلق ذكركړي دي نوپه دي كې دااحتمال شته چې كفيل ابتداءً درشوت په ډول پرخپل ځان باندي دسل ديناره التزام په دي خاطركړى وي چې مكفول له مكفول به ته ترڅه وخته پوري مهلت وركړي اودرشوت په ډول پرخپل ځان دمال لازمول صحيح نه دى ځكه نوپركفيل باندي دامال لازمول صحيح نه دى چې كله پركفيل باندي دامال لازمول نه صحيح كيږي نوداكفاله بالمال هم نه صحيح كيږي ،دشيخينو رحمهماالله دليل دادى چې دكفيل په قول كې لفظ د(المائة) معروف باللام دى اوالف الام هم عهدخارجى دى چې دهغه مدخول معين وي نوله دغه (المائة) څخه مرادهغه سل ديناره دي چې پرمكفول به يعني مقروض باندي واجب دي اوداچې له المائة څخه مرادهغه سل ديناره دي چې پرمكفول به باندي واجب دي نوداسل ديناره له رشوت كيدوڅخه ووتل نوچې درشوت احتمال پاتى نه شونودغه سل ديناره دكفاله په وجه پركفيل باندي لازميږى نوكفاله ځكه صحيح كيږي . والصحيح انماهوقولهماكذاصرح به فى الدر المنتقى فى شرح الملتقى:۳/ ۱۷۹)

(۱۸)كه پريوچاباندي دحدياقصاص دعوه شوې وه نوكه له ده څخه مدعي دكفيل بالنفس مطالبه وكړه مګرهغه له كفيل وركولو څخه انكاروكړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددي هغه پركفيل وركولومجبوركړاى شي ، دصاحبينورحمهماالله په نزدپه حدقذف اوقصاص كې ځرنګه چې داحق دبنده دى ځكه نوپه دي كې داستيثاق لپاره مدعي عليه پركفيل وركولوباندي مجبوركړاى كيږي چې مدعى عليه چيرته غائب نه شي،باقي ددي علاوه په نوروحدودوكې مثلاًپه حدشراب ،حدسرقه اونوروكې ځرنګه چې دحق دبنده نه دي خالص دالله تعالى حق دى نوځكه په دغوحدودوكې مدعي عليه پركفيل وركولونه مجبور كيږي .دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل پيغمبر ﷺ ارشاددى چې :لاكفالة فى حد(يعني په حدكې كفاله نشته) دپيغمبر ﷺ ارشادځرنګه چې مطلق دى چې پكې دحدودوترمنځ هيڅ فرق نه دى شوى نودټولوحدودوحكم بايديوډول وي خواه كه دبنده حق وي اوكه يواځې دالله تعالى حق وي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافى القول الرّاجح :القول الراجح هوقول ابى حنيفة رحمه الله الأمن عادة صاحب الهداية ان يؤخرالقوى عندذكرالادلة على الاقوال المختلفة ليقع المؤخربمنزلة الجواب عن المقدم وعادة صاحب الملتقى ان يقدم القوى كماذكرفى هذه المسئلةقول الامام قبل قول الصاحبين رحمهماالله. (القول الراجح:۳/ ۹۲)

(۱۹)اوپه دغودوومقدمو(يعني حداوقصاص )کې مدعی عليه نه قيدکړل کيږي ترڅوچې دوه گواهان مستورالحال يايوعادل گواه دهغه پرجرم باندي گواهي ورنکړي ولی په حدودوکې قيدکول يوائي دتهمت په وجه سره کيږي چې بنايي داشخص مفسددی دحدسبب ثابتولولپاره نه وي ولی دحدسبب ثابتول دحجت کامله محتاج دی ،اويوائي تهمت دشهادت له دووجزئينو(په شهادت کامله کې دوه جزئين وي يوعدديعني دوه گواهان موجوديدل اودوهم صفت دعدل يعني دگواه عادل کيدل) څخه په يوه سره ثابتيږی که دوه گواهان وي يايوعادل گواه وي .

**فائده** :داموالوپه مقدمه کې يوڅوک ددوومستورالحال گواهانوپه گواهي سره يادیوه عادل په گواهي سره نه قيدکړای کيږي ولی داموالوپه مقدمه کې حجت کامله پکاردی ،ددواړوقسمونوپه مقدماتوکې فرق دادی چې داموالوپه مقدمه کې انتهائي سزاقيد دی اوپه حدودواوقصاص کې انتهائي سزاوژل ،دزي يالاس غوڅول دی ،په حدودواونوروکې قيدانتهائي سزانه ده نوځکه دحجت کامله ضرورت نشته ،پاتی شوه داچې داموالوپه مقدمه قيدانتهائي سزاده نوځکه دهغه لپاره دحجت کامله موجوديدل ضروري دی په همدي وجه دمالونومقدمه ددوومستوزالحال گواهانوپه گواهي سره يادیوه عادل په گواهي سره نه ثابتيږي .(مجمع الانهر:۳/ ۱۸۰)

(۲۰)وَبِالمَالِ وَلَو مَجهُولًا إن كَانَ دَيْنًا صَحِيحًا بِكَفَلْتُ عَنهُ بِأَلفٍ وَبِمَا لَكَ عَلَيهِ وَبِمَا يُدرِكُكَ فِي هٰذَا البَيعِ وَمَا بَايَعتَ فُلَانًا فَعَلَيَّ وَمَا ذَابَ لَكَ عَلَيهِ فَعَلَيَّ وَمَا غَصَبَكَ فُلَانٌ فَعَلَيَّ (۲۱)فَطَالَبَ الكَفِيلَ أوِ المَديُونَ إلَّا إذَا شَرَطَ البَرَاءَةَ فَحِينَئِذٍ تَكُونُ حَوَالَةً كَمَا أنَّ الحَوَالَةَ بِشَرطِ أن لَا يَبرَءَ بِهَا المُحِيلُ كَفَالَةٌ (۲۲)وَلَو طَالَبَ أحَدَهُمَا لَهُ أن يُطَالِبَ الآخَرَ .

**ترجمه** :اوصحيح دی دمال کفالت که څه هم مجهول وي په دي شرط چې دين صحيح وي (په دي ويناسره)چې زه دهغه له طرفه کفيل يم دزرروپويادهغه چې ستاپرده لازم دي يادهغوچې تالره لاحق دي په دغه بيع کې يادهغوچې تاله فلان سره بيع کړي ده هغه پرمادي ياهغه چې ثابت شوتالره دده پرذمه هغه پرمادي ياهغه چې فلان په زوراخيستي له تانه هغه پرمادي ،نويادي له کفيل څخه طلب وکړي ياله مقروض څخه مگرکه يې براءت شرط کړيه دي وخت کې داکفاله په حواله بدليږي لکه چې حواله په دي شرط سره چې په دي سره به محيل نه بري کيږي کفاله گرځي اوکه يې له يوه څخه مطالبه وکړه نوده لره له بل څخه هم مطالبه جائزه ده .

**تشريح** :(۲۰)داعبارت معطوف دی دکتاب په شروع کې پربالنفس باندي ای وتصح الكفالة بالمال ، مصنف رحمه الله چې کله له کفاله بالنفس څخه فارغ شونواوس دکفاله دوهم قسم يعني کفاله بالمال ذکرکول غواړي چې ويې فرمايل کفاله بالمال جائزده مکفول به مال که معلوم وي که مجهول ولی دکفاله بنيادپرتوسع دی چې پکي معمولی جهالت پروانه لري نوځکه دمعلوم اومجهول دواړوکفالت کولای شي په دي شرط چې جهالت متعارفه وي غيرمتعارف جهالت نه وي،مگرشرط دادی چې دين صحيح وي (له دين صحيح څخه

مراد دادی چې مدیون به هغه نه شی ساقطولای مگر دا چې ادایې کړي او یا قرض غوښتونکی هغه لره معاف کړي)

ددین دصحیح والي په قیدسره احترازراغی له مال کتابت ځخه ولی مکاتب له مذکورودوو صورتونو ځخه علاوه هم مال کتابت ساقطولای شي مثلاځان به دبدل کتابت له اداکولو ځخه عاجزښکاره کړي بیرته به غلام وګرځي.

دمکفول به معلوم مثال دادی چې کفیل ووایې :تَکَفلتُ عنهُ بالف (مادمقروض له طرفه دزرو روپو ضمانت وکړ) دمجهول مکفول به مثالونه ډیردي مثلاکفیل ووایې : تَکَفلتُ عَنهُ بِمَالک عَلیه(یعنې څه حق چې ستادهغه پرذمه دی زه دهغه ضامن یم ) یاووایې :بِمَایُدرِکُکَ فی هَذَا البَیع (یعنې کفیل ومکفول عنه ته ووایې چې ته فلان شی واخله کوم څه چې ددې بیع په وجه ستاپرذمه راځي زه دهغه ضامن یم ) یاووایې :ماذَابَ (ثبت ) لک علیه فعلیّ (یعنې هغه څه چې ستاپرده ثابت شي زه دهغه ضامن یم ) یاماغصبک فلان فعلیّ (یعنې فلان چې څه له تا ځخه غصب کړي دي زه دهغه ضامن یم ) په دغوټولو صورتونو کې مال مجهول دی بیاهم کفاله صحیح ده لماقال.

(۲۱)قوله فطالب الکفیل او المدیون ای اذاصحت الکفالة فللمکفول له الخیاربین ان یطالب الکفیل او المدیون .یعنې مکفول لەلره اختیاردی که غواړي له هغه چادي مطالبه وکړي پرچاچې اصل قرض دی اوکه غواړي له کفیل ځخه دي مطالبه وکړي ولی کفاله یوه ذمه له بلې ذمې سره دیوځای کولو نوم دی یعنې لکه ځرنګه چې له اصل مقروض ځخه دقرض مطالبه کوله کیږي همدارنګه له کفاله وروسته له کفیل ځخه هم مطالبه کوله کیږي،البته که دضمانت په وخت کې داشرط کښیږدي چې مکفول عنه بري دی نورله هغه ځخه مطالبه نه کوله کیږي نوداصحیح دی اوپه هغه صورت کې داضمانت حواله ګرځي لکه چې په حواله کې داشرط کړي چې له هغی ځخه به محیل نه بري کیږي نوداحواله کفاله ګرځي اعتبارااللمعانی یعنې چې کله داصیل بري کیدل شرط کړای شونو دادکفالت نوم دی اوپه اصل کې داحواله ده ولی په عقودوکې معاني وولره اعتباردی.

(۲۲)اوکه مکفول له په ضامن اوقرضدارکې له کوم یوه نه مطالبه وکړه نوبیاله هغه بل ځخه هم مطالبه کول جائزه ده ولی کفاله یوه ذمه له بلې سره دیوځای کولو نوم دی اوداهله کیدای شي چې له هریوه ځخه دمطالبی اختیاروي ،همدارنګه دضم ذمة الی ذمة هم همداتقاضاده چې دین داصیل پرذمه پاتی وي نوځکه له کفیل ځخه دکفاله په وجه مطالبه کول صحیح دی اوله اصیل ځخه په دي چې قرض دهغه پرذمه تراوسه پاتی دی نومکفول ا ،چې له هریوځخه وغواړي مطالبه کولای شي.

(۲۳)وَیَصِحُّ تَعلِیقُ الکَفَالةِ بِشَرطٍ مُلاَئِمٍ کَشَرطِ وُجُوبِ الحَقِّ کَانِ استُحِقَّ المَبِیعُ اَولاِمکَانِ الاِستِیفَاءِ کَانِ قَدِمَ زَیدٌ وَهُوَ مَکفُولٌ عَنهُ اَولِتَعَذُّرِهِ کَانِ غَابَ عَنِ المِصرِ (۲۴)وَلاَیَصِحُّ بِنَحوِ اِن هَبَّتِ الرِّیحُ (۲۵)فَاِن جُعِلَ اَجَلاً تَصِحُّ الکَفَالَةُ وَیَجِبُ المَالُ حَالاً.

**ترجمه** :اوصحیح دی معلق کول دکفاله په مناسب شرط سره مثلاد وجوب حق شرط لکه که مبیعه دبل چامستحقه وګرځي یادامکان استیفاء شرط لکه که زیدراغی اوهغه مکفول عنه وویادحق دتعذرشرط لکه

که چیرته هغه غائب شي له ښار څخه او کفاله صحیح نه ده په دي خبره سره چې که چیرته هوا وچلیده (نوزه ضامن یم) او که یې داسي نامناسب میعاد شرط کړنو ضمانت صحیح دی او مال فی الحال واجبیږي.

**تشریح**: (۲۳) یعني کفالت بالمال له کفالت سره په مناسب شرط پوري معلق کول جائزدی او مناسب شرطونه دري قسمه دي: یو داچې دمکفول له پرمکفول عنه باندي دحق واجبولو لپاره شرط وي مثلاً دبیع په صورت کې کفیل مشتري ته ووایې چې که چیرته ددغې مبیعی کوم بل مستحق پیداشونوزه دهغه ضامن یم ،نوداد کفاله مناسب شرط دی په دي شرط سره کفاله صحیح ده، دوهم دادی چې داسي شرط وي چې له مکفول عنه څخه دحق دوصول کولو ذریعه وي مثلاً داسي ووایې چې زید چې مکفول عنه دی له سفرڅخه راشي نوزه دهغه ضامن یم ،نوظاهره ده چې دزید راتلل دمکفول له دقرض اداکولو ذریعه ده نوداهم مناسب شرط دی په دي سره کفاله صحیح ده دریم داچې هغه داسي شرط وي چې له مکفول عنه څخه دحق وصولول ممکن وګرځوي مثلاً کفیل ومکفول له ته ووایې چې اوس ته له مکفول عنه څخه دخپل دین مطالبه وکړه بیا که چیرته مکفول عنه له ښار څخه غائب شونوزه ستادمال کفیل یم، ظاهره ده چې دمکفول عنه دغائب کیدو په صورت کې دمکفول له دخپل حق وصول ناممکن کیږي ،دادري واړه شرطونه ځرنګه چې دکفالت مناسب دي نوځکه په کفاله کې داډول شرطونه ایښودل صحیح دي.

(۲۴) او که چیرته کفاله په داسي شرط پوري معلق کړای شي چې هغه شرط له کفاله سره مناسب نه وي بلکې محض یوشرط وي نوداتعلیق جائزنه دی مثلاً کفیل ووایې که چیرته هوا وچلیده نوزه ستادهغه مال ضامن یم چې ستافلاني پرذمه دی نوداصحیح نه دی ولې دهغه وجودپه یقیني ډول معلوم نه دی نوداشرط باطل دی اوپرضامن باندی مال لازم نه دی.

(۲۵) او که ضامن دغیرمناسب شرط دضمانت لپاره موده مقرره کړي مثلاً کفیل مکفول له ته داسي ووایې چې دمکفول عنه پرذمه چې ستاڅومره حق دی نوزه دهوا ترچلیدوپوري دهغه ضامن یم نوپه دغه صورت کې ضمانت صحیح دی موده باطله ده او مال فی الحال لازم دی ځکه چې کله کفاله په شرط پوري معلق کول صحیح دی نودطلاق اوعتاق په شان په فاسدوشرطونو سره نه فاسدیږي.

(۲۶) فَاِنْ كَفَلَ بِمَالِهِ عَلَيْهِ فَبَرْهَنَ عَلَى اَلْفٍ لَزِمَهُ وَاِلَّاصُدِّقَ الْكَفِيْلُ فِيْمَا اَقَرَّ بِحَلْفِهِ (۲۷) وَلَايَنْفُذُ قَوْلُ الْمَطْلُوْبِ عَلَى الْكَفِيْلِ (۲۸) وَتَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِاَمْرِ الْمَكْفُوْلِ عَنْهُ وَبِغَيْرِ اَمْرِهِ (۲۹) فَاِنْ كَفَلَ بِاَمْرِهِ رَجَعَ بِمَا اَدّٰى عَلَيْهِ وَاِنْ كَفَلَ بِغَيْرِ اَمْرِهِ لَمْ يَرْجِعْ (۳۰) وَلَايُطَالِبُ الْاَصِيْلَ بِالْمَالِ قَبْلَ اَنْ يُؤَدِّيَ عَنْهُ.

**توجمه**: اوکه کفیل جوړشودهغه چې دده پرمدعی علیه باندي دي بیامدعی ګواهان پیش کړل پرزروپونوپرده باندي زرلازمیږي که نه دکفیل تصدیق کیږي په هغوکې چې ده اقرارکړی دی دهغه دقسم سره،اونه نافذکیږي قول دمطلوب پرکفیل باندي اوصحیح دی کفالت دمکفول عنه په حکم سره اودهغه دحکم بغیربیاکه دهغه په حکم سره کفیل شونورجوع دي وکړي دهغه په باره کې کوم چې هغه اداکړي دي اوکه کفیل جوړشو دهغه دحکم بغیرنورجوع دي نه کوي اومطالبه دي نه کوي له اصیل څخه مخکې تردي چې دهغه له طرفه یې اداکړي.

**تشريح** :(۲۶)كه چامكفول له ته وويل چې كوم مال چې ستادده پرذمه دى دهغه زه ضامن يم حال دا چې مكفول به مجهول دى بيا په گواهانو سره داثابته شوه چې پرمكفول عنه باندي دمكفول له زردرهمونه دي نو كفيل دزرو درهمونو ضامن گرځي ولى كه كفيل هغه څه ليدلي واى چې دمكفول عنه پرذمه لازم دي بيا هغه كفيل شوى واى نو كوم څه چې دمكفول عنه پرذمه لازم دي پر كفيل باندي هغه لازميدل نو په گواهانو سره چې څه ثابت شوي دي هغه هم داسى دي لكه يوشي چې په مشاهده سره ثابت وي نوځكه كفيل دزرودرهمونوضامن كيږي ،اوكه گواهان نه وواودطرفينوترمنځ اختلاف راغى (مثلامكفول له ددووزرو قرضى دعوه كوي اوكفيل ديوه زراقراركوي) نوپه دي صورت كې دي دكفيل تصديق وكړاى شي يعني دكفيل قول سره قسم اخستلو معتبريږي ولى كفيل له زيادت څخه منكردى اودگواهانو دنه موجوديت په صورت كې دمنكرقول سره له قسم اخستلو معتبردى .

(۲۷)اوكه مكفول عنه دكفيل تراعتراف په زيات مقداراعتراف وكړ(مثلاكفيل دپنځه سوودرهمونو قرضى اقراركوي اومكفول عنه دزرودرهمونو) نوپركفيل باندي دمكفول عنه قول نه تنفيذيږي يعني دكفيل په مقابل كې دمكفول عنه دقول تصديق نه كيږي ولى دادمكفول عنه له طرفه پر كفيل باندي اقراردى اوكفيل له مكفول عنه غيردى چې پرهغه باندى مكفول عنه هيڅ ولايت نه لري نو ځكه پر هغه باندي دمكفول عنه اقرارهم نه مقبول كيږي .

(۲۸)كفاله دمكفول عنه په حكم سره هم جائزه ده مثلامكفول عنه كفيل ته وويل چې زماله طرفه كفيل جوړشه! اودمكفول عنه دحكم بغيرديو چاپخپله دمكفول عنه له طرفه كفيل گرځيدل هم جائزدى،ولى كفاله نوم دى پرخپل ځان هغه مطالبه لازمول كومه چې پرمكفول عنه باندي لازمه ده اودخپل ځان په حق كې دجائزتصرف كولو هرڅوك اختيارلري په دي شرط چې په دي تصرف سره غيرته ضررونه رسيږي،اوظاهره ده چې ديوچادخپل ځان كفيل جوړولو سره مكفول له يامكفول عنه ته هيڅ ضررنه رسيږي مكفول له ته ضررنه رسيدل خوظاهره ده مكفول عنه ته ځكه ضررنه دى چې كفيل كه چيرته دمكفول عنه دحكم بغيردهغه قرضه كوي نو كفيل ته په دي باره كې له مكفول عنه څخه درجوع حق هم نشته نوپه همدغه صورت كې دمكفول عنه ضررنه كيدل خوظاهردى اوكه دمكفول عنه په حكم سره كفيل دهغه قرض اداكړنو كفيل لره بې شكه په دي باره كې له مكفول عنه څخه درجوع حق شته مگرڅرنگه چې داكاردمكفول عنه په رضامندي سره شوى دى نودادمكفول عنه په حق كې ضررنه شمارل كيږي ځكه نو دمكفول عنه دحكم بغيردمكفول عنه كفيل گرزيدل جائزدى .

(۲۹)بياكه كفيل دمكفول عنه په حكم سره كفالت وكړنو كفيل چې څه دمكفول عنه له طرفه اداكوي دى له مكفول عنه څخه هغه واپس اخيستلاى شي ولى كفيل دمكفول عنه په حكم سره دهغه قرض اداكړ،اوكه كفيل دمكفول عنه دحكم بغيركفالت وكړنوچې څه اداكوي هغه له ده څخه واپس نه شي اخيستلاى ولى كفيل پرمكفول عنه باندي متبرع اواحسان كوونكى دى اومتبرع متبرع عليه ته درجوع حق نه لري .

(۳۰)كفيل چې تركومه پورې دمكفول عنه قرض ادانكړي ترهغه وخته پورې له مكفول عنه څخه دمال مطالبه نه شي كولاى ولى كفيل چې ترڅود مكفول عنه قرض اداكوي نودى دمكفول له قائم مقام بلل كيږي دقرضى مالك ګرځي ځكه نوهغه ددې حق لري چې مكفول عنه ته رجوع وكړي خوترادائيګى مخكې كفيل څرنګه چې نه دمكفول له قائم مقام دى اونه قرضى مالك ګرځي نوځكه ده لره مكفول عنه ته درجوع حق هم حاصل نه دى.

(۳۱)فَإِنْ لُوزِمَ لَازَمَه (۳۲)وَبَرِئَ بِأَدَاءِ الْأَصِيلِ (۳۳)وَلَوْأَبْرَئَ الْأَصِيلُ أَوْأَخَرَ عَنْهُ بَرِئَ الْكَفِيلُ وَتَأَخَّرَعَنْهُ (۳۴)وَلَايَنْعَكِسُ (۳۵)وَلَوْصَالَحَ أَحَدُهُمَارَبَّ الْمَالِ عَنْ أَلْفٍ عَلَى نِصْفِهِ بَرِئَا(۳۶)وَإِنْ قَالَ الطَّالِبُ لِلْكَفِيلِ بَرِئْتَ إِلَيَّ مِنَ الْمَالِ رَجَعَ عَلَى الْمَطْلُوبِ (۳۷)وَفِي بَرِئْتَ أَوْأَبْرَأْتُكَ لَا.

**ترجمه**:پس كه دده تنګيدل كيده نودى دي هم هغه تنګ كړي اوبري كيږي داصيل په اداء سره اوكه يې بري كړاصيل ياېې مؤخر كړله هغه څخه نوبري كيږي كفيل اومؤخر كيږي له هغه څخه ،ددې عكس نه كيږي اوكه صلح وكړه يوه له رب المال سره دزروكسانوله طرفه دهغه پرنصف باندې نودواړه بري كيږي اوكه ووېل طالب كفيل ته ،ته بري يې ترماپورې له مال څخه نودى دي رجوع وكړي پرمطلوب باندې اوپه برئت ياابرائتك ويلوكې نشته.

**تشريح**:(۳۱)كه چيرته مكفول له دمال دوصولولوله پاره كفيل تنګ كړنوكفيل كه چيرته دمكفول عنه په حكم سره كفيل جوړشوى وو بياكفيل لره اختيارشته چې دى مكفول عنه تنګ كړي ترهغه چې مكفول عنه قرض اداكړي كفيل خلاص كړي ولى كفيل خود مكفول عنه په وجه پريشان دى نوكفيل له مكفوعنه سره هغه معامله كوي چې
مكفول له يې له كفيل سره كوي.

(۳۲)اوكه مكفول عنه مال اداكړنوكفيل بري كيږي ولى دمال په اداكولوسره خپله مكفول عنه بري كيږي اودمكفول عنه بري كيدل دكفيل بري كيدل واجبوي ځكه پخپله پركفيل خوقرض نه دى باندې دين پرمكفول عنه باندې دى البته دمكفول عنه ددين په وجه ده پرخپل ځان مطالبه لازمه كړي وه نوچې دمكفول عنه دين پاتى نه شوچې دلزوم مطالبه على الكفيل لپاره علت وونودكفيل ذمه واري هم ختمه شوه.

(۳۳)اوكه چيرته مكفول له مكفول عنه بري كړنوكفيل هم بري كيږي ولى دمكفول عنه بري كيدل دكفيل بري كيدل واجبوي ځكه دمكفول عنه مطالبه كول دمكفول عنه ددين تابع ده كه دين وي نومطالبه به وي اوكه دين ساقط شونومطالبه هم ساقطيږي همدارنګه كه مكفول له ومكفول عنه ته دڅه وخت لپاره مهلت وركړنوكفيل ته هم مهلت دى يعني له مكفول عنه څخه ددين په ځنډلوكې له كفيل څخه هم مطالبه ځنډيږي ولى ځنډول تريو وخت پورې مطالبه ساقطوي نوداموّقت ابراء ده داپرمؤبده ابراء باندې قياسيږي نوڅرنګه چې دمكفول عنه په هميشه بري كيدوسره كفيل هم دهميشه لپاره بري كيږي همدارنګه دمكفول عنه په موّقت بري كيدوسره كفيل موّقت بري كيږي.

(۳۴)او كه ددې برعكس شو يعنې مكفول له كفيل بري كړنو مكفول عنه نه بري كيږي ولې كفيل تابع دى نو دكفيل په بري كيدو سره مكفول عنه نه بري كيږي همدارنګه دكفيل له مطالبې څخه دبري كيدو په وجه داصيل له ذمې څخه قرض نه ساقطيږي ولې مكفول عنه پر ذمه دين دكفيل له كفالت څخه بغير هم پاتيدلاى شي ځكه نو مكفول عنه نه بري كيږي ،همدارنګه كه مكفول عنه كفيل ته مهلت وركړنو داد مكفول عنه لپاره مهلت نه بلل كيږي ځكه مهلت وركول تريو معلوم وخت پورې بري كول دي نو پر دائمي برائت باندې قياسيږي يعني لكه څرنګه چې په دائمي ډول دكفيل په بري كيدو سره مكفول عنه په دائمي ډول نه بري كيږي همدارنګه ترمعلوم وخت پورې دكفيل په بري كيدوسره مكفول عنه ترمعلوم وخت پورې نه بري كيږي.

(۳۵)كه دمكفول له زرروپۍ دمكفول عنه پرذمه لازمې وي نوبيا كفيل يامكفول عنه له زرو روپو څخه پرپنځه سوه باندې له مفكول له سره صلح وكړه نوله دغو پنځوسوو څخه كفيل او مكفول عنه دواړه بري كيږي دمكفول عنه دصلح كولو په صورت كې ددواړو بري كيدل خو ظاهر دى ولې په دې صورت كې مكفول عنه بري كيږي نو كفيل هم بري كيږي او دكفيل دصلح په صورت كې دواړه ځكه بري كيږي چې په وخت دصلح كې كفيل صلح زرو روپو ته مضاف كړې وو ايې چې له زرو روپو څخه پرپنځه سوه قرض باندې له تاسره صلح كوم حال داچې دازر روپۍ پر مكفول عنه باندې قرض دى نو مكفول عنه له پنځه سوه قرض څخه بري شو ولې داصلح داسقاط په معنى ده يعنې مكفول له خپل حق ساقط كړنو چې كله مكفول له پنځه سوه روپۍ ساقطې كړې نو مكفول عنه بري شو او دمكفول عنه بري كيدل دكفيل بري كيدل واجبوي نو كفيل هم بري شو.

(۳۶)كه مكفول له كفيل ته وويل چې دكوم وروپو چې ته كفيل شوى يې تاله مال څخه زماله جانبه برائت كړى دى نوبيا دې كفيل مكفول عنه ته دهغو روپو په باره كې رجوع وكړي دكوموچې دى ضامن شوى وو ځكه دمكفول له په قول كې :قَدبَرِئتَ الَيَّ من المالِ دبرائت ابتداء په كفيل سره شوې ده ولې په دې برائت كې كفيل مخاطب دى او دبرائت انتهاء پرمكفول له شوې ده ولې لفظ دالى دانتهاء لپاره دى او په دغه تركيب كې مكفول له چې متكلم دى منتهى دى نو دا ثابته شوه چې په دغه تركيب كې كفيل هغه دى دچا څخه چې ابتداء شوې ده او مكفول له هغه دى پرچاچې انهتاء شوې ده او داسې برائت چې ابتداء يې له كفيل نه شوې وي او انتهاء يې پرمكفول له باندې شوې وي يواځې په مال اداكولو سره كيږي ګواكې مكفول له وويل :دفعتَ اِلىَّ المال (يعنې تاماته مال راكړى دى ) ياقبضتُ المالَ منک (ماله تاڅخه مال قبض كړى دى )نو ګواكې مكفول له ددې خبرې اقرار وكړچې كفيل هغه مال اداكړى دى دكوم چې دى ضامن شوى وو او چې كله مكفول له دمال اداكولو اقرار كړى دى نو اوس هغه له كفيل او مكفول عنه دواړو څخه دمطالبې حق نه لري اوڅرنګه چې كفاله دمكفول عنه په حكم سره شوې ده ځكه نو كفيل دااختيار لري چې دى له مكفول عنه څخه هغه مال بيرته واخلي دكوم چې دى ضامن شوى وو.

(۳۷)قوله وفى برئت اوبرأتک لا اى وفى قوله برئت او ابرأتک من المال الذى كفلت به عن فلان لايرجع الكفيل على الاصيل بالدين.يعني كه چيرته مكفول له يواځې دومره وويل :برئت ،نوبري شو ،لفظ دالىّ يې زيات نكړ.يايې وويل:

ابرائتک ،ماته بري کړی يې نو بيا کفيل له مکفول عنه څخه هيڅ نه شي اخيستلای ولی په دغه کلام کې يواځې دکفيل برائت فهميږي نه دمال قبض کولو اقرارځکه په دغه صورت کې کفيل مکفول عنه ته رجوع نه شي کولای.

(۳۸) وبطل تعليق البراءة من الكفالة بالشرط (۳۹) والكفالة بحد وقود (۴۰) ومبيع ومرهون وامانة (۴۱) وصح لو ثمنا ومغصوبا ومقبوضا على سوم الشراء ومبيعا فاسدا (۴۲) وحمل دابة معينة مستاجرة (۴۳) وخدمة عبد استؤجر للخدمة (۴۴) وبلا قبول الطالب في مجلس العقد (۴۵) الا ان تكفل وارث المريض عنه (۴۶) وعن ميت مفلس (۴۷) وبالثمن للموكل ورب المال وللشريك اذا بيع عبد صفقة (۴۸) وبالعهدة (۴۹) والخلاص (۵۰) ومال الكتابة

**ترجمه**: او باطل دی معلق کول دکفالت په شرط دبري کيدو پوري او باطل دی دحد ،قصاص، مرهون، مبيعه، او امانت کفالت او صحيح دی که مکفول به ثمن وويا مغصوب وويا داسی شی ووچې مشتري دا خيستلو په نيت اخيستی وويا دبيع فاسد مبيعه وه يا بار ول دمعلوم چارپای ووپه کرايه يا خدمت دمريي ووکوم چې په اجرت سره دخدمت لپاره مقرر شوی وو او دطالب له قبول بغير په مجلس عقد کې مګر دا که کفيل شو د مريض وارث دمريض له طرفه او دمفلس مړي له طرفه او دثمن کفالت دموکل، رب المال او شريک لپاره په داسي حال کې چې مريی په يوه عقد کې خرڅ شوی وو او کفالت دعهدي او دخلاصون او دمال کتابت.

**تشريح**: (۳۸) برائت عن الکفاله په شرط پوري معلق کول جائزنه دی مثلاچې مکفول له دادول ووايې :اذاجاءغدفانت بریءمن الكفالة .(چې کله سبا ورځ راشي نو ته له کفالت څخه بري يې) ولی په برائت کې دتمليک معنی ده په دي ډول چې مکفول له دمطالبی مالک ووچې کله يې کفيل بري کړنو کفيل يې دبرائت مالک وګرځاوه ،خو داسي هم يو روايت دی چې له کفاله څخه برائت په شرط پوري معلق کول جائزدی ولی پر کفيل باندي مطالبه لازمه ده قرض نه دی نو کفيل بري کول دطلاق په شان اسقاط محض دی او اسقاط محض په شرط پوري معلق کول جائزدی.

(۳۹) قوله والکفالة بحدوقود ای وبطل الكفالة بحدوقود ،يعني هرهغه حق چې له کفيل څخه يې حاصلول ممکن نه وي دهغه کفاله صحيح نه ده مثلاً دحدود او قصاص کفاله جائزه نه ده ولی له کفيل څخه دحد او قصاص مطالبه کول متعذره ده ولی په عقوباتو کې نيابت نه جاري کيږي البته پر چا باندي چې حد يا قصاص وي دهغه مجلس ته دحاضرولو کفيل کيدل جائزدی.

(۴۰) قوله ومبيع ای بطل الکفالة بمبيع في البيع الصحيح ،يعني په بيع صحيح کې دمبيعی قبض کولو څخه مخکي دبائع له طرفه دمبيعی دذات ضامن کيدل صحيح نه دی ولی داعيانو دضمانت لپاره دا شرط دی چې مضمون بنفسه وي په داسی حال کې چې ترقبض مخکي که مبيعه هلاکه شي نو بائع دمبيعه ضامن ګرزي دثمن په عوض نه بنفسه ،همدا حکم دمرهون شي هم دی ولی مرهون شی هم ترقبض مخکي داعيان له قبيل څخه دی مګر مضمون بنفسه نه دی بلکې مضمون بغيره دی يعنې مرهون شی دقرض په عوض مضمون ګرزي نو دمضمون شي دذات ضامن کيدل صحيح نه دی او دامانت همدا حکم دی ولی امانت مضمون نه دی نه مضمون بنفسه او نه مضمون بغيره دی.

(۴۱)او د مبیعه د ثمن د مشتري له جانبه کفیل کیدل صحیح دی ولی ثمن د مشتري پر ذمه دین صحیح دی نو د نورو دیونو په شان د مشتري له طرفه د ثمنو ضامن کیدل صحیح دی همدارنګه د غاصب له طرفه د مغصوب شي کفیل کیدل هم صحیح دی ولی مغصوب شی عین مضمون بنفسه دی یعنې د هلاکت په صورت کې د هغه قیمت لازمیږي او د عین مضمون بنفسه کفیل کیدل صحیح دی همدارنګه د داسي شي کفیل کیدل هم صحیح دی چې مشتري له بائع څخه د اخستو په قصد وړی وي چې په کورکې به یې وګوروکه موخوښ اخلویې که نه بیرته یې واپس کوو ځکه دا دول شی هم مضمون بنفسه دی چې د هلاکت په صورت کې د هغه قیمت واجبیږي چې د هغه شي قائم مقام دی ،همدا دول د بیع فاسد د مبیعه کفالت هم صحیح دی ولی دا هم د مضمون بنفسه له قبیل څخه دی یعنې د هلاکیدو په صورت کې د مشتري پر ذمه د هغه قیمت لازمیږي نه ثمن،او د عین مضمون بنفسه کفالت صحیح دی .

(۴۲)قوله وحمل دابة معینة مستاجرة ای وبطل الکفالة بحمل دابة بعینها مستاجرة،یعنې که چیرته مستاجر معلوم چارپای د بار وړلو لپاره کرایه کړ او د مستاجر لپاره پر هغه معلوم چارپای باندې د بار وړلو لپاره څوک کفیل شو نو دا کفاله جائزه نه ده ولی دا ممکنه ده چې دا معلوم چارپای هلاک شی نو کفیل د مکفول له لپاره د بار وړلو نه عاجز کیږي او له کوم کار څخه چې کفیل عاجز کیږي د هغه کفاله جائزه نه ده او که چارپای غیر معین وو نو بیا کفاله جائزه ده ولی واجب بار وړل دی او کفیل پر دې باندې قادر دی چې هغه پر خپل چارپای باندې بار کړي نو دا کفالت ځکه صحیح شو .

(۴۳)قوله وخدمة عبد استوجر للخدمة ای وبطل الکفالة بخدمة عبد معین استوجر للخدمة ،یعنې کوم مریی چې د خدمت کولو لپاره مزدور نیول شوی وي د هغه د خدمت کولو ضمانت کول باطل دی ولی مریی معین دی د هلاکت په صورت کې کفیل له دې څخه عاجز دی چې د هغه خدمت و مکفول له ته وسپاري او دا خبره تیره شوه چې له کوم کار څخه چې کفیل عاجزوي د هغه کفاله جائزه نه ده .

(۴۴)قوله وبلاقبول الطالب فی مجلس العقد ای وبطل الکفالة بلاقبول الطالب فی مجلس العقد ،په مجلس عقد کې د مکفول له

له طرفه د قبلید و بغیر کفاله باطله ده یعنې د کفاله په دواړو قسمینو کې (یعنې کفاله بالنفس او کفاله بالمال ) کې د طرفینو رحمهما الله په نزد د کفاله د صحت شرط دا دی چې مکفول له د کفاله په مجلس کې هغه قبوله هم کړي،په داسې حال کې چې د امام ابویوسف رحمه الله په نزد دا کفاله جائزه ده په مجلس عقد کې د مکفول له قبولیت یې شرط نه دی،د امام ابویوسف رحمه الله دلیل دا دی چې په کفاله کې کفیل پر خپل ځان مطالبه لازموي او په التزام علی النفس کې ملتزم خودمختاروي نو ځکه د مکفول له قبولیت ضروري نه دی،د طرفینو رحمهما الله دلیل دا دی چې په کفاله کې کفیل مکفول له پر خپل ځان باندې د مطالبی مالک ګرزوي او په کوم شي کې چې د تملیک معنی وي هغه په مالک کیدونکي او مالک ګرزونکي دواړو سره ترسره کیږي نو ځکه په کفاله کې د کفیل ایجاب او د مکفول له قبول دواړه ضروري دي .

**فائده** :دطرفينو رحمهما الله قول مفتى به دى كمافى شرح التنوير (و) لاتصح الكفالة بنوعيها (بلاقبول الطالب) اونائبه ولو فضوليا (فى مجلس العقد) وجوزها الثانى بلاقبول وبه يفتى درر وبزازية واقره فى البحر وبه قالت الائمة الثلاثة لكن نقل المصنف عن الطرسوسى ان الفتوى على قولهما واختاره الشيخ قاسم :قال ابن عابدين رحمه الله (قوله واختاره الشيخ قاسم) حيث نقل اختيار ذالك عن اهل الترجيح كالمحبوبى والنسفى وغيرهما واقره الرملى وظاهر الهداية ترجيحه لتاخيره دليلهما وعليه المتون. (الدر المختار مع الشامية: ۴/ ۲۹۹)

(۴۵) البته يوه مسئله داسي شته چې په هغې کې دکفاله دصحت لپاره دطرفينو رحمهما الله په نزد دمکفول له قبلول په مجلس کې شرط نه دی هغه داچې مريض مقروض خپل وارث ته ووايي کوم قرض چې پرما باندي واجب دی ته دهغه کفيل وګرزه، په دغه صورت کې وارث کفيل ګرزي په داسي حال کې چې قرض غوښتونکی يعنې مکفول له په مجلس کې موجود نه دی، داکفاله استحساناصحيح ده ځکه چې کله مريض خپل وارث ته ووايل کوم قرض چې پرما باندي واجب دی ته دهغه کفيل وګرزه نوګواکي مريض ووېل چې ته زما قرضه اداکړه او داوېنا په حقيقت کې وصيت دی او په وصيت کې دموصی له قبلول شرط نه دی نو ځکه دمکفول له قبلول په مجلس کې شرط نه شو.

(۴۶) قوله وعن ميت مفلس، اى وبطلت الكفالة عن ميت مفلس، يعني که يوڅوک دمفلسي په حالت کې مړشو او پرهغه باندي څه قرض پاتی وونو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دهغه سړي له طرفه يوڅوک کفيل کېدل باطل دی ولی ددين ادائيګي له مړي څخه متصوره نه ده ځکه ادائيګی دين فعل دی اوله مړي څخه صدوردفعل متصورنه دی نودااحکام دنيا په اعتبار دمړي له ذمی څخه دين ساقط دی په داسی حال کې چې کفاله دااحکام
دنيا په حق کې ددين دباقی پاتی کېدو مقتضي ده نودمړي له طرفه کفيل کېدل صحيح نه دی.

**فائده** :دصاحبينو رحمهما الله په نزد داکفاله صحيح ده ولی په حديث شريف کې راغلي دي چې ديوه انصاري جنازه راوړله شوه نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چې پردغه انصاري باندي خوبه دچاپورنه وي باندي؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړچې هو! اي دالله رسوله! دوه درهمه يادوه ديناره شته، رسول الله ﷺ دجنازي دلمانځه ورکولو څخه منع وکړه، ويې فرمايل :تاسي دده دجنازي لمونځ وکړئ او حضرت ابو قتادة ﷺ عرض وکړاي دالله تعالی رسوله! دده دين پرما دی. بيا هغه ﷺ دجنازي لمونځ ورکړ، همدارنګه داله دين ثابت څخه (داځکه دين ثابت دی چې هيڅ ساقطونکی يې نشته. يوائي دمديون په مړينه سره قرضه نه ساقطيږي) کفيل کېدل دی چې جائزدی، صاحبينو رحمهما الله ته ځواب ورکړل شوی دی چې په حديث شريف کې دحضرت ابو قتادة ﷺ قول چې دده پورپرمادی، دکفاله سابقه اقرار دی، يعني حضرت ابو قتادة ﷺ فرمايي چې زه دده تروفات مخکي دده کفيل ګرزيدلی يم، او دچاپه ژوندکې چې څوک دچاکفيل شي نو دهغه په جواز خو موږهم قائل يو، او دصاحبينو رحمهما الله داوېناچې دادين ثابت دی موږ نه منوولي دين دادائيګی فعل نوم دی چې له مړي څخه متصورنه دی نودادين ثابت نه دی ساقط دی.

**فائده** :دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی لمافی القول الراجح :القول الراجح هو قول الامام كماظهر من داب صاحب الهداية وايضا من صنع صاحب الملتقى (القول الراجح: ۲/ ۹۲)

(۴۷) قوله وبالثمن للموكل ورب المال وللشريک الخ، اى بطلت كفالة الوكيل بالثمن للموكل وكفالة المضارب بثمن مال المضاربة للرب المال وكفالة الشريک بالثمن للشريک الآخرالخ .يعني كه وكيل دخپل موكل لپاره دهغه شي دقيمت دمشتري له طرفه ضامن شي دكوم شي چې دى وكيل دى،يامضارب درب المال لپاره دمضاربت داسبابودقيمت دمشتري له طرفه ضامن شي،يادووشريكانومشترک مريى په يوه عقدكې خرڅ كړيايوشريک دبل لپاره دمشتري له طرفه دقيمت ضامن شي،دادري واړه ضمانتونه باطل دي ولى په لومړنيودووصورتونوكې حق قبض وكيل اومضارب لره حاصل دى نوددوئ كفالت كفالت لنفسه كيږي چې داجائزنه دى اوپه دريم صورت كې چې كفيل دكفالت په وجه څه اداكوي هغه دشريكينوترمنځ مشترک دى نودده دحصى په اندازه داكفالت لنفسه دى چې جائزنه دى .

(۴۸) قوله وبالعهدة، اى وبطلت الكفالة بالعهدة، يعني دعهده په لفظ سره ضمانت وركول باطل دى مثلايوچامريى واخيست كفيل مشتري ته وويل زه ستالپاره دعهدى ضامن يم نوداضمانت باطل دى ولى لفظ دعهده مشترک دى دپخواني دستاويز، عقد، حقوق عقداوخيارشرط ټولولپاره استعماليږى نودجهالت مفهوم په وجه دعهده په لفظ سره ضمانت وركول صحيح نه دى يعني دعهده لفظ چې پرډيرومعناګانويې اطلاق كيږي اوپرهره معنى باندې دهغه محمول كول جائزهم دى نوترڅوچې كفيل مرادي معنى بيان نكړي په هغه عمل كول متعذردى ځكه نوپه دغه لفظ سره ضمان اوكفاله باطله ده .

(۴۹) قوله والخلاص اى وبطلت الكفالة بتخليص المبيع عندالاستحقاق ،يعني ضمان خلاص هم دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد صحيح نه دى چې صورت يې داسې دى چې كفيل مشتري ته ووايې زه ستالپاره ددې ضامن يم چې مبيعه له هرډول مستحق څخه خالصه تاته وسپارم،نوداكفاله صحيح نه ده ولى په هرحال كې مبيعه مشتري ته حواله كول دهغه دوس كارنه دى ځكه ممكن دى چې يوڅوک دهغه كفالت سربيره پرمبيعه باندې خپل استحقاق ثابت كړي مبيعه ترې واخلي

(۵۰) قوله ومال الكتابة اى وبطلت الكفالة بمال الكتابة، يعني دمكاتب له طرفه دمال كتابت ضمانت هم باطل دى ولى دادين صحيح نه دى (له دين صحيح څخه مراددادى چې مديون هغه نه شي ساقطولاى مګرداچې ياپې اداكړي اوياقرض غوښتونكى هغه معاف كړي نومال كتابت په دي وجه دين صحيح نه دى چې مال كتابت له دغودووطريقوڅخه علاوه هم ساقطيداى شي مثلامكاتب خپل ځان دمال كتابت اداكولوڅخه عاجزكړي نوهم دده له ذمې څخه دين ساقطيږى) اوكوم دين چې صحيح نه وي دهغه ضمانت صحيح نه دى . كمامر .

## فصل

مصنف رحمه الله په دغه فصل كې دكتاب الكفاله په اړه څه متفرق مسائلى بيان كړي دي نوداد مصنفينو رحمهم الله دعادت مطابق ګواكي فصل فى المتفرقات دى .

(۱) وَلَوْ أَعْطَى الْمَطْلُوبُ الْكَفِيلَ قَبْلَ أَنْ يُعْطِيَ الْكَفِيلُ الطَّالِبَ لَا يَسْتَرِدُّ مِنْهُ (۲) وَمَا رَبِحَ الْكَفِيلُ فَهُوَ لَهُ (۳) وَنُدِبَ رَدُّهُ عَلَى الْمَطْلُوبِ لَوْ شَيْئًا يَتَعَيَّنُ (۴) وَلَوْ أَمَرَ كَفِيلَهُ أَنْ يَتَعَيَّنَ عَلَيْهِ حَرِيرًا فَفَعَلَ فَالشِّرَاءُ لِلْكَفِيلِ وَالرِّبْحُ عَلَيْهِ.

**ترجمه**: او که ورکړل مطلوب کفیل ته مخکې تردې چې ورکوي يې کفیل طالب ته نو واپس دې نه ځني اخلي او کومه ګټه چې کفیل کړې وې هغه دده ده، او مستحب دی دا ګټه ردول مطلوب ته که چیرته هغه داسې شی وو چې معین کیدای شوای او که مکفول عنه حکم و کړ خپل کفیل ته دددې چې ماته په بیع عینه سره دورېنمو بیع و کړه هغه دا بیع و کړه نو دا خرید د کفیل لپاره کیږي او ګټه یې د هغه پر ذمه کیږي.

**تشریح**: (۱) که چیرته مکفول عنه مطلوبه مال کفیل ته ورکړ مخکې تردې چې کفیل له خپله طرفه مطلوبه مال طالب یعنې مکفول له ته ورکوي نو مکفول عنه دې دا مال له کفیل ځخه واپس نه اخلي ولې له دې مال سره د کفیل حق معلق شوی دی ځکه دلته دوه احتماله دې یو دا چې کفیل تر اوسه مکفول له ته مال نه دی ورکړی دوهم چې بنایې ادا کړي یې وي د دغه دوهم احتمال پر بناء په دغه مال پورې د کفیل حق متعلق کیږي نو مکفول عنه دې اختیار نه لري چې دا مال واپس واخلي نو ترڅو پورې چې دا احتمال باقي وي تر هغه پورې مکفول عنه دې اختیار نه لري چې له کفیل ځخه مال واپس واخلي همدارنګه په دې وجه هم مکفول عنه له کفیل ځخه دا مال واپس نه شي اخیستلای چې په قبض کولو سره کفیل دددې مال مالک ګرزي چې تفصیل یې په راتلونکې مسئله کې راځي.

(۲) که په پورتنې مذکور صورت کې کفیل د مکفول عنه په مال سره تجارت وکړ ګټه یې وکړه نو دغه ګټه کفیل ته حلالیږي ولې کفیل په دغه صورت کې د دغه مال مالک شمارل کیږي ځکه د کفاله په وجه د کفیل لپاره پر مکفول عنه باندې هغه ډول مطالبه د دین واجبیږي لکه د مکفول له لپاره چې پر کفیل باندې واجبیږي یوائې دومره فرق یې دی چې مکفول له فی الحال د مطالبې حق لري او کفیل د حق ادا کولو وروسته حق لري مګر له دې ځخه دا نه لازمیږي چې پر کفیل باندې د مکفول عنه حق هم فی الحال نه واجبیږي بلکې حق فی الحال واجب دی البته مطالبه فی الحال نه شي کولای داسې دی لکه د قرض مؤجل په صورت کې چې د قرض غوښتونکي حق وي مګر مطالبه فی الحال نه شي کولای نو چې کله دا ثابته شوه چې کفیل د دغه مال مالک ګرزي له دغه مال ځخه چې کومه ګټه تر لاسه کیږي هغه دده د ملک ځخه حاصله شوي ګټه ده نو ځکه دده لپاره حلاله ده.

(۳) البته که چیرته دا نفع په متعین کیدو سره متعینه کیده یعنې دراهم او دنانیر نه وو بلکې یو داسې شی وو چې په متعین کیدو سره متعین کیدای شوای مثلاً غنم، اوربشې وغیره وو نو په دغه صورت کې له امام صاحب رحمه الله ځخه یو روایت دا دی چې دغه نفع دې پر فقیرانو باندې صدقه کړي او بل روایت دا دی چې دغه ګټه مکفول عنه ته ورکول مستحب دی ولې په دغه ګټه کې د کفیل لپاره د ملک باوجود یو ډول خبث دی ځکه چې تر اوسه لا مکفول عنه لره د دغه د مال د واپس اخیستلو لاره موجوده ده په دې ډول چې هغه پخپله خپل قرض ادا کړي نو د کفیل دا ملک قاصر دی کامل نه دی او له قاصر ملک ځخه په حاصله شوې ګټه کې شبه د خبث وي او دا خبث په داسې مال کې اثر کوي چې په متعین کیدو سره متعین کیږي او څرنګه چې دا خبث د حق

شرع په وجه نه دی بلکې د مکفول عنه د حق په وجه دی ځکه نو هغه باید مکفول عنه ته واپس ورکړل شي چې حق مستحق ته ورسيږي.

**فائده**: اصح روايت د امام صاحب رحمه الله دا دو هم روايت دی لمافی الشامية: بخلاف مايتعين كالحنطة ونحوها بان كفل عنه حنطة واداها الاصيل الى الكفيل وربح الكفيل فيها فانه يندب رد الربح الى الاصيل قال في النهر وهذا هو احد الروايات عن الامام وهو الاصح وعنه انه لايرده بل يطيب له وهو قوله لانه نماء ملكه وعنه انه يتصدق به. (ردالمحتار: ۴/۳۱۰)

**فائده**: د صاحبينو رحمهما الله په نزد دا ګټه د کفيل لپاره حلاله ده نو هغه دي مکفول عنه ته واپس نه کړي ولی مخکې تیره شوه چې دا د کفيل له ملک څخه حاصل شده ګټه ده او قاعده ده چې کومه ګټه چې د چا له ملک څخه حاصله شي هغه د هغه کیږي نو دغه ګټه د کفيل حق کیږي دا باید مکفول عنه ته واپس نه کړي.

(۴) که مکفول عنه خپل کفيل ته حکم وکړچې ته زما لپاره دوربښمو بیع د عینه وکړه، هغه همداسې وکړل نو دا خرید د کفيل لپاره دی او هغه ګټه چې دوربښمو بائع ته ورحاصلیږی هغه هم پر کفيل باندي کیږي یعنې په بیع د عینه کې د خساره (تاوان) ذمه وار هم کفيل دی مکفول عنه نه دی ولي د بیع عینه عقد کوونکی کفيل دی مکفول عنه نه دی او خساره پر عقد کوونکي باندي راځي.

**فائده**: په مذکور عقد کې د بیع عینه صورت دا سې دی چې کفيل له کوم تاجر څخه مثلاً لس درهمه قرض وغواړي او تاجر له قرض ورکولو څخه انکار وکړي مګر تاجر په دې راضي وي چې د قرض غوښتونکي په لاس دلسو درهمو نو کپړه د پنځلسو درهمو په عوض په پور خرڅه کړي چې تاجرته پنځه روپۍ زیاته ګټه په لاس ورشي او کفيل دا کپړه واخیسته بیا کفيل هغه کپړه له بائع نه علاوه پر بل چا باندي په لس درهمه خرڅه کړي د مکفول عنه قرض ادا کړي نو په دغه بیع کې پنځه روپۍ خساره چې واقع شوې ده هغه به پر کفيل باندي وي نه پر مکفول عنه باندي دغې بیع ته د عینه ویلو وجه دا ده چې په دغه کې له دین څخه د عین په طرف اعراض راځي. (ردالمحتار: ۴/۳۱۰)

(۵) وَمَنْ كَفَلَ عَنْ رَجُلٍ بِمَا ذَابَ لَهُ عَلَيْهِ أَوْ بِمَا قُضِيَ لَهُ عَلَيْهِ فَغَابَ الْمَطْلُوبُ فَبَرْهَنَ الْمُدَّعِي عَلَى الْكَفِيلِ أَنَّ لَهُ عَلَى الْمَطْلُوبِ أَلْفًا لَمْ تُقْبَلْ (۶) وَلَوْ بَرْهَنَ أَنَّ لَهُ عَلَى زَيْدٍ كَذَا وَأَنَّ هَذَا كَفِيلٌ عَنْهُ بِأَمْرِهِ قُضِيَ بِهِ عَلَيْهِمَا (۷) وَلَوْ بِلَا أَمْرٍ قُضِيَ عَلَى الْكَفِيلِ فَقَطْ (۸) وَكَفَالَتُهُ بِالدَّرَكِ تَسْلِيمٌ (۹) وَشَهَادَتُهُ وَخَتْمُهُ لَا.

**ترجمه**: او څوک چې کفيل شي د يو چا له طرفه د هغه چې مدعی د هغه پر ذمه ثابته شي یا د هغه چا چې د هغه د مدعي لپاره پرده باندي حکم وکړای شي بيا مطلوب غائب شو بيا مدعي ګواهان قائم کړل پر کفيل باندي چې ده پر مطلوب باندي زر روپۍ دي نو دا ګواهان نه قبلیږي او که يې ګواهان قائم کړل چې دده د زيد پر ذمه باندي دومره روپۍ دي او دی د هغه کفيل دی د هغه په امر نو حکم کړای کیږي د هغه پر دوئ دواړو باندي او که د هغه د حکم بغير وو نو حکم کړای کیږي يوازې پر کفيل باندي او د چا کفيل بالدرک کیدل د بيع تسليمول دی او د هغې د ګواهي او مهر لګیدو تسليم نه دی.

**تشريح**: (۵) که څوک د يو چا له طرفه په دغو الفاظو سره کفيل شوی وو چې پرده باندي چې د فلان څه شی ثابت دی زه د هغه ضامن يم يا يې داسې وويل چې زه د هغه حق کفيل يم د کوم حق چې قاضی د فلاني لپاره حکم کړی دی، بيا مکفول عنه غائب شو او مکفول له ګواهان پیش کړل چې زما پر مکفول عنه باندي يو زر درهم دي

نو دمکفول له ګواهان نه قبلیږي ولی دګواهانو قبلیدل ددعوی پرصحت باندي موقوف دی دلته دعوه صحیح نه ده ولی ددعوی اومکفول به ترمنځ مطابقت نشته چې ضروري دی ځکه چې مکفول به هغه مال دی دکوم چې قاضي پرمکفول عنه باندي ترکفاله مخکي حکم کړی وي چې مقید دی،یاپه ماقضی له علیه کې دمال مقیدوالی ښکاره دی اوماذاب له علیه ځرنګه چې دماوجب علیه په معنی دی اووجوب دقاضي په حکم سره کیږي ځکه نوپه دغه صورت کې هم مال مقید دی په داسي حال کې چې دمکفول له پرمکفول عنه باندي دزرودعوی مطلقه ده چې پکي داتعریض نشته چې ترکفاله مخکي پرمکفول عنه باندي ددي حکم کړل شوی دی نودعدم مطابقت په وجه دمکفول له دعوی صحیح نه ده نوګواهان یې هم دقبول ورنه دي .

(۶)که یوسړی مثلاًدزیدله طرفه دهغه په حکم سره دمال مؤجل کفیل شو بیامکفول عنه یعنې زیدغائب شواومکفول له دقاضی په عدالت کې ګواهان پیش کړل چې زماپرزید غائب باندي دومره مال دی اوداسړی دهغه له طرفه دهغه په حکم سره دهغه کفیل دی نو دمکفول له دادعوه صحیح ده ولی مکفول به مال مطلق دی داقید نشته پکي چې هغه مال چې قاضی پرمکفول عنه باندي حکم کړی دی اودمکفول له دعوه هم مطلقه ده نو دادعوه صحیح ده ځکه یې نوګواهان هم مقبول دي چې کله ګواهان مقبول شونو دمذکور مال په حق کې چې قاضی کومه فیصله کوي هغه فیصله پرکفیل اومکفول عنه دواړوباندي نافذیږي یعنې پرکفیل باندي چې کوم حکم کیږي دهغه په ضمن کې پرمکفول عنه غائب باندي هم حکم کیږي مګرسوال دادی چې قضاعلی الغائب جائزه نه ده نودلته دقاضی دافیصله پرمکفول عنه غائب باندي ځنګه نافذه کیږي ؟ جواب: داقاعده ده چې کله مدعي داثبات حق علی الغائب بغیرله مدعي علیه حاضرڅخه خپل حق نه شي حاصلولای نوپه داسي صورت کې قضاعلی الغائب جائزه ده .

(۷)اوکه کفاله دمکفول عنه په حکم سره نه وه بلکي کفیل خپل کفیل شوی وونودمکفول له دګواهانوپه وجه دمال حکم یواځي پرکفیل باندي کیږي پرغائب مکفول عنه باندي دقاضی داحکم نه نافذیږي ددغه صورت اومخکیني صورت ترمنځ فرق دادی چې په تیرصورت کې کله مدعی دکفاله په امردمکفول عنه دعوه وکړه په ګواهانوسره یې ثابته کړه اوقاضي دهغه مطابق فیصله وکړه نوثابته شوه چې کفیل ته مکفول عنه دکفیل کیدوحکم ورکړی دی نوداد مکفول عنه له طرفه دمکفول له لپاره دمال اقراردی اوداقرارهم دقاضی ترفیصله رالاندي شوځکه نودقاضی فیصله پرکفیل اومکفول عنه دواړوباندي نافذیږي په داسي حال کې چې په دغه صورت کې (یعنې په کوم کې چې کفیل خپله کفیل ګرزیدلی وه) دمکفول عنه له طرفه هیڅ ډول اقرارموجودنه دی اودکفالي دصحت لپاره دومره کافي دی چې دکفیل په ګمان کې پرمکفول عنه باندي دین وي دمکفول عنه اقرارضروري نه دی نوځکه په دغه صورت کې دقاضی فیصله یواځي پرکفیل باندي نافذه کیږي دمکفول عنه طرفته نه متعدي کیږي .

(۸)که چاخپل مکان خرڅ کړاویوسړی دبائع له طرفه دمشتري لپاره کفیل بالدرک شو یعنې کفیل مشتري ته وویل چې که چیرته ددي مکان یوبل مستحق پیداشونودپیسودواپس کولوزه ضامن یم نودکفیل دغه وینادي خبري تسلیمول دی چې دامکان دبائع ملک دی نوله دي وروسته که کفیل دادعوه وکړه چې

ددغه مکان مالک زه یم دکفیل دغه دعوی نه اوریدله کیږي ولی دغه عقد دکفیل دکفالت په وجه تام شوی دی ځکه نو په دغه صورت کې (چې عقد بیع په کفالت بالدرک سره مشروط دی) ترڅو پوري چې کفیل کفالة بالدرک نه قبلوي تر هغه پوري عقد نه تامیږي نو ګواکي د دغه عقد لازمونکی کفیل دی او س له هغه وروسته دکفیل له طرفه دخپل ملکیت دعوه کول د دي عقد ماتولو کوشش دی او دداسي عقد ماتولو کوشش کول چې خپله دده له طرفه تام شوی وي باطل دی نو ځکه دکفیل دغه دعوی کول چې زه دمکان مالک یم باطلیږي.

(۹) قوله وشهادته وختمه لا ای کتابة شهادة الرجل فی صک البیع وختمه علی صخ البیع لایکون تسلیما واقرارا الملک للبائع

یعني که چا مکان خرڅ کړاو بیا بل سړی دمکان پر خرڅیدو باندی تحریراً ګواه شوا و دستخط یې وکړ خپل مهریې ولګاوه مګر کفیل بالدرک نه دی شوی نو دګواه له طرفه داګواهي دبائع دملکیت تسلیمول نه کیږي یعني داګواهي د دي خبري علامه نه کیږي چې ګواه بائع دمکان مالک تسلیموي. بیا که چیرته دغه ګواه د دي دعوی وکړي چې زه د دي مکان مالک یم نو دده دعوی اوریدله کیږي ځکه چې شهادت نه په بیع کې شرط دی او نه دبائع دملکیت اقرار دی ولی کیدای شي چې هغه داګواهي د دي لپاره چې دا واقعه یاده پاتي شي چې دهغه مکان په هکله داسي واقعه شوي وه نو له دي څخه دا نه لازمیږي چې ګواه دبائع دملکیت اقرار کړی دی ،نو اوس که چیرته خپله ګواه دخپل ملکیت دعوه کړي له دي څخه په دعوی کې تناقض نه راځي ځکه نو دهغه دعوی داوریدو قابله ده.

(۱۰) وَمَن ضَمِنَ عَن آخَرَ خَرَاجَهُ أَو رَهَنَ بِهِ (۱۱) أَو ضَمِنَ نَوَائِبَهُ أَو قِسمَتَهُ صَحَّ (۱۲) وَمَن قَالَ لِآخَرَ ضَمِنتُ لَکَ عَن فُلَانٍ مِائَةً إِلَی شَهرٍ فَقَالَ هِیَ حَالَّةٌ فَالقَولُ لِلضَّامِنِ (۱۳) وَمَنِ اشتَرَی أَمَةً وَ کَفَلَ لَهُ رَجُلٌ بِالدَّرکِ فَاستُحِقَّت لَم یَأخُذِ المُشتَرِی الکَفِیلَ حَتَّی یُقضَی لَهُ بِالثَّمَنِ عَلَی البَائِعِ.

**ترجمه**: او که څوک ضامن شو دبل چا له طرفه دهغه دخراج یا یې یو شی رهن کینود دخراج په عوض کې ،یا ضامن شو دهغه دحوادثو یا دهغه دتقسیم کولو نو صحیح دی او که چا بل ته وویل زه ستا لپاره ضامن یم دفلاني له طرفه دسلو روپو تر یوې میاشتې پوري هغه وویل چې دا خو فوري دی نو قول دضامن معتبر دی. او که چا منځه واخیسته او بل سړی دهغه لپاره کفیل بالدرک شو بیا دغه منځه دبل چا مستحقه وګرزیده نو نه دي اخلي مشتري له کفیل څخه تر هغه پوري چې دده لپاره فیصله کیږي دثمن پر بائع باندي.

**تشریح**: (۱۰) که یو څوک دیو چاله طرفه دهغه پرذمه دهغه خراج ضامن شو چې دپاچاله طرفه پرده باندي مقرر شوی دی یا دهغه خراج په بدل کې هغه یو شی رهن کښینود نو دا ضمانت او رهن دواړه جائزدي ولی دپاچاله طرفه چې کوم ټیکس مقرر کیږي هغه دین شمارل کیږي چې دپاچاله طرفه یې مطالبه کول کیږي او په کفاله کې مطالبه معتبره ده نو دادول ضمانت صحیح دی او څرنګه چې رهن دکفاله په معنی دی چې په دواړو کې دتوثق او اعتماد معنی موجودیږي په کوموځایونو کې چې کفاله صحیح وي هلته رهن ایښودل هم صحیح کیږي.

(۱۱) همدارنګه دیو چا دحوادثو (مثلا یو ناڅاپه یوځای پُل ړنګ شي دهغه دیارغوني لپاره دحکومت له طرفه پرخلکو باندی څه شی مقرر کړای شي یا یو مشترک نهر جوړیږي یا دمسلمانانو قیدیان

دكافرانوله زندانونو څخه دراخوشي كيدو خرڅه پرخلكو باندي ايښودله كيږي داډول حوادثو ته نوائب وايي ) ياد قسمت ضامن كيدل هم په اتفاق سره صحيح دى په دي شرط چې جائزقسم وظائف وي ولى دظالمانه ټيكسونوپه باره كي دائمه ؤاختلاف دى دځينومشائخوپه نزددظالمانه ټيكسونوكفالت نه دى صحيح ولى داډول ټيكسونه خپله پرمكفول عنه هم نه دي لازم نوله كفيل څخه يي مطالبه هم صحيح نه ده په داسي حال كي چي دځينوعلماؤپه نزددظالمانه ټيكسونوكفيل كيدل هم صحيح دى .

**فائده** :همداقول مفتى به دى ځكه دداډول ټيكسونوهم دپاچاله طرفه دنورودينونوپه شان مطالبه كيږي اوپه كفاله كي مطالبه معتبره ده لمافي شرح التنوير:وصح ضمان الخراج والرهن و كذاالنوائب ولوبغيرحق كجبايات فى زماننافانهافي المطالبة كالديون بل فوقهاحتى لواخذت من الاكارفله الرجوع على مالك الارض وعليه الفتوى صدرالشريعة واقره المصنف وابن الكمال وقال ابن عابدين رَحْمَهُ اللهُ : والفتوى على الصحة وفي الخانية الصحيح الصحة ويرجع على المكفول عنه ان كان بامره وعليه مشى في الاختيار والمختار الخ.قلت غاية الامرانهماقولان مصححان ومشى على الصحة بعض المتون وهوظاهراطلاق الكنزوغيره لفظ النوائب. (الدرالمختارمع الشامية:۳۱۳/۴)

**فائده** :قسمت اونوائب يوشى دى دواړه عطف تفسيري دى ياله نوائبوڅخه هغه حصه كومه چي له رعاياڅخه دچاپرذمه راشي هغه ته قسمت وايي ،ځينى حضراتودنوائبواوقسمت ترمنځ فرق بيان كړى دى چي نوائب هغه دي چي په ناڅاپى ډول دكومى حادثى په وخت دپاچاله طرفه پررعاياباندي مقررشي اوقسمت هغه دى چي په مخصوص وخت كي په پابندي سره مقررشوى وي مثلاً دمحلى دچوكيدار تنخواه دمحلى پرخلكومقرره شي نودي ته قسمت وايي . (شامية:۳۱۴/۴)

(۱۲)كه يوه سړي بل ته وويل چي زه ستاليپاره دفلاني له طرفه دسلوروپوضامن يم چي يوه مياشت وروسته يي دركوي مكفول له ورته وويل چي هغه يوه مياشت وروسته نه بلكي همدااوس دستي يي راكوي يعني پرهغه باندى چي زماكوم قرض دى هغه په موده سره نه دى بلكي فوري دى نوپه دغه صورت كي دضامن يعني مقِرقول معتبردى ولى كفيل اقراروكړچي مكفول له يوه مياشت وروسته له ماڅخه دمطالبى حق لري اومكفول له وايي چي يوه مياشت وروسته نه بلكي فى الحال زه دمطالبى حق لرم چي كفيل منكردى يعني كفيل دفوري لزوم منكردى اوقول دمنكرسره له قسمه معتبردى .

(۱۳)يوچامنځه واخيسته يوبل سړى دهغه ليپاره ضامن بالدرك شويعني ددي خبري ضامن شوچي كه چيرته ددي منځي كوم مستحق پيداشونومشتري چي كومى روپۍ اداكړي دي له بائع څخه دهغوروپو واپس اخيستلوزه ضامن يم نوداكفاله صحيح ده ،بياكه واقعاددي منځي كوم مستحق پيداشونودمنځي مشتري دي له ضامن څخه دمنځي روپۍ نه اخلي ترڅوپوري چي قاضي بائع ته حكم ورنكړي چي دمنځي روپۍ مشتري ته واپس وركړه ولي يواځي دمنځي په استحقاق ثابتيدوسره بيع نه ماتيږي ځكه ممكن دى چي مستحق دغه بيع برقراره وساتي نوچي ترڅوپوري دقاضى له جانبه پربائع باندي دمشتري دپيسوواپس كيدوحكم نه يي شوى ترهغه پوري مشتري كفيل ته درجوع حق نه لري .

## باب كفالة الرجلين والعبدوعنه

داباب ددووكسانواودمريي دكفيل كيدواودمريي له طرفه دكفيل كيدوپه بيان كي دى

مصنف رحمه الله ديوه شخص دكفالى داحكامو له بيانولو څخه فارغ شواوس ددووكسانو دكفالى احكام بيانوي اوځنګه چې دوه طبعًا له يوه وروسته وي څكه نوذكرًاهم هغه مؤخركړاى شوچې وضع نه طبع سره مطابق شي.همدارنګه په دي باب كې دمريې له طرفه دكفيل كيدواودمريې دكفيل كيدو احكام هم بيانوي ځنګه چې په بنى آدموكې حريت اصل اواشرف دى نومناسبه داوه چې داصل احكام مخكې بيان شي اودغيراصل احكام وروسته ،څكه نومصنف رحمه الله دكتاب الكفاله په آخركې دمريانواحكام بيان كړي دي.

(۱)دين عليهما وكل كفل عن صاحبه فما اداه احدهمالم يرجع على شريكه فان زاد على النصف رجع بالزيادة (۲)وان كفلاعن رجل وكفل كل عن صاحبه فما اذى رجع بنصفه على شريكه او بالكل على الاصيل (۳)وان ابر الطالب احدهما اخذ الكفيل الاخر بكله.

**ترجمه** :ديوچاقرض باندي دى پردووكسانوباندى هريودخپل ملګري له طرفه كفيل شونوهريوچې څه اداكوي هغه به رجوع نه كوي په دي باره كې پرخپل شريک باندي بياكه يې ترنيم زيات اداكړل نودزيادت په باره كې دي رجوع وكړي اوكه دوه كسان كفيلان شول ديوه سړي له طرفه اوهريودخپل ملګري له طرفه هم كفيل شونوچې څه اداكوي رجوع دي وكړي دهغه دنيم په باره كې پرخپل شريک باندي يادكل په باره كې پراصيل (مكفول عنه) باندي.اوكه بري كړطالب (مكفول له )يوكفيل نوبوادي خلي له هغه بل كفيل څخه كل دين.

**تشريح** :(۱)كه قرض پردووكسانوباندي وو(مثلادووكسانوله يوچاڅخه ديوزردرهم په عوض يومريى واخيست) بياهغوئ دواړه هريودخپل ملګري له طرفه كفيل شونوله دغودواړونه چې هريوه نيم ياترنيم كم اداكړل نوهغه يې له خپل شريک څخه وابس نه شي اخيستلاى ولى له دواړونه پرهريوه باندي نيم قرض پرهغه ددين كيدوپه وجه لازم دى اونيم دكفالت په وجه لازم دى اوله دواړوڅخه هغه نيم قوي دى كوم چې ددين په وجه لازم دى ترهغه نيم چې دكفالت په وجه لازم دى څكه دلومړي سبب خريددى اودوهم سبب كفاله ده اوخريدتركفاله قوي دى نوچې كله نيم ياترنيم كم اداكوي نوويل كيږي چې داهغه نيم دى چې پرده باندي دمداينة په سبب لازم دى نوپه هغه كې خپل شريک ته رجوع نه شي كولاى اوچې كله ترنيم زائداداكوي نوويل كيږي چې داهغه زيادت دى چې پرده باندي دكفالت په سبب لازم دى نوڅكه په همدغه نيم كې خپل شريک ته رجوع كولاى شي.

(۲)كه دوه كسان ديوسړي له طرف نه مثلاديوزروروپوكفيلان شول په دي شرط چې له دوئ نه هريودهغه بل له طرفه هم كفيل دى نوچې څه هريواداكوي دهغه نيم له خپل ملګري څخه اخيستلاى شي كه كم وي كه زيات وي ولى نيم مال دكفاله له اصيل په وجه خپله دهغه له طرفه اداكيږي اونصف مال دكفاله عن الكفيل په وجه دهغه دملګري له طرفه اداكيږي نوځكه دنيم مال رجوع خپل ملګري ته كولاى شي ياله دواړوكفيلانوڅخه چې كوم يوه څه اداكړي دي هغه ټول له اصيل مكفول عنه څخه واخلي كه دهغه په امرسره ضمانت شوى وو ولى دمكفول عنه دطرف څخه دهغه په حكم سره دټول مال كفالت دى نوچې څه يې اداكړي دي ټول له مكفول عنه څخه اخيستلاى شي.

(۳) که مدعي یعنې مکفول له له هغوئ دواړو څخه یو بري کړنو بیا مدعي د ټول مال مطالبه له هغه بل څخه کولای شي ولی د کفیل بري کول د اصیل بري کېدل نه واجبوي بلکې اصیل بیا هم له معمول سره سم مقروض دی او دوهم کفیل ځرنګه چې د اصیل له طرفه هم د ټول مال کفیل دی نو ځکه قرض غوښتونکی په دې وجه د ټول مال مطالبه له دوهم کفیل څخه کولای شي.

(۴) وَلَوِ افْتَرَقَ الْمُفَاوِضَانِ وَعَلَيْهِمَا دَيْنٌ أَخَذَ الْغَرِيمُ أَيًّا شَاءَ بِكُلِّ الدَّيْنِ (۵) وَلَا يَرْجِعُ حَتَّى يُؤَدِّيَ أَكْثَرَ مِنَ النِّصْفِ (۶) وَإِنْ كَاتَبَ عَبْدَيْهِ كِتَابَةً وَاحِدَةً وَكَفَلَ كُلٌّ عَنْ صَاحِبِهِ فَمَا أَدَّى أَحَدُهُمَا رَجَعَ بِنِصْفِهِ (۷) وَلَوْ حَرَّرَ أَحَدَهُمَا أَخَذَ أَيًّا شَاءَ بِحِصَّةِ مَنْ لَمْ يَعْتِقْهُ فَإِنْ أَخَذَ الْمُعْتَقَ رَجَعَ عَلَى صَاحِبِهِ لَا إِنْ أَخَذَ الْآخَرَ لَا.

**ترجمه**: که سره جلا شول دوه شریکان د مفاوضه او پر دواړو باندې قرض وو نو قرض غوښتونکی چې غواړي له هغه څخه دې کل قرض واخلي او رجوع دې نه کوي آن تر دې چې ادا نکړي ترنیم زیات او که یې مکاتب کړل خپل دواړه مریيان په یوه کتابت کې او هریو کفیل شو د هغه بل له طرفه نو هریو چې څه ادا کړي د هغه د نیم په باره کې دې رجوع وکړي او که یې آزاد کړله دواړو څخه یو یې هغه دې واخلي له هریوه نه چې خوښه یې وي د هغه حصه کوم چې نه وي آزاد شوی بیا که واخیست هغه له آزاد شوي نه نو هغه دې رجوع وکړي خپل ملګري ته او که یې له هغه بل څخه واخیست نو بیا رجوع نه شي کولای.

**تشریح**: (۴) که د دوو کسانو ترمنځ شرکت مفاوضه وو (شرکت مفاوضه دادی چې دواړه شریکان برابرې پیسې سره یو ځای کړي تجارت کوي او له دوئ څخه هریو د خپل شریک له طرفه کفیل او وکیل وي) بیا دواړه سره جلا شول په داسي حال کې چې دواړه قرضدار دي نو قرض غوښتونکی چې له هغوئ دواړو څخه د هریوه نه چې یې زړه پوره قرض واخلي ولی له متفاوضینو څخه هریو د خپل ملګري له طرفه کفیل وي نو قرض غوښتونکی چې له هریوه څخه مطالبه نصف دین خو خپله د هغه پر ذمه واجب دی ځکه نو له هغه څخه د نیم مطالبه کولای شي او باقي نیم چې د هغه د شریک پر ذمه دی ځرنګه چې دا د هغه کفیل دی ځکه نو د باقي نصف هم له هغه څخه مطالبه کولای شي ځرنګه چې قرض غوښتونکی له هغه څخه د کل مال مطالبه کولای شي همداسي له دوهم شریک څخه هم د کل مال مطالبه کولای شي.

(۵) بیا که له متفاوضینو څخه کوم یوه د قرض غوښتونکي قرض ادا کړ هغه تر هغه وخته پورې خپل ملګري ته رجوع نه شي کولای تر څو چې ترنیم زیات ادا نکړي ولی هریو په اندازه د نصف اصیل یعنې مکفول عنه دی او ترنیم په زیات کې د هغه بل له طرفه کفیل دی نو چې کله نیم یا ترنیم کم ادا کوي نو ویل کیږي چې دا هغه دی چې پرده باندې په سبب د مداینة لازم دی ځکه نو خپل شریک ته رجوع نه شي کولای او چې کله ترنیم زیات ادا کوي نو ویل کیږي چې دا زائد هغه دی چې پرده باندې د کفالت په سبب لازم دی ځکه په دې کې خپل شریک ته رجوع کولای شي.

(۶) که دوه مریيان په یوه کتابت کې مکاتب شول مثلا مولی په دوه زره روپۍ مکاتبه ورسره وکړه او له هغوئ دواړو څخه هریو د هغه بل له طرفه کفیل شو نو د قیاس تقاضا داده چې کفالت جائز نه شي ولی بدل کتابت قرض صحیح نه دی کما مر، په داسې حال کې چې د کفاله د صحت لپاره ضروري ده چې قرض صحیح

وي،مګر استحساناً ددواړو مکاتبانو ترمنځ يودبل کفيل کيدل جائزبلل شوی دی وجه داستحسان دغه عقددحيله په ذريعه صحيح کول دی په دې دول چې له دواړوڅخه دهريوه آزادي په زرروپۍ پوري معلقه کړای شي بياهريودهغه بل کفيل وبلل شي نوګواکې داعقدکتابت نه بلکې په شرط پوري آزادي معلق کول دی نوځکه هريودبل لپاره کفيل کيدل صحيح دی بياچې له دغوزرو روپوڅخه څه کوم يواداکړي دهغه نصف دې دی له خپل ملګري څخه واخلي ولی دوئ دواړه په کتابت کې مساوي دي اوهريودهغه بل کفيل هم دی نودواړوترمنځ دمساوات دتحقق همداصورت دی چې کوم يوڅه اداکوي دهغه نصف دې له هغه بل څخه اخلي ځکه چې که چيرته کل مال له هغه بل څخه واخلي يابلکل هيڅ تري وانه خلي نومساوات نه راځي.

(۷)که په مذکورصورت کې له مکاتب کولووروسته اوبدل کتابت مخکې له دواړوڅخه يوخپل مولی آزادکړنومولی لره اختياردی چې کوم مکاتب نه دی آزادشوی دهغه دحصې په باره کې له چانه چې غواړي مطالبه وکړي ولې له هغوئ دواړوڅخه يو(چې مولی نه دی آزادکړی)اصيل دی اوبل (چې مولی له کتابت وروسته آزادکړی دی )دهغه کفيل دی اومکفول له له اصيل اوکفيل دواړوڅخه دمطالبې حق لري بياکه مولی له آزادشوي څخه مطالبه وکړه اوهغه اداکړه نوهغه چې څه اداکړي دي هغه دې له خپل ملګري څخه واخلي ولی هغه دده په حکم کفيل شوی مال يې اداکړی دی نوده لره درجوع حق شته،اوکه مولی له هغه مکاتب څخه مطالبه وکړه چې آزادشوی نه وونوهغه چې څه اداکوي هغه له آزادشوي څخه نه شي اخيستلای ولی ده چې څه اداکړي دي هغه يې دخپل ځان له طرفه اداکړي دي نوځکه هغه بل ته رجوع نه شي کولای.

(۸)وَمَن ضَمِنَ عَن عَبدٍ مَالاً يُؤخَذُ بِه بَعدَ عِتقِه فَهُوَ حَالٌ وَإِن لَم يُسَمِّ (۹)وَلَوِ ادَّعَى رَقَبَةَ العَبدِ وَكَفَلَ بِه رَجُلٌ فَمَاتَ العَبدُ فَبَرهَنَ المُدَّعِي اَنَّه لَه ضَمِنَ قِيمَتَه (۱۰)وَلَوِ ادَّعَى عَلَى عَبدٍ مَالاً وَكَفَلَ بِنَفسِه رَجُلٌ فَمَاتَ العَبدُ بَرِئَ الكَفِيلُ (۱۱)وَلَو كَفَلَ عَبدٌ عَن سَيِّدِه بِاَمرِه فَعَتَقَ فَاَدَّاهُ اَو كَفَلَ سَيِّدُه وَاَدَّاهُ بَعدَ عِتقِه لَم يَرجِع وَاحِدٌ عَلَى الآخَرِ

**ترجمه** :که څوک ضامن شودمريي له طرفه ددداسې مال چې دهغه په وجه دده مواخذه کيده دهغه له آزاديدو وروسته نوهغه فوري کيږي که څه هم ددې بيان يې نه وي کړی چې فوري دی ياغيرفوري دی اوکه يې دعوی وکړه دمريي درقبې اوبل سړی دهغه کفيل شوبيامريی مړشواومدعي په ګواهانوسره داثابته کړه چې دادده مريي وونوضامن کيږی دهغه دقيمت،اوکه يې دعوی وکړه پرمريي باندې دمال اوکفيل شويوڅوک دهغه دنفس بيامريی مړشونوکفيل بري کيږي اوکه مريی دخپل مولی کفيل شودهغه په امرسره اومريی آزادشويادهغه دامال اداکړيامالک دمريي کفيل شواوهغه مال اداکړدمريي له آزاديدووروسته نويوپربل باندې به رجوع نه کوي.

**تشريح** :(۸)که يوسړی ديوه مريي له طرفه دداسې مال ضامن شوکوم چې تراوسه پوري لاپرهغه باندې واجب الادانه دی بلکې له آزاديدووروسته يې دهغه پرذمه ادائيګی لازمه ده (مثلاًمريي دچادمال دهلاک کولواقراروکړاودهغه مولی دده تکذيب وکړ)نو داضمانت في الحال دی يعنې له کفيل څخه دمال کفاله في

الحال مضابه کيږي نو دي بايد هغه ته دا مال فوراً ورکړي که څه هم ضامن دانه يې ويلي چې زه في الحال دادائيګي ضامن يم ولې پر مريي باندې مال في الحال واجب دی ځکه سبب د وجوب (د غير د مال هلاک کولو اقرار) موجود دی او د مريي ذمه د قبوليت قابله ده البته في الحال له مريي مطالبه ځکه نه کيږي چې مريي تنګدست او نادار دی ولې د مريي په لاس کې چې څه وي هغه ټول د هغه د مولی ملکيت دی. نو چې کله پر مريي باندې في الحال مال واجب دی نو پر کفيل باندې هم مطالبه في الحال لازميږي او د کفيل په حق کې تاخير هم نه کيږي ځکه کفيل د مريي په شان تنګدست نه دی.

(۹) که د چا په قبضه کې يو مريي وي يو بل چا په هغه دعوی وکړه چې دا مريي زما دی. او د ريم سړی د دي مريي ضامن شو بيا مريي مخکې له دې چې مدعی ته وسپارل شي مړ شو او د غه مدعي په ګواهانو سره ثابته کړه چې دا مريي زما وو نو کفيل د مريي د قيمت ضامن کيږي ولې کوم سړی چې پر دغه مريي باندې قابض وو پر هغه باندې عين مريي واپس کول لازم وو البته هغه د عين مريي د واپس کولو څخه د عاجز کيدو په صورت کې د هغه قيمت واپس کول لازم دی او کفيل کفالت وکړ د هغه قسم واپس کيدو التزام يې وکړ چې پر مدعی عليه باندې لازم وو يعنې څرنګه چې له مرګه وروسته د مريي قيمت پر اصيل باندې واجب پاتيږي نو همدارنګه پر کفيل باندې هم باقي پاتيږي.

(۱۰) که چا پر مريي باندې د څه اندازې مال دعوی وکړه (مثلاً په مريي يې دعوه وکړه چې تا زما فلانی شی غصب کړی او هلاک کړی دی) او يو بل سړی د دې مريي د نفس ضامن شو بيا مريي مړ شو نو دغه ضامن له ضمانت څخه بري کيږي ولې خپله مريي له مرګه وروسته بري کيږي چې مکفول عنه او اصيل دی او د مريي بري کيدل د ضامن د بري کيدو سبب دی نو ځکه ضامن هم بري کيږي.

(۱۱) که يو مريي د مولی په خبره د مولي ضامن شو بيا هغه مريي آزاد شو او له آزادي وروسته يې د ضمانت مال ادا کړ، يا د مريي له طرفه د هغه مولی ضامن شو او د مريي له آزاديدو وروسته مولی د ضمانت مال ادا کړ نو په دغو دواړو صورتونو کې مريي يا مولی دادا کړای شوي مال په باره کې يو پر بل باندې رجوع نه شي کولای ولې کوم وخت چې دا کفالت واقع شوه نو په هغه وخت کې يې دا خبره نه ده واجبه کړې چې کفيل به مال ادا کوي له اصيل څخه به يې واپس اخلي ځکه چې مولی پر خپل مريي باندې د قرض مستحق نه کيږي يعنې د مولی پر خپل مريي باندې قرض نه شي راتلای ولې مريي سره له ټول مال د مولی ملکيت دی نو چې کله مولی د مريي له طرفه کفيل شي څه ادا کوي نو هغه د مريي پر ذمه باندې قرض نه کيږي او چې کله په ابتداء کې دا حکم دی نو چې مريي آزاد شي هم عقد مذکور نه بدليږي، همدارنګه مريي هم پر خپل مولی باندې د قرض مستحق نه ګرزي ولې مريي له ټول مال سره د مولی ملکيت دی.

**فائده**: دامام زفر رحمه الله په نزد په مذکوره صورت کې له مريي او مولی څخه هر يو خپل مکفول عنه ته رجوع کولای شي ولې د کفيل و مکفول عنه ته د رجوع کولو سبب دا دی چې کفاله د مکفول عنه په حکم سره شوې وي او دلته هغه سبب موجود دی البته د مريي او مولی يو پر بل د قرض د مستحق کيدو څخه رقيت مانع دی له آزادي وروسته دا مانع هم نه پاتيږي نو ځکه مولی مريي ته او مريي مولی ته د رجوع کولو اختيار لري.

## كتاب الحوالة

### داكتاب دحوالې په بيان كې دى

دكتاب الحوالـه لـه كتـاب الكفالـه سـره دمناسـبت وجـه داده چـې لـه كفيـل اومحـال عليـه څخـه هريوپرخپـل ځـان هغـه شـى لازمـوي كـوم چـې پراصـيل بانـدي واجـب وواوددواړومقصـدتوثق اواعتماددى يعنـې دكفالـه اوحوالـه پـه ذريعـه مكفـول لـه اومحتـال لـه تـه اطمينـان وركـول كيـږي البتـه پـه حوالـه كې محيـل بـري كيـږي پـه داسـى حـال كې چې پـه كفالـه كې مكفـول عنـه نـه بـري كيـږي ځكـه نوكفاله په منزله دمفرداوحواله په منزله دمركب دى ځكه يې دحوالې بيان وروسته كړ.

حواله لغةً په معنى دزوال اونقل دى اوپه شريعت كې دوثوق اواعتمادلپاره دمحيل له ذمى څخه دمحتال عليه وذمى ته ددين منتقل كيدوته حواله وايي ياپه بل عبارت دمديون دخپل قرض بل څوك دهغه په اجازه سره ذمه دارجوړولوته حواله وايي يعني قرض غوښتونكى به دمديون (پوروړي) پرځاى اوس له هغه شخص څخه خپل قرض وصولوي چاچې پرخپله ذمه حواله قبوله كړې ده .

**فائده**:په كتاب الحواله كې څواصطلاحى الفاظ استعماليږي چې دهغوپيژندل ضروري دى :۱-محيل ،هغه مقروض دى چې قرض حوال كړي . ۲-محال،قرض غوښتونكي ته وايي چې محال،محتال له اومحتال هم ورته وايي.۳-محتال عليه ،هغه چې پرخپل ځان حواله قبوله كړي . ۴-اومحال به،هغه مال چې حواله كيږي.

(۱)هى نقل الدين من ذمة إلى ذمة(۲)وتصح في الدين لا في العين(۳)برضاء المحتال والمحتال عليه(۴)وبرئ المحيل بالقبول من الدين (۵)ولم يرجع المحتال على المحيل الا بالتوى(۶)وهو ان يجحد الحوالة ويحلف ولا بينة له عليه اويموت مفلسا.

**ترجمه**:هغه دقرض منتقل كول دى له يوې ذمي څخه بلې ذمي طرف ته،اوصحيح دى په دين كې نه په عين كې ،دمحتال اومحتال عليه په رضامندي سره اوبري كيږي محيل په قبول كولوسره له دين نه،اورجوع به نه كوي محتال پرمحيل باندي مگردحق دهلاكت په صورت كې ،اوهغه داچې محتال عليه دحوالى څخه انكاروكړي اوقسم واخلي اومحتال له پرهغه باندي گواهان نه لري،يامړشي محتال عليه دمفلسى په حالت كې.

**تشريح**:(۱)مصنف رحمه الله دحوالى شرعى تعريف داسي كړى دى چې له يوې ذمي يعنې(دمحيل له ذمي څخه )بلې ذمي يعنې (محتال عليه ذمي)ته دقرض منتقل كيدوته حواله وايي،بياپه دي كې اختلاف دى چې دحواله كيدووروسته محيل چې څرنگه له مطالبى څخه بري كيږي همدارنگه آياله قرض څخه هم بري كيږي كه نه ؟ نودځينو مشائخوپه نزدله دواړوڅخه بري كيږي اودځينوپه نزديواځي له مطالبى څخه بري كيږي له قرض څخه نه بري كيږي .

**فائده**:صحيح دادى چې له دواړوڅخه بري كيږي لمافي الدرالمنتقى :واذاتمت برئ المحيل بالقبول من الدين والمطالبة جميعاعلى الصحيح.(الدرالمنتقى:۳/۲۰۵)

(۲)په قرضوكې حواله جائزه ده په اعيانوكې جائزه نه ده ولى حواله په معنى دنقل اوتحويل ده اونقل په ديونوكې ممكن دى په اعيانوكې امكان نه لري ولى دين غيرمتعين وي نوځكه يې محتال عليه هم اداكولاى شي اوعين ځرنګه چې متعين وي ځكه يې نوهغه څوک اداكولاى شي له چاسره چې موجودوي.

(۳)قوله برضاء المحتال والمحتال عليه اى تصح الحوالة برضاء المحتال والمحتال عليه،يعنې حواله دمحتال له اومحتال عليه په رضامندي سره صحيح كيږي ،دمحتال له رضامندي ځكه شرط ده چې قرض دهغه حق دى چې دحوالې په ذريعه له يوې ذمې څخه بلې ذمي ته منتقل كيږي اودخلكوذمې داداكولواوتروخت ځنډولوپه اعتبارسره مختلفي دي (يعنې ځيني خلك دقرض په اداكولوكې خوراجدي وي اوځيني بيا له سستي اوكهالي څخه كاراخلي) نوپه حواله كې دمحتال له دضرراحتمال شته ځكه نودمحتال له رضامندي شرط ده اودمحتال عليه رضامندي ځكه شرط ده چې په حواله كې دمحيل له طرفه پرمحتال عليه باندي ددين لازميدل راځي اولزوم بغيرالتزام نه شي راتلاى يعني ترڅوپوري چې محتال عليه پرخپل ځان دقرض التزام ونه كړي قرض نه پرلازميږي اوالتزام په رضامندي سره كيږي.

**فائده** :ديوه روايت مطابق دمحيل رضامندي هم شرط ده مګردامختارروايت نه دى.صحيح اومفتى به روايت دادى چې دحوالي دصحت لپاره دمحيل رضامندي شرط نه ده ولى محتال عليه چې پرخپل ځان قرض لازموي داپه خپل حق كې تصرف كوي چې په دي كې دمحيل هيڅ نقصان نشته بلكې دهغه فائده ده نوځكه دمحيل رضامندي ضروري نه ده واماالمحيل فالحوالة تصح بدون رضاه وهذاهوالصحيح وعليه الفتوى صرح به فى الدرالمنتقى وقيل لابدمن رضاالمحيل ايضاوهوالمديون والمختارعدم اشتراطه كمافى الشرنبلالية عن البرهان وكذارجحه صاحب الهداية حيث لم يقم الدليل الاعليه وعليه جرى المصنف رحمه الله فتنبه.(انظرحاشية للشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله على الهداية:۳/۱۲۹)

(۴)حواله چې كله دمحتال له اومحتال عليه په قبلولوڅخه تامه شي نومحيل له قرض څخه بري كيږي يعني بياقرض غوښتونكى مقروض ته درجوع حق نه لري ولى احكام شرعيه دلغوى معانيوومطابق ثابتيږي اوپه لغت كې قرض له يوې ذمې څخه بلې ذمې ته منتقل كولوته حواله وايې نوقرض چې كله دمحيل له ذمې څخه دمحتال عليه دذمې طرف ته منتقل شونودمحيل پرذمه نه پاتيږي نوځكه محيل له قرض څخه بري كيږي.

**فائده** :امام زفر رحمه الله حواله پركفاله باندي قياسوي چې لكه ځرنګه چې په كفاله كې مكفول عنه له قرض څخه نه بري كيږي همدارنګه په حواله كې محيل له قرض څخه نه بري كيږي ،امام زفر رحمه الله ته جواب وركړل شوى دى چې حواله پركفاله باندي قياسول صحيح نه دى ،ولى كفاله ضم الذمة الى ذمةٍ ته وايې اوحواله انتقال الدين من الذمة الى ذمةٍ ته وايې ددواړو دمعانيوترمنځ فرق دى نوځكه يوپربل باندي قياسول صحيح نه دى.

(۵)قوله ولم يرجع المحتال على المحيل اى اذاتمت الحوالة بالقبول برئ المحيل ولم يرجع المحتال بدينه على المحيل بشئ،يعنې دحوالې له تاميدووروسته محتال له محيل ته درجوع حق نه لري بلكې له محتال عليه څخه دې دخپل حق مطالبه كوي مګرداكه دمحتال له حق فوت شي (چې دي ته توى وايې )مثلاً محتال عليه دحوالې انكاروكړي چې پرهغه باندي دمحتال له بينه هم نه وي يامحتال عليه مفلس مړشي نوپه دغه صورت كې

محتال له محيل ته درجوع حق لري ولى دمحيل بري كيدل مقيددى چې محتال له ته خپل حق سالم ورسيږي ولى له حوالې څخه مقصوددادى چې دمحتال له حق محفوظ وي چې كله مقصود حاصل نه شونو حواله نه پاتيږي نوځكه محتال له محيل ته درجوع حق لري ،دامام شافعي رحمه الله په نزددحق دهلاكت په صورت كې محتال له هم محيل ته درجوع كولو حق نه لري .

(۶)دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددمحتال عليه حق له دووشيانوڅخه ديوه په موجوديدوسره راځي

**نمبر - ۱**محتال عليه چې دحوالې څخه انكاروكړي قسم واخلي په داسى حال كې چې دمحتال له اومحيل سره دمحتال عليه ددعوى په خلاف ګواهان هم نه وي .

**نمبر - ۲**چې محتال عليه مفلس مړشي ولى په دي دووصورتونوكې محتال له دخپل حق له وصولولوڅخه عاجزكيږي ځكه نومحتال له محيل ته رجوع كولاى شي .

**فائده** :دصاحبينورحمهماالله په نزدله دي دووخبروسره په يوه بله دريمه خبره هم دمحتال عليه حق فوت كيدلاى شي هغه داچې قاضي دمحتال عليه په ژوندكې دهغه دمفلس كيدوحكم وكړي چې داسړى مفلس دى ولې په دي صورت كې هم محتال له دخپل حق له وصولولوڅخه عاجزكيږي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله اوصاحبينورحمهماالله دغه اختلاف پريوه بل اختلاف بادي مبني دى هغه دادى چې دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدحاكم په مفلس بللوسره افلاس نه ثابتيږى په داسي حال كې چې دصاحبينو رحمهماالله په نزدثابتيږي،دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافى الشامية:وهذابناءعلى ان تفليس القاضى يصح عندهماوعنده لايصح لانه يتوهم ارتفاعه بحدوث مال له فلايعودبتفليس القاضى على المحيل فتح وتعذرالاستيفاء لايوجب الرجوع الاترى انه لوتعذربغيبة المحتال عليه لايرجع على المحيل بخلاف موته مفلسالخراب الذمة فيثبت التوى وتمامه فى الكفاية وظاهر كلامهم متوناوشروحاتصحيح قول الامام ونقل تصحيحه العلامة قاسم ولم ارمن صحح قولهما.(ردالمحتار:۳۲۶/۴،كذاقال الشيخ عبدالحكيم الشاه وليكوتى على هامش الهداية ۱۳۰/۳:)

(۷)فَإن طَلَبَ المُحتال عَليه المُحيل بِمَا احَالَ فَقَال المحِيل أحَلتُ بِدَينٍ لِى عَلَيک ضَمِن المُحِيل مِثل الدَّين (۸)وَإن قَالَ المُحِيل لِلمُحتَالِ أحَلتُک لِتَقبِضَه لِى فَقَالَ المُحتالُ لابَل أحَلتَنِى بِدَينٍ لِى عَلَيک فَالقَولُ لِلمُحِيل (۹)وَلَو أحالَ بِمَالَه عِندَزَيدٍوَدِيعةً صَحّت فَإن هَلَكت بَرِئَ (۱۰)وَكُرِه السفاتج.

**ترجمه** :كه چيرته مطالبه وكړه محتال عليه له محيل څخه دهغه چې ده حواله كړى ووا ومحيل وويل چې مادهغه پورحواله كړي وه كوم چې زماپرتاباندي وونومحيل ضامن ګرځي دمثل دين،اوكه چيرته محيل محتال ته وويل چې ماددي لپاره حواله كړي وه چې ته زماقرض زمالپاره قبض كړي اومحتال وويل نه بلكې تادهغه دين حواله كړي وه چې زماپرتاباندي وونودمحيل قول معتبريږي اوكه حواله كړهغه چې له زيدسره امانت وونوصحيح دى پس كه چيرته هغه هلاک شوى وونومحتال عليه بري كيږي اومكروه دى سفاتج .

**تشريح** :(۷)كه محتال عليه دمحيل له طرفه دقرض اداكولودعوه وكړه له محيل څخه يې دحواله په اندازه مال طلب كړمحيل ورته وويل چې تاته خوماحواله دخپل هغه قرض په عوض كې كړي وه كوم چې ستاپرذمه وونوته ماته درجوع حق نه لرې نودمحيل قول نه قبليږي بلكې محيل ددين په اندازه ضامن ګرځي ولى

دمحیل له طرفه: هغه په حکم سره دقرض داداکولو په وجه دمحتال علیه درجوع دحق سبب متحقق شوی دی نوځکه محیل ددین په اندازه ضامن ګرځي باقي دمحیل له طرفه پرمحتال علیه باندي دقرض دعوی کول ځرنګه چې ګواهان نشته اومحتال علیه منکردی اوقول دمنکرسره له قسمه معتبرېږي ځکه نودمحیل قول نه معتبرېږي.

(۸)که محتال علیه دمحتال له قرض اداکړپیامحیل له محتال له څخه دهغه قرض مطالبه وکړه چې دا پرمحتال علیه باندي حواله کړی وویعني محیل به محتال له ته ووایې چې ماخوته یواځي دهغه دقرض دوصولولو لپاره وکیل ګرځولی وي چې ته هغه زمالپاره قرض کړي (لفظ دحواله دوکالت په معنی کې مجازًا مستعملیږي) اوس ځرنګه چې تاهغه قبض کړی دی نوماته یې راکړه .مګرمحتال له انکاروکړاوویې ویل تادهغه دین په عوض حواله کړي وه کوم دین چې زماستاپرذمه لازم وو .نوپه دغه صورت کې دمحیل قول سره له قسم اخیستلو معتبرېږي ولی محتال له پرمحیل باندي ددین دعوی کوي اومحیل منکردی اوقول دمنکرسره له یمین معتبرېږي.

(۹)که چاخپل هغه مال حواله کړچې له زیدسره یې دامانت په ډول ایښی وونوداحواله صحیح ده یعني محیل زیدته وویل چې ستاسره چې زماکوم امانت دی هغه راواخله دمحتال له چې کوم قرض پرمادی هغه اداکړه نوداحواله صحیح ده ولی په دی کې پرادائیګی باندي دمحتال علیه زیات قدرت شته ولی دمحیل له طرفه خپله داداکولو مال موجوددی محتال علیه دمال دادائیګی لپاره دمال غوښتلوته ضرورت نه لري یاکه دغه له زیدیعني محتال علیه سره هلاک شي نومحتال علیه له حوالې څخه بري کیږي ولی حواله په هغه مال سره مقیده وه کوم چې له محتال علیه سره امانت ووکله چې امانت نه شوپاتی نوحواله هم نه پاتیږي.ځکه نومحتال علیه بری کیږي اومحتال له دخپل قرض په باره کې اوس محیل ته رجوع کوي.

(۱۰)سفاتج دسُفْتَجة (بضم السین فتح الباء)جمع ده په معنی دشی محکم .دفقهاؤپه اصطلاح کې سفتجه داده چې مقرض په دي شرط مستقرض ته قرض ورکړي چې بیامستقرض دغه قرض په هغه ښارکې اداکوي په کوم ښارکې چې یې مقرض غواړي چې دمقرض مال دلارې له خطري څخه محفوظ شي.ددې صورت دادی چې مثلازیدپه کراچي کې کاروبارکوي له کوئټې نه یومسافرکراچي ته ورغی زیدهغه ته لس زره روپۍ ورکړي ورته وې ویل په دي سره دلته کاروباروکړه چې کوئټې ته ولاړشي هلته یې زماوکیل نه ورکړه ولی په دي صورت کې دقرض ورکوونکي فائده داده چې لس زره روپۍ پخپله له کراچي څخه کوئټې ته دراوړلوپه صورت کې په لاره کې خطره شته نوده هغه بل سړي ته قرض ورکړې دلارې له خطرې څخه یې محفوظې کړې ،اودکوم قرض څخه ګټه اخیستله کیږي په حدیث شریف کې دهغه ممانعت راغلی دی ځکه نوداصورت مکروه دی.

**فائده** :مولاناخالدسیف الله رحماني صاحب مدظله لیکلي دي چې دمالکیه ؤپه نزدمکروه دی خوکه چیرته خطره عامه وه اوله یوه ښارڅخه بل ښارته دمال وړل عمومًاپه خطره کې وونوبیاجائزده.له امام احمد رحمه الله څخه دواړه قولونه منقول دي مګردحنابله ؤپه نزددمصلحت لپاره جوازته ترجیح ورکول شوي ده په اوسني

زمانه کې سفري ډرافټ حواله وغیره دسفتجه په حکم کې دي اوپه موجوده زمانه کې دامنیت دنشتوالي اوعدم تحفظ په وجه دحنابله ؤاومالکیه ؤپه رایه باندي په عمل کولو کې قباحت نشته هذا ما عندی والله اعلم بالصواب (قاموس الفقه :۴/ ۱۵۵) دددپه باره کې دحضرت مولانامحمدتقی عثمانی صاحب په دتقریرترمذی په حواله مخکې نقل شوي ده.

## كتاب القضاء

دکتاب القضاء له ماقبل سره مناسبت دادی چې لکه څرنگه چې په بيوعواوکفالاتووغيره کې داکثره خلکوترمنځ جنجالونه رامنځ ته کيږي اوپه قضاء سره دخلکوجګړي ختميږي ځکه نومصنف ﷺ دبيوعووغيره له تفصيل بيانولووروسته دقضاء احکام بيان کړي دي .دقضاء لغوي معنى فيصله کول.يوشي مضبوط کول.يوشي خپل انتهاء ته رسول اواداکول،اودشريعت په اصطلاح کې قضاء هغه قول ملزم دی چې له ولايت عامه څخه صادروی يعني داقول چې له داڅخه صادريږي هغه به ولايت عامه لري اودهغه داقول به پرمخاطب لازم وي .

**فائده** :دقضاء مناسب څواصطلاحي الفاظ دي چې پيژندل يې ضروري دی :۱-قاضي.يعني حکم کوونکی جګړه ختموونکی ۲-مقضی به .يعني هغه دليل چې قاضی يې دخپلي فيصلي لپاره بنيادوګرځوي ۳-مقضی له .دچاچې حق پربل باندي ثابت شي . ۴-مقضی عليه .پرچاباندي چې دبل حق ثابت شي .

**فائده** : دقضاء لپاره شپږشرطونه دي چې ابن الغرس په لاندي نظم کې بيان کړي دي :

اطراف كل قضية حكمية: ست يلوح بعدها التحقيق:
حكم ومحكوم به وله: ومحكوم عليه وحاكم وطريق. (المعتصر الضروری: ص ۲۹۳)

(۱)أهله أهل الشهادة (۲) والفاسق أهل للقضاء كما هو أهل للشهادة إلا أنه لا ينبغي أن يقلد (۳) ولو كان القاضي عدلا ففسق بأخذ الرشوة لا ينعزل ويستحق العزل (۴) وإذا أخذ القضاء بالرشوة لا يصير قاضيا (۵) والفاسق يصلح مفتيا وقيل لا.

**ترجمه** :اهل قضاء هغه څوک دی چې اهل دشهادت وي،اوفاسق هم اهل قضاء دی لکه چې اهل دشهادت دی مګرمناسبه نه ده چې هغه قاضي مقررشي که قاضي عادل ووبيادرشوة په اخيستوسره فاسق شونونه معزوليږي اودمعزوليدومستحق ګرځي اوچې کله واخلي عهده دقضاء درشوة په ذريعه نوقاضي نه کيږي،اوفاسق مفتي کيدای شي اوچاويلي دي چې نه شي کيدای .

**تشريح** :(۱)دقاضي مقررکيدواهل هغه څوک دی په چاکې چې دشهادت شرطونه جمع وي مثلاعاقل. بالغ،مسلمان وغير.کيدل ، وجه يې داده چې حکم دشهادت هم دقضاء له حکم څخه مستفاددی ولی قضاء اوشهادت هريودولايت قسم دی يعني قاضي اوشاهددواړه خپل قول پرغيرباندي نافذوي البته ددواړوترمنځ فرق دادی چې ګواه پرقاضی باندي فيصله کول لازموي اوقاضی خپل حکم پرخصم باندي لازموي ځکه نوڅوک چې دشهادت لائق وي هغه دقضاء هم لائق دی اوکوم شرطونه چې دشهادت دي هغه شرطونه دقضاء هم دي .

**فائده**: دشرعي شرطونو په مراعاتولوسره چې دوخت حكومت دمسلمانانو دشخړو دحل كولو لپاره مجسټريټ يا جج مقرر كړي هغه دشرعي قاضي قائم مقام ګرځي . (حقانيه: ۳۶۲/۵)

(۲) او فاسق دقاضي كيدو اهل دى لكه چې هغه دګواهي وركولو اهل دى او دا خبره تيره شوه چې څوك لائق دشهادت وي هغه لائق دقضاء هم دى خو فاسق قاضي جوړول مناسب نه دى ولې قضاء د امانت له قبيل څخه ده او فاسق دفسق په وجه د امانت داري لائق نه دى .

**فائده**: مګر د ائمه ثلاثه ؤ په نزد فاسق سړى قاضي مقررول جائزنه دى ځكه پر فاسق باندي دهغه دفسق په وجه اعتماد نه كړل كيږي ،له احنافو څخه امام طحاوي رحمه الله هم همدا قول اختيار كړى دى ،زمونږ له ائمه ثلاثه ؤ څخه هم يو روايت داسي منقول دى ،ويل كيږي چې په اوسنى زمانه كې فتوى پر همدي قول باندي وركول پكار دى، مګر ډېرو حضراتو رايه داده چې كه دفاسق قاضي كيدل ناجائز وبلل شي نو دقضاء دروازه بنديږي خاص بيا په موجوده زمانه كې ځكه نو هغه چې مصنف رحمه الله ذكر كړى دى هغه اصح دى لمافي الشامية (قوله والفاسق اهلها) .........والفصح بهذه الجملة دفعالتوهم من قال ان الفاسق ليس باهل للقضاء فلايصح قضائه لانه لايومن عليه لفسقه وهوقول الثلاثة واختاره الطحاوي قال العيني وينبغى ان يفتى به خصوصافى هذاالزمان ,أقول لواعتبرهذالانسدباب القضاء خصوصافى زماننافلذاكان ماجرى عليه المصنف هوالاصح كمافى الخلاصة وهواصح الاقاويل كمافى العمادية .(ردالمحتار: ۳۳۳/۴)

(۳) كه ابتداءً قاضي عادل وي بيا د رشوة په اخيستو يا ديوې بلې كبيره ګناه په وجه فاسق شي نو دى دقضاء له دندې څخه نه معزول كيږي ولې فاسق اهل شهادت دى او څوك چې اهل شهادت وي هغه قاضي ګرځيداى شي ،نو چې په ابتداء امر كې فاسق شخص قاضي ګرځيداى شي انتهاء دفسق په طاري كيدو سره په طريقه اولى قاضي نه معزول كيږي ،ځكه دا قاعده ده چې ابتداء امر د انتهاء امر په مقابل كې آسانه وي ،البته دفسق د راتلو په وجه پر باچا باندي دهغه معزول كيدل واجب دى خو تر څو پوري چې معزول شوى نه وي تر هغه پوري چې يې په رشوت وغيره سره كوم حكم كړى دى هغه نافذيږي ،واستحسنه فى الفتح وينبغى اعتماده للضرورة فى هذاالزمان والابطلت جميع القضايا الواقعة الان لانه لاتخلو قضية عن اخذ القاضى فى الرشوة المسماة بالمحصول قبل الحكم اوبعده فيلزم تعطيل الاحكام. (ردالمحتار: ۳۳۸/۴)

(۴) كه يوه چالوى آفسر ته رشوة وركړ څپل ځان يې قاضي مقرر كړ نو داسړى نه قاضي كيږي يا كه هغه دكوم عقد حكم وكړ يا يې يو عقد فسخ كړ نو دهغه دا تصرفات نه نافذ كيږي ولې نبي كريم ﷺ پر راشي او مرتشي باندي لعنت ويلى دى ،قال العلامة ابن عابدين رحمه الله :اذااخذ القضاء بالرشوة لايصير قاضيا كمافى الكنز قال فى البحر وهو الصحيح ولوقضى لم ينفذ وبه يفتى. (ردالمحتار: ۳۳۸/۴)

**فائده**: ځيني خلك درشوت په وركولو سره نوكري حاصلوي ،په داسى حال كې چې رشوت اخيستل او وركول دواړه حرام دي، خو ځيني خلك رشوت وركولو ته مجبور كيږى له رشوت بغير نوكري حاصلول مشكله وي سركاري افسران خندونه ورته جوړوي په داسي صورت كې كه دظلم ددفع لپاره رشوت وركړل شي نو اميد دى چې الله تعالى به يې مواخذه نه كوي ،او دا چې درشوت په وركولو سره نوكري حاصله كړي نو دهغه سړي

دتنخواه حکم دادی چې که چیرته دغه سړی دکار اهلیت ولري او کوم کار چې هغه ته ورسپارل شوی وي هغه سم ترسره کوي نو دهغه تنخواه حلاله ده او که هغه دکار اهلیت نه لري یا کار سم نه شي ترسره کولای نو تنخواه یې حلاله نه ده . (جدید معاملات شرعی احکام :۱/ ۱۷۹)

(۵) فاسق سړی مفتي کیدای شي که نه ؟ په دي مسئله کې اختلاف دی ،دځینو علماؤ رایه داده چې فاسق مفتي کیدای شی ولی غلطي ته دمنسوب کیدوله ویري فاسق دصحیح مسئلي ښودلو کوشش کوي نو ځکه دفاسق مفتي کیدل صحیح دی ،دځینو حضراتو رایه داده چې فاسق مفتي نه شي کیدای یعنې دفاسق پر فتوی باندي اعتماد نه شي کیدای ولی فتوی ورکول له دینی امورو څخه ده او په دیني امورو کې دفاسق خبر مقبول نه دی ،همدا قول صحیح دی :لما فی الدّر المحتار (والفاسق لایصلح مفتیا) لان الفتوی من امور الدین والفاسق لایقبل قوله فی الدیانات ابن ملک ,زاد العینی واختاره کثیر من المتاخرین وجزم به صاحب المجمع فی متنه وله فی شرحه عبارات بلیغة وهو قول الائمة الثلاثة ایضا وظاهر مافی التحریر انه لایحل استفتاؤه اتفاقا کمابسطه المصنف (الدّر المختار علی هامش الشامیة: ۳/ ۳۳۵)

(۶) وَلَا یَنبَغِي أَن یَکُونَ القَاضِي فَظًّا غَلِیظًا جَبَّارًا عَنِیدًا وَیَنبَغِي أَن یَکُونَ مَوثُوقًا بِهِ فِي عَفَافِهِ وَعَقلِهِ وَصَلَاحِهِ وَفَهمِهِ وَعِلمِهِ بِالسُّنَّةِ وَالآثَارِ وَوُجُوهِ الفِقهِ (۷) وَالاِجتِهَادُ شَرطُ الأَولَوِیَّةِ (۸) وَالمُفتِي یَنبَغِي أَن یَکُونَ هٰکَذَا.

**ترجمه** :او مناسب دی چې قاضي سخت مزاج ،دېرزړی ،جابر او دښمني کوونکی نه وي او مناسب دی چې قابل اعتماد وي له حرامو څخه دځان ساتني په باره کې او په عقل او اصلاح او فهم کې او د احادیثو او صحابه کرامو داقوالو او وجوه فقه دواقف کیدو په باره کې او مجتهد کیدل د اولویت شرط دی او مفتي مناسب دی چې همداسي وي .

**تشریح** :(۶) او مناسب نه دی چې قاضي بدمزاج ،دېرزړی ،جابر له حق او اهل حق سره عناد ساتونکی وي ولی له قضاء څخه مقصود دفع دفساد ده په داسی حال کې چې داصفات خپله عین فساد دی ،بلکې قاضي بایدداسی شخص وي چې دمحرماتو څخه دپرهیز کولو په وجه دخلکو پر هغه اعتماد وي ، همدارنګه دهغه پر عقل ،دهغه پر صالح کیدو دهغه پر فهم دخلکو اعتماد وي او پردي دخلکو اعتماد وي چې هغه په سنتو او آثار صحابه کرامو او وجوه فقه (هغه طریقې چې فقه ور څخه استنباطیږی) باندي واقف دی چې سبب د اصلاح وي نه دفساد .

(۷) او دقاضی مجتهد کیدل د اولویت شرط دی دجواز شرط نه دی یعنې دقاضی ګرځیدو لپاره مجتهد کیدل شرط نه دی بلکې اولی دادی چې قاضي مجتهد وي ،نو ځکه زموږ په نزد دغیر مجتهد قاضی تاکل جائز دی ولی دا ممکنه ده چې غیر مجتهد قاضي دیو مجتهد قاضی په حکم سره قضاء جاری کړي نو خپله دقاضي مجتهد کیدل ضروري نه دی په داسی حال کې چې دائمه ثلاثه ؤ (امام مالک رحمه الله ،امام شافعی رحمه الله او امام احمد ابن حنبل رحمه الله ) په نزد دغیر مجتهد قاضي کیدل ناجائز دی ،او له قاضی مجتهد څخه مراد داسی څوک دی چې دحادثه دوقوع په وخت دمسئلي حکم له نصوصو څخه معلوم ولای شي .

(۸) او مناسب دی چې په مفتي کې هم دقاضی بالامذکور صفات پیدا شي یعنې بدمزاج ،سخت زړی ،جابر له حق او اهل حق سره عناد ساتونکی نه وي بلکې مفتي بایدداسي څوک وي چې له حرامو څخه دپرهیز کولو په وجه پري دخلکو اعتماد وي همدارنګه دهغه پر عقل ،دهغه په صالح کیدو دهغه پر فهم ، او پردي

د. نکوا .. ماد ي چې هغه په سنتو او آثار صحابه باندي واقف دی اوپردي دخلکو اعتماد وي چې په وجو
فق . (يعن هغه طريقي چې فقه ورڅخه استنباطيږی ) باندي واقف دی چې سبب د اصلاح وي سبب دفساد
و . .

**فائده** :۱۰اصوليينوپه نزدمفتي هغه دی چې مجتهدوي اوڅوک چې مجتهدنه وي بلکې دائمه وُداقوالوپه
نقل کولوسره دمسئلی حکم بيانوي هغه داصوليينوپه نزدمفتي نه دی بلکې ناقل دی يعني دمفتيانودکلام
نقل کوونکی دی،څرنګه چې په دي زمانه کې دمجتهد قاضی اومفتي پيداکيدل مشکل دی ځکه نودهدي
زماني ناقلين ددي وخت مفتيان شمارل کيږي .

(۹) وَكُرِهَ التَّقَلُّدُ لِمَنْ خَافَ الْحَيْفَ (۱۰) وَإِنْ أَمِنَهُ لَا (۱۱) وَلَا يَسْأَلُهُ (۱۲) وَيَجُوزُ تَقَلُّدُ الْقَضَاءِ مِنَ السُّلْطَانِ الْعَادِلِ وَالْجَائِرِ (۱۳) وَمِنْ أَهْلِ الْبَغْيِ (۱۴) فَإِنْ تَقَلَّدَ يَسْأَلُ دِيوَانَ قَاضٍ قَبْلَهُ وَهُوَ الْخَرَائِطُ الَّتِي فِيهَا السِّجِلَّاتُ وَالْمَحَاضِرُ وَغَيْرُهُمَا (۱۵) وَيَنْظُرُ فِي حَالِ الْمَحْبُوسِينَ فَمَنْ أَقَرَّ بِحَقٍّ أَوْ قَامَتْ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ أَلْزَمَهُ (۱۶) وَإِلَّا نَادَى عَلَيْهِ (۱۷) وَعَمِلَ فِي الْوَدَائِعِ وَغَلَّاتِ الْوَقْفِ بِبَيِّنَةٍ وَإِقْرَارٍ (۱۸) وَلَمْ يَعْمَلْ بِقَوْلِ الْمَعْزُولِ إِلَّا أَنْ يُقِرَّ ذُو الْيَدِ أَنَّهُ سَلَّمَهَا إِلَيْهِ فَيُقْبَلُ قَوْلُهُ فِيهَا.

**ترجمه** :اومکروه دی عهده دقضاء قبلول دهغه چالپاره چې دظلم کولو ويره وي ورڅخه،اوکه له ظلم نه په امن
وونوبيانه دی مکروه،اوطلب دي نه کوي دعهده قضاء،اوجائزدی عهده دقضاء قبلول له عادل اوظالم
پاچاڅخه اوله باغيانوڅخه،بياچې کله قاضي شي نوطلب دي کړي دسابقه قاضی دفترچې هغه بستی دی چې
پکي داحکامورجسترليکني وغيره وي بيادي دبنديانودحالاتوجاج واخلي کوم بندي چې اقراروکړي دحق
ياګواهان قائم شي پرهغه نوپرهغه دي حق لازم کړي که نه دهغه په باره کې دی قاضي اعلان وکړي اوعمل دي
وکړي په اماناتوکې اودوقف په پيداوارکې دګواهانودااقرارمطابق اوعمل دي نه کوي دمعزول قاضي په
قول مګرداکه
قابض اقراروکړي چې داوده ته معزول قاضي ورکړی دی نوپه دي صورت کې دي دهغه قول قبول کړي .

**تشريح** :(۹)څوک چې پخپل ځان داباورنه لري چې دقضاء په حکم کې دی له ظلم څخه وساتل شي يعني
داويره وي چې زه په مشروع طريقه سره خپل فرض نه شم اداکولای بلکې دغيرمشروع اعمالومرتکب کيږم
نودداسي چالپاره قاضی مقررکيدل مکروه تحريمی دی ولی دادول څوک چې قاضي شي نودظلم سبب ګرځي
اوظلم يوډيرقبيح عمل دی نوسبب ګرځيدل يې هم قبيح دی .

(۱۰)دداسي چالپاره قاضي مقررکيدل هيڅ باک نه لري څوک چې پرخپل ځان باورلري چې زه خپل
فرض اداکولای شم يعني دشريعت داصولومطابق حکم کولای شم ولی ډيروصحابه کراموتابيعنو رحمهم الله
دقضاء عهده قبوله کړي ده چې دهغوئ پيشوائي زموږلپاره کافي ده .

**فائده** :دځينوحضراتورايه داده چې پرخپل ځان يې دظلم نه کولوباوروي بياهم دقضاء منصب قبلول
مکروه دی ولي ډيروامامانو(لکه امام ابوحنيفة رحمه الله اوامام شعبی رحمه الله ) دقضاء له عهده قبلولوڅخه
انکارکړی دی روايت دی چې له امام صاحب رحمه الله څخه دري ځله دقضاء دمنصب قبلولوغوښتنه شوې ده

هرځل به هغه انكاركاوه چې په نتيجه كې به هرځل ديرش درې وهل كيده ،وقال النبي ﷺ :من جعل على القضاء فكأنما ذبح بغير سكين) يعنې څوک چې دقضاء پر منصب مقرر كړاى شي نو ګواكې هغه بې له چړې حلال كړاى شو) .(الدر المختار على هامش ردّ المحتار : ۳۴۲/۴)

**فائده** :مګر صحيح داده چې كه څوک دقضاء اهل وي او پر خپل ځان يې باور وو نو هغه لره په دې تمه دقضاء عهده قبلولو رخصت شته چې عدل به قائم كړي خو پرترک باندې هم عزيمت دى،خو كه څوک دقضاء دمنصب اهل وو او په بل چاكې اهليت نه وو نو پردغه سړي باندې دهغه منصب قبلول فرض عين دى او كه له ده پرته نور اهل علماء هم وو نو بيا دهغه قبلول فرض كفايه دى كما في الدر المختار (وان تعين له او امنه لا) يكره فتح ،ثم ان الحصر فرض عين او الا كفاية ،بحر (والتقلد رخصة) اى مباح (والترک عزيمة عند العامة) بزازية ،فالاولى عدمه (ويحرم على غير الاهل الدخول فيه قطعا) من غير تردد في الحرمة (الدر المختار على هامش الشامية: ۳۴۲/۴)

(۱۱) انسان ته پكار دى چې دولايت قضاء طلب نه په زړه سره وكړي او نه دهغه طلب او درخواست په ژبه سره وكړي لقوله ﷺ :من طلب القضاء وكل الى نفسه ومن اجبر عليه نزل عليه ملک يسدده (يعنې كه چادقضاء طلب وكړ نو هغه دخپل نفس پراعتماد باندې پريښودل كيږي او څوک چې دقضاء منصب ته مجبور كړاى شي نو پر هغه باندې يوه فرشته نازليږي چې هغه پرسمه لار برابروساتي) دقضاء دمنصب طلبونكى خپل نفس ته مفوّض كيږي او نفس خو لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْءِ دى نو داسې څوک به ضرور رسوا كيږي .

(۱۲) او دباچاله طرفه دقضاء منصب اخيستل جائز دى كه هغه عادل وي او كه ظالم ولى سلفوله مشهور ظالم حجاج بن يوسف څخه دقضاء منصب قبوله كړي وه په دې شرط چې دهغه يقين وي چې زه په فيصله كولو كې آزاد يم زه به ناحقه فيصلې كولو ته نه مجبور كيږم بيا كه دچا يقين وي چې دظالم پاچا په زه دحق فيصله نه شم كولاى نو بيا جائز نه دى .

(۱۳) همدارنګه له باغيانو څخه دقضاء عهده اخيستل هم جائز دى ځكه صحابه كرامو دحضرت معاويه ﷺ له طرفه دقضاء عهده قبوله كړي وه او دا خبره معلومه ده چې دحضرت علي ﷺ په خلافت كې حضرت معاويه ﷺ په بغاوت كې دشام حاكم وو كه څه هم حضرت معاويه ﷺ په دې شبهه سره دحضرت علي ﷺ له خلافت څخه انكار كړى وو دحضرت عثمان ﷺ له قاتلانو څخه دقصاص په اخيستو كې ځنډ راغى ځكه نو ددې شبهې په وجه خطاء معاف ده مګر حق په هر حال دحضرت علي ﷺ په خوا وو .

(۱۴) يعنې كوم څوک چې قاضي مقرر كړى شي دهغه اول عمل به دا وي چې دسابقه قاضي ديوان به طلبوي (له ديوان څخه مراد د پوستكي هغه كڅوړه ده چې دحفاظت په ډول رجسترا او كاغذان په ساتلي او خوله يې بنده وي ) ځكه ديوان ددې لپاره وي چې دحاجت په وخت حجة وي نو چالره چې ولايت دقضاء حاصل وي دهغه په قبضه كې وركول كيږي .

**فائده** :سجلات دسجل جمع ده درجستر په معنى دكاغذانو هغه مجموعه چې پكې كومه خبره دياداشت لپاره ليكله كيږي يادعدالتي فيصلو درج كتاب يارجستر يادمعاهداتو او معاملاتو درج كولو سركاري رجستر، محاضر. دمحضر جمع ده هغه كاغذ چې پكې دمتخاصمينو (فريقينو) خصومت تحريروي چې دقاضي په

مهرسره مزين شوى وي يا هغه كاغذ چې پر هغه باندي دكومي خبري لپاره خلك خپل دستخطونه او مهرونه لګوي .

(۱۵) او نوى قاضي بايد اول دبنديانو حال واخلي ولى قاضى دمسلمانانو نګران مقرر شوى دى چې دهغه كار تقاضا داده چې كوم مسلمان په زندان كې وي تر ټولو دمخه دهغه پوښتنه وكړي تحقيق او څېړنه وكړي چې ولي او په څه بندي شوى يې ، بيا كه كوم بندي پر خپل ځان باندي دچا دحق اقرار وكړ نو دغه قاضي به داحق دهغه داقرار په وجه لازم كړي ولى دعاقل بالغ اقرار كول ملزم دى همدارنګه كه پر كوم بندي باندي ګواهانو ګواهي وركړه نو دحجت دقائميدو په وجه به پر هغه باندي هم مشهود به لازم كړي .

(۱۶) قوله والاينادى عليه اى وان لم يقر المحبوس بشئ اولم يكن عليه بينة يعني كه كوم بندي وويل چې پر ما باندي هيڅ حق نشته بلا وجه بندي يم او پر دغه بندي باندي ګواهان هم قائم نه وو نو نوى قاضي به دهغه په خوشي كيدو كې تلوار نه كوي بلكې انتظار دي وكړي او په مجموع ګانو او بازارونو كې به دا اعلانات وكړي چې كه دچا حق پر هغه باندي وي نو حاضر دي شي ځكه په تلوار كولو كې داسې پيښه نه شي چې دچا حق ضائع شي ، بيا كه هيڅ مدعي حاضر نه شو نو قاضي به له هغه څخه ضمانت واخلي هغه به بري كړي .

(۱۷) نوي قاضى لره پكاردى چې دودائعو (هغو امانتونو چې معزول شوي قاضي امينانو ته په قبضه كې وركړي وي) او دوقف دحاصلاتو تحقيق وكړي يعني ودي ګوري چې دشرائطو موافق تقسيمېږي كه نه ، پر دودائعو وغيره باندي چې په څه ډول ګواهان قائم وى يا دچا په قبضه كې وي هغه ددي اعتراف وكړي دهغه مطابق عمل دي وكړي ولى ګواه او اعتراف هر يو حجت دى .

(۱۸) ددي په باره كې هم دمعزول قاضي قول معتبر نه دى ځكه چې معزول قاضى اوس يو عام وګړى دى اوديوه وګړي ګواهي معتبره نه ده ، مګر دا چې دچا په لاس كې ودائع يا حاصلات وقف وى هغه ددي اعتراف وكړي چې ماته معزول قاضي سپارلي وو نو مودَع او معزول قاضى مودِع دى په دغه صورت كې دمعزول قاضى قول قبليږى ځكه دمودَع قبضه دمودِع قبضه شمارله كيږي نو ګواكي وديعت دمعزول قاضي په قبضه كې دى لهذا دهغه قول معتبريږي .

(۱۹) وَيَقضِي فِي المَسجِدِ أَو دَارِهِ (۲۰) وَيَرُدُّ هَدِيَّةً إِلَّا مِن قَرِيبِهِ أَو مِمَّن جَرَت عَادَتُهُ بِذَلِكَ (۲۱) وَدَعوَةً خَاصَّةً (۲۲) وَيَشهَدُ الجَنَازَةَ وَيَعُودُ المَرِيضَ (۲۳) وَيُسَوِّي جُلُوسَ الخَصمَينِ إِقبَالًا (۲۴) وَيَتَّقِي عَن مُسَارَّةِ أَحَدِهِمَا وَإِشَارَتِهِ وَتَلقِينِ حُجَّتِهِ (۲۵) وَضِيَافَتِهِ (۲۶) وَالمِزَاحِ (۲۷) وَتَلقِينِ الشَّاهِدِ

**ترجمه** : او فيصله دي كوي په مسجد كې يا په خپل كور كې ، او ردوي دي هديه مګر دخپل قريب يا دهغه چا چې هديه وركول يې له وخته عادت وو او رد دي كړي خاص دعوت ، او جنازي ته دي حاضريږي او عيادت دي كوي دناروغ او برابري دي كوي ددواړو ترمنځ په كښيناستلو كې او دتوجه په اعتبار سره او احتراز دي كوي له يوه سره دګوښه كيدو نه او اشاره كولو نه او ددليل له تلقين كولو څخه او له ميلمستيا كولو څخه او له مسخرو څخه او دګواه له تلقين څخه .

**تشریح** :(۱۹)قاضي ته پکار دي چې دفیصلې په وخت سرعام په مسجد کې کښیني اودښار په منځ کې دي يو مسجدانتخاب کړي يادي پخپل کورکې کښېني ولې نبي کريم ﷺ اوخلفاء راشدينو دخلکوترمنځ فيصلې په مسجدکې کولې ،همدارنگه په دې کې دخلکولپاره آسانتيا هم ده خاص بيادمسافرواوله دباندې ځخه دراتلونکوخلکولپاره.

**فائده** :دامام شافعي رحمه الله په نزدقاضي دمقدماتودسماعت لپاره په مسجدکې کښيناستل مکروه دي ولې په دې صورت کې دمشرک اوحائضې دداخليدوضرورت پيښيږي حال داچې مشرک نجس دی اودنجس مسجدته داخليدل ممنوع دي همدارنگه حائضه هم مسجدته نه شي داخليدای ،امام شافعي رحمه الله ته جواب ورکړل شوی دی چې دمشرک عقيده نجسه ده بدن يې نجس نه دی اواعتقادي نجاست مسجدته دداخليدومانع نه دی نوځکه مشرک مسجدته داخليدای شي،اوحائضه ښځه به خپل حال قاضي ته ورواستوي چې هغه دمسجددروازي ته راشي دهغې فيصله به وکړي يادي قاضي يوڅوک خپل نائب وټاکي ترمسجددباندې به فيصله وکړي . (هدايه :۳/ ۱۳۵)

**فائده** :دقاضي لپاره داخبره هم مناسبه ده چې ترفيصله مخکې دفريقينوترمنځ دصلح کولوکوشش وکړي ولې صلح بهتره ده ځکه دقاضي ذمه داري د منازعاتواوشخړوختمول دی اوداکاردصلح په ذريعه کيدلای شي ځکه چې فيصله ديوه فريق په حق کې کيږي دهغه بل په مخالفت کې په دې سره ددواړوفريقينوترمنځ نزاع نه ختميږي بلکې په دې سره بغض اوعداوت پيداکيږي كقوله تعالى: فلاجناح عليهماان يصلحابينهماصلحاوالصلح خير) سورة النساء:۱۲۸ )جديدمعاملات کی شرعی احکام :۲/ ۱۳۴)

(۲۰)قاضي دې دهيچاهديه نه قبلوي چې دقضاء په وجه ورډوډۍ خوړونکي نه شي،ځکه دايوډول رشوت دی نوله دې ځخه دې اجتناب وکړي ،البته له خپلو محرمينوهديه اخيستلای شي ولې دذی رحم محرم هديه اخيستل صله رحمي ده اوصله رحمي شرعًامطلوب دی ،همدارنگه دداسې چاهديه اخيستلای شي دچاسره چې پخوا ترقاضي کيدودهديه اخيستلوعادت وو ولې دغه هديه داسې معلوميږي چې دقاضي کيدوپه وجه نه ده بلکې دسابقه عادت په وجه دی نوداسې چاهديه اخيستل جائزه ده همداحکم له چاځخه دقرض اخيستلو او
استعارګانيوشی غوښتلوهم دی .

**فائده** :خوکه دقاضي ديوه قريب مقدمه زيرسماعت وي يادهغه چامقدمه وي چې له پخواځخه يې هديه ورکول عادت جاري وونوقاضي دې دهغوئ هديه هم نه قبلوي ولې معلوميږي چې په دې وخت کې دهغوئ له طرفه هديه هم دهغه دقاضي کيدوپه وجه ده نوله دې ځخه پرهيزکول پکار دی . (ردالمحتار :۴/ ۳۴۶)

(۲۱)قوله ودعوة خاصة،ای يردّ ولايحضردعوة خاصة،يعني قاضي دې دچاخاص دعوة ته نه ورځي مګرداکه دعوة عام وو بيا ورتلای شي ولې خاص دعوة دهغه دقاضي کيدوپه وجه کيږي نودهغه په قبليدوکې متهم کيږي خلاف له عام دعوت نه چې دهغه په قبليدوکې هيڅ تهمت نشته نوپه عام دعوت کې شرکت کولای شي.

**فائده** :دخاص اوعام دعوت ترمنځ فرق ځينوحضراتوداسې بيان كړى دى چې په كوم دعوت كې پنځه ترلسوپورې كسان شريک وي هغه خاص دعوت دى اوپه كوم كې چې ترلس زيات كسان شريک وي هغه عام دعوت دى مگرصحيح داده چې خاص دعوت هغه دى چې كه چيرته داعي ته معلومه شى چې قاضى نه راځي نودعوت معطل كوي اوعام دعوت هغه دى چې دقاضى په راتگ اونه راتگ سره نه معطل كيږي ،دعوة خاصة وهي التى لايتخذها صاحبها لولاحضور القاضى هذاهو الصحيح فى تفسيرها (الدرالمختار مع الشامية:۳/۳۷۴)

(۲۲)قاضى دمسلمان په جنازه كې شركت كولاى شي همدارنگه دناروغانو عيادت هم كولاى شي ولى دادمسلمانانوله حقوقوڅخه دي دنبي كريم ﷺ ارشاددى چې ديوه مسلمان پربل مسلمان باندې شپږحقوق دي چې كله دعوت وركړي نوهغه به قبلوي چې كله مريض شي نودهغه عيادت به كوي چې كله وفات شي نودهغه په جنازه كې به شركت كوي چې كله ورسره مخ شي نوسلام به وراچوي چې كله خيرخواهي طلب كړي نودهغه خيرخواهي به كوي اوچې كله پرنج ورشي نوپه يرحمک الله سره به جواب وركوي.

(۲۳)كله چې مدعى اومدعى عليه دواړه حاضرشي نودواړوپه كښيناستلواوتوجه كولوكې به برابري كوي يعنې چې كله يوپريوه ځاى كښينوي نوهغه بل به هم پرهغه ځاى كښينوي اودواړوته دي په يوډول متوجه وي لقوله ﷺ من ابتلى بالقضاء بين المسلمين فليسو بينهم فى المجلس والاشارة والنظر ولايرفع صوته على احدالخصمين اكثرمن الاخر(يعنې څوک چې دمسلمانانوترمنځ دقضاء په منصب سره مبتلاكړاى شي نوهغه دې دفريقينوترمنځ په مجلس كې دكښيناستلواواشاره كې اوكتلوكې برابري كوي اوپريوه دي ترهغه بل آوازنه زيات اوچتوى)

(۲۴)همدارنگه دي قاضى له فريقينوڅخه ديوه فريق سره نه گوښه كيږي اونه دي يوه طرفته په لاس ياسرسره اشاره كوي اونه دي يوه فريق ته دحجت تلقين وركوي ولى په داډول كولوكې پرقاضى باندې يوه فريق ته دميلان تهمت لگيږي همدارنگه په دغوكارونوكې ديوه ترسره كولوسره دهغه بل خصم زړه ماتيږي.

(۲۵)قوله وضيافته اى ويجتنب عن ضيافة احدالخصمين ،يعنې قاضى دي داسې نه كوي چې له متخاصمينوڅخه يوه ته دعوت وكړي بل پريږدى ځكه په داسې كولوكې قاضى متهم كيږى چې ښايې دهغه طرف ته يې ميلان دى . البته ددواړودعوت په كولوكې هيڅ حرج نشته ولى په دي وخت كې قاضى نه متهم كيږي.

(۲۶)والمزاح اى يجتنب القاضى عن المزاح مطلقا ،يعنې قاضى دي په يوه مجلس دقضاء كې هم مسخري نه كوي نه له فريقينوسره اونه له بل چاسره بلكې په وقارسره دي چلند كوي ځكه په توكوټكالوسره دانسان هيبت ختميږى همدارنگه كه له يوه فريق سره دى مسخري كوي نوهغه بياپرهغه بل فريق باندې دلاوره كيږي چې په دي سره دخصم زړه ماتيږي.

(۲۷)قوله وتلقين الشاهد اى ويجتنب القاضى عن تلقين الشاهد ،يعنې قاضى دي ديوه فريق گواه ته تلقين نه وركوي مثلاً گواه ته داسې ووايې چې آياته دفلان فلان خبري گواهي ولى په دي كې

دیوه فریق اعانت (کومک) دی چې دقضا ، لـه منصب خلاف دی نو ځرنګه چې خپله فریق تـه تلقین ورکول ناجائزدی همدارنګه دفریق ګواهانو ته تلقین ورکول هم ناجائز دی .

**فائده** :مګر دامام ابویوسف رحمه الله پـه نزد لـه مقـام تهمت څخـه عـلاوه دګواهـانو تلقین کـول مستحسن دی ولـی کلـه ناکلـه ګواه دعدالت د هیبت اورعب پـه وجـه دچادحق دګواهي ورکولو څخـه وګرځي چې پـه دي سـره دحقـدارحق ضـائع کيږي حـال داچې قضـاء دخلکو دحقوقـو دحفاظـت لپـاره مشروع شـوې ده ،دامام ابویوسـف رحمه الله قـول مفتـی بـه دی ولـی پـه بـاب کـې دقضـاوت دده رحمه الله مهارت اوتجربـه زياتـه ده کمـالی شـرح التـویر: (ولا) يلقـن (الشاهد شـهادته) واستحسـنه ابو يوسـف فـيما لا تهمـة فيه وبه يفتی لزيادة علمه والفتوی علی قوله فيما يتعلق بالقضاء لزيادة تجربته (الدر المختار علی هامش الشامية: ۳/۳۶۹)

## فصل

دافصل په قید خانه کې دبندولو په بیان کې دی .

ځيني خلک سرکښ اوسرمېت وي چې هغوئ ته دسزا په ډول قيدکول ضروري وي نو حبس او قيدکول دقضاء داحکامو څخه دی ځکه نو دقضاء په بحث کې دغه بيان راوړل مناسب دی اوځرنګه چې له حبس او قيدسره ډيراحکام تعلق لري ځکه نو مصنف رحمه الله دغه احکام په عليحده فصل کې ذکرکړي دي .

دمجرم دقيدکولو جواز په کتاب الله ،سنت رسول ﷺ او اجماع سره ثابت دی قال الله تعالیٰ: او ينفوا من الارض ) ياهغوئ له ځمکې نه ورک کړئ) له نفی من الارض څخه مراد قيد دی.اوروايت دی چې په حجازکې دڅوخلکوترمنځ جنجال راغی آن چې يوسړی يې ووا ژه نونبي کريم ﷺ هغوئ بنديان کړل.همدارنګه دصحابه کرامو له زمانی څخه بياترننه پوري دټولو مسلمانانو دمجرم په قيد کولو باندي اجماع ده :

(۱) واذا ثبت الحق للمدعي امره بدفع ماعليه (۲) فان ابی حبسه في الثمن والقرض والمهر المعجل ومالتزمه بالكفالة (۳) لافي غيره ان ادعی الفقر (۴) الا ان يثبت غريمه غناه فيحبسه بما رأی ثم يسأل عنه فان لم يظهر له مال خلاه (۵) ولم يحل بينه وبين غرمائه.

**ترجمه** :اوچې کله ثابت شی حق دمدعي نو امردي کړي مدعي عليه چې ورکړي هغه څه چې پرده باندي دي،بياکه ده انکار وکړ نوبندي دي کړي دثمنو .قرض او مهر معجل په باره کې،چې ده يې التزام کړی وو په کفالت سره نه دهغه په علاوه کې که هغه دفقر دعوه وکړه مګرداکه ثابته کړه قرض غوښتونکي دهغه غناء بيادي بندي کړي دی څومره چې قاضی مناسب وبلله بيادې دده په باره کې پوښتنه وکړي که دهغه هيڅ مال معلوم نه شو نو هغه دې پريږدي او حائل دې نه جوړيږي دهغه او دهغه دقرض غوښتونکي ترمنځ .

**تشريح** :(۱)يعني چې کله دقاضی په نزد ديوه حق پربل باندي ثابت شي بيا که قاضی دحقدارحق په خپل لاس نه شوای وراخيستلای نو مقروض ته دي حکم وکړي چې دحقدار حق ورکړي ولی دقاضی وجود دي لپاره دی چې هغه دقضاء په ذريعه دمظلوم حق له ظالم څخه ورکړي .

(۲)یعني که دقاضی دحکم ورکولو وروسته مقروض دحقدار دحق اداکولو څخه انکار وکړ نو قاضی دي دهغه دقید کولو حکم ورکړي ځکه دحقدار حق نه اداکول ظلم دی او دظالم سزا قید دی نو ځکه باید اوس هغه قید کړای شي او هغه دي دهرداسی قرض په بدل کې قید کړي چې دداسی مال عوض وي چې هغه قبض کړی وي لکه دمقبوضی مبیعی ثمن او دقرض بدل ځکه چې کله هغه مال قبض کړ نو هغه غني ثابت شو اوس نو هغه ځان اچونکی شمارل کیږي،همدارنګه دي هغه دهرداسي قرض په بدل کې قید کړي چې خپله پرهغه باندي دعقدپه ذریعه لازم شوی وي لکه مال مهر او مال کفاله ،ځکه ددي اقدام کول چې پرخپل ځان مال لازم کړي دهغه دغني کیدو دلیل دی ولی داظاهره ده چې هرڅوک دداسی مال التزام کوي چې هغه اداکولای شي نو دغناء ددلیل په پیدا کیدو سره هغه قید کړای کیږي.

(۳)قوله لافي غیره ان ادعی الفقرای لایحبسه القاضی فی غیرذالک ،یعني دمذکوره دوو قسمونو:قرض (چې یو قرض دمال حاصلولو په وجه سره وواوبل دعقد په نتیجه کې وو) نه علاوه په نوروشیانوکې نه قید کړای کیږي مثلا دبدل خلع ،غصب یادیو جنایت په وجه چې کوم قرض دچاپرذمه لازم شي نو دهغه په بدله کې دی قید کیږي په دي شرط چې مقروض دخپل فقردعوه وکړي ځکه اصل دادی چې انسان په پیدائشی توګه تنګدست وي عمومًا غنی نه وي نو دغه شخص متمسک باالاصل دی نو ترڅو پوري چې خصم په بینه سره دهغه غناء ثابته نه کړي هغه نه قید کړای کیږي.

(۴)البته که قرض غوښتونکي دهغه لپاره مال ثابت کړي نو بیا قید کړای کیږي ځکه چې له هغه سره مال شته بیاهم دی قرض نه اداکوي نو داده له طرفه سستي ده او دقرض په اداکولو کې سستي کول ظلم دی او دظلم سزا قید دی نو چې ترکومه وخته پوري قاضي دهغه قیدکیدل مناسب بولي ترهغه وخته دي قید کړي اوپه دغه دوران کې دي دهغه له ګاونډیانو او قریبانو څخه دهغه پوښتنه وکړي بیاکه دده مال ظاهر نه شو نو هغه دي خوشي کړي ولی دفراختیا تر راتلو پوري هغه دمهلت مستحق دی لقوله تعالی :وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ) بیا چې کله هغه دمهلت مستحق ثابت شي نو دهغه قید کول ظلم دی.

(۵)یعني له قید څخه دازادیدو وروسته دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد دي قاضي دمقروض او دهغه دقرض غوښتونکي ترمنځ حائل نه ګرځی البته که چیرته هغه دکوم ضرورت لپاره خپل کورته داخل شی نو قرض غوښتونکی دي دهغه کورته نه داخلیږی بلکې دباندي دي دهغه انتظار وکړي،په داسی حال کې چې صاحبینو رحمهما الله فرمایلی دي چې قاضی دي ددوئ ترمنځ حائل وګرځي ولی مفلس مقروض که چیرته خپله دقرض غوښتونکو له طرفه دمهلت مستحق شی بیا هغه دده دتعقیبولو حق نه لري نو که چیرته هغه دشارع له طرفه دمهلت مستحق شي نو په طریقه اولی دهغه دتعقیبولو حق نشته، دامام صاحب رحمه الله دلیل دادی چې مفلس مقروض ته دحق داداکولو دقدرت ترحاصلولو پوري مهلت دی او حصول دقدرت هروخت ممکن دی ځکه نو قرض غوښتونکی باید هغه تعقیب کړي چې هسي نه هغه مال پیدا کړي چیرته پټ نه شي.

**فائده** :دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لماقال العلامة ابن عابدین رحمه الله :وبعدماخلی القاضی سبیله فلصاحب الدین ان یلازمه فی الصحیح وهو ظاهر الروایة وهو الصحیح.(ردالمحتار:۳/۳۵۶)

(٦) وَرَدِّ البينة على الافلاس قبل حبسه (٧) وَبينة اليسار أحق وَابد حبس الموسر (٨) وَيحبس الرجل لنفقة زوجته (٩) لا في دين وَلده (١٠) الا اذا ابى من الانفاق عليه والله اعلم.

**ترجمه**: او ردد دي كړي ګواهان چې دهغه پر مفلس كيدو باندي قائم وي مخكي دهغه تر قيد كيدو او دغناء ګواهان زيات حقدار دي او هميشه دي غني په قيد كې وساتي او قيد دي كړي سړى دهغه دښځي دنفقى په وجه سره نه دزوى دقرض په وجه مګر چې كله هغه انكار وكړي دهغه له نفقى څخه. والله اعلم.

**تشريح**: (۶) كه مدعى عليه تر قيد كيدو مخكى دخپل ځان پر مفلس كيدو باندي ګواهان پيش كړل (مثلا دوو ګواهانو ګواهي وركړه چې دا سړى مفلس دى دتن له جامو پرته موږ ته دهغه بل هيڅ مال معلوم نه دى) نو دهغه ګواهان دي قاضى رد كړي ځكه چې دا پر نفى (يعنې دمقروض پر نه غنى كيدو) ګواهى ده چې مقبوله نه ده ترڅو چې مؤيد يعنې په حبس سره دهغه تائيد نه وي شوى اوله حبس وروسته هم احتياطا داسى قبليږي نه وجوبًا.

(۷) او كه چيرته مدعى عليه دخپل ځان پر مفلس كيدو باندى ګواهان پيش كړل او مدعي دهغه دغني كيدو ګواهان پيش كړل نو دغنى كيدو ګواهان دقبليدو زيات حقدار دي ولى غناء عارض دى او ګواهان دا ثبات لپاره وي نو ځكه دغناء دثابتيدو ګواهان زيات دقبليدو حقدار دي او كه څوک سره له غنى كيدو هم دبل چا قرض نه اداكوي نو هغه دي قاضى دهميشه لپاره په قيد كې وساتى ترڅو چې هغه قرض ادا نه كړي ځكه قيد كول دظلم سزا ده او له غناء سره دقرض نه اداكول ظلم دى ترڅو چې هغه دحق اداكيدو څخه منع كوي تر هغه وخته دي هغه په قيد كې وساتي.

(۸) كه قاضى پر خاوند باندي دښځى دنفقى فيصله وكړه يا زوجينو پخپل منځ كې پر يو څه باندي صلح سره وكړه بيا خاوند دخپلى ښځى نفقه نه وركوله نو هغه دي قيد كړاى شى ولى هغه دحق په نه وركولو سره ظالم دى او په شريعت كې دظالم سزا قيد دى البته دتيرې زمانى دنفقى په وجه نه قيد كړاى كيږي ولى دنفقى دزمانى په تيريدو سره نفقه ساقطيږى.

(۹) قوله لا في دين ولده اى لا يحبس الوالد في دين ولده، يعنې كه پر چا باندي دهغه دزوى قرض وو نو پلار د زوى دقرض په وجه نه قيد اكړاى كيږي ولى قيد كيدل يو قسم عقوبت دى او زوى پر خپل پلار دعقوبت استحقاق نه لري لكه په قصاص او حدودو كې مثلا يو چا خپل زوى ووا ژه نو له پلار څخه قصاص څخه نه اخيستل كيږي يا پلار پر زوى باندي دزنا تهمت ولګاوه نو پر پلار باندي حد قذف نه جاري كيږي.

(۱۰) البته كه زوى مستحق دنفقې وو مثلا فلج وو دكاروبار قابل نه وو او پلار يې له نفقې وركولو څخه انكار وكړي نو پلار يې قيد كړاى كيږى ولى داسى بچيانو ته په نفقه وركولو كې دبچيانو ژوند دى او په نه وركولو كې دهغه هلاكت دى نو دبچي دهلاكيدو دارادي څخه دمخ نيوي په وجه پلار قيد كړاى كيږي.

## كتاب القاضى الى القاضى وغيره

دا باب ديوه قاضى دجانب څخه بل قاضى وغيره ته دخط ليكلو په بيان كې دى

څرنګه چې كتاب القاضي الى القاضي د قضاؤ د احكامو څخه دی ځکه نو مصنف رحمه الله له فصل في الحبس وروسته كتاب القاضي الى القاضي ذكر كړی دی . اول له فصل في الحبس څخه يې ځکه وروسته كړی دی چې د قيد كولو لپاره يو قاضي كافي دی په داسې حال كې چې په كتاب القاضي الى القاضي كې د دوو قاضيانو ته ضرورت دی نو كتاب القاضي الى القاضي په منزله د مركب دی او قضاء بالحبس په منزله د مفرد دی او مركب له مفرد وروسته وي ځکه نو مصنف رحمه الله كتاب القاضي الى القاضي تر فصل في الحبس وروسته ذكر كړی دی .

**فائده**: بيا ظاهر روايت دا دی چې كه د دوو قاضيانو تر منځ مسافت تر سفر كمه فاصله وه نو بيا د داسې صورت كې د يو قاضي خط د هغه بل قاضي په نزد نه معتبريږی تر دې په زياته مسافه كې معتبريږی . د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد به كه تر كمه د ومره مسافه وي چې سړی سهار د كاتب قاضي څخه روان شي تر ماښامه مكتوب عليه ته ورسيږی بيرته كور ته نه راورسيږی وعليه الفتوى لما في شرح التنوير (ولابد من مسافة ثلاثة ايام بين القاضيين كالشهادة على الشهادة) على الظاهر وجوزها الثاني ان بحيث لايعود في يومه وعليه الفتوى شرنبلالية وسراجية (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۴/۲۹۳)

(۱) ويكتب القاضي الى القاضي في غير حد وقود (۲) فان شهدوا على خصم حكم بالشهادة وكتب بحكمه وهو المدعو سجلا (۳) والالم يحكم وكتب الشهادة ليحكم المكتوب اليه بها وهو الكتاب الحكمي وهو نقل الشهادة في الحقيقة (۴) وقرأ عليهم وختم عندهم وسلم اليهم (۵) فان وصل الى المكتوب اليه نظر الى ختمه ولم يقبله بلاخصم وشهود (۶) فان شهدوا انه كتاب فلان القاضي سلمه الينا في مجلس حكمه وقرأه علينا وختمه فتح القاضي وقرأه على الخصم والزمه ما فيه .

**ترجمه**: او خط ليكلای شي يو قاضي بل قاضي ته له حد او قصاص نه په علاوه كې . بيا كه ګواهانو پر خصم باندې ګواهي وركړه نو حكم دې وكړي د ګواهي مطابق او ودې ليكي خپل حكم او دې ته سجل وايي . كه نه بيا دې حكم نه كوي او ګواهي دې وليكي چې حكم وكړي مكتوب اليه د هغه مطابق او هغه ته كتاب حكمي ويل كيږي او هغه په حقيقت كې نقل كول د ګواهي دی او ودې وايي دا خط پر هغوئ باندې او مهر دې ولګوي د هغوئ په حضور كې او حواله دې كړي هغوئ ته . بيا چې كله د غه خط و مكتوب اليه ته ورسيږی نو هغه دې وګوري مهر د قاضي او نه دې قبلوي د خصم او ګواهانو له حاضريدو بغير . بيا كه هغوئ ګواهي وركړه چې دا د فلان قاضي خط دی چې موږ ته يې راكړيدی د خپلې قضاء په مجلس كې او ويې لوست زموږ په حضور كې او مهر يې پرې ولګاوه نو قاضي دې پرانيسي او ودې وايي پر خصم باندې او پر هغه دې لازم كړي هغه څه چې په دغه خط كې ليكلي دي .

**تشريح**: (۱) ديو ځای قاضي د بل ځای قاضي ته د داسې حقوقو په باره كې خط ليكلای شي چې د شبهې په وجه نه ساقطيږی او دا بناء بر ضرورت جائز دی ځکه كله د مدعي لپاره د ګواهانو او خصم حاضرول متعذر وي په دې شرط چې د مكتوب اليه قاضي په مخكې دوه نفره ګواهان ګواهي وركړي چې دا د فلان قاضي خط دی البته د حدودو او قصاص په باره كې يو قاضي د بل قاضي خط نه قبلوي ځکه خط ديو چا د بل چا په ډول كيدای شي ممكنه ده دا خط چې د كوم قاضي بلل كيږي د هغه دې نه وي نو شبهه پيدا شوه والحدود تندرء بالشبهات (يعني

حدوددشبهې په وجه ليري كيداى شي ) نوپه كتاب القاضى الى القاضى كې شبه پيداكيږي ځكه نوپه حدودوكې معتبرنه دى .

**فائده** :دقياس تقاضاخودادہ چې ديوہ قاضى خط دبل قاضى په وړاندي دهغوحقوقوپه باره كې چې دشبهې په وجه ساقطيږى هم معتبرنه وي ولى كه يوقاضى پخپله په ژبه بل قاضى ته خبروركړي چې ستاپه ښاركې پرفلان شخص باندي دفلان شخص داحق زماپه وړاندي دګواهانوپه ګواهي سره ثابت شوى دى نوهغه قاضى ته په دي خبرسره عمل كول ناجائزدى نوځكه ديوه قاضى پرخط باندي هم بل قاضى ته عمل كول بايدناجائزشي، مګر د صحابه كراموپه اجماع سره دهغه جوازثابت دى،همدارنګه دخلكوضرورت هم دى ولى ډيرځله انسان لره د ګواهانواومدعى عليه ديوه قاضى به وړاندى جمع كول متعذروي مثلاً ګواه په يوه ښاركې دى اومدعى عليه په بل ښاركې دى نوپه داسي صورت كې له خط پرته بله چاره نشته ځكه نوديوه قاضى خط دبل قاضى په وړاندي معتبريږي .

(۲)اوكه ګواهانودخط ليكونكي قاضى په مجلس كې پرمدعى عليه باندي ګواهي وركړه چې پردغه سړي باندي دفلان شخص باندي دومره حق دى قاضي دي دهغوئ دګواهي موافق حكم وكړي.اوبيا قاضى ته دي خپل حكم وليكي چې هغه دده حكم پرمدعى عليه باندي نافذكړي داسي مكتوب (په كوم كې چې دقاضى حكم تحريروي) ته سجل وايي.مذكورتفصيل په هغه صورت كې دى چې دقاضى دحكم وروسته مدعى عليه بل ښارته ولاړشي نوقاضى دهغه بل ښارقاضي ته خپل حكم اوفيصله وليكي پرمحكوم عليه باندي يې نافذكړي .

(۳)اوكه ګواهانودمدعى عليه په نه موجودګي كې ګواهي وركړه نوبيادي قاضي پردغه مدعى عليه باندي حكم نه كوي ځكه مدعى عليه غائب دى اوقضاءپرغائب باندي جائزنه ده ،البته دګواهانوګواهي دي مكتوب اليه قاضى ته وليكي چې هغه دهغه موافق پرمدعى عليه باندي حكم وكړي داډول مكتوب ته كتاب حكمي وايي اوكتاب حكمي په حقيقت كې له يوځاى ځخه بل ځاى ته دګواهي منتقل كول دى نودسجل اوكتاب حكمي ترمنځ فرق داشوچې سجل دقاضى له مجلس وروسته تحريرته وايي اوكتاب حكمي ترفيصله مخكې تحريرته وايي .

(۴)كاتب قاضى ته پكاردى چې هغه داخط وړونكوګواهانوته ووايي ورواېي ورۏي يادهغه مضمون ورواوروي ځكه ګواهان چې ولاړشي دمكتوب اليه قاضى په وړاندي ګواهي وركوي نودوئ ته دخط مضمون وراورول ضروري دى ولى ګواهي بغيرعلم نه كيږي بيادي دګواهانوپه مخكي پرهغه باندي مهرولګوي چې هرډول شک اوشبهه ختمه شي بيادي خط وګواهانوته حواله كړي .

**فائده** :دامام ابويوسف رحمه الله په نزدګواهانوته دخط مضمون وراورول اوپرخط باند مهرلګول وغيره هيڅ شى هم شرط نه دى بلكې صرف داشرط دى چې ګواهان داګواهي وركړي چې داخط دفلان قاضى دى همداقول مفتى به دى ولى حضرت امام ابويوسف رحمه الله ډيره زمانه دقضاء منصب په غاړه درلود ځكه نوپه دي باب كې دهغه تجربه زياته ده لمافي شرح التنوير:واكتفى الثاني بان يشهدهم انه كتابه وعليه الفتوى كمافي العرمية عن الكفاية وفي

البلقي وليس الخبر كالعيان (الدر المختار على هامش ردالمحتار: ۴/ ۳۹۱) البته كه خط دمدعي سره وو بيا دمهر لگولو شرط مناسب دی
خ كه دتغير احتمال شته، نعم اذا كان الكتاب مع المدعي ينبغي اشتراط الختم لاحتمال التغيير الاان يشهدوا بمافي حفظا (ردالمحتار: ۴/ ۳۹۱)

(۵) بياچې كله دامكتوب هغه بل قاضي ته ورسيږي هغه دی اول دخط مهرته وګوري چې پردې
باندې دچامهر لګيدلی دی بيادي هغه قبول كړي خومكتوب اليه قاضي دي دكاتب قاضي خط نه قبلوي
مګرددوو ګواهانوپه ګواهي سره يادیوه نارينه دووښځوپه ګواهي سره ولې ددروغواحتمال شته ځكه
دګواهانوضرورت دی، مګرداهغه وخت چې خصم انكاروكړي چې داخط دقاضي نه دی اوكه هغه
مُقِروونوبيادګواهانوضرورت نشته، همدا رنګه دي مكتوب اليه قاضي دخصم دحضوربغير (يعنې دمدعى
عليه په نه موجودګي كې) دهغه خط نه قبلوي ځكه داخط دګواهي اداكولوپه مرتبه كې دی ځكه نودمدعى
عليه حضورضروري دی.

(۶) بياچې كله ګواهان دخصم په حضوركې خط وقاضي ته حواله كړي نوقاضي دي دهغه
مهروګوري چې وپې پيژني بياچې ګواهان ګواهي وركړي چې داخط دفلان ښار دقاضي فلان بن فلان دی
هغه موږ داخط دخپل قضاء اوحكم په مجلس كې راكړاوموږته يې واوراوه اوپرهغه يې مهرولګاوه
نومكتوب اليه قاضي دي هغه پرانيسي خصم ته دي وروا وروي اوپه خط كې چې څه وي هغه دي پرخصم لازم
كړي، مګرشرط دادی چې دمكتوب اليه قاضي په وړاندي دګواهانوعدالت ثابت شي مثلا له ثقه خلكوپه
دهغوئ دعدالت په باره كې تحقيق وكړيايې پخوا هم هغوئ په عدالت سره پيژندل، ياكاتب قاضي په خط كې
دهغوئ تعديل كړی وو.

(۷) وَيَبْطُلُ الْكِتَابُ بِمَوْتِ الْكَاتِبِ وَعَزْلِهِ (۸) وَبِمَوْتِ الْمَكْتُوبِ إِلَيْهِ إِلَّا إِذَا كَتَبَ بَعْدَ اسْمِهِ وَإِلَى كُلِّ مَنْ يَصِلُ إِلَيْهِ مِنْ قُضَاةِ الْمُسْلِمِينَ (۹) لَا بِمَوْتِ الْخَصْمِ (۱۰) وَتَقْضِي الْمَرْأَةُ فِي غَيْرِ حَدٍّ وَقَوَدٍ (۱۱) وَلَا يَسْتَخْلِفُ قَاضٍ إِلَّا أَنْ يُفَوَّضَ إِلَيْهِ ذَلِكَ (۱۲) بِخِلَافِ الْمَأْمُورِ بِالْجُمُعَةِ

**ترجمه**: او باطليږي خط دكاتب په مرګ سره او دهغه په معزول كيدو سره او دمكتوب اليه په مرګ سره
مګرداكه يې وليكل دمكتوب اليه دنامه وروسته چې دمسلمانانوله قاضيانو څخه هرقاضي ته چې ورسيږي
نه دخصم په مرګ سره او قضاوت كولای شي ښځه له حدا وقصاص علاوه په نورو حقوقو كې او نائب دې نه
ټاكي قاضي مګرداچې هغه ته اختيار وركړل شوی وي خلاف له هغه چې مامور د جمعې دلمانځه په امامت
سره وي.

**تشريح**: (۷) خط ليكونكی قاضي كه چيرته مړشو يا معزول شونو دهغه خط باطليږي ولې اوس هغه دتولني
يو فرد شو، قاضي توب حيثيت يې ختم شونو دخط په ذريعه دهغه فيصله نه نافذه كيږي ولې دعام سړي
فيصله نه
نافذه كيږي.

**فائده**: مګرامام ابو يوسف رحمه الله او امام شافعي رحمه الله فرمايي چې په مذكورصورت كې به
مكتوب اليه قاضي دګواهانو دګواهي مطابق دكاتب قاضي خط دمدعی عليه په حضوركې
اوروي اوپرهغه به يې نافذوي ځكه دادشهادت برشهادت په حكم كې دی دقاضي له مرګه

وروسته هم معتبر دی ،احناف جواب ورکوي چې يواځې دکاتب قاضي په تحرير سره نقل شهادت نه مکمل کیږي ځکه مدعی علیه حاضر نه دی دمکتوب الیه قاضي خط لوستل اومدعی علیه ته تراورولو مخکې دکاتب قاضي مړینه داسې ده لکه شهود فرع چې دشهادت تراداکیدو مخکې مړه شي.

**فائده** :دامام صاحب رَحِمَهُ اللهُ قول مختار دی ،البته که مکتوب الیه قاضي خط قبول کړاودهغه مطابق يې حکم صادر کړ نونافذ کیږي لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رَحِمَهُ اللهُ :وانمايقبله المكتوب اليه اذاكان الكاتب على القضاء وهذاهو المختار لكن لو قبله وعمله به مع موته وقضى به جاز ونفذبه (هامش الهداية: ۳/ ۱۴۰)

(۸)قوله وبموت المكتوب اليه اى ويبطل ايضابموت القاضى المكتوب اليه ،یعنې که مکتوب الیه قاضي مړشونوهم دکاتب قاضي خط باطلیږی ځکه چې دچاپرنامه يې خط لیکلی وو کاتب قاضي دهغه پر امانت داري باندې اعتماددرلود ،هغه ولاړېل قاضي دهغه قائم مقام نه شي کیدای ځکه قاضیان په امانت داري کې فرق لري البته که کاتب قاضي داډول لیکلی ووچې داخط دفلان ابن فلان قاضي په نامه دی اودمسلمانانو دقاضیانو څخه دهرداسې قاضي په نوم چاته چې داخط ورسیږی نوپه دغه صورت کې دمکتوب الیه قاضي په مرګ سره مذکورخط نه لغوه کیږي بلکې هرهغه قاضي ته چې داخط ورسیږی اومدعی علیه دهغه په ولایت کې وي نوهغه قاضي به دهغه خط مطابق عمل کوي ځکه په دغه صورت کې چې هرقاضي دمکتوب الیه قائم مقام وي هغه دده تابع بلل کیږي .

(۹)قوله لابموت الخصم اى لايبطل الكتاب بموت المدعى عليه ،یعنې که چیرته مدعی علیه مړشونوداخط نه باطلیږی بلکې په اجماع سره مکتوب الیه قاضي دغه خط دهغه پروارث باندې نافذ کوي ولی وارث دمدعی علیه قائم مقام دی نوکومه فیصله چې پرمدعی علیه باندې يې نافذوله اوس دې هغه پروارث باندې نافذه کړي.

(۱۰)یعنې له حدودواوقصاص نه علاوه په نوروټولو حقوقو کې ښځه قاضي ګرځیدای شي ځکه چې مخکې داخبره تیره شوه چې اهل قضاء هغه څوک دی چې اهل شهادت وي اوښځه اهل شهادت ده ،البته دښځې شهادت په حدودواوقصاص کې معتبره نه ده ځکه نوپه حدودواوقصاص کې دښځې قاضي کیدل هم نه صحیح کیږي له حدودواوقصاص نه علاوه په نوروټولو حقوقو کې معتبردی .

(۱۱)قاضي ته دااختیارنشته چې دقضاء پرمنصب بل څوک خپل خلیفه مقرر کړي ولی هغه یواځې قاضي ټاکل شوی دی هغه ته دااختیارنه دی ورکړل شوی چې بل څوک قاضي وګرځوي البته که چیرته کوم قاضي ته دحاکم له طرفه دااختیار دلالةً یاصراحةً ورکول شوی ووچې ته خپل خلیفه ټاکلی شي نویادی خپل خلیفه مقررولای شي مګربیادغه خپل خلیفه معزول کولای نه شي ترڅوحاکم دهغه اجازه ورکړې نه وي .

(۱۲)خلاف له هغه چاچې دجمعي دلمانځه لپاره دپاچاله طرفه مقررشوی وي دغه امام دپاچاله طرفه داختیارموندلو بغیرهم بل څوک دخپل ځان نائب ګرځولای شي ځکه جمعي دموقت کیدوپه وجه على شرف السقوط وي یعنې که چیرته هغه لره دخلیفه ټاکلو اجازه ورنه کړی شي نوکیدای شي چې یووخت هغه ته

کوم عذرپېښ شي نوترڅوچې دمسلمانانو امام ته خبرورکوي ترهغه پورې دجمعې دلمانځه وخت تېرېږي حال داچې دی دجمعې دلمانځه لپاره مامورکړای شوی وو.

(۱۳) وإذا رفع إليه حكم قاض قبله امضاه إن لم يخالف الكتاب والسنة المشهورة والإجماع (۱۴) وينفذ القضاء بشهادة الزور في العقود والفسوخ ظاهرا وباطنا (۱۵) لا في الأملاك المرسلة (۱۶) ولا يقضي على غائب إلا أن يحضر من يقوم مقامه كالوكيل والوصي (۱۷) أو يكون ما يدعي على الغائب سببا لما يدعيه على الحاضر كمن ادعى عينا في يد غيره أنه اشتراه من فلان الغائب (۱۸) ويقرض القاضي مال اليتيم ويكتب الصك لا الوصي والأب.

**ترجمه**: اوچې کله وړاندې کړای شي دهغه په حضورکې دتېرشوي قاضي حکم نو دی دې هغه نافذکړي که چېرته مخالف له قرآن اوحديث مشهوراواجماع څخه نه وو. اونافذه کېږي دقاضي فيصله ددروغوپه ګواهي سره په عقودواوفسوخوکې ظاهراهم اوباطناهم نه په املاک مرسله ؤکې اوفيصله نه کېږي پرغائب باندې مګرداکه حاضرووهغه څوک چې دده قائم مقام وولکه وکيل يا وصي ياوي هغه شی دکوم چې دعوه کېږي پرغائب باندې سبب دهغه شي چې دعوه يې پرحاضرباندې کېږي لکه يوڅوک چې دعوی وکړي دمعلوم شي چې دبل چاپه لاس کې وي چې داشی ماله فلان غائب څخه اخيستی دی اوقرض ورکولای شي قاضي ديتيم مال اوودې ليکي چيک نه وصي اوپلار.

**تشريح**: (۱۳) که ديوه قاضي په وړاندې دتېرشوي قاضي دحکم مرافعه وکړای شي نوقاضي دې هغه حکم نافذکړي ځکه دموجودقاضي اجتهاددسابقه قاضي داجتهادپه شان دی ولې ددواړو اجتهادته په حتمي ډول صحيح ياغلط نه شي ويل کيدای خوځرنګه چې دسابق قاضي داجتهادسره دقضاء حکم هم متصل دی ځکه نودسابق قاضي اجتهاددموجوده قاضي تراجتهادقوي دي اواعلی په ادنی سره نه شي رديدلای. البته داسې حکم نه شي نافذولای چې دقرآن کريم مخالف وي مثلاسابقه قاضي متروک التسمية عمداحلال بللی وونوموجوده قاضي هغه نه شي نافذولای يادسنت مشهوره خلاف يې حکم کړی وومثلادمطلقه په طلقات ثلاثه ؤسره دبل زوج دوطی بغيرېې اول زوج ته حلاله ګڼلې وه. ياسابق قاضي داجماع خلاف حکم کړی وومثلانکاح متعه يې حلاله ګڼلې وه چې دهغې پرفسادباندې دصحابه کرامورضی الله عنهم اجماع ده نوپه دغودرېوواړوصورتونوکې موجودقاضي دسابق قاضي حکم نه شي نافذولای ځکه دسابق قاضي حکم دکتاب الله، سنت رسول الله ﷺ، اواجماع معارض نه شي کيدای.

(۱۴) په عقودواوفسوخوکې که چېرته قاضي ددروغوپه ګواهي باندې فيصله وکړي نوهغه باطنًا اوظاهرًادواړه دوله نافذه کېږي له عقودوڅخه مراد معاملات دي لکه خريد اوفروخت نکاح وغيره. اوله فسوخوڅخه مراددغوعقودوباطلول دي که دووګواهانوددروغوګواهي ورکړه چې دفلانۍ ښځې نکاح له فلان سړي سره شوې ده اوپه واقع کې داسې نه وي شوي اوقاضي دنکاح حکم وکړي. همدارنګه که يې دبيع ياهبه ياطلاق وغيره په باره کې ددروغوپرګواهي حکم

وكړنو دا حكم ظاهرا او باطناً يعني عند الله و عند الناس نافذ كيږي كه دنكاح صورت وونوله هغې سره صحبت كول جائز دى او كه ديو شي دا خيستو گواهي وه نوله هغه شي څخه هغه د دروغو مشتري فائده اخيستلاى شي.

**فائده**: مگر مذكوره فيصله چې نافذه كيږي په دوو شرطونو سره مشروطه ده يو دا چې قاضي به د گواهانو په دروغ ويلو خبرنه وي دوهم شرط دادى چې محل به دفيصلې قابل وي پس كه چيرته دمنكوحه يامعتده يامحرمه په باره كې دنكاح فيصله كړي وه هغه نه نافذه كيږي، دا هم يادساتئ چې دا ټول فيصله ظاهراً او باطناً دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد نافذه كيږي دصاحبينو رحمهما الله په نزد ظاهراً نافذه كيږي امّا باطناً نه نافذه كيږي.

(۱۵) لافي الاملاك المرسلة اى لاينفذ القضاء بشهادة الزور باطناً في الاملاك المرسلة، يعني كه چيرته داملاك مرسله ؤ (ملک مرسل هغه ته ويل كيږي چې مدعي ديو شي دمالک كيدو دعوى وكړي مگر سبب دملک بيان نه كړي) په باره كې قاضي د دروغو پر گواهي باندې فيصله وكړه نو داسې فيصله يو اځې ظاهراً نافذه كيږي باطناً نه نافذه كيږي مثلاً يو چا د قاضي په وړاندې د دروغو د گواهي په ذريعه د منځې په باره كې دا ثابته كړه چې دا زما ملک دى قاضي د دروغو د گواهي مطابق فيصله وكړه نو ظاهراً دا منځه دهغه سړي ملک گرځي مگر باطناً نه يعني دهغه سړي لپاره له هغې منځې سره صحبت كول جائز نه دى.

(۱۶) يعني قاضي دې پر غائب شخص باندې فيصله نه كوي ولې په گواهي سره عمل كول دقطع تنازع لپاره وي او دمدعى دا نكار بغير تنازع نه راځي او دمدعى عليه انكار د لته نشته ولې دغائب د طرف څخه داقرار او انكار دواړو احتمال شته نو دقاضي دقضاء جهت مشتبه شو ځكه د دواړو جهتونو (يعني اقرار او انكار) احكام مختلف دي، البته كه دغائب شخص وكيل يا وصي حاضر وو نو بيا پر غائب باندې حكم كول صحيح دى ولې وكيل دغائب دوكيل كيدو په وجه دغائب قائم مقام دى او وصى دقاضي د طرف څخه شرعاً دهغه قائم مقام دى.

**فائده**: دائمه ثلاثه ؤ په نزد دگواهانو په ذريعه قضاء پر غائب باندې جائزه ده ځكه چې دحضرت سفيان رضي الله عنه بي بي حضرت هنده رضي الله عنها نبي كريم ﷺ ته دخپلې نفقې په باره كې شكايت كړى وونبي كريم ﷺ هغې ته وفرمايل چې دسفيان رضي الله عنه له مال څخه دومره مال را اخله څومره چې تالره كافي كيږي حال دا چې حضرت سفيان رضي الله عنه په دې وخت كې حاضر نه وو، نو معلومه شوه چې قضاء پر غائب باندې جائزه ده. احناف جواب وركوي چې دا دنبي كريم ﷺ له جانب څخه قضاء نه بلكې فتوى ده همدا وجه ده چې حضرت هند ه رضي الله عنها نه دزوجيت دعوى كړې وه او نه يې پر هغه باندې گواهان قائم كړي وو.

(۱۷) همدارنگه كه چيرته هغه شي دكوم چې پر غائب باندې دعوى شوي ده هغه پر حاضر باندې ددعوى كولو لازم سبب وونو هم پر غائب باندې فيصله كول صحيح دى مثلاً يو چا ديو معلوم شي دعوى وكړه چې هغه دبل چا په قبضه كې وو چې داشى ماله فلان غائب څخه اخيستى وو او قابض دهغه ددې دعوى انكار وكړو يې ويل چې داشى زما ملک دى او مدعي پر دې خبره باندې گواهان پيش كړل چې دا شى ماله فلان

غائب شخه اخیستی دی نو دمدعی گواهان قبلیږي او قاضی پر حاضر او غائب دواړو باندي فیصله کوي ځکه چې په دي صورت کې له فلان غائب شخه اخیستل پر دغه حاضر باندي ددعوی کیدو سبب دی ځکه نو اوس حاضر سړی حکمًا دهغه غائب قائم مقام کیږي.

(۱۸) او قاضي دیویتیم مال چاته په قرض ورکولای شي ولی دیتیم مال چاته په قرض ورکولو کې مصلحت دی یعنې په دي کې دمال حفاظت دی او قاضی له مستقرض شخه دمال دبیرته اخیستو قدرت هم لري نو دضائع کیدو یې هیڅ خطره نشته، او قاضي دي دهغه یورسید ولیکي له خپل ځان سره دي وساتي چې هیریږي نه شي، او وصي لره دا اختیار نشته چې دیتیم مال چاته په قرض ورکړي همدارنګه پلار دخپل نابالغ او لاد مال چاته دقرض په ډول نه شي ورکولای ولی که په دغو دوو صورتونو کې قرضدار دقرض انکار وکړي نو وصی او پلار داسي طاقت نه لري چې هغوئ دا مال بیرته له مستقرض شخه ترلاسه کړي.

## باب التحکیم

### داباب دفیصل (حکم) مقررکولو په بیان کې دی

تحکیم دباب تفعیل مصدر دی معنی دریمان (منځګړی) مقررول، فریقین ته محکمین او دریم ته محکم وایي. دقضاء خوندي په تحکیم سره هم دفریقینو خصومت ختمیږي تحکیم دقضاء له انواعو شخه یو نوع دی. مصنف رحمه الله دهغه ذکر دقضاء شخه ځکه وروسته کړی دی چې دمحکم مرتبه په نسبت دقاضی کمه ده ځکه دقاضی فیصله پر هر چا باندي نافذه کیږي په داسی حال کې چې دمحکم فیصله یواځي پر هغه چا باندي نافذیږي چې دی یې دریم مقرر کړی دی همدارنګه دمحکم فیصله په حدودو او قصاص کې جائزه نه ده او د قاضي فیصله په حدودو او قصاص کې هم جائزه ده.

(۱) حَکَّمَا رَجُلًا لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمَا (۲) فَحَكَمَ بِبَيِّنَةٍ أَوْ إِقْرَارٍ أَوْ نُكُولٍ (۳) فِي غَيْرِ حَدٍّ وَقَوَدٍ وَدِيَةٍ عَلَى الْعَاقِلَةِ صَحَّ (۴) لَوْ صَلَحَ الْمُحَكَّمُ قَاضِيًا (۵) وَلِكُلٍّ مِنَ الْمُحَكِّمَيْنِ أَنْ يَرْجِعَ قَبْلَ حُكْمِهِ فَإِنْ حَكَمَ لَزِمَهُمَا (۶) وَأَمْضَى الْقَاضِي حُكْمَهُ إِنْ وَافَقَ مَذْهَبَهُ وَإِلَّا أَبْطَلَهُ (۷) وَبَطَلَ حُكْمُهُ لِأَبَوَيْهِ وَوَلَدِهِ وَزَوْجَتِهِ كَحُكْمِ الْقَاضِي بِخِلَافِ حُكْمِهِ عَلَيْهِمْ.

**ترجمه**: دوو کسانو یو سړی فیصل وګرځاوه چې ددوئ ترمنځ فیصله وکړي، بیا هغه فیصله وکړه په ګواهانو، یا په اقرار یا په انکار سره، له حد او قصاص او دیت پر عاقله نه پرته په نورو حقوقو کې نو دا صحیح ده، که قابل وو دریمګړی دقاضی کیدو، او فیصل کوونکو هر یوه ته جائزه ده چې دفیصل دمقرر کیدو شخه رجوع وکړي مخکې تر فیصله دهغه او که هغه فیصله وکړه نو لازمیږي پر دوئ دواړو باندي او نافذه دي کړي قاضي دفیصل فیصله که چیرته هغه موافقه وه دهغه مذهب سره که نه باطله دي کړي هغه او باطلیږي دفیصل فیصله دخپل مور او پلار او زوی او خپلي ښځي په حق کې لکه دقاضی حکم خلاف دفیصل دهغه حکم نه چې دهغوئ خلاف وي.

**تشریح**: (۱) که دوو متخاصمینو یو سړی فیصل (ددوئ ترمنځ دفیصله کولو مختار او دریم) وګرځاوه او دوئ دهغه په حکم سره راضی شول بیا که هغه ددوئ ترمنځ فیصله وکړه نو دا جائزه ده ولی متخاصمین هر یو چل

حق ولايت لري نوددوئ فيصل گرځول هم جائزدى ،تحكيم دادى چې متخاصمين پخپل منځ كې يوڅوك دريم وټاكي چې هغه چې كومه فيصله وكړي پرهغه باندى به دواړه متخاصمين راضي كيږي اوهغه ته محكم وايي .

(۲)كه فيصل دمدعى دگواهانومطابق فيصله وكړه ياپې دمدعى عليه پراقراريادهغه پرقسم خوړلودانكاركولوباندي فيصله وكړه نوداصحيح ده ولى دادشريعت موافق حكم دى،په دى شرط چې محكم متعين وي كه متخاصمينو دادول وويل چې هرڅوك چې لومړى مسجدته داخليږي هغه به زموږمحكم وي نودادجهالت په وجه صحيح نه دى .

(۳)په حدودواوقصاص كې يوڅوك فيصل گرځول جائزنه دى ولى متخاصمين پرخپلو وينو باندي ولايت نه لري همداوجه ده چې متخاصمينولره داجائزه نه ده چې خپله چالره مباح كړي،همدارنگه كه چيرته متخاصمينويوڅوك په قتل خطاء كې فيصل وگرځاوه بياهغه دقاتل پرعاقله باندي دديت حكم وكړنودهغه داحكم نه نافذكيږي ولى دقاتل پرعاقله باندي دهغه ولايت نشته ځكه چې هغوئ دى فيصل نه دى ټاكلى .

(۴)اودفيصل حكم پرهغوئ باندي نافذكيږي په دي شرط چې په فيصل كې دقاضى صفت موجودوي يعني عاقل،بالغ،مسلمان اوآزادوي همدارنگه محدودفى القذف نه وي ولى فيصل ددوئ ترمنځ دقاضى په منزله دى نوپه ده كې هغه لياقت شرط دى كوم چې په قاضى كې شرط دى،پس دكافر،مربى،ذمي،محدودفى القذف،فاسق اوماشوم تحكيم جائزنه دى ولى په دغوكې اهليت دقضاء اوشهادت نشته .

(۵)يعني محكمين (مدعي اومدعى عليه )هريوه لره دااختيارشته چې دفيصل له فيصل گرځيدوڅخه رجوع وكړي ترهغه چې فيصل ددوئ ترمنځ فيصله نه وي كړي ولى فيصل خودهغوئ له طرفه مقررشوى دى نوترڅوچې هغوئ دواړه راضي نه وي دى دفيصل په حيث فيصله نه شي كولاى،البته كه فيصل په داسې حال كې پردوئ باندي حكم وكړچې هغوئ دواړه دده پرتحكيم باندي قائم وونوداحكم پردوئ باندى لازميږي ځكه داحكم له فيصل څخه په داسى حال كې صادرشوى دى چې فيصل پرهغوئ دواړوباندي ولايت لري .

(۶)كه دفيصل حكم قاضى ته وړاندي كړاى شونوكه چيرته دغه حكم دقاضى داجتهاداو مذهب موافق وونوقاضى دي هغه نافذكړي ولى دفيصل دحكم په ماتيدوكې چې بياقاضى بعينه هغه حكم صادروي هيڅ فائده نشته،اوكه دفيصل حكم دقاضى دمذهب موافق نه وونوقاضى دي هغه باطل كړي ولى دفيصل حكم پرقاضى باندي لازم نه دى ځكه چې قاضي هغه فيصل نه دى گرځولى .

(۷)كه يودريمگړى دخپل مورا وپلاريا خپل زوى ياخپلې ښځې اواولادپه حق كې فيصله وكړي نوفيصل دافيصله باطله ده لكه دقاضى فيصله چې دخپلوقريبانوپه حق كې باطله ده ځكه ددغوقريبانو لپاره دتهمت په وجه گواهي وركول مقبوله نه ده نودهغوئ لپاره دقضاء حكم هم نه صحيح كيږي،البته كه فيصل دخپلومذكوروقريبانوپه خلاف فيصله كوي نوهغه بياصحيح كيږي لعدم التهمة .

## مسائل شتى

شتى : شتيت جمع دہ لکه جرحى چې دجريح جمع ده ،دلته دشتّى لفظ مرفوع دى دمسائل لپاره صفت دى ،دمصنفينو داعادت دى چې په كوم كتاب ياباب كې كه څه مسائلى ذكرنه شي نوهغه بيادكتاب ياباب په آخركې ذكركوي او دهغه عنوان :مسائل شتّى ،يامسائل منثورة يامسائل متفرقة ،ږدي دلته هم دهغه عادت مطابق :كتاب القضاء والتحكيم په پاى كې دمسائل شتّى په عنوان سره هغه مسائل ذكركيږي چې په كتاب القضاء كې تربحث لاندي نه دي راغلي .

(۱) لايتدذوسفل فيه ولاينقب كوة بلارضاء ذى العلو (۲) زائغة مستطيلة تنشعب عنها مثلها غيرنافذة لايفتح أهل الأولى فيه بابا (۳) بخلاف المستديرة (۴) ادعى دارا فى يدرجل انه وهبهاله فى وقت كذا فسئل البينة فقال جحدنيها فاشتريتها وبرهن على الشراء قبل الوقت الذى يدعى فيه الهبة لاتقبل وبعده تقبل.

**ترجمه** :ميخونه دي نه ټكوهي لاندي منزل والاپه كوركې اونه دي سورى جوړوي دبالاخاني دخاوندله رضابغير .

يوه اوږده كوڅه ده چې له هغې څخه يوه بله دغسې كوڅه جلاشوې ده چې بنده ده ،نه شي پرانيستلاى داولې كوڅې والاپه دغه كې دروازه خلاف له ګول كوڅې نه ،په يوه سراى يې دعوه وكړه چې دبل چاپه لاس كې دى چې هغه دا سراى ماته هبه كړى ووپه فلان وخت كې بياله ده څخه ګواهان طلب شول نوده وويل چې كله هغه له هبه كولو څخه انكاروكړنوما دا سراى له هغه څخه واخيست اوپراخيستلو يې ګواهان پيش كړل داګواهان شول پراخيستلوباندي مخكې ترهغه وخت چې ده دعوى دهبې كړي وه نوداګواهي نه قبليږي اوكه يې پرهغه بعدوخت باندي ګواهان پيش كړل نوګواهي يې قبليږي .

**تشريح** :(۱)كه لاندي منزل ديوچاواوبالامنزل دبل چاونودلاندي منزل والابه دبالامنزل والاله رضامندي پرته نه پخپل كوركې ميخونه ټكوهي اونه به په هغه كې روښن دان (كړكى) جوړوي ځكه په دي كې دبالامنزل دخلكو دنقصان انديښنه ده چې دهغوئ تعمير كمزوريامات شي،دادامام ابوحنيفة رحمه الله قول دى دصاحبينورحمهماالله په نزدهرداسي عمل كولاى شي چې په هغه كې دبل چانقصان نه وي،دځينو حضراتورايه داده چې دصاحبينورحمهماالله داقول دامام ابوحنيفة رحمه الله دقول تفسيردى يعني دامام صاحب رحمه الله دقول هم همدامطلب دى چې دلاندي منزل والامضرعمل نه شي كولاى غيرمضركولاى شي .

**فائده** :خلاصه داده چې كه چيرته ضرريقيني وونوپه اتفاق سره منع كړاى كيږي اوكه عدم ضرريقيني وونوپه اتفاق سره اجازه وركوله كيږي اوكه شك ووچې ضرررسوي ياپې نه رسوي نوپه دي كې اختلاف دى راجح قول دامام ابوحنيفة رحمه الله دى يعني منع كړاى كيږي لمافى الشامية:وفى قسمة المنية ان المختاران الخلاف فيما اذااشكل فعلما يسع رعندهمالا اه ,وكذاياتى فى كلام الشارح قريباانه المختارللفتوى (ردالمحتار:۴/۲۹۸)

(۲)كه ديوې اوږدي كوڅې څخه يوه بله دغسى اوږده كوڅه وتلې وه اوهغه دوهمه كوڅه بنده وه نوداولې كوڅي له اوسيدونكوڅخه چې دچاكوردوهمې كوڅې پركونه باندي واقع وي هغې اولي كوڅې نه

دروازه پرانيستلای شي مګردوهمې کوڅې طرف ته ددروازې اجازه نه لري ځکه دروازه دتګ راتګ په ...
وي حال داچې داولې کوڅې خلک په دوهمه کوڅه کې دتګ راتګ حق نه لري همدا وجه ده چې که چیرته په
دوهمه کوڅه کې يوسرای خرڅيده نوداولې کوڅې خلک دشفعه حق نه لري البته که چيرته دوهمه کوڅه بند
نه وه نوپه دغه صورت کې داولې کوڅې خلک په دوهمه کوڅه کې ددروازه ورکولوحق لري ولې په دې
صورت کې دادوهمه کوڅه دعاموخلکودتګ راتګ لاره شوه نوداولې کوڅې خلک هم په هغه کې دخپل
کوردروازه پرانيستلای شي
دتګ راتګ حق لري.

(۳)البته که چيرته اوله کوڅه اوږده وه مګرله هغې څخه وتلې بله کوڅه مستديره يعنې ګول وه
اودهغې دواړې غاړې له اولې کوڅې سره منبتي وي نوددواړوکوڅوله اوسيدونکوڅخه هرڅوک داحق لري
چې هغه دخپل کوردروازه چيرته چې وغواړي پرانيستلای شي ولې په ګول کوڅه کې دغه ميدان دټولوترمنځ
مشترک دی نوځکه هريوپکي دتګ راتګ حق لري.

(۴)که يوه سړي مثلازيدبل سړي مثلابکرپه لاس کې په مقبوض سرای باندې دعوی وکړه چې
هغه داسرای ماته په فلان وخت مثلادروژې دمياشتې پرلسمه کال ۱۴۲۸هج کې هبه کړی وو.قاضي نه هغه
څخه پرخپله دعوه باندې ګواهان طلب کړل بيامدعي وويل :مدعي عليه يوځل هبه وکړه بيايې دهبې څخه
انکاروکړنوزه مجبورشوم له هغه څخه مي دامذکورسرای واخيست.اومدعي پرخپل خريدباندې ګواهان
پيش کړل مګرداسې وخت ګواهان يې پيش کړل چې ترهغه وخت مخکې ووپه کوم وخت کې چې هغه دهبه
کولودعوی کړې وه مثلادخريدګواهانودلس شعبان کال ۱۴۲۸هج دخريدګواهي ورکړه يعنې ويې ويل چې
موږګواهان يوچې مدعی داسرای په لسمه دشعبان کال ۱۴۲۸هج کې له مدعي عليه څخه اخيستی ... ی
نودمدعی دامذکورګواهان نه قبليږي ځکه ددعوی اوګواهي ترمنځ تناقض (ټکر) بلکل ښکاره دی ځکه چې
مدعی ترهبه کولووروسته دخريددعوی کوي اوګواهان ترهبه مخکې دخريدګواهي ورکوي.اوکه چيرته
ګواهانودهبه دواقع کيدوتروخت وروسته دخريدګواهي ورکړه مثلاپه مذکورصورت کې يې وويل چې
موږګواهان يوچې مدعی داسرای په لسمه دشوال کال ۱۴۲۸هج کې له مدعي عليه څخه واخيست نوداسې
ګواهي بياقبليږي ځکه په دغه صورت کې ددعوی اوګواهي ترمنځ هيڅ تناقض نشته.

(۵) ومن قال لآخر اشتريت مني هذه الامة فانكر للبائع ان يطأها ان ترک الخصومة (۶) ومن اقر بقبض عشرة ثم ادعى انه زيوف صدق مع يمينه
(۷) ومن قال لآخر لک علي الف درهم فرد ثم صدقه فلاشي عليه.

**ترجمه** :اوکه چاوويل بل چاته چې تااخيستې ده دامنځه له مانه اوهغه انکاروکړنوبائع لره جائزه ده چې له
هغې سره وطی وکړي که چيرته يې خصومت پرېښود.اوکه چااقراروکړدلس درهمه دقبض کيدوبيايې دعوه
وکړه چې داخوکوټه وونودهغه تصديق دی وکړای شي سره دقسم اخيستو.اوکه چاوويل بل چاته چې

ستاپر ما باندي زر درهمه دي او هغه دا خبره رد کړه بيا يې دده تصديق وکړچې هو ستاپر ذمه زما زر روپۍ شته،نو هيڅ نشته پر هغه
باندی.

**تشريح**: (۵)که يو سړي بل ته وويل چې تادغه منځه له ماڅخه اخيستی ده او هغه بل سړي انکاروکړچې مادغه منځه له تاڅخه نه ده اخيستی بيا که بائع داعزم وکړچې له هغه سره دعوه نه کوم بلکې منځه خپل خان ته راګرځوم نوبائع ته جائزده چې له دغي منځې سره وطی وکړي ځکه چې کله مشتري انکاروکړنودا دهغه دطرف څخه فسخ شوه ولی له عقدڅخه انکارکول دفسخ عقدڅخه کنايه ده نوچې کله بائع هم دخصومت دپرېښودلو عزم وکړنوفسخ تامه شوه نومنځه بيرته دبائع مِلک ته راوګرځيده ځکه نوبائع ته جائزدی چې له هغی سره صحبت وکړي.

**فائده**: البته داسوال کيدای شي چې دبائع دطرف څخه خالی دخصومت دپرېښودلوپه عزم کولوسره فسخ نه ثابتېږی ځکه دثبوت فسخ لپاره عمل ضروري دی نوددي سوال جواب دادی چې په يواځي عزم سره که څه هم فسخ نه ثابتيږی مګردلته فعل هم راغلی دی چې هغه دبائع دامنځه په کورکې ساتل اوله هغی څخه خدمت اخيستل او په عزم سره له فعل فسخ ثابتېږي نوچې کله فسخ ثابته شوه نومنځه دبائع مِلک دی نوله هغی سره يې وطی کول جائزه ده. (الدّرالمختار: ۴/۴۰۳)

(۶)که چاإقراروکړچې ماله فلان څخه لس درهم قبض کړل بيا يې دعوی وکړه چې هغه کوټه وونو دهغه تصديق کيږی ځکه په ظاهره که څه هم معلوميږي چې دهغه په دعوی کې تناقض دی ولی چې کله هغه دلسو درهمو دقبض اقراروکړنوګواکي هغه دخپل حق دقبض کولواقراروکړځکه دقبض اقراردخپل حق دقبض کولواقرارله مستلزميږي نوګواکي هغه دکوټه درهمونو دقبض کولواقراروکړ اوس دهغه داوينا چې هغه کوټه ووصريح تناقض دی دهغه په کلام کې،مګرڅرنګه چې قبض کول اواخيستل يواځي په صافودرهمونوپوري مختص نه دی بلکې کوټه درهمونه هم قبض کيدای شی نودلسوکوټه درهمونودقبض کولواقراردصافو درهمونودقبض کولواقرارله مستلزم نه دی اوس دهغه ددي خبري څخه چې هغه کوټه دي دهغه په کلام کې تناقض نه لازميږي بلکې هغه دخپل حق دقبض کولومنکردی اودمنکرقول مع اليمين معتبريږي.

(۷)که چابل سړي ته وويل چې زماپرذمه ستازرروپۍ دي ،مقرله دهغه داخبره ردکړه چې ته غلط وايې ستاپرذمه زماهيڅ نشته،څه وخت وروسته مقرله دهغه په تصديق کولوسره وويل چې هوته سم وايې ستاپرذمه زمازرروپۍ دي، نودمقرپرذمه هيڅ نه لازميږي ځکه اقرارمخکی شوی ووچې دمقرله په رديدوسره له منځه ولاړ،اوس دهغه دطرف څخه دتصديق راتلل ازسرِنودعوه ده چې په ګواهانوسره يې ثابتول ضروري دی يابه دمقرتصديق وي ددي بغيردعوی بلادليل ده چې هيڅ اعتبارنه لري.

(۸)ومن ادعى على اخر مالاً فقال ما كان لك على شئ قط فبرهن المدعي على الف وهو برهن على القضاء او الابراء قبل (۹) ولو زاد ولا اعرفك (۱۰) ومن ادعى على اخر انه باع امته فقال لم ابعها منك فبرهن على الشراء فوجد بها عيبا برهن البائع برئ اليه من كل عيب لم تقبل (۱۱) ويبطل الصك بان شاء الله.

**ترجمه**: که چادعوه وکړه په بل چادمال اوهغه وویل چې ستاپرماباندي هیڅ شی هم نشته بیامدعي ګواهان پیش کړل دزرو روپواومدعی علیه بیّنه (ګواهان) پیش کړل داداٸیګی یادبرائت نوداګواهان قبلیږي .اوکه چیرته مدعی علیه پرخپل قول دااضافه وکړه چې زه له سره تاپیژنم نه نوبیایې ګواهان نه قبلیږي اوکه چادعوه په بل چاوکړه چې هغه خپله منځه پرماخرڅه کړه هغه بل وویل چې ماخپله منځه پرتاباندي نه ده خرڅه کړې بیاهغه پرخرڅیدوباندي ګواهان پیش کړل بیایې په هغې کي یوعیب پیداکړاوبائع ګواهان پیش کړل چې مشتري دی بري کړی دی له هرعیب څخه نوداګواهان یې نه قبلیږي،اوباطلیږی چک په ان شاءالله ویلوسره .

**تشریح**: (۸)که چاپه بل باندي دمال دعوه وکړه اوهغه وویل چې ستاپرماباندي هیڅ حق هم نه دی راغلی،بیامدعی پرزرو روپو باندي ګواهان پیش کړل دهغه په مقابل کي مدعی علیه ددغوزرو درهمونوداداکولوګواهان پیش کړل یایې پردي ګواهان پیش کړل چې تازه بري کړی یم نومدعی علیه ګواهان قبلیږي،په ظاهره داسی معلومیږی چې دمدعی علیه دخبروترمنځ تناقض دی په دي ډول چې اول یې وویل چې ستاپرماباندي هیڅ هم نشته،بیایې پراداٸیګی باندي ګواهان پیش کړل نوددي مطلب دادی چې زماپرذمه ستازردرهمونه وومګرهغه مااداکړل،نودادده په کلام کي ښکاره تناقض دی نودهغه دعوی بایدصحیح نه شي اوچې کله یې دعوی صحیح نه شي نوګواهان یې هم نه معتبریږي خودددي جواب دادی چې کله خوحق نه وي هم اداٸیګی کیږي یابرائت حاصلوي ددي لپاره چې خصومت دفع شي نومدعی علیه دکلام مطلب اوس داشوچې زماپرذمه ستاهیڅ حق کله هم پاتي نه دی البته ددفع شرلپاره مامجبوراداکړی دی .نومدعی علیه په کلام کي هیڅ تناقض نشته ځکه نودهغه ګواه اودعوی صحیح دي اودهغه ګواهان قبلول صحیح دی .

(۹)اوکه مدعی علیه وویل ستاپرماباندي هیڅکله څه لازم شوي نه دي اوزه تاله سره پیژنم نه ،بیاهغه پراداٸیګی باندي ګواهان پیش کړل نوپراداٸیګی باندي دهغه ګواهان هم نه قبلیږي ځکه بغیردپیژندګلوي نه ددووکسانوترمنځ اخیستل ورکول،وصول اومعامله اومصالحه نه شي کیدای نومدعی علیه په کلام کي ښکاره تناقض دی هغه ډول تطبیق چې په تیره مسئله کي ورکړل شوی وو هغه دلته ممکن نه دی نوپه دغه صورت کي دمدعی علیه دعوی صحیح نه ده .

(۱۰)که چاپه بل چاباندي دعوه وکړه چې هغه خپله منځه پرماباندي خرڅه کړي ده اومدعی علیه وویل چې هیڅکله مي پرتاباندي نه ده خرڅه کړي اومدعي پرخریدباندي ګواهان پیش کړل خریدیې ثابت کړاومدعی علیه ته یې قیمت ورکړلاپرمنځه یې قبضه وکړه بیاپه منځه کي کوم عیب پیداشواومشتري دهغه عیب په وجه غوښتل چې ردیې کړي مګربائع ګواهان پیش کړل چې مشتري بائع دمبیعی دهرعیب څخه بري کړی دی نودبائع ګواهان نه قبلیږي ولی دبائع په خبروکي تناقض دی په دي ډول چې نفس مبیعه مقتضي ده چې مبیعه مشتري ته صحیح سالمه ورتسلیم شی اوچې کله بائع له هرعیب څخه برائت په ګواهانوسره ثابت کړنووصف دصحیح سالم کیدوساقط شونودلته داضروري ده چې اصل مبیعه موجوده وي البته دمبیعی وصف دسلامتی ساقط وي ځکه دوجودوصف یاسقوط وصف لپاره ضروری ده چې اصل بیع موجوده ده حال

دا چې مدعی علیه له اصل بیع څخه انکار کړی دی نو دهغه پخپله دعوی کې تناقض دی نو گواهان د بائع نه معتبریږي ځکه گواهان هلته معتبریږي چیرته چې دعوی صحیح وي.

(۱۱) که چا د چک (رسید) په پای کې ان شاء الله ولیکل نو د دغی استثناء په وجه دامام ابوحنیفة په نزد د دغه چک ټول مضمون باطلیږي که په هغه کې ډیر شیان لیک وي او که یو شی پکي لیکلی وي ځکه په چک کې ډیر شیان یو پر بل باندي عطف کیږي ذکر کیږي نو ټول شیان په منزله دیو شي دي نو دان شاء الله کلمه دټول تحریر جانب ته گرځوي لکه یو څوک چې ووایې :عبدی حر وامرأتی طالق وعلی مشی الی بیت الله ان شاء الله .نو دان شاء الله تعلق له دریوواړو جملوسره دی یعني دهغه مريی آزادیږي او نه دهغه ښځه طلاقیږي اونه پر هغه باندي بیت الله ته تلل لازمیږي،ځکه چې هغه دادري واړه امور دالله تعالی تر مشیت پوري معلق کړي دي او دالله تعالی مشیت معلوم نه دی نو دان شاء الله په وجه سره دا ټول مضمون باطلیږي.

**فائده** :په داسی حال کې چې دصاحبینو رحمهما الله په نزدیوا حي دآخري شي حکم باطلیږي ټول مضمون نه باطلیږي ولی په جملو کې اصل استقلال دی او چک داعتماد لپاره لیکل کیږي نو که ان شاء الله ټولو طرف ته راجع کړای شي نو دټول بطلان لازمیږي چې دتحریر له مقصود خلاف دی ځکه نو ان شاء الله دهغه طرف ته راجع کیږي چې دهغه سره متصل دی .دصاحبینو رحمهما الله قول راجع دی کمافی الشامیة :وهما اخرجا صورة کتب الصک من عمومه بعارض اقتضی تخصیص الصک من عموم حکم الشرط المتعقب جملا متعاطفة للعادة وعلیها یحمل الحادث ولذا کان قولهما استحسانا اجماعا علی قوله (رد المحتار:۳/۳۰۶)

(۱۲) وان مات ذمی فقالت زوجته اسلمت بعد موته وقالت الورثة اسلمت قبل موته فالقول لهم (۱۳) وان قال المودَع هذا ابن مودعی لاوارث له غیره دفع المال الیه (۱۴) وان قال لآخر هذا ابنه ایضا وکذبه الاول قضی للاول (۱۵) میراث قسم بین الغرماء لایکفل منهم ولا من وارث.

**ترجمه** : که ذمی مړ شو او دهغه ښځي وویل چې زه دهغه له مرگ وروسته مسلمانه شوي یم او وارثانو وویل چې ته دهغه تر مرگ مخکې مسلمانه شوي وي نو قول د وارثانو معتبریږي او که مودع وویل چې دا زما د مودع زوی دی دهغه هیڅ وارث نشته ما سواله ده نو ورته دي کړي مال ورده ته، او که یې دبل په باره کې وویل چې دا هم دهغه زوی دی او اول یې تکذیب وکړ نو فیصله دي د اول لپاره وکړي .دیو چا میراث د قرض غوښتونکو ترمنځ تقسیم شو نو ضامن دي نه اخیستل کیږي له هغوئ نه اونه له وارث څخه .

**تشریح** :(۱۲) که یو ذمی مثلا نصراني مړ شو او دهغه ښځه مسلمانه شوه راغله او دعوه یې وکړه چې زه دخپل نصراني خاوند تر مرگ وروسته مسلمانه شوې یم نو ماته دي میراث راکړای شي ولی کله چې هغه مړ کیده نو زه موږ دواړو دین یو وو .مگر دمړي وارثانو وویل چې نه بلکې دهغه نصراني خاوند تر مرگ مخکې دهغه په ژوند کې مسلمانه شوي وې نو ته دمیراث مستحقه نه یې نو دلته د وارثانو قول معتبریږي ولی دمیراث څخه د محرومیدا سبب فی الحال موجود دی چې ښځه مسلمانه ده او د چامیراث چې غواړي هغه نصراني وو نو که ښځه فی الحال مړ کیدای نو دهغه ښځه له میراث څخه یقینا محرومه کیده ځکه د دواړو دین یو نه دی نو موجوده حالت به فیصل وگرځول شي .په زمانه کې به هم سبب د محرومیت وگڼل شي .

**فائده** :يو حالت دبل حالت لپاره فيصل گرځولوته استصحاب حال ويل كيږي ،داستصحاب حال معنى دا چې په يوه وخت كې ديوشي دثبوت حكم كول په بل وخت كې دهغه پرثبوت باندې په قياس كولوسره مثلا داسې ويل چې په ماضى كې داحكم ثابت ووځكه نوپه حال كې هم ثابتيږى لكه دمفقودشخص په باره كې چې ووايې چې هغه په ماضى كې ژوندى ووځكه نواوس به هم ژوندى وي ،ياداسې ووايې چې فى الحال داحكم ثابت دى ځكه نوپه ماضى كې هم ثابتيږى لكه دژرندي داوبوپه باره كې ووايې چې فى الحال دهغى اوبه جارى دي نوداسې يې بوله چې په ماضى كې هم جاري وې .

(۱۳)كه يوسړى مړشواودهغه مال له بل چاسره وديعت وو بيامستودع دكوم چاپه باره كې وويل چې دادمړه (مودِع) زوى دى اودده پرته دمړي بل هيڅ وارث نشته نوداما ل دوديعت دي هغه شخص ته وركړي دچاپه باره كې چې ده دمړي دزوى والي خبروركړى دى ځكه مستودع اقراروكړچې كوم مال زماپه قبضه كې دى هغه دمړي په نيابت سره دهغه دوارث حق جوړيږي داداسې شولكه مودَع چې خپله دمورِث لپاره دهغه په ژوندكې دمال اقراركړى وي .

(۱۴)كه مستودع ديوچاپه باره كې وويل چې دازمادمودِع زوى دى بيايې ديوبل چاپه باره كې وويل چې داهم دمړه زوى دى مگراول زوى دده تكذيب وكړيعنې اول زوى وويل چې له مابغيردمړه بل هيڅ زوى نشته نوداول زوى لپاره دمال حكم وركول كيږى ولې چې دمستودع اقراراول زوى لپاره صحيح شونوله مال څخه دمستودع قبضه ختم شوه نوددوهم لپاره دمستودع اقراركول پرلومړي اقرارباندې اقرارشمارل كيږي حال داچې پرغيرباندې اقرارنه صحيح كيږي .

(۱۵)كه قاضى ديوچاميراث دهغه پرقرض غوښتونكواووارثانوباندې تقسيم كړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدله قرض غوښتونكواووارثانوڅخه هيڅ ضامن نه اخيستل كيږي په داسې حال كې چې دصاحبينورحمهما الله په نزدكفيل ورڅخه اخيستل كيږي،دامام صاحب رحمه الله دليل دادى چې دحاضرينوحق كم تركمه ظاهراًثابت دى اودغائبينودحق احتمال شته نوديوموهوم حق په وجه سره يقيني حق دكفيل تروركولوپوري نه وروسته كيږى،دصاحبينورحمهما الله دليل دادى چې كيداى شي چې دمړي يووارث ياقرض غوښتونكى غائب وي ځكه كله مرگ يوناڅاپه واقع شي نواحتياط په كفيل اخيستوكې دى .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :ولم اره التصريح بالترجيح غيرانه يظهرمن اكثرالكتب الاعتمادعلى قول الامام فعلى هذاينبغي ان يكون راجحا.(هامش الهداية:۱۴۸/۳)

(۱۶)ولوادّعى دارًاارثالنفسه ولاخ غائب وبرهن عليه اخذنصف المدّعى فقط (۱۷) ومن قال مالي اوماامْلك فهوللمساكين صدقة فهوعلى مال الزكوة (۱۸) ولواوصى بثلث ماله فهوعلى كل شيء (۱۹) ومن اوصى اليه ولم يعلم بالوصية فهووصي بخلاف الوكيل (۲۰) ومن اعلمه بالوكالة صحّ تصرفه.

**ترجمه** :اوكه يې دعوى وكړه په سراى باندې دخپل ځان لپاره اودخپل غائب وررلپاره دميراث كيدواوپرهغه يې گواهان پيش كړل نوواديي خلي نيم مدعىٰ.اوكه چاوويل چې زمامال چې زه يې مالك يم هغه پرمسكينانوباندې صدقه ده نوداممحمول دى پرمال زكوة باندې اوكه يې وصيت وكړدخپل مال په دريمه

نو دا پر هر شي باندي محمول کیږي او که څوک وصی گرځیدلی وو او ده ته معلومه نه وه چې زه وصی گرځیدلی یم نو دی وصي دی، خلاف له وکیل نه، او چاته چې د وکالت خبر ور کړل شي نو صحیح دی دهغه تصرف۔

**تشریح**: (۱۶) که د چا په قبضه کې یو سرای وو بل چا گواهان قائم کړل چې دا سرای ماته او زما غائب ورور ته له پلار څخه میراث پاتي دی نو نیم سرای هغه ته ور کول کیږي چې گواهان یې درولي دي، او پاتې نیم دا مام ابو حنیفة رحمه الله په نزد دهغه چا په قبضه کې پریښودل کیږی د چا په قبضه کې چې فی الحال دی ځکه چې دا کیدای شي چې قابض دمړه له طرفه مختار وي نو دهغه قبضه نه ختمیږي، همدارنگه حاضر خصم نه دی دغائب له طرفه دهغه دحصې په وصولولو کې نو ځکه حاضر حق نه لري چې دقابض له لاسه دغائب حصه هم واخلي، همدارنگه قاضی هم د چا امانت ته د تعرض کولو حق نه لري تر څو چې هغه خپله حاضر شوی نه وي۔

**فائده**: صاحبین رحمهما الله فرمایي چې که چیرته قابض په شروع کې انکار کړی وو چې دا سرای دمړه مِلک نه دی بلکې زما خپل مِلک دی او مدعی په گواهانو سره ثابته کړه چې دا دمړه مِلک دی د قابض نه دی نو په دا سې صورت کې دغائب حصه له قابض څخه اخیستلای شي یو بل امین چاته دي ورکړي ځکه په انکار کولو سره قابض خائن ثابت شو او دخائن په قبضه کې امانت نه پریښودل کیږي ولی هغه دوباره بیا انکار کولای شي، دصاحبینو رحمهما الله قول استحسان دی ځکه راجح دی لما فی الدر المختار: ادعی دارالنفسه ولاخیه الغائب ارثا وبرهن علیه اخذ المدعی نصف المدعی مشاعا وترک باقیه فی ید ذی الید بلا کفیل جحد ذو الید دعواه اولم یجحد خلافا لهما وقولهما استحسان (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۴/۴۰۷)

(۱۷) که چا وویل چې زما مال پر مسکینانو باندي صدقه دی یا هغه مال چې زه یې مالک یم پر مسکینانو صدقه دی نو دالفظ هر هغه مال ته شاملیږی په کوم کې چې زکات واجبیږي لکه نقد، پسونه، دتجارت مالونه، علاوه له دغو شیانو لکه څمکه، دکور سامان دخدمت مریی وغیره ته نه شاملیږی دقیاس تقاضا خو داده چې ټولو مالونو ته شامل وي همدا دامام زفر رحمه الله مسلک هم دی، ځکه لفظ دمال او لفظ دمِلک عام دی هر مال ته شامل دی که په هغه کې زکوة واجب وي که نه وي، مگر استحسانا دزکوة په مالونو پوري خاص شوی دی وجه داستحسان داده چې دبنده ایجاب دالله تعالی پر ایجاب باندی قیاسیږی ځکه بنده لره بالاستقلال حق دایجاب نشته په کوم مال کې چې شریعت صدقه واجبه کړي ده دهغی طرف ته دبنده ایجاب هم راگرځي همدا قول راجح دی لما فی الدر المختار: ولو قال مالی او ما املکه صدقة فهو علی جنس مال الزکوة استحسانا (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۴/۴۰۸)

**فائده**: بیا که له نذر کوونکي سره یوا ځې هغه مالونه وو چې دهغو صدقه کول واجب وو نو دخپل ځان او دخپل عیال لپاره دي خرچ را وگرځوي ولی دنا ذر حاجت پر صدقه باندي مقدم دی چې تن خپل مال صدقه کړي او سبا بیرته دی دخلکو په وړاندي دسوال لاسونه ونه گرځوي بیا چې کله هغه ته مال په لاس ورشي نو له هغه څخه دي هغه اندازه صدقه کړي، دخلکو دحالاتو دمختلف کیدو په وجه یو معلوم مقدار متعین نه دی البته متاخرینو دمقدار تعین کړی دی چې مزدورسری دي دیوې ورځي خرچه وگرځوي او تنخواه خوردي دیوې میاشتي او زمیندار دي دیوه کال مصارف وگرځوي۔

(۱۸)که چادخپل مال ددريمې وصيت وکړنودا وصيت دهرډول مالونودريمې ته شامليږي ولې وصيت اخت ميراث دی نودميراث په شان په هرډول مالونوکې جاري کيږي هغه که مال نامی وي يعنې هغه مالونه وي چې پکې زکوة واجب دی اوکه غيرنامی مالونه وي يعنې هغه چې زکوة پکې واجب نه دی .

(۱۹)که چايو څوک خپل وصي مقررکړمګرهغه ته دځان وصی کيدوپه اړه معلومات نه وونودهغه وصی کيدل صحيح دی آن تردې که هغه دموصي دترکه څخه يوشی خرڅ کړي نودهغه بيع جائزة ده ،اوکه چابل څوک وکيل وګرځاوه مګرهغه ته دخپل ځان دوکيل کيدومعلومات نه ووچې بيايې دموکل يوشی خرڅ کړنودابيع ناجائزه ده،وجه دفرق يې داده چې وصی کيدل خلافت دی نيابت نه دی ځکه وصی کيدل داسې زمانې ته منسوبيږي چې په هغه زمانه کې نائب مقررول باطل دی يعنې وصايت دوصی له مرګه وروسته نافذکيږي حال داچې ديوچادمرګ وروسته دهغه دطرف نه نائب کيدل باطل دی ولی نائب دخپل منيب اختيارلري اوله مرګ وروسته دمړي اختياربالکل ختم کيږي نووصی کيدل خلافت دی نيابت نه دی ،اوخلافت دتصرف په سلسله کې پرعلم باندې نه موقوف کيږي نوځکه که وصي دخپل وصيتوب دنه معلومتياپه صورت کې يوتصرف وکړنوداتصرف يې جائزدی،پاتی شووکيل هغه دخپل موکل نائب وي ولی موکل ژوندی اوبااختياردی نوکله چې وکيل دخپل موکل نائب دی نونيابت پرعلم باندې موقوف وي ځکه دوکيل تصرف بغيردعلم صحيح نه دی .

(۲۰)چې کله داخبره ثابته شوه چې دتصرف دصحت لپاره وکيل ته دخپل وکالت علم ضروري دی نوکه يوعاقل بالغ چاته خبرورکړچې ته فلان سړي خپل وکيل مقررکړی يې بياهغه دموکل لپاره خريدوفروخت وکړنوداجائزدی ولي دوکالت په خبرورکولوسره پروکيل باندې يوشی لازمول بلکې دهغه لپاره يوحق ثابتيږي اوداډول معامله ديوه سړي په خبرسره هم ثابتيږي که خبرورکوونکی مريی وي که آزادوي،البته تميزشرط دی چې خبرورکوونکی به غيرمميزماشوم نه وي .

(۲۱)وَلَايَثْبُتُ عَزْلُهُ اِلَّابِعَدْلٍ اَوْمَسْتُوْرَيْنِ كَالْاِخْبَارِلِلسَّيِّدِبِجِنَايَةِعَبْدِهٖ وَلِلشَّفِيْعِ وَالْبِكْرِوَالْمُسْلِمِ الَّذِیْ لَمْ يُهَاجِرْ(۲۲)وَلَوْبَاعَ الْقَاضِیْ اَوْاَمِيْنُهٗ عَبْدًالِلْغُرَمَاءِوَاَخَذَالْمَالَ فَضَاعَ وَاسْتُحِقَّ الْعَبْدُلَمْ يَضْمَنْ وَرَجَعَ الْمُشْتَرِیْ عَلَى الْغُرَمَاءِ(۲۳)وَاِنْ اَمَرَالْقَاضِیْ الْوَصِیَّ بِبَيْعِهٖ لَهُمْ فَاسْتُحِقَّ اَوْمَاتَ قَبْلَ الْقَبْضِ وَضَاعَ الْمَالُ رَجَعَ الْمُشْتَرِیْ عَلَى الْوَصِیِّ وَهُوَعَلَى الْغُرَمَاءِ

**ترجمه** :اونه ثابتيږي دوکيل معزوليدل مګرديوه عادل يادو مستورالحال ګواهانوپه خبرسره لکه خبرورکول مولی ته دهغه دمريي دجنايت اوشفيع ته اوباکرې انجلۍ ته اوهغه مسلمان ته چې هجرت يې نه وي کړی اوکه خرڅ کړقاضی يادهغه امين مريی دقرض غوښتونکولپاره اومال يې واخيست بياهغه ضائع شواومريی دبل چامستحق وګرځيدنونه ضامن کيږي اورجوع به کوي مشتري پرقرض غوښتونکوباندې،اوکه حکم وکړقاضی وصی ته دمريي دخرڅولودقرض غوښتونکولپاره بياهغه دبل چامستحق وګرځيديامړشوترقبض کولومخکې اومال ضائع شونورجوع به وکړي مشتري پروصی باندې اووصی پرقرض غوښتونکوباندې .

**تشريح** :(۲۱)يعنې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددوکيل معزوليدل نه ثابتيږي ترڅوچې يوعادل سړی يادوه مستورالحال کسان (يعنې هغه کسان چې معلوم نه يې چې عادلان يادي که فاسقان) خبرورنکړي لکه مولی

ته دهغه دمريي دجنايت خبرورکول اوشفيع ته داخبرورکول چې ستاشفعه دفلان ځمکه خرڅه شوه اوخواني انجلۍ ته چې ستانکاح شوي ده يا داسي مسلمان ته چې له دارحرب څخه يې هجرت نه وي کړی ودارالاسلام ته داخبرورکول دشريعت فلان فلان احکام پرتاباندي لازم دي په دغوټولوصورتونوکې ديوه عادل يادوومستور الحال کسانوخبرضروري دی که وکيل ته يوه غيرعادل چادهغه دمعزوليدوخبر ورکړنوهغه نه معزول کيږي اوشفيع ته که يوغيرعادل دځمکی دخرڅيدوخبرورکړاودی خاموش شونو دده حق دشفعه نه ساقطيږی همدرانګه که يوې ځواني انجلۍ ته غيرعادل سړي خبرورکړنودهغې خاموشي اجازه نه شمارل کيږي اوپه دارحرب کې مقيم نوي مسلمان ته که غيرعادل دشرعی احکامو خبرورکړنوپرهغه باندي نه لازميږي ځکه په دغوټولوکې يوقسم الزام راځي چې دهغه دخبروروسته پروکيل باندي معزوليدل لازميږی اومولی که چيرته دهغه په خبرسره مريی آزادکړنوپرهغه باندي فديه لازميږی اوپرشفيع باندي دخاموشی په صورت کې سقوط شفعه لازميږي اوپرباکره باندي دخاموشی په صورت کې نکاح لازميږی اوپرنوي مسلمان باندي احکام دشريعت لازميږی نوچې کله پرمذکوره صورتونوکې يوقسم الزام راځي نودهغوپه باره کې خبرورکول يوډول شهادت دی ځکه نودشهادت له دووجزئينو(عدديا عدالت) څخه يوضروري دی ،يعنې داضروري ده چې مخبرکه يووعادل به وي اوکه خبرورکوونکي دوه کسان وونومستورالحال به وي.

**فائده** :دصاحبينورحمهماالله په نزدپه مذکوره صورتونوکې عدالت ياعددشرط نه دی بلکې هرڅوک چې دوکيل دمعزوليدوخبرورکړي هغه معزوليږی همداسي دانورصورتونه دي ځکه داټول داخبار بالتوکيل په شان معاملات دي، لکه په اخباربالتوکيل کې چې عدالت ياعددشرط نه دی همدارنګه په مذکوره صورتونوکې هم عدالت ياعددشرط نه دی.

**فائده** :دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :لان اصحاب المتون يقتصرون على قوله وهذامن باب الترجيح الالتزامي الغير الصريح (هامش الهداية:۳/ ۱۵۱)

(۲۲)که يومقروض شخص مړشوهغه په ترکه کې يومريی پريښودهغه ځای قاضی يادهغه امين (دقاضی امين هغه سړی دی چې قاضی ورته ووايې چې ماته مثلاًدهغه مريي دخرڅولولپاره امين کړځولی يې) هغه مريی دهغه دقرض اداکولوپه غرض خرڅ کړدهغه قيمت يې قبض کړمګرداقيمت دهغه له لاسه ضائع شو ،بيايوبل سړي دهغه مريي دعوی وکړه اوپه ګواهانوسره يې خپل استحقاق ثابت کړدمشتري څخه خپل مريی اخيستل وغوښتل مشتري دقاضی په حکم دامريی هغه مستحق ته ورکړنومشتري دخپلوپيسودواپس اخيستلومستحق شومګرځرنګه چې دلته بائع خپله قاضی يادهغه امين دی نوقاضي يادهغه امين دمشتري لپاره دثمن ضامن نه ګرځي ولی دقاضی امين دقاضی قائم مقام دی اوقاضی دخليفة المسلمين قائم مقام دی اوپرخليفة المسلمين باندي ضمان نه لازميږی نودهغه پرقائم مقام قاضی اوامين باندي هم نه لازميږی اوپرخليفة المسلمين وغيره باندي ضمان ځکه نه لازميږی چې که چيرته پردوئ باندی ضمان لازم کړای شي نوبياخلک ددي کارونوله کولوڅخه انکارکوي چې په نتيجه کې يې دخلکوحقوق ضائع کيږی حال داچې دحقوقوضائع کيدل ممنوع دی.نومشتري به دي قرض غوښتونکوته رجوع کوي

دچالپاره چې قاضي يا امين مذکور مريی خرڅ کړی دی ولی قاعده داده چې کله عاقد ته رجوع کول متعذر وي نو رجوع هغوته کيږي دچاچې عقدشوی وي اودلته چونکه عقدقرض غوښتونکولپاره شوی دی ځکه نو مشتري بايد هغوئ ته رجوع وکړي.

(۲۳)که قاضی دمقروض چې وفات شوی دی وصي ته حکم وکړچې دمړه مريی دقرض غوښتونکولپاره خرڅ کړه چې بيا هغه خرڅ کړاو دمريي قيمت يې قبض کړ مگر دمريي داقيمت دوصي له لاسه ضائع شو ،بيادهغه مريي يوبل مستحق پيداشواوهغه له مشتري څخه دامريی يووړ يادمشتري ترقبض کولومخکي دامريی مړشو نو مشتري به دڅمن په باره کې وصي ته رجوع وکړي ولی وصي دمړه له طرفه نائب گرځيدلی دی عقديې کړی دی نو دعقدحقوق دمشتري طرف ته گرځي داداسي شوه لکه مړه چې خپله خرڅ کړی وي ،بيادي وصی قرض غوښتونکوته رجوع وکړي ځکه وصي خودهغوئ لپاره خرڅ کړی وو او قاعده ده چې يوڅوک دبل لپاره کوم عمل وکړي اودهغه په نتيجه کې پرهغه باندي کوم ضمان راشي نو هغه به دضمان په باره کې من له العمل ته رجوع کوي.

(۲۴)ولوقال قاض عدل عادل قضيت على هذا بالرجم او بالقطع او بالضرب فافعله وسعک فعله (۲۵)وان قال قاض عزل لرجل اخذت منک الفا و دفعت الى زيد قضيت به عليک فقال الرجل اخذته ظلما فالقول للقاضي وکذا لو قال قضيت بقطع يدک في حق اذا کان المقطوع يده والماخوذ منه المال مقرا انه فعله وهو قاض.

**ترجمه** :که وويل قاضی عادل عالم چې ماحکم کړی دی پرهغه باندي درجم يادلاس دغوڅولو يادوهلونو ته داکاروکړه تالره لاره خلاصه ده ددي کاردکولو ،اوکه وويل معزول قاضی يو چاته اخيستی دي ماله تاڅخه زرروپۍ اوهغه مي زيدته ورکړي دي فيصله مي کړي وه دهغه پرتا باندي اوهغه سړی وويل چې تاهغه په ظلم سره اخيستی وي نو دقاضی قول معتبر دی .همدارنگه که يې وويل چې ماحکم کړی دی ستادلاس دغوڅولودحق موافق،په داسی حال کې چې مقطوع اليدسړی اوهغه سړی له چاچې يې مال اخيستی وواقرارکوي چې هغه داکارکړی وو په داسی حال کې چې هغه قاضی وو.

**تشريح** :(۲۴)که يو عالم عادل قاضی چاته وويل ماپرفلان باندي درجم حکم کړی دی ته هغه رجم کړه يا پرهغه باندي دغلا ثابتيدوله وجهې مادهغه دلاس غوڅيدوحکم کړی دی ته دهغه لاس غوڅ کړه يا ماپرهغه باندي د جنايت دثابتيدوپه وجه ددرووهلوحکم کړی دی ته هغه ووهه،نوچاته چې قاضی حکم کړی دی هغه ته دحکم مطابق دعمل کولوجوازشته ځکه دحاکمانوفرمانبرداري کول واجب دی قال الله تعالى :(اطيعوا الله واطيعوا الرسول واولى الامر منکم)

**فائده** :مگرروايت دی چې امام محمد رحمه الله دهغې زمانې دقاضيانو خراب حالت ته په کتوسره له دي قول نه رجوع کړي ده اومشائخوهم هغه استحسان کړی دی ،خاص بيادهغوښارونوقاضيان چې په رشوتونوسره قاضيان کيږي چې داډول قاضيان زياتره جاهلان اوفاسقان وي ځکه نوترڅوچې خپله دمعاملی ښه تحقيق نه وي دقاضی په وينادي عمل نه کوي ولی له سزاورکولووروسته دهغه تدارک ممکن هم نه دی . (کذافی الشامية، ۴/ ۴۰۹)

**فائده** :امام ابومنصورماتريدي رحمه الله فرمايي چې كه چيرته قاضي عادل اوعالم وي نودهغه خبره منله كيږي ځكه دعلم په وجه هغه په فيصله كولوكې غلطي نه كوي اودعدل په وجه خيانت نه كوي اوكه عالم نه وي والبته عادل وونودهغه دفيصلې په باره كې دي تحقيق وكړاى شي ولى دجهالت په وجه په فيصله كولوكې دغلطي امكان شته،اوكه عالم فاسق وويا جاهل فاسق وونودهغه وينادي منله كيږي مګرداكه سزاوركونكى شخص خپله دحكم دسبب مشاهده وكړه ولى له دادول قاضيانوڅخه دخطاء اوخيانت امكان شته همداقول حق دى : لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :واعلم ان هذاهوالحق وهوقول ائمتنا الثلاثة الخ، فماقاله ابومنصوركشف عن مذهب الامام ابي حنيفة رحمه الله فلذا اختاره في المتون كذافي البحرالرائق (هامش الهداية:۳/۱۵۲)

(۲۵)اوكه يومعزول شوي قاضي مثلا زيدته وويل چې ماله تاڅخه زرروپۍ واخيستى فلان ته مې وركړي دكوموچې ماپرتاباندي دقضاء په دوران كې فيصله كړې وه مګرهغه (زيد) ورته وويل چې نه! بلكې هغه زرروپۍ تاله ماڅخه په ظلم وړي وي،نودقاضي قول معتبرېږي ،همدارنګه كه معزول قاضي چاته وويل چې مادقضاء په وخت كې په حق سره ستادلاغوڅولويعني دشرعي ثبوت مطابق پرتاباندي غلاثابته شوي وه چې په نتيجه كې مې ستالاس غوڅ كړى وو ،مګرهغه سړي وويل نه !بلكې تاپه ظلم سره زمالاس غوڅ كړى وو ،نوپه دغه صورت كې هم دقاضي قول معتبرېږي په دې شرط چې دچالاس غوڅ شوى دى هغه اوله چاچې مال اخيستل شوى دى هغه ،دواړه په دې اقراروو چې قاضي دقضاء په دوران كې داكاركړى وو ،وجه يې داده چې كله دوئ دواړه له قاضي سره اتفاق لري چې قاضي داكاردقضاء په وخت كې كړى دى نوظاهرحال دقاضي لپاره شاهددى ځكه ظاهردادى چې قاضي ظلم نه كوي .

**فائده** :له مذكورتفصيل څخه معلومېږي چې كه چيرته ماخوذمنه المال اومقطوع اليدعوى وكړه چې قاضي دافيصله دقاضي كيدومخكې ياترمعزول كيدووروسته كړې وه نوبيادمدعي قول معتبرېږي شمس الائمه علامه سرخسي رحمه الله ددي تصريح كړې ده ،مګرصاحب هدايه فرمايي چې اصح قول دادى چې په دغه صورت كې هم دقاضي قول معتبرېږي ولى خپل فعل داسې زمانې طرف ته منسوب كړى دى په كومه كې چې پرده باندې دضمان وجوب منافي دى يعني ده خپل فعل دقضاء وزمانې ته منسوب كړى دى اوپه زمانه دقضاء كې پرهغه باندي دضمان وجوب منافي دى نوقاضي ددغه نسبت په وجه دضمان منكرشو اودګواهانودنشتوالي په صورت كې دمنكرقول معتبرېږي،همداقول راجح دى :لمافي الدرالمختار:صدق قاض معزول قال بلايمين قال لزيداخذت منك الفاقضيت به لبكرودفعته اليه اوقال قضيت بقطع يدك في حق وادعى زيداخذه الالف وقطعه اليد ظلما واقربكونهمافي وقت قضائه وكذالوزعم لعله قبل التقليداوبعدالعزل في الاصح (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۴/۴۱۰)

## كتاب الشهادة

### داكتاب داحكام شهادت په بيان كې دى

شهادت په لغت كې دخبرقاطع اوحاضريدل په معنى دى ،ومنه قوله ﷺ :الغنيمة لمن شهدالوقعة أي حضرها) ګواه هم واقعي اومجلس دقاضي ته حاضرېږي ځكه نوګواه ته شاهدويل كيږي،اودشريعت په اصطلاح كې دحق داثبات لپاره دقاضي په مجلس كې دشهادت په لفظ سره دسترګوليدلي شي په باره كې رښتياخبروركولوته

شهادت ويل كيږي،په تعريف كې دستر كوليدلوله قيد څخه مراد دادی چې كوموشيانوته چې په ستر كو كتل كيږی هغه په ستر كوليدل ضروری دی اوكوم چې اوريدل كيږی دهغواوريدل ضروري دی اوكوم چې محسوس كيږی دهغومحسوسول ضروري دی.

دشهادت شرط دادی چې دشاهدبه عقل كامل،ضبط اوهليت وي اوكه مدعی عليه مسلمان وونوداهم شرط دی چې شاهدبه مسلمان وي، اودشهادت سبب دمدعي له شاهدڅخه دگواهي اداكولوطلب دی،اوركن د شهادت لفظ دشهادت دی يعنې دگواهي اداكولوپه وخت داسي ويل چې:زه گواهي وركوم ،داوينا كافي نه ده چې ماته معلوم دی يازمايقين دی دشهادت حكم پرقاضی باندي دمقتضائی شهادت مطابق حكم كول واجب دی.

دكتاب الشهادة له كتاب ادب القاضی سره مناسبت دادی چې ديوچاپه حق كې دقاضی فيصله كول مقصوددی،اوتردغه مقصودپوري درسيدوذريعه اووسيله شهادت دی،اومقصودتروسيله مخكې وي ځكه نومصنف رحمه الله تردی مخكی په كتاب ادب القاضی كې دقضاء احكام بيان كړل چې مقصوددی اوس دقضاء دوسيلی يعنې شهادت احكام بيانوي:

(۱) هِيَ إِخْبَارٌ عَنْ مُشَاهَدَةٍ وَعِيَانٍ لَا عَنْ تَخْمِينٍ وَحُسْبَانٍ (۲) وَيَلْزَمُ بِطَلَبِ الْمُدَّعِي (۳) وَسَتْرُهَا فِي الْحُدُودِ أَحَبُّ (۴) وَيَقُولُ فِي السَّرِقَةِ أَخَذَ لَا سَرَقَ (۵) وَشُرِطَ لِلزِّنَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ (۶) وَلِبَقِيَّةِ الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ رَجُلَانِ (۷) وَلِلْوِلَادَةِ وَالْبَكَارَةِ وَعُيُوبِ النِّسَاءِ فِيمَا لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ رَجُلٌ امْرَأَةٌ (۸) وَلِغَيْرِهَا رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ (۹) وَلِلْكُلِّ لَفْظُ الشَّهَادَةِ (۱۰) وَالْعَدَالَةُ

**ترجمه**:داخبرور كول دی دمشاهدي څخه نه داټكل اوگمان څخه،اولازميږی په طلب دمدعي سره اوشهادت پټول په حدودو كې مستحب دی اووايي به په غلاكې چې هغه اخيستی دی نه داچې هغه غلاكړی دی اوشرط دی دزناليپاره څلورنارينه اودنوروحدودواوقصاص لپاره دوه نارينه،اودولادت لپاره اوبكارت لپاره اودښځودهغوعيبونولپاره چې پرهغوباندي نارينه اطلاع نه شي راوستلای يوه ښځه،اوله هغه نه علاوه دنورولپاره دوه نارينه يايونارينه دوې ښځي اودټولولپاره لفظ دشهادت اوعدل شرط دی.

**تشريح**:(۱)مصنف رحمه الله دشهادت شرعی تعريف داسی كړی دی چې ديوشی په باره كې دستر كوليدلی حال بيانولوته په شريعت كې شهادت وايي داټكل اوگمان څخه څه ويلوته شهادت نه وايي له شهادة وروسته لفظ دعيان عطف تفسيری دی ددواړومعنی يوه ده.

(۲)اوگواهي هغه وخت اداكول لازم دی چې مدعي دگواهي اداكولوطلب وكړي ځكه گواهي دمدعي حق دی نودنورو حقوقوپه شان ددي حق لپاره هم دمدعي طلب شرط دی ولقوله تعالى:(وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ) ژباړه: يعنې تاسی گواهي مه پټوئ اوكه چاگواهي پټه كړه دهغه زړه گناهگاردی) په دغه آيت مباركه كې كه څه هم نهی له كتمان دشهادت راغلې ده خوقاعده داده چې كه ديوشی يوضدوونوله هغه شی څخه نهی دهغه په ضدامردی نوگواكي په آيت مباركه كې دگواهی اداكولوحكم دی ځكه نوگواهي اداكول فرض دی پټول يې ناجائزدی،البته كه دگواهي اداكوونكي يوعذروويا پرخپل ځان ويريدی ياله ده پرته نورخلک دگواهي وركولولپاره وونويا گواهي نه اداكول دگناه باعث نه دی.

(۳) په شرعي حدودو كې دګواهي اداكولو په باره كې ګواه لره اختيار دى كه يې پټوي او كه يې ښكاروي ځكه هغه ته دثواب دوه كارونه وړيښ دي يعنې اقامة الحدود او سترپوشي نو ده لره اختيار دى كه غواړي چې حدقائم كړي او كه غواړي چې نو سترپوشي دې وكړي ،خو سترپوشي افضله ده لقوله ﷺ: لِلَّذِي شَهِدَ عِنْدَهُ لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ لَكَانَ خَيْرًا لَكَ (يعنې كه تا هغه په جامه پټه كړي واى نو ستالپاره بهتره وه ) وقال ﷺ: مَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ سَتَرَ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ) يعنې كه څوك دمسلمان پرده پوشي وكړه نو الله تعالى به په دنيا او آخرت كې دهغه پرده پوشي كوي) او په آيت شريف كې چې يې فرمايلي دي چې كه ګاګواهي پټه كړه دهغه زړه ګناهګار دى ،نوله هغه ځخه مراد په حقوق العباد كې ګواهي پټول دى .حدودله حقوق العباد ځخه نه بلكې له حقوق الله ځخه دي .

(۴) په حدودو كې سترپوشي افضله ده البته دمال دغلا كيدو په صورت كې پر ګواه باندي لازم دى چې ګواهي وركړي او داسې به وايې چې فلان سړى مال واخيست چې دمسروق منه حق ضائع نه شي،داسې به نه وايې چې هغه مال غلاكړى دى چې دغله لاس له غوځيدو ځخه بچ شي په دې صورت كې ستر او اظهار دواړه جمع كيږي خو كه ګواه وويل چې هغه مال غلا كړى دى نو دا هم جائزدى مګر افضل دادى چې دغلا الزام ونه لګوي ځكه مقصود دمسروق منه دحق ثابتول دى چې دغلا د الزام لګولو بغير هم حاصليږي .

(۵) دشهادت ځلورمرتبې دى اول شهادت فى الزنادى ،په هغه كې دځلورو نارينه وګواهي معتبره ده لقوله تعالى :(وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ) (يعنې كومې ښځې چې دبې حيائى كاروكړي ستاسو له بيبيانو ځخه نو تاسې پرهغو ښځو باندي ځلور كسان له خپلو خلكو ځخه ګواهان كړئ) همدارنګه دصحابه كرامو پردې باندې اجماع ده چې كه دزنا ګواهان ترځلوروكم وو نو پر هغه باندي حد قذف جاري كيږي نو دا اجماع ده په باب زنا كې ، ځلورو ګواهانو پرشرط كيدو باندي ،او په شهادت فى الزنا كې دښځو ګواهي نه قبليږي ،لحديث الزهرى رَحِمَهُ اللهُ :مَضَتِ السُّنَّةُ مِنْ لَدُنْ رَسُولِ اللهِ وَالْخَلِيفَتَيْنِ مِنْ بَعْدِهِ أَنْ لَا شَهَادَةَ لِلنِّسَاءِ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ) يعنې درسول الله ﷺ او دهغه وروسته ددوو خليفه ګانو (يعنې حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه )له زمانې راهيسې دا طريقه راروانه ده چې په حدودو او قصاص كې دښځو ګواهي نه ده معتبره )

(۶) دشهادت دوهم قسم له حدزنا ځخه سوا په نورو حدودو (مثلا حدسرقه .حدقذف وغيره ) او قصاص كې ګواهي وركول دى،په دغو حدودو او قصاص كې ددو نارينه وګواهي معتبره ده لقوله تعالى :(فَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ) پس تاسې ونيسئ دوه ګواهان له خپلو نارينه وځينې ) په دغو حدودو كې هم دښځو ګواهي نه ده معتبره لحديث الزهرى مَامَرَّ .

(۷) دشهادت دريم قسم دداسې شيانو په باره كې ګواهي وركول دى چې پرهغو باندي له ښځو پرته نارينه نه شي خبريدلاى نو په هغو كې يوازې دښځو ګواهي معتبره ده لكه په ولادت كې (چې دې ښځې بچې زيږولى دى يايې نه دى ) او په بكارت كې (چې دا ښځه باكره ده يا نه ده ) او دښځو دداسې عيبونو په باره كې چې نارينه يې نه شي كتلاى په دې ټولو كې دښځو ګواهي معتبره ده لقوله ﷺ :شَهَادَةُ النِّسَاءِ جَائِزَةٌ فِيمَا لَا يَسْتَطِيعُ الرِّجَالُ

النظر اليه) يعنې كوم ځايونه چې نارينه نظرنه شي كولای په هغوكې دښځو گواهي جائزه ده) وجه د استدلال داده چې په حديث شريف كې د النِسـاء لفظ جمع ده چې الف لام جنسي پرداخل دی اوجمع چې معرف په لام جنس سره شي جمعيت يې ختميږي دجنس په معنی كيږي اودجنس اطلاق پرقليل اوكثيرټولوباندي كيږي نو لفظ دالنساء يوې ښځی لره هم شامل دی.

**فائده**: دامام شافعي رحمه الله په نزدپه مذكوره صورتونوكې دڅلوروښځوگواهي ضروري ده ځكه دوې ښځې ديوه سړي قائم مقام دي ځكه نوددوونارينه وقائم مقام څلورښځې كيږي، امام شافعي رحمه الله ته جواب وركړل شوی دی چې بالامذكورصورت دشهادت نه دی بلكې خبروركول دی اوپه دياناتوكې ديوه خبرهم مقبول دی.

(۸) قوله ولغيرها رجلان اورجل وامرأتان اى وشرط لغير الاشياء المذكورة رجلان اورجل وامرأتان، يعنې دشهادت څلورم قسم له مذكوره څلوروقسمونونه علاوه په نوروحقوقوكې گواهي وركول دی په دغوحقوقوكې ددوونارينه وُيايونر دووښځوگواهي قبليږي برابره ده چې مشهودبه حق مال وي اوكه غيرمال وي لكه نكاح، طلاق، عتاق، وكالت اووصيت وغيره، ځكه په شهادت كې اصل قبوليت دی نوپه مذكوره صورتونوكې له نارينه وُسره دښځوگواهي هم معتبره ده ځكه په ښځه كې هغه شيان پيداكيږي پركوموباندي چې دگواهي دلياقت مداردی يعنې مشاهده، ضبط اوادا، ولی په مشاهده سره گواه ته علم حاصليږي اوپه ضبط سره هغه باقی پاتيږي اوپه اداكولوسره قاضي ته علم حاصليږي اودكثرت نسيان په وجه چې دښځې په ضبط كې كوم نقصان راغلی دی هغه دبلې ښځی په ملتياسره پوره شوی دی نودنارينه وُسره دښځوگواهي هم معتبريږي.

**فائده**: دامام شافعي رحمه الله په نزدله حقوقوماليه وُنه علاوه په نوروحقوقوكې له نارينه وُسره دښځوگواهي نه ده معتبره ځكه ښځې ناقصات العقل دي اودهغوئ په ضبط كې خلل وي يعنې پردوئ باندي نسيان غالب وي اودهغوئ په ولايت كې قصوردی ځكه امير المؤمنين نه شي جوړيدلای حال داچې دگواه لپاره ضروري دی چې دهغه عقل كامل، ضبط يې تام اواهل دولايت وي، البته په حقوق ماليه وُكې دكثيرالوقوع په وجه بناء برضرورت دښځوگواهي هم جائزه ده.

(۹) قوله وللكل لفظ الشهادة اى وشرط لجميع مراتب الشهادة لفظ الشهادة، يعنې په مذكوره ټولوصورتونوكې دگواهي په وخت دشهادت لفظ ذكركول شرط دی ولی لفظ داشهدُ دقسم دالفاظوڅخه دی په هغه كې دقسم معنی ملحوظه وي نوددي لفظ په وجه گواه ددروغوويلوڅخه زيات احترازكوي، نوكه چيرته گواه وويل چې زه يې پيژنم يازمايقين دی نودهغه گواهي نه قبليږي لماقلنا.

(۱۰) قوله والعدالة اى وشرط العدالة، يعنې دگواه عادل كيدل شرط دی لقوله تعالی: (واشهدواذوی عدل منكم) يعنې له مسلمانانوڅخه دوه عادل كسان گواهان كړئ) دلته له عادل څخه هغه څوک مراددی چې دكبيره گناهونوڅخه پرهيزكوي اوپرصغيره گناهونويې هميشه توب نه وي كړی.

(۱۱) ويسأل عن الشهود سرا وعلنا في سائر الحقوق (۱۲) وتعديل الخصم لايصح (۱۳) والواحد يكفي للتزكية والرسالة والترجمة (۱۴) وله ان يشهد بما سمع او رأى كالبيع والاقرار وحكم الحاكم والغصب والقتل وان لم يشهد عليه (۱۵) ولايشهد على شهادة مالم يشهد عليه (۱۶) ولايعمل شاهد وقاض وراو بالخط ان لم يتذكروا.

**ترجمه** :اوتحقيق دي وكړي دشاهدانوپه باره کې په پټه اوپه ښكاره په ټولو حقوقوکې ،اودخصم تعديل معتبرنه دی،اويوسړی كافي دی دتزكيه اوپيغام رسولواوترجمې لپاره اوګواه لره جائزدی چې ګواهي وركړي دهغه څه چې اوريدلي يې وي اوهغه چې ليدلي يې وي لكه بيع،اقراراوحكم دحاكم اوغصب اوقتل كه څه هم ګواهي نه وركوي پرهغه باندې اوګواهي دي نه وركوي پرګواهي دبل چاترڅوچې هغه يې ګواه نه كړځوي،اوعمل دي نه كوي ګواه اوقاضي اوراوي پرخط باندې كه دوئ ته واقعه يادنه وه .

**تشريح** :(۱۱)دصاحبينو رحمهما الله په نزدپه ټولو حقوقو کې پرقاضي لازم دی چې هغه دګواهانو دعدالت پوښتنه وكړي په پټه هم اوسرِعام هم ،برابره ده كه خصم پرګواهانوباندې طعن وكړي يايې نه وكړي ځكه دقاضي حكم پرحجت باندې مبنى كيږي اوحجت دعادل چاګواهي كيدلای شي نودګواه دعدالت په باره كې تحقيق كول واجب دي .

دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددمسلمان ګواه په باره کې قاضي دهغه په ظاهري عدالت باندې اكتفاء كوي دهغه دعدالت په باره کې په خفيه ډول تحقيق نه كوي لقوله ﷺ المسلمون عدول بعضهم على بعض الاالمحدودين في القذف (يعني ټول مسلمان عادل دي ځينى پرځينوباندې حجت دي سوادمحدودين فى القذف نه ) همدارنګه ظاهره ده چې له داسي فعل څخه چې دده په دين کې حرام وي (يعني له دروغ ويلوڅخه )پرهيزكوي،البته دحدودواوقصاص دګواهانودعدالت په باره کې به قاضي تحقيق كوي كه څه هم خصم پرهغوباندې طعن نه كوي داځكه چې قاضي ددغوحدودودساقطولوپه باره کې حيله لټوي نوانتهائى تفتيش دي وكړي معامله دي ترپايه پوري ورسوي پوه كوشش دي وكړي ښايې يوه داسې خبره به پيدا شي چې په هغې سره حدساقط شي ،البته كه خصم دحدودواوقصاص نه علاوه پرنوروګواهانوباندې داطعن درلودچې دادروغجن دي يامريبان دي يامحدودفى القذف دي نوقاضي دي دهغوئ دحالاتوپه اړه هم پوښتنه وكړي .

دمشائخورايه داده چې دادعهداوزماني اختلاف دی دامام ابوحنيفة رحمه الله په زمانه کې خلكونيك كارونه كول ظاهرًاوباطنًاهغوئ رښتيني ووډتعديل ضرورت نه وو ،دصاحبينو رحمهما الله په زمانه کې په خلكودروغ ويل رواج شوځكه دګواهانودتعديل ضرورت دی .

**فائده** :په دې زمانه کې فتوى دصاحبينو رحمهما الله پرقول ده لمافى الدرالمختار:ولايسئل عن شاهدبلاطعن من الخصم الافي حدوقودوعندهمايسئل فى الكل ان جهل بحالهم سزاوعلنابه يفتى،قال العلامة ابن عابدين رحمه الله :(قوله به يفتى) مرتبط بقوله وعندهمايسأل فى الكل قال فى البحر والحاصل انه ان طعن الخصم سأل عنه فى الكل والاسأل فى الحدود والقصاص وفى غيرهامحل الاختلاف وقيل هذااختلاف عصروزمان والفتوى على قولهمافى هذاالزمان (الدرالمختار مع الشامية:۳/۳۱۴)

**فائده** :په خفيه ډول دګواهانودتعديل اوتزكيه مطلب دادی چې تعديل كوونكي به دګواه په حال دخبروخلكوڅخه دګواه په باره کې دګواه په ناخبرتياکې تحقيق وكړي اوپه علانيه تعديل دادی چې قاضي اوتعديل وتزكيه كوونكي دواړه سره يوځای كړي معدل دګواه په مخامخ دهغه په باره کې داووايي چې داعادل دی يافاسق دی،مګرعلانيه تعديل په خيرالقرون کې كيده چې په هغه زمانه کې خيرغالب

اوشرمغلوب ووزموږپه دي زمانه کې يوازې په خفيه تعديل سره اكتفاء كړاى كيږى ځكه په علانيه تعديل سره په خلكو کې فساد پيداكيږى .

**فائده** :دمزكى لپاره ضروري ده چې دده اوشاهدترمنځ ښكاره عداوت نه وي،اودمسلمان گواه په صورت کښې په هغه غيرمسلم نه وي،دخفيه تزكيه په صورت كې اصول اوفروع،ښځه اوخاوندا ونوړتول قريبان اوخپلوان يودبل دتزكيه اهل دي،همدارنگه سماعت،بصارت اوبلوغ هم دمزكى لپاره شرط نه دى ،اونه تعداد شرط دى البته عادل كيدل دهغه ضروري دى ،تزكيه به انتهائى خفيه اوپه پټ رازسره وي،حاكم دعدالت به ديوخط (چې دفقهاؤپه اصطلاح كې مستوره ورته ويل كيږى) په ذريعه چې پكې دفريقينوشاهدانواومدعى به شي وضاحت اوتعين په پوره وضاحت سره موجود وي،له مزكي ځخه دشاهدانوپوښتنه كوي،داخط به سرمهرپه لفافه كې بندحاكم عدالت دخپل خاص امين په ذريعه مزكي ته ورولیږدوي . (اصول الفقهاء:ص :۳۲)

(۱۲)كه دگواهانوپه باره كې خصم يعنې مدعى عليه وويل گواهان عادل دي (مثلامدعى عليه وويل چې گواهان عادلان خودي مگرزماپه خلاف په گواهي وركولوكې دهغوئ ځخه خطاشوي ده ياپې هيرشوي دي) نودهغه داخبره نه قبليږي ځكه دمدعى اودگواهانوداعتقادمطابق مدعى عليه دمدعى انكاركوي ظالم اودروغجن دى اوظالم اودروغجن سړى دگواهانوتعديل نه شى كولاى .

**فائده** :دصاحبينورحمهما الله په نزدمدعى عليه دگواهانوتعديل كولاى شي په دي شرط چې هغه اهل تعديل وي، يادامام محمد رحمه الله په نزدځرنگه چې ديوه شخص تعديل جائزنه دى نوله ده سره بايديوبل ملگرى پيداكړي،دامام ابويوسف رحمه الله په نزدله هغه سره ددوهم شخص دپيداكيدوضرورت نشته ځكه دامام ابويوسف رحمه الله په نزدديوه سړي تعديل هم جائزدى .

**فائده** :دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دى لماقال المفتي غلام قادر النعماني :القول الراجح هو قول الامام ،قال العلامة ابن الهمام قال ابو حنيفة رحمه الله تفريعا على قول محمد من راى ان يسال عن الشهود بلا طعن لا يقبل قول الخصم يعنى المدعى عليه اذا قال فى شهود المدعى هم عدول فلا تقع به التزكية لان فى زعم المدعي وشهوده ان الخصم كاذب فى انكاره مبطل فى اصراره فلا يصلح معدلا لان العدالة شرط فى المزكى بالاجماع )القول الراجح :۲/ ۱۳۰)

(۱۳)دگواه دعادل بللودتحقيق كولولپاره يومزكى هم كافي دى دوه يازيات كسان شرط نه دي،همدارنگه دقاصدكيدو لپاره هم يوسړى كافي دى مثلاقاضي تزكيه كوونكي ته يوسړى قاصد ورواستاوه چې دفلان گواه دعادل كيدوتحقيق وكړه نومزكى ته ددغه يوه سړي خبروركول كافي دى،همدارنگه دبل چادترجمه كولولپاره يوسړى كافي دى يعنې كه يوه سړي ديوچادژبې ترجمه په عدالتي زبان كې وكړه نوهم يوسړى كافي دى،دوه كسان ضروري نه دي،ولى چې مذكوره امور(تزكيه كول،مزكى ته دقاضي پيغام رسول ،اودگواه وغيره دژبې ترجمه كول )دشهادت له باب ځخه نه دي همداوجه ده چې په دغوكې دقاضي مجلس اودشهادت لفظ ضروري نه دى ځكه په دغوشيانوكې دشهادت په شان دوه گواهان هم ضروري نه دي .

**فائده** :امام محمد رحمه الله فرمايي چې تزكيه دشهادت په شان ده نوځرنگه چې دشهادت لپاره دگواهانوتعدادشرط دى همدارنگه دتزكيه لپاره هم تعدادشرط دى نودزنادگواهانودتعديل لپاره

ځلورمزکيان ضروري دي اودنوروحدودو اوقصاص لپاره دوه نارينه ضروري دي اوله حدودونه علاوه دنوروحقوقولپاره دوه نارينه يايونارينه دوې ښځې ضروري دي،اوپه كوموامورو چې نارينه نه شي خبريدلای په هغوكې ديوې ښځې تعديل كافی دی .

**فائده** :دشيخينورحمهما الله قول راجع دی لمالي الدرالمختار:وكفى عدل واحدللتزكية وترجمة الشاهدوالخصم والرسالة الخ (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۴/۲۱۶)

(۱۴)گواه چې دکوم شي تحمل كوی هغه دوه قسمه دی يودادی چې حكم يې بنفسه ثابت وي لكه بيع ،اقرار،دقاضي حكم وركول،غصب اوقتل دغه اموركه گواه واوريدل (كه چيرته هغه په اوريدوسره معلوميدل لكه بيع اواقرار) ياېې وليدل (كه چيرته هغه په اوريدوسره معلوميدل لكه غصب اوقتل) نوگواه لره دگواهي وركولوگنجائش شته.كه څه هم هغه پردغه معامله باندي گواه نه وي گرځيدلی ځكه په دغوصورتونوكې گواه په هغوشيانوپوه شو كوم چې دحكم لپاره موجب بنفسه دي (يعنې بيع واقراروغيره) اودگواهي لپاره پيژندل شرط دی لقوله تعالی:(الامن شهد بالحق وهم يعلمون) مگرهغه خلک چې دحق گواهي اداكوي په داسي حال كې چې هغوئ پوهيږی) البته دگواهي وركولوطريقه به داوي مثلاًدبيع دگواهي وركولوپه وخت به وايې چې زه گواهی وركوم چې هغه خرڅ كړه داسی به نه وايې چې هغه زه گواه جوړكړی يم ځكه دادروغ دي .

(۱۵)گواه چې دکوم شی گواهي وركوي دهغه دوهم قسم دادی چې حكم يې بنفسه نه ثابتيږی لكه گواهي وركول ځكه ترڅوچې مجلس قاضی ته گواهی منتقله نه كړي دهغی حكم نه ثابتيږی نودغه قسم حكم دادی چې اصل گواه ترڅوپوری پرخپله گواهي باندي فرع گواه گواه ونه گرځوي هغه هسی دده دگواهي په ليدوسره گواهي نه شي وركولای مثلاًزيد واوريدل چې بكرگواهي وركوي چې دعمروپرخالدباندي زردرهمه باندي دي نودزيدلپاره جائزه نه ده چې دعمرولپاره پرخالدباندي دزرودرهمودقرضی گواهي وركړي ځكه داشرط دی چې اصل گواه به فرع پرخپله گواهي باندي گواه نائب گرځوي اودلته هغه شرط نشته نودزيدگواهي ځكه صحيح نه شوه البته كه بكرزيدپرخپله گواهي باندي گواه وگرځاوه نوبيازيددهغه پرگواهي باندي گواهي وركولای شي ولی اوس هغه داصل گواه نائب دی .

(۱۶)گواه لره دانه دی جائزچې خپل خط وگوري دهغه مطابق گواهي وركړي ځكه يوخط دبل سره مشابه وي نوكيدای شی چې دادبل چاخط وي نوله دغه خط څخه هغه ته علم نه حاصليږی نوگواهي هم نه شي وركولای ولی دگواهي مدارپرعلم دی،البته كه چيرته هغه ته خپله گواهي په يادورغله نوبياگواهي وركول صحيح دی همدا حكم دقاضی اودحديث شريف دراوي هم دی چې كه يې په پوره ډول واقعه يادنه وه نو خالص په خط سره دي عمل نه كوي مثلاًقاضی پخپل رجسټركې دگواهانوتحرير شده گواهي وموندله مگردقاضی هغه گواهي په يادنه ده نوقاضی دي خالص دتحريرپربنياد حكم نه كوي،همدارنگه كه يوچاخپل ليكلی حديث شريف وموندمگرروايت يې په يادنه وونوداسری دخپل تحريرپربنياددهغه حديث مطابق دحل اوحرمت حكم نه شي كولای .

**فائده** :امام محمد رَحِمَهُ اللهُ فرمايې چې مذكوره خلكوهريوته روادى چې ګواهي وركړي په دې شرط چې په خط يقين ولري كه څه هم واقعه يې په يادنه وي ولى په رواوالي كې خلكولره وسعت دى وعليه الفتوى،امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايې چې دعاموګواهانودخط اعتبارنشته ځكه په هغوكې دتغيرقوي امكان شته البته دقاضى اوحديث دراوي خط معتبردى ځكه دهغوئ خط دهغوپه لاسونوكې محفوظ وي نوپه دې وجه چې قابل اطمينان دي دهغوئ پرخط باندې اعتمادكيږى دهغه مطابق عمل كول صحيح دى .

**فائده** :دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ قول راجح دى لماقال ابراهيم بن محمدالحلبى :لكن فى البحر وغيره وجوزمحمدفى الكل وجوزه ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ للراوى والقاضى دون الشاهدقال شمس الائمة الحلوانى ينبغى ان يفتى لقول محمدوجزم فى البزازية بانه يفتى بقوله .(مجمع الانهر:٣/٢٦٧)

**فائده** :په سركاري كاغذانوسره هم مدعى ثابتيږى ځكه سركارى كاغذان حجت دي كه څه هم دغيرمسلم حكومت كاغذان وي په دى شرط چې دستاويزان اوكاغذان له تزويرا وتصنع اوجعلي كاروائى څخه محفوظ وي قال فى المجلة لايعمل بالخط والختم بعدهماالااذاكاناسالمامن شبهة التزويروالتصنيع فيعمل به يعنى انه يكون مدارالحكم ولايحتاج الى الثبوت بوجه آخر،،،،،،،،،،المجلة:ص ١٠٩٠)

قال فى تنقيح الحامدية ،،،،،،،،ويزادان العمل فى الحقيقة انماهوبموجب العرف لابمجردالخط والله اعلم واقره فى الدرالمختار فى البرات ودفترباع وصراف وسمسار الخ،وكتب فيماعلقته على الدرالمختارنقلاعن شيخناالمحقق حجة الله البعلى الناجى فى شرحه على الاشباه مانصه تنبيه مثل البراءة السلطانية الدفترالخاقانى المعنون بالطرة السلطانية فانه يعمل به بكتاب الامان ونقل جزم ابن الشحنة وابن وهبان بالعمل بدفترالصراف والباع والسمساروالعلة أمن من التزوير.(تنقيح الحامدية:٢/٢٠)

(١٧)وَلَايَشْهَدُ بِمَالَمْ يُعَايِنْهُ إِلَّا النَّسَبَ وَالمَوْتَ وَالنِّكَاحَ وَالدُّخُولَ وَوِلَايَةَ القَاضِي وَأَصْلَ الوَقْفِ فَلَهُ أَنْ يَشْهَدَ بِهَا إِذَا أَخْبَرَهُ بِهَا مَنْ يَثِقُ بِهِ (١٨)وَمَنْ فِي يَدِهِ شَيْءٌ سِوَى الرَّقِيقِ لَكَ أَنْ تَشْهَدَ أَنَّهُ لَهُ (١٩)وَإِنْ فَسَّرَ لِلْقَاضِي أَنَّهُ يَشْهَدُ بِالتَّسَامُعِ أَوْ بِمُعَايَنَةِ اليَدِ لَاتُقْبَلُ (٢٠)وَمَنْ شَهِدَ أَنَّهُ حَضَرَ دَفْنَ فُلَانٍ أَوْصَلَّى عَلَى جَنَازَتِهِ فَهُوَ مُعَايَنَةٌ حَتَّى لَوْفَسَّرَ لِلْقَاضِي قُبِلَ

**ترجمه** :اوګواهي دې نه وركوي دهغه شي په باره كې چې ده ليدلى نه وي سوادنسب ،مرګ،نكاح دخول،دولايت قاضى اواصل دوقف نه اودهغه چالپاره جوازلري چې ګواهي وركړي دهغه چاپه حق كې چې دهغه په باره كې يومعتبرچا خبروركړى وي،اودچاپه لاس كې چې يوشى وي پرته دمريې نه نوتالره جوازلري چې ګواهي وركړي چې دادهغه دى،اوكه يې تفسيربيان كړقاضي ته چې زه ګواهي وركوم په اوريدوسره ياپه ليدوسره نومقبوله نه ده ،اوكه چاګواهي وركړه چې زه دفلان په جنازه كې حاضروم يامې لمونځ دجنازې اداكړنودا په مشاهده كې شمارل كيږى حتى كه دقاضى په وړاندې هغه بيان كړاى شي نوهم قبليږى .

**تشريح** :(١٧)دګواهانولپاره داجائزه نه ده چې دداسې شيانوګواهي وركړي چې ليدلي يې نه وي ځكه شهادت له مشاهده څخه مشتق دى اومشاهده په معائنه سره كيږى چې هغه دلته نشته البته دنسب، مرګ،نكاح،دخول ولايت قاضى اوداصل شي دوقف كولوپه باره كې دغسې ګواهي وركول هم صحيح دى په دې شرط چې قابل اعتمادخلكودغواموروپه باره كې خبروركړى وي نوګواه ته استحسانًا داجائزدى چې دهغوپه باره كې ګواهي وركړي مثلايوسړي له ډيروخلكوڅخه دبكردوفات كيدوخبر واوريداوداسې ولاړپه عدالت كې دبكردوفات ګواهي وركولاى شي همدارنګه په نسب ،نكاح وغيره كې هم،وجه يې داده

چې مذکورشیان داسې دي چې خاص خلک دهغوپه معائنه کولوپورې مختص وي په داسې حال کې چې په دغواموروسره داسې احکام متعلق وي چې ډېرې مودې لپاره پاتیږي نوکه ددغواموروپه باره کې داوریدوگواهي قبوله نه شي نوتیجه به یې داشي چې ډیراحکام به معطل شي مثلاپنځوس کاله وروسته یوسړي دعوی وکړه چې داځمکه زمادپلارمیراث دی حال داچې دهغه دولادت گواهان موجودنه دي،ظاهره ده چې که چیرته په دغه وخت کې دسماعت گواهي جائزه ونه گڼله شي نوددې سړي حق معطل کیږي ولې چې گواهان موجودنه دي نوثبوت ممکن نه دی.

**فائده**:داصل شي دوقف مطلب دادی چې مثلایوچاخپله ځمکه دیوې مدرسې لپاره وقف کړه اوس گواه دځمکې په باره کې داوریدوگواهي ورکولای شي چې فلان سړي خپله فلانۍ ځمکه دفلانۍ مدرسې لپاره وقف کړې ده مگردهغې ځمکې دحاصلاتو دتفصیل په باره کې گواهي نه شي ورکولای چې دومره پیداوارطالبانوته وقف دي اودومره داستاذانودتنخواگانولپاره وقف دي وجه یې داده چې اصل وقف په خلکوکې مشهوروي مگردهغه تفصیلات مشهورنه وي ځکه نودتفصیلاتوپه باره کې داوریدوگواهي ورکول ناجائزه ده.

**فائده**:په ټیلیفون شهادت اوگواهي نه ده معتبره،دگواهي له شرطونوڅخه یومهم شرط دادی چې گواه دقاضي په اجلاس کې حاضرشي گواهي ورکړي بلکې فقهاؤدگواهي تعریف داسې کړی دی چې دقضاء په مجلس کې به داخبره کوي،علامه حصکفي رحمه الله لیکلي دي :اخبارصدق لاثبات حق بلفظ الشهادة فى مجلس القاضى (گواهي دیوچادحق دثبوت په سلسله کې دیوربښتینی انسان دخبرنوم دی چې دقاضي مجلس ته حاضرشي دشهادت دلفظ په ذریعه بیان وکړي) په فون که کومه خبره وکړي نوظاهره ده چې په هغه کې داشرط مفقوددی ځکه دشهادت لپاره په ټیلیفون باندې اطلاع کافي نه ده.(جدیدفقهی مسائل:۱/۴۳۵)

(۱۸)که دیوچاپه قبضه کې له مریي اومنځي نه پرته کوم بل شی تاولیدنوستالپاره داجائزه ده چې داگواهي ورکړې چې داشی دهغه دی ځکه دقابض قبضه دهغه دمالک کیدودلیل دی ولې په ټولواسبابودملک کې دانجام کارپه اعتبارسره قبضه سبب دملک ده مثلامیراث سبب دملک دی لیکن هغه وخت دهغه مالک گرځي چې دامعلومه شي چې مردهغه مالک ووا ودمړي مالک کیدل دهغه دقبضې څخه معلومیږي یعنې که چیرته مړه ژوندکې پرهغه مال باندې قابض وونوداهغه دمالک کیدوعلامه ده همدارنگه هبه سبب دملک ده په دې شرط چې واهب خپله دهغه مالک وي اودواهب ملک دهغه دقبضې څخه ثابتیږي.

البته مریي اومنځه که چیرته تادچاپه قبض کې ولیدنودهغه په باره کې داتفصیل دی چې که تاته دهغه مریي کیدل معلوم وونودهغه په باره کې ته گواهي ورکولای شي چې دامریی ددې قابض ملک دي ځکه درقیت په وجه هغه پرخپل ځان باندې قابونه لري نوداد کړې وغیره په شان دقابض په قبضه کې دی ځکه پرهغه باندې دقابض قبضه دهغه دملک علامه ده اوکه تاته دهغه مریتوب معلوم نه وواوهغه ممیزهم وونوهغه چې دچاپه قبضه کې ووینې ته گواهي نه شي ورکولای چې داد قابض ملک دی ځکه په دې صورت کې هغه پرخپل ځان

قابولري نوپرهغه دبل چاقبضه نه ثابتيږي اوچې كله پرهغه دبل چاقبضه نشته نودهغه دملكيت علامه هم نشته نودهغه مالك كيدوگواهي وركول جائزه نه ده .

(۱۹)كوم شيان چې اوريدل كيږي دهغوپه باره كې گواهي وركول جائزه ده دهغوگواهي مطلق پريښودل پكاردي دقاضي په وړاندې دهغه تفسيركول نه دي پكارمثلا دنسب په باره كې دي داسې گواهي وركړي چې زه گواهي وركوم چې فلان دفلان زوی دی اوكه يې وويل چې ماله خلكونه اوريدلي دي چې فلان دفلان زوی دی نوځكه زه گواهي وركوم نوقاضي دي دده گواهي نه قبلوي،همدارنگه كه يې دقابض په باره كې وويل چې داشخص دفلان مكان مالك دی نوداگواهي قبليږي اوكه يې وويل چې داسړی پرفلان مكان باندې قابض دی نوزه دهغه دمالك كيدوگواهي وركوم نوقاضي دي دهغه گواهي نه قبلوي وجه يې داده چې له تفسيرنه كولوڅخه معلوميږي چې دهغه په زړه كې دهغه رښتينوالى موجوددی نوداگواهي دعلم تحت شوې ده اوكومه گواهي چې دعلم پربنيادوي هغه قبليږي اودتفسير كولوپه صورت كې داسې معلوميږي چې دگواه په زړه كې ددې خبرصداقت موجودنه دی نوداگواهي دعلم تحت نه ده شوې ځكه قاضي بايدهغه قبوله نه كړي .

(۲۰)كه چاداسې گواهي وركړه چې زه دفلان ودفن كولوته حاضرشوی وم دهغه دجنازې لمونځ مااداكړنودامشاهده اومعائنه ده نوددې په باره كې كه چيرته هغه گواهي وركوي نوذاداوريدوگواهي نه ده بلكې دديدگواهي ده ځكه خلك مړی دفن كوی اوپرمړي باندې دجنازې لمونځ كوي په تدفين اوجنازه كې شريک كيدل گواكې دمړي مشاهده كول دی نوكه چيرته هغه دقاضي په وړاندې دداډول تفسيرپه بيانولوسره گواهي وركړه چې ماله خلكوڅخه اوريدلي ووچې دادفلان جنازه ده بياهم قاضي دهغه گواهي قبلوي .

## بَابُ مَن تُقبَلُ شَهَادَتُهُ وَمَن لَاتُقبَلُ

داباب دهغوخلكوپه بيان كې دی چې دچاگواهي قبليږي اودچاگواهي نه قبليږي .

مصنف رحمه الله تردې مخكې دابيان كړی ووچې په كوموشيانوكې شهادت اوريدل كيږي اوپه كوموكې نه اوريدل كيږي.اوس دلته هغه بيان كوي چې دچاشهادت مقبول دی اودچانه دی مقبول،څرنگه چې هغه شيان په كوموكې شهادت قبليږي اوهغه شيان په كوموكې شهادت نه قبليږي دشهادت محل دی اومحل شرط وي اوشرط دتقدم تقاضاكوي ځكه يې نودهغوبيان مخكې كړ .

(۱)وَلَاتُقبَلُ شَهَادَةُ الأَعمٰى وَالمَملُوكِ وَالصَّبِيِّ (۲)إِلَّاأَن يَتَحَمَّلَافِي الرِّقِّ وَالصِّغَرِ وَأَدَّيَابَعدَ الحُرِّيَّةِ وَالبُلُوغِ (۳)وَالمَحدُودِفِي قَذفٍ وَإِن تَابَ (۴)إِلَّاأَن يُحَدَّ الكَافِرُ فِي قَذفٍ ثُمَّ أَسلَمَ (۵)وَالوَلَدِ لِأَبَوَيهِ وَجَدَّيهِ وَعَكسِهِ (۶)وَأَحَدِ الزَّوجَينِ لِلآخَرِ (۷)وَالسَّيِّدِ لِعَبدِهِ وَمُكَاتَبِهِ (۸)وَالشَّرِيكِ لِشَرِيكِهِ فِيمَاهُوَ مِن شَرِكَتِهِمَا.

**ترجمه** :اونه قبليږي گواهي دړانده اومريي اوماشوم،مگرداچې هغوئ دواړه تحمل وكړي په حالت دغلامي اوكم عمري كې اواداىې كړي له آزادي اوبلوغ وروسته اودمحدودفي القذف گواهي نه ده صحيح كه څه هم

توبه يې ويستلې وي مګر دا که په حد کړای شي کافر په قذف کې بيا هغه اسلام راوړي او د ماشوم د خپل مور او پلار او آنا او نيکه لپاره او د هغه د عکس، او د خاوند او ښځې ديو بل لپاره او د مولی د خپل مريې او مکاتب لپاره او ديوه شريک د بل شريک لپاره په هغه شي کې چې د دوئ له شرکت څخه وي.

**تشريح**: (۱) د ړانده ګواهي نه قبليږي ځکه د ګواهي په اداکولو کې په اشاره سره د مشهود له او مشهود عليه ترمنځ د تميز کولو ضرورت وي او ړوند له آواز پرته هيڅ ډول د اتميز نه شي کولای او آواز له آواز سره مشابه کيدلای شي نو ځکه د اتميز نه حاصليږي مملوک او نابالغ ماشوم ګواهي نه شي ورکولای ځکه ګواهي له بابه د شهادت څخه ده په داسې حال کې چې نابالغ او مريی پر خپل ځان باندې ولايت نه لري نو پر غير خو بې په طريقه اولی نه لري.

(۲) البته مريی او نابالغ ماشوم که په حالت د غلامی او ماشوم توب کې ګواه وګرځي يعنې د ګواهي تحمل وکړي او له آزاديدو او بالغ کيدو وروسته ګواهي اداکړي نو په دغه صورت کې د هغوئ ګواهي قبليږي ځکه تحمل د شهادت په مشاهده او سماع سره وي او مريی او ماشوم د مشاهدې او سماع اهل دي او څرنګه چې له آزادي او بلوغ وروسته ګواهي اداکوي په دې وخت کې دوئ د ګواهي اداکولو اهليت لري ځکه نو په دې وخت کې د هغوئ ګواهي مقبوله کيږي.

(۳) قوله والمحدود في القذف اى لايقبل شهادة المحدود في القذف الخ، يعنې د محدود في القذف ګواهي جائز نه ده که څه هم اوس هغه له جنايت څخه توبه کړي وي ځکه د محدود في القذف د ګواهي نه قبلول د هغه د حد تتمه ده يعنې د قاذف (پر چاباندې د زنا تهمت لګونکي) حد دا دی چې هغه اتيا (۸۰) درې ووهل شي او د هغه ګواهي رد کړای شي يعنې په آينده کې د هغه ګواهي قبوله نه شي.

**فائده**: ائمه ثلاثه فرمايي چې تر توبې وروسته د قاذف ګواهي قبليږي لقوله تعالى: (وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ) يعنې د دوئ ګواهي هيڅکله مه قبلوئ او دا خلک فاسق دي مګر نه هغه خلک چې توبه وباسي. وروسته له دې او خپل ځان اصلاح کړي نو الله تعالی خامخا مغفرت کوونکی او رحمت کوونکی دی) خلاصه دا چې د قاذف په باره کې پيشکه دا حکم دی چې د هغه ګواهي نه قبليږي مګر کوم خلک چې توبه وکړي هغوئ له دغه حکم څخه مستثنی دي، احناف جواب ورکوي چې د استثناء په باره کې قاعده دا ده چې استثناء په هغه جمله سره متعلقه کيږي په کومه جمله چې متصله وي په آيت مبارکه کې استثناء په هُمُ الْفَاسِقُونَ پورې متصله ده نو مطلب يې دا کيږي چې د دروغو تهمت لګوونکي فاسق دي مګر هغه خلک چې توبه وباسي هغوئ فاسق نه دي نو دا ثابته شوه چې د استثناء تعلق له (ولاتقبلوا لهم شهادة ابدا) پورې نه دی نو د قاذف د غه حکم د هميشه لپاره برقرار پاتی شو.

(۴) البته که په حالت د کفر کې يو چا پر يوه پاک دامن باندې د زنا تهمت ولګاوه او د غلط تهمت لګولو په وجه هغه په حد قذف سره ووهل شو بيا هغه مسلمان شو نو اوس چې هغه د چا په باره کې ګواهي ورکوي نو د هغه ګواهي قبليږي ولې په حالت د کفر کې د هغه لپاره د ګواهي حق وو مګر د حد قذف په وجه د هغه

داحق ختم شوییاچې کله مسلمان شونو دهغه لپاره دګواهي دوهم حق پیداشونو ددغه نوي حق په وجه دهغه ګواهي قبلیږي:

(۵)قوله والولدلابویه ای ولاتقبل شهادة الولدلابویه ،یعنې دزوی (مراداولاددی وان سفل)ګواهي دخپل مورا وپلار اواجدادو لپاره نه قبلیږی اودهغه عکس هم نه صحیح کیږی،یعنې دآباؤاواجدادوګواهي دخپلواولادونو اولمسیانو لپاره نه قبلیږی لقوله ﷺ :لاتقبل شهادة الوالدلولده ولاالولدلوالده ولاالمرأة لزوجهاولاالزوج لامرأته ولاالعبدلسیده ولاالمولی لعبده (دزوی شاهدي دپلارلپاره نه قبلیږی اونه دپلارګواهي دزوی لپاره اونه دښځي دخپل خاوندلپاره اونه دخاوند دخپلې ښځی لپاره اونه دمریې ګواهي دخپل مالک لپاره اونه دمالک ګواهي دخپل مریي لپاره )همدارنګه داولاداوآباؤترمنځ منافع متصلی وي همداوجه ده چې یوبل ته زکوة نه شي ورکولای نوددوئ یودبل لپاره ګواهي ورکول من وجه دخپل ځان لپاره ګواهي ورکول دی ځکه نه ده مقبوله.

(۶)قوله واحدالزوجین للاخر ای لاتقبل شهادة احدالزوجین للاخر ،یعنې له زوجینو څخه دیوه ګواهي دبل لپاره جائزه نه ده لقوله ﷺ لاتقبل شهادة الوالدلولده ولاالولدلوالده ولاالمرأة لزوجهاولاالزوج لامرأته ولاالعبدلسیده ولاالمولی لعبده (دزوی شاهدي دپلارلپاره نه قبلیږی اونه دپلارګواهي دزوی لپاره اونه دښځي دخپل خاوندلپاره اونه دخاونددخپلې ښځی لپاره اونه دمریې ګواهي دخپل مالک لپاره اونه دمالک ګواهي دخپل مریي لپاره )اوهمدارنګه دزوجینو منافع هم متصلی وي نوداهم من وجه دخپل ځان لپاره ګواهي ده،دامام شافعی رحمه الله په نزددیودزوجینو ګواهي دهغه بل لپاره جائزه ده ځکه دزوجینو څخه دیوه ګواهي دبل لپاره دعادل ګواهي ده دخپل غیرلپاره نوباید چې جائزه شي زموږدلیل پورتنی ذکرشوی روایت دی.

(۷)قوله والسیدلعبده،ای لاتقبل شهادة السیدلعبده،یعنې دمولی ګواهي دخپل مریی لپاره نه قبلیږی لماروینا،دغه رنګه که چیرته مریی مقروض نه وونودامن کل وجه دخپل ځان لپاره ګواهي ده ځکه نودمریی په لاس چې څه راځی هغه ټول دمولی مِلک دی اوبعینه په همدي وجه دمولی ګواهي دخپل مکاتب لپاره هم جائزه نه ده.

(۸)قوله والشریک لشریکه ای لاتقبل شهادة الشریک لشریکه ،یعنې دیوه شریک ګواهي دخپل شریک لپاره په داسی شي کې چې ددواړو دشرکت څخه په لاس ورغلی وي مثلاً په مال دشرکت کې یوشریک پرچاباندي څه دعوی وکړه اوهغه بل شریک دهغه لپاره ګواهي ورکړه نوداګواهي نه قبلیږی ځکه دامن وجه دخپل ځان لپاره ګواهي ده ځکه په مشترک شی کې چې دګواه څومره حصه ده هغومره مقدارګواهي یې دخپل ځان لپاره شوه نوځکه داګواهي نه صحیح کیږی.

(۹)وَالمُخَنَّثِ وَالنَّائِحَةِ وَالمُغَنِّيَةِ(۱۰)وَالعَدُوِّ إِن كَانَتْ عَدَاوَةً دُنيَوِيَّةً(۱۱)وَمُدمِنِ الشُّربِ عَلَى اللَّهوِ(۱۲)وَمَن يَلعَبُ بِالطُّيُورِ(۱۳)وَيُغَنِّي لِلنَّاسِ أَو يَرتَكِبُ مَا يُوجِبُ الحَدَّ(۱۴)أَو يَدخُلُ الحَمَّامَ بِلَا إِزَارٍ أَو يَأكُلُ الرِّبَوا أَو يُقَامِرُ بِالنَّردِ وَالشِّطرَنجِ أَو تَفُوتُهُ الصَّلوةُ بِسَبَبِهِمَا(۱۵)أَو يَبُولُ أَو يَأكُلُ عَلَى الطَّرِيقِ(۱۶)أَو يُظهِرُ سَبَّ السَّلَفِ.

**ترجمه**: او نه قبليږي ګواهي د نرښځي او نوحه کوونکې او سندرې ويونکې، او د دښمن که يې دښمني دنيوي وه او د لهو په ډول پرشراب خوري باندې دوام کوونکي، او هغه چې په مارغانو باندې لوبې کوي او هغه چې سندرې وايي خلکو ته يا ارتکاب د داسې ګناه وکړي چې حد واجبوي يا حمام ته داخليږي بغير جامه، يا سود خوروي يا قمار کوي په کتار سره يا لمونځ قضاء کوي د شطرنج او کتار په وجه، يا هغه چې بولې کوي يا خوراک کوي په لاره کې يا بر ملا اسلافو ته بد ردوايي.

**تشريح**: (۹) قوله والمخنث اى لاتقبل شهادة المخنث الخ، د هجړا (نرښځي) ګواهي نه قبليږي مراد هغه نرښځی دی چې بدفعلي کوي ځکه هغه فاسق دی نو ګواهي يې نه قبليږي نو هغه خنثی چې بدفعلي نه کوي هغه عادل او مقبول الشهادة دی همدارنګه نائحه (د نورو لپاره په اجرت ژړا کوونکې ښځې) او مغنيه (سندرې ويونکې) ښځې ګواهي هم نه قبليږي ځکه دا دواړې ښځې د حرام فعل مرتکبې دي نو د فسق په وجه د دوئ ګواهي نه قبليږي.

**فائده**: د وعده معاف ګواهانو ګواهي نه معتبريږي فقهاؤ چې د ګواهي کوم اصل ښودلی دی له هغه څخه معلوميږي چې که ګواه متهم وو او امکان وو چې هغه له چا څخه د انتقام اخيستو يا هغه ته د نقصان رسيدو په صورت کې د خپل ځان څخه د مضرت ليرې کولو په غرض ګواهي ورکوي نو د داسې چا ګواهي نه قبليږي لکه چې فقهاؤ د پخوانه راپيدا شوی دنيوي عداوت د ګواهي د قبليدو مانع بللی دی، د وعده معاف ګواهانو معامله داوي چې هغه خپل ځان د مقدمې څخه د آزاديدو لپاره د نورو په خلاف ګواهي ورکوي نو ځکه داسې ګواهي نه معتبريږي دا په هغه صورت کې ده چې کله پر هغه باندې ديو داسې جرم الزام نه وي چې شرعًا موجب د فسق وي که دا ډول الزام لګول شوي وو چې د فسق باعث هم دی او وعده معاف ګواه دا اقرار وکړي د بل په خلاف ګواهي ورکوي نو دا ګواهي په دې هم نه معتبريږي چې د هغه اقرار د هغه د فاسق کيدو دليل دی او د فاسق شهادت معتبر نه دی. (جديد فقهى مسائل: ۱/ ۴۳۱)

(۱۰) قوله والعدو ان كانت عداوة دنيوية اى لاتقبل شهادة العدو ان كانت عداوة دنيوية. يعني د دنياوي عداوت ساتونکي دښمن ګواهي هم نه قبليږي لکه مقذوف چې د قاذف په خلاف کومه ګواهي ورکړي يا د مقتول وارثان د قاتل په خلاف يو ګواهي ورکړي ځکه د دنياوي دښمني د ساتونکي په باره کې د دروغو د ګواهي د نه ورکولو څخه اطمينان نه راځي، او که عداوت د ديني معاملې په وجه وو نو له هغه څخه د ګواه پر عدالت باندې هيڅ اثر نه پريوځي نو د داسې چا ګواهي معتبره ده.

(۱۱) قوله ومدمن الشرب على اللهو اى لاتقبل شهادة مدمن الشرب على اللهو، يعني د لهو په طريقه پر شراب خوري (مراد له خمر څخه ما سوا نور مسکر مشروبات دي) باندې د مداومت کوونکي ګواهي نه قبليږي ځکه دا سړی د حرام فعل مرتکب دی، د مداومت قيد يې ځکه ورسره لګولی دی چې بلا مداومته د هغه دا عمل نه ښکاريږي او بيا له ښکاريدو څخه د هغه عدالت نه ختميږي او د لهو په طريقه قيد يې ځکه ورسره ايښی دی چې د دوا په طريقه استعمال څخه احترازراشي ځکه چې د دوا په ډول خوړلو سره يې عدالت نه ساقطيږي او دا قيد چې له خمر څخه سوا دا ځکه چې د خمر و يو ه قطره هم عدالت ساقطوي.

(۱۲)قوله ومن يلعب بالطيور اى لاتقبل شهادة من يلعب بالطيور ،يعنې هغه څوک چې په مارغانو باندي لوبي کوي مثلامرغ بازي وغيره دهغه هم ګواهي نه قبليږي ځکه چې په مرغ بازي باندي غفلت پيدا کيږي اوبل له دي وجهي چې پرچتو باندي دمارغانو دالوزلو څخه دخلکو پرپرده باندي نظرلويږي .

(۱۳)قوله ويغنى للناس اويرتكب مايوجب الحداى لاتقبل شهادة من يغنى للناس اويرتكب مايوجب الحد،يعنې دهغه چاګواهي هم نه قبليږي چې خلکو ته سندَرې وايې ځکه داچې خلک پرکبيره باندي سره جمع کوي چې دهغه په وجه دده عدالت ساقطيږي همدارنګه دهرهغه چاګواهي نه قبليږي چې له کبيره ګناهونو څخه ديوي داسې ګناه مرتکب شي چې دهغې سزاحدوي لکه زنا ،غلا وغيره ځکه داسې خلک فاسقان دي .

(۱۴)قوله اويدخل الحمام بلاازار،اى لاتقبل شهادة من يدخل الحمام بلاازار ،يعنې هغه څوک چې بغيرپرده لوڅ لغړحمام (په ځينوښارونوکې پرښکاره ميدان خلک پريوه ځاى لمبيږي له حمام څخه همدا صورت مراددى) ته داخليږي نودهغه ګواهي نه قبليږي ځکه سترښکارول حرام دى نوداسې دفاسق کيدوپه وجه مردودالشهادة دى،همدارنګه هغه څوک چې سودخوروي دهغه ګواهي نه قبليږي ځکه دسود حراموالى دنص قطعي څخه ثابت دى نوسودخوردفاسق کيدوپه وجه مردودالشهادة دى اوهغه څوک چې په کتار(نَرد) يوقسم لوبه ده چې اردشيربن بابک دايران پاچاايجادکړې ده ) ياشطرنج (مشهوره لوبه ده چې په شپږقسمه مهرسره لوبي کوي چې شاه فر،زين،فيل،اسپ،رُخ اوپيدل ورته وايې ) سره لوبې کوي دهغه ګواهي نه قبليږي ځکه په کتارلوبې کول حرام دى اودحرام مرتکب فاسق وي ځکه دهغه ګواهي نه قبليږي همدارنګه دچاچې دکتاريا شطرنج په وجه لمونځ قضاء شي دهغه ګواهي هم نه قبليږي ځکه چې لمونځ قضاء کول کبيره ګناه ده اودکبيره ګناه مرتکب فاسق وي .

(۱۵)همدارنګه هغه څوک چې غلط اوسپک حرکات کوي (چې دمروت خلاف وى) لکه په لاره کې بولي کول ياپه لاره کې خوراک کول نودهغه ګواهي هم نه قبليږي ځکه داسې دمروت پرېښودونکى دى نوچې دى په داسې کارونونه شرميږي نوپه دروغ ويلوسره هم نه شرميږي لهذادى پخپله ګواهي کې متهم کيږي اودمتهم ګواهي نه قبليږي

(۱۶)قوله اويظهرسب السلف اى لاتقبل شهادة من يظهرسب السلف ،يعنې څوک چې دسلف صالحينو(صحابه کراموا وتابعينو) په باره کې بدګوئى ظاهره کړي نودهغه ګواهي هم نه قبليږي ځکه دهغه فسق ظاهردى،بلکې که يوچاسب دمسلمان وکړکه څه هم له اسلافوڅخه نه وي نودهغه هم ګواهي نه قبليږي ځکه مسلمان ته ښکنځل کول دمروت منافي دى البته که بدګوئى پټه وساتي نودمستور کيدوپه وجه دهغه ګواهي مقبوله ده .

(۱۷)وَتُقْبَلُ لِأَخِيهِ وَعَمِّهِ وَأَبَوَيْهِ رِضَاعًا وَأُمِّ امْرَأَتِهِ وَبِنْتِهَا وَزَوْجِ بِنْتِهِ وَامْرَأَةِ ابْنِهِ وَأَبِيهِ (۱۸)وَأَهْلِ الْهَوَى إلَّا الْخَطَّابِيَّةَ (۱۹)وَالذِّمِّيِّ عَلَى مِثْلِهِ وَالْحَرْبِيِّ عَلَى مِثْلِهِ لَا عَلَى الذِّمِّيِّ (۲۰)وَمَنْ أَلَمَّ بِصَغِيرَةٍ إنْ اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ (۲۱)وَالْأَقْلَفِ وَالْخَصِيِّ وَوَلَدِ الزِّنَا (۲۲)وَالْخُنْثَى (۲۳)وَالْعُمَّالِ وَالْمُعْتَقِ لِلْمُعْتِقِ.

**ترجمه** :او قبليږي دخپل وروراو اکااورضاعی موراوپلاراو دخپلي ښځي دموراودخپلي ښځي دلوراوزوم اومېړوراودپلاردښځي لپاره اواهل هواء مګرنه دخطابيه ؤ ،اوذمي پرخپل مثل اودحربی کافرپرخپل مثل نه پرذمي اوداسي چې دصغيره ګناهونو مرتکب وي که يې له کبيره ؤ څخه ځان ساتلی وواوغيرمختون اوخصي اوولدزنا ،اوخنثی اودعاملينواودآزادشده ګانو دآزاديدونکولپاره .

**تشريح** :(۱۷)قوله تقبل لاخيه ای وتقبل شهادة الاخ لاخيه،يعني ديوچاګواهي دخپل ورور،آکارضاعي موراوپلاررخسردخپلي ښځي دلور،زوم دمېړوراودپلاردښځي لپاره قبليږي ځکه چې داخلک پخپله دغه ګواهي کې متهم نه دي ولی ددي خپلوانواملاک اودهغوئ منافع پخپلوکې سره مشترکی نه دي بلکې جلاجلا دي .

(۱۸)قوله واهل الهوی الاالخطابية ای وتقبل شهادة اهل الهوی الاالخطابية،يعني داهل هواء (يعني بدعتيانو) ګواهي قبليږي که څه هم داخلک من حيث الاعتقادفاسق دي ځکه داخلک په خپل زعم کې متدين دي نوپه ګواهي کې له دروغ ويلو څخه دځان ساتلواهتمام کوي،سواله فرقه خطابيه (له رافضيانو څخه يوه ډله ده چې دخپلي ډلی لپاره ګواهي ورکول واجبه ګڼي که څه هم ددوئ دډلی انسان محض ددروغومدعی وي) چې دهغوئ ګواهي نه قبليږي دتهمت دکذب په وجه .

(۱۹)قوله والذمی علی مثله ای وتقبل شهادة الذمی علی مثله،يعني دذميانوګواهي پخپلوکې ديوبل په خلاف قبليږي که څه هم ددوئ ملتونومختلف وي لکه ديهودوګواهي پرنصاری ؤباندي دنصاری ؤګواهي پريهودو لقوله تعالی فاغرينا بينهم العداوة والبغضاء ،ولی ذمی پرخپل ځان اوخپل اولادباندی ولايت لري نوپرخپل جنس باندي دګواهي لياقت هم لري پاتی شو دهغوئ اعتقادي فسق دهغوئ دګواهي قبليدومانع نه دی ځکه کوم شی چې هغوئ پخپل دين کې حرام ګڼي له هغه څخه دوئ پرهيزکوي اودروغ ويل په ټولواديانوکې حرام دي اوذميانوپه شان ديوه حربی ګواهي دبل حربی په خلاف قبليږي لماقلنا،البته دحربی (دحربی څخه مرادمستامن دی ځکه هغه حربی کافرچې داستيمان بغيرداراسلام ته داخل شي هغه مربی ګرځول کيږي اودمربي ګواهي نه ده معتبره) ګواهي دذمی په خلاف نه قبليږي ځکه پرذمی باندي هغه هيڅ ولايت نه لري ولی ذمی په داراسلام کې اوسيږي دحربی نه دهغه حالت اعلی دی .

الالغاز:ای شهودشهدواعلی شريکين فقبلت علی احدهمادون الاخر؟

فقل:شهودنصاری شهدواعلی نصرانی ومسلم يعتق عبدمشتر.

الالغاز:ای مسلمين لم تقبل شهادتهماشئ وشهدنصرانيان بضده فقبلت؟

فقل:نصرانی مات وله ابنان مسلمان شهدابناه انه مات نصرانياونصرانيان شهداانه مات مسلماقبل النصرانيان.(الاشباه والنظائر)

(۲۰)قوله ومن الم بصغيرة الخ ای وتقبل شهادة من الم بصغيرة الخ .يعني که ديوچانيک اعمال دهغه پرصغيره ګناهونوباندي غالب وي اوله کبيره ګناهونو څخه يې پرهيزکړی وي نودهغه ګواهي قبليږي اودشرعی عادل همداتعريف دی ځکه له کبيره ګناهونو څخه پرهيزکول ضروري دی اوپه صغيره ؤکې دغالب اعتباردی دچاچې صغيره ګناهونه زيات وي نودهغه ګواهي متاثره کيږي اودچاچې صغيره ګناهونه کم وي نودهغه ګواهي قبليږي ولی که له ټولوصغيره اوکبيره ګناهونو څخه پرهيزلازمي وګڼل شي نودشهادت درواز

بندیږی ځکه له انبیاؤ کرامو علیهم السلام سِواهیڅوک له صغیره ګناهونو معصوم نه دی.وَمن الم بمعصیة یعنې څوک چې دصغیره ګناهونو نه په کومه ګناه اخته شی.

(۲۱)قوله والاقلف والخصی ای وتقبل شهادة الاقلف والخصی،یعنې دچاچې ختنه نه وي شوي دهغه ګواهي قبلیږی ځکه دادهغه دعدالت مخل نه دی ولی نصوص دختنه له قید څخه مطلق دی البته له حضرت ابن عباس رض څخه مروی دی چې دغیرمختون ګواهي نه قبلیږی نودهغه داقول پراستخفاف بالدین باندي محمول دی ولی داستخفاف بالدین په وجه هغه عادل نه پاتیږی،همدارنګه دخصي ګواهي هم قبلیږی ولی دهغه اندام په ظلم غوڅ کړای شوی دی نوداداسي دی لکه دیوچاچې لاس غوڅ شوی وي همدارنګه دولدزناګواهي هم قبلیږی ولی دموراوپلاردفاسق کیدوپه وجه دماشوم فاسق کیدل نه لازمیږی.

(۲۲)قوله والخنثی ای وتقبل شهادة الخنثی،یعنې دخنثی ګواهي هم جائزه ده ولی خنثی به یانروي یابه ښځه وي ددوئ دواړوګواهي مقبوله ده نودخنثی ګواهي هم قبلیږی البته خنثی دشهادت په باب کې احتیاطًابنځه شمارله کیږی نودښځوپه شان له نارینه بغیردهغوئ ګواهي نه قبلیږی اوپه حدودوکې دهغوئ ګواهي نه قبلیږی.

(۲۳)قوله والعمال ای وتقبل شهادة العمال،یعنې دعمّالو ګواهي معتبره ده .عمّال هغه څوک دي چې دپاچاله طرفه دخراج ،جزیه اوصدقاتو دراټولوپرکارباندي ماموروي دهغوئ ګواهي معتبره ده ځکه نفس عمل (دصدقاتو وغیره راجمع کول ) فسق نه دی البته که چیره ظالم وویاد ظالم مددګاروو نوبیادهغه فسق په وجه دهغه ګواهي نه ده معتبره.اودمعتَق (آزادشده) ګواهي دمعتِق (آزادوونکي) لپاره جائزه ده ولی په ظاهره کوم تهمت نشته اوکه یوقسم تهمت وونوبیانه ده جائزه.

(۲۴)ولوشهدا ان اباهما اوصی الیه والوصی یدعی جاز(۲۵)وان انکر لا(۲۶)کما لوشهدا ان اباهما وکله بقبض دیونه وادعی الوکیل اوانکرها(۲۷)ولایسمع القاضی الشهادة علی جرح(۲۸)ومن شهد ولم یبرح حتی قال اوهمت بعض شهادتی تقبل لوعدلا.

**ترجمه**:اوکه دووکسانو ګواهي ورکړه چې زموږپلارووصی ګرځولی ووفلان سړی اووصي هم دعوی وکړه نوجائزدی.اوکه یې انکاروکړبیانه ده جائزه،لکه که چیرته ګواهي ورکړي چې زموږپلارفلان سړی وکیل ټاکلی ووهغه دقرض دوصول کولولپاره اووکیل دعوی وکړه دهغه یایې انکاروکړاونه دي اوري قاضی پرجرح باندي ګواهي،اوکه چاګواهي ورکړه اوله هغه ځایه نه وولیري شوی چې ویې ویل ماشبهه کړي وه په څه ګواهي کې نوداقول یې قبلیږی که هغه عادل وو.

**تشریح**:(۲۴)که دووورونوداګواهي ورکړه چې زموږمرحوم پلارفلان سړی وصي مقرر کړی دی هغه سړي هم دعوی وکړه چې زه ددوئ دپلاروصي یم نواستحسانادا جائزدی دقیاس تقاضاخودا ده چې داګواهي جائزه نه وي ځکه په دي کې دګواهانوفائده ده چې دهغوئ یوکارګذارپیداشوچې دهغوئ حقوق خوندي ساتي اوهغوئ ته دهغوئ دمیراث حق ورکوي.د.ستحسان وجه داده چې قاضی ته خپله ددي اختیارشته چې وصی مقررکړي چې دخلکومالونه لدضائع کیدوڅخه خوندي شی البته پرقاضی باندي داواجبه ده چې هغه داسي څوک وصی مقررکړي چې امانتدار،دیندار اوکارګذاروي نوپه مذکوره صورت کې دوصی وصي کیدل په

ګواهانوسره نه دی ثابت بلکې دقاضی په حکم سره ثابت شوی دی دګواهانوپه ګواهي سره قاضی له دې زحمت څخه خلاص شوچې دوصی دیانت اوامانت معلوم کړي خلاصه داچې داپه حقیقت کې ګواهي نه ده، بلکې دوصی په مقررکیدوکې دقاضی مددکول دی نوداجائزدی .

(۲۵)قوله وان انکرلا،ای ان انکرالرجل الوصية فلاتقبل شهادة الابنين ،یعنې که وصي دخپل ځان دوصی کیدومنکرشونوقاضی لره دااختیارنشته چې هغه دوصایت پرقبلیدوباندې مجبورکړي داچې په دغه صورت کې قاضي دوصی دمقررکیدوولایت نه لري نوددغوګواهانوپه ګواهي سره دوصي وصي کیدل نه ثابتیږي ځکه ګواهان په خپله ګواهي کې متهم دي اودمتهم ګواهي نه ده معتبره .

(۲۶)قوله کمالوشهدان اباهماوکله الخ،ای کمالاتقبل شهادة الابنين فی غيبة ابيهماان اباهماوكله الخ،يعني مذکورصورت داسې دی لکه یوڅوک چې غائب وي اودهغه دووزامنوداګواهي ورکړه چې زموږپلار (چې غائب دی )فلان شخص ددې وکیل ګرځولی دی چې په فلان ښارکې دهغه قرض وصول کړي نودهغوداګواهي نه قبلیږي مذکورشخص که دخپل وکالت مدعي وي که منکروي ځکه قاضی دغائب له طرفه دوکیل مقررکیدواختیارنه لري نوداوکالت دقاضی په حکم سره نه دي ثابت شوی بلکې دهغوګواهانوپه ګواهي سره ثابتیږي څرنګه چې داګواهان پخپله ګواهي کې متهم دي ولې چې ویل کیږي چې دوئ دخپلې ګواهي په ذریعه خپل ځان ته نفع حاصلوي اودمتهم ګواهي معتبره نه ده .

(۲۷)یعنې قاضی پرجرح باندې شهادت نه اوري مثلامدعی علیه دعوی وکړه چې دمدعی ګواهان فاسقین دي یاداچې مدعی ګواهان په پیسوراوستي دي اوپردي یې ګواه هم قائم کړل نوقاضی به دغه طرفته التفات نه کوي اونه به پرهغه حکم کوي بلکې په پټه اوښکاره به ددغوګواهانوپه باره کې تحقیق کوي که دهغوئ عدالت ثابت شونودهغوئ ګواهي قبلیږي که نه نه قبلیږي ولې قاضی ماموربالستردی اوپه دې ډول ګواهي اوریدوکې بې عزتي ده،البته که چیرته حق شرع یاحق عبدته متضمن وونوجرح داسې ګواهي اوریدله کیږي ځکه چې په دې صورت کې دحقوقوخوندې کولولپاره ګواهي ورکول ضروري ده،که څه هم په دې صورت کې هم بې عزتی ده مګرهغه ضمنًاده مثلاشهودالجرح وویل دمدعي ګواهانوزناکړي ده یایې غلاکړي ده مال یې چورکړی دی یایې څوک عمدًاوژلی دی .

(۲۸)که یوه عادل سړي دقضاء په مجلس کې ګواهي ورکړه اوتراوسه لاله مجلس قضاء څخه نه وولاړشوی چې ویې ویل له ماڅخه په ګواهي کې غلطی شوې ده،مثلادلسوروپوپه باره کې یې ګواهي ورکړه بیایې وویل چې له ماڅخه غلطی وشوه درحقیقت پنځه روپۍ دي نوددغه سړي داګواهي قبلیږي وجه یې داده چې دقاضی په مجلس کې کله ناکله دهیبت په وجه ګواپه وارخطایې مبتلاکیږي نودګواه عذرواضح دی اوچې کله دګواه عذرواضح دی نوترڅوچې مجلس دقضاء قائم وي دهغه ګواهي قبلیږي په دې شرط چې عادل وي .

## باب الاختلاف فی الشهادة

دا باب دی په شهادت کې دااختلاف بیان کې

تردي مخکی یې دګواهانو داتفاق احکام بیان کړل اوس داختلاف احکام بیانوي چې داقتضاء طبیعت عین مطابق دی ځکه اتفاق فی الشهادة اصل دی او اختلاف دیو عارض په وجه مثلاً دروغو وغیره په جه راځي او اصل احق بالتقدیم دی ځکه یې مخکی اتفاق فی الشهادة بیان کړ.

(۱) اَلشَّهَادَةُ اِنْ وَافَقَتِ الدَّعوٰی قُبِلَتْ وَاِلَّا لَا (۲) اِدَّعٰی دَارًا اِرْثًا اَوْ شِرَاءً فَشَهِدَا بِمِلْکٍ مُطْلَقٍ لَغَتْ وَبِعَکْسِهٖ لَا (۳) وَیُعْتَبَرُ اِتِّفَاقُ الشَّاهِدَیْنِ لَفْظًا وَمَعْنًی فَاِنْ شَهِدَ اَحَدُهُمَا بِاَلْفٍ وَالْاٰخَرُ بِاَلْفَیْنِ لَمْ تُقْبَلْ (۴) وَاِنْ شَهِدَ الْاٰخَرُ بِاَلْفٍ وَخَمْسِمِائَةٍ وَالْمُدَّعِیْ یَدَّعِیْ ذٰلِکَ قُبِلَتْ عَلَی الْاَلْفِ (۵) وَلَوْ شَهِدَا بِاَلْفٍ وَقَالَ اَحَدُهُمَا قَضَاهُ مِنْهَا خَمْسَمِائَةٍ قُبِلَتْ بِاَلْفٍ وَلَمْ یُسْمَعْ اَنَّهٗ قَضَاهُ اِلَّا اَنْ یَّشْهَدَ مَعَهٗ اٰخَرُ (۶) وَیَنْبَغِیْ اَنْ لَّا یَشْهَدَ حَتّٰی یُقِرَّ الْمُدَّعِیْ بِمَا قَبَضَ.

**ترجمه**: ګواهي که موافقه له دعوی سره وه نو بیا قبلیږی که نه بیا نه قبلیږي دعوی یې دسرای وکړه دوراثت په سبب یادا خیستلو په سبب او ګواهانو ګواهي ورکړه دمطلق ملک نو ګواهي لغوه کیږی او ددي برعکس نه لغوه کیږي او معتبر دی متفق کیدل دګواهانو لفظاً هم او معنًی هم بیا که چیرته یوه دزرو ګواهي اداکړه او بل ددووزرو ګواهي اداکړه نه قبلیږی او که ګواهي ورکړه بل دیونیم زرا و مدعی دعوی وکړه دهغونو قبلیږی پرزروباندي، او که ګواهي ورکړه دواړو دزرو او له هغوئ څخه یوه وویل چې هغه اداکړي دي له دغو زرو څخه پنځه سوه نو قبلیږی دزرو په باره کې او نه اوریدل کیږی داچې هغه اداکړي دي مګر داچې ګواهي ورکړي له هغه سره یو بل اوپکار دی چې ګواهي ورنکړي ترڅو چې مدعی اقرار وکړي دهغه چې قبض کړي یې دي.

**تشریح**: (۱) ګواهي که چیرته لفظاً ومعنًی یا یوائې معنی ددعوی مطابق وه نو قبلیږی او که چیرته لفظاً ومعنًی مطابق نه وه نو نه قبلیږی ځکه په حقوق العباد کې تقدم ددعوی دشهادت دقبولیت لپاره شرط دی نو دموافقت په صورت کې داشرط پرځای کیږی ځکه ګواهي ددعوی تصدیق کولو ته وایې او دتصدیق لپاره ضروري ده چې دکوم شی چې تصدیق کیږی هغه مخکې لاموجودوي نو دموافقت په صورت کې دقبولیت شرط (تقدم دعوی) پرځای کیږی نو ځکه ګواهي قبلیږی او دنه موافقت په صورت کې دمخالفت په وجه ګواکي ګواهانو ددعوی تکذیب وکړنو دمدعي ددعوی وجود او عدم برابرشو نو دعدم شرط (یعنې تقدم دعوی دعدم) په وجه ګواهي نه قبلیږی.

(۲) قوله ادعی دارا ای ادعی رجل علی رجل آخر دارا الخ، یعنې که چادیو چاپه سرای دعوی وکړه چې داماته په میراث راپاته دی یا ما اخیستی دی ګواکي دملک مقیددعوی یې وکړه یعنې دملک سبب یې بیان کړاو ګواهانو دملک مطلق ګواهي ورکړه یعنې دملک سبب یې بیان نه کړنو دګواهانو داګواهي نه معتبریږی ولی دګواهانو په ګواهي کې دمدعي تردعوی زیادت راغلی دی ځکه چې مدعي دملک حادث دعوی کړي ده او ګواهان ملک قدیم ثاتبوي ولی په ملک مقید کې ملک منسوب وسبب ته کیږي په داسی حال کې چې په ملک مطلق کې ملک من الاصل ثابتیږی آن چې په ملک مطلق کې مدعي دمدعا پیدا او اراو زوائدو هم مالک ګرځي او ګواهي ترمدعی زیاتیدل دشهادت لپاره مانع دی او که ددي عکس وو یعنې چې مدعی دملک مطلق دعوی وکړي او ګواهان دملک مقید ګواهي ورکړي نو دعوی قبلیږی ځکه په دغه صورت کې ګواهي تردعوی کمه ده او ګواهي ترمدعی کمیدل دشهادت لپاره مانع نه دی.

(۳) دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دګواهانو په لفظ اومعنی کې متفق کېدل شرط دی. دصاحبينو رحمهما الله په نزد خالص معنوی موافقت شرط دی، نو که يوه ګواه دزرو ګواهي ورکړي اوبل ددووزرو په داسی حال کې چې مدعي هم ددووزرو دعوی داردی نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دا شاهدي نه قبليږی ځکه دلته دګواهانو ترمنځ لفظی اختلاف راځي ولی زر او دوه زر غير دي او پرهريوه باندي يو ګواه دی نو نه زر ثابتيږي او نه دوه زره، دصاحبينو رحمهما الله په نزد ديو زر په باره کې ددواړو ګواهي قبليږی ولی پر زرو باندي معنًی دواړه متفق دي.

**فائده**: دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی لمافي الهندية: شهد احدهما بالف والآخر بألفين لم تقبل بشي عند ابی حنيفة رحمه الله وعندهما تقبل على الألف والصحيح قول ابی حنيفة رحمه الله كذا في المضمرات. (الهندية: ۳/۵۰۵)

(۴) که يوه ګواه دزرو اوبل ديونيم زر ګواهي ورکړه او مدعي هم ديونيم زر دعوی داردی نو دزرو په باره کې په اتفاق سره ګواهي قبليږی ولی پر زرو باندی دواړه ګواهان لفظًا او معنًی اتفاق دي ځکه له عليه الف وخمس مائة دوي جملې دي عليه الف يوه او خمس مائة بله جمله ده يوه پر بله باندي عطف شوي ده او په عطف سره داول تقرير راځی نو دزرو په ثابتولو کې دواړه ګواهان متفق دي او دپنځوسو په ثابتولو کې يو ګواه متفرد دی نو پر څومره مقدار چې دواړه ګواهان متفق دي هغه ثابتيږی باقی نه ثابتيږی.

(۵) که دواړو ګواهانو ګواهي ورکړه چې دزيد پر بکر باندي زر روپۍ دي او يوه ګواه وويل له دغو روپو څخه بکر پنځه سوه اداکړي دي نو دزرو په باره کې ددواړو ګواهي قبليږی ځکه پر دغو باندي دواړه ګواهان متفق دي بيا چې کله يو ګواه دپنځوسو دادا کولو ګواهي ورکوي نو دا ګواهي يې نه اوريدله کيږی ولی په دغه ګواهي کې دی يواځي دی مګر دا چې دوهم له ده سره ګواهي ورکړی نو بيا قبليږی دلته بيانصاب دشهادت تاميږی.

(۶) په مذکورصورت کې چې ګواه ته دا معلومه وي چې مدعی عليه (بکر) پنځه سوه روپۍ اداکړي دي دهغه لپاره مناسبه داده چې ترڅو پوری چې مدعی دااقرار نه وکړي چې ما پنځه سوه وصول کړي دي ترهغه پوري دي دزرو ګواهي نه ورکوي چې ګواه دګواهي په ورکولو سره پر ظلم باندي اعانت کوونکی نه شي ځکه داکيدای شي چې مدعی له وصول شويو پنځوسو څخه انکار وکړي.

(۷) ولو شهد بقرض الف وشهد احدهما انه قضاه جازت الشهادة على القرض (۸) ولو شهدا بانه قتل زيدا يوم النحر بمكة وآخر انه قتله يوم النحر بمصر ردتا (۹) فان قضي باحديهما اولا بطلت الأخرى (۱۰) ولو شهدا على سرقة بقرة واختلفا في لونها قطع (۱۱) بخلاف الذكورة والانوثة والغصب.

**ترجمه**: او که دوو ګواهانو ګواهي ورکړه ديو زر قرض او له هغو څخه يو ګواهي ورکړه چې مقروض هغه اداکړي دي نو جائزه ده ګواهي پر قرض باندي او که دواړو ګواهي ورکړه چې فلان زيد قتل کړ د قرباني په ورځ په مکه مکرمه کې او بل ګواهي ورکړه چې هغه زيد قتل کړ د قرباني په ورځ په مصر کې نو دواړه ګواهيانی مردودي دي او که قاضي حکم وکړ ديوه مطابق مخکی نو ددوهم ګواهي باطليږی او که دواړو ګواهي ورکړه

دغوا پر غلا کيدو باندې او دواړو اختلاف وکړ دهغې په رنګ کې نو دغله لاس غوڅ کيږي خلاف
دمذکر او مؤنث او غصب په اختلاف کې .

**تشريح** :(۷)که دوو کسانو دزيد بکر ته ديوزر قرض ورکولو ګواهي ورکړه بيا له هغو څخه يوه داهم وويل چې قرض اخيستونکي دا يو زر ادا کړي هم دي نو دزرو قرض په باره کې داګواهي صحيح ده ځکه دقرض ورکولو په باره کې ګواهان دوه دي نو دګواهانو نصاب پوره دی او په آخر کې چې يوه ديو زر دادا کولو ګواهي ورکړي ده هغه ګواهي معتبره نه ده ولی ګواه يو دی نو دګواهانو دنصاب په نه پوره کيدو سره دا ګواهي نه ده معتبره .

(۸)که دوو ډلو پر يوه سړي باندي ګواهي ورکړه چې فلان زيد قتل کړ مګر يوې ډلې وويل سږکال په لسمه ورځ دذی الحجه (يعنې داختر په ورځ) په مکه مکرمه کې او بلې ډلې وويل چې په لسم دذی الحجه يې په مصر کې قتل کړ، اودادواړې ډلې دقاضی محکمی ته په يوه وخت کې حاضر شول نو قاضي دي ددواړو ډلو ګواهي نه قبلوي ځکه له دواړو فريقو څخه يوه يقيناً کاذب ده ولی يو قتل په دوو ځايونو کې واقع کيدل ناممکن دی )او يوه ډله هم تربلې اولی نه ده نو ددواړو ګواهي دې نه قبليږي .

(۹)او که له دواړو ډلو څخه يوې ډلې مخکی ګواهي ورکړه او دهغې مطابق قاضی فيصله هم صادره کړه بيا فريق ثانی دګواهي لپاره حاضر شو نو دهغه فريق ګواهي نه قبليږي ولی دقاضی دقضاء داتصال په وجه مخکينی ګواهي ته ترجيح حاصله ده نو ددوهمی ګواهي په وجه اوله ګواهي نه ماتيږي .

(۱۰)که ګواهانو پر يو چا باندي دغوادغلا کيدو دعوی وکړه ،مګر دغوا رنګ يې بيان نه کړی او ګواهان يې پيش کړل او دګواهانو ترمنځ اختلاف راغی يوه دسره رنګ غوا پر غلا کيدو باندي ګواهي ورکړه او بل دتور رنګ غوا پر غلا کيدو باندي ګواهي ورکړه نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دا ګواهي قبليږی ځکه غلا عموماً په توره تياره کې کيږی او ګواهان يې هم له ليري ګوري نو درنګ په باره کې اشتباه کيدای شی ځکه نو دګواهانو ترمنځ په دي اعتبار سره اختلاف راځي دغه اختلاف په نظرانداز کولو سره ددوئ ګواهي بايد قبوله کړی شي .

**فائده** :دصاحبينو رحمهما الله په نزد دمذکوره ګواهانو ګواهي نه قبليږی ځکه مشهود به مختلف دی يعنې هرګواه دجلاشي ګواهي ورکړي ده ولی سره اوتوره دوې جلاجلا غواګانې دي نو پر هره يوه غوا باندي دنصاب شهادت دنامکمل کيدو په وجه مذکوره ګواهي دقبول وړ نه ده ،دصاحبينو رحمهما الله قول راجح دی لمافي الدر المختار :شهدا بسرقة بقرة واختلف في لونها لطع خلافا لهما واستظهر صدر الشريعة قولهما (الدر المختار على هامش رد المحتار :۳/ ۲۳۱)

(۱۱)او که ددواړو ګواهانو اختلاف په نر او ماده کې وو په دي ډول چې يو وويلې چې غله غويی غلا کړی دی او بل وايي چې غوا يې غلا کړي ده نو دا ګواهي نه قبليږی ځکه چې نر او ماده په يوه حيوان کې نه شي جمع کيدای په دي کې اشتباه هم نه راځي ځکه نو دا اختلاف نظرانداز کيدای نه شي . همدا رنګه که دغصب په باره کې اختلاف شو چې يوه وويل چې غله سور رنګ غواوړې ده او بل وويل چې ده تور رنګ غواوړې ده نو دا ګواهي هم نه قبليږی ځکه غصب عموماً دورځي وي او له نږدې څخه وي نو کتونکي ته هم اشتباه نه راځي لهذا دغه اختلاف نظرانداز کيږي نه .

(۱۲) وَمَنْ شَهِدَ لِرَجُلٍ اَنَّهُ اشْتَرَى عَبْدَ فُلَانٍ بِاَلْفٍ وَشَهِدَ الْآخَرُ بِاَلْفٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ بَطَلَتِ الشَّهَادَةُ (۱۳) وَكَذَا الْكِتَابَةُ وَالْخُلْعُ (۱۴) فَاَمَّا النِّكَاحُ فَيَصِحُّ بِاَلْفٍ (۱۵) مِلْكُ الْمُوَرِّثِ لَمْ يُقْضَ لِوَارِثِهِ بِلَا جَرٍّ اِلَّا اَنْ يَشْهَدَا بِمِلْكِهِ اَوْ يَدِهِ اَوْ يَدِ مُودِعِهِ اَوْ مُسْتَعِيرِهِ وَقْتَ الْمَوْتِ (۱۶) وَلَوْ شَهِدَا بِيَدِ حَيٍّ مُذْ شَهْرٍ رُدَّتْ (۱۷) وَلَوْ اَقَرَّ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ بِذَالِكَ اَوْ شَهِدَ شَاهِدَانِ اَنَّهُ اَقَرَّ اَنَّهُ كَانَ فِي يَدِ الْمُدَّعِي دُفِعَ اِلَى الْمُدَّعِي.

**ترجمه**: که چا ګواهي ورکړه دیوه سړي لپاره چې هغه اخیستی دی فلان مریی په زر روپۍ. او بل ګواهي ورکړه چې په یو نیم زر نو دا ګواهي باطله ده او همدا رنګه کتابت او خلع، او نکاح چې ده هغه صحیح کیږي په زر روپۍ. د مورث د ملک فیصله نه کوله کیږي د هغه د وارث لپاره د وارث په ملک کې دراتلو د ثبوت بغیر، مګر دا که ګواهي ورکړي د مړه د ملک یا د هغه د قبضې یا د هغه د مودع یا مستعیر د قبضې د مرګ په وخت، او که دوو کسانو ګواهي ورکړه د قبضې له یوې میاشتې څخه نو رد کیږي، او که مدعی علیه اقرار وکړي په هغه سره یا دوو کسانو ګواهي ورکړه چې هغه اقرار کړی دی چې دا د مدعي په قبضه کې وه نو بیا دي مدعی ته ورکړله شي.

**تشریح**: (۱۲) که یو چا دیوه سړي لپاره دا دول ګواهي ورکړه چې هغه له فلان څخه مریی په یو زر درهمو اخیستی دی او بل ګواهي ورکړه چې په پنځلس سوه یې اخیستی دی نو دواړو ګواهي باطلیږي ځکه مقصود دلته سبب یعني عقد بیع ثابتول دي او هغه دثمن په اختلاف سره مختلف کیږي نو چې دکوم شي ګواهي ورکړه شوې ده یعني عقد بیع هغه مختلفه شوه او پر هر عقد باندې دیوه یوه ګواه دقائمیدو په وجه دګواهانو نصاب نه دی پوره شوی ځکه نو دا ګواهي مردوده ده.

(۱۳) مذکور حکم دعقد کتابت هم دی یعني که یو چا خپل مریی مکاتب وګرځاوه بیا یو ګواه وویل چې بدل کتابت زر درهمه دي او بل ګواهي ورکړه چې پنځلس سوه دي، نو دواړو ګواهي باطله ده ولی دلته هم اصل مقصود عقد کتابت ثابتول دی کما مرّ، او بعینه همدا حکم دخلع یعني په عوض سره دطلاق ورکولو هم دی چې که یو ګواه دزرو درهمو په باره کې ګواهي ورکړه او بل دپنځلس سوو، نو دواړو ګواهي باطله ده، لما قلنا.

(۱۴) البته که دعوض نکاح یعني مهر په باره کې مذکور اختلاف راغی چې یو ګواه مهر زر درهمونه وښودل او بل پنځلس سوه درهمه نو دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد استحساناً په زر درهمه نکاح جائزه کیږي په داسې حال کې چې دصاحبینو رحمهما الله په نزد ددغه صورت هم هغه حکم دی کوم چې دمذکوره صورتونو دی ځکه دلته هم مقصود عقد نکاح ثابتول دی کما قلنا، دامام ابو حنیفة رحمه الله دلیل دا دی چې په نکاح کې مال تابع وي په دې کې اصل حلت او ملکیت بضع دی او کوم شی چې اصل دی په هغه کې هیڅ اختلاف نشته یعني دواړه ګواهان متفق دي چې نکاح شوې ده نو نکاح ثابتیږي په مال کې اختلاف دی چې هغه تابع دی کوم مال چې کم وي د هغه حکم ورکول کیږي.

**فائده**: دامام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی لما فی ملتقی الابحر: وفی النکاح تقبل بالالف استحساناً لان المال فی النکاح تابع وفی حکم التابع ان لایغیر الاصل ولذا لایبطل بنفیه ولایفسد بفساده ،،، وقالا وهو قول الائمة الثلاثة ردت الشهادة فیه ای فی النکاح ایضاً کمافی البیع ولایقضی بشیء،،،،،،،،،،، فالعمل بالاستحسان اولی (مجمع الانهر: ۳/۲۹۰)

(۱۵)ملک مورث دوارث لپاره دجرّاوانتقال دثبوت بغیرفیصله نه کوله کیږی مثلایوانسان دعوی وکړه چې دفلان په قبضه کې چې کوم شی دی هغه زمادپلارمیراث دی پرخپله دغه دعوی یې گواهان قائم کړل هغوداگواهي ورکړه چې واقعًاداشی دهغه دپلاروو ،نودطرفینورحمهماالله په نزدیواځي دگواهانوپه دې خبره چې داشی واقعًادهغه دپلاروو دوارث ملک نه ثابتیږی،بلکې دگواهانوداویل ضروري دی چې داشی دهغه دپلاروو بیاهغه وفات شواوداشی دمرګ په وخت کې دهغه ملک وویادهغه په قبضه کې وویاگواه دداسي چاقبضه یاتصرف ثابت کړچې هغه دمورث قائم مقام وومثلادمودَع یامستاجرچې په دغوصورتونوکې دجرّمیراث بیانولوضرورت نشته بلکې شهادت ملک یاشهادت قبضه کافي دی،دطرفینورحمهماالله دلیل دادی چې په مال متروکه کې دوارث لپاره جدیدملک ثابتیږی چې تردې مخکې نه ووثابت شوی،همداوجه ده چې دوارث په حق کې څه داسی احکام لازمیږی چې دمورث په حق کې لازم نه دي،مثلاکه یوځوک دمنځې وارث وي نواستبراء رحم ضروري ده،همدارنګه که چیرته موروثه منځه په یووجه سره دمورث لپاره حرامه وه نودوارث لپاره حلاله کیدای شي ځکه نقل مذکور(یعنې جرّمیراث) ضروری دی چې استصحاب حال مثبت نه شي،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدبیان دجرّمیراث (انتقال میراث من المورث الی الوارث) لازم نه دی ځکه دمړه ملک دګواهانوپه ګواهي سره ثابتیږی اووارث دخپل مورث خلیفه دی مالک ګرځي نودملک مورث ګواهي بعینه دملک وارث ګواهي ده همداوجه ده چې په میراث کې په لاس راغلی شی که چیرته مورث له چانه اخیستی وي نووارث هغه دعیب په وجه واپس کولای شي.

(۱۶)که ګواهانوګواهي ورکړه چې داشی له یوې میاشتې راهیسی دفلان په قبضه کې وو چې ددعوی په وخت کې دهغه سړي په قبضه کې نشته نودمشهودبه دمجهول کیدوپه وجه دطرفینورحمهماالله په نزدداګواهي نه قبلیږی ځکه قبضه مختلف قسم وي اوله دي ګواهي څخه دانه معلومیږی چې دهغه قبضه په طریقه دملک وه که په طریقه دامانت یاپه طریقه داجاره وغیره نوددغه جهالت په وجه قاضی ددغه شي حکم دمدعي لپاره نه شي کولای.

**فائده**:له امام ابویوسف رحمه الله څخه مروي دی چې په دغه صورت کې ګواهي مقبوله ده ولی دملک په شان قبضه هم مقصودوي نو که ګواهان داګواهي ورکړي چې داشی دمورث مملوک وویایې ګواهي قبلیږی نودقبضی ګواهي هم قبلیږی، دطرفینو رحمهماالله قول راجح دی لماقال المفتی غلام قادرالنعمانی :القول الراجح هوظاهرالروایة وهوقولهماوایضاجزم به فی الدرالمختارحیث قال العلامة الحصکفی رحمه الله وان شهدابیدحی سواء قلامذشهراولاردت لقیامهابمجهول لتنوع یدالحی.(القول الراجح:۲/۱۳۱)

(۱۷)اوکه مدعی علیه ددي اقرار وکړي چې داشی دمدعی په قبضه کې وویاګواهان ګواهي ورکړي چې مدعی علیه دمدعي په قبضه باندي اقرارکړی وونوبیادغه شی مدعی ته ورکول کیږی ولی داقرارګواهي صحیح ده ځکه چې اقرارمعلوم دی مقربه که څه هم مجهول دی مګردمقربه جهالت داقراردصحت لپاره مانع نه دی.

## باب الشهادة على الشهادة

داباب دګواهي پرګواهي په بيان کې دی

مصنف رحمه الله دشهادت اصل له بيان څخه فارغ شونودشهادت فرع په بيان يې شروع وکړه ځکه فرع تراصل دوجودپه اعتبارورورسته ده نومصنف رحمه الله وضعًاهم وروسته کړچې وضع دطبع مطابق شي.
دشهادت پرشهادت معنی داده چې ديوې معاملې اصل ګواهان چې دمعاملې مشاهده يې کړې وي پرخپل شهادت باندي يوبل څوک نائب ګواه وګرځوي دقاضی مجلس ته يې ورواستوي بيابه داصل ګواهانوپرځای نائب ګواهان (فرع ګواه) دقاضی عدالت ته وړاندي کيږی اوداصل ګواهانو پرګواهي به ګواهي ورکړي په دي شرط چې په يوه وجه سره اصل ګواهان عدالت ته وړاندي نه شي.

(۱)تقبل فيمالايسقط بالشبهة(۲)ان شهدرجلان على شهادة شاهدين ولاتقبل شهادة واحدعلى شهادة واحد(۳)والاشهادان يقول اشهدعلى شهادتي اني اشهدان فلانااقرعندي بكذاواداءالفرع ان يقول اشهدان فلانااشهدني ان فلانااقرعنده بكذاوقال لي اشهدعلى شهادتي بذلك.

**ترجمه**: قبليږی دهغوشيانوپه باره کې چې په شبهه سره نه ساقطيږی، که ګواهي ورکړي دوه کسان ددوو ګواهانو پرګواهي باندي اونه قبليږی ديوه ګواهي ديوه پرګواهي باندي اوپرګواهي باندي ګواهان قائمول دادی چې اصل ګواه ووايې چې تاسی ګواهان شئ زماپرګواهي باندي چې زه ګواهي ورکوم چې فلان اقرارکړی دی زماپه وړاندي دهغه شی اودفرع ګواه ادائيګی داده چې ووايې زه ګواهي ورکوم چې فلان زه ګواه کړم پرخپل هغه ګواهي باندي چې فلان اقرارکړی دی داصل ګواه په وړاندي دهغه شی اوهغه ماته وويل چې ته ګواه شه زماپردغه ګواهي ورکولو باندي.

**تشريح**: (۱)دقياس تقاضاداده چې شهادة على الشهادة (مثلاًپريوه معامله باندي دوه ګواهان دي بياهغوئ پرخپله ګواهي باندي نورګواهان کړل يعني هغوئ ته يې وويل: تاسي ګواهان شئ چې موږپردوئ باندي ګواهان يو.اول ته اصل ګواه اودوهم ته فرع ګواه ويل کيږی) جائزنه وي ځکه شهادة عبادت بدنی دی اوپه عبادت بدنی کې انابت نه جاری کيږی.مګراستحساناًپه هرداسی حق کې جائزه شوي ده چې په شبهه سره نه ساقطيږی.وجه داستحسان شدت احتياج دی ځکه کله اصل ګواه دځينوعوارضوپه وجه دګواهي اداکولوڅخه عاجزکيږی مثلاًناروغ وي ياپه سفرکې وي نوکه پرګواهي باندي ګواهي اداکول جائزنه شي نودحقوقودضائع کيدوموقع آسانه کيږی البته په حدودواوقصاص کې شهادة برشهادة نه دی جائز،ځکه خدوداوقصاص په شبهاتوسره ساقطيږی اوپه شهادة على الشهادة کې يوقسم شبهه شته ولې شهادة دفروع داصولوبدل دی اوپه بدل کې داصل په نسبت يوقسم شبهه وي.
(۲)يعني له دوواصل ګواهانوڅخه دهريوه پرګواهي باندي ددووفرع ګواهي ضروري ده البته که يې داصورت اختيارکړچې ددوواصل ګواهانوپرګواهي باندي دووفرع ګواهانوداسي ګواهي ورکړه چې دهريوه پرګواهي باندي په مستقل دول ګواهان شول نودصورت جائزدی مثلاًزيداوبکردوه اصل ګواهان دي بيادوه کسان له دوئ دواړوڅخه دزيدپرګواهي باندي ګواهان شول بيادبکرپرګواهي باندي ګواهان شول

نوداجائزده ده ولی گواهي نقل کول له حقوقوڅخه دی نودوئ دواړودزيددحق گواهي ورکړه بيايې ددوهم حق نوڅکه ددوئ گواهي مقبوله ده ولی ددووگواهانوگواهي پردووحقوقوباندي جائزه ده،لومړيودووگواهانوته اصلی اودانوروته فرعی گواهان ويل کيږی البته ديوه اصل پرگواهي باندي ديوه فرع گواهي نه قبليږی ولی ديوه په گواهي سره حق نه ثابتيږی .

(۳)پرگواهي باندي دگواهانوقائمولوطريقه داده چې اصل گواه خپل فرع گواه مخاطب کړي داسي ورته ووايې چې تاسی گواهان شئ زماپرگواهي باندي چې زه گواهي ورکوم چې فلان ابن فلان زماپه وړاندي داسي اوداسي اقرارکړی دی اوبيايې زه پرخپل ځان باندي گواه کړم ،داځکه ضروري ده چې اصل گواه دفرع په وړاندي داسي گواهي ورکړي لکه دقاضی په وړاندي چې گواهي ورکوي چې بيافرع دهغوئ گواهي دقاضی ومجلس ته نقل کړي ،دگواهي اداکولوپه وخت به فرع گواه داسي ووايې چې زه گواهي ورکوم چې فلان سړي زه پرخپله گواهي باندي گواه کړم چې هغه گواهي ورکوي چې فلان مقِردهغه په وړاندي ددومره حق اقرارکړی دی اواصل گواه ماته وويل چې ته زماپردغه گواهي باندي گواه شه،ولی دگواه فرع گواهي ضروري ده اوداصل گواه گواهي ذکرکول اودهغه داذکرکول چې فرع يې گواه کرځولی دی هم ضروري دی .

(۴)وَلَاشَهَادَةَ لِلفرعِ بِلَامَوتِ أَصلِهِ أَو مَرَضِهِ أَو سَفَرِهِ (۵)فَإِن عَدَّلَهُم الفُرُوعُ صَحَّ وَإِلَّا عَدَّلُوا (۶)وَتَبطُلُ شَهَادَةُ الفرعِ بِإِنكَارِ الأَصلِ لِلشَّهَادَةِ (۷)وَلَو شَهِدَ عَلَى شَهَادَةِ رَجُلَينِ عَلَى فُلَانَةَ بِنتِ فُلَانٍ الفُلَانِيَّةِ بِالفِ وَقَالَا أَخبَرَانَا أَنَّهُمَا يَعرِفَانِهَا فَجَاءَ بِامرَأَةٍ وَقَالَا لَم نَدرِ أَهِيَ هَذِهِ أَم لَا قِيلَ لِلمُدَّعِي هَاتِ شَاهِدَينِ أَنَّهَا فُلَانَةُ (۸)وَكَذَا كِتَابُ القَاضِي إِلَى القَاضِي (۹)وَلَو قَالَا فِيهِمَا التَّمِيمِيَّةَ لَم تَجُز حَتَّى يَنسِبَاهَا (۱۰)وَلَو أَقَرَّ أَنَّهُ شَهِدَ زُورًا يُشَهَّرُ وَلَا يُعَزَّرُ.

**ترجمه** :اودگواهي حق نشته فرع لره داصل گواه دمرگ يادهغه دمرض ياسفربغير،اوکه تعديل وکړفرع گواهانو داصل گواهانونوصحيح دی که نه دهغوئ تعديل دي وکړای شي اوباطليږی گواهي دفرع په دي سره چې اصل گواهان دگواهي څخه منکرشي اوکه دووگواهانوگواهي ورکړه دنوروپرگواهي باندي چې فلانۍ دفلانۍ لورچې دفلانۍ کورنۍ سره تعلق لري زرروپۍ دي اودواړووويل چې هغوئ موږته خبرراکړی دی چې موږدافلانۍ پيژنوبيارا وستله مدعي يوه ښځه اوگواهانوويل موږنه يوخبرچې هغه ښځه همداده که نه ده،نودي ويل شی مدعي ته چې دوه گواهان پيش کړه چې دافلانۍ ښځه ده. همداسی دی ديوه قاضی خط بل قاضی طرف ته،اوکه گواهانوپه همدي دواړوصورتونوکې وويل چې فلانۍ تميميه ښځه دانه کافي کيږي ترڅوچې هغوئ دواړه هغه منسوبه نه کړي ديوکوچني ښاخ طرفته اوکه دواړوگواهانواقراروکړچې موږددروغوگواهي درکړي ده نوددي دې تشهيروکړای شي تعزيردي نه ورکول کيږی .

**تشريح** :(۴)دفرع گواهانوگواهي نه قبليږی ځکه چې دمقتضی قياس څخه خلاف ده البته که په وخت کې داداکيدو اصل گواه مړ شوی وويادداسي سخت ناروغ ووچې دحاکم ترعدالت پوري نه شو حاضريدلای ياترددي ورځي ياترهغه په زياته مسافه غائب وو نو بيادفرع گواهي قبليږی ولی شهادة علی الشهادة

دضرورت په وجه جائزشوی دی اوضرورت هله پیداکیږی چې اصل گواه دگواهي اداکولو څخه عاجزوي او په مذکوره امورو سره عجزثابتیږی نوپه دغو دري واړه صورتونو کې دفرع گواهانو گواهي قبلیږی.

**فائده**:دامام ابویوسف رحمه الله رایه داده چې که اصل گواه داسي ځای وو له کوم ځائ نه چې عدالت ته ځي گواهي ورکوي نوترشپې پوري واپس خپل کورته نه شي رسیدلی نوپه داسي صورت کې جائزه ده چې ددوئ پرځای فرع گواهان گواهي اداکړي اکثرمشائخودخلکودحقوقودتحفظ لپاره همداقول مختارکړی دی اوپرهمدي باندي فتوی ده ،دامام محمد رحمه الله په نزددفرع گواهانوگواهي مطلقامعتبره ده که څه هم دعدالت په یوه کونه کې اصل گواهان وي اوپه بله کونه کې فرع گواهان گواهي اداکړي،دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار:واکتفی الثاني بغيبة بحيث يتعذر ان يبيت باله واستحسنه غيرواحدوفی القهستاني والسراجية وعليه الفتوى(الدر المختار علی هامش ردالمحتار:۴/۴۲۷)

(۵)که فرع گواهانو داصل گواهانو تعدیل وکړنو دا جائزدی ځکه هغوئ دتعدیل اوتزکیه لیاقت لري اوکه فرع داصل له تزکیه اوتعدیل څخه خاموش شول نوهم جائزدی اوقاضی به خپله داصل گواهانو تحقیق کوي كمااذاحضروا بانفسهم وشهدوا.

(۶)اوکه اصل گواهانوله گواهي څخه انکاروکړمثلاویې ویل :مَالَنَاشَهَادَةٌ عَلَى هٰذِهِ الحَادِثَة یایې داسي وویل :لَم نُشهدهُم،بیامړشویاغائب شویافرع گواهان راغلل ددوئ پرگواهي باندي گواهي ورکوي نودفرع گواهانودغه گواهي نه قبلیږی ځکه داصل گواهانودوئ لره پرخپله گواهي باندي گواهان کرځول ثابت نه شول لِلتَّعَارُضِ بَينَ الخَبَرَين حال داچې اصل فرع لره گواهان گرځول شرط دی .

(۷)که دووفرعی گواهانودډوواصلی گواهانودگواهي په ذریعه سره پریوه ښځه باندي چې دفلان سړي لورده اوله فلانئ قبیلی سره تعلق لري مثلاقریشی ده دیوزردرهمونو گواهي ورکړه اودواړوداهم وویل چې موږته اصل گواهانودابیان کړی دی چې هغوئ دا ښځه پیژني هم،په دي سره مدعی یوه ښځه راوستله چې وګورئ داهغه ښځه ده دچاپرذمه چې دزرودرهمونوتاسي گواهي ورکوئ فرعی گواهانو وویل چې موږته یو خبرچې داهماغه ښځه ده که نه ده ولی ښځه خواصل گواهان پیژني نواوس مدعی ته ویل کیږي چې دوا گواهان نورراوله چې داگواهي ورکړي چې داهماغه ښځه ده پرچاچې دزرودرهمونودعوی ده ځکه چې په گواهي کې دښځې نسب خوبیان شوی دی مگرداملعومه نه ده چې مدعي چې کومه ښځه وړاندي کړې ده داهماغه ښځه ده اوکه بله ده ځکه نوداخبره ضروري ده چې مدعی دوه داسی گواهان راولي چې داوښیې چې داهماغه ښځه ده چې معلومه شي چې په گواهۍ کې ذکرشوی نسب دهمدي ښځي دی .

(۸)اومذکورحکم دکتاب القاضی الی القاضی هم دی مثلایوقاضی بل قاضی ته خط واستاوه چې زماپه عدالت کې فلان فلان دووگواهانوگواهي ورکړه چې دفلان ابن فلان مدعي یوزردرهم دفلانة بنت فلان قریشیه پرذمه واجب دي لهذاته پردغه ښځه باندي حکم صادرکړه ،کله چې داخط مکتوب اليه قاضی ته ورسیږی نومدعي یوه ښځه حاضره کړه ویې ویل چې دافلانة بنت فلان قریشیه ده مگرښځي انکاروکړچې زه فلانة بنت فلان قریشیه نه یمه نومدعي ته به وویل شی چې دوه داسي گواهان راوله چې داگواهي ورکړي

چې داهماغه ښځه ده چې دقاضي په خط کې مذکوره ده ،وجه يې داده چې خط دشهادة على الشهادة په معنى دی ګواکی داصل ګواهانوګواهي کاتب قاضي فرع وګرځوله مکتوب اليه ته يې وررسوله نوکوم حکم چې دفرع ګواهانوپه تيره مسئله کې تيرشوهماغه حکم ددې مسئلې هم دی .

(۹)که په مذکوره دووصورتونو(شهادة على الشهادة اوكتاب القاضي الى القاضي) کې اصل ګواهانو دښځې په نسب بيانولوسره يوائې دومره وويل چې دفلانة بنت فلان تميميه پرذمه دفلان ابن فلان زردرهمونه دي، نوداکافي نه دی ترڅوچې هغه دبنی تميمويوخاصې قبيلې اوښې ته منسوبه نه کړي ځکه چې نسبت بايدداسی وي چې په هغه کې دانسان شناخت وشي اوظاهره ده چې ديوې لويه قبيلې طرف ته په نسبت کولوسره شناخت نه حاصليږی لکه قبيله دبنوتميم طرف ته چې څوک منسوب کړای شي ولې کيدای شي چې دبنوتميم قبيلې ډيرې ښځې داسې وي چې دهغوئ نوم اودپلارنوم سره يووي نودبنوتميم يوخاص ښاخ ته منسوبول ضروري دی .

**فائده** :دخلکوترمنځ دتعارف اوامتيازکولولپاره الله تعالى خلک په مختلفوخاندانونواوقبيلوتقسيم کړي دي لکه چې فرمايي :(وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا)قبيلې شپږدي :شعب،قبيله،فصيله، عماره، بطن،اوفخذ ،ترټولوزيات عموم په شعب کې وي بياپه ترتيب سره عموم ختميږی راځي چې په فخذ کې ترټولوزيات خصوص وي له دي وجهي ويل شوي دي چې شعب قبائل لره جامع دی اوقبيله فصائل لره جامع ده اوفصيله عمائرلره اوعماره بطون لره اوبطن فخذونولره جامع دی . (اشرف الهداية)

(۱۰)امام ابوحنيفة رحمه الله فرمايي چې که چادروغودګواهي اقرارورکړنوداسې خلکوزه پرسر عام تشهيرکوم چې داددروغو دګواهي اداکولواقرارکوي،امام صاحب رحمه الله فرمايي چې شاهدالزور (ددروغوګواهي اداکوونکی) دي وهل کيږي نه ځکه مقصودانزجاردی هغه په تشهيرسره حاصليږی ، صاحبين رحمهما الله فرمايي چې شاهدالزور مووږوهواوقيدکويې تردي چې توبه وکړي ځکه دعمر رضي الله عنه په باره کې مروي دی چې ده رضي الله عنه شاهدالزورڅلويښت درې ووهه اومخ يې ورتورکړاوپه کليويې وګرځاوه اوقيدېې کړ،دامام صاحب رحمه الله دليل دادی چې معروف عادل قاضي قاضي شريح دشاهدالزوريوائې تشهيرکاوه قاضي شريح دحضرت علي رضي الله عنه اوحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې قاضي ووپه هغه زمانه کې ډيرتعدادصحابه کرام موجودووظاهره ده چې پرصحابه کراموباندې دقاضي شريح دغه عمل مخفي نه ووبياهم هغوئ دهغه پردغه عمل باندې خاموش وونوداهغوئ له طرفه دهغه پردغه عمل باندې اجماع شمارله کيږی نوځکه ويل کيږی چې دشاهدالزورپرتشهيراونه وهلوباندې دصحابه کرامورضي الله عنهم اجمعين اجماع ده .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول مفتى به دی لمافي الدّر المختار :ومن ظهرانه شهدبزوربان اقرعلى نفسه ولم يدع سهوااوغلطا ،،،عزربالتشهيروعليه الفتوى (الدر المختار : ۴/۳۴۰)وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله :قوله ومن اقرانه شهدزورابشهرولايعزر،الى ان قال وفي السراجية الفتوى على قوله (البحر الرائق:۷/۱۲۵)وقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :والذى يظهر للعبد الضعيف بعدالنظرفى المطولات والمعتبرات لاهل الفتوى ان يقال ان الاكتفاء بالتشهيرجائزولكن

بحرام كمايقول به ابوحنيفة رحمه الله وايضا الزيادة على الشهر ليست بحرام ولا بواجب كمايقول به الصاحبان رحمهما الله بل التعزير وتقديره مفوض الى رأى القاضى كماهو التحقيق كذا في معين الحكام والتكملة على صحيح المسلم (هامش الهداية: ج۲ ۱۲۱)

## باب الرجوع عن الشهادة

### داباب درجوع عن الشهادة په بيان کښې دی

باب الرجوع عن الشهادة دکتاب الشهادات ديوباب په درجه کښې دی ځکه رجوع عن الشهادة داحکام شهادات لاندي مندرج دی ځکه يې له کتاب الشهادات وروسته باب الرجوع عن الشهادة ذکرکړی دی.

درجوع عن الشهادة معنی داده چې ګواه مخکښې ګواهي ورکړي بياله خپلې ګواهي څخه وګرځي.

درجوع عن الشهادة لپاره رکن دشاهد قول : رجعت،مماشهدت به ياشهدت بزورفيما شهدت به دی اودهغه لپاره شرط دادی چې دقاضی په دربارکښې درجوع اعلان وکړي،اودهغه حکم دادی چې رجوع کوونکي لره په هرحال کښې تعزيروي که قاضی دهغه دګواهي مطابق حکم کړی وي اوکه يې نه وي کړی البته که مشهودبه مال وواودګواه دګواهي اودقاضی دفيصلې وروسته ګواه رجوع کړې وي اومشهودبه يې بلاعوض زائل کړی وي نوبيابه پرګواه باندي له تعزيرسره ضمان هم وي.

(۱)لايصحّ الرجوع عنها الا عندقاض (۲)فان رجعا قبل حكمه لم يقض (۳)وبعده لم ينقض (۴)وضمنا ما اتلفاه للمشهود عليه اذاقبض المدعى المال دينا او عينا (۵)فان رجع احدهما ضمن النصف (۶)والعبرة لمن بقي لالمن رجع فان شهد ثلثة ورجع واحد لم يضمن وان رجع آخر ضمنا النصف

**ترجمه** :صحيح نه دی ګرځيدل له ګواهي څخه،مګردقاضی په وړاندي بياکه دواړه ګواهان وګرځيدل دقاضی دحکم مخکښې نوقاضی دي حکم نه کوي اوله هغه وروسته (يعني که دقاضی له حکم وروسته وګرځيدل)نوحکم نه ماتيږی اودواړه ضامنان ګرځي دهغه کوم چې دوئ تلف کړی دی مشهودعليه چې کله مدعي قبض کړی وودين وي که عين اوکه وګرځيدله دواړونه يونودنصف ضامن کيږي اواعتبارهغه لره دی چې پاتی شي نه دهغه چې وګرځي بياکه دروکسانوګواهي ورکړه اويوله ګواهي څخه وګرځيدنونه ضامن کيږی اوکه بل هم وګرځيدنودواړه دنصف ضامنان ګرځي.

**تشريح** :(۱)دګواهانوله ګواهي څخه ګرځيدل صحيح نه دی مګرداچې دحاکم په موجودګي کښې رجوع وکړي ځکه چې رجوع عن الشهادة دګواهي فسخ کول دی نوپه کومه موقع پوري چې ګواهي مختصه ده په هغه پوري فسخ هم مختصه کيږی ظاهره خبره ده چې ګواهي دقاضی په مجلس پوري خاصه ده نوفسخ دګواهي دقاضی په مجلس پوري خاصه ده.

(۲)که ګواهانوګواهي ورکړه مګرقاضی تراوسه ددوئ دګواهي مطابق حکم نه ووجاري کړی چې ګواهانوله خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه مثلاً ويې ويل :رجعناعمّاشهدنابه،نودهغوئ ګواهي ساقطيږی

حاکم دهغوئ پرګواهي باندي حکم نه شي کولای ولی دهغوئ په کلام کې تناقض دی او قاضی دمتناقض کلام مطابق حکم نه کوي، پررجوع کوونکیو باندي هیڅ تاوان نه لازمیږی ځکه هغوئ په خپلی ګواهي سره نه مدعي اونه مدعی علیه ته کوم تاوان رسولی دی.

(۳)قوله وبعده لم ینقض ای لورجع الشاهدان بعدحکم القاضی لم ینقض الحکم الاول ،یعنې که قاضی دګواهانودګواهي مطابق حکم وکړبیاګواهان دخپلی ګواهي څخه وګرځیدل نودقاضی حکم نه منسوخ کیږی ولی دهغوئ آخری کلام پررښتینوالي باندي په دلالت کولو کې داول په شان دی په داسی حال کې چې اول ته دقاضی دحکم داتصال په وجه ترجیح حاصله وه لهذاآخرکلام یې له اول نه معارض کیږي اوګواهانوچې په خپله ګواهي سره څه تلف کړي دي دهغه ضمان پردوئ باندي واجب دی ولی رجوع عن الشهادة دګواهانوله طرفه دتعدی اعتراف دی نوپردوئ باندي ضمان لازم دی.

(۴)که دووګواهانودمال ګواهي ورکړه اوحاکم دهغوئ دګواهي مطابق حکم وکړاومدعی هغه قبض کړکه دین (سره اوسپین) وي اوکه عین (کپړه وغیره) وي بیاګواهانودخپلی ګواهي څخه دحاکم په موجودګی کې رجوع وکړه نوګواهان دمشهودعلیه لپاره دمال مشهودبه ضامن کیږی ولی دتعدی په ډول مسبّب کیدل موجب ضمان دی ،اودمدعی پرمدعابه باندي قبضه کول شرط دی ددي لپاره چې ترقبض کیدومخکی تلف کول نه متحقق کیږی نوځکه ترقبض مخکی ګواهان ضامن کیږی هم نه.

(۵)که له دووګواهانوڅخه یوه رجوع وکړه نوهغه دنصف مال ضامن ګرځي،په دي باره کې اصل دادی چې له ګواهانوڅخه کوم یوچې پرګواهي باندي ثابت قدم پاتی وي دهغه پاتی کیدل معتبردی اوکوم یوچې وګرځیدهغه ګرځیدل نه دی معتبراودلته یوګواه باقی دی چې دهغه دشهادت په وجه نصف حق هم باقی دی ځکه ددواړوڅخه دهریوه په ګواهي سره نصف حجت قائمیږی نودیوه پرخپله ګواهی باندي پاتیدل پرنصف مشهودبه باندي حجت هم باقی پاتیږی نوپرکوم نصف چې حجت باقی پاتی نه شودهغه ضمان پررجوع کوونکي باندي راځي که څه هم ابتداءً دبعض علت په وجه حکم نه ثابتیږی مګربقاءً ثابتیدای شي.

(۶)څرنګه چې اصل دادی چې دګواهي دنصاب څخه دهغوګواهانوشمارمعتبریږی کوم چې له ګواهي څخه ګرځیدلي نه وي ګرځیدونکي نه شمارل کیږی که دروګواهانودمال ګواهي اداکړه بیادقاضی دحکم وروسته یوه ګواه رجوع وکړه نوهغه نه معتبریږی ځکه پرهغه باندي هیڅ ضمان نشته ولی له هغه بغیرهم دومره ګواهان پاتی دی چې دهغوپه ګواهي سره پوره حق ثابتیږی البته که له باقی دووڅخه هم یوه رجوع وکړه نوپررجوع کوونکي باندی دنصف مال تاوان لازمیږي ولی دیوه ګواه دباقی کیدوپه وجه نصف حق پاتیږی ځکه نوپررجوع کوونکي باندي یواځې دنصف حق ضمانت راځي.

(۷)وان شهدرجل وامرأتان فرجعت إمرأة ضمنت الربع (۸)وان رجعتا ضمنتا النصف (۹)وان شهدرجل وعشرنسوة فرجعت ثمان لم یضمن فان رجعت أخری ضمن ربعه (۱۰)فان رجعوا فالغرم بالأسداس (۱۱)وان شهدرجلان علیه أوعلیهما بنکاح بقدرمهرمثلها ورجعا لم یضمنا (۱۲)وان زادعلیه ضمناها.

**ترجمه**: اوكه گواهي وركړي يو سړى دوې ښځې بيايو ه ښځه وګرځيده نودربع ضامنه كيږي اوكه دوې ښځې وګرځيدې نودواړې دنصف ضامنې كيږي اوكه گواهي وركړي يو سړى اولس ښځې بيا اته ښځې وګرځيدې نونه ضامنې كيږى اوكه يوه بله وګرځيده نوګرځيدونكې ټولې دربع ضامنې كيږي اوكه ټولې وګرځيدې نوتاوان اسداساً كيږي اوكه دووسړو گواهي وركړه پريوه سړي يا پريوه ښځه باندي دنكاح په اندازه دهغې دمهرمثل اودواړه وګرځيدل نونه ضامن كيږي اوكه يې له مهرمثل څخه دزيات گواهي وركړه نودواړه دزيادت ضامن كيږي .

**تشريح**: (۷)كه يوه سړي دووښځودمال گواهي وركړه بيايوې ښځې رجوع وكړه نوهغه دربع حق ضامنه ګرځي ځكه ديوه سړي اويوې ښځې دباقى پاتى كيدوپه وجه درى حصى باقي پاتي شوې اوديوې ځلورمې برخې دتلف كيدوپه وجه رجوع كوونكى ديوې ځلورمې ضامن كيږي .

(۸)اوكه دووښځورجوع وكړه نودواړې دنصف حق ضامنې ګرځي ځكه ديوه سړي دباقى كيدوپه وجه نصف حق پاتي شونولهذا دواړې ښځې دنصف حق ضامنې ګرځي .

(۹)كه يوه سړي لسوښځودمال گواهي وركړه بيادقاضى دحكم وروسته اتوښځوله گواهي څخه رجوع وكړه نوپرهغوئ باندي ضمان نشته ځكه له گواهي څخه تراوسه لادومره قدرباقي دى (يعنې يوسړى دوې ښځې) چې دهغوپه گواهي سره كل حق ثابتيږى اومخكي داخبره تيره شوه چې اعتبار دباقى پاتى خلكودى رجوع كوونكولره اعتبارنشته بياكه له باقى دووښځوڅخه يوې بلې هم رجوع وكړه نوپرټولورجوع كوونكيوباندي ربع حق واجبيږى ولى دسړي باقى كيدوپه وجه نصف حق باقى دى ديوې ښځې په گواهى سره ربع حق باقى پاتى دى په دې ډول درې حصى حق باقى دى يواځې ديوې ربع رجوع كوونكې ښځې ضامنې دي .

(۱۰)كه په مذكورصورت كې سړى اوټولې ښځې له گواهي څخه رجوع وكړي نودامام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزدپرسړي باندى دكل مال شپږمه حصه واجبيږى اوپرښځوباندي باقي پنځه حصى واجبيږى ولى هرې دوې ښځې ديوه سړي قائم مقام دى نوديوه سړي لسو ښځوګواهي دلسونارينه ؤګواهي شمارل كيږى بياچې كله ټولورجوع وكړه نوپريوه سړي باندي دټول مال شپږمه حصه واجبيږى .

**فائده**: دامام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رَحِمَهُ اللهُ: واعلم ان ظاهر المحيط هواختيار قولهما وكذايظهرمن بعض التفريعات لكن الراجح عندالاكثر قول الامام ومشى على قوله فى المجلة.(هامش الهداية:۳/ ۱۷۴)وقال العلامة الحصكفى رَحِمَهُ اللهُ: وعندهماعليه نصف وعليهن نصف وعلى الاول(اى على قول الامام)المعول (المنتقى:۳/ ۲۰۱)

(۱۱)كه دووګواهانوپريوه ښځه باندي په عوض دمهرمثل ياكم يازيات سره دنكاح گواهي وركړه بيادقاضى دحكم وروسته دواړوګواهانوله خپله گواهي څخه رجوع وكړه نوپرهغوئ باندي هيڅ ضمان نشته ولى ګواهانوپه خپله گواهي سره دزوجينوهيڅ شى تلف كړى نه دى ځكه چې په وخت داتلاف منافع دبضع متقومې نه وي نوداتلاف په وجه پرمتلف باندي ضمان هم نه راځي ولى تضمين دمماثلت مقتضى دى په داسې حال كې چې دبضع اومال ترمنځ هيڅ مماثلت نشته .همدارنګه كه ګواهانوپريوه سړي باندي داګواهي وركړه چې هغه له فلانى ښځې سره دهغې دمهرمثل په عوض نكاح كړي ده بيادقاضى دحكم وروسته

ګواهانو رجوع وکړه نو پر هغوئ باندې هيڅ ضمان نشته ولې په وخت د دخول په ملک کې بضع متقومه کيږي نو د اتلاف په عوض شوا و اتلاف په عوض د عدم اتلاف په شان دی.

(۱۲) که ګواهانو تر مهر مثل د زيات عوض د نکاح کولو ګواهي ورکړه بيا د قاضي د حکم وروسته دواړو له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو تر مهر مثل د زيات مقدار ضامنان کيږي ولې زائد مقدار د خاوند حق دی چې هغوئ بلا عوض تلف کړ ځکه هغوئ ضامنان ګرځي.

(۱۳) ولم يضمنا في البيع الا ما نقص من قيمة المبيع (۱۴) وفي الطلاق قبل الوطي ضمنا نصف المهر (۱۵) ولم يضمنا لو بعد الوطي (۱۶) وفي العتق ضمنا القيمة (۱۷) وفي القصاص ضمنا الدية ولم يقتصا (۱۸) وان رجع شهود الفرع ضمنوا (۱۹) لا شهود الاصل بلم نشهد الفروع على شهادتنا (۲۰) او اشهدناهم وغلطنا (۲۱) ولو رجع الاصول والفروع ضمن الفروع فقط (۲۲) ولا يلتفت الى قول الفروع كذب الاصول او غلطوا (۲۳) وضمن المزكي بالرجوع (۲۴) وشهود اليمين والزنا لا شهود الاحصان والشرط

**ترجمه**: او ضامن کيږي نه په بيع کې مګر په هغه کې چې کم وي د مبيع تر قيمت او په طلاق قبل الوطي کې ضامن کيږي د نصف مهر او ضامن کيږي نه که چيرته تر وطي وروسته وو او په عتق کې ضامن کيږي د قيمت ،او په قصاص کې د ديت ضامن کيږي او له هغوئ څخه قصاص نه اخيستل کيږي او که رجوع وکړه فرع ګواهانو ضامن کيږي نه اصل ګواهان په دې خبره سره چې مونږ هغوئ ګواهان نه دي ګرځولي پر خپله ګواهي باندې يا دا چې ګواهان مو ګرځولي دي مګر مونږ غلط شوي يو ،او که رجوع وکړه اصول او فروع دواړو نو بوا ځې فروع ضامن کيږي او التفات نه کيږي د فروع دې قول ته چې اصول دروغ ويلي دي يا هغوئ غلطي کړې ده او ضامن کيږي تزکيه کوونکی په رجوع سره او د قسم او زنا ګواهان نه د احصان او شرط ګواهان

**تشريح**: (۱۳) که دوو ګواهانو ديوشي د هغه د مثل قيمت يا د زيات قيمت د خرڅيدو ګواهي ورکړه بيا دواړو رجوع وکړه نو ضامنان کيږي نه ځکه د عوض موجود يدو په وجه معنیً د اتلاف نه شمار ل کيږي، البته که دواړو تر مثل قيمت نه په کم عوض د خرڅيدو ګواهي ورکړه نو تر مثل عوض چې څومره کم دی د هغه مقدار د بائع لپاره ضامنان کيږي ولې ګواهانو د بائع د ملک د اجزء بلا عوض تلف کړ.

(۱۴) قوله وفي الطلاق قبل الوطي ضمنا نصف المهر اى لو شهدا على رجل انه طلق امرأته قبل الدخول ثم رجعا ضمنا نصف المهر، يعني که دوو کسانو پر يوه سړي باندې دا ګواهي ورکړه چې هغه خپلې ښځې ته تر دخول مخکې طلاق ورکړ بيا دواړو له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو د نصف مهر ضامنان ګرځي ځکه هغوئ پخپله ګواهي پر خاوند باندې يو قريب السقوط مال (نصف مهر) لازم کړ او نصف مهر قريب السقوط ځکه دی چې دا امکان وو چې ښځه مرتده (العياذ بالله) کيږي يا پر خپل ځان باندې د زوج زوی ته قدرت ورکوي نو کل مهر ساقطيږي

(۱۵) او که چا ګواهانو پر چا باندې له دخول وروسته ګواهي ورکړه چې هغه خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی بيا دواړو له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو پر ګواهانو باندې هيڅ ضمان نه راځي ځکه

مهر پر خاوند باندي د دخول په وجه لازم شوی دی باقي د بضع په وخت د خروج له مِلکه هيڅ قيمت نشته کما مرّ نو پر متلف باندي هيڅ شی نه لازميږی.

(۱۶) قوله وفي العتق ضمنا القيمة ای لو شهدا علی انه عتق عبده ثم رجعا ضمنا القيمة، يعني که دوو گواهانو پر يو چا باندي دا گواهي ورکړه چې هغه خپل مريی آزاد کړ چې هغه آزاد شو بيا دواړو د خپلي گواهي څخه رجوع وکړه نو دواړه د هغه مريی د قيمت ضامنان کيږی ولی هغوئ مالية د مريې بلا عوض تلف کړ.

(۱۷) قوله وفي القصاص ضمنا الدية ای لو شهدا بقصاص علی رجل ثم رجعا بعد اخذ القصاص منه ضمنا الدية، يعني که دوو گواهانو پر يو چا باندي د قصاص گواهي ورکړه مثلاً گواهي يې ورکړه چې زيد بکر لره عمداً قتل کړی دی چې زيد قصاصاً قتل شو او س گواهانو له خپلی گواهي څخه رجوع وکړه نو گواهان د زيد د وارثانو لپاره د ديت ضامنان کيږی ولی مالی ديت د شبهه با وجود واجبيږی البته له گواهانو څخه قصاص نه اخيستل کيږی ولی هغوئ د قتل مباشرت نه دی کړی او نه يې پر چا باندي د قتل لپاره جبر کړی دی که څه هم په يوه اعتبار سره گواهان قاتل دي چې سبب د قتل دي خو څرنگه د قتل صدور له هغوئ څخه نه دی شوی نو د هغوئ په قاتل کيدو کې شبهه پيدا شوه او د شبهي په وجه حدود ساقطيږی.

(۱۸) که فروع گواهانو له خپلی گواهي څخه رجوع وکړه نو ضامنان کيږي مثلاً اصل گواهانو پر خپله گواهي باندي نور خلک گواهان کړل هغوئ د خپلو اصلو گواهانو پر گواهي باندي گواهي ورکړه بيا فرع گواهان له خپلی گواهي څخه وگرځيدل نو کوم څه چې هغوئ پخپله گواهي سره تلف کړ د هغه ضامن کيږي ځکه د قاضی په محکمه کې شهادت له هغوئ څخه صادر شوی دی نو د تلف کيدو نسبت هغوئ ته کيږی.

(۱۹) قوله لا شهود الاصل ای لا يضمن شهود الاصل، يعني که د فرع گواهانو پر گواهي باندي له حکم جاري کيدو وروسته اصل گواهانو رجوع وکړه ويې ويل موږ فرع گواهان پر خپله گواهي باندي گواهان کړي نه دي نو پر اصل گواهانو باندي ضمان نشته ځکه هغوئ له خپل سبب کيدو (يعني د گواه گرځيدو) څخه انکار وکړ او څرنگه چې له اول خبر سره د قاضی قضاء متصله شوې ده له دي امله د دوهم خبر (چې محتمل د صدق او کذب) دی په وجه د قاضی حکم هم نه باطليږی.

(۲۰) قوله او اشهدناهم وغلطنا ای لا يضمن شهود الاصل بقولهم اشهدناهم وغلطنا، يعني که اصل گواهانو وويل چې موږ فرع گواهان گواهان کړي وو مگر له موږ څخه غلطی شوي ده، نو بيا چې د فرع گواهانو په گواهي سره څه تلف شوي دي د شيخينو رحمهما الله په نزد اصل گواهان د هغه نه ضامن کيږی ځکه قاضی د فروع گواهانو د گواهي مشاهده کړي بيا يې فيصله کړي ده د اصولو د شهادت خو هغه مشاهده نه ده کړي نو د اصولو له خپلي گواهي څخه رجوع کول د اتلاف سبب هم نه گرځي ځکه نو پر هغوئ باندي ضمان نه راځي.

**فائده**: د امام محمد رحمه الله په نزد په مذکوره صورتونو کې اصل گواهان ضامنان نه گرځي ځکه فروع گواهانو د اصولو د گواهي نقل کړی دی نو د اداسي دی لکه اصل گواهان چې خپله د قاضی محکمې ته حاضر شوي او گواهي يې اداکړي وي او بيا يې رجوع کړي وي او په داسي کولو سره پر اصولو باندي ضمان واجبيږی.

**فائده** :دصاحب هدایه رحمه الله له طرزڅخه دامام محمد رحمه الله قول راجح معلومیږي ولی صاحب دهدایه دامام محمد رحمه الله قول مؤخرکړی دی ومن عادة صاحب الهدایة تاخیر ماهو الراجح عنده وقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله : والراجح هوقول محمد رحمه الله وهو المختار کما اقتصر علیه القدوری واشار الیه فی المستصفی وقال ابن الهمام فی الفتح ان صاحب الهدایة اخر قول محمد ومن عادته تاخیر ماهو الراجح عنده والله اعلم بالصواب (هامش الهدایة:۳/۱۷۵)

(۲۱)اوکه اصول اوفروع ټولوګواهانورجوع وکړه نوپه داسی صورت کې دشیخینورحمهما الله په نزدضمان یواځې پرفروع ګواهانوباندې راځي ولی دقاضی په محکمه کې ګواهي له هغوئ څخه صادره شوې ده نودتلف کیدونسبت هغوئ ته کیږی که څه هم اصل ګواهان سبب دتلف دي مګرقاعده داده چې چیرته مباشراومتسبب سره جمع شي نوضمان پرمباشرباندې راځي .

**فائده** :دامام محمد رحمه الله په نزدمدعی علیه ته اختیاردی که غواړي نواصل ګواهان دي ضامنان وګرځوي اوکه غواړي چې فروع ګواهان ضامنان کړي ولی دقاضی قضاء پرفروع ګواهانوباندې په دې ډول واقع شوې ده چې شیخینورحمهما الله ذکرکړي ده اوداصولوپرشهادت باندې په دې ډول واقع شوې ده چې امام محمد رحمه الله ذکرکړې ده نوځکه مدعی علیه ته اختیاردی په دواړوکې چې کومه ډله خوښه وي هغه دي ضامنان کړي .

(۲۲)شهودالفرع (دهغوئ دګواهي مطابق دقاضی دحکم له جاري کیدونه پس) وویل : شهودالاصل دروغ ویلي دي یاداچې شهودالاصل غلط شوي دي نودهغوئ دي خبري ته التفات نه کیږي ځکه دقاضی چې کوم حکم نافذشوی دی هغه اوس ددوئ په دې خبره سره نه ماتیږي اونه پرهغوئ باندې ضمان واجب دی ولی هغوئ له خپلی ګواهي څخه رجوع نه ده کړي .

(۲۳)که دګواهانوتزکیه کوونکواوتعدیل کوونکوله خپل تعدیل څخه رجوع وکړه مثلاویې ویل چې هغه ګواهان چې موږدشهادت اهل ګڼلي ووهغوئ اهل دشهادت نه دي بلکې مریان دي .کوم نقصان چې دمدعی علیه شوی دی دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدرجوع کوونکي دهغه ضامنان دي ولی دهغوئ دتعدیل په وجه دګواهانوګواهي دقاضی دحکم قابله شوې ده ځکه قاضی دګواهي مطابق بلاتزکیه عمل نه کوي نوتزکیه دشهودودعلة العلة په معنی شونودرجوع کولوپه صورت کې تزکیه کوونکي ضامنان ګرځي .

(۲۴)دقسم اوزناثابتونکي ګواهان ضامنان ګرځي داحصان اوشرط ثابتوونکي ګواهان ضامنان نه ګرځي یعنې که دووګواهانوداګواهي ورکړې وه چې فلان سړي داقسم خوړلی دی چې که زه مسجدته داخل شوم نوزمامریی آزاددی له دغودووعلاوه نورودووګواهانوداګواهي ورکړه چې داسړی مسجدته داخل شوییاداڅلورواړه ګواهانوله ګواهي څخه رجوع وکړه نوکوموګواهانوچې دقسم خوړلوګواهي ورکړې ده پرهغوئ ضمان راځي اوکوموچې دشرط دپوره کیدوګواهي ورکړي ده پرهغوئ ضمان نه راځي ولی دآزادي سبب همداقسم دی اودتلف کیدونسبت دهغوګواهانوطرف ته کیږي کوموچې سبب ثابت کړی دی نه دشرط محض دثابتوونکوپه طرف .

همدارنګه که څلورو کسانو دیوچا د زنا کولو ګواهي ورکړه او دوو ګواهانو دهغه سړي د محصن (محصن هغه بالغ آزاد مسلمان دی چې په صحیح نکاح سره یې وطی کړي وي) کیدو ګواهي ورکړه بیا دهغه سړي دسنګسار یدو وروسته ټولو ګواهانو له ګواهي څخه رجوع وکړه نو په دغه صورت کې دزنا پر ګواهي ورکوونکو باندي ضمان راځي او دمحصن پر ګواهي ورکونکو باندي ضمان نه راځي ځکه حکم دسبب طرف ته مضافیږي او دلته سبب زناده بخلاف احصان چې هغه شرط دی موجب درجم نه دی۔

## كتاب الوكالة

### داکتاب دوکالت په بیان کې دی

وکالت لغةً په معنی دتفویض او سپارلو سره دی او وکیل فعیل وزن دی په معنی دمفعول یعني مفوّض الیه ،دفقهاؤ په اصطلاح وکالت دادی چې یو څوک په یوه معلومه معامله کې بل څوک دخپل ځان قائم مقام کړي ،بل څوک چې خپل قائم مقام ګرځوي هغه ته مُوکل او قائم مقام ته وکیل او امرِ مفوّض (یعني هغه کار) ته موکل به ویل کیږي۔

دوکالت او شهادت ترمنځ مناسبت دادی چې په دواړو کې پر غیر باندي ولایت علی سبیل الاعانت راځي یعني ددواړو په ذریعه دنورو مرسته او کومک کیږي او دنورو حقوق ساتل کیږي بیا په شهادت کې خالص تعاضد (ټینګښت) دی او په وکالت کې له تعاضد سره کله کله تعاوض هم وي ګواکي وکالت په نسبت وشهادت ته مرکب دی او مرکب له مفرد وروسته ذکر کیږي ځکه نو مصنف رحمه الله وکالت له شهادت وروسته ذکر کړی دی۔

(۱) صَحَّ التَّوكِيلُ (۲) وَهُوَ إِقَامَةُ الْغَيْرِ مَقَامَ نَفْسِهِ فِي التَّصَرُّفِ مِمَّنْ يَمْلِكُهُ إِذَا كَانَ الْوَكِيلُ مِمَّنْ يَعْقِلُ الْعَقْدَ وَلَوْ صَبِيًّا أَوْ عَبْدًا مَحْجُورًا (۳) بِكُلِّ مَا يَعْقِدُهُ بِنَفْسِهِ (۴) وَبِالْخُصُومَةِ فِي الْحُقُوقِ بِرِضَاءِ الْخَصْمِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمُوَكِّلُ مَرِيضًا أَوْ غَائِبًا مُدَّةَ السَّفَرِ أَوْ مُرِيدًا لِلسَّفَرِ أَوْ مُخَدَّرَةً (۵) بِإِيفَائِهَا وَاسْتِيفَائِهَا إِلَّا فِي حَدٍّ وَقَوَدٍ إِنْ غَابَ الْمُوَكِّلُ.

**ترجمه**: صحیح دی وکیل نیول او هغه قائم مقام ګرځول دبل چا دی دخپل ځان په تصرفاتو کې له هغه چا څخه چې مالک دتصرف وي په داسې حال کې چې وکیل په عقل پوهیږي که څه هم ماشوم وي یا محجور مریی وي په هر هغه معامله کې چې موکیل هغه خپله هم کولای شي او دخصومت لپاره په حقوقو کې دخصم په رضامندی سره مګر دا که موکل ناروغ وي یا غائب وي دموده سفره په اندازه سره یا یې دسفر اراده کړي وي یا په پرده پټه ښځه وه ،دحقوقو دادا کولو یا وصول کولو لپاره مګر په حدا و قصاص کې که موکل غائب وو۔

**تشریح**: (۱) یو څوک خپل وکیل ګرځول جائز دی ولی الله تعالی داصحاب کهف په حکایت کولو سره فرمایي: ( فَابْعَثُوا أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ ) داصحاب کهف خپل یو ملګری بنارته لیږدول دوکالت په طریقه وو ،همدارنګه له صحیح روایت څخه ثابته ده چې نبی کریم ﷺ حکیم بن حزام رضی الله عنه دقرباني لپاره دپیسو اخیستلو وکیل مقرر کړی وو ،او کله انسان خپله دیو کار له ترسره کولو څخه عاجز کیږي نو دوکیل مقررولو ته ضرورت پیښیږي ځکه نو څوک وکیل نیول جائز دی۔

(۲)مصنف رحمه الله دوكالت شرعي تعريف داډول كړى دى چې وكالت دې ته وايې چې دكوم تصرف چې انسان خپله مالک وي په هغه کې دخپل طرف څخه دتصرف كولولپاره يوبل څوک دځان قائم مقام كړي په دې شرط چې كوم څوک چې وكيل كوي هغه به معاملات په ښه انداز سره پېژني كه څه هم هغه ماشوم وي ياداسې مريى وي چې مولى دتجارت وغيره اجازت نه وي وركړى ولى ماشوم اومحجورمريى هريودتصرف اهليت لري ليكن حقوق دعقدبه دماشوم اومريي په موكل پوري تعلق لري خپله په ماشوم اومريې پوري به تعلق نه لري ځكه كه چيرته په هغوئ پوري حقوق معلق شي نودماشوم اومريي دمولى نقصان دى .

(۳)قوله بكل مايعقده بنفسه الخ اى صح التوكيل بكل مايعقده بنفسه الخ ،ضابطه داده چې انسان كوم عقدبذات خودكولاى شي دهغه عقدلپاره بل څوک هم وكيل مقررولاى شي ځكه انسان كله خپله ديوكارد مباشرت څخه عاجزكيږي مثلاً دكوم عقدچې دهغه ضرورت دى په هغه پوهيږي نه ياډېرومصروفيتونوپه وجه فرصت نه لري ياډېرمال درلودلوپه وجه خپل ټول كارونه خپله نه شي سمبالولاى نوهغه دوكيل مقررېدوته ضرورت لري ځكه نوبل څوک وكيل مقررول جائزدى .

(۴)قوله وبالخصومة فى الحقوق برضاء الخصم اى صح التوكيل بالخصومة فى الحقوق برضاء الخصم الخ ،يعني په ټولوحقوقوكې وكالت بالخصومة (دصحيح دعوى كولواوصريح جواب وركولولپاره)جائزدى ،دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددخصم درضامندى بغيرڅوک وكيل بالخصومة (دجواب وركولووكيل )ټاكل جائزنه دى مګرداكه موكل ناروغ وي ياترډېرووړځودزياتې مودې مسافت غائب وي ياپې دسفركولو تيارى كړى وي ياموكله په پرده پټه ښځه وه نوددغوعذرونوپه صورت كې په اتفاق وكيل بالخصومة مقررول جائزدى، دصاحبينو رحمهما الله په نزدبيله عذره هم دخصم درضامندى بغيروكيل بالخصومة جائزدى .

مګردااختلاف په نفس جوازكې نه دى ولى پرنفس جوازباندې دائمهؒ اتفاق دى بلكې دااختلاف په لزوم كې دى يعني دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددا توكيل لازم نه دى بلكې دخصم په ردكېدو سره رديږي اوله ردولووروسته كه وكيل په محكمه كې خصومت وړاندې كوي نوپرخصم باندې په محكمه كې حاضريدل اوجواب وركول نه لازميږي اودصاحبينو رحمهما الله په نزدپرخصم باندې محكمې ته حاضريدل اوجواب وركول لازم دى .

دصاحبينو رحمهما الله دليل دادى چې وكيل مقررول خالص په خپل حق كې تصرف دى اوپه خپل حق كې دتصرف كولولپاره دبل چارضامندى ضروري نه ده ،دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادى چې وكيل بالخصومة مقررول خالص په خپل حق كې تصرف نه دى ولي پرمدعى عليه باندې دمدعي جواب وركول دمدعى حق دى پرمدعى عليه باندې واجب دى،نووكيل بالخصومة مقررول خالص په خپل حق كې تصرف نه بلكې دمدعي په حق كې هم تصرف دى ځكه نودمدعى رضامندى ضروري ده ،اوكه داومنوچې وكيل مقررول خالص پخپل حق كې تصرف دى نوهم پخپل خالص حق كې دبل درضامندى بغيرهغه تصرف كول صحيح دى چې دهغه ضررنه وي دلته داسې نه ده ولى دخصومتونوپه سلسله كې دخلكوحالات مختلف دي

چې ځيني ډيرچالاک اوځيني بياډيرغبي وي نودغيرله وکالت سره چې نفع يانقصان متعلق دی دهغه درضامندي بغيرجائزکيږي نه .

**فائده** :دصاحبينو رحمهما الله قول مفتی به دی لمافی الدّرالمختار:وجوازه بلارضاه وبه قالت الثلاثة وعليه فتوی ابی الليث وغيره واختاره العتابی وصححه فی النهاية والمختار للفتوی تفويضه للحاكم (الدّرالمختارعلی هامش ردّالمحتار:۴/۴۳۶)وقال الشيخ خالدالاتاسی رحمة الله عليه :قال فی الدّروبه قالت الائمة الثلاثة وعليه فتوی ابی الليث واختاره العتابی وصححه فی النهاية فلايتوقف علی رضی غيره كالتوكيل بتقاضی الديون وعليه مشت المجلة(شرح المجلة:۴/۵۱۲)

**فائده** :په عدالت کې دخپلې دعوی دثابتولولپاره يادمدعی دغلطی دعوی دمدافعت کولولپاره څوک وکيل مقررول ياديوچاوکيل مقررکيدل شرعًاجائزدی،موکل که نروي که ښځه،اوکه فريق مخالف راضي وي که ناراض،به هرحال دشريعت له طرفه اجازه ده ،چې يوڅوک دوکالت په ډول داکارترسره کړي .

البته ديودروغجن مدعي حمايت کول يا ديوظالم دطرف څخه مدافعت کول دهغه په خاطردروغ ويل اوهغه ته له نوروڅخه دعدالت په ذريعه مال لوټول داډيره سخته ګناه ده داسي خلک بايدچې دالله تعالی دعذاب څخه وويرېږي ،دوکالت داسي پيشه چې په هغه کې دظالم په حمايت پرمظلوم باندي مزيدظلم کيږي داملعونه پيشه ده پردغسی کارباندي اجرت اخيستل هم حرام دی لکه په کتاب الاجاره کې په تفصيل سره دامسئله بيان شوې ده ،داسي خلک بايدفکروکړي چې ددوئ داغوړه ژبه ،به ترکومه کاروي،قال الله تعالی:( هَاأَنتُمْ هَـٰؤُلَاءِ جَادَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَمَن يُجَادِلُ اللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ) سورة النساء آية ۱۰۹ (يعني اورئ تاسی چې جګړه کوئ تاسی دهغوئ له طرفه په دنياوي ژوندکې بيابه څوک جګړه کوي دهغه په بدله کې له الله تعالی سره دقيامت په ورځ ياڅوک به وي دهغه کارساز،مطلب يې دادی چې په دنياکې خوتاسی دهغوئ له طرفه مدافعت کوئ نولږفکروکړئ دقيامت په ورځ چې کله دالله تعالی په دربارکې حاضريدل وي،په دې ورځ کې به څوک دچاد طرفه جواب ورکوي،ځکه نودواړولره يعني ددروغودعوی کونکي اوددروغودمقدمی چلونکي ته پکاردی چې دخپل انجام په هکله فکروکړي .(جديدمعاملات کی شرعی احکام:۲/۶۱)

(۵)قوله وبايفائها واستيفائها الافی حدّوقود ای وصحّ التوكيل بايفاء الحقوق واستيفائها الخ ،يعني دټولو حقوقو داداکولو اودټولوحقوقودوصولولولپاره هم وکيل مقررول جائزدی ولی خپله انسان ته دايفاء حقوق اواستيفاء حقوق مباشرت جائزدی نوبل څوک هم په دې باره کې وکيل مقررول جائزدی، مګرحدودو اوقصاص حاصلولولپاره وکيل مقررول جائزنه دی(مثلاموکل خپله غائب دی اووکيل له قاتل څخه قصاص اخيستل غواړي نوداجائزنه دی)ځکه حدوداوقصاص په شبهاتوسره ساقطيږی نوپه محکمه کې دموکل دنه حاضريدوپه صورت کې دقاتل دمعاف کيدوشبهه موجوده ده يعني داممکنه ده چې که چيرته موکل خپله په عدالت کې موجودوای نوقاتل به يې بري کړی وای .

(۶)وَالْحُقُوقُ فِيمَا يُضِيفُهُ الْوَكِيلُ إِلَى نَفْسِهِ كَالْبَيْعِ وَالْإِجَارَةِ وَالصُّلْحِ عَنْ إِقْرَارٍ تَتَعَلَّقُ بِالْوَكِيلِ إِنْ لَمْ يَكُنْ مَحْجُورًا كَتَسْلِيمِ الْمَبِيعِ وَقَبْضِهِ وَقَبْضِ الثَّمَنِ وَالرُّجُوعِ عِنْدَ الِاسْتِحْقَاقِ وَالْخُصُومَةِ فِي الْعَيْبِ (۷)وَالْمِلْكُ يَثْبُتُ لِلْمُوَكِّلِ ابْتِدَاءً حَتَّى لَا يَعْتِقَ قَرِيبُ الْوَكِيلِ بِشِرَائِهِ

(۸) وَفِيمَا يُضِيفُهُ إِلَى المُوَكِّلِ كَالنِّكَاحِ وَالخُلْعِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ عَمْدٍ وَعَنْ إِنْكَارٍ يَتَعَلَّقُ بِالمُوَكِّلِ فَلَا يُطَالَبُ وَكِيلُهُ بِالمَهْرِ وَوَكِيلُهَا بِتَسْلِيمِهَا (۹) وَلِلْمُشْتَرِي مَنْعُ المُوَكِّلِ عَنِ الثَّمَنِ وَإِنْ دَفَعَ إِلَيْهِ صَحَّ وَلَا يُطَالِبُهُ الوَكِيلُ ثَانِيًا.

**ترجمه** :او په حقوقو كې چې منسوبوي يې وكيل خپل ځان ته لكه بيع او اجاره او صلح عن اقرار متعلق كيږي په وكيل پوري كه چيرته هغه محجور نه وو لكه مبيع سپارل او دهغې قبض كول او دهغې ثمن قبض كول او رجوع كول په وخت داستحقاق كې او خصومت كول دمبيع په عيب كې او ملك ابتداءً ثابتيږي دموكل لپاره تردي چې نه آزاديږي دوكيل قريب دهغه په اخيستلو سره او په هغو حقوقو كې چې منسوبوي يې دموكل په طرف لكه نكاح او خلع او صلح له دم عمدا و صلح عن انكار متعلق كيږي په موكل پوري بيا مطالبه نه كيږي دسړي له وكيل څخه دمهر او دښځي له وكيل څخه په تسليمولو دهغې او مشتري حق لري چې منع كړي موكل له ثمنو څخه او كه يې وركړي هغه ته نو صحيح دى او دهغو مطالبه نه كوله كيږي له وكيل څخه دوباره .

**تشريح** :(۶)كوم معاملات چې وكيلان يې كوي پر دوه قسمه دي :**نمبر ۱**- هغه چې وكيل يې خپل ځان ته منسوبوي لكه اخيستل خرڅول او اجاره او دمدعي دحق داقرار په كولو سره صلح ورسره كول نو ددغو معاملاتو حقوق په وكيل پوري اړه لري په موكل پوري هيڅ تعلق نه لري په دي شرط چې وكيل داسي مريى نه وي يا نابالغ ماشوم نه وي چې دمعاملاتو دطى كولو اجازه نه وي وركوله شي بيا كه وكيل يو شى خرڅ كړي نو وكيل به مبيع سپاري او دى به ثمن وصول كوي او كه يې يو شى واخيست نو هم دى به مبيع قبض كوي او كه دمبيع يو بل مستحق پيدا شونو وكيل به له بائع څخه دهغه قيمت واپس اخلي او دمبيع دعيب په صورت كې به له وكيل سره جنجال كيږي ،مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ داشرط ولګاوه چې وكيل به محجور مريى او محجور ماشوم نه وي داپې ځكه لګولى دى چې كه چيرته وكيل محجور مريى يا محجور ماشوم وونو دمذكور عقد حقوق به د. مريي او ماشوم سره متعلق نه وي بلكې دهغوئ په موكل پوري به معلق كيږي ځكه محجور دقصور اهليت په وجه دذمه داري التزام نه شي كولاى نو كه دعقد حقوق له هغوئ سره متعلق كړاى شي نو په دي دهغوئ سره دعقد كوونكي ضرر دى .

(۷)او دمبيع مالك له ابتداء څخه موكل ګرځي وكيل مالك نه ګرځي همدا وجه ده چې كه چيرته وكيل دموكل لپاره خپل يو مريى قريب واخيست نو هغه پر وكيل باندي نه آزاديږي ولى وكيل دمبيع مالك نه دى بلكې له ابتداء څخه يې موكل مالك دى ،او كه په ابتداء كې وكيل مالك كيداى او وروسته يې موكل مالك ګرځيداى نو په داسي صورت كې كه چيرته وكيل خپل يو قريب اخيستى واى نو هغه دده له طرفه آزاديدى ځكه داشرعي حكم دى چې څوک دخپل ذى رحم محرم مالك شي هغه آزاديږي .

**نمبر ۲**- قوله وفيما يضيفه الى الموكل كالنكاح الخ اى الحقوق فى العقدالذى يضيفه الى الموكل كالنكاح الخ،يعني دوهم قسم معاملات چې وكيل يې دخپل موكل طرف ته منسوبوي لكه نكاح ،خلع ،صلح عن دم العمد ،نو دغه حقوق په موكل پوري معلق كيږي نه په وكيل پوري ځكه په دغو معاملاتو كې وكيل سفير محض دى لكه په عقدنكاح كې چې يو سړى دخاوند وكيل وي نو دمهر مطالبه له وكيل څخه بلكې له موكل (خاوند) څخه كيږي او كه دښځې وكيل وو نو دښځي تسليمول پر وكيل نه لازميږي بلكې پخپله پرښځه باندي ځان تسليمول لازميږي .

(۹) که وکيل يوشي خرڅ کړاوله مشتري څخه دثمن مطالبه دوکيل پرځای موکل وکړه نو مشتري له موکل څخه ثمن ګرځولای شي ځکه دعقد حقوق په عاقد يعنې وکيل پوري معلق دي او موکل له عقد څخه اجنبي دی ځکه نو موکل له مشتري څخه دثمن مطالبه نه شي کولای او که مشتري ثمن موکل ته ورکړي نو دا هم جائز دی او وکيل دوباره له مشتري څخه دثمن دمطالبي حق نه لري ولی ثمن دموکل حق دی چې هغه ته ورسيدی لهذا د مشتري ذمه بري کيږي .

## باب الوكالة بالبيع والشراء

## دا باب دخرڅولو او اخيستلو دوکالت په بيان کې دی

دوکالت په باب کې ترټولو کثير الوقوع او ترټولو زيات محتاج اليه شی وکالت دخرڅولو او اخيستلو دی ځکه نو مصنف رحمه الله ترټولو مخکې دوکالت بالبيع والشراء احکام ذکرکړي دي، بيايې په بيع او شراء کې دشراء احکام ځکه لومړی ذکرکړي دي چې په شراء سره دمبيع دملک اثبات راځي او په بيع سره دمبيع دملک ازاله راځي او ازاله تر اثبات وروسته وي نو يې احکام هم دمثبت دا لومړی او دمزيل دا وروسته ذکرکړي دي .

(۱) أمره بشراء ثوب هروي أو فرس أو بغل صح سمى ثمنا أو لا (۲) وبشراء عبد و دار صح إن سمى ثمنا وإلا لا (۳) وبشراء ثوب أو دابة لا وإن سمى ثمنا (۴) وبشراء طعام يقع على البر ودقيقه (۵) وللوكيل الرد بالعيب ما دام المبيع في يده فلو سلمه إلى الآمر لا يرده إلا بأمره

**ترجمه** :که يې حکم وکړ وکيل ته دهراتي کپړي داخيستلو يا دآس يا دخچرنو صحيح دی ثمن يې تعين کړي وي او که يې نه وي تعين کړي، او که يې حکم وکړ دمريي يا سرای نو بيا که يې ثمن تعين کړي وي صحيح دی او که نه نو بيا نه صحيح کيږي، او که يې حکم کړی وو دکپړي يا حيوان داخيستلو نو نه صحيح کيږي که څه ثمن تعين شوي وي، او که يې حکم وکړ دطعام اخيستلو نو دا محمول کيږي پر غنمو باندي او دهغو پر اوړو باندي او وکيل ته جائز دی ردول يې په عيب سره ترڅو چې مبيع دهغه په قبضه کې وي او که يې تسليم کړه آمر ته نو بيا رد نه شي کولای مګر دهغه په حکم سره .

**تشريح** :(۱) که موکل وکيل دهراتي کپړي (هراتي کپړه هغه کپړه ده چې دهرات ښار ته منسوبيږي، هرات دافغانستان په لويديځ کې لرغوني ولايت دی چې دحضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کې فتح شوی دی) په اخيستلو يا دآس يا دخچر درانيولو لپاره وکيل وګرځاوه نو دا توکيل صحيح دی ځکه دموکل به دجنس معلومولو وروسته زيات جهالت نه پاتيږي او معمولي جهالت په باب دوکالت کې باک نه لري ځکه دوکالت بناء له بل څخه دمدد اخيستلو په وجه پر توسع دی، بيا دا عام دی چې موکل دمذکورو شيانو قيمت ورښودلی وي او که يې نه وي ورښودلی ولی دموکل به دجنس په معلومولو سره قيمت هم عادةً معلوميږي .

(۲) قوله وبشراء عبد او دار صح الخ ای لو امره بشراء عبد او دار صح الخ، يعني که موکل يو سړی دمريي يا دسرای داخيستلو وکيل مقرر کړ نو دصحت دوکالت لپاره ضروري دی چې دهغه شي دقيمت مقدار بيان وکړي ځکه

دمريې اوسراى دقيمت په بيانولوسره معلوميږي چې كومه نوع دى نوځكه يې قيمت ښودل ضروري دى اوكه يې قيمت نه وو بيان كړى نوبيا دجنس جهالت په وجه داوكالت صحيح نه دى.

(۳)قوله وبشراء ثوب اودابة لاالخ،يعني كه موكل دكپړي يايوحيوان لپاره څوك وكيل مقرركړ اوخالص دومره يې ورته وويل چې زمالپاره كپړه ياحيوان واخله،نوريې دكپړي هيڅ تفصيل ورته بيان نه كړچې هراتي يالاهوري،اونه يې دحيوان په باره كې ورته وويل چې خرياغويى به وي نوداډول توكيل صحيح نه دى كه څه هم موكل دقيمت بيان كړى وي ځكه دلته دكپړي اوحيوان دجنس په نامعلومتياسره دجهالت فاحشه په وجه داوكالت صحيح نه دى.

(۴)قوله وبشراء طعام يقع على البر ودقيقه اى لوامره بشراء طعام يقع على البر ودقيقه،يعني كه موكل وكيل ته خالص دومره وويل چې ماته طعام واخله نوله دي څخه استحساناغنم يادغنمواوړه مراديږي ياوكيل له غنمواوياواوړوپرته دبل شي اخيستلواختيارنه لري دقياس تقاضاخوداده چې داوكالت پرهرهغه شي باندي محمول وي چې دغذاپه ډول خوړل كيږي ځكه لفظ دطعام پرهرهغه شي باندي صادقيږي چې خوړل كيږي نوداوكالت پرهرمطعوم باندي واقع كيږي،وجه داستحسان داده چې لفظ دطعام چې كله له بيع اوشراء سره يوځاى وويل شي نوپه عرف كې له هغه څخه غنم اواوړه مراديږي اوعرف په نسبت وقياس ته زيات قوي اوراجح دى نودعرف په اعتبارسره له طعام نه غنم اودهغواوړه مراديږي.

**فائده**:علامه ابن الهمام رحمه الله ليكلي دي چې له طعام نه دبيع اوشراء پرموقع په عرف كې له طعام څخه غنم اودهغواوړه مراديدل يواځې دكوفې دخلكوعرف دى ځكه داهل كوفه په نزددغنمواودهغوداوړو دبازارنوم ،سوق طعام وو،كه نه له هغه نه علاوه دنوروخلكوپه عرف كې پرهرمطعوم باندي دطعام لفظ صادقيږي اودشراء بالطعام وكالت پرهرډول طعام باندي واقع كيږي زموږپه عرف كې هم طعام هرهغه شي ته ويل كيږي چې بالفعل دغذاء په ډول دخوراک لائق وي اوپرهمدي باندي فتوى ده. (اشرف الهدايه:۱۰/۲۳۷)

(۵)كه وكيل يوشى واخيست اوهغه يې قبض كړياپه مبيع كې په يوه عيب خبرشونوترڅو پوري چې مبيع دوكيل په لاس كې وي ترهغه پوري دعيب په وجه مبيع واپس كيداى شي ځكه دعيب په وجه ردول دعقدله حقوقوڅخه دى اودعقدحقوق په وكيل پوري معلق دي لهذادعيب په وجه دردېدلوحق هم وكيل لره شته،اوكه وكيل مبيع موكل ته حواله كړه نوبيادموكل داجازي بغيرنه واپس كيږي ځكه دمبيع په حواله كولوسره دوكالت حكم پاى ته رسيږي اوكله چې دوكالت حكم پاى ته رسيږي نووكالت هم ختميږي اووكيل دغسي پردى بيګانه سړى شونوځكه دموكل له اجازي بغيردمبيع دواپس كولواختيارنه لري.

(٦)وَحَبْسُ الْمَبِيعِ الثَّمَنِ دَفَعَهُ مِنْ مَالِهِ (٧)فَلَوْ هَلَكَ فِي يَدِهِ قَبْلَ حَبْسِهِ مِنْ مَالِ الْمُوَكِّلِ وَلَمْ يَسْقُطِ الثَّمَنُ (٨)وَإِنْ هَلَكَ بَعْدَ حَبْسِهِ فَهُوَ كَالْمَبِيعِ (٩)وَيُعْتَبَرُ مُفَارَقَةُ الْوَكِيلِ فِي الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ دُونَ الْمُوَكِّلِ (١٠)وَلَوْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَشَرَةِ أَرْطَالِ لَحْمٍ بِدِرْهَمٍ فَاشْتَرَى عِشْرِينَ رِطْلاً بِدِرْهَمٍ مِمَّا يُبَاعُ مِنْهُ عَشَرَةٌ بِدِرْهَمٍ لَزِمَ الْمُوَكِّلَ مِنْهُ عَشَرَةٌ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ

**ترجمه**:اووكيل دمبيع دګرځولوحق لري دهغوثمنولپاره چې ده وركړي دي له خپل مال څخه ياكه چيرته هلاک شودهغه په لاس كې ترګرځولومخكې نوهلاک شودموكل له مال څخه اونه ساقطيږي ثمن،اوكه

هلاک شو تر گرځولو وروسته نو دهغه حکم دمبيع په شان دی او اعتبار ورکول کيږي دوکيل جدائی ته په بيع صرف او سلم کې نه دموکل جدائی لره، او که يې وکيل کړ دلس رطل غوښې اخيستلو په يوه درهم سره بيا هغه واخيسته شل رطله په يوه درهم په دې ډول چې لس رطله خرڅيدله په يوه درهم نو لازميږي موکل لره له هغې څخه لس رطله په نصف درهم کې.

**تشريح** :(۶)قوله وحبس المبيع لثمن الخ ای وللوکيل حبس المبيع لثمن الخ،يعني که و کيل بالشراء (هغه چې ديوشي داخيستلو لپاره وکيل گرځيدلی وي)بائع ته ثمن له خپل مال څخه ورکړي او مبيع يې قبض کړه نو وکيل لره جائزدی چې دثمن لپاره موکل ته رجوع وکړي ولی دموکل له طرفه دلالةً وکيل ته ددې خبرې اجازه وي چې هغه دمبيع ثمن له خپله طرفه ورکولای شي ځکه چې دعقدټول حقوق په وکيل پورې معلق دي نو دثمن مطالبه هم له وکيل څخه کيږي او موکل ته ددې علم شته بيا يې هم وکيل ته ثمن نه دي ورکړي نو گواکي موکل په دې راضي دی چې وکيل دې له خپل مال څخه ثمن اداکړي او دموکل په دې باندې راضی کيدل گويا دموکل له طرفه دا اجازه ده چې ثمن له خپل مال څخه اداکولای شي.

(۷)که په مذکورصورت کې مخکې ترحبس (يعني دموکل له مطالبی وروسته وکيل دثمن په وجه مبيع له خپل خان سره نه وه گرځولې)مبيع هلاکه شوه نو دامبيع دموکل له مال څخه هلاکه شمارله کيږی نه دوکيل له مال څخه او ثمن دموکل له ذمې څخه نه ساقطيږی ځکه دوکيل قبض حکماً دموکل قبض دی نو گواکې دموکل له لاسه هلاکه شوې ده په دې کې دوکيل حق رجوع نه ساقطيږی.

(۸)او که وکيل مبيع له خپل ځان سره وگرځوله بيا هغه دوکيل په قبضه کې هلاکه شوه نو دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دضمان رهن په شان مضمون کيږي يعني دمبيع له قيمت او ثمن نه چې هريوکمې پيسې وي هغه لازميږی مثلا وکيل له بائع څخه مبيع په پنځلس روپی ثمن اخيستې وه او دهلاکې شوې مبيع قيمت لس روپی لس دي نو په قيمت سره مضمون کيږي يعني دموکل پرذمه دوکيل لپاره پنځلس روپی واجب دي او دموکل لپاره پروکيل باندې دمبيع تاوان لس روپی واجب دي نو له ثمن څخه چې دتاوان لس روپی کاټ کړي وکيل به له موکل څخه پنځه روپی واپس اخلي او که ثمن لس روپی وي او دمبيع قيمت پنځلس روپی وي نو مبيع په ثمن سره مضمونه کيږی يعني پروکيل باندې لس روپی تاوان راځي نو څرنگه چې دوکيل پرموکل باندې ديبع لس روپی واجب دي او دموکل پروکيل باندې دتاوان لس روپی واجب دي نو يوبل ته دې رجوع نه کوي بس سره خلاص شول.

دامام محمد رحمه الله په نزد دضمان مبيع په شان مضمون کيږي يعني لکه څرنگه چې مبيع که چيرته دبائع په لاس کې هلاکه شي نو دمشتري له ذمې څخه دهغې ثمن ساقطيږی دمبيع قيمت که ترهغه زيات وي او که کم وي،همدارنگه دوکيل په قبضه کې دمبيع دهلاکت په صورت کې دموکل له ذمې څخه ثمن ساقطيږی خواه که دمبيع قيمت ترثمن کم وي او که زيات وي همدا قول دامام ابوحنيفة رحمه الله هم دی ،دامام ابويوسف رحمه الله دليل دادی چې دثمن په وجه مبيع گرځول له

رهن سره مشابهت لري ځکه نو دا مبیع د ضمان رهن په شان مضمونه کیږي. د طرفینو رحمهما الله دلیل دا دی چې وکیل په منزله د بائع دی او موکل په منزله د مشتري دی ځکه له وکیل څخه هلاک شوي مبیع د ضمان بیع په شان مضمونه کیږي.

**فائده**: د امام محمد رحمه الله قول راجح دی لما قال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله: الراجح الماخوذ به هو قول ابی حنیفة رحمه الله وبه قال الامام محمد الشیبانی رحمه الله، قال فی شرح المجلة الاتاسی: انه ما قاله الامام محمد هو قول ابی حنیفة رحمه الله وعلیه المتون وبه احدث المجلة (هامش الهدایة: ۳/۱۸۲)

(۹) د عقد صرف او سلم لپاره وکیل مقررول جائز دی ځکه دا داسي عقود دي چې موکل یې خپله کولای شي او دا خبره مخکي تیره شوه چې هر هغه عقد چې موکل یې خپله کولای شي د هغه لپاره بل څوک وکیل کولای شي. او په مذکورو عقدونو کې د عاقدینو په مجلس عقد کې عوضین قبض کول ضروري دی که چیرته وکیل او هغه بل عاقد د عوضینو تر قبض کولو مخکي یو بل سره جدا شول نو عقد باطلیږی ولی د عوضینو تر قبض کولو مخکي د عاقدینو جدائی راغله چې هغه عقد باطلوي. او که موکل مخکي تر قبض له مجلس عقد څخه ولاړی نو هغه لره اعتبار نشته بیع نه باطلیږی ځکه موکل عاقد نه دی او قبض کول د عاقد ضروري دی هغه وکیل دی.

(۱۰) که یو چا بل څوک دیوه درهم په عوض د لسو رطلو (رطل څلور دیرش تولې یوه نیمه ماشه وزن دی) غوښي اخیستلو لپاره وکیل کړ مګر وکیل دیوه درهم په عوض شل رطله داسي غوښه واخیسته چې دیوه درهم په عوض لس رطله خرڅیدله نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد پر موکل باندي په دي کې د نصف درهم په عوض لس رطله غوښه اخیستل لازمیږی ځکه موکل د لسو رطلو اخیستلو امر کړی وو او د موکل له طرفه تر لسو رطلو په زیات سره وکیل مامور نه دی نو تر لسو رطلو زیات پر موکل نه دي بلکې پر وکیل باندي لازمیږی.

د صاحبینو رحمهما الله په نزد پر موکل باندي دیوه درهم په عوض کې شل رطله غوښه لازمیږی ځکه موکل وکیل ته دیوه درهم د مصرفولو امر کړی وو خالص خیال یې دا وو چې دیوه درهم په عوض لس رطله غوښه کیږی او س چې وکیل شل رطله پري اخیستی ده نو موکل ته یې زیاته فائده ور سوله نو دا د موکل د امر مخالفت نه دی څو مره چې یې اخیستې ده ټوله پر موکل باندي لازمیږي.

**فائده**: د امام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی لما قال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله: المختار عند مشایخ الحنفیة قول الامام وعلیه مشی اصحاب المتون والشروح والفتاوی وبه اخذت المجلة (هامش الهدایة: ۳/۱۸۲)

(۱۱) ولو وکله بشراء شئ بعینه لا یشتریه لنفسه (۱۲) فلو اشتراه بغیر النقود او بخلاف ما سمی له من الثمن وقع للوکیل (۱۳) وان کان بغیر عینه فالشراء للوکیل الا ان ینوی للموکل او یشتریه بماله (۱۴) وان قال اشتریت للآمر وقال الآمر لنفسک فالقول للآمر وان دفع الیه الثمن فللمامور

**ترجمه**: او که یې وکیل کړ دیو معلوم شي د اخیستلو لپاره نو هغه دي نه اخلي د خپل ځان لپاره بیا که یې واخیست هغه د غیر نقد په عوض یا خلاف له هغه ثمن چې ده ورته معلوم کړې وي نو دا خرید واقع کیږي د وکیل لپاره او که د غیر معین شي د اخیستلو وکیل وو بیا هم دا خرید د وکیل لپاره کیږي مګر دا که یې نیت کړی

وو د موکل لپاره یا یې واخیست دده په مال سره او که یې وویل چې ما اخیستی دی د موکل لپاره او موکل وویل چې تا د خپل ځان لپاره اخیستی دی نو قول د موکل معتبریږی او که یې ورکړې وي ثمن وکیل ته نو بیا قول د وکیل معتبریږي.

**تشریح**:(۱۱)که موکل یو څوک دیو معلوم شي داخیستلو لپاره وکیل مقرر کړنو د وکیل لپاره جائز نه دی چې هغه معلوم شی د خپل ځان لپاره واخلي ځکه موکل پر وکیل باندي اعتماد کړی دی نو که چیرته یې وکیل د خپل ځان لپاره اخلي نو په دي کې بیا موکل ته دوکه ورکول دی چې دا نا جائزه ده، همدارنګه وکیل چې کله د معلوم شي د اخیستلو په باره کې وکالت قبول کړ د دي خبري التزام یې وکړ چې که د معلوم شي خریداو کړ نو هغه به د موکل لپاره وي نو ځکه به وکیل د خپل ځان لپاره د خرید تصور نه کوي.

(۱۲)او که چیرته وکیل د موکل له طرفه معلوم کړای شوی شی واخیست او په قیمت کې یې پیسي نه بلکې سامان ورکړ یا هغه قیمت چې موکل ورته ښودلی ووچې په دومره یې واخله وکیل د هغه برخلاف په زیات قیمت سره واخیست نو په دغو دواړو صورتونو کې داشی دوکیل لپاره کیږي ځکه وکیل د موکل مخالفت کړی دی او د مخالفت په ضمن کې وکیل له وکالت څخه معزول کیږي نو د عقد نفاذ خپله پر وکیل باندي کیږي نه پر موکل باندي.

(۱۳)او که یې دیو غیر معلوم شي لپاره وکیل کړی وو بیا هغه یو شی واخیست داشی هم دوکیل لپاره کیږي ځکه اصل دادی چې هر څوک د خپل ځان لپاره عمل کوي، البته که وکیل د موکل لپاره د اخیستلو نیت کړی وو نو داشی د موکل لپاره کیږي ځکه په دغه صورت کې وکیل د خپل ځان لپاره هم د اخیستلو اجازه لري او د موکل لپاره د اخیستلو هم نو ځکه نو د اخیستلو په وخت کې چې یې د چا نیت کړی وي شی د هغه کیږي همدارنګه که وکیل په هغه قیمت اخیستی وو کوم چې موکل ورکړی وي هم داشی د موکل لپاره کیږي ځکه د موکل په مال سره د خپل ځان لپاره شی رانیول حرام دی ولې په دي صورت کې د موکل د دراهمو غصب کول لازمیږي چې داکار حرام دی نو ځکه په دغه صورت کې داشی دوکیل نه بلکې د موکل لپاره کیږي.

(۱۴)او که وکیل مریی واخیست او ویې ویل چې ما دغه مریی د موکل لپاره اخیستی دی او موکل وویل چې نه بلکې دادي د خپل ځان لپاره اخیستی دی نو که موکل وکیل ته نقدي پیسې روپۍ نه وي ورکړې نو په داسي صورت کې د موکل قول معتبریږي ځکه وکیل دیو داسي خبرې په باب خبر ورکوي چې از سرنوې دی مالک نه دی ځکه مر شوی مریی د انشاء عقد محل نه دی او د وکیل غرض د ثمن په باره کې رجوع کول دی چې موکل د هغه څخه منکر دی او قول د منکر معتبریږي او که موکل نقدي روپۍ ورکړې وي نو بیا قول دوکیل معتبریږي ځکه په دي صورت کې هغه امین دی او د امانت له ذمه واري څخه ځان ایستل غواړي نو دده قول معتبر دی.

**فائده**: په دغه مسئله کې اته (۸)صورتونه دي ،ځکه وکیل به یاد معلوم مریي په اخیستلو مامور وي یاد غیر معلوم بیا هر یو صورت له دوه حالة څخه خالي نه دی یا به یې ثمن نقدي ورکړي وي یا نه، بیا به دغه څلور صورتونه له دوه حالة څخه خالي نه وي یا به مریی ژوندی وي په هغه وخت کې چې وکیل داخیستلو

خبرورکوي اويابه مرشوى وي،په دغوټولو صورتونوکې که ثمن نقدووييا قول دوكيل معتبريږي اوكه ثمن نقدنه وونوبيابه ورته وګوروكه وكيل دانشاء عقدمالك نه وومثلامريى مرشوى وونوبيادموكل معتبريږي اوكه وكيل دانشاء عقدمالك وونودصاحبينو رحمهما الله په نزددوكيل قول معتبريږي اودامام ابو حنيفة رحمه الله په نزدكه دتهمت ځاى نه وويادوكيل قول معتبريږي كه نه دموكل قول معتبردى.

**فائده**:دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :واقتصرعلى قول الامام اكثرالمتون وماله اليه اصحاب الشروح وفيه الاحتياط لان الخلاف في موضع التهمة فقط.(هامش الهداية:۳/۱۸۳)

(۱۵)وإن قال بعني هذاالفلان فباعه ثم انكر الأمر اخذه فلان(۱۶)الاان يقول لم آمره به الاان يسلمه المشتري اليه(۱۷)وإن امره بشراء عبدين عينين ولم يسم ثمنا فاشترى له احدهما صح(۱۸)وبشرائهما بالف وقيمتهما سواء فاشترى احدهما بنصفه او اقل صح وبالاكثرلا(۱۹)الاان يشتري الباقي بمابقي قبل الخصومة(۲۰)وبشراء هذابدين له عليه فاشترى صح ولوغيرعين نفذعلى المامور

**ترجمه**:اوكه يې وويل چې خرڅ كړه دغه پرماباندي دفلان لپاره بياهغه پري خرڅ كړبيا آمرانكار وكړنو وادي خلي فلان،مګرداچې ووايې فلان چې مانه وو امركړى هغه په دي سره مګرداكه تسليم كړي وومشتري هغه ته اوكه يې هغه ته حكم كړى وودووو معلوموم مريانوپه اخيستلو اوثمن يې معلوم مې كړې نه وي بياوكيل له هغودواړوڅخه يوواخيست نوصحيح دى اوكه يې حكم ورته كړى وودواړوپه زرروپۍ داخيستلواودهغوئ دواړوقيمت سره برابروو بياهغه واخيست له دواړوڅخه يويې په پنځه سوه ياترهغه په كم باندي نوصحيح دى اوترپنځه سوه په زيات نه دى صحيح مګرداكه يې واخيست باقي دمابقي په عوض ترخصومت مخكي اوكه يې امورته وكړديو خاص شي داخيستلودهغه دين په عوض چې دموكل پروكيل باندي دى بياهغه واخيست نوصحيح دى اوكه غيرمعلوم وونوخريد پرمامورباندي نافذ كيږي.

**تشريح**:(۱۵)كه يوچا بل ته وويل چې دامريى دفلان مثلازيدلپاره پرماباندي خرڅ كړه هغه پري خرڅ كړبيا اخيستونكي انكار وكړويې ويل چې ماته زيد داخيستلوامرنه ووكړى په داسې حال كې چې زيدراغى ويې ويل چې ماده ته امركړى وونوزيدبه دغه مريى اخلي ځكه داخيستونكي داخبره چې دزيدلپاره يې پرماباندي خرڅ كړه داددي خبري اقراردى چې زيدزه وكيل ګرځولى يم بيااوس انكاركول لغوه كيږي ولى ديوشي اقراردهغه دانكارلاحق په وجه نه باطليږي بيادهغه داانكارځرنګه چې له سابق اقرارسره متناقض دى ځكه نوهغه دي انكارته غوږنه نيول كيږي.

(۱۶)البته كه زيدوويل چې ماهغه ته داخيستلوحكم نه ووكړى نواوس زيدغه مريى نه شي اخيستلاى بلكې دمشتري لپاره كيږي ځكه زيددهغه اقراروكالت ردكړاواقرارله هغوشيانوڅخه دى چې په رديدوسره رديږي نودغه خريدپرمشتري باندي نافذيږي ،خوكه چيرته اخيستونكي مريى زيدته حواله كړاوزيدواخيست نوبيامريى دزيدمملوك ګرځي ځكه دزيدپه رديدوسره خوداخيستونكي اقراررد شومګر زيدته دمريي په وركولوسره ددوئ ترمنځ بيع بالتعاطى (بيع تعاطى دابولي چې عاقدين دعقدبيع په وخت په ژبه سره ايجاب ياقبول ونه كړي بلكې له ايجاب اوقبول بغيرمشتري دمبيع قيمت بائع ته وركړي اوبائع

مشتري ته مبيع ورکړي يعني لاس په لاس راکړه ورکړه ترسره شي په داسي بيع کې په خوله سره دې ويلو ضرورت نشته ) نوی عقد وشونو دا مريی دزيد کيږي .

(۱۷) که يو چا بل سړي ددوه معلوم مومريانو اخيستلو لپاره وکيل وګرځاوه او موکل د مريانو قيمت نه وومعلوم کړی بيا وکيل له هغو دوو څخه يو واخيست نوکه يې د مريي تر قيمت په کم يا د قيمت مطابق يا په لږ زيادت سره اخيستی وونو دا خريد صحيح دی ځکه د موکيل له طرفه توکيل مطلق وو په متعينو ثمنو پوري مقيد نه وونو دادرې واړه صورتونه يې صحيح دي نو په غبن فاحش سره يې اخيستل په اجماع نه دی صحيح ځکه توکيل بالشراء د غبن فاحش احتمال نه لري .

(۱۸) قوله وبشرائهمابالف الخ،ای لو امر بشراء عبدين معينين بالف،اوکه ددوو مريانو په يو زر روپۍ اخيستلو لپاره وکيل کړی وو او دواړو قيمت برابر وو بيا وکيل له دواړو څخه يو په نصف قيمت يعني پنځه سوه يا تر هغه په کم واخيست نو هم دا خريد صحيح دی موکل به دا مريی اخلي او که يې تر پنځه سوه په زيات قيمت اخيستی وو که دا زيادت کم وو او که زيات وونو دا صحيح نه دی يعني پر موکل باندي لازم نه دی ولې موکل ددواړو په مقابل کې يو زر درهم ورته بيان کړي وو او د دواړو قيمت برابر دی نو زر روپۍ ددواړو ترمنځ نصفًا نصفًا تقسيميږي نو ګواکي موکل د هر يوه مريي په پنځه سوه د اخيستلو حکم کړی وونو د وکيل يو مريی د پنځه سوه په عوض اخيستل د موکل د حکم مطابق دی نو دا صحيح دی او په هغه صورت کې چې تر پنځه سوه يې زيات واخلي د موکل د حکم د مخالفت په وجه صحيح نه دی .

(۱۹) البته که چيرته د موکل تر خصومت مخکي وکيل دوهم مريی هم د باقی قيمت په عوض واخيست نو بيا دا خريد صحيح کيږي ځکه د موکل غرض يعني ددواړو مريانو په زر روپۍ اخيستل حاصل شو .

(۲۰) قوله وبشراء هذا بدين له عليه الخ ،ای لو امر رجل بشراء هذا العبد بدين له عليه الخ،يعني که د يو چا پر چا باندي پور باندي وو بيا قرض غوښتونکي مقروض ته وويل چې د قرض په عوض کې دا معلوم مريی زما لپاره واخله او مقروض د حکم مطابق هغه مريی واخيست نو دا خريد جائز دی او دا مريی چې يې په څوا خيستی دی هغو مړه پر آمر باندي لازميږي بيا که چيرته دغه مريی د مقروض په لاس کې مړ شونو دا مريی د موکل له مال څخه شمارل کيږي نه د مامور له مال نه .او که قرض غوښتونکي مقروض ته د غير معلوم مريي د اخيستلو وويل .وکيل يو مريی واخيست نو دا خريد پر مقروض مامور باندي نافذ کيږي نه پر آمر باندي آن که چيرته دا مريی هلاک شو نو نقصان د مامور کيږي نه د آمر .دا د امام ابو حنيفة رحمه الله مسلک دی د صاحبينو رحمهما الله په نزد په دواړو صورتونو کې خريد پر آمر باندي نافذ کيږي. د اختلاف منشأ داده چې د خريد لپاره وکيل مقرر ول که چيرته د قرض طرفته مضاف کړای شي او بائع يا مبيع متعين وونو د امام صاحب رحمه الله دا صحيح دی او که متعين نه وونو صحيح نه دی او د صاحبينو رحمهما الله په نزد په دواړو صورتونو کې صحيح دی .

فائده :د امام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی لما قال الشيخ المفتي غلام قادر النعماني :القول الراجح هو قول الامام کما لا يخفی على ذی بصيرة لكن العرف يقتضي ترجيح قولهما رحمهما الله .(القول الراجح: ۲/۱۵۶)

(۲۱) وَبِشِرَاءِ أَمَةٍ بِأَلْفٍ دَفَعَ إِلَيْهِ فَاشْتَرَى فَقَالَ اشْتَرَيْتُهَا بِخَمْسِ مِائَةٍ وَقَالَ الْمَأْمُورُ بِأَلْفٍ فَالْقَوْلُ لِلْمَأْمُورِ (۲۲) وَإِنْ لَمْ يَدْفَعْ فَلِلْآمِرِ (۲۳) وَبِشِرَاءِ هٰذَا وَلَمْ يُسَمِّ ثَمَنًا فَقَالَ الْمَأْمُورُ اشْتَرَيْتُهُ بِأَلْفٍ وَصَدَّقَهُ بَائِعُهُ وَقَالَ الْآمِرُ بِنِصْفِهِ تَحَالَفَا

**ترجمه**: او كه يې امر وكړ د منځي اخيستلو په هغو زرو روپو چې هغه ته يې وركړي دي بيا هغه منځه واخيسته اوس موكل وويل چې تا دا منځه په پنځه سوه اخيستې ده او مامور وويل په زرمي اخيستې ده نو قول د مامور معتبر يږي او كه يې زر روپۍ نه وي وركړي نو د آمر كيږي او كه يې امر وكړ د خاص شي د اخيستو او ثمن يې معلومې نه كړې بيا مامور وويل چې ما اخيستى دى په زر روپۍ. او دده تصديق دده بائع وكړ او آمر وويل چې په پنځه سوه دي اخيستى دى نو دواړه دي قسم وكړي.

**تشريح**: (۲۱) قوله وبشراء امة بالف دفع اليه الخ، اى لو وكله بشراء امة بالف دفع اليه الخ، يعني كه يو چا څوك په زر روپۍ د منځي اخيستلو وكيل وګرځاوه او موكل زر روپۍ وكيل ته وركړي وكيل هم منځه واخيسته خو چې كله يې موكل ته وركوله نو هغه وويل چې دا خو دي په پنځه سوه روپۍ اخيستې ده او وكيل وويل چې نه بلكې په زر روپۍ مې اخيستې ده نو كه چيرته د منځي ماليت او قيمت هم يو زر روپۍ وو نو د وكيل قول له قسم سره معتبر يږي ځكه په دي صورت كې وكيل امين دى غواړي چې د امانت له عهدې څخه ځان وباسي او له عهدہ امانت څخه په وتلو كې د امين قول معتبر يږي نو دلته هم د امين قول معتبر يږي.

(۲۲) او كه په مذكور صورت كې موكل زر روپۍ نه وې وركړې او وكيل منځه اخيستې وه بيا د دواړو سره جنجال شو نو په دغه وخت كې د موكل قول معتبر يږي، مصنف رَحِمَهُ اللهُ دغه صورت مطلق ذكر كړى دى او حال دا چې په دي كې څه تفصيل شته هغه دا چې كه چيرته منځه د پنځه سوه قيمت وه نو د موكل قول معتبر يږى ولى وكيل د موكل مخالفت كړى دى او كه د منځې قيمت زر روپۍ وو نو دواړه به قسم خوري اوله تر قسم وروسته به عقد فسخ كيږي او منځه به د وكيل كيږي ولى وكيل او موكل په منزله د بائع او مشتري دي او د بائع او مشتري كه په ثمنو كې اختلاف سره راغى نو په هغه وخت كې حكم دا دى چې دواړه به قسم اخلي او عقد به فسخ كيږي مبيع مامور ته سپارله كيږي، دلته هم حكم دا دى چې دواړه به قسم واخلي اوله قسم اخيستلو وروسته به عقد فسخ كيږي.

(۲۳) قوله وبشراء هذا ولم يسم ثمنا الخ اى لو امره بشراء هذا العبد ولم يسم ثمنا الخ يعني كه چا يو څوك د معلوم شي د اخيستلو لپاره وكيل وګرځاوه او آمر ثمن ور معلومې نه كړې بيا د دواړو سره اختلاف شو مامور وويل چې ما دا شي په زر روپۍ اخيستى دى بائع هم د مامور تصديق وكړ او آمر بيا وايي چې نه بلكې تا په پنځه سوه اخيستى دى نو دواړه دي قسم واخلي ځكه دواړو د ثمن په مقدار كې اختلاف كړى دى او له دواړو سره ګواهان نشته او د اختلاف فى الثمن موجب تحالف دى نو دواړه دي قسم وخوري له قسم اخيستلو وروسته مبيع پر مامور باندې لازميږي.

(۲۴) وَبِشِرَاءِ نَفْسِ الْآمِرِ مِنْ سَيِّدِهِ بِأَلْفٍ وَدَفَعَ فَقَالَ لِسَيِّدِهِ اشْتَرَيْتُهُ لِنَفْسِهِ فَبَاعَهُ عَلَى هٰذَا عَتَقَ وَوَلَاؤُهُ لِسَيِّدِهِ (۲۵) وَإِنْ قَالَ اشْتَرَيْتُهُ فَالْعَبْدُ لِلْمُشْتَرِي وَالْأَلْفُ لِسَيِّدِهِ وَعَلَى الْمُشْتَرِي أَلْفٌ مِثْلُهُ

**ترجمه**: او كه يې امركړى وو د نفس موكل په اخيستلو د هغه له مولى څخه په زرروپۍ او هغه زرروپۍ يې وركړي وي بيا وكيل د هغه مولى ته وويل چې زه دى اخلم خاص د هغه د خپل ځان لپاره بيا مالک پرې خرڅ كړ پر همدغه شرط باندي نو مريى آزاد يږي او د هغه ولاء د هغه د مولى ده او كه يې وويل چې زه دا اخلم نو مريى د مشتري كيږي او زرروپۍ د هغه د مولى كيږي او پر مشتري باندي هغه شان زرروپۍ واجبيږي.

**تشريح**: (۲۴) قوله وبشراء نفس الآمر الخ اى لو امره الامر ان يشترى نفسه من مولاه الخ، يعني كه يوه مريي يو څوک ددي لپاره وكيل كړ چې ته ما زما لپاره زما له مولى څخه په زرروپۍ واخله او وكيل ته يې زرروپۍ هم وركړي وكيل ورغى د هغه مولى ته يې وويل زه ستا دغه مريى خاص د هغه د خپل ځان لپاره د اخيستلو په شرط اخلم، مولى په هغه شرط باندي مريى پرې خرڅ كړ نو مريى آزاديږي او د هغه ولاء د هغه د مولى لپاره ده ولې ذات د مريي پر مريي باندي خرڅول هغه په عوض سره آزادول دى او د مريي خپل ځان اخيستل د مولى له طرفه آزاديدل د عوض په بدل كې قبولول دى نو مريى د مولى له طرفه آزاد شمارل كيږي او ولاء د معتِق لپاره وي ځكه نو د دي مريي ولاء د هغه د مولى لپاره كيږي

(۲۵) او كه د مريي وكيل خالص دا وويل چې اشتريته (ما هغه اخيستى دى) دا سې يې ونه ويل چې اشتريته لنفس العبد (ما مريى د هغه خپل ځان لپاره اخيستى دى) نو د مريي اخيستل د وكيل لپاره كيږي او هغه زرروپۍ چې مريي وكيل ته وركړي وي د خپل ځان له مولى څخه د اخيستلو لپاره هغه د مريي د مولى كيږي ځكه دغه زرروپۍ خو د مريي گټه ده او د مريي گټه د مولى حق كيږي، او د مريي اخيستونكي وكيل پر ذمه د مريي قيمت زرروپۍ نوري لازميږي ځكه لفظ د اشتريتُ په عقد معاوضه كې حقيقت دى نه په آزادولو كې او قاعده دا ده چې تر څو پوري په حقيقت عمل كول ممكن وي مجاز طرف ته رجوع كول ناجائز دى نو دا د اعتاق په معنى نه كيږي په داسي حال كې چې په پورتني صورت كې مجازي معنى يعني اعتاق متعين وو.

(۲۶) وَاِنْ قَالَ لِعَبْدٍ اِشْتَرِ لِي نَفْسَكَ مِنْ مَوْلَاكَ فَقَالَ لِلْمَوْلَى بِعْنِي نَفْسِي لِفُلَانٍ فَفَعَلَ فَهُوَ لِلْآمِرِ (۲۷) وَاِنْ لَمْ يَقُلْ لِفُلَانٍ عَتَقَ

**ترجمه**: او كه يې مريي ته وويل چې واخله ته خپل ځان زما لپاره ستا له مولى څخه بيا مريي مولى ته وويل ما خرڅ كړه د فلان لپاره، هغه خرڅ كړ نو مريي دامر كيږي او كه مريي لفلان نه وويل نو بيا آزاديږي.

**تشريح**: (۲۶) كه يو چا د بل چا مريي ته وويل چې ته خپل ځان له خپل مولى څخه زما لپاره واخله، مريى ورغى خپل مولى ته يې وويل چې ته ما پر ما باندي د فلان (څوک چې هغه وكيل مقرر كړى وو) لپاره خرڅ كړه مولى هغه خرڅ كړ نو دا مريى هغه سړي كيږي چا چې هغه ته ويلي وو چې ته خپل ځان له خپل مولى څخه زما لپاره واخله ځكه مريى د خپل ځان په اخيستلو كې د بل چا له طرفه وكيل كيداى شي ولې د خپل ماليت په اعتبار سره هغه اجنبي دى يعني د خپل ځان دى مالک نه دى بلكې د ذات په اعتبار سره دى يو انسان دى د هغه مال كيدل د هغه د مالک په اعتبار سره دى ځكه نو هغه

دخپل ماليت په اعتبار سره اجنبي دى او دبل چاله طرفه دخپل ځان په اخيستلو كې دى وكيل كيداى شي نو دده خپل ځان دبل لپاره اخيستل صحيح دى.

(۲۷) او كه يې دانه وه ورته ويلي چې دفلان لپاره ما خرڅ كړه بلكې دخپل ځان يې ورته ويلي وو چې ما پر ما باندې خرڅ كړه مولى هغه خرڅ كړنو آزاديږي ځكه هغه شراء خپل ځان ته مضافه كړي ده ځكه نو دى دمولى له طرفه په عوض د مال آزاديږي.

## فصل

دا فصل دوكيل دفاسد او غير فاسد تصرف په بيان كې دى

(۱) اَلوَكِيلُ بِالبَيعِ وَالشِّرَاءِ لَايَعقِدُ مَعَ مَن تُرَدُّ شَهَادَتُهُ لَه (۲) وَصَحَّ بَيعُهُ بِمَا قَلَّ اَو كَثُرَ وَبِالعَرضِ وَالنَّسِيئَةِ (۳) وَتَقَيَّدَ شِرَاءُهُ بِمِثلِ القِيمَةِ وَزِيَادَةٍ يَتَغَابَنُ فِيهَا (۴) وَهُوَ مَا يَدخُلُ تَحتَ تَقوِيمِ المُقَوِّمِينَ

**ترجمه**: دخريد او فروخت وكيل به معامله نه كوي له هغه چا سره چې مردوده وي شاهدي دهغه دده لپاره او صحيح خرڅول دهغه په كم سره يا په زيات سرا و دسامان په عوض سره او په قرض سره، او مقيد دى دهغه خريد په مثل قيمت سره او په دومره زيادت سره په څومره كې چې دوكه خوړله كيږي او هغه هغه دى چې داخل وي د قيمت كوونكيو په تقويم كې.

**تشريح**: (۱) كوم څوك چې دخريد او فروخت وكيل ګرځيدلى وي دى له هغه چا سره معامله نه شي كولاى دچا ګواهي چې دهغه لپاره معتبره نه وي مثلاً مور، پلار، زوى، لور، خاوند، ښځه، شريک وغيره، دادامام ابوحنيفة رحمه الله مسلک دى چې دصاحبينو رحمهما الله په نزد د مذكورو خلكو سره په مثل قيمت سره دهغه معامله كول جائزه ده ځكه توكيل مطلق دى هر چاته شامل دى كه دوكيل نيكه يا پلار وغيره وي او كه بل څوک وي، دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادى چې دتهمت مواقع له وكالت څخه مستثنى كيږي او دا هم يو دتهمت ځاى هم دا وجه ده چې دهغوئ ديوبل ګواهي هم معتبره نه ده همدارنګه دد غو مذكورو كسانو منافع سره متصلي دي ځكه نو دا من وجهٍ دوكيل پر خپل ځان باندې فروخت شمارل كيږي.

**فائده**: په دغه مسئله كې څو صورتونه دي: ۱-وكيل چې موكل ته عامه اجازه وركړي وي چې پر چا يې چې ته خرڅوي خرڅ يې كړه، په دغه صورت كې يې له خپل ځان، نابالغ اولاد او خپل غير مديون مريې علاوه پر ټولو باندې خرڅول جائز دى.

۲-كه موكل عامه اجازه نه وه وركړي نو كه چيرته وكيل دخپلو مذكورو قريبانو سره پر يو چا باندې مبيع خرڅه كړه دهغه څو صورتونه دي يو دادى چې وكيل تر بازاري قيمت زيات خرڅه كړې وي نو دا صورت په اتفاق سره جائز دى، دوهم صورت دادى چې تر بازاري قيمت كم په غبن فاحش سره يې خرڅ كړى وي نو دا صورت په اتفاق سره ناجائز دى.

۳-اوكه وكيل په غبن يسيردبازاري قيمت سره برابرخرڅ كړى وي داصورت دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدجائزنه دى اودصاحبينورحمهماالله په نزدجائزدى ،دامام صاحب رحمه الله قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :والراجح قول الامام ابى حنيفة رحمه الله وبه اخذاكثر المشائخ وفيه الاحتياط.(هامش الهداية:۳/۱۸۷)

(۲)يعني څوک چې ديوشي دخرڅولولپاره مطلق وكيل ګرځيدلى وويعني موكل دخاص مقدارثمنو اونقدياقرض د خرڅولوپې هيڅ تذكره نه وه كړي نودوكيل لپاره په كم قيمت ياپه زيات قيمت ياداسبابوپه عوض كې ياپه قرض خرڅول هردول جائزدى دادامام ابوحنيفة رحمه الله مسلك دى دصاحبينورحمهماالله په نزدپه دومره نقصان سره خرڅول چې په هغه نقصان سره عمومًاخلک دوكه كيږي نه جائزنه دى،البته په مثل قيمت سره يامتعارف ميعادوغيره سره خرڅول يې جائزدى ځكه دامتعارف دى اودوكالت مطلق امرپه متعارف سره مقيدكيږي،دامام صاحب رحمه الله دليل دادى چې توكيل بالبيع مطلق دى نوهغه دتهمت له ځاى نه علاوه پرخپل اطلاق پاتيږى اودپه غبن فاحش ياسامان په عوض خرڅول هم هغه وخت متعارف دى چې كله دثمن شديدضرورت وي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لماقال الشامية : قال العلامة قاسم فى تصحيحه على القدورى ورجح دليل الامام المعمول عليه عندالنسفى وهواصح الاقاويل والاختيار عندالمحبوبى ووافقه الموصلى وصدر الشريعة رملى وعليه اصحاب المتون الموضوعة لنقل المذهب بماهوظاهر الرواية(ردالمحتار:۴/۴۵۳)

(۳)كه يوڅوک ديوشي داخيستلولپاره مطلق وكيل ټاكل شوى وويعني موكل په متعين ثمن سره داخيستلوذكرنه يې كړى نودهغه لپاره په مثل قيمت سره (په دومره ثمن سره اخيستل چې دهغه دقيمت سره برابروي) اوپه دومره زيادت سره اخيستل جائزدى چې دهغه په مثل كې خلک په عامه توګه دوكه كيږي ،مګرپراصل قيمت باندي په دومره زيادت سره اخيستل جائزنه دى چې دهغه په مثل كې خلک دوكه كيږي نه يعني په غبن يسيرسره جائزدى اوپه غبن فاحش سره جائزنه دى ځكه دغبن فاحش په صورت كې دتهمت امكان دى چې كيداى شي چې هغه مبيع دخپل ځان لپاره اخيستې وي چې كله يې وليدل چې په هغه كې نقصان دى نودموكل پرذمه باندي ورلويږي .

(۴)مصنف رحمه الله دغبن يسيرداډول تعريف كړى دى چې غبن يسيرهغه دى چې دبعض قيمت لګوونكو تجربه كارو خلكودقيمت په لګولوكې داخل وي،ددي مقابل غبن فاحش هغه دى چې په دومره زياتوثمنوسره يې واخلي چې دتجربه كاروقيمت لګوونكوڅخه دهيچاپه قيمت لګولوكې داخل نه وي،اوپه كوم كې چې خلک دوكه نه خوري .

**فائده** :په غبن يسيراوفاحش كې مذكورتفصيل هلته دى چيرته چې دشي قيمت دخلكوترمنځ معروف نه وي نوكه چيرته دشي قيمت دخلكوترمنځ معروف وولكه ډوډى،غوښه،وغيره قيمتونه نوپه دي كې غبن بلكل معاف نه دى كه څه يوه پيسه برابروي وبه يفتى .

(۵)وَلَوْ وَكَّلَهُ بِبَيْعِ عَبْدٍ فَبَاعَ نِصْفَهُ صَحَّ (۶) وَفِي الشِّرَاءِ يَتَوَقَّفُ مَا لَمْ يَشْتَرِ الْبَاقِي (۷) وَلَوْ رُدَّ الْمَبِيعُ عَلَى الْوَكِيلِ بِالْبَيْعِ بِعَيْبٍ بِبَيِّنَةٍ أَوْ نُكُولٍ رَدَّهُ عَلَى الْآمِرِ (۸) وَكَذَا بِإِقْرَارٍ فِيمَا لَا يَحْدُثُ (۹) وَإِنْ بَاعَ نَسِيئَةً فَقَالَ أَمَرْتُكَ بِنَقْدٍ وَقَالَ الْمَأْمُورُ أَطْلَقْتَ فَالْقَوْلُ لِلْآمِرِ (۱۰) وَفِي الْمُضَارَبَةِ لِلْمُضَارِبِ

**ترجمه** :اوکه یې وکیل کړڅوک دمریي دخرڅولولپاره بیاهغه خرڅ کړنصف مریی نوصحیح دی اوداخیستلوپه صورت کې اخیستل موقوف کیږي ترهغوپوري چې باقي واخلي اوکه واپس کړمبیع مشتري پروکیل بالبیع باندي دعیب په وجه په گواهانوسره یاپه انکارسره نووکیل دي واپس کړي هغه پرآمرباندي اودارنگه دداسي عیب په اقرارسره چې نوی نه وي اوکه وکیل بالبیع په پورخرڅ کړیاموکل وویل ماتاته امرکړی ووپه نقدوسره دخرڅولواووکیل وایې چې تامطلق راته ویلي وونوقول دآمرمعتبریږي اوپه مضاربت کې دمضارب قول .

**تشریح** :(۵)که چایوڅوک دمریي خرڅولولپاره وکیل وګرځاوه وکیل نصف مریی خرڅ کړنودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددابیع صحیح ده ځکه دموکل له طرفه توکیل مطلق دی پریوه ځای یاپه متفرق ډول دخرڅولوقیدیې نه وولګولی نوځکه نصف حصه خرڅول هم صحیح دی .

**فائده** :دصاحبینورحمهما الله په نزدکه یې ترخصومت مخکي هغه بل نصف هم خرڅ کړنوبیابیع صحیح ده که نه بیانه ده صحیح ځکه دنصف مریي په خرڅولوسره مریی دموکل اومشتري ترمنځ مشترک شواوشرکت داسي عیب دی چې په هغه سره دمریي قیمت کمیږي چې پکي دموکل نقصان دی نوتوکیل مطلق نه شو .

**فائده** :دصاحبینورحمهما الله قول راجح دی لمافي الدّرالمختار:وكله ببيع عبدفباع نصفه صح لاطلاق التوكيل وقالاان باع الباقي قبل الخصومة جازوالالاوهواستحسان ملتقى وهداية وظاهره ترجيح قولهماوالمفتى به خلافه, وقيدابن الكمال بمايتعيب بالشركة والاجازاتفاقافليراجع(الدّرالمختارعلى هامش ردّالمحتار:۴/۴۵۳)كذافي شرح مجلة الاحكام:۴/۴۹۰)

(۶)اوکه چایوڅوک دیوه مریي اخیستلولپاره وکیل کړوکیل نصف مریی واخیست نودوکیل دااخیستل په اتفاق سره موقوف کیږي ترڅوچې هغه باقی نصف هم واخلي ،بیاچې باقی نصف واخلي نوبیادامریی دموکل پرذمه لازمیږی ځکه یوه حصه اخیستل کله دموکل دحکم دتعمیل ذریعه کیږي مثلایومریی یوې ډلې ته په میراث کې ملاوشوی دی نووکیل دي ته احتیاج لري چې هغه په حصه حصه واخلي بیاچې کله وکیل باقی مریی دموکل له طرفه دبیع ترردیدلومخکی واخلي نوظاهره ده چې دنصف مریي اخیستل دباقی نصف داخیستلوذریعه ده ځکه نودابیع پرموکل باندي نافذیږي .

(۷)که چادیوشی مثلادمریي دخرڅولولپاره یوڅوک وکیل کړوکیل مریی خرڅ کړیامشتري دعیب په وجه مریی وکیل ته واپس کړهغه که یې په دي وجه واپس کړی وي چې مشتري په محکمه کې دمریي عیب په ګواهانوسره ثابت کړی وویاله دي کبله چې له مشتري سره ګواهان نه وواوهغه دعیب په باره کې وکیل ته قسم ورکړمګرهغه له قسم اخیستلوڅخه انکاروکړنوپه دواړوصورتونوکې په مریي کې عیب ثابتیږی ولی بینه حجت مطلقه دی چې په هغه سره په هرحال په مریي کې عیب ثابتیږي ،اوپه دي وجه چې وکیل دعیب په باره کې علم نه لري له قسم اخیستوڅخه انکارکوي نودی مجبوردی ،نوپه دواړوصورتوکې په مریي کې عیب ثابتیږي ځکه مریی پرآمرباندي لازمیږی .

(۸)قوله وكذاباقرارای وكذاالحكم فيمااذاردّه المشتری على الوكيل باقرارمنه ،یعنې همدارنګه که په مذکورصورت کې وکیل په عیب سره اقراروکړاوقاضی دبیع فسخ کیدوحکم وکړنوهم به مریی آمرته واپس کوي په دي

شرط چې داعیب به قدیم وي دوکالت په دوران کې به نوی نه وي پیداشوی ولی قاضی پوهیږي چې په مرېې کې عیب دموکل سره پیداشوی دی نو دقاضي قضاء دوکیل اقرارته نه منسوبیږي بلکې دخپل علم پربنیاد دی نو دمشتري دطرفه معیوب مریی دقاضي په قضاء سره ردشوی دی چې په قبلولو کې یې وکیل مجبوردی ځکه مریی پرموکل باندي لازمیږي .

(۹)که وکیل مبیع په پورخرڅه کړه اوموکل ورته وویل چې ماخوتاته په پورخرڅولونه وو ویلي بلکې دنقدوخرڅولومي درته ویلي وو،وکیل وویل چې تاماته دمطلق خرڅولوحکم کړی وودنقدو اوپورذکردي نه ووکړی نوله قسم سره دموکل قول معتبریږي ځکه دوکالت حکم له موکل څخه مستفاد دی نو دی پخپل قول زیات واقف دی .

(۱۰)قوله وفی المضاربة للمضارب ای وفی الاختلاف فی المضاربة القول للمضارب،یعني که په مضاربت کې داسې صورت مخته راشي مثلارب المال ووایې چې ماحکم درکړی ووچې مال په نقدوروپوخرڅ کړه اومضارب ووایې چې تادنقدااوپورقیدنه وولګولی ،نودمضارب قول معتبریږي ځکه په مضاربت کې اصل دادی چې عام وي (که یې په نقدوخرڅوي اوکه په پور)ولی له مضاربت څخه مقصود دمنافع حاصلول دي اوپه عموم کې منافع زیاتي دي څرنګه چې دمضارب قول داصل مطابق دی ځکه نود مضارب قول معتبریږي .

(۱۱)وَلَوْ اَخَذَ الْوَكِيلُ بِالثَّمَنِ رَهْنًا فَضَاعَ اَوْ كَفِيلًا فَتَوِىَ عَلَيْهِ لَمْ يَضْمَنْ (۱۲)وَلَا يَتَصَرَّفُ اَحَدُ الْوَكِيلَيْنِ وَحْدَهُ (۱۳)اِلَّا فِي خُصُومَةٍ وَطَلَاقٍ وَعِتَاقٍ بِلَا بَدَلٍ وَرَدِّ وَدِيعَةٍ وَقَضَاءِ دَيْنٍ (۱۴)وَلَا يُوَكِّلُ وَكِيلٌ اِلَّا بِاِذْنٍ اَوْ بِاعْمَلْ بِرَأْيِكَ (۱۵)فَاِنْ وَكَّلَ بِلَا اِذْنٍ لِلْمُوَكِّلِ فَعَقَدَ بِحَضْرَتِهِ اَوْ بَاعَ اَجْنَبِيٌّ فَاَجَازَ صَحَّ (۱۶)وَاِنْ زَوَّجَ عَبْدٌ اَوْ مُكَاتَبٌ اَوْ كَافِرٌ صَغِيرَتَهُ الْحُرَّةَ الْمُسْلِمَةَ اَوْ بَاعَ مَالَهَا اَوِ اشْتَرٰى لَمْ يَجُزْ .

**ترجمه** :اوکه واخیست وکیل دثمن په عوض رهن اوهغه ضائع شو یا کفیل واخیست اوهغه هلاک شونوضامن کیږي نه اوتصرف دي نه کوي له دووکیلانوڅخه یوتنها ،مګرپه خصومت اوطلاق اوعتاق بلابدل اودامانت په واپس کولواودپورپه اداکولوکې اووکیل به وکیل نه مقرروي یوڅوک مګرپه اجازه سره یادموکل په دي ویناسره چې دخپلې رایه مطابق عمل کوه بیاکه هغه وکیل مقررکړدموکل داجازې بغیراوهغه معامله وکړه دهغه په حضورکې یاخرڅ کړیوه بیګانه بیاهغه اجازه وکړه نوصحیح دی اوکه یې نکاح وکړه له مریي سره یامکاتب یاکافرسره دخپلې نابالغه آزادي مسلماني لوریایې دهغي یوشی خرڅ کړیایې واخیست دهغي لپاره یوشی نوجائزنه دی .

**تشریح** :(۱۱)که وکیل بالبیع دمبیع دقیمت اخیستلوپه بدله کې دمشتري یوشی له خپل ځان سره درهن په ډول ساتلی وواوبیاهغه مرهون شی هلاک شو یایې له مشتری دثمنولپاره کفیل اخیستی وو بیادوکیل مال پرهغه باندي هلاک شومثلاکفیل مفلس مرشواومکفول عنه داسې غائب شوچې هیڅ درک یې نه وومعلوم نوپه دغه صورت کې دوکیل هغه مال هلاک شمارل کیږي کوم چې پرمشتري باندي دثمن په ډول واجب وونووکیل په دغودواړوصورتوکې نه ضامن کیږي ،ځکه دمبیع په حقوق کې وکیل خپله اصیل دی اودمذکوره مبیع ثمن وصولول دبیع له حقوقوڅخه دی اودثمن دوصولولولپاره له مشتري څخه رهن ساتل

یاله مشتري څخه كفيل اخيستل دثمن دوصولولوله جانبه يوه وثيقه ده چې دهغه حق مؤكدكوي نورهن اوكفيل اخيستل هم دوكيل له حقوقوڅخه دی اووكيل دهغومالک گرځي اودوكيل په قبض کې كه ثمن هلاک شي نوپروكيل باندي دهغوضمان نه واجبيږي ځكه پرثمنوباندي دوكيل قبضه دامانت قبضه ده څرنگه چې رهن دثمن بدل دی ځكه دهغه دهلاكيدوپه وجه هم پروكيل باندي ضمان نه واجبيږي اودكفاله په صورت کې څرنگه چې دثمن هلاكيدل رامنځ ته شوی دی ځكه نوپرهغه باندي ضمان نه واجبيږي ولی دثمن دهلاكيدوپه صورت کې ضمان نه واجبيږي .

(۱۲)كه يوچادوه كسان يوځای وكيلان وگرځول (مثلاداسي يې ورته وويل :وكلتُكمَا، ماتاسي دواړه وكيلان كړي ياست) نوديوه لپاره دهغه بل بغيرپه موكل به کې تصرف كول جائزنه دی ولی دموكل په دواړورايوسره په شوې معامله باندي راضي دی نه ديوي رايه څخه ځكه موكل دواړه وكيلان گرځولي دي .

(۱۳)البته پنځه صورتونه له مذكوري قاعدي څخه مستثنی دي هغه دادي چې كه چيرته موكل دواړه وكيلان بالتخصومت گرځولي وويايې دخپلې ښځې دطلاق بلاعوض وركولويايې دخپل مريې بلاعوض آزادولويادامانت دواپس كولولپاره يادقرض داداكولولپاره وكيلان گرځولي وونوپه دغوصورتونوکې ديوه تصرف هم نه نافذكيږی ځكه دوكيل بالخصومت په صورت کې كه چيرته دقضاپه مجلس کې دواړه جواب وركوي نوپه محكمه کې شورشرابه جوړيږي نوځكه ددواړوخبري كول نه شرط كيږي،اوپه باقي صورتونوکې څرنگه چې درايه ضرورت نشته بلكې محض دموكل دكلام تعبيركيږي چې پكې يواودوه برابردي نوځكه له دواړوڅخه ديوه تصرف كول هم جائزكيږي .

(۱۴)وكيل لره دانه ده جائزچې دكوم كارلپاره دی وكيل گرځيدلی دی ،دی دهغه لپاره بل څوک وكيل وگرځوي ځكه موكل وكيل ته په دغه كاركي دتصرف اختياروركړی دی په دي کې يې دبل چادوكيل كولواختيارنه دی وركړی نودموكل درضامندي بغيروكيل ته نه ده جائزه چې بل څوک وكيل كړي،البته كه موكل ددي اجازه وركړي نوجائزدی ولی بيارضامندي راځي ياموكل وكيل ته وويل چې ته پخپله رايه سره عمل كوه څرنگه چې ستاخوښه وي ځكه په دغه صورت کې تصرف علی الاطلاق وكيل ته سپارل شوی دی .

(۱۵)كه وكيل دموكل له اجازي بغيربل څوک وكيل كړيادوهم وكيل داول وكيل په موجودگي کې يوعقدوكړنوداجائزدی ځكه دغه عقددوكيل اول په رايه سره منعقدشوی دی همدارنگه كه بيگانه چاداول وكيل په نه موجودگي کې عقدوكړياوكيل اول هغه منظوركړنوداعقدهم جائزدی ځكه داهم داول وكيل په رايه سره منعقدشوی دی .

(۱۶)كه يوه مريې يامكاتب ياكافرخپله نابالغه لورچې آزاده اومسلمانه وه يوچاته په نكاح وركړه ياله دغومذكوروخلكوڅخه چادخپلې نابالغه لوريوشی خرڅ كړيايې دهغې له مال څخه دهغې لپاره يوشی واخيست نودهغه دااټول كارونه جائزنه دي ځكه درقيت اوكفرپه وجه دهغوئ ولايت پرخپلو لورباندي نه پاتيږی ځكه نودهغوئ دخپلې لورپه حق کې مذكورتصرفات صحيح نه دي ،اومكاتب شرعًامريی شمارل كيږي ترڅوچې دهغه پرذمه يودرهم باقي وي نومذكورتصرفات دمكاتب هم صحيح نه دي .

## باب الوكالة بالخصومة والقبض

داباب دجواب ورکولو او وصول کولو لپاره دوکيل ګرځولو په بيان کې دی

باب الوكالة بالخصومة يې ترباب الوكالة بالبيع والشراء ځکه موخرکړی دی چې خصومت شرعًا مهجور او ممنوع دی او وكالت بالبيع والشراء غیر مهجور دی او مهجور احق بالتاخیر وي ترغیر مهجور ځکه يې باب الوكالة بالخصومة مؤخر کړی دی.

(۱) الوَكِيلُ بِالْخُصُومَةِ وَالتَّقَاضِي لَا يَمْلِكُ الْقَبْضَ (۲) وَبِقَبْضِ الدَّيْنِ مَلَكَ الْخُصُومَةَ (۳) وَبِقَبْضِ الْعَيْنِ لَا فَلَوْ بَرْهَنَ ذُو الْيَدِ عَلَى الْوَكِيلِ بِالْقَبْضِ أَنَّ الْمُوَكِّلَ بَاعَهُ وَقَفَ الْأَمْرُ حَتَّى يَحْضُرَ الْغَائِبُ (۴) وَكَذَلِكَ الْعَتَاقُ وَالطَّلَاقُ (۵) وَلَوْ أَقَرَّ الْوَكِيلُ بِالْخُصُومَةِ عِنْدَ الْقَاضِي صَحَّ وَإِلَّا لَا (۶) وَبَطَلَ تَوْكِيلُ الْكَفِيلِ بِمَالٍ

**ترجمه**: دجواب ورکولو او مطالبې وکیل مالک نه ګرځي دقبض، او ددَین قبض کوونکی وکیل دخصومت مالک ګرځي او د معین شی قبض کوونکی وکیل دخصومت مالک نه ګرځي بیا که قابض بیّنه قائم کړل پر وکیل بالقبض باندي چې موکل پر ما باندي خرڅ کړی دی نو حکم موقوف کیږي ترهغه پوري چې حاضر بږي غائب شخص، او همداسي دي عتاق او طلاق او که اقرار وکړو وکیل بالخصومت دقاضي په مخکې نو صحیح دی که نه بیا نه دی صحیح او باطل دی وکیل ګرځول دکفیل بالمال.

**تشريح**: (۱) دامام زفر رحمه الله په نزد دخصومت او مطالبه دین وکیل پرمدعی به باندي دقبض وکیل نه شي کیدای هغه ځوک چې دجواب ورکولو او دین دمطالبې کولو وکیل وي هغه پرمدعی به باندي دقبض وکیل نه کیږي ځکه موکل دهغه په جواب ورکولو راضي دی او په قبض يې راضي نه دی نو قبض دوکیل نه کیږي، دائمه ثلاثه ؤپه نزد دخصومت او قبض دین وکیل پرمدعی به باندي دقبض هم وکیل ګرځي ځکه چې یو ځوک چې دیوشي مالک وي هغه دهغه شي داتمام هم مالک ګرځي او دخصومت او مطالبه دین اتمام په قبض سره کیږي نو ځکه دخصومت او مطالبه دین وکیل دقبض هم وکیل ګرځي.

**فائده**: فتوی دامام زفر رحمه الله پرقول ده لمافي الدر المختار: وکیل الخصومة والتقاضي لا یملک القبض عند زفر رحمه الله وبه یفتی لفساد الزمان (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۳/۳۵۸)

(۲) قوله وبقبض الدین یملک الخصومة ای الوکیل بقبض الدین یملک الخصومة، دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد هغه ځوک چې دقرض دقبض کولو وکیل وي هغه دقرض په باره کې دخصومت هم وکیل کیږي، یعني که چایو ځوک وکیل کړچې پرفلان باندي زما قرض دی ورشه له هغه ځخه زما دغه قرض وصول کړه نو بیا که مقروض وویل چې قرض خو ما اداکړی دی نو وکیل په محکمه کې له هغه سره دقرض په باره کې خصومت هم کولای شي ځکه قرض قبض کول بغیر مطالبه او مخاصمه متصوره نه ده، همدارنګه دیون بامثالها اداکیږي باعیانها نه اداکیږي ولی دین وصف ثابت فی ذمة المدیون دی او پروصف باندي قبض ناممکن دی نو ځکه دهغه پرمثل باندي قبض کول غواړي، بیا په هغه کې دمبادله معنی پیدا کیږي او دمبادله وکیل په حقوق مبادله کې اصیل وي ځکه نو دحقوقو په باره کې خصم هم کیږي، حال داچې دصاحبینو رحمهما الله په نزد دقرض قبض کوونکی وکیل، وکیل بالخصومة نه شي کیدای ځکه موکل چې دهغه په قبض دین باندي

راضي دی دانه ده ضروري چې موكل به دهغه په خصومت باندي هم راضي وي اودموكل له رضامندي بغيردوكيل خصومت كول صحيح نه دی.

**فائده**: دصاحبينو رحمهما الله قول راجع دی لمافي شرح مجلة: واطلاق هذه المادة يقتضي اختيار قولهما............ والحق ان قولهما اقوى وهو رواية عنه (شرح مجلة الاحكام للاتاسي رحمه الله: ۵۱۷/۳) وقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله: واعلم انه اختلف اهل الترجيح في هذه المسئلة فمال الى قول الامام بعضهم منهم الامام المحبوبي في احد قوليه والنسفي وصدر الشريعة لكن الراجح والمختار للفتوى عند اكثر المحققين قولهما وهو رواية عن الامام ابي حنيفة رحمه الله ايضا وهو قول الائمة الثلاثة فيكون في الافتاء بهذه الرواية الميل الى الاجماع فيوخذ به الخ (هامش الهداية: ۱۹۳/۳)

(۳) قوله وبقبض العين لا اي الوكيل بقبض العين لا يملك الخصومة بالاجماع، يعني كه چاڅوك دمعلوم شي دقبض كولوپاره وكيل كرځولی وونووكيل لره په اتفاق دخصومت اختيارنشته ځكه په دغه صورت كې وكيل دموكل پرعين حق باندي قبض كوي نوپه دي كې مبادله نشته لكه په تيرصورت كې چې په قبض دين كې دمبادله معنی راتله نودوكيل قبض كول دحقوق مبادله مقتضي هم نه ده اوچې كله په دي كې حقوق ثابت دي نووكيل خصم هم نه كيږي ځكه دوكيل حيثيت محض دقاصداوامين دی.

همداوجه ده كه چاڅوك دخپل مريي دقبض كولوپاره وكيل وګرځاوه اومريي چې دچاپه لاس كې دی هغه پردي باندي ګواهان قائم كړي ووچې ستاموكل خپل دغه مريي پرماباندي خرڅ كړی دی نودامعامله دغائب موكل ترراتلوپوري موقوفه پاتيږي يعني وكيل ته نه قبضه وركول كيږي اونه انكارورته كيږي داحكم استحساناً دی.وجه داستحسان داده چې دقابض قائم كړي ګواهان پردوو شيانوباندي دي يوپردي باندي چې موكل خپل دامريي پرقابض باندي خرڅ كړی دی نوځكه له مريي څخه دموكل ملك زائل شو،دوهم پردي باندي چې وكيل پردغه مريي باندي دقبض كولواجازه نه لري،په دوهم شي كې وكيل خصم دی په دي كې دقابض قائم كړای شوي ګواهان قبليږي اوددي په نتيجه كې وكيل پرمريي باندي دقبض كولواجازه نه لري،ليكن په اول شي كې وكيل خصم نه دی نوچې وكيل خصم نه دی نوپه هغه كې دقابض بينه نه قبليږي يعني دقابض له موكل څخه دهغه مريي اخيستل نه ثابتيږي اوله دغه مريي څخه دموكل ملك نه زائليږي.

(۴) همداسي حكم دعتاق اوطلاق هم دی يعني كه چيرته وكيل دخپل موكل مريي دموكل دحكم مطابق چيرته له ښاره دباندي بيوی اوهغه مريي ددي ګواهان پيش كړل چې زه ستاموكل آزادكړی يم نودموكل ترراتلوپوري به دامقدمه ځنډيږي ځكه دلته هم دمريي ګواهان پردووشيانوباندي ګواهي وركوي يوپردي باندي چې مريي آزادشوی دی دوهم پردي باندي چې وكيل ددي مريي دبل چيرته وړلواجازه نه لري ،په اوله خبره كې ځرنګه چې وكيل خصم نه دی ځكه نوپرهغه باندي دمريي ګواهان نه قبليږي اوپه دوهمه خبره وكيل خصم دی نوپه هغه كې دمريي ګواهان قبليږي اودهغه په نتيجه كې وكيل لره داحق نشته چې هغه مريي چيرته بوځي ،همدارنګه كه وكيل دخپل موكل ښځه دموكل دحكم مطابق چيرته په سفربيوله اوهغې ښځې پردي باندي ګواهان پيش كړل چې ستاموكل ماته طلاق راكړی دی نودامقدمه به دهغه موكل

ترڅوتلوپورې ځنډېږي ځکه دلته هم د ښځې ګواهان پردوو خبروباندې قائم دي يو داچې دا ښځه مطلقه ده او هم داچې وکيل ددې اجازه نه لري چې دا ښځه چېرته بوځي.

(۵) که وکيل بالخصومت (دجواب ورکولو وکيل) دخپل موکل په خلاف دقاضي په محکمه کې اقرار وکړ (مثلاً موکل وکيل مقرر کړ چې پر فلان باندې دفلان شي دعوى وکړه، وکيل دقاضي په مجلس کې دموکل ددعوى دبطلان اقرار وکړ) نو دا دطرفينو رحمهما الله په نزد جائز دى، دقاضي له مجلس نه علاوه په بل مجلس کې که يې اقرار وکړ نو دا بيا صحيح نه دى، دامام ابويوسف رحمه الله په نزد په دواړو صورتونو کې اقرار صحيح دى، دطرفينو رحمهما الله دليل دادى چې وکيل مامور بالجواب دى او جواب دقاضي په مجلس کې جواب شمارل کيږي دقاضي له مجلس نه علاوه جواب نه شمارل کيږي او اقرار د جواب له قسمينو (يعنې اقرار او انکار) څخه يو دى نو ځکه دقاضي له مجلس نه غير اقرار وکړي نه صحيح کيږي، البته دطرفينو رحمهما الله په نزد دوکيل پر موکل باندې له اقرار کولو وروسته له وکالت څخه وځي، دامام ابويوسف رحمه الله دليل دادى چې وکيل دموکل نائب دى او دموکل اقرار کول دقاضي په مجلس پورې اختصاص نه لري نو دنائب اقرار بې دقاضي په مجلس پورې اختصاص نه لري.

**فائده** :دطرفينو رحمهما الله قول راجح دى لمافى الدرالمختار:وصح اقرارالوكيل بالخصومة لابغيرها مطلقابغير الحدود والقصاص على موكله عندالقاضى دون غيره استحسانا. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۴/۴۰۹)

(۶) البته که يو سړى مثلاً خالد دبل چا مثلاً حامد (چې مقروض دى) له طرفه دمال کفيل شو بيا قرض غوښتونکي (چې مکفول له دى) کفيل (خالد) دمقروض حامد څخه دقرض دوصول کولو لپاره وکيل وګرځاوه نو دکفيل (خالد) وکيل ګرځول باطل دى ځکه وکيل هغه څوک کيداى شي چې دبل چا لپاره کار کوي او کفيل دخپلې ذمې دفارغ کيدو لپاره کار کوي نو که کفيل وکيل وګرځيږي نو وکيل دخپل ځان لپاره کار کوي چې په دې سره عقد وکالت باطليږي ځکه دوکالت رکن (يعنې دبل چا لپاره کار کول) پاتې نه شو.

(۷) وَمَنِ ادَّعَى أَنَّهُ وَكِيلُ الْغَائِبِ فِي قَبْضِ دَيْنِهِ فَصَدَّقَهُ الْغَرِيمُ أُمِرَ بِدَفْعِهِ إِلَيْهِ فَإِنْ حَضَرَ الْغَائِبُ فَصَدَّقَهُ (۸) وَإِلَّا دَفَعَ إِلَيْهِ الْغَرِيمُ الدَّيْنَ ثَانِيًا (۹) وَرَجَعَ بِهِ عَلَى الْوَكِيلِ لَوْ بَاقِيًا (۱۰) وَإِنْ ضَاعَ لَا إِلَّا إِذَا ضَمَّنَهُ عِنْدَ الدَّفْعِ أَوْ لَمْ يُصَدِّقْهُ عَلَى الْوَكَالَةِ وَدَفَعَهُ إِلَيْهِ عَلَى إِدِّعَائِهِ

**ترجمه** :که چا دعوى وکړه چې زه وکيل يم دغائب دهغه ددين په وصول کولو کې بيا تصديق وکړ دهغه مقروض نو هغه دقرض اداکولو حکم کيږي بيا که غائب حاضر شوا و دهغه تصديق يې وکړ نو (فبها) که نه وردي کړي هغه ته غريم قرض دوباره، او وادې خلې دى له وکيل څخه که باقي وو، او که ضائع شو نو نشته مګر که يې ضامن کړى وو هغه، دورکولو په وخت کې يا يې دهغه تصديق نه وو کړى دهغه پر وکالت باندې او ورکړى يې وو مال هغه ته خالص دهغه په دعوى باندې

**تشريح** :(۷) که يو چا دعوى وکړه چې زه دفلان غائب له طرفه دقرض وصولولو وکيل يم او مقروض دهغه تصديق وکړ چې واقعًا ته دهغه غائب وکيل يې نو مديون ته امر کول کيږي چې هغه دوکالت مدعي ته قرض

وركړي ځكه دوكيل تصديق كول پرخپل ځان باندي اقراركول دی نودهغه دااقرارمطابق هغه ته دادائيګي حكم كول كيږي.

(۸)يا كه موكل غائب حاضرشودوكالت دمدعي دقول تصديق يې وكړخوفبها ،كه نه مقروض به هغه غائب ته (چې قرض غوښتونكى دى )دوباره قرض وركوي ځكه چې كله موكل له وكالت څخه انكاروكړنودهغه قرض وصول كول ثابت نه شواوقرض لكه څرنګه چې ترديمخكي دمقروض پرذمه ثابت پاتي وواوس هم ثابت دی نومقروض ته دقرض اداكولوحكم كړای كيږي ،اوموكل چې دوكيل له وكالت څخه انكاركوي دده قول سره له يمينه معتبريږي.

(۹)يا كه دغه مال چې دوكالت مدعي ته وركړل شوی دی كه چيرته له مدعي سره موجودوونومقروض به دغه مال دوكالت له مدعي څخه واپس اخلي ځكه دمقروض غرض داووچې دهغه ذمه فارغه شي حال داچې دمقروض ذمه نه ده بري شوي نوځكه واپس دمال اخيستلوحق لري،اوكه چيرته دغه مال دوكالت له مدعي څخه ضائع شوی وونومقروض به مذكورمال واپس نه اخلي ځكه مقروض دوكالت دمدعي تصديق كړی دی هغه يې حقدارګڼلی دی اوله داسي چاڅخه مال مقبوض واپس نه اخيستل كيږي،مقروض بيشكه چې مظلوم دی چې قرض غوښتونكى له هغه څخه دوباره قرض اخلي خومظلوم ته داحق نشته چې هغه پرغير(يعني دوكالت پرمدعي ) باندي ظلم كوي.

(۱۰)يعني كه چيرته هغه مال چې مقروض وكيل ته وركړی وودوكيل له لاسه وتلی وونومقروض به وكيل ته رجوع نه كوي مګرداكه مقروض دروپووركولوپه وخت وكيل ضامن كړځولی ووچې ته ددي ضامن شه چې قرض غوښتونكى به له ماڅخه دوباره ددغه قرض مطالبه نه كوي،يايې دهغه دوكالت تصديق نه ووكړی بلكې خاموش پاتې وويايې دهغه تكذيب كړی وواوخالص دهغه په دعوی كولوسره يې هغه ته مال وركړی وونوپه دغوصورتونوكې كه له وكيل څخه مال تلف شواوقرض غوښتونكى راغی دوباره يې له مقروض څخه دقرض مطالبه وكړه اومقروض دوباره قرض غوښتونكي ته قرض اداكړنومقروله وكيل څخه دواپس اخيستلواجازه لري ځكه وكيل ته دقرض مال وركولوپه وخت كې دمقروض داميدووچې قرض غوښتونكى به راشي هغه به جائزوګڼي اوس چې كله قرض غوښتونكى هغه جائزنه وباله نودمقروض اميدپوره نه شونوځكه به دی وكيل ته رجوع كوي.

(۱۱)وَلَوْقَالَ اِنِّي وَكِيلٌ بِقَبْضِ الْوَدِيعَةِ فَصَدَّقَهُ الْمُودِعُ لَمْ يُؤْمَرْ بِالدَّفْعِ اِلَيْهِ (۱۲)وَكَذَا لَوْ ادَّعَى الشِّرَاءَ وَصَدَّقَهُ (۱۳)وَلَوْ ادَّعَى اَنَّ الْمُودِعَ مَاتَ وَتَرَكَهَا مِيرَاثًا لَهُ وَصَدَّقَهُ دَفَعَ اِلَيْهِ (۱۴)فَاِنْ وَكَّلَهُ بِقَبْضِ مَالٍ فَادَّعَى الْغَرِيمُ اَنَّ رَبَّ الْمَالِ اَخَذَهُ دَفَعَ الْمَالَ وَاتَّبَعَ رَبَّ الْمَالِ وَاسْتَحْلَفَهُ.

**ترجمه** :كه چاوويل چې زه وكيل يم پرامانت دقبض كولويامودَع دهغه تصديق وكړنوحكم نه كيږي دامانت په وركولوسره وده ته همدارنګه كه يې دعوی وكړه داخيستواومودَع دهغه تصديق وكړاوكه يې دعوی وكړه چې مودِع مړشواودا امانت يې ماته په ميراث پري ايښی دی اومودَع دهغه تصديق وكړنوهغه ته دي وركړي

اوکه یې وکیل وګرځاوه دی موکل د مال دوصول کولو لپاره بیامقروض دعوی وکړه چې صاحب مال خوهغه مال ورې دی نو وکیل ته دي مال ورکړي اوپه ربّ المال دي پسي شي اوله هغه نه دي قسم واخلي.

**تشريح**:(۱۱)که چادعوی وکړه چې زه دغائب مودِع (بکسرالدال مال وديعتً ساتونکی) له طرفه دهغه پرمال وديعت باندي دقبض کولو وکيل يم چې له مودَع (بفتح الدال له چاسره چې مال ساتل شوی وي) سره پروت دی اومودَع دهغه تصديق وکړچې ته واقعًامودِع وکيل يې نومودَع ته داحکم نه ورکول کيږي چې مال وديعت دوکالت مدعي ته وسپاره،ځکه مودَع اقراردی چې دامال دمودِع مِلک دی بيادوکالت دمدعي تصديق کول په حقيقت کې دغيرپرمال باندي دهغه په قبضه اقرارکول دی اواقرار حجت قاصره دی يعني پرغيرباندي حجت نه دی نودمقروض دااقرارصحيح نه دی،البته دقرض په صورت کې ځرنګه چې قرض بامثالهااداکيږي نه باعيانهاځکه نوپه هغه کې دمقروض اعتراف پرخپل مال باندي اعتراف دی نه پرغيرباندي.

(۱۲)همدارنګه که ديوچاسره دغائب سړي امانت پروت وويوبل چادد غه امانت په باره کې دعوی وکړه چې دامال هغه غائب څخه اخيستی دی اوله امين څخه يې دهغه غوښتنه وکړه امين هم دمدعي خريدتصديق وکړچې واقعًاتااخيستی دی نوبياهم هغه ذورکولوحکم نه ورکول کيږي ځکه ترڅوپوري چې مالک ژوندی وي نودمدعي دعوی کول اودامين دهغه تصديق کول اقرارعلی الغيردی اواقرارعلی الغيرمقبول نه دی ځکه په دي کې دغيردحق ابطال راځي.

(۱۳)که ديوچاسره يوشی امانت وويوبل چادعوی وکړه چې دامانت مالک مړشوی دی اودغه امانت يې زمالپاره ميراث پري ايښی دی اوله چاسره چې امانت پروت ووهغه ددغه شخص تصديق وکړچې واقعًادامانت مالک مړشوی دی اوميراث مدعي دهغه وارث دی نوامين دي داامانت مدعي ته ورکړي ځکه داصل مالک ملکيت په مرګ سره ختم شواوس مدعي اوامين دواړه پردي متفق دي چې داشی دوارث (مدعي)دی نومدعي ته دي ورکړي،مګرشرط دادی چې دهغه مړه بل وارث نه وي.

(۱۴)که چاله مقروض څخه دخپل مال دوصولولولپاره يوسړی وکيل مقررکړکله چې وکيل له مقروض څخه دهغه مال طلب وکړمقروض دعوی وکړه چې له ماڅخه خوخپل اصل مالک مال وصول کړی دی نومقروض دي په دي مجبورکړای شي چې وکيل ته مال ورکړي ځکه دوکيل له وکالت څخه خومقروض انکارنه دی کړی نووکالت دوکيل اومقروض دواړوله تصديق څخه ثابت شواودمالک دمال وصول کيدل يواځي دمقروض په دعوی سره نه ثابتيږي البته ددعوی په ضمن کې ددين اووکالت اقرارثابتيږی نودوکالت دمدعي په حق ورکولوکې تاخيرنه کيږي، اومقروض دي په اصل مالک پسي شي که چيرته هغه دقرض له وصوليدوڅخه انکاروکړنوله هغه څخه دي قسم واخلي ځکه دمقروض رعايت کول هم ضروري دی اوپه دغه قسم ورکولوکې بيشکه دمقروض رعايت دی.

(۱۵)وَاِنْ وَكَّلَهُ بِعَيْبٍ فِي أَمَةٍ فَادَّعَى الْبَائِعُ رِضَا الْمُشْتَرِي لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى يَحْلِفَ الْمُشْتَرِي(۱۶)وَمَنْ دَفَعَ اِلَى رَجُلٍ عَشَرَةً لِيُنْفِقَهَا عَلَى أَهْلِهِ فَأَنْفَقَ عَلَيْهِمْ عَشَرَةً مِنْ عِنْدِهِ فَالْعَشَرَةُ بِالْعَشَرَةِ

**ترجمه**: او كه يې وكيل وګرځاوه دعيب په منځه كې يادعوى وكړه بائع دمشتري درضامندي نو نه دي ردوي ترڅوچې قسم وخوري مشتري او كه چابل چاته لس درهمونه وركړل چې دى يې مصرف كړي دهغه پر اهل بيت باندي، ياهغه مصرف كړل پرهغه كورباندي لس درهم دخپل ځان نو دالس دهغولسو په مقابله كې دريږي .

**تشريح**: (۱۵) كه يو چا په اخيستلې شوې منځه كې عيب پيدا كړيايې دهغې دواپس كولو لپاره وبائع ته يو څوک وكيل مقرر كړ، وكيل غوښتل چې بائع ته منځه ورواپس كړي مګر بائع دعوى وكړه چې دبيع په وخت كې مشتري دمنځې په دغه عيب باندي راضي شوى وو، نو وكيل منځه بائع ته نه شي واپس كولاى ترڅو چې مشتري پردي خبره باندي قسم وانه خلي چې والله زه ددي منځې په عيب باندي نه وم راضي شوى، ځكه كه چيرته له مشتري څخه بغير قسم اخيستلو دقاضي په حكم سره منځه واپس كړاى شوه نو بيع ظاهرا وباطنا فسخ كيږي ياكه وروسته دمشتري خطاء ظاهره شوه مثلا مشتري له قسم اخيستلو څخه انكار وكړ يادا دي بيع تدارک ممكن نه دى ،نو له مشتري څخه دقسم اخيستلو بغير منځه بائع ته نه شي واپس كولاى .

(۱۶) كه چابل چاته لس درهمونه وركړل ددي لپاره يې وكيل كړچې دالس درهمونه به زما پر بچيانو باندي مصرفوې، وكيل هغه لس درهمونه له خپل ځان سره وساتل او دخپل ځان لس درهمونه يې دهغه پر بچيانو باندي مصرف كړل نو دوكيل لس درهمونه دموكل دلسو درهمونو عوض كيږي ځكه داوكيل په اتفاق دخريد وكيل دى او دخريد دوكيل حكم مخكي تيرشوى دى چې دهغه لپاره داجائزه ده چې دمبيع قيمت له خپله ځانه وركړي او بيايې له موكل څخه واپس واخلي دلته دي هم دخپلو لسو درهمونو دمصرفولو په عوض كې دموكل لس درهمونه واخلي .

## باب عزل الوكيل

### داباب دوكيل دمعزولولو داحكامو په بيان كې دى

مصنف رحمه الله تردي مخكي دوكالت دثبوت او دوكالت مختلف احكام بيان كړي دي په آخر كې يې دوكيل دمعزول كيدو احكام ذكر كړي دي دعزل داحكامو دوروسته كيدو وجه داده چې عزل تر ثبوت وروسته وي نو ځكه مناسب داده چې احكام يې هم وروسته ذكر كړوي .

(۱) وَتَبْطُلُ الْوَكَالَةُ بِعَزْلِهِ إِنْ عَلِمَ بِهِ (۲) وَمَوْتِ أَحَدِهِمَا وَجُنُونِهِ مُطْبِقًا وَلُحُوقِهِ مُرْتَدًّا (۳) وَافْتِرَاقِ الشَّرِيكَيْنِ وَعَجْزِ مُوَكِّلِهِ لَوْ مُكَاتَبًا وَحَجْرِهِ لَوْ مَأْذُونًا (۴) وَتَصَرُّفِهِ بِنَفْسِهِ

**ترجمه**: او باطليږي وكالت دموكل په معزول كولو سره كه چيرته هغه په دي خبرشي او ديوه په مرګ سره او په دائمي جنون سره او دهغه دارحرب ته ورتلل په داسي حال كې چې مرتد وي او ددووشريكانو په جدائى سره او دموكل په عاجز كيدو سره كه چيرته موكل مكاتب وو او دهغه په محجوركيدا سره كه چيرته ماذون وو او خپل دموكل په تصرف كولو سره .

**تشريح**: (۱) دموكل خپل وكيل لره په معزوليدا سره وكالت باطليږي ځكه وكالت دموكل حق دى نو دى دخپل حق دباطلولو اختيار لري همدارنګه وكالت دعاريت په شان له عقود غيرلازمه وڅخه دى نو موكل دهغه دختم

كيدوحق لري،البته شرط دادى چې وكيل به دخپل ځان په معزوليدوخبروي بياكه موكل وكيل معزول كړاووكيل په خبرنه وونودى پرخپل وكالت برقرارپاتيږي اوتصرف يې جائزدى ترهغو پوري چې خپل معزوليدل ورمعلوميږي ځكه عزل نهى عن التصرف دى اودامراونهى حكم نه ثابتيږى مګربعدله علم نه،دامام شافعى رحمه الله په نزدوكيل معزوليږي كه څه هم پخپله معزولتيانه وي خبر،همدادامام احمد رحمه الله اوامام مالك رحمه الله رايه هم ده.

(۲)قوله وموت احدهماالخ اى وتبطل الوكالة بموت الموكل اوالوكيل الخ.يعني دوكيل وكالت له موكل اووكيل څخه ديوه په مرګ سره يادبوه په ليونتوب دائمى سره اودارحرب ته په تللوسره په داسي حال كې چې مرتدوي هم باطليږي ځكه توكيل غيرلازم تصرف دى اودغيرلازم تصرف ددوام هغه حكم دى چې په ابتداء كې يې وي اوپه ابتداء كې دوكالت لپاره حكم اوامردموكل ضروري دى نودبقاء لپاره يې هم امردموكل ضروري دى اودمذكوروعوارضوپه وجه دموكل امرباطليږي نووكالت هم باطليږى.

**فائده** .دجنون مُطبق اندازه دامام ابويوسف رحمه الله په نزديوه مياشت ده اودابردي باندي قياسوي چې كه يوڅوك دروژي په ټوله مياشت كې ليونى وي نودهغه له ذمي څخه درمضان روژه ساقطيږى ځكه چې كله دى دعبادت آلهي دخطاب اهل پاتي نه شونودنياوي معاملاتواهل هم نه دى چې كله يې اهليت ختم شونوتوكيل يې هم باطليږى ،اوله امام ابويوسف رحمه الله څخه يوروايت دى چې دجنون مطبق اندازه داده چې تريوه شپه يوه ورځ زيات مجنون وي يعني كه تريوه شباروززيات په جنون مبتلا وونودهغه وكالت باطليږي لكه له داسي چاڅخه چې پنځه لمونځونه ساقطيږى ،امام محمد رحمه الله فرمايلي دي چې دجنون مطبق اندازه يوكال موده ده ځكه پوره يوكال چې انسان ليونى وي نوټول عبادات،لمونځ ،روژه،زكوة وغيره ورځني ساقطيږي نودجنون مطبق اندازه احتياطًايوكال تاكل شوې ده.

**فائده** :دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دى لبدالى شرح المجلة :قال فى حاشية البحرلكن فى الشرنبلالية عن المضمرات مقدربشهروبه يفتى وكذافى القهستانى والباقانى عن قاضيخان وجعله قول ابى حنيفة رحمه الله وان عليه الفتوى فليحفظ . (شرح مجلة الاحكام: ۵۲۹/۴)

(۳)قوله وافتراق الشريكين وتبطل الوكالة بافتراق الشريكين عن الشركة،يعني كه له دووشريكانوڅخه يوه بل دريم سړى وكيل وګرځاوه بياشريكين دشراكت په ختمولوسره ،سره بيل شول يامكاتب يوڅوك وكيل وګرځاوه بيامكاتب دبدل كتابت له اداكيدوڅخه عاجزشو،ياماذون (كه ماشوم وي كه مريى ) څوك وكيل وګرځاوه بياهغه محجورشو(يعني هغه له تجارت كولوڅخه منع كړاى شو) نوپه دغوټولو صورتونوكي وكالت باطليږى كه وكيل ته علم وي اوكه نه وي ځكه دوكالت بقاء دموكل دطرف څخه پرقيام امرباندي موقوفه ده اودموكل امرپه عجز،حجر اوافتراق سره باطليږى نوځكه وكالت هم نه پاتيږى،اودي تعميم چې كه وكيل لره علم وي اوكه نه وي ،وجه داده چې په مذكوروصورتونوكې دوكيل معزوليدل امرحكمي (يعني غيراختياري دى چې دمعزوليدوبغيرهم وكيل معزول كيږى) اود حكمى عزل لپاره دوكيل علم شرط نه دى نوكه وكيل لره علم وي اوكه نه وي په هرصورت معزول كيږي.

(۴) قوله وتصرفه بنفسه اي وبطل الوكالة بتصرف الموكل فيما وكل به بنفسه، يعنې كه يې يو څوک ديو كارلپاره وكيل مقرركړبياچې يې دكوم كارلپاره دی وكيل كړی ووهغه كارموكل خپله يادبل وكيل په ذريعه ترسره كړنو وكالت باطليږي ځكه دموكل له تصرف وروسته دوكيل لپاره تصرف كول متعذردی نوځكه وكالت باطليږی.

## كتاب الدعوی

### داكتاب ددعوی په بيان كې دی

دعوی لغةً هغه قول دی چې دهغه په ذريعه انسان پرغيرباندې دحق ايجاب اراده وكړي، اوشرعًاديوه انسان له بل څخه دقاضی په وړاندې دخپل حق طلب كولوته دعوی وايي، حق غوښتونكي ته مدعي اوله چا څخه چې حق طلبوي هغه ته مدعی عليه وايي اومدعی به هغه شی دی چې مدعي يې دعوی كړې ده.

دوكالت له انواعوڅخه يوه مشهوره نوع وكالت بالخصومة دی اووكالت بالخصومة سبب داعی الی الدعوی دی اودعوی مسبب دی نومناسبه داده چې كتاب الدعوی له كتاب الوكالة وروسته ذكركړای شي، ځكه مسبب مقتضي دی چې سبب ترده مخكې وي.

(۱) هي اضافة الشيء الى نفسه حالة المنازعة (۲) والمدعي من اذاترک ترک والمدعى عليه بخلافه (۳) ولايصح الدعوى حتى يذكر شيئاعلم جنسه وقدره (۴) فان كان عينافي يد المدعى عليه كلف احضارهاليشيراليهابالدعوى (۵) وكذافي الشهادة والاستحلاف (۶) فان تعذرذكرقيمتها

**ترجمه**: هغه منسوبول دشي دی خپل ځان ته دخصومت په حالت كې، اومدعي هغه دی چې كله دی دعوی پريږدي نوپريښودل كيږي، اومدعی عليه خلاف دهغه دی اوصحيح نه ده دعوی ترڅوچې ذكركړي داسې شی چې معلوم وي جنس دهغه اومقداردهغه بياكه چيرته هغه معلوم شی وودمدعی عليه په قبضه كې وونومكلف گرځول كيږي دهغه په حاضرولوسره چې اشاره وكړي دهغه طرفته ددعوی كولوپه وخت اوهمدارنگه په شهادت كې اوپه قسم اخيستلوكې بياكه متعذرشوحاضرول دهغه نودهغه قيمت دي ذكركړي.

**تشريح**: (۱) مصنف رحمه الله ددعوی اصطلاحی تعريف داسې كړی دی چې دخصومت په وخت يوشی خپل ځان ته منسوبول دي كارته دعوی ويل كيږي.

(۲) څرنگه ددعوی مسائل دمدعي اومدعی عليه پرپيژندلوباندې موقوف دي ځكه نومصنف رحمه الله دمدعی اومدعی عليه په تعريف باندې شروع وكړه، نومدعي هغه دی چې كه چيرته هغه دعوی پريښودله نودی پريښودل كيږي يعنې پرده باندې دخصومت لپاره جبرنه كړای كيږي ځكه ده دعوی په اختيارسره كړې ده نودپريښودلوهم دی اختيارلري، اومدعی عليه هغه دی چې كه چيرته خصومت پريږدي

نو حاكم به دى دخصومت پر كولو باندي مجبور كوي، همدا تعريف صحيح او جامع ومانع دى. (شرح مجلد: ۵/ ۵)

**فائده**: ځينو حضراتو دمدعي او مدعى عليه ترمنځ فرق داسي بيان كړى دى چي مدعي هغه دى چي دحجت له وړاندى كولو بغير دى دمدعى به مستحق نه ګرځي لكه يو غير قابض څوك چي دبل چا په لاس كي شى وويني دعوى وكړي چي داشى زمادى او مدعي عليه هغه دى چي دحجت له وړاندي كولو بغير خالص په خپل قول سره دمدعى به مستحق وي لكه يو قابض څوك چي دخپل مقبوض شي په باره كي ووايي چي دا زمادى نو داشى دهغه كيږي ترڅو چي بل څوك پر هغه خپل استحقاق ثابت نه كړي.

(۳) يعني دمدعي دعوى نه قبليږى ترڅو چي دى داسي يو معلوم شي دعوى وكړي چي دهغه جنس او مقدار معلوم وي څكه ددعوى په ذريعه سره دحجت په واسطه پر مدعى عليه باندي مدعى به لازميږى نو كه مدعى به مجهول وي نو مجهول شى پر مدعى عليه بلاندي لازميږي حال دا چي دمجهول لازمول ممكن نه دى ددعوى دنه قبليدو مطلب دادى چي ددي دعوى په وجه عدالت ته دمدعي عليه اومدعى به حاضرول ضروري نه دى، اودجنس دمعلوميت مطلب دادى چي داورته وښيي چي مدعى به غنم دي يا اوربشي دي يا سره اوسپين زردي، اودمقدار دمعلوميت مطلب دادى چي داوروښيي چي مثلاً غنم يو سيردي يا دوه سيره دي همدارنګه مثاقيل اودراهم دومره دي.

(۴) كه مدعى به يو معلوم مال دمدعى عليه په قبضه كي وونو مدعى عليه دي مجبور كړاى شي چي هغه مدعى به عدالت ته حاضر كړى ددي لپاره چي مدعى ددعوى په وخت دهغه طرف ته اشاره وكړي چي داشى زمادى څكه تروسه پوري دمدعى به معلومول شرط دى او دا په عين منقولي كي په اشاره سره كيږي.

(۵) قوله وكذالى الشهادة والاستحلاف اى وكذا يكلف احضارها لى اداء الشهادة ولى الاستحلاف عند عدم النية، يعني همدارنګه دګواهانو دګواهي اداكولو په وخت كي هم په محكمه كي دمدعى به حاضريدل ضروري دى چي ګواه دګواهي وركولو په وخت هغه ته اشاره وكړي چي مورد دي شي په باره كي ګواهي وركوو، همدارنګه چيرته له مدعي سره ګواهان نه وونو دمدعى عليه دقسم وركولو په وخت كي هم په محكمه كي دمدعى به حاضرول ضروري دى چي هغه دقسم اخيستلو په وخت كي هغه ته اشاره وكړي چي والله دغه شى زمادى دده نه دى.

(۶) قوله فان تعذر ذكر قيمتها اى ان تعذر احضار العين ذكر قيمتها، يعني كه چيرته مدعى به عين منقولي وو او دهغه محكمي ته حاضريدل مشكل وويا له دي كبله چي هلاك شوى وويا له دي وجهى چي عدالت ته به حاضريدلو يي مصرف كيده نو دهغه قيمت دي ذكر كړي چي په قدر دامكان مدعى به معلوم شي.

(۷) فان كان عقارا ذكر حدوده وكفت ثلثة (۸) واسماء اصحابها ولابدمن ذكر الجدان لهم كن مشهورا وانه في يده (۹) ولا يثبت اليد في العقار بتصادقهما بل ببينة او علم قاض (۱۰) بخلاف المنقول وانه يطالبه به (۱۱) وان كان دينا ذكر وصفه وانه يطالبه به

**ترجمه** :اوكه دعوى دځمكې وه نودهغې حدوددي ذكركړي اوكافي دي درې حدود .اودهغودمالكانو نومونه اوضروري دى دنيكه ذكركه هغه مشهورنه وواوداچې داشى دهغه په لاس كې دى،اونه ثابتيږي قبضه په ځمكه كې ددوئ دواړوپه تصديق سره بلكې په گواهانوسره يادقاضي په علم سره ،خلاف له منقولى شيانو ،اوداچې دى به دهغه مطالبه كوي اوكه هغه شى قرض وونودهغه وصف دي ذكركړي اوداچې دى به دهغه مطالبه كوي .

**تشريح** :(۷)كه مدعى به ځمكه وه نوځرنگه چې محكمې ته دهغې وړل ناممكن دى نومدعې به دهغې څلورحدود ذكركوي څكه دځمكې معرفت په حدودوسره راځي اوكه چيرته مدعي دمدعى به ځمكې درې حدودبيان كړل نوهم كافي دي،په داسي حال كې چې دامام زفر رَحِمَهُ اللَّهُ په نزدڅلوروارو حدودبيانول ضروري دي څكه تعريف دڅلوروواړو حدودوبيانولوبغيرنه تاميږي،زموږدليل دادى چې اكثرلره حكم دكل دى نودرې حدودبيانول هم كافي دي .

(۸)قوله واسماء اصحابهااى وذكراسماء اصحابها،يعنې مدعي به دځمكې دحدودودمالكانونومونه هم ذكركوي څكه تعريف په هغوسره راځي اوكه دحدودومالك مشهورنه وونودهغوئ دنيكه گانونومونه دي هم ضرورذكركړي چې له نوروخلكوڅخه ممتازشي ولى كامل تعريف دنيكه گانوپه نومونوذكر كولوسره راځي،البته كه چيرته هغوئ مشهوروو نوبيايې دنسب ذكركول ضروري نه دى،قوله وانه في يده اى وذكرانه في يده ،يعنې دابه هم بيانوي چې داځمكه دمدعى عليه په قبضه كې ده څكه مدعى عليه هغه وخت خصم گرځي چې مدعى به ځمكه دهغه په قبضه كې وي .

(۹)اوپرځمكه باندې قبضه دمدعى اومدعى عليه خپل منځي تصادق سره نه ثابتيږي مثلامدعى دځمكې دعوى وكړه ويې ويل چې داځمكه دمدعى عليه په قبضه كې ده اومدعى عليه دده تصديق وكړچې واقعًاازمايه قبضه كې ده نودانه كافي كيږي بلكې دگواهانوپه گواهي سره ثابتيږي چې هغوئ گواهي وركړي چې موږمذكوره ځمكه دمدعى عليه په قبضه كې ليدلې ده ياقاضى ته په ذاتى ډول معلومات ووچې مذكوره ځمكه دمدعى عليه په قبضه كې ده څكه كيداى شي چې مدعى اومدعى عليه دبل چاپرځمكه باندې دقبض كولولپاره خپل ځانونه مدعي اومدعى عليه ښكاره كړي وي چې دقاضي دقضاء په ذريعه سره دغه ځمكه پرخپل نامه كړي .

(۱۰)خلاف دمنقولى شيانوچې دهغوپه باره كې كه چيرته مدعى وويل چې مدعى به دمدعى عليه په قبضه كې دي اومدعى عليه دده تصديق وكړنوقبض ثابتيږي څكه په منقولى شيانوكې دمدعى عليه قبضه مشاهده كيږي نوپه گواهانوسره يې ثابتول ضروري نه دى .قوله وانه يطالبه به اى وذكرالمدعى انه يطالب المدعاء عليه بالمدعاء،يعنې مدعى به داهم وايې چې زه دهغې ځمكې مطالبه كوم څكه مطالبه دمدعى حق دى نودهغه مطالبه كول ضروري دى .

(۱۱)اوكه چيرته مدعى به دمدعى عليه پرذمه قرض وو ،مال عين نه وونومدعى به دهغې وصف بيان كړي چې فلان قسم دى اودومره ده څكه ددينونو معرفت په وصف سره كيږي اوپه محكمه كې به خالص

دا مطالبه وكړي چې زه د دغه حق طلبګاريم ولى صاحب ذمه خپله حاضر دی نو له مطالبې پرته بل كوم كار نه دی پاتې .

(۱۲) فَإِنْ صَحَّتِ الدَّعْوَى سَأَلَ الْمُدَّعِي عَلَيْهِ عَنْهَا فَإِنْ أَقَرَّ أَوْ أَنْكَرَ فَبَرْهَنَ الْمُدَّعِي قَضَى عَلَيْهِ وَإِلَّا حَلَفَ بِطَلَبِهِ (۱۳) وَلَا يُرَدُّ يَمِينٌ عَلَى مُدَّعٍ (۱۴) وَلَا بَيِّنَةَ لِذِي الْيَدِ فِي الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ وَبَيِّنَةُ الْخَارِجِ أَحَقُّ (۱۵) وَقَضَى لَهُ إِنْ نَكَلَ مَرَّةً بِلَا أَحْلِفُ أَوْ سَكَتَ (۱۶) وَعَرْضُ الْيَمِينِ ثَلَاثًا نُدِبَ.

**ترجمه**: بيا چې كله دعوى صحيح شي نو له مدعى عليه شخصه به پوښتنه وكړي د هغې په باره كې بيا كه چېرته هغه اقرار وكړ يا يې انكار وكړ نو ګواهان به پيش كړي مدعي نو فيصله به پر ده باندې وكړي كه نه بيا دې قسم وركړي د مدعي پر مطالبه باندې، او نه واردېږي قسم پر مدعي باندې، او ګواهان معتبر نه دي د قابض په ملك مطلق كې او د غير قابض ګواهان زيات حقدار دي، او فيصله دې وكړي د هغه لپاره كه يې چېرته انكار وكړ يو ځل ويې ويل چې زه قسم نه اخلم يا خاموش شو، او قسم دې درې ځله وركړي استحبابًا.

**تشريح**: (۱۲) كله چې د مدعى دعوى صحيح شي نو قاضي دې د مدعى عليه شخصه د دې دعوى په باره كې پوښتنه وكړي چې ستا څه خيال دی آيا د مدعي دعوى صحيح ده او كه غلطه ده نو كه چېرته هغه د دعوى د صحت اقرار وكړ نو فبها ونعمت، او قاضي به د ده خلاف او مدعي په حق كې فيصله وكړي ځكه مدعى عليه خپله د مدعي د دعوى د صحت اقرار كړی دی او كه چېرته مدعى عليه د دعوى له صحت شخصه انكار وكړ نو قاضي به له مدعي شخصه ګواهان وغواړي چې هغه خپله مدعى ثابته كړي، بيا كه مدعي ګواهان پيش كړل نو قاضي به د ده په حق كې فيصله وكړي ځكه په حجت سره ښكاره شوه چې مدعي په خپله دعوى كې صادق دی. او كه مدعى عليه د دعوى د صحت انكار وكړ او مدعي ګواهان پيش نه كړای شو او له مدعي عليه شخصه يې د قسم اخيستلو مطالبه وكړه نو قاضي به له مدعى عليه شخصه پر مدعى به باندې قسم واخلي مګر د مدعي مطالبه د قسم ضروري ده ځكه قسم د هغه حق دی .

(۱۳) او كه مدعى عليه له قسم اخيستلو شخصه انكار وكړ نو پر مدعى باندې قسم نه رديږي يعني له مدعي شخصه قسم نه اخيستل كيږي، لقوله ﷺ: أَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ ( پر مدعي ګواهان دي او قسم پر هغه چا دی چې انكار وكړي) .

**فائده**: امام شافعي رحمه الله فرمايي چې كه چېرته مدعى عليه له قسم اخيستلو شخصه انكار وكړ نو قسم د مدعي طرف ته عودكوي يعني قاضي به مدعي ته قسم وركړي كه چېرته مدعي قسم واخيست نو قاضي به د هغه پر قسم باندې د هغه په حق كې فيصله صادره كړي همدا يو روايت له امام مالك رحمه الله او امام احمد رحمه الله شخصه هم دی، احناف جواب وركوي چې په مذكور حديث شريف كې نبي كريم ﷺ د مدعي او مدعى عليه ترمنځ دوه شيان تقسيم كړي دي يعني پر مدعي باندې ګواهان دي او پر مدعى عليه باندې قسم دی او تقسيم له شركت سره منافي دی نو ځكه قسم يوازې پر مدعى عليه دی پر مدعي نه دی .

(۱۴) په ملك مطلق (په كوم كې چې مدعي د ملك دعوى وكړي مګر د ملكيت هيڅ سبب ونه ښيي چې په كوم سبب سره د ده ملك دی ) صاحب اليد (قابض) كې كه چېرته پر مدعى به باندې قابض او غير قابض

دواړه ګواهان پيش کړي نو دخارج يعني غيرقابض ګواهان زيات حقدار دي په دې سره چې دعوىٰ ګواهي قبوله کړای شي او دقابض دګواهانو ګواهي دي نه قبليږي ځکه دغيرقابض ګواهان دهغه لپاره ملک ثابتوي او دقابض لپاره خو ملِک په قبض سره ثابت دی ګواهان يې خالص مؤيد دي او دغيرقابض په ګواهانو سره دملک اثبات يا اظهار زيات کيږي نو دغير قابض دګواهانو ګواهي زياته دقبليدو لائقه ده.

(۱۵) که له مدعي سره ګواهان نه وو او مدعي له مدعى عليه څخه دقسم اخيستلو مطالبه وکړه مګر مدعى عليه يوائې ديو ځل قسم اخيستلو څخه انکار وکړچې لاأحلفُ (زه قسم نه اخلم) يا خاموش پاتی شو نو قاضي به دهغه خلاف فيصله کوي ځکه له قسم څخه انکار کول ددي دليل دی چې دی يا د مدعي ددعوى اقرار کوي او يايې قسم پرېښود غواړي چې مدعى به مال مدعي ته ورکړي نو ځکه به قاضي دهغه خلاف فيصله کوي، او سکوت هم دلالةً انکار شمارل کيږي نو دسکوت هم هغه حکم دی کوم چې دانکار دی.

(۱۶) پکار دیٰ چې قاضي احتياطًا له مدعى عليه څخه پوښتنه وکړي چې زه تاته درې ځله قسم درکوم بيا که چيرته تا قسم وانخيست نو فبها که نه مدعي چې کومه دعوى کړې ده په هغې کې ستا په خلاف دهغه په حق کې فيصله کوم ځکه چې دا دخفاء موقع ده (ولی دامام شافعي رحمه الله په نزد که چيرته مدعى عليه له قسم څخه انکار وکړي نو قاضي به دهغه په خلاف فيصله نه کوي بلکې مدعي ته به قسم ورکوي) ځکه نو مدعى عليه ته ويل کيږي چې دانکار په صورت کې ستا په خلاف فيصله کوم، بيا چې کله قاضي درې ځله پرهغه قسم وړاندي کړي که چيرته دی منکر پاتی شو نو قاضي به دهغه په خلاف دقسم څخه دانکار په وجه فيصله وکړي.

(۶) وَلَا يُسْتَحْلَفُ فِي نِكَاحٍ وَرَجْعَةٍ وَفَيْءٍ وَإِيلَاءٍ وَرِقٍّ وَنَسَبٍ وَوَلَاءٍ وَحَدٍّ وَلِعَانٍ (۷) قَالَ الْقَاضِي الْإِمَامُ فَخْرُ الدِّينِ الْفَتْوَى عَلَى أَنَّهُ يُسْتَحْلَفُ الْمُنْكِرُ فِي الْأَشْيَاءِ السِّتَّةِ (۸) وَيُسْتَحْلَفُ السَّارِقُ فَإِنْ نَكَلَ ضَمِنَ وَلَمْ يُقْطَعْ (۹) وَالزَّوْجُ إِذَا ادَّعَتِ الْمَرْأَةُ طَلَاقًا قَبْلَ الْوَطْءِ فَإِنْ نَكَلَ ضَمِنَ نِصْفَ الْمَهْرِ (۱۰) وَجَاحِدُ الْقَوَدِ فَإِنْ نَكَلَ فِي النَّفْسِ حُبِسَ حَتَّى يُقِرَّ أَوْ يَحْلِفَ وَفِيمَا دُونَهُ يُقْتَصُّ.

**ترجمه**: او قسم دي نه ترې اخلي په نکاح کې او په رجعت کې او له ايلاء وروسته په فئ کې او په ام ولد کولو کې او په مريي کيدو کې او په نسب کې او په ولاء کې او په حد کې او په لعان کې، امام فخرالدين ويلي دي چې فتوى پردي ده چې قسم دي واخيستل شي له منکر څخه په شپږو شيانو کې او قسم دي واخيستل شي له غله څخه بيا که يې انکار وکړنو ضامن کيږي او لاس يې نه غوڅيږي او له خاوند څخه چې کله دعوى وکړي ښځه دطلاق مخکې تر وطی بيا که چيرته ده انکار وکړنو ضامن کيږی دنصف مهر او دقصاص له منکر څخه بيا که انکار وکړي دنفس له قصاص نه نو قيد کړای کيږي ترڅو چې اقرار وکړي يا قسم واخلي او ترنفس په کم کې قصاص ترې اخيستل کيږي.

**تشريح**: (۶) که دنکاح دعوى وه که دخاوند له طرفه وي يا دښځې له طرفه نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد له مدعى عليه څخه قسم نه اخيستل کيږي، دصاحبينو رحمهما الله په نزد قسم ترې اخيستل کيږي، دامام ابو حنيفة رحمه الله او صاحبينو رحمهما الله ترمنځ دا اختلاف په لاندي امورو کې هم شته: **نمبر - ۱** په رجعت کې مثلاً دعدت تيريدو نه وروسته خاوند دعوى وکړي چې ما په عدت کې دننه رجوع

کړي ده او ښځه ددي انکار کوي.

**نمبر ۲**-په فئ کې یعنې په رجوع کې مثلاً د ایلاء د مودي تیریدو نه وروسته خاوند دعوی وکړي چې ما د ایلاء په موده کې له ایلاء ځخه رجوع کړي ده او ښځه ددي ځخه انکار وکړي . **نمبر ۳**-په رقت کې، مثلاً په یو مجهول النسب چاپې دعوی وکړه چې دازما مریی دی او هغه له دي ځخه انکار وکړي . **نمبر ۴**-په استیلاد کې، مثلاً منځې په مولی دعوی وکړه چې زه دهغه ام ولد یمه او بادار له دي ځخه انکار وکړي.

**نمبر ۵**- په نسب کې ،مثلاً یو چا په بل دعوی وکړه چې دازما زوی دی او هغه له دي ځخه انکار وکړي.

**نمبر ۶**-په ولاء کې مثلاً یو چا دعوی وکړه چې فلان سړی زما مولی عتاقة یا مولی الموالات دی او هغه له دي ځخه انکار وکړي . **نمبر ۷**-په حدودو کې ،مثلاً یو سړي بل ته وویل چې تا پر ما باندي د زنا تهمت لګولی دی چې هغه ثابته نه ده نو پر تا باندي حد قذف دی او مدعی علیه له دي ځخه انکار وکړي . **نمبر ۸**-په لعان کې ،مثلاً ښځه په خاوند باندي دعوی وکړي چې ده پر ما باندي دلعان تهمت لګولی دی او خاوند له دي خبري ځخه انکار کوي،نو په دغو ټولو امورو کې د امام ابو حنیفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد له منکر ځخه قسم نه اخیستل کیږي او د صاحبینو رحمهما الله په نزد له حدودو او لعان علاوه په ټولو کې قسم اخیستل کیږي.

د صاحبینو رحمهما الله دلیل دادی چې د استحلاف فائده داده چې د انکار په صورت کې پر منکر باندي فیصله کیږي او انکار کول هم یو قسم اقرار دی ځکه انکار د هغه پر دروغو باندي دال دی او په مذکوره امورو کې اقرار جاري کیږي نو استحلاف هم جاري کیږي،او همدارنګه مذکوره امور داسي دي چې سره له شبهې ثابتیږي نو دا موال په شان په دې کې استحلاف جاري کیږي،البته حدود داسي نه دي ځکه هغه په معمولي شبهه سره له منځه ځي نو ځکه په حدودو کې استحلاف نه جاري کیږي،او لعان ځرنګه چې د حد په معنی دی ځکه نو په هغه کې هم استحلاف نه جاري کیږي،د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دلیل دادی چې د لته له قسم اخیستلو ځخه انکار کول اقرار نه دی که نه نو مجلس د قضاء به یې شرط نه وای بلکې یو قسم اباحت او بذل دی چې مدعی علیه جرأت وکړ چې مدعي ته مدعی به ورکوي او په مذکوره امورو کې د اباحت او بذل نفاذ نه راځي ځکه په دغو امورو کې له قسم ځخه د انکار په صورت کې فیصله نه کیږي.

**فائده** :فتوی د صاحبینو رحمهما الله پر قول ده لمافي الدرالمختار:والحاصل ان المفتى به التحليف في الكل الافي الحدود(الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۳/۴۷۳) وفي ملتقى الابحر:وعندهما يحلف وبه يفتى كمافي قاضيخان وهو اختيار فخر الاسلام على البزودی معللا بعموم البلوی(ملتقى الابحر مع مجمع الانهر:۳/۳۵۱)

(۷)امام فخر الدین (دا هغه امام فخر الدین دی چې د قاضیخان په نامه سره مشهور او صاحب فتاوی دی ) فرمایلي دي چې فتوی پر دي باندي ده چې منکر ته په دغو شپږو امورو کې قسم ورکول کیږي یعني په نکاح ،رجعت،فئ،رق،نسب او ولاء کې هم قسم ورکول کیږي ،مګر سوال دادی چې مخکې خو نه شپاږ ذکر شوي دي بیا د شپږو شیانو په باره کې د امام قاضی خان د فتوی نقل کول ځه مطلب دی ؟ جواب :له نهو ځخه په دوو شیانو یعني په حد او لعان کې په اتفاق سره قسم نشته،له باقي او وو ځخه استیلاد د نسب یا رق ملحق دی ځکه په هغه کې یا د نسب دعوی وي یا د رقیت ځکه په هغه کې هم قسم نشته نو مختلف فیه شپږ شیان پاتې شو.

(۸)که غل دغلا څخه انکار وکړي نوله هغه څخه قسم اخیستل کیږي او که هغه له قسم اخیستلو څخه انکار وکړنو د مال ضامن ګرځي مګرلاس یې نه غوڅیږي،ځکه دغله په فعل پورې دوې خبرې متعلقې دي یوخو د مال ضمانت دی په هغه کې له قسم کولو څخه انکار موثر دی نو ځکه له قسم څخه د انکار په صورت کې د مال ضامن ګرځي او دوهمه خبر دلاس غوڅیدل دی په هغه کې له قسم کولو څخه انکار موثر نه دی ځکه لاس غوڅیدل حد دی اوله قسم کولو څخه انکارکول داسې اقراردی چې شبهه پکې ده اودشبهې په وجه حد ساقطیږي نوله قسم څخه دانکارکولو په صورت کې دغله لاس نه غوڅیږي

(۹)قوله والزوج اذاادّعت المرأة الخ ای ویستحلف الزوج اذاادعت المراة الخ،یعنې که چیرته یوه ښځه داد عوی وکړي چې زما خاوندله ماسره ترصحبت کولونه مخکې ماته طلاق راکړی دی اودهغې خاوندله طلاق ورکولو څخه انکارکوي نو دهغې خاوندته قسم ورکول کیږي او که هغه له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي نوپه اتفاق سره دنصف مهرضامن ګرځي اوهغې ښځې ته به یې ورکوي ځکه په اتفاق سره په طلاق کې قسم اخیستل جاري کیږي خاص بیاچې مال مقصود وي،نوله قسم څخه دانکارپه وجه طلاق مخکې تردخول ثابتیږي او د طلاق قبل الدخول په صورت کې پرزوج باندې نصف مهرلازمیږي.

(۱۰)قوله وجاحدالقود الخ ای ویستحلف جاحدالقود الخ،یعنې که چاپه بل چادقصاص دعوی وکړي اومدعی علیه انکاروکړي په داسې حال کې چې له مدعی سره ګواهان نشته اوله مدعی علیه څخه دقسم اخیستلو مطالبه کوي نوپه اتفاق له مدعی علیه څخه قسم اخیستل کیږي ،بیاکه مدعی علیه له قسم اخیستلو څخه انکاروکړنوورته وبه ګوروچې دعوی دنفس (یعنې قتل نفس ) ده او که ترهغه کم جنایت دی .که چیرته دقتل نفس دعوی وه نوداامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمدعی علیه قیدکړای کیږي ترڅوچې قسم واخلي یاپه جنایت باندې اقراروکړي ځکه دنفس معامله باریکه ده چې هیڅکله اباحت نه پکې جاري کیږي نو ددعوی نفس په صورت کې خالص له قسم څخه دانکارپه وجه دقصاص حکم نه کول کیږي.

اوکه دعوی ترقتل نفس په کم جنایت کې وه نوله قسم څخه دانکارپه وجه پرهغه قصاص لازمیږي ځکه اطراف ملحق بالاموال دي اوپه اموالوکې بذل او اباحت جاري کیږي نوپه اطرافوکې هم جاري کیږي اوانکارله قسم نه اباحت دی،دصاحبینو رحمهماالله په نزدپه دواړوصورتوکې پرهغه باندې تاوان لازمیږي ځکه له قسم څخه انکارکول داسې اقراردی چې شبهه پکې ده اوقصاص نه په ثابتیږي نوځکه تاوان واجبیږي.

**فائده**:دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله :ولم أره من یصرح بالترجیح لواحد من القولین الاانّه قداقتصرعلی قوله المتون واهتم الشارحون بدلیل قوله ایضافالعمل بقوله مالم یوجدالصارف عنه من التصریح بالترجیح والفتوی (هامش الهدایة : ۳/ ۲۰۴)هکذا یظهرمن صنیع امام الهدایة حیث اخردلیله.

(۱۱)ولوقال المدعی لی بینة حاضرة وطلب الیمین لم یستحلف وقیل لخصمه اعطه کفیلا بنفسک ثلاثة ایام فان ابی لازمه ای دارمعه حیث سار(۱۲)ولوغریبالازمه قدرمجلس القاضي.

**ترجمه** : او که وویل مدعي چې زما ګواهان حاضر دي او قسم یې طلب کړنو قسم نه شي اخیستلای بلکې ویل کیږي دهغه خصم ته چې ورکړه ده ته کفیل دځپل ځان درې ورځې بیا که هغه انکار وکړنو مدعي ته دې ورپسې شي چیرته چې هغه ځي دی دې هم ورپسې لاړ شي او که هغه مسافر وونو ورپسې دې شي د قاضي ترمجلس پورې.

**تشریح** :(۱۱) که مدعي وویل چې زما ګواهان په ښار کې موجود دي ،مګر هغه دګواهانو حاضرولو پرځای له مدعی علیه څخه دقسم اخیستلو مطالبه وکړه نو دهغه له مدعی علیه څخه قسم نه اخیستل کیږي، ځکه مدعي داستحلاف حق هغه وخت لري چې دی دګواهانو حاضرولو څخه عاجز شي دعجز بغیر هغه داستحلاف حق نه لري، البته مدعی علیه ته ویل کیږي چې ته تردریوورځوپورې مدعي ته دځپل نفس ضامن ورکړه چې په دغو دریوورځوکې دی ځپل ګواهان راحاضر کړي ،داددې لپاره چې مدعی علیه ورک نه شي چې بیا به دمدعی حق ضائع شی ،بیا که چیرته مدعی علیه ضامن ورکړنو بهتره ده که نه مدعی ته دې حکم وکړل شي چې په مدعی علیه پسې شي چیرته چې هغه ځی دی به ورپسې ځي چې دمدعي حق ضائع نه شي.

(۱۲) قوله ولو غریبا الخ ای لو کان المدعی علیه مسافرا لازمه الخ .یعنې که چیرته مدعی علیه دلاري مسافر وونو بیا که چیرته دی مدعي ته ضامن ورکوي نو ترهغه پورې چې دقاضی محکمه قائمه وي ،او که ضامن نه وونو مدعي به په ده پسې وي هم ترمذکور وخت پورې ځکه تردې دزیات وخت لپاره په ضامن اخیستلو یا په پسې کیدلو کې دمسافر لپاره ضرر دی چې مسافر له سفر څخه راګرځوي.

(۱۳) وَالْيَمِينُ بِاللهِ تَعَالَى (۱۴) لَا بِطَلَاقٍ وَعِتَاقٍ إِلَّا إِذَا أَلَحَّ الْخَصْمُ (۱۵) وَتُغَلَّظُ بِذِكْرِ أَوْصَافِهِ (۱۶) لَا بِزَمَانٍ وَمَكَانٍ (۱۷) وَيَسْتَحْلِفُ الْيَهُودِيَّ بِاللهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسَى وَالنَّصْرَانِيَّ بِاللهِ الَّذِي أَنْزَلَ الْإِنْجِيلَ عَلَى عِيسَى وَالْمَجُوسِيَّ بِاللهِ الَّذِي خَلَقَ النَّارَ وَالْوَثَنِيَّ بِاللهِ (۱۸) وَلَا يُحَلَّفُونَ فِي بُيُوتِ عِبَادَتِهِمْ

**ترجمه** :او قسم په الله تعالی سره معتبر دی نه چې په طلاق او عتاق سره مګر دا چې ډیر ټینګار وکړي خصم، او قسم دې مغلظ کړي دالله تعالی داوصافو په ذکر کولو سره نه په زمان او مکان سره او قسم دې اخلي له یهودي څخه په دې دول چې په هغه الله تعالی سره قسم چې نازل یې کړی دی تورات پر حضرت موسی علیه السلام باندې او له نصراني څخه دادول چې په هغه الله قسم چې نازل یې کړی دی انجیل پر حضرت عیسی علیه السلام باندې او له مجوسي څخه دادول چې په هغه الله قسم چې اور یې پیدا کړی دی او له بُت پرست څخه دې په الله سره قسم واخلي او له دغو مذکورو کسانو څخه دې قسم نه اخلي دهغوی په عبادت خانو کې.

**تشریح** :(۱۳) منکر ته که یې قسم ورکاوه نو دالله تعالی په نامه دې ورکوي ځکه قسم خالص دالله تعالی په نامه سره کیږي دغیر په نامه نه کیږي لقوله ﷺ :مَنْ كَانَ مِنْكُمْ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَذَرْ (یعنې څوک چې له تاسو نه قسم اخیستونکی وي هغه ته پکار دی چې په الله تعالی سره قسم واخلي یا دې پرېږدی) حضرت ابن مسعود ؓ فرمایې چې که زه دالله تعالی په نامه سره دروغو قسم واخلم نو دابهتر دی ترهغه چې زه دغیر په نامه قسم خورم.

(۱۴)قوله لابطلاق وعتاق ای لایکون الیمین معتبرا بطلاق وعتاق،یعنې له مدعی علیه څخه په طلاق یاعتاق قسم نه اخیستل کیږي مثلاپه دي ډول چې ووایې که به داشی دمدعي وي نوزمابنځه دې طلاقه وي یادي زمامرییې آزادوي لماروینا،ظاهرروایت دی،مګردځینوفقهاؤپه نزدپه اوسنی زمانه کې که مدعی علیه ډیرجنجالي اوبې باک وو اومدعي دطلاق یاعتاق په قسم باندي ټینګاروکړنودقاضي لپاره جائزه ده چې له هغه څخه دطلاق یاعتاق قسم واخلي ځکه په اوسنی زمانه کې خلک دالله له قسم څخه کم ویریږي اودطلاق اوعتاق څخه زیات ویریږي ځکه یې دطلاق اوعتاق قسم ورکول جائزبللی دی ،مګر صحیح اومفتی به ظاهرروایت دی ،البته دضرورت پربناء که دقاضي رایه وه نودطلاق اوعتاق قسم ورکول جائزدی خوکه چیرته هغه له داسې قسم اخیستلو څخه انکاروکړنودهغه په خلاف فیصله نه کوله کیږي همدا وجه ده چې که چیرته قاضي فیصله وکړه نه نافذیږي ،کمافی مجمع الانهر:وقیل ان الح الخصم صح فی زماننالکن لایقضی علیه بالنکول لانه نکل عماهومنهي عنه شرعاحتی لوقضی لاینفذوفی البحرالفتوی علی عدم التحلیف بالطلاق والعتاق وهوظاهرالروایة والصحیح مافی ظاهرالروایة (مجمع الانهر:۳/۳۵۵)

(۱۵)اوکه غواړي چې قسم بنه مؤیدکړي نودالله تعالی له اسم ذاتی سره دي اسماء صفاتی هم ذکرکړي چې قسم بنه مؤکدشي مثلاداسي دي ووایې :والله الذی لااله الاهو عالم الغیب والشهادة الذی یعلم من السر ویعلم من العلانیة،اوپه دي کې کمی اوزیاتوب هم کولای شي ځکه ځینی خلک داسي هم وي چې پرغیرمغلظ قسم باندي جرأت مندوي اوله مغلظ قسم څخه ځان ګوښه کوي .

(۱۶)قوله لابزمان ومکان ای لاتغلظ الیمین علی المسلم بزمان ومکان،یعنې پرمسلمان باندي په زمانه (مثلادجمعې ورځ یاله مازدیګروروسته) یامکان (مثلامقام ابراهیم یامکه مکرمه یامنبرنبوي ﷺ ) سره دقسم تغلیظ واجب نه دی ځکه په قسم سره دهغه معبودتعظیم مقصوددی دچاپه نامه چې قسم خوړل کیږي اوداتعظیم دوخت اومکان له ذکرکولوبغیرحاصلیږی اوهمدارنګه ترمخصوصی زماني پوري په انتظارکولواوترمخصوص مکان پوري په تللوکې دمدعي په حق (یمین) کې تاخیرراځي ځکه نوقسم په زمانه اومکان سره نه مغلظ کیږی .

(۱۷)له یهودي څخه که یې قسم اخیست نوداډول به یې ترې اخلي چې په هغه الله سره قسم چې پرموسی علیه السلام یې تورات رانازل کړی دی،اوله نصراني څخه که یې قسم اخیست نوداډول به یې ترې اخلي چې په هغه الله سره قسم چې پرحضرت عیسی علیه السلام یې انجیل رانازل کړی دی ،اوله مجوسي که یې قسم اخیست نوداډول به یې ترې اخلي چې په هغه الله سره قسم چې اوریې پیداکړی دی ،داځکه چې پرهریوه باندي دقسم تغلیظ دهغه داعتقادمطابق کیږي،اوله بت پرست څخه په الله تعالی سره قسم اخلي په بت به یې نه اخلي ځکه ټول کفارپرالله تعالی باندي اعتقادلري کماقال الله تعالی : (وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ) یعنې که ته له دغوبت پرستانو څخه پوښتنه وکړې چې چاداآسمانونه اوځمکه پیداکړي دي نوخامخابه ووایې چې الله تعالی پیداکړي دي .

(۱۸)مګریهوداونصاری اومجوسیان به دهغوعبادت خانوته نه بیایې چې بیاهلته قسم ورڅخه اخلي بلکې دقاضي په محکمه کې به قسم ورکول کیږي ځکه قاضي ته دهغوئ عبادت خانوته داخلیدل

مکروه دی.بلکې دهرمسلمان لپاره داممنوع دی چې ددو یٔ عبادت خانوته داخلیږی ولی ددویٔ عبادت خانې دشیطانانو دیوځای کیدوځایونه دي.

(۱۹) ويحلف على الحاصل اي بالله مابينكما بيع قائم (۲۰) ونكاح قائم ولا يجب عليك رده وماهي بائن منك الآن في دعوى البيع والنكاح والغصب والطلاق (۲۱) وان ادعى شفعة بالجوار او نفقة المبتوتة والمشتري او الزوج لا يريها يحلف على السبب (۲۲) وعلى العلم لو ورث عبدا فادعاه آخر (۲۳) وعلى البتات لو وهب له او اشتراه (۲۴) ولو افتدى المنكر يمينه او صالحه منها على شئ صح ولم يحلف بعده.

**ترجمه** :اوقسم دي واخیستل شي پرحاصل دعوی باندي یعنې داسي دي ووایې والله زموږترمنځ بیع قائمه نه ده اونکاح قائمه نه ده اوواجب نه دی پرماباندي هغه ردول دهغه اونه دی جلاله ماڅخه فی الحال د بیع .نکاح اوغصب اوطلاق په دعوی کې اوکه یې دعوی وکړه دشفعه دګاوندیتوب په وجه یادبائنه مطلقه دنفقې اومشتري یازوج دهغه عقیده نه لري نوقسم دي واخیستل شي پرسبب دعوی باندي اوپرعلم باندي که وارث شوی وودمریې بیادهغه بل چادعوی وکړه اوپرامرواقعي باندي که هغه ته هبه کړل شوې وه یاده اخیستی ووکه عوض ورکړي منکردخپل قسم څخه یاصلح وکړي له مدعي سره پریوشي باندي نوداصحیح دی تردي وروسته قسم نه شي ورنه اخیستلای .

**تشریح** :(۱۹)دقسم په باره کې قاعده داده چې که دعوی دداسي سبب وه چې رفع کیدای نه شوای لکه عتق.چې له واقع کیدووروسته هیڅکله رفع کیدای نه شي نوقسم پرداډول سبب باندي کیدای شي مثلاداسي به وایې چې والله ماخپل مریی نه دی آزادکړی اوکه دعوی دداسي سبب وه چې رفع کیدای شوای لکه بیع چې له وقوع وروسته فسخ کیدای شي نوپه دي کې قسم پرحاصل اوحکم باندي کیږي مثلایوچاپه بل حاضرباندي دعوی وکړه چې ماله ده څخه دده مریی په عوض دزرودرهمونواخیستی دی اومدعی علیه له دي څخه انکاروکړنومنکربه داسي قسم اخلي چې والله زماماوددي مدعي ترمنځ فی الحال په دغه مریي کې عقدبیع قائمه نه ده.پرسبب باندي به قسم نه اخلي یعنې داسي به نه وایې چې والله مادغه مریی پرده باندي نه دی خرڅ کړی.ځکه چې کیدای شي چې ده دي مریی خرڅ کړی وي بیادي بیع فسخ شوې وي .

(۲۰) قوله ونكاح قائم اي بالله مابينكما نكاح قائم في الحال اذا كانت الدعوى في النكاح.یعنې که چیرته دعوی دنکاح وه نوله منکرڅخه به داسي قسم اخیستل کیږي چې والله زموږترمنځ فی الحال نکاح نه ده قائمه.داسي به نه وایې چې والله ماله دې سره نکاح نه ده کړې ځکه چې داکیدای شي چې نکاح دي کړي وي بیادي په طلاق بائن سره نکاح ختم کړي وي،که مدعي په مدعی علیه باندي دغصب دعوی وکړه نوله مدعي علیه څخه دي داډول واخیستل شی چې والله مدعی پرماباندي دمدعی به دواپس کیدواستحقاق نه لري.داډول به نه وایې چې والله مانه دی غصب کړی.ځکه چې امکان لري چې ده دي غصب کړی وي بیادي ضمان اداکړی وي دی یې مالک ګرځیدلی وي .همدارنګه که چیرته ښځې په خاوند دطلاق دعوی وکړه اوهغه منکرشونوله خاوندڅخه به داډول قسم اخیستل کیږی چې والله دغه ښځه له ماڅخه بائنه نه ده په هغه وجه سره چې دې بیان کړې ده.داډول به قسم نه اخلي چې والله مادي ته طلاق نه دی ورکړی ځکه کیدای شي چې طلاق دي ورکړی وي بیادي له بینونت وروسته بیرته تجدیدنکاح کړی وي .

**فائده** :دمصنف رحمه الله دغه عبارة :في دعوى البيع،تعلق په ماقبل کې له :بالله ماېينکمابيع قائمٌ،سره دی اود(والنکاح) تعلق له (ونکاح قائمٌ) سره دی او(والغصب ) تر(ومايجب عليک رده) پوري تعلق لري اود(والطلاق )تعلق له (وماهي بائن منک الان ) سره دی .

(۲۱)که يوچاد ګاوندېتوب په وجه دخرڅې شوې ځمکې دځپل حق شفعه دعوی وکړه ياکومې ښځې ته چې يې طلاق بائن ورکړی دی هغې دعدت په وخت کې دنفقې دعوی وکړه،په داسې حال کې چې دمشفوعه ځمکې اخيستونکی دګاوندېتوب په وجه دحق شفعه اعتقادنه لري،اودمطلقې خاوند ددې عقيده نه لري چې دمطلقې خاوندبائنې دخوراک اونفقې ذمه واردی مثلادواړه شافعي مسلک دي(دامام شافعي رحمه الله په نزدګاونډي ته حق دشفعه حاصل نه دی اونه دهغه په مذهب کې دمطلقې بائنې خوراک اونفقه دخاوندپرذمه واجبه ده ) نوپه داسي صورت کې دي هغه مشتري ياخاوندته پرسبب باندې قسم ورکول شي پرحاصل دي نه ورکول کيږي مثلاله مشتري څخه دي داډول قسم واخلي چې والله دامکان مانه دی اخيستی داسی دي نه وايې چې زماپرذمه دهغه حق شفعه نشته ځکه په دغه قسم کې دی دځپل اعتقادمطابق دربنتياويلوپه وجه نه حانث کيږي په دي کې دمدعي نقصان دی ځکه مدعی عليه له داډول قسم څخه احترازنه کوي،اوله خاوندڅخه دي داډول قسم واخلي چې والله مادې ته طلاق بائن نه دی ورکړی داسي قسم دي نه ورڅخه اخلي چې والله زماپرذمه دهغې نفقه نشته ځکه په دغه قسم کې دی دځپل اعتقادمطابق دربنتياويلوپه وجه نه حانث کيږي نوپه دي کې دمدعی نقصان دی ځکه مدعی عليه له داسي قسم احترازنه کوي .

(۲۲)قوله وعلى العلم لوورث الخ اى ويحلف على العلم لوورث الخ،يعني که چاته يومريي په ميراث کې په لاس ورغی بل چاپه هغه مريي باندې دعوی وکړه چې دازمادی نومدعی عليه ته پرعلم باندې قسم ورکول کيږي يعنې مدعی عليه به داډول وايې چې والله زه نه يم خبرچې دامريی کوم چې زماپه لاس کې دی داددې مدعي دی،يعنې قطعی قسم دې به نه اخلي چې والله دامريی دمدعي مِلک نه دی ځکه وارث ته څه پته ده چې دهغه مورِث دامريی له کومه اوڅرنګه لاس ته راوړی دی نوځکه دې له هغه څخه داډول قسم نه اخيستل کيږي چې والله دامريی ددې مدعي مِلک نه دی .

(۲۳)قوله وعلى البتات لوزهب الخ اى ويحلف على البتات لووهب الخ،يعني که چاته يومريي چاهبَه کړياده يومريي واخيست بيايې په هغه مريي باندې چادعوی وکړه اوله مدعی سره ګواهان نه وو ،نوله مدعي عليه څخه به قطعی قسم اخلي يعنې داسې دې ووايې چې والله دامريی ددغه مدعي ملکيت نه دی،ځکه دې سړي ته دقسم اخيستلوداجازې دليل (يعنې خريدياهبَه) موجوددی ځکه چې هغه شرعًادخريداوهبَه په وجه دځپل مِلک قسم خوړلای شي نوضرورودمدعي دنه مِلک هم قسم خوړلای شي .

(۲۴)که چادبل په قبضه کې په موجودمال دعوی وکړه اوله مدعي سره دګواهانودنه وجودپه وجه غواړي چې مدعی عليه ته قسم ورکړي مګرمدعی عليه له قسم څخه دځان خلاصولولپاره مدعی دقسم فديه مثلالس درهمه ورکړل يايې له مدعي سره پرلسودرهمونوباندې صلح وکړه نودافديه ورکول ياصلح

كول جائزه ده، او دا له حضرت عثمان ﷺ څخه مروي دی چې پريوه موقع پر هغه باندي قسم راته نوده د قسم څخه د ځان خلاصولو لپاره د قسم پر ځای فديه ورکړې وه، او مدعي ته له فديه ورکولو يا صلح کولو دا حق نشته چې هغه له مدعی عليه څخه کله هم پر دغه مدعی باندي قسم واخلي ځکه مدعی خپل حق پخپله ساقط کړی دی.

## باب التحالف

داباب له دواړو څخه هر يوه ته د قسم ورکولو په بيان کې دی

مصنف رحمه الله تردي مخکي له يوه څخه د قسم اخيستلو احکام بيان کړل اوس دلته له دواړو څخه د قسم اخيستلو احکام بيانوي او ځرنګه چې دوه طبعًا تر يوه مخکي وي ځکه يې نو وضعًا هم د دوو حکم موخر کړی دی چې وضع او طبع سره موافق شي.

(۱) اِخْتَلَفَا فِي قَدْرِ الثَّمَنِ أَوِ الْمَبِيعِ قُضِيَ لِمَنْ بَرْهَنَ (۲) وَإِنْ بَرْهَنَا فَلِمُثْبِتِ الزِّيَادَةِ (۳) وَإِنْ عَجَزَا وَلَمْ يَرْضَيَا بِدَعْوَى أَحَدِهِمَا تَحَالَفَا (۴) وَبُدِئَ بِيَمِينِ الْمُشْتَرِي (۵) وَفَسَخَ الْقَاضِي بِطَلَبِ أَحَدِهِمَا (۶) وَمَنْ نَكَلَ لَزِمَهُ دَعْوَى الْآخَرِ.

**ترجمه**: که اختلاف راغی د بائع او مشتري ترمنځ د ثمن په مقدار کې يا د مبيع په مقدار کې نو فيصله د هغه چا لپاره کيږي چا لره چې ګواهان وي او که دواړو ګواهان درلودل نو د هغو ګواهانو په خبره فيصله کيږي چې زيادت ثابتوي او که دواړه عاجز شول او دواړه راضي نه وو ديوه په دعوی سره نو دواړه دي قسم واخلي او شروع به کيږي د مشتري په قسم سره او فسخ دي کړي قاضي ديوه په طلب سره او کوم يوه چې انکار وکړ پر هغه لازميږي د هغه بل دعوی.

**تشريح**: (۱) که د بائع او مشتري ترمنځ اختلاف راغی مثلا مشتري د کم قيمت دعوی کوي او بائع د زيات قيمت دعوی وکړي يا بائع د مبيع په کم مقدار اقرار وکړي او مشتري تر هغه د زيات دعوی وکړي بيا له دواړو څخه يو پر خپله مدعی باندي ګواهان قائم کړي نو فيصله د هغه په حق کې کيږي ځکه د هغه دعوی له بينه سره ده او د هغه بل دعوی صرف دعوی ده نو د صاحب بينه جانب اقوی دی ځکه د بينه مطابق پر قاضي باندي د هغه په حق کې فيصله کول واجب ده.

(۲) که دواړو پر خپلو مدعی وو باندي ګواهان قائم کړل نو د زيادت ثابتوونکي ګواهان معتبريږي نو په اول صورت کې د بائع ګواهان معتبر دي او په دوهم صورت کې د مشتري ګواهان معتبر دي ځکه کوم ګواهان چې زيادت ثابتوي هغه د کمبوت ثابتونکي ګواهان له دغو سره په زيادت کې معارض نه دي نو زيادت ثابتوونکي ګواهان له معارضي څخه سالم دي نو د دوئ ګواهي قبليږي.

(۳) که دواړه د ګواهانو څخه عاجز شول يعنې له يوه سره هم ګواهان نه وو نو مشتري ته دي وويل شي چې يا خو ته په دغو ثمنو راضي شه چې بائع کوم دعوی لري که نه مونږ ستاسي ترمنځ بيع فسخ کوو، دا د اول صورت حکم دی په دوهم صورت کې دي بائع ته وويل شي چې يا د ومره مقدار مبيع مشتري ته حواله کړه څومره چې مشتري دعوی کړي ده که نه مونږ بيع فسخ کوو، ځکه مقصود قطع تنازع ده او دا د قطع تنازع جهت

دی ځکه کله دواړه دبیع پرفسخ کیدوباندي نه راضی کیږي چې کله یوه شي نودواړه راضي کیږي، اوکه دواړه راضي نه وونوحاکم دي له هریوه څخه دهغه بل پردعوی باندي قسم واخلي لقوله ﷺ :اذااختلف المتبائعان والسلعة قائمة بعينهاتحالفاوترادا(یعنې کله چې بائع اومشتري اختلاف سره وکړي اومبیع قائمه وي نودواړه دي قسم واخلي اوبیع دي ردکړي) همدارنګه له بائع اومشتري څخه هریومدعي هم دی اومدعی علیه هم دی،نومدعی علیه په حیثیت سره دي له هریوه نه قسم واخلي .

(۴)بیادي قاضی دمشتري په قسم شروع وکړي ځکه په دوئ کې دمشتري انکارډیرسخت دی ولی مطالبه دثمن مخکي دمشتري څخه کیږي اوداچې مخکي له مشتري څخه مطالبه دثمن کیږي نودده انکاربه هم مخکي وي ځکه نوبایددقسم ابتداء هم اول له ده څخه وشي .

(۵)بیاکه دواړوقسم واخیست نوقاضي دي ددوئ ترمنځ بیع فسخ کړي ځکه چې کله دواړوقسم واخیست نوبیع بلابدل معین پاتې شوه نوفاسده شوه،ځیني حضرات وایي چې په نفس تحالف سره بیع فسخ کیږي همداامام شافعی رحمه الله قول دی لیکن اول صحیح دی ،اوله دواړوڅخه چې یوېې هم دبیع دفسخ کولومطالبه وکړي نوقاضی دي بیع فسخ کړي لقوله ﷺ :اذااختلف المتبایعان والسلعة قائمة بعينهاتحالفاوترادا(چې کله بائع اومشتري اختلاف سره وکړي اومبیع قائمه وي نودواړه دي قسم واخلي اوبیع دي ردکړي ) .

(۶)که له دواړوڅخه یوه له قسم څخه انکاروکړنوپرهغه باندي دهغه بل دعوی لازمیږي ځکه له قسم څخه انکارکوونکي قرباني وکړه خپله دعوه یې پریښودله نودهغه بل دعوی بغیرمزاحم پاتې شوه نوځکه دهغه دعوی ثابته شوه .

(۷)وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الْأَجَلِ أَوْ فِي شَرْطِ الْخِيَارِ أَوْ فِي قَبْضِ بَعْضِ الثَّمَنِ (۸) أَوْ بَعْدَ هَلَاكِ الْمَبِيعِ أَوْ بَعْضِهِ (۹) أَوْ فِي بَدَلِ الْكِتَابَةِ (۱۰) أَوْ فِي رَأْسِ الْمَالِ بَعْدَ إِقَالَةِ السَّلَمِ لَمْ يَتَحَالَفَا وَالْقَوْلُ لِلْمُنْكِرِ مَعَ يَمِينِهِ (۱۱) وَلَوِ اخْتَلَفَا فِي مِقْدَارِ الثَّمَنِ بَعْدَ الْإِقَالَةِ تَحَالَفَا وَيَعُودُ الْبَيْعُ الْأَوَّلُ .

**ترجمه** :که ددواړواختلاف راغی په مدت کې یاپه خیارشرط کې یادبعضوثمنوپه قبض کولوکې .یادکل مبیع دهلاکیدووروسته یادبعض مبیع ،یاپه بدل کتابت کې ،یاپه رأس المال کې له اقاله وروسته نوقسم دي نه اخلي اوقول دمنکرمعتبردی دهغه له قسم سره ،اوکه دواړواختلاف وکړپه مقداردثمنوکې له اقاله وروسته نودواړه دي قسم واخلي اولومړی بیع بیرته راګرځي .

**تشریح** :(۷)که بائع اومشتري په موده کې اختلاف سره وکړ(یعنې په دي کې یې اختلاف وکړچې داداء ثمن موده مقرره وه که نه،یایې دمودې په مقدارکې اختلاف وکړ)یایې په خیارشرط کې اختلاف وکړیووایې چې ماله خیارشرط ووا وهغه بل انکارکوي،یایې دبعض ثمن په وصولولوکې اختلاف وکړنودواړوترمنځ تحالف نشته یعنې دواړه قسم نه شي اخیستلای ځکه دااختلاف له مبیع اوثمن ماسواپه بل شي کې دی نوداسي دی لکه دثمن په کمولویامعاف کیدوکې چې اختلاف وي چې په هغه صورت کې په اتفاق سره تحالف نشته اوچې کله دواړه قسم نه اخلي نوکوم یوچې دخیارشرط یامودې څخه منکردی دهغه قول له قسم سره قبلیږي ولی داداوړه شیان دشرط په وجه عارضیږي اوقول دهغه چامعتبریږي چې له عوارضوڅخه منکروي .

(۸)قوله اوبعدهلاک المبیع اوبعضه ای اواختلفافی مقدارالثمن بعدهلاک الثمن الخ،یعني که دمبیع دتلف کیدو وروسته ددواړوپه مقدارثمن کې اختلاف راغی نودشیخینو رحمهما الله په نزددواړه به یودبل سره قسم نه اخلي،اوپه ثمن کې دمشتري قول معتبربږي،دامام محمد رحمه الله په نزدبه دواړه قسم اخلي اوددواړوپه قسم اخیستوسره بیع فسخ کیږي اودتلف شوې مبیع قیمت به ورکول کیږي، دشیخینو رحمهما الله دلیل دادی چې دمشتري دقبض وروسته تحالف خلاف قیاس دی ځکه بائع ومشتري ته هغه مال سپارلی دی چې دهغې دعوه کوله خوځرنګه چې په شرع کې داتحالف راغلی دی نوچې چیرته راغلی دی ترهغه ځایه مقصوردی هغه داچې مال مبیع بعینه قائم وي اوپه داسي حال کې دتحالف نتیجه داراوځي چې دبیع دفسخ کیدووروسته داموقع نشته ځکه مبیع تلف کیږي عقدِبیع پورته کیږي یعنې محل نه پاتیږي نوداهغه موقع نه ده چیرته چې شرع وارده شوې ده.

**فائده** :دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله :قوله لم یتحالفاعندابی حنیفة رحمه الله وابی یوسف رحمه الله الخ ،والراجح قول الشیخین ،فالقول قول المشتری مع یمینه قال فی مجمع الانهر:ولاتحالف بعدهلاک کل المبیع فی یدالمشتری ویحلف المشتری عندالشیخین علی الصحیح وکذابعدخروجه عن ملکه وتعیبه بمالایریدبه.(هامش الهدایة:۳/۲۰۹)

(۹)قوله اوبدل الکتابة الخ ای اواختلف المولی والمکاتب فی مقداربدل الکتابة ،یعني که دمولی اومکاتب ترمنځ دبدل کتابت په مقدارکې جنجال راغی نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدله دواړوڅخه قسم نه اخیستل کیږي بلکې دمریې قول له قسم سره معتبربږي ځکه په عقدمعاوضه کې تحالف دحقوق لازمه ؤدانکارپه وخت کې کیږي په داسي حال کې چې پرمکاتب باندې بدل کتابت لازم نه دی ولی دی چې خپل ځان عاجزوګني بدل کتابت ساقطولای شي، اود صاحبینو رحمهما الله په نزدبه تحالف کیږي ځکه عقدکتابت عقدمعاوضه دی چې فسخ قبلوي نوپه دي وجه چې دبیع په معنی دی نوپه هغه کې تحالف جاري کیږي.

**فائده** :دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لمافی الدّرالمختار:ولاتحالفافی قدربدل کتابة لعدم لزومها(الدّرالمختارعلی هامش ردّالمحتار:۳/ ۳۸۰)وفی مجمع الانهر:والقول للعبدمع یمینه لانکاره الزیادة وان اقام احدهمابینة قبلت وان اقامافبینة المولی اولی لاثباتهاالزیادة(مجمع الانهر:۳/۳٦۷)

(۱۰)قوله اوفی رأس المال الخ ای اواختلف رب السلم والمسلم الیه فی قدررأس المال الخ،یعني په بیع سلم کې له اقاله وروسته درب السلم اومسلم الیه په رأس المال کې سره جنجال شوربّ السلم زیات مقداریادوي اومسلم الیه په کم مقدارقائل دی نوله دواړوڅخه قسم نه اخیستل کیږي بلکې دمسلم الیه قول له قسم سره معتبربږي ځکه ربّ السلم دزیات مقدارمدعی دی اومسلم الیه دهغه منکردی اودګواهانو دنیستي په صورت کې دمنکرقول سره له قسم معتبردی،دمصنف رحمه الله قول :لم یتحالفا،په ماقبل کې له مذکورعبارت :له وان اختلفافی الاجل څخه بیاتر(وفی رأس المال الخ)پوري ترټولومسائلوتعلق لري.

(۱۱)اوکه دبیع له ماتولووروسته دبائع اومشتري دثمن په مقدارکې سره جنجال شومثلا مشتري یوزریادوي اوبائع دپنځه سوه مدعي دی نوکه ددواړوګواهان نه وونوله دواړوڅخه دی قسم واخیستل شي اواقاله دي ردکړي لومړی بیع ته راګرځي یعني ددویّ په اقاله سره بیع له منځه نه ځي بلکې بیع هم هغسې پاتې ده حتی چې دبائع حق په هغه ثمن پوری معلق شي چې مشتري بائع ته ورکړي وي اودمشتري حق په هغه

مبيع پوري معلق شي كومه مبيع چې دمشتري په قبض كې ده وجه يې داده چې په مطلق بيع كې دمبيع تر قبض كولومخكې كه چيرته دمتبايعانو ترمنځ جنجال راغى نوله دواړو څخه قسم اخيستل دقياس مطابق دى ځكه هريو مدعي هم دى اومنكرهم دى نوپه اقاله كې هم كه چيرته له اقاله وروسته بائع مبيع قبض كړې نه وه نوله دواړو څخه قسم اخيستل دقياس مطابق دى اوچې كله له دواړو څخه قسم واخيستل شي نو اقاله فسخ كيږي ځكه نولو مړى بيع ته راګرځي .

(۱۲) وَلَوِ اخْتَلَفَا فِي الْمَهْرِ قُضِيَ لِمَنْ بَرْهَنَ (۱۳) وَإِنْ بَرْهَنَا فَلِلْمَرْأَةِ (۱۴) وَإِنْ عَجَزَ تَحَالَفَا وَلَمْ يُفْسَخِ النِّكَاحُ بَلْ يُحَكَّمُ مَهْرُ الْمِثْلِ فَقُضِيَ بِقَوْلِهِ لَوْ كَانَ كَمَا قَالَ أَوْ أَقَلَّ وَبِقَوْلِهَا لَوْ كَانَ كَمَا قَالَتْ أَوْ أَكْثَرَ وَبِهِ لَوْ بَيْنَهُمَا (۱۵) وَلَوِ اخْتَلَفَا فِي الْإِجَارَةِ قَبْلَ الِاسْتِيفَاءِ تَحَالَفَا (۱۶) وَبَعْدَهُ لَا وَالْقَوْلُ لِلْمُسْتَأْجِرِ (۱۷) وَالْبَعْضُ مُعْتَبَرٌ بِالْكُلِّ .

**ترجمه** :كه دښځې او خاوند په مهر كې اختلاف شو نو فيصله دهغه چا په حق كې كيږي چې ګواهان ولري او كه دواړو ګواهان پيش كړل نو دښځې په حق كې فيصله كيږي او كه دواړه له ګواهانو څخه عاجز شول نو دواړه دي قسم واخلي او نكاح نه فسخ كيږي بلكې فيصله په مهرمثل كيږي يا فيصله دخاوند پر قول كيږي كه چيرته مهرمثل دومره وو چې خاوند يې دعوه لري يا تر هغه كم وو او فيصله كيږي دښځې پر قول كه چيرته مهرمثل دومره وو څومره چې ښځه يې دعوه كوي يا تر هغه زيات وو او په مهرمثل سره كه ددوئ ترمنځ وو او كه دواړو اختلاف سره وكړ په اجاره كې تر نفع حاصليدو مخكې نو دواړه دي قسم واخلي او تر نفع اخيستلو وروسته نه، او قول دمستاجر معتبر يږي او بعض قياس دى پر كل باندي .

**تشريح** :(۱۲) كه دخاوند او ښځې په مهر كې اختلاف سره راغى خاوند دعوى وكړه چې ماله دغې ښځې سره په زر درهمه نكاح كړې ده او ښځې دعوى وكړه چې په دوه زره درهمه تازه په نكاح كړې يم نو له دوئ څخه چې كوم يو دخپلې دعوى مطابق ګواهان قائم كړي وي دهغه ګواهان قبليږي ځكه هغه خپله مدعى مدلله كړه .

(۱۳) او كه زوجينو هريوه پر خپله دعوى باندي ګواهان قائم كړل نو دښځې ګواهان قبليږي ځكه ښځه دزيات مقدار دعوى كوي نو دښځې په ګواهانو سره زيادت ثابتيږي نو ځكه ددې ګواهان معتبريږي، خو دښځې ګواهان هغه وخت معتبريږي چې كله مهرمثل تر هغه مقدار كم وي دكوم مقدار چې ښځه دعوى كوي ځكه په دې وخت كې دښځې ګواهان خلاف ظاهر ثابتوي او كوم چې خلاف ظاهر ثابتوي هم هغه اولى دى او كه چيرته مهرمثل له هغه سره برابر وو چې ښځه يې دعوى كوي يا تر هغه زيات وو نو په دغو دواړو صورتونو كې دخاوند ګواهان معتبريږي .

(۱۴) كه له زوجينو څخه هريو دګواهانو څخه عاجز شول نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد له دواړو څخه قسم اخيستل كيږي او نكاح نه فسخ كيږي ځكه دتحالف اثر يوازې دومره دى چې ددواړو دعوى باطله شوه او مهر نه دى بيان شوى چې دهغه څخه دنكاح په صحيح كيدو كې هيڅ خلل نه واقع كيږي ځكه چې مهر په نكاح كې تابع وي، خو چې كله مهر نه دى بيان شوى نو دهغې ښځې لپاره په مهرمثل سره حكم كيږي نو كه مهرمثل دومره وو په كوم سره چې خاوند اقرار كړى دى يا تر هغه كم وو نو په څومره چې خاوند اقرار كړى دى په

هغه باندي حكم كيږي ولى ظاهر حال دخاوند شاهددى اوكه مهرمثل دومره وي څومره چې ښځې دعوى كړې ده ياترهغه زيات وي نوپه څومره چې ښځې دعوى كړې ده په هغه قدرحكم كيږي ولى ظاهردښځې لپاره شاهددى اوكه مهرمثل درميانه اندازه وي يعني دخاوندتراقراري مهرزيات اودښځې تردعوى كم وي نودښځې لپاره په مهرمثل سره حكم كيږى ولى چې كله دواړو قسم واخيست نونه ترمهرمثل زيات اونه كم ثابت شو ځكه په مهرمثل سره حكم كيږي.

(۱۵)كه په عقداجاره كې دموجراومستاجردمعقودعليه دمنافعوتر حاصليدو مخكې سره اختلاف شو مثلاموجروايې چې مادامرىي تاته ديوې مياشتې لپاره په دوه سوه روپۍ دركړى وواو مستاجروايې چې په سل روپۍ دي راكړى وونودواړه به قسم اخلي اوعقدبه فسخ كيږى ځكه اجاره دبيع په شان عقدمعاوضه ده اوقابل فسخ ده نولكه بيع مخكې ترقبض دمبيع چې كوم حكم لري هغه حكم دا جاري هم دى. كمامر.

(۱۶)قوله وبعده لااى لواختلف الموجروالمستاجربعداستيفاء المعقودعليه لايتحالفان، يعني كه كل معقودعليه يعني دمنافعوتر حاصلولووروسته ددواړو اختلاف شونوپه اجماع سره به دواړه قسم نه اخلي اوقول دمستاجرقبليږي، دشيخينو رحمهما الله په نزدخوځكه چې ددوئ په نزددمعقودعليه هلاكيدل دتحالف مانع دى، دامام محمد رحمه الله په نزدبه هم قسم نه اخلي ځكه امام محمد رحمه الله چې دمبيع تلف كيدل دتحالف مانع نه ګڼي هغه پردې بناء چې دمبيع قيمت دمبيع قائم مقام كيږي اوپرهغه قيمت باندي دواړه قسم اخلي،پاتې شوه اجاره په هغې كې دتحالف په صورت په لازمي ډول عقداجاره فسخ كيږي اودلته هيڅ قيمت هم نشته چې هغه قائم مقام وګڼل شى ځكه چې دمنافع قيمت دعقدپه واسطه تر لاسه كيږي اودتحالف په وجه عقدنه پاتيږى نوقيمت هم نه پاتيږى نومبيع په هراعتبارسره له منځه ولاړه اودتحالف امكان نه شوپاتى،نوچې كله له دواړو څخه قسم اخيستل ممكن نه شونوقول دمستاجرسره له يمين معتبريږى ځكه چې مدعى عليه هم دى دى يعني پرده باندي دزيات اجرت دعوى ده.

(۱۷)اوبعض پركل باندي قياس دى نوچې مستاجرڅومره اندازه منافع حاصلې كړې دي هغه دتحالف لپاره مانع دي اوڅومره چې باقى دى په هغوكې تحالف جاري كيږي اودبعضو منافع دحاصلولوپه صورت كې څرنګه چې بعض نورې منافع مستاجرنه دي قبض كړي نودواړه به قسم اخلي اوعقدبه فسخ كيږي داځكه چې په عقداجاره كې عقدساعةً په ساعةً منعقدكيږي نودمنفعت هرجزء داسې دى ګواكې پرهغه باندي عقدنوى شوى دى نوڅومره منافع چې ده حاصلې كړې دي په هغوكې دتحالف ممنوع كيدل مستلزم نه دى چې په مابقى كې به هم ممنوع وي،اوكومې منافع چې ده حاصلې كړې دي په هغوكې دمستاجرقول سره له يمينه معتبر دى ځكه هغه منكردى.

(۱۸)وَاِنِ اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي مَتَاعِ الْبَيْتِ فَالْقَوْلُ لِكُلٍّ مِنْهُمَا فِيمَا صَلَحَ لَهُ (۱۹)وَلَهُ فِيمَا صَلَحَ لَهُمَا (۲۰)فَإِنْ مَاتَ أَحَدُهُمَا فَلِلْحَيِّ (۲۱)وَلَوْ أَحَدُهُمَا مَمْلُوكًا فَلِلْحُرِّ فِي الْحَيَاةِ وَلِلْحَيِّ فِي الْمَوْتِ

**ترجمه**: او که خاوند او ښځې اختلاف سره وکړ د کور په سامان کې نو د هر يوه قول معتبر يږي په هغه کې چې د هغه لائق وي، او د خاوند په هغه کې چې د دواړو لائق وي بيا که يو مړ شي له دوئ نه نو د ژوندي لپاره کيږي او که له دواړو څخه يو مملوک وو نو د آزاد لپاره کيږي په ژوند کې او د ژوندي لپاره کيږي د مرګ په صورت کې.

**تشريح**: (۱۸) که د زوجينو (خاوند او ښځې) ترمنځ د کور په سامان کې اختلاف راغی نو کوم شيان چې له نارينه وُسره لائق وي د هغو په باره کې د خاوند قول سره له يمينه معتبر يږي لکه پګړی، جبّه، سلاح وغيره ځکه په دغو شيانو کې ظاهر حال د خاوند شاهد دی، او کوم شيان چې د ښځو لائق وي نو په هغو کې د ښځې قول سره له يمينه معتبر يږي لکه ګيڼې، زيورات وغيره ولې په هغو شيانو کې ظاهر حال د ښځې شاهد دی.

(۱۹) او کوم شيان چې د دواړو لائق وي لکه لوښي، فرش نقود وغيره نو په هغو کې د خاوند قول سره له يمينه معتبر يږي ځکه ښځه سره له خپل مقبوض د خاوند په قبضه کې دي او قاعده داده چې کله له دوو دعوی کوونکو څخه مدعی به د کوم يوه په لاس کې وي نو د هغه په باره کې د قابض قول معتبر يږي.

(۲۰) که له زوجينو څخه يو مړ شي او د هغه وارثان د هغه بل (يعنې ژوندي) سره اختلاف وکړ نو کوم شيان چې د دواړو لائق وي هغه ټول د ژوندي کيږي له دواړو نه چې هر يو ژوندی وي ځکه د مړه قبض معتبر نه دی نو د ژوندي قبض بلا معارض پاتی شو ځکه نو د هغه قول معتبر يږي، دا د امام ابو حنيفة رحمه الله قول دی.

**فائده**: امام ابو يوسف رحمه الله فرمايي چې هغه شيان چې داود ښځې يې په جوړه کې راوړي هغه دي ښځې ته ورکړل شي او په باقی کې د زوج قول له يمينه سره معتبر يږی ځکه ظاهر داده چې ښځې جوړه راوړي او دا ظاهر په نسبت و هغه ظاهری قبض د خاوند ته زيات قوي دی نو له دي وجهې څخه د خاوند ظاهری قبض ماتيږی، بيا چې باقی څه پاتی شول په هغو کې د خاوند ظاهری قبض هيڅ معارض نشته نو د هغه ظاهري قبض معتبر يږي.

**فائده**: د امام ابو حنيفة رحمه الله قول معتبر دی لما في الدر المختار: وان مات احدهما واختلف وارثه مع الحي في المشكل الصالح لهما فالقول فيه للحي ولو رقيقا.......... فالقول للحي في الموت لان يد الحر اقوى ولا يد للميت (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۳/۳۸۲)

(۲۱) او که له دواړو څخه يو مريی وونو که دواړه ژوندي وونو سامان حر ته ورکول کيږي ځکه د حر قبض په نسبت و مملوک ته زيات قوي دی ځکه د حر قبضه د مِلک قبض دی چې د مريي قبض د مِلک قبض نه دی، او که يو مړ شونو چې کوم يو ژوندی وي سامان هغه ته ورکول کيږي که حر ژوندی وو او که مريی ژوندی وو، ځکه د مړي قبض د مرګ په وجه سره ختميږي نو د ژوندي د قبض هيڅ معارض او مقابل نه پاتيږي.

## فصل

دا فصل د هغو خلکو په بيان کې دی چې خصم نه وي، ځرنګه چې دا بحث د کتاب الدّعوی دی په دې کې د هغو خلکو بيان اصل دی چې خصم دي ځکه نو هغه خلک چې خصم نه دي مصنف رحمه الله د هغو بيان وروسته کړی دی.

(۱) قال المدعی علیه هذا الشیء اودعنیه او اجرنیه او اعارنیه فلان الغائب او رهنه او غصبته منه وبرهن علیه دفعت عنه خصومة المدعی (۲) وان قال ابتعته من الغائب (۳) او قال المدعی غصبته (۴) او سرق منی وقال ذو الید اودعنیه فلان وبرهن علیه لا (۵) وان قال المدعی ابتعته من فلان وقال ذو الید اودعنیه فلان ذالک سقطت الخصومة

**ترجمه**: مدعی علیه وویل چې دا شی ماته امانت راکړی دی یایې په کرایه راکړی دی یایې عاریة راکړی دی فلان غائب یاهغه ماته رهن (ګرو) ایښی دی یامالہ هغه شخه غصب کړی دی او پردي باندي یې ګواهان پیش کړل نو دفع دي کړای شي له هغه شخه خصومت د مدعي، او که یې وویل چې ما اخیستی دی له غائب شخه یا مدعي ورته وویل چې تا غصب کړی دی یا دي غلا کړی دی له ما شخه او قابض وویل چې ماته فلان امانت راکړی دی او پردي باندي یې ګواهان هم پیش کړل نو نه دفع کیږي، او که وویل مدعي چې ما اخیستی دی له فلان چې شخه او قابض وویل ماته فلان امانت راکړی دی نو ساقطیږي خصومت.

**تشریح**: (۱) که مدعی پر قابض باندي دیوشی دعوی وکړه او مدعی علیه په جواب کې ورته وویل چې داشی (مدعی به) له ماسره د فلان غائب سرې امانت پروت دی، یا فلان غائب ماته په رهن ایښی دی یا داشی ماله فلان غائب شخه غصب کړی دی او مدعی علیه پر خپل دې قول باندي ګواهان هم قائم کړل نو له مدعی علیه شخه دي د هغه مدعي خصومت دفع کړای شي یعني د مدعي او هغه قابض ترمنځ به هیڅ خصومت نه وي ځکه مدعی علیه په بینه سره ثابته کړه چې زما قبضه د خصومت قبض نه دی ځکه چې خصم مالک وي زه مالک نه یم.

**فائده**: امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې دا حکم هغه وخت دی چې قابض یو نیک او صالح سړی وي او که حیله ګر سړی وو نو بیا له هغه شخه خصومت نه دفع کیږي مثلاً پریوه سړي باندي د خلکو قرضې دي قرض غوښتونکو وغوښته چې د هغه په مال باندي دعوی وکړي خپل حق وصول کړي هغه دا حیله وکړه چې خپل مال یې یو مسافرته په پټه ورکړ او مسافر دوو ګواهانو په وړاندي دامال د امانت په ډول دي حیله ګرته ورکړ هغه مسافر ولاړی او س حیله ګر په ګواهانو سره دا ثابتوي چې دا مال زمانه دی بلکې د فلان غائب سړي امانت دی په دې ډول هغه د قرض غوښتونکو له دعوی شخه خلاصیږي، نو امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې د داسي مکارانو شخه قاضي د دې تهمت په وجه خصومت نه لیري کوي لمافی مجمع الانهر: وقال ابویوسف رحمه الله فیمن عرف بالحیل لاتندفع وبه یوخذ فی القضاء والفتوی واختاره فی المختار والاختیار ان المدعی علیه ان کان صالحا کماقال الامام وان کان معروفا بالحیل لم تندفع عنه لانه قد یاخذ مال الغیر غصبا ثم یدفع سرا الی من یرید ان یغیب (ملتقی الابحر مع مجمع الانهر: ۳/ ۳۷۰) وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: وقال ابویوسف رحمه الله فیمن عرف بالحیل لاتندفع وبه یوخذ فی القضاء والفتوی واختاره فی المختار والاختیار (الدر المنتقی ۳/ ۳۷۰)

(۲) او که مدعی علیه وویل چې داشی ماله فلان غائب شخه اخیستی دی نو مدعي خصم جوړیدلای شي ځکه چې کله هغه د ملک دعوی وکړه نو د هغه قبض د خصومت قبض دی نو دا د هغه د طرف شخه د خصم کیدو اقرار دی.

(۳)که مدعی وویل چې داشی تاله ماځخه غصب کړی دی نوله مدعی علیه ځخه خصومت نه دفع کیږي که ځه هم هغه پردې باندې ګواهان پیش کړي چې داشی فلان ماته ودیعت ایښی دی ځکه چې قابض خصم جوړشوپه دې چې پرهغه باندې دفعل غصب دعوی ده هغه دځپل قبض په وجه خصم نه دی جوړشوی نو ځکه له هغه ځخه خصومت نه دفع کیږی .

(۴)اوکه مدعي وویل چې داشی له ماځخه غلاشوی دی اوپرځپله دې دعوی یې ګواهان قائم کړل اومدعي علیه وویل چې داخوماته فلان سړي امانت ایښی دی اوهغه هم پرځپله دغه دعوی باندې ګواهان قائم کړل نوله هغه ځخه خصومت نه دفع کیږي ،دادشیخینو رحمهما الله قول دی دلیل یې دادی چې دغلافعل غواړي چې یوغلاکوونکی وي اوظاهره ده چې غلاکوونکی هغه ځوک دی چې په لاس کې یې داشی موجودوي لیکن مدعی دشفقت له مخي له هغه ځخه دحددفع کولولپاره داسې ښکاره ورته ونه ویل چې تاغلاکړی دی نو ځکه له مدعی علیه ځخه خصومت نه دفع کیږي .

(۵)که مدعی وویل چې ماداشی له فلان ځخه اخیستی دی اوقابض وویل چې داشی هغه ماته امانت ایښی دی نوبغیردګواهي له مدعی علیه ځخه خصومت ساقطیږي ځکه چې کله دواړه پردې باندې اتفاق شول چې په دغه شي اصل ملک دمدعی علیه ځخه ماسوادبل چادی نودمدعی علیه قبض دخصومت قبض نه دی ځکه مدعی علیه مالک نه دی نو خصم هم نه کیږي .

## بَابُ مَا يَدَّعِي الرَّجُلَان

داباب دی پریوه شي ددووکسانودعوی کولوپه بیان کې

مصنف رحمه الله تردې مخکی پریوه شي باندې دیوه سړي ددعوی احکام ذکرکړل اوس له دې ځای ځخه پریوه شي باندې ددووکسانوددعوی احکام ذکرکوي وجه دتاخیریې داده چې دوه خوطبعًاتریوه مخکي وي ځکه یې وضعًاهم موخرکړچې وضع اوطبع سره موافق شي .

(۱) بَرْهَنَا عَلَى مَا فِي يَدِ آخَرَ قُضِيَ لَهُمَا (۲) وَعَلَى نِكَاحِ امْرَأَةٍ سَقَطَا وَهِيَ لِمَنْ صَدَّقَتْهُ أَوْ سَبَقَتْ بَيِّنَتُهُ (۳) وَعَلَى الشِّرَاءِ مِنْهُ لِكُلٍّ نِصْفُهُ بِبَدَلِهِ إِنْ شَاءَ (۴) وَبِإِبَاءِ أَحَدِهِمَا بَعْدَ الْقَضَاءِ لَمْ يَأْخُذِ الْآخَرُ كُلَّهُ (۵) وَإِنْ أَرَّخَا فَلِلسَّابِقِ وَإِلَّا فَلِذِي الْقَبْضِ .

**ترجمه** :دووکسانوپرهغه شي باندې ګواهان پیش کړل چې ددریم چاپه لاس کې وونوفیصله ددواړو لپاره کیږي اوکه یې ګواهان پیش کړل دیوې ښځې پرنکاح باندې نودواړه ګواهان ساقطیږي دهغه چاکیږي دچاچې ښځه تصدیق وکړي یادچاپینه چې مخکې وي اوکه یې ګواهان پیش کړل له دریم ځخه په اخیستلوباندې نودهریوه لپاره نصف کیږي دهغه دبدل په عوض کې که یې خوښه وه ،اوپه انکاردیوه سره

وروسته تر فيصله به نه اخلي هغه بل تول شي، او كه دواړو تاريخ بيان كړنو د سابق لپاره كيږي كه نه د قابض لپاره كيږي .

**تشريح** :(۱) كه دوو كسانو ديوه خاص شي چې دبل چا په قبضه كې وو دعوى وكړه هريوه ددي دعوى كوله چې داشى زما ملك دى او سبب د ملك او تاريخ يوه هم بيان نه كړ او هريوه پر خپله دعوى باندي ګواهان هم پيش كړل نو قاضي به فيصله وكړي چې داشى ددوئ دواړو مشترك دى، ځكه په حديث شريف كې راغلي دي چې دوو كسانو په يوه اوښه باندي دعوى وكړه او هريوه ګواهان پيش كړل نو نبي كريم ﷺ ددواړو ترمنځ دنصف فيصله وكړه. همدارنګه د استحقاق په سبب كې دواړه برابر دي او محل (مدعى به) اشتراک هم قبلوي نو ځكه د دواړو ترمنځ د تنصيف فيصله كوله كيږي .

(۲) قوله وعلى نكاح امرأة سقطا اى لو برهنا على نكاح امرأة سقطا، يعني كه دوو كسانو هريوه ديوي ژوندى ښځې دنكاح دعوى وكړه او هريوه پرخپله دعوى باندي ګواهان هم قائم كړل نو ددواړو بيّنه ساقطيږي ديوه پر ګواهانو هم فيصله نه كوله كيږي ځكه ديوه ګواهان تر هغه بل اولى نه دي او د دواړو لپاره حكم متعذر دى ولى محل (يعني ښځه) محل داشتراک نه دى چې په يوه وخت كې دي د دواړو ښځه شي، البته د ښځې تصديق ته رجوع كيږي يعني ښځه چې په دوئ دواړو كې دكوم يوه تصديق وكړي دهغه دنكاح حكم كيږي. ولى نكاح داسي شى دى چې دزوجينو دخپل منځي تصديق په وجه دهغه حكم وركول كيږي نو دلته د ښځې پر تصديق باندي حكم وركول كيږي چې ښځه دهغه يوه ده دكوم يوه چې دا تصديق كوي. همدارنګه كه ددواړو ګواهانو تاريخ بيان كړنو چې دكومو ګواهانو تاريخ سابق وي ښځه دهغه كيږي ځكه هغه په داسي وخت كې خپله نكاح ثابته كړه چې په هغه وخت كې دده هيڅ مزاحم نشته نو ثانى مندفع شو .

(۳) قوله وعلى الشراء منه اى لو برهنا على الشراء منه الخ، يعني كه دوو كسانو هريوه پر يو بل چا (قابض) سړي باندي دعوى وكړه چې ما مثلا دا مريى له هغه قابض ځخه اخيستى دى او دواړو پردي باندي ګواهان هم قائم كړل نو ددواړو ګواهان قبليږي او هريوه لره اختيار دى كه يې خوښه وي نو نصف مريى دي په عوض دنصف ثمن واخلي او كه يې نه وي خوښه پري دي ږدي هريوه لره اختيار ځكه وركړل شوى دى چې كيداى شي چې دهريوه مقصد دكامل مريى ملكيت وي دنصف مريي په ملكيت راضي نه وي .

(۴) كه قاضي ددواړو لپاره دنصف نصف مريي فيصله وكړه بيا يوه وويل چې زه نصف نه خوښوم او پري يي ښودنو هغه بل لره اختيار نشته چې هغه پوره مريى واخلي ځكه دقاضي دقضاء په وجه دهريوه عقد په نصف آخر كې فسخ كيږي او قاعده داده چې عقد كله دقاضي دقضاء په وجه فسخ شي نو هغه بلا عقد جديد عود نه كوي او عقد جديد په نصف آخر كې نه دى راغلى نو ځكه هغه لره دنصف آخر د اخيستلو اختيار نشته .

(۵) كه په مذكوره صورت كې هريوه مدعي دخپل خريد تاريخ بيان كړاوله دواړو ځخه ديوه دخريد تاريخ مقدم وو دهغه بل تر تاريخ نو مريى دهغه كيږي چا چې تاريخ مقدم بيان كړى دى ځكه هغه په داسي وخت كې خپل خريد ثابت كړ چې په هغه وخت كې دده هيڅ مزاحم نشته نو ثانى مندفع شو. او كه

دواړوتاريخ بيان نه كړمګرله دواړوڅخه يوه قبض حاصل وونوقابض اولى دى ځكه قبض ددي خبرې دليل دى چې دهغه خريدمخكي شوى دى .

(٦)وَالشِّراءُاحَقُّ مِنَ الْهِبَةِ(٧)وَالشِّراءُوَالْمَهْرُسَواءٌ(٨)وَالرَّهْنُ اَحَقُّ مِنَ الْهِبَةِ(٩)وَلَوبَرْهَنَ الْخَارِجَانِ عَلَى الْمِلْكِ وَالتَّارِيخِ اَوْعَلَى الشِّراءِمِنْ وَاحِدٍفَالْاَسْبَقُ اَحَقُّ(١٠)وَعَلَى الشِّراءِمِنْ اٰخَرَوَذَكَرَاتَارِيخَااسْتَوَيَا .

**ترجمه** :اوخريدترهبه زيات حقداردى اوخريداومهربرابردي.اورهن زيات حقداردى ترهبه اوكه ګواهان وړاندي كړل دووكسانوغيرقابض خلكوپرملک ياپرتاريخ ديوه سړي څخه داخيستلونوسابق زيات حقداردى اوكه دواړوګواهان وړاندي كړل له بل څخه دخريداودواړوتاريخ بيان كړنودواړه برابردي .

**تشريح** :(۶)كه دوومدعيانوديوه دريم سړي په باره كې دعوى وكړه يوه وويل ماله هغه څخه دامريى اخيستى دى هغه بل وويل چې هغه ماته هبه كړى دى اوهريوه ګواهان هم قائم كړل مګرله دواړوڅخه ديوه سره تاريخ نشته نوخريداولى دى ترهبه نوقاضي به دخريدمدعي په حق كې فيصله كوي ولې په خريدكې له جانبينومعاوضه وي اوهبه داسي نه ده همدارنګه شراء بنفسه موجب دملک دى اوهبه له قبض وروسته موجب دملک دى .

(۷)كه له دوومدعيانوڅخه يوه دخريددعوى وكړه مثلاويې ويل چې دامريى ماله فلان څخه اخيستى دى اودوهم مدعي ښځه ده هغه وايي چې هغه سړي له ماسره نكاح كړې ده اودامريى يې زمامهرمقرركړى دى نودادواړه مدعيان برابردي ځكه ددواړودعوى يوډول قوي ده په دي وجه چې له خريداونكاح څخه په هريوه كې له جانبينوڅخه معاوضه ده اوهريوبنفسه موجب ملک دى ،نوچې كله دواړه مدعيان برابردي نوښځې لره نصف مريى كيږي اودنصف مريي دقيمت په باره كې به زوج ته رجوع وكړي.اودوهم مدعي لره كه چيرته هغه وغوښتل نونصف مريى كيږي اودنصف مريې په باره كې به بائع ته رجوع كوي اودتفرق عقدپه وجه كه چيرته هغه غواړي نوبيع فسخ كولاى هم شي .

**فائده** :دامذكورقول دامام ابويوسف رحمه الله دى ،دامام محمد رحمه الله په نزددشراء دعوى اولى ده نوقاضي به دشراء دمدعي لپاره حكم كوي باقي دښځې لپاره دزوج پرذمه دهغه مريې قيمت واجبيږي ځكه په دواړوګواهانوسره عمل كول ممكن دى ولې دغيرپرمملوک مال باندي نكاح كول جائزدى خوداچې دهغه سپارل متعذردى نودهغه قيمت دي وركړل شي نوپه مذكورصورت كې دي دښځې لپاره دهغې پرخاوندباندي دمريې قيمت واجب كړاى شي اودمشتري لپاره دي دخريدحكم وكړاى شي .

**فائده** :دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :قوله وهذاعندابى يوسف رحمه الله الخ قال فى بدرالمنتقى وقول ابى يوسف رحمه الله هوالارجح وعليه اقتصرارباب المتون زادفى التنويرالااذاارخاوسبق تاريخ احدهمافهواحق (هامش الهداية:۳/۲۱۸)

(۸)كه له دواړومدعيانوڅخه يوه درهن (چې داله ماسره درهن په ډول دى ) سره له قبض كولو(چې دازماپه لاس كې دى) دعوى وكړه اوبل دهبه (چې فلان ماته هبه كړى دى)سره دقبض دعوى وكړه نورهن

ترهٔ استحساناً اولی دی یعنې قاضي به درهن حکم کوي ځکه په حکم درهن مقبوض مضمون کیږي او په حکم دهبه مقبوض غیرمضمون وي او مضمون اقوی او اولی دی تر غیرمضمون.

(۹) که دوه خارجي مدعیانو (یعنې داسي څوک چې پر مدعی به باندي قابض نه دي) هریوه پرخپل ملکیت باندي ګواهان قائم کړل او دواړو تاریخ هم بیان کړ مګر تاریخ د دواړو مختلف دی نو چې دکوم یوه تاریخ مقدم دی هغه اولی دی ځکه هغه دا ثابته کړه چې زه لومړی مالک یم نو دده وهم مِلک یواځي دهغه له طرفه کیدای شي حال داچې هغه بل دهغه دطرف نه دملکیت دحاصلولو دعوی نه ده کړې ،یا دوو مدعیانو دیوه غیرقابض شخص څخه دخرید دعوی وکړه او دواړو پر مختلفو تاریخو باندي ګواهان قائم کړل نو لومړی اولی دی ځکه هغه په داسي وخت کې خپل خرید ثابت کړ چې په هغه وخت کې دده هیڅ مزاحم نشته.

(۱۰) که له دواړو مدعیانو څخه هریوه دیوه علیحده شخص څخه پرخرید باندي ګواهان قائم کړل مثلاً یوه وویل ماله زید څخه اخیستی دی او بل وویل چې ماله عمرو څخه اخیستی دی او دواړو تاریخ هم بیان کړ نو دادواړه برابر دي او مدعی به د دواړو تر منځ نصف نصف کیږي ځکه دوئ دواړه دخپل بائع لپاره ملکیت ثابتوي نو داداسي شوه لکه هغه دواړه بائعان چې حاضر وي او هریو پرخپل ملکیت باندي له تاریخ سره ګواهان قائم کړي نو له دواړو څخه هریوه ته دمدعی به نصف حصه په عوض دنصف ثمن دا خیستو او پرې بنودلو اختیار ور کول کیږي.

(۱۱) وَلَوْ بَرْهَنَ الْخَارِجُ عَلٰی مِلْکٍ مُوَرَّخٍ وَتَارِیْخُ ذِی الْیَدِ أَسْبَقُ (۱۲) أَوْ بَرْهَنَا عَلَی النِّتَاجِ (۱۳) أَوْ سَبَبِ مِلْکٍ لَایَتَکَرَّرُ (۱۴) أَوِ الْخَارِجُ عَلَی الْمِلْکِ وَذُوالْیَدِ عَلَی الشِّرَاءِ مِنْهُ فَذُوالْیَدِ أَحَقُّ مِنْهُ (۱۵) وَلَوْ بَرْهَنَ کُلٌّ عَلَی الشِّرَاءِ مِنَ الْآخَرِ وَلَا تَارِیْخَ سَقَطَا وَتُتْرَکُ الدَّارُ لِمَنْ بِیَدِذِی الْیَدِ (۱۶) وَلَا یُرَجَّحُ بِزِیَادَةِ عَدَدِ الشُّهُوْدِ.

**ترجمه**: او که ګواهان قائم کړل غیرقابض پر مِلک مورخ باندي او تاریخ دقابض سابق وو، یا دواړو ګواهان قائم کړل چې دازماد حیوان بچی دی یا د مِلک پر داسي سبب باندي چې نه مکرر کیده یا غیر قابض پر مِلک باندي ګواهان قائم کړل او قابض له هغه څخه پراخیستلو باندي نو قابض زیات حقدار ګرځي ترغیرقابض، او که ګواهان قائم کړل هریوه پر اخیستلو له هغه بل څخه او تاریخ نه وو نو دواړه ساقطیږي او پرېښودل کیږي سرای دقابض په قبضه کې او ترجیح نه ورکول کیږي دګواهانو د تعداد په زیاتولو سره.

**تشریح**: (۱۱) قوله ولوبرهن الخارج الخ، له خپلو معطوفاتو سره شرط دی او (فذوالید احق منه) دهغه لپاره جزاء دی، یعنې که مدعي غیرقابض پرخپل ملکیت باندي ګواهان سره له تاریخ قائم کړل او صاحب الید (قابض) پر ملکیت باندي داسي ګواهان قائم کړل چې تاریخ یې تر اول مقدم دی نو د شیخینو رحمهما الله په نزد د قابض بیّنه اولی دي ځکه دقابض ګواهان پر تقدم مِلک باندي دلالت کوي نو دقابض بیّنه تر غیر قابض اولی دي، دامام محمد رحمه الله په نزد دقابض بیّنه اولی نه دي ځکه د دواړو پر مِلک مطلق باندي قائم دي او یوه هم جهت مِلک ته تعرض نه دی کړی نو تقدم او تاخر برابر یږي نو دیوه بیّنه تر بل اولی نه دي.

**فائده**: دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی لمافي شرح مجلة الاحکام: بينة من تاريخه مقدم اولى في دعوى الملك المؤرخ فيقضي للاسبق سواء كان خارجا او ذايد (شرح مجلة الاحكام: ۵/ ۳۶۳) وفي الدر المنتقى: ولو برهن خارج على ملك مؤرخ وذواليد على ملك اقدم منه فهو اولى خلافا لمحمد في رواية والاول اصح (الدر المنتقى: ۳/۲۷۷)

(۱۲) که غیر قابض او قابض دواړو هریوه پر نتاج (یعنې هریوه دعوی وکړه چې مدعی به زما په ملک کې له مملوک شي څخه پیدا شوی دی) باندي ګواهان قائم کړل نو د قابض ګواهان اولی دي یعنې قاضي باید د قابض په حق کې فیصله وکړي ځکه پر کوم شي چې د غیر قابض ګواهان دال دي پر هغه باندي د قابض بیّنه هم دال دي مزید پر هغه د قابض ګواهانو ته د قبض په وجه ترجیح حاصله ده نو فیصله به د هغه په حق کې کیږي دا حکم استحسانا دی وجه د استحسان د حضرت جابر ﷛ روایت دی چې دیوه قابض او یوه غیر قابض سړي دیوې اوښې په باره کې سره دعوی وه نو نبي کریم ﷺ د قابض په حق کې فیصله وکړه.

(۱۳) قوله او سبب ملک لایتکرر ای او برهنا علی سبب ملک لایتکرر، یعنې مذکور نتاج والاحکم دهر داسي سبب ملک هم دی چې نه مکرریږي مثلاً اوون و ودل شیدې لوشل وغیره مثلاً په جوړه شوې کپړه کې قابض وایي چې ما دا پخپل ملک کې رونغه کړې ده او هغه بل وایل چې ما پخپل ملک کې جوړه کړې ده، نو حکم د قابض په حق کې کیږي ځکه په کوم سبب د ملک کې چې تکرار نه وي د هغه په باره کې دعوی کول من کل الوجوه داسي دی لکه د نتاج په باره کې دعوی کول نو د نتاج چې کوم حکم دی هم هغه حکم دهر داسي سبب د ملک دی چې نه مکرریږي.

(۱۴) قوله اوالخارج علی الملک الخ، اوبرهن الخارج علی الملک وذوالید علی الشراء منه الخ، یعنې که غیر قابض مدعي پر مطلق ملک (ملک مطلق هغه دی چې پکې مدعی د ملک دعوی وکړي مګر د ملکیت کوم سبب و نه نیسي چې په کوم سبب زه د هغه مالک یم) باندي ګواهان قائم کړل چې داشي زما ملک دی او قابض ګواهان قائم کړل چې داشي ما د دغه ملک مطلق له مدعي څخه اخیستی دی نو حکم به د قابض په حق کې کیږي ځکه قابض دا ثابته کړه چې زما ملکیت له مدعي څخه حاصل دی نو ګواکي ده د مدعي د ملکیت اقرار وکړ او بیایې له هغه څخه د شراء دعوی وکړه او خپله دا دعوی یې په ګواهانو سره ثابته کړه نو ځکه فیصله د ده په حق کې کیږي. د مصنف رحمه الله د دې قول چې : فذوالید احق منه، تعلق له ماقبل څلورو ذکرشویو مسائلو سره دی.

(۱۵) که له دواړو مدعیانو (چې یو یې قابض او بل خارج دی) نه هریوله هغه بل څخه مثلاً د سرای د اخیستو دعوی وکړه یعنې قابض وویل چې ماله خارج څخه اخیستی دی او خارج وویل چې ماله قابض څخه اخیستی دی او هریوه د خرید د تاریخ له بیانولو بغیر پر خپله دعوی باندي ګواهان قائم کړل نو د شیخینو رحمهما الله په نزد د دواړو ګواهان ساقطیږي ځکه د هریوه له خپل ملکړي څخه د اخیستو اقرار کول د هغه لپاره د ملک شمارل کیږي نو ګواکي د هریوه ګواهان د هغه بل لپاره پر اقرار د ملک باندي قائم دي او په داسي صورت کې په اجماع سره د دواړو ګواهان ساقطیږي نو د متن په صورت کې هم د دواړه ګواهان ساقط شول، او مدعی به سرای علی وجه القضاء نه بلکې امانةً د پخوا په شان د قابض په لاس کې پریښودل کیږي، امام محمد رحمه الله فرمایي چې که مکان دیوه په قبضه کې وو نو د دواړه ګواهان مقبولیږي او سرای

غير قابض ته ورکول کيږي ځکه مذکور صورت ته دا دول تطبيق ورکول کيدای شي چې ممکن قابض سړي له غير قابض څخه اخيستی وي او پر هغه يې قبضه کړي وي بيا يې بيرته پر غير قابض باندي خرڅ کړی وي او هغه قبض کړی نه وي نو په ګواهانو سره دغير قابض لپاره مِلک بلا قبض ثابت شو اوس دي هغه ته حواله کړي چې قبض يې کړي.

**فائده**: دشيخينو رحمهما الله قول راجح دی لمافي الدر المختار: وان برهن کل من الخارجين او ذوی الايدی او الخارج وذی اليد علی الشراء من الآخر بلا وقت سقطا وترک المال المدعی به في يدمن معه وقال محمد رحمه الله يقضی للخارج قلنا الاقدام علی الشراء اقرار منه بالملک له ولو البتا قبضا تهاترتا اتفاقا (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۳/۴۹۰)

(۱۶) يعني ديوه دګواهانو په زياتيدو سره دهغه دعوی ته ترجيح نه ورکوله کيږي که له دواړو مدعيانو څخه يوه پر مدعی به باندي دوه ګواهان قائم کړل او بل څلور ګواهان پيش کړل نو دا دواړه برابر دي دڅلورو ګواهانو والا ته ترجيح نه ورکوله کيږي ځکه دهر يوه لپاره دثبوت دمدعی لپاره علت تامه دی او ترجيح قوة علت لره ده کثرت علل لره نشته.

(۱۷) دار في يد آخر ادعی رجل نصفها وآخر کلها وبرهنا فللاول ربعها والباقي للآخر (۱۸) ولو کانت في ايديهما فهي للثاني (۱۹) ولو برهنا علی نتاج دابة وارخا قضي لمن وافق سنها تاريخه (۲۰) وان اشکل ذالک فلهما (۲۱) ولو برهن احد الخارجين علی الغصب والآخر علی الوديعة استويا.

**ترجمه**: يو سرای ديو چا په قبضه کې دی يوه سړي دعوی وکړه دهغه دنصف او بل سړي يې دکل دعوی وکړه او دواړو ګواهان قائم کړل نو داول لپاره دسرای ربع (څلورمه) کيږي او باقي سرای ددوهم کيږي او که مکان ددواړو په قبضه کې وو نو ددوهم کيږي او که دواړو ګواهان پيش کړل دحيوان پربچې باندي او دواړو تاريخ بيان کړ نو فيصله دهغه لپاره کيږي چې دبچي دعمر دهغه دتاريخ سره موافق وي او که دا مشکل وو نو ددواړو لپاره کيږي او که ګواهان پيش کړل يوه غير قابض پر غصب باندي او بل پر وديعت باندي نو دواړه برابر يږي.

**تشريح**: (۱۷) که يو سرای دچا په قبضه کې وو بيا په هغه باندي دوو مدعيانو دعوی وکړه يوه دنصف مکان دعوی وکړه او بل دټول مکان دعوی وکړه او هر يوه پر خپله مدعی باندي ګواهان قائم کړل نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دنصف مدعي ته يوه څلورمه او دټول مکان مدعي ته دري برخې ورکولې کيږي ځکه مدعي دنصف دبل نصف مدعي نه دی نو دا نصف دکل مدعي ته بلامنازعه ورحواله شو او په هغه بل نصف کې ددواړو مساوي جګړه ده نو هغه ددوی ترمنځ برابر تقسيميږي مدعي دنصف ته يوه څلورمه برخه او مدعي دکل ته دري برخې ورکولې کيږي. صاحبين رحمهما الله فرمايي چې دا سرای دي اثلاثاً تقسيم شي يعني دوه ثلث مدعي کل ته او يو ثلث دي مدعي نصف ته ورکول شي ځکه مدعي دکل ددوو نصفو (يعني دکل) مدعي دی او مدعي دنصف ديوه نصف مدعي دی نو اثلاثاً دي تقسيم کړای شي.

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافي الدرالمختار:داز في يدآخرادعى رجل نصفهاو آخر كلهاو برهنافللاول ربعهاوالباقي للآخر بطريق المنازعة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ۴/ ۴۹۰)وقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :واختاراكثر المشائخ قول امام ابي حنيفة رحمه الله وهو الايسر (هامش الهداية: ۳/ ۲۲۲)

(۱۸)كه په مذكورصورت كښې مكان خپله دمدعيانوپه لاس كښې وونوكل سراى به مدعي دكل ته وركول كيږي ځكه هغه نصف چې دمدعي نصف په قبضه كښې دى پرهغه باندې مدعي دكل قابض نه دى اوګواهان دغير قابض معتبردي نودهغه نصف دمدعي كل په حق كښې كيږي اوباقي نصف خودمدعي كل په قبضه كښې دى ځرنګه چې پرهغه باندې دې دمدعي كل دعوى نشته ځكه نوهغه هم دمدعي كل كيږي.مګرداچې يونصف (چې هغه بل مدعي يې دعويداردى) دقاضي دقضاء په وجه وركول كيږي اوهغه بل نصف بغيردقاضي دقضاء وركول كيږي ځكه په دغه نصف كښې خوهغه مدعي له ده سره دعوى نه ده كړې اوقضاء بغيردعوى نه كيږي نودانصف دقاضي دقضاء بغيروركول كيږي.

(۱۹)كه دووكسانوپه يوه حيوان كښې (كه هغه ددواړوپه قبضه كښې وي يادیوه په قبضه كښې وي يادريم چاپه قبضه كښې وي) تنازع راغله اوهريوه ګواهان قائم كړل چې داحيوان له ماسره زمادمملوك حيوان ځخه پيداشوى دى اودواړو دپيدائش مختلف تاريخونه هم بيان كړل اودحيوان عمرپه دې دوو تاريخونوكښې ديوه سره موافق دى نودحيوان عمرچې دچاد تاريخ سره موافق دى هغه اولى دى ځكه ظاهرحال دهغه دګواهانوپرصدق باندې دلالت كوي.

(۲۰)كه دحيوان دعمرموافقت له يوه تاريخ سره معلوم نه ووبلكې مشتبه وونوكه دواړه قابض وويادريم سړى قابض وونوحيوان ددوئ ترمنځ مشترك كيږي اوكه يوقابض وونودهغه په حق كښې فيصله كيږي ځكه داداسې شوګواكې دواړوتاريخ نه دى بيان كړى.

(۲۱)كه يوشى دچاپه قبضه كښې وو.دوومدعيانوپه هغه باندې دعوى وكړه يوه يې پردې باندې ګواهان قائم كړل چې قابض له ماځخه داشى غصب كړى دى اوهغه بل په ګواهانوسره داثابته كړه چې داشى ماته قابض دامانت په ډول راكړى دى نودواړه مدعيان برابردي اومدعى به ددواړوترمنځ نصف نصف تقسيميږي ځكه دوهم چې دوديعت دعوى كړې ده نوځرنګه چې مودع دهغه منكرذى اوله وديعت ځخه انكارغصب ګڼل كيږي نودواړه مدعيان په سبب استحقاق كښې سره برابردي اوپه سبب استحقاق كښې برابروالى په نفس استحقاق كښې دبرابروالي موجب دى.

(۲۲)والراكب واللابس احق من آخذاللجام والكم (۲۳)وصاحب الحمل والجذوع والاتصال احق من الغير (۲۴)ثوب في يده وطرفه في يدآخر نصف (۲۵)صبي يعبر عن نفسه فقال اناحر فالقول له (۲۶)وان قال اناعبدلفلان اولايعبر عن نفسه فهو عبدلمن في يده.

**ترجمه** :اوپرحيوان باندې سپوراوجامه آغوستونكي زيات حقداردى ترقيضه نيوونكي اولستوني نيوونكي اودبارمالک اودستکو والااواتصال والازيات حقداردي ترغير.يوه كپړه ده ديوچاپه لاس كښې ده اودهغى بل طرف دبل چاپه لاس كښې دى نونصف نصف كيږي يوماشوم دى خپل حال بيانولاى شي ويې ويل

چې زه آزاديم نودده قول معتبرېږي اوکه يې وويل چې زه مريى يم دفلان يايې خپل حال نه شو بيانولاى نودى مريى دى دهغه چاچې په قبضه کې يې دى .

**تشريح** :(۲۲)که ددووکسانوپه يوه حيوان کې سره دعوى شوه اوله دواړوڅخه يوپرهغه باندې سپوروواوهغه بل يې قيضه نيولې وه نوهغه چې پرې سپوردى هغه اولى دى يعنې قاضي به دسواره په حق کې فيصله کوي ځکه دهغه تصرف زيات دى ظاهره ده چې په يوشي کې تصرف کول دهغه دمالک کيدوعلامه ده همدارنګه که ددووکسانوپه يوه قميص کې سره دعوى شوه اوله دوئ څخه يوه قميص اغوستى وواوهغه بل يې لستونى نيولى دى نواغوستونکى اولى دى ځکه له دواړوڅخه داغوستونکي تصرف زيات دى البته که هغه بل ګواهان پيش کړل نوبياهغه اولى دى ځکه ګواهان دخارج معتبرېږي .

(۲۳)همدارنګه که دووکسانوپه يوه اوښ کې دعوى سره وکړه چې پرهغه باندې ديوه مدعي بارباړشوى دى اوهغه بل اوښ ترمهارنيولى دى نومهارنيوونکى دبارترخاونداولى دى ځکه دبار خاوندمتصرف دى همدارنګه که ددووکسانوپه يوه داسي ديوال کې سره دعوى شوه چې پرهغه باندې ددوئ څخه ديوه تيران پراته وونودتيرانووالازيات حقداردى ځکه هغه متصرف دى ،همدارنګه که ددووکسانوپه يوه داسي ديوال کې سره دعوى شوه چې له دوئ څخه ديوه په سراى پوري متصل وويعنې دمتنازع ديوال خښتې دهغه په ديوال پسې پيوستې وي دي ته اتصال تربيع وايې نوددغه ديوال زيات حقدارصاحب اتصال دى ځکه اتصال تربيع دملک علامه ده .

(۲۴)که يوه کېږه دچاپه قبضه کې وه دهغې يوه کناره دبل چاپه لاس کې وه نودادواړوکېږه ددغو دواړوترمنځ په نصف تقسيمېږي ځکه په کېږه کې قبضه ددواړوثابته ده البته ديوه قبضه ډيره ده دهغه بل داکمه ده اودا خبره مخکې تيره شوه چې کثرت لره ترجيح نشته بلکې قوة لره ترجيح ده نوددواړوبرابرحق شته ځکه کېږه ددواړوترمنځ برابره تقسيمېږي .

(۲۵)يوداسي ماشوم له يوچاسره دى چې خپل حال سم بيانولاى شي اوس هغه هلک وايې چې زه آزاديم دچامريى نه يم اوله چاسره چې دى هغه وايې چې دازمامريى دى نودهلک قول معتبرېږي ځکه دادول ماشوم دخپل ځان په قبضه کې دى دبل قابض قبضه پرده باندې نه ده معتبره نوچې کله دى دهغه مدعي دمريتوب څخه انکارکوي نودمدعي قول نه قبليږي .

(۲۶)اوکه يوماشوم وويل چې زه دفلان مريى يم يعنې دقابض څخه سوادبل چانوم يې واخيست اوقابض دعوى وکړه چې دازمامريى دى نوداهلک دهغه چامريى ګڼل کيږي دچاچې په قبضه کې دى ځکه هغه دااقراروکړچې دهغه ذاتي قبضه هيڅ نشته ولى هغه دخپل ځان دمريتوب اقراروکړنودقابض قبض نه اعتباروکړل کيږي دهغه مريى ګڼل کيږي اوکه ماشوم داسي ووچې له خپل ځان څخه يې تعبيرنه شوکولاى يعنې خپله يې خپل حال نه شو بيانولاى نوهغه دهغه چامريى ګڼل کيږي دچاچې په قبضه کې دى ځکه دهغه خپل ذاتي قبض نشته ځکه چې هغه له خپل ځان څخه تعبيرنه شي کولاى نوهغه په منزله داسبابودى چې دچاپه قبضه کې دى دهغه ملک شمارل کيږي ځکه دهغه هيڅ مزاحم اومعارض نشته .

(۲۷) عَشَرَةُ أَبْيَاتٍ مِنْ دَارٍ فِي يَدِهِ وَبَيْتٌ فِي يَدِ آخَرَ فَالسَّاحَةُ نِصْفَانِ (۲۸) اِدَّعَى كُلٌّ أَرْضًا أَنَّهَا فِي يَدِهِ وَبَرْهَنَا قُضِيَ أَنَّهَا فِي أَيْدِيهِمَا وَلَوْ بَرْهَنَ أَحَدُهُمَا أَوْ لَبِنَ فِيهَا أَوْ بَنَى أَوْ حَفَرَ فَهِيَ فِي يَدِهِ كَمَا لَوْ بَرْهَنَ أَنَّهَا فِي يَدِهِ.

**ترجمه**: دسراى لس خونې ديو چا په قبضه كې دى او يوه خونه يې دبل چا په قبضه كې ده نو دسراى ميدان به نصف نصف وركول كيږي، هريوه دځمكې دعوى وكړه چې دا زما په قبضه كې ده او له دوئ څخه يوه يا خښتې پكې جوړې كړې وي يا يې په هغه ځمكه كې آبادي كړې وه يا يې كڼدى پكې كندلى وو نو ځمكه دهغه په قبضه كې شمارله كيږي لكه چې هغه ګواهان پيش كړي چې دا زما په قبضه كې ده.

**تشريح**: (۲۷) كه په يوه سراى كې يو ولس (۱۱) خونې وي له هغو څخه لس ديو چا په قبضه كې وي او يوه دبل چا په قبضه كې وي نو ياددغو دوو كسانو دسراى په ميدان كې سره دعوى شوه نو ميدان به ددواړو ترمنځ مساوي مشترک وي ځكه ميدان دهغوئ دواړو دتيريدو ځاى دى اودتګ راتګ په اعتبار سره بلكې دنورو ضروريا تو په اعتبار سره هم ددوئ دواړو په استعمال كې برابر دى نو ددواړو ترمنځ برابر تقسيميږي.

(۲۸) ديوې ځمكې په باره كې ددوو مدعيانو څخه دهريوه دا دعوى وه چې دا ځمكه زما په قبضه كې ده او حال دا چې له دوئ دواړو څخه يوه په دغه ځمكه كې خښتې جوړې كړې وي يا يوه په هغې كې آبادي كړې وه يا يې په هغې كې څاه كندلى وو يا يې دغسې يو كڼدى كندلى وو نو دا ځمكه دهغه په قبض كې شمارله كيږي ځكه دهغه په دغه ځمكه كې آبادي وغيره كول ددې خبرې علامه ده چې پردغه ځمكه ددې سړي قبضه ده دا لكه له دوئ دواړو څخه چې يو پردې باندې ګواهان پيش كړي چې دا ځمكه زما په قبضه كې ده نو دهغه په قبضه كې ګڼله كيږي ځكه حجت قائم شو.

### باب دعوى النسب

### داباب ددعوى نسب په بيان كې دى

تردې مخكې مصنف رَحِمَهُ اللّٰه دمالونو ددعوى احكام ذكر كړل اوس دلته ددعوى نسب احكام ذكر كوي ځرنګه چې دمالونو ددعوى دكثرت وقوع په وجه سره اهم وُو ځكه يې هغه مخكې ذكر كړل اودعوى نسب يې ترهغه وروسته ذكر كړل.

دَعوة په فتح ددال سره دخوراک لپاره دراغوښتلو په موقع استعماليږي اودِعوة ددال په كسره سره دنسب ددعوى په موقع استعماليږي اودُعوة په ضمه ددال سره جهادته دبلنې په موقع استعماليږي.

(۱) وَلَدَتْ مَبِيعَةٌ لِأَقَلَّ مِنْ مُدَّةِ الْحَمْلِ مُذْ بِيعَتْ فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ فَهُوَ ابْنُهُ وَهِيَ أُمُّ وَلَدِهِ وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ وَيُرَدُّ الثَّمَنُ (۲) وَإِنِ ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي مَعَهُ أَوْ بَعْدَهُ (۳) وَكَذَا إِنْ مَاتَتِ الْأُمُّ (۴) بِخِلَافِ مَوْتِ الْوَلَدِ (۵) وَعِتْقُهُمَا كَمَوْتِهِمَا (۶) وَإِنْ وَلَدَتْ لِأَكْثَرَ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ رُدَّتْ دَعْوَةُ الْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهُ الْمُشْتَرِي

**ترجمه**: ديوې خرڅې شوې مينځې ماشوم وزيږيد ترموده حمل په كمه موده كې له هغې ورځې نه چې خرڅه شوې وه بيا بائع دعوى وكړه نو دا ماشوم ددغه بائع زوى ګرځي او مينځه يې امّ ولده ګرځي او بيع فسخ كيږي اوپيسې به بيرته ردوي ک. څه هم دعوى وكړي مشتري له ده سره سم يا ترده وروسته او همدا رنګه كه مړه شوه

مور خلاف د ماشوم له مرګ نه او د دوئ دواړو آزاديدل د دوئ د مرګ په شان دى او كه يې ماشوم وزيږيد تر شپږ مياشتې په زياته موده كې نو د بائع دعوى رديږي مګر دا كه مشتري د هغه تصديق وكړ.

**تشريح**: (۱) كه يو چا خپله مينځه خرڅه كړه بيا د هغې ماشوم پيدا شو او بائع د ماشوم د نسب دعوى وكړه نو ورته وبه ګورو چې كه چيرته د خرڅيدو له وخت نه تر شپږو مياشتو په كمه موده كې دا ماشوم پيدا شوى وو نو دا ماشوم د بائع زوى دى او موريې د هغه اُمّ ولد ده ځكه د بائع په مِلک كې د حمل ثابتيدل د هغه لپاره ظاهره دليل دى چې دا نطفه د بائع څخه ده نو چې كله د نسب دعوى صحيح شوه نو نسبت يې و هغه وخت ته كيږي له كوم تاريخ نه چې نطفه راغلې ده يعني له هغه وخت نه مينځه د هغه اُمّ ولده شمار له كيږي نو ظاهره شوه چې بائع خپله اُم ولد خرڅه كړې ده او د خپلې اُمّ ولد خرڅول ناجائز دى نو بيع دې فسخ كړي او بائع چې كومې پيسې اخيستي دي هغه دې بيرته واپس كړي ولى دا يې ناحقه وصول كړي دي.

(۲) يعنې په مذكور صورت كې نسب د بائع څخه ثابتيږي كه څه هم د بائع د دعوى سره سم يا تر هغه وروسته مشتري هم د دې ماشوم د نسب دعوى كړې وي ځكه د بائع دعوى اسبقه ده ولى د بائع دعوى د نطفې د علوق وخت ته منسوبه ده ځكه چې د بائع دعوى د استيلاد دعوى ده او د مشتري دعوى د تحرير دعوى ده يعنې د ماشوم پرده باندې د آزاديدو دعوى ده ولى حمل خو د مشتري څخه نه دى نو د بائع دعوى اقوى ده د مشتري دعوى ته اعتبار نشته.

(۳) قوله وكذا ان ماتت الام اى وكذا يثبت نسب الولد من البائع ان ماتت الامة وادعاه البائع الخ. يعنې كه د ماشوم مور مړه شوه بيا بائع د ماشوم د نسب دعوى وكړه او حال دا چې هغه تر شپږو مياشتو په كمه موده كې پيدا شوى وو نو د ماشوم نسب ثابتيږي او بائع هغه ورلاى شي ولى د نسب په باره كې ماشوم اصل دى موريې فرع ده نو اعتبار د ماشوم بقاء لره دى ځكه د ثبوت نسب حاجت ماشوم لره دى د مور بقاء ته يې اعتبار نشته نو د مور وفات كيدل د هغه لپاره مضر هم نه دى.

**فائده**: بيا د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد پر بائع باندې كل ثمن واپس كول واجب دى ځكه اوس ظاهره شوه چې بائع خپله ام ولده خرڅه كړې وه او د اُمّ ولد هيڅ قيمت د امام صاحب رحمه الله په نزد نه شي متعين كيداى نه په بيع كې او نه په غصب كې نو مشتري د هغې ضامن نه ګرځي ځكه نو مشتري د خپلو ټولو ثمنو د واپس حيسلو مستحق دى. د صاحبينو رحمهما الله په نزد يو اځې د ماشوم حصه به واپس كوي د مور حصه به نه واپس كوي ځكه ثمن د دواړو په مقابله كې وي او ام ولد چې مينځه فرض كړو د قيمت اندازه ورته كيداى شي نو مشتري د اُمّ د قيمت په اندازه ضامن ګرځي.

**فائده**: د امام صاحب رحمه الله قول راجح دى لما فى الدر المختار: ويأخذه البائع بعد موت امه ويسترد المشترى كل الثمن وقالا حصته. وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله كل الثمن) لانه تبين انه باع ام ولده وماليتها غير متقومة عنده فى العقد والغصب فلا يضمنها المشترى وعندهما متقومة فيضمنها (الدر المختار مع الشامية: ۴/۴۹۴)

(۴) قوله بخلاف موت الولد اى بخلاف ما اذا ادعاه البائع بعد موت الولد فانه لا يثبت نسبه منه. يعنې كه چيرته ماشوم مړ شو بيا بائع د هغه د نسب دعوى وكړه او حال دا چې هغه د مينځې د بيع له وخت څخه تر شپږو مياشتې په كمه موده كې پيدا شوى وو نو د مور اُمّ ولد كيدل يې نه ثابتيږي ولى موريې دې باره كې د ماشوم تابع ده او د ماشوم نسب

دهغه دمړكيدونه پس دعدم حاجت په وجه نه دى ثابت شوى نودهغه په تابع كيدوسره يې مورهم امّ ولدنه ثابتيږي ځكه په تابع كې دمتبوع بغيرحكم ابتداءًنه ثابتيږي .

(۵)اودخرڅې شوې منځې اودهغې دماشوم دآزاديدوحكم دهغوئ دمرګ دحكم په شان دى بياكه مشتري مورآزاده كړه اوماشوم يې آزادنه كړاوبائع دعوى وكړه چې دازمازوى دى نودعوى يې صحيح كيږي اونسب ثابتيږي اودماشوم دآزاديدو حكم كيږي مګرمنځه دبائع امّ ولدنه ګرځي ځكه مشتري هغه آزاده كړې ده اواعتاق دبطلان احتمال نه لري اوكه مشتري ماشوم آزادكړموريې آزادهٔنه كړه نودبائع دعوى نه صحيح كيږي ،دماشوم په حق كې ځكه نه صحيح كيږي چې ددعوى دصحيح كيدوپه صورت كې دمشتري داعتاق بطلان لازميږي حال داچې اعتاق دبطلان احتمال نه لري اودموريه حق كې ځكه چې كله په اصل يعنې ماشوم كې دعوى صحيح نه شوه نودتابع په حق كې په طريقه اولى نه صحيح كيږي .

(۶)كه دبيع له وخت څخه ترشپږومياشتوپه زياته اودووكالوپه كمه موده كې ماشوم پيدا شوى وونودبائع دعوى ددي ماشوم په باره كې رديږي يعنې نه قبليږي،ځكه كيداى شي چې دماشوم علوق له بيع وروسته شوى وي،البته كه مشتري دبائع تصديق وكړي نوددواړودتصادق په وجه دماشوم نسب ثابتيږي ماشوم آزاديږي،منځه دبائع ام ولدګرځي اوبيع باطليږي ځكه دمشتري په تصديق سره دعلوق نسبت ماقبل بيع طرف ته كيږي اودامكنه هم ده اوپه ماقبل البيع علوق سره مذكوراحكام ثابتيږي .

(۷)وَمَنِ ادَّعٰى نَسَبَ أَحَدِ التَّوْأَمَيْنِ ثَبَتَ نَسَبُهُمَا مِنْهُ (۸) فَإِنْ بَاعَ أَحَدَهُمَا وَأَعْتَقَهُ الْمُشْتَرِي بَطَلَ عِتْقُ الْمُشْتَرِي (۹) صَبِيٌّ عِنْدَ رَجُلٍ فَقَالَ هُوَ ابْنُ فُلَانٍ ثُمَّ قَالَ هُوَ ابْنِي لَمْ يَكُنِ ابْنَهُ وَإِنْ جَحَدَ أَنْ يَكُونَ ابْنَهُ (۱۰) وَلَوْ كَانَ فِي يَدِ مُسْلِمٍ وَنَصْرَانِيٍّ فَقَالَ النَّصْرَانِيُّ أَنَّهُ ابْنِي وَقَالَ الْمُسْلِمُ عَبْدِي فَهُوَ حُرٌّ ابْنُ النَّصْرَانِي.

**ترجمه** :اوكه چادعوى وكړه دغبرګوليانوماشومانوڅخه ديوه دنسب نوثابتيږي ددواړونسب دهغه څخه،بياكه يې يوخرڅ كړاومشتري هغه آزادكړنوباطليږى دمشتري آزاديدل ،ديوچاسره يوماشوم دى هغه وويل چې دادفلان زوى دى بيايې وويل چې دازمازوى دى نودده زوى نه شي كيداى كه څه هم هغه سړى انكاروكړي چې ددي ماشوم له زوى كيدوڅخه اوكه ماشوم ديوه مسلمان اويوه نصراني سره ووبيانصراني وويل چې دازمازوى دى اومسلمان وويل چې دازمامريى دى نوهغه آزاديږي اودنصراني زوى ګڼل كيږي .

**تشريح** :(۷)كه چادغبرګوليانوماشومانوڅخه ديوه دنسب دعوى وكړه نودهغه بل ماشوم نسب هم له ده څخه ثابتيږي ځكه دواړه له يوې نطفې څخه پيدا شوي دي نوچې ديوه نسب ثابت شي نوضروردهغه بل نسب هم ثابتيږي .

(۸)بياكه مالک له هغوڅخه يوخرڅ كړاومشتري هغه آزادهم كړله هغه وروسته بائع دهغه په باره كې دعوى وكړه چې دده په لاس كې ووچې دازمازوى دى نوددواړونسب له هغه څخه ثابتيږي اودمشتري آزاديدل باطليږي ځكه چې كله دهغه په باره كې ده دعوى وكړه چې دده په قبضه كې موجوددى نوبالضرورخرڅ شوى هم دده زوى كيږي نودااصلاآزاددى دمشتري اخيستل اوآزاديدل باطل دى .

(۹) که ديو چا په قبضه کې يو ماشوم پيدا شو او هغه وويل چې دا د فلان زوی دی بيا هغه قابض وويل چې دا زما زوی دی نو د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دا ماشوم دده زوی نه شي کيدای که څه هم هغه سړی چې د هغه لپاره ده د زوی اقرار کړی وو ددې ماشوم له زوی والي څخه انکار وکړي ځکه نسب له هغو شيانو څخه دی چې له ثابتيدو وروسته نه ماتيږي او دداسي شيانو اقرار په ردولو سره نه رديږي نو د مقِر دا اقرار (چې د فلان زوی دی) که څه هم مقَرله رد کړی دی مګر دا په رديدو سره نه رديږي نو د مقِر اقرار د مقَر په حق کې پر خپل حال باقي پاتې دی که څه هم د مقَرله په حق کې نه ثابتيږي، نو يو ځل د غير لپاره له اقرار کولو وروسته د هغه په خپل حق کې دعوی کول باطليږي، صاحبين رحمهما الله فرمايي چې که چيرته مقَرله د مقَرله اقرار څخه انکار وکړ نو دا ماشوم د مقِر زوی ګڼل کيږي ځکه چې کله مقَرله انکار وکړ نو د هغه په انکار سره د مقِر اقرار باطل شو نو دا داسي شو ګواکي د مقَرله طرفه اقرار له سره نه دی شوی نو اوس د ماشوم په باره کې د مقِر دا دعوی کول چې دا زما زوی دی صحيح ده.

**فائده**: دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی لما قال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله: قوله وهذا عند ابی حنيفة رحمه الله الخ، والراجح عند الاكثر قوله واقتصر عليه اصحاب المتون وايده الشارحون (هامش الهداية: ۳/۲۲۷)

(۱۰) يو ماشوم چې ديوه مسلمان او يوه نصراني په قبضه کې دی نصراني وويل چې دا زما زوی دی او مسلمان وويل چې دا زما مريی دی نو دهغه نصراني زوی بلل کيږي او آزاد يږي ځکه دهغه ماشوم په حق کې شفقت زيات دی ولې دنصراني په قبضه کې چې شي نو هغه به فی الحال د آزادي شرافت حاصل کړي او په آخر کې به د اسلام شرافت هم حاصل کړي ځکه د وحدانيت دلائل واضح دي نو غالب دا دی چې دی به مسلمان شي، او که د مسلمان مريی وبلل شي نو د مولی تابع به وي مسلمان خو شمارل کيږي مګر د آزادي له نعمت څخه به محروم وي او بيا آزادي حاصلول دده په اختيار کې هم نشته.

(۱۱) وَإِنْ كَانَ صَبِيٌّ فِي يَدِ زَوْجَيْنِ فَزَعَمَ أَنَّهُ اِبْنُهُ مِنْ غَيْرِهَا وَزَعَمَتْ أَنَّهُ اِبْنُهَا مِنْ غَيْرِهِ فَهُوَ اِبْنُهُمَا (۱۲) وَلَدَتْ مُشْتَرَاةٌ فَاسْتُحِقَّتْ غَرِمَ الْأَبُ قِيمَةَ الْوَلَدِ وَهُوَ حُرٌّ فَإِنْ مَاتَ الْوَلَدُ لَمْ يَضْمَنِ الْأَبُ قِيمَتَهُ وَإِنْ تَرَكَ مَالًا (۱۳) وَإِنْ قُتِلَ الْوَلَدُ غَرِمَ الْأَبُ قِيمَتَهُ وَيَرْجِعُ بِالثَّمَنِ وَقِيمَتِهِ عَلَى بَائِعِهِ (۱۴) لَا بِالْعُقْرِ.

**ترجمه**: که د زوجينو سره يو ماشوم وو، خاوند وويل چې دا زما زوی دی له بلې ښځې څخه او ښځې وويل چې دا زما زوی دی له بل خاوند څخه نو دا ماشوم د دوئ دواړو زوی دی، دا خيستلې شوې منځې زوی پيدا شو بيا هغه د بل چا مستحقه وګرځيده نو پلار به د ماشوم د قيمت تاوان ورکوي او هغه آزاديږي بيا که مړ شي ماشوم نو پلار به د قيمت ضامن نه ګرځي که څه هم څه مال يې پريښی وي او که ووژل شي ماشوم نو پلار به دهغه د قيمت تاوان ورکوي او واپس به اخلي د منځې ثمن او د ماشوم قيمت له بائع څخه، نه عقر.

**تشريح**: (۱۱) که يو ماشوم د زوجينو په قبضه کې وو، خاوند وايي چې دا زما زوی دی زما له بلې بي بي څخه او ښځه وايي چې دا زما زوی دی زما له بل خاوند څخه نو دا ماشوم د دوئ دواړو ترمنځ مشترک دی ځکه ظاهر

ده چې داماشوم ددوئ دوارودی ولی ددوئ دوارو ترمنځ قيام نكاح اوپرماشوم باندي ددوئ قبضه ددي خبرې علامه ده چې ماشوم ددوئ دوارودی .

(۱۲)يو چامنځه اخيستې وه بيادهغې ماشوم پيداشو ،مشتري دعوی وكړه چې دازمازوی دی يامنځه دبل چاشوه اوس دي دماشوم پلار(مشتري)دماشوم قيمت اداكړي اوماشوم آزاددی ځكه دادمغرور(مغرورمعنی دوكه شوی خاوند ،مغرورهغه چاته ويل كيږي چې دملک يمين يا ملک نكاح په اعتماد له يوې ښځې سره صحبت وكړي اوله هغې څخه يې زوی پيداشي بيادغه ښځه دبل چاشي) زوی دی اومغرورزوی دقيمت په عوض آزاديږي،اوكه مذكورماشوم ترخصومت مخكې مړشونو پلاردهغه دقيمت ضامن نه ګرځي يعنې په دي وخت كې دماشوم قيمت مستحق ته نه وركول كيږي كه څه هم داماشوم څه مال هم نه يې پري ايښی چې ميراث شي اودهغه پلار(مشتري) ته وركول شي،ځكه كه چيرته ماشوم حقيقةً دمستحق مملوک وای نوهم به مشتري نه ضامن كيدی ولی دمغصوب زوی زموږ په نزديوامانت دی نوچې كله داثابته شوه چې داماشوم حقيقةً مملوک هم نه دی نوپه طريقه اولی سره نه مضمون كيږي .

(۱۳)البته كه مذكورماشوم يوچاوواژه اوپلاريې له قاتل څخه دهغه ماشوم دقيمت په اندازه ديت واخيست نودمستحق كيدوپه صورت كې پلاردهغه دقيمت نه ضامن كيږي،ځكه ماشوم كه څه هم له پلارسره ژوندی موجودنه دی مګردهغه بدل خوورسره دی اودبدل لاس ته راتلل داسي دی لكه خپله ماشوم چې ورسره وي نومستحق ته قيمت وركول لازم دی،اوپلارچې دماشوم كوم قيمت مستحق ته دتاوان په ډول وركړی دی نوهغه به دماشوم قيمت اودمنځې ثمن له بائع څخه واپس اخلي يعنې چاچې پرده باندي منځه خرڅه كړه هغه يې په هغې كې پرتصرف كولو مسلط كړی وو ولی ماشوم ددي منځې جزء دی او منځه مبيع دی اوبائع دمبيع دسلامتې ضامن وي نودمبيع دنه سلامتيا په صورت كې مشتري له بائع څخه دثمن دواپس اخيستوحقدارګرځي اوپه مذكورصورت كې دمنځې دمستحق كيدوپه وجه مبيع سالمه نه ده نوځكه مشتري له بائع څخه واپس ثمن اخلي .

(۱۴)قوله لابالعقرای لايرجع المشتری علی البائع بمالزمه من العقر،يعنې په مذكورصورت كې چې مشتري دمستحق له منځې سره وطی كړې.ده نودمشتري پرذمه دمستحق لپاره مهرمثل واجبيږي مګرمشتري چې دمنځې كوم عقر(مهرمثل) مستحق ته وركړي هغه له بائع څخه واپس نه شي اخيستلای ځكه عقرخودمنافع بضع بدل دی اومنافع دبضع خومشتري حاصلې كړي دي .

## كتاب الاقرار

داكتاب داقرارپه بيان كې دی

اقرارلغةً په معنی داثبات سره دی ،ويل كيږي :قَرّ الشي اِذَا ثَبَتَ اوشرعا اخبارٌ عَن ثُبُوتِ حقّ الغَير عَلی نفسه ،يعنې دمقردي خبرور كولوته چې پرده باندي دغيرحق لازم اوثابت دی ،ته اقرار وايي، اقراركوونكي ته مقِر اودچاپاره چې اقراركول كيږي هغه ته مقرله اوپه كوم شي چې اقراركول كيږي هغه ته مقربه ويل كيږي .

مصنف رحمه الله له كتاب الدعوى وروسته كتاب الاقرار، كتاب الصلح، كتاب المضاربة او كتاب الوديعة ذكر كړي دي چې مناسبت يې څه داډول دی چې مدعى عليه به يا د مدعي د دعوى اقرار كوي يا به انكار كوي، كه اقرار وكړي نو د اقرار د احكامو د بيان محل كتاب الاقرار دی او كه انكار وكړي نو داد خصومت سبب دی چې د صلح مقتضي ده نو د صلح د احكامو د بيان محل كتاب الصلح دی او د صلح په نتيجه كې چې كوم لاس ته راځي هغه به يا چاته وركول كيږي چې نفع پرې حاصله كړي يا به چاته وركول كيږي چې حفاظت يې وكړي د لومړي قسم د احكامو محل كتاب المضاربة دی او د دوهم قسم د احكامو محل كتاب الوديعة دی.

(١) هُوَ اخبارٌ عَنْ ثبوت حَقِّ الغيرِ على نفسِه (٢) اذا اقرَّ حُرٌّ مُكَلَّفٌ بِحَقٍّ صَحَّ وَلَوْ مَجْهولا كَشَيءٍ او حَقٍّ (٣) وَيُجبَرُ على بَيَانِه (٣) وَبَيَّنَ مالَه قيمة والقول لِلْمُقِرِّ مع يَمينِه ان ادّعى المُقَرُّ له اكثر منه (٥) وَفي مالٍ لَمْ يُصَدَّقْ في اقلّ مِنْ دِرْهَم (٦) وَمالٌ عَظيمٌ نِصابٌ وَاَمْوالٌ عِظامٌ ثلثة نُصُب (٧) ودراهم كثيرة عشرة (٨) وَدَرَاهِمُ ثلثة (٩) كذا دِرْهَمًا دِرْهَمٌ كذا كذا احدَ عَشَرَ (١٠) كذا وَكذا احدٌ وعشرون (١١) وَلَوْ ثَلَّثَ بِالْواوِ يُزادُ مائة وَلَوْ رَبَّعَ زيدَ ألف.

**ترجمه**: دا خبر وركول دي د غير د حق د ثابتيدو پر خپل ځان، چې كله اقرار وكړي آزاد، مكلف ديو چا د حق نو دا صحيح دی كه څه هم مجهول وي، لكه شی او حق او پر بيانولو مجبور كړای كيږي او داسي شی به بيانوي چې قيمت ولري او قول د مقر معتبريږي د هغه له قسم سره، كه دعوى وكړي مقر له تر هغه زيات او د مال په اقرار كې يې تصديق نه كيږي تر يوه درهم په كم كې، او عظيم مال نصاب دی او عظيم مالونه دري نصابه دي او دراهم كثيره لس درهمه دي، او كم دراهم دري درهمونه دي او همدا رنګه درهمًا يو درهم دی او كذا كذا يوولس درهمه دي او كذا و كذا يوويشت درهمه دي او كه دري ځله وويل په واو عطف سره نو ترسل زياتيږي او كه يې څلور ځله وويل په واو عطف سره نو زر زياتيږي.

**تشريح**: (١) مصنف رحمه الله د اقرار اصطلاحي تعريف داډول كړی دی چې د غير حق پر خپل ځان د ثابتولو خبر وركولو ته اقرار وايي.

(٢) كه يو آزاد، بالغ او عاقل ديو چا په حق باندي اقرار وكړ نو د اقرار پر مقر باندي لازميږي برابره ده كه مقربه معلوم وي كه مجهول وي مثلاً مقر وويل چې د فلان زما پر ذمه حق دی يا يې زما پر ذمه شی دی نو دا جائز دی ځكه د مقربه مجهول كيدل د اقرار د صحت مانع نه دی ولی كله پر انسان باندي مجهول حق لازميږي مثلاً يو چا د بل چا داسي مال ضائع كړ چې قيمت يې معلوم نه وو بيا هغه اقرار وكړ چې د امال ما تلف كړی دی نو دا د مجهول مال اقرار دی او جائز دی.

(٣) البته كه مقر د مجهول حق اقرار وكړ (مثلاً ويې ويل له علی شئ، نو مقربه دي مجبور كيږي چې د مجهول مقربه بيان وكړي ولی د كوم شي چې مقر التزام كړی دی له هغه څخه وتل پر ده لازم دی او دا هله كيدای شي چې د مقربه مجهول بيان وكړای شي او ځرنګه چې تجهيل د مقر له جانبه دی نو بيا هم دده پر ذمه كيږي.

الالغاز: اى رجل اقر ولم يلزمه المال حتى تكرر الاقرار؟
الجواب: انه المقر بالزنا لايجب عليه مهر المزنية حتى يكرر الاقرار. (الاشباه والنظائر)

(۴) كه مقِر د مجهول شي اقرار وكړ مثلاً ويې ويل چې د فلان پر ما باندي يو شى دى نو پر مقِر باندي داسي شى بيانول لازم دى چې څه قيمت ولري ځكه هغه پر خپله ذمه د شي د وجوب خبر وركړى دى او د كوم شي چې څه قيمت نه وي هغه نه واجبيږي، او س چې مقِر كوم بيان كړى دى كه مقِر له تر هغه د زيات دعوى وكړه نو د مقِر قول سره له يمينه معتبريږي. ولى مقِر له زيادت څخه منكر دى او قول د منكر سره له يمينه معتبر وي.

(۵) كه مقِر وويل چې د فلان پر ما باندي مال دى نو څرنګه چې مقربه مجهول دى ځكه د هغه بيان په باره كې مقِر ته رجوع كيږي ولى د مال د مجمل پر بيښودونكى مقِر دى، نو كه مقِر تر يوه درهم كم بيان كوي نو د هغه تصديق نه كول كيږي ځكه عادةً تر يوه درهم پر كم كسورو باندي د مال اطلاق نه كيږي نو لږ تر لږه يو درهم بيانول خو ضروري دى.

(۶) قوله ومال عظيم نصاب اى اذا قال لفلان على مال عظيم يجب نصاب، يعني كه مقِر وويل د فلان پر ما باندي مال عظيم دى نو له مال عظيم څخه مراد د نصاب مال دى يعني تر دوه سوه په كمو درهمونو كې د ده تصديق نه كول كيږي ځكه دوه درهمه د زكوة نصاب دى او نصاب شرعًا او عرفًا مال عظيم دى نو د هغه مالک غني ګڼل كيږي.

قوله واموال عظام اى لو قال لفلان على اموال عظام لزمه ثلاثة نصب، يعني كه مقِر وويل چې زما پر ذمه د فلاني اموال عظام دي نو دى چې د كومو مالونو جنس بيانوي مثلاً دراهم، دنانير او ښان وغيره نو د هغه جنس دري نصابه لازميږي ولى اموال جمع لفظ دى او ادنى په جمع كې دري دي نو تر دريو په كم كې د هغه تصديق نه كيږي.

(۷) قوله ودراهم كثيرة عشرة اى لو قال لفلان على دراهم كثيرة لزمه عشرة، يعني كه مقِر وويل چې د فلاني پر ما باندي ډير دراهم دي نو له هغو څخه مراد لس درهمونه دي بيا كه دى تر لسو كم درهمونه بيان كړي نو د ده تصديق نه كول كيږي ولى اسم جمع چې كله د عدد د تميز واقع شي نو لس آخري هغه عدد دى چې پر هغه اسم جمع منتهي كيږي لكه چې ويل كيږي عشرة دراهم په داسي حال كې له لسو وروسته تميز جمع نه راځي بلكې مفرد وي مثلاً احد عشرة درهمًا، او مائة درهم، نو د لفظ په حيثيت سره لس اكثر شو. نو د مقِر كلام د لسو طرف ته راجع كيږي، د صاحبينو رحمهما الله په نزد تر نصاب په كم كې يې تصديق نه كول كيږي ځكه د شريعت په نظر كې د كثير دراهمو مالک (مالدار) صاحب نصاب دى نو كه په مذكوره صورت كې هغه تر دوو سوو د كمو درهمونو بيان وكړي نو د هغه تصديق نه كول كيږي.

**فائده**: په دي مسئله كې د قول راجح په باره كې د علماؤ اختلاف دى ځينو د امام صاحب رحمه الله قول ته ترجيح وركړې ده او ځينو د صاحبينو رحمهما الله قول ته ترجيح وركړې ده، شيخ عبدالحكيم شاوليكوټى رحمه الله د دواړو قولونو د ترجيح له نقل كولو وروسته فرمايي چې په دي مسئله كې عرف ته اعتبار وركول بهتر دى فرمايي: وروى القدورى فى كتاب التقريب عن الامام ابى حنيفة رحمه الله رواية مثل قولهما واختار بعض شراح الهداية ايضا قولهما لكن رجح المحقق ابن الهمام فى الفتح قول ابى حنيفة رحمه الله بالعشرة وعليه المتون الخ والذى يظهر للعبد الضعيف عبدالحكيم الشاوكوتى ان يعتبر ههنا ايضا العرف وحال المقر فى الفقر والغناء ويكون التقدير والارادة مفوضا الى فقه الحاكم كما هو الحكم فى اخت هذه المسئلة السابقة انفا ولان اختلاف التصحيح يثبت الرای للمفتى والعرف هو المرجح فى كثير من الاحكام هذا ما ظهر لى، والله اعلم (هامش الهداية: ۳/ ۲۳۱)

(۸)قوله ودراهم ثلثة ای لوقال له علیّ دراهم لزمه ثلاثة،یعنې که مقروویل له علیّ دراهم،نولږترلږه درې درهمونه لازمیږي ځکه دراهم دجمع صیغه ده اوادنی دجمع درې صحیح افراددي نوپرمقرباندې درې دراهم لازمیږي،البته که مقرتردریوزیات بیان وکړي نوچې کوم بیان کوي هغه مرادیږي ځکه لفظ دجمع تردریودزیاتوهم احتمال لري.

(۹)قوله کذادرهما ای لوقال لفلان علیّ کذادرهما لزمه درهم،یعنې که مقروویل :له علیّ کذادرهمًا(دفلان پرماباندې دومره دې ددراهمو په اعتبارسره) نویودرهم لازمیږي ځکه درهمًادکذاپه لفظ کې دذکرشوي دمبهم عددتفسیردی نوله درهمًاڅخه مفهومیږي چې له کذاڅخه یودرهم مراددی،اوکه مقروویل : لفلان علیّ کذاکذادرهمًا(دفلان پرماباندې دومره دومره درهمونه دي) تردیارلس درهمونو په کم کې دهغه تصدیق نه کول کیږي ځکه مقردوه داسې مبهم عددونه ذکرکړي دي چې ترمنځ یې حرف عطف نشته اوپه مفسراعدادوکې اقل یوداسې عددچې پکې په دوه مبهم عددونوکې حرف عطف نشته احدعشردی اواکثرتسعة عشردی نواقل بلابیانه مرادیږي اواکثرپربیان باندې موقوف کیږي.

(۱۰)قوله کذاو کذا احدوعشرون ای لوقال لفلان علیّ کذاو کذادرهما لزمه احدوعشرون درهما،یعنې که مقروویل کذاوکذانوتریوویشت په کم کې دهغه تصدیق نه کول کیږي ځکه مقردوه داسې مبهم عددونه ذکرکړي دي چې ترمنځ یې حرف عطف دی اوپه مفسراعدادوکې اقل داسې عددچې ددومبهموعددونوترمنځ حرف عطف دی احدوعشرون دی.

(۱۱)اوکه مقردرې ځله کذاپه واوسره وویل :له علیّ کذاوکذاوکذادرهمًا،نوپریوویشت باندې سل زیاتیږي یعنې یوسل یوویشت درهمونه لازمیږي ځکه له واوسره ددریوعددولږترلږه تعبیرمائة واحدوعشرون،دی اوکه یې څلورځله وویل له علیّ کذاوکذاوکذاوکذادرهمًا،نوپریوسل باندې زرزیاتیږي نویوولس سوه یوویشت درهم لازمیږي لماقلنا.

(۱۲)وَعَلَيَّ وَقِبَلِي اِقْرَارٌ بِدَيْنٍ(۱۳)عِنْدِي مَعِي فِي بَيْتِي فِي صُنْدُوقِي فِي كِيسِي أَمَانَةٌ(۱۴)قَالَ لِي عَلَيْكَ أَلْفٌ فَقَالَ اِتَّزِنْهُ أَوْ اِنْتَقِدْهُ أَوْ أَجِّلْنِي بِهِ أَوْ قَضَيْتُكَهُ أَوْ أَحَلْتُكَ بِهِ فَهُوَ إِقْرَارٌ وَبِلَا كِنَايَةٍ لَا(۱۵)وَإِنْ أَقَرَّ بِدَيْنٍ مُؤَجَّلٍ وَادَّعَى الْمُقَرُّ لَهُ أَنَّهُ حَالٌّ لَزِمَهُ حَالًّا وَحَلَفَ الْمُقَرُّ لَهُ عَلَى الْأَجَلِ(۱۶)وَعَلَيَّ مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ فَهِيَ دَرَاهِمُ وَمِائَةٌ وَثَوْبٌ يُفَسِّرُ الْمِائَةَ وَكَذَا مِائَةٌ وَثَوْبَانِ(۱۷)بِخِلَافِ مِائَةٍ وَثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ.

**ترجمه** :اولفظ دعلیّ اوقبلي استعمالول اقراردی ددین ،اولفظ دعندی ،معی،فی بیتی،فی صندوقی،فی کیسی،دامانت اقراردی یوچاوویل زماپرتاباندې زردرهم دي بیاهغه وویل چې ته داتول کړه یایې صاف کړه یاماته دهغومهلت راکړه یاماهغه تاته اداکړي دي یاماهغه تاته حواله کړي دي نودااقراردی اوبغیرها،کنایه نه دی،اوکه یې اقراروکړپه موجل قرض اومقرله دعوی وکړه چې هغه فوري دی نوفوري لازمیږي اوقسم اخیستل کیږي له مقرله څخه پرمیعادباندې اوکه مقروویل چې پرماباندې سل نوردرهم دي نوداټول درهم کیږي اوکه یې وویل چې سل نورې کپړې دي په دې کې یې دسلوبیانول مقصددی همداحکم دسلواودووکپړودی خلاف له سلواودرې کپړو.

**تشریح** :(۱۲)قوله وعلیٰ وقِبلی اقرار بدین ای لو قال لفلان علیّ او لفلان قبلی اقرار بدین ،یعنې که مقرو ویل له علیّ (دفلان پرما باندي)یاله قِبَلی (دفلان زماله طرفه) پردي یې هیڅ اضافه نوره نه وکړه نو دادقرض اقرار کیږي ځکه دعلیٰ صیغه دایجاب صیغه ده او قِبَلی دضمان خبرورکوي ځکه قباله دکفاله په شان دضمانت نوم دی .

(۱۳)قوله وعندی معی الخ ای لو قال لفلان عندی او معی الخ یعنې که مقِرو ویل :له عندی(دفلان زماسره ) یاله معی (دفلان له ماسره ) یاله فی بیتی (دفلان زماپه کورکې)یاله فی صندوقی(زماپه صندوق کې دفلان) یاله فی کیسی (زماپه تیلی کې دفلان )نوپه دغوټولوصورتونوکې دامانت اقراردی ځکه په دي صورتوکې ددي اقراردی چې هغه شی دده په لاس کې دی اودیوه شي په لاس کې کیدل دوه ډوله وي یومضمون بل امانت،نوپه دوئ کې کمترچې وي هغه ثابتیږي اوکمترامانت دی نوځکه دادامانت اقراردی .

(۱۴)که مقِرته چاوویل زماپرتاباندي زردرهم دي مقِرو ویل چې هغه تول کړه یایې صاف کړه (دادهغې زمانې خبره ده چې خلکوبه دسپینوزرو ددراهمو مقدار معلومولپاره هغه تول کول یابه یې سم اوکوټه سره معلومول نوصافول به یې )یایې ورته وویل چې ماته مهلت راکړه،یایې ورته وویل چې هغه ماتاته درکړي دي یایې ورته وویل چې دهغولپاره ماتاته دبل چاحواله درکړې وه (مثلادزید حواله مي درکړې وه چې له زید څخه هغه وصول کړه)نوپه دغوټولوصورتونوکې دزرودرهمونو اقرار دی ځکه په دي ټولوجملوکې (هاء) ضمیرد(الف) طرف ته راجع دی نوګواکي مقروایې :اِتزن الالف التی لک علیّ، همدارنګه په باقی جملوکې نودادمدعي دکلام جواب دی مستقل کلام نه دی،البته که مقِرد مدعي په جواب کې بغیرهاء وویل :اتزن یایې وویل :انتقد ،نودادهغه له طرفه اقرارنه کیږي ځکه دامستقل کلام دی دمدعي دکلام جواب نه دی ځکه داقاعده ده چې کوم کلام داستقلال اوجواب دواړوصلاحیت لري هغه مستقل ګڼل کیږي .

(۱۵)که مقرد میعاددین اقراروکړمثلاویې ویل دفلاني زردرهم زماپرذمه لازم دي یوه میاشت وروسته اومقر له په دین کې دهغه تصدیق وکړمګردمودې په باره کې یې دهغه تکذیب وکړنوپرمقرباندي فی الحال دین لازمیږي اوپه موده کې دهغه تصدیق نه کول کیږي ځکه مقِرپرخپل ځان دزرواقرار وکړاوپرمقرله یې دمودې دعوی وکړه نودده اقرارخپله پرده باندي حجت دی اوپربل باندي دده دعوی بلاحجت نه قبلیږي،البته که مقرله پردي خبره باندي قسم واخلي چې په موده سره نه دي ځکه مقِرپرخپل ځان دغیردحق سره سره پرمقرله باندي دخپل ځان لپاره دمودې دعوی وکړه مقرله له حق مودې څخه انکارکوي اوقسم پرمنکرباندي راځي .

(۱۶)قوله وعلیٰ مائة ودرهم الخ،ای لو قال لفلان علیّ مائة ودرهم الخ،یعنې که مقرو ویل زماپرذمه دفلاني یوسلو یودرهم دی نوپرده باندي ټول یوسل یودرهم لازم دي ځکه عادةً خلک په دا ډول کلام کې ددرهم لفظ دتفسیرپه توګه ذکرکوي نودرهمٌ دمائة لپاره تفسیردی ،اوکه یې وویل چې زماپرذمه دفلاني سل اویوه کپړه ده نوپرده باندي یوه کپړه لازمیږي اودسلوپه تفسیرکې مقرته رجوع کیږي چې له مائة څخه ستاڅه مراددی ،ځکه دمعطوف مفسّرعطف یې پرمعطوف علیه مبهم باندي کړی دی اوعطف لپاره دبیان نه دی وضع کړای

شوى نو لفظ دمائة مبهم پاتې شو ،دمائة دبيان لپاره مقرته رجوع كيږي ،همدا رنګه كه چيرته ووايي چې سل اودوې كپړې دي نوپه دغه صورت كې هم دسلو په باره كې له ده څخه پوښتنه كوله كيږي لماقلنا .

(۱۷) قوله بخلاف مائة وثلاثة اثواب اى بخلاف ما اذا قال لفلان علىّ مائة وثلاثة اثواب حيث يلزمه الكل ثيابا .يعني كه مقروويل له علىّ مائة وثلاثة اثواب (زماپرذمه دفلاني سل اودرې كپړې دي) نوټولې كپړې لازميږي يعني يوسل درې كپړې لازميږي څكه دلته مائة اوثلاثة دوه مبهم عددونه دي دواړه دتفسيرضرورت لري،اوقائل له ثلاثة وروسته لفظ داثواب بلاحرف عطف ذكركړى دى نوداددواړولپاره تفسيرشونوله دواړوعددونو څخه كپړه مراديږي .

(۱۸) اقربتمر فى قوصرة لزماه وبدابة فى اصطبل لزمته الدابة فقط وبخاتم له الحلقة والفص (۱۹) وبسيف له النصل والجفن والحمائل وبحجلة العيدان والكسوة (۲۰) وبثوب فى منديل اوفى ثوب لزماه وبثوب فى عشرة له ثوب (۲۱) وبخمسة فى خمسة وعنى به الضرب خمسة وعشرة ان عنى مع .

**ترجمه** :اوكه يې اقراروكړ په خرماؤ په ټوكرۍ كې نودواړه لازميږي اودحيوان په خپل تم ځاى كې نويوازې حيوان لازميږي . اودګوتمې په اقراركې دمقرله لپاره حلقه اوغمى دواړه دي اودتورې په اقراركې دهغه لپاره توره ،پوښ (تيكي) اودتورې بنداودچپهركټ په اقراركې دهغه لپاره لرګي اوپردې لازميږي .اوكه يې اقراروكړدكپړې په دسمال كې ياپه كپړه كې نودواړه لازميږي اوكه يې اقراروكړ دكپړې په لسوكې نودمقرله لپاره يوه كپړه كيږي اوپنځه په پنځوكې اونيت يې وكړدهغه دضرب نوپنځه لازميږي اولس لازميږي كه يې نيت دپنځوله پنځوسره وكړ .

**تشريح** :(۱۸)كه مقراقراروكړچې دفلان پرماباندې خرماوې دي په ټوكرۍ كې نودمقرله لپاره خرماوې اوټوكرۍ دواړه لازميږي اوكه مقروويل چې پرماباندې دفلان حيوان لازم دى په خپل تم ځاى كې نوحيوان يوازې لازميږي اوكه مقردېوچالپاره دګوتمې اقراروكړنوپرمقرباندې حلقه اوغمى دواړه لازميږي څكه خاتم دواړوده لره شامل دى .

(۱۹) قوله وبسيف له النصل والجفن والحمائل اى لواقربسيف فللمقرله النصل والجفن والحمائل .يعني كه مقردچالپاره دتورې اقراروكړنودمقرله لپاره نصل (توره) جفن (پوښ) حمائل (دتورې بند) درې سره لازميږي څكه سيف دغودريو واړوشيانوته شامل دى .كه مقردچالپاره دچپهركټ اقراروكړنودمقرله لپاره لرګي چې په هغوسره چپهركټ جوړيږي اوپردې چې پرلرګيوباندې بالاځول كيږي ،لازميږي څكه اسم حجله دواړوته شامل دى .

(۲۰) قوله وبثوب فى منديل اوفى ثوب لزماه اى لواقربثوب فى منديل اواقربثوب فى ثوب لزمه الثوب والمنديل فى الصورة الاولى والثوبان فى الثانى .يعني كه مقروويل زماپرذمه دفلان كپړه ده په دسمال كې نودواړه لازميږى اوكه مقروويل چې زماپرذمه دفلان كپړه په كپړه كې نودواړې كپړې لازميږي ،اوكه مقروويل چې زماپرذمه دفلان يوه كپړه ده په لسوكې نوداامام ابويوسف رحمه الله په نزديوازې يوه كپړه لازميږى څكه عادت داد ى چې لس كپړې ديوې لپاره ظرف نه وي اوعادة ممتنع دحقيقة ممتنع په شان دى ،دامام محمد رحمه الله په نزديولس كپړې لازميږي څكه داجائزده چې يوه عمده كپړه په لسوكپړوكې ونغښتل شي .

**فائده**: دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المنتقی: قلت لزمه ثوب واحد عند ابی یوسف رحمه الله وقول الامام وبه جزم فی التنویر وقدمه المصنف رحمه الله واعتمده صاحب الدرر وغیره فکان هو المعتمد (الدر المنتقی: ۳/۳۰۲)

**فائده**: په دي ټولو مسائلو کې اصل او قاعده داده چې کوم شی د ظرف کیدو صلاحیت لري او د هغه له یوه ځایه بل ځای ته انتقال ممکن وي نو داسي شي په اقرار کې ظرف او مظروف دواړه لازمیږي لکه د خرماؤ اقرار په ټوکری کې، او که یې د ظرف کیدو صلاحیت درلود مګر د هغه انتقال ممکن نه وو نو یواځي مظروف لازمیږي ظرف نه لازمیږي لکه د حیوان غوجل (تم ځای) خو د امام محمد رحمه الله په نزد دواړه لازمیږي ځکه دامام محمد رحمه الله په نزد د غیر منقول غصب کول متصوز دی، او که هغه شي د ظرف کیدو صلاحیت نه درلود نو یواځي مظروف لازمیږي لکه چې یو څوک ووایي له علیّ دراهم فی درهم.

(۲۱) قوله وبخمسة فی خمسة ای الواقر رجل بخمسة فی خمسة: یعني که یو چا د بل لپاره اقرار وکړ د پنځو په پنځو کې یعني داسي یې وویل: له علیّ خمسة فی خمسة، د دي دري مطلبه کیدای شي او د هریوه بیل حکم دی: یو مطلب یې دا دی چې پنځه په پنځو کې ضرب کړای شي او همدا مراد شي نو پنځه ویشت لازمیږي ځکه پنځه چې په پنځو کې ضرب شي نو پنځه ویشت تري جوړیږي، د حسن بن زیاد رحمه الله همدا قول دی. دوهم مطلب یې دا دی چې پنځه په پنځو کې ضرب شي د هغو ټکړي زیاتي شي په دي صورت کې عدد پنځه پاتیږي البته اجزاء یې پنځه ویشت کیږي. که دا مطلب واخیستل شي نو یواځي پنځه لازمیږي ځکه په ضرب سره اجزاء که څه هم زیاتیږي لیکن عدد پنځه پاتیږي، مصنف رحمه الله همدا مطلب اخیستی دی او پنځه یې لازم کړي دي. دریم مطلب یې دا دی چې خمسة فی خمسة، معنی دا چې پنځه له پنځو سره یعني فی په معنی د مع اخیستل کیږي نو لس لازمیږي ځکه پنځه چې له پنځو سره جمع کړای شي نو لس تري جوړیږي.

(۲۲) له علیّ من درهم الی عشرة او مابین درهم الی عشرة له تسعة (۲۳) له من داری مابین هذا الحائط الی هذا الحائط له مابینهما فقط (۲۴) وصح الاقرار بالحمل (۲۵) وللحمل ان بیّن سببا صالحا والا لا (۲۶) وان اقر بشرط الخیار لزمه المال وبطل الشرط

**ترجمه**: د هغه یو درهم دی تر لسو پوري یا یو درهم دی تر لسو په مابین کې نو د هغه لپاره نه درهمه کیږي د فلان لپاره زما له مکان څخه له دغه دیوال نه تر دي بل دیوال پوري دی نو د هغه لپاره یواځي د دواړو دیوالونو تر منځ برخه کیږي، او صحیح دی اقرار په حمل، او د حمل لپاره که چیرته صالح سبب بیان کړي که نه بیانه صحیح کیږي، او که یې اقرار وکړ د خیار شرط سره نو مال لازمیږي هغه لره او شرط باطلیږي.

**تشریح**: (۲۲) که مقر وویل د فلان پر ما باندي یو درهم دی تر لسو پوري یا یې وویل یو درهم تر لسو پوري په مابین کې نو په دواړو صورتونو کې دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد پر مقر باندي نه درهمه لازمیږي یعني ابتداءً او له هغه مابعد لازمیږي او غایه ساقطیږي ځکه غایه له مغیا غیروي البته لومړی غایه داخل منل ضروري دی ځکه عدد د ابتداء تقاضا کوي نو که اول خارج کړای شي نو دوهم ابتداء ګرځي نو هغه هم د اول په شان له ابتداء ګرځیدو څخه خارجیږي همدارنګه دریم او څلورم تر پایه .....نو نتیجه یې دا راوځي چې هیڅ عدد هم نه واجبیږي حال دا چې دا باطل دی ځکه لومړی غایه په مغیا کې داخل منل ضروري دی . د صاحبینو رحمهما الله په نزد پوره لس درهمه لازمیږي د هغوئ په نزد دواړه په غایه مغیا کې داخل دي.

د امام زفر رحمه الله په نزد اته درهمونه لازمیږي دهغه په نزد دواړه په غایه مغیا کښې داخل نه دي.

**فائده**: د صاحبینو رحمهما الله قول راجح دی لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله: قوله وقالا یلزمه العشرة الخ والرابع قولهما وهو قول الائمة الثلاثة وهو الاستحسان قال ابن همام رحمه الله فی الفتح والحاصل ان ماقاله الامام فی الغایة الثانیة قیاس وماقاله فی الغایتین فهو استحسان وماقاله زفر رحمه الله فیهما القیاس کذا فی مبسوط شیخ الاسلام خواهرزاده (هامش الهدایة: ۳/ ۲۴۳)

(۲۳) قوله من داری بین هذا الحائط الخ ای لوقال رجل لفلان من داری بین هذا الحائط الخ، یعني که چا د بل لپاره داسې اقرار وکړو چې زما له سرای څخه له دې دیوال څخه تر دا بل دیوال پورې څمکه د فلان شخص ده نو یواځې د دوو دیوالونو ترمنځ څمکه د مقرله لپاره کیږي دیوالونه دهغه په اقرار کښې نه داخلیږي ځکه اصل دا دی چې په محسوس شیانو کښې حد په محدود کښې نه داخلیږي ځکه د حد او محدود ترمنځ مغایرت وي نو محدود (چې ترمیانه څمکه ده) اقرار کول د حد (دیوالونه) اقرار نه ګڼل کیږي.

(۲۴) که مقر دیو چا لپاره د منځې د حمل یا د پسه د حمل اقرار وکړ نو دا اقرار صحیح دی او پر مقر باندې مقربه لازم دی که سبب صالح بیان کړي او که یې نه کړي بیان ځکه د دغه اقرار وجه صحیح ممکن دی هغه دا ده چې ممکن دی چې یو وفات شوي چا دې ده ته وصیت کړی وي نو دغه اقرار د جواز پر دغه صورت باندې حمل کیږي.

(۲۵) قوله وللحمل ان بین سببا صالحا ای وصح الاقرار للحمل ان بین سببا صالحا، یعني که مقر وویل چې د فلان د حمل لپاره پر ما باندې زر درهمونه دي نو ددې دوه صورتونه دي یو صورت دا دی چې د حمل د ثبوت مِلک لپاره سبب صالح بیان کړي چې صورت یې په دې ډول دی چې مقر ووایې چې د فلانی ښځې د حمل پر ما باندې زر درهمونه لازم دي چې دهغو وصیت فلان شخص کړی وو چې بیا وروسته هغه له ما څخه ضائع شو یا ووایې چې د حمل پلار مړ شوی وو حمل زر درهمه له هغه څخه میراث موندلی وو چې بیا وروسته له ما څخه ضائع شو نو څرنګه چې مقر د حمل لپاره د ثبوت مِلک سبب صالح (یعني وصیت یا میراث) بیان کړ ځکه نو دا اقرار صحیح دی ، دوهم صورت دا دی چې اقرار مبهم پرېږدي یعني د ثبوت مِلک هیڅ سبب صالح بیان نه کړي نو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد دا اقرار صحیح نه دی، د امام محمد رحمه الله په نزد صحیح دی.

**فائده**: د امام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی ملتقی الابحر: وان فسر ببیع اوقراض اوابهم الاقرار یکون لغوا (ملتقی الابحر: ۳/ ۴۰۴) هکذا اقتصر علیه کثیر من المتون والشروح واخر صاحب الهدایة دلیل ابی یوسف رحمه الله اشارة الی ترجیحه کماهو عادته.

(۲۶) که مقر ځان لپاره د خیار شرط په شرط سره دیو چا لپاره اقرار وکړ مثلاً دیو چا لپاره یې د غصب یا ودیعت یا عاریت اقرار په دې شرط سره وکړ چې ماله تر دریو ورځو پورې اختیار شته نو اقرار یې صحیح کیږي او مقربه لازمیږي ځکه اقرار حجت دی مګر شرط باطلیږي، شرط ځکه باطلیږي چې خیار شرط خو ددې غرض لپاره وي چې کله فسخ وغواړي نو کولای شي او اقرار اخبار دی چې پکښې خیار لره هیڅ دخل نشته ولې که دا اخبار صادق وي نو واجب العمل دی که څه هم هغه اختیار ورنکړي او که کاذب وي نو واجب الرّد دی په اختیار کولو او نه کولو سره نه متغیر کیږي.

## باب الاستثناء وما في معناه

## داباب داستثناء په بیان کې دی او هغه چې داستثناء په معنی وي

استثنی له (ثنئ) څخه په معنی دګرځیدو داستفعال باب دی، په اصطلاح کې له یو عام حکم یا عدد څخه بعض افراد ایستلو او خاصولو ته استثناء وایي، دلته له استثنی څخه مراد دادی چې مقر کوم اقرار کړی دی له هغه څخه ځیني خلک جلا کړي، او له مافي معنی الاستثناء څخه مراد شرط دی ځکه شرط هم داستثناء په شان مغیّر دی.

مصنف رحمه الله تردي مخکي داسي اقرار ذکر کړ چې دهغه په موجب کې تبدیل راوستونکی هیڅ شی نه وو او س داسي اقرار ذکر کوي چې دهغه په موجب کې راوستونکی شی یعني استثنی او مافي معنی الاستثناء هم دی، او څرنګه چې عدم تغیر اصل دی ځکه یې داقرار هغه قسم مخکي ذکر کړ او دتغیر والا قسم یې وروسته ذکر کړی دی.

(١) صَحَّ اِسْتِثْنَاءُ بَعْضِ مَا اَقَرَّ بِهِ مُتَّصِلًا وَلَزِمَهُ الْبَاقِي (٢) لَا اِسْتِثْنَاءُ الْكُلِّ (٣) وَصَحَّ اِسْتِثْنَاءُ الْكَيْلِي وَالْوَزْنِي مِنَ الدَّرَاهِمِ لَا غَيْرِهِمَا (٣) وَلَوْ وَصَلَ بِاِقْرَارِهٖ اِنْ شَاءَ اللهُ بَطَلَ اِقْرَارُهٗ (٥) وَلَوِ اسْتَثْنَى الْبِنَاءَ مِنَ الدَّارِ فَهُمَا لِلْمُقَرِّ لَهٗ وَاِنْ قَالَ بِنَاءُ هَا لِي وَالْعَرْصَةُ لَكَ فَكَمَا قَالَ (٦) وَلَوْ قَالَ عَلَيَّ اَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ لَمْ اَقْبِضْهُ فَاِنْ عَيَّنَ الْعَبْدَ وَسَلَّمَهٗ اِلَيْهِ لَزِمَهُ الْاَلْفُ وَاِلَّا لَا (٧) وَاِنْ لَمْ يُعَيِّنْ لَزِمَهُ الْاَلْفُ (٨) كَقَوْلِهٖ مِنْ ثَمَنِ خَمْرٍ اَوْ خِنْزِيْرٍ.

**ترجمه**: صحیح ده استثناء دبعضو هغو چې ده یې اقرار کړی دی متصلا او لازمیږي پر ده باندي باقي، نه دټول استثناء، او صحیح ده استثناء دکیلی او وزني شي له دراهمو څخه نه دغیر له هغوئ څخه، او که یې وصل کړه ان شاء الله له خپل اقرار سره نو باطلیږي دهغه اقرار، او که یې مستثنی کړه آبادي له مکان څخه نو هغه دواړه دمقر له لپاره کیږي او که یې وویل چې آبادي زما ده او میدان ستا دی نو داداسي دی لکه ده چې وویل، او که یې وویل چې پر ما باندي زر درهمونه دي دهغه مریي چې ما تر اوسه پوري قبض کړی نه دی نو که یې مریی معلوم کړ او مقر له ده ته حواله کړ نو پر مقر باندي زر درهمونه لازمیږي که نه بیا نه لازمیږي، او که یې معلوم نه کړ نو زر درهمه لازمیږي لکه دمقر په دي وینا سره چې دشرابو یا خنزیر له ثمنونه.

**تشریح**: (١) که یو چا دین اقرار وکړ او له اقرار سره متصل یې له مقر به څخه څه استثناو کړه لږ یې مستثنی کړه یا یې زیات نو دا استثناء صحیح ده او له مستثنی څخه ماسوا باقی مانده مقر به پر اقرار کوونکي باندي لازمیږي ځکه استثناء زموږ په مذهب کې له مستثنی وروسته دتکلم بالباقی نوم دی.

(٢) قوله لااستثناء الكل اي لايصح استثناء الكل، یعني که مقر دکل استثناء وکړه مثلا داسي یې وویل چې پر ما باندي دفلان لس درهم دي له لسو پرته نو دکل استثناء باطله ده ځکه موږ ویلی دي چې استثناء تر مستثنی وروسته دتکلم بالباقی نوم دی دا چې کل مستثنی کړي وروسته خو هیڅ نه پاتیږي، او همدارنګه استثناء دکل رجوع عن الاقرار ده چې صحیح نه ده نو پر مقر باندي ټول مقر به لازمیږي.

(٣) کوم شیان چې په ناپیږي او په ترازو تلل کیږي دهغو له دراهمو څخه مستثنی کول صحیح دی مثلا مقر وویل دفلان پر ما باندي سل درهمونه دي مګر نه یو دینار، یایې داسي وویل دفلان پر ما باندي سل درهم دي مګر نه یوه پیمانه غنم، نو پر ده باندي سل درهمه دیوه دینار له قیمت سوا یا سل درهمه دیوې پیمانې

غنموله قیمت سوالازم دي.البته دغیروزني اوکیلي شیانوله دراهموڅخه مستثنی کول صحیح نه دی مثلاچې داسې ووایي :زماپرذمه دفلان سل درهم دي مګرنه لس تانه کېږه نوداصحیح نه دی .دادواړه صورتونه دشیخینورحمهماالله په نزداستحساناًصحیح دي.دامام محمد رحمه الله په نزدصحیح نه دي ځکه مستثنی دي ته وایي چې که چیرته هغه نه وي نومستثنی به په مستثنی منه کې داخل وي نوظاهره خبره ده چې دخلاف جنس مستثنی کولوپه صورت کې که هغه وزني یاکیلي وي اوکه نه وي داویناصحیح نه ده چې که چیرته هغه نه وای نومستثنی به په مستثنی منه کې داخل شوی وای.دشیخینورحمهماالله دلیل دادی چې وزني اوکیلي شیان اودراهم ودنانیرداټول که څه هم په ظاهره مختلف اجناس معلومیږي مګرپه معنی کې ټول یوجنس دي ځکه داټول ثمن کیږي اوثابت فی الذمه کیدای شي نوپه دي وجه چې ثابت فی الذمه دي له دراهمواودنانیروسره شریک دي نوددوئ له دراهمواودنانیرواستثناء هم صحیح ده باقي غیروزني اوغیرکیلي شیان ددراهموپه شان واجب فی الذمه نه دي نوله دراهموسره نه معنی مجانس دي اونه صورة نوله دراهموڅخه دهغواستثناء صحیح نه ده .

**فائده** :دشیخینورحمهماالله قول راجح دی لمافی الدرالمختار: کماصح استثناء الکیلی والوزنی والمعدود الذی لاتتفاوت احاده کالفلوس والجوزمن الدراهم والدنانیرویکون المستثنی القیمة استحساناًلثبوتهافی الذمة فکانت کالثمنین ,وقال ابن عابدین رحمه الله :(قوله کماصح) فصله عماقبله لانه بیان للاستثناء من خلاف الجنس فان مقدرامن مقدرصح عندهمااستحساناوتطرح قیمة المستثنی مماأقربه وفی القیاس لایصح رهوقول امام محمد رحمه الله .(الدرالمختارمع الشامیة:۴/۰ ۵۱)

(۴)که چادبل چادحق داقرارسره متصل ان شاء الله وویله مثلاویې ویل :لفلان علیّ مائة درهم ان شاء الله .نوداقرارپرمقرباندي نه لازمیږي ځکه په ان شاء الله سره استثناء دامام ابویوسف رحمه الله په نزدحکم ترانعقادمخکې باطلوي اودامام محمد رحمه الله په نزدحکم دباري تعالی ترمشیت پوري دمعلق کولوپاره ده.بهرحال په دواړوصورتونوکې اقرارنه لازمیږي،دامام ابویوسف رحمه الله دمذهب مطابق خوظاهره ده اودامام محمد رحمه الله دمذهب مطابق ځکه نه لازمیږي چې اقراردتعلق بالشرط احتمال لري ولې اقراردماسبق خبرورکول دی اوتعلیق بالشرط دآینده په لحاظ سره وي ذدي دواړوترمنځ منافات دی .

(۵)که مقردیوچاليپاره اقراروکړآبادي یې دخپل ځان لپاره مستثنی کړه ویې ویل :هذه الدارلزید والبناء لنفسی .نومکان اوآبادي ټول دمقرله لپاره کیږي ځکه دسرای په اقرارکې آبادي تبعاًداخله ده اوکه مقروویل چې ددغه سرای آبادي زماده اومیدان یې دفلان دی نولکه څرنګه چې مقروایي دغسې ده ځکه میدان عبارت دی له داسې ځمکې نه چې له درختواوآبادي څخه خالي وي نومقرله آبادي بغیردخالي ځمکې اقرارکوونکی دی .

(۶)که مقروویل چې دفلان پرماباندي زردراهم دي دهغه مریې دثمنوڅخه چې ماخیستی دی خوماهغه تراوسه قبض کړی نه وو .نوکه مقرمعلوم مریی ذکرکړچې فی الحال دمقرله په لاس کې دی نومقرله ته ویل کیږي چې که ستاخوبنه وي مریی مقرته حواله کړه اومقرچې په کوموزرودرهمونو اقرارکړی دی هغه ورځني واخله که نه بیاستالپاره هیڅ نشته ځکه مقراقراربالمال دمریې په عوض کړی وونوبغیردمریې پرمقرباندي هیڅ نه لازمیږي .

(۷)که مقر معلوم مرېی ذکر کړنو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد پر مقر باندي زر درهمه لازمیږي او دمقر ددي خبرې تصدیق نه کول کیږي چې وایې ماهغه نه دی قبض کړی ځکه دمقر دا وینا له اقرار څخه رجوع کول دی ځکه اقرار د وجوب لپاره دی خو چې کله دغیر معلوم مرېی په عوض کې دی نو دا داسې ده لکه په بیع کې چې مبیع مجهول وي او دمبیع مجهول والی د ثمن له وجوب څخه مانع وي نو دلته هم چې مرېی مجهول دی نو دمقر به دوجوب څخه مانع دی حال دا چې ده دوجوب اقرار کړی دی نو دا له اقرار څخه رجوع کول دی چې صحیح نه دی، صاحبین رحمهما الله فرمایې چې که مقر له اقرار سره متصل وویل چې دا دغیر معلوم مرېې عوض دی نو دهغه تصدیق کول کیږي او که یې متصل نه وویل نو تصدیق یې نه کول کیږي.

**فائده**: دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لمافی مجمع الانهر: وان لم یعینه لزمه الالف ولغاقوله لم اقبضه عندالامام لانه رجوع بعدالاقرار فلایصح لاموصولا ولامفصولا وبه قالت الائمة الثلاثة. (مجمع الانهر: ۳/ ۳۱۰) وقال العلامة الحصکفي رحمه الله: وان لم یعین العبد لزمه الالف مطلقا وصل ام فصل وقوله مااقبضته لغو لانه رجوع. (الدّر المختار علی هامش ردّالمحتار: ۴/ ۵۱۲)

(۸) قوله کقوله من ثمن خمر او خنزیر ای کمایلزم المقر الالف فی قوله لفلان علی الف من ثمن خمر او خنزیر یعني که مقر وویل چې دفلان پر ما باندي زر دراهم دي دشرابو یا دخنزیر قیمت، نو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد پر مقر باندي زر درهم لازمیږي او دمقر دا وینا چې دشرابو یا دخنزیر قیمت دی نه قبلیږي، ځکه دا له اقرار څخه رجوع ده ځکه پر مسلمان باندي دشرابو او خنزیر ثمن نه واجبیږي نو گواکي دزر درهمو نو له وجوب څخه انکار کوي چې دهغه دکلام اوله برخه دوجوب لپاره ده، صاحبین رحمهما الله فرمایې چې که مقر له اقرار سره متصل وویل چې دا دشرابو یا خنزیر عوض دی نو دهغه تصدیق کول کیږي او که یې متصل ونه وویل نو تصدیق یې نه کول کیږي.

**فائده**: دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لماقال العلامة الحصکفي رحمه الله: وان لم یعین العبد لزمه الالف مطلقا وصل ام فصل وقوله مااقبضته لغو لانه رجوع کقوله من ثمن خمر او خنزیر او مال قمار او حر او میتة او دم فیلزمه مطلقا وان وصل لانه رجوع. (الدّر المختار علی هامش ردّالمحتار: ۴/ ۵۱۲)

(۹) وَلَوْ قَالَ مِنْ ثَمَنِ مَتَاعٍ أَوْ أَقْرَضَنِي وَهِيَ زُيُوفٌ أَوْ نَبَهْرَجَةٌ لَزِمَهُ الْجِيَادُ (۱۰) بِخِلَافِ الْغَصْبِ وَالْوَدِيعَةِ (۱۱) وَلَوْ قَالَ إلَّا أَنَّهُ يَنْقُصُ كَذَا مُتَّصِلًا صُدِّقَ وَإِلَّا لَا (۱۲) وَمَنْ أَقَرَّ بِغَصْبِ ثَوْبٍ وَجَاءَ بِمَعِيبٍ صُدِّقَ (۱۳) وَإِنْ قَالَ أَخَذْتُ مِنْك أَلْفًا وَدِيعَةً وَهَلَكَتْ وَقَالَ أَخَذْتَهَا غَصْبًا فَهُوَ ضَامِنٌ (۱۳) وَإِنْ قَالَ أَعْطَيْتَنِيهَا وَدِيعَةً وَقَالَ غَصَبْتَهَا لَا.

**ترجمه**: او که یې وویل چې دسامان ثمن دي یا یې ماته قرض راکړی وي مگر هغه کوټه وې یا غیر مروجه وي نو لازمیږي پر ده باندي صافې خلاف له غصب او ودیعت نه او که یې متصلا وویل مگر هغه دومره کمې دي نو تصدیق یې کول کیږي که نه بیانه کیږي، که چا دکپړې دغصب اقرار وکړ او وراېې وړه عیب جنه نو تصدیق یې کیږي، او که یې وویل چې ماله تا څخه زر روپۍ امانت وړې وې هغه هلاک شوې او مقرله وویل چې هغه تا وړې وې په غصب سره نو دی ضامن گرځي، او که یې وویل چې هغه تا ماته دامانت په دول راکړې وې او مقرله وویل چې هغه تا غصب کړې وې نو بیا نه ضامن کیږي.

**تشریح**: (۹) که مقر وویل دفلان پر ما باندي زر دراهم دي دسامان دقیمت او هغه کوټه دي یا غیر مروجه دي تجارې نه قبلوي یا یې وویل چې دفلان ماته زر دراهم قرض راکړي دي او هغه کوټه دي یا غیر مروجه دي

اومقرله وويل چې كوټه اوغيرمروجه نه دي بلكې صافې اودتجارانوپه نزدمروجه دي،نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدصافې روپۍ لازميږي،ځكه دمقِردا خبره چې هغه كوټه دي له اقرارڅخه رجوع ده ولې مطلق عقدمقتضي دى چې عوضين له عيب څخه سالم وي اوكوټه كيدل خوعيب دى نودمقِر دادعوى كول چې كوټه دي دعقد دمقتضى خلاف دى نودا له اقرارڅخه رجوع ګڼله كيږي اوله اقرارڅخه رجوع كول صحيح نه دى،صاحبين رحمهما الله فرمايې چې كه مقِردا قول چې كوټه دي متصل كړى وونوبيادمقِرتصديق كول كيږي اوكه يې منفصل وويل نوتصديق يې نه كيږي.

**فائده**: دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافي الدر المختار: ولوقال له علي الف من ثمن متاع اوقرض وهي زيوف مثلالم يصدق مطلقالانه رجوع.(الدر المختار على هامش ردالمحتار: ۴/۵۱۲)

(۱۰) البته دغصب اوديعت ددعوى كولوپه صورت كې دهغه دتصديق كول كيږي مثلا يوچا وويل چې ما دفلان زردراهم غصب كړي وومګرهغه كوټه دي ياېې داسي وويل چې فلان ماته زردراهم دامانت په ډول راكړي وومګرهغه كوټه دي نوپه دغودواړوصورتونوكې دهغه خبره معتبريږي ځكه غصب اوديعت ددي خبرې مقتضي نه دي چې مغصوب شى اوامانت صحيح سالم وي ځكه غاصب ته چې مغصوب شى څه ډول په لاس ورشي هغه ډول يې اخلي همدا ډول له مودَع سره چې يوشى څه ډول وساتل شي هغه يې همداسي ساتي نودا له اقرارڅخه رجوع نه شمارله كيږي.

(۱۱) كه يوچا داسي وويل چې زماپرذمه دفلان زردراهم دي مګرله هغوڅخه يوڅه كم دي نوكه دا دامتصل وويل تصديق يې كول كيږي اوكه يې متصل ونه ويل نوتصديق يې نه كول كيږي ځكه دادمقداراستثناء ده اودمقدارپه استثناء كې قاعده داده چې كله متصله وي نوصحيح كيږي كه نه ييانه صحيح كيږي.

(۱۲) كه مقِردكپړي دغصب كولواقراروكړبياچې كله له هغه څخه مطالبه وشوه نوهغه معيوبه كپړه راوړه ورېې كړه چې ماداغصب كړې وه په داسي حال كې چې مغصوب نه وايې چې تاخوله ماڅخه سالمه كپړه غصب كړې وه نودغاصب قوله سره دقسم معتبريږي ځكه غصب په سالميت پوري خاص نه دى بلكې معيوب شى هم غصب كيږي.

(۱۳) كه يوچا بل چاته داسي وويل چې ماله تاڅخه يوزردرهم امانتًا واړې ووبياهغه له ماڅخه هلاك شول هغه بل په جواب كې ورته وويل نه داسې نه ده بلكې تاله ماڅخه په زورآخيستي وونومقِردهغودراهموضامن ګرځي ځكه مقِرضمان په سبب (يعني اخيستلو) سره اقراروكړبيايې دداسي امردعوى وكړه چې دى له ضمانت څخه بري كوي يعني دهغه بل په خوښه دامانت په ډول ساتل دى چې هغه له دي څخه انكاركوي نوقول دمنكرسره دقسم معتبريږي.

(۱۴) كه مقِرداسي وويل چې تاماته زردرهمه امانتًا راكړي دي چې هغه له ماڅخه هلاك شول مقرله ورته وويل نه بلكې تاغصب كړي وونومقِرنه ضامن كيږي ځكه مقِرضمان په سبب اقرارنه دى كړى بلكې دمقِرله په فعل (ددرهم وركولو) يې اقراروكړاوفعل يې دمقرله طرف ته مضاف كړيعني تاراكړي وواومقرله

پرده باندي دسبب ضمان يعني غصب دعوی کوي حال داچې مقِرله هغه ځخه انکارکوي اوقول دمنکرسره دقسم معتبريږي .

(۱۵) وان قال هذا كان وديعة لي عندك فأخذته فقال هو لي اخذه (۱۶) وان قال آجرت بعيري او ثوبي هذا فلانا فركبه او لبسه فرده فالقول للمقر (۱۷) ولو قال هذا الالف وديعة فلان لا بل وديعة فلان فالالف للاول وعلى المقر مثله للثاني.

**ترجمه** :اوكه يې وويل چې دازما امانت وولـه تاسره پس ما را واخيست اوهغه وويل دازمادی ته يې اخيستلای شي،اوكه يې وويل چې ماخپل اوښ په كرايه وركړی وويامې خپله جامه په كرايه وركړې وه فلان ته ياهغه پري سپورشويايې واغوستله بيايې بيرته ماته راكړه نودمقِرقول معتبريږي اوكه يې وويل دازررويې دفلان وديعه ده نه بلكې دفلان وديعه ده نودازررويې داول دي پرمقرباندي دثاني لپاره دهغه مثل لازم دي .

**تشريح** :(۱۵)كه يوه سړي مثلازيدبل سړي مثلاعمرته وويل چې زماداشی ستاسره امانت وواوس ما وړی دی عمرورته وويل چې ته دروغ وايې داخوزمادی نوعمردي له هغه ځخه داشی يوسي ځكه زيدعمرپه قبضه باندي اقراروكړبيايې هغه شی يووړاوده داوړل سبب دضمان دی بيايې پرهغه دخپل استحقاق دعوی وكړه چې عمرورځخه منكردی اوقول دمنكرسره دقسم معتبريږي .

(۱۶)كه يوه سړي مثلازيدوويل مادغه خپل اوښ عمرته په كرايه وركړی وواوهغه پري سپور هم شويايې ماته واپس راكړيايې داسي وويل چې مادغه خپله كپړه هغه ته په كرايه وركړې وه هغه اغوستې وه بيايې واپس كړه،عمرورته وايې چې ته دروغ وايې دغه اوښ يادغه كپړه خوزماده ،نودامام صاحب رحمه الله په نزداستحساناًدمقِرقول معتبريږي ځكه په دي كې مقِرداسي قبضي اقراروكړچې خپله دده له طرفه ثابت ده نوددي قبض په كيفيت كې دده قول معتبريږي ، دصاحبينورحمهماالله اوائمه ثلاثه ؤپه نزددهغه چاقول معتبردی له چانه چې اوښ ياكپړه اخيستله شوې ده دهغه قول موافق قياس دی ځكه مقِرمقرله په قبض اقراروكړبيايې په هغه دخپل استحقاق دعوی وكړه چې مقرله ورځخه منكردی اوقول دمنكرسره له يمين معتبريږي .

**فائده** :دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لمافي الدر المختار :وصدق من قال آجرت فلاناً فرسي هذه اوثوبي هذا فركبه اولبسه اواعرته ثوبي اواسكنته بيتي وردّه ..........وقال فلان بل ذالك فالقول للمقر استحساناً لان اليدفي الاجارة ضرورية بخلاف الوديعة (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۳/۵۱۳)

(۱۷)كه يوچاوويل زماسره دازردرهمونه دفلان امانت دي،بيايې وويل نه بلكې دفلان شخص امانت دي،يعني بيايې دبل چانوم يادكړمثلالومړی يې وويل دزيدامانت دي بيايې وويل نه بلكې دبكرامانت دي،نودمقِرپرذمه داول شخص يعني زيدلپاره زردرهمه لازميږي،اوهغومره دهغه بل سړي يعني بكرلپاره پري لازميږي ځكه داول لپاره دده اقرارصحيح دی بيادده داخبره چې لابل وديعة لفلان،داله

لو مړي اقرار څخه رجوع دی چې له اقرار څخه رجوع صحيح نه ده او دوهم لپاره څکه زر درهمه لازميږي چې دمقر قول لابل وديعة لفلان، دهغه لپاره مستقل اقرار دی نو دمقر پر ذمه دهغه بل لپاره هم زر درهم لازميږي.

## باب اقرار المريض

داباب دمريض داقرار په بيان کې دی

له مرض څخه دلته مراد مرض الموت دی،مصنف رحمه الله دروغو خلکو داقرار له بيان څخه فارغ شو اوس نو دمريض داقرار احکام بيانوي،او څرنګه چې صحت اصل دی او ناروغي دعارض په وجه وي نو داصل تقديم اودعارض تاخير مناسب دی څکه نو مصنف رحمه الله هم دمريض داقرار احکام موخر کړل. اوبيا دمريض ډيرداسي احکام شته چې په مريض پورې خاص دي دروغو لپاره دااحکام نشته څکه يې دمريض داقرار داحکامو لپاره مستقل باب قائم کړی دی.

(۱) دين الصحة وما لزمه في مرضه بسبب معروف قدّم على ما اقرّ به في مرضه (۲) واخر الارث عنه (۳) وان اقرّ المريض لوارثه بطل الا ان يصدقه البقية (۴) وان اقرّ لاجنبي صحّ وان احاط بماله (۵) وان اقرّ لاجنبي ثم اقرّ ببنوّته ثبت نسبه وبطل اقراره (۶) وان اقرّ لاجنبية ثم نكحها صحّ (۷) بخلاف الهبة والوصية.

**ترجمه**:دصحت قرض اوهغه چې په بيماري کې پر ده لازم شوی وي دمعروف سبب په وجه مقدم کيږي پر هغه باندې چې ده يې په مرض کې اقرار کړی وي ،اومؤخر کيږي ميراث له هغه نه،او که اقرار وکړ ناروغ دخپل وارث لپاره نو باطل دی مګر داکه بقيه ورثه دهغه تصديق وکړي او که يې اقرار وکړ داجنبي لپاره نو صحيح دی که څه هم هغه دده په مال احاطه وکړي.او که يې اقرار وکړ داجنبي لپاره بيا دهغه په زوی والي اقرار وکړ نو ثابتيږي دهغه نسب او باطليږي دده اقرار.او که يې اقرار وکړ پر دی ښځې لپاره بيا يې له هغې سره نکاح وکړه نو صحيح دی خلاف له هبه او وصيت نه.

**تشريح**:(۱)که مقر په مرض الموت کې دقرض اقرار وکړ(مثلا ويې ويل چې پر ما باندې دزيد دوه زره درهمه دين دی )اودمقر پر ذمه باندې دصحت دوخت هم څه قرض شته او په مرض موت کې هم څه قرض دهغه پر ذمه دمعلومو اسبابو په وجه لازم شوی وو(مثلاپه مرض موت کې يې ديوچا يوشی هلاک کړی دهغه ضمان پر ده باندې راغی يا يې له يوچا څخه قرض اخيستی وو يا يې يوشی اخيستی وو )نو دصحت قرض او په مرض موت کې دمعلومو اسبابو څخه لازم شوي قرضونه ترهغو قرضو مخکې دي دکوموچې ده په مرض موت کې اقرار وکړ څکه قرض بې له شکه چې دليل دی مګر دهغه دليل کيدل هغه وخت معتبر دی چې کله په هغه سره دبل چاحق نه باطليږي حال داچې دداسي مريض په اقرار سره دغير حق باطليږي څکه دهغه په مال پورې دصحت دقرض غوښتونکو او په معلومو اسبابو دلازموشو يو قرضو نو دقرض غوښتونکو حق متعلق شوی دی ظاهره خبره ده چې مقر له ته دهغه له مال څخه دڅه په ورکولو دمذکورو قرض غوښتونکو دحق بطلان لازميږي.

البته كه يې اولني مذكوردوه قسمه قرضونه اداكړل اوڅه مال باقي پاتې شونو له هغه باقي مال څخه اوس دمريض هغه قرضي اداكيږي دكوموچې هغه په مرض موت كې اقراركړی ووځكه پخپله ددغه قسم قرضونو اقراردمريض له جانبه صحيح ووخالص دصحت دقرض غوښتونكودحق په وجه ردشوی وو.

(۲)ميراث دمرض الموت تراقرارووروسته كيږي يعني كه دمرض موت پرمريض باندي اول دوه قسمه قرضونه نه وونودمرض موت اقرارصحيح كيږي ځكه دغه اقراردغيردحق ابطال لره متضمن نه دی او په دغه صورت كې مقرله دمقرتورورثه ؤمقدم كيږي ولی ادائيگی دقرض له اصليه حوائجوڅخه دی اودورثه ؤحق ترفارغ حق پوري معلق كيږي نوترڅوپوري چې دميت پرذمه يوقسم دين وي وارثان دهيڅ شي مستحقين نه گرځي.

(۳)دمرض موت مريض كه ديوخپل وارث لپاره اقراروكړي نوداصحيح نه دی مثلاله يوڅوزامنوڅخه ديوه لپاره اقراروكړي چې دهغه زماپرذمه زرروپۍ دي نوداصحيح نه دی ځكه دنبي كريم ﷺ ارشاددی :لاوصية لوارث ولااقرارله بالدين (دوارث لپاره وصيت نشته اونه دهغه لپاره اقرارشته) همدارنگه دنوروو ارثانو حق دمقرله دغه مال سره معلق شوی دی نودځينوورثه ؤپه اقرارسره دمخصوصولونه دباقي ورثه ؤحق باطليږي،نوداقرارنه دی صحيح ،البته كه باقي ورثه په دي كې دهغه تصديق وكړي نويياصحيح دی ځكه داقراردصحت مانع له تركه سره دهغوئ دحق تعلق ووچې دهغوئ په تصديق كولوسره زائل شو.

(۴)كه يومريض ديوه بيگانه چالپاره اقراروكړنودغه اقراريې صحيح دی كه څه هم دغه اقراردهغه ټول مال ونيسي ځک حضرت عمر ﷺ فرمايي :اذااقرالرجل في مرضه لرجل غيروارث فانه جائزوان احاط بماله.(كله چې يوڅوک اقراروكړي په مرض كې دغيروارث لپاره نوداجائزدی كه څه هم دااقراردهغه ټول مال ونيسي) همدارنگه مقرلره له خلكوسره دمعاملاتوكولوضرورت دی له وارثانوسره معاملاتی ډيرې كمې گيږي،زياترد معاملات له نوروخلكوسره كيږي نوكه له پرديوسره دهغه اقرارجائزونه گڼل شي نوخلک له هغه سره معاملات نه كوي چې په دي كې دهغه نقصان دی ځكه نودبيگانه خلكولپاره دمريض اقرارجائزگڼل شوی دی.

(۵)كه مقرپه مرض موت كې ديوبيگانه مجهول النسب لپاره اقراروكړمثلا ويې ويل چې دفلان پرذمه باندي زمازرروپۍ دي بيامقروويل چې دامقرله زمازوی دی نوله مقرڅخه دمقرله نسب ثابتيږي اواقراريې باطليږي،څرنگه چې دعوی دنسب له اصليه حوائجوڅخه ده ځكه نودهغه بيگانه نسب له مقرڅخه ثابتيږي اودعوی دنسب دنطفه دقرارزماني ته منسوبيږي نومقرله له هغه وخته دده زوی دی اوس چې مقردهغه لپاره اقراركړی نودادوارث يعنې خپل زوی لپاره اقراركيږي چې داصحيح نه دی.

(۶)كه مقرديبگانه ښځې لپاره اقراروكړمثلاويې ويل چې دفلانۍ ښځې زماپرذمه زرروپۍ دي بيامقرله هغې سره نكاح وكړه نواقراريې نه باطليږي ځكه داقرارپه وخت دارشته قائمه نه وه اودزوجية زمانه پرتزوج باندي مقصوره وي دنسب په شان ماقبل ته نه منسوبيږي نودهغه اقرارديبگانه لپاره باقي دی.

(۷) يعني كه مريض كومې بيګانه ښځې ته يوشی هبّه كړيايې دهغې لپاره وصيت وكړيايې له هغې سره نكاح وكړه نو دا هبّه او وصيت ځرنګه چې تمليک بعدالموت دی او بعدله موته هغه وارثه ده او دوارث لپاره وصيت صحيح نه دی نو دا وصيت هم صحيح نه دی او د مرض په دوران كې يوشی هبّه كول وصيت شمارل كيږي نو د وصيت په شان په مرض موت كې دبيګانه لپاره هبّه هم صحيح نه ده.

(۸) وَإِنْ أَقَرَّ لِمَنْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فِيهِ فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنَ الْإِرْثِ وَالدَّيْنِ (۹) وَإِنْ أَقَرَّ بِغُلَامٍ مَجْهُولٍ يُولَدُ لِمِثْلِهِ لِمِثْلِهِ أَنَّهُ ابْنُهُ وَصَدَّقَهُ الْغُلَامُ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَلَوْ مَرِيضًا وَيُشَارِكُ الْوَرَثَةَ (۱۰) وَصَحَّ إِقْرَارُهُ بِالْوَلَدِ وَالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجَةِ وَالْمَوْلَى (۱۱) وَإِقْرَارُهَا بِالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجِ وَالْمَوْلَى (۱۲) وَبِالْوَلَدِ إِنْ شَهِدَتْ قَابِلَةٌ أَوْ صَدَّقَهَا زَوْجُهَا (۱۳) وَلَا بُدَّ مِنْ تَصْدِيقِ هَؤُلَاءِ (۱۴) وَصَحَّ التَّصْدِيقُ بَعْدَ مَوْتِ الْمُقِرِّ إِلَّا تَصْدِيقَ الزَّوْجِ بَعْدَ مَوْتِهَا.

**ترجمه**: او كه يې اقرار وكړ دهغې لپاره چې ده ورته درې طلاقه وركړي دي په مرض كې نو دهغې لپاره اقل له ميراث او قرض ځخه دی او كه يې اقرار وكړ دداسې ماشوم چې دمقِرهغو مره ماشوم پيدا كيدای شي چې دا زما زوی دی او ماشوم دده تصديق وكړ نو دهغه نسب ثابتيږي كه څه هم مقِر ناروغ وي او هغه ماشوم له ورثه ؤسره شريک ګرځي، او صحيح دی دسړي اقرار په ماشوم سره او په مور او پلار سره او په ښځه سره او په مولی سره او صحيح دی دښځې اقرار په مور او پلار سره او په خاوند سره او په مولی سره او په بچيانو سره كه ګواهي وركړه دايې دهغې يا تصديق وكړ دهغې خاوند دهغې، او ددې كسانو تصديق ضروري دی او صحيح دی تصديق كول دمقِر له مرګ وروسته مګر نه تصديق دخاوند دښځې له مرګ وروسته (چې هغه صحيح نه دی).

**تشريح**: (۸) كه مقِر په مرض موت كې دخپلې ښځې لپاره له دريو طلاقو وركولو وروسته دقرض اقرار وكړ نو دښځې لپاره له مقربه او ميراث ځخه چې كوم يو كم وي هغه كيږي ځكه زوجين دمذكور اقرار په وجه متهم كيدای شي په دې دول چې ممكن زوج طلاق وركړی وي دهغې لپاره په اقرار كې يې داقصد كړی وي چې ښځه به دميراث ترحصه زيات څه ترلاسه كړي چې دقيام نكاح په حالت ممكن نه دی ځكه دوارث لپاره اقرار صحيح نه دی چې په اقل الامرين كې داتهمت نشته.

(۹) كه مقِر (كه څه هم مريض وي) ديو ماشوم په باره كې ووېل چې دا زما زوی دی نو له مقِر ځخه دهغه نسب ثابتيږي په دې شرط چې دماشوم هومره زوی دمقِر پيدا كيدای شوای (يعني لږ ترلږ بايد دمقِر عمر ترد وولسو كالو زيات وي) چې په ظاهره دروغجن نه شي او دمقِر له نسب معلوم نه وو ځكه معروف النسب ثبوت النسب من الغير ممتنع دی، او ماشوم ددې مقِر تصديق هم وكړي چې دی پخپله دعوی كې رښتينی دی زه دهغه زوی يم ځكه پر ثبوت دنسب باندې ډېر احكام مرتب كيږي لكه له زوی ځخه دپلار ثبوت ارث وغيره نو دزوی والي داقرار په صورت كې داحقوق پر مقِر له باندې لازميږي نو دمقِر له التزام ضروري دی چې صورت يې دادی چې مقِر له دمقِر تصديق وكړي نو چې كله دهلک نسب له هغه مقِر ځخه ثابت شي نو دا هلک له نورو ورثه ؤسره په ميراث كې شريک كيږي ځكه په ميراث كې شريک كيدل دثبوت نسب لپاره لازم دی.

(۱۰) دمقِر سړي په زوی، مور او پلار، ښځه او مولی سره اقرار كول صحيح دی (مثلاً چې داډول ووايې چې فلان زما زوی دی، فلان زما پلار دی فلان زما مورده وغيره وغيره) ځكه داداسې اقرار دی چې خپله

پرمقرباندي لازميږي اوپه دي کې دغيرطرف ته دنسب منسوب کول هم نه راځي نوددي سرې دغه اقرارصحيح دی.

(۱۱)قوله والقرارهابالوالدين اى وصح اقرار المرأة بالوالدين الخ،يعنې که ښځې ديوچاپه باره کې دموراوپلار ياخاوند اويامولى اقراروکړمثلاداسي يې وويل چې فلان زماپلاردی فلانۍ زمامورده فلان زماخاوند دی فلان زمامولی دی نودښځې دغه اقرارصحيح کيږي.

(۱۲)قوله وبالولدان شهدت قابلة الخ اى وصح اقرار المرأة بالولدان شهدت قابلة الخ،يعنې که ښځې ديوچادزوی والي اقراروکړمثلاداسي يې وويل چې فلان زمازوی دی ،ښځه که ذاتِ زوج وي اوکه معتدة من الزوج وي نودهغې دغه اقرارنه قبليږي ځکه په دې اقرارکې نسب پربل چايعنې زوج باندي تپل دي ولی دنسب تعلق له زوج سره دی البته که چيرته دايه ددغه ماشوم له هغي مقرې ښځې څخه دپيداکيدوګواهي ورکړي يازوج دمقرې تصديق وکړي نوبيادغه اقرارصحيح دی ولی په لومړی صورت کې څرنګه چې دولادت په باره کې يواځي ددايه ګواهي مقبوله ده اوپه دوهم صورت کې حق دزوج دی نوپه دغودووصورتوکې دمقرې تصديق کول کيږي.

(۱۳)په مذکوروټولوصورتونوکې دمقرله تصديق ضروري دی يعنې دچاپه باره کې چې سړی يابښځه اقرارکوي مثلاموراوپلار،زوی،خاوندوغيره نوپه دغوټولوصورتونوکې ضروري دی چې مقرله دمقِرتصديق وکړي ځکه له دوئ نه هريوپخپله قبضه کې دی اوهريودخپل ځان په باره کې خپله مستقل متصرف دی دبل چاتصرف اواقراردوئ لره لازم نه دی.

(۱۴)په مذکورواقرارکوونکوکې که يومړشي نومقرله دهغه له مرګه وروسته هم دهغه تصديق کولای شي ځکه نسب له مرګ وروسته هم باقي وي،البته که يوې ښځې ديوسړي په باره کې دااقراروکړچې زه دده ښځه يم ياهغه ښځه مړه شوه اوخاونددهغې له مرګ وروسته دهغې تصديق وکړنودامام صاحب رحمه الله په نزدداتصديق نه صحيح کيږي،اودصاحبينورحمهما الله په نزدصحيح دی ځکه دنسب په شان نکاح هم په مرګ سره نه باطليږي بلکې باقي پاتيږي همداوجه ده چې خاونددښځې وارث کيږي نودخاوندله طرفه تصديق صحيح دی،دامام صاحب رحمه الله دليل دادی چې نکاح دمرګ په وجه منقطع کيږي همداوجه ده چې خاونددهغې له خورسره نکاح کولای شي اوله هغې پرته له څلوروښځوسره نکاح کولای شي نودنکاح دنه پاتي کيدوپه وجه دخاوندتصديق کول صحيح نه دی ،چيرته چې دميراث حکم دی هغه خوله مرګ وروسته ثابتيږي اونکاح دهغواحکاموپه حق کې معدومه ګڼل کيږي کوم چې ترمرګ مخکې وي.

**فائده** :دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لمافي الدر المختار:وصح التصديق بعدموت المقر لبقاء النسب والعدة بعدالموت الاتصديق الزوج بموتها مقرة لانقطاع النكاح بموتها ولهذاليس له غسلهابخلاف عكسه.(الدر المختار:۳/۵۱۹)

(۱۵)وَإِنْ اَقَرَّ بِنَسَبٍ نَحْوِ الاَخِ وَالْعَمِّ لَمْ يَثْبُتْ(۱۶)فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ غَيْرُهُ قَرِيْبٌ اَوْ بَعِيْدٌ وَرِثَهُ وَإِنْ كَانَ لا(۱۷)وَمَنْ مَاتَ اَبُوهُ فَاَقَرَّ بِاَخٍ شَرِكَهُ فِي الاِرْثِ وَلَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ(۱۸)وَاِنْ تَرَكَ اِبْنَيْنِ وَلَهُ عَلَى آخَرَ مِائَةٌ فَاَقَرَّ اَحَدُهُمَا بِقَبْضِ اَبِيهِ خَمْسِينَ مِنْهَا فَلاشَيْءَ لِلْمُقِرِّ وَلِلآخَرِ خَمْسُونَ.

**ترجمه**: اوکه يې اقرار وکړ د ورور او آکا وغيره د نسب نو نه ثابتيږي، که چيرته نه وو ده لره کوم وارث له هغوئ علاوه نه قريب نه بعيد نو هغه دده وارث ګرځي اوکه يې وارث وو بيا هغه وارث نه ګرځي، اوکه د چاپلار مړ شو بيا يې د ورور اقرار وکړ نو هغه له ده سره شريک کيږي په ميراث کې او نسب يې نه ثابتيږي، اوکه يې پاتې شول دوه زامن او دهغه پر يو بل چاباندې سل درهم وو بيا اقرار وکړي يو له هغوئ څخه په قبض کولو د پلار پنځوس درهمو نه نو مقرله هيڅ نشته او هغه بل لره پنځوس درهمه حق کيږي.

**تشريح**: (۱۵) که مقرله اولاد او مور او پلار نه علاوه د بل چا د نسب اقرار وکړ مثلاً د يو چا د ورور والي اقرار يې وکړ چې دا زما ورور دی يا يې د چا په باره کې اقرار وکړ چې دا زما آکا دی نو د هغوئ نسب د مقرله پلار او نيکه څخه نه ثابتيږي ځکه په دې کې حمل النسب علی الغير راځي يعنې د ورور د اقرار کولو په صورت کې د مقرله نسب پر پلار باندې حمل کيږي او د آکا د اقرار کولو په صورت کې د مقرله نسب پر نيکه باندې حمل کيږي نو ترڅو چې مقر عليه د هغه تصديق و نه کړي د هغه اقرار جائز نه دی.

(۱۶) په مذکور صورت کې که د مقر يو دول وارث نه وو نه قريب او نه بعيد نو بيا مقرله د هغه د ميراث مستحق ګرځي ځکه مقر د اقرار په کولو سره له خپله مرګه وروسته پخپل مال کې د مقرله استحقاق ثابت کړ او د مقر اقرار خپله پر ده باندې حجت دی او مقر پخپل مال کې د تصرف کولو ولايت لري نو مقرله د هغه د ټول مال مستحق کيږي که څه هم د هغه نسب ثابت نه شي، اوکه د مقر يو وارث نژدې يا ليرې وو نو هغه تر مقرله د ميراث زيات حقدار ګرځي ځکه چې کله د مقرله نسب ثابت نه شو نو هغه بيا د وارث معروف مزاحم نه شي جوړيدلای.

(۱۷) که د مقر پلار مړ شو بيا مقر د يو چا په باره کې د ورور والي اقرار وکړ نو مقرله په ميراث کې له مقر سره شريک کيږي ځکه مقر د دي ولايت لري چې له خپل ځان سره په ميراث کې غير شريک کړي ځکه دا پر خپل ځان باندې اقرار دی او پر خپل ځان خو دی ولايت لري ځکه د مقرله شرکت ثابتيږي. البته د مقرله نسب نه ثابتيږي ولی په دې اقرار کې حمل النسب علی الغير راځي يعنې مقر د مقرله نسب پر خپل پلار باندې حمل کوي او پر غير باندې نسب حمل کول د هغه د تصديق بغير جائز نه دی.

(۱۸) که يو څوک مړ شو تر شا يې دوه زامن پاتې شول او د مړي پر بل چا باندې سل درهمو نه وو او س له دغو دوو ورونو څخه يوه دا اقرار وکړ چې له دغو سلو درهمونو څخه پنځوس درهم زما پلار وصول کړي وو نو دغه مقر ته له دې سلو درهمونو څخه هيڅ نه ورکول کيږي او هغه بل ورور ته پنځوس درهم ورکول کيږي ځکه د مقرله جانبه مذکور اقرار ګواکي پر مړه باندې د قرض اقرار دی او چې کله هغه بل ورور انکار وکړ نو دا ټول اقرار د مقر ورور په حصه کې ځي او د هغه بل ورور خپله حصه پنځوس درهمه سالم ورکول کيږي، بيا مقر ورور د منکر ورور له وصول شويو پنځوسو درهمونو څخه هيڅ نه شي ورلای ځکه که مقرله منکر څخه مثلاً پنځه ويشت يوسي نو منکر د غه پنځه ويشت بيرته له مقروض څخه وصولوي چې دده حصه پوره شي په دې دول پر مقروض باندې پنځه او يا درهم لازميږي حال دا چې د مقر د اقرار مطابق پر هغه باندې پنځوس درهم وو نو هغه دا پنځه ويشت درهم وا پس له مقر څخه وړي او د دې دور هيڅ فائده نشته.

# كتاب الصلح

## داكتاب دصلح په بيان كې دى

صلح اسم دى لـه (مصـالحت )مصـدر څخه چې دمخاصـمت ضـد دى،له صـلاح پـه معنـى داسـتقامة الحال څخـه مشـتق دى ،او پـه شـريعت كې لـه هغـه عقد څخـه عبـارت دى چې دنـزاع اوخصـومت لپـاره رافـع وي،يعنـې يـوه داسـي درميانـه لاره اختيـارول چـې ددواړوفريقولپـاره قابـل قبـول وي چـې پـه هغـه سـره ددوئ تـرمنځ منازعـت ختـم شـي،له ماقبـل سـره يـې مناسـبت دادى چـې لكـه څرنګـه چـې اقرارد قطع خصومت سبب دى همدارنګه صلح هم دقطع خصومت سبب دى.

دصلح عقد كوونكي ته مصالح ،واېي اوبدل صلح (يعنې پركوم شي باندې چې صلح واقع وي) ته مصالح عليه اومدعى به (يعنې دكوم شي چې مدعي دعوى كوي ) ته مصالح عنه وايې ،مثلازيد پربكرباندي ديوشي دعوى بكرزيدته وويل چې له ماڅخه سل روپۍ يوسه اودعوى پرېږده ،زيدسل روپۍ واخيستې دعوى يې پرېښوده نوبكرمصالح دى سل روپۍ مصالح عليه دي اومدعى به مصالح عنه دى.

دصلح ركن هغه ايجاب اوقبول دى چې دصلح لپاره وضع شوى دى،اودهغه لپاره شرط دادى چې مصالح عنه مال وي ياداسي حق وي چې دهغه عوض اخيستل جائزوي لكه قصاص،اوداسي حق نه وي چې عوض اخيستل يې جائزنه وي لكه حق دشفعه اوكفاله بالنفس.

(۱)هُوَعَقْدٌيَرْفَعُ النِّزاعَ(۲)وَهُوَجَائِزٌبِإِقْرَارٍوَسُكُوتٍ وَإِنْكَارٍ(۳)فَإِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَالٍ بِإِقْرَارٍاُعْتُبِرَبَيْعًافَيَثْبُتُ فِيهِ الشُّفْعَةُوَالرَّدُّبِالْعَيْبِ وَخِيَارُالرُّؤْيَةِوَالشَّرْطِ(۴)وَتُفْسِدُهُ جَهَالَةُالْبَدَلِ لاجَهَالَةُالْمُصَالَحِ عَنْهُ(۵)وَإِنْ اسْتَحَقَّ بَعْضَ الْمُصَالَحِ عَنْهُ أَوْكُلَّهُ رَجَعَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ بِحِصَّةِ ذَلِكَ مِنَ الْعِوَضِ أَوْبِكُلِّهِ(۶)وَلَوْاسْتَحَقَّ الْمُصَالَحُ عَلَيْهِ أَوْبَعْضُهُ رَجَعَ بِكُلِّ الْمُصَالَحِ عَنْهُ أَوْبِبَعْضِهِ.

**ترجمه** :صلح هغه عقد دى چې نزاع ختموي اوداجائزدى په اقرارسره اوپه سكوت سره اوپه انكارسره بياكه چيرته واقع شوه له مال څخه پرمال باندي له اقرارسره نودي ته دبيع اعتبارورکول كيږي په دي كې شفعه ثابتيږي اوواپس كول يې دعيب اوخياررؤية اوخيارشرط په وجه سره ،اوفاسدوي دادبدل مجهول كيدل نه دمصالح عليه مجهول كيدل ،اوكه دچامستحق وګرځيدڅه مصالح عنه ياكل مصالح عنه نوله مدعي عليه څخه دي هغومره حصه عوض واخيستل شي يادي كل عوض ورځني واخلي اوكه دبل چامستحق شوبعض مصالح عليه ياكل مصالح عليه نوله مدعى عليه څخه دي هغومره عوض واخلي ياكل عوض.

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله دصـلح اصـطلاحي تعريـف داسـي كـړى دى چـې صـلح پـه شـريعت كـې دهغه عقدنوم دى چې مدعى اومدعى عليه ترمنځ نزاع ختموي.

(۲)صلح دري قسمه ده :صلح مع اقرار ،صلح مع سكوت ،صلح مع انكار ،صلح مع اقرارداده چې دمدعى عليه پراقرارباندي واقع شي مثلادزيدپه لاس كې خمكه ده بكردهغې دعوى وكړه زيددبكرپه دعوى اقراروكړله هغه سره يې پرڅه مال باندي صلح وكړه ،صلح مع انكارداده چې دمدعى عليه پرانكارباندي واقع شي مثلاپه مذكورصورت كې زيددبكرددعوى څخه انكاروكړدهغه له شرڅخه دځان

دخلاصون لپاره يې پرڅه مال باندي صلح ورسره وکړه . اوصلح مع سکوت داده چې دمدعی علیه پرسکوت باندي واقع شي مثلاپه مذکورصورت کې زيدبغيردکوم اقراراوانکارپرڅه مال باندي صلح ورسره کړه .

صلح دادري واړه قسمونه جائزدي لاطلاق قوله تعالى: (وَالصُّلْحُ خَيْرٌ) يعني صلح بهتره ده . وقوله عليه السلام: كُلُّ صُلْحٍ جَائِزٌ فِيمَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلَالًا. (رواه الترمذی) يعني هره صلح دمسلمانانوترمنځ جائزه ده سوادهغه صلح چې حرام حلال کړي ياحلال حرام کړي.

(۳) که صلح دمدعی علیه پراقرارباندي واقع شي اومصالح عنه اومصالح علیه دواړه مال وي نوداصلح دبيع په حکم کې کيږي ځکه په دي کې دمتعاقدينوپه حق کې معنی دبيع يعني مبادلة المال بالمال موجوده ده نوپه بيع کې چې کوم اموراعتبارلري هغه په دي کې هم معتبريږي که چيرته مصالح عنه اومصالح علیه ځمکه وه نوپه هغې کې دګاونډی حق شفعه ثابتيږي اوپه هغی کې خيارعيب ثابتيږي مثلابدل صلح مريی وومدعي په هغه کې عيب پيداکړنودهغه عيب په وجه مدعي هغه ردولای شي ځکه داصلح دبيع په حکم کې ده، همدارنګه په دي کې خيارشرط ثابتيږی مثلابدل صلح يوشی مقررشوی وواوله متعاقدينوڅخه يوه وويل چې مالره دري ورځي اختيارشته نوداجائزه ده لماقلنا ،همدارنګه په دي کې خياررؤية ثابتيږی مثلامصالح مصالح علیه ليدلی نه ووبياچې وليدنوده لره رؤيت خيارشته.

(۴) يعني داسي صلح چې په هغی کې صلح پرمال باندي وکړای شي که چيرته هغه (مصالح علیه) معلوم مال نه وونوداصلح نه صحيح کيږي ځکه داصلح دبيع په حکم کې ده نودمصالح علیه مجهول کيدل داسي دی لکه په بيع کې چې ثمن مجهول وي اودثمن مجهول کيدل مفسدبيع دی نودمصالح علیه مجهول کيدل مفسدصلح کيږي، اوکه مصالح عنه مجهول وونوداسي صلح صحيح ده مثلايوه سري دځپل حق دعوی وکړه اودابيان يې ونکړچې څومره اوڅه شی دی مدعی علیه هغه ته لس درهم ورکړل صلح يې ورسره وکړه نوصلح صحيح ده که څه هم له چاسره چې صلح شوې ده هغه معلوم نه دی په دي صورت کې صلح ځکه صحيح ده چې په دي کې کوم شی نه حواله کيږي نوداډول جهالت مضرنه دی.

(۵) که مدعی علیه دمدعي په دعوی اقراروکړصلح يې ورسره وکړه بيايوچا په ټول مصالح عنه (يعني مدعی به) ياڅه حصه کې ځپل استحقاق ثابت کړله مدعي علیه ځخه يووړنومدعی علیه به په لومړي صورت کې کل عوض اوپه دوهم صورت کې دمستحق حصه په مقدارعوض له مدعي ځخه واپس اخلي مثلادعمروپه لاس کې سرای دی زيددهغه سرای دعوی وکړه عمرواقراروکړاوله زيدسره يې پرسل درهمه باندي صلح وکړه عمروپرسرای اوزيدپرسل درهمه قبضه وکړه بيانيم سرای دبل چاحق ثابت شونوعمروبه له زيدڅخه پنځوس درهم واپس اخلي همدارنګه که ټول سرای ديوچاحق ثابت شونوعمروبه له زيدڅخه سل درهمه ټول واپس اخلي ځکه صلح مع اقراردرحقيقت دبيع په شان معاوضه مطلقه ده اودمعاوضه حکم داده چې په هغی کې داستحقاق په وخت رجوع بقدرمستحق کيږي.

(۶)كه ټول مصالح عليه (پركوم شي چې صلح شوې ده)ټول ياڅه حصه دبل چاحق ثابت شونو په لومړي صورت كې به كل مصالح عنه اوپه دوهم صورت كې به بقدرِحصه له مدعى عليه ځخه اخلي ځكه چې صلح مع اقراردرحقيقت دبيع په شان معاوضه مطلقه ده اودمعاوضه حكم همدادى چې په هغى كې داستحقاق په وخت رجوع بقدرمستحَق كيږي.

(۷)وَإِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَنْفَعَةٍ اُعْتُبِرَ اِجَارَةً فَيُشْتَرَطُ التَّوْقِيتُ وَيَبْطُلُ بِمَوْتِ اَحَدِهِمَا(۸)وَالصُّلْحُ عَنْ سُكُوتٍ وَاِنْكَارٍ فِدَاءُ الْيَمِينِ فِي حَقِّ الْمُنْكِرِ وَمُعَاوَضَةٌ فِي حَقِّ الْمُدَّعِي فَلَا شُفْعَةَ اِنْ صَالَحَ عَنْ دَارٍ بِهِمَا(۹)وَتَجِبُ لَوْ صَالَحَ عَلٰى دَارٍ بِهِمَا.

**ترجمه**:كه صلح واقع شوه له مال ځخه پرمنفعت باندي نوداا جاره ګڼله كيږي نوشرط كيږي دموده تعين كول اوباطليږي ديوه (متعاقدينو) په مرګ سره اوصلح له سكوت اوصلح له انكارسره فديه ده دقسم دمنكرپه حق كې اومعاوضه دمدعي په حق كې نوشفعه نه كيږي كه دوا ړوصلح وكړه له سراى ځخه په سكوت يا انكارسره اوشفعه واجبيږي كه صلح وكړه دواړوپرسراى باندي په سكوت يا انكارسره.

**تشريح**:(۷)كه صلح له مال ځخه په عوض دمنافعوواقع شوه نوداصلح داجاره په حكم كې كيږي ځكه په دې كې داجارهٔ معنى (يعنې په عوض دمال دمنافعومالك ګرځيدل) موجوده ده نوپه اجاره كې چې كوم امورمعتبريږي هغه په دې كې معتبريږي نودمنفعت دوصول موده مقرروّل شرط دى اوپه مقرره موده كې ديوه په مرګ سره صلح باطليږي لكه اجاره چې دموجريامستاجريوه په مرګ سره باطليږي.

(۸)كه صلح دمدعى عليه په سكوت يا انكارسره وشوه نودامدعى عليه په حق كې دقطع نزاع اوقسم فديه كيږي ځكه دمدعى عليه ګمان دادى چې شى مدعى به دهغه ملك دى نومصالح عليه دهغه عوض نه ګرځي بلكې دمدعى له دعوى ځخه دانكارپه نتيجه كې چې كوم قسم پرهغه باندي راته داد هغه فديه شمارله كيږي.اودمدعي په حق كې معاوضه كيږي ځكه هغه پخپل زعم دخپل حق عوض اخلي نوله هريوه سره دهغه داعتقادمطابق معامله كيږي فلاشفعة ان صالح الخ.پرماقبل باندى تفريع ده يعنې كه چاپه بل چادسراى دعوى وكړه مدعى عليه په سكوت يا انكارسره صلح عن دار(يعنې كه چيرته مدعى به سراى وو )وكړه نوپه دغه سراى كې دګاونډي حق شفعه نه كيږي.ځكه مدعى عليه داسراى پخپل زعم پرخپل ملكِ دصلح په ذريعه برقرارساتي نه داچې هغه داسراى اخلي نوپه دي كې حق شفعه نشته.

(۹)اوكه صلح على داروشوه يعنې بدل صلح سراى وومثلايوچاپه بل چاديوشي دعوى وكړه مدعى عليه دهغه پردعوى باندي سكوت اختياركړياېې دهغه له دعوى ځخه انكاروكړاوله هغه سره دصلح كولوپه صورت كې خپل يوسراى هغه ته وركړنوپه دي سراى كې دګاونډي حق شفعه ثابتيږي ځكه مدعي هغه دخپل مال(شى مدعى به )عوض ګڼي اخلي يې نوداهغه په حق كې معاوضه شوه نوځكه په دي كې شفعه واجبيږي.

**الالغاز**:اى صلح ان قبل رجل صالح آخرعلى ان يترك حقه فى شيء معين على مال معين فيسقط حق المصالح ولايلزم المصالح المال الذى صولح به ويجبر على ردّه لو اخذه؟

**فالجواب**: هذا شفیع صالح المشتری علی ترک حقه فی الشفعة یسقط حقه ولا یلزمه المال ویجبر علی رده لو اخذه. (الاشباه والنظائر)

(۱۰) ولو استحق المتنازع فیه رجع المدعی بالخصومة ورد البدل (۱۱) ولو بعضه فبقدره (۱۲) ولو استحق المصالح علیه او بعضه رجع الی الدعوی فی کله او بعضه (۱۳) وهلاک بدل الصلح قبل التسلیم کاستحقاقه فی الفصلین

**ترجمه**: که دیو بل چا مستحق وګرځید متنازع فیه شی نو رجوع به وکړي مدعی په خصومت سره او واپس به کړي بدل، او که بعض متنازع فیه د چا مستحق شونو دغه په قدر بدل به واپس کړي، او که مستحق شو کل مصالح علیه یا بعض نو دعوی ته رجوع کیږي په کل کې یا په بعض کې او هلاک کیدل د بدل صلح مخکې تر تسلیمولو داسې دی لکه مستحق کیدل دغه په دواړو صورتونو کې.

**تشریح**: (۱۰) که یې صلح مع سکوت یا مع انکار کړې وه نو بیا متنازع فیه د بل چا حق وګرځید نو له مستحق سره به خصومت مدعي وکړي ځکه بدل د مستحق دغه په لاس کې دی په دې وجه دی د مدعی علیه قائم مقام دی او د مدعی علیه عوض (مصالح علیه) به ورواپس کړي ځکه چې مدعی علیه مدعي ته عوض ددې لپاره ورکړی چې د مدعی خصومت دفع شي خو کله چې د مدعی به بل مستحق پیدا شونو ظاهره شوه چې مدعی لره حق د خصومت نه وو او بلا وجه عوض دغه په لاس ورغی نو ځکه به دا عوض مدعی علیه ته ورواپس کړي.

(۱۱) قوله ولو بعضه فبقدره ای لو استحق بعض المتنازع فیه فیرجع بالخصومة بقدر ما استحق. یعنې که چیرته په دغه صورت کې د بعض مدعی به کوم بل مستحق پیدا شونو مدعي به په قدر د مستحق عوض مدعی علیه ته ورواپس کړي او د بعض مستحق په باره کې به له مستحق سره خصومت مدعي وکړي اعتباراً للبعض بالکل.

(۱۲) که د کل مصالح علیه (پر کوم شي چې صلح شوې وي) یا بعض کوم بل مستحق پیدا شونو په دواړو صورتونو کې به مدعي د خپلې سابقه دعوی په طرف رجوع وکړي یعنې که چیرته د کل مصالح علیه بل څوک مستحق ثابت شونو مدعی به د تمام مصالح عنه دعوی وکړي او که د بعض مستحق ثابت شونو مدعي به د بعض دعوی وکړي ځکه مدعي د مصالح عنه په باره کې خپله دعوی پرې ایښې وه چې دده په لاس سالم مصالح علیه ورشي نو چې کله د مصالح علیه بل مستحق ثابت شونو مصالح علیه ده ته سالم په لاس نه ورغی نو مدعي به د خپلې سابقه دعوی په طرف رجوع وکړي.

(۱۳) که بدل صلح مدعي ته تر حواله کولو مخکې هلاک شونو دغه حکم په دواړو صورتونو کې (یعنې که صلح عن اقرار وه یا عن سکوت وانکار وه، سکوت او انکار یې دواړه یو قسم وګڼل) هغه دی کوم چې د مستحق کیدو په صورتونو کې وو نو که صلح عن اقرار وه نو چې د کوم شي دعوی ده مدعي به دغه طرف ته رجوع کوي او که صلح عن سکوت او انکار وه نو دی به د خپلې دعوی په طرف رجوع کوي.

## فصل

مصنف رحمه الله چې کله د مشروعیت دصلح او انواعو دصلح له بیان څخه فارغ شواوس په دغه فصل کې هغه شیان بیانوي د کومو له طرفه چې صلح جائزه وي او د کومو له طرفه چې جائزه نه وي.

(۱) الصلح جائز من دعوی المال و المنفعة و الجناية (۲) بخلاف الحد و من النكاح و الرق فكان خلعا و عتقا على مال (۳) و ان قتل العبد المأذون رجلا عمدا لم يجز صلحه عن نفسه (۴) و ان قتل عبد له رجلا عمدا فصالح عنه جاز (۵) و لو صالح عن المغصوب المتلف بما زاد على قيمته او على عرض صح.

**ترجمه**: صلح جائزه ده دمال، منفعت او جنایت له دعوی څخه خلاف د حد، نکاح او مریبتوب له دعوی نه نو دا صلح خلع او آزادیدل دی پر مال باندي، که قتل کړ ماذون مریي یو څوک قصداً نو دهغه صلح کول ناجائز دی له خپله طرفه، او که دعبد ماذون مریي قتل کړ یو څوک قصداً بیاییې له هغه نه صلح وکړه نو دا جائزه ده، او که یې صلح وکړه له مغصوب هلاک شوي شي څخه دهغه ترقیمت په زیات باندي یا پر سامان باندي نو دا صلح جائزه ده.

**تشریح**: (۱) که مدعي دمال دعوی وکړي نو مدعی علیه لپاره له دي دعوی مال څخه صلح کول جائزه ده ولی که صلح عن اقرار وي نو دا سی صلح دمتعاقدینو په حق کې دبیع په معنی ده او که صلح عن سکوت یا عن انکار وي نو مدعی په حق کې دبیع په معنی ده نو دکوم شي چې بیع جائزه وي له هغه څخه صلح هم جائزه ده. همدارنګه که مدعي دمنافعو دعوی وکړي نو مدعی علیه لپاره له دغو منافعو څخه صلح کول جائزه ده مثلامدعي دعوی وکړه چې فلان چې کله وفات کیده نو زما لپاره یې په دي سرای کې دیو کال اوسیدو وصیت کړی دی ورثه ؤ انکار وکړ یا یې اقرار وکړ له هغه سره یې پر یو څه باندي صلح وکړه نو دا جائزه ده. ځکه په اجاراتو کې عوض دمنافعو اخیستل جائزدی نو په صلح کې هم جائز کیږي. همدارنګه له جنایت عمد څخه هم صلح کول جائزه ده مثلا یو چا قصداً دبل سړي پلار وواژه نو د مقتول ورثه له قاتل څخه د قصاص اخیستلو پرځای پر یو څه باندي صلح ورسره کولای شي ځکه دالله تعالی ارشاد دی: ( فمن عفي له من اخيه شيء فاتباع بالمعروف ) دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما رایه داده چې داآیت مبارک دصلح عمد په باره کې نازل شوی دی نو له جنایت عمد څخه صلح کول جائزه ده، همدارنګه له جنایت خطا څخه هم صلح کول جائزه ده، مثلا یو چا په خطا دبل سړي پلار قتل کړ نو دمقتول ورثه له قاتل څخه د دیت اخیستلو پرځای پر یو څه باندي صلح ورسره کولای شي ولی دقتل خطاء موجب مال دی یعني دخطاء جنایت پر ترسره کولو کې پر جنایت کوونکي باندی مال واجبیږي او صلح عن مال جائزه ده.

(۲) قوله بخلاف حد: ای یجوز الصلح عن دعوی الجنایة ولایجوز عن الدعوی فی الحد. یعني له دعوی دحد څخه صلح کول ناجائزه ده مثلا یو سړي زناکار یا غل یا شراب خورونیو هغه نیوونکي ته په دي شرط څه ورکړل صلح یې ورسره وکړه چې ما و حاکم ته مه پیشوه نو داسی صلح کول جائزه نه ده ځکه حد الله تعالی حق دی دنیوونکي حق نه دی او دحق غیر عوض اخیستل جائز نه دی.

(۳) قوله ومن النكاح والرق اي والصلح جائز من دعوى النكاح والرق، يعني كه چا پر يوه ښځه باندې دنكاح دعوى وكړه او ښځې انكار وكړ څه مال يې ور كړله دعوى نكاح څخه يې صلح ورسره وكړه چې مدعي دادعوى پريږدي نو دا جائزه ده او دا صلح دمدعي په حق كې خلع (ښځه چې مال وركړي له زوج څخه طلاق حاصل كړي دا خلع بولي) ده ځكه دی يې داسې ګڼي چې نكاح قائمه ده او دښځې په حق كې دفع دخصومت او فديه يمين كيږي ځكه ښځه دادعوى ناحقه ګڼي، همدارنګه كه يو چادادعوى وكړه چې فلان سړى زما غلام دى او مدعى عليه څه مال وركړ صلح يې ورسره وكړه نو دا صلح صحيح ده، او دمدعي په حق كې دا دمال په عوض كې آزادي ګڼله كيږي، ولی دی پخپل زعم هغه خپل مِلک بولي او كه صلح مع اقرار وه نو دادمدعى عليه په حق كې هم په عوض سره آزادي حاصلول دی، كه نه دمدعى عليه دطرف څخه بدل صلح لپاره ددفع دخصومت كيږي ولی دی پخپل ګمان خپل ځان حُر ګڼي.

(۴) كه ماذون غلام يو څوك عمداً قتل كړ نو هغه لره دخپل ځان دخونديې ساتلو لپاره صلح كول ناجائزه ده ځكه دهغه مولی ده ته يو اځې دتجارت اجازه وركړې ده او مذكوره صلح دتجارت له باب څخه نه ده نو دا صلح جائزه نه ده، البته كه دداسې ماذون مريې لپاره هم يو ماذون مريى وو هغه يو څوك عمداً قتل كړ بيا ماذون مريې دخپل دغه قاتل مريې له طرفه صلح وكړه نو دا جائزه ده ځكه دهغه مريې بچاوول دهغه دا خيستو په شان دی نو لكه څرنګه چې ماذون مريې ته دمريې اخيستل جائز دي همدارنګه صلح كول دهغه بچاوول هم جائز دي.

(۵) كه يو چا دبل چا يو شى مثلاً كپړه چې دهغې قيمت پنځوس درهمه وو يوړه او بيا يې ضائع كړه او تراوسه لا قاضي دهغه دقيمت وركولو حكم نه وو كړى چې غاصب دهغې مالک ته سل درهمه وركړي صلح ورسره وكړي نو دا امام صاحب رحمه الله په نزد دا صلح جائزه ده دصاحبينو او امام شافعى رحمهم الله په نزد دمغصوب شي ترقيمت زياتي پيسې اخيستل نه دي روا ځكه دمالک حق خالص دمغصوب شي په قيمت كې دی نو ترقيمت زيات اخيستل سود ګڼل كيږي ځكه ناجائز دی، دامام ابو حنيفة رحمه الله دليل دا دی چې دمالک حق په هلاكه شوي كپړه كې باقي دی او دقيمت طرف ته دهغه حق دقاضي په قضاء سره منتقل كيږي او چې كله دی دقاضي ترفيصله مخكې په زائد قيمت باندې راضي شونو دا ټول دكپړې دقيمت عوض شونه دا چې سود شو، او كه غاصب پر معلومو اسبابو صلح وكړه نو دا صلح بالاتفاق جائزه ده كه داسبابو قيمت زائد وي كه كم وي ځكه داختلاف جنس په صورت كې دزيادت ظهور نه راځي.

**فائده**: دامام صاحب رحمه الله قول راجع دی لمافي الهندية: غصب ثوبا قيمته مائة فاتلفه فصالحه منه على ازيد من مائة جاز وقالا يبطل الفضل على قيمته بما لا يتغابن الناس فيه والصحيح مذهب ابي حنيفة رحمه الله كذا في خزانة الفتاوى. (الهندية: ۴/ ۲۳۱)

(٦) وَلَوْ أَعْتَقَ مُوسِرٌ عَبْدًا مُشْتَرَكًا فَصَالَحَهُ الشَّرِيكُ عَلَى أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ قِيمَتِهِ لَا (٧) وَمَنْ وَكَّلَ رَجُلًا بِالصُّلْحِ عَنْهُ فَصَالَحَ لَمْ يَلْزَمْ الْوَكِيلَ مَا صَالَحَ عَلَيْهِ فَالْمُضْطَرُّ عَلَيْهِ بَلْ يَلْزَمُ الْمُوَكِّلَ (٨) وَإِنْ صَالَحَ عَنْهُ بِلَا أَمْرٍ صَحَّ إنْ ضَمِنَ الْمَالَ أَوْ أَضَافَ إلَى مَالِهِ أَوْ قَالَ عَلَى أَلْفٍ وَسَلَّمَ وَإِلَّا تَوَقَّفَ فَإِنْ أَجَازَهُ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ جَازَ وَإِلَّا بَطَلَ.

**ترجمه** :كه يوه غني سړي مشترک مريی آزاد كړ بيا له هغه سره صلح وكړه هغه بل شريک د هغه تر نصف قيمت پرزائد باندي نو دا صلح صحيح نه ده ،او كه چا يو څوک وكيل وګرځاوه د هغه له طرفه د صلح كولو پس هغه صلح وكړه نو نه لازميږي پر وكيل باندي هغه چې پر هغه يې صلح كړې ده تر څو چې هغه يې ضامن شوى نه وي بلكې پر موكل باندي لازميږي،او كه يې صلح وكړه د هغه د امر بغير نو صحيح دى كه چيرته ضامن شوى وو د مال يا يې نسبت كړى د هغه د خپل مال طرف ته يا يې ويلي وو چې د صلح زر روپۍ پر ما باندي دي او تسليم يې هم كړي ،كه نه موقوف كيږي كه مدعي عليه جائزه وګڼله نو جائز كيږي كه نه بيا باطليږي.

**تشريح** :(۶)كه يوه دولت مند سړي مشترک مريی آزاد كړ هغه بل شريک د هغه مريي ترنيم قيمت پرزيات باندي له هغه آزادوونكي سره صلح وكړه نو دا بالاتفاق نه ده صحيح زائد مقدار باطل دى،د صاحبينو رحمهما الله په نزد وجه هغه چې پورته ذكر شوه چې تر نصف قيمت زيات اخيستل سود دى، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد وجه د بطلان داده چې د آزادي په صورت كې قيمت شرعًا مقدر و منصوص عليه دى ځكه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي :چې څوک د مشترک مريي يوه حصه آزاده كړي نو پر هغه باندي د هغه د شريک د حصه قيمت لازم دى نو پر قيمت باندي زيادت نه جائز كيږي،ځكه دا زيادت سود شمارل كيږي،خلاف غصب چې د هغه قيمت منصوص عليه نه دى ځكه نو د غصب په صورت كې پر زائد قيمت باندي صلح جائزه ده .

(۷)يو چا بل څوک له خپله طرفه د صلح وټاكي هغه صلح وكړه نو پر كوم مال باندي چې صلح شوي وي هغه د وكيل پر ذمه نه لازميږي بلكې د موكل پر ذمه لازميږي،مثلا يو چاد قتل عمد له طرفه :-صلح كولو لپاره يو څوک وكيل كړ نو بدل صلح پر موكل باندي لازميږي نه پر وكيل باندي ځكه د دي صلح په ذريعه له قاتل څخه قصاص ختمول دى نو وكيل سفير محض دى عاقد نه دى نو حقوق د صلح د موكل طرف ته راجع كيږي نه د وكيل طرف ته ،البته كه وكيل د بدل صلح ضامن شي نو بيا بيشكه چې بدل صلح له وكيل څخه اخيستل كيږي او له ادائيګی وروسته به وكيل پر موكل باندي رجوع كوي.

مګر له دغه صلح څخه مراد دادى چې له داسي حق څخه صلح وكړي چې مال نه دى مثلا له قصاص څخه يې صلح كړې وي او يا مال وو مګر د كومي قرض چې دعوى كړل شوې ده د هغې پر څه حصه يې صلح كړې وي نو په دغو دوو صورتونو كې (صلح د قصاص د اسقاط لپاره يا صلح د حصه د اسقاط ،قرض لپاره )د وكيل حيثيت محض د يو سفير دى ځكه نو بدل صلح پر هغه نه لازميږي بلكې پر موكل باندي لازميږي.

(۸)كه بيګانه سړي د بل چا له طرفه د هغه د حكم بغير صلح وكړه نو د دي مسئلې څلور صورتونه: ۱-بيګانه د مال په بدله كې صلح وكړه او د بدل صلح ضامن خپله دى شو ،په دي صورت كې صلح صحيح ده ځكه په دغه صورت كې چې مدعى عليه ته كوم شى حاصل دى هغه برائت دى او د برائت په حق كې مدعى عليه او اجنبي دواړه برابر دي نو بيګانه په دى كې اصيل ګرځيداى شي چې كله دى ضامن شي. ۲-صلح كوونكي د بدل صلح نسبت د خپل مال طرفته وكړ مثلا داسي يې وويل چې د فلان له طرفه زه له تا سره پر خپلو زرو درهمو نو باندي صلح كوم په دي صورت كې هم صلح صحيح ده او د هغه فضولي پر ذمه زر درهمه

لازمیږي ځکه چې کله هغه دصلح نسبت دخپل ځاني مال طرف ته وکړنو دهغو دسپارلو التزام یې وکړاودي پرسپارلو باندي قادرهم دی. ۳-دخپل ځاني مال طرفته یې نسبت خونه دی کړی مګربدل صلح یې وسپاره نو دی صورت کې هم صلح صحیح ده ځکه دمدعي مقصودداووچې دهغه عوض په لاس ورشي هغه ورته ورسید. ۴-بیګانه نه دبدل صلح ضامن شوی دی نه یې دخپل ځاني مال طرف ته نسبت کړی دی نه یې مدعي ته سپارلی دی بلکې مطلقایې داسي وویل چې ماپرزردرهمه باندي صلح وکړه په دي صورت کې صلح موقوفه کیږي که مدعي علیه دهغه اجازه وکړه نو جائزه ګرځي که نه بیانه ده جائزه، ځکه اصل په عقدکې مدعی علیه دی ځکه دجنجال ختمیدو فائده هم ده ته رسیږي خوخپل ځان ته په نسبت کولوسره بیګانه هم اصیل ګرځي اوچې کله هغه خپل ځان ته نسبت نه دی کړی نودی اصیل نه شوبلکې دمدعی علیه له طرفه عقدکوونکی شونوداصلح دهغه پراجازه باندي موقوفه کیږي.

## باب الصلح في الدين

داباب له دین څخه دصلح کولو په بیان کې دی

مصنف رحمه الله دعامو دعوی ګانو له طرفه دصلح کولو له بیان څخه فارغ شونو دخاص دعوی یعني دعوی دین له طرفه دصلح کولو بیان یې شروع کړځکه چې خصوص همیشه ترعموم وروسته وي.

(۱) اَلصُّلحُ عَمَّا استَحَقَّ بِعَقدِ المُدَايَنَةِ اَخذٌ لِبَعضِ حَقِّهِ وَاِسقَاطٌ لِلبَاقِي لامُعَاوَضَةٌ (۲) فَلَو صَالَحَ عَن اَلفٍ عَلَى نِصفِهِ اَو عَلَى اَلفٍ مُؤَجَّلٍ جَازَ (۳) وَعَلَى دَنَانِيرَ مُؤَجَّلَةٍ (۴) اَو عَن اَلفٍ مُؤَجَّلٍ اَو سُودٍ عَلَى نِصفٍ حَالٍّ اَو بِيضٍ لا (۵) وَمَن لَهُ عَلَى آخَرَ اَلفٌ فَقَالَ اَدِّ اِلَيَّ غَدًا نِصفَهُ عَلَى اَنَّكَ بَرِيءٌ مِنَ الفَضلِ فَفَعَلَ بَرِئَ وَاِلَّا لا (۶) وَمَن قَالَ لآخَرَ لا اُقِرُّ لَكَ بِمَالِكَ حَتَّى تُؤَخِّرَهُ عَنِّي اَو تَحُطَّ فَفَعَلَ صَحَّ عَلَيهِ.

**ترجمه**: صلح کول له هغه څخه چې هغه په عقد مداینت سره مستحق شوی وي اخیستل دی دخپل بعض حق او ساقطول دی دباقي دی معاوضه نشته، پس که یې صلح وکړه له زرو څخه دهغه پرنصف یا پرهزار موجل باندي نو جائزدی او پرموجل دنانیرو باندي او پرزرو موجل باندي یاله زرو تورو درهمو نو څخه پرنقدو نصف باندي یا پرسپینو درهمونو باندي صحیح نه دی او که دچا پربل باندي زردرهمونه وو بیا هغه وویل چې ماته اداکړه سبا دغورو پونیمی په دي شرط چې ته بري یې له باقی څخه پس هغه داسي وکړل نو بري کیږي که نه بیانه کیږي، او که چا وویل بل ته چې زه اقرار نه کوم ستا په مال سره ترڅو چې ته هغه موخرکړي یا یې کمی کړي پس هغه داسي وکړل نو صحیح دی.

**تشریح**: (۱) که پرچا باندي دعقد مداینت (یعني په پورشی اخیستل) په وجه قرض راغی او هغه پرداسی شي باندي صلح وکړه چې دهغه دقرض له جنس څخه وو اوله قرض څخه کم وو نو دغه صلح دقرض دعوض پرورکولو باندي نه حمل کیږي ځکه عاقل یا بالغ چې کوم کاریاخبره کوي نو حتی الامکان به هغه صحیح کول کیږي په داسي حال کې چې دعوض بللو په صورت کې دهغه دسود کاروبار صورت پیدا کیږي نو دغه کمی به پردي باندي حمل کیږي چې قرض غوښتونکي دخپل حق څه حصه معاف کړه باقی یې وصول کړي دي مثلا یو سړي له بل څخه یوشی دیوزرصافو درهمو په عوض په پوروا خیست او قرض غوښتونکي پرپنځه سوه

باندي صلح وکړه نوداصلح جائزه ده اوداویل کیږي چې هغه خپل بعض حق یعنې پنځه سوه څخه مقروض بري کړ،پنځه سوه نقدي دزروقرضوعوض نه ګڼل کیږي ځکه داسي کول سوددی.

(۲)همدارنګه که مقروض له یوزرنقدو(یعنې دکوموادائیګی چې دهغه پرذمه فی الحال واجبه وي)څخه دهغه پرنصف یعنې پنځه سوه باندي صلح وکړه نوداجائزه ده ،اوداویل کیږي چې هغه خپل بعض حق یعنې پنځه سوه څخه مقروض بري کړ،پنځه سوه نقدي دزروقرضوعوض نه ګڼل کیږي ځکه داسي کول سوددی ،همدارنګه که یې له یوزرنقدو څخه پریوزر میعادي باندي صلح وکړه نوداهم جائزه ده ګواکي قرض غوښتونکي پخپل اصل قرض کې دوخت مهلت ورکړځکه داسي کول عوض شمارل صحیح نه دی ولی درهم ددرهموپه بدله کې په پورخرڅول (چې له هغه څخه ربالنسئة لازمیږي)جائزنه دی نوپرمهلت ورکولوباندي محمول کیږي.

(۳)قوله وعلی دنانیرموجلة الخ ای لوصالح عن الف درهم علی الف دنانیرموجلة الخ،یعنې که یوچادزرودرهموپه عوض دیوې میاشتې په مهلت سره پردنانیروباندي صلح وکړه نودانه جائزه کیږي ځکه دعقدمداینت په وجه دنانیرنه دي واجب شوي ځکه نوهغه په اصل قرض کې پرمهلت ورکولوباندي نه شي محمول کیدای اوداله معاوضه بللونه سِواکوم بل صورت نه لري اودرهم په عوض ددنانیروپه پورخرڅول جائزنه دی ځکه نوداصلح هم جائزه نه ده.

(۴)که دیوچاپربل باندي زردرهم په میعادی قرض سره واجب وواوس قرض غوښتونکی دهغه په عوض پرنقدوپنځوسووباندي صلح وکړي نوداصورت هم جائزنه دی ځکه دپورپه نسبت نقدبهتروي اونقدعقدپه سبب نه وواجب شوي نودامیعادعوض دی چې حرام دی،همدارنګه که قرض یوزرکوټه درهم ووقرض غوښتونکي په پنځوسووصافودرهمونوباندي صلح ورسره وکړه نوداصورت نه دی جائزځکه دعقدمداینت په وجه صاف درهم نه وواجب شوي اوصافوالی ددرهمو وصف دی نودزرودرهموعوض پنځه سوه درهمه دوصف په زیادت سره شو(په نقدوکې وصف معتبرنه دی)نوداصلح په دي وجه چې پرسودباندي مشتمله ده نه ده جائزه.

(۵)دزیدپربکرباندی زردرهم باندي ووهغه بکرته وویل :ته سباماته دهغوقرض روپونصف یعنې پنځه سوه په دي شرط راادکړه چې له باقي پنځه سوه څخه ته بري یې بکرهمداسي وکړل نودی له پنځه سوه څخه بري کیږي اوکه یې سباورځ ادانه کړي نودطرفینورحمهماالله په نزدنه بري کیږي اودامام ابویوسف رحمه الله په نزدپه هغه صورت کې هم بري کیږی ځکه ابراء مطلقه ده که یې دی اداکړي اوکه یې نه کړي اداپه هرصورت بري کیږي.دطرفینورحمهماالله دلیل دادی چې دلته برائت مطلق نه دی بلکې دسباورځي په اداکیدوسره مقید دی نودشرط فوت کیدوپه وجه ابراء هم فوتیږي.

(۶)که چاپه پټه خپل قرض غوښتونکي ته وویل چې زه ستالپاره ستادمال اقرارنه کوم ترڅوچې ته ماته مهلت رانه کړي یاله قرض څخه څه حصه کمه نکړې،ددي خبرې په جواب کې قرض غوښتونکي هغه ته

مهلت ورکړیایې څه حصه ورمعافه کړه نوداسي کول صحیح دی ځکه مقروض خوقرض غوښتونکی مجبور کړی نه دی ځکه چې هغه ګواهان قائم کړي نودفع یې کولای شي.

## فصل

### دافصل له دین مشترک څخه دصلح کولو په بیان کې دی

مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ له دین مطلق څخه دصلح کولو له بیان څخه فارغ شو اوس یې له دین مشترک نه دصلح کولو بیان شروع کړ. له دین مشترک څخه دصلح کولو د تاخیروجه داده چې اشتراک عارض دی او اصل عدم عارض دی. یاداسي وواياست چې ددین مفرله بیان څخه فارغ شو اوس یې ددین مشترک په بیان شروع وکړ ځکه دوه له یوه وروسته وي.

(١) دَيْنٌ بَيْنَهُمَا صَالَحَ أَحَدُهُمَا عَنْ نَصِيبِهِ عَلَى ثَوْبٍ لِشَرِيكِهِ أَنْ يَتْبَعَ الْمَدْيُونَ بِنِصْفِهِ (٢) أَوْ يَأْخُذَ نِصْفَ الثَّوْبِ مِنْ شَرِيكِهِ (٣) إِلَّا أَنْ يَضْمَنَ رُبْعَ الدَّيْنِ (٤) وَلَوْ قَبَضَ نَصِيبَهُ شَرِكَهُ فِيهِ وَرَجَعَا بِالْبَاقِي عَلَى الْغَرِيمِ (٥) وَلَوِ اشْتَرَى بِنَصِيبِهِ شَيْئًا ضَمِنَهُ رُبْعَ الدَّيْنِ (٦) وَبَطَلَ صُلْحُ أَحَدِ رَبَّيِ السَّلَمِ مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى مَا دَفَعَ.

**ترجمه**: ددوکسانو قرض دی له هغوئ څخه یوه دخپل نصیب نه پرکپړه باندې صلح وکړه نوشریک ته یې داجائزه ده چې مقروض تعقیب کړي دنصف قرض لپاره یادي واخلي نیمه کپړه له خپل شریک څخه مګر داکه ضامن شي شریک دربع قرض اوکه یې قبض کړه خپله حصه نوشریک کیږي په هغې کې له هغه سره. اودواړه به رجوع وکړي پرمقروض باندې دباقي لپاره اوکه یې واخیست دخپلې حصې په عوض یو شی نوضامن کیږي دهغه بل لپاره په رُبع دین سره اوباطله ده صلح دیوه له دوورب السَّلم څخه دخپلې حصې نه پرهغه چې ده ورکړي ده.

**تشریح**: (١) کله چې ددووکسانو پریوچاباندی قرض وو (په دې شرط چې دقرض سبب یووي مثلاً یوسړی مړشو دهغه پریوچاباندې قرض وو اودغه مړي دوه وارثان وونوداقرض اوس ددغو وارثانو طرف ته منتقل کیږي اودادواړه وارثان اوس په دغه قرض کې سره شریکان دي) اوس که چیرته له دې دووشریکانو څخه یوه له هغه مقروض سره دخپلې حصې په عوض کې پرکپړه باندې صلح وکړه نودوهم شریک ته اختیاردی که غواړي له اصل مقروض څخه خپله حصه طلب کړي ځکه دهغه حصه دمقروض پرذمه باقي ده ځکه چې اول شریک خوخپله حصه قبض کړي ده ددوهم شریک حصه له مقروض سره سالمه پاتې ده نوله مقروض څخه دخپلې حصې په باره کې دمطالبې حق لري.

(٢) البته څرنګه چې دوهم شریک ته حق دمشارکت حاصل دی نوکه غواړي له اول شریک څخه دې دمصالح به کپړې نیمې واخلي ځکه اول شریک پرنصف دین باندې صلح کړې ده ولې دین په مشاع دول دمقروض پرذمه وو تقسیم نه قبلوي نوددین له هرجزء سره ددوهم شریک حق متعلق دی نوداول شریک صلح ددوهم شریک پراجازه باندې موقوفه ده اوچې کله دوهم شریک نیمه کپړه اخلي نوداجازت دعقددی ځکه جائزدی.

(۳)البته كه اول شريک (صلح كوونكى) ددوهم شريک لپاره په رُبع دين ضامن شي نوبيادوهم شريک له اول شريک څخه دنيمي كپړې اخيستلوحق نه لري ځكه دشريک اول په مقبوضه كپړه كې ددوهم شريک حق په قدردرُبع دين دى چې په هغه سره شريک اول ورته ضامن شوى دى.

(۴)كه له دواړو شريكانو څخه يوه خپل نيم قرض وصول كړنودوهم شريک ته جائزدى چې دهغه په وصول كړي قرض كې ورسره شريک شي ځكه اول شريک پردين مشاع باندې قابض دى نودوهم ورسره شريک كيداى شي،دباقى دين مطالبه هغوئ په دواړوله مديون څخه كولاى شي ځكه چې په مقبوض مقداركې هغوئ سره شريكان شونوپه باقى كې هم بالضرورشركت برقرارپاتى وي.

(۵)كه يوه شريک له مقروض څخه دخپلې حصې په بدل كې سامان واخيست نودوهم شريک ته اختياردى كه له اصل مقروض څخه خپله حصه طلبوي (ځكه دهغه قرض داصل مقروض پرذمه پاتى دى)اوكه غواړي نواول شريک دي درُبع دين ضامن وګرځوي ځكه اول شريک دقرض په عوض دسامان په اخيستلوسره بغيرد چشم پوشي خپله حصه په پوره توګه وصول كړي ده نودرُبع دين په ضامن كيدوكې پرهغه باندې هيڅ تاوان نشته.

(۶)دوه كسان سره يوشول په يوه بورۍ غنموكې يې له دريم چاسره عقدسلم وكړاوسل روپۍ رأس المال يې مقرركړ،له دووشريكانو څخه يوه دخپلې حصې پنځوس روپۍ وركړي ،له هغه وروسته يوه شريک دخپلې نيمي بورۍ په بدله كې پر رأس المال (پنځوس روپۍ)باندې له مسلم اليه سره صلح وكړه اوله رأس المال څخه يې خپله حصه واخيسته سلم يې پريښودنوكه دوهم شريک اجازه ورنكړي نودطرفينو رحمهما الله په نزددا صلح جائزه نه ده ځكه كه چيرته دغه صلح ديوه شريک په حصه كې جائزه وبلله شي نوپه دې صلح كې قبل القبض ددين (يعنې رأس المال چې دمسلم اليه پرذمه دين دى)تقسيم لازميږي اوقبل القبض تقسيم ددين باطل دى،اوكه ددواړو شريكانوپه حصه كې جائزه وبلله شي نوددوهم شريک اجازه ضروري ده چې هغه نشته،دامام يوسف رحمه الله په نزددا صلح جائزه ده هغه داپرنورودينونوباندې قياسوي نولكه څرنګه چې په نورودينونوكې كه يوشريک دخپلې حصې څخه صلح كوي نوداجائزه ده همدارنګه داهم جائزه ده.

**فائده** :دطرفينو رحمهما الله قول راجع دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رحمه الله :قوله لايصح عندهما الخ وبقولهما اخذ كثير من المشائخ والتصر عليه كثير من اصحاب المتون والشروح واليه مال صاحب الهداية وملتقى الابحر. (هامش الهداية :۳/ ۲۵۳)

(۷)وَاِنْ اَخْرَجَتِ الْوَرَثَةُ اَحَدَهُمْ عَنْ عَرْضٍ اَوْ عَقَارٍ بِمَالٍ اَوْ عَنْ ذَهَبٍ بِفِضَّةٍ اَوْ بِالْعَكْسِ صَحَّ قَلَّ اَوْ كَثُرَ وَعَنْ نَقْدَيْنِ وَغَيْرِهِمَا بِاَحَدِ النَّقْدَيْنِ (۸)لَا اِنْ لَمْ يَكُنِ الْمُعْطٰى اَكْثَرَ مِنْ حَظِّهٖ مِنْهُ (۹)وَلَوْ فِي التَّرِكَةِ دَيْنٌ عَلَى النَّاسِ فَاَخْرَجُوْهُ لِيَكُوْنَ الدَّيْنُ لَهُمْ بَطَلَ (۱۰)وَاِنْ شَرَطُوْا اَنْ يُبَرِّئَ الْغُرَمَاءَ مِنْهُ صَحَّ (۱۱)وَلَوْ عَلَى الْمَيِّتِ دَيْنٌ مُحِيْطٌ بَطَلَ الصُّلْحُ وَالْقِسْمَةُ.

**ترجمه** :اوكه ويوست وارثانوله خپل منځه يوتن له سامان څخه ياله ځمكې څخه څه مال يې وركړيايې سره زروركړل يايې سپين زرورکړل يادهغه برعكس نودا صحيح دى كه عوض كم وي كه زيات وي ياله نقدينواوغيرنقدينو څخه احد دنقدينو وركړي دانه دى صحيح ترهغه چې زيات نه وي وركړل شوى عوض

دهغه ترحصه چې په ميراث کې يې کيږي او که په ترکه کې قرض وو پر خلکو باندې بيا ورثه ؤيوله دوئ څخه ويوست ددې لپاره چې دين دوئ ته ورپاتې شي نو باطل دى او که دوئ شرط کړدا چې دى به برى کوي قرضداران له خپلې حصې څخه نو بيا صحيح دى او که پر مړه باندې دين محيط وو نو باطليږي صلح او تقسيم.

**تشريح**: (۷) که يو څوک وفات شوا وهغه په ترکه کې سامان يا ځمکه پريښودہ او ورثه له يوه وارث سره داسې صلح وکړي چې هغه ته يو څه مال ورکړي له ميراث نه يې خارج کړي نو دا صلح صحيح ده که هغه مال کم وي چې وارثانو ده ته ورکړى دى او که زيات وي ځکه دا صلح چې بيع وګڼله شي صحيح کيدل يې ممکن دى ګواکې دغه يو وارث خپله حصه دميراث پر نورو ورثه ؤباندې د مصالح عليه په عوض خرڅوي، البته ددې به خيال ساتي چې مصالح عليه او حصه دميراث مختلف الجنس وي چې بيا ربوا لازمه نه شي، لکه چې ترکه سامان يا ځمکه وي او مصالح عليه مال وي يا ترکه سره زر وو او ورثه ده ته سپين زر ورکړي يا بر عکس يعنې ترکه سپين زر وو. ورثه دغه وارث ته سره زر ورکړي نو دا ټول صورتونه جائز دي، که عوض لږ وو که ډير، ځکه دا بيع دجنس په خلاف الجنس ده په دې کې مساوات ضروري نه دى مګر خرنګه چې بعض صورتونه ددې بيع صرف دى نو په هغو کې تقابض فى المجلس شرط دى.

(۸) قوله لامالم يکن المعطى اکثرمن حظه منه اى لايصح الصلح مالم يکن المعطى اکثر من حظه منه. يعنې که ترکه سره زر، يا سپين زر او اسباب او ځمکه وه او ورثه دغه وارث ته يو اځې سره زر يا سپين زر ورکړي نو دا صلح نه ده جائزه، ترڅو چې هغه سره زر يا سپين زر چې دغه وارث ته ورکړل شوي دي تر هغه مقدار زيات نه وي کوم چې هغه ته دهغه جنس دحصې څخه وررسيږي ددې لپاره چې دهغه حصه دهغه سره برابره شي او زائد مقدار ده دهغه حق په مقابل کې شي چې ده ته له باقى ميراث څخه ورسيږي او دا ځکه ضروري دى چې دهغوئ دا صلح ورباته مفضي نه شي.

(۹) که دميت په ترکه کې پر خلکو باندې څه پورونه وو او ورثه له يو وارث سره په دې شرط باندې صلح وکړي چې دا ديون به دترکه په شان دنورو وارثانو لپاره وي نو دا صلح په دين او عين دواړو کې جائزه نه ده ځکه هغه باقى ورثه دخپلې حصې دين مالکان وګرځول حال دا چې له مديون نه سوا کوم بل څوک ددين مالک ګرځول باطل دى او په کوم حصه ددين کې چې صلح باطله شي نو په کل کې باطليږي ځکه دا يو عقد دى.

(۱۰) البته ددې دصحيح کيدو حيله داده چې دا شرط کړي چې صلح کوونکى قرضداران له خپلې حصې څخه برى کړي او دخپلې حصې لپاره قرضدارانو ته رجوع نه کوي نو بيا دا صلح جائزه ده ځکه دا يا اسقاط دحق دى يعنې خپل حق له قرضدارانو نه ساقطول دى او يا مديون ددين مالک ګرځول دى چې هغه جائز دى.

(۱۱) که دميت پر ذمه دومره قرض وو چې دهغه پر ټوله ترکه باندې محيط وي نو په دې صورت کې له يوه وارث سره دهغه له حصې نه صلح کول او ترکه تقسيمول دواړه فضول او نامناسب کار دى ځکه په دې صورت کې ورثه دهغه دترکه مالکان نه ګرځي نو دورثه ؤله يوه وارث سره دهغه له حصې څخه صلح کول يا ترکه تقسيمول باطليږي.

## كتاب المضاربة

## دا كتاب د مضاربة په بيان كې دى

مضاربت.له ضرب فى الارض ،څخه مشتق دى په معنى دسفر كولو او مضاربت ته ځكه مضاربت وايې چې په دي كې هم مضارِب دګټې دطلب لپاره په ځمكه كې سفر كوي،شرعًاهغه عقد دشركت فى الربح دى چې له يو جانبه مال وي اوله بله جانبه عمل وي،دغه مال ته رأس المال او صاحب مال ته ربّ المال او كاركوونكي ته مضارب وايې .

له ماقبل سره يې مناسبت دا دى چې مضاربت د مصالحت په شان دى په دي اعتبارچې له مضاربت او مصالحت څخه هريو يو اخي ديوه جانب څخه دوجود بدل مقتضي دي .

· د مضاربت لپاره څو شرطونه دي :**نمبر ۱**-رأس المال به له اثمانو څخه وي .**نمبر ۲**-رأس المال به عين وي دين به نه وي . **نمبر ۳**-رأس المال به مضارب ته حوال وي چې په هغه كې تصرف ممكن وي .**نمبر ۴**-منافع به ددواړو ترمنځ مشاعًا وي ديوه لپاره به متعين مقدار نه وي كه نه بيا دا عقد فاسديږي .

**نمبر ۵**-دعقد په وخت به دهريوه حصه معلومه وي .

**نمبر ۶**-د مضارب حصه به خالص په منافع كې وي په رأس المال كې به نه وي كه نه بيا فاسديږي .

(۱)هِيَ شِرْكَةٌ بِمَالٍ مِنْ جَانِبٍ وَعَمَلٍ مِنْ جَانِبٍ (۲)وَالْمُضَارِبُ أَمِينٌ وَبِالتَّصَرُّفِ وَكِيلٌ وَبِالرِّبْحِ شَرِيكٌ وَبِالْفَسَادِ أَجِيرٌ وَبِالْخِلَافِ غَاصِبٌ (۳)وَبِاشْتِرَاطِ كُلِّ الرِّبْحِ لَهُ مُسْتَقْرِضٌ وَبِاشْتِرَاطِهِ لِرَبِّ الْمَالِ مُسْتَبْضِعٌ (۴)وَإِنَّمَا تَصِحُّ بِهِ الشَّرِكَةُ (۵)وَيَكُونُ الرِّبْحُ بَيْنَهُمَا مُشَاعًا (۶)فَإِنْ شَرَطَ لِأَحَدِهِمَا زِيَادَةَ عَشْرٍ فَلَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ وَلَا يُجَاوِزُ عَنِ الْمَشْرُوطِ.

**ترجمه** :مضاربت شركت دى له يوه جانبه په مال سره او بل جانب په عمل سره او مضارب امين دى اوله تصرف وروسته وكيل دى اوله نفع وروسته شريک دى او د مضاربت په فساد سره اجير دى او په مخالفت كولو سره غاصب دى او په شرطولو سره دكل منافع دخپل ځان لپاره قرض اخيستونكى دى او په شرطولو سره دكل منافع درب المال لپاره مستبضع دى او صحيح دى مضاربت په هغه كې چې شركت پكې ضحيح دى او نفع ددوئ ترمنځ مشاعًا كيږي بيا كه يې شرط كړ ديوه لپاره لس زيات نو د مضارب لپاره اجرت مثل كيږي او تر مشروط زيات نه كيږي .

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله د مضاربت اصطلاحي تعريف داسى كړى دى چې مضاربت هغه عقد ته ويل كيږي چې پكې له يوه جانبه (يعني درب المال ) له جانبه مال وي اوله بل (يعني مضارب )جانب څخه عمل او مزدوري وي او په ګټه دواړه سره شريكان وي .

(۲)مضارب چې كوم مال اخلي دى په هغه كې تر تصرف كولو مخكې امين وي ځكه د مالک په اجازه سره پر مال باندي قابض دى په داسي حال كې چې پر دغه مال باندي دده قبضه دعوض يا رهن په شان هم نه ده او داسي قابض امين وي،نو كه دا مال چيرته هلاک شي نو پر مضارب باندي تاوان نه راځي ځكه پر امين باندي تاوان نه وي.او چې كله مضارب په دغه مال كې تصرف شروع كړي نو دى ددي مال په باره كې وكيل ګرځي ولى دى په هغه كې د مالک لپاره په حكم سره تصرف كوي او داسي متصرف وكيل وي ،او چې كله

مضارب په دي مال کې گټه ترلاسه کړي نو دی له ربّ المال سره شریک گرځي ځکه دی دخپل عمل په وجه دمال دیوه جزء مالک شواوکه مضاربت په یوه وجه سره فاسدشي نویادامعامله په اجاره بدلیږي آن چې مضارب یعنې کارکوونکی دخپل کارداُجرت مثل مستحق کیږي لکه په اجاره فاسده کې چې کارکوونکی د جرت مثل مستحق کیږي او که مضارب دربّ المال دحکم مخالفت وکړنودمال غاصب شمارل کیږي ځکه دهغه له طرفه دغیر(یعنې ربّ المال )پرمال باندې تعدی راغله او دغیرپرمال باندې تعدّی کوونکی غاصب شمارل کیږي نوپه دغه صورت کې مضارب ددې مال ضامن گرځي ځکه غاصب خوضامن وي.

(۳)اوکه کل نفع دمضارب لپاره شرط وي نودی مستقرض کیږي گواکې ده له ربّ المال څخه دقرض په توگه مال اخیستی دی ولی مضارب خودکل نفع مالک نه شي کیدای مگرداکه دمال مالک شي ځکه نفع دمال فرع ده نوچې کله کل نفع دمضارب لپاره شرط کړای شي نودی دکل مال هم مالک گرځي اودکل مال دمالک کیدوصورت همدادی چې هغه قرض اخیستونکی وگڼل شي اوکه کل نفع دربّ المال لپاره شرط وه نومضارب مستبضع (مستبضع هغه چاته وایي چې دبل په مال سره تجارت وکړي اوټوله گټه دمال مالک ته ورکړي) گرځي یعنې دغه عقداوس عقدمضاربت نه دی پاتی بلکې عقدبضاعت شواومضارب دربّ المال په حق کې محسن (احسان کوونکی) شمارل کیږي.

(۴)مضاربت نه دی صحیح مگرپه هغه مال کې چې پکې شرکت صحیح وي یعنې دشیخینو رحمهما الله په نزدخالص په دراهمو اودنانیروکې اوداما م محمد رحمه الله په نزدپه فلوس نافقه وکې هم صحیح دی چې مکمّل بیان یې په باب الشرکة کې تیرشوی دی ،نوپه سامان،مکیلی اوموزوني شیانوکې مضاربت صحیح نه دی ځکه چې نبي کریم ﷺ :لەربح مالم یضمن (یعنې دداسې شي گټه چې دی یې ضامن نه وي) څخه منع فرمایلې ده.چې په دې شیانوکې مضاربت وربح مالم یضمن ته مفضي ده هغه په دې ډول چې سامان دمضارب په لاس کې امانت دی دهلاکت په صورت کې مضارب دسامان ضامن نه دی نوله دغه سامان نه چې کومه گټه دی حاصلوي هغه ربح مالم یضمن کیږي،خلاف له نقدینوچې که مضارب په هغوباندې یوشی واخلي دده پرذمه ثمن واجبیږي ځکه نقدین په متعین کولو سره نه متعین کیږی نوله دغوثمنونه چې کومه گټه ده ته په لاس ورځي ربح دماضمن (یعنې دداسې شي گټه چې دی یې ضامن دی)ده نه چې ربح دمالم یضمن.

(۵)اودمضاربت دصحت لپاره شرط دادی چې منافع ددواړوترمنځ شائع وي په دې ډول چې دیوه لپاره له منافعو څخه متعین دراهم شرط نه کړي که مضارب یاربّ المال دخپل ځان لپاره متعین مقدار مثلاً لس درهم زیات شرط کړل نو عقد فاسدیږي ځکه په دې سره دمتعاقدینوشرکت منقطع کیږي ځکه ممکن چې نفع یوازې هم هغه متعین دراهم شي چې یویې مستحق بلل شوی دی اوپه دغه مقدارکې هغه بل عاقدورسره شریک نه شي کمامرفی باب الشرکة.

(۶)اوکه دیوه لپاره متعین دراهم شرط کړي نودغه عقدمضاربت فاسدیږي اوس مضارب ته اجرت مثل یعنې دهغه دمزدوري اجرت ورکول کیږي ځکه هغه عقدمضاربت وکړخپلې منافع اودمزدوري عوض یې غوښت چې دفسادعقدپه وجه یې ونه موندنواوس هغه ته مزدوري ورکوله کیږي اوپوره نفع دربّ المال

کیږي ولی دا دهغه دملکیت ثمره ده،مګرکوم مقدارچې مشروط وودامام ابویوسف رحمه الله په نزدترهغه مقدارزیات اجرت مثل نه ورکول کیږي ځکه داجاره فاسده همدا حکم دی چې دهغه اجرت ترمقدارمشروط زیات نه وي،اودامام محمد رحمه الله په نزدپوره مزدوري(اجرت مثل) ورکول کیږي که څه هم ترمقدارمشروط زیات وي.

(۷)وَكُلُّ شَرْطٍ يُوجِبُ جَهَالَةَ الرِّبْحِ يُفْسِدُهُ (۸)وَإِلَّا لَا وَيَبْطُلُ الشَّرْطُ كَشَرْطِ الْوَضِيعَةِ عَلَى الْمُضَارِبِ (۹) وَيَدْفَعُ الْمَالَ إِلَى الْمُضَارِبِ (۱۰)وَيَبِيعُ بِنَقْدٍ وَنَسِيئَةٍ وَيَشْتَرِي وَيُوَكِّلُ وَيُسَافِرُ وَيُبْضِعُ وَيُودِعُ (۱۱)وَلَا يُزَوِّجُ عَبْدًا وَلَا أَمَةً (۱۲)وَلَا يُضَارِبُ إِلَّا بِإِذْنٍ أَوْ اعْمَلْ بِرَأْيِكَ (۱۳)وَلَمْ يَتَعَدَّ عَمَّا عَيَّنَهُ مِنْ بَلَدٍ وَسِلْعَةٍ وَوَقْتٍ وَمُعَامِلٍ كَمَا فِي الشَّرِكَةِ.

**ترجمه** :اوهرهغه شرط چې جهالت پیدا کوي په نفع کې هغه مضاربت فاسدوي که نه پیاپې نه فاسدوي اوباطلیږي شرط لکه نقصان شرطول پرمضارب باندي اوورکوي به مال ومضارب ته دی به بیع کوي په نقدوسره یاپه پورسره او اخلي به او وکیل به مقرروي اوسفربه کوي اوپه بضاعت به یې ورکوي اوامانت به یې ورکوي اونکاح به نه ورکوي مریې ته اونه دمنځې اوپه مضاربت به یې نه ورکوي مګرپه اجازه سره یاپه دې وینا سره چې دخپلې رایه مطابق عمل وکړه اوتجاوزبه نه کوي ترهغه چې ربّ المال متعین کړی وي ښار،سامان،وخت اومعامله لکه په شرکت کې.

**تشریح** :(۷)کوم شرط چې دنفع دجهالت سبب ګرځي هغه شرط عقدمضاربت فاسدوي مثلاربّ المال داشرط کړي چې زه دمضاربت مال مضارِب ته په دې شرط ورکوم چې هغه به یوکال خپل سرای ماته داوسیدولپاره راکوي مضارب داشرط قبول کړنوداشرط دجهالت نفع سبب دی ځکه هغه نیمه ګټه دسرای کرایه وګڼلوا وڅه ګټه یې دمضارب دعمل عوض،مګرداعلومه نه ده چې دمضارب دعمل عوض څومره دی اودسرای کرایه څومره ده نوځرنګه چې داشرط دنفع جهالت سبب دی ځکه نودامضاربت فاسددی.

(۸)قوله والالای وان لم یوجب الشرط جهالة الربح لایفسدالعقد،یعني که یې چیرته داسې شرط ولګاوه چې دجهالت نفع سبب نه وولکه پرمضارب باندې شرطول دنقصان چې که نقصان راغی هغه به دمضارِب پرذمه وي نوپه داسې شرط سره عقدمضاربت نه فاسدیږي ولی په دې شرط سره دمضارب دعمل حصه نه مجهوله کیږي البته خپله داشرط باطلیږي.

(۹)قوله ویدفع المال الی المضارب ای ومن شرط صحة المضاربة ان یدفع المال الی المضارب،یعني دمضاربت دصحت لپاره شرط دادی چې ربّ المال به مال مضاربت ومضارب ته سپاري چې هغه ته ګټه حاصلول ممکن وي ځکه بغیرددې چې رأس المال ومضارب ته وسپارل شي دمضارب لپاره له هغه څخه نفع حاصلول ممکن نه دی،همدارنګه مضاربت داجاره په معنی سره ده اورأس المال محل دی نومضارب ته یې حواله کول ضروري دی.

(۱۰)که مضاربت مطلق وویعني دیووخت ،یامکان یاسامان په یوه خاصه نوعه کې په تصرف کولوسره مقیدنه وونومضارب لره په نقدواوپه پورخریدواوفروخت کول اوپه هغوکې دتصرف کولولپاره څوک وکیل ګرځول اومال مضاربت له خپل ځان سره په سفروړل اومال مضاربت چاته په بضاعت (بضاعت

دادی چې چاته مال ورکړي چې هغه يې خرچ کړي اوددي مال ټول منافع اوکل ثمن صاحب مال ته واپس کړي) ورکول اوهغه چاته په امانت ښودل وغيره ټول جائزدي ځکه عقد مطلق دی او مقصود حصول دنفع دی چې بغيردتجارت نه حاصليږي نوداعقددتجارت ټولواقسامواودتجارانو ټولوعاداتولره شامليږي اومذکورټول اعمال دتجارانوله عاداتوڅخه دي .

(۱۱)البته مضارب ته دا اختيار نشته چې دمضاربت په مال سره ديوه مريي له چاسره نکاح وکړي اونه دا اختيارلري چې دمضاربت منځه چاته په نکاح ورکړي ځکه دا تجارت نه دی او عقد مضاربت يواځې توکيل بالتجارة لره متضمن دی .

(۱۲)قوله ولايضارب ای ولايعطی المال مضاربة،يعني مضارب مال مضاربت بل چاته په مضاربت ورکول جائزنه دی ځکه ددي ډول مال مضاربت نفع يودريم چايعني مضارب ثانی ته رسيږي حال داچې ربّ المال په دي باندي راضي نه دی .همدارنګه شی دخپل مثل سره په قوّت کې برابروي نويوبل ته متضمن نه شي کيدای نويو مضاربت بل ته نه متضمن کيږي البته که ربّ المال مضارب ته ددي صريح اجازه ورکړي يارب المال مضارب ته ووايي چې ته دخپلي رايه مطابق دعمل کولو اختيارلرې که غواړې کوه يې،ځکه داهم درب المال له جانبه ددي خبرې اجازه ده چې ته رأس المال بل ته په مضاربت ورکولای شې .

(۱۳)که رب المال داشرط کړچې په فلان ښاريافلان معين سامان کې به تجارت کوې نو مضارب لره دشرط په پرېښودلوسره تجارت کول ناجائزدی ولی مضاربت توکيل دی اووکالت په يوه شي پوري مخصوصول مفيددی نويه مخصوص کيدوسره په هغه کې تخصيص راځي همدارنګه که رب المال دمضاربت لپاره معلوم وخت مقررکړنودهغه په تيريدوسره عقد باطليږي ځکه مضاربت توکيل دی چې په کوم وخت سره موقت کړی شي ترهغه وخته پوري دی،يارب المال يوځوک متعين کړچې له هغه سره به تجارتي معامله کوې نومضارب به له هغه څخه تجاوزنه کوي ځکه تجارت داشخاصوپه مختلف کيدوسره مختلف کيږي اومالک په معاملاتوکې پرمعلوم چاباندي اعتمادکړی دی نودهغه خلاف کول ناجائزدی،لکه يوشريک چې دبل شريک په دي ډول وينا سره په داسي اموروکې تجاوزنه شي کولای .

(۱۴)ولم يشترِ من يَعتق على المالك(۱۵)أو عليه اِن ظهر ربح و ضمن اِن فعل(۱۶)فان لم يظهر ربح صحّ(۱۷)فان ظهر عتق حظّه ولم يضمن لرب المال و سعى المعتق فی قيمة نصيب رب المال.

**ترجمه** :اونه به اخلي هغه چې آزاديږي پرمالک باندي،ياپرمضارب باندي که ظاهره وه نفع اوضامن ګرځي که يې داسي وکړل اوکه يې نفع ظاهره نه وه نوبيا صحيح دی بيا که يې نفع ظاهره وه نوآزاديږي دهغه حصه اونه ضامن کيږي ورب المال ته او ګټي به معتَق درب المال دحصې قيمت .

**تشريح** :(۱۴)مضارب لره دا اختيارنشته چې دی درب المال پلار،زوی ياداسي ځوک چې پرمالک (ربّ المال) باندي آزاديږي، واخلي ځکه مضاربت دتحصيل منافع لپاره وضع شوی دی چې په خريداوفروخت سره ممکن دی اومذکوره افراددمالک (ربّ المال) په مِلک کې دراتلووروسته نه شي

خرڅيدلاى ځكه قاعده داده چې خپل ذورحم محرم په اخيستلوسره پخپله آزاديږي ،كه يې بياهم هغه واخيستل نودخپل ځان لپاره يې اخيستى دى دمضاربت لپاره نه دي ځكه دكوم،خريدنفاذچې پرمشتري باندي ممكن وي هغه پرمشتري باندي نافذيږي .

(١٥)قوله اوعليه وان ظهرربح اى لم يشترمن يعتق على المضارب ان ظهرفى المال ربح،يعني كه په مال مضاربت كې په خريداوفروخت سره نفع ظاهره وه نومضارب لره نه ده جائزه چې هغه داسي څوک واخلي چې پرده باندي آزاديږي ځكه په دي صورت كې په منافعوكې دحصه په مقدارد مضارب حصه آزاديږي چې دهغې څخه درب المال حصه هم فاسديږي ځكه دمريې په څه حصه آزاديدوسره كل آزاديږي نودرب المال حصه هم آزاديږي،اوكه بياهم مضارب داسي څوک واخيست چې پررب المال يامضارب باندي آزاديږي نودمال مضاربت ضامن گرځي ځكه ده گواكي دخپل ځان لپاره اخيستى دى دمضاربت لپاره يې نه دى اخيستى نوله مال مضاربت څخه دثمن په وركولو دمال مضاربت ضامن گرځي .

(١۶)اوكه په مال مضاربت كې تراوسه پوري نفع نه وه ظاهره شوې نوبيادمضارب لپاره دداسي مريې اخيستل جائزدى (چې دمضارب ذورحم محرم وي)ځكه په مال كې مضارب شريک نه دى نوپه دغه مال سره په اخيستلوباندي دامريى پرمضارب با. ى نه آزاديږي اودمضارب لپاره يې بياخرڅول جائزدى .

(١٧)بياكه تراخيستلووروسته دمريې قيمت زيات شونوپه دي زيادت كې دمضارب هم حصه پيداكيږي نودهغه دحصه په اندازه آزاديږي ځكه :اذاملک الرجل ذارحم محرم عتق عليه (يعني څوک چې دخپل ذى رحم محرم مالک شي هغه پرده باندي آزاديږي)ليكن مضارب دربّ المال لپاره دهيڅ شي ضامن نه گرځي ولى په قيمت لوړيدوكې دمضارب هيڅ صنع او اختيارنشته البته مريى بايدچې درب المال دحصې په قيمت كې كوشش وكړي ويې گټي اورب المال ته يې وركړي ځكه درب المال ماليت له دي مريې سره ودريد .

(١٨)معه ألف بالنصف فاشترى به امة قيمتها ألف فولدت ولدا يساوي ألفافادعاه موسرا فبلغت قيمته ألفا وخمس مائة سعى لرب المال في ألف وربعه او اعتقه (١٩)فان قبض الألف ضمن المدعي نصف قيمتها.

**ترجمه** :له مضارب بالنصف سره زرروپۍ دي بيايې په هغوباندي يوه منځه واخيسته چې دهغې قيمت زرروپۍ دي بيادهغې داسي ماشوم پيداشوچې دزرورو پوسره برابردى بيامضارب دهغه دعوى وكړه دغنى په حالت كې بيادماشوم قيمت ويونيم زرته ورسيدنوماشوم به دربّ المال لپاره ديوزرياربع گټلولپاره كوشش كوي يابه ربّ المال دى آزادوي ،بياكه رب المال زرروپۍ قبض كړي نومدعي (مضارب) دنصف قيمت ضامن گرځي .

**تشريح** :(١٨)له مضارب سره پرنصف منفعت زرروپۍ دي هغه په دي روپوباندي يوه داسي منځه واخيسته چې قيمت يې زرروپۍ دي اوله هغې سره وطى وكړه چې له هغې څخه ديوزرقيمت لرونكى ماشوم پيداشواومضارب دهغه دنسب دعوى وكړه په داسي حال كې چې مالک غني هم دى بيادماشوم قيمت يونيم زرشونودمضارب دعوى صحيح ده ځكه دنفع دظاهريدوپه وجه دمضارب ملكيت راغى دغه ماشوم دده زوى

شوا و دهغه دحصې په مقدارآزادېږي،اومضارب درب المال دحصې ضامن نه ګرځي ځکه دغه آزادي دملکيت اونسب په وجه ثابته شوې ده چې پکې دمضارب فعل لره هيڅ دخل نشته البته رب المال اختيارلري که غواړي چې داماشوم دده لپاره يوزردوه نيم سوه درهم وګټي (يعنې زرروپۍ رأس المال اودوه نيم سوه نفع)اوکه غواړي نوهغه دي آزادکړي .

(۱۹)بياکه رب المال له مرېې څخه يوزرروپۍ وصول کړي نوهغه لره داحق شته چې له مضارب (چې دمرېې دنسب مدعي دی) څخه دمرېې دمورېعنې منځې نصف قيمت واپس واخلي وجه يې داده چې هغه خپل رأس المال چې زردرهم وو پوره وصول کړل نواوس داظاهره شوه چې تولنه منځه په نفع کې پاتې ده نوهغه هم دشرط موافق ددواړوترمنځ نصفانصف کېږي .

## باب المضارب يُضارب

داباب په دې بيان کې دی چې مضارب مضاربت کوي

دمضارب اول داحکامو له بيانولووروسته مصنف رحمه الله دمضارب ثاني احکام بيانوي ځکه ثاني تراول وروسته وي ځکه يې دهغه احکام هم وروسته ذکرکړي دي .

(۱)فَإِنْ ضَارَبَ الْمُضَارِبُ بِلَا إِذْنٍ لَمْ يَضْمَنْ مَا لَمْ يَعْمَلِ الثَّانِي (۲)فَإِنْ دَفَعَ بِإِذْنٍ بِالثُّلُثِ وَقِيلَ لَهُ مَا رَزَقَ اللهُ فَبَيْنَنَا نِصْفَانِ فَلِلْمَالِكِ النِّصْفُ وَلِلْأَوَّلِ السُّدُسُ وَلِلثَّانِي الثُّلُثُ (۳)وَلَوْ قِيلَ لَهُ مَا رَزَقَكَ اللهُ فَبَيْنَنَا نِصْفَانِ فَلِلثَّانِي ثُلُثُهُ وَالْبَاقِي بَيْنَ الْمَالِكِ وَالْأَوَّلِ نِصْفَانِ (۴)وَلَوْ قِيلَ لَهُ مَا رَبِحْتَ فَبَيْنَنَا نِصْفَانِ وَدَفَعَ بِالنِّصْفِ فَلِلثَّانِي النِّصْفُ وَاسْتَوَيَا فِيمَا بَقِيَ.

**ترجمه** :که مضارب کوم څوک مضارب وګرځاوه بغيراجازت نوضامن نه ګرځي ترڅوچې عمل ونکړي هغه بل،بياکه يې ورکړپه اجازه سره په دريمه نفع اوورته وويل شول چې کوم رزق چې الله تعالی درکړي هغه به زمااوستاترمنځ نصف نصف وي نودمالک لپاره نصف کېږي اودمضارب اول لپاره سدس اودثاني لپاره دريمه کېږي،اوکه ورته وويل شوه چې کوم رزق چې الله تعالی درکړي هغه زموږدواړو ترمنځ نصف نصف دی نودمضارب ثاني لپاره دريمه دګټې کېږي اوباقي دمالک اومضارب اول ترمنځ نصف نصف کېږي،اوکه يې ورته وويل چې په دې سره چې تاڅه وګټل هغه زموږدواړترمنځ نصف نصف کېږي اوورېې کړپه نصف سره نودمضارب ثاني لپاره نصف دی اوپه باقي کې دواړه برابردي .

**تشريح** :(۱)که مضارب درب المال له اجازې بغيرمال کوم بل چاته په مضاربت ورکړنومضارب اول خالص په مال ورکولوسره ضامن نه ګرځي ترڅوچې مضارب ثاني عمل دتجارت شروع نکړي که مضارب ثاني ته نفع حاصله شي يانه ځکه دمضارب ثاني دعمل شروع کول مضاربت دی چې دهغه مضارب اول اجازه نه لري نودی په عمل سره ضامن کېږي قبل العمل مضاربت نشته نوضامن کېږي هم نه ظاهرالرواية همدادی اوهمدادصاحبينو رحمهما الله قول دی وبه يفتی،اوله امام صاحب رحمه الله څخه دحسن رحمه الله روايت دی چې مضارب ثاني په مذکورمال کې په خالص تصرف کولوسره هم نه ضامن کېږي ترڅوچې هغه ته نفع حاصله شوې نه وي ځکه چې ترڅونفع نه وي نومضارب ثاني دوکيل په منزله دی اومضارب اول ته جائزدي چې

ځو ک وكيل مقرر كړي او چې كله مضارب ثاني ته نفع حاصله شي نو مضارب اول د مالک لپاره په كل مال سره ضامن ګرځي ځكه اوس مضارب اول له رب المال سره په ګټه كې غير (يعني مضارب ثاني) شريک كړ.

**فائده**: ظاهر الرواية مفتى به دى لمافي الدر المنتقى: المضارب يضارب فان ضارب المضارب بلااذن فلاضمان مالم يعمل في ظاهر الرواية وهو قولهما رحمهما الله وبه يفتى. (الدر المنتقى: ۳/ ۴۵۳) وقال العلامة الرافعي رحمه الله: وعليه الفتوى كمانقله عبدالحليم عن المنصورية معزيا للقاضي خان (تقريرات الرافعي: ۳/ ۲۴۲)

(۲) كه رب المال مضارب ته د مال وركولو په وخت وويل: څو مره ګټه چې الله تعالى دركړي هغه زموږ ترمنځ نصف نصف ده او بل چاته په مضاربت وركولو اجازه يې هم وركړه بيا مضارب بل چاته په مضاربت بالثلث وركړ نو دا جائز دى ځكه دوهم عقد د رب المال په اجازه سره شوى دى، او رب المال ته د كل نفع نصف وركول كيږي ځكه د عقد په وخت د اخبره طې شوې وه او مضارب ثاني ته ثلث وركول كيږي ځكه د هغه لپاره هم دا ثلث شرط شوى وو او مضارب اول ته باقي مانده سدس وركول كيږي ځكه د هغه لپاره هم دا پاتې كيږي مثلاً د شپږو درهمو نفع څخه درې رب المال ته وركول كيږي دوه مضارب ثاني ته يو مضارب اول ته.

(۳) كه په مذكور صورت كې رب المال د خطاب په صيغه سره وويل: كومه ګټه چې الله تعالى تاته دركړي هغه زموږ ترمنځ نصف نصف ده نو مضارب ثاني ته ثلث وركول كيږي او باقي دوه ثلثان د رب المال او مضارب اول ترمنځ نصف نصف كيږي ځكه رب المال د خپل ځان لپاره د هغه مقدار نصف مقرر كړى دى كوم چې مضارب اول ته حاصل شوى دى او مضارب اول ته دوه ثلثه حاصل شوي دي ځكه يو ثلث د مضارب ثاني لپاره شرط كړاى شوى وو.

(۴) او كه رب المال و مضارب اول ته داسې وويل چې څه ګټه چې الله تعالى تاته دركړي هغه زما او ستا ترمنځ نصف نصف كيږي، بيا مضارب اول بل مضارب ته د نصف نفع په شرط سره مال وركړ نو اوس دوهم مضارب ته نصف نفع وركوله كيږي ځكه د اول مضارب او ثاني مضارب ترمنځ هم دا خبره طې شوې وه او د رب المال له طرفه مضارب اول ته دا اختيار هم حاصل وو چې بل چاته په مضاربت مال وركولاى شي. نو دوهم مضارب د نصف مستحق ګرځي او په باقي نصف كې مضارب اول او رب المال برابر شريكان كيږي ځكه رب المال د خپل ځان لپاره خالص د هغه مال نصف شمارلى وو چې مضارب اول يې وګټي او حال دا چې مضارب اول يو اځي نصف ګټلى دى ولى دوهم نصف خو مضارب ثاني يوړ. نو دغه نصف د دوئ دواړو ترمنځ برابر تقسيميږي.

(۵) ولو قيل له ما رزق الله فلي نصفه او ما كان من فضل فبيننا نصفان فدفع بالنصف فللمالک النصف وللثاني النصف ولا شئ للاول (۶) ولو شرط للثاني ثلثيه ضمن الاول للثاني سدسا (۷) وان شرط للمالک ثلثه ولعبده ثلثه على ان يعمل معه ولنفسه ثلثه صح.

**ترجمه**: او كه ورته وويل شوه مضارب اول ته چې كوم رزق الله تعالى تاته دركړي نو زما لپاره د هغه نصف دى ياكه كومه ګټه وه هغه زما او ستا ترمنځ نصف ده او په نصف سره يې وركړ نو د مالک لپاره نصف كيږي او د مضارب ثاني لپاره نصف كيږي او د مضارب اول لپاره هيڅ نشته او كه يې شرط كړل د ثاني لپاره دوه ثلثه

نوضامن گرځي اول دثاني لپاره په سدس سره، او كه يې شرط كړ دِرب المال لپاره ثلث او دهغه دمريي لپاره ثلث په دي شرط چې هغه به هم كار كوي له ده سره او دخپل ځان لپاره ثلث نو صحيح دى .

**تشريح** :(۵)كه رب المال وويل :څه چې الله تعالى دركوي دهغه نصف زمادى ياپې ورته وويل كومه ګټه چې وي هغه به زموږ ترمنځ نصف نصف وي بيامضارب بل چاته په مضاربت بالنصف سره مال وركړ نو نصف نفع دمضارب ثاني كيږي او نصف درب المال كيږي او مضارب اول ته هيڅ نه وركول كيږي ځكه رب المال چې نصف ربح دخپل ځان لپاره شرط كړه له هغه څخه مراد دكل ربح نصف دى او څرنګه چې مضارب اول دمضارب ثاني لپاره نصف ربح شرط كړي ده ځكه نو مضارب اول ته هيڅ شى نه وررپاتيږي نو ده لره هيڅ نشته .

(۶)كه په مذكورصورت كې دمضارب ثاني لپاره دوه ثلثه طى كړي نو نصف نفع درب المال كيږي او نيمه ګټه دمضارب ثاني كيږي او مضارب اول به مضارب ثاني ته شپږمه حصه له خپله ماله وركوي ځكه اول مضارب دثاني لپاره داسي شى شرط كړى دى چې رب المال يې مستحق دى نو درب المال په حق كې دهغه شرط نه نافذ كيږي ځكه په دي كې درب المال دحق ابطال راځي ،ليكن دثاني لپاره مذكورمقدار مقرر ول في نفسه صحيح دى نو دهغه پوره كول پر مضارب اول باندي لازم دى .

(۷)كه مضارب درب المال لپاره ثلث نفع طى كړ او درب المال دمريي لپاره يې ثلث دنفع په دي شرط طى كړ چې هغه به له ده سره كاركوي او يو ثلث يې دخپل ځان لپاره مقرر كړ نو دا جائزدى كه مريى ماذون وي او كه غيرماذون وي ځكه دمريي لپاره ثلث دربح شرط كول په حقيقت كې دهغه دمولى يعني رب المال لپاره شرط دى نو ګواكي درب المال لپاره يې دوه ثلثه طى كړي دي ځكه نو دا جائزدى او دمريي كاركول شرطول مفسدنه دى ځكه هغه ددي اهل دى چې دخپل مولى په مال كې په مضاربت سره كاروكړي .

> (۸)وَتَبْطُلُ بِمَوْتِ اَحَدِهِمَا اَوْ بِلُحُوقِ الْمَالِكِ مُرْتَدًّا (۹)وَيَنْعَزِلُ بِعَزْلِهِ اِنْ عَلِمَ (۱۰)وَاِنْ عَلِمَ وَالْمَالُ عُرُوضٌ بَاعَهَا ثُمَّ لَا يَتَصَرَّفُ فِي ثَمَنِهَا (۱۱)وَلَوِافْتَرَقَا وَفِي الْمَالِ دُيُونٌ وَرِبْحٌ اُجْبِرَ عَلَى اقْتِضَاءِ الدُّيُونِ (۱۲)وَاِلَّا لَا يَلْزَمُهُ الْاِقْتِضَاءُ وَيُوَكِّلُ الْمَالِكَ عَلَيْهِ (۱۳)وَالسِّمْسَارُ يُجْبَرُ عَلَى التَّقَاضِي.

**ترجمه** : او باطليږى ديوه په مرګ سره ياپه دي سره چې مالك مرتدشي ودارحرب ته ولاړشي ،او معزوليږى دهغه په معزوليدو سره كه هغه ته معلومه شي،او كه ورته معلوم شى حال داچې مال سامان وي نو هغه دى خرڅ كړي بيادي دهغوپه ثمنو كې تصرف نه كوي او كه دواړه سره جداشول او په مال كې قرضونه دي او نفع ده نو مجبوركړاى كيږي دقرضونو په وصولو باندي كه نه پرده لازم نه دى وصولول او وكيل دي وګرځوي مالك پرهغه باندي او دلال مجبوركړاى كيږي پروصولولو باندي .

**تشريح** :(۸)كه رب المال يامضارب مړشونو مضاربت باطليږي ځكه مضاربت توكيل دى چې دموكل ياوكيل په مرګ سره باطليږى همدارنګه كه رب المال مرتدشو (نعوذبالله)دارحرب ته ولاړى نو هم مضاربت باطليږى ځكه په دي صورت كې دمالك (رب المال)مِلك زائليږي دورثه وطرف ته منتقل كيږي نو داپه منزله دمرګ دى .

(۹)اومضارب درب المال په معزوليدو سره معزوليږي په دي شرط چې هغه ته دخپل معزوليدو علم وشي ځکه مضارب درب المال له طرفه وکيل دی او وکيل که قصداً معزولوي نو دامعزولي دهغه پر علم باندی موقوفه کيږي،نوکه رب المال مضارب معزول کړی وومگرمضارب په دي خبرنه ووچې بيايې يوشی واخيست يايې خرڅ کړنو دي تصرف په حق کې دی معزول نه شمارل کيږي بلکې دهغه داتصرف صحيح دی .

(۱۰)اوکه هغه ته دخپل معزوليدوعلم وومگرله هغه سره مال موجودووچې سامان وويعنې درأس المال له جنس څخه مغائروونوهغه خرڅولای شي اومعزولی يې له هغه مانع نه گرځي ولی ربح دمضارب حق دی چې بغيردنقدونه ظاهره کيږي نوځکه هغه ته دفروخت حق حاصل دی بيادهغه په قيمت سره کوم بل شی اخيستل ورته جائزنه دی ځکه له معزوليدووروسته دسامان خرڅولواجازت دضرورت په وجه وونوردمزيدفروخت ضرورت نشته .

(۱۱)که رب المال اومضارب دعقدله فسخ کولووروسته سره جداشول اومال مضاربت پرخلکوباندي قرض وواومضارب لره په تجارت کې نفع حاصله شوې وه نومضارب له قرضدارانوڅخه دقرض پروصول کولوباندي مجبورکړای کيږي ځکه مضارب داجيرپه شان دی اونفع دأجرت غوندي ده نوداجيرپه شان مضارب پراتمام عمل باندي مجبورکړای کيږي .

(۱۲)قوله والالايلزمه الاقتضاء ای وان لم يکن فی المال ربح لايلزمه الاقتضاء،يعنې که مضارب ته نفع حاصله شوې نه وه نوهغه نه مجبورکړای کيږي ځکه په دي صورت کې مضارب وکيل محض اومتبرع دی اوپرمتبرّع باندي جبرنه کيږي البته هغه ته ويل کيږي چې مالک ته دقرضونودوصولولولپاره وکيل پيداکړه ځکه دعقد حقوق دعاقدطرف ته راجع کيږي اورب المال عاقدنه دی نوهغه بغيردوکيل جوړولونه دحق وصولي نه شي کولای هغه لره وکيل پيداکول ضروري دی چې دهغه حق ضائع نه شي .

(۱۳)بعضوحضراتوددلال اوسمسارترمنځ دافرق بيان کړی دی چې دلال هغه دی چې په اجرت باندي خريداوفروخت کوي اوسمسارهغه دی چې دبائع اومشتری ترمنځ سفيرمحض وي،اوبعضو دافرق بيان کړی دی چې دلال هغه دی چې مالک ورته دفروخت لپاره اسباب ورکړي وي اوسمسارهغه دی چې مال ورسره نه وي مگردی مشتري لټوي راولي يې،بهرحال سمساردمال پروصولولوباندي مجبورکړای کيږي ځکه سمسارعادةً دخلکولپاره په اجرت باندي خريداوفروخت کوی نودعادت په حکم داپه منزله داجاره صحيحه دی ځکه پرهغه باندي وصولي دثمن واجب ده .

**فائده**:کله وخت انسان ددي فرصت نه شي موندلای چې خپله يوکارترسره کړي ځکه نودی يودلال (ايجنټ) ته اجرت ورکړي هغه کارپري وکړي،ددي اجرت په باره کې دفقهاؤاحناف رحمهم الله عبارات مختلف دي،مگردخلکودضرورت اوحاجت په نظرکې نيولوسره دجوازقول مختاراومفتی به دی ،البته دعقدپه وخت تعين داجرت ضروري دی قال فی التارخانية:وفی الدلال والسمساريجب اجرالمثل وماتواضعواعليه ان فی کل عشرةدنانير کذافذاک حرام عليهم،وفی الحاوی :سئل محمدبن سلمة عن اجرة السمسارفقال ارجوانه لاباس به وان کان فی الاصل فاسدالکثرة التعامل وکثيرمن هذاغيرجائزفجوزوه لحاجة الناس اليه کدخول الحمام .(ردالمحتار:۵/ ۴۳)وقال :اجرة السمساروالمنادی والحمامی والصکاک ومالايقدرفيه الوقت ولاالعمل تجوزلماکان للناس به حاجة.(ردالمحتار:۵/۳۲)والله سبحانه وتعالی اعلم.(احسن الفتاوی:۷/۲۷۳)

(۱۴)وَ ماهلك مِن مالِ المُضارِبَةِ فَمِنَ الرِّبحِ فَاِن زادَ الهالِكُ عَلَى الرِّبحِ لَم يَضمَن المُضارِبُ(۱۵)وَاِن قُسِمَ الرِّبحُ وَبَقِيَتِ المُضارِبَةُ ثُمَّ هَلَكَ المالُ اَو بَعضُهُ تَرادَّا الرِّبحَ لِيَاخُذَ المالِكُ رَأسَ مالِهِ وَمافَضَلَ فَهُوَ بَينَهُما وَاِن نَقَصَ لَم يَضمَنِ المُضارِبُ(۱۶)وَاِن قُسِمَ الرِّبحُ وَفُسِخَتْ ثُمَّ عَقَدَاها فَهَلَكَ المالُ لَم يَتَرادّا الرِّبحَ الاَوَّلَ.

**ترجمه**: او هغه چې هلاک شي له مال دمضاربت څخه هغه له نفع څخه دی، پس که چیرته زیات شي هلاک شوی پرنفع باندي نو مضارب به يې ضامن نه ګرځي او تقسیم کړای شوه نفع او باقي پاتی شو مضاربت بیاهلاک شو کل مال یابعض نو دواړه به ربح رارد کړي ددي لپاره چې واخلي مالک خپل رأس المال او څه چې پاتی شي هغه ددوئ دواړو ترمنځ کیږي او که کم شو نو مضارب نه ضامن کیږي او که تقسیم کړای شوه نفع او فسخ کړی شو مضاربت بیا یې ازسرِنو عقد مضاربت وکړاو هلاک شو مال نو لومړنی نفع به نه رارد وي .

**تشریح**: (۱۴)هغه څه چې له مال مضاربت څخه هلاک شي هغه له نفع څخه هلاکیږي نه له رأس المال څخه ځکه نفع تابع ده او رأس المال اصل دی او هلاکت دتابع طرفته راګرځول اولی وي لکه په نصاب زکوة کې چې هلاک دعفو جانب ته راګرځول کیږي او که هلاک شوی مال ترنفع زیات شي نو پر مضارب باندي ضمان نه راځي ځکه مال مضاربت دمضارب په قبضه کې مقبوض علی وجه الامانة دی او پر امین باندي دهلاک کیدو په صورت کې ضمان نه راځي .

(۱۵)که رب المال او مضارب دعقد مضاربت په باقي پاتی کیدو سره نفع تقسیموي بیا ټول مال یابعض مال هلاک شو نو دواړه به خپل وصوله کړای شوي نفع بیرته راوړي تردي چې دمالک اصل رقم پوره شي ځکه درأس المال تر وصول کولو مخکې دنفع تقسیمول صحیح نه دی ولی رأس المال اصل دی او نفع تابع ده نو دواړه دي نفع بیرته راوړي لومړی دي رأس المال پوره کړي بیاچې درأس المال ترمکمل کیدو وروسته څه پاتی شي نو هغه ددوئ ترمنځ مشترک کیږي ځکه دانفع ده چې پکې دوئ دواړو دشرکت عقد کړی دی ،او که په رأس المال کې کمی پاتی شویعنې دټولو منافعو په جمع کولو سره بیاهم دهغه نقصان پوره نه کړای شو نو مضارب نه ضامن کیږي ځکه مضارب امین دی .

(۱۶)او که دواړو نفع تقسیم کړه مضاربت یې ختم کړله هغه بعدیې ازسرِنو عقد مضاربت وکړنوله عقدثاني وروسته که کل مال یابعض مال هلاک شو نو لومړی ځل چې نفع تقسیم شوې ده هغه به بیرته نه راوړي ځکه لومړی مضاربت دمال ترهلاکت مخکې په فسخ کیدو سره تام شوی دی نو ددوهم عقد نقصان دلومړي عقد په منافعو سره نه پوره کیږي .

### فصل

په دي فصل کې مصنف رحمه الله دمزید فائدی لپاره دافعال مضارب څه داسي احکام ذکر کړي دي چې په تیر شوي فصل کې نه دي ذکر شوي .

(۱)وَلاتَفسُدُ المُضارِبَةُ بِدَفعِ المالِ اِلَى المالِكِ بِضاعَةً(۲)فَاِن سافَرَ فَطَعامُهُ وَشَرابُهُ وَكِسوَتُهُ وَرُكُوبُهُ فِي مالِ المُضارِبَةِ وَاِن عَمِلَ فِي المِصرِ فَنَفَقَتُهُ فِي مالِهِ كَالدَّواءِ(۳)فَاِن رَبِحَ اَخَذَ المالِكُ مااَنفَقَ مِن رَأسِ المالِ(۴)فَاِن باعَ المَتاعَ مُرابَحَةً حَسَبَ مااَنفَقَ عَلَى المَتاعِ لاعَلَى نَفسِهِ(۵)وَلَو قَصَرَ اَو حَمَلَهُ بِمالِهِ وَقِيلَ لَهُ اِعمَل بِرَاْيِكَ فَهُوَ مُتَطَوِّعٌ(۶)فَاِن صَبَغَهُ اَحمَرَ فَهُوَ شَرِيكٌ بِمازادَ الصَّبغُ فِيهِ وَلايَضمَنُ.

**ترجمه** :او نه فاسدېږي مضاربت په مال ورکولو سره مالک ته دبضاعت په ډول. او که سفر وکړي مضارب نو دهغه خوراک څښاک او دهغه جامې او دهغه سواري به له مال مضاربت څخه وي او که کار وکړي په ښار کې نو دهغه نفقه به له خپل مال څخه وي لکه دوا او که يې نفع وکړه نو وابه خلي مالک هغه چې ده مصرف کړي دي له رأس المال څخه او که يې مال خرڅ کړ په کټه سره نو حساب به کړي هغه چې ده مصرف کړي دي پر سامان باندې نه پر خپل ځان باندې او که يې کپړه وګنډله يا يې سامان بار کړ په خپل مال سره او ويل شوي وو ده ته چې دخپلې رايه مطابق عمل کوه نو دى احسان کوونکى دى او که يې سور رنګ ورکړ نو دى شريک ګڼل کيږي په هغه کې چې تر رنګيدو زيات شي په هغه کې او ضامن نه ګرځي.

**تشريح** :(۱)که مضارب مال دمضاربت اصل مالک يعني رب المال ته په بضاعت (بضاعت دادى چې يو چانه مال ورکړي چې هغه يې خرڅ کړي او ددغه مال ټول منافع او کل ثمن صاحب مال ته واپس ورکړي) ورکړ نو دائمه ثلاثه ؒ په نزد ددوئ ترمنځ مضاربت نه ختميږي. دامام زفر رحمه الله په نزد مضاربت ختميږي ځکه رب المال دمضاربت په مال کې خپله تصرف وکړ او دى په هغه کې دمضارب وکيل هم نه شي کيداى ګواکې هغه له مضارب څخه خپل مال واپس اخيستى دى نو ځکه مضاربت ختميږي. زموږ دليل دادى چې دمضارب او او مال ترمنځ مالک يعني رب المال په پوره ډول تخليه کړې وه او مضارب ته په هغه کې دتصرف کولو حق ورکول شوى وو نو رب المال په تصرف کې دهغه له طرفه وکيل کيداى شي نو دمضارب ورب المال ته مال مضاربت په بضاعت ورکول صحيح دى.

(۲)که مضارب درب المال په اجازه سره دتجارت لپاره سفر وکړي نو دهغه خوراک، څښاک، جامه سواري او ټول ضروريات به له مال مضاربت څخه پوره کيږي البته فضول خرچي به نه کوي ځکه دانسان نفقه په کار کې دمشغول کيدو په مقابله کې وي لکه قاضى او امام چې دخلکو په خدمت مشغول وي ځکه دهغوئ نفقه پر بيت المال باندې وي نو په حالت دسفر کې دمضارب خرچه له مال مضاربت څخه کيږي. او که مضارب پخپل ښار کې اوسي کار کوي نو دهغه ذاتى خرچه خپله دهغه له مال څخه کيږي له مال مضاربت څخه نه کيږي ولې مضارب چې ترڅو پخپل ښار کې وي نو دى له خپل اصلى سکونت سره اوسيږي دده ذاتى خرچه له مال مضاربت څخه نه کيږي. لکه ددوا. مصرف چې که دى پخپل ښار کې اوسي يا په سفر کې له خپل مال څخه به يې کړي ځکه دوا. په دې وجه چې له عوارضو څخه او له موهوماتو نه ده نو ددوا. خرچه نه واجبيږي لکه دښځې ددوا. خرچه چې دزوج پر ذمه نه ده.

(۳)کله چې مضارب په مال مضاربت کې ګټه وکړي نو ده چې له رأس المال نه کومې پيسې دخپل ځان په نفقه کې مصرف کړي دي رب المال به لومړى له نفع څخه هغه ورواخلي چې اصل رقم پوره شي بيا چې څه باقى شو هغه به تقسيم کړي نو به دمضارب خرچه له نفع څخه شي ولى دده چې کوم مصرف کړى دى هغه دهلاک شده مال په شان دى او دهلاک شده مال په باره کې داخبره مخکې تيره شوه چې هغه به دربح په طرف راګرځول کيږي نو دنفقې خرچ به هم دربح په طرف راګرځول کيږي.

(۴) او مضارب چې له مال مضاربت کوم څه مرابحةً خرڅول غواړي نو پرهغه چې کوم مصرف شوی دی مثلاً دلال، دهوبي، رنګریز وغیره دهغوی اجرت به له اصل قیمت سره ضم کړي داسي به ووایې چې دا ماته په دومره پروت دی یعنې دشي قیمت به سره له مصرفه وروښیې او کوم څه چې ده پرخپل ځان مصرف کړي دي هغه به له اصل قیمت سره نه شاملوي ځکه دا عام عرف دی چې کوم څه پرمال باندي مصرفیږي هغه ورسره یو ځای کیږي او څه چې پرخپل ځان باندي مصرفیږي هغه نه ورسره یو ځای کیږي.

(۵) رب المال ومضارب ته وویل چې ته پخپله رایه کار کوه، مضارب په کل مال دمضاربت کپړه واخیسته او دهغه دګنډلو خرچه یې له خپله ځانه ورکړه یایې سامان واخیست دهغه دیو ځای څخه بل ځای ته دانتقالولو خرچه یې له خپله جیبه ورکړه نو دا خرچه دمضارب له طرفه تبرع (احسان) شمارل کیږي درب المال پر ذمه نه کیږي ځکه رأس المال خوله هغه سره نه دی پاتی نو مزید خرچ کول پر رب المال باندي پور کیږي چې رب المال یې اجازه نه ده ورکړي نو پر رب المال باندي پور اړول صحیح نه دی بلکې دمضارب له طرفه تبرع ده ځکه رب المال ته درجوع کولو حق نه لري.

(۶) که مضارب په مال مضاربت سره سپین رنګ تان واخیست او له خپله ځانه یې خرچه په وکړه سور رنګ یې ورکړ نو درنګ په وجه چې کوم قیمت زیات شو په هغه کې مضارب ورسره شریک کیږي او دمالک لپاره دسپین تان ذمه وارنه ګرځي ځکه رنګ خو یو مال عین دی چې په کپړه پوري قائم دی آن تر دي که چیرته دغه رنګینه کپړه خرڅه شي نو مضارب ته درنګ دحصې پیسې ورکولې کیږي او دسپینې کپړې دحصه ثمن پر مضاربت باندي راځي مثلاً غیر رنګینه کپړه په سل درهمه قیمت خرڅیږي له رنګیدو وروسته یونیم سل درهمه شو نو سل درهمه پر مضاربت دي او پنځوس درهمه دمضارب لپاره دهغه دمال په بدله کې حق کیږي، او دمالک لپاره دسپین تان دقیمت ذمه وارنه ګرځي ځکه مضارب په دې باره کې ماذون دی ولې رب المال ده ته ویلي وو چې ته دخپلې رایه مطابق کار کوه.

(۷) مَعَهُ بِالنِّصْفِ فَاشْتَرَى بِهِ بَزًّا وَبَاعَهُ بِأَلْفَيْنِ وَاشْتَرَى بِهِمَا عَبْدًا فَضَاعَا غَرِمَ مَا الْأَلْفَ وَالْمَالِكُ أَلْفًا (۸) وَرُبْعُ الْعَبْدِ لِلْمُضَارِبِ وَبَاقِيهِ عَلَى الْمُضَارَبَةِ (۹) وَرَأْسُ الْمَالِ أَلْفَانِ وَخَمْسُ مِائَةٍ وَيَبِيعُ عَلَى أَلْفَيْنِ (۱۰) وَإِنِ اشْتَرَى مِنَ الْمَالِكِ بِأَلْفٍ عَبْدًا اشْتَرَاهُ بِنِصْفِهِ رَابَحَ بِنِصْفِهِ.

**ترجمه**: زر روپۍ دي له مضارب سره بیایې په هغه باندي کپړه واخیسته او خرڅه یې کړه په دوه زره او واخیست په هغو دوو زرو مریی بیا دوه زره ضائع شوې نو دواړه دي یو زر ور کړي او مالک دی یو زر، او څلورمه حصه دمریي دمضارب کیږي او باقي پر مضاربت باندي پاتیږي او رأس المال دوه نیم زره کیږي او مرابحت به کوي په دوه زره باندي او که یې واخیست له مالک څخه مریی په زر روپۍ چې هغه اخیستی وو په نصف یعنې پنځه سوه نو مضاربت به کوي پر نصف یعنې پنځه سوه باندي.

**تشریح**: (۷) له مضارب بالنصف سره زر روپۍ وې او هغه په دې روپو کتاني کپړه واخیسته او په دوه زره یې خرڅه کړه بیایې په هغو دوو زرو یو مریی واخیست او دمریي قیمت یې لا ور کړی نه وو چې هغه

دوه زره هلاکې شوې نوپه دې صورت کې به یوزردرهم مالک اومضارب په دواړووركوي يعنې پنځه سوه یواوپنځه سوه بل ورکوي اوپنځه سوه به فقط مالک ورکوي ځکه چې کله دکپړې خرڅیدووروسته مال له یوه زره دوه زره شونوپه مال کې یوزرنفع راغله اوهغه ددواړوترمنځ په نصف نصف شوه نومضارب ته له هغو څخه پنځه سوه ورسیږي له هغه وروسته چې یې کله په دوه زره مریی واخیست نوهغه ددواړو ترمنځ مشترک شویعنې ربع دمریې دمضارب شواودرې حصې دمالک شوې بیادثمن تراداکیدو مخکې دوه زره هلاکې شوې نوتاوان پردواړوباندې بقدرملک راځي نوربع یعنې پنځه سوه پرمضارب کیږي اوباقی پنځلس سوه پرمالک باندې،ځکه یې وویل چې یوزربه په دواړوورکړي یعنې پنځه سوه به مضارب اوپنځه سوه به مالک ورکړي اویوزربه یواځې مالک ورکړي همداډول پرمالک باندې پنځلس سوه اوپرمضارب باندې پنځه سوه راځي.

(۸)اوس دمریې یوه ربع چې دمضارب مملوک دی هغه له مضاربت څخه خارجیږي اوباقی پرمضاربت باندې پاتیږي دمضارب حصه له مضاربت څخه ځکه خارجه شوه چې داپرهغه مضمون دی اومال دمضاربت امانت دی اوددوئ دواړوترمنځ منافات دی درب المال حصه پرمضاربت باندې برقرارپاتیږي ځکه په دې کې هیڅ منافات نشته.

(۹)بیارأس المال دوه نیم زره کیږي ځکه یوزرخورب المال په شروع کې ورکړي وې اوس یې پنځلس سوه تاوان ورکړنوټول رأس المال دوه نیم زره شو،لیکن که مضارب غواړي چې دامریی مرابحة خرڅ کړي نودی به قیمت دوه زره ورته ښیي داسې به نه ورته وایي چې ماته په پنځه ویشت سوه پروت دی ځکه مریی خویې په دوه زره اخیستی دی.

(۱۰)که مضارب له رب المال څخه په یوزرداسې مریی واخیست چې رب المال په پنځه سوه اخیستی وونواوس که مضارب غواړي چې هغه مرابحةً خرڅ کړي نواصل قیمت به خالص پنځه سوه ورته ښیي ځکه درب المال پرمضارب باندې خرڅول که څه هم خپل ملک دخپل مال په عوض کې خرڅول دی مګردمقاصدودمختلف کیدوپه وجه دابیع جائزه ګڼله شوې ده چې ضرورت په دفع شي ،لیکن پرهغه باندې دمرابحه بناء کول جائزنه دی ځکه دمرابحه مدارله شبهې څخه پراحترازبنادی نودغه مرابحه دمالک پرخرید باندې کیږي دمالک اومضارب ترمنځ چې کوم عقدشوی دی هغه معدوم ګڼل کیږي.

(۱۱)معه ألف بالنصف فاشترى به عبدا قيمته ألفان فقتل رجلا خطأ فثلثة أرباع الفداء على المالك وربعه على المضارب والعبد يخدم المالك ثلثة أيام والمضارب يوما.

**ترجمه**: زر روپۍ دي له مضارب بالنصف سره هغه په دي روپو باندي مريی واخيست چې قيمت يې دوه زره دي بيا هغه يو سړی وواژه په خطا سره نو درې حصې فديه پر مالک باندي کيږي او يوه څلورمه حصه پر مضارب باندي او مريی به د مالک خدمت کوي درې ورځې او د مضارب به يوه ورځ خدمت کوي.

**تشريح**: (۱۱) که له مضارب سره يو زر درهم په نصف نفع شرط سره وو بيا ده هغو په عوض يو مريی واخيست چې د هغه قيمت دوه زره درهمه وو بيا دغه مريي يو سړی قتل کړ نو د دغه مريي د قتل فديه درې حصې پر رب المال باندي کيږي او يوه څلورمه يې پر مضارب باندي کيږي ځکه فديه د ملکيت خرچه دی نو په قدر د ملک مقرريږي او ملکيت د دوئ دواړو وو يعني درې حصې د رب المال وې او يوه حصه د مضارب ځکه رأس المال يو زر درهمه وو او د مريي حالا قيمت دوه زره درهمه دي نو له دوهم زري څخه نصف يعني پنځه سوه د مضارب کيږي نو فديه هم په هغه تناسب ده. څرنګه چې مريی څلور حصې شو نو له فديه اداکولو وروسته هغه د مالک او مضارب ترمنځ لاعلی وجه المضاربة مشترک کيږي ولی مضاربت په فديه ورکولو سره پای ته ورسيد نو درې ورځې به د مالک خدمت کوي او يوه ورځ به د مضارب.

(۱۲) معه الف فاشترى به عبدا فهلک الثمن قبل النقد دفع المالک الفا آخر ثم و ثم و رأس المال جميع مادفع (۱۳) معه الفان فقال دفعت الى الفا و ربحت الفا و قال المالک دفعت الفين فالقول للمضارب (۱۴) معه الف فقال هو مضاربة بالنصف و قد ربح الفا و قال المالک بضاعة فالقول للمالک.

**ترجمه**: زر درهمه دي له مضارب سره بيا هغه په دي روپو باندی مريی واخيست او هغه هلاک شو تر ثمن تر اداتيګی مخکي نو مالک به يو زر نورې ورکوي که بيا هلاک شو بيا به يې ورکوي که بيا هلاک شو بيا. او رأس المال کل هغه رقم دی چې ده ورکړی دی. دوه زره درهمه دي له مضارب سره بيا ده وويل مالک ته چې تا ماته زر درهمه راکړي وو او زر درهمه ما نفع وکړه مالک ورته وويل چې ما دوه زره درهمه درکړي وو نو قول د مضارب معتبريږي. له مضارب سره زر درهمه دي دی وايي چې دا په مضاربت بالنصف دي او نفع يې زر درهمه شوه مالک وايي چې بضاعت دی نو قول د مالک معتبريږي.

**تشريح**: (۱۲) که له مضارب سره د مضاربت زر درهمه وو هغه ددي درهمو په عوض يو مريی واخيست د ثمن تر اداکولو مخکي هغه ضائع شو نو رب المال به مضارب ته دوباره زر درهمه ورکوي ددي لپاره چې دی ثمن اداکړي بيا که تر اداتيګی مخکي هغه هم ضائع شوې نو رب المال به دريم ځل زر درهمه ورکوي تر څو چې د مريي ثمن ادانکړي. او څو ځله چې هغه مضارب ته مال ورکړی هغه ټول رأس المال ګرځي مثلا که يې درې ځله زر درهمه ورکړل نو رأس المال درې زره کيږي که يې څلور مرتبه ورکړي وو نو رأس المال څلور زره درهمه کيږي او مضارب ضامن نه ګرځي ځکه د مضارب په لاس کې چې کوم مال وي هغه امانت وي او مضارب د هغه مال په حق کې امين وي او امين ضامن نه ګرځي.

(۱۳) که له مضارب سره دوه زره درهمه وو هغه رب المال ته وويل چې زر درهمه خو رأس المال وو چې تا راکړي وو او يو زر مانفع حاصله کړې ده. رب المال ورته وويل چې نه. بلکې ما تاته دوه زره درهمه درکړي

وداوه زره درهمه رأس المال دی نو دمضارب قول معتبریږي .امام ابوحنیفة رحمه الله په شروع کې ویلي وچې درب المال قول معتبر دی او همدا امام زفر رحمه الله قول دی ځکه مضارب پررب المال باندي په نفع کې دشرکت مدعي دی اورب المال له هغه نه منکر دی اوقول دمنکر معتبر دی .مګر وروسته امام صاحب رحمه الله له خپل دغه قول نه رجوع وکړاو ویې ویل چې دمضارب قول معتبر دی همدا دصاحبینو رحمهما الله قول دی وجه یې داده چې درب المال اومضارب اختلاف په حقیقت کې په مقدار مقبوض کې دی اودمقبوض په مقدار کې داختلاف په صورت کې دقابض قول معتبر دی نو په مذکورصورت کې دمضارب قول معتبریږي.
(كذا في الهداية: ۳/ ۲۷۰)

(۱۴)که له چاسره زردرهمونه ووهغه مالک ته وویل چې داروپۍ په نیمه ګټه شرط سره مال مضاربت دی اویوزرماګټه کړي ده اومالک وایې چې دادمضاربت مال نه دی بلکې مادبضاعت لپاره (بضاعت دادی چې چاته ورکړي ددي لپاره چې هغه یې خرڅ کړي اودهغه ټول منافع اوکل ثمن صاحب مال ته ورکړي)درکړې وې نو دمالک قول معتبریږي ځکه مضارب دمضاربت په دعوی کولو سره په ګټه کې دشرکت مدعي شو اومالک په نفع کې دهغه له شرکت نه منکر دی اوقول دمنکر معتبر وي.

## كتاب الوَدِيعَة

داکتاب دودیعت په بیان کې دی

ودیعت له وَدَع څخه مشتق دی په معنی دترک، او امانت ایښودل شوي شي ته ځکه ودیعت وایي چې هغه له امین سره پریښودل کیږي او په شریعت کې :تسليط الغير على حفظ المال (دخپل مال پر حفاظت باندي غیر ته دقدرت ورکولو) ته وایي.

خپل مال چې له بل چاسره دحفاظت لپاره پریږدي هغه مودِع اومستودِع (بکسر الدال فیهما) وایي اوله چاسره چې مال ساتل کیږي هغه ته مودَع اومستودَع (فتح الدال فیهما) وایي اومذکورمال ته ودیعت اومودَع وایي،اودایداع لغوي معنی ده :تسليط الغير على حفظ شئ سواء كان مالاً اوغيرمال (یعني غیر دیوشي پرحفاظت باندي مسلطول که هغه شی مال وي اوکه غیرمال وي).

په ایداع کې مال له مودَع سره اوپه مضاربت کې له مضارب سره امانت وي ځکه مصنف رحمه الله له کتاب المضاربت وروسته دکتاب الودیعة احکام ذکر کړي دي.

دامانت اوودیعت ترمنځ دعام خاص مطلق نسبت دی په ودیعت کې له غیرڅخه حفاظت کول قصداً مطلوب وي اوپه امانت کې کله بغیر قصد هم کیږي مثلاً هوادیو چاجامه دبل چاپه غیږه کې ورواچول نوداکپړه له هغه سره امانت ده ودیعت نه ده.

دودیعت لپاره شرط دادی چې هغه شی قابل قبض وي چې دهغه حفاظت کول ممکن وي نوکه یې تښتیدلی مرغی یاداسي مال چې په دریاب کې ډوب وو ودیعت کښیښودنو دا صحیح نه دی اودودیعت حکم وجوب دحفاظت دی.

(۱)الايداع تسليط الغير على حفظ ماله والوديعة مايترك عند الأمين (۲) وهي امانة فلايضمن بالهلاك (۳) وللمودع أن يحفظها بنفسه وبعياله (۴) فإن حفظها بغيرهم ضمن (۵) الاأن يخاف الحرق أو الغرق فيسلمها الى جاره أو فلك آخر.

**توجمه** :ايداع مسلطول دغيري دخپل مال پر حفاظت باندې او وديعت هغه دی چې له امين سره پرېښودل شي، اودا امانت دی نوضامن كيږي نه په هلاكيدو سره يې، او مودَع لره اختيار دی كه دهغه مال حفاظت پخپله كوي او كه يې پخپلو كور والاوكوی نو كه يې حفاظت وكړپه نورو خلكو بيا ضامن كيږي مگر دا كه وېريدی له سوځيدو يا غرقيدو ځخه بيا دي وركړي دا مال خپل گاونډي ته يا بلې كښتۍ ته.

**تشريح** :(۱)مصنف رَحِمَهُ اللهُ دايداع اصطلاحي تعريف داسې كړی دی چې خپل مال دحفاظت لپاره بل چاته وركولو ته ايداع وايي او وديعت لغةً وشرعاً هغه شی دی چې له امين سره دحفاظت لپاره وساتلی شي.

(۲)وديعت له مودَع سره امانت وي كه دمودَ له زيادت بغيرهلاک شي نو مودَع نه په ضامن كيږي لقوله عليه السلام: ليس على المودع غير المغل ضمان (مودَع كه خائن نه وونوپرده باندې ضمان نشته) همدارنگه خلكه دوديعت ايښودلو ته ضرورت لري نو كه موږمودَع ضامن كړونو بيا خلک دوديعت له ايښودلو ځخه منع كوي چې په دې سره دخلكو مصلحتونه معطل كيږي.

(۳)مودَع لره دااختيار دی چې دوديعت حفاظت پخپله وكړي يا يې پخپل اهل وعيال سره وكړي ځكه په كورسره دحفاظت كولونه چاره نشته ولې دوديعت دحفاظت لپاره هروخت په كوركې اوسيدل ممكن نه دی اوبهرته دوتلوپه صورت كې هروخت وديعت له ځان سره گرځول هم ناممكن دی ،اوله عيال ځخه مراددادی چې يوځاي سره اوسيږي.

(۴)كه مودَع مال وديعت له خپل كوربغيربل چاته دحفاظت لپاره وركړاوله چاسره يې وديعت كښېښودنو دصورت په هلاكت كې مودَع ضامن گرځي ځكه صاحب مال دمودَع په قبض كولوراضي دی نه دغيرپه قبض سره،ولې خلک دامانت په ساتلوكې مختلف وي ځوک قابل اعتمادوي اوځينی لاپرواه غونډي خلک وی نوغيرته وركول دمالک درضابغيروشوځكه نوكه امانت هلاک شوامين ضامن گرځي.

(۵)خوكه چيرته په اضطراري حالت كې مودَع مال دوديعت غيرته دحفاظت لپاره وركړمثلاً دمودَع په كوركې اوررولگيد مودَع دحفاظت په غيرمال وديعت دخپل گاونډی كورته وروړ،يامودَع په كښتۍ كې سپوروودهغې كښتۍ دغرقيدوويره وه هغه مال وديعت په كومه بله كښتۍ كې واچاوه نوپه دغوصورتونوكې كه مال هلاک شوبيامودَع نه ضامن كيږي ځكه په دې صورت كې دحفاظت همداطريقه متعينه ده نومالک هم يقيناً په دې راضي كيږي.

(۶) فإن طلب ربها فحبسها عن ربها قادرا على تسليمها (۷) أو خلطها بماله حتى لا يتميز ضمنها (۸) فإن اختلط بلا فعله اشتركا (۹) ولو أنفق بعضها فرد مثله فخلطه بالباقي ضمن الكل (۱۰) وإن تعدى فيها ثم أزال التعدي زال الضمان (۱۱) بخلاف المستعير والمستأجر (۱۲) وإن أقر أو بغفه جخوده.

**ترجمه** :که طلب وکړ دهغه مالک پس ده منع کړه په داسي حال کې چې قادروو پرسپارلو دهغه ،یایې ګډکړله خپل مال سره په دې ډول چې تمیزیې نه شوای کیدای نونه ضامن کیږي،اوکه سره ګډشول دهغه کاروائی بغیرنودواړه شریکان کیږي،اوکه یې خرڅ کړبعض امانت پس بیایې واپس کړدهغه په اندازه اوګډیې کړله باقي سره نودټول ضامن ګرځي،اوکه یې زیادتی وکړه په امانت کې بیایې زیادتی بیرته ختمه کړه نوضمان هم ختمیږي خلاف له مستعیراومستاجرنه اودده له اقراروروسته له انکاره دده .

**تشریح** :(۶)که صاحب ودیعت پخپله یادوکیل په ذریعه له مودَع څخه خپل مال طلب کړمګرمودَع منع کړحال داچې دی دهغه پرسپارلوباندي قادرهم وونوکه چیرته ودیعت له هغه سره هلاک شویامودَع دهغه ضامن ګرځي څکه هغه تعدّی وکړه امانت یې وګرځاوه نوغاصب شواوغاصب ضامن ګرځي .

(۷)که مودَع مال ودیعت له خپل مال سره داسي ګډکړچې ددواړوترمنځ فرق نه کیدی نومودَع ضامن ګرځي څکه داډول ګډول دمال هلاکت دی ولی په داسی حالت کې دمودِع خپل حق ته رسیدل ناممکن دی .دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمودِع اوس پرمال ودیعت باندي اختیارنه لري څکه ودیعت من کل وجه هلاک شوی دی اوس دمودِع لپاره خپل عین حق وصولول متعذردی نومودِع دي دهغه ضمان واخلي،دصاحبینو رحمهما الله په نزدمودِع لره اختیارشته که غواړي نوضمان دي واخلي اوکه غواړي له مودَع سره په مخلوط مال کې شریک شي .

(۸)که مال ودیعت دمودَع له کاروائی بغیرپه مال ګډشی مثلاله دراهمو دکې تیلی پري شوې دراهم سره ګډشول نودعدم تعدّی په وجه مودَع ضامن نه ګرځي بلکې دواړه بالاتفاق شریکان کیږي پرمودَع باندي ضمان نه راځي څکه ضمان بغیرتعدّی نه واجبیږي اودمودَع له جانبه تعدّی نه ده راغلې .

(۹)که مودَع څه ودیعت دخپل مقصدلپاره مصرف کړاوباقي ضائع شونودمصرف شوي په اندازه ضامن ګرځي دضائع شده مال ضامن نه ګرځي څکه په ضائع شده کې دمودَع تعدّی نشته،یاکه چیرته مودَع دودیعت څه مقدارمصرف کړبیایې له خپل مال څخه دمصرف کړي په اندازه په باقي مانده ودیعت کې ګډکړبیاداپېښه شوه چې پوره ودیعت (باقي مانده اودمودَع ګډشوی مال)هلاک شونو مودَع دکل ضامن ګرځي څکه مودَع دودیعت څه حصه دخپل مقصدلپاره مصرف کړه هلاکه یې کړه بیایې چې کله دهلاک شده په عوض کې خپل مال دباقي مانده ودیعت سره ګډکړنودهغه داګډکړی مال خپله دمودَع ملک دی نودا ودیعت له خپل مال سره ګډیدل شولهذادادمودَع له جانبه استهلاک شمارل کیږي څکه په داسی حال کې دمودِع خپل عین حق ته رسیدګي ناممکنه ده ،کمامر .

(۱۰)که مودَع پرمال ودیعت باندي یوقسم تعدّی وکړه مثلاودیعت یوحیوان وومودَع پرهغه باندي سپورشویاکپړه وه مودَع هغه واغوستله یامریی وومودَع له هغه نه خدمت واخیست یامودَع خپله دغه تعدّی ختمه کړه دودیعت حفاظت یې خپله شروع کړنویاکه مال ودیعت هلاک شومودَع نه پرې ضامن کیږي څکه سبب دضمان یعني تعدّی نه ده پاتی نوضمان هم نه پاتیږي .

**فائده** :امام شافعي رحمه الله فرمايي چې په مذكورصورت كې مودَع نه بري كيږي ځكه مودَع چې كله يوځل دتعدي په وجه ضامن شونوعقدوديعت رفع شوولي وديعت امانت دى دامانت اوضمانت ترمنځ منافات دى.احناف رحمهم الله جواب وركوي چې دمودِع له جانبه امربحفظ الوديعة تراوسه پوري باقي دى ځكه هغه دټول وخت دحفاظت لپاره وديعت وركړى ووپاتى شوپه زمانه دتعدّى كې چې عقدوديعت رفع شوى وو هغه په دي خاطرچې دهغه نقيض يعني ضمان ثابت وواوس چې كله نقيض رفع شونوعقدوديعت بيرته راوګرځيد.

(۱۱)يعني كه مستعيراومستاجرله تعدّى كولووروسته تعدّى ختمه كړي مثلاًمستاجريو حيوان په دي كرايه كړى ووچې پرهغه به دوه منه غنم باروي بيايې پرهغه څلورمنه غنم باركړل،اوبيايي بيرته مالك ته وركړنوله ضمان څخه نه بري كيږى ځكه دبرى كيدومداربردي دى چې هغه شى مالك ته حقيقتًاوګرځوي په دي ډول چې شى مالك ته په قبض وركړي يايې تقديراوګرځوي لكه دمودَع قبض چې حكمًادمودِع قبض شمارل كيږي اودمستعيراومستاجر عمل څرنګه چې دځيل ذاتى منفعت لپاره وي نوددوئ دواړوقبضه پر مال باندي دخپل ځان لپاره وي ځكه نودهغوئ له جانبه نه حقيقةً راګرځيدل راغلل اونه حكمًانوله ضمان څخه نه بري كيږي خلاف له مودَع نه چې دهغه قبض دمالك دقبض په شان دى نوچې كله هغه تعدّى ختمه كړه نودمالك طرف ته حكمًاراګرځيدل راغلل ځكه پرهغه ضمان نه راځي.

(۱۲)قوله واقراره بعدجحوده.يعني كه مالك له مودَع څخه خپل وديعت طلب كړمګرمودَع انكاروكړويې ويل زماسره ستاهيڅ وديعت نشته نوبياكه وديعت هلاك شونومودَع نه ضامن كيږي ځكه چې كله مالك وديعت طلب كړنوهغه ګواكي مودَع دوديعت له حفاظت څخه معزول كړنواوس كه مودَع وديعت ګرځوي نوغاصب ګڼل كيږي دوديعت دهلاكت په صورت كې مودَع ضامن نه ګرځي.

(۱۳)وله ان يسافر بها عند عدم النهي والخوف (۱۴)ولو اودعا شيئاً لم يدفع المودع الى احدهما حظه حتى يحضر الآخر (۱۵)وان اودع رجل عند رجلين ما يقسم اقتسماه وحفظ كل نصفه ولو دفع الى الآخر ضمن (۱۶)بخلاف مالايقسم (۱۷)ولو قال له لاتدفع الى عيالك او احفظ في هذا البيت فدفعها الى من لابد له منه (۱۸)او حفظها في بيت آخر من الدار لم يضمن (۱۹)وان كان له منه بد او حفظها في دار اخرى ضمن.

**ترجمه** :اومودع ته جائزدى چې امانت په سفركې ورسره يوسي په وخت كې دعدم ممانعت اوعدم خوف.اوكه دووكسانوامانت كښيښوديوشى نومودع دي نه وركوي ديوه حصه ترهغه چې حاضرشي بل اوكه وديعت كښيښوديوه سړي دووكسانوته داسي شى چې تقسيميدى نودواړه دي هغه تقسيم كړي اومحفوظ دي كړي هريوخپله حصه اوكه يې وركړهغه بل ته نوضامن ګرځي خلاف دهغه شي چې نه تقسيميږى .اوكه يې مودع ته وويل چې خپل كوروالاوته به يې نه وركوې يايې ورته وويل چې په دي كوټه كې به يې ساتي نودهغه چاته وركړچې له هغه څخه يې چاره نه وه يامحفوظ كړدكورېه يوه بله كوټه كې نونه ضامن كيږي.اوكه دده له هغه څخه چاره وه يايې په بل مكان كې وساته نوضامن ګرځي.

**تشريح** :(۱۳)دمودع لپاره داجائزدى چې مال وديعت په سفريوسي په دي شرط چې مالك منع نه وي كړي يادمال وديعت دضائع كيدوخطره نه وي كه څه هم هغه وزنى شى وي په ورلوكې سوارلي ته ضرورت لري

اوپه وړلوکې پرهغه باندي خرچه راځي ځکه د مالک له طرفه د حفظ وديعت امر مطلق دی نو لکه څرنګه چې په يو زمانه پوري مقيدنه دی همدارنګه په مکان پوري هم مقيدنه دی همدادامام ابوحنيفة رحمه الله قول دی .دصاحبينو رحمهما الله په نزدکه مال وديعت وزنی ووپه وړلوکې دسواري محتاج وواوپروړلوباندي يې خرچه راتله نوبيانه ده جائز ځکه په دي صورت کې پر وديعت باندي خرچه راځي اوظاهره خبره ده چې مالک په هغه باندي نه راضي کيږي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار :ولو اودعاشيئامثليا اوقيميالم يجز ان يدفع المودع الی احدهما حظه فی غيبة صاحبه (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۴/ ۵۵۶)اوکه مودَع ورکړنوبيامودَع ضامن ګرځي که نه ؟په دي کې دائمه ؤاختلاف دی.دامام صاحب رحمه الله په نزدضامن ګرځي اودصاحبينو رحمهما الله په نزدنه ضامن کيږي.دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار :ولودفع هل يضمن فی الدرر نعم وفی البحر الاستحسان لالكان هو المختار .قال العلامة ابن عابدين رحمه الله :(قوله هو المختار)قال المقدسي خلاف لماعليه الائمة الاعيان بل عامة المتون عليه متفقون وقال الشيخ قاسم اختار النسفي قول الامام المحبوبي وصدر الشريعة ابو السعود عن الحموي .(الدر المختار مع الشامية: ۴/ ۵۵۶)

(۱۴)که دووکسانوله مودَع سره يوشی وديعت کښيښودبياله هغودووکسانوڅخه يوراغی دخپلې حصې دواپس کولومطالبه يې وکړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدمودَع لره دهغه حصه ورکول جائزنه دی ترڅوچې هغه بل نه وي حاضرشوی ځکه دی تقسيم شده حصه طلبوي حال داچې دهغه حق مشاع دی،اودصاحبينو رحمهما الله په نزدمودَع لره دهغه حصه ورکول جائزدی ځکه دی دخپل نصف حصه طلبګاردی چې ده ومودَع ته سپارلې وه .دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی .

(۱۵)که يوه سړي دووکسانوته يوقابل تقسيم شی وديعت کښيښودنوله دوئ څخه يوته داجائزنه ده چې هغه ټول شی دبل په حفاظت کې ورکړي بلکې دوئ دواړه دي هغه تقسيم کړي هريودي دخپل نصف حفاظت وکړي ځکه مالک په دي نه دی راضي چې له دواړوڅخه يودپوره وديعت حفاظت وکړي.اوکه يوه خپله حصه بل ته ورکړه اوهغه هلاک شوه نوضامن کيږي ځکه هغه چې بل ته ورکړه خپله يې دهغه حفاظت پريښود.

(۱۶)البته که داشی قابل تقسيم نه وونوبياله دوئ دواړوڅخه يودبل په اجازه دهغه حفاظت کولای شي.ځکه مالک پوهيږي چې همه وخت دوديعت دحفاظت لپاره ددوئ دواړوجمع کيدل ناممکن دی نودی په دي راضي دی چې له دواړوڅخه يودکل وديعت حفاظت وکړي .

(۱۷)که مالک مودَع ته وويل چې مال وديعت خپل کوروالاوته مه سپاره.مګرمودَع وديعت دخپل کوروالاوڅخه داسي چاته ورکړچې دهغه دحواله کولوڅخه يې هيڅ چاره نه وه مثلاً خپلې بي بي ته يې ورحواله کړنواوس که وديعت هلاک شونومودَع نه ضامن کيږي ځکه مودَع لره ددي شرط په رعايت کولوسره دوديعت حفاظت ممکن نه دی ولې چې کله هم دی بکوره ووځي نوپه کورکې چې څه وي هغه ټول بي بي ته حواله دي نوداشرط دنه مفيدکيدوپه وجه لغوه دی ځکه دمالک ددي شرط رعايت نه کول کيږي .

(۱۸)که مالک مودَع ته وويل چې وديعت به ستاسي دکورپه فلانی کوټه کې ساتې ، مگرمودَع ددي کورپه بله خونه کې وساته،اووديعت هلاک شونومودَع نه ضامن کيږي ځکه دمالک داشرط غيرمفيددی ولی ديوه کوردوې خوني په حفاظت څه فرق نه لري .

(۱۹)که مالک وديعت له داسي چاسره کښيښودچې چاته له ورکولوبغيرېې چاره کېدله مثلاوديعت يوه گوتمی وه چې مودَع يې خپله حفاظت کولای شوای مگرده خپلې بي بي ته دحفاظت لپاره ورکړه نود هلاکت په صورت کې مودَع ضامن کيږي ځکه خلک دامانت په باره کې مختلف وي اودحفاظت کولولپاره دخلکوفکرونه مختلف وي نوداسي چاته مودَع ضامن کيږي چې مالک اجازه نه وي ورکړې يامالک ديوه سرای خونه ورته ښودلې وه اومودَع دبل کورپه خونه کې وساته نودهلاکت په صورت کې مودَع ضامن کيږي ځکه دوه کورونه په حفاظت کې متفاوت کيدای شي نودمالک داشرط مفيدنه دی .

(۲۰)وَمودَعُ الْغَاصِبِ ضَامِنٌ (۲۱)لامودَعُ الْمودَعِ (۲۲)مَعَهُ أَلْفٌ ادَّعَى رَجُلانِ كُلٌّ أَنَّهُ لَهُ أَوْدَعَهُ إِيَّاهُ فَنَكَلَ لَهُمَا فَالأَلْفُ لَهُمَا وَعَلَيْهِ أَلْفٌ آخَرُ بَيْنَهُمَا.

**ترجمه** :اودغاصب امين ضامن دی،نه دامين امين،له مودَع سره زرروپۍ دي دووکسانودعوی وکړه هريوه وويل چې دازمادي ماانت ايښي دي له ده سره اومودَع ددواړولپاره انکاروکړنودازردهغوئ دواړولپاره کيږي اوپرمودَع باندي زرنوري لازميږي هغه ددوئ دواړوترمنځ تقسيميږي .

**تشريح** :(۲۰)يوچاشی غصب کړبل چاته يې په طريقه دوديعت کښيښوديا هغه شی له مودَع څخه هلاک شونومودَع ضامن گرځي ځکه هغه دمالک (مغصوب منه) داجازت بغيروديعت قبض کړی ووياچې کله مالک له مودَع څخه ضمان واخلي نومودَع به له غاصب څخه تاوان واخلي .

(۲۱)قوله لامودع المودع اي لايضمن مودع المودع،يعني که يوچاشی له بل چاسره وديعت کښيښودا وهغه داشی له بل چاسره وديعت کښيښودحال داچې مالک دهغه اجازه نه ده ورکړې بيا وديعت له هغه بل دوهم امين سره هلاک شونودامام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزدمالک له مودع المودع يعني دوهم امين څخه تاوان نه شی اخيستلای بلکې له اول څخه به يې اخلي اودصاحبينو رحمهما الله په نزدمالک لره اختياردی که له اول څخه تاوان اخلي اوکه له دوهم څخه،ځکه دوهم ديوه امين شخص له لاسه وديعت قبض کړی دی نولکه څرنگه چې مودَع الغاصب ضامن گرځي همدارنگه مودَع المودَع هم ضامن گرځي ،دامام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل دادی چې مودَع المودَع دضامن له لاسه نه دی قبض کړی بلکې دامين له لاسه يې قبض کړی دی ولی مودَع اول خالص دوديعت په حواله کولوسره ودوهم ته ضامن نه گرځي ترڅوچې هغه ورڅخه جدانه شي نوچې کله دمودَع المودَع له جانبه کوم موجب ضمان فعل نه دی صادرشوی ځکه هغه ضامن نه گرځي .

(۲۲)که له چاسره يوزردرهمه ووبيا په هغه باندي دووکسانودعوی وکړه هريوه وويل چې دازردرهمه زمادي ماله ده سره امانت ايښي وونوله مدعی عليه څخه ددي دواړومدعيانولپاره قسم اخيستل کيږی ځکه ددواړودعوی صادقه کيدای شي بيا که هغه قسم واخيست نودمدعيانولپاره هيڅ شی نه کيږی

څکه دمدعی علیه قسم اخیستل ددي دلیل دی چې په دی زرودرهموکې ددوئ هیڅ حصه نشته ،اوکه هغه له قسم اخیستلو څخه انکاروکړنوزردرهمونه ددواړومدعیانولپاره کیږي اوپرمدعی علیه باندي یوزرنوردرهم لازمیږي چې دمدعیانوترمنځ په نصف نصف تقسیم شي څکه دمدعی علیه له قسم اخیستلوڅخه انکارکول ددواړومدعیانوپه دعوی اقراردی نودهریوه لپاره یویوزردرهم کیږي اوکه هغه په دوئ کې له یوه څخه قسم واخیست اودبل پردعوی یې له قسم اخیستلوڅخه انکاروکړنوزر درهمونه ددوهم لپاره کیږي څکه له قسم څخه انکارکول دهغه ددعوی اقراردی .

## كتاب العارية

### داکتاب دعاریة په بیان کې دی

عاریت له عاریةٌ په معنی دعطیه څخه مشتق دی اویادعارطرف ته منسوب دی څکه عاریةٌ شی غوښتل دعیب وعارباعث دی اوپه شریعت کې عبارت دی له تملیک دمنافع بلاعوض.

شی په عاریةً اخیستونکي ته مُستَعِیراوشی ورکوونکي ته مُعِیراوهغه شي ته مُعَاراو مُستَعاراوعاریت ویل کیږي،عاریةٌ یوشی اخیستل اوورکول جائزدی (یعنې دملک منفعت لپاره مفیددی)څکه عاریت یوډول احسان اودخیرکار ی چې شریعت تل دهمداسي کارونوترغیب ورکوي .

دکتاب العاریة له کتاب الودیعة سره مناسبت دادی چې دواړه امانت دي بیاودیعت خالص امانت دی دیوشي تملیک نه دی اوپه عاریت کې دامانت ترڅنګ تملیک المنفعة بلاعوض هم شته نوادنی څخه داعلی په طرف دترقي په قصد مصنف رَحِمَهُ اللّٰه مخکي ودیعت ذکرکړی دی اوس عاریت ذکرکوي . ٦

دعاریة لپاره رکن دمُعیرله طرفه ایجاب دی دمستعیرقبلیدل دائمه ثلاثه ؤیه نزدشرط نه دی، اودعاریة حکم دمستعارامانت کیدل دی که دمستعیرله طرفه دتعدّی کولوپه وجه مستعارهلاک شي نومستعیربالاجماع ضامن ګرځی اوکه بی لاتعدّی هلاک شوبیانه ضامن کیږي .

(۱)وَهِيَ تَمْلِيكُ الْمَنْفَعَةِ بِلَاعِوَضٍ (۲)وَتَصِحُّ بِأَعَرْتُكَ وَأَطْعَمْتُكَ أَرْضِي وَمَنَحْتُكَ ثَوْبِي وَحَمَلْتُكَ عَلَى دَابَّتِي وَأَخْدَمْتُكَ عَبْدِي وَدَارِي لَكَ سُكْنَى وَدَارِي لَكَ عُمْرَى سُكْنَى (۳)وَيَرْجِعُ الْمُعِيرُ مَتَى شَاءَ (۴)وَلَوْ هَلَكَتْ بِلَاتَعَدٍّ لَمْ يَضْمَنْ (۵)وَلَاتُؤَجَّرُ وَلَاتُرْهَنُ كَالْوَدِيعَةِ فَإِنْ آجَرَ فَعَطِبَتْ ضَمِنَ (٦)وَيُعِيرُ مَالَايَخْتَلِفُ بِالْمُسْتَعْمِلِ.

**ترجمه**:عاریة مالک ګرځیدل دی دمنافعوبلاعوض،اوصحیح دی په دي الفاظوسره ماتاته په عاریت درکړی دي ماتاته دخوراک لپاره ځمکه درکړې ده ماخپله کپړه تاته درکړي ده ماته پرخپل سواري سپورکړی یې ماستاخدمت لپاره خپل مریی درکړی دی زماسرای ستاداوسیدلولپاره دی زماسرای ستالپاره دتمام عمرلپاره دی اومعیررجوع کولای شي چې کله وغواړي اوکه هلاک شوله تجاوزبغیرنومستعیرضامن نه ګرځي اوپه کرایه یې نه شي ورکولای اورهن یې نه شي کښیښودلای دودیعت په شان بیاکه یې په کرایه ورکړاوهغه هلاک شونوضامن کیږي اوعاریةٌ ورکولای شي هغه شی چې نه مختلف کیږي دمستعمِل په بدلیدوسره .

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله دعارية شرعي تعريف داسي کړی دی چې دخپل شي دمنافعوبل څوک مالک وګرځوي دي ته عارية وايي دمنفعت په قيدسره احترازراغی له هبه څخه ځکه په هبه کې دعين تمليک وي نه دمنفعت اوپه بلاعوض قيدسره احترازراغی له اجاره څخه ځکه په اجاره کې هم تمليک منفعت دی مګربلاعوض نه بلکې په عوض سره .

(۲)عاريت په لاندې الفاظوسره صحيح کيږي :**نمبر ۱**- أعرتک (ماتاته په عارية درکړی دی) ځکه دغه لفظ په عارية کې صريح دی . **نمبر ۲**- اطعمتک ارضي (ماتاته دخوراک لپاره ځمکه درکړې ده)په دې لفظ سره عارية ځکه صحيح ده چې ځمکه خودخوراک لپاره نه ورکوله کيږي نومجازاً له دې څخه دځمکې حاصلات مراددي .

**نمبر ۳**-منحتک ثوبي (ماتاته عطية زماکپړه درکړې ده)وحملتک علی دابتي (ماته پرخپل سوارلي باندې سپورکړی يې) په دې دووالفاظوسره عارية هغه وخت صحيح کيږي چې کله له هغوڅخه هبه اراده نه کړای شي ولی دادوه الفاظ دتمليک عين اومنفعت دواړواحتمال لري چې منفعت يې ادنی دی نوپه وخت دعدم نيت کې هغه پرمنفعت (عاريت)باندې حمل کيږي .

**نمبر ۴**-اخدمتک عبدی (ماتاته خپل مريی ستادخدمت لپاره درکړ)ځکه داله مريي څخه دخدمت اخيستلواجازه ده .

**نمبر ۵**-داري لک سکنی (زماسرای ستاداوسيدولپاره دی)ولی ددې معنی داده چې ددې سرای سکونت ستالپاره دی .

**نمبر ۶**- داري لک عمری سکنی (زماسرای تمام عمرستاداوسيدولپاره دی)په دې قول کې لکَ که څه هم دتمليک عين لپاره دی خوچې کله دهغه تميزلفظ دسُکنی راوړل شوچې په عارية کې محکم دی نودهغه په وجه لفظ دلکَ هم پرتمليک منفعت باندې حمل کوي،لفظ دعُمری مفعول مطلق دی تقديردعبارت داسې دی :أعمرتُهالک عُمری سُکنی ،اوسُکنی له نسبته ومخاطب ته تميزدی .

(۳)معيرچې کله وغواړي له عاريت څخه رجوع کولای شي خپل شی له مستعيرڅخه واپس اخيستلای شي ځکه عاريت تمليک دمنافع دی اومنافع حالاًبعدحال پيداکيږی نوکومې منافع چې تراوسه نه دي په وجودکې نه دي راغلې هغه دمستعيرپه قبضه کې نه دي واقع شوې نودمتبرع (يعني معير)رجوع کول امتناع عن التمليک ده چې دی يې حق لري .

(۴)څرنګه چې مستعارشوی شی دمستعيرپه لاس کې امانت دی نوکه دمستعيردتعدّی بغيرهلاک شي مستعيرنه ضامن کيږي البته که دمستعيردتعدّی په نتيجه کې هلاک شي نوبيامستعيرضامن کيږي لکه امين چې په تعدّی کولوسره ضامن ګرځي .

(۵)مستعيرلره دانه ده جائزه چې مستعارشوی شی کوم بل چاته په کرايه ورکړي ځکه اعاره تراجاره کمتره ده ولی اجاره عقدمعاوضه ده اواعاره عقدمعاوضه نه ده اوشی خپل مافوق لره نه متضمن کيږی نوپه اعاره کې مستعيرته داجاره اختيارنه وي اومستعارشوی شی دوديعت په شان درهن په ډول هم چاته

اينبودلى نه شي ځكه له مرهون ځخه دضرورت په وخت قرضه اداكيداى شي او مستعيرلره نه ده جائزه چې له بل ځخه په مستعارشوى شي دهغه داجازت بغيرخپل قرض اداكړي، مستعيرلره نه ده جائزه چې مستعارشوى شي په كرايه وركړي خو كه بياهم مستعارشى چاته په كرايه وركړي او هغه هلاک شي نو مستعيرضامن گرځي ځكه دمعيرداجازت بغيرمستعارشى غيرته په اجاره وركولو كې مستعيرتعدى كوونكى گڼل كيږي .

(۶)البته مستعيرلره داجائزه ده چې مستعارشى بل چاته په عارية وركړي په دې شرط چې مستعارداسي شى وى چې دمستعمل په اختلاف سره نه متغيركيږى ولى عقدعاريت تمليک دمنافع دى نومستعيراول چې دكوم شي مالک شوى دى هغه په قدردملک بل هم مالک گرځولاى شي البته كه معيرمستعيرلره صراحةً منع كړى وو چې مستعارشى به بل چاته عاريةً نه وركوي او مستعيردحكم په مخالفت سره مستعارشى غيرته په عارية وركړاوهغه شى هلاک شونواول مستعيردمعير دحكم دمخالفت په وجه ضامن گرځي .

**الالغاز**: اى مستعير ملک المنع بعدالطلب؟

**فقل**: اذاطلب السفينة فى لجة البحر او السيف ليقتل به ظلما او الظئر بعدماصار الصبى لاياخذالاثديها. (الاشباه والنظائر)

(۷)فَلَو قُيِّدَهابِوَقتٍ اَو مَنفَعَةٍ اَو بِهِمالايَجاوزُ عَمّاسَمّاهُ وَ اِن اَطلَقَ لَهُ اَن يَنتَفِعَ اَىَّ نَوعٍ فِى اَىِّ وَقتٍ شاءَ (۸)وَعارِيةُ الثَّمَنَينِ وَالمَكيلِى وَالمَوزُونِ وَالمَعدُودِ قَرضٌ (۹)وَاِن اَعارَ اَرضاً لِلبِناءِ اَو لِلغَرسِ صَحَّ (۱۰)وَلَهُ اَن يَرجِعَ وَيُكَلِّفَ قَلعَهُما (۱۱)وَلايَضمَنُ مانَقَصَ اِن لَم يُوَقِّت وَاِن وَقَّتَ وَرَجَعَ قَبلَهُ ضَمِنَ مانَقَصَ بِالقَلعِ (۱۲)وَاِن اَعارَهالِيَزرَعَهالاتُؤخَذُحَتّى يَحصُدَ وَقَّتَ اَو لا .

**ترجمه** : او كه مالک مقيد كړى وو په خاص وخت ياخاص نفع سره يا په دواړو سره نو تجاوز دې نه كوي ترهغه چې متعين كړى يې دى او كه يې مطلق پرې اينبى وونو دهغه لپاره جائزدى چې نفع واخلي هرقسم كوم وخت چې غواړي او عاريت وركول دثمنينو او مكيلي او موزوني شيانو او عددي شيانو قرض دى او كه يې ځمكه په عاريت وركړه دتعمير لپاره ياددرختو لگولو لپاره نوصحيح ده او معيرلره جائزه ده چې واپس يې واخلي او دى مكلّف كړي ددې دواړو په له منځه وړلو باندې او نه ضامن كيږي دهغه چې نقصان راغلى دى كه يې وخت معين كړى نه وو او كه يې وخت معين كړى وو ترهغه مخكې يې واپس واخيست نوضامن گرځي دهغه نقصان چې دآبادى دړنگيدو يا په كښلو ددرختوسره راغلى وي او كه يې ځمكه عاريةً وركړې وه ددې لپاره چې ويې كري نو واپس به يې نه اخلي ترڅو هغه كښت ونه ريبل شي كه يې وخت معين كړى وو او كه يې نه وو معين كړى.

**تشريح** :(۷)كه معيرپه دې وخت كې چې مستعيرته مستعاروركوي داقيد ولگاوه چې دابه يواځې دجمعې په ورځ مثلااستعمالوې يابه فلان قسم كټه ورځخه اخلې مثلامستعارحيوان وومعيرداقيد ولگاوه چې له دې ځخه به خالص دسوارلي فائده اخلې باربه نه پرې وړي يايې ددواړو(متعين وخت او متعين فائده)قيدلگولى وونو مستعيربه دمعيرله دې تعين ځخه تجاوزنه كوي ځكه داله ملک غيرځخه انتفاع ده نوچې دځرنگه انتفاع هغه اجازه وركوي يواځې هغه جائزه ده ترهغه تجاوزجائزنه دى .او كه معيرهيڅ قسم

قیدنه وو لګولی نو مستعیرچې څرنګه غواړي اوترڅه وخته چې غواړي فائده حاصلولای شي ځکه دمعیرله طرفه دمطلق فائده حاصلولو اجازه ده نوپه اطلاق سره دعمل کولو چې څرنګه غواړي ترڅه وخته غواړي فائده حاصلولای شي.

(۸)ثمنین (یعني دراهم اودنانیر)کیلی شیان (لکه غنم،اوربشي)وزني شیان (لکه شات وغیره)عددي متقارب شیان (لکه جوز،هګی وغیره ) په عاریت ورکول قرض ګڼل کیږي ولی عاریت په تملیک دمنافعو دی اوله دغو شیانو څخه انتفاع ممکن نه ده مګر داکه دغه اعیان تلف کړي نو دابالضرورة دتملیک عین مقتضي دی اوتملیک عین یا په هبه یاقرض سره ممکن دی بیاپه دي دواړو(هبه اوقرض)کې ادنی قرض دی نو قرض ثابتیږي.

(۹)که یوچاځمکه په عاریت واخیسته ددي لپاره چې په هغی کې آبادي وکړي یادرختې پکې ولګوي نوداجائزه ده ځکه دسکنی په شان یومنفعت دی اودامنفعت داجارې په ذریعه حاصلیدای شي نوداعارې په ذریعه حاصلول یې هم صحیح کیږي.

(۱۰)په مذکورصورت کې معیرلره داجائزه ده چې له عاریت څخه رجوع وکړي خپله ځمکه واپس واخلي ځکه داخبره مخکي تیره شوې ده چې داعقدغیرلازم دی نو ددي عقدماتول جائزدی. اومعیرچې کله خپله ځمکه اخلي نومستعیرپه دي مجبورکړای کیږي چې آبادي رنګه کړي اودرختې وکاږي ځکه ددي شیانو دمعیرځمکه مشغوله کړې ده نوپرفارغه کیدو یې مستعیرمجبورکړای کیږي.

(۱۱)بیادرختوپه کښلوسره دمستعیرنقصان ضرورراځي نوکه دمستعاروړکولوپه وخت کې یوه موده نه وه مقرره شوې نوبیامعیرنه ضامن کیږي ځکه مستعیرخپله دوکه شوی دی معیرهیڅ دوکه نه ده ورکړې ولی مستعیرپوهیږي چې معیردواپس کولوحق لري بیاهم درختې پکې لګوي نودی خپل ځان ته دوکه ورکوي اوکه دمستعاروړکولوپه وخت یوه معینه موده مقرره شوې وه اومعیردهغې مودې ترپوره کیدومخکي ځمکه واخلي نوچې په کښلوسره دمستعیرکوم نقصان راځی معیردهغه ضامن دی ځکه معیرمستعیرته دوکه ورکړې ده ولی دوخت په مقررکیدوسره مستعیرپوهیږي چې تروخت مخکې رجوع نه کوي داچې ده تروخت مخکي رجوع وکړه نودوکه ورکوونکی معیرشوپه دي وجه معیرضامن ګرځي.

(۱۲)که مستعیرپه دي غرض ځمکه اخیستې وه چې دابه وکري نومالک دخپلې ځمکې اخیستلواختیار نه لري ترڅوچې کښت ریبل شوی نه وي که یې وخت مقررکړی وي اوکه یې نه وي مقررکړی ولی کښت ددرختوپه شان نه دی ځکه دکښت لپاره وخت معلوم راځي اودرختولره هیڅ وخت معلوم نشته اودکښت رسیدوتروخته دي مستعیرته ځمکه داجرت مثل په عوض پریږدي چې په دي کې دجانبینو رعایت دی.

(۱۳)ومؤنة الرد على المستعير والمودع والموجر والغاصب والمرتهن (۱۴)وان رد المستعير الدابة الى اصطبل مالكها(۱۵)او العبد الى دار المالك برئ(۱۶)بخلاف المغصوب والوديعة(۱۷)وان رد المستعير الدابة مع عبده او اجيره مشاهرة او مع عبد رب الدابة او اجيره برئ(۱۸)بخلاف الاجنبي(۱۹)ويكتب المعار انك اطعمتني ارضك.

**ترجمه**: او د واپس كيدو مصرف پر مستعير او مودع او موجر او غاصب او مرتهن باندې دى او كه واپس كړ مستعير حيوان د مالک د حيوانانو ځاى دريدو ته يايې مريى د مالک سراى ته ورووست نو دى برى كيږي خلاف له مغصوب او وديعت نه او كه واپس كړ مستعير حيوان له خپل مريي ياخپل ماهانه مزدور يا د حيوان د مالک له مريي يا د هغه له مزدور سره نو برى كيږي خلاف له اجنبي (بيگانه) څخه او ودې ليكي معارچې تا ماته عاريةً خپله ځمكه راكړې ده.

**تشريح**: (۱۳)د مستعار پر واپس كيدو چې څومره مصرف راځي هغه به د مستعير پرذمه وي ولې د مستعار واپس كيدل د مستعير پر ذمه واجب دى نو پر واپس كيدو چې كومه خرچه راځي هغه به هم د مستعير پرذمه وي، او د وديعت پر واپس كيدو چې كوم مصرف راځي هغه د مودع (وديعت ساتونكي) پر ذمه واجبه ده ځكه د وديعت د حفاظت فائده مودع ته رسيږي او د وديعت د واپس كيدو فائده هم مودع ته رسيږي نو د واپس كيدو خرچه يې هم د مودع پر ذمه راځي او په اجاره دوړي شي پر واپس كيدو چې كوم مصرف راځي هغه په ذمه د مؤجر (يوشى په اجاره وركوونكي) واجب دى ځكه د مستاجر پر ذمه د هغه شي د واپس كيدو چې په اجاره يې وړى دى مصرف واجب نه دى بلكې خالص تخليه او موجر ته قدرت وركول واجب دى نو مصرف د واپس كيدو يې د مستاجر پر ذمه نه راځي بلكې د موجر پر ذمه كيږي او د مغصوبه شي پر واپس كيدو چې كوم مصرف راځي هغه د غاصب پر ذمه واجب دى ځكه د مغصوب شي واپس كيدل پر غاصب واجب دى نو د واپس كيدو مصرف هم له مالک څخه د ضرر دفع كيدو لپاره پر غاصب باندې واجبيږي، او د رهن شوي شي د واپس كيدو مصرف د مرتهن پر ذمه واجب دى ولې د مرتهن قبض وصولي قبض دى نو دى قابض لنفسه دى نو د واپس كيدو مصرف د هغه پر ذمه راځي د راهن پر ذمه نه كيږي.

(۱۴)كه مستعير يو حيوان په عاريت اخيستى و وبيايې هغه د مالک د څاروي و دريدو ځاى ته ورساوه وروسته هغه هلاک شو نو د قياس تقاضا خو داده چې مستعير ضامن شي ځكه هغه مستعار مالک ته نه دى رسولى، ليكن استحساناً نه ضامن كيږي وجه د استحسان داده چې د اعام عادت دى چې د عاريت حيوانان د مالک د څارويو تر ځايه رسوي نو په مذكور صورت كې مستعير مستعار په متعارفه طريقه مالک ته رسولى دى ځكه هغه نه ضامن كيږي.

(۱۵)قوله او العبد الى دار المالک برئ اى ان رد المستعير العبد الى دار المالک برئ المستعير من الضمان، يعني كه مستعير يو مريى عاريةً راوستلى و وبيايې د مالک تر كوره پورې ورساوه خاص مالک ته يې ورنكړنو بيا كه مريى له دغه وروسته هلاک شو نو د لته هم د قياس تقاضا داده چې مستعير ضامن وي خو استحسان دا دى چې

مستعيرضامن نه شي ځکه مستعيرمستعارپه متعارفه طريقه سره ترمالکه پوري ورساوه ځکه نه ضامن کيږي.

(۱۶)خلاف له غصب شوي شي نه چې دهغه ومالک ته سپارل ضروري دي غيرله سپارلو غاصب نه بري کيږي ولي غاصب مغصوب قبض کړی دی زياتي يې کړي ده دازيادتي يې هلته زائليږي چې حقيقةً مغصوب شی مالک ته تسليم کړي همدارنګه که مودَع وديعت دمالک ترکوره ورساوه خپله مالک ته يې ورنکړيياکه وديعت هلاک شونومودَع نه بري کيږي بلکې ضامن ګرځي ځکه مالک په دي نه دی راضي چې وديعت دده ترکوره پوري ورسيږي يادده په کورنی کې بل چاته وسپارل شي که نه يايې ولي وديعت مودَع ته ورکاوه.

(۱۷)که يوچادبل چايوحيوان مستعارراووست بيايې هغه خپل مريې ياخپل مزدورته ورکړياکه هلاک شونومستعيربري کيږي ضامن نه ګرځي ولي حيوان له مستعيرسره امانت دی نوده لره اختيارشته چې په داسې چادهغه حفاظت وکړي چې دده له عيال ځخه وي لکه په وديعت کې نوچې کله مستعيردخپل مريې يامزدورپه ذريعه دمستعارحفاظت کولای شي نوددوئ په ذريعه يې واپس کولای هم شي همدارنګه که يې مستعيردمالک دمريې يامزدورپه لاس واپس کړي هم دی بري کيږي ځکه مالک په دي راضی دی ولي که يې خپله مستعيرواپس کړي نوهم يې مالک خپل مريې ته په لاس ورکوي اوله مزدورڅخه هغه مزدورمرادادی چې له ده سره په کلنی يامياشتنی مزدوري سره مزدوروي.

(۱۸)قوله بخلاف الاجنبی ای ان رذالمستعيرالدّابّة مع اجنبی فهلکت لايبراعن الضمان،يعني که چيرته مستعير مستعارکړی حيوان داجنبي په ذريعه واپس کړي نودهلاکت په صورت کې مستعيرنه بري کيږي بلکې ضامن ګرځي ولي داجنبي په لاس ورکولو سره مستعيرمتعدّي شمارل کيږي نوځکه ضامن ګرځي.

(۱۹)که چاخالي ځمکه بل چاته دکښت کرلولپاره عاريةً ورکړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدبه مستعيرپه عاريت نامه کې داسي وليکي :انک اطعمتنی (تاماته داځمکه دکرلولپاره راکړي ده)او صاحبين رحمهماالله فرمايي داسي به وليکي :اِنّکَ اَعَرتَنِي (تاماته عاريةً راکړي ده)ځکه اعرتنی دعاريت لپاره صريح وضع شوی لفظ دی اوپه لفظ موضوع سره خط ليکل بهتردی لکه دمکان په عارية کې چې په اتفاق داسي ليکي انّک اعرتنی ،داسي نه ليکل کيږي چې اِنّک اَسکَنتَنِي ،دامام صاحب رحمه الله دليل دادی چې لفظ داطعام پرمقصودباندي زيات دلالت کوي ولي دالفظ په کښت پوري مختص دی اولفظ دعاريت له کښت نه علاوه آبادي وغيره ته هم شامل دی نوکوم لفظ چې په زراعت پوري مختص دی هغه ليکل بهتردی.

## كتاب الهبة

### داکتاب دهبَه په بيان کې دی

دکتاب الهبة له کتاب العارية سره مناسبت دادی چې په هبَه اوعاريت دواړوکې تمليک بلاعوض راځي بيايې عاريت پرهبَه باندي ځکه مقدم کړی دی چې ترقي له ادنی ځخه واعلی ته راشي،دامکنه ده چې دعاريت دتقديم وجه داوي چې عاريت په منزله دمفرددی اوهبَه په منزله دمرکب دی ولي په هبَه کې تبرع

بالعین ده اوتبرع بالعین مرکب ده نسبت وتبرع بالمنفعة ته ولې دتبرع بالعین په صورت کې کله متبرع علیه بنفسه له عین څخه فائده حاصلوي اوکله دهغه له منافعو څخه اودتبرع بالمنفعة په صورت کې یواځې له منافعو څخه فائده حاصلیږي اومفرد ترمرکب مقدم وي.

هبه په لغت کې دي ته وایې چې بل چاته یوشی ورکړای شي چې دهغه لپاره نافع وي که مال وي که غیرمال لکه :وَهبتُ له مالا ووَهَب الله فلانًا ولَدا صالحًا، اوپه شریعت کې تملیک بلاعوض ته هبه وایې هبه کوونکي ته واهب اوکوم شی چې هبه شوی دی هغه ته موهوب اوچاته چې هبه کیږي هغه ته موهوب له وایې اواتهاب په معنی دقبول الهبه سره.

دهبه دصحت لپاره شرطونه په واهب کې دادي چې عاقل،بالغ اومالک وي اوپه موهوب کې دادي چې موهوب مقبوض غیرمشاع وي اوممیز غیرمشغول وي.دهبه رکن ایجاب اوقبول دی .حکم دهبه موهوب له لره دغیرلازم ملک ثبوت دی.

(۱)هي تمليک العين بلاعوض (۲)وتصح بايجاب (۳)کوهبت ونحلت وأطعمتک هذا الطعام وجعلته لک واعمرتک هذا الشيء وحملتک على هذه الدابة ناويا به الهبة وکسوتک هذا الثوب وداری لک هبة تسکنها (۴) لاهبة سکنی أو سکنی هبة (۵)وقبول (۶)وقبض في المجلس بلااذنه (۷)وبعده به (۸)في محوز مقسوم (۹)ومشاع لايقسم (۱۰)لافيمايقسم فان قسمه وسلمه صح.

**ترجمه** :هبه مالک گرځیدل دی دعین بلاعوض،اوصحیح ده په ایجاب سره لکه :ماتاته هبه کړی دی . عطیهٔ مي درکړی دی اودخوراک لپاره مي داطعام تاته درکړی دی ستالپاره مي وګرځاوه داشی اوتول عمرمي درکړی دی تاته داشی درکړی دی اوسپورمي کړي ته پردې حیوان باندې.په دې سره یې نیت دهبه کړی وي اووامي غوستله تاته داکپړه اوزماسرای تاته هبه دی ته پکې اوسه.نه په دې ویناسره چې داوسیدولپاره هبه دی یااوسیدل یې هبه دی اوپه قبلولو سره اوپه قبض سره په مجلس کې بلااجازته اوله مجلس وروسته په اجازت سره په مقبوض اومقسوم کې اومشترک چې تقسیمیدای نه شي نه په تقسیمیدونکي کې پیاکه یې تقسیم کړاوحواله یې کړنوصحیح ده.

**تشریح** :(۱)مصنف رحمه الله دهبه اصطلاحي تعریف داسي کړی دی چې یوڅوک دیوشي بلاعوض مالک وګرځوي دې ته هبه ویل کیږي دتملیک العین په قید سره اعاره له تعریفه خارجه شوه ځکه په هبه کې تملیک منافع دی تملیک عین نه دی اودبلاعوض په قید سره احترازراغی له تملیک بالعوض څخه ځکه تملیک بالعوض معنی بیع ده.له بلاعوض قید څخه معلومیږي چې دادهبه بلاعوض تعریف دی دمطلق هبه تعریف نه دی.

(۲)هبه په ایجاب اوقبول سره صحیح کیږي ځکه هبه هم دنورو عقودو(چې په ایجاب اوقبول سره منعقدیږي)په شان یوعقد دی نوپه هبه کې هم ایجاب اوقبول ضروري دی.اوهغه وخت تامیږي چې کله دموهوب له له طرفه په مجلس کې قبض راشي ولې په هبه کې دموهوب لپاره ملک ثابتیږي اودملک دثبوت لپاره قبض کول ضروري دی.

(۳)په کوموالفاظوسره چې هبه منعقده کيږي هغه دادي :وَهبتُ (ماهبه کړې ده)نحلتُ (ماعطيهٔ ورکړ)په دي کې په لومړي لفظ سره هبه ځکه منعقده کيږي چې هغه دهبه په معنی کې صريح دی اودوهم دهبه په معنی کې مجازًا مستعمل دی همدارنګه په اطعمتک هذاالطعام(ماتاته دا خوراک درکړ )سره هم هبه منعقده کيږي ولی دلفظ داطعام چې کله داسي شي ته اضافت وشي چې عين هغه شی خوړل کيږي نوله هغه ځخه تمليک دعين مراديږي اوکه داطعام اضافت وداسي شي ته وشي چې عين هغه شی نه خوړل کيږي لکه اَطعمتُک هذه الارض (ماتاته داځمکه دخوراک لپاره درکړي ده)نوپه دي صورت کې داطعام معنی عاريت ده.

همدارنګه په جعلتُ هذاالشئ لک (ماداشی ستالپاره ګرځولی دی ) سره هم هبه منعقده کيږي لقوله عليه السلام: فمن اعمرعمری فهي للمعمرله ولورثته من بعده(يعني که چابل چاته عمری ورکړه نودادمعمرله لپاره ده اوله هغه وروسته دهغه دورثه ؤلپاره ده)همدارنګه داالفاظ :حملتک علی هذه الدابة.(ماته پردغه سوارلي باندي سپورکړی يې)که دهبه په نيت سره وونوهبهٔ منعقده کيږي ځرنګه چې داالفاظ په هبه کولوکې صريح نه دي ځکه چې حمل سپرلوته وايي نوداعاريت کيږي خوهبه لره هم محتمل دی نودنيت په وخت پرهبه باندي محمول کيږي.

همدارنګه په کسوتُک هذاالثوب (ماداکپړه تاته دآغوستلولپاره درکړه )سره هم هبه منعقده کيږي ځکه کسوتک لفظ دتمليک لپاره استعماليږي ويل کيږي :کسی الاميرفلانًاثوبا(اميرفلان ته جامه ورواغوستله)يعني مالک يې وګرځاوه.

همدارنګه په دارِی لک هبهٌ (زماسرای ستاداوسيدولپاره دی)سره هم هبه منعقده کيږي ځکه په لفظ دلک کې لام دتمليک لپاره دی اوتسکنهاموهوب له ته مشوره ورکول اوپرمقصودباندي تنبيه کول دی دهبهٌ لپاره تفسيرنه دی داسي شولکه يوڅوک چې ووايي هذاالطعام لک تاکله.

(۴)قوله لاهبهٌ سکنی اوسُکنی هبهٌ ای داری لک هبهٌ سُکنی اوداری لک سکنی هبهٌ.لفظ دهبهٌ دحال ياتميزواقع کيدوپه وجه منصوب دی ځکه په داری لک.کې ابهام دی مطلب داچې که واهب داسي ووايي :داری لک هبهٌ سُکنی (زماسرای ستاداوسيدولپاره دی)ياداسي ووايي :داری لک سکنی هبهٌ نوپه دي سره هبه نه کيږي ولی لفظ دسکنی دتمليک منافع لپاره محکم دی نوپه دي لفظ سره عاريت راځي نه هبه که لفظ دهبه مقدم کړي اوکه يې مؤخرکړي.په دي باره کې قاعده داده چې که لفظ دايجاب پرتمليک عين دال وونوهبه کيږي اوکه پرتمليک دمنافع دال وونوعاريت دی اوکه يې ددواړواحتمال درلودنوبيانيت معتبريږي اوکه يې دسُکنی لفظ پرعاريهٔ ذکرکړنوپه طريقه اولی سره عاريت کيږي.

(۵)قوله وقبولٍ.په جرسره معطوف دی دمصنف رحمه الله پردي قول :بايجابٍ.تقديردعبارت داسي دی :وتصح ايضابقبول من الموهوب له (يعني هبه صحيح کيږي دموهوب له په قبلولوسره )ځکه هم دنوروعقودو(هغه چې په ايجاب اوقبول سره منعقدکيږي)په شان يوعقددی نوپه هبه کې هم ايجاب اوقبول ضروري دی.

(۶)او هبه هغه وخت تامیږي چې کله دموهوب له له طرفه په مجلس کې قبض راشي ولې په هبه کې موهوب له لره ملک ثابتیږي او دملک دثبوت لپاره قبض کیدل ضروري دی پس که چیرته موهوب له دعقدهبه په مجلس کې مال موهوب دواهب دحکم بغیرقبض کړنودا استحساناً جائزدی ځکه دواهب له طرفه ایجاب دموهوب له لپاره دلالةً اذن بالقبض دی .

(۷)او که موهوب له له مجلس هبه څخه دجلاکیدوو روسته موهوب قبض کړنو دا جائزنه دی ځکه دموهوب له قبض کول دقبول په منزله دی او قبول په مجلس عقدپوري خاص دی نو هغه چې په منزله دقبول دی هغه هم .البته که واهب موهوب له ته له مجلس وروسته دقبض اجازه ورکړه نوبیاموهوب له قبض کول جائزدی ځکه دواهب اجازه ورکول په منزله دعقدجدید دی .

(۸)قوله فی محوز مقسوم ومشاع الخ ای وتصح الهبة فی محوز مقسوم الخ.یعني هغه شی له تقسیم وروسته هم قابل انتفاع وي تقسیم وهغه ته ضررنه رسوي نو دداسي شي هبه کول جائزنه دی مگردا که محوزوو (یعني له ملک دواهب اوحقوق دواهب څخه فارغ وو )ځکه پردرختوباندي دلگیدلو میوو هبه له درختي بغیراویړ ځمکه دولاړکښت هبه دځمکی بغیرجائزه نه ده ولی په دي صورتوکې موهوب شی په دي وجه چې دواهب ملک ورسره متصل دی په کامل ډول نه مقبوض کیږي همدارنگه دداسي شي مقسوم کیدل هم شرط دی ولی په تقسیمیدو سره دهغه کامل قبض ممکن دی نو په ناقص قبض اکتفاء نه کوله کیږی او بلاتقسیم قبض قاصر دی .

(۹)قوله ومشاع لایقسم ای وتصح الهبة فی مشاع لایقسم.یعني هغه شی چې نه تقسیمیږي چې په تقسیم سره بالکل قابل انتفاع نه پاتیږی (لکه یو مریی یا یو حیوان)یاهغه انتفاع چې ترتقسیم مخکي اخیستله کیده وروسته ترتقسیم نه اخیستله کیږي (لکه کوچنی کوټه یاکوچنی حمام وغیره)نو دهغه مشاعًا یعني بغیرتقسیم هبه جائزه ده ولی په داسي شي کې خالص قبض قاصر ممکن دی نو په هغه اکتفاء کیدای شي.

(۱۰)قوله لافیمایقسم ای لاتصح الهبة فیمایقسم.یعني که یوچادیوه قابل تقسیم مشترک شي یوه غیرمقسومه ټکړه هبه کړه نو داهبه نه ده صحیح ځکه په قابل تقسیم شي کې بلاتقسیم قبض قاصردی چې پرهغه اکتفاء نه کوله کیږي البته که واهب بلاتقسیمه هبه وکړه بیایې تقسیم کړموهوب یې وموهوب له ته وسپاره نو داجائزدی ځکه دهبه اتمام په قبض سره راځي او دقبض په وخت کې شیوع او شرکت نشته نو گواکي واهب مقسوم غیرمشترک شی هبه کړ.

**فائده** :یوروایت دادی چې دمشاع شي هبه هغه وخت فاسده ده چې اجنبي ته هبه کړای شي او کومه چې شریک جائیدادته وي هغه ته دغیرمنقسم شي هبه هم صحیح ده او بعض فقهاؤ دامختاره کړي هم ده قال فی الدرروفی الصیرفیة عن العتابی وقیل یجوز لشریک وهو المختار (۴/۴۸۰)

مگر داقول دظاهرمذهب خلاف دی ځکه نوبغیرمجبوري پردي قول عمل کول صحیح نه دی او غالبانن سبب چې دجائیداد په تقسیم کې څومره پریشاني راځي دادمجبوري او سختي په حد کې داخل دی نو په دي صورت کې که په دغه روایت باندي عمل وکړای شي چې دشریک لپاره هبه بغیرتقسیم صحیح شی

نو گنجائش شته اوله قبض کولو وروسته دي ته مفيد ملک ويل کيږي خو بهتر صورت دادی چې دا ئنده لپاره جائيداد تقسيم کړای شي يادي بيع کړای شي او بيع زباني هم کافی ده د تحرير ضرورت نشته .(امداد الاحکام: ۳۸/۴)

مطلب دادی چې شريک ته د غير منقسم شي د هبه کولو لپاره دا يوه حيله اختيار يدلای شي چې پر هغه خپله حصه خرڅه کړي او بيا قيمت هغه ته هديه کړي دوهم صورت دادی چې په انتهائی کم قيمت سره يې خرڅ کړي چې ادائيگی يې پر موهوب له باندي سخت نه وي .(جديد معاملات کی شرعی احکام: ۷۸/۲)

(۱۱) وان وهب دقيقا في بر لا وان طحن وسلم وكذا الذهن في السمسم والسمن في اللبن (۱۲) وملک بلا قبض جديد لو في يد الموهوب له (۱۳) وهبة الاب لطفله تتم بالعقد (۱۴) وان وهب له اجنبي تتم بقبض وليه (۱۵) وامه واجنبي لو في حجرهما وبقبضه ان عقل (۱۶) ولو وهب اثنان دارا لواحد صح لاعكسه (۱۷) واصح تصدق عشرة وهبتها لفقيرين لا لغنيين.

**ترجمه** :او که يې هبه کړل غنم په اوړو کې نو صحيح نه دی که څه هم ژرنده يې کړي بيا يې تسليم کړي او همدارنګه تيل په لرمخه کې او غوړي په شيدو کې ،او مالک ګرځي بغير له جديد قبض که هغه د موهوب له په لاس کې وو او د پلار هبه د خپل زوی لپاره تاميږي په عقد سره او که اجنبي هبه وکړه ماشوم ته نو تاميږي د هغه د ولي يا د هغه د مور يا اجنبي په قبض کولو سره که دا ماشوم د دوئ په پرورښت کې وو او د ماشوم په قبض کولو سره که هغه هوښيار وو او که هبه کړدو وکسانو يو مکان ديو چا لپاره نو صحيح دی د هغه عکس صحيح نه دی .او صحيح ده د لسو درهمو نو صدقه او هبه کول دوو فقيرانو لره نه دوو مالدارانو لره .

**تشريح** :(۱۱) که چا هغه غنم چې په اوړو کې وو هبه کړل نو دا هبه فاسده يعني باطله ده که چيرته واهب دا غنم ژرنده کړل موهوب له ته يې حواله کړل نو هم دا هبه جائزه نه ده ولی د هبه په وخت کې موهوب شی معدوم دی او معدوم شی محل د ملک نه ګرځي نو ځکه دا عقد باطل دی ،همدارنګه که يو څوک د اسي تيل هبه کړي چې په لرمخي کې وي نو دا هبه فاسده يعني باطله ده که څه هم هغه دا تيل له لرمخي نه راوباسي موهوب له ته يې ورکړي .لما قلنا .همدارنګه که يو څوک د اسي کوچي (مکهن) هبه کړي چې په شيدو کې وي نو هم دا هبه باطله ده که څه هم مکهن له شيدو څخه راايل کړي موهوب له ته يې وسپاري لما قلنا .

(۱۲) که موهوب شی د موهوب له په لاس کې وو نو په هبه سره موهوب له د هغه مالک ګرځي که څه نوی قبض ونه کړي ځکه عين موهوب د هغه په لاس کې دی او قبض شرط دی .

(۱۳) که پلار خپل نابالغ ماشوم ته يو شی هبه کړ نو ماشوم په عقد هبه سره د هغه مالک ګرځي که څه هم تجديد قبض ونه کړي ځکه د ماشوم پلار د هغه له طرفه قبض کوي او حال دا چې د موهوب شی د پلار په قبض کې موجود دی نو بس همدغه قبض د هبه د قبض قائم مقام کيږي جديد قبض ته ضرورت نشته .

(۱۴) که ديتيم لپاره يو شی چا اجنبي (بيګانه) هبه کړ او د هغه ولي موهوب شی قبض کړ (له ولي څخه مراد د هغه د پلار وصي يا ديتيم نيکه يا د هغه وصي دی) نو دا جائز دی ځکه دا خلک د پلار قائم مقام دي نو پر يتيم باندي د دوئ ولايت حاصل دی دا خلک ديتيم له طرفه هبه قبض کولای شي .

(۱۵)قوله وانه اى ولتم الهبة بقبض امه واجنبى الخ :يعنې كه يتيم دموريه پرورښت كې وونوديتيم لپاره دمورقبض كول جائزدى ولى كوم امورچې دماشوم يادهغه دمال دحفاظت طرف ته راجع وي په هغوكې يې دمورولايت حاصل دى اوهبه قبض كول ديتيم دحفاظت له بابه دى ولى هغه له مال بغيرژوندنه شي كولاى .همدارنګه كه يتيم داجنبي په پرورښت اوتربيت كې وونودهغه لپاره داجنبي قبض كول جائزدى ولى اجنبي لره پرده باندي ولايت معتبره حاصل دى همداوجه ده چې يوبل اجنبي داماشوم دده له لاسه نه شي ايستلاى نودغه اجنبي دهرداسي امرمالک ګرځي چې دماشوم په حق کې خالص نافع وي اوكه ماشوم خپله موهوب شي قبض كړنوداهم جائزدى په دي شرط چې ماشوم عاقل اوهوښياروي ولى ماشوم دخالص نافع امرپه باب دبالغ په شان دى .

(۱۶)كه دووكسانوسراى (ياهرهغه شى چې قابل تقسيم وي)يوچاته هبه كړنوداجائزدى ځكه هغوئ مجموع مكان حواله كړاوموهوب له پرمجموع مكان باندى قبضه وكړه نودلته شيوع نشته.اوكه ددي عكس وي يعنې يوه سړي دووكسانوته يوسراى هبه كړاودهريوه حصه يې بيان نه كړه نودامام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰه په نزدداهبه جائزه نه ده ځكه داپه دوئ دواړوكې هريوه ته نصف مشاع هبه ده نودلزوم شيوع په وجه داهبه ناجائزه ده ،دصاحبينورحمهماالله په نزدداهبه صحيح ده ځكه دادوئ دواړوته په يوه ځل هبه ده په دي وجه ددوئ تمليک يودى نوشيوع نه راځي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰه قول راجح دى لمافى الدرالمختار:وهب اثنان دارالواحدصح لعدم الشيوع وبقلبه لاعنده للشيوع فيمايحتمل القسمة امامالايحتمله كالبيت فيصح اتفاقا(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ۴/ ۵۷۳)وقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رَحِمَهُ اللّٰه :واختاروا قول الامام ابى حنيفة رَحِمَهُ اللّٰه وعليه مشى اصحاب الشروح والفتاوى ولم ينقل عن واحدمنهم الميل الى قولهما.(هامش الهداية:۳/ ۲۸۵)

(۱۷)كه لس درهمونه دووفقيرانوته صدقه ياهبه كړي نوداصحيح دى اوكه يې دومالدارانو (غنيانو)ته هبه ياصدقه كړي نوبيانه دى صحيح،دادامام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰه مسلک دى. دصاحبينو رحمهماالله په نزدغنيانولره هم صحيح دى ،دامام صاحب رَحِمَهُ اللّٰه دليل دادى چې هبه اوصدقه يوله بل څخه مجازدى يعنې چې كله فقيرته هبه وركړي هغه مجازاًصدقه ده (ځكه دهبه اوصدقه ترمنځ معنوي اتصال دى. هغه داچې په دواړوكې تمليک بلاعوض دى)اوپه صدقه كې په تقسيم سره قبض شرط نه دى نودووياډيروفقيرانوته دمشترک شي هبه جائزه شوه ځكه داهبه په معنى دصدقه ده.اوكه دووغنيانوته مشتركه صدقه وركړاى شوه نوداجائزه نه ده ځكه غني لره صدقه مجازاًهبه ده.بيادصدقه اوهبه ترمنځ فرق دادى چې په صدقه سره آلهي رضامقصودوي اودادووفقيرانوته په وركولوكې هم يوه ده نوشيوع نه ثابتيږي اوغنيانوته په هبه كولوكې خپله دهغوئ خوشحالول مقصودوي اوغنيان دوه دي ځكه شيوع ثابتيږي .

**فائده** :دامام صاحب رَحِمَهُ اللّٰه قول راجح دى لمافى الدرالمختار:واذاتصدق بعشرة دراهم اووهبهالفقيرين صح لان الهبة للفقيرصدقة والصدقة يرادبهاوجه الله تعالى وهوواحدفلاشيوع.لالغنيين لان الصدقة على الغنى هبة فلاتصح للشيوع اى لاتملک حتى لوقسمهاوسلمهاصح(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۴/ ۵۷۴)

## باب الرّجوع في الهبة

داباب دهبه واپس اخيستلو په بيان كې دى.

دهبه حكم دادى چې موهوب له لره په موهوب شي كې غيرلازم مِلك ثابتيږي نوچې كله دموهوب له ملك غيرلازم دى نو واهب لره رجوع كول او موهوب شى له موهوب له څخه واپس اخيستل جائزكيږي (كه څه هم ديانةً مكروه دى) مګرڅه داسي امورهم شته چې دهغو په وجه سره واهب لره رجوع في الموهوب نه جائزه كيږي دهغوامورو دبيانول ضروري دى په همدي وجه مصنف رَحِمَهُ اللهُ په دي باب كې ددغو موانعو بيان كړى دى.

(۱) صحّ الرّجوع فيها (۲) ومنع الرّجوع دمع خزقه فالدّال الزّيادة المتصلة كالغرس والبناء والسّمن (۳) والميم موت أحد المتعاقدين (۴) والعين العوض فان قال خذه عوض هبتك او بدلها او بمقابلتها فقبضه الواهب سقط الرّجوع (۵) وصحّ عن اجنبي (۶) وان استحقّ نصف الهبة رجع بنصف العوض (۷) وبعكسه لا حتّى يرد ما بقي ولو عوّض النّصف رجع بما لم يعوّض (۸) والخاء خروج الهبة من ملك الموهوب له (۹) وبيع نصفها رجع في النّصف كعدم بيع شيء (۱۰) والزّاء الزّوجيّة (۱۱) فلو وهب ثمّ نكحها رجع وبالعكس لا (۱۲) والقاف القرابة فلو وهب لذي رحم محرم منه لا يرجع فيها (۱۳) والهاء الهلاك فلو ادّعاه صدّق.

**ترجمه**: صحيح ده رجوع كول په هبه كې، او منع كوي دارجوع (دَمعٌ خَزقه) له دال څخه زيادت متصله مراددى لكه درختي لګول اوآبادي كول اودحيوان چاغيدل. اوله ميم څخه داحدمتعاقدينومرګ مراددى اوله عين څخه عوض مراددى كه يي وويل چې دا واخله ستادهبه عوض ياستادهبي بدله يادهغي په مقابل كې نوواهب قبض كړ بيايې حق درجوع ساقطيږي او صحيح دى عوض اخيستل له اجنبي څخه او كه دبل چامستحقه شوه نيمه هبه نورجوع دي وكړي دنصف عوض په باره كې اوددي په عكس كې نه ترڅوچې هغه باقي ردنه شي اوكه يي عوض وركړ دنصف نوواپس دي واخلي هغه چې عوض يې نه دى وركړى اوله خاء څخه دهبه خارج كيدل مراددى دموهوب له له ملک څخه اوپه نصف خرڅولو سره دي واپس واخلي باقي نصف لكه دشي نه خرڅيدو په صورت كې اوله زا، څخه زوجيت مراددى كه يې هبه وكړه بيايې له هغي سره نكاح وكړه نورجوع كولاى شي نه دهغه په عكس كې اوله قاف څخه قرابت مراددى كه يې هبه وكړه خپل ذى رحم محرم ته نورجوع نه شي كولاى په هغه كې اوله ها، څخه هلاكت مراددى كه يې دعوى دهلاكت وكړه نوتصديق يې كيږي.

**تشريح**: (۱) كه واهب يوه اجنبي (بيګانه) ته يوشى هبه كړ اوموهوب له موهوب شى قبض هم كړ نو واهب لره په هبه كې رجوع كول اوموهوب شى واپس اخيستل جائزدى په دي شرط چې له راتلونكو موانعو څخه يومانع موجودنه وي څكه دخلكو عادت دادى چې له هبى څخه دهغوئ مقصودعوض اخيستل وي نودعوض دنه ترلاسه كولوپه صورت كې واهب لره دفسخ اختيارشته څكه په دغه عقدكې دفسخ كيدوصلاحيت شته او داحكم قضاءً دى ديانةً رجوع في الهبه مكروه ده.

(۲): لته مصنف رحمه الله درجوع فى الهبه څه موانع ذكركوي درجوع فى الهبه اووه (۷) موانع دي مجموعه يې (دَمع خَزقه) (اوښكوزخمي كړ) په دي حروفو سره همدغو اوو موانعوته اشاره ده چې تفصيل يې مصنف رحمه الله خپله بيان كړى دى:

**نمبر ۱**-فرمايې چې په دال سره زيادت متصله ته اشاره ده يعنې كه په عين موهوب كې يو داسي زيادت راشي چې په هغه سره دموهوب قيمت لوړشو مثلاً موهوب ځمكه وه موهوب له په هغې كې درختي ولګولي يايې آبادي پكې وكړه ياموهوب يوحيوان وو موهوب له هغه ښه وپالى چاغ يې كړنو په دغه صورت كې واهب رجوع نه شي كولاى ځكه كه راهب له زيادت بغير رجوع كول غواړي نو داممكنه نه ده اوكه له زيادت سره رجوع كول غواړي نو داهم نه شي كيدلاى ځكه دغه زيادت په هبه كې داخل نه دى ځكه په دي كې درجوع حق نه لري.

**نمبر ۲**-(۳) اوله ميم څخه داحد دمتعاقدينو مرګ ته اشاره ده يعنې كه احد له متعاقدينو (واهب ياموهوب له) څخه يو مړشي نوهم په هبه كې رجوع نه شي كيدلاى ولى كه موهوب له مړشونو ملك دهغه ورثه ؤته منتقل كيږي نولكه دهغه په ژوندكې چې دانتقال ملك وروسته واهب لره رجوع جائزه نه ده همدارنګه له مړكيدو وروسته هم دانتقال ملك په وجه واهب ته رجوع كول جائزه نه ده اوكه واهب مړشو نو ځنګه چې دهغه ورثه دعقد هبه په لحاظ اجنبي دي ځكه هغوئ درجوع حق نه لري.

**نمبر ۳**-(۴) اوپه عين سره دعوض طرف ته اشاره ده يعنې كه موهوب له واهب ته دهغه دهبي عوض وركړورته ويې ويل خُذهَذاعِوَض هِبتك اَوبَدلاعَنهَااَوفِى مُقَابَلتِها (يعنې داواخله ستادهبي عوض دى ياستادهبي بدله ده ياستادهبي په مقابله كې) يايې بل داسي لفظ ووايه چې تصريح پكې وه چې داد كل موهوب عوض دى اوواهب هغه عوض قبض هم كړنو دواهب حق درجوع ساقطيږي ولى دواهب مقصود عوض وو هغه حاصل شو.

(۵) همدارنګه كه يو د اجنبي دموهوب له له طرفه تبرعاًياپه امر دموهوب له واهب ته دهغه دهبي عوض وركړاو واهب هغه قبض هم كړنو دواهب حق درجوع ساقطيږي ځكه عوض وركول دحق داسقاط لپاره دى نو داداجنبي له طرفه هم صحيح كيږي لكه دخلع اوصلح عوض چې داجنبي له جانبه صحيح كيږي.

(۶) كه موهوب له واهب ته دموهوب شي عوض وركړو وروسته دنصف موهوب يو مستحق پيداشو نو موهوب له خپل نصف عوض له واهب څخه واپس اخيستلاى شي ځكه دنصف په عوض په مقابله كې چې كوم نصف موهوب وو هغه موهوب له ته سالم پاتى نه شو او موهوب له عوض ددي لپاره وركړى وو چې ده ته كل موهوب په لاس ورشي نو چې كله بعض موهوب فوت شونو دهغه په اندازه عوض دي واپس واخلي.

(۷) قوله وبعكسه لاحتى يرذمابقى اى ان استحق نصف العوض لايرجع الواهب فى الهبة بشئ حتى يرذالواهب مابقى من العوض اودي په عكس كې نه يعنې كه دموهوب له له طرفه داداكړاى شوي عوض نصف يو بل څوك مستحق پيداشونو واهب دانه شي كولاى چې خپل نصف موهوب واپس واخلي ځكه څومره عوض چې باقي دى هغه ابتداءً دكل موهوب عوض كيداى شي اوكوم چې ابتداءً دكل عوض كيداى شي هغه بقاءً هم دكل عوض

كيداي شي .البته كه واهب دباقي مانده عوض موهوب له ته واپس وركړنو دا جائزه ده اوبيادى خپل كل موهوب له موهوب له څخه واپس اخيستلاى شي ځكه واهب خپل حق درجوع په دي وجه ساقط كړچې پوره عوض ده ته سالم ورپاتى شي اوچې كله پوره عوض سالم پاتى نه شونو ده لره حق شته چې دباقى مانده عوض واپس كړي اوپه هبه كې رجوع وكړي ولى اوس داهبه بلاعوض ده چې واهب حق ذرجوع لري اوكه موهوب له دنصف هبه عوض وركړى ووبيا واهب هغه نصف واپس اخيستلاى شي دكوم چې موهوب له عوض نه دى وركړى ځكه دانصف موهوب بلاعوض دى چې په دي كې واهب حق درجوع لري .

**نمبر ۴**-(۸)اوپه خاء سره دخروج طرف ته اشاره ده يعني كه موهوب دموهوب له له ملك څخه خارج شي (خرڅ يې كړي ياېې بل چاته هبه كړي )نوبيا واهب رجوع نه شي كولاى ځكه له مِلك څخه پروتلوپربل جاپه خرڅولوا وهبه كولوباندې خوواهب موهوب له مسلط كړى دى اوس واهب دهغه دماتوولو حق نه لري .

(۹)اوكه موهوب له نصف موهوب خرڅ كړنوواهب په باقى مانده نصف كې رجوع كولاى شي ځكه رجوع بقدر ممتنع مانع ده كوم حصه چې دموهوب له له ملك څخه نه ده وتلې په هغه كې رجوع كول صحيح ده مثلاً واهب موهوب له ته ځمكه هبه كړه موهوب له نيمه ځمكه خرڅه كړه نوپه باقى نصف كې واهب رجوع كولاى شي په مذكورنصف كې رجوع كول داسي دى لكه موهوب له چې له موهوبه ځمكې نه هيڅ نه وي خرڅه كړې نوواهب خالص دنيمې ځمكې واپس اخيستو اختيارلري داچې په دې صورت كې دټولې موهوبه ځمكې واپس اخيستلو اختيارلري نو دنصف دواپس اخيستلو اختيارپه طريقه اولى سره لري .

(۱۰)اوپه زاء سره دزوجيت طرف ته اشاره ده يعني كه احدله زوجينو څخه په حالت دزوجيت كې بل ته يوشى هبه كړي نوهم واهب حق درجوع نه لري ځكه په دي كې هم دصورت قرابت په شان صله رحمي مقصود ده چې هغه حاصله شوه ځكه اوس واهب دموهوب شي واپس اخيستلو حق نه لري .

الالغاز:اى اب وهب لابنه وله الرجوع؟

فقل:اذاكان الابن مملوكاً لاجنبى وجهه انه اذاكان مملوكاتكون الهبة لمالكه لان المملوك لايملك.(الاشباه والنظائر)

(۱۱)كه چاويوې پردى ښځې ته يوشى هبه كړبيايې له هغې سره نكاح وكړه نورجوع كولاى شي ځكه معتبروخت دهبه دى اودهبې په وخت كې زوجيت قائم نه وواوواهب ته عوض دهبې نه دى وركول شوى ځكه حق درجوع لري.اوكه ددي برعكس وشويعني خپلې ښځې ته يې يوشى هبه كړبيايې هغې ته طلاق بائن وركړنورجوع نه شي كولاى ځكه معتبروخت دهبې دى اوپه وخت دهبه كې نكاح قائمه ده نوپه دي كې هم په صورت دقرابت په شان صله رحمي مقصود دى چې هغه مقصود حاصل شو ځكه واهب رجوع نه شي كولاى .

(۱۲)اوپه قاف سره دقرابت طرف ته اشاره ده نوكه يو چاخپل ذى رحم محرم ته يوشى هبه كړبيا واهب درجوع حق نه لري ځكه په دي هبه سره مقصود دصله رحمي وه چې هغه حاصله شوه ځكه په موهوب كې حق درجوع نه لري .

(۱۳)اوپه هاء سره هلاكت طرف ته اشاره ده يعني كه موهوب شى هلاك شونوهم واهب رجوع نه شي كولاى ځكه بعينه هلاك شده واپس كول ممكن نه دى اودمثل واپس كول ځكه لازم نه دى چې موهوب شى

دهغه پرذمه مضمون نه وو که موهوب له دموهوب شی دهلاکت دعوی وکړه نو دهغه تصدیق کول کیږي ونی دی واهب ته دواپس کولو له وجوب څخه منکردی او قول دمنکر معتبر دی.

(۱۴) وانما یصح الرجوع بتراضیهما او بحکم الحاکم (۱۵) فان تلفت الموهوبة واستحقها مستحق وضمن الموهوب له لم یرجع علی الواهب بما ضمن (۱۶) والهبة بشرط العوض هبة ابتداء فیشترط التقابض فی العوضین وتبطل بالشیوع (۱۷) بیع انتهاء فترد بالعیب وخیار الرؤیة وتؤخذ بالشفعة

**ترجمه**: او صحیح ده رجوع ددواړو په رضامندي سره یا د حاکم په فیصله سره که هلاک شو موهوب شی یا دهغه مستحق پیدا شو او ضمان یې واخیست له موهوب له څخه نو بیا رجوع نه شي کولای پر واهب باندي دهغه په باره کې چې ضمان یې ورکړی دی او هبه په شرط دعوض هبه وي ابتداءً نو شرط دی قبض کول ددواړو عوضینو او باطلیږي په شیوع سره او بیع ده انتهاءً نو واپس کیدای شي دعیب او خیار رؤیة په وجه سره او اخیستل کیدای شي په حق شفعه سره.

**تشریح**: (۱۴) داخبره مخکي معلومه شوې ده چې واهب ته حق درجوع حاصل دی مګر درجوع کولو دوه صورتونه دي: **نمبر ۱**-داچې واهب او موهوب له دموهوب پر واپس کولو باندي سره راضي شي. **نمبر ۲**- واهب دحاکم په محکمه کې عارضه وکړي چې زما موهوب له موهوب له څخه واپس را واخلئ. نو که واهب دقاضي دقضاء بغیر یا دخپل منځي رضامندي بغیر موهوب شی واپس واخیست دا جائزنه دی ځکه په هبه سره چې دو... مقصود دی د... نه په حاصلیدو او نه حاصلیدو کې خفاء ده ولی که چیرته دواهب مقصود ثواب وو هغه خو حاصل شو او که یې مقصود عوض لاس ته راوړل وو هغه نه دی حاصل شوی نو په دي کې تردد پیدا شو نو دفیصلي لپاره دقاضي قضاء یا دطرفینو رضامندي ضروري ده.

(۱۵) که مال موهوب دموهوب له څخه ضائع شي یا دهغه تلف شده موهوب یو بل څوک خپل استحقاق ثابت کړي له موهوب له څخه ضمان واخلي نو موهوب له له واهب څخه هیڅ شی نه شي اخیستلای ځکه هبه عقد تبرع ده نو دموهوب له لپاره دموهوب شي دسلامتي حق نشته.

(۱۶) که واهب په شرط دمعین عوض سره هبه وکړه نو داابتداءً هبه ده په دي کې دهبي شرائط معتبریږي نو دعوضینو قبض په مجلس عقد کې ضروري دی ځکه داابتداءً په اعتبار دتسمیه هبه ده. او په شیوع سره باطلیږي ځکه هبة المشاع صحیح نه ده کما مر.

(۱۷) قوله بیع انتهاء ای الهبة بشرط العوض بیع انتهاء، یعني په هبه په شرط دعوض کې چې دعوضینو قبض راشي نو داعقد صحیح دی او س انتهاءً دا بیع په حکم کې ده ځکه په دي کې له جانبینو څخه عوض راغی نو دعیب او خیار رؤیة په وجه ردیدای شي او که احدله عوضینو ځمکه وه نو شفیع هغه په خیار شفعه سره اخیستلای شي ځکه دعقد بیع په وجه په دي کې دشفیع لپاره حق شفعه هم ثابت دی.

## فصل

دا فصل د استثناء، تعليق وغيره په بيان كې دى، د مصنفينو رحمهم الله دا عادت دى چې د كتاب په آخر كې مسائل شتى بيانوي په دى فصل كې مصنف رحمه الله داډول متفرق قسم مسائلى ذكر كړي دي :

(۱) وَمَنْ وَهَبَ اَمَةً اِلَّا حَمْلَهَا (۲) اَوْ عَلٰى اَنْ يَرُدَّهَا عَلَيْهِ اَوْ يُعْتِقَهَا اَوْ يَسْتَوْلِدَهَا اَوْ دَارًا عَلٰى اَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِ شَيْئًا مِنْهَا اَوْ يُعَوِّضَهُ شَيْئًا مِنْهَا صَحَّتِ الْهِبَةُ وَبَطَلَ الْاِسْتِثْنَاءُ وَالشَّرْطُ (۳) وَمَنْ قَالَ لِمَدْيُوْنِهِ اِذَا جَاءَ غَدٌ فَهُوَ لَكَ اَوْ اَنْتَ بَرِيْءٌ مِنْهُ اَوْ اِنْ اَدَّيْتَ اِلَيَّ نِصْفَهُ فَلَكَ نِصْفُهُ اَوْ اَنْتَ بَرِيْءٌ مِنَ النِّصْفِ الْبَاقِيْ فَهُوَ بَاطِلٌ

**ترجمه** :كه چا منځه هبه كړه مگر نه د هغې حمل، يا په دي شرط چې هغه يې بيرته واپس كوي ده ته يا يې آزادوي يا يې ام ولده گرځوي يا يې سراى په دي شرط هبه كړ چې له هغه څخه به ده ته يو څه حصه يا د هغې عوض وركوي نو هبه صحيح ده او باطليږي استثناء او شرط او كه چا و يل خپل مقروض ته چې كله سبا شي نو هغه قرض ستا دى يا ته بري يې له هغه څخه يا يې وويل چې كه تا ادا كړ ما ته نصف قرض نو باقى نصف ستا دى يا ته بري يې له باقى نصف څخه نو دا باطل دى .

**تشريح** :(۱) كه واهب منځه هبه كړه مگر د هغې حمل يې مستثنى كړ په دي ډول چې له منځې سوا خالص حمل هبه كړي نو هبه په منځه او حمل دواړو كې صحيح كيږي او استثناء باطليږي ځكه حمل يو وصف او تابع دى لكه اطراف د منځې (يعني لاسونه پښې وغيره) نو چې د هغه په مستقل ډول هبه صحيح نه دى نو استثناء يې هم صحيح نه ده نو د واهب حمل مستثنى كول شرط فاسد دى او هبه په شرط فاسد سره نه باطليږي .

(۲) همدارنگه كه يې منځه په دي شرط سره هبه كړه چې موهوب له به دا منځه هغه ته واپس وركوي يا په دي شرط چې موهوب له به هغه آزادوي يا دا چې موهوب له به يې ام ولده گرځوي يا يې هغه ته يو سراى هبه كړ په دي شرط چې موهوب له به له دغه سراى څخه څه حصه واهب ته واپس وركوي يا به د هغه څه عوض وركوي نو په دغو ټولو صورتونو كې هبه جائزه ده يعني منځه او سراى د موهوب له ملك گرځي او شرطونه باطل دي ځكه دا ډول شرطونه د مقتضاء عقد مخالف دي نو په دي سره هبه نه باطليږى بلكې خپله شرطونه فاسديږي .

(۳) كه ديو چا زر درهمونه پر چا باندي وو بيا قرض غوښتونكي هغه ته وويل چې كله سبا ورځ شي نو دا درهمونه ستا دي يا يې ورته وويل چې ته له دغو درهمونو څخه بري يې يا يې ورته وويل چې كله تا ما ته نصف يعني پنځه سوه درهمونه ادا كړل نو باقى نصف ستا دي ،يا ته له باقى نصف څخه بري يې نو دغه تمليك يا برائت باطل دى ځكه دغه هبه يا ابراء بالفعل نه ده بلكې پر شرط معلق ده چې سبا ورځ راشي يا دا چې ته ما ته نصف ادا كړي .او په شرط پوري معلق كول يوازي په داسي معاملاتو كې جائز دى چې د اسقاطاتو له قبيل څخه وي لكه طلاق او عتاق ځكه په طلاق كې فقط داوى چې د ښځې له ذمي څخه خپل ملكيت د نكاح ساقط كړي او په عتاق كې د مملوك له غاړي خپل ملكيت ساقط كړي نو په دي شيانو كې تعليق بالشرط صحيح دى مثلا داسي ويل چې كه تا فلان كار وكړ نو ته طلاقه يې يا ته آزاد يې دغه تعليق صحيح دى مگر هغه معاملات چې محضا اسقاط نه وي بلكې محض تمليك وي يا من وجه تمليك من وجه اسقاط وي په هغو كې تعليق

بالشرط جائزنه دی او داثابته خبره ده چې له دين څخه بري كول محض اسقاط نه دی بلكې من وجه تمليك دی نوله دين څخه بري كول په شرط پورې معلق كول صحيح نه دی نومذكوره ابراء هم باطله ده .

(۴)وصح العمرى للمعمر له حال حيوته ولورثته بعده وهى ان يجعل داره له عمره فاذامات ترد عليه (۵)لاالرقبى اى ان مت قبلك فهو لك (۶)والصدقة كالهبة لاتصح الابالقبض ولافى مشاع يحتمل القسمة ولارجوع فيها.

**ترجمه** :اوصحيح ده عمرى دمعمرله لپاره دهغه په ژوندكې اودهغه دورثه ؤلپاره له هغه وروسته اوهغه داده چې وګرځوي خپل سرای دمعمرله لپاره دهغه ترژوندپورې بياچې كله هغه مړشي نوواپس كيږي پر مالك باندې ،نه رقبى يعنې كه زه ترتامخكې مړشوم نوهغه ستاده ،اوصدقه دهبې په شان ده چې صحيح نه ده مګرپه قبض سره اونه صحيح كيږي په مشاع كې چې قابل دتقسيم وي اونشته رجوع په هغه كې .

**تشريح** :(۴)عمرٰى داده چې يو سړی بل ته ووايي چې زه دازماسرای تاته دركوم ستاترژوندپورې اوچې كله ته مړشې نوزه يې واپس اخلم نودعمرٰى داصورت جائزدی دامكان دمعمرله ده ترژونده پورې كيږي :دهغه له مرګ وروسته دهغه ورثه ؤته وركول كيږي دمعمرله مالک ګرځيدل صحيح دی اودمعمِرداشرط چې كله ته مړشې نوزه خپل سرای بيرته واپس اخلم باطل دی ځكه عمرٰى هم په حقيقت كې هبه ده اوهبه په شرط فاسدسره نه باطليږي .

(۵)قوله لاالرقبى اى لاتصح الرقبى ،يعنې رقبٰى صحيح نه ده ،رقبىٰ داده چې دسرای مالک بل چاته ووايي دارې لک رَقبٰى ،يعنې كه زه ترتامخكې مړشوم نوداسرای ستادی اوكه ته ترمامخكې مړشوې نوزمادی. دطرفينو رحمهماالله په نزدرقبٰى باطله ده لان النبى ﷺ اجازالعمرى وردّالرقبى (يعنې نبي كريم ﷺ عمرٰى جائزه بللې اورقبى يې رده كړې ده )همدارنګه په دې كې يودبل مرګ ته منتظروي نوپه دې كې دتمليک تعليق بالخطردی چې جائزنه دی نوچې كله رقبٰى باطله شوه نودرقبٰى په ډول وركول شوی سرای عاريت كيږي،دامام ابويوسف رحمه الله په نزدرقبٰى جائزه ده ځكه په دارې لک سره تمليک حاصل شويدی دواهب رقبى ويل شرط فاسددی اوهبه په شرط فاسدسره نه باطليږي خپله هغه شرط باطليږي .

**فائده** :دطرفينو رحمهماالله قول راجح دی لمافى الدرالمختار:لاتجوزالرقبى لانهاتعليق بالخطر(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۴/ ۶۸۰ )حوشيخ عبدالحكيم شاوليكوټى شهيد رحمه الله دهدايه پرهامش دمذكورې مسئلې تفصيل داسې بيان كړی دی :وعلم انه اختلف الائمة فى حكم الرقبى وتفسيرهااختلافاوكذاوقع الخلاف بينهماوبين ابى يوسف رحمه الله لكن منشاالاختلاف بينهم هوالاختلاف فى تفسيرهافان كان كماقال ابويوسف رحمه الله فالصحيح والمختارقوله وان كان كماقالارحمهماالله فالقول قولهما فعلى المفتى ان يكون بصيراوعارفاباصطلاح الناس فى الفاظهم ومحاوراتهم فيفتى بماهوالمراد عندهم. (هامش الهداية:۳/ ۲۹۰ )

(۶)صدقه دهبې په شان ده ځكه دهبې غوندې صدقه هم يوتبرع اواحسان دی نودهبې په شان بغيرد قبض كولونه صحيح كيږي اوپه داسې مشترک شي كې چې قابل دتقسيم وي صدقه كول هم مشاعًانه جائزكيږي دليل يې هغه دی چې په هبه مشاع كې تيرشوی دی البته دهبې اوصدقه ترمنځ فرق دادی چې په صدقه كې دمتصدق عليه له قبض وروسته رجوع جائزه نه ده ځكه په صدقه كې مقصودثواب دی چې هغه حاصل شوی دی اوپه هبه كې دموهوب له له قبض وروسته دواهب رجوع كول جائزه ده لمامر.

## كتاب الاجارة

### داكتاب داجارې په بيان كې دى

اجاره لغةً دأجرت نوم دى .اجرت داجيرمزدورې ته وايي اواجرهغه دى چې استحقاق يې ديوه نيک کاريه کولو سره وي،ځکه دهغه په ذريعه دعاکول کيږي چې ويل کيږي :آجرک الله واعظم الله آجرک ،او داهم ممکن دى چې اجاره مصدرشي ځکه اجاره په لغت کې دمنافعوخرڅولوته وايي .

امام قدورى رحمه الله داجارې شرعى تعريف داسې کړى دى :الاجارة عقد على المنافع بعوضٍ ،يعني اجاره داسې عقددى چې پرمنافعوباندې په عوض واقع کيږي،اوځينوداسې تعريف کړى دى :الاجارة عقد على منفعة معلومة بعوض معلوم الى مدة معلومة ) يعني معلوم منفعت دمعلوم عوض په بدله کې ترمعلومې مودې پورې خرڅولوته اجاره ويل کيږي .

په کرايه ورکړل شوې شي ته مأجور،مؤجَراومستاجَر(بفتح الجيم)وايي او(ماجور)چې په کرايه ورکوي هغه ته آجر،مُکارى(ضم الميم)اوموجِر(بکسرالجيم) وايي اوماجورچې په کرايه اخلي هغه ته مستاجِر(بکسرالجيم )ويل کيږي او اجيرمزدورته ويل کيږي .

**فائده** :داجارې دصحت لپاره لاندې شرطونه دي :(۱)عاقدين به اهليت داجارې لري يعني عاقدين به عاقل،بالغ اوهوښياروي (۲)عقدبه دعاقدينوپه رضامندي سره وي (۳)منفعت به معلوم وي يعني دابه معلوم وي چې دکوم کارلپاره کوم شي دڅومره مودې لپاره په کرايه اخيستى دى چې بياوروسته جنجال پيدانه شي مثلاکه يومکان په کرايه ورکړي نولومړى به مکان ووينې اوداخبره به سره طې کړي چې دڅومره وخت لپاره مستاجرله دې څخه فائده اخلي (۴)داجرت مقداربه معلوم وي چې وروسته بياجګړه نه وي (۵)معقودعليه به قابل دانتفاع وي غصب کړاى شوى مکان په کرايه ورکول جائزنه دى ولى کرايه دارلره هغه څخه فائده اخيستل ناممکنه ده (۶)معقودعليه کاربه داجيرپرذمه فرض نه وي نوځکه دلمانځه کولواوروژه نيولولپاره څوک په مزدورې نيول ناجائزدى اوپرهغه اجرت حاصلول حرام دى .

له ماقبل سره يې مناسبت دادى چې په اجاره اوهبه دواړوکې دتمليک معنى پيدا کيږي البته په هبه کې تمليک عين اوپه اجاره کې تمليک منافع دى مصنف رحمه الله هبه تراجاره ځکه مخکې ذکرکړه چې عين اقوى اومقدم وي ترمنفعت .همدارنګه په هبه کې عدم عوض وي اوپه اجاره کې عوض وي اوپه ممکناتوکې عدم تروجودمقدم وي .

(۱)هي بيع منفعة معلومة باجر معلوم (۲)وماصلح ثمناصلح اجرة (۳)والمنفعة تعلم ببيان المدة كالسكنى والزراعة فتصح على مدة معلومة اى مدة كانت (۴)ولم يزد في الاوقاف على ثلث سنين (۵)اوبالتسمية كالاستيجار على صبغ الثوب وخياطته (۶)اوبالاشارة كالاستيجار على نقل هذا الطعام الى كذا.

**ترجمه** :هغه خرڅول دمعلومې نفع دمعلوم اجرت په عوض اوکوم شى چې ثمن کيدل يې صحيح وي دهغه اجرت کيدل صحيح دى اونفع معلوميږي دمودې په بيانولوسره لکه کښت کاري اواوسيدل نوصحيح دى په

معلومه موده سره هره موده چې وي اونه دي زياتيږي موده په اوقافو كې پردريو كالونو باندي يا دعمل په نامه يادولوسره لكه كپړه په اجرت رنګول اوګنډول يا په اشاره كولوسره لكه په اجرت وړل داغله ترفلان ځاى پوري .

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله داجارې اصطلاحي تعريف داسې كړى دى چې مثلا ديوسراى ياسواري وغيره معلوم منفعت دمعلوم اجرة په عوض خرڅولوته په شريعت كې اجاره ويل كيږي .

**فائده** :دقياس تقاضاداده چې اجاره بايدجائزه نه وي ځكه په اجاره كې معقودعليه (يعني منفعت) معدوم وي ولې منافع وروسته پيداكيږي اودمعدوم بيع ناجائزه ده مګردكتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ دواړوڅخه داجارې صحت معلوميږي :قال الله تعالى:حكاية عن شعيب عليه السلام:(إني أريد أن أنكحك إحدى ابنتي هاتين على أن تأجرني ثماني حجج) وقال عليه السلام:من استاجر اجيرا فليعلمه اجره.

(۲)كوم شى چې په عقدكې ثمن كيداى شي هغه په عقداجاره كې اجرة كيداى شي ځكه اجرة دمنفعت ثمن دى نوهغه پرثمن مبيع باندي قياسيږي مګرداضروري نه ده چې كوم شى دمبيع ثمن نه شي كيداى هغه په اعقداجاره كې هم اجرة نه شي كيداى بلكې داكيداى شي چې يوشى دمبيع ثمن نه شي كيداى مګرثمن منفعت كيداى شي لكه په سراى كې اوسيدل په اجرت سره ياحيوان دباروړلولپاره كرايه كول .

(۳)داجارې دصحت لپاره دمنفعت معلومول ضروري دى يادمنفعت معلومولودرې طريقې دي :كله داجارې دمودې په بيانولوسره دمنفعت مقدارمعلوميږي مثلاسرايونه دكرايې لپاره ياځمكې دكښت لپاره ترمعلومې مودې پوري په اجاره وركول چې په دې سره منفعت معلوميږي نوداجاره صحيح ده كه موده كمه وي اوكه زياته وي البته دوقف په شيانوكې اجاره تردريوكالوزياته جائزه نه ده چې ياماستاجرپه هغه دملكيت دعوه ونه كړي هو المختار للفتوى .(مجمع الانهر :۳/ ۵۱۴)

(۴)قوله اوبالتسمية اى وتعلم المنفعة بالتسمية ،يعني دمنفعت معلومولودوهمه طريقه داده چې منفعت كله دمعقودعليه عمل په بيانولواونوم اخيستلوسره معلوميږي مثلايوچابل چاته كپړه درنګولويا ګنډلو لپاره په اجرة وركړه نوچې كله دكپړې اودهغې درنګولودرنګ اوپه ګنډلوكې دګنډلوقسم بيان كړي منفعت معلوميږي ياحيوان په اجرة بوځي ترمعلوم ځاى پوري معلوم مقداربارپرباروي ياترمعلوم ځاى پوري پرهغه باندي سوريږي نوهم منفعت معلوميږي ځكه دااجاره صحيح ده .

(۵)قوله اوبالاشارة اى وتعلم المنفعة بالاشارة ،يعني دمنفعت دمعلومولودريمه طريقه داده چې منفعت كله دمعقودعليه په تعين اودهغه طرفته په اشاره كولوسره معلوميږي مثلايوسړى مزدوركړي چې هغه داغله ترفلاني ځاى پوري ورسوي نوغلې ته په اشاره كولوسره اودمسافت په بيانولوسره منفعت معلوميږي ځكه دااجاره صحيح دده .

(۱)والأجرة لاتملك بالعقد بل بالتعجيل او بشرطه او بالاستيفاء او بالتمكن منه (۷)فان غصب منه سقط الأجرة (۸)وللرب الدار والأرض طلب الاجر كل يوم (۹)وللجمال كل مرحلة (۱۰)وللقصار والخياط بعدالفراغ من عمله (۱۱)وللخباز بعداخراج الخبز من التنور (۱۲)فان أخرجه فاحترق له الاجر ولاضمان (۱۳)وللطباخ بعدالغرف (۱۴)وللبان بعدالاقامة

**ترجمه** :او اجرة مملوک کيږي نه په عقد سره بلکې په پيشگي ورکولو سره يا د پيشگي په شرطولو سره يا پوره نفع حاصلولو سره يا پر نفع د قادر کيدو سره بيا که غصب شوله د ځخه نو اجرة ساقطيږي او صاحب د سراۍ او خاوند د ځمکې لره د اجرت طلبولو حق شته هره ورځ او د اونبن مالک لره پر هر منزل باندي او درزي او دوبي لره د هغوئ له عمل ځخه د فارغ کيدو وروسته او نانوائي ته له تنور ځخه د ډوډۍ راويستلو وروسته بيا که د ډوډۍ راويسته هغه وسوځله نو ده لره اجرت شته او ضمان نشته او اشپز لره له کتغ راويستلو وروسته او خښتې جوړونکي لره د خښتو دريدلو وروسته .

**تشريح** :(۶)موجر يوائې دعقد اجاره په انعقاد سره داجرت مالک نه کيږي ځکه دعقد حکم د منفعت له ظاهر کيدو وروسته وي او په اجاره کې دعقد په وخت منفعت موجود نه وي نو په نفس عقد سره موجر داجرت مالک نه ګرځي بلکې دڅلور وشيانو ځخه ديوه په وجود سره موجر داجرت مستحق ګرځي : **نمبر-۱** چې مستاجر بغير شرط خپله اجرت پيشگي ورکړي مثلا يوه کمپنۍ خپله ملازمينو ته دمياشتي په شروع کې پيشگي تنخواه ورکړي نو ملازم داجرت مالک ګرځي په دي صورت کې داجرت دمالک کيدو معنى داده چې مستاجر له هغه ځخه اجرت واپس نه شي اخيستلاى **نمبر - ۲** دعقد په وخت آجر داجرت د پيشگي اخيستل شرط کړي نو د شرط په وجه داجرت تسليمول واجبيږي ،هسي خود برابري لپاره حکم دادى چې کله معقود عليه حاصل کړي نو اجرت به ورکوي خو چې کله هغه پيشگي ورکړي يا يې د پيشگي ورکول شرط کړ نو مساوات چې د مستاجر حق وو هغه خپله باطل کړ نو د معقود عليه تر حاصلولو مخکې موجر داجرت مالک ګرځي . **نمبر - ۳** مستاجر چې معقود عليه يعنې منفعت حاصل کړي نو هم موجر داجرت مستحق ګرځي ځکه داعقد معاوضه دى نو چې کله مستاجر منفعت حاصل کړي بدل يې واجبيږي .**نمبر - ۴** مستاجر چې کله د منفعت پر حاصلولو قادر شي نو هم موجر داجرت مستحق کيږي ځکه پر شي باندي قدرت پيدا کول بعينه د هغه شي قائم مقام کيږي نو ګواکي مستاجر پوره نفع حاصله کړه .

(۷) بيا که په اجرت اخيستل شوى شى له مستاجر ځخه غصب کړاى شي نو که داجارې په موده کې د منفعت تر حصول مخکې غصب کړاى شى کل اجرت ساقطيږي او که په بعض موده کې غصب کړاى شي نو بعض اجرت ساقطيږي ځکه د مستاجر د حصول منفعت تمکن ختم شو .

(۸) د ځمکې او مکان خاوند لره هره ورځ داجرت د طلبولو حق شته يعنې چاچې مکان کرايه کړى وي يا يې ځمکه کرايه کړې وي نو آجر لره هره ورځ داجرت د طلبولو حق شته په دي شرط چې داجرت داستحقاق وخت يې نه وي بيان کړى ولى هره ورځ او سيدل منفعت مقصوده دى ،البته که مستاجر دعقد په وخت داجرت داستحقاق کوم معلوم وخت متعين کړى وو مثلا چې سراى يې کرايه کاوه ورته ويلي يې وو چې داشرط دى چې ددوو مياشتو په پوره کيدو سره به اجرت درکوم بيا آجر يوائې هغه وخت (يعنې دوې مياشتې وروسته )داجرت مطالبه کولاى شي تر هغه مخکې يې نه شي کولاى .

(۹)قوله وللجمال كلّ مرحلة اى ولصاحب الحمل ان يطالب الاجرة كلّ مرحلة،يعني كه چامثلاً وبن ترمكي مكرمي پوري كرايه كړی ؤونو داوبن خاوندلره پرهرمزله باندي داجرت دطلبولو حق شته ځكه هرمزل طی كول منفعت مقصوده دی ،امام ابوحنيفة رحمه الله مخكي په دي قائل ووچي دمودي ترتيريدو اودسفرترپای ته رسيدومخكي آجرداجرت دمطالبې حقدارنه دی بيايې مذكورقول ته رجوع وكړه .

**فائده** :نن سبادسفرلپاره اورګاډي اوبسونه استعماليږي اوعام معمول دادی چې په دي كې ترسفركولو مخكي اجرت دټكټ په شكل وصوليږي ددغه ټكټ حيثيت داجاره وثيقه دی داګوياددي خبرې سنددی چې ماكرايه اداكړه ځكه نومالره په دي كې دسفركولوحق شته دعامې اجارې اودغې معاملې ترمنځ يواځي دومره فرق دی چې دلته اجرت يعنې كرايه مخكي نه وصول كيږي چې په نظم كې سهولت وي .

په بس اواورګاډي كې اصل آجردبس مالک اوحكومت وي مسافرين دكرايه دارانواومستاجرينو حيثيت لري ټكټ وركوونكي دحكومت وكيل وي چې كله داخبره معلومه شوه چې حكومت دبغيرټكټ دسفركولواجازه نه ده وركړي نواوس په هيڅ صورت كې بغيرټكټ سفركول صحيح نه دی كه څه هم داورګاډي اوبس ذمه واران بغيرټكټ دتلواجازه وركړي له ټكټ بغيرسفر،سفرمعصيت دی اودغاصب حيثيت لري . (ماخوذازجديدفقهی مسائل :۱/ ۲۷۳)

(۱۰)قوله وللقصاروالخياط بعدالفراغ عن عمله اى وللقصاروالخياط ان يطالب الاجرة بعدالفراغ عن عمله،يعني دوبي اودرزي چې كله دعمل څخه فارغ شي بياداجرت دطلبولو حق لري ترڅوچې دمعقودعليه عمل څخه فارغ نه شي داجرت مستحق نه ګرځي ځكه ددوبي اودرزي بعض عمل دمستاجرلپاره دانتفاع قابل نه دی ځكه نوبعض عمل داجرت موجب نه دی مګرداكه په وخت دعقدكې يې داشرط كړی وي چې اجرت به دعمل ترتكميل كيدومخكي راكوي نودشرط په وجه بيادی دعمل ترتكميل مخكي داجرت مستحق ګرځي .

(۱۱)قوله وللخباز بعداخراج الخبزمن التنوراى وللخبازان يطالب الاجرة بعداخراج الخبزمن التنور،يعني كه يوچانانوای په مزدوري راووست چې دمستاجرپه كوركې كبنيني اوديوه درهم په عوض څودوډۍ پخې كړي نوچې ترڅوپوري يې ډوډۍ له تنورڅخه راويستلي نه وي داجرت مستحق نه ګرځي ځكه ددي عمل تكميل هغه وخت راځي چې ډوډۍ له تنورڅخه راوباسي اودعمل ترتكميل مخكي داجرت مستحق نه ګرځي كمامر .

(۱۲)اوكه نانوای له تنورڅخه ډوډۍ راوايستلې بياهغه ډوډۍ دده له عمل بغيروسوځل شوې نودی دخپل اجرت مستحق ګرځي ځكه ده دمستاجرپه كوركې كاركړی دی هغه معقودعليه كار مستاجرته سپارل شوی دی اونانوای ددي تاوان هم نه ضامن كيږي ولی دده له طرفه هيڅ جرم نه دی راغلی ډوډۍ دده له فعل بغيروسوځل شوي .

(۱۳)قوله وللطباخ بعدالغرف اى للطباخ ان يطالب الاجرة بعدالغرف،يعني كه يوچاآشپزپه مزدوري راووست چې دواده ديګونه پاخه كړي نوله ديګ څخه كتغ راويستل پليټونه ډكول داشپزذمه ده ځكه ددي عمل تكميل دپليټونوپه ډكوالي سره راځي اوداخبره مخكي تيره شوه چې دعمل ترتكميل مخكي موجرداجرت مستحق نه ګرځي .

(۱۴) قوله واللبان بعدالاقامة اى وللذى يتخذاللبن من الطين ان يطالب الاجرة بعدمااقام اللبن. يعنې كه يوچا خښتې جوړونكى دخښتو ايستلو لپاره په مزدوري بوت نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد چې كله خښتې وچې شي ويې دروي بيا اجير داجرت مستحق ګرځي ځكه داعمل دخښتو په درولو سره تاميږي، او دصاحبينو رحمهما الله په نزد چې كله اجير خښتې يوه پربله سره ووډي تكيه يې كړي بيا داجرت مستحق دى ځكه دخښتو په وډلو سره داعمل تكميږي و.

**فائده** :دصاحبينو رحمهما الله قول راجح دى لمافى الدّرالمختار: وقالابعدتشريجه اى جعل بعضه على بعض وبقولهمايفتى ابن كمال معزياللعيون: وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وقولهمااستحسان زيلعى سبب كونه المفتى به. (الدرالمختارمع الشامية :۵/ ۱۲) داختلاف ثمره په هغه صورت كې معلوميږي چې كه تر وډلو مخكې خښتې ضائع شي نو دامام صاحب رحمه الله په نزد دمستاجر له مال څخه دي او دصاحبينو رحمهما الله په نزد داجير له مال څخه ضائع شمارل كيږي.

(۱۵) ومن لعمله أثر فى العين كالصباغ والقصار يحبسها للأجر (۱۶) فان حبس فضاع فلاضمان ولا أجر (۱۷) ومن لا أثر لعمله كالحمال والملاح لايحبس للاجر (۱۸) ولايستعمل غيره ان شرط عمله بنفسه (۱۹) وان أطلقه له أن يستاجر غيره (۲۰) وان استاجره ليجيء بعياله ومات بعضهم فجاء بمن بقى فله اجره بحسابه (۲۱) ولا أجر لحامل الكتاب للجواب (۲۲) أو لحامل الطعام ان رده للموت.

**ترجمه** :دچاچې عمل لره اثر په عين شي كې وي لكه رنګريز او دوبي هغه ګرځولاى شي هغه شى دمزدوري لپاره بيا كه يې وګرځاوه او هغه ضائع شو نو ضمان نشته او نه مزدوري شته او دچاچې دعمل اثر په شي كې نه وي لكه پلنډي او كښتۍ وان هغه نه شي ګرځولاى شى دمزدوري لپاره او كار به په غير نه كوي كه يې شرط كړى وو كار كول په ده سره او كه يې مطلق وركړى وو نو هغه لره جائز دى چې غير ته يې په كرايه وركړي او كه يې څوك مزدور كړى وو چې دده كورنۍ راولي بيا له هغو څخه ځينى كسان مړه شول مزدور هغه باقي كسان راوستل نو ده لره اجر شته په هغه حساب سره او اجرت نشته دخط دجواب وړونكي لره يادخوراك وړونكي ته كه يې هغه رد كړى وو دمكتوب اليه دمرګ په وجه.

**تشريح** :(۱۵) هر هغه اجير چې كار يې په عين شي كې اثرلري چې په هغه شي كې دده دعمل اثر ښكاريږي لكه رنګريز يا دوبي نو داسي اجير دخپلې مزدورۍ دوصول لپاره هغه شى مثلاً كپړه ګرځولاى شي ځكه معقود عليه وصف قائم فى الثوب دى نو دى دبدل دوصول لپاره كپړه ګرځولاى شي.

(۱۶) بيا كه مزدور هغه شى وګرځاوه له ګرځيدو وروسته هغه شى هلاك شي نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد مزدور ضامن نه ګرځي ځكه دهغه له طرفه هيڅ تعدّى نه ده راغلې نو لكه څرنګه چې هغه شى پخوا امانت وو هم هغسې پاتې دى خو مزدور ته اجرت نه وركول كيږي ځكه معقود عليه تر تسليميدو مخكې هلاك شوى دى.

**فائده** :دصاحبينو رحمهما الله په نزد څرنګه چې شى تر ګرځولو مخكې مضمون وو وروسته هم مضمون ګرځي البته مالك ته اختيار دى كه غواړي دهغه شى دقيمت هغه تاوان دي واخلي چې تر عمل مخكې وو او اجرت دي نه وركوي او كه يې خوښه وي هغه تاوان دي واخلي چې تر عمل وروسته وي او مزدوري دي وركړي.

(۱۷) هر هغه اجير چې عمل لره يې اثر په عين شي كې نه وي نو داجرت دوصولولو لپاره شى نه

شي ګرځولای لکه پلنډي او ملاح (کښتۍ وان) ځکه معقود عليه نفس عمل دی (يعني بار پورته کول) او هغه په عين شي کې قائم نه دی نو دهغه ګرځول متصور نه دی نه دګرځولو حق نه لري بيا که له ګرځولو وروسته هلاک شونو ګرځوونکی دغاصب په شان ضامن ګرځي.

(١٨) که مستاجر پر کاريګر باندي دا شرط ايښی وو چې کار به خپله کوي مثلا ورته ويې ويل اعمل بنفسک ولاتعمل بيد غيرک .نو بيا کاريګر لره دا اختيار نشته چې په بل سره کار وکړي بلکې خپله به يې کوي ځکه مستاجر له هغه بغير د بل چا په کار باندي راضي نه دی نو که ده هغه کار په بل سره وکړ دی داجرت مستحق نه کيږي.

(١٩) او که مستاجر د کاريګر لپاره عمل مطلق پريښودنو دی هغه کار خپله هم کولای شي او دهغه لپاره مزدور هم نيولای شي ځکه دا جير پر ذمه کار واجب دی چې خپله دی يې هم پوره کولای شي او له بل ځخه هم کار اخيستلای شي لکه دقرض اداکول چې خپله يې اداکړي يا يې دوکيل په ذريعه اداکړي دواړه طريقې جائزي دي.

(٢٠) که مستاجر يو سړی په دې مزدور کړ چې مثلا مستونګ ته ولاړ شي زما اهل خانه کوټې ته راولي مزدور چې هلته ولاړ ی معلومه شوه چې دمستاجر د کورنۍ ځو کسان مړه شوي دي هغه باقي مانده راوستل نو چې ځو مړه کسان يې راوستلي دي دهغه مزدوري په هغه حساب سره ورکوله کيږي مثلا ټول لس کسان وو پنځه مړه شوي دي نو نيمه مزدوري به ورکوله کيږي ځکه هغه بعض معقود عليه پوره کړی دی دهغو مره عوض مستحق ګرځي مګر دا هغه وخت چې اجير ته دهغه تعداد مخکې ور معلوم کړي که نه بيا پوره اجور کول کيږي.

(٢١) زيد يو سړی د دې لپاره مزدور کړی وو چې دده خط بکر ته يوسي او دهغه جواب راوړي بيا دا سې وشول چې کله مزدور بکر ته ورسيد هغه مړ شوی وو ځکه مزدور خط واپس راووړ نو دشيخينو رحمهما الله په نزد مزدور ته هيڅ مزدوري نه ورکوله کيږي ځکه معقود عليه خط وړل او بيرته واپس راوړل دی دا چې کله ده خط واپس راووړ د خط جواب يې نه دی راوړی نو معقود عليه فوت شو ځکه داجرت مستحق نه ګرځي .دامام محمد رحمه الله په نزد ديوه طرف وړلو مزدوري ورکوله کيږي ځکه اجرت دتلو او راتلو دمشقت عوض دی دخط وړلو عوض نه دی ځکه دخط وړل خو هيڅ مشقت نه دی نو ده نيم کار کړی دی ځکه دنصف اجرت مستحق ګرځي.

**فائده** :متونو دصاحبينو رحمهما الله قول اختيار کړی دی چې د دوئ دقول دراجح کيدو علامه ده مګر عرف دامام محمد رحمه الله دقول مؤيد دی نو د دواړو قولينو تر منځ تطبيق داسې دی چې که معقود عليه خط وړل او له هغه طرفه جواب راوړل وو نو دشيخينو رحمهما الله قول راجح دی او که معقود عليه تګ راتګ وو نو دامام محمد رحمه الله قول راجح دی کما قال المفتي غلام قادر النعماني حفظه الله تعالى :القول الراجح هو تطبيق بين القولين لان قول الشيخين رحمهما الله قول المتون و العرف يؤيد قول محمد رحمه الله .فان كان المعقود عليه نقل الكتاب و الرجوع بالجواب فالعمل على قول الشيخين رحمهما الله و ان كان المعقود عليه هو الذهاب و الرجوع فالعمل على قول محمد رحمه الله .(القول الراجح: ٢/ ٢٢٢)

(۲۲)يا يې ددي لپاره مزدورنيولی وو چې له کوره دفلان لپاره ډوډۍ راوړسوي مزدورپه داسي حال کې ډوډۍ راوړسوله چې مرسل اليه مړشوی وو، مزدورډوډۍ بيرته واپس راوړه نوپه اتفاق سره اجرت نه ورکول کيږي، وجه دفرق يې داده چې دکوم شي په وړتګ کې محنت او مشقت نه وي لکه دخط وړل نوپه هغه کې دامام محمد رحمه الله په نزدمعقودعليه قطع مسافت ده نوپه لومړي صورت کې معقودعليه پيداشوی دی ځکه دی داجرت مستحق ګرځي اوپه کوم شي کې چې مشقت وي لکه ډوډۍ وړل په دي کې معقودعليه ترمرسل اليه پوري دهغه شي وررسول دی نوپه دوهم صورت کې معقودعليه نه دی موجودشوی ځکه داجرت مستحق نه ګرځي اودشيخينو رحمهما الله په نزدپه دواړوصورتونوکې معقودعليه ترمرسل اليه پوري دهغه شي رسول دی چې په دواړوصورتونوکې نه دی موجودشوی ځکه داجرت مستحق نه ګرځي.

## باب مايجوز من الاجارة ومايكون خلافا فيها

داباب دهغواجاروپه بيان کې دی چې جائزدي اوپه کوموکې چې اختلاف دی

تردی مخکي مصنف رحمه الله داجاري مقدمات ذکرکړل ياځرنګه چې اجاره دري قسمه ده :جائز،مختلف فيه اوفاسده ،مصنف رحمه الله ددولومړيوقسمينواحکام بيان کړي دي ددريم قسم تفصيل يې مخته په مستقل باب کې بيان کړی دی.

(۱)صَحَّ اِجَارَةُ الدُّوْرِ وَالْحَوَانِيتِ بِلَابَيَانِ مَايُعْمَلُ فِيهِمَا وَلَهُ اَنْ يَعْمَلَ كُلَّ شَيْئٍ اِلَّااَنَّهُ لَايُسْكِنُ حَدَّادًا اَوْ قَصَّارًا اَوْ طَحَّانًا (۲) وَالْاَرَاضِي لِلزِّرَاعَةِ (۳) اِنْ بَيَّنَ مَايَزْرَعُ فِيهَا اَوْ قَالَ عَلٰى اَنْ يَزْرَعَ مَاشَاءَ (۴) وَلِلْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ فَاِنْ مَضَتِ الْمُدَّةُ قَلَعَهُمَا وَسَلَّمَهَا فَارِغَةً (۵) اِلَّا اَنْ يَغْرَمَ الْمُوجِرُ قِيمَتَهُ مَقْلُوعًا وَيَتَمَلَّكَهُ اَوْ يَرْضٰى بِتَرْكِهِ فَيَكُونُ الْبِنَاءُ وَالشَّجَرُ لِهٰذَا وَالْاَرْضُ لِهٰذَا (۶) وَالرَّطْبَةُ كَالشَّجَرَةِ

**ترجمه** :صحيح دی دسرايواودکانوکرايه کول بغيربيان دهغوکارونوچې په هغوکې کيږي اوهغه ته جائزدی چې په هغوکې هرکاروکړي مګرنه شي پکې اوسيدلای پښ اودوبي اوژرندي والااوصحيح ده دځمکي کرايه کول دکښت لپاره که يې بيان کړهغه شی چې په ځمکه يې کري ياپې ورته وويل چې ويې کره څه چې ستاخوښه وي اودآبادي جوړولواودرختولګولولپاره که موده تيره شوه نوهغه دي وباسي ځمکه دي فارغه کړي ورته ودي سپاري مګرداکه موجردهغه قيمت ورکړي په داسي حال چې ختلي وي اودهغومالک وګرځي ياراضي شي دهغوپرترک باندي ياآبادي اودرختي دهغه کيږي اوځمکه دده کيږي اورطبی ددرختي په شان دي.

**تشريح** :(۱)سرايونه اودکانونه کرايه کول جائزدی که څه هم بيان ونکړي چې په دي کې څه کارکوو ځکه متعارف عمل په دي کې اوسيدل دی نوداکرايه کول داوسيدولپاره وي اوپه اوسيدلوکې تفاوت نشته ځکه نوداعقدصحيح دی بلکې مستاجرپه هغوکې هرکارکولای شي ولی داعقدمطلق دی موجرکوم خاص کارکول شرط کړی نه دی مګرپښ اودوبي اودلويه ژرندي والاپه هغه کې نه شي اوسيدلای ځکه په دي

كارونو سره عمارت كمزوري كيږي البته كه په عقد كې دا شرط ولګوي چې په دي كې له مذكورو كارونو څخه يو كار كوم بيا جائز دی ولی په دي صورت كې د دكان مالك راضي دی.

**فائده**: نن سبا د سرايونو او دكانونو، عام رواج ګرځيدلی دی چې يونوم يې حق قرار هم دی ډيرو ختونه د سرای مالك يا د دكان مالك خپل سرای يا دكان ډيرې مودې لپاره په كرايه وركوي اوله كرايې علاوه څه پيسې پريوه ځای اخلي (ايډوانس) كرايه دار چې پريوه ځای روپۍ وركړي د دي حقدار كيږي چې دا كرايه دار تر ډيره وخته تر ژونده پوري باقی وساتي ډير ځله كرايه دار خپل حق بل كرايه دار ته منتقل كوي اوله هغه څخه پريوه ځای روپۍ وصولوي او دي معاملې ته په عرف كې ايډوانس ويل كيږي بيا د روپو ادا كولو وروسته هغه بل سړی د سرای او دكان له مالك څخه د عقد اجاره حقدار ګرځي ياكه چيرته د سرای يا دكان مالك له كرايه دار څخه سرای او دكان بيرته واپس اخلي نو د هغه پر ذمه لازمه ده چې كرايه دار ته دومره روپۍ وركړي چې پر هغه دواړه سره راضي شي دغه پريوه ځای چې روپۍ اخلي دي ته په مختلفو عربي هيوادو كې خلو، ويل كيږي چې په پاكستان او هندوستان كې (ايډوانس) يا سلامی ورته وايې د دي څه حكم دی دا اخيستل جائز دی كه نا جائز؟

شرعاً الين دين دواړه نا جائز دي ځكه دا روپۍ يا رشوت دی يا د مجرد حق عوض دی كه يوچا داسي معامله وكړه نو دواړه فريق دي توبه وباسي او دا روپۍ دي واپس كړي دا پر لازم دی قال العلامة الصابونیؒ: اذا انتهت مدة الاجّارة فعلى المستاجر ان يسلمها لصاحبها وليس له حق فی ان يخليها لغيره على ان ياخذ منه مبلغا فی نظير الاخلاء كما يفعله بعض الناس اليوم لان ملك الدار او الدكان لصاحبها المالك وهذا الذی يسميه الناس حق الخلو او حق نقل القدم ليس بالامر الشرعی. (جديد معاملات كی شرعی احكام: ۱/ ۲۱۹)

**فائده**: د مولانا خالد سيف الله رحمانی صاحب په باره كې موږ مخكي ويلي وو چې نوموړی په ډيرو مسائلو كې نرمي اختيار وي له هغو څخه يو ه داد (ايډوانس) مسئله ده ديوې درازې مقالې په پای كې مولانا صاحب ليكي: د دغو تفصيلاتو په رڼا كې زما رايه داده ۱- چې حق خلو چې د حق قبضه څخه عبارت دی يو مستقل حق دی او د هغو حقوقو له جملې څخه دی چې خريد و فروخت يې كيدای شي ۲- كه د سرای مالك له كرايه دار څخه پيشګي روپۍ اخلي نو دی حق د قبض خرڅوي او بيا د سرای خريدار د سرای مالك ګرځي چاته چې يې غواړي په كوم قيمت چې يې زړه غواړي خرڅولای يې شي خپله پر مالك يا پر بل كرايه دار باندي ۳- له دي سره ماهانه كرايه له قبضی سره سره له دي سرای نه د انتفاع عوض دی چې د سرای مالك يې د مالك په حيث حقدار دی.

له دي څخه دا خبره معلومه شوه چې په كوموصورتونو كې چې كرايه دار اصل مالك ته ايډوانس نه دی وركړی په هغو صورتونو كې دی د معاهدې مطابق يواځي د انتفاع حق لري چې د هغه عوض د كرايه په نامه سره ادا كولای شي دی د حق قبضه مالك نه دی چې پر بل چا يې خرڅ كړي يا يې خپله د سرای مالك ته حواله كړي قيمت يې حاصل كړي دا د فقير شخصی رايه ده په كومه كې چې د حيلو او تاويلاتو پر ځای د حقائقو او واقعاتو په بناء حق خلو يو مستقل او قابل خريد و فروخت حق او له قبيلې د مال څخه شمار كړای شوی دی. (جديد فقهی مسائل: ۴/ ۱۴۳)

(۲)قوله والاراضي للزراعة اى وصح اجارة الاراضي للزراعة.يعني ځمكې دزراعت لپاره په كرايه اخستل جائزدي ځكه زراعت دځمكي منفعت مقصوده او معهوده دى، او س مستاجرلره دځمكې داوبيدواوبه اودتګ راتګ لاره ورکوله کيږي كه څه هم دعقدپه دوران كې داشرط ونه لګوي ځكه اجاره دانتفاع لپاره منعقد كيږي چې انتفاع له ځمكې نه بغيرداوبواولاري ممكنه نه ده .

(۳)البته څمكه چې دزراعت لپاره كرايه كوي ددي شي بيان ضروري دى كوم چې مستاجريې په ځمكه كري كه نه بيا عقداجاره نه صحيح كيږي ځكه په ځمكه كې دكرلوشيان متفاوت وي ځينې يې دځمكې لپاره مضروي نوتعين ضروري دى چې بيامفضى ونزاع ته نه شي البته كه آجروويل چې په دي ځمكه چې ته كوم شى ته كرې ويې كره بيا چې دمستاجرخوښه وي هغه شى پري كرلاى شي بيامفضي وجنجال ته نه كيږي.

(۴)قوله وللبناء والغرس اي وصح اجارة الاراضى للبناء والغرس.يعني خالى ځمكه دآبادي جوړولويادرختولګولولپاره كرايه كول جائزدى بيادموديې له ختميدووروسته كه چيرته موجرد آبادي اودرختوپرترک باندي راضي نه وونومستاجردي خپله آبادي ړنګه كړي درختې دي وكاږي خالي ځمكه دي موجرته حواله كړي ځكه دآبادي اودرختوهيڅ انتهاء نشته نوپه قرارپاتى كيدوكې دځمكې ضررد ى نوله مالک څخه ددفع ضررلپاره مستاجرته دخپلې آبادي اودرختوكښلوحكم وكړاى شي .

(۵)البته كه دځمكې مالک مستاجرته دړنګوشويوآباديواوختلودرختودقيمت پرورکولو باندي راضي شي نوداجائزدى اوله قيمت وركولووروسته دځمكې مالک دآبادي اودرختومالک ګرځي.اوكه دځمكې مالک دمستاجردآبادي اودرختو پر خپله ځمكه باندي پربرقرارساتلوباندي راضي شونوداهم جائزدى ځكه حق دځمكې دمالک دى نوده لره اختيارشته چې خپل حق حاصل نه كري اوپه دي صورت كې دځمكې مالک ګرځي آبادي اودرختي دمستاجركيږي اودځمكې مالک خپله ځمكه ددرختومالک ته عاريةً وركوونكى دى .

(۶)اودرطبه هغه حكم دى كوم چې ددرختودى يعني چې كله موده پوره شي نوهغه به كاږي ځكه درطاب ريښې ترډيره وخته وي نوپه يوخل كرلوسره ترډيره وخته پوري پاتيږي نوددرختوپه شان ددي هم هيڅ انتها، نشته په پاتى كيدوكې يې دځمكې دمالک ضررد ى ځكه دكښلوحكم وركول كيږي

رطبه يوقسم نرم وابنه دى چې په فارسي كې سپستي اوپه پښتوكې شپيشتې يا (رشكه) ويل كيږي .

(۷)والزرع يترک باجر المثل الى ان يدرک (۸)والدابة للركوب والحمل والثوب للبس فان اطلق ازكب والبس من شاء (۹)وان قيدبراكب او لابس فخالف ضمن ومثله مايختلف بالمستعمل (۱۰)ومالايختلف به بطل تقييده كمالوشرط سكنى واحدله ان يسكن غيره (۱۱)وان سمى نوعاًوقدراًككزبرله حمل مثله واخف لااضرّكالملح.

**ترجمه** :اوكښت پريښودل كيږي په اجرمثل سره ترهغه پورې چې پخيږي اوصحيح دى حيوان اجاره كول دسوريدولپاره يادبار وړلولپاره اوكپړه داغوستلولپاره بيا كه يې مطلق پريښې وونوسپوردي كړي اوورواديي غوندي هرڅاته چې دده خوښه وي اوكه يې مقيد كړى وودېوچاپه سوريدوسره يادېوچاپه

آغوستلوسره بیامخالفت وکړي نودی ضامن کیږی همدارنګه هغه شیان دي چې مختلف کیږي داستعمالوونکي په مختلف کیدوسره اوهغه شیان چې نه مختلف کیږي داستعمالوونکي په مختلف کیدوسره دهغوتقیید باطل دی لکه چې شرط کړي دیوچا اوسیدل په سرای کې نوده لره جائزدی چې بل چاته یې ورکړي اوکه یې معین کړه نوع یامقدارلکه یوه پیمانه غنم نوده لره جائزدی دهغه په شان شی راوړل یاترهغه خفیف نه ترهغه زیات مضرشی لکه مالګه.

**تشریح**:(۷)یوچاڅمکه دکښت لپاره ترمعلومې مودې پورې کرایه کړه بیامووده داجارې تیره شوه خوکښت لاپوخ شوی نه دی نوکښت به په اجرت مثل سره ترپخیدوپورې پرڅمکه باندې پریږدي څکه دکښت دپخیدویوه انتهاء معلومه ده نوترپخیدوپورې پرڅمکه باندې په پریښودلوکې دجانبینورعایت دی په دې ډول چې دڅمکې مالک ته به کرایه ورکوله شي اومستاجرته به خپل کښت وربوخ شي.

(۸)قوله والدابة للركوب ای صح اجارة الدابة للركوب الخ ،یعني حیوانان دسوریدویابارورلولپاره په کرایه بیول جائزدی څکه اجاره دیوشي پرعین منفعت مقصوده باندې منعقده کیږي اوحیوان ترمعلومې مودې پورې کرایه کول منفعت معلومه مقصوده دی بیاکه یې عقدمطلق کړی ووډیومعلوم شخص سپریدل یې شرط کړی نه وونومستاجر هرڅوک پرې سورلای شي داطلاق عقدپه وجه سره همدارنګه که یې کپړه دآغوستلولپاره کرایه کړې وه اوعقدمطلق شوی ووډیومعلوم سړي اغوستل یې شرط کړی نه وونودډې هم هغه حکم دی چې مستاجریې هرچاته ورکولای شي.

(۹)اوکه موجرداشرط لګولی ووچې فلان معلوم شخص به پرې سوریږي یافلان معلوم شخص به یې آغوندي بیاکه مستاجرکوم بل څوک پرحیوان باندې سپورکړیایې بل چاته جامه دآغوستلولپاره ورکړه بیاکه دغه حیوان هلاک شویاکپړه ورکه شوه نومستاجرضامن کیږي څکه خلک په سپریدلو اوآغوستلوکې مفتاوت وي نوتعین صحیح دی اومستاجرلره تجاوزکول ناجائزدی ،همداحکم په هرهغه شي کې دی چې داستعمالوونکي په اختلاف سره مختلف کیږي مثلا یوچاخیمه مستاجرته په کرایه ورکړه بیامستاجربل چاته داوسیدولپاره عاریة ورکړه بیاکه تلف شوه نومستاجرضامن کیږي لماقلنا.

(۱۰)البته هغه شیان چې داستعمالوونکي په اختلاف سره نه مختلف کیږي مثلاپه سرای یادکان کې یوڅوک اوسیدل ددغوشیانوحکم دادی چې که موجردیومعلوم سړي سکونت شرط کړی ووبیاهم مستاجرکولای شي چې بل چاته یې ورکړي څکه په سرای کې داوسیدوپه باره کې خلک تفاوت نه لري نومستاجریې هرچاته ورکولای شي البته کوم خلک چې تعمیرته تاوان رسوي لکه پښ وغیره هغه دعرف په وجه له دي څخه خارج دي چې تفصیل یې مخکې تیرشوی دی.

(۱۱)که یوچاحیوان کرایه کړی ووچې پردې باندې باررواړم اودبارنوع اومقداریې بیان کړمثلادوې پیمانې غنم راوړم نومستاجرپرهغه باندې هرهغه شی راوړای شي چې په مشقت کې دغنموپه شان وي لکه اوربشې یاداچې ترغنموهم کم وزنه وي لکه یوقسم زنې چې تیل ورڅخه وزي څکه په غنمواواوربشوکې کوم تفاوت نشته اوزنې خوترغنمولاکم وزنه دي نوداتراجازه لاندې داخل دي البته

داسي شیان چې په وزن کې تر غنمو زیات وي مثلا لکه مالګه، اوسپنه، پیتل وغیره هغو دراولو اجازه نشته ځکه په هغو کې مشقت زیات دی چې مالک نه په راضي کیږي نو قاعده داده چې کوم څوک دعقد په وجه دیو معلوم منفعت مستحق ګرځي هغه دغه منفعت یادغه قسم منفعت یا تر هغه کم منفعت حاصلولای شي مګر تر هغه زیات منفعت حاصلول دهغه لپاره ناجائز دی.

(۱۲) وَإِنْ عَطِبَتْ بِالْإِرْدَافِ ضَمِنَ النِّصْفَ (۱۳) وَبِالزِّيَادَةِ عَلَى الْحَمْلِ الْمُسَمَّى مَا زَادَ (۱۴) وَبِالضَّرْبِ وَالْكَبْحِ (۱۵) وَنَزْعِ السَّرْجِ وَالْإِيكَافِ وَالْإِسْرَاجِ بِمَا لَا يُسْرَجُ بِمِثْلِهِ (۱۶) وَسُلُوكِ طَرِيقٍ غَيْرِ مَا عَيَّنَهُ وَتَفَاوَتَا (۱۷) وَحَمْلِهِ فِي الْبَحْرِ الْكُلَّ وَإِنْ بَلَغَ فَلَهُ الْأَجْرُ (۱۸) وَبِزَرْعِ رَطْبَةٍ وَأَذِنَ بِالْبُرِّ مَا نَقَصَ وَلَا أَجْرَ (۱۹) وَبِخِيَاطَةِ قَبَاءٍ وَأَمَرَ بِقَمِيصٍ قِيمَةُ ثَوْبِهِ وَلَهُ أَخْذُ الْقَبَاءِ وَدَفْعُ أَجْرِ مِثْلِهِ.

**ترجمه**: که حیوان هلاک شو په سواري سور ولو سره نو د نصف ضامن ګرځي او تر معین بار زیات بار ورولو سره ضامن ګرځي په زیادت سره او په وهلو او قیضه کشولو سره د ځین په لیري کولو او په کته یا (ځل) ترلو سره او په داسي ځین سره چې هغه قسم ځین نه پري بنودل کیږي او پر لاره تلل له معلومې لارې بغیر چې ددواړو لارو ترمنځ تفاوت وي او په دریاب کې په بارولو سره د ټول ضامن ګرځي او که یې ورساوه اجرت ورکول کیږي او د شپیشتو په کرلو سره چې دغنمو اجازه یې ورکړې وي د نقصان ضامن ګرځي او اجرت نه ورکول کیږي او په قباء ګنډلو سره چې د قمیص جوړولو امر یې ورته کړی وي ضامن ګرځي د کپړې د قیمت او دا هم ورته جائز دی چې قباء واخلي او دهغې اجرت مثل ورکړي.

**تشریح**: (۱۲) که یې حیوان د سوریدو لپاره کرایه کړی وو بیاده پخپل ځان پسې بل سواري هم سپور کړ او حیوان هلاک شو نو مستاجر د نصف قیمت ضامن ګرځي بوج ته اعتبار نه ورکول کیږي مثلا داډول به ورته وایې چې د مستاجر وزن مثلا یوه برخه دی او د بل سواري وزن دوه برخه دی نو ضمان هم دوې برخې کیږي ځکه کله د سواري د ناقابلیت په وجه وزن نه لري خو بیا هم حیوان زخمي کوي او کله بیا یو انسان ډیر وزن لري خو د تجربه کاري په وجه پر حیوان باندي سپک وي لیکن دا هغه وخت چې کله حیوان د دواړو طاقت درلودی او که یې د دواړو طاقت نه درلودنو د هلاکت په صورت کې د کل قیمت ضامن کیږي.

(۱۳) قوله وبالزیادة علی الحمل الخ ای ان عطبت بالزیادة علی الحمل الخ، یعني که یې یو حیوان کرایه کړی وو دیو متعین مقدار بار راوړلو لپاره بیاده پر هغه باندي تر متعین مقدار زیات بار راوړو چې حیوان هلاک شو نو مستاجر د زیات بوج په انداز ضامن کیږي ځکه حیوان د ماذون او غیر ماذون بوج له مجموعي ځخه هلاک شو او سبب د هلاکت همدا بار دی نو ضمان پر دواړو باندي تقسیمیږي په دې شرط چې زیات بار د مسمی بار له جنس څخه وي او په حیوان کې د هغه قسم بار وړلو طاقت وي بیا که زیات بار د مسمی له جنس څخه نه وو یا دومره زیات وو چې حیوان دا قسم بار نه شي وړلای نو بیا د کل قیمت ضامن کیږي.

(۱۴) قوله وبالضرب ای ان عطبت الدابة بالضرب والکبح الخ، یعني که یې حیوان وواهه یا یې قیضه راکش کړه هغه هلاک شو نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد مستاجر د کل قیمت ضامن ګرځي او د صاحبینو رحمهما الله په نزد که په متعارفه طریقه سره یې کش کړي یا وو هي نو بیا نه ضامن کیږي ځکه متعارف په عقد مطلق کې داخل

دي چې دهغه اجازه دموجرله طرفه شوې ده امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې اجازه په سلامتي سره مقيده ده ولې دضرب وغيره بغيرهم ورل كيداى شي نودشرط دنه موجوديت په وجه مستاجرضامن كرځي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ قول راجح دى لماقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد رَحِمَهُ اللهُ :قوله وقالا لايضمن اذافعل فعلامتعارفاالخ وبقولهماقالت الائمة الثلاثة وعلى قوله جزت عامة المتون وعليه الفتوى كمافي الهندية وغيرها نعم قال في الدر المختار نقلاعن غاية البيان عن التتمة والاصح رجوع الامام الى قولهماالخ وانكررواية الرجوع شارحه ابن العابدين الشامي رَحِمَهُ اللهُ في هذه المسئلة فليتامل عندالفتوى (هامش الهداية ۲۹۷/۳)

(۱۵) كه يې حيوان له ځين سره كرايه كړيايې ځين ورځخه ليري كړاوداسي كته يا (ځل) يې وروتړله چې پرداقسم حيوان باندي نه تړل كيږي ياكه حيوان هلاک شونومستاجرضامن كيږي ځكه دمالک اجازه كتې اوځل ته شامله نه ده ولى كته اوځل دځين له جنس ځخه نه دي همدارنګه كه مستاجريوداسي ځين باندي كښينوده چې پردغه قسم حيوان باندي نه بنودل كيده مثلازيات وزني وواوياحيوان هلاک شونومستاجرضامن كرځي ځكه دمالک اجازه داسي ځين ته نه ده شامله نودمخالفت په وجه ضامن كرځي .

(۱۶) قوله وسلوک طريق غيرماعينه اى ان عطبت بسلوک طريق الخ،يعني كه مستاجريلنډي ته وويل چې زمادابار پرفلانی لاره باندي ترفلان ځايه پوري ورسوه هغه باريورته كړاوله معلومي لارې نه بغيرپربله لارولاړى نوكه ددواړولاروترمنځ فرق ووپه زيات وكم كې ياپه امن اوبي امني كې اودمستاجرمال هلاک شونويلنډي دټول مال ضامن كرځي ځكه مستاجرچې دخاصې لارې قيدلګولى ووهغه قيدمفيددى نوچې پلنډي دهغه مخالفت وكړضامن كرځي .

(۱۷) قوله وحمله في البحرالكل اى يضمن ايضابحمله في البحرالكل،يعني كه يوچامزدورددي لپاره كرايه كړى ووچې دمستاجرمال پروچه لاره باندي ورسوي مګرمزدورددرياب له لارې ولاړى نودهلاكت په صورت كې مزدوردټول مال ضامن كرځي ځكه دوچې اوبحري لارې ترمنځ ډيرفرق دى ليكن كه مزدورمال ترځيل منزل پوري ورساوه بيااجرت مستحق كرځي ځكه دمستاجرمقصودحاصل شولفظ دالكلّ چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ ويلى دى له وبالضرب ځخه بياتروحمله في البحرپوري ترټولومسائلوپوري متعلق دى .

(۱۸) قوله وبزرع رطبة الخ اى ويضمن بزرع رطبة الخ ،يعني كه مالک دځمكې په ځمكه كې دغنموكرلو اجازه وركړې وه مستاجرپه هغې باندي شپيشتې وكرلې په هغې سره چې ځمكې ته كوم نقصان ورسيددهغه مستاجرضامن كرځي ځكه په شپيشتوسره ځمكې ته زيات نقصان رسيږي ځكه دهغې ريښې په ځمكه كې خورېږي اوزيات اوبيدلوته ضرورت لري نوده له مالک ځخه داسي مخالفت وكړچې دمالک لپاره ډيرمضرهم دى ځكه ضامن كرځي اومالک ته دځمكې اجرت نه وركول كيږي ځكه دمخالفت په وجه مستاجراوس مستاجرنه دى پاتى بلكې غاصب شواوپرغاصب باندي اجرت نشته بلكې تاوان وي .

(۱۹) قوله وبخياطة قباء اى يضمن بخياطة قباء الخ ،يعني كه يوچادرزي ته كپړه وركړه ورته ويې ويل چې ديوه درهم په عوض له دي ځخه قميص راجوړكړه ،درزي له هغه ځخه قبا ، جوړه كړه نودكپړې مالک له درزي ځخه دخپلې كپړې دقيمت تاوان اخلي اوهغه ته دااختيارهم شته چې كه يې خوښه وي نوقبا ، دي واخلي درزي ته دي اجرت مثل وركړي ځكه قبا ، له يوه لحاظه قميص دى چې له هغې ځخه دقميص په شان نفع اخستله

كيداى شي او په يوه لحاظ له قميص نه مخالفه ده نو په قباء جوړيدو كې موافقت او مخالفت دواړه راځي ځكه مالک ته اختيار دى چې دا مخالفت وګڼي تاوان واخلي او يايې موافقت وګڼي قباء واخلي اجرت مثل ور كړي .

## باب الاجارة الفاسدة

داباب داجارې فاسدې په بيان كې دى

مصنف رحمه الله چې داجارې صحيحه له بيان څخه فارغ شونو داجاره فاسده بيان يې شروع كړ داجارې صحيحى دتقديم وجه ظاهره ده چې داهل اسلام په عقودو كې اصل صحت دى او فساد عارض دى او اصل احق بالتقديم دى .

(۱) يُفسِدُ الاجارةَ الشرطُ ولهُ أجرُ مِثلِه لا يُجاوزُ بِه المُسمّى (۲) فإن آجرَ دارًا كلَّ شهرٍ بدرهمٍ صحَّ في شهرٍ فقط إلّا أن يُسمّي الكلَّ (۳) وكلُّ شهرٍ سكنَ ساعةً منهُ صحَّ فيه (۴) وإن استأجرَ هاسنةً صحَّ وإن لم يُسمِّ أجرَ كلِّ شهرٍ (۵) وابتداءُ المدّةِ وقتُ العقدِ فإن كانَ حينَ يُهلُّ يُعتبرُ الاهلّةُ وإلّا فالايّام

**ترجمه** :شرط اجاره فاسدوي او دمزدور لپاره اجرت مثل دى چې زائد نه وي تر متعين مقدار پيا كه يې په اجرت وركړ سراى هره مياشت په يوه درهم نو صحيح كيږي يوائې په يوه مياشت كې مګر داكه يې بيان كړي ټولې مياشتې او په هره مياشت كې چې يو ساعتكى پاتى شو نو په هغى كې صحيح كيږي او كه يې سراى ديو كال لپاره كرايه كړ نو صحيح دى كه څه هم اجرت دهرې مياشتې بيان نه كړي او ابتداء دمودې دعقد له وخت څخه دى كه چيرته عقد هغه وخت شوى وو چې مياشت وليدله شوه نو اعتبار مياشتو لره دى كه نه بيا په ورځو حساب ورته كيږي .

**تشريح** :(۱) په كوموشرطونوسره چې بيع فاسديږي په هغوسره اجاره هم فاسديږي ځكه چې اجاره عقد معاوضه دى دبيع په شان فسخ كيږي اقاله قبلوي نو اجاره په منزله دبيع ده په كوموشرطونوسره چې بيع فاسديږي په هغوسره اجاره هم فاسديږي مراد هغه شرطونه دي چې دمقتضى عقد خلاف وي لكه پر اجير خاص باندې داشرط لګول چې دمال دهلاكت په صورت كې ته ضامن يې ،او داجارې دفاسد كيدو په صورت كې داجير لپاره اجرت مثل واجبيږي ليكن تر مسمّى زيات نه وركول كيږي په دې شرط چې مسمّى معلوم وي كه مسمّى زيات وي او كه كم وي ځكه پر مسمّى باندې دواړه راضي شوي دي .دامام زفر رحمه الله په نزد مسمّى واجبيږي هر څومره چې وي .

(۲) كه يو چا سراى دمياشتې په يوه درهم كرايه كړى وونو داعقد يوائې ديوې مياشتې لپاره صحيح كيږي ځكه دايوه مياشت يقيني معلومه ده نو په مذكور صورت كې په يوه مياشت كې اجاره صحيح كيږي په باقى مياشتو كې فاسديږي ځكه هغه مجهولې دي ،په دې سلسله كې قاعده داده چې

كلمه دكُل چې كله پريو داسي شي باندي داخله شي چې هيڅ انتهاء يې نه وي اوافر ديې دمعلوم نه وي نو دادمعلوم فردخواته راګرځي ځكه په عموم سره عمل كول متعذروي نويوه مياشت دځكه چې معلومه ده ځكه په هغې كې اجاره صحيح ده البته كه يې ټولې مياشتې بيان كړي مثلاً دپنځو مياشتولپاره هره مياشت په يوه درهم كرايه كوم نوبيا په ټولو كې صحيح كيږي ځكه مانع زائل شو ولې اوس موده معلومه شوه.

(۳)بياله يوې مياشتې وروسته كه دراتلونكې مياشتې په شروع كې مستاجر يوه ساعتكې لپاره په دكان كې پاتې شونو په هغې كې هم اجاره صحيح كيږي لهذا دمياشتې ترپايه پوري موجر مستاجر ايستلاى نه شي همدا حكم دهرې هغې مياشتې دى چې په اول كې يې مستاجر په كرايه شوي دكان كې پاتې شي ځكه دمستاجر دپاتې كيدو په وجه ددواړو رضامندي راځي چې په هغه سره عقد تاميږي.

(۴)كه يو چا دكال لپاره سراى مثلاً په لس درهمه كرايه كړنو داجائزدى كه څه هم دهرې مياشتې كرايه بيان نه كړي ځكه پر مياشتو باندي له تقسيم بغيرد ټولې مودې اجرت معلوم دى نو داداسي شو لكه يوڅوك ديوې مياشتې لپاره سراى په يوه درهم كرايه كړي نو داجائزدى كه څه هم دهرې ورځي كرايه بيان نه كړي.

(۵)داجارې دمودې ابتداء هغه وخت شمارله كيږي چې كله دمتعاقدينوترمنځ عقدوشي ځكه داجارې په حق كې ټول وختونه برابر دي اوپه داسې صورتونو كې هغه زمانه متعينه كيږي چې په عقدپوري متصله وي لكه په قسم كې مثلاً يوچا قسم واخيست چې والله زه نه فلان سره يوه مياشت خبرې نه كوم نوچې كله يې قسم واخيست مياشت له هغه وخته شمارله كيږي په كومه شپه چې يې مياشت وليدله كه چيرته عقداجاره په هغه شپه ترسره شونو دكال دټولو مياشتو شمار دمياشتې له ليدلو څخه كيږي ځكه په مياشتو كې اصل اعتبارمياشتې ته وي اوكه عقداجاره دمياشتې دليدلو په شپه ترسره نه شو بلكې په منځ كې يوه ورځ وشونو هره مياشت دورځوله لحاظه اعتباريږي يعنې هرې ديرش ورځي يوه مياشت شمارله كيږي ځكه ورځي دمياشتې بدل دي كمافي قوله ﷺ: صوموالرؤيته وافطروالرؤيته فان غم عليكم الهلال فاكملواعدة شعبان ثلاثين يوما) يعنې دمياشتې په ليدوسره روژه نيسئ روژه ماتوئ كه مياشت پټه اومشتبه شي نوبيا دبرات دمياشتې ديرش ورځي پوره كوئ.

(۱)وصح اخذاجرة الحمام والحجام(۷)لااجرة عسب التيس (۸)والاذان والحج والامامة وتعليم القرآن والفقه والفتوى اليوم على جوازالاستيجارلتعليم القرآن (۹)ولايجوزعلى الغناءوالنوح والملاهي (۱۰)وفسداجارة المشاع الامن الشريك

**ترجمه** :اوصحيح دی اجرت اخيستل دحمام او ښکر کينولو نه اجرت دنرحيوان (منده) خيژولو او دآذان او حج او امامت او دقرآن دتعليم او فتوی په نن زمانه کښ دقرآن دتعليم دا جرت اخيستو پر جوازده او جائزنه دی اجرت اخيستل دسندرو ويلو او پرمړي دواويلاکولو او باجې غږولو او فاسده ده اجاره دمشاع مگرنه خپل شريک ته

.

**تشريح** :(۶)دموجرلپاره دحمام (دغسل کولو ځای) اجرت اخيستل جائزدی ځکه نبي کريم ﷺ دجحفه نومې ځای کښ حمام ته داخل شوی وو ،پاتی شوداوبواندازه او دمستاجر په حمام کښ دپاتی کيدو موده که څه هم مجهول دي ليکن دخلکو دتعامل په وجه هغه جائزګڼل شوي دي دحجام (ښکرکينونکي) اجرت هم جائزدی ځکه نبی کريم ﷺ ښکرلګولی وو او دهغه يې وښکرکينونکي ته اجرت هم ورکړی وو ،همدارنګه پرښکرلګولو باندي اجرت ورکول په معلوم عمل معلوم اجرت سره اجاره ده ځکه جائزدی.

(۷)قوله لااجرة عسب التيس ای لايصح اخذالاجرة علی عسب التيس ،يعني نرحيوان (منده) پرمادی حيوان باندي دخيژولو اجرت اخيستل جائزنه دی لقوله ﷺ ان من السحت عسب التيس (نرحيوان پرمادی باندي خيژول حرام دی) مرادپرعسب التيس باندي اجرت اخيستل دی،همدارنګه له عسب التيس څخه چې کومه فائده مقصودده هغه غيرمعلومه ده ولی کله له هغه څخه حمل واخيستل شي اوکله نه واخيستل شي .

(۸)قوله والاذان والحج ای لايصح اخذالاجرة علی الاذان الخ،يعني پرآذان ،حج،امامت ،دقرآن کريم پرتعليم دفقهي پرتعليم اونوروعباداتو باندي اجرت اخيستل جائزنه دی لقوله ﷺ :اقرؤاالقرآن ولاتاکلوابه (قرآن وايئست او دهغه عوض مه خورئ) په دي باب کښ اصل دادی چې هرهغه طاعت چې په هغه پوري مسلمان مختص وي پرهغه اجرت اخيستل جائزنه دی اومذکوره اموردا سي دی چې په هغوپوري مسلمان مختص دی نو ځکه پرهغواجرت اخيستل ناجائزدی، مګرپردغو طاعاتو باندي اجرت نه اخيستل دمتقدمينوقول دی متاخرينو دضرورت پربناء دجوازفتوی ورکړي ده لکه صاحب هدايه رحمه الله چې ليکلي دي :وبعض مشائخنااستحسنواالاستيجارعلی تعليم القرآن لانه ظهرتوانی فی الامورالدينية ففی الامتناع يضيع حفظ القرآن وعليه الفتوی.(الهداية:۳/ ۳۰۱)

(۹)دسندرو غږولو ،پرمړي دواويلاکولو او دباجو وهلو وغيره لپاره هيچاته په اجرت اخيستل جائزنه دی ځکه داپرمعصيت باندي اجاره ده چې جائزه نه ده ځکه دعقداجاره په وجه شرعًامعقودعليه تسليم واجبيږي حال داچې شرعًاپرهيچاباندي دداسي شي واجبيدل جائزنه دی چې دهغه شي په وجه دی شرعًاګناهګاروي،چې بيادامعصيت شرع ته منسوب نه شي بيا هم که مستاجراجرت ورکړنواجيرلره جائزنه دی بلکې واپس کول يې واجب دی .

(۱۰)دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدمشترک غيرمقسوم شی له خپل شريک نه علاوه کوم بل چاته په اجاره ورکول ناجائزدی مثلاله مشترک سرای يامشترک مريې څخه خپله حصه له شريک نه علاوه کوم بل چاته په اجاره ورکړي که مستاجَرشی قابل دتقسيم وي لکه ځمکه اوکه قابل تقسيم نه وي لکه مريی،وجه يې داده چې هغه داسې شی په اجاره ورکړی دی چې مقدورالتسليم نه دی ځکه تسليم په قبض کيدوسره راځي اوقبض پرمعين شي باندي واردېږي حال داچې مشاع شی غيرمعين دی اودصاحبينو رحمهما الله اجارة

المشاع (مشترک غیرمقسوم شی اجاره کول) جائزدی ځکه داجارې مدارپرمنفعت دی اوپه غیرمقسوم شي کې منفعت موجوددی اودمنفعت وصول هم همداسې ممکن دی چې مستاجراوهغه بل شریک وارمقررکړې نفع حاصله کړې.

**فائده**: دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی البته که یوچاپل شریک ته مشترک شی په اجاره ورکړنوداجائزدی ځکه په دې صورت کې کل نفع دهغه پرمِلک باندې حاصلیږي نوشیوع نشته که څه هم په نسبت کې اختلاف دی چې بعض نفع په حکم دمِلک سره اوبعض نفع په حکم داجارې سره حاصله ده مګردامضرنه دی لمافي الدر المختار: وتفسد ایضا بالشیوع بان یوجر نصیبامن داره اونصیبه من دار مشترکة من غیر شریکه اومن احد شریکه ...........الااذاآجر کل نصیبه اوبعضه من شریکه فیجوز وجوازه بکل حال وعلیه الفتوی زیلعي وبحر معزیا للمغني لکن رده العلامة قاسم في تصحیحه بان مافي المغني شاذمجهول القائل فلایعول علیه قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله فلایعول علیه) المعول علیه مافي الخانیة ان الفتوی علی قول الامام وبه جزم اصحاب المتون والشروح فکان هو المذهب وعلیه العمل الیوم. (الدر المختار مع الشامیة: ۵/۳۳)

(۱۱) وَصحَّ استئجارُ الظِّئرِ بِأجرةٍ معلومةٍ وبطعامِها وكِسوتِها (۱۲) ولايمنعُ زوجُها من وطئِها فإن حبِلت أو مرِضت فُسِخَت (۱۳) وعليها إصلاحُ طعامِ الصَّبي (۱۴) فإن أرضعته بلبنِ شاةٍ فلا أجرَ (۱۵) ولو دفع غزلاً لينسجه بنصفه أو استأجره ليحمل طعامه بقفيزٍ منه (۱۶) أو ليخبز له كذا اليوم بدرهمٍ لم يَجُز.

**ترجمه**: اوصحیح دی په اجرت راوستل دشیدې ورکونکې ښځې په معلوم اجرت سره اودهغې پرخوراک اودهغې پرجامه اونه دې کرځوي دهغې خاوندله هغې سره له وطی کولونه یاکه چیرته حامله شوه یاناروغه شوه نواجاره فسخ کیږي اوپرهغې باندې لازم دی دماشوم خوراک تیارول اوکه یې هغه ماشوم ته دحیوان شیدې ورکړې نواجرت یې نه کیږي اوکه یې وُرته ورکړل چې ویې ودې په نیمی باندې یامزدورکرایه کړې چې ددده غله یوسي له هغې غلې څخه په یوه پیمانه باندې یاددې لپاره چې ده ته ډوډۍ وریخه کړي دومره اوره نن ورځ دیوه درهم په عوض نوداجائزنه دی.

**تشريح**: (۱۱) شیدې ورکونکې ښځه په معلوم اجرت سره مزدورول جائزدی لقوله تعالی: (فان أرضعن لکم فآتوهن أجورهن) همدارنګه پردې باندې له وختونو دخلکوتعامل راروان دی، همدارنګه شیدې ورکونکې ښځه دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددهغې دخوراک اوڅښاک اوجامې په عوض اجاره کول جائزدی مګرد صاحبینو رحمهما الله په نزددخوراک اوڅښاک اوجامو په عوض نه ده جائزځکه اجرت مجهول دی، دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې داجهالت مفضي ونزاع ته نه دی ځکه دشفقت پراولادپه وجه خلک دشیدې ورکونکې ښځې په خوراک، څښاک اوجامو کې ډیره پراخي کوي.

**فائده**: دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لمافي الملتقی الابحر: استیجار الظئر باجر معلوم وکذابطعامها وکسوتها خلافا للهمالوله استحسان وقولهما قیاس (والاستحسان مقدم غالبا علی القیاس) ملتقی الابحر: ۳/۵۳۶)

(۱۲)مستاجر ته دا حق نشته چې هغه د شيدې ورکونکې ښځې خاوند له هغې سره له وطی کولو نه منع کړي ځکه دا د خاوند حق دی چې مستاجرېې نه شي باطلولای.که چیرته دغه ښځه حامله شوه یانا روغه شوه نو دې ښځې د شيدو ورکولو نه د صحت خرابيد و انديښنه ده نو د ماشوم وليان دا اجارې د فسخ کيد و حق لري.

(۱۳)پر دغه ښځه باندي لازمه ده چې د ماشوم غذا برابره کړي داول چې دودی یا بل سخت شی وژدويې ورېې کړي او خپله داسي خوراک ونه کړي چې په هغه سره شيدې خرابي شي بيا ماشوم ته تاوان رسوي همدارنګه د کوموشيانو چې عرف جاري وي هغه ددې پر ذمه د عرف په وجه لازميږي.

(۱۴)که دغه ښځه د شيدو ورکولو په موده کې ماشوم ته د حيوان شيدې ورکړي او دا خبره خپله ددې له اقرار څخه يا د ګواهانو په ګواهي سره ثابته شي نو بيا دغه ښځه د اجرت مستحقه نه ګرځي ځکه دهغې پر ذمه چې کوم کار واجب وو (یعني شيدې ورکول ماشوم ته)هغه کار دې نه دی ترسره کړی ځکه د حيوان شيدې یې ورکړي دي نو اجاري ددي وه چې خپل تی ورکړي نه دا چې د حيوانانو شيدې په خوله کې ورکړي ځکه د اجرت مستحقه نه ګرځي.

(۱۵)که چاکښي والاته وُرته ورکړل چې له دي څخه چې کومه جامه تياره شي دهغه نصف ستا مزدوري ده نو دا اجاره فاسده ده ځکه په دي صورت کې د مزدور مزدوري هغه شی دی چې د مزدور د عمل څخه پيدا شونو دا د قفيزالطحان په معنی دی چې نبي کريم ﷺ منع ورڅخه فرمايلي ده ، قفيزالطحان دا دی چې ديو چاغويی ياخر کرايه کړي چې پردې باندي ترژرندې پوري غنم يوسه چې کله هغه اوړه شول له هغو څخه يوه پيمانه اوړه دغوايې مالک ته په اجرت ورکړي ،همدارنګه که چامزدورته وويل چې داغله ترفلان ځايه پوري ورسوه له دي څخه يوه پيمانه تاته درکوم نو دا صورت هم جائزنه دی ځکه داهم د قفيزالطحان په معنی دی.

(۱۶)که له نانوائي سره داول عقد وشو چې نن ورځ به دومره اُوړه ديوه درهم په عوض دودی پخوې نو دا امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دا صورت هم ناجائز دی او دصاحبينو رحمهما الله په نزد جائز دی ځکه ددي عقد د صحيحوالي لپاره عمل معقود عليه بلل کيږي حتی که چيرته هغه په نيمه ورځ له کار څخه فارغ شو نو پوره مزدوري ورکوله کيږي او که په دغه ورځ کې فارغ نه شو نو سبا ورځ هم پر ده باندي کار کول لازم دی نو چې کله معقود عليه عمل دی او عمل معلوم دی نو دا عقد جائز کيږي،دامام صاحب رحمه الله دليل دا دی چې دلته معقود عليه مجهول دی ځکه مستاجر وخت او عمل دواړه سره جمع کړي دي اوله وخت څخه معلوميږي چې معقود عليه منفعت دی اوله عمل څخه معلوميږي چې عمل دی او دعمل په معقود عليه کيدو کې دمستاجر فائده ده او په منفعت کې دموجير فائده ده چې په آخر کې دا خبره مفضي ونزاع ته ده ځکه نو دا صورت ناجائز دی.

(۱۷)وَإِنْ اسْتَاجَرَ أَرْضًا عَلَى أَنْ يَكْرِبَهَا وَيَزْرَعَهَا أَوْ يَسْقِيَهَا وَيَزْرَعَهَا صَحَّ (۱۸)فَإِنْ شَرَطَ أَنْ يُثَنِّيَهَا أَوْ يَكْرِيَ أَنْهَارَهَا أَوْ يُسَرْقِنَهَا (۱۹)أَوْ يَزْرَعَهَا بِزِرَاعَةِ أَرْضٍ أُخْرَى لَا كَاجَارَةِ السُّكْنَى بِالسُّكْنَى (۲۰)وَإِنْ اسْتَاجَرَ لِحَمْلِ طَعَامٍ بَيْنَهُمَا فَلَا أَجْرَ لَهُ كَرَاهِنٍ اسْتَاجَرَ الرَّهْنَ مِنَ الْمُرْتَهِنِ

**ترجمه**: او که يې کرايه کړه ځمکه په دې شرط يوې کوي به يې او کري به يې يا داچې اوبوي به يې او کري به يې نو صحيح ده او که يې دا شرط کړچې دوباره به يې يوې کوي يا داچې ويالې به يې کاروي يا داچې انبار (کهاد) به ورکوي يا داچې کري به يې دبلې ځمکې دکښت په عوض نو صحيح نه ده لکه اجاره کول داوسيدلو په عوض داوسيدلو او که يې اجاره کړه چې داسي غله به ورځني حاصلوي چې ددوئ دواړو ترمنځ مشترکه وي نو ده لره اجرت نه کيږي لکه راهن چې کرايه کړي رهن له مرتهن ځخه.

**تشريح**: (۱۷) که چايو ځمکه په دې شرط اجاره کړه چې دا به يوې کوي بيا به يې کري يا او بوي به يې او کري به يې نو دا اجاره صحيح ده ځکه په عقداجاره سره هغه دزراعت مستحق شواوزراعت له يوې کولو او بولو بغير نه شي کيداى نو يوې کول او ځمکه اوبول واجب شول او قاعده داده چې هر هغه شرط چې دمقتضى عقد موافق وي په هغه سره عقد نه فاسديږي.

(۱۸) او که يې دا شرط ولګاوه چې ځمکه به دوباره کري يا داچې کومې ويالې چې دځمکې په طرف راغلي دي هغه به کاروي يا داچې ځمکې ته به کهاد ورکوي نو دا شروط فاسد دي ځکه ددي کارونو اثر تر اجاره وروسته هم باقي پاتيږي او داله مقتضياتو دعقد ځخه نه دي او کوم شرط چې دعقد دمقتضى خلاف وي هغه اجاره فاسدوي همدارنګه په دې کې دمالک فائده هم ده او هغه شرط په کوم کې چې داحد المتعاقدينو فائده وي هغه موجب دفساد دی.

(۱۹) همدارنګه که يې يوه ځمکه دزراعت لپاره په اجاره ورکړه دبلې ځمکې دزراعت په عوض مثلا زيدله بکر ځخه ځمکه دزراعت لپاره په دی شرط اجاره کړه چې دهغه په عوض کې دزيد ځمکه بکر دزراعت لپاره واخلي نو داهم ناجائزدی ځکه زمونږ په نزد دا قاعده ده چې که له طرفينو سره جنسيت موجود وونو پور حرام دی، دا داسي صورت دی لکه يو ځوک چې خپل سرای بل چاته ورکړي داوسيدو لپاره او خپله دهغه په سرای کې واړوي دا اوسيدل عوض وي دا ناجائزدی ځکه اجاره دضرورت په بناء خلاف قياس جائزه کړای شوي ده او دجنس منفعت داتحاد په وخت کې هيڅ ضرورت نشته.

(۲۰) که ددوو کسانو ترمنځ غله مشترکه وه له هغوئ ځخه يوه بل ته خپله حصه غله وړل په اجاره ورکړل هغه ته له غله يو وړه ويې رسوله نو زمونږ په نزد دغه وړونکي ته نه اجرت مسمّى او نه اجرت مثل ورکول کيږي ځکه دغلي په هر جزء کې چې ده وړې ده دی خپله پکې شريک دی نو دی دخپل ځان لپاره عامل دی بل شريک ته معقود عليه سپارل نه راغلل ځکه دی داجرت مستحق نه ګرځي لکه راهن چې له مرتهن سره يو شي رهن اينسى وي بيا يې په اجاره ورځخه واخلي دا ناجائزدی ځکه خپله راهن دهغه شي مالک دی مرتهن خويې مالک نه دی نو دلته اجاره نه راځي ځکه اجاره تمليک دمنافع په عوض ته ويل کيږي او تمليک من غير مالک متصور نه دی.

(۲۱) فَإِنْ اسْتَأْجَرَ أَرْضًا وَلَمْ يَذْكُرْ أَنَّهُ يَزْرَعُهَا أَوْ أَيَّ شَيْءٍ يَزْرَعُ فَزَرَعَهَا وَمَضَى الْأَجَلُ فَلَهُ الْمُسَمَّى (۲۲) وَإِنْ اسْتَأْجَرَ حِمَارًا إلَى مَكَّةَ وَلَمْ يُسَمِّ مَا يَحْمِلُ فَحَمَلَ مَا يَحْمِلُ النَّاسُ فَنَفَقَ لَمْ يَضْمَنْ وَإِنْ بَلَغَ مَكَّةَ فَلَهُ الْمُسَمَّى (۲۳) فَإِنْ تَشَاحَّا قَبْلَ الزَّرْعِ وَالْحَمْلِ نُقِضَتْ الْإِجَارَةُ دَفْعًا لِلْفَسَادِ

**ترجمه** :او كه يې اجاره كړه ځمكه او دا بيان يې ونكړچې په دې كې به څه كوي يا به څه په كړي بيايې وكرله او موده تيره شوه نو ده لره مقرر اجرت شته او كه يې خر كرايه كړ ترمكې پوري او دا يې بيان نه كړچې څه شی به پري باروي بيايې هغه بارپري راووړچې خلك يې راوړي بيا دغه سواري هلاك شونودى نه ضامن كيږي او كه يې بار ترمكې پوري ورساوه نو ده لره مقرر اجرت كيږي او كه يې جنجال سره راغی مخكې تر كښت كرلو او مخكې ترباروړلو نو اجاره دي ماته كړي د فساد دفع لپاره .

**تشريح** :(۲۱)كه چا ځمكه كرايه كړه او دا بيان يې ونه كړچې په دې به يوشی كري يا بل څه او كه يوشی كري نو څه به كري كه مالك عامه اجازه نه وه وركړې نو بيا دا اجاره فاسده ده ځكه ځمكه د مختلفو كارونو لپاره اجاره كيږي چې له هغو څخه ځينې د ځمكې لپاره نقصان ده وي او بعض نقصان ده نه وي نو د معقود عليه د مجهول كيدو په وجه اجاره فاسده ده خو كه بيا هم مستاجر كښت پري وكاره او موده هم تيره شوه نو استحساناً اجاره صحيح كيږي او مستاجر لره اجرت مسمى كيږي ځكه د معقود عليه جهالت چې موجب د فساد وو هغه د مودې ترمكمل كيدو مخكې ختم شو .

(۲۲)كه چا يو خر ترمكې مكرمې پورې اجاره كړ او دا بيان يې ونه كړچې څه شی پري راوړي بيا يې هغه بار راووړچې خلك يې عام راوړي بيا دغه خر هلاك شونو مستاجر نه ضامن كيږي ځكه اجاره شوی شی له مستاجر سره امانت وي او امانت كه له تعدّى بغير هلاك شي نو په هغه كې بيا ضمان نه راځي دلته د مستاجر له جانبه هيڅ قسم زيادتي نه ده راغلې ځكه نه ضامن كيږي ليكن څرنګه چې معقود عليه په عقد كې نه دی بيان شوی ځكه دغه عقد فاسد وو چې معقود عليه يې مجهول دی ،بيا كه ده ترمكې مكرمې پوري بار ورساوه نو استحساناً دا اجرت مسمى مستحق ګرځي ځكه د عقد فساد د جهالت په وجه وو چې وروسته هغه رفع كړای شو .

(۲۳)كه په مذكوره مسائلو كې په لومړي صورت كې تركښت كرلو او په دوهم صورت كې ترباررا وړلو مخكې دواړو (موجر او مستاجر) د قاضی په مجلس كې جګړه سره وكړه نو د فساد دليري كولو لپاره دې اجاره ماته كړای شي ځكه په ځمكې ديوشي تركرلو او پرخره باندې تربارراوړلو مخكې د معقود عليه د جهالت په وجه فساد ثابت پاتيږي .

## باب ضمان الأجير

دا باب د اجير د ضامن كيدو په بيان كې دى

مصنف رحمه الله چې كله د اجارې له انواعو (اجاره صحيحه او اجاره فاسده) له بيان څخه فارغ شو نو د ضمان بيان يې شروع كړ ځكه ضمان له هغو عوارضو څخه دی چې پر اجاره باندې مرتب كيږي او د شي عوارض له شي وروسته وي ځكه د اجارې د احكامو له بيانولو وروسته د ضمان احكام بيانوي

(۱)الأجيرُ المشتركُ من يعملُ لغيرِ واحدٍ ولا يستحقُّ الأجرَ حتى يعملَ كالصباغِ والقصارِ (۲)والمتاعُ في يدهِ غيرُ مضمونٍ بالهلاكِ (۳)وما تلفَ بعملهِ كتخريقِ الثوبِ من دقِّهِ وزلقِ الحمالِ وانقطاعِ حبلٍ يشدُّ به الحملُ وغرقِ السفينةِ من مدِّهِ مضمونٌ (۴)ولا يضمنُ به بني آدم.

**ترجمه**: اجير مشترک هغه دی چې دډيرو کسانو لپاره کارکوي او مستحق داجرت نه کيږي ترڅو چې کار وکړي لکه رنګريز او دوبي او سامان دده په لاس کې غير مضمون وي په هلاکيدو سره او هغه چې تلف شي دده په عمل سره لکه څيري کيدل دجامي ددوبي په ټکيدو سره او ښوهيدل دمزدور او پرې کيدل درسۍ چې بار په تړې اوډوبيدل دکښتۍ دملاح (کښتۍ وان) په کشيدو سره مضمون ګرځي او دانسان نه ضامن کيږي.

**تشريح**: (۱) اجير (مزدور) پر دوه قسمه دی: ۱-نمبر اجير مشترک ۲-نمبر اجير خاص.

اجير مشترک هغه دی چې دډيرو کسانو کارکوي لکه رنګريز او دوبي يا بلا توقيت ديوه سړي کارکوي او اجير خاص هغه دی چې ديوه معلوم سړي کارکوي په معين وخت کې. داجير مشترک له احکامو څخه دادی چې ترڅو پوري کار ونه کړي داجرت مستحق نه ګرځي لکه رنګريز، دوبي څکه معقود عليه عمل دی ترڅو چې مستاجر معقود عليه ونه سپاري اجرت نه واجبيږي.

(۲) داجير مشترک په لاس کې سامان امانت دی که چيرته دغه سامان داجير له زيادتي بغير هلاک شي نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد مزدور نه ضامن کيږي که څه هم دضمان شرط يې لګولی وي څکه سامان قبض کول دمستاجر په اجازه سره شوی دی نو دوديعت او عاريت په شان دی مضمون نه ګرځي. دصاحبينو رحمهما الله په نزد مزدور ضامن ګرځي څکه حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه داډول مزدور ضامن ګرځولی وو، همدارنګه که له مزدور څخه ضمان ساقط شي يا احتياط نه کوي متاخرينو داجير او مستاجر ترمنځ دصلح بالنصف فتوی ورکړې ده.

(۳) کوم شی چې داجير مشترک په عمل سره هلاک شي لکه ددوبي په ټکيدو سره دکپړي څيري کيدل يا دلاپرواهي په وجه سره دمزدور په ښوهيدلو سره مال تلف شي يا هغه رسۍ چې مال په تړې دهغې په شکيدو سره مال تلف شي يا دملاح (کښتۍ وان) په کشيدو سره کښتۍ ډوبه شي مال ضائع شي نو په دغو ټولو صورتونو کې اجير مشترک ضامن ګرځي څکه داجير دعمل په وجه مال ضائع شو او اجير له عرفًا او شرعًا دعمل صالح اجازه شته دعمل مفسد اجازه نشته ورته.

(۴) البته اجير مشترک دانسان ضامن نه کيږي که دکښتۍ په ډوبيدو سره کوم انسان غرق شي يا له سوارۍ څخه وغورځي مړ شي نو اجير نه ضامن کيږي که څه هم داجير په غلطولو او کشولو سره وي څکه دانسان تاوان دعقد په وجه نه دی واجبيږي بلکې دقتل يا زخمي کيدو په جنايت سره واجبيږي په داسې حال کې چې دکښتۍ کشول وغيره جنايت نه دی څکه دا ماذون فيه دی.

(۵) فَإِنِ انْكَسَرَ دَنٌّ فِي الطَّرِيقِ ضَمِنَ الْحَمَّالُ قِيمَتَهُ فِي مَكَانِ حَمْلِهِ وَلَا أَجْرَ لَهُ أَوْ فِي مَوْضِعِ الْكَسْرِ وَأَجْرُهُ بِحِسَابِهِ (۶) وَلَا يَضْمَنُ حَجَّامٌ أَوْ بَزَّاغٌ أَوْ فَصَّادٌ إِنْ لَمْ يَتَعَدَّ الْمَوْضِعَ الْمُعْتَادَ (۷) وَالْخَاصُّ يَسْتَحِقُّ الْأَجْرَ بِتَسْلِيمِ نَفْسِهِ فِي الْمُدَّةِ وَإِنْ لَمْ يَعْمَلْ كَمَنِ اسْتُؤْجِرَ شَهْرًا لِلْخِدْمَةِ أَوْ لِرَعْيِ الْغَنَمِ (۸) وَلَا يَضْمَنُ مَا تَلِفَ فِي يَدِهِ أَوْ عَمَلِهِ.

**ترجمه**: که مات شو منګی په لاره کې نو ضامن کيږي پورته کوونکی دهغه دقيمت چې دپورته کيدو په ځای کې يې کوم قيمت وي او ده لره اجرت نه کيږي يا په هغه ځای کې چيرته چې مات شوی دی او دده مزدوري دهغه حساب څخه کيږي او نه ضامن کيږي ښکر لګوونکی او ستن لګوونکی او رګ خلاصوونکی که يې

تجاوز ونكړله معتادځاى څخه او اجير خاص مستحق كيږي دمزدوري دخپل ځان په تسليمولوسره په موده كې كه څه هم كارېې نه وي كړى لكه يوڅوک چې مزدوركړاى شي ديوې مياشتې لپاره يادپسونودپوولولپاره او نه ضامن كيږي دهغه چې دده په لاس كې تلف شي يادده په عمل سره .

**تشريح** :(۵)كه مستاجر مزدورته وويل چې زمادشاتو(عسلو)منګى ترفلان ځاى پورې ورسوه مزدورمنګى راپورته كړپه لاره كې منګى ورڅخه مات شونوله كوم ځاى نه چې هغه منګى راپورته كړى ووهلته چې په څوباندې منګى خرڅيږي هغومره قيمت به مزدورومالک ته وركړي اوده ته مزدوري نه وركوله كيږي ياكه دمنګي مالک غواړي چيرته چې منګى مات شوى دى هلته چې په څوباندې خرڅيږى هغه قيمت دي له مزدورڅخه واخلي اوحساب دي وكړي ترهغه ځايه چې څومره مزدوري دمزدورحق كيږي هغه دي وركړي مثلاكه په نيمه لاره كې مات شوى وي نونيمه مزدوري دي وركړي بيادمنګي ضمان ځكه واجب دى چې هغه اجيرمشترک ووچې دده په حركت سره مال ضائع شونودى ضامن ګرځي ځكه دده ته دعمل مفسداجازه نه وه كه داماتيدل دده په ښوهيدلوسره وي اوكه درسي په شكيدوسره په كومه رسۍ چې منګى تړلى دى ځكه داهريودهغه فعل دى چې ده بې احتياطي كړې ده اومستاجرته اختيارځكه شته چې دلته دوې خبرې دي يوه داچې منګى دعمل په دوران كې مات شوى دى اوبوج پورته كول عمل واحددى نوګواكې تعدّى له ابتداء څخه واقع شوې ده بله داچې داباريورته كول دمالک په اجازه سره شوى دى نوله دې څخه معلوميږي چې له ابتداء څخه تعدّى نه ده راغلې بلكې دماتيدوپه وخت كې تعدّى راغلې ده نوچې دى كومه خبره اختياروي هغه سمه ده همدې وجهې ته په كتوسره دباريدلوځاى ته اعتبارور كول كيږي اودوهمې وجهې ته په كتوسره دماتيدوځاى ته اعتبار وركول كيږي .

(۶)كه ښكرلګوونكي ښكرولګاوه ياداغ والاچاته داغ ورولګاوه يادرګ خلاصوونكي دچارګ خلاص كړاوله هغه څخه څوک مړشونوكه جرّاح ترحدتجاوزنه ووكړى نونه ضامن كيږي ځكه جراح دعقدپه كولوسره ددې عمل التزام وكړاودعقدپه وجه داعمل دهغه پرذمه واجب دى اوله وجوب سره ضمان نه يوځاى كيږي اوكه جرّاح ترحدتجاوزكړى وونوضامن كيږي ځكه دتجاوزكولوهغه ته اجازه نشته .

**فائده** :كه يوناروغ ته دتجربه كاراوماهرډاكټراوحكيم دتجويزكرده نسخې مطابق دارودرمل وركړل شي اوپه هغه سره ناروغ مړشي نوهيڅ ديت اوضمان نشته اوكه دارووركوونكى نه ډاكټروواونه يې دحكيم دتجويزكرده نسخې مطابق داروور كړل ياپې ترتجويزكرده نسخه زيات مقداردارووركړل چې ناروغ ورڅخه مړشونوبيادارووركوونكى ضامن دى پرهغه باندې ديت اوكفاره دواړه واجبيږي لمالى الحديث (ابوداؤد:۲/ ۲۸۲ كتاب الديات)قال النبى ﷺ من تطبب ولايعلم منه طب فهوضامن(حقانيه:۵/۲۱۳)

(۷)داجيرخاص له احكامو څخه يوحكم دادى چې كله هغه په معقودعليهاموده كې خپل ځان حاضركړي نوداجرت مستحق ګرځي كه څه هم كارونكړي لكه يوڅوک چې مزدورديوې مياشتې خدمت ياپسونوپوولولپاره په اجاره راولي اواجيرخپل ځان دكاركولولپاره حاضركړي نوداجرت مستحق ګرځي

ځکه معقودعليه تسليم دنفس دی چې ده هغه کاروکړپه دي صورت کې معقودعليه عمل نه دی نودعمل کولوبغيرهم دی داجرت مستحق کيږي .

(۸)اودوهم حکم دادی چې داجيرخاص په لاس کې سامان امانت دی نودهلاکت په صورت کې پراجيرباندي ضمان نشته ،همدارنګه که چيرته داجيرخاص په عمل معتادسره يوشی هلاک شي نوهم نه ضامن کيږي ځکه په دي صورت کې منافع دمستاجرمملوک دي نوچې کله مستاجراجيرته په خپل ملک کې دتصرف کولوحکم ورکړاحکم ورکول يې صحيح دی اواجيردمستاجرقائم مقام شونوګواکي دافعل مستاجرکړی دی ځکه اجيرنه په ضامن کيږي البته که داجيرپه عمل غيرمعتادسره سامان هلاک شونوبيااجيرضامن کيږي .

## باب الاجرة على احدالشرطين

داباب پريوه شرط باندي داجرت کولوپه بيان کې دی

مصنف رحمه الله چې کله په يوه شرط داجارې له بيان څخه فارغ شواوس يې په دوويازياتوشرطوباندي داجارې بيان شروع کړځکه دوه له يوه وروسته وي په ډيرونسخوکې دغه عبارت نشته ممکن چې يوه کاتب داعبارت زيات کړي وي .

(۱)وَصَحَّ تَرْدِيدُ الأَجْرِ بِتَرْدِيدِ العَمَلِ فِي الثَّوْبِ نَوْعاً(۲)وَزَمَاناً فِي الأَوَّلِ(۳)وَفِي الدُّكَّانِ وَالبَيْتِ وَالدَّابَّةِ مَسَافَةً وَحَمْلاً

**ترجمه** :اوصحيح داجرت ترديدد عمل دترديدپه وجه دکپړې دنوع په اعتبارسره اودزماني په اعتبارسره په اول کې اوپه دکان کې اوپه سرای کې اوپه سواري کې دمسافت په اعتبارسره اودبارپه اعتبارسره .

**تشريح** :(۱)په کپړه کې داجرت ترديدصحيح دی دعمل په ترديدسره دنوع په اعتبارسره مثلاً مستاجر درزي ته وويل چې که دغه کپړه ماته فارسي طرزراجوړوي نويودرهم درکوم اوکه يې رومي طرز راوګنډې نودوه درهمونه درکوم نودمستاجردغه ترديدپه اجرت اوعمل کې صحيح دی اواجيرچې په دغودوو عملونو کې هريوعمل وکړي دهغه اجرت مستحق ګرځي همدارنګه که اجيرته په دريوشيانوکې اختياوورکړای شي نوهم جائزدی اوکه په څلوروشيانوکې اختيارورکړل شي نوجائزنه دی کمافي البيع چې په دوواودريوکې اختيارورکول کيږي مګرپه څلوروکې اختيارورکول جائزنه دی په دريوکې دترديددجوازوجه حاجت دی چې په دريوکې په ترديدسره حاجت پوره کيږي ځکه دري پرجيد،وسط اوردي باندي مشتمل وي نوځکه په څلوروکې دترديدحاجت نشته .

(۲)مذکورصورت دترديدفي النوع صورت ووچې فارسي طرزګنډل يوه نوع دی اورومي طرز ګنډل دوهمه نوع ده اوکه مستاجرپه زمانه کې ترديدوکړنوکه په مخکې موده کې اجيرعمل کړی وي نو صحيح دی داجرت مسمی مستحق ګرځي اوکه يې په بله موده کې عمل کړی وي نوصحيح نه دی داجرت مثل مستحق

کيږي مثلاً مستاجروويل چې که چيرته داجامه تاننې وګنډله نو يودرهم درکوم اوکه دې سباوګنډلې نونصف درهم درکوم بياکه اجيرنن ورځ وګنډلې نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزديو درهم مستحق کيږي اوکه يې سباورځ وګنډلې نوداجرت مثل (ديوچاداجرت مثل څخه مراددادی چې دهغه په شان سړيه هغومره عمل باندې څومره اجرت اخلي هغه اجرت به دده هم کيږي) مستحق ګرځي نه داجرت مسمّى (اجرت مسمّى هغه دی چې دعقدپه وخت متعين شي) ليکن اجرت مثل هم ترنصف درهم زيات نه ورکول کيږي ځکه په دوهمه ورځ کې همدا مسمّى دی چې اجيرپرې راضي وو ،دصاحبينو رحمهماالله په نزددواړه شرطونه جائزدي په کوم ورځ چې وګنډي دهغې ورځې داجرت مسمّى مستحق ګرځي .

**فائده** :دصاحبينو رحمهماالله قول راجح دی لماقال الشيخ عبدالحکيم الشهيد رحمه الله :واعلم ان قول الامام والصاحبين رح مذکورفي المتون والشروح والفتاوى من غيرالتعرض الى الترجيح والتصحيح صراحة الاان مافي المجلة وشروحها اختيارلقولهما حيث قال في المادة (٥٠٦)وکذالک لوساوم احدالخياط على ان يخيط له جبة بشرط ان خاطها اليوم فله کذاوان خاطهاغدافله کذاتعتبرالشروط الخ وفي شرحها قال والحکم المذکورفيهاوهوصحة عقدالاجارة مع اعتبارالشرطين هوقولهماوهوالذى مشت عليه المجلة.(هامش الهداية:٣/٣٠٩)

(٣)قوله وفي الدکان والبيت والدابة مسافة وحملاای صح ترديدالاجيربترديدالعمل في الدابة من حيث المسافة والحمل،يعني په دکان اوسرای کې هم ترديدفي العمل صحيح دی مثلاً آجرمستاجرته وويل که په دې دکان ياسرای کې څوک دعطرفروشي کارکوې نوبيايې کرايه دمياشتې يودرهم دی اوکه دپښې کارېکې کوې نودوه درهمه کرايه ده دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدداجائزدی مستاجرچې هرڅه کوې آجردهغه داجرت مسمّى مستحق ګرځي .دصاحبينورحمهماالله په نزدداجاره فاسده ده اوپه سوارلي کې ترديددمسافت اوبارپه اعتبارسره صحيح دی مثلاً آجرمستاجرته وويل که ته دغه سوارلي ترمکي مکرمې پورې بيايې نودومره کرايه ده اوکه يې ترمدينې منورې پورې بيايې نوبيادومره کرايه ده يايې ورته وويل چې که چيرته پردې سوارلي باندې دوه منه غنم باروې نودومره کرايه ده اوکه دوه منه وريجې باروې نوبيادومره کرايه ده دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدداترديدجائزدی مستاجرچې هرڅه کوې آجردهغه داجرت مسمّى مستحق ګرځي ځکه مستاجرته دوومختلفواوصحيحوعقدونوپه منځ کې اختيارورکړل شوی دی ځکه نوداصحيح دي کمافي مسئلة الرومية والفارسية،اودصاحبينورحمهماالله په نزدداجاره فاسده ده ځکه اجرت مجهول دی ځکه دامعلومه نه ده چې له دوو عملونوڅخه کوم عمل کوې اودکوم اجرت مستحق کيږي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی لماقال المفتي غلام قادرالنعماني :القول الراجح هوقول ابي حنيفة رحمه الله قال العلامة ابراهيم الحلبي رحمه الله :ولوقال ان اسکنت هذاالحانوت عطارافبدرهم اوحدادافبدرهمين جازخلافالهما(القول الراجح:٢/٢٣٦)

## باب اجارة العبد

دا باب دمريي داجارې په بيان کې دی.

مصنف رحمه الله دآزادشخص داحکاموڅخه فارغ شودمريي احکام يې شروع کړل وجه دتاخيرېي داده چې دمريي رتبه ترآزادوروسته ده ځکه يې احکام هم وروسته ذکرکړي دي .

(۱)وَلَا يُسَافِرُ بِعَبْدٍ اسْتَأْجَرَ لِلْخِدْمَةِ بِلَا شَرْطٍ(۲)وَلَا يَأْخُذُ الْمُسْتَأْجِرُ مِنْ عَبْدٍ مَحْجُورٍ أَجْرًا دَفَعَهُ لِعَمَلِهِ

**ترجمه**:اوپه سفربه يې نه بيايې هغه مريی چې اجاره کړي يې وي دخدمت لپاره له شرط بغيراونه دي اخلي مستاجرله محجورمريي څخه اجرت چې ورکړي يې وي ده ته دهغه دکارپه وجه.

**تشريح**:(۱)چاچې مريی دخدمت لپاره اجاره کړی وي اومستاجرمقيم دی اومعروف بالسفرنه وو نومستاجربه هغه مريی په سفرنه شي بيولای ځکه دسفرپه خدمت کې مشقت دی ترڅوچې هغه يې التزام ونکړي نه لازميږي البته که مستاجردعقدپه وخت کې پرهغه باندي په سفردتلوشرط لګولی وويا معروف بالسفروونوبيايې په سفربيول جائزدی ځکه شرط ملزم دی اوالمعروف کالمشروط داسي دی.

(۲)که يومريې ته دمولی له طرفه دمزدوري کولواجازه نه وي اوهغه خپله په مزدوري لګياشي اومستاجرهغه ته دهغه دعمل مزدوري ورکړي وروسته معلومه شي چې هغه خومحجوردی دمزدوري کولواجازه يې نه درلوده اودهغه مزدوري کول صحيح نه وونومستاجرله هغه مريي څخه مزدوري واپس نه شي اخيستلای ځکه داجارې فساددمولی دحق دمراعاتولوپه وجه سره وواوله عمل وروسته حق درعايت په دي کې دی چې اجاره صحيحه وبلله شي اجرت واجب وګڼل شي ځکه نومستاجرلره دمزدوري واپس اخيستل جائزنه دی.

(۳)وَلَا يَضْمَنُ غَاصِبُ الْعَبْدِ مَا أَكَلَ مِنْ أَجْرِهِ(۴)وَلَوْ وَجَدَهُ رَبُّهُ أَخَذَهُ وَصَحَّ قَبْضُ الْعَبْدِ أَجْرَهُ(۵)وَلَوْ آجَرَ عَبْدَهُ هَذَيْنِ الشَّهْرَيْنِ شَهْرًا بِأَرْبَعَةٍ وَشَهْرًا بِخَمْسَةٍ صَحَّ وَالْأَوَّلُ بِأَرْبَعَةٍ(۶)وَلَوِ اخْتَلَفَا فِي إِبَاقِ الْعَبْدِ وَمَرَضِهِ حُكِمَ الْحَالُ(۷)وَالْقَوْلُ لِرَبِّ الثَّوْبِ فِي الْقَمِيصِ وَالْقَبَاءِ وَالْحُمْرَةِ وَالصُّفْرَةِ (۸)وَالْأَجْرِ وَعَدَمِهِ

**ترجمه**:اونه ضامن کيږي غاصب دمريي دهغوروپوچې دمريي له اجرت څخه يې خوړلې وي اوکه پيداکړدغه اجرت دده مالک نووادي خلي ورڅخه اوصحيح دی قبضول دمريي خپلې مزدوري لره اوکه يې اجاره کړدچامريی دوې مياشتې يوه مياشت په څلورروپۍ اويوه مياشت په پنځه روپۍ نوصحيح دی اولومړۍ مياشت دڅلوروپه عوض کيږي اوکه ددواړوترمنځ اختلاف راغی دمريي په تښتيدو يادهغه په ناروغ کيدوکې نوحال دي حکم وګرځوي اوقول دکپړې دمالک معتبربږي په قميص اوجبه ګنډلواوسوريازيړرنګ ورکولوکې اوپه اجرت اونه اُجرت کې.

**تشريح**:(۳)که چادبل چامحجورمريی غصب کړمريي خپل ځان په مزدوري لګياکړاوغاصب له مريي څخه دهغه مزدوري يوړه ويې خوړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددمريي دواپس کولوپه وخت کې غاصب دهغه دمزدوري ضامن نه ګرځي اودصاحبينورحمهما الله په نزدغاصب ضامن ګرځي ځکه دمحجورمريي اجاره استحساناصحيح ده نودهغه مزدوري دمولی مال دی چې غاصب خوړلی دی ځکه غاصب ضامن ګرځي،دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل داقاعده ده چې دمحفوظ مال په تلف کولوسره تلف کوونکی ضامن

کیږي په داسي حال کې چې مربی اودهغه مزدوري محفوظ نه دي ځکه مربی اودهغه مزدوري دمالک یادهغه دنائب په قبضه کې نه دي ځکه ضمان هم نشته.
(۴)البته که مولی اجرت بعینه دمربي په لاس کې موجودپیداکړنوهغه دي واخلي ولی هغه خپل عین مال پیداکړځکه دمال دنه محفوظ کیدوڅخه عدم مِلک نه لازمیږي اوکه مربي خپل ځان په مزدوري لګیاکړاومستاجرهغه ته اجرت ورکړنوپه اتفاق سره پراجرت باندي دهغه قبضه صحیح ده ځکه دعقدمباشرخپله مربی دی اودعقددحقوقوتعلق له عاقدسره وي نودمربي قبض صحیح دی اودمربي داتصرف نافع هم دی دکوم چې ده لره یې اجازشته.
(۵)که یوچامربی دوې میاشتې په دي ډول په اجاره ورکړچې یوه میاشت به څلوردرهمه مزدوري وي اویوه میاشت به پنځه درهمه وي نوده په عقدکې دوې میاشتې نکره ذکرکړي دي چې وخت یې معلوم نه دی ځکه داعقدبایدجائزنه شي مګردعاقل بالغ کلام له بي کاره کیدوڅخه ساتل ضروري دی نودعقددجائزکیدولپاره کومه میاشت چې لومړی ذکرشوي ده هغه په عقدپسي متصله میاشت ګڼله کیږي یعني کومه میاشت چې له عقدوروسته شروع کیږي هغه لومړی میاشت ګڼله کیږي اوڅلور درهمه عوض لري اودوهمه هغه میاشت ده چې ترهغي وروسته وي.
(۶)که چایوه میاشت مربی په اجرت واخیست اودمیاشتي په شروع کې یې هغه قبض کړله هغه وروسته یې دمیاشتي په پای کې وویل چې دامربی دمیاشتي په شروع کې تښتیدلی ویاناروغ شوی وواومولی له دي خبري څخه انکاروکړچې هغه اوس ستاتراتګ مخته تښتیدلی یاناروغ شوی دی نوحال به حکم ګرځول کیږي یعني که ددوئ دخصومت په وخت کې مربی تښتیدلی یاناروغ وونوموجوده حال به فیصل وګرځوي وبه وایې چې واقعًامربی له عقدسره په متصل وخت کې تښتیدلی یاناروغ دی نودمستاجرقول دهغه له قسم سره معتبریږي اواجرت نه واجبیږي اوکه هغه مربی په دي وخت کې صحت مندراوستی وونوهم موجوده وخت فیصل ګرځي ویل کیږي چې دعقدله وخت څخه تراوسه نه دامربی تښتیدلی دی اونه ناروغ شوی دی ځکه بیادموجرقول معتبریږي.
(۷)که دجامې دخاوندیعني مستاجراودرزي یعني اجیرترمنځ اختلاف شومستاجروویل چې ماده جُبّه(چپنه) ګنډلودرته ویلي وواوتاقمیص ګنډلی دی ،یادجامې خاوندیعني مستاجررنګریزیعني اجیرته وویل چې دمادسوررنګ درته ویلي ووتازېړرنګ ورکړی دی مګراجیروایي چې نه !بلکې تاماته دقمیص ګنډلوویلي وویادي دزېړرنګ راته ویلي وونوقول دجامې دخاوند(مستاجر)معتبردی ځکه اجازه دجامې دخاوندله طرفه حاصلیږي نودی دهغي په کیفیت زیات خبرداروي آن که چیرته هغه داصل اجازت څخه انکاروکړي نودهغه قول معتبردی نودصفت دانکارپه صورت کي هم دهغه قول معتبردی خوله هغه څخه به قسم اخیستل کیږي ځکه دی دداسي شي انکارکوي چې که دی دهغه اقراروکړي نوپرده باندي لازمیږي اوداسي منکرته قسم ورکول کیږي،بیاکه دجامې خاوندقسم واخیست نوبیادرزي (اجیر)ضامن ګرځي ځکه ده دغیرپه مِلک کې دهغه داجازت بغیرتصرف کړی دی.

**(۸)قوله والاجر وعدمه اى لواختلف رب الثوب والصانع في الاجر وعدمه فالقول لرب الثوب**، يعني كه دجامې خاوند وويل چې تازمالپاره بغيراجرت كاركړى دى اوكاريګروويل چې نه بلكې په اجرت سره مې كړى دى نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دجامې دخاوندقول معتبردى ځكه دجامې خاوندله اجرت څخه منكردى اوكاريګردهغه داعي دى اوقول دمنكرمعتبروي ،امام ابويوسف رحمه الله فرمايې چې كه دجامې خاونددكاريګرحريف وو(يعنې تردې مخكې كاروبارپه اجرت سره وو)نوبيادكاريګردأجرت مستحق ګرځي كه نه ووحريف بيانه ګرځي ځكه ددوئ ترمنځ سابقه معامله جهت دأجرت متعين كوي،امام محمد رحمه الله فرمايې چې كه كاريګرپه دې مشهوروو چې داكارپه اجرت سره كوي نوبياقول دكاريګرمعتبردى كه نه بيادجامې دخاوندقول معتبردى ولى كاريګرچې دكوم كارلپاره خپل ځان متعين كړى دى نودا پراجرت باندې دتصريح قائم مقام دى .

## باب فسخ الاجارة

### داباب داجارې دفسخ په بيان كې دى

ددې باب دوروسته كيدووجه ظاهره ده ځكه فسخ دعقدتروجود دعقدوروسته وي نوددې باب ذكرپه آخركې مناسب دى .

(۱)تفسخ بالعيب وخراب الدار وانقطاع ماء الضيعة والرحا(۲)وتنفسخ بموت احد المتعاقدين ان عقدها لنفسه(۳)وان عقدها لغيره لا كالوكيل والوصي والمتولي في الوقف(۴)وتفسخ بخيار الشرط والرؤية(۵)والعذر وهو عجز العاقد عن المضي في موجبه الا بتحمل ضرر زائد لم يستحق به كمن استاجر رجلا ليقلع ضرسه فسكن الوجع اوليطبخ له طعام الوليمة فاختلعت منه او حانوتا ليتجر فافلس او آجره ولزمه دين بعيان او ببيان او باقرار ولا مال له سواه(۶)او استاجر دابة للسفر فبدا له منه(۷)لا للمكاري

**ترجمه** :فسخ كيږي په عيب سره اودسراى په ورانيدوسره داوبوپه منقطع كيدوسره له ځمكې اوژرندې نه اوفسخ كيږي ديوه دمتعاقدينوپه مرګ سره كه يې عقدكړى وودخپل ځان لپاره اوكه يې عقدكړى وودغيرلپاره بيانه فسخ كيږي لكه وكيل اووصي اودوقف متولي اوفسخ كيږي په خيارشرط اوخيار رؤيت سره اوعذرسره چې هغه عاجزكيدل دعاقددى دعقدله موجب پوره كيدوڅخه مګردزيات ضررپه برداشت كولوسره چې دهغه مستاجرمستحق نه دى دعقدپه وجه لكه څوك چې يوسړي ته اجرت وركړي چې هغه ده ته غاښ وروكاږي بيايې دغاښ دردختم شويايې اشپزبووت چې ديګونه پاخه كړي دواده په دې منځ كې ښځې خلع وكړه له خاوندسره يايې دكان كرايه كړچې تجارت پكې وكړي بيادغه سړى مفلس شويايې په كرايه وركړبيا پرهغه باندې قرض راغى په ظاهرسره يادهغه په بيان اواقرارسره اوهغه لره له دغه دكان پرته نورمال نشته يايې حيوان دسفرلپاره كرايه كړبيابنكاره شوده لره يومانع دسفرنه داچې كرايه وركوونكي ته مانع وريښ شي .

**تشريح** :(۱)اجاره دعيب په وجه فسخ كيږي مثلاكه په مستاجرسراى كې يوداسې عيب پيداشي چې په سراى كې داوسيدولپاره مضروي نومستاجردااجاره فسخ كولاى شي ځكه په دې صورت كې انتفاع

بلاضرر ممكنه نه ده همدارنګه که هغه کرايه شوی سرای ويران شي يا د کښتي څمکې يا دژرندې اوبه منقطع شي او هغه قابل دانتفاع پاته نه شي نو اجاره فسخ کيږي ځکه معقودعليه (منافع) قبل القبض فوت شوي دا داسي دی لکه قبل القبض چې مبيع فوت شي.

**فائده**: ژرنده هغه مشين چې په او بو چليږي غنم اوړه کوي اوپخوا به دويالو پرغاړه باندي لګيدی چې او به په زورتيري شي او دا وبوله پريشر څخه ژرنده وچليږي اوس خوژرنده په برق او انجن سره چلوي پخوان سستم ختم شو.

(اشرف الهدايه)

(۲) که له متعاقدينو څخه يو مړشو او عقد يې دخپل ځان لپاره کړی وونو اجاره پخپله فسخ کيږي ځکه دموجر دمرګ په صورت کې که چيرته مستاجر له مستاجره شي څخه نفع حاصلوي نوله ملک دغير څخه منتفع کيدل لازميږي (او دا کار جائزنه دی) ځکه دموجر له مرګه وروسته شی دهغه دوارثانو کيږي او دمستاجر دمرګ په صورت کې دغيرله ملک څخه داجرت ادائيګی راځي چې دا هم ناجائزه ده ځکه دمستاجر ملک دورثه وطرف ته منتقل کيږي.

(۳) البته که عقداجاره عاقد دخپل ځان لپاره نه بلکې دغير لپاره کړی وونو دعاقد دمرګ په وجه اجاره نه فسخ کيږي مثلاً عقداجاره وکيل، وصي يا دعقد متولي وقف کړی وو بيا وکيل، وصي يا متولي مړشونو اجاره نه فسخ کيږي ځکه په دي صورت کې له ملک غير څخه منتفع کيدل يا اجرت اداکول نه لازميږي ولی مستحق دعقد موجود دی

(۴) په اجاره کې خيارشرط او خياررؤية شرطول صحيح دی مثلاً داسي ووايې چې مالره دري ورځې اختيار دی که مې وغوښته اجاره برقرار ساتم او که مي خوښه نه شوه ردوم يې نو دا صحيح دی ځکه اجاره عقد معاوضه دی دکوم لپاره چې په مجلس عقد کې قبض ضروري نه دی او دفسخ بالاقاله احتمال لري نو دبيع په شان په دي کې هم خيارشرط جائزدی همدارنګه که مستاجر وويل چې زه يې ووينم نو مالره دبرقرار ساتلو اوردولو اختيار شته دا هم صحيح دی ځکه عقد دمتعاقدينو درضامندي بغيرنه تاميږي او دمتعاقدينو رضامندي له علم بغيرنه ظاهره کيږي نوله رؤيت او علم بغير عقد نه تاميږي ځکه نو خياررؤيت شرط کول صحيح دی نو چې کله له خيارشرط او خياررؤيت سره اجاره صحيح ده نو صاحب خيار دخيار په وجه اجاره فسخ کولای شي.

(۵) قوله و بالعذر ای تفسخ الاجارة بالعذر، يعني اجاره دداسي عذرونو په وجه فسخ کيږي دکوم په وجود سره چې مستاجر خپل مطلب نه شي پوره کولای که يې پوره کوي نوله ده سره به ضررلاحق کيږي کوم چې دعقد په وجه پرده لازم نه وو مثلاً يو سړي دردپه وجه يو سړی دغاښ ايستلو لپاره په اجاره راووست هغه لاغاښ نه دی ايستلی چې دغاښ دردختم شو نو اجاره فسخ کيږي ځکه که دغه اجاره برقراره وساتله شي نو اجير دمستاجر سم روغ غاښ ورکاږي چې دا ضرر دعقد په وجه لازم نه دی نو دا داسي يو عذر دی چې داجارې له برقرار ساتلو څخه مانع دی، همدارنګه که يو څوک دواده دديګونو پخولو لپاره يو اشپزپه اجاره راولي

خو دديګو نو دتيارېدو په كار ډېل كولو څخه مخكې مستاجر له خپلې ښځې سره خلع وكړه نو اجاره فسخ كيږي ولې كه اجير ديګونه پخوي نو دمستاجر مال بغير دوليمه ضائع كيږي چې دعقد په وجه پرهغه لازم نه دى نو داهم داجارې دبرقرارساتلو مانع دى همدا رنګه كه يو چا په بازاركې دكان كرايه كړچې تجارت به پكې كوي يا دهغه مال تجارت ضائع شو يا يو چا سراى يا دكان په كرايه وركړى وو بيا آجر مفلس شو او دومره قرض يې پرذمه راغى چې دادا كولو لپاره يې له ده سره له دغه په كرايه وركړي سراى او دكان څخه علاوه نور بل مال هم نشته چې قرض پرې اداكړي كه دا قرض دټولو خلكو په حضوركې وو يا په ګواهانو سره ثابت شو يا خپله دده په اقرارسره ثابت شو نو اجاره فسخ كيږي ولې كه آجراجاره فسخ نه كړي دكان او سراى خرڅ نه كړي نو دوخت حاكم دى بندي كوي چې په دي كې دده داسې ضرردى چې دعقد په وجه پرده نه دى لازم شوى نو داداجارې دبرقرارساتلو څخه مانع دى.

(۶) يا مثلا يو چا حيوان دسفرلپاره كرايه كړبيا دهغه رايه بدله شوه او ده لره دسفر په نسبت په نه سفركولو كې مصلحت ښكاره شو نو په دې صورت كې هم اجاره فسخ كيږي ولې كه اجاره برقراره وساتي نو په دي كې دمستاجر داسې ضرردى چې دعقد په وجه پرده نه دى لازم شوى.

(۷) قوله لالمكارى اى لايكون عذراان بداللمكارى المانع من السفر، يعني كه آجر حيوان په كرايه وركړاو دحيوان دنګراني لپاره خپله آجرهم دسفركولو اراده كړي وه مګردآجررايه بدله شوه او ده لره دسفر په نسبت په عدم سفركې مصلحت ښكاره شو نو آجرلره دا عذرنه دى چې هغه ددې په وجه باندې عقد اجاره فسخ كړي ځكه آجرلره دا ممكن دى چې خپله په كوركې كښيني او دحيوان دنګراني لپاره يو مزدوريا مريى وليږدوي.

## مسائل متفرقه

### متفرقه (بېلابېلې مسئلې)

دمصنفينو رحمهم الله عادت دى چې دكتاب په آخركې له تېروبابونو سره متعلق څه داسې نادرې مسائلې ذكركوي چې له كوم خاص باب سره تړاو نه لري لكه مصنف رحمه الله چې هم دكتاب الاجاره په آخركې داسې څه مسائلي ذكركړي دي

(۱) ولواحرق حصائد ارض مستاجرة او مستعارة فاحترق شى فى ارض غيره لم يضمن (۲) وان اقعد خياطا او صباغا فى حانوته من عليه العمل بالنصف صح (۳) وان استاجر جملا ليحمل عليه محملا وراكبين الى مكة صح وله المحمل المعتاد ورؤيته احب

**ترجمه**: او كه يې وسوځل كښت دهغې ځمكې چې په اجاره شوې وه او يا په عارية اخيستله شوې وه بيا وسوځل شو يو شى دبل چا په ځمكه كې نو هغه نه په ضامن كيږي او كه كيناوو درزي يا رنګريز په خپل دكان كې هغه څوك چې پرده باندې كاروو په نصف عوض نو دا صحيح دى او كه يې اوښ كرايه كړچې پرهغه باندې كجاوه كښېږدي او دوه سواريان پرې سواره كړي ترمكې مكرمې پورې نو صحيح دى او جائزدى ده لره مروجه كجاوه اېښودل او دهغه ليدل زيات غوره دى.

**تشريح**:(۱) که يوه بزګر د اجاره شوي ځمکې يا دعارية د ځمکې د ربيل شوي کښت پاتې شوني وسوځاوه چې دهغه په وجه د بل چا په ځمکه کې هم يو شي وسوځل شو نو دهغه دا بزګر ذمه وار نه ګرځي ځکه ضمان هغه وخت واجيبږي چې په قصد سبب د تلف اختيار کړای شي او دلته هغه عمداً دا کار نه دی دا داسي دی لکه يو څوک چې په خپل مِلک کې څاه وکاږي او يو سړی په هغه څاه کې مړشي نو دڅاه کيندونکی نه ضامن کيږي حصائد د حصيدة جمع ده معنی ربيل شوی کښت مګر دلته د کښت هغه حصه مراد ده چې د کښت له ريبلو وروسته پر ځمکه باندي پاته وي.

(۲) يو درزي يا رنګريز چې يو څوک په خپل دکان کې کينوي چې دی له خلکو څخه د جامو ګنډلو کارونه د کاندار ته يې ورکړي او معامله په نصف وي نو قياس تقاضا داده چې دا بايد جائز نه شي ځکه دا په حقيقت کې بل چا مالک د دکان ته د دکان يوه حصه په کرايه ورکړي ده چې ته دلته کينه له خلکو څخه کارونه نيسه او نصف مزدوري مالک دکان ته د کرايه په ډول ورکړي ظاهره ده چې دا اجرت مجهول دی ځکه جائز نه دی مګر استحساناً دا صحيح دی ځکه دا په حقيقت کې اجاره نه ده بلکې شرکت صنائع دی په کوم کې چې کار پر دواړو باندي کيږي که څه هم يو د مهارت په وجه کار کوي او بل د وجاهت په وجه کارونه قبلوي او شرکة صنائع جائز دی نو چې څوک يې کينولی دی هغه د خپل وجاهت په وجه له خلکو څخه کارونه نيسي او درزي يا رنګريز د خپل مهارت له مخې هغه کارونه سرته رسوي نو چې څه حاصل شي د هغه مجهول کيدل مضرنه دی.

(۳) که چا اوښ کرايه کړ چې پردي اوښ باندي به ترمکې مکرمې پورې (غير معين) کجاوه او په هغې کې دوه کسان سورو ي نو دی پر هغه باندي معتاد (مروّجه) کجاوه بنودلی شي په دي صورت کې که څه هم کجاوه مجهوله ده مګر مقصود انسان دی هغه معلوم دي او کجاوه تابع ده نو د اجهالت مضر نه دی ځکه له کجاوه څخه چې معتاد کجاوه واخيستله شي جهالت رفع کيږي او که داوښ خاوند کجاوه خپله ووينې نو ډيره ښه ده ځکه په ليد و سره جهالت سره بلکل ختميږي.

(۴) ولمقدار زاد فأكل منه رد عوضه (۵) وتصح الاجارة وفسخها والمزارعة والمعاملة والمضاربة والوكالة والكفالة والإيصاء والوصية والقضاء والامارة والطلاق والعتق والوقف مضافا (۶) لا البيع واجازته وفسخه والقسمة والشركة والهبة والنكاح والرجعة والصلح عن مال وابراء الدين

**ترجمه**: او که يې اُوښ کرايه کړ د خاص مقدار توښه راوړلو لپاره بيا يې څه وخوړل له هغې څخه نو ور دي کړي د هغه عوض او صحيح ده اجاره او فسخ د اجارې او مزارعت او معامله او مضاربت او وکالت او کفالت او وصي ګرځول او وصيت کول او قاضي ګرځيدل او امير ګرځيدل او طلاق ورکول او آزادول او وقف کول وخت ته په اضافت سره نه بيع او اجازه د بيع او فسخ د بيع او قسمت او شرکت او هبه او نکاح او رجعت او صلح له ماله کول او له قرض څخه بري کول.

**تشريح**:(۴) قوله ولمقدار زاد فأكل منه رد عوضه ای ان استاجر جملا لمقدار زاد فأكل منه رد عوضه، يعني که د چا د يو معين مقدار توښه رسولو لپاره اوښ کرايه کړ بيا په لاره کې مستاجر له هغې توښې څخه څه خوراک وکړ چې په هغه سره د توښې

مسمی مقدار کم شو نو مستاجر لره دا جائزده چې څومره یې خوړلې وي هغومره دي ورګه کړي څکه مستاجر په ټوله لار د مسمی بار راوړلو مستحق دی نو هغه کمی دي پوره کړي.
(۵)مستقبل زمانې ته په منسوبولو سره لاندې عقود صحیح دي :(۱)عقد اجاره کول صحیح دی مثلاً څوک په شعبان کې ووايي چې ماخپل سرای درمضان له شروع څخه تاته په کرایه درکړی دی نو دا اجاره صحیح ده څکه اجاره تملیک منافع لره متضمنه ده او منافع شیئاً فشیئاً موجودیږي نو مستقبل ته یې منسوبول جائزدی (۲)پر اجاره باندې قیاس فسخ داجارې هم مستقبل زمانې ته منسوبول جائزدی مثلاً لکه څوک چې په شعبان کې ووايي ماچې کوم سرای تاته په کرایه درکړی دی هغه اجاره مادرمضان د میاشتې له شروع کیدو سره فسخ کړې ده نو دا صحیح دی (۳)مزارعت مستقبل زمانې ته منسوبول صحیح دی مثلاً یو څوک په شعبان کې ووايي زارعتک ارضی من اول رمضان،ماخپله ځمکه درمضان له شروع څخه تاته د زراعت لپاره درکړې ده (۴)مساقات یعنې کبنت ته داوبوورکولو معامله مستقبل طرف ته منسوبول جائزدی مثلاً څوک په شعبان کې ووايي ساقیتک بستانی من اول رمضان ،ماتاته خپل باغ درمضان له شروع څخه په مساقات درکړی دی کبنت او مساقات چې کوم حضرات جائزګڼي هغوئ دا اجاره ګڼي څکه یې دمستقبل زمانې منسوبول جائزدی (۵)مضاربت مستقبل طرف ته منسوبول جائزدی مثلاً رب المال چاته په شعبان کې ووايي دفعت الیک هذاالمال مضاربة من اوّل رمضان،ماتاته درمضان له شروع څخه دامال په مضاربت درکړی دی (۶)همدارنګه وکالت دمستقبل طرف ته منسوبول جائزدی مثلاً موکل دشعبان په میاشت کې یوچاته ووايي وکلتک من اوّل رمضان . ماته درمضان په ابتداء کې وکیل ګرځولی یې څکه دادواړه (مضاربت او وکالت )له قبیلې داطلاقاتو څخه دي اوقاعده داده چې کوم شی له قبیل داطلاقاتو څخه وي هغه مستقبل طرفته منسوبول جائزدی (۷)کفالت مستقبل طرف ته منسوبول جائزدی څکه کفالت ابتداءً دمال التزام کول دی څکه نو دمستقبل طرف ته دهغه منسوبول اوپه شرط متعارف پوري معلقول جائزدی (۸)څوک وصی ګرځول مستقبل طرف ته منسوبول جائزدی څکه په وصي ګرځولو کې وصي دخپل مرګ وروسته په تصرفاتو کې دخپل ځان قائم مقام ګرځول دی نو دمستقبل طرف ته منسوبول یې جائزدی (۹)همدارنګه دیو چالپاره وصیت کول تملیک المال بعدالموت دی نو دا هم دمستقبل طرف ته منسوبول جائزدی (۱۰)قاضي تاکل او امیر تعین کول مستقبل طرف ته منسوبول جائزدی څکه رسول الله ﷺ حضرت زیدبن حارثه ﷺ دسریه امیرو ګرځاوه او ویې فرمایل که زید شهید شو بیا به حضرت جعفر ﷺ امیروي که هغه هم شهید شو بیا حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ امیروي نو ذمه واري مستقبل طرف ته منسوبول جائزدی (۱۱)همدارنګه طلاق ورکول آزادول او وقف کول مستقبل طرف ته منسوبول جائزدی مثلاً خاوند دشعبان په میاشت کې خپلې ښځې ته ووايي درمضان په شروع کې ته طلاقه یې یامولی خپل مریي ته په شعبان کې ووايي درمضان دشروع څخه ته آزاده یې یا یو څوک ووايي زما فلانی ځمکه زما له وفات وروسته وقف ده.

(۶)قوله لاالبیع واجازته وفسخه الخ ای لایصح البیع واجازته وفسخه الخ ،یعنې مستقبل طرف ته منسوبول نه دی جائز مثلاً چې څوک داسې ووايي زه داخپل شی سباخرڅوک نو دا صحیح نه دی همدارنګه دبیع اجازت

مستقبل طرف ته منسوبول هم صحیح نه دی مثلا یو فضولي شخص یو شی خرڅ کړنو خرنګه چې دا بیع دمالک پراجازه موقوفه ده اومالک وویل زه سبادډي بیع اجازه درکوم نوداصحیح نه دی همدارنګه په مذکورصورت سره بیع فسخ کول ،تقسیم کول ،شرکت،هبه کول ،نکاح کول ،له طلاق څخه رجوع کول ،په مال صلح کول قرض معافول داټولې معاملاتې مستقبل طرف ته منسوبول صحیح نه دي ځکه داتملیکات دي او دهغو تنجیزفی الحال ممکن دی نو مستقبل ته دمنسوبولو ضرورت یې نشته .

## كتاب المكاتب

### داکتاب دمکاتب په بیان کې دی

مکاتب ،له کتَبَ یَکتُبُ کتابَۃً څخه لغۃً په معنی دجمع کولو ،له همدې څخه کُتَیبۃٌ په معنی دلښکرعظیم سره او کتابت په معنی دجمع کولو دحروفو ،او شرعًا مریې یداً یعنې دتصرف له لحاظه بالفعل او درقبه له لحاظه دبدل کتابت له ادائیګی وروسته آزادولو ته کتابت وایې مثلاځپل مریي ته وواېې چې که تاماته لس زره درهمه را!داکړل نوته آزادیې ،دغولسو زرو درهمو ته بدل کتابت وېل کیږي دکتابت رکن ایجاب اوقبول دی او شرط یې دبدل کتابت معلومول دی .

له ماقبل سره مناسبت یې دادی چې له کتابت او اجاري څخه هریو داسې عقد دی په کوم کې چې دغیرمال په مقابله کې اصالۃً مال حاصلیږي همدارنګه اجاره او کتابت دواړه په دې کې سره شریک دي چې په دواړو کې ملک رقبه دیوه لپاره وي او منفعت دبل لپاره کیږي .

(۱) اَلْكِتَابَةُ تَحرِيرُ الْمَمْلُوكِ يَدًا فِي الْحَالِ وَرَقَبَةً فِي الْمَآلِ (۲) كَاتَبَ مَمْلُوكَهُ وَلَوْ صَغِيرًا يَعْقِلُ بِمَالٍ حَالٍّ أَوْ مُؤَجَّلٍ أَوْ مُنَجَّمٍ وَقَبِلَ صَحَّ (۳) وَكَذَا إِنْ قَالَ جَعَلْتُ عَلَيْكَ أَلْفًا تُؤَدِّيهِ نُجُومًا أَوَّلُ النَّجْمِ كَذَا وَآخِرُهُ كَذَا فَإِذَا أَدَّيْتَهُ فَأَنْتَ حُرٌّ وَإِلَّا فَقِنٌّ (۴) فَيَخْرُجُ مِنْ يَدِهِ دُونَ مِلْكِهِ (۵) وَغَرِمَ إِنْ وَطِئَ مُكَاتَبَتَهُ اَوْ جَنَى عَلَيْهَا اَوْ عَلَى وَلَدِهَا اَوْ اَتْلَفَ مَالَهَا

**ترجمه** :کتابت آزادول دمریي دی یدافی الحال اورقبۃ فی المآل ،مکاتب یې کړ خپل مریی که څه هم هوښیار ماشوم وو د مال په عوض کې فوراً یا په موده سره یا په قسطو سره او مریي قبول کړنو صحیح دی .همدارنګه که مولی ورته وویل چې ماستا پر ذمه زر روپۍ کړي دي دا به ته اداکوې په قسطوسره لومړی قسط به دومره وي آخري قسط به دومره وي چې کله تادا روپۍ اداکړې نو ته آزادیې که نه بیا غلام یې ،نو ځي دده له لاسه نه دده له ملک نه او تاوان به ورکوي که یې وطی وکړه له خپلې مکاتبې منځې سره یا یې جنایت وکړ پر دې باندې یا دهغې پر بچې باندې یا یې مال ورتلف کړ .

**تشریح** :(۱) مصنف رحمہ اللہ دکتابت اصطلاحي تعریف داسې کړی دی چې مریی دتصرف له لحاظه فی الحال او درقبه په اعتبار سره فی المآل (دبدل کتابت له ادائیګي وروسته )آزادولو ته کتابت ویل کیږي .

(۲) چې کله مولی خپل مریی یامنځه دیو داسې معلوم مال په عوض مکاتب کړي چې پرده باندې شرط کړای شوی دی او مریی داعقد قبول کړي نو مریی مکاتب ګرځي که څه هم مریی نابالغ ماشوم وي ځکه دکتابت رکن (ایجاب اوقبول ) او شرط (یعنې معلوم مال ) پیداشو ثابت صحیح دی ،برابردی که مولی

پرمریي باندي دکل مال ادائیګی فی الحال شرط کړي مثلاً ورته ووایي چې که تالس زره روپۍ فی الحال اداکړې نوته آزادیې یاپوروړسره وکړي یاترمعلوم وخته پوري په قسطونو ادائیګی شرط کړي داد رې واړه صورتونه جائزدي ځکه داعقد معاوضه دی اودادثمن فی البیع په شان دي نولکه څرنګه چې ثمن فی البیع حالاوصولول هم جائزدی اوپوراوپه قسطونواداکول هم جائزدی همداسي مال کتابت هم دی.

(۳)همدارنګه که چاخپل مریي ته وویل چې ماپرتاباندي زردرهم ایښي دي چې هغه به ته په قسطونوسره اداکوې لومړی به دومره وي اوآخري قسط به دومره وي یعنې مقداراووختیې دواړه بیان کړل بیایې وویل چې که تادادرهم اداکړل نوته آزادیې اوکه ته عاجزشوې نوته مریی یې داکتابت صحیح دی ځکه مولی کتابت په تفسیرسره بیان کړاوپه عقودوکې معاني ؤلره اعتبار وي اودلته دکتابت معنی موجوده ده چې کله مطلق کتابت صحیح کیږي نودتفسیرپه صورت کې خوپه طریقه اولی صحیح کیږي.

(۴)بیاچې کله کتابت صحیح شونومریی دمولی له لاسه وځي ددې لپاره چې دکتابت مقصدیعنې دعوض پراداکولوباندي هغه قدرت حاصل کړي مګردمولی له ملک څخه نه وځي لقوله ﷺ :المکاتب عبدمابقی علیه درهمٌ (مکاتب مریی دی ترڅوچې پرهغه باندي یودرهم پاته وي )همدا رنګه کتابت عقدمعاوضه دی چې مساوات غواړي نوکه مریی دمولی له ملک څخه ووځي نوبیاخومریی آزادیږي مګردهغه عوض یعنې مال مولی ته تراوسه نه دی په لاس ورغلی نومساوات پاته نه شوځکه مریی دمولی له ملک څخه نه وځي.

(۵)که مولی دخپلې مکاتبې سره وطی وکړه نوپرمولی باندي دهغې دمهرتاوان لازمیږي ځکه مولی له هغې سره داسي یوعقد(یعنې عقدکتابت )کړی دی چې دهغه په وجه ده خپل ځان دمنځې په ذات اومنافعوکې دتصرف کولوڅخه منع کړی دی اووطی خودمنځې له منافعوڅخه ده نودمنځې دمنافعوپه تلفولوسره دی ضامن ګرځي،همدارنګه که مولی پرخپله مکاتبه یادهغې پربچي باندي جنایت وکړیامولی دمکاتبې مال تلف کړنوپرمولی باندي په دې دریوواړو صورتونوکې تاوان لازمیږي ځکه دمکاتبې دذات اواولادواوګټې په حق کې مولی داجنبي (بیګانه) چاپه شان دی نوڅرنګه چې اجنبي دمذکوروجنایاتوپه وجه ضامن کیږي همدارنګه مولی هم ضامن ګرځي.

(٦)وإن كاتبه على خمر أو خنزير أو قيمته أو عين لغيره (٧)أو بمائة ليرد سيده وصيفاً فسد (٨)فإن أدّى الخمر عتق وسعى في قيمته ولم ينقص من المسمّى وزيد عليه (٩)وصحّ لو على حيوان غير موصوف (١٠)أو كاتب كافر عبده الكافر على خمر وأيّ أسلم له قيمة الخمر (١١)وعتق بقبضها

**ترجمه** :که یې مکاتب وګرځاوه مریی پرشرابویاخنزیریادمریي پرقیمت یادبل چاپرشي باندي یادسلوپه عوض په دې شرط چې ده ته به مالک دخدمت لپاره مریی ورکوي نوداکتابت فاسدیږي. بیاکه یې شراب اداکړل نوآزادیږي اوخپل به ګټې کوشش به کوي اوکم نه شي اخیستلای ترمسمّی مقداراوزیات اخیستلای شي اوصحیح دی که یې مکاتب وګرځاوه پرحیوان غیرموصوف باندي، یامکاتب وګرځاوه کافرخپل

کافرمریی پرشرابو باندي اوهریو چې په دوئ کې اسلام راوړي مولی لره دشرابو قیمت کیږي اوآزادیږي دشرابو په قبض کولو سره هم.

**تشریح** :(۶)قوله وان کاتب علی خمر،له خپلو معطوفاتو سره داشرط شو،فسدیې جزاءده،یعني که مسلمان خپل مسلمان مریی دشرابو یاخنزیرپه عوض یاخپله دهغه مریي دقیمت په عوض مکاتب وګرځاوه مثلاً ورته ویې ویل :(کاتبتک علی قیمتک) نوداکتابت فاسددی په لومړي صورت (یعنې شرابو او خنزیر په صورت)کې خو ځکه فاسددی چې شراب اوخنزیردمسلمان په حق کې مال متقوم نه دی نوګواکې داعقدکتابت بلابدل شو ځکه فاسدیږي،اودمریي دقیمت په صورت کې ځکه فاسدیږي چې دهغه قیمت هم ول مجهول دی اومجهول بدل کتابت دکتابت عوض ګرځول صحیح نه دی،همدارنګه که مولی مریی دبل چادمعلوم شي مثلاً آس یاکپړې په عوض کې مکاتب وګرځاوه نوداکتابت هم فاسددی ځکه مریی دبل چادشي پرسپارلو قادرنه دی حال داچې پرمعقودعلیه باندي قادرکیدل دعقددصحت لپاره شرط دی.

(۷)که چاخپل مریی دسلودینارونوپه عوض په دي شرط مکاتب وګرځاوه چې مولی به مکاتب ته دخدمت لپاره یوغیرمعلوم مریی ورکوي نودطرفینو رحمهماالله په نزدداکتابت هم فاسددی.دامام ابویوسف رحمه الله په نزدصحیح دی ځکه مطلق مریی دبدل کتابت صلاحیت لري نوله بدل کتابت څخه دهغه استثناء کول هم صحیح کیږي نودلته درمیانه مریی مرادیږي اوسل دیناره دداسي مریي پرقیمت باندي تقسیمیږي خومره حصه چې دهغه دقیمت په مقابله کې راشي هغه حصه ساقطیږي اودباقي په عوض کې دی مکاتب ګرځي،دطرفینو رحمهماالله دلیل دادی چې دلته له دنانیرو څخه دمریي استثناء داختلاف جنس په وجه صحیح نه ده بلکې استثناء دهغه دقیمت په اعتبارسره کیدای شي اوپه قیمت کې دمقداراووصف له لحاظه داتهائي جهالت پربناء دبدل کتابت صلاحیت نه لري.

(۸)یاکه مکاتب مولی ته شراب یاخنزیرورکړل نومکاتب آزادیږي ولی شراب اوخنزیرفی الجمله مال دی که څه هم دمسلمانانوپه حق کې متقوّم نه دی،مګرمریی به خپل قیمت ګټي مولی ته به یې ورکوي ځکه دفسادعقدپه وجه پرمکاتب باندي ردّرقبه واجب دی مګردآزادي په وجه ردّرقبه متعذردی نوځکه دقیمت ردّیدل واجب دی،مګرداقیمت به ترمسمّی (یعنې شرابو او خنزیرترقیمت) کم نه وي ولی مولی په دي نه راضي کیږي چې ترمسمّی په کم باندي مریی مکاتب وګرځي اوزیات ورکولای شي ځکه مکاتب پرفاسدعقدباندي اقدام کړی حال داچې دی پوهیږي چې په عقدفاسدکې قیمت واجبیږي نودی دقیمت پراداکولو باندي راضي شوی دی که څه هم قیمت ترمسمّی زیات وي.

(۹)قوله وصح لوعلی حیوان ای صح عقدالکتابة لوکاتب رجل عبده علی حیوان غیرموصوف،یعني که چاخپل مریی دیوداسي حیوان په عوض کې مکاتب وګرځاوه چې دهغه جنس معلوم ووچې پسه دی یاآس مګروصف یې معلوم نه ووچې اعلی دی که ادنی نوداسي عقدکتابت صحیح دی ځکه جهالت یسیردی وصف داوسط درجه حیوان طرف ته راګرځي یعنې مکاتب به اوسط درجه حیوان مولی ته ورکوي اوکه یې جنس هم نه وو بیان کړی نوبیادسخت جهالت په وجه عقدکتابت نه صحیح کیږي.

(۱۰) قوله او كاتب كافر عبده اى وصح عقد الكتابة ان كاتب كافر الخ، يعني كه يوه كافر خپل كافر مريى پر معلوم مقدار شرابو باندي مكاتب وګرځاوه نو دا جائز دى ځكه شراب دهغوئ په حق كې داسې مال دى لكه زموږ په حق كې سركه نو لكه زموږ په نزد چې پر سركه باندي عقد كتابت صحيح دى ددوئ لپاره دشرابو په عوض صحيح دى، بيا كه دمولى او مريي څخه هريو مسلمان شو نو مولى ته به دشرابو قيمت وركوي ځكه مسلمان له دي څخه منع دى چې خپله دشرابو مالک ګرځي يا بل څوک دشرابو مالک ګرځوي او په مذكورصورت كې دشرابو په حوالوكولو سره دا لازميږي ولى كه مكاتب مسلمان شو نو مسلمان بل څوک ځرنګه دشرابو مالک ګرځوي او كه مولى مسلمان شو نو مسلمان دشرابو مالک ګرځي .

(۱۱) او چې كله مولى دشرابو قيمت قبض كړي نو مريى آزاديږي ځكه په عقد كتابت كې د معاوضه معنى موجوده ده او په عقد معاوضه كې له احد المتعاقدينو څخه ديوه لپاره دعوض سلامتي دهغه بل لپاره دعوض سلامتي واجبوي .

باب مايجوز للمكاتب ان يفعله او لايفعله

داباب دمكاتب لپاره دجائزاو ناجائزافعالو په بيان كې دى

مصنف رحمه الله دكتابت صحيحه او فاسده داحكامو له بيان څخه فارغ شو نو يې په هغو امورو پيل وكړ چې دمكاتب لپاره جائز يا ناجائز دي ځكه جائز تصرفات پر عقد صحيح باندي موقوف دي .

(۱) للمكاتب البيع والشراء والسفر وان شرط أن لايخرج من المصر (۲) وتزويج امته (۳) وكتابة عبده (۴) والولاء له ان أدى بعد عتقه والا لسيده (۵) لاالتزوج بلااذن (۶) والهبة والتصدق الا بيسير (۷) والتكفل والاقراض واعتاق عبده ولو بمال او بيع نفسه وتزويج عبده (۸) والاب والوصى فى رقيق الصغير كالمكاتب ولايملك مضارب وشريك شيئا منه

**ترجمه**: جائز دى مكاتب لره خريد و فروخت او سفر كه څه هم مالک دا شرط كړى وي چې له ښاره به نه وځي، او دخپلې نكاح كول او خپل مريى مكاتب ګرځول او ولاء ده لره كيږي كه ادا كړي دده له آزاديدو وروسته كه نه دده مالک لره كيږي نه نكاح كول بيله اجازې او هبه او صدقه كول مګر لږ مقدار، او كفيل كيدل او قرض وركول او خپل مريى آزادول كه څه هم دمال په عوض كې وي او خپل ځان خرڅول او دخپل مريي نكاح كول پلار او وصي دماشوم دمريى په حق كې دمكاتب په شان دي او مالک نه ګرځي مضارب او شريک په دي كې دهيڅ شي .

**تشريح**: (۱) ځرنګه چې مكاتب دعقد كتابت په وجه يداً آزادوي يعني دى دداسې ځينو تصرفاتو مالک ګرځي دكومو په نتيجه كې چې دى ترمقصود يعني حريت پورې رسيږي ظاهره ده چې دادول تصرفات بيع او شراء دي نو مكاتب لره خريد او فروخت جائز دي او كله دخريد او فروخت دسفر حاجت وي نو سفر هم كولاى شي كه څه هم مولى دسفر نه كولو شرط پرې لګولى وي بيا هم سفر كولاى شي ځكه دا شرط د مقتضاء عقد خلاف دى او په صلب عقد يعني احد البدلين كې داخل نه دى نو دا شرط باطل دى او عقد صحيح دى .

(۲)قوله وتزويج امته اى وجاز للمكاتب تزويج امته،يعني كه مكاتب دخپلې منځې نكاح وكړه نوداجائزدى ځكه دمنځې نكاح وركول دمال ګټلوله قبيل څخه دى ولى چې ددې په ذريعه دى دمهرمالک ګرځي نومكاتب لره دخپلې منځې نكاح وركول جائزدى .

(۳)قوله وكتابة عبده اى وجاز للمكاتب كتابة عبده،يعني كه مكاتب له خپلومريانوڅخه يومريى مكاتب وګرځاوه نودااستحسانا جائزدى وجه داستحسان داده چې دمريي په مكاتب كولوسره ده لره مال حاصليږي نوڅرنګه چې مكاتب لره دمريانوخريدوفروخت دمال دحاصلولولپاره جائزدى همداسي دمريي دمكاتب كولوهم ده لره اجازه شته بلكې كله خولاپه نسبت دبيع كتابت ډيرګټوروي ځكه كتابت ملک نه زائلوي ترڅوچې بدل كتابت وصول شوى نه وي اوبيع بنفسه ملک زائلوي .

(۴)بياكه مكاتب ثاني (مكاتب المكاتب) دمكاتب اول له آزاديدووروسته بدل كتابت وراداكړنو دمكاتب ثاني ولاء مكاتب اول لره ده ځكه په دې صورت كې مكاتب اولى دخپلې ازادې په وجه دولاء اهل دى نوولاء دمريي ده لره كيږي ،اوكه مكاتب ثاني دمكاتب اولى ترآزاديدومخكې بدل كتابت وراداكړنودمكاتب ثاني ولاء دمكاتب اول مولى لره كيږي ځكه په مكاتب ثاني كې هم ددغه مولى يوقسم ملكيت وونوداعتاق نسبت فى الجمله دهغه طرف ته صحيح دى په داسې حال كې چې په دغه صورت كې دمكاتب اول طرف ته داعتاق نسبت صحيح نه دى ځكه هغه خپله غلام دى داعتاق اهليت نه لري .

(۵)قوله لاالتزوج بلااذن اى لايجوزللمكاتب التزوج بلااذن،يعني كه مكاتب دمولى داجازت بغيرنكاح وكړه نوداجائزنه ده ولى كتابت له قيام ملک سره سره له مريي څخه دتصرف كولوپابندې ختمولوته ويل كيږي چې دا ترمنزل مقصود(يعني حصول آزادي)پورې وسيله وګرځي اونكاح كول ددغه مقصدوسيله نه ده بلكې په دې كې نوره هم مخله ده نونكاح كول دده لپاره ناجائزه ده البته كه مولى اجازه وركړه بياجائزه ده ولى پرمكاتب باندې دنكاح پابندې دمولى دحق په وجه وه نوچې دى اجازه وركوي بياجائزه كيږي .

(۶)قوله والهبة والتصدق اى لايجوزللمكاتب الهبة والتصدق الايسير،يعني مكاتب دهبه كولواوصدقه كولواختيارنه لري ځكه داله قبيل دتبرعات څخه دي اومكاتب دتبرعاتو اجازه نه لري البته ديوڅه دمعمولي شي دهبه كولواجازه لري ځكه داله ضرورياتودتجارت څخه ده اوقاعده داده چې څوک دكوم شي مالک ګرځي هغه دهغه دتوابعواوضرورياتوهم مالک ګرځي اومكاتب لره داجائزه نه ده چې هغه ديوچاكفيل شي ياچاته قرض وركړي ياخپل مريى ازادكړي كه څه هم په عوض دمال وي ياخپل ځان خرڅ كړي ياخپل مريي ته نكاح وروكړي ځكه داشيان محض تبرعات دي اودتجارت له ضرورياتوڅخه هم نه دي نومكاتب لره داامورجائزنه دي،همدارنګه مكاتب خپل مريى په دې وجه هم نه شي آزادولاى چې په مكاتب كې دآزادولواهليت نشته ،اومكاتب خپل ځكه نه شي خرڅولاى چې دمريي خپل ځان خرڅول خپل ځان آزادول دي چې دهغه دى مالک نه دى .

(۷)داحنافو رحمهم الله په نزدپلاراووصي لره دماشوم دمملوک په حق كې هغه اختيارات شته كوم چې مكاتب لره دخپلې ګټې په مريي كې حاصل دي مثلا دپلاراووصي لپاره دماشوم دمنځې نكاح كول اودهغه

مملوک مکاتب گرځول جائزدی،اودکوموامورواختیارچې دمکاتب دخپل مريي په باره کې نه لري دغوامورواختیارپلار او وصي ته هم نشته مثلاً دماشوم مريي آزادول یادهغه نکاح کول ځکه پلار او وصي هم دمکاتب په شان دماشوم په مال کې دګټې کولواختیارلري دتبرعاتو اختیارنه لري،البته مضارب اوشریک ته دغومذکوروامورو څخه دکوم امرهیڅ اختیارنشته که دشرکت دقسم څخه وي ځکه هغوئ ته یوازې دتجارت کولواختیارشته دنکاح کول اومکاتب گرځول له تجارت څخه نه دي.

(۹)ولواشترى أباه أوإبنه تكاتب عليه(۱۰)ولواشترى أخاه ونحوه لا(۱۱)ولواشترى أم ولده معه لم يجزبيعها(۱۲)وإن ولدله من أمته ولد تكاتب عليه وكسبه له(۱۳)ولوزوج امته من عبده فكاتبهما فولدت دخل في كتابتها وكسبه لها.

**ترجمه** :که مکاتب واخیست خپل پلار یا خپل زوی نومکاتب کیږي پرده باندي اوکه یې واخیست خپل وروریابل قریب نه مکاتب کیږي،اوکه یې واخیسته خپله امّ ولده له بچي سره یوځای نو جائزنه دی دهغې خرڅول،اوکه دده دخپلې منځې څخه زوی پیداشونوهغه مکاتب ګرځي پرده باندي اودهغه ګټه کاروکسب دپلارکیږي اوکه یې په نکاح کړه خپله منځه خپل مريي ته بیایې دواړه مکاتب وګرځول بیادمنځې ماشوم پیداشونوماشوم دموریه کتابت کې داخلیږي اودهغه ګټه دمورکیږي.

**تشریح** :(۹)که مکاتب خپل پلار(مراداصول دي)یازوی (مرادفروع دي)واخیست نوهغه هم دده په کتابت کې داخلیږي ځکه مکاتب که څه هم خپل پلار یازوی آزادولای نه شي مګرپه قدردامکان لپاره دتحقق دصله رحمي خوبې مکاتب ګرځولای شي.

(۱۰)که مکاتب خپل یوداسي قریب واخیست چې دولادت رشته یې نه ورسره درلوده لکه ورور،خور، آکا وغیره نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدداخلک دده په کتابت کې نه داخلیږي، دصاحبینو رحمهماالله په نزد داخلیږي. صاحبین رحمهماالله دغیرولادت رشته دولادت پررشته باندي قیاسوي ځکه صله رحمي واجبیدل دواړولره شامل دی ،دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې مکاتب یوازې پرکاروبارباندي قادروي حقیقي مِلک خوهغه لره نه حاصلیږي (ځکه په ده کې رقیت موجوددی ) اوخالص قدرت علی الکسب دولادت په رشته کې دصله رحمي لپاره کافي کیږي مګرپه نوروقرابتونو کې دصله رحمي لپاره کافي نه دی.

**فائده** :دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی :لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله :قوله لم یدخل في کتابته عندابي حنیفة رحمه الله الخ،والراجح قوله الامام ابي حنیفة رحمه الله وهو الاستحسان لقله ابن النجیم في البحر الرائق نقلاعن الذخیرة وکذاصرح به في الهندیة المعروف بالعالمکیریة(هامش الهدایة:۳/۳۲۳)

(۱۱)که مکاتب خپله امّ ولده دهغې دبچي سره یوځای واخیسته نوماشوم دپلارپه کتابت کې داخلیږي ځکه په تیره مسئله کې دابیان وشوچې زوی دپلارپه کتابت کې داخلیږي نودماشوم خرڅول جائزنه دی مګرخپله امّ ولده له هغه سره په کتابت کې نه داخلیږي،البته دماشوم په تبع سره ام ولدهم نه شي خرڅولای

(۱۲) که د مکاتب د منځې له ده څخه بچی پیدا شو او مکاتب د هغه د نسب دعوی وکړه نو د استیلاد دنه جائز کیدو با وجود نسب ثابتیږي او ماشوم له پلار سره په کتابت کې داخلیږي ځکه مکاتب پلار که څه هم هغه آزاد ولای نه شي مګر په قدر د امکان د تحقق صله رحمي لپاره یې مکاتب ګرځوي لهذا اوس ماشوم د پلار په حکم کې کیږي، او د ماشوم ګټه د پلار کیږي ځکه ماشوم د هغه د مملوک په حکم کې دی نو ګټه د کاروبار یې د پلار کیږي.

(۱۳) که مولی د خپل مریي واده د خپلې یوې منځې سره وکړ یا یې دواړه مکاتب وګرځول بیا د وهغوئ بچی پیدا شو نو دا ماشوم د مور په کتابت کې داخلیږي او د ماشوم ګټه مور ته ورکوله کیږي ځکه ماشوم په اوصاف حکمیه ؤکې د مور تابع وي همدا وجه ده چې ماشوم په آزادي او غلامي کې د مور تابع وي نو په کتابت کې هم د مور تابع کیږي او د هغه ګټه د مور کیږي.

(۱۴) مُكَاتَبٌ أَوْ مَأْذُونٌ نَكَحَ بِإِذْنٍ حُرَّةً بِزَعْمِهَا فَوَلَدَتْ فَاسْتُحِقَّتْ فَوَلَدُهَا عَبْدٌ (۱۵) وَإِنْ وَطِئَ أَمَةً بِشِرَاءٍ فَاسْتُحِقَّتْ أَوْ بِشِرَاءٍ فَاسِدٍ فَرُدَّتْ فَالْعُقْرُ فِي الْمُكَاتَبَةِ (۱۶) وَلَوْ بِنِكَاحٍ أُخِذَ مُذْ عَتَقَ

**ترجمه**: مکاتب یا ماذون مریي نکاح وکړه په اجازه سره له یوې آزادې ښځې سره د هغې په ګمان سره بیا یې ماشوم پیدا شو بیا دا دبل چا مستحقه وګرځیده نو دا ماشوم زوی یې مریی ګرځي او که یې وطی وکړه له منځې د خرید په ذریعه بیا هغه دبل چا مستحقه وګرځیده یا په ذریعه د خرید فاسد سره بیا هغه واپس کړای شوه نو عقر په مکاتبت واجبیږي او که په ذریعه د نکاح وي نو ماخوذ کیږي د هغه وطی په وجه کله چې آزاد شي.

**تشریح**: (۱۴) که مکاتب یا ماذون د خپل مولی په اجازه سره له یوې داسې ښځې سره نکاح وکړه چې هغه دعوی د حریت کوي او د مکاتب له هغې څخه زوی پیدا شو بیا یو چا پردې ښځه خپل استحقاق ثابت کړ یعنې دایې ثابته کړه چې دا زما منځه ده پس هغه مستحق د امنځه یوړه نو هغه بچی یې مملوک کیږي ځکه دا ماشوم له دوو مملوکینو څخه پیدا شوی دی نو لهذا دی هم مملوک کیږي.

(۱۵) یعنې که مکاتب یا ماذون فی التجارة مریي یوه منځه په شراء صحیح سره واخیسته د مولی د اجازې بغیر یې له هغې سره وطی وکړه بیا د هغې کوم بل څوک مستحق پیدا شو او منځه یې یوړه نو پر مکاتب او ماذون باندې د دې وطی مهر واجبیږي چې دادائیګی لپاره یې فی الحال د هغوئ مواخذه کیږي یعنې تر آزادید و پورې هغوئ ته مهلت نه ورکول کیږي همدا رنګه که مکاتب په فاسد خرید سره منځه واخیسته او له هغې سره یې وطی وکړه بیا یې هغه واپس کړه نو د هغې د عقر په باره کې د ده مواخذه په حالت د کتابت کې کیږي ځکه تصرف کله صحیح وي او کله فاسد، کله چې مولی دی مکاتب وګرځاوه یا یې ده ته د تجارت اجازه ورکړه نو دا د تصرف دواړو قسمونو ته شاملیږي نو ګواکې مولی هغه ته د دواړو قسمونو اجازت ورکړی دی نو د هغه تاوان د مولی په حق کې هم ظاهریږي ځکه د ده مواخذه (ګرفت) په همدغه د کتابت په حالت کې کیږي تر آزادۍ پورې مهلت نه ورکول کیږي.

(۱۶) قوله ولو بنکاح أخذ به ای لو وطی الامة بنکاح اخذ به مذعتق، یعنې که مکاتب د مولی د اجازت بغیر له

منځې سره نکاح وکړه وطی یې ورسره وکړه بیا دهغې یو مستحق پیدا شونو دمهرلپاره فی الحال دهغه مواخذه نه کیږي بلکې له آزادیدو وروسته له هغه څخه مهراخیستل کیږي ځکه نکاح کول خو ګټه نه ده نو عقدکتابت هغې ته نه شامليږي لهذا دمولی له طرفه دنکاح اجازت هم نشته ځکه نودنکاح په وجه چې کوم تاوان راغلی دی هغه به دمولی په حق کې نه ظاهره کیږي .

## فصل

دافصل دمدبّر ،امّ ولد وغیره دکتابت په بیان کې دی

دسابق فصل دمسائلوله جنسه یې یوه بله نوع مسائل په دې فصل کې ذکرکړي دي ځکه یې دمستقل فصل عنوان ورکړی دی .

(۱)وَلَدَتْ مُكَاتَبَةٌ مِنْ سَيِّدِهَا مَضَتْ عَلَى كِتَابَتِهَا أَوْ عَجَزَتْ وَهِيَ أُمُّ وَلَدِهِ (۲)وَإِنْ كَاتَبَ أُمَّ وَلَدِهِ أَوْ مُدَبَّرَهُ صَحَّ وَعَتَقَتْ مَجَّانًا بِمَوْتِهِ (۳)وَسَعَى الْمُدَبَّرُ فِي ثُلُثَيْ قِيمَتِهِ أَوْ كُلِّ الْبَدَلِ بِمَوْتِهِ فَقِيرًا (۴)وَإِنْ دَبَّرَ مُكَاتَبَهُ صَحَّ فَإِنْ عَجَزَ بَقِيَ مُدَبَّرًا (۵)وَإِلَّا سَعَى فِي ثُلُثَيْ قِيمَتِهِ أَوْ ثُلُثَيِ الْبَدَلِ بِمَوْتِهِ مُعْسِرًا (۶)وَإِنْ أَعْتَقَ مُكَاتَبَهُ عَتَقَ وَسَقَطَ الْبَدَلُ

**ترجمه** :دمکاتبې منځې ماشوم پیداشو دخپل مولی څخه نوپرخپل کتابت دې پاتې شي یادې خپل ځان عاجزوښیې دابه دهغه ام ولده شي اوکه یې مکاتب کړخپل امّ ولدیاخپل مدبّرنوصحیح دی اومفت آزادیږي دمولی دمرګ پس اومدبّربه دخپل قیمت په دوه ثلثه اداکولوکې کوښښ کوي یاکل بدل کتابت دمولی په مرګ سره په حالت دفقرکې اوکه یې مدبرکړخپل مکاتب نوصحیح دی بیاکه هغه خپل ځان عاجزکړنومدبرپاتیږي که نه بیابه ګټي دخپل قیمت دوه ثلثه یادبدل کتابت دوه ثلثه دمولی په مرګ سره په حالت دفقرکې اوکه یې آزادکړخپل مکاتب نوآزادیږي اوبدل کتابت ساقطیږي .

**تشریح** :(۱)که مولی خپله منځه مکاتبه کړه بیاله مولی څخه دهغې ماشوم پیداشونو منځې لره اختیاردی که غواړي پرعقدکتابت دې پاته شي له مولی څخه دې خپل مهرواخلي اودبدل کتابت په اداکولوسره فی الحال آزادیږي اوکه غواړي خپل ځان دې دبدل کتابت دااداکولوڅخه عاجزه کړي ام ولده به پاته شي دمولی له مرګ وروسته آزادیږي وجه داختیارداده چې هغې لره له دووجهتونوحق دحریت حاصل شویودکتابت دجهت څخه دوهم دامّ ولدکیدودجهت څخه نوځکه ددواړو اختیارورکول کیږي .

(۲)که مولی خپله ام ولده مکاتبه وګرځوله نوداکتابت جائزدی ځکه دمولی ملک په ام ولده کې باقي دی لهذا دهغه داتصرف (مکاتبه ګرځول ) صحیح دی بیاکه دبدل کتابت دااداکیدوڅخه مخکې مولی مړشونوبدل دهغه دذمې څخه ساقطیږي ځکه دی دام ولدکیدوپه وجه آزادیږي اوکتابت باطل شو ،همدارنګه که مولی خپله مدبره منځه مکاتبه وګرځوله نوداهم جائزدی ځکه هغه که څه هم دتدبیرپه ذریعه دمولی دمرګ وروسته آزادیږي لیکن فی الحال دکتابت په ذریعه دآزادي حاصلولوته هغه محتاجه ده لهذا مولی ته جائزدی چې هغه مکاتبه وګرځوي .

(۳)یاکه دبدل کتابت اداکیدوڅخه مخکي مولی په حالت دفقرکښ مړشواوله دغی مدبره ماسواهغه بل هیڅ شی نه درلودنوداامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددغی مدبره مکاتبه ته اختیارورکول کیږي که یې خوښه وي دخپل قیمت دوه ثلثه دي وګټیي ورثه ؤته دي ورکړي اوکه یې خوښه ده کل بدل کتابت دي وګټیي ،داامام ابویوسف رحمه الله په نزدله دغودوو څخه چې کوم یوکم وي هغه دي وګټیي،داامام محمد رحمه الله په نزددبدل کتابت ددووثلثواودقیمت ددووثلثوڅخه چې کوم یوکم وي هغه دي پیداکړي.دلته په دووخبروکې اختلاف دی یوه داچې دې لره اختیارشته که نه؟ دوهمه داچې په کوم شي کې داسعی کوي دهغه مقدارڅه دی ؟ امام ابویوسف رحمه الله په مقدارکې له امام ابوحنیفة رحمه الله سره دی اوپه نفی اختیارکې له امام محمد رحمه الله سره دی.

داامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې اعتاق تجزیه قبلوي نومدبره مذکوره دتدبیرپه وجه دیوثلث آزادي مستحقه ګرځیدلې ده اودوه برخې رقبه مملوکه مکاتبه پاته ده اودهغی دآزادي دوه جهتونه په دووعوضینوسره حاصل دي یومعجّل په ذریعه دتدبیراویومؤجل په ذریعه دکتابت نودی په دواړکې مختاردی.

**فائده** :داامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لمافي الدرالمختار:ولوکاتب شخص ام ولده اومدبره صح وعتقت ام الولد مجانابموته بالاستیلادوسعی المدبرفی ثلثی قیمته ان شاء اوسعی فی کل البدل بموت سیده فقیراالخ.(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۵/ ۷۳)وقال الشیخ عبدالحکیم الشهید رحمه الله :وقول الامام الاعظم ابی حنیفة رحمه الله هوالصحیح کذافی الفتاوی الهندیة نقلاعن المضمرات (هامش الهدایة:۳/۳۲۶)

(۴)که مولی خپل مدبرمکاتب وګرځاوه نوداجائزدی ځکه مدبرچې مکاتب کړي هغه ته په دوه جهته حریت حاصلیږي یعني دتدبیراوکتابت په وجه،اوددي دواړوترمنځ هیڅ منافات نشته،یاکه هغه خپل ځان دبدل کتابت اداکولوڅخه عاجزکړنومدبرپاتیږي بلکې هغه لره اختیاردی که غواړي چې دتعجیل حریت لپاره پرعقدکتابت پاته شي اوکه غواړي خپل ځان دي عاجزکړي مدبربه شي ځکه پرمملوک لازم نه دی چې هغه به مکاتب پاته وي.

(۵)قوله والاسعی ای وان لم یعجزسعی الخ،یعني که هغه خپل ځان دبدل کتابت اداکولوڅخه عاجزنه کړبلکې کتابت یې اختیارکړاودبدل کتابت اداکولوڅخه مخکې دتنګي په حالت کې مولی مړشواوله دغه مدبرسوایې بل هیڅ هم نه درلودنوداامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدهغه مختاردی که غواړي دوه برخې مال کتابت دې پیداکړي ورثه ؤته دي ورکړي اوکه غواړي دخپل قیمت دوه برخې دي پیداکړي ورثه ؤته دي ورکړي،دصاحبینورحمهماالله په نزدهغه اختیارنه لري بلکې له هغو څخه چې کوم یوکم وي هغه به اداکوي .دلته یواځې په مختارکیدوکې اختلاف دی چې داعتاق پرتجزیه اونه تجزیه باندې مبني دی لکه چې لږمخکې داخبره تیره شوه چې داامام صاحب رحمه الله په نزداعتاق تجزیه قبلوي اودصاحبینو رحمهماالله په نزدیې نه قبلوي ،پاتی شومقداردتولوپه نزددوه برخې متعین دی.

**فائده** :دصاحبینورحمهماالله قول راجح دی لماقال العلامة ابن عابدین الشامی رحمه الله :وقولهمااظهرکمافی المواهب ابوالسعودعن الحموی(ردالمحتار:۵/۷۳)

(۶)که مولی مکاتب مریی دبدل کتابت اداکولو څخه مخکې آزادکړنودی دهغه په آزادیدوسره آزادیږي ځکه دمولی ملک تراوسه قائم دی اوهغه پخپل ملک کې دتصرف کولواختیارلري اوبدل کتابت له هغه څخه ساقطیږي ځکه دبدل کتابت التزام هغه ددي لپاره کړی ووچې ده ته آزادي وربه برخه شي اوس خوهغه ته آزادي بغیردبدل کتابت وربه برخه شوه نوبدل کتابت ساقطیږي .

(۷)وَاِنْ کَاتَبَہٗ عَلٰی اَلْفٍ مُؤَجَّلٍ فَصَالَحَہٗ عَلٰی نِصْفٍ حَالٍّ صَحَّ (۸)مَاتَ مَرِیْضٌ کَاتَبَ عَبْدَہٗ عَلٰی اَلْفَیْنِ اِلٰی سَنَۃٍ وَقِیْمَتُہٗ اَلْفٌ وَلَمْ تُجِزِ الْوَرَثَۃُ اَدّٰی ثُلُثَیِ الْبَدَلِ حَالًّا وَالْبَاقِیَ اِلٰی اَجَلِہٖ اَوْرُدَّ رَقِیْقًا (۹)وَاِنْ کَانَتْ عَلٰی اَلْفٍ اِلٰی سَنَۃٍ وَقِیْمَتُہٗ اَلْفَانِ وَلَمْ یُجِیْزُوْا اَدّٰی ثُلُثَیِ الْقِیْمَۃِ حَالًّا اَوْرُدَّ رَقِیْقًا

**ترجمه** :که یې مکاتب کړمریی دیوزرموجل په عوض بیایې له هغه سره صلح وکړه پرفوري نصف باندي نواصحیح دی مړشو مریض چې مکاتب کړی یې وخپل مریی پردوه زره روپۍ باندي تریوه کاله پوري اوده قیمت زرروپۍ دی اوجائزنه کړل ورثه ؤموده نودبدل دوه برخې به فوراً اداکوي اوباقی ترهغه مودې پوري یادي وګرځي غلامي ته،اوکه یې مکاتب کړمریی په یوزرتریوه کاله پوري اودهغه قیمت دوه زره روپۍ دی اوورثه موده نه مني نودقیمت دوه برخې دي اداکړي فوراًیادي دغلامي طرف ته وګرځي .

**تشریح** :(۷)که مریی په یوزرروپۍ پورباندي مکاتب کړي مثلاًپه یوه کال کې دزرودرهمونو اداکیدو وعده شوې وه بیاهغه له خپل مولی سره پرپنځه سوه نقددرهمونوباندي صلح وکړه نومقتضی دقیاس خوداده چې دابایدچې جائزنه وي ځکه پنځه سوه په عوض دزرودرهمونوکې سودلازمیږي په دې ډول چې کله مملوک پنځه سوه اداکړي نوداپنځه سوه له هغوزرونه دپنځه سوه په مقابله کې شوې چې دده پرذمه دین دي اوباقی پنځه سوه مکاتَب لره دمودې په عوض کې سالمې پاتی شوې حال داچې موده مال نه دی نودامقابلة المال بغیرالمال شوه اوداسوددی،مګراستحساناداجائزدی ځکه موده که څه هم فی نفسه مال نه دی لیکن دمریي په حق کې هغه دمال په حکم کې دی په دې وجه چې دی له مودې بغیردبدل کتابت پراداکولوباندي قادرنه دی اوبدل کتابت هم من وجه مال دی من کل الوجوه مال نه دی که نه دهغه کفالت به صحیح کیدای حال داچې دبدل کتابت کفالت صحیح نه دی نوپه دي لحاظ سره دواړه برابرشول مقابلة المال بالمال شوه په دي سره سودنه لازمیږي .

(۸)که یوه مریض خپل مریی چې قیمت یې یوزردرهم دي ددووزروپه عوض دیوه کال په موده مکاتب کړبیاهغه مړشواوله هغه مریي پرته یې بل هیڅ مال نه ووپري اینې اودمولی ورثه ؤموده نه منله بلکې فی الحال یې دبدل کتابت غوښتنه وکړه نودشیخینؒ رحمهماالله په نزدبه هغه دبدل کتابت یعنې دووزرودوه ثلث فی الحال اداکوي اوباقی یوثلث به ترخپلې تاکلې مودې پوري اداکوي ځکه ټول مسمی یعنې دوه زره درهم درقبه مقابل دي حتی چې دعوض احکام پرټولودوه زره باندي جاري کیږي اودورثه ؤحق تررقبه پوري معلق دی نودهغه تربدل یعنې دوه زره درهمه پوري هم معلق کیږي اوموده ورکول معنًی اسقاط حق دی ګواکې له حق څخه یې څه ساقط کړنودهغه اعتباردټول مال له ثلث څخه کیږي ځکه دمریض اختیاریوائې په یوه ثلث دترکه کې چلیږي نوموده ورکول کمول دټول مسمی یعنې دووزرودثلث څخه

معتبريږي په دي شكل له كل مسمّى څخه يوثلث دمولى حق ساقطيږي اودوه ثلثه دورثه ؤحق به في الحال اداكوي، اوكه يې داسې نه شوكولاى نوعقدكتابت دي ختم كړي غلام دي شي.

(۹)كه يوه مريض خپل مريى چې دهغه قيمت دوه زره درهمه دي ديوزرپه عوض كې ترېو كال موده پورې مكاتب كړبيادى مړشواوله دغه مريي سِوايې نورمال نه درلوداودمولى ورثه ؤددې عقداجازه نه وركوله نومكاتب ته دي وويل شي چې دخپل ټول قيمت (دوه زره) دوې برخې في الحال اداكړه كه نه بيرته غلام گرځول كيږي ځكه دلته مريض په مقداراوموده دواړوكې كمى كړى دى نوثلث له دواړوڅخه معتبريږي يعني دهغه تصرف يواځې په يوه دريمه كې معتبريږي په باقى دووبرخوكې دورثه ؤدحق په وجه دده تصرف نه معتبريږي.

(۱۰)حُرٌ كَاتَبَ عَبدٌبِالفٍ وَ اَدّى عَتَقَ(۱۱)فَاِنْ قَبِلَ العَبدُ فَهُوَ مُكَاتَبٌ(۱۲)وَاِنْ كَاتَبَ الحَاضِرَ وَ الغَائِبَ وَ قَبِلَ الحَاضِرُ صَحَّ(۱۳)وَ اَيُّهُمَا اَدّى عَتَقَا(۱۴)وَلَا يَرجِعُ عَلى صَاحِبِه(۱۵)وَ لَا يُؤخَذُ الغَائِبُ بِشَيءٍ وَقَبُولُه لَغوٌ(۱۶)وَاِنْ كَاتَبَتِ الاَمَةُ عَنْ نَفْسِهَا وَعَنْ اِبْنَينِ صَغِيرَينِ لَهَا صَحَّ وَاَيٌّ اَدّى لَم يَرجِع

**ترجمه**:يوه آزادسړي عقدكتابت وكړدمريي له جانبه دزروروپوپه عوض كې اوادايې هم كړې نودى آزاديږي اوكه مريي قبول وكړنودى مكاتب گرځي اوكه يې مكاتب وگرځول حاضراوغائب اوقبول حاضروكړنوصحيح دى اوهريوچې يې له دواړونه اداكړي نودواړه آزاديږي اورجوع به نه كوي پرخپل ملگري باندې اومواخذه نه كيږي دغائب په هيڅ شي سره اودغائب قبلول بې فائدې دى اوكه عقد كتابت وكړي منځه دخپل ځان دطرفه اودخپلودووبچيانودطرفه نوصحيح دى اوهريوچې يې اداكړي پرهغه بل باندې رجوع نه شي كولاى.

**تشريح**:(۱۰)كه يوه آزادسړي ديوه مريي مولى ته وويل چې ته خپل دغه مريى ديوزرروپوپه عوض په دې شرط مكاتب كړه چې كه ماتاته زرروپۍ دراداكړې نودى به آزادوي مولى دهغه دوينامطابق مريى مكاتب وگرځاوه اوهغه سړي زرروپۍ اداكړې نومريى دشرط په وجه آزاديږي يعني دكتابت په وجه نه آزاديږي بلكې دشرط په وجه آزاديږي ځكه آزادي ديوزرروپوپراداڅيگي باندې معلقه وه هغه شرط پرځاى شونوآزادي راغله.

(۱۱)اوكه مريى دزروروپوتراداڅيگى مخكې په دغه عقدباندې خبرشواوداعقديې قبول كړنوبيادى مكاتب گرځي ځكه غيرچې دده له طرفه عقدكتابت كوي فضولي دى اودفضولي عقد داصيل پراجازه باندې موقوف وي نوعقدكتابت دده پراجازه باندې موقوف كيږي اودمريي قبليدل اجازه ده نوداعقدكتابت صحيح دى مريى دهغه په وجه مكاتب كيږي.

(۱۲)كه دچادوه مريان وويوحاضراوبل غائب وو،كوم چې حاضردى هغه خپل مولى ته وويل چې ما اوفلان غائب په زرروپۍ مكاتب وگرځوه مولى مكاتب وگرځول اوحاضرمريي قبول وكړنودقياس تقاضاخوداده چې كتابت يواځې دحاضر په حق كې صحيح وي دغائب په حق كې صحيح نه شي ځكه هغه

بواخي پرخپل ځان باندي ولايت لري پرغائب باندي هغه ځه ولايت لري نو داعقد دغائب په حق کې دهغه پراجازه باندي موقوف کيږي، مګراستحسانا ددواړو کتابت صحيح دی ځکه حاضرعقد کتابت خپل ځان ته منسوب کړخپل ځان يې اصيل وګرځاوه اوغائب يې دخپل ځان تابع وګرځاوه اودتابع کتابت هم مشروع دی لهذا غائب هم مکاتب ګرځي.

(۱۳) بيا په مذکورصورت کې چې هربدل کتابت اداکوي مولی دهغه پراخيستلو باندي مجبورکړای کيږي اوهغوئ دواړه مريان آزاديږي ځکه ددواړو دآزادي شرط پرځای شو لهذا دواړه آزاديږي، دحاضرداادائيګی په صورت کې مولی ځکه مجبورکړای کيږي چې بدل کتابت خو دهغه پرذمه دی اوغائب داداائيګی په صورت کې ځکه مجبورکړای کيږي چې بدل کتابت که څه هم دهغه پرذمه واجب نه دی مګرځرنګه چې دی دهغه په ذريعه دآزادي شرف حاصلوي لهذا دی بلکل اجنبي نه دی.

(۱۴) بيا له دواړو مريانو څخه چې کوم يو بدل کتابت اداکړي هغه پردابل باندي رجوع نه شي کولای ولی که يې حاضراداکوي نو هغه خو خپله ذمه واري پوره کوي ځکه اصل عاقد دی اوداسي اداکوونکی هيچاته درجوع حق نه لري او که يې غائب اداکوي نوهغه په دي ادائيګی کې متبرع دی او متبرع هيچاته درجوع حق نه لري.

(۱۵) اوله غائب څخه هيڅ نه اخيستل کيږي يعني مولی دغائب مريي څخه دبدل کتابت دمطالبې حق نه لري ځکه هغه دحاضرپه کتابت کې تبعًاداخل دی دهغه پرذمه هيڅ شی نشته بياکه دغه غائب مريي عقدکتابت قبول کړي نو په دي سره هيڅ تبديل نه راځي ځکه کتابت دحاضربرذمه لازم شوی دی نودغائب قبليدل يارديدل هيڅ اثرنه لري.

(۱۶) که يوه منځه دخپل طرف څخه اودخپلو دوو ماشومانو دطرفه څخه عقدکتابت وکړي نواستحسانا داعقدصحيح دی لماقلنافی مسئلة الغائب، اودکتابت له طی کيدوورووسته که نه دغودريوواړو څخه هريودکتابت کل رقم اداکړي هغه له بل څخه هيڅ شی نه شي اخيستلای اودري واړه آزاديږي ځکه منځې خپل ځان په کتابت کې اصيل اوبچيان يې تابع ګرځولي دي اوتابع هم آزاديږي کمامرّفی المسئلة السابقة.

## باب كتابة العبد المشترك

داباب دمشترک مريي دکتابت په بيان کې دی

مصنف رحمه الله چې کله دغيرمشترک مريي دکتابت له بيان څخه فارغ شونو دمشترک دکتابت بيان يې شروع کړوجه دتاخيريې داده چې اصل عدم اشتراک دی اشتراک خلاف اصل دی اوخلاف اصل له اصل له وروسته ذکرکول مناسب دی

(۱) عبد لهما أذن أحدهما صاحبه أن يكاتب حظه بألف ويقبض بدل الكتابة فكاتب وقبض بعضه فعجز فالمقبوض للقابض (۲) أمة بينهما كاتباها فوطئها أحدهما فولدت فادعاه ثم وطئ الآخر فولدت فادعاه فعجزت فهي أم ولد للأول (۳) وضمن لشريكه نصف قيمتها ونصف عقرها وضمن شريكه عقرها وقيمة الولد وهو ابنه (۴) وأي دفع العقر الى المكاتبة صح

**ترجمه**: يو مريى دى د دوو كسانو هر يوه خپل ملگري ته اجازه وركړې ده چې د ده حصه مكاتب كړي په زرروپۍ او بدل كتابت واخلي بيا هغه مكاتب كړ او څه يې قبض كړ بيا مريى عاجز شو نو هغه مقبوض شى د قابض كيږي، يوه منځه د دوو كسانو دواړو مكاتبه كړې ده بيا يوه له هغوئ نه وطى كړه او ماشوم يې پيدا شو وطى كوونكي دعوه وكړه د هغه بچي بيا هغه بل وطى كړه او بچى يې پيدا شو هغه دعوى وكړه بيا منځه عاجزه شوه نو د اُمّ ولده گرځي د اول لپاره او هغه ضامن گرځي د شريك لپاره په نصف قيمت او نصف عقر سره او ضامن گرځي شريك د ده د منځې د عقر او د ماشوم د قيمت او ماشوم د هغه زوى گرځي او هر يو چې وركوي عُقر مكاتبې ته نو صحيح دى.

**تشريح**: (۱) كه يو مريى د دوو كسانو سره شريك وو او له دواړو څخه هر يوه خپل ملگري ته دا اجازه وركړې وه چې په دغه مريي كې زما حصه د زرو روپو په عوض مكاتب وگرځوه او بدل كتابت قبض كړه بيا هغه د مريي له مكاتب كيدو وروسته د زرو، روپو څه حصه وصول كړه بيا مريى د باقى مانده له ادائيگى څخه عاجز شو نو د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد وصول شده حصه د هغه شريك كيږي چاچې وصول كړې دي او د صاحبينو رحمهما الله په نزد مريى د دواړو مكاتب كيږي او كومه حصه روپۍ چې هغه اداكړې دي هغه د دواړو مالكانو ترمنځ مشتركې دي، دا اختلاف پر يوه بل اختلاف باندي مبني دى هغه دا چې د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد د اعتاق په شان كتابت هم تجزيه قبلوي او د صاحبينو په نزد تجزيه نه قبلوي نو د امام صاحب رحمه الله په نزد كتابت د هغه شريك پر حصه باندي پاتيږي چاچې مكاتب كړى دى ځكه كتابت تجزيه قبلوي، او د صاحبينو رحمهما الله په نزد د خپلې حصې د كتابت اجازه وركول د كل مريي د مكاتب كولو اجازه ده ځكه كتابت تجزيه نه قبلوي نو دى په نصف مريي مكاتب كولوكې اصيل دى او د باقى نصف په مكاتب كولوكې د شريك له طرفه وكيل دى نو دا د دواړو ترمنځ مكاتب شو او وكيل چې څه وصول كړي دي هغه د دواړو ترمنځ مشترك كيږي.

**فائده**: د امام صاحب رحمه الله قول راجح دى لما قال الشيخ عبد الحكيم الشهيد رحمه الله: واعلم ان الخلاف فى مثل هذه المسائل مبنى على الاختلاف الواقع بين 'الامام والصاحبين فى مسئلة اعتاق بعض العبد وقد صرحوا ان الصحيح هناك قول الامام صرح به بدر المنتقى شرح الملتقى نقلا عن القهستاني وغيره فعلى هذا لايخفى الترجيح فى كثير من مسائل هذا الكتاب اعنى كتاب المكاتب فان كثيرا منها مبنية على هذا الاصل كما هو المصرح. (هامش الهداية: ۳/ ۳۳۰)

(۲) كه يوه منځه د دوو كسانو ترمنځ مشتركه وه او دواړو هغه مكاتبه كړه بيا له دوئ دواړو څخه يوه له هغې سره وطى وكړه او د هغه زوى پيدا شو چې هغه يې دعوى هم وكړه چې دا له ما څخه دى نو د ماشوم نسب د هغه څخه ثابتيږي له هغه وروسته دوهم شريك له هغې سره وطى وكړه چې ور څخه يې زوى پيدا شو او دوهم شريك دعوى وكړه چې دا له ما څخه دى نو د هغه نسب ثابتيږي بيا دغه مكاتبه د بدل كتابت له اداكولو څخه

عاجزه شوه نودا داول مدعي اُمّ ولده ګرځي ځکه چې کله له دواړوڅخه يوه دماشوم دنسب دعوى وکړه نودهغه دعوى صحيح ده ولى په دي مکاتبه کي دهغه ملکيت قائم دى اودهغه حصه ام ولده وګرځيده اوچې کله دوهم شريک هم دعوى وکړه نودهغه دعوى هم صحيح ده ځکه ظاهرادهغه هم ملک قائم دى ليکن چې کله منځه دبدل کتابت څخه عاجزه شوه نوکتابت ختم شواوتړوله منځه داول مدعي امّ ولده کيږي ځکه دکتابت په حال کي اُمّ ولده کيدل داول ترحصي پوري محدودووچې مکاتب يادهغه يوه حصه ديو ملک څخه بل ملک ته نه منتقل کيږي اوچې کله دادبدل کتابت داداکولو څخه عاجزه شوه نواوس هغه مانع نشته نوتړوله منځه داول دملک طرف ته منتقل کيداى شي لهذاامّ ولده کيدل داول ترحصي پوري محدودنه پاتيږي بلکې تړوله منځه داول امّ ولده ګرځي.

(۳)اوس اول شريک دوهم ته دنصف منځې دورکولوضامن ګرځي ځکه هغه دده دحصي مالک شواونصف مهربه ورکوي ولى ده له مشترکې منځې سره وطى کړي ده اودوهم شريک به دمنځې کل مهراول ته ورکوي ځکه هغه په حقيقت کي دداېل له ام ولده سره وطى کړي ده اول شريک به ددوهم شريک دبچي قيمت هم ورکوي اوهغه دده زوى کيږي ځکه دوهم شريک په منزله دمغرور(دوکه شده خاوند.مغرورهغه چاته ويل کيږي چې دملک يمين يا ملک نکاح په اعتمادله يوې ښځې سره صحبت وکړي اوله هغه څخه ماشوم پيداشي بياداښځه دبل چامستحقه وګرځي )دى ځکه کله چې ده وطى کړې ده هغه وخت بظاهره دده ملک قائم وواودمغروربچى له هغه څخه ثابت النسب اوپه قيمت آزاديږي.

(۴)اوله دواړوشريکانوڅخه چې هريومکاتبې ته دهغې دعاجزکيدوڅخه مخکي مهرورکړي جائزدى ځکه کتابت چې ترڅوپوري باقي وي دمهردقبض کولوحق خپله هغه لره دى ځکه دهغه دخپل ځان دمنافعواختصاص حاصل دى اوچې کله دادبدل کتابت له اداکولوڅخه عاجزه شي نومهردي مولى ته واپس ورکړي ځکه اوس دهغې دمنافعوسره دهغې دمولى اختصاص ظاهرشو.

(۵)وَإِنْ دَبَّرَ الثَّانِي وَلَمْ يَطَأْهَا فَعَجَزَتْ بَطَلَ التَّدْبِيرُ وَهِيَ أُمُّ وَلَدٍ لِلْأَوَّلِ وَضَمِنَ لِشَرِيكِهِ نِصْفَ قِيمَتِهَا وَنِصْفَ عُقْرِهَا وَالْوَلَدُ لِلْأَوَّلِ (۲)وَإِنْ كَاتَبَاهَا فَحَرَّرَهَا أَحَدُهُمَا مُوسِرًا فَعَجَزَتْ ضَمِنَ لِشَرِيكِهِ نِصْفَ قِيمَتِهَا وَرَجَعَ بِهِ عَلَيْهَا (۷) عَبْدٌ لَهُمَا دَبَّرَهُ أَحَدُهُمَا ثُمَّ حَرَّرَهُ الْآخَرُ مُوسِرًا فَلِلْمُدَبِّرِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُعْتِقَ نِصْفَ قِيمَتِهِ (۸) وَإِنْ حَرَّرَهُ أَحَدُهُمَا ثُمَّ دَبَّرَهُ الْآخَرُ لَا يُضَمِّنُ الْمُعْتِقَ

**ترجمه**:که دوهم شريک مدبره کړه منځه اووطى يې ورسره ونکړه بياهغه عاجزه شوه نوتدبيرباطليږي اودااُمّ ولدګرځي داول لپاره اودى ضامن ګرځي خپل شريک ته دنصف قيمت اودنصف عقراوماشوم داول کيږي اوکه دواړومنځه مکاتبه کړه بياآزاده کړه له دواړوڅخه يوه دغنى په حالت کي بياهغه عاجزه شوه نوضامن کيږي دخپل شريک لپاره دهغې دنصف قيمت اورجوع به کوي په هغه سره پرمنځه باندي،يومريى دى ددووکسانوبيايوه مدبّرکړبياهغه بل آزادکړدغنى په حالت کي مدبّرلره داحق شته چې ضمان واخلي له معتق څخه دمريي دنصف قيمت اوکه آزادکړيوه بياهغه بل مدبّرکړنوضمان به نه اخلي له آزادوونکي څخه.

**تشريح** :(۵)که يوه منځه دوو کسانو سره شريکه وه او دواړو هغه مکاتبه کړه بيا له دوی څخه يوه له هغې سره وطی وکړه او دهغې ماشوم پيدا شو چې ده يې دادعوی وکړه چې داله ماڅخه دی نو دماشوم نسب له هغه څخه ثابتيږي او شريک ثاني له مذکوره مکاتبه سره وطی نه ده کړې بلکې هغه يې مدبره وګرځوله بيامنځه دبدل کتابت له اداکيدو څخه عاجزه شوه نو تدبير باطليږي او منځه داول لپاره امّ ولده ګرځي ولی لومړی شريک دوهم شريک دحصې هغه وخت مالک شوی وو چې کله يې له مکاتبې سره وطی کړې وه اوس ددوهم شريک هغې لره مدبره ګرځول دبل په ملک کې تصرف دی حال داچې منځه مدبره ګرځول هغه وخت صحيح کيږي چې کله په هغې کې ملکيت قائم وي ،څرنګه چې دامکاتبه داول لپاره امّ ولده وګرځيده بيادی دخپل شريک دحصې هم مالک شو لهذا دی دشريک ثاني لپاره دمنځې دنصف قيمت او نصف مهرضامن ګرځي په نسبت خوځکه ضامن کيږي چې ده مکاتبه امّ ولده کړه دشريک دنصف حصې مالک شوی دی اودنصف مهرځکه ضامن ګرځي چې ده له مشترکې منځې سره وطی کړې ده اوکوم ماشوم چې پيداشوی دی هغه داول زوی کيږي ځکه چې ده دهغه دنسب دعوی کړې وه چې صحيح هم وه ولی دی دمکاتبې مالک وو.

(۶)اوکه دواړوشريکانو مذکوره منځه مکاتبه کړه بيايوه آزاده کړه اوآزادوونکی غني هم دی بيامنځه دبدل کتابت له اداکولو څخه عاجزه شوه نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد آزادوونکی به خپل شريک ته دمنځې نصف قيمت ورکوي اوبيابه يې دی له منځې څخه وصولوي ځکه دامام صاحب رحمه الله په نزد آزادي تجزيه قبلوي (ټکړې ټکړې )کيدای شي ځکه دده نصف حصه آزادول صحيح شوا وده په وجه دنصف منځې دآزاديدو څخه دهغه بل شريک په حصه کې هيڅ فسادنه دی راغلی بلکې هغه حصه مکاتبه پاتيږي لهذاآزادوونکی دمنځې دعاجزکيدو څخه مخکې ضامن کيږي هم نه خوچې کله هغه دبدل کتابت داداکيدو څخه عاجزه شوه نو اوس دهغه په حصه کې فسادظاهرشواو په داسې صورت کې که شريک ثاني غني وونوده لره درې اختيارات دي يو داچې خپله حصه آزاده کړي دوهم داچې مملوک يې ورته وګټي دريم داچې تاوان واخلي اوڅرنګه چې ده تاوان اخيستل اختيارکړی دی نوآزادوونکی به تاوان ورکوي اوبيابه ددغه تاوان په باره کې منځې ته رجوع کوي ځکه آزادوونکی دساکت يعني مکاتب کوونکي قائم مقام شو.

(۷)که يومريی ددووکسانوترمنځ مشترک وو له دوئ څخه يوه هغه مدبرکړ بياهغه بل دامريی آزادکړاو دابل غني هم دی نو مدبرکوونکي ته درې اختيارات دي که غواړي له خپل شريک څخه دې نصف قيمت دمدبرپه حساب واخلي يعني دمدبرمريي نصف قيمت دې واخلي او که غواړي په مريي دې ګټه وکړي اويادې آزادکړي ځکه دامام صاحب رحمه الله په نزدتدبيرتجزيه قبلوي نودېوه شريک مدبرکول دهغه ترحصه پورې محدود پاتيږي ليکن په دې سره دهغه بل حصه خرابيږي ځکه دوهم شريک ته درې اختيارات ورکول کيږي يعني آزادول،په مريي ګټه کول او تاوان اخيستل.که يې له شريک څخه تاوان اخيسته نو دمدبرکيدو په حساب سره به يې اخلي ځکه دشريک آزادول په مدبرپورې متصل شوی دی په مريي پورې نه دی متصل شوی لهذاتاوان به هم دمدبردحسابه اخلي.

(۸) که دشریکینو څخه یوه مخکې خپله حصه آزاده کړه نو دوهم شریک ته مذکوردري اختیارات حاصلیږي ځکه شریک اول ددوهم حصه خرابه کړه یاکه هغه بل دامریی مدبرکړ نومدبرکوونکی له آزادوونکي څخه تاوان نه شي اخیستلای باقی دوه اختیارات ده لره حاصل دي یعنې یادي مریی آزادکړي یادي په هغه کټه وکړي ځکه مدبرآزادول یاپه هغه سره کټه کول ممکن دی.

## باب موت المكاتب وعجزه وموت المولى

## داباب دمکاتب دمرګ او دهغه دعجزاو دمولی دمرګ په بیان کې دی

ددغه دباب دتاخیروجه ظاهره ده چې مذکوره امور(یعنې دمکاتب مرګ، دمکاتب عجزاو دمولی مرګ) له عقدکتابت وروسته وي نو دهغو احکام وروسته بیانول مناسب دی

(١) مكاتب عجز عن نجم وله مال سيصل لم يعجزه الحاكم الى ثلثة ايام (٢) والا عجزه وفسخها او سيده برضاه (٣) وعاد احكام الرق وما في يده لسيده (٤) وان مات وله مال لم تفسخ وتؤدى كتابته من ماله وحكم بعتقه في آخر حياته (٥) وان ترك ولدا ولد في كتابته لا وفاء سعى كابيه على نجومه فاذا ادى حكم بعتقه وعتق ابيه قبل موته (٦) ولو ترك ولدا مشترى عجل البدل حالا او رد رقيقا

**ترجمه**: یومکاتب عاجزشو له قسط څخه او ده لره مال شته چې په نژدې وخت کې په لاس راتلونکی دی نودوخت حاکم دې دی تردریو ورځو پورې عاجزنه ګڼي، که نه یادې عاجزوګڼي او کتابت دې فسخ کړي یادې فسخ کړي دهغه مولی دده په رضامندي سره او راګرځي دمریي احکام او هغه شی چې دده په لاس کې دی هغه دده مولی کیږي او که چیرته دی مړشو او ده لره مال وو نو کتابت نه فسخ کیږي او اداکول کیږي بدل کتابت دده له مال څخه او حکم کول کیږي دهغه په آزادي سره دهغه د ژوند په آخري حصه کې او که یې پریښودی ماشوم چې دده دکتابت په ورځو کې پیداشوی وو او وفا نه وه راغلې نو ماشوم دې سعی وکړي دپلار په شان دقسطونو په اداکولو کې چې کله یې آداکړل نو حکم کول کیږي دده په آزادي سره او دده دپلار په آزادي سره دده ترمرګ مخته او که یې پریښود اخیستل شوی ماشوم نو هغه به فورابدل کتابت اداکوي که نه بیرته غلام ګرځي

**تشریح**: (۱) که یوچاخپل مریی په قسطونو سره مکاتب کړی وو بیاهغه دقسط اداکولو څخه عاجزشو بیاکه دده پریوچاباندې دومره قرض وو چې دهغه په قبض کیدو سره قسط اداکیدای شوای یاده ته له یوخوا څخه څه مال راتلونکی وو نودوخت حاکم دې دده په عاجزګڼلو کې تلوارنه کوي بلکې تردریو ورځوپورې دې انتظاروکړي ځکه په دې کې دطرفینو (مولی او مریي دواړو) رعایت دی او دري ورځې داسې یوه موده ده چې دعذرونو داظهارلپاره مقرره شوې ده لکه قرضدارته چې درې ورځې وخت ورکول کیږي لهذا مذکورمکاتب ته هم درې ورځې مهلت ورکول کیږي.

(۲) قوله والاعجزه وفسخها ای وان لم يكن له مال سيصل اليه في ثلاثة ايام فسخ الحاكم الكتابة الخ، یعنې که دده لپاره دحصول مال هیڅ لاره نه وه نو دطرفینو رحمهما الله په نزد دې قاضي پرهغه باندې دعاجزکیدو حکم وکړي او کتابت دې فسخ کړي یاکه مکاتب راضي وو نو مولی دې هغه فسخ کړي ځکه روایت دی چې حضرت عمر

ﷺ ديوه قسط ځخه دعاجزعقدكتابت فسخ كړى وواوپه غيرمدرك بالقياس معامله كې داثروړو:دخبرمرفوع درجه لري،اوامام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې ترڅوپوري پرهغه باندي پيوسته دوه قسطونه رانه شي ترهغه پوري به حاكم دهغه دعجزحكم نه كوي ځكه له حضرت على رضي الله عنه ځخه مروي دى چې ترڅوپرمكاتب باندي دوه قسطونه رانه شي نودى دي دغلامي طرف ته ردكړاى شي امام ابويوسف رحمه الله ته جواب وركول كيږي چې دحضرت على رضي الله عنه اثرديوقسط راتلوپه صورت كې ساكت دى لهذاله هغه ځخه استدلال كول صحيح نه دى.

**فائده**:دطرفينورحمهما الله قول راجح دى لمافي الدرالمختار:مكاتب عجزعن اداء نجم ان كان له مال سيصل اليه لم يعجزه الحاكم الى ثلاثة ايام لانهامدة ضربت لابلاء الاعذاروالاعجزه الحاكم في الحال قال العلامة ابن عابدين الشامى رحمه الله :(قوله والاعجزالخ) اى ان لم يرج له مال وهذاعندهماوهوالصحيح قهستاني عن المضمرات وقال ابويوسف رحمه الله لايعجزه حتى يتوالى عليه نجمان لقول على رضي الله عنه اذاتوالى عليه نجمان رد في الرق وحملاه على الندب اى يندب ان لايرده قبلهما لتعارض الاثار (الدرالمختارمع الشامية:۵/۷۷)

الالغاز:اى كتابة ينقضهاغيرالمتعاقدين؟

فقل:اذاكان المكاتب مديونافللغرماء نقضها.(الاشباه والنظائر)

(۳)كه دمكاتب دعجزفيصله وشوه كه قاضي دى عاجزګڼلى وي ياپه خپلې رضامندي ده خپل ځان عاجزګڼلى وي نوپرده باندي واپس درقيت احكام راګرځي ځكه كتابت فسخ شواوځه ګټه چې دده په لاس كې وي هغه دده دمولى كيږي ځكه داخبره ظاهره شوه چې دادهغه دمريي ګټه ده اوداځكه چې ګټه يامكاتب ته وقف وه يادهغه پرمولى باندي په دي ډول چې كه يې مال كتابت اداكړنوپرمكاتب باندي وقف دى كه نه دهغه پرمولى باندي مګراوس دعجزپه وجه توقف زائل شولهذاداكسب دمولى دى.

(۴)كه مكاتب دبدل كتابت له اداكولومخكي مړشواوپه تركه كې يې مال پريښودنوعقدكتابت نه فسخ كيږي بلكې له تركه ځخه بدل كتابت اداكول كيږي اودهغه دژوندپه آخري جزء كې دهغه دآزادي حكم وركول كيږي ځكه عقدكتابت عقدمعاوضه دى له متعاقدينوځخه ديوه يعنې مولى په مرګ سره نه فسخ كيږي نودبل يعنې مريى په مرګ سره نه باطليږي ځكه عقدمعاوضه دمساوات مقتضي دى اوبدل كتابت داداكيږي وروسته كه چيرته مال پاته شوهغه دده وارثانوته وركول كيږي اودمكاتب اولادتبعاللوالدآزاديږي همدادحضرت ابن مسعود رضي الله عنه قول دى وبه اخذعلمائنا الثلاثة.

(۵)كه مكاتب دومره مال نه پريښودچې دبدل كتابت داداكيږي لپاره كافي شي البته يوداسي تنكى ماشوم يې پريښودچې دده دكتابت په ورځوكې پيداشوى وونوهغه به مزدوري كوي دخپل پلاربدل كتابت له قسطونوسره مطابق اداكوي له هغه وروسته حكم وركول كيږي دهغه دپلاردآزادي دهغه ترمرګ مخته اوماشوم هم آزاديږي ځكه ماشوم دهغه په كتابت كې داخل دى اودماشوم ګټه دپلارد ګټې په شان ده لهذادى به دقسطونوپه اداكيږي كې دخپل پلارخليفه وي داڼوداسي كيږي چې ګواكې پلاررمال پري ايښى دى.

(۶)كه مكاتب يوداسي ماشوم پريښودى چې مكاتب په حال دكتابت كې اخيستى وونوداامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددي ماشوم ته يې ويل كيږي چې ياخوفي الحال بدل كتابت اداكړه كه نه ته دغلامي طرف ته راګرځول كيږي،دصاحبينورحمهما الله په نزددي ماشوم حكم:هغه ماشوم په شان دى چې په حال

دكتابت كې پيدا شوى وو ،صاحبين رحمهما الله په حال دكتابت كې اخيستل شوى ماشوم په حال دكتابت كې پيداشوي ماشوم باندي قياسوي،اوامام صاحب رحمه الله دليل دادى چې داخيستل شوي اوپيداشوي ماشوم ترمنځ فرق شته هغه دادى چې پيداشوى ماشوم دعقدپه وخت له پلار سره متصل دى ځكه دعقد حكم ترهغه پوري سرايت كوي او اخيستل ماشوم نه په وخت دعقدله پلار سره متصل دى چې حكم دعقد تره پوري ورسيږي اونه دهغه طرف ته دعقد اضافت شوى دى .

(۷)فإن اشترى ابنه فمات وترك وفاء ورثه ابنه (۸) وكذا لو كان هو وابنه مكاتبين كتابة واحدة (۹) ولو ترك ولدا من حرة ودينا وفاء بمكاتبته فجنى الولد فقضي به على عاقلة الأم لم يكن ذالك قضاء بعجز المكاتب (۱۰) وإن اختصم موالي الأم والأب في ولائه فقضي به لموالي الأم فهو قضاء بالعجز

**ترجمه** :اوكه واخيست مكاتب خپل زوى اومړ شو اووفاء ميراث يې پرېښود دده زوى وارث ګرځي همدا رنګه كه وودى اوزوى يې دواړه مكاتب په يوه عقدكتابت سره اوكه يې زوى پاته وو له آزادې ښځې څخه اودومره قرض چې هغه كافي ووده دبدل كتابت بيا هغه ماشوم يو جنايت وكړچې دهغه دتاوان فيصله وكړاى شوه دمورپر عاقله باندي نو دا دمكاتب دعجز فيصله نه ګڼله كيږي اوكه دمورا وپلار دمولى ګانو جنجال راغى دماشوم په ولاء كې او فيصله وشوه دمور دمولى ګانو په حق كې نو دا دهغه دعاجزكيدو فيصله ده .

**تشريح** :(۷)كه يوه مكاتب خپل زوى واخيست بيا يې داپلار مړشو او دومره مال يې پرېښود چې په هغه سره بدل كتابت اداكيداى شواى نو دا زوى وارث ګرځي ځكه چې كله دمكاتب پلار دژوند په آخري لحظه كې دهغه دآزاديدو حكم وكړاى شي نو په همدي وخت كې دهغه دزوى دآزادي حكم هم وركول كيږي ځكه زوى په كتابت كې دخپل پلار تابع دى نو ګواكې آزادزوى دآزادپلار ميراث پيدا كړ .

(۸) قوله وكذا لو كان هو وابنه مكاتبين كتابة واحدة اى كذا يرث الابن عن ابيه اذا كان المكاتب وابنه مكاتبين كتابة واحدة، يعني مذكورحكم هغه وخت هم صحيح دى چې كله مكاتب اودهغه زوى دواړه په يوه عقدسره مكاتب شوي وي بيا پلار مړشي اودومره مال پرېږدي چې په هغه سره بدل كتابت اداكيداى شي نوزوى دهغه وارث ګرځي ولى چې كله دمكاتب دژوند په آخركې دهغه دآزادي حكم وركول كيږي كه دده زوى نابالغ وونو بيا خودخپل پلار تابع ګرځي آزاديږي اوكه بالغ وونوپلار اوزوى دواړه يو شخص ګڼل كيږي بيا چې كله دپلار دآزادي حكم وركول شونو په هغه وخت كې دهغه دزوى آزادي حكم هم كيږي كما مرّ.

(۹)كه مكاتب مړشو اوده له يوې آزادي ښځې څخه يو ماشوم پرېښوداوپرخلكويې دومره قرض هم پرېښود چې په هغه سره دده بدل كتابت اداكيداى شي له قرض سوايې بل هيڅ شى نه دى پري ايښى بيا دهغه دغه زوى يو څوك ناحقه قتل كړاوددیت حكم دهغه دآزادي مورپر عاقله باندي وركول شو ځكه مكاتب كه څه هم دومره دين پري ايښى دى چې په هغه سره بدل كتابت اداكيداى شي ليكن عين شى يې نه دى پاته لهذا تراداييګى مخكې دهغه دآزادي حكم نه شي وركول كيداى نودى به مكاتب پاته وي ځكه دديت حكم دهغه دمورپرعاقله باندي وركول كيږي نودا حكم دهغه مكاتب دعاجزكيدو حكم نه دى ځكه قاضي چې

دمور پر عاقله باندې د دیت حکم کوي داد هلک کتابت نور هم مستحکم کوي ځکه داد دي مقتضي دی چې ماشوم د مور له مولی ګانو سره ملحق وي مګر له دي احتمال سره چې دامکاتب ماشوم آزادشي خپله ولاء د پلار د موالی ؤطرف ته کش کړي دقاضي داسي فیصله چې په هغی سره حکم دکتابت مستحکم کیږي دمکاتب دعاجز کید و فیصله نه وي.

(۱۰) البته که په مذکور صورت کې ماشوم دمکاتب له مرګ وروسته مړشو بیا دمور او پلار د آزادو ونکیو د دي ماشوم په ولاء کې سره جنجال شو یعنې دواړو فریقو دهغه ترکه وغوښته دمور مولی ګان وایې چې دادغلامي په حالت کې مړشوی دی لهذا ولاء مورته باید راکول شي او دپلار مولی ګان وایې چې هغه آزاد مړشوی دی لهذا ولاء باید مورته راکول شي او حاکم دمور دمولی ګانو لپاره دولاء فیصله وکړي نو دا فیصله دمکاتب دعاجز کید و فیصله شمارله کیږي ځکه دا جنجال په مقصودي ډول په ولاء کې راغلی دی چې دکتابت پر بقاء او عدم بقاء باندې مبنی دی ځکه چې که چیرته کتابت فسخ شوی وي نو مذکور ماشوم دغلامي په حالت کې مري او دماشوم ولاء دمور دمولی ګانو لپاره بالاستحکام ثابتیږي او که چیرته کتابت باقي وي او بدل کتابت اداکړای شي نو ماشوم آزاد مري او ولاء دپلار دمولی ګانو طرف ته منتقله کیږي او دا مجتهد فیه مسئله ده ځکه دقاضی په دي کې فیصله کول په یوه مجتهد فیها مسئله کې فیصله ده چې په اتفاق نافذیږي بیا چې کله ده دمور دمولی ګانو په حق کې فیصله وکړه نو دا دمکاتب دعاجز کید و فیصله شمارله کیږي.

(۱۱) وَمَا أَدَّى الْمُكَاتَبُ مِنَ الصَّدَقَاتِ وَعَجَزَ طَابَ لِسَيِّدِهِ (۱۲) وَإِنْ جَنَى عَبْدٌ فَكَاتَبَهُ سَيِّدُهُ جَاهِلًا بِهَا فَعَجَزَ دَفَعَ أَوْ فَدَى (۱۳) وَكَذَا إِنْ جَنَى مُكَاتَبٌ وَلَمْ يَقْضِ بِهِ فَعَجَزَ فَإِنْ قَضَى بِهِ عَلَيْهِ فِي كِتَابَتِهِ فَعَجَزَ فَهُوَ دَيْنٌ يُبَاعُ فِيهِ (۱۴) وَإِنْ مَاتَ السَّيِّدُ لَمْ تَنْفَسِخِ الْكِتَابَةُ وَيُؤَدِّي الْمَالَ إِلَى وَرَثَتِهِ عَلَى نُجُومِهِ (۱۵) وَإِنْ حَرَّرُوهُ عَتَقَ مَجَّانًا وَإِنْ حَرَّرَ الْبَعْضُ لَمْ يَنْفُذْ عِتْقُهُ

**ترجمه:** او هغه څه چې مکاتب له صدقاتو څخه اداکړي وي بیا دی عاجز شي نو دا حلال دي دهغه دمولی لپاره که جنایت وکړ مریي بیا مولی مکاتب کړ دامریی په داسي حال کې چې مولی ده په جنایت خبر نه وو بیا دی عاجز شو نو مولی به مریی ورکوي یا به فدیه ورکوي او همدارنګه که جنایت وکړ مکاتب او تر اوسه دفدیه حکم نه وو صادر شوی چې هغه عاجز شو او که حکم وکړای شو دفدیه پر هغه باندې دهغه په کتابت کې بیا دی عاجز شو نو دا قرض دی په دي کې دا مریی خرڅول کیږي او که مولی مړ شو نو کتابت نه فسخ کیږي او مال به اداکوي دهغه ورثه ؤته دهغه دقسطونو په مطابق او که ورثه ؤ دی آزاد کړ نو بیا دی آزادیږي مفت او که ځینو هغوئ نه آزاد کړ نو دهغوئ آزادیدل نه نافذه کیږي.

**تشریح:** (۱۱) که دمکاتب مولی داسي څوک وو چې هغه لره صدقات جائز نه وو او مکاتب له خلکو څخه صدقات وصولول مولی ته یې په بدل کتابت کې ورکولې بیا مکاتب دکل بدل کتابت له اداکیدو څخه عاجز شو نو مکاتب چې کوم مالونه دصدقاتو مولی ته اداکړي دي هغه مولی لره حلال دي ځکه ملکیت تبدیل شو ځکه مکاتب هغه دصدقه په ډول حاصل کړي وو او مولی دبدل کتابت په ډول همدي حکم ته په حدیث

شريف كې هم اشاره ده چې پيغمبرعليه السلام دحضرت بريره رضي الله عنها په باره كې فرمايلي ووچې :لهاصدقة ولناهدية (دبريرې رضي الله عنها لپاره صدقه ده زموږلپاره هديه ده ) .

(۱۲)كه مريي كوم جنايت وكړبيامولى هغه مكاتب كړپه داسې حال كې چې مولى دهغه په جنايت ناخبرو وبيامكاتب دبدل كتابت له اداكيدوڅخه عاجزشونومالک لره يې اختياردى چې يامجنى عليه (پرچاباندې چې مريي جنايت كړى دى ) ته دامريى وركړي اويادجنايت فديه وركړي ځكه په اصل كې دمريي دجرم حكم همدادى چې مريى وركول شي يافديه وركوله شي بيادلته مولى مريى مكاتب كړى دى ظاهره خبره ده چې اوس خومريى نه شي وركولاى نومطلب داشوچې مولى له دووخبروڅخه يوه اختياركړي دەيعنې فديه وركول يې اختياركړل مګرځرنګه چې مولى دمكاتب ګرځولوپه وخت كې دهغه په جرم خبرنه وبياچې كله هغه دى مكاتب كړنودادفديه اختيارولوپه معنى نه دى يعنې له هغه څخه دانه لازميږي چې اوس به فديه وركوي البته مكاتب كول ځرنګه چې خپله دمريي وركولوڅخه مانع وواوس چې داعذرختم شونواصل حكم راوګرځيديعنې مجنى عليه ته دمريى وركولواوفديه وركولوڅخه مولى يواختيارولاى شي .

(۱۳)همدارنګه كه مكاتب جرم وكړاوتراوسه دفديه وركولوحكم پرمكاتب باندې نه ووشوى چې هغه عاجزشونوهم مولى لره اختياردى چې يامريى وركړي اويافديه وركړي ځكه دادمريي جنايت دى اودمريي دجنايت حكم دادى چې مولى ته دمريي په وركولواوفديه په وركولوكې اختياروي على ماعُرِف.اوكه پرمكاتب باندې دكتابت په حالت كې دجرم دفديه حكم شوى وو(فديه دهغه دقيمت اوتاوان څخه چې كوم يوكم وي هغه وي) بياهغه دبدل كتابت داداكيدوڅخه عاجزشونودافديه دهغه پرذمه قرض كيږي چې دهغې لپاره دامريى خرڅول كيږي ځكه دقاضي دحكم په وجه دجرم فديه دهغه دغاړې څخه دهغه دقيمت طرف ته منتقله شوه .

(۱۴)كه دمكاتب مولى مړشونوكتابت نه فسخ كيږي ځكه دكتابت په فسخ كيدوسره دمكاتب حق باطليږي هغه په دې چې كتابت دآزادې سبب دى اوآزادي دمكاتب حق ده اودچادحق سبب هم دهغه حق كيږي نوكتابت دهغه حق شواوحق دمرګ په وجه نه باطليږي لهذادې مكاتب ته ويل كيږي چې بدل كتابت دقسطونوسره سم دمولى ورثه ؤته اداكړه اوورثه دهغه حق دمودې هم نه شي ساقطولاى ځكه موده هم دمكاتب حق ده ورثه حق نه لري چې هغه ساقط كړي ..

(۱۵)بياكه ټولوورثه ؤدى آزادكړنواستحساناًمفت آزاديږي اومال دكتابت دده له ذمې څخه ساقطيږي وجه داستحسان داده چې داپه اصل كې مكاتب له بدل كتابت څخه بري كول دى اوچې كله مكاتب له عوض كتابت څخه بري شونودى آزاديږي،اوكه دمولى له ورثه ؤڅخه يوه نفردامكاتب آزادكړنودهغه آزاديدل نه نافذكيږي ځكه دادهغه مالک نه دى اوداځكه چې مكاتب لكه ځرنګه چې دملک په نورو اسبابوسره دچامملوک نه شي ګرځيداى همدارنګه دوراثت په سبب هم دچامملوک نه كيږي البته دمكاتب پرذمه چې كوم مال دى هغه دورثه طرف ته منتقل كيږي .

## باب الوَلاء

### داباب دولاء په بيان کې دی

ولاء بفتح الواؤ په لغت کې د نصرت او محبت په معنی ده ، او شرعاداسې قرابت حکمیه ته ویل کیږي کوم چې له عتق یا عقد موالات (عقد موالات له دي څخه عبارت دی چې یو کس له بل سره دا معاهده وکړي چې که ماکوم جنایت وکړ نو دهغه تاوان پر تا دی او که زه مړشوم نو ته به زما وارث یې ، صاحب عقد ته مولی الموالات ویل کیږي ) څخه حاصل وي اولنی یعنی حاصل من العتق ته ولاء العتاقة ویل کیږي او دوهم (یعنی حاصل من الموالات ) ته ولاء الموالات ویل کیږي . دولاء حکم استحقاق میراث دی .

له کتاب المکاتب څخه وروسته یې کتاب الولاء په دي وجه ذکر کړچې ولاء د کتابت له اثارو څخه ده په دي وجه چې د بدل کتابت له اداء کولو څخه وروسته ملک رقبه زائلیږي مکاتب ازادیږي نو ولاء ثابتیږي او دشئ اثر له شئ څخه وروسته وي .

(۱) الوَلاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ وَلَوْ بِتَدْبِيرٍ وَكِتَابَةٍ وَاسْتِيلادٍ وَمِلْكِ قَرِيبٍ (۲) وَشَرْطُ السَّائِبَةِ لَغْوٌ (۳) وَلَوْ أَعْتَقَ حَامِلًا مِنْ زَوْجِهَا الْقِنِّ لا يَنْتَقِلُ وَلاءُ الْحَمْلِ عَنْ مَوْلَى الأُمِّ أَبَدًا (۴) فَإِنْ وَلَدَتْ بَعْدَ عِتْقِهَا لأَكْثَرَ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ فَوَلاؤُهُ لِمَوْلَى الأُمِّ (۵) فَإِنْ عَتَقَ الْعَبْدُ جَرَّ وَلاءَ ابْنِهِ إِلَى مَوَالِيهِ

**ترجمه** : ولاء هغه لره ده کوم چې غلام ازاد کړي اګر که د تدبیر په ذریعه یاد کتابت یا ام ولد ګرځولو یاد قریب د مالکیدلو په ذریعه سره وي ، او د ولاء د نه حاصلیدلو شرط لغو دی ، او که یې ازاده کړه داسې مینځه چې حامله وي له خپل داسې خاوند څخه چې غلام وي نو نه منتقل کیږي د حمل ولاء د مور له ازادونکی څخه هیڅکله ، او که یې وزیږاوو له خپلې ازادې څخه تر شپږو میاشتو په زیات وخت کې نو هم به دده ولاء د مور ازادونکی لره وي ، او که ازاد شو غلام نو کښوي دی د خپل زوی ولاء د خپلو ازادونکو طرف ته .

**تشریح** : (۱) د غلام او مینځې ولا (ترکه ) ازادونکی ته رسیږي خواه که ازادي د مدبر کولو په وجه سره حاصله شوي وي یا د مکاتب کولو په وجه سره یا دام ولد کولو په وجه سره او یا د کوم قریب د اخیستلو په وجه سره دی ازاد شوی وي ولی چې مولی د غلام د رقیت په لیري کولو سره دی ژوندی کړی دی په دي وجه به مولی دده وارث وي لکه چې پلار د زوی وارث وي .

(۲) که مولی په اعتاق کې داشرط ولګاوو چې داغلام به سائبه وي یعنی له ازادي څخه وروسته به د هیچا په ولاء کې نه وي بلکه دی به خود مختاره وي زه دده وارث نه یم او که ده کوم جنایت وکړ نو زه دهغه دیت هم نه اداء کوم نو دا شرط باطل دی او ولاء به هغه ته حاصلیږي څوک چې دی ازاد کړي ولی چې دا شرط د نص حدیث یعنی قوله علیه السلام ﴿ الْوَلاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ ﴾ (چاچې ازاد کړی دی ولاء هغه لره ده ) خلاف دی .

(۳) که د چا غلام د کوم بل چاله مینځې سره نکاح وکړه بیا د مینځې باد ار مینځه ازاده کړه او حال داچې دا مینځه له دي غلام څخه حامله ده نو مینځه ازادیږي او تبعا د دي حمل هم ازادیږي ، او د حمل ولاء به د مور مولی ته ور کول کیږي او دا ولاء به د مور له مولی څخه بل چا ته هیڅ کله نه منتقل کیږي ولی چې دا حمل د مور په ازادونکی باندي بالقصد ازاد شوی دی یعنی د مور مولی قصدا ازاد کړی دی په دي وجه چې دی د مور جزء دی کوم چې بالقصد اعتاق قبلوي لهذا دده ولاء به د مور له ازادونکی څخه هیڅ کله نه منتقل کیږي .

(۴)که په مذکوره صورت کې مینځې له خپلې ازادي څخه ترشپږو میاشتو په زیات وخت کې ماشوم وزیږاوونو ددي ولاء به هم دمورازادونکی ته حاصلیږي ولی چې داحمل دمورپه تبعیت سره ازادشوپه دي وجه چې دمورله عتق څخه وروسته دی له مورسره متصل دی لهذا په ولاء کې به هم دمورتابع وي.

(۵)مګرځرنګه چې داعتاق په وخت کې محقق الوجودنه دی په دي وجه دده اعتاق مقصودي نه دی لهذادده ولاء دمورازادونکی لره ابدي نه ده بلکه که ددي ماشوم پلارازادکړای شونوهغه دماشوم ولاء خپل طرف ته کښوي اوولاء به دمورله مولی څخه په منتقلیدواوس دپلاردمولی طرف ته ځي وجه يې داده چې ولاء بمنزله نسب ده اونسب دپلارطرف ته منسوب وي نوولاء به هم پلارلره وي.

(۶)عَجَمِيٌّ تَزَوَّجَ مُعْتَقَةً فَوَلَدَتْ فَوَلَاءُ وَلَدِهَا لِمَوَالِيهَا وَإِنْ كَانَ لَهُ وَلَاءُ الْمُوَالَاةِ (۷)وَالْمُعْتِقُ مُقَدَّمٌ عَلَى ذَوِي الْأَرْحَامِ مُؤَخَّرٌ عَنْ الْعَصَبَةِ النَّسَبِيَّةِ (۸)فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى ثُمَّ الْمُعْتَقُ فَمِيرَاثُهُ لِأَقْرَبِ عَصَبَةِ الْمَوْلَى (۹)وَلَيْسَ لِلنِّسَاءِ مِنْ الْوَلَاءِ إلَّا مَا أَعْتَقْنَ أَوْ أَعْتَقَ مَنْ أَعْتَقْنَ أَوْ كَاتَبْنَ أَوْ كَاتَبَ مَنْ كَاتَبْنَ

**ترجمه**:یوعجمی نکاح وکړه له ازادي شوي ښځې سره هغې ماشوم وزیږاوونوولاء ددي دماشوم به د دي ازادونکولره وي اګرکه عجمی له چاسره عقدموالات کړی وي ،اوازادونکی مقدم دی پرذوی الارحاماومؤخردی له نسبی عصبه څخه ،نوکه مړشوازادونکی بیامړشوازادکړل شوی نودده میراث به دازادونکی قریبی عصبه لره وي .اونشته ښځولره ولاء مګردهغه کوم چې دوئ ازادکړی وي یاددوئ ازادکړل شوي ازادکړی وي یادهغه کوم چې دوئ مکاتب کړی وي یاددوئ مکاتب شویومکاتب کړی وي.

**تشریح** :(۶)که حرالاصل عجمی دچاله ازادکړل شوي مینځې سره نکاح وکړه بیایې له ده څخه اولادپیداشو نودطرفینوپه نزدداولادولاء ددي معتقې ښځې مولی ته حاصلیږي اګرکه دد ي عجمی خاوندله چاسره عقد موالات هم کړی وي نودعقدموالات والاته نه حاصلیږي .دامام ابویوسف رحمه الله په نزدداولادولاء ددوئ پلارته حاصلیږي ولی چې ولاء بمنزله نسب ده اونسب داباؤله جانب څخه وي .دطرفینودلیل دادی چې ولاء عتاقه قوی اوداحکاموپه حق کې معتبره ده حتی چې په دي کې دکفائت اعتبارهم وي (په دي دول چې معتق عجم دمعتق عرب کف نه دی )،همدارازولاء عتاقه فسخ نه قبلوي حال داچې ولاء موالات فسخ قبلوي اوقوی لره پرضعیف ترجیح حاصله وي لهذادمولی عتاقه له وجودسره مولی موالات ته ولاء نه حاصلیږي.

**فائده**:دطرفینوقول راجح دی لمافی الدر المختار:عجمی له مولی موالاة نکح معتقه فولدت منه فولاء ولدها لمولاها لقوة ولاء العتاقة حتی اعتبر فیه الکفائة وهذاعندهما(الدر المختار علی هامش رد المحتار:۵/۸۳)

(۷)یعنی په ولاء عتاقه سره عصوبت ثابتیږي ده لهذاله ذوی الفروضوڅخه وروسته اوله ذوی الارحاموڅخه مقدم ده که دازادشوی ذوی الفروض نه وي مګرنسبی عصبات وي نوهغوئ هم له ازادونکی څخه دمیراث په باب کې مقدم دي ولی چې نسبی عصوبت له سببی عصوبت څخه مقدم دی .نوکه دازدشوی نسبی عصبات نه وي نودده میراث به ازادونکی لره وي.

(۸)که مولی وړاندي مړشوبیادده ازادکړل شوی غلام مړشونودازادشوی میراث به دمولی په عصباتوکې ترټولودیرقریب ته حاصلیږي مثلاکه دمولی پلاراوزوی وارث وي یانیکه اوورور وارث وي

نو په لومړنی صورت کې دا زاد شوی میراث زوی ته حاصلیږي ولی چې زوی اقرب العصبات دی او په دوهم صورت کې نیکه ته حاصلیږي ولی چې نیکه له ورور څخه اقرب عصبه دی.

(۹) ښځوته دمعتق میراث نه حاصلیږي ولی چې ولاء دمیراث په باب کې موجب عصوبت ده او ښځولره عصوبت نشته لهذا دوئ لره ولاء هم نشته البته په لاندینیو صورتونو کې ښځولره هم ولاء وي، کوم غلام چې ښځې ازاد کړیا دښځې ازادکړای شوي ازادکړنو دده میراث ښځې ته حاصلیږي ،یاکوم چې ښځې مکاتب کړیا دښځې مکاتب کړای شوي مکاتب کړنو دده میراث ښځې ته حاصلیږي.

## فَصۡلٌ

### دافصل دولاء الموالات په بیان کې دی

مصنف رحمه الله دولاء العتاقه له بیان څخه فارغ شونو دولاء الموالات بیان يې شروع کړ دولاء عتاقه دتقدیم وجه داده چې ولاء عتاقه له ولاء موالات څخه قوی ده په دي وجه چې ولاء عتاقه له ثابتیدلو څخه وروسته هیڅ کله نه فسخ کیږي حال داچې ولاء موالات فسخ قبلوي ،او قوی احق بالتقدیم دی.

(۱) أَسْلَمَ رَجُلٌ عَلَى يَدِ رَجُلٍ وَوَالَاهُ عَلَى أَنْ يَرِثَهُ وَيَعْقِلَ عَنْهُ أَوْ عَلَى غَيْرِهِ وَوَالَاهُ صَحَّ (۲) وَعَقْلُهُ عَلَى مَوْلَاهُ وَإِرْثُهُ لَهُ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ (۳) وَهُوَ آخِرُ ذَوِي الْأَرْحَامِ (۴) وَلَهُ أَنْ يَنْتَقِلَ عَنْهُ إِلَى غَيْرِهِ بِمَحْضَرٍ مِنَ الْآخَرِ مَالَمْ يَعْقِلْ عَنْهُ (۵) وَلَيْسَ لِلْمُعْتَقِ أَنْ يُوَالِيَ أَحَدًا (۶) وَلَوْ وَالَتْ امْرَأَةٌ فَوَلَدَتْ تَبِعَهَا فِيهِ

**ترجمه** :اسلام قبول کړيو کس دبل پرلاس باندي او له هغه سره يې موالات وکړل دي چې هغه به دده وارث وي او تاوان به ورکوي دده له طرف څخه يايې دکوم بل چاپرلاس اسلام قبول کړا وله ده سره يې موالات وکړنو صحیح ده ،او دده تاوان به دده پرمولی وي او دده میراث به هم مولی لره وي که نه وو ده لره کوم وارث ،او هغه له ذوي الارحامو څخه اخیری ذی رحم دی ،او ده لره جائزده چې منتقل شي له خپل مولی څخه دبل طرف ته دهغه په موجودوالی کې ترڅو چې هغه تاوان نه وي ورکړی دده له طرف څخه ،او جائزنه ده ازادکړل شوی لره چې موالات وکړي له بل چاسره ،او که موالات وکړښځې بيايې ماشوم وزیږا وونو ماشوم به دمورتابع وي په عقدکې.

**تشریح** :(۱) که يو غیر مسلم دکوم مسلمان پرلاس اسلام قبول کړاو دي نوي مسلمان له ده سره موالات وکړ (دکومو دووکسانو په منځ کې چې په دي شان قول او اقرار وشي چې موږ به یوله بله په دي شان سره مددکونکي اوسوچې که دیوه کس پرذمه کوم دیت لازم شي نو هغه بل به يې پرغاړه اخلي او که یو مړشي نو هغه بل به يې وارث وي داعهد عقد موالات دی او په دوئ کې هرکس ته مولی الموالات ویل کیږي) يعني نوي مسلمان شوی وویل زماله مرګ څخه وروسته به ته زماد ټول مال وارث يې او که له ماڅخه کوم جنایت وشونو زماله طرف څخه به ته دیت ورکوي ،یاخویې اسلام دیوه پرلاس قبول کړا وعقد موالات يې له بل سره وکړنو په دي دواړو صورتونو کې داعقدصحیح دی ولی چې دهریوه مال دهغه حق دی لهذا هغه چې په کوم ځای کې دهغه مصروفوو غواړي کولی يې شي ،له ظاهر عبارت څخه دامعلومیږي چې دعقد موالات کونکی

حدوث اسلام شرط دی حال دا چې داسې نه ده بلکه دده مجهول النسب والی شرط دی ممکنه ده چې دمصنف رحمه الله دهم همدا غرض وي .

(۲)که چې عقدموالات صحیح شي نوله نوی مسلمان شوی څخه دصدور جنایت په صورت کې به دنوی مسلمان شوي له طرف څخه هغه کس دیت ورکوي اودنوی مسلمان شوي له مرګ څخه وروسته به هغه کس دده وارث وي لیکن شرط دادی چې نوی مسلمان شوی به دکوم چاازادکړل شوی نه وي اودده به کوم وارث هم نه وي نودده میراث به له ده سره دعقدموالات کونکی لره وي اوکه دده نوی مسلمان شوی موالات کونکی کوم وارث وي نوهغه دده په میراث وړولوکې له عقدموالات کونکی څخه مقدم دی ولی چې هغه شرعی وارث دی لهذا دهغه حق دعقدموالات په وجه سره باطلیدای نه شي .

(۳)اوپه ذوی الارحاموکې ترټولوآخري درجه دعقدموالات کونکی ده یعنی که له نوروذوی الارحامو څخه څوک موجودوي نومیراث به دهغه وي مولی الموالات به محروم وي ولی چې نورذوی الارحام دقرابت په وجه سره وارث دي کوم چې له عقدموالات څخه قوی دی ولی چې قرابت دماتیدلومتحمل نه دی حال دا چې عقدموالات ماتیدلی شي .

(۴)عقدموالات کونکی لره داجائزده چې له چاسره چې ده عقدموالات کړی دی دهغه په موجودوالی کې له هغه څخه په اوښتلوله بل سره عقدموالات وکړي وجه یې داده چې عقدموالات دوصیت په څیر غیرلازم عقددی لهذاله هغه څخه اوښتل جائزدي ،لیکن شرط دادی چې دده دجنایت په صورت کې دده مولی اول دده له طرف څخه په عاقله جوړیدلوسره څه دیت نه وي اداء کړی ،کنه نوبیاده لره له مولی اول څخه دبل طرف ته اوښتل جائزنه دي ولی چې اوس دده له ولاء سره دمولی اول حق تړل شوی دی .

**فائده** :له کومې محکمې سره چې دچاتعلق وي هغه محکمې والادده عاقله دي که یې له محکمې سره تعلق نه ي نودده دخاندان والاته عاقله ویل کیږي .

(۵)ازادکړل شوي لره له چاسره عقدموالات کول جائزنه دی ولی چې دمعتق میراث دمعتَق لپاره لازمی دی په دې وجه چې ولاء عتاقه محتمل نقض نه ده حال دا چې عقدموالات غیرلازم دی نوله بقاء لازم سره غیرلازم نه ظاهریږي .

(۶)که کومې ښځې له کوم نارینه سره عقدموالات وکړیاله دي څخه وروسته دښځې داسې ماشوم وزیږیدوچې دهغه پلارمعلوم نه وونوداماشوم هم دخپلې مورپه موالات کې دمورپه تابع کیدلوسره شاملیږي ولی چې ولاء دنسب په شان ده اودداسې ماشوم په حق کې محض نافع ده دکوم ماشوم چې پلار معلوم نه وي نوښځې لره داولایت حاصل دی لکه چې دداسې ماشوم لپاره دهبې دقبلولوولایت چې مورلره حاصل ده ،مګرداپه هغه وخت کې چې دماشوم پلارمعلوم نه وي کنه نودپلاردمعلوموالی په صورت کې داماشوم دمورپه حکم کې نه شي کیدای .

## كتاب الإكراه

داکتاب داکراه په بیان کې دی

په كتاب الاكراه اوموالات كې مناسبت دادى چې په دواړوكې دمخاطب حال له حرمت څخه حلت ته متغير كيږي په دې ډول سره چې په موالات كې كه عقدموالات نه وي نومولى لره دبل چامال اخيستل حرام ووعقد موالات وشونوحلال شو ،همداشان په اكراه كې له اكراه څخه وړاندې مكره لره چې دكوم كارمباشرت حرام وو له اكراه څخه وروسته حلال شو .

اكراه په لغت كې په كوم ناخوښه كارباندې مجبوره كولوته ويل كيږي او په شريعت كې دكوم انسان له بل سره داسې فعل كول په كوم سره چې دهغه په اختياركې فسادراشي مگردهغه اهليت باقي پاتې وي .

(۱)هو فعلٌ يفعله الإنسان بغيره فيَزول به الرّضا (۲)وَشرطه قدرة المكرِه على تحقيقِ ما هدّد به سلطانًا كان او لصًا وَخوف المكرَه وقوعَ ما هدّد به (۳)فلو أكره على بيعٍ او شراءٍ او إقرارٍ او إجارةٍ بقتلٍ او ضربٍ شديدٍ او حبسٍ مديدٍ خيّر بين أن يمضي البيع أو يفسخ (۴)وَيثبت به الملك عند القبضِ للفسادِ (۵)وقبض الثمن طوعًا إجازة كالتسليم طائعًا

**ترجمه** :هغه يوكاردى كوم چې كوي يې انسان له بل سره اوزائليږي دهغه په وجه سره دهغه رضامندي، اوددې شرط قادروالى دى دمكرِه دهغه شئ په كولوپه كوم سره چې ده ويرولى دى خواه كه هغه بادشاه وي ياغل وي اودمكرَه ويريدل دهغه شئ له وقوع څخه په كوم شئ چې يې دى ويرولى دى ،نوكه اكراه وكړل شوه په اخيستلواوخرڅولويا په اقراركولويا په اجاره وركولوباندې پرقتل كولويا په سختووهلويا دطويل قيدپه اختار(دهمكى )سره نواختيار به وركول كيږي دبيع په باقي پرېښودلواوفسخ كولوكې . اوثابتيږي دده په بيع سره ملك دقبضې په وخت دفسادپه وجه سره ،اوثمن قبض كول په خوښې سره اجازت دى لكه دمبيع سپارل په خوښې سره .

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله داكراه اصطلاحي تعريف په دې شان كړى دى چې اكراه دې ته ويل كيږي چې انسان له بل سره داسې فعل وكړي دكوم په وجه سره چې دهغه رضامندي زائله شي ،دمكرَه دخوښې زوال ضروري دى په دې شرط چې اصل اختيارباقي وي .

(۲)داكراه حكم هغه وخت ثابتيږي كله چې اكراه له داسې كس څخه متحققه شي چې دى چې دكومې خبرې دهمكى (اختار)وركوي هغه دى واقع كولى هم شي خواه كه مكرِه سلطان وي ياكوم غل وي ،ولې چې كله مكرِه په مذكوره بالاصفت سره متصف وي نومكرَه چې پركوم كارمجبوره كوي هغه دعجزپه وجه سره له هغه كارڅخه دمنع كيدلوقدرت نه لري لهذاداكس مكرَه دى اوداكراه همداتعريف دى چې دانسان په اختياركې فسادراشي دادصاحبينوقول دى .دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزداكراه صرف له سلطان څخه متحققه كيږي .مگردادزماني اختلاف دى دحجة اوبرهان اختلاف نه دى .اوداهم شرط دى چې پرچاچې زوركړل شوى دى هغه ته غالب گمان داوي چې كه ماده دوينامطابق عمل ونه كړنوله كوم شئ څخه چې دى ماويروي هغه خامخاكوي اوكه ده لره دمهددبه (په كوم شئ سره چې دى ويروي )دواقع كولوغالب گمان نه وي نوبيادى مكره نه شمارل كيږي .

(۳)كه يو چا څوک دخپل مال پرخرڅولو يا دكوم سامان پراخيستلو مجبوركړ، يايې دچا پاره مثلا دزرورپورپه اقراركولو مجبوركړ، يايې مثلا دخپل كور چاته په كرايه وركولو مجبوركړ او مكره دى دقتل ياضرب شديد ياتراوږدي مدي پوري دقيدكولو دهمكى (اختار)په وركولوسره مجبوركړ ،مكَره دده له دهمكى څخه په وېريدلوسره مجبورا مذكوره مال خرڅ كړيايې واخيستي يايې مذكوره اقراروكړيايې كورپه اجاره وركړ نومكرَه لره داكراه له ختيمدلو څخه وروسته اختيار دى كه يې خوښه وي نودابيع وغيره دي نافذكړي او كه يې خوښه وي نوبيع وغيره دي فسخ كړي اوخپله مبيع وغيره دي واپس واخلي ولى چې داخيستلواو خرڅولو وغيره دصحت شرط دادى چې متعاقدين به يوله بله سره راضي وي حال داچې اكراه خورضاختموي په دي وجه دبغيررضاكيدلو په وجه سره داعقد صحيح (لازم)نه دى.

(۴)اوپه داسې بيع وغيره سره دمشترى ملک ثابتيږي مگرهغه وخت چې دى پرمبيع قبضه وكړي ولى چې داسې بيع فاسده وي ولى چې شرط بيع يعنى رضانه ده موجوده شوي اوپه فوات شرط سره بيع فاسديږي اوديبع فاسدي همداحكم دى چې له دي څخه وروسته دمشترى په مبيع په قبضه كولو سره ملک ثابتيږي .

(۵)كه مكرَه داكراه په وجه بيع وكړه بيايې دمبيع ثمن په خوښى سره قبض كړي نوداده له طرف څخه دبيع دنفاذاجازت دى ولى چې په خوښى سره دثمنو قبلول دبيع داجازت علامه ده لكه چې په خوښى سره دمبيع په تسليمولو كې چې وي مثلا يو څوک دخپل شئ پرخرڅولو مجبوركړل شو بيا ده په خوښى سره مبيع مشترى ته وروسپارونو دمبيع په خوښى سره سپارل دمكرَه له طرف څخه دبيع اجازت شمارل كيږي ولى چې په خوښى سره دمبيع تسليمول دده درضاعلامه ده او همدارضاشرط ده .

(۶)وَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيعُ فِي يَدِ الْمُشْتَرِي وَهُوَ غَيْرُ مُكْرَهٍ وَالْبَائِعُ مُكْرَهٌ ضَمِنَ قِيمَتَهُ لِلْبَائِعِ وَلِلْمُكْرَهِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُكْرِهَ (۷)وَعَلَى أَكْلِ لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَمَيْتَةٍ وَدَمٍ وَشُرْبِ خَمْرٍ بِضَرْبٍ أَوْ قَيْدٍ لَمْ يَحِلَّ (۸)وَحَلَّ بِقَتْلٍ وَقَطْعٍ وَأَثِمَ بِصَبْرِهِ (۹)وَعَلَى الْكُفْرِ وَإِتْلَافِ مَالِ مُسْلِمٍ بِقَتْلٍ وَقَطْعٍ لَا بِغَيْرِهِمَا يُرَخَّصُ (۱۰)وَيُثَابُ بِالصَّبْرِ وَلِلْمَالِكِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُكْرِهَ

**ترجمه** :اوكه هلاک شومبيع دمشترى په لاس كې په دي حال كې چې دى مكرَه نه وي اوبائع مكرَه وي نوضامن دى ددي دقيمت بائع لره او مكره لره داحق شته چې ضمان له مكرِه څخه واخلي ،(اوكه يې اكراه وكړه) دخنزيردغوښي په خوړلو يا دمرداري په خوړلو يادشرابو په څښلو باندي دقيدكولو ياوهلو په دهمكى سره نونه حلاليږي ،اوحلال دي دقتل او قطع عضو په دهمكى سره اوگناه گاريږي په صبركولو سره ،(اوكه يې اكراه وكړه )په كفركولو يا دمسلمان دمال په تلف (ضائع )كولو باندي دقتل ياقطع عضو په دهمكى سره نه له دي څخه دعلاوه په دهمكى سره نو رخصت وركول كيږي ،اوثواب وركول كيږي په صبركولو سره اومالک لره جائزده چې ضمان واخلي له مكرِه څخه .

**تشريح** :(۶)يو چابائع دخپل شئ پرخرڅولو مجبوركړ هغه دمجبوري په وجه خرڅ كړ مگرمشترى يې نه وومجبوركړى بلكه هغه په خوښى سره مبيع واخيستله .نومشترى لره په كارده چې بيع ماته كړي او مبيع بائع ته بيرته وركړي ،ليكن كه ده لاداسې نه ووكړي چې مبيع دمشترى په لاس كې هلاكه شوه نواوس بائع لره

اختيار دی که يې خوښه وي نو مشتري دې د مبيع د قيمت ضامن جوړ کړي ولې چې اصل هلاکت خو د ده له لاسه شوی دی او که يې خوښه وي نو چاچې مجبور کړی وو هغه دې ضامن جوړ کړي ولې چې دده د مجبور کولو په وجه سره مبيع د مشتري لاس ته تللې وه نو گويا د بائع مال مشتري ته مکرِه ورکړی دی لهذا مکرَه لره حق شته چې دی له مکرِه څخه ضمان واخلي.

(۷)قوله وعلى اكل لحم الخنزيرالخ اى لواكره على اكل لحم الخنزيرالخ ،يعنی که چاېو څوک د خنزير د غوښې په خوړلو يا د مرداري په خوړلو يا دوينې په څښلو يا د شراب په څښلو مجبور کړاو مکرِه اکراه په حبس (بند) يا ضرب سره وکړه مثلاً وې ويل ،مرادره وخوره کنه نو تا به بندي کړم يا و به دې وهم .نو که له دې قيد او ضرب څخه دده د ژوند يا کوم عضو د ضائع کيدلو خطره نه وي نو مکرَه لره دا جائز نه ده چې مرداره و خوري يا شراب وغيره وڅښې ولې چې دا دې شيانو جرمت په نص قطعی سره ثابت دی لهذا بغير له سختې مجبوري او ضرورت څخه نه شي مباح کيدای او دلته څه سخته مجبوري نشته ولې چې سخته مجبوري به هغه وخت وای چې دده د ژوند يا کوم عضو د ضائع کيدلو خطره وي نو دداسې معمولي ضرورت په وجه سره دا شيان مباح نه گرځي.

(۸)هو که يې دی داسې مجبور کړ چې دده ژوند ته خطره وي يا د کوم عضو د ضائع کيدلو خطره وي نو ده لره گنجائش شته بلکه واجب ده چې هغه کار به کوي پر کوم چې دی مجبوره شوی دی ،او که ده صبر وکړ تر څو چې هغه له ده سره هغه کار وکړ د کوم چې يې دهمکی ورکړي وه بيا هم ده مرداره ونه خوړه نو مکرَه گناه گار دی ولې چې په داسې حالت کې شريعت ده لره د مردار خوړل مباح کړي دي بيا هم دی له هغه څخه منع شو نو دا په خپل هلاکت باندي له بل سره تعاون شمارل کيږي په دې وجه دی گناه گار دی.

(۹)قوله وعلى الكفرواتلاف مال المسلم اى لواكره على كلمة الكفرواتلاف مال المسلم الخ ،يعنی که چا مسلمان ته د وهلو يا بندي کولو يا زولني وراچولو دهمکی ورکړه او وې ويل په الله سره کفر وکړه (يعنی کافر شه)،يا د بل مسلمان مال تلف کړه ،نو دا اکراه نه شمارل کيږي ولې چې او س تيره شوه چې دا دهمکيانې په شراب څښلو کې اکراه نه شمارل کيږي نو په کفر او د بل مسلمان د مال په تلف کولو کې خو په طريقه اولی سره اکراه نه دی .حتی که مکرِه داسې دهمکی ورکړه چې له هغې څخه دده د ژوند ته خطر و يا د کوم عضو د ضائع کيدلو خطره وه نو بيا د گنجائش شته چې کوم څه چې مکرِه وايي هغه ظاهره کړي لقوله تعالى ﴿إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ﴾ نو که ده داسې کلمات پر ژبه ظاهري کړي او حال دا چې دده زړه مطمئن بالايمان دی نو پر ده گناه نشته ولې چې په داسې صورت کې ايمان حقيقة نه زائليږي ولې چې تصديق قلبی موجود دی حال دا چې په صبر کولو کې نفس حقيقة ضائع کيږي لهذا د مکرِه د مطلوب اظهار جائز دی او په دې صورت کې د بل د مال د تلف کولو اجازت په دې وجه دی چې د غير مال د ضرورت پر وخت مباح گرځي لکه په حالت د مخمصې کې .او ضرورت دلته متحقق دی په دې وجه دد ي مال تلف کول مباح دي ،او پر کفر د مجبوره کولو په صورت کې دې توريه وکړي يعنی په ښکاره دې يو لفظ ووايي او له هغه څخه دې بله معنی مراد کړي.

(۱۰)لیکن که په مذکوره بالاصورت کښې مکرَه صبروکړترڅوچې مکرِه دی قتل کړاوده کفرښکاره نه کړنومکرَه ماجوردی ولې چې امتناع عن الکفرد اعزازدین لپاره عزیمت دی ،اوصاحب مال لره جائزده چې له مکرِه څخه تاوان واخلي ولې چې اصل متلف مکرِه ده مکرَه خوصرف دده لپاره دآلې درجه لري .

(۱۱)وَعَلٰی قَتْلِ غَیْرِهٖ بِقَتْلٍ لَا یَرْخَصُ وَإِنْ قَتَلَهُ أَثِمَ وَیُقْتَصُّ مِنَ الْمُکْرِهِ فَقَطْ (۱۲)وَعَلٰی عَتَاقٍ وَطَلَاقٍ فَفَعَلَ وَقَعَ (۱۳)وَرَجَعَ بِقِیْمَتِهٖ وَبِنِصْفِ الْمَهْرِ إِنْ لَمْ یَطَأْهَا (۱۴)وَعَلَی الرِّدَّةِ لَمْ تَبِنِ امْرَأَتُهُ

**ترجمه** :اوکه (اکراه وکړل شوه )دبل پرقتل کولوباندې دقتل په دهمکۍ سره نورخصت نشته نوکه ده قتل کړنوگناه ګاردی اوقصاص به اخیستل کیږي صرف له مکرِه څخه ،اوکه (اکراه وکړل شوه )په ازادولویا طلاق ورکولوباندې اوده وکړل نوواقع کیږي ،اورجوع به کوي په قیمت دهغه او نصف مهرکه یې له هغې سره وطی نه وه کړې ،اوکه (اکراه وکړل شوه )پرمرتدوالی باندې نونه بائنه کیږي دده ښځه .

**تشریح** :(۱۱)قوله وعلی قتل غیره الخ ای لواکره علی قتل غیره الخ ،یعنې که پریوچا دبل چاپه وژلوکښې اکراه وکړل شوه اواکراه یې په دې ډول وکړه چې که تادی قتل نه کړنوزه به تاقتل کړم نومکرَه لره داګنجائش نشته چې هغه دبل پرقتل اقدام وکړي بلکه صبربه کوي ترڅوچې خپله قتل کړای شي ،نوکه مکرَه غیرقتل کړنوګناه ګاربږي ولې چې دکوم مسلمان قتل کول دهیڅ ضرورت په وجه سره مباح نه ګرځي نودڅوندیادعضودخطرپه وجه سره هم مباح نه ګرځي ،اوکه مکرَه داغیرقتل کړنودمقتول قصاص به له مکرِه څخه اخیستل کیږي په دې شرط چې قتل عمدوي ولې چې اصل قاتل مکرِه دی مکرَه خوصرف دآلې په درجه کښې دی ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدبه په دواړوکښې له یوه څخه هم قصاص نه اخیستل کیږي ولې چې حدمن وجه دمکرَه طرف ته مضاف دی چې دقتل مباشردی اومن وجه دمکرِه طرف ته مضاف دی ولې چې هغه پرقتل باعث دی په دې ډول په قاتل کښې شبه پیداشوه اودشبه په وجه سره قصاص ساقطیږي .

**فائده**:دطرفینوقول راجح دی لماقال الشیخ عبدالحکیم الشهید:قوله وهذاعندابی حنیفه ومحمدالخ ،واکثرالمشائخ علی قولهمافلهذااختصر اصحاب المتون بقولهماوالشروح اظهرواترجیح دلیلهما،والله اعلم بالصواب (هامش الهدایة:۳/۳۴۷)

(۱۲)قوله وعلی اعتاق وطلاق الخ ای لواکره علی اعتاق الخ ،یعنې که څوک دخپل غلام په ازادولومجبورکړای شویاخپلې ښځې ته په طلاق ورکولومجبورکړای شواومکرَه طلاق ورکړیایې غلام ازادکړنومذکوره امورواقع کیږي ولې چې په اکراه سره دمکرَه رضاختمیږي حال داچې په مذکوره اموروکښې رضاشرط نه ده همداوجه ده چې طلاق او عتاق مع الهزل صحیح دي کمامرفی الطلاق .

(۱۳)اومکرَه به دخپل غلام قیمت له مکرِه څخه اخلي ولې چې ملک مکرَه خومکرِه تلف کړی دی اومکرَه خوصرف آله ده .اودطلاق په صورت کښې که طلاق قبل الدخول وي نوخاوندبه دخپلې مطلقې نصف مهرله مکرِه څخه اخلي ولې چې مکرِه پرخاونددطلاق ورکولوپه اکراه کولوسره نصف مهرلازم کړحال داچې قبل الدخول مهرعلی شرف السقوط وو په دې ډول چې دښځې له طرف څخه دمعصیت (مثلاارتدادوغیره )په وجه سره تفریق راغلی وای نومهرساقطیدوحال داچې مکرِه دطلاق په ذریعه هغه موکدکړلهذامکرِه به

ضامن وي .ليکن که خاوند وطی کړي وي نو پر مکرِه هيڅ نه لازميږي ولی چې په دي صورت کې مهر په وطی سره موکد شوی دی دطلاق په وجه سره نه دی موکد شوی.

(۱۴) قوله وعلی الردة لم تبن زوجته ای لو اکره علی الردة فاجری کلمة الکفر علی لسانه وقلبه مطمئن بالايمان لم تبن امرأته ،يعنی که څوک په مرتد والی مجبور کړای شونو که مکرَه دکفر کلمه پرژبه جاري کړه مگر دده زړه مطمئن وونو دده ښځه له ده څخه نه بائنه کيږي ولی چې دکفر کلمه دفرقت لپاره نه ده وضع شوي البته دتغير اعتقاد (کوم چې باطنی شئ دی) په وجه سره فرقت واقع کيږي او دمکرِه اکراه کول دتغير اعتقاد دنه موجودوالی دليل دی لهذا فرقت نه واقع کيږي.

## كِتَابُ الْحَجْرِ

### داکتاب دحجر په بيان کې دی

حجر په لغت کې مطلق منع کولوته ويل کيږي له همدي وجه عقل ته هم حجر ويل کيږي ولی چې عقل له قبائحو څخه مانع دی او په همدي وجه حطيم ته حجر ويل کيږي ولی چې هغه له بيت الله شريف څخه منع کړای شوی دی ، او شرعاً تصرف قول له نفاذ څخه منع کولو ته حجر ويل کيږي ،تصرف قولی کوم چې له ژبې سره متعلق وي لکه بيع ،شراء ،هبه وغيره او تصرف فعلی کوم چې له جوارحو سره متعلق وي لکه قتل ،اتلاف مال وغيره ،نو که محجور خپل کوم شئ خرڅ کړي يا له چا څخه څه واخلي نو دده خرڅولو يا اخيستلو هيڅ اعتبار نه کيږي ،او که يې په لاس او پښو سره چاته تاوان ورساوو نو دهغه تاوان به ورکوي ولی چې د محجور په فعل کې حجر نه وي.

دکتاب الاکراه له کتاب الحجر سره مناسبت دادی چې په اکراه او حجر دواړو کې اختيار سلب کيږي بيا اکراه څرنګه چې په تاثير کې ډيره قوی ده ولی چې په دي کې دداسې کس اختيار سلب کيږي دکوم چې اختيار صحيح او ولايت کامل دی حال داچې په حجر کې دداسې کس اختيار سلب کيږي دکوم په ولايت کې چې قصور دی لهذا اکراه داقویٰ والی په وجه سره احق بالتقديم ده.

(۱) هو مَنعٌ عن التَّصرُّفِ قولًا لا فِعلًا بِصِغَرٍ وَرِقٍّ وَجُنونٍ (۲) فَلَا يَصِحُّ تَصَرُّفُ صَبِيٍّ وَعَبدٍ بِلَا إِذْنِ وَلِيٍّ وَسَيِّدٍ وَلَا تَصَرُّفُ الْمَجْنُونِ الْمَغْلُوبِ بِحَالٍ (۳) وَمَنْ عَقَدَ مِنهُم وهو يَعْقِلُهُ يُجِيزُهُ الْوَلِيُّ أو يَفْسَخُهُ (۴) وَإِنْ أَتْلَفُوا شَيئًا ضَمِنُوا

**ترجمه**: هغه منع کول دي له تصرف قولی څخه نه له فعلی څخه دکم عمري ،غلامي او ليونتوب په وجه سره ،نو صحيح نه دی تصرف دنابالغ او دغلام دولي او مولی له اجازت څخه بغير او نه تصرف دمجنون مغلوب په هيڅ حال کې ،او څوک چې عقد وکړي له دوئ څخه په داسې حال کې چې په هغه پوهيږي نو جائز دي کړي هغه ولی يادي فسخ کړي ،او که دوئ تلف کړکوم شئ نو ضامن کيږي.

**تشريح** :(۱)حجر اصطلاحی هغه ته ویل کیږي چې دکم عمري یاغلامي یاجنون په وجه سره صرف له زباني تصرفاتو څخه منع وکړي نه له فعلی تصرفاتو څخه مثلاکه له دوئ دریو څخه کوم یو څېل کوم شئ خرڅ کړي یاله چاڅخه یو شئ واخلي نودددوئ داخیستلو اوخرڅولو اعتبار به نه کیږي اوکه په لاس اوپښو سره چاته تاوان ورسوي نو دهغه تاوان به ورکول کیږي ولی چې ددوئ په فعل کې حجر نه وي ،حجر ثابتونکې اسباب دري دي کم عمري ،رقیت یعنی غلام یامینځه والی ،جنون (لیونتوب )،نابالغ په دي وجه محجوردی چې که غیرممیزوي نوعدیم العقل دی اوکه ممیزوي نوناقص العقل دی ،اومجنون په دي وجه محجوردی چې عدیم العقل دی ،اوغلام په دي وجه محجوردی چې په قرض کې په اخته کیدلو سره دبل مملوک جوړیږي نو دمولی دحق درعایت لپاره شرعا دده تصرفات قولیه غیرمعتبر دي .

(۲)نودنابالغ تصرف قولی دنقصان عقل په وجه سره صحیح نه دی (له عدم صحت څخه مرادعدم نفاذدی عدم انعقادمرادنه دی )مګرداچې ولی اجازت ورکړي ولی چې دولی اجازت داهلیت علامه ده ،له نابالغ څخه عاقل نابالغ مراددی نودغیرعاقل تصرف جائزنه دی اګرکه دده ولی ده اجازت ورکړي ،اوعاقل نابالغ هغه دی کوم چې په دي پوهیږي چې بیع سالبه ده اوشراء جالبه ده یعنی په بیع سره شئ له لاسه وځي اوپه شراء سره شئ لاس ته راځي ،په عاقل اوغیرعاقل کې په دي دول سره تمیزکیدای شي چې مثلانابالغ ته روپۍ ورکړي که ده دکاندارته روپۍ ورکړي اوسودایې واخیسته بیایې دروپودغوښتلولپاره ژراشروع کړه نوداغیرعاقل دی کنه نوعاقل دی ،همداشان دغلام تصرف قولی هم جائزنه دی مګرداچې مولی اجازت ورکړي ولی چې دمولی دحق لپاره محجورګرځول شوی ووکله چې مولی په خپله اجازه ورکوي نودی په خپله په سقوط حق راضی شو په دي وجه اوس دغلام تصرف قول جائزدی ،اودمغلوب العقل مجنون تصرف په هیڅ حال کې هم جائزنه دی اګرکه ولی دده تصرف جائزکړي ولی چې مجنون په خپلي ګټې اوتاوان نه پوهیږي په دي وجه شریعت دده دقولی تصرفاتو اعتبارنه کوي .

(۳)که له دوئ څخه کوم یو (منهم دجمع صیغه ده مګرله دي څخه مراددوه دي یعنی صبی اورقیق )کوم شئ خرڅ کړیایې واخیستی په دي شرط چې دی په بیع پوهیږي (چې په بیع سره دمالک ملک له مبیع څخه سلب کیږي اودمشتری ملک ثابتیږي )اودبیع قصدلري (یعنی داثبات حکم اراده یې کړي وي هازل نه وي )نودده ولی لره اختیاردی که یې خوښه وي دابیع دي نافذه کړي اوکه یې خوښه وي فسخ دي کړي ولی چې ممکنه ده چې ددوئ کړی عقددي مفیدوي اوممکنه ده چې مضروي ،که مفیدوونوولی یامولی دي دهغه اجازت ورکړي ،نوکه ولی اجازه وکړه نوجهت مصلحت متعین شوپه دي وجه به داعقدنافذوي .

(۴)اوکه له دوئ څخه (نابالغ ،غلام اومجنون څخه )کوم یوه دچاکوم شئ تلف کړنوپرمتلف باندي دهغه ضمان لازم دی ولی چې ددوئ په اقوالوکې حجردی په افعال جوارح کې حجرنشته لهذاددوئ افعال معتبردي اوموجب ضمان دي .

(۵)ولاینفذاقرارالصبي والمجنون (۶)وینفذاقرارالعبد في حقه لا في حق مولاه فلو أقر بمال لزمه بعدالحرية (۷)ولو أقر بحد أو قود لزمه في الحال (۸)لابسفه (۹)فإن بلغ غير رشيد لم يدفع إليه ماله حتى يبلغ خمسا وعشرين سنة ونفذ تصرفه قبله (۱۰)ويدفع إليه ماله إن بلغ المدة مفسدا

**ترجمه** ،اونه نافذيږي اقراردنابالغ اوليونى ،اونافذيږي اقراردغلام دده په خپل حق كې نه دده دمولى په حق كې نوكه دده اقراروكړدمال نولازميږي پرده له ازادي څخه وروسته ،اوكه يې اقراروكړدحديا قصاص نولازميږي فى الحال ،نه دبې عقلې په وجه سره ،نوكه بالغ شودى بې عقل نونه به وركول كيږي ده ته مال ترڅوچې دى ورسيږي پنځه ويښت كالوته اونافذيږي دده تصرف له دې څخه وړاندې ،اووركول كيږي به ده ته مال كله چې دى ورسيږي پنځه ويښت كلوته اګركه دى مفسدوي .

**تشريح** :(۵)داپرماقبل باندې تفريع ده يعنى دنابالغ اوليونى هيڅ عقدصحيح نه دى اونه ددوئ اقرارصحيح دى اونه ددوئ طلاق وركول صحيح دي اونه ددوئ اعتاق (ازادول )صحيح دي ولى چې ددوئ اقوال معتبرنه دي ﴿لقوله ﷺ رفع القلم عن ثلاثة عن النائم حتى يستيقظ وعن المبتلى حتى يبرا وعن الصبى حتى يحتلم﴾(يعنى له دريوكسانو څخه قلم پورته كړل شوى دى يوله ويده څخه ترڅوچې دى راوېنس شي اوله مجنون څخه ترڅوچې دى روغ شي اوله نابالغ څخه ترڅوچې دى بالغ شي )،همدرازپه شريعت كې داقوالواعتبارپه اهليت پورې معلق دى حال داچې په دوئ كې اهليت نشته .

(۶)پاتې شوغلام نودهغه اقوال په خپل حق كې نافذدي ولى چې په ده كې اهليت (يعنى اقرارمع القصد) موجوددى ليكن دده دمولى په حق كې نافذنه دي دمولى دجانب په رعايت كولوسره .نوكه غلام پرخپله ذمه دمال اقراروكړ(مثلاً وې ويل چې زماپرذمه دزيدزردرهمه دي )نوله ازادي څخه وروسته به پرده لازم وي ولى چې له ازادي وروسته په ده كې اهليت موجوددى اومانع منتفى دى مګرفى الحال به پرده لازم نه وي ولى چې دااقرارعلى الغيريعنى اقرارعلى المولى دى اوپرغيراقراركول معتبرنه دى نوفى الحال څرنګه چې مانع (يعنى دمولى حق )موجوددى په دې وجه به فى الحال نه نافذيږي .

(۷)اوكه غلام دحديا قصاص اقراروكړنوفى الحال نافذيږي ولى چې دحداوقصاص په حق كې غلام پرخپله اصلي ازادي باندې برقرارپاتې شوى دى ولى چې حدوداوقصاص له خواص ادميت څخه دي اوغلام دادمى والى په حيثيت سره مملوك نه دى بلكه دمال والى په حيثيت سره مملوك دى نوكله چې په حدوداوقصاص كې غلام پرخپله ازادي باندې براقراردى نودااقراردحردااقرارپه څيردى لهذافى الحال نافذدى .

(۸)قوله لابسفه اى لايحجرعلى الحرالعاقل بسبب سفه ،دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددسفيه (ناپوهه )كله چې هغه ازاد،عاقل اوبالغ وي نودهغه تصرف په خپل مال كې جائزدى اګركه فضول خرڅه اومفسدوي مال په هغوشيانوكې مصرفوي په كوم كې چې دده هيڅ غرض نه وي اونه كوم مصلحت وي مثلاً مال په درياب كې اچوي ياپې په اورسوځوي ،وجه داده چې دده دولايت په ختمولوكې دده ادميت ختمول اودى له څارويوسره يوځاى كول دي كوم چې له فضول خرڅي څخه ډيرنقصان پېښونكى دى لهذاسفيه به محجورنه ګرځول كيږي ،دصاحبينوپه نزدپرداسې سفيه باندې به حجركيږي اودده په خپل مال كې داسې تصرفات كول صحيح نه دي كوم چې له هزل سره نه صحيح كيږي مثلاً بيع ،اجاره ،صدقه وغيره ،ولى چې سفيه فضول خرڅي كوي نودده

دخپلې خيرخواهۍ لپاره به دې محجور ګرځول کيږي لکه څرنګه چې نابالغ صرف دهمده دخيرخواهۍ لپاره محجور کيږي .

**فائده**: دصاحبينو قول راجح دی لماقال العلامة ابن عابدين الشامی:(قوله وبه )ای بقولهمايفتی به صرح قاضيخان فی کتاب الحيطان وهو صريح فيکون اقوی من الالتزام کذاقال الشيخ قاسم فی تصحيحه ومراده ان ماوقع فی المتون من القول بعدم الحجر علی الحر مصحح بالالتزام وماوقع فی قاضيخان من التصريح بان الفتوی علی قولهما تصريح بالتصحيح فيکون هو المعتمد وجعل عليه الفتوی مولا نافی فی الدمنح وفی حاشية الشيخ صالح وقدصرح فی کثير من المعتبرات بان الفتوی علی قولهما وفی القهستانی عن التوضيح انه المختار والفتی به البلخی وابوالقاسم کماذکره فی المنح عن الخانية (ردالمحتار:۱۰۳/۵)

(۵)البته امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي چې که کوم هلک دناپوهۍ په حالت کې بالغ شي نو دده مال به ده ته نه سپارل کيږي ترڅو چې دی پنځه ويشت کاله ته ونه رسيږي ،که ده له پنځه ويشتو کلو څخه وړاندې په خپل مال کې تصرف وکړ نو نافذيږي ولې چې اهليت موجود دی ،صاحبين فرمايي چې پرسفيه به حجر کيږي اوپه مال کې له تصرف څخه به منع کيږي که ده کوم شئ له خپل مال څخه خرڅ کړنو دا بيع نافذه نه ده (همدا قول مفتی به دی کمامر)هو که په دې بيع کې دده کوم مصلحت وو نو حاکم دې دهغه په لحاظ لوسره دا بيع نافذه کړي .

(۱۰)البتة کله چې دی دپنځه ويشتو کلو شي نو مال دې ده ته وسپارل شي اګر که دی مفسد وي اوله ده څخه دپوهې اثار ظاهر نه وي ولې چې له بلوغ څخه وروسته له ده څخه دمال منع کول دتاديب په دول وو اوله دې عمر څخه وروسته غالبه داده چې څوک ادب نه حاصلوي ولې چې دحضرت عمر رضي الله عنه ارشاد دی چې عقل انتهاء ته رسيږي کله چې ادمی دپنځه ويشتو کالو شي لهذا له پنځه ويشتو کالو څخه وروسته به له ده څخه مال نه منع کيږي .

**فائده**:دصاحبينو په نزد ترڅو چې له ده څخه دپوهې اثار نه وي ښکاره شوي ده ته به دده مال نه ورکول کيږي او دده په خپل مال کې تصرف کول ناجائزدی لقوله تعالی ﴿فَإِنْ آنَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ﴾ باری تعالی حکم کړی دی چې دپوهې داثار وپه ښکاره کيدلو سره ددوئ اموال دوئ ته وسپاری ،له دې څخه فهميږي چې که دپوهې اثار ښکاره نه وي نو دوئ ته به ددوئ اموال نه ورکول کيږي.

(۱۱)وفسق وغفلة(۱۲)وَدَيْن وَإِنْ طلب غرماؤه وَحَبس لِيَبِيعَ مَالَه في دَيْنِه(۱۳)وَلَوْ مَالُهُ وَدَيْنُهُ دَرَاهِمَ قَضَى بِلا أَمْرِهِ(۱۴)وَلَوْ دَيْنُهُ دَرَاهِمَ وَلَه دَنَانِيرُ أَوْ بِالْعَكْسِ بِيعَ فِي دَيْنِه(۱۵)ولم يَبِعْ عَرْضَه وَعَقَارَه(۱۶)وَالْمَلاَبِسِ(۱۷)وَإِنْ أَفْلَسَ مَتَاعٌ غَيْرَهُ فَبَائِعُهُ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ

**ترجمه** :اونه دفسق او غفلت او قرض په وجه سره او که طلب کړي دده قرضخواه نو بندي دې کړی دی ترڅو دی خرڅ کړي خپل مال په خپل قرض کې ،نو دده مال او دده قرض دراهم وي نو اداء کيږي به دده له اجازې څخه بغير،او که دده قرض دراهم وي اوله ده سره دنانير وي يا برعکس وي نو خرڅيږي به دده په قرض کې ،اونه به خرڅيږي دده سامان او دده ځمکه ،اونه دمفلسۍ په وجه سره ،نو که مفلس شود کوم شئ اخيستونکی نو خرڅونکی برابر دي له قرضخواهانو سره .

**تشريح** :(۱۱)قوله وفسق وغفلة ای لايحجر بفسق وغفلة ،يعنې پر فاسق باندې حجر نه کيږي که هغه دخپل مال لپاره مصلح وي ولې چې حجر داسراف او تبذير دمنع کولو لپاره مشروع شوی دی حال دا چې دی خود خپل مال لپاره

مصلح فرض شوى دى ،يافسق اصلي (كوم چې له بلوغ څخه وړاندي فاسق وي ،اوفاسق بالغ شوى وي دافسق اصلي دى )اوفسق طارى (كوم چې وروسته له بلوغه فاسق شوى وي دافسق طارى دى )برابردي دصاحبينوپه نزدفاسق كه دخپل مال لپاره مصلح نه وي بلكه مفسدوي نوپرده به حجركيږي ،همدشان پرغافل هم حجرنه كيږي ولى چې منقذبن عمر و ﷺ دكوروالاونبى كريم ﷺ ته دمنقذدغفلت شكايت وكړمګرنبى كريم ﷺ منقذمحجورنه كړبلكه منقذته يې وفرمايل چې دبيع پروخت وايه لا خلابة (دهوكه نه )،غافل هغه كس دى كوم چې عاقل غيرمفسدوي مګرپه مفيدوتصرفاتونه پوهيږي ،دصاحبينوپه نزددسفيه په شان پرغافل هم دده دخيرخواهى لپاره حجركيږي.

(۱۲)قوله ودين اى لايحجرعلى احدبسبب دين ،امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې زه څوک دقرض په وجه سره نه محجوره وم ولى چې دى بالغ اوعاقل دى لهذادده تصرفات جائزدي ،كه پرده قرض واجب شي اودده قرضخواه (قرض غوښتونكى )دده بندي كول يامحجوررول وغواړي نوزه به دى محجورنه كړم ولى چې په حجركولوكي دده اهليت ختم كول دي اودقرض خواه دضرردفع كولوپه خاطرداسې كول جائزنه دي ،هوكه قرضخواهانودده دبندي كولومطالبه وكړه نوحاكم دي دى ترهغه پوري بندي كړي ترڅوچې دى په خپله دخپل قرض په اداء كولوكې خپل مال خرڅ نه كړي ولى چې دمقروض ټال مټول (ځنډكول )ظلم دى نوددفع ظلم لپاره به حاكم دى بندي كړي ،دصاحبينوپه نزدبه مقروض محجوركيږي .

**فائده**:دصاحبينوقول راجح دى لمافى الدرالمختار:لايبيع القاضي عرضه ولاعقاره للدين خلافالهماوبقولهمايفتى اختياروصححه فى تصحيح القدورى ,قال العلامة ابن عابدين (قوله خلافالهماوبه يفتى )الاولى ان يقول وقالايبيع وبه يفتى كمالايخفى (الدرالمختارمع الشامية :۵/۱۰۵)

(۱۳)نوكه قرض دراهم وواوله مقروض سره مال هم دراهم وونوقاضى به دمديون له اجازي بغيردده قرض اداء كړي ولى چې قرضخواه كه په خپله دمقروض دهغه جنس مال وموندي دكوم جنس چې پرده قرضه وه نودى دمديون له رضاڅخه بغيردااخيستلى شي اوقاضى خوصرف دده كومک كونكى دى.

(۱۴)اوكه قرض دراهم وواوله مقروض سره مال دنانيروويادادي عكس وويعنى قرض دنانيروواوله مقروض سره مال دراهم وونوقاضى به دقرض داداء كولولپاره دنانيرخرڅ كړي اودمقروض له اجازي څخه بغيربه دده قرضه اداء كړي داحكم استحساناًدى داستحسان وجه داده چې دراهم اودنانيرپه ثمنيت اوماليت كې جنس متحددي همداوجه ده چې دزكوة په باب كې يوله بل سره ضم كيږي ،ليكن صورة مختلف دي نودوحدت جنس په اعتبارسره قاضى ته ولايت تصرف حاصل دى اوداختلاف صورة په وجه سره قرض خواه ته ولات اخذحاصل نه دى نوپه دواړوشبهوپه عمل كولوسره داحكم وركړل شوچې قاضى دي دنانيرخرڅ كړي اودمقروض له اجازت څخه بغيردي دين اداء كړي .

(۱۵)كه دمقروض مال اسباب اوجائيدادوي نوامام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې قاضى دي دادقرضو داداء كولولپاره نه خرڅوي البته مقروض دي بندي كړي ترڅوچې هغه قرضه اداء كړي ولى چې ددينونوداداء كولولپاره داسبابوخرڅول متعين نه دي لهذاقاضى به داسبابوپه خرڅولوكي دمديون قائم مقام نه وي

صاحبين فرمايي چې که مديون په خپله اسباب اوجائيدادخرڅ نه کړي نوقاضي لره اختياردی چې دی ددیونوداداء كولولپاره داجائيدادخرڅ كړي ولی چې دديونوداداء كولولپاره اسباب خرڅول په خپله پرده واجب دي نوکله چې دي په خپله دانه خرڅوي نوقاضي به دده قائم مقام وي .

**فائده:** دصاحبينوقول مفتی به دی لمافی الدرالمختار:لایبیع القاضی عرضه ولاعقاره للدین خلافالهماوبه ای بقولهمایفتی اختیاروصححه فی تصحیح القدوری(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۵/۱۰۵)

(۱۶)قوله والافلاس ای لایحجربسبب الافلاس ،امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې زه مفلس دافلاس په وجه سره نه محجوركوم ولی چې دی بالغ اوعاقل دی لهذادده تصرفات جائزدي ،هوقاضي دي دی بندي كړي ترڅوچې دده مال ښكاره شي اوكه په بندي كولوسره دده څه مال ښكاره نه شونوقاضي دي دی پريږدي ،البته قاضي به اوس دمديون اوقرضخواهانوترمنځ حائل نه جوړيږي .دصاحبينوپه نزددمقروض مفلس قرضخواه كه پرده حجرطلب كړي نوقاضي دي پرده حجروكړي اودی دي له بيع ،تصرف اواقراركولوڅخه منع كړي ترڅوپه دي اعمالوسره دده دنوري زياتي مالي خساري (تاوان )په وجه سره قرضخواهانوته نقصان ونه رسيږي .

(۱۷)كوم څوک چې مفلس وي اوله ده سره دچاكوم شئ بعينه موجودوي كوم چې مفلس له ده څخه اخيستی وونودي شئ مالک له نوروقرضخواهانوسره برابرشريک دی په ټولوكي به برابرتقسيمږي ولی چې كله بائع داشئ مشتری ته وسپارونودي شئ له عين څخه دخپل حق په سقوط اودمشتری پرذمه كي كيدلوباندي راضي شونودنورقرضخواهانوپه شان شو .

## فصل فی حدالبلوغ

دافصل دمدت بلوغ په بيان كي دی

بلوغ لغةً په معنی دوصول دی اوپه اصطلاح كي دحدصغرانتهاء ته بلوغ ويل كيږي .كم عمري څرنګه چې له اسبابودحجرڅخه ده په دي وجه ددي انتهاء بيانول ضروري شو ،په دي وجه مصنف رحمه الله په دي فصل كي دكم عمري انتهاء بيان كړي ده .

(۱)بلوغُ الغُلامِ بالاحتِلامِ والإحبالِ والإنزالِ وإلّا فحتّى يَتِمّ لهُ ثمانِيَ عشرَةَ سَنةً (۲)والجاريةِ بالحَيضِ والاحتلامِ والحبلِ وإلّا فحتّى يَتمّ لهاسبعَ عشرَةَ سنةً (۳)ويُفتى بالبلوغِ فيهمابخمسَ عشرَةَ سنةً (۴)وأدنى المُدّةِ في حقّهِ اثنتاعشرَةَ سنةً وفي حقّهاتِسعُ سِنينَ (۵)فإن راهقاوقالاقدبلغنا صُدِّقاوأحكامُهُماأحكامُ البالِغِينَ

**ترجمه** :دهلک بالغ والی په احتلام ،حامله كولواوانزال سره وي كنه نوكله چې پوره شي اتلس كاله ،اودانجلی بالغ والی په حيض اواحتلام اوحامله كيدلوسره وي كنه نوكله چې پوره شي اوولس كاله ،اوفتوی به وركول كيږي ددواړودپنځلسوكلوپه عمركي ،اوادنی مدت دهلک په حق دولس كاله دي اودانجلی په حق كي نهه كاله دي ،نوكه هغوئ بلوغ ته قريب شول اوويې ويل چې موږبالغ شونودهوئ تصديق به كيږي اوددوئ احكام به دبالغانوپه شان وي .

**تشريح** :(۱)هلک له دري اموروڅخه په يوه بالغ کيږي ./نمبر۱–په انزال سره ./نمبر۲- په احتلام سره ./نمبر۳-احبال يعنی له ښځې سره په وطی کولو دهغې حامله کولو سره ،که له دې دريوڅخه کومه علامه ونه موندل شوه نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد چې کله داتلسو کالو شې نو بالغ شمارل کيږي.

(۲)انجلۍ هم له دري اموروڅخه په يوه بالغه کيږي .نمبر۱- په حيض راتلو سره ./نمبر۲- په احتلام سره ./نمبر۳-په حامله کيدلو سره .که له دې دريو اموروڅخه کومه علامه ونه موندل شوه نو کله چې داوولسو کالو شي نو بالغه شمارل کيږي.

(۳)دصاحبينو په نزد که په هلک او انجلۍ کې له پورته ذکرشويو دبلوغ له علاموڅخه کومه علامه ونه موندل شوه نو کله چې پنځلس کاله پوره شي نو بالغ شمارل کيږي ولی چې عام عادت داده چې بلوغ له پنځلسو کالوڅخه نه مؤخر کيږي.

**فائده**:دصاحبينو قول مفتی به دی لمافي الدرالمختار:فان لم يوجدفيهماشيء فحتى يتم لكل منهماخمس عشرة سنة به يفتي لقصر اعمار اهل زماننا وهورواية عن الامام وبه قالت الائمة الثلاثة,وقال ابن عابدين:(قوله به يفتي)هذاعندهماوهورواية عن الامام وبه قالت الائمة الثلاثة وعندالامام حتى يتم له ثماني عشرة سنة وله اسبع عشرة سنة (الدرالمختار مع الشامية:۷/۱۰۵)

(۴)دهلک په حق کې لږترلږه هغه مده چې په هغه کې دی بالغ کيدای شي دولس کاله دي او دانجلۍ په حق کې نهه کاله دي ولی چې کله په دې مده کې هم دبلوغ علامه ښکاريږي ،نوکه کومه علامه ښکاره نه شوه او انجلۍ اوهلک مذکوره مدي ته ورسيدل اودوئ په دومره مده کې دبالغ والی دعوی وکړه نو ددوئ قول به اوريدل کيږي (يعنی تصديق به يې کيږي )،اوکه يې له دومره مدي څخه وړاندي دبلوغ دعوه وکړه نو نه به اوريدل کيږي ولی چې ظاهرحال يې تکذيب کوي .

(۵)کله چې هلک يا انجلۍ مراهق (يعنی قريب البلوغ )شي اوددوئ بلوغ اوعدم بلوغ معلوميدل مشکل شي اودوئ وايي چې موږ بالغ شو نو ددوئ قول معتبردی اوددوئ احکام دبالغانو په شان دي ولی چې داداسې خبره ده کومه چې ددوئ له طرف څخه معلوميدای شي نوکله چې دوئ خبرورکړاوظاهرحال هم ددوئ تکذيب نه کوي نو ددوئ قول به قبليږي .

## كتاب المأذون

داکتاب دماذون داحکامو په بيان کې دی

مأذون له اذن څخه دی لغةً په معنی داجازت ورکولو دی ،او په شريعت کې فک الحجرواسقاط الحق ته ويل کيږي يعنی غلام (بوجه رقيت )اونابالغ (بوجه کم عمري )چې ممنوع عن التجارة وو دمولی اوولی له طرف څخه ددي پابندي ختمولو او مولی اوولی ته چې کوم دپابندي لګولو حق حاصل وو دهغه ساقطولو ته اذن ويل کيږي ،اوله چاڅخه پابندي ختمه شي هغه ته مأذون ويل کيږي .

له ماقبل سره يې مناسبت ظاهردی ولی چې اذن دخپل وجود په اعتبار سره سبقت حجرغواړي چې اول به له کوم کارڅخه حجروي بيا به اذن وي نو کله چې دوجود په اعتبارسره اذن پرحجرمرتب دی نو دذکر په اعتبارسره هم اذن پرحجرمرتب شو .

(۱) الإذن فك الحجر وإسقاط الحق (۲) فلا يتوقت ولا يتخصص (۳) ويثبت بالسكوت إن رأى عبده يبيع ويشتري (۴) وإن أذن له عاما لا بشراء شيء بعينه يبيع ويشتري ويوكل بهما ويرهن ويرتهن ويستأجر ويؤجر نفسه ويقر بدين وغصب الوديعة (۵) ولا يتزوج ولا يزوج مملوكه ولا يكاتب ولا يعتق ولا يقرض ولا يهب (۶) ويهدي طعاما يسيرا ويضيف من يطعمه ويحط من الثمن بعيب

**ترجمه**: اذن حجرلري كولو او حق ساقطولو ته ويل كيږي ،نو نه دا موقت ده او نه په كوم شئ پسې خاص ،او ثابتيږي په خاموش پاتې كيدلو سره كه يې وليدى خپل غلام چې اخيستل او خرڅول يې كول ،نو كه يې عام اجازت ورکړنه د كوم خاص شي د اخيستلو نو اخيستل دي كوي او خرڅول دي كوي ،وكيل دي جوړوي د دي دواړو لپاره ،په رهن دي ايږدي او په رهن دي اخلي ،په كرايه دي اخلي او مضاربت دي كوي او خپل ځان دي په اجرت وركړي او اقرار دي كوي د قرض او د غصب او د وديعت ،او خپله نكاح دي نه كوي او نه دي د خپل مملوک نكاح كوي او نه دي مكاتب جوړوي او نه دي ازادوي او نه دي قرض وركوي او نه دي هبه وركوي ،او هديه وركولى شي لږ خوړک او دعوت كولى شي هغه ته كوم چې د ده ته دعوت كوي او كمولى شي ثمن د عيب په وجه سره .

**تشريح**: (۱) مصنف رحمه الله د مأذون تعريف په دي ډول كړى دى چې وړاندي چې دڅښتن تصرفاتو څخه د حجر او منع كولو كوم تفصيل تير شوى دى هغه حجر ختمول او متولى ته چې كوم د حجر حق وو د هغه ساقطول اذن دى او له چا څخه دا حجر ساقط كړاى شي هغه ته مأذون ويل كيږي .

(۲) او څرنګه چې د دي تصرفاتو د ااجازه له قبيلي د اسقاطاتو ده لهذا د ااجازت تر كوم وخت پوري محدود نه پاتې كيږي هو محجور كيداى شي حتى كه چا خپل غلام ته ديوي ورځې لپاره اجازت وركړه نو تر څو چې مولى دى محجور نه كړي دى د هميشه لپاره مأذون ګرځي ولى چې اسقاطات تر كوم وخت پوري محدود نه وي .همدا شان كه مولى غلام ته ديو خاص قسم د تجارت اجازت وركړ مثلا وي ويل ،اذنت لک فى التجارة فى البر فقط .(ما ته صرف په غنمو كې د تجارت كولو اجازت دركړى دى )نو د ااجازت په يو خاص قسم تجارت پوري مخصوص نه دى بلكه هغه د تجارت په ټولو اقسامو كې مأذون دى ولى چې اذن عبارت دى له پابندي ختم كولو څخه او له اسقاط حق څخه او كله چې مولى خپل حق ساقط كړ نو د غلام ملكيت ظاهريږي نو دا به په كوم خاص نوع پوري مخصوص نه وي .

(۳) بيا د مولى له طرف څخه لكه څرنګه چې د ااجازت صراحة ثابتيږي همداشان دلالة هم ثابتيږي مثلا چا خپل غلام په اخيستلو او خرڅولو وليدى او پټه خوله پاتې شو نو دا زموږ په نزد د مولى له طرف څخه ده لره اجازت دى او دا غلام مأذون ګرځي ولى چې كه مولى د ده په دي عمل راضي نه واى نو له خلګو څخه د دفع ضرر لپاره به يې دى منع كړى واى .

(۴) كه مولى خپل غلام ته د تجارت عام اجازت وركړ په كوم خاص قسم تجارت پوري يې مقيد نه كړ مثلا داسې وويل اذنت لک فى التجارة (ما تا ته د تجارت كولو اجازت دركړى دى )نو غلام هر قسم تجارت كولى شي ولى چې اسم تجارت عام دى جنس تجارت ته شامل دى نو مأذون چې څه وغواړي اخيستلى يې شي

اوڅه چې وغواړي خرڅولی يې شي ولی چې اخيستل اوخرڅول اصل التجارت دي ،البته که يې دکوم مخصوص شئ داخيستلو اجازت ورکړنوداإذن عام نه دی ولی چې دمخصوص شئ اخيستل داستخدام له قبيلې څخه دی نوکه ددې په وجه سره غلام مأذون وګرځول شي نودمولی لپاره به باب استخدام بندشي، همداشان مذکوره غلام خپل وکيل بالبيع والشراء هم جوړولی شي اوله چاسره رهن هم ايښودلی شي له چا څخه رهن هم اخيستلی شي اوچاته شئ په اجاره سره هم ورکولی شي اوله چاڅخه شئ په اجاره سره هم اخيستلی شي اوچاته خپل مال په مضاربت سره هم ورکولی شي ولی چې دادتجاروله معمولاتوڅخه دي، اومذکوره غلام خپل ځان له چاسره مزدورکولی هم شي ولی چې دمولی له طرف څخه اذن اکتساب منافع ته متضمن دی اودخپل ځان په مزدوري ورکولوکې هم منافع حاصليږي ،همداشان دمأذون پرخپل ځان دقرض اقرارکول يادکوم شئ دغصب کولو اقرارکول جائزدی ولی چې اقراردتجارت له توابعو اولوازموڅخه دی اوکه دمأذون اقرارصحيح نه وي نوخلک به له ده سره داخيستلو اوخرڅولو له معاملې څخه ځان ساتي.

(۵)مأذون لره جائزنه ده چې خپله نکاح وکړي ولی چې نکاح کول دتجارت له قبيلې څخه نه ده حال داچې ده ته دمولی له طرف څخه صرف دتجارت اجازت دی ،همدرازپه نکاح کولوکې دمولی ضررهم دی ولی چې دمنکوحې نفقه اومهردمأذون پرذمه لازميږي ،همداشان که دطرفينو په نزددمأذون غلام په مال کې که غلام يامينځه وي نومأذون دهغوئ نکاح هم نه شي کولی ،حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزددمينځې دنکاح کولواختيارعبدمأذون لره حاصل دی ،همداشان که دمأذون په مال کې غلام وي نوده لره دهغه دمکاتب جوړولواختيارنشته اونه دی دهغه دازادولواختيارلري ،اونه چاته قرض ورکولی شي اونه کوم شئ بعوض يابغيرعوض هبه کولی شي ولی چې داټول ياخوابتداءً اوانتهاءً تبرع دي اوياصرف ابتداءً (لکه هبه بعوض) تبرع دي اوتبرعات دمولی له طرف څخه په اذن فی التجارت کې داخل نه دي.

(۶)البته که لږطعام هبه کړي ياکوم داسې څوک ميلمه کړي کوم څوک چې دی ميلمه کوي نوداجائزده ،يا داسې څوک ميلمه کړي کوم چې دی نه ميلمه کوي نوداهم جائزده ولی چې داتجارانوډزړونودمائل کولولپاره له ضروريات تجارت څخه دي ،اومأذون غلام لره داجائزده چې دی په مبيع کې دعيب په وجه سره دمشتري له ذمې څخه دعيب په اندازه قيمت کم کړي ولی چې داهم دتجارانوله عادتونوڅخه دي.له عيب څخه زيات نه شي کمولی شي ولی چې داتبرع ده حال داچې مأذون لره دتبرعاتو اجازت نشته.

(۷)وَدَيْنُهُ مُتَعَلِّقٌ بِرَقَبَتِهِ وَيُبَاعُ فِيهِ إِنْ لَمْ يَفْدِهِ سَيِّدُهُ (۸)وَقُسِمَ ثَمَنُهُ بِالْحِصَصِ وَمَا بَقِيَ طُولِبَ بِهِ بَعْدَ عِتْقِهِ (۹)وَيَنْحَجِرُ بِحَجْرِهِ إِنْ عَلِمَ بِهِ أَكْثَرُ أَهْلِ سُوقِهِ (۱۰)وَبِمَوْتِ سَيِّدِهِ وَجُنُونِهِ وَلُحُوقِهِ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا (۱۱)وَبِالْإِبَاقِ وَالِاسْتِيلَادِ (لَا بِالتَّدْبِيرِ (۱۲)وَضَمِنَ بِهِمَا قِيمَتَهُمَا لِلْغُرَمَاءِ (۱۳)وَإِنْ أَقَرَّ بِمَا فِي يَدِهِ بَعْدَ حَجْرِهِ صَحَّ

**ترجمه** :اودغلام قرضه متعلقه وي دده له رقبې سره خرڅيږي به دهغې په عوض کې که فديه ورنه کړي دده مولی ،اوتقسيميږي به دده ثمن دحصوپه مطابق اوکوم چې باقي پاتې شي دهغه مطالبه به کيږي دده له ازادي څخه وروسته ،اودی محجورګرځي دده له محجورکولوسره که خبرشي په دي اکثربازاروالا ،اودده دمولی په وفات کيدلوسره اوپه ليونی کيدلوسره اودارالحرب ته په تللوسره دارتداد په حال کې ،اودغلام په تښتيدلو

سره او د مينځې په ام ولد جوړولو سره نه په مدبر كولو سره ،او ضامن گرځي دي په وجه سره دده د قيمت قرضخواهانو لره ،او كه يې اقرار وكړله حجر ځخه وروسته د هغه مال چې دده په لاس كې دى نو صحيح دى.

**تشريح** :(۷)په عبدمأذون چې كومې قرضې دتجارت په وجه سره واجبي شې مثلاً په اخيستلو او خرڅولو او په اجاره اخيستلو او وركولو وغيره كې مأذون مقروض شې نو دا قرضې به دده له رقبې سره متعلقې وي ولى چې دا قرضې دمولى له طرف ځخه دا اذن په وجه سره دمولى په حق كې ظاهريږي او كومې قرضې چې دمولى په حق كې ظاهري شې هغه دغلام له رقبې سره متعلقې وي ،نو قاضى به دى خرڅ كړي او دده له قيمت ځخه به دقرضخواهانو قرضې ادا كړي ،هو كه مولى له خپل طرف ځخه دغلام دقرضې فديه قرض خواهانو ته وركړي نو بيا به غلام نه خرڅيږي ولى چې اوس دغلام له رقبې سره دقرضخواهانو حق متعلق پاتې نه شو.

(۸)كه مولى دغلام دقرضې فديه ورنه كړه بلكه غلام يې خرڅ كړنو دغلام ثمن به دقرضخواهانو د حصو په مقدار باندې تقسيمېږي ،بيا هم كه ځه قرضه باقى پاتې شوه نو دهغې مطالبه به له غلام ځخه له ازادې وروسته كيږي ولى چې قرضه دده پر ذمه ثابته شوې ده قرضخواهانو خپله ټوله قرضه نه ده وصول كړې او رقبه كافى نه شو لهذا قرضخواهانو ته به له ازادې ځخه وروسته دمطالبې حق وي ،مگر دباقى قرضې لپاره به دى دوهم ځل نه خرڅيږي ولى چې په دې كې دمشتري نقصان دى.

(۹)كه مولى عبدمأذون محجوركړنو هغه محجورگرځي په دې شرط چې دبازار اكثرو خلك دهغه په محجوروالى خبرشوي وي ترڅو له ده سره معامله كونكوته ضرر پيښ نه شي ولى چې دبازار خلكوته دده دمحجوروالى علم نه وي نو غلام چې له حجر ځخه وروسته كوم تصرف كوي په دې كه پرده قرض لازم شو نو دا قرض به دده له گټې يا رقبې سره متعلق نه وي بلكه دده له ازادې ځخه وروسته به دا قرضې له ده ځخه وصول كيږي نو په دې سره دمعامله كونكو حق مؤخر گرځي په كوم كې دهغوئ نقصان دى حال دا چې معامله كونكوله ده سره په دې اميد معامله كړې وه چې كه دى قرضه ادا نه كړي نو موږ به يې دده له رقبې يا گټې ځخه وصول كړو حال دا چې دده ازادې هم موهومه ده يقيني نه ده.

(۱۰)قوله وبموت سيده اى وينحجر ايضا بموت سيده وجنونه الخ ،يعنى كه دعبدمأذون مالك مرشو يا مجنون شو يا مرتد شو (نعوذبالله) او دارالحرب ته ولاړ نو عبدمأذون محجور گرځي اگر غلام او دبنار خلكوته ددې علم نه وي ولى چې دمولى له طرف ځخه اذن او اجازت پر مولى باندې يو غيرلازم تصرف دى نو ددې دبقاء هم هغه حكم دى كوم چې ددې ابتداء دى ،نو لكه ځرنگه چې ابتداء اپه مولى كې دا اذن داهليت وجود ضروري دى همداشان بقاء هم دهغه وجود ضروري دى حال دا چې دمرگ او جنون په وجه سره په مولى كې اهليت اذن نيستې كيږي ،همداشان په مرتد كيدلو (نعوذبالله) او دارالحرب ته په تللو سره اهليت اذن ختميږي ولى چې داموت حكمى دى همدا وجه ده چې دده مال دده په وارثانو كې تقسيميږي.

(۱۱)قوله وبالاباق والاستيلاد اى وينحجر ايضا بالاباق والاستيلاد الخ ،يعنى كه عبدمأذون له مولى ځخه وتښتي نو هم دى محجور گرځي ولى چې په اذن سره دمولى حق ساقطيږي حال دا چې مولى له خپل سركش غلام ځخه دخپل

حق په ساقطولوراضي نه دی لهذا هغه دلالة محجور ګرځي او واذن په شان حجرهم دلالة ثابتيږي همداشان که دماذونه مينځې له خپل مولی څخه ماشوم پیداشي نودامحجور ه ګرځي ولی عادت دا دی چې دمينځې دماشوم له پیداکیدلو څخه وروسته مولی ددي له کورڅخه په وتلواوله خلګوسره په تعلقاتوساتلو راضي نه وي نوداعادت ددي دمحجوروالی دلیل دی اودلیل حجرهم دصریح حجرپه شان دی. قوله لاالتدبیر ای لاتحجرالامة الماذونة بالتدبیر، یعنی که مولی خپله مينځه مدبره کړه نودابالاجماع محجوره نه ګرځي ولی چې دمحجوروالی هیڅ دلیل نشته.

(۱۲) یعنی که مولی ماذونه مينځه ام ولده یامدبره جوړه کړه نوکه پردي دخلګو قرضې وي نومولی به ددي له قیمت څخه قرضخواهانوته تاوان ورکوي ولی چې ام ولده اومدبره خرڅول جائزنه ده نوده په ام ولده یامدبره جوړلوسره داسې محل تلف کړله کوم سره چې دقرضخواهانوحق متعلق وو په دي وجه به مولی ددي له قیمت څخه قرضخواهانوته تاوان ورکوي.

(۱۳) که پرعبدماذون باندي مولی حجرولګاوونوله حجرڅخه وروسته دده اقرارجائزدی په هغه مال کې کوم چې دده په قبضه کې دی مثلاً ده اقرارکړچې له ماسره چې کوم مال دی هغه دفلان کس امانت دی یامال فلان څخه غصب کړی دی یازماپرذمه دفلان قرض دی نودااقرارجائزدی داد امام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دی .دلیل دادی چې حقیقة اوبالفعل دغلام قبضه باقي ده اودحجرپه وجه سره چې حکماً دده قبضه باطليږي هغې لره شرط دادی چې مال مقبوض دده له ضرورت څخه زائداوفارغ وي حال داچې دده اقرارکول ددي خبري دلیل دی چې تراوسه دده ضرورت باقي دی لهذا دده قبضه معتبره ده نوپه دي کې اقرارهم صحیح دی .حال داچې دصاحبينوپه نزدله حجرڅخه وروسته دعبدماذون اقرارپه هغه مال کې چې دده په قبضه کې وي جائزنه دی .دصاحبينودلیل دادی چې داقرارصحیح والی که دمولی له طرف څخه داجازت په وجه سره وي نوهغه خودحجرپه وجه سره زائل شواوکه دغلام په مال دقبضې په وجه سره وینوحجرخودده قبضه علی المال هم باطله کړه ولی چې دمحجورقبضه شرعاً غیرمعتبره ده لهذا دصحت اقرارهیڅ وجه نشته.

**فائده**: دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لماقال ابراهیم بن محمدالحلبي: واقراره بعدالحجربدین اوبان مافي يده امانة لغيره اوغصب منه صحيح فيقضي ممافي يده لامن رقبته لانهاليست من كسبه بل من كسب مولاه هذاعندالامام خلافالهما فانهماقالالايصح اقراره وهوالقياس لان المصحح هوالاذن وقدزال وبه قالت الائمة الثلاثة وجه الاستحسان ان المصحح هواليدوهي باقية حقيقة وبطلان اليدحكمابالحجرفراغ مافي يده من الاكتساب عن حاجته واقراره دليل على تحققها (مجمع الانهر: ۷۰/۴)

(۱۴) ولايملک سيده مافي يده لواحاط دَينه بمالِه ورقبته (۱۵) فبطل تحريره عبدًامن کسبه (۱۶) وان لم يحط صح (۱۷) ولم يصح بيعه من سيده الابمثل القيمة (۱۸) وان باع سيده منه بمثل القيمة اواقل صح (ويبطل الثمن لوسلم قبل قبضه وله حبس المبيع بالثمن (۱۹) وصح اعتاقه وضمن قيمته لغرمائه (۲۰) وطولب بمابقي لغرمائه بعد عتقه

**ترجمه**: اومالک نه دی دده مالک دهغه مال کوم چې دده په لاس کې دی که محیط وودده قرض دده پرمال اودده پررقبې .نوباطل دی دمولی ازادول هغه غلام لره کوم چې دعبدماذون له ګټې څخه وي .اوکه قرض محیط نه وینوصحیح دی .اوصحیح نه دی خرڅول دعبدماذون پرخپل مولی باندي مګرپه قیمت مثل سره

اوکه خرڅ کړ: عبد ماذون مولی پر ده باندي په قیمت مثل یاله دي څخه پر کم نوصحیح دی اوباطلیږي ثمن که یې وسپاری مبیع له قبضي څخه وړاندي اوده لره جائزده مبیع منع کول دثمن په وجه سره ،اوصحیح دی دعبد ماذون ازادول اوضامن ګرځي دده دقیمت دده قرضخواهانولره ،اومطالبه به کیږي دمابقی دده له ازادي څخه وروسته.

**تشریح** :(۱۴)پرعبدمأذون که دومره اندازه قرض واجب شو چې دده پرمال اورقبې دواړو محیط شونوپه دې صورت کې چې کوم مال له ده سره وي داامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدمولی دهغه مالک نه دی ولی چې له دې سره دقرضخواهانو حق متعلق شوی دی اومولی دخپل مأذون غلام دهغه مال مالک ګرځي کوم مال چې دمأذون له حاجت څخه زائدوي حال داچې مذکوره مال خودمأذون له حاجت څخه زائدنه دی لهذامولی به ددي مالک نه وي.

(۱۵)نوکه په مذکوره بالاصورت کې مولی دعبدمأذون دغلامانوازادول وغواړي نوهغه نه ازادیږي ولی چې اعتاق له غیرمالک څخه صادریږي ،حال داچې دصاحبینوپه نزدپه داسې صورت کې مولی دهغه مال مالک ګرځي کوم چې دعبدمأذون په لاس کې دی نوکه مولی دده دغلامانوازادول وغواړي نوازادیږي.

**فائده**:دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدرالمختار:احاط دینه بماله ورقبته لم یملک سیده مامعه فلم یعتق عبدمن کسبه بتحریرمولاه وقالایملکه فیعتق وعلیه قیمته موسرا اولومعسرا فلهم ان یضمنوا العبدالمعتق ثم یرجع علی المولی،وقال العلامة ابن عابدین :(قوله وقالایملکه)لانه وجدسبب الملک فی کسبه وهوملک رقبته ولهذایملک اعتاقه ووطء الماذونة وله ان ملک المولی انمایثبت خلافة عن العبدعندفراغه من حاجته والمحیط به الدین مشغول بهافلایخلفه فیه (الدرالمختارمع الشامیة:۵/۱۱۷)

(۱۶)هوکه دومره قرض نه ووچې دده ټول قیمت اودده په قبضه کې پرموجومال محیط وي بلکه کم وي نوپه دې صورت کې بالاتفاق دمولی په ازادولوسره هغه غلام ازادیږي ولی چې معمولی قرض خوپه هرحال پرمأذون راځي نوکه دادمولی ملک لره مانع وګرځول شي نومولی لره به دمأذون له ګټې څخه دانتفاع ټول باب بندشي نودغلام له مأذون ګرځولوڅخه چې کوم مقصوددی په هغه مقصودکې خلل راځي.

(۱۷)که عبدمأذون مقروض پرخپل مولی باندي کوم شئ په قیمت مثل یاترقیمت مثل په زیات قیمت سره خرڅ کړي نوداجائزدی ولی چې په دې کې تهمت نشته اوکه یې په لږنقصان سره خرڅ کړي نودابیع جائزه نه ده ولی چې دمأذون له مال سره دقرضخواهانوحق متعلق شوی دی نوپرخپل مولی په کم قیمت سره په خرڅولو کې دتهمت امکان دی چې قرضخواهانوته دنقصان رسولولپاره دې دمالک اومملوک په منځ کې خفیه (پټه) معاهده شوې وي.

**فائده**:لیکن مذکوره بالادجوازحکم به په هغه صورت کې وي چې پرغلام قرض باندې وي ولی چې دقرض په شکل کې دده مولی داجنبی کس په شان وي اودغلام دنه مقروض والی په صورت کې دمولی اوغلام په منځ کې اخیستل اوخرڅول صحیح نه دي ولی چې په دې صورت کې دټولومالک مولی دی.

(۱۸)که مولی په خپل مأذون اومقروض غلام باندي کوم شئ په مثل قیمت یاکم قیمت سره خرڅ کړي نوداجائزدی ولی کله چې غلام مقروض دی نومولی دده له ګټې څخه اجنبی دی اوپه دې بیع کې تهمت هم

نشته او د قرض خواهانو نفع ده لهذا له جواز څخه هيڅ شئ مانع نه دی .بيا كه مولى پر ثمنو له قبضې كولو څخه وړاندې مبيع عبد مأذون ته تسليم كړاو ثمن دين وي عين نه وي نو هغه ثمن باطليږي (يعنى مولى دهغه مطالبه نشي كولى )ولى چې په دې صورت كې ثمن د مولى لپاره د غلام پر ذمه قرض دې حال دا چې مولى لره داحق نشته چې د غلام پر ذمه ثمن واجب كړي ،كله چې ثمن باطل شو نو گويا مولى پرده بلاقيمته خرڅ كړ.هو كه مولى مبيع له ځان سره وساتي تر څو چې ثمن وصول كړي نو دا جائز ده ولى چې بائع لره د مبيع له ځان سره د ساتلو حق شته .

(۱۹)كه مولى خپل مأذون مقروض غلام ازاد كړ نو دا جائز ده ولى چې تراوسه د مولى ملک باقي دى لهذا د خپل ملک په موجب مولى په ده كې تصرف كولى شي البته مولى به د ده قرضخواهانو ته د ده د قيمت په اندازه ضامن وي ولى چې د قرض خواهانو حق د ده له رقبې سره متعلق شوى دى مولى په ازادولو سره د هغوئ حق تلف كړ.

(۲۰)او كه مولى د ده قيمت قرض خواهانو ته وركړ مگر د هغوئ دين اداء نه شو يعنى قيمت له قرض څخه لږ و نو د باقي دين مطالبه به قرض خواهان د ده له ازاديدلو څخه وروسته كوي ولى چې مولى خو بقدر قيمت د قرض خواهانو حق تلف كړى دى او باقي دين د غلام پر ذمه پاتې دى لهذا د هغه مطالبه به له ده څخه كيږي .

(۲۱)فإن باعه سيده وغيبه المشتري ضمن الغرماء البائع قيمته (۲۲)وإن رد عليه بعيب رجع بقيمته وحق الغرماء في العبد (۲۳)أو مشتريه (۲۴)أو اجازوا البيع وأخذوا الثمن (۲۵)وإن باعه سيده وأعلم بالدين فللغرماء رد البيع (۲۶)وإن غاب البائع فالمشتري ليس بخصم لهم

**ترجمه** :او كه خرڅ كړ عبد مأذون د ده مولى او غائب كړ دى مشترى نو ضمان به اخلي قرض خواه له بائع څخه د ده د قيمت بيا كه هغه بيرته پر ده رد كړاى شو د عيب په وجه سره نو بيرته به اخلي د ده قيمت او د قرض خواهانو حق په غلام كې وي .يا دې له مشترى څخه واخلي ،يا دې جائز كړي بيع او ثمن دې واخلي .او كه خرڅ كړ مولى او بيان يې كړ مشترى لره قرض نو قرضخواهان حق لري د بيع د ردولو .او كه غائب شو بائع نو مشترى خصم ته دى د قرضخواهانو .

**تشريح** :(۲۱)كه مولى خپل مأذون غلام خرڅ كړ حال دا چې پر هغه دومره قرض دى كوم چې د ده پر رقبه محيط دى او مشتري پر ده قبضه وكړه او غائب يې كړ نو قرضخواهان اختيار لري كه يې خوښه شوه نو له بائع يعنى مولى څخه دې د هغه د قيمت په قدر تاوان واخلي ولى چې د دوئ حق له دې غلام سره متعلق شوى وو نو له بائع څخه په دې وجه د تاوان د اخيستلو اختيار دى چې ده غلام خرڅ كړ او مشترى ته يې تسليم كړ چې په هغه سره د قرضخواهانو حق تلف شو .

(۲۲)بيا كه قرضخواهانو له بائع يعنى مولى څخه د هغه د قيمت په اندازه تاوان واخيستى بيا د كوم عيب په وجه سره د غلام خپل مولى ته رد كړاى شو نو مولى لره دا اختيار شته چې دا غلام وركړي او خپل قيمت بيرته واخلي او اوس به د قرضخواهانو حق په دې غلام كې وي ولى چې د تاوان اخيستلو سبب (يعنى د غلام خرڅول او تسليمول )زائل شو .

(۲۳)قوله او مشتریه دا جمله معطوفه ده د مصنف رحمه الله پر دې قول البائع باندې .تقدیر د عبارت دا دی ضمن الغرماء البائع ان شاء وان شاء واضمن المشتری .یعنی د قرضخواهانو خوښه ده که له بائع څخه تاوان اخلي او که له مشتري څخه تاوان اخلي او له مشتری څخه د تاوان اخیستلو اختیار په دې وجه شته چې مشتری د دوئ په حق قبضه کړې ده او هغه یې غائب کړی دی.

(۲۴)او قرضخواهانو لره دا اختیار هم شته چې که یې خوښه وي نو د بیع په اجازه ورکولو سره دې له بائع څخه د هغه ثمن وصول کړي ولی چې د غلام په رقبه کې حق د دوئ دی نو په هغه کې هرقسم اختیار دی او اجازه لاحقه د اجازه سابقه په شان ده یعنی له بیع څخه وروسته د دوئ اجازه داسې ده لکه له بیع څخه وړاندې چې دوئ اجازه ورکړې وي .خلاصه دا ده چې قرضخواهان درې قسمه اختیار لري .که یې خوښه وي نو له مولی څخه دې د غلام د قیمت په قدر تاوان واخلي او که یې خوښه وي نو له مشتري څخه دې تاوان واخلي او که یې خوښه وي نو بیع دې نافذه کړي او له بائع څخه دې ثمن وصول کړي لمامر.

(۲۶)که مولی دا مأذون مدیون په کوم کس باندې خرڅ کړ او هغه یې په قرض خبر کړ یعنی مشتري ته یې وویل چې دا غلام مقروض دی بیا هم هغه واخیستی نو قرضخواهانو لره اختیار دی چې بیع رد کړي ولی چې له دې غلام سره د دوئ حق متعلق شوی دی او د دوئ حق دا دی چې په غلام کاروکړي او ګټه ترلاسه کړي یا دده له رقبې څخه خپل قرض وصول کړي او په له دې دواړو څخه په هریوه کې فائده ده په غلام په ګټه ترلاسه کولو کې دا فائده ده چې پوره قرضه حاصلیږي اګر که په تاخیر سره وي او له رقبې څخه په وصولولو کې دا فائده ده چې فی الحال وصولیږي لیکن شاید چې کمه وي او د مولی غلام پر مشتري په خرڅولو کې د قرضخواهانو دا حق ختمیږي په دې وجه دوئ ته اختیار ورکړل شوی دی چې که یې خوښه وي نو دا بیع دې رد کړي.

(۲۶)او که بائع غلام خرڅ کړ او په ثمن له قبضې کولو څخه وروسته غائب شو نو مشتري د قرضخواهانو خصم نه دی یعنی که مشتری د دوئ له قرض څخه انکار وکړي نو دوئ لره دا اختیار نشته چې مشتری مدعی علیه جوړ کړي ولی چې دا دعوی فسخ عقد ته متضمنه ده حال دا چې عقد بائع او مشتری کړی دی نو دې فسخ کول په پرغائب بائع باندې حکم وي حال دا چې پر غائب باندې حکم جائز نه دی.

(۲۷)ومن قدم مصرا وقال انا عبد زید فاشتری وباع لزمه کل شيء من التجارة.(۲۸)ولا یباع حتی یحضر سیده فإن حضر واقر باذنه بیع والا فلا (۲۹)وإن أذن للصبي او المعتوه الذي یعقل البیع والشراء ولیه فهو في الشراء والبیع کالعبد المأذون له

**ترجمه**:او کوم کس چې راغی کوم ښارته او وې ویل چې زه د زید غلام یم بیا ده اخیستل او خرڅول وکړل نو لازمیږي پر ده هرشئ د تجارت .او خرڅیږي به نه ترڅو ته چې حاضرشي د ده مالک نو که هغه راغی او اقراریې وکړ ده ته د اجازت ورکولو نو خرڅیږي به که نو نه .او که اجازت ورکړ نابالغ او معتوه ته کوم چې پوهیږي په اخیستلو او خرڅولو د ده ولی نو هغه په اخیستلو او خرڅولو کې د عبد مأذون په شان دی.

**تشریح**:(۲۷)که کوم کس کوم ښارته راغی او وې ویل چې مثلا زه د زید غلام یم بیا ده اخیستل او خرڅول وکړل نو کوم شئ چې د تجارت له قسم څخه وي هغه پر ده استحسانا لازمیږي ولی چې که ده خپل مأذون والی

بيان كړنو استحسانابه دده تصديق كيږي په دي وجه چې خلګ له داسې كس سره بلاشرط معاملات كوي او دمسلمانانو په كوم عمل باندي جمع كيدل حجة دی دكوم په وجه سره چې قياس پرينبودل كيږي .
اوكه دده داخبره ونه كړه چې زمامولی زه مأذون كړی يم نو بيا هم دده تصرف جائزدی ولی چې ظاهره داده چې داغلام مأذون دی ولی چې دغلام عقل اودين ده لره له دي څخه مانع دی چې له خپلو اختياراتو څخه په تجاوزكولو سره دحرامو ارتكاب وكړي لهذا همدا به فهميږي چې دی دخپل مولی له طرف څخه مأذون دی په دي وجه كوم شئ چې دتجارت له قسم څخه وي هغه پرده لازميږي .
(۲۸)ليكن كه پرده قرض لازم شو اوده له كسب څخه نه شو اداء كيدای نودی به په قرض كې نه خرڅيږي ترڅوچې دده مولی حاضرنه شي ولی چې دخپلې رقبې په باره كې دده قول قابل قبول نه دی په دي وجه چې هغه خالص دمولی حق دی په خلاف دده دكسب چې هغه خپله دغلام حق دی ،بياكه مولی حاضرشواووي ويل چې داواقعی مأذون دی نواوس به دی په قرض كې خرڅيږي ولی چې اوس داقرض دمولی په حق كې هم ظاهرشواوكوم قرض چې دمولی په حق كې ښكاره شي په هغه كې غلام خرڅيږي اوكه مولی وويل چې دامأذون نه دی محجوردی نونه به خرڅيږي اودده په محجوروالی كې دمولی قول قبول اومعتبردی ،هوكه قرضخواهانوپه ګواهانوسره دده مأذون والی ثابت كړنوبيابه خرڅيږي لان الثابت كالثابت عيانا .
(۲۹)كه دنابالغ اومعتوه (كم فهمه )ولی نابالغ اومعتوه ته دتجارت اجازه وركړه نوهغه په اخيستلو اوخرڅولو كې دعبدمأذون په شان كيږي يعنی ددوئ تصرف نافذيږي په دي شرط چې په اخيستلو او خرڅولو پوهيږي (په اخيستلو اوخرڅولو له پوهيدو څخه مراددادی چې په دي پوهيږي چې په خرڅولوسره يوشئ له لاسه وځي اوقيمت لاس ته راځي اوپه اخيستلوسره قيمت له لاسه وځي اوشئ راځي )وجه يې داده چې دمأذون نابالغ اومعتوه له طرف څخه اخيستل اوخرڅول داسې مشروع تصرف دی كوم چې په شرعي ولايت سره له داسې كس څخه صادرشوی دی كوم ته چې ددي كارلياقت (ورتيا)حاصل دی اوپه محل صالح كې صادرشوی دی ولی چې مبيع مال متقوم دی لهذاددوئ تصرف لازميږي .

## كتاب الغصب

### داكتاب دغصب په بيان كې دی

غصب لغة ديوشي په زوراخيستلوته ويل كيږي كه هغه شی مال وي اوكه غيرمال وي اوشرعا اخذمال متقوم محترم بلااذن مالكه بلاخفية (يعنی په غيرخفي ډول سره دچاقيمتی اومحترم مال بغيردمالك له اجازت څخه اخيستلوته شرعا غصب ويل كيږي )،مذكورمال ته مغصوب اومال وړونكی ته غاصب اوصاحب مال ته مغصوب منه ويل كيږي.
دكتاب الغصب له كتاب الماذون سره مناسبت دادی چې په دواړوكې تصرف په اذن سره نافذيږي يعنی لكه څرنګه چې دعبدمأذون تصرف دمولی په اذن سره نافذيږي همداشان دغاصب تصرف هم دمالك په اذن سره

نافذیږي ،هودومره فرق شته چې دمأذون تصرف په اذن سابق سره نافذیږي اودغاصب تصرف په اذن لاحق اومؤخرسره نافذیږي په دي وجه یې په ترتیب کې هم کتاب الغصب له کتاب المأوذن څخه مؤخرکړ.

دغصب حرمت په کتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ سره ثابت دی قال الله تعالی ﴿لاتأکلوا اموالکم بینکم بالباطل﴾ وقال تعالی ﴿ان الذین یاکلون اموال الیتامی ظلما انما یاکلون فی بطونهم نارا﴾ وقال ﷺ ﴿حرمة مال المسلم کحرمة دمه ومن غصب شبرا من ارض طوقه الله یوم القیامة من سبع أرضین﴾.

دغصب حکم دادی چې که غاصب په دي خبروي چې دامال دغیردی نوګناه ګاریږي اومغصوب که موجودوي نودهغه ردول اوکه هلاک شوی وي نودهغه تاوان ورکول پرغاصب لازم دی ،اوکه غاصب ته دغصب پروخت دامعلوم نه وي چې دادغیرمال دی نوبیادی نه ګناهګاریږي هواخیرني دوه حکمونه اوس هم شته.

(۱)هو ازالة الید المحقة باثبات الید المبطلة (۲)فالاستخدام والحمل علی الدابة غصب لا الجلوس علی البساط (۳)ویجب رد عینه فی مکان غصبه او مثله ان هلک ,وهو مثلي (۴)وان انصرم المثلي فقیمته یوم الخصومة (۵)وما لامثل له فقیمته یوم غصبه)(۶)فان ادعی هلاکه حبسه الحاکم حتی یعلم أنه لو بقي لأظهره ثم قضی علیه ببدله

**ترجمه**:هغه زائلول دي دحق قبضې په باطله قبضه ثابتولو سره ،نوخدمت اخیستل اوپرسورلی باندي بارباروول غصب دی نه کښېنستل پرفرش باندي ،اوواجب دی واپس کول بعینه دهغه شئ دغصب په ځای کې یادهغه مثل که هغه هلاک شوی وواوهغه مثلي وو ،اوکه ختم شودهغه مثل نودهغه قیمت دخصومت دورځې والا ،اودکوم چې مثل نه وي نودهغه قیمت واجب دی دغصب دورځې والا ،اوکه یې دعوی وکړه دهغه دهلاکیدونوبندي به کړي دی حاکم ترڅوچې معلومه شي چې که هغه باقي وای نوده به ښکاره کړی وای بیادي فیصله وکړي پرده دهغه دبدل.

**تشریح**:(۱)مصنف صاحب رحمه الله دغصب اصطلاحي تعریف په دي ډول کړی دی چې دحقدارقبضه ختمول اوناحقه قبضه کولوته شرعاغصب ویل کیږي په دي شرط چې مغصوب شئ منقولي اومال متقوم اومحترم وي نه که مغصوب شئ منقولي نه وي لکه ځمکه،یاغیرمتقوم وي لکه شراب ،یاغیرمحترم وي لکه دحربي مال ،نوغاصب ضامن نه دی.

(۲)نودبل چایه غلام په زورخدمت کول غصب دی همداشان دچاآس وغیره اخیستل اوپه هغه بارباروول غصب دی ولې چې غاصب دغیرپرمال ناحقه قبضه کړي ده له کومې سره چې دمالک دقبضې زوال لازمي دی نودغصب تعریف پردي صادق دی په دي وجه دي ته غصب ویل صحیح دی ،اوکه کوم کس پرخپل فرش باندي ناست وي کوم بل کس ورغی اوله ده سره پرفرش کښېنستی نودااناسته په غصب کې شامله نه ده ولې چې پرفرش کښېنستل به فرش کې تصرف نه دی لهذاپه دي صورت کې دمالک تصرف اوقبضه ختمه شوي نه ده.

(۳)که غاصب کوم شئ غصب کړنوکه مغصوب شئ بعینه دغاصب په لاس کې موجودوي نوله کوم ځای څخه چې یې غصب کړی دی په هغه ځای کې هغه شئ مغصوب منه ته واپس کول واجب دي لقوله ﷺ «لایحل

لاحد کم ان یاخذ مال اخیه لاعبا ولا جاداً، وان اخذه فلیرده علیه ۽ ،همدارنګه غاصب دمغصوب منه مقصودي قبضه ختمه کړې ده لهذا له مغصوب منه څخه ددفع ضرر لپاره دغاصب قبضه منسوخ کوم ضروري ده ،اوکه بعینه مغصوب شئ دهلاکت په وجه سره موجودنه وو اومغصوب مثلي شئ (کیلي یاوزني یادعددي غیرمتفاوت )وي نوبیاددي مثل اوبدل واپس کول واجب دی لقوله تعالی ﴿فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ﴾ (څوک چې پرتاسې زیاتوب وکړي تاسې پرهغه زیاتوب وکړي همدومره څومره چې هغه کړی دی).

(۴) اوکه مغصوب مثلي شئ وو مګرله دنیاڅخه دهغه شئ وجود ختم شو نوبیا پرغاصب دمغصوب شئ قیمت ورکول واجب دی .بیاد امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دخصومت دورځې قیمت ورکول لازم دی ولې چې اصل واجب خو دمغصوب شئ مثل دی البته له مثل څخه دعجزپه وجه سره دوجوب قیمت طرف ته انتقال وشولیکن له مثل څخه دقیمت طرف ته انتقال صرف دانقطاع مثل په وجه سره نه کیږي بلکه دقاضي په قضاء سره کیږي په دي وجه دخصومت دورځې قیمت ورکول لازم دی .دامام ابویوسف رحمه الله په نزد دغصب دورځې قیمت ورکول لازم دی ،اودامام محمد رحمه الله په نزد دهغه ورځې قیمت واجب دی په کومه ورځ چې دمغصوب منه مثل له بازار څخه منقطع شوی دی .

**فائده**:په دي مسئله کې دترجیح اقوال مختلف دي لیکن څرنګه چې اکثرو مشائخو دامام محمد رحمه الله په قول فتوی ورکړي ده په دي وجه همدا راجح اومفتی به دی لمافی الشامیة :(قوله ورجحا)ای قول ابی یوسف وقول محمد وکان الاولی ان یقول ایضاای کمارجح قول الامام ضمنالمشی المتون علیه وصریحاقال القهستانی وهو الاصح کمافی الخزانة وهو الصحیح کمافی التحفة وعندابی یوسف یوم الغصب وهو اعدل الاقوال کماقال المصنف وهو المختار علی ماقال صاحب النهایة وعندمحمد یوم الانقطاع وعلیه الفتوی کمافی ذخیرة الفتاوی وبه افتی کثیر من المشائخ (ردالمحتار:۴/۱۲۸)،وقال الشیخ عبدالحکیم الشهید:ان التصحیح مختلف لکن الراجح من الاقوال ترجیح قولهمالانه المختار للفتوی قول محمد وبه یفتی (هامش الهدایة:۳/۳۷۰)

(۵) اوکه مغصوب شئ مثلي نه وي مثلاعددی متفاوت وي یاغلام وي کوم څاروی وي نوبیاپرغاصب باندي دغصب دورځې قیمت واجب دی ولې چې اصل خو دادی چې مثل کامل (کوم چې صورة ومعنی مثل وي )اداء کړای شي لیکن دمغصوب شئ دمثلي نه کیدلوپه وجه سره څرنګه چې دمثل کامل اداء کول متعذردی لهذا په مثل معنوی یعنی قیمت به اکتفاء کیږي ولې چې قیمت هم دشئ قائم مقام وي .

(۶) که غاصب دعوی وکړه چې مغصوب شئ له ماڅخه هلاک شوی دی نوصرف دغاصب په ویناسره ،چې له ماهلاک شوی دی ،به حاکم دده تصدیق نه کوي بلکه دمبالغه ی ایصال الحق الی المستحق لپاره به حاکم دی بندي کړي ترڅو چې دحاکم غالب ګمان شي چې که شئ دغاصب په لاس کې پاتی وای نو هغه به خامخابنکاره کړی وای اوس چې کله غاصب مغصوب نه ښکاره کوي نو داعلامه ده چې مغصوب شئ له غاصب څخه هلاک شوي دی لهذا اوس به حاکم دمغصوب دبدل یعنی مثل یاقیمت دورکولو فیصله وکړي ولې چې ردِّعین متعذر دی .

**الغاز**: ای مودع یضمن بلاتعد؟

**فقل**: هو مودع الغاصب اذاهلک عنده المغصوب فللمالک ان یضمنه .(الاشباه والنظائر)

(٧) وَالغَصبُ فِيمَا يُنقَلُ (٨) فَإِن غَصَبَ عَقَارًا وَهَلَكَ فِي يَدِهِ لَم يَضمَنهُ (٩) وَمَا نَقَصَ بِسُكنَاهُ وَزِرَاعَتِهِ ضَمِنَ النُّقصَانَ كَمَا فِي النَّقلِيِّ (١٠) وَإِن استَغَلَّهُ تَصَدَّقَ بِالغَلَّةِ كَمَا لَو تَصَرَّفَ فِي المَغصُوبِ الوَدِيعَةِ وَرَبِحَ (١١) وَمِلكٌ بِلَا حِلِّ انتِفَاعٍ قَبلَ أَدَاءِ الضَّمَانِ بِشَيٍّ وَطَبخٍ وَطَحنٍ وَزَرعٍ وَاتِّخَاذِ سَيفٍ وَإِنَاءٍ (١٢) غَيرِ الحَجَرَينِ (١٣) وَبِنَاءٍ عَلَى سَاجَةٍ

**ترجمه**: او غصب په هغه کې وي کوم چې منقول وي، نو که چا ځمکه غصب کړه او هغه ضائع شوه دده په لاس کې نو هغه به دهغې ضامن نه وي، او کوم نقصان چې پیدا شي دده په اوسیدو لو سره یا په کرلو سره نو ضامن دی د نقصان لکه په منقولي شیانو کې، او که یې له ځمکې څخه غله (حاصلات) حاصل کړل نو صدقه به کړي دا غله لکه چې که ده تصرف وکړ په مغصوب او ودیعت کې او نفع یې حاصله کړه، او مالک ګرځي دا انتفاع له حلال والي څخه بغیر د ضمان له اداء کولو څخه وړاندي، په کبابولو او پخولو او اوړه کولو او کرلو او توره جوړلو سره، او له سرو زرو او سپینو زرو څخه په علاوه کې په لوښي جوړولو سره، د ساګون په لرګي په عمارت جوړولو سره د سال په لرګي سره.

**تشریح**: (٧) د شیخینو په نزد غصب صرف په منقولي شیانو کې متحقق کیږي په غیر منقوله کې غصب نشته ولی چې دید (قبضه) مالک ازاله هغه وخت وي کله چې منقولی شی په منتقل کولو سره په خپله قبضه کې راوستل شي حال دا چې په عقار (غیر منقوله شیانو) کې نقل او تحویل ممکن نه دی.

(٨) نو که چا عقار (غیر منقولي شیان مثلاً ځمکه یا مکان وغیره) غصب کړ یا هغه په کوم اسماني افت سره هلاک شو مثلاً د سیلاب په غلبه سره ځمکه ډوبه شوه نو د شیخینو په نزد پر غاصب ضمان نشته ولی چې غصب په معنی د ازالة يد المالک عن المملوک (د مالک قبضه له مملوک څخه زائلول) متحقق نه دی په دې وجه چې ځمکه پر خپل محل بلا نقله قراره ده غاصب صرف مالک له ځمکې څخه لیري ساتلی دی نو دا فعل په مالک کې تصرف دی په عقار کې نه دی دا داسې ده لکه چې مالک له خپلو څارویو څخه لیري وساتل شي، د امام محمد رحمه الله په نزد غاصب عقار ضامن دی ولی چې د غاصب د بل پر ځمکه په قبضه کولو سره لامحاله د مالک قبضه زائلیږي نو د قبضه محقه ازاله او د قبضه مبطله ثبوت موجود شو او همدا غصب دی لهذا غاصب ضامن دی.

**فائده**: په مفتی به قول کې په دې دول څه تفصیل دی چې که مغصوبه ځمکه د وقف ځمکه وه نو د امام محمد رحمه الله قول مفتی به دی او که د وقف ځمکه نه وه نو د شیخینو قول مفتی به دی لما في الدر المنتقى: فلو غصب عقاراً فهلک في يده لا يضمن خلافاً لمحمد وبقوله قالت الائمة الثلاثة، وبه يفتي في الوقف، وبقولهما في غير الوقف وعقار اليتيم كالوقف كما في المنح وغيرها (الدر المنتقى: ٣/٨١)

(٩) په غصب شوي ځمکه کې چې د غاصب په فعل سره کوم نقصان راشي مثلاً د غاصب په اوسیدلو یا د ځمکې په کرلو سره نقصان راغی نو باتفاق ائمه ثلاثه غاصب د هغه ضامن دی ولی چې دا اتلاف دی او د اتلاف په وجه سره د ځمکې ضمان واجبیږي او د ضمان اتلاف لپاره دا شرط نه دی چې ځمکه د متلف په قبضه کې وي، لکه چې د منقولی شیانو حکم دی چې په اتلاف سره چې په دوئ کې څومره اندازه تغیر راشي هغه به غاصب اداء کوي.

(۱۰)که غاصب له مغصوب شئ څخه منفعت حاصل کړمثلامغصوب غلام ووغاصب هغه په مزدوري ولګاووچې په هغه سره غلام ته نقصان ورسیدواوغاصب دهغه ضمان اداکړنوغاصب دي دده مزدوري هم صدقه کړي لکه څرنګه چې څوک په عین مغصوب یاودیعت کې کوم تصرف وکړي مثلاهغه خرڅ کړي چې په هغه سره ده ته نفع حاصله شې نودنفع دصدقه کولوحکم دی ،دادطرفینومسلک دی ،امام ابویوسف رحمه الله فرمیې چې دمنفعت صدقه کول واجب نه دی ولې غاصب ته چې کومه نفع حاصله شوي ده هغه دده په ضمان کې حاصله شوي ده ولې چې غاصب دده ضامن دی اودده په ملک کې حاصله شوي ده ولې چې له ضمان اداء کولوڅخه وروسته مضمون مملکوک ګرځي اوملک دغصب وخت ته منسوب کیږي نوکله چې نفع دده په ملک کې حاصله شوي ده نودهغي صدقه کول واجب نه دي .دطرفینودلیل دادی چې نفع اګرکه دده په ملک کې حاصله شوي ده مګرڅرنګه چې دسبب خبیث (یعنی دغیرپه ملک کې په تصرف کولوسره )حاصله شوي ده اوقاعده ده چې کوم شئ دسبب خبیث په ذریعه سره حاصل وي دهغه صدقه کول واجب دی.

(۱۱)که مغصوبه شئ دغاصب په فعل سره داسې متغیرشي چې دهغه نوم اواکثرمقاصدزائل شي نوله هغه څخه دمغصوب منه ملک زائلیږي غاصب یې مالک ګرځي اومغصوب منه ته به تاوان ورکوي مثلامغصوب پسه ووغاصب ذبح کړاوکباب یې کړیایې پوخ کړ،یامغصوب غنم ووغاصب اوړه کړل یایې په ځمکه کې وکرل .یااوسپنه وه غاصب له هغې څخه توره جوړه کړه اویاپیتل ووغاصب له هغه څخه لوښی جوړکړنوپه دي ټولوصورتونوکې داحنافوپه نزدغاصب ددي مالک ګرځي ،مګرپه مذکوره ټولوصورتونوکې مغصوب منه ته له تاوان ورکولوڅخه وړاندي غاصب لره له مغصوب شئ څخه فائده اخیستل استحساناحلال نه دي ولې چې دبدل له اداء کولوڅخه وړاندي په اباحت انتفاع کې دغصب دروازه خلاصیږي لهذامالک دبدل په اداء کولوسره له راضی کولووړاندي له مغصوب شئ څخه انتفاع حرامه ده.

(۱۲)البته که غاصب سپین یاسره زرغصب کړل اوله هغوڅخه یې درهم یادیناریالوښی جوړکړنودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددمغصوب منه ملک له دي څخه نه زائلیږي لهذامغصوب منه به همدادرهم وغیره اخلي اوغاصب لره به هیڅ نه وني ولې چې عین مال من کل الوجوه باقی دی ولې چې اوس دي ته ذهب اوفضه ویل کیږي اواوس هم داموزوني دي اواوس هم په دي کې رباجاري کیږي ،دغاصب په فعل سره په دي کې جودت پیداشوی دی کوم چې په اموال ربویه کې متقوم نه دی ،مګرصاحبین فرمایې چې غاصب ددي مالک ګرځي اوپرده دمغصوب مثل واجبیږي .

**فائده**:دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدرالمنتقی :وان جعل الفضة اوالذهب دراهم اودنانیراوآنية لايملكه وهولمالكه بلاشئ عليه وله عنده وعندهمايملكه الغاصب وعليه مثله لاجل انه صنعة متقومة قلنالم يزل الاسلم ولامعظم المنافع والصنعة غيرمتقومة في مال الربا(الدرالمنتقی:۴/۸۶)

(۱۳)قوله وبناء على ساجة اى يملك الغاصب بلاحل انتفاع قبل اداء الضمان بناء الغاصب على ساجة ،یعنی که چادساګون لرګی غصب کړاوپرهغه یې عمارت جوړکړنوپه دي سره دمالک ملک زائلیږي اوپرغاصب ددي قیمت

لازمېږي ولې چې اوس دابل شئ جوړشواوپه عين مغصوب ردولوكې دغاصب داسې ضرردى په كوم كې چې مغصوب منه ته هيڅ فائده نه رسيږي حال داچې دمغصوب منه دضررجبيره په ضمان سره كيږي.

(۱۴) ولو ذبح شاة أو خرق ثوبا فاحشا ضمن القيمة وسلم المغصوب إليه أو ضمن النقصان (۱۵) وفي الخرق اليسير ضمن نقصانه (۱۶) ولو غرس أو بنى في أرض الغير قلعا وردت (۱۷) وإن نقصت الأرض بالقلع ضمن له البناء والغرس مقلوعا ويكونان له (۱۸) وإن صبغ أو لت السويق بسمن ضمنه قيمة ثوب أبيض، ومثل السويق أو أخذهما وغرم ما زاد الصبغ والسمن

**ترجمه**: اوكه غاصب ذبح كړه پسه ياپې څيري كړه جامه ډيره نوضامن دى دقيمت او مغصوب شئ دې وركړي ده ته يادې دنقصان ضمان واخلي، اوپه لږڅيرولوكې دې ضمان واخلي دنقصان. اوكه يې درختې ولګولې ياپې عمارت جوړكړدبل پرځمكه كې نوپه كښلوسره به ځمكه واپس كوي. اوكه نقصان شو ځمكه به په كښلوسره نومالک ضامن دى دكښل شوى عمارت اودرختې دقيمت اوعمارت اودرختې به دمالک دي. اوكه يې جامه ورنګوله ياپې ستوپه غوړوكې ګډكړل نومالک به تاوان اخلي دسپينې جامې او دمثل ستو دقيمت يادې جامه اوستو واخلي اووردې كړي هغه چې زياتوب راغلى په رنګ سره اوپه غوړوسره.

**تشريح**: (۱۴) كه چاديوكس پسه ياكوم بل ماكول اللحم څاروى دمالک له اجازت څخه بغيرذبح كړياپې دچاجامه ډيرڅيري كړه په كوم سره چې دجامې اكثرمنافع ختمې شوي نومالک لره اختيار دى كه يې خوښه وي نوله ده څخه دې دپسه اوجامې قيمت واخلي اومذبوح پسه اوڅيري شوي جامه دې ده ته وركړي اوكه يې خوښه وي نودنقصان په اندازه تاوان دې واخلي اوپسه اوجامه دې له ځان سره وساتي ولې چې دا من وجه اتلاف دى په دې وجه چې دباروړلو، شيدې اونسل وغيره په شان مقاصدفوت شول اوځنې منافع څرنګه چې اوس هم پاتې دي چې پوخ يې كړي اوويې خوري. همداشان جامه ده چې عين جامه اوځينې منافع هم پاتې دي لهذا مالک لره دواړه اختياره شته.

(۱۵) اوكه چادبل چاجامه لږڅيري كړه نوڅرنګه چې عين مال په هرقسم سره قائم دى صرف په هغه كې يوعيب پيداشولهذا هغه به دعيب په اندازه دنقصان ضامن وي اوجامه به دمالک په ملک كې پاتې وي.

(۱۶) كه غاصب ځمكه غصب كړه اوپه هغه كې درختې شنې كړي ياپې عمارت جوړكړنوغاصب ته به وويل شي چې له ځمكې څخه درختې وكاږه اوعمارت ړنګ كړه اوخالي ځمكه مالک ته واپس كړه ولې چې ځمكه حقيقةً نه غصب كيږي نودمالک ملک اوس هم پاتې دى غاصب ځمكه مشغوله كړې ده لهذا غاصب ته به ويل كيږي چې ځمكه فارغه كړه.

(۱۷) كه دغاصب د درختوپه كښلواوعمارت په ړنګولوسره ځمكې ته نقصان رسيدونومالک ته اختيار دى چې دى غاصب ته دكښل شويودرختواوړنګ شوي عمارت قيمت وركړي نوعمارت اودرختې به له ځمكې سره دمالک ملک شي اوداپه دې وجه چې په دې كې ددواړورعايت دى اوله دواړوڅخه دفع ضرردى.

(۱۸) كه غاصب دبل چاجامه غصب كړه اورنګ يې وركړياپې ستوغصب كړاوپه غوړوكې يې ګډكړل نومالک لره اختيار دى كه يې خوښه وي نوله غاصب څخه دې دسپينې جامې قيمت اودخپل ستومثل واخلي اوغصب شوي جامه اوستودې غاصب ته وركړي اوكه يې خوښه وي نوغصب شوي جامه اوستودې

واخلي اوكوم رنګ اوغوړي چې غاصب زيات كړي دي دهغه دي غاصب ته توضیح وركړي ولي چې په دي كې دجانبينو رعايت دى .

## فصل

### دافصل له غصب سره متعلق دمتفرقو مسائلو په بيان كې دى

دمصنفينو عادت دادى چې په سابقه ابوابو كې چې كومې مسائلې له بيان څخه پاتې كيږي هغه د فصل في المتفرقات ،ياباب المتفرقات ترعنوان لاندي بيانوي ،دلته هم زمونږمصنف رحمه الله له غصب سره متعلق همداسې څو مسائلې بيان كړي ددي .

(١)لو غيّب المغصوب وضمن قيمته ملكه (٢) والقول في القيمة للغاصب مع يمينه والبينة للمالك (٣) فإن ظهر وقيمته أكثر، وقد ضمنه بقول المالك أو ببينته أو بنكول الغاصب فهو للغاصب، ولا خيار للمالك (٣) وإن ضمنه بيمين الغاصب فالمالك يمضي الضمان أو يأخذ المغصوب ويرد العوض

**ترجمه** :كه غاصب غائب كړ مغصوب شئ اوضمان يې وركړ دهغه دقيمت نوهغه يې مالک ګرځي ،اوپه قول قيمت كې دغاصب قول معتبردى دهغه له قسم سره اوبينه دمالک معتبرده ،بياكه هغه ښكاره شواوقيمت يې زيات وواوده دهغه ضمان وركړى وي دمالک دقول يابينه ياپه خپله دغاصب دانكارپه وجه سره نوهغه شئ دغاصب دى اواختيارنشته مالک ته ،اوكه ده دهغه ضمان وركړى وي په خپله دغاصب پرقسم نومالک دي همداضمان برقرار وساتي يادي واخلي مغصوب شئ اوواپس دي كړي عوض .

**تشريح** :(١)كه غاصب كوم شئ غصب كړاوغائب يې كړاومالک ته يې دهغه شئ قيمت وركړنوغاصب ددي مغصوب شئ مالک ګرځي ولي چې مالک (مغصوب منه )خودشئ مغصوب دبدل (يعني قيمت )بكماله مالک شوى دى اومبدل (يعني شئ مغصوب )له ملک څخه دبل ملک طرف ته دمنتقل والي صلاحيت لري لهذامبدل اوس دمغصوب منه له ملک څخه په منتقل كيدلوسره دغاصب ملک ته راځي ترڅوبدلان دشخص واحد (مغصوب منه )په ملک سره جمع نه شي .

(٢)بياكه دمالک اوغاصب په منځ كې دمغصوب شئ دقيمت په باره كې اختلاف واقع شو(مالک ډيرقيمت يادوي اوغاصب لږ)اوله دواړوسره بينه نه وي نوقول به دغاصب مع اليمين معتبروي ولي چې مالک دزيادت مدعى دى اوغاصب له دزيادت څخه انكاركوي اوبينه دنه وجودپه وخت كې قول دمنكرمع اليمين معتبروي .ليكن كه مالک اوغاصب دواړوپرخپله مدعى باندي ګواه پيښ كړل نودمالک ګواه معتبردي دغاصب ګواه به معتبرنه وي ولي چې غاصب دزيادت پرنفى باندي بينه قائموي اوحال داچې پرنفى بينه معتبره نه ده .

(٣)بياكه شئ مغصوب كوم وخت له غاصب سره ښكاره شواوده قيمت له هغه مقدارڅخه زيات ثابت شوكوم چې غاصب دتاوان په ډول سره مالک ته وركړى وواوهغه تاوان هم غاصب دمالک دقول مطابق يادمالک دګواه مطابق ياپه خپله دغاصب دانكاردقسم په وجه سره وركړى وونوپه دي دريواړه

صورتونو کې شئ مغصوب دغاصب ملک ګرځي مالک ته دقیمت دواپس کولو او دشئ مغصوب داخیستلو اختیار نشته په دې وجه چې مالک دهمدې مقدار مدعی وو او پرهمدې راضي شوی وو.

(۴)لیکن که صورت داسې پېښ شوی وو چې غاصب دخپل قول مطابق په قسم اخیستلو سره تاوان اداء کړی وو نو اوس مالک لره اختیار دی که یې خوښه وي نو شئ مغصوب دې واخلي او دغاصب له طرفه ورکړل شوی قیمت دې واپس کړي او که یې خوښه وي نو همدا قیمت دې برقرار وساتي او شئ مغصوب دې غاصب ته وربېږدي دا اختیار په دې وجه دی چې په دې مقدار سره دمالک رضا پوره نه وه ولی چې دی دزیادت مدعی وو مګر دعدم حجة په وجه سره یې کم اخیستی وو.

(د)وإن باع المغصوب فضمنه المالك نفذ بيعه, وإن حرره ثم ضمنه لا (٦) وزوائد المغصوب أمانة (٧) فتضمن بالتعدي أو بالمنع بعد طلب المالك (٨) وما نقصت الجارية بالولادة مضمون ويجبر بولدها (٩) ولو زنى بمغصوبة فردت فماتت بالولادة ضمن قيمتها, ولا تضمن الحرة

**ترجمه** :او که غاصب خرڅ کړ مغصوب شئ بیا تاوان واخیستی له ده څخه مالک نو نافذېږي دده بیع او که یې ازاد کړ بیا مالک له ده څخه تاوان واخیستی نو ازادي صحیح نه ده. دمغصوب زیادت امانت دی. نو ضامن کیږي په تعدی کولو یا په منع کولو باندې دمالک له غوښتنې څخه وروسته ،او کوم نقصان چې پیدا شو په مینځه کې دولادت په وجه سره هغه مضمون دی او پوره کیږي به ددې دماشوم په ذریعه. او که یې زنا وکړه له مغصوبې سره بیا هغه رد کړای شوه او هغه مړه شوه دولادت په وجه سره نو ضامن دی دهغې دقیمت او ضامن نه دی دازادې ښځې.

**تشریح** :(۵)که چا دبل چا غلام غصب کړ او خرڅ یې کړ بیا مالک له ده څخه تاوان واخیستی نو دغاصب بیع نافذېږي او که یې هغه ازاد کړ بیا مالک تاوان واخیستی نو دغاصب ازادي نه نافذېږي وجه ده فرق دا ده چې دغاصب ملک ناقص وي ولی چې ثابت بالضرورة دی لهذا هغه دخرڅولو په حق کې خو معتبر وي مګر دازادې په حق کې معتبر نه وي همدا وجه ده چې مکاتب په خپله ګټه کې اخیستل او خرڅول کولی شي مګر دخپلې ګټې غلام نه شي ازادولی.

(۶)که مغصوبه شئ په کومه ذریعه له غاصب سره زیات شي مثلاً دمغصوبه مینځې .پسه یا کوم بل څاروي بچی پیدا شي یا په مغصوب باغ کې میوه پیدا شي دا ټول له غاصب سره امانت دي نو که دا شئ له غاصب سره هلاک شي نو پر غاصب یې تاوان نه لازمیږي ولی چې غصب خو دبل پر مال په دې ډول قبضه کولو ته ویل کیږي په کومې سره چې دمالک قبضه زائله شي کما مر حال دا چې په مذکوره بالا شیانو باندې خو دمالک قبضه بالکل راغلې نه وه لهذا دا شیان مغصوب نه دي بلکه په ید غاصب کې امانت دي.

(۷)لیکن که په دې شیانو کې دغاصب له طرف څخه تعدی متحققه شوه مثلاً غاصب هلاک کړل یا یې وخوړل یا یې خرڅ کړل او یا مالک طلب کړل مګر غاصب ورنه کړل نو په دې دووصورتونو کې که دا شیان هلاک شول نو غاصب ضامن دی ولی چې دمنع او تعدی په وجه سره غاصب ددې شیانو هم غاصب شمارل کیږي.

(۸)که غاصب دچا مینځه غصب کړه او دهغې له مولی او زوج څخه ماسوا له بل چا څخه ماشوم وزیږید نو دولادت په وجه سره چې دمینځې په قیمت کې کوم نقصان راشي دهغه به غاصب ضامن وي مګر دمینځې

دانقصان به په ماشوم پوره کيږي په دي ډول سره څومره نقصان چې دمينځې په قيمت کې راغلى دى که ددي ماشوم دهمدومره قيمت وي نوبيرغاصب څه ضمان نه شته اوکه ماشوم دکم قيمت وي نودده قيمت په اندازه به له غاصب څخه ضمان ساقطيږي ولې چې دلته دزيادت اونقصان دواړو سبب (يعنى ولادت ياقرارنطفه) متحددى لهذاولادت نقصان نه شمارل کيږي په دي وجه موجب ضمان هم نه دى لکه چې چاغه مينځه غصب کړي اوهغه ډنګره شي .له دي وروسته بيرته چاغه شي نودنقصان دپوره کيدلوپه وجه سره ضامن نه دى.

(۹)که چادبل چامينځه غصب کړه اوله هغې سره يې زناوکړه چې په دي سره داحامله شوه بياده مالک ته واپس کړه له مالک سره دادولادت په دوران کې دولادت په وجه سره مړه شوه نوغاصب به ددي دهغه قيمت ضامن وي کوم چې دحامله کيدلوپه ورځ وو ولې چې غاصب په داسې حال کې غصب کړه چې په مينځه داسبب تلف موجودنه وواوپه داسې حال کې يې واپس کړه چې دتلف سبب موجوددى نوپرکوم طرزچې ده غصب کړي وه پرهغه طرزيې واپس نه کړه لهذاغاصب ضامن دى ،اوکه چادمينځې په شان ازاده ښځه ونيوله اوزنايې ورسره وکړه اووروسته دماشوم دزيږيدلوپه سبب سره هغه ښځه مړه شوه نوزناکونکى به په دي باره کې هيڅ تاوان نه اداء کوي ولې چې غصب په اموالوکې وي اوتاوان هم په اموالوکې وي اوازاده ښځه مال نه ده چې ددي پرنيونکى تاوان لازم شي هودزناسزاورکول بله خبره ده .

(۱۰) ومنافع الغصب وخمر المسلم وخنزيره بالاتلاف (۱۱) وضمن لو كانا للذمي (۱۲) وان غصب خمرا من مسلم فخلل أو جلد ميتة فدبغ فللمالك اخذهما ورد مازاد الدباغ (۱۳) وان اتلفهما ضمن الخل فقط (۱۴) ومن كسر معزفا او اراق سكرا او منصفا ضمن وصح بيع هذه الاشياء (۱۵) ومن غصب ام ولد او مدبرة فماتت ضمن قيمة المدبرة لا ام الولد

**ترجمه** :او(ضامن نه دى )دمغصوب شئ دمنافعو ،دمسلمان دشرابواودده دخنزيرپه تلف کولوسره .اوضامن دى که دذمي وو .اوکه يې غصب کړل له مسلمان څخه شراب بيايې له هغو څخه سرکه جوړه کړه يايې غصب کړدمرادري پوست (چمړه )بيايې هغه ته دباغت ورکړنومالک لره جائزدى چې دادواړه واخلي اوواپس کړي کوم قيمت چې زيات شوى دى په دباغت سره ،اوکه غاصب دادواړه تلف کړل نوضامن دى صرف دسرکې ،اوکوم کس چې مات کړي دغزلوآلې ياتوى کړي سکر(دمستى شربت )يامنصف نوضامن دى اوصحيح ده بيع ددي شيانو .اوچاچې غصب کړه ام ولده يامدبره مينځه اوهغه مړه شوه نوضامن دى دمدبري دقيمت نه دام ولدي دقيمت .

**تشريح** :(۱۰)قوله ومنافع الغصب اى لايضمن منافع الغصب .يعنى غاصب دمغصوب شئ دمنافعوضامن نه دى مثلا:يوچايې داسې غلام غصب کړکوم چې نانوايې ووتريوي مياشتې پوري يې له ځان سره معطل وساتويې په خدمت مصروف کړبيايې واپس کړنوغاصب دده ددي يوي مياشتې دمنافعوضامن نه دى ولې چې د منافع دغاصب په ملکيت پيداشوي دي اوانسان په خپل ملکيت کې دپيداشوى شئ ضامن نه وي وکه کوم مسلمان ياذمي دمسلمان شراب ياخنزيرتلف کړنوضامن نه دى ولې چې خمراوخنزيردمسلمان په حق کې مال نه دي په خپله دى مامورباالاتلاف دى .البته که دغاصب په استعمالولوسره په مغصوب شئ کې نقصان راغلى نوغاصب به هغه ضامن دى ولې چې ده دعين مغصوب خينې اجزاء ضائع کړي دي .

(۱۱)قوله و خمر المسلم الخ ای لایضمن خمر المسلم الخ ،یعنی که غاصب د مسلمان شراب یا خنزیر تلف کړ نو غاصب ضامن نه دی ولی چې شراب او خنزیر د مسلمان په حق کې مال متقوم نه دي ،او که مسلمان د کوم ذمي شراب یا د ده خنزیر تلف کړنو مسلمان دهغه ضامن دی ولی چې خمر او خنزیر د ذمي په حق کې مال دي نو خمر او خنزیر د ذمیانو په حق کې داسې دي لکه زموږ په حق کې سرکه او پسه .نو لکه څرنګه چې غاصب د مسلمان د سرکې او پسه په غصب کولو او بیا تلف کولو سره ضامن کیږي همداشان به د ذمي د شرابو او خنزیر په تلف کولو سره هم ضامن وي .

(۱۲)که چا د کوم مسلمان شراب غصب کړل او له هغو څخه یې سرکه جوړه کړه یعنی له سایې څخه یې په ګرمې کې او له ګرمې څخه یې په سایه کې په ایښودلو سره سرکه جوړه کړه یا یې د مردار پوستکی له مسلمان څخه غصب کړ بیا یې هغه ته دباغت ورکړ نو د دي دواړو شیانو اخیستل مالک ته جائز دي که مالک سرکه اخیستله نو غاصب ته له څه ورکولو بغیر یې اخیستلی شي او که د پوستکی د اخیستلو صورت وو نو په دباغت سره چې د پوستکی څومره په قیمت کې څومره زیادت راغلی دی هغه به غاصب ته واپس کوي.وجه د فرق دا ده چې شراب سرکه جوړول هغو لره پاکول دي لکه نجسه جامه پرېمنځل نو په سرکه جوړولو سره مالیت ثابت نه شو او د اصل مالک پر ملک باندې باقي پاتې شوه په دې وجه به له څه ورکولو بغیر اخلي په خلاف د دباغت مذکوره چې دهغه په وجه سره په پوستکی کې د غاصب یو قیمتي مال ګډ شو (په دې شرط چې دباغت یې په کوم قیمتي شئ سره کړی وي )په دې وجه به دومره مقدار واپس کوي څومره چې په دباغت سره زیات شوی دی.

(۱۳)او که دا دواړه غاصب تلف کړل نو د امام صاحب په نزد غاصب صرف د سرکې ضامن دی یعنی د هغې قیمت به ورکوي ولی چې سرکه مال متقوم دی او د مالک پر ملک پاتې ده لهذا دهغې په تلف کولو سره غاصب ضامن دی ،غاصب د پوستکی ضامن نه دی ولی چې د مردار پوستکی مال متقوم نه دی البته د غاصب په فعل سره په هغه کې تقوم پیدا شوی دی یعنی غاصب په هغه کې د خپل قیمتي مال په استعمالولو سره هغه متقوم جوړ کړی دی لهذا د تقوم تر حده پوستکی د غاصب د مال او فعل تابع دی او د غاصب مال او فعل مضمون نه دي یعنی په تلف کولو سره پر غاصب ضمان نه راځي نو د هغه تابع یعنی پوستکی به هم مضمون نه وي ،حال دا چې د صاحبینو په نزد غاصب د مدبوغ پوستکی د قیمت هم ضامن دی ولی چې هغه هم د مالک پر ملک پاتې دی.

(۱۴)که چا بل د غزلو آلات (مثلا ستار یا سارنګی وغیره )مات کړل یا یې د چهوارون شراب یا منصف شراب (منصف هغه شرابو ته ویل کیږي کوم چې دومره پاخه کړای شي چې نیمایې پاتې شي )توی کړل نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد به دی تاوان ورکوي او د دې شیانو بیع جائز ده ،د صاحبینو او عامو علماؤ په نزد دی ضامن نه دی او د دې شیانو بیع جائز نه ده ولی چې دا شیان د معصیت لپاره وي ماتونکی د دې په ماتولو سره د امر بالمعروف حق اداء کړی دی ﴿لقوله ﷺ من رای منکم منکرا فلیغیر بیده فان لم یستطع فبلسانه فان لم یستطع فبقلبه وذالک اضعف الایمان ﴾د امام صاحب دلیل دا دی چې له دې شیانو څخه په جائزه طریقه سره فائده اخیستل کیدای شي

لهذا في نفسه دا شيان قيمتي شيان دي اګر که په غلط استعمال سره له دوئ څخه ناجائزه فايده اخيستل کيږي او په غلط استعمال سره دشئ ماليت نه باطليږي لهذا ماتونکی ضامن دی.

**فائده:** دصاحبينو قول راجح دی لمافي الدرالمختار: وقالالايضمن ولايصح بيعها وعليه الفتوى ملتقى ودرروزيلعي وغيره واقره المصنف، وقال العلامة ابن عابدين: (قوله وقال الخ) هذاالاختلاف في الضمان دون اباحة اتلاف المعازف وفي مايصلح لعمل اخروالالم يضمن شيأاتفاقا وفيمااذافعل بلااذن الامام والالم يضمن اتفاقا وفي غيرعودالمغني وخابية الخمار والالم يضمن اتفاقالانه لولم يكسرهاعادلفعله القبيح وفيمااذاكان لمسلم فلولذمي ضمن اتفاقاقيمته بالغامابلغ وكذالوكسرصليبه لانه مال متقوم في حقه قلت لكن جزم القهستاني وابن الكمال ان الذمي كالمسلم فليحرر (الدرالمختارمع الشامية: ۵/۱۴۹)، وقال العلامة الحصكفي: وقالالايضمن اصلاولايجوزبيعهاوعليه الفتوى لكثرة فسادالزمان كمافي الكافي والمنح والدرر والغرروغيرها، وكذاالقهستاني والبرجندي وابن الملك وغيرهم بزيادة ان هذاالاختلاف في الضمان دون اباحة اتلاف المعازف الخ (الدرالمنتقى: ۳/۹۷)

(۱۵) که چادبل چا ام ولده مينځه يامدبره مينځه غصب کړه بيا هغه دغاصب په لاس کې مړه شوه نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دمدبري دقيمت ضامن دی او دام ولدي دقيمت ضامن نه دی. دصاحبينو په نزد دواړو دقيمت ضامن دی ولی چې مدبره خو بالاتفاق مال متقوم دی په دي وجه به ددي تاوان ورکوي او ام ولده دصاحبينو په نزد دمدبري په شان متقومه ده په دي وجه به ددي تاوان هم ورکوي. حال دا چې دامام صاحب په نزد ام ولده متقومه نه ده په دي وجه ددي تاوان نشته.

**فائده:** دصاحبينو قول راجح دی لماقال ابراهيم ابن محمدالحلبي: ولوغصب ام ولدفماتت في يده فلاضمان عليه عندالامام لعدم تقومهاعنده خلافالهمافان عندهمايضمن قيمتهالتقومهاعندهما، وبقولهماقالت الائمة الثلاثة (مجمع الانهر: ۳/۹۸). وقال الشيخ عبدالحكيم الشهيد: الراجح قولهماوهوقول الائمة الثلاثة وعليه الفتوى كذاصرح به في المبسوط للام شمس الائمة السرخسي وابن الهمام في فتح القدير (هامش الهداية: ۳/۳۸۶)

## كِتَابُ الشُّفْعَةِ

### داكتاب دشفعې په بيان کې دی

شفعه له شفع څخه مأخوذه لغة ديوځای کولو په معنی ده دوتر (واحد) ضد ده، او فيمانحن فيه کې هم ځکه چې شفيع مأخوذ (يعنی مشفوعه ځمکه) له خپل ملک سره يوځای کوي په دي وجه سره دي ته شفعه ويل کيږي.

شفعه شرعاتملک العقارجبراعلی المشتری بماقال عليه، يعنی داخيستل شوي ځمکې جبراً په هغه قيمت سره مالک کيدل په کوم قيمت چې مشتري ته لويدلي ده مثلاً چاخپل کور پرکوم اجنبی باندي خرڅ کړ بيا دبائع دکورخنګ ته همسايه دشفعه دعوی وکړه چې ددي کور حقدارزه يم نودهمسايه دشفعه دعوی به قبليږي او له مشتري څخه به داکور همسايه ته په مثل ثمن سره وراخيستل کيږي.

شفيع هغه کس دی کوم ته چې حق شفعه حاصل دی مشفوع هغه ځمکه ده له کومې سره چې حق شفعه تعلق نيولی وي او مشفوع به دشفيع هغه ملک دی دکوم په وجه سره چې ده ته حق شفعه حاصل دی.

دکتاب شفعه له کتاب الغصب سره مناسبت دادی چې په غصب اوشفعه دواړوکې دغيردمال مالک والی بغيرله رضامندي دهغه څخه متحقق کيږي بياغصب اګرکه غيرمشروع عمل دی مګردغصب داحکامو دکثرت په وجه سره دده دمعرفت ضرورت ډيروو په دي وجه يې دغصب احکام مقدم ذکرکړل .

(۱)هي تملک البقعة جبراً على المشتري بما قام عليه (۲) وتجب للخليط في نفس المبيع ثم للخليط في حق المبيع كالشرب والطريق إن كان خاصاً ثم للجار الملاصق (۳) وواضع الجذوع على الحائط جار والشريك في خشبة على الحائط (۴) على عدد الرءوس (۵) بالبيع وتستقر بالإشهاد (۶) وتملک بالأخذ بالتراضي أو قضاء القاضي

**ترجمه** :هغه مالک کيدل دي دځمکې پرمشتري باندي په جبرکولوسره په دومره باندي په څومره چې مشتري ته لويدلي ده،اوثابتيږي شريک في نفس المبيع ته بياشريک في حق المبيع ته لکه شرب اولاره که داخاص وو بياهمسايه ته کوم چې متصل وي ،اوپرديوال لرګې ايښودونکی اوکوم چې شريک وي پرديوال په ايښودل شوي لرګې کې همسايه دي ،دشفيعانو دشمار مطابق ،په بيع کيدلو سره اومستحکم کرځي په ګواه ييښودلو سره ،اوپه ملک کې راځي ځمکه په رضاسره يادقاضي په قضاء سره .

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله دشفعه اصطلاحی تعريف په دي ډول کړی دی چې دځمکې کومه حصه چې مشتري ته په کوم قيمت لويدلي ده هغه قيمت مشتري ته په جبراورکولوسره دهغې مالکيدلوته شفعه ويل کيږي .تملک ،بمنزله جنس دی کوم چې تملک عين اوتملک منافع دواړوته شامل دی ،اوبقعة ،فصل اول دی له تملک منافع څخه احترازوشواوجبراًفصل ثانی دی له بيع څخه احترازوشوولی چې بيع جبراًنه وي بلکه بالتراضی وي .

(۲)په کومه ځمکه کې حق شفعه ترټولو دمخه هغه کس ته واجبيږي (له وجوب څخه مرادثبوت دی ولی چې دحق شفعه په پريښودلوسره څوک ګناهګارېږي نه په دي وجه چې شفعه شفيع لره واجب ده پرشفيع واجب نه ده) کوم چې په نفس مبيع کې شريک وي ولی چې دنبی کريم ﷺ ارشادمبارک دی چې چاچې ځمکه دخپل شريک له اجازت څخه بغيرخرڅه کړه نودده شريک دهغې ډيرحقداردی ،که له بائع سره په نفس مبيع کې څوک شريک نه وو ياشريک خووومګرهغه دشفعي دعوی ونه کړه نوبياهغه کس ته ثابتيږي کوم چې په حق مبيع کې شريک وي لکه چې څوک دځمکې په اوبواولاره کې شريک وي مثلادواړوته له يوه ځاه څخه اوبه راځي يادداوړولاره يوه وي ،بياکه په حق مبيع کې هم شريک نه وو ياهغه هم دشفعې دعوه ونه کړه نوبياهغه همسايه ته حق شفعه ثابتيږي چې له مشفوعه ځمکې سره دده ځمکه متصله وي ولی چې دنبی کريم ﷺ ارشادمبارک دی ﴿الشريک احق من الخليط والخليط احق من الشفيع﴾ (په نفس مبيع کې شريک په حقوق مبيع کې له شريک څخه ډيرحقداردی اوپه حقوق مبيع کې شريک له همسايه څخه ډيرحقداردی ).

**فائده**:که يوکس صرف شريک فی المبيع دی اوبل کس شريک فی المبيع هم دی اوشريک فی الحقوق هم دی نودادواړه برابردي لان الاعتبارلقوة الدليل لالكثرته (احسن الفتاوی :۷/۳۵۸)

**فائده**:که په کوم ځای کې ځمکه خرڅه شي يوکس دشريک فی الشرب کيدلوپه وجه سره دشفعه دعوی وکړي اودوهم دشريک فی الطريق کيدلوپه وجه سره دشفعه دعوی وکړي نوشريک فی الشرب مقدم دی له

شریک فی الطریق څخه لمافی الشامیة :ولوشارکه احدفی الشرب وآخرفی الطریق فصاحب الشرب اولی قال فی الدرالمنتقی (۵/۱۵۵)

(۳)دکورپردیوال باندي لرګي اېښودونکی اودکورپردیوال باندي په اېښودل شوي لرګي کې شریک کس شریک فی الدارنه شمارل کیږي لهذاهغه دشرکت په وجه سره شفیع نه دی هوهمسایه شمارل کیږي لهذاداسې کس دجوارپه وجه سره شفیع دی ولی چې شرکت هغه دی کوم چې په ځمکې شریک وي اوپه لرګیانواېښودلوسره په ځمکې کې شریک نه ګرځي نوکه کوم کس په همدي کورکې شریک وي یاپه لاره کې شریک وي نوهغه دلرګیانوپه اېښودونکی باندي مقدم دی.

(۴)قوله علی عددالرؤس ای تجب الشفعة علی عددالرؤس ،یعنی که په کومه مشفوعه ځمکه کې څودمساوي درجې لرونکي شفیع ګان جمع شي نومشفوعه ځمکه به ددوئ په منځ کې ددوئ دعددرؤس په مطابق تقسیمیږي یعنی څومره شفیع ګان چې دي ځمکه به په هغومره حصووېشل کیږي ولی چې سبب استحقاق یعنی اتصال ملک په ټولوکې سره برابردی، لهذااختلاف املاکواعتباربه نه کیږي مثلایوکورددریوکسانوپه منځ کې مشترک دی په کوم کې چې نصف دیوه اوثلث ددوهم اوسدس ددریم دی ،اوس صرف صاحب نصف خپله حصه خرڅه کړه نوباقی شرکاء که شفعه غواړي نوهریوبه دخرڅې شوي حصې دنصف مستحق وي دمقدارملک یعنی مابه الشفعة اعتباربه نه کیږي ،حال داچې دامام شافعی رحمه الله په نزددهریوه دسهامو په مقداربه حق شفعه وي نوپه مذکوره بالاصورت کې به صاحب ثلث ددوو ثلثانومستحق وي اوصاحب سدس به دیوه ثلث مستحق وي.

(۵)قوله بالبیع ای تجب الشفعة بالبیع ،یعنی دحق شفعه ثبوت له عقدبیع څخه وروسته کیږي ولی چې عقدبیع دشفعه لپاره شرط دی اوشرط پرمشروط مقدم وي ،اوپه دي کې استحکام هغه وخت پیداکیږي کله چې شفیع ته دبیع دعلم په راتلوسره سمدستی هغه دشفعي طلب وکړي اوپرخپله دعوی شفعه باندي ګواه قائم کړي مثلاخلکوته ووایې چې تاسې ګواه اوسئ چې ماپه دي مکان کې شفعه طلب کړي دي وجه داده چې شفعه کمزوری حق دی کوم چې اعراض سره باطلیږي نودشفعي طلب اوپرهغه ګواه جوړول ضروري دی ترڅوچې دامعلوم شي چې شفیع لره په خپل دي حق کې رغبت شته له دي څخه معرض نه دی.

(۶)شفیع دمشفوعه ځمکې هغه وخت مالک جوړیږي کله چې مشتری په خوښی سره مشفوعه ځمکه شفیع ته وسپاري یاقاضی دشفیع په حق کې په فیصله کولوسره مشفوعه ځمکه شفیع ته حواله کړي ولی چې دمشتری ملک تام شوی دی په دي وجه اوس مشفوعه ځمکه دشفیع طرف ته نه منتقل کیږي مګردمشتری په رضاسره یادقاضی په قضاء سره.

## باب طلب الشفعة والخصومة فیها

داباب دشفعي دطلب کولواوپه دي کې دخصومت کولوپه بیان کې دی

څرنګه چې شفعه له طلب اوخصومت څخه بغیرنه ثابتیږي په دي وجه مصنف رحمه الله شفعه اودطلب کیفیت په دي باب کې بیان کړی دی.

(۱) فإن عَلِمَ الشَّفيعُ بالبيعِ أشهدَ في مَجلِسِه على الطَّلَبِ ثُمَّ على البائعِ لو في يَده (۲) ثُمَّ لا تَسقُطُ بالتَّأخير (۳) فإن طلب عند القاضي سأل المُدَّعى عليه فإن أقرَّ بِمِلكِ ما يَشفَعُ به (۴) أو نَكَلَ أو بَرهنَ الشَّفيعُ سأله عن الشِّراء فإن أقرَّ به أو نَكَلَ أو بَرهنَ الشَّفيعُ قضى بها

**ترجمه**: كه علم حاصل شي شفيع لره د بيع نو گواه دي جوړ كړي په خپل همدي مجلس كې پر طلب شفعه باندي بيا پر بائع باندي كه دده په قبضه كې وي يا پر مشترى باندي يا له ځمكې سره، بيا شفعه نه ساقطيږي په تاخير سره، نو كه يې طلب كړه د قاضى په مخكې نو سوال دي وكړي قاضى له مدعى عليه څخه نو كه هغه اقرار وكړ د دي ځمكې د ملک د كومې په وجه سره هغه شفعه طلب كوي، يا يې انكار وكړ يا شفيع بينه پيش كړه نو سوال دي وكړي له ده څخه د خرڅولو په متعلق نو كه ده اقرار وكړ د دي يا يې انكار وكړ يا بينه پيش كړه شفيع نو حكم دي وكړي قاضي پر دي.

**تشريح**: (۱) په شفعه كې شفيع لره دري قسمه طلب (غوښتنه) ضروري ده يو دا چې كله شفيع په دي خبر شي چې زما شريک يا همسايه خپل مكان خرڅ كړى دى نو دى دي اول كار دا وكړي چې په همدي مجلس كې دي پر طلب شفعه باندي گواه جوړ كړي (مراد فوراً شفعه طلب كول دي گواه جوړول ضروري نه دي) دي ته طلب مواثبت ويل كيږي. دوهم طلب دادى چې له اول طلب څخه وروسته كه ځمكه تر اوسه د مالک په لاس كې وي نو پر مالک دي گواه قائم كړي يا دي پر مشتري گواه قائم كړي يا دي له ځمكې سره گواه قائم كړي دي ته طلب تقرير او طلب اشهاد ويل كيږي د دي صورت دادى چې شفيع گواهانو ته ووايي چې فلانكى كس دا مكان اخيستى دى ما ته حق شفعه حاصل دى او ما په مجلس علم كې شفعه طلب كړي ده او س يې هم طلبوم تاسې پر دي گواه اوسئ، دريم طلب دادى چې له دوهم طلب څخه وروسته دي قاضى ته ورشي حق شفعه دي طلب كړي دي ته طلب خصومت، طلب تمليک، او طلب استحقاق ويل كيږي، د دي صورت دادى چې شفيع قاضى ته ووايي چې فلانكى كس په فلانكى ښار كې كور اخيستى دى د كوم چې حدود دادي او زه په فلانكى سبب سره د دي شفيع يم لهذا ته حكم ورته وكړه چې دى دا كور ما ته وسپاري، مصنف رحمه الله په، اشهد فى مجلسه على الطلب سره د اول قسم طرف ته اشاره فرمايلې ده، او په، ثم على البائع الخ، سره يې د دوهم قسم طرف ته اشاره كړي ده او په، فان طلب عند القاضى، سره يې د دريم قسم طرف ته اشاره كړي ده.

(۲) څرنگه چې له طلب ثانى څخه وروسته په شفعه كې ټينگښت پيدا كيږي لهذا له دي څخه وروسته كه يې طلب ثالث مؤخر كړ نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد حق شفعه نه ساقطيږي ولى كوم حق چې له ثبوت او استقرار څخه وروسته تر خو چې ساقط نه كړاى شي په خپله نه ساقطيږي وعليه الفتوى. د امام محمد رحمه الله په نزد كه يې په طلب ثالث كې تر يوي مياشتې پوري بلاعذره تأخير (ځنډ) وكړ نو شفعه ساقطيږي ولى چې د زيات تأخير په صورت كې د مشترى ضرر دى په دي وجه چې هغه به د شفعې د دعوى له ويري څخه په دي كې تصرف نه شي كولى.

**فائده**: د امام محمد رحمه الله قول راجح دى لما فى الدر المختار: وقيل يفتى بقول محمد ان اخره شهرا بلاعذر بطلت كذا فى الملتقى يعنى دفعا للضرر قلنا دفعه برفعه للقاضى ليامره بالاخذ او الترک، قال العلامة ابن عابدين: (قوله قلنا الخ) اى فى الجواب عن ذالک وظاهر كلام الشارح ان يميل الى ظاهر الرواية كالمصنف وهو خلاف ظاهر كلامه فى شرحه على الملتقى والجواب عنه ان ليس كل احد يقدر على المرافعة

وقد لايخطر بباله ان دفع الضرر بذالك خصوصا بعدما اذاهي اوغرس فان الضرر اشد ولشاهدت غيرمرة من جاهيلهم بعد عد سبب لقصد اللاضرار وطمعا في غلاء السعر فلاجرم كان سد هذا الباب اسلم والله اعلم (الدر المختار مع الشامية: ۱۵۹/۵)

(۳) كله چې شفيع قاضي ته راشي او دعوى وكړي چې مثلاً زيد فلانكى كور اخيستى دى زه په فلانكى سبب سره دهغه شفيع يم په دي وجه زه طلب شفعه كوم نو قاضى به له مدعى عليه (يعني مشترى) څخه پوښتنه وكړي ددي ځمكې يامكان دملكيت په باره كې دكوم په وجه سره چې شفيع دشفعه مطالبه كوي چې ايا واقعى دادشفيع ملك دى ؟نوكه مشترى دشفيع دملكيت اقرار وكړنو په دي ځمكه يامكان باندي دشفيع ملكيت ثابتيږي ،اوكه مشترى اقرارونه كړنو بيابه ده ته په دي ډول قسم وركول كيږي چې والله زه نه يم خبرچې شفيع مالک دى دهغه دكوم چې دده دعوى كړي ده يعنى دهغې ځمكې يامكان دكوم په وجه سره دي دشفعه دعوى كوي .

(۴) اوكه مشترى له مذكوره بالا قسم څخه انكار وكړيا شفيع پرمذكوره بالادعوى باندي ګواه پيش كړل نو په دي دووصورتونوكې هم دكومې ځمكې يامكان په وجه سره چې شفيع دعوى كوي پرهغه دشفيع ملكيت ثابتيږي ،له دي څخه وروسته به قاضى له مدعى عليه (مشترى) څخه پوښتنه وكړي چې آيا واقعى تامذكوره مكان اخيستى دى؟كه هغه اقرار وكړي نو شفيع ته حق شفعه حاصليږي ،اوكه مشترى انكار وكړنو شفيع ته به وويل شي چې ګواه پيش كړه چې مشترى (زيد) واقعى داكور اخيستى دى ولې چې له ثبوت بيع څخه بغير شفعه نه ثابتيږي نوكه شفيع (دزيد) اخيستل په ګواهانو سره ثابت كړل نو هم شفيع ته حق شفعه حاصليږي ،اوكه شفيع هم له ګواه پيښولو څخه عاجز شونو له مشترى څخه به په دي ډول قسم واخيستل شي چې والله ما داكور نه دى اخيستى ياوالله شفيع پردي كور په دي ډول دشفعه مستحق نه دى په كوم ډول چې ده ذكر كړى دى .ليكن كه مشترى له قسم اخيستلو څخه انكار وكړنو په دي صورت كې هم شفيع ته حق شفعه حاصليږي نو په دي دربووا ړو صورتونو كې به قاضى داحكم وكړي چې ددي مكان دا خيستلو حق دي شفيع ته حاصل دى لهذا فوراً (دستى) دي ده ته وركړل شي .

(۵) وَلَا يَلْزَمُ الشَّفِيعَ إِحْضَارُ الثَّمَنِ وَقْتَ الدَّعْوَى بَلْ بَعْدَ الْقَضَاءِ (۶) وَخَاصَمَ الْبَائِعَ لَوْ فِي يَدِهِ (۷) وَلَا يَسْمَعُ الْبَيِّنَةَ حَتَّى يَحْضُرَ الْمُشْتَرِي فَيَفْسَخَ الْبَيْعَ بِمَشْهَدِهِ وَالْعُهْدَةُ عَلَى الْبَائِعِ (۸) وَالْوَكِيلُ بِالشِّرَاءِ خَصْمٌ لِلشَّفِيعِ مَا لَمْ يُسَلِّمْ إِلَى الْمُوَكِّلِ (۹) وَلِلشَّفِيعِ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ وَالْعَيْبِ وَإِنْ شَرَطَ الْمُشْتَرِي الْبَرَاءَةَ مِنْهُ

**ترجمه** :اولازم نه ده پرشفيع باندي حاضرول دثمنو د دعوى پروخت بلكه دقاضى له حكم څخه وروسته. اومخاصمت دي وكړي له بائع سره كه مبيع دده په لاس كې وي ،اونه دي اوري قاضى بينه ترڅو چې حاضرشي مشترى نو فسخ دي كړي بيع دده په موجودوالى كې اوذمه واري پربائع ده ،اواخيستلو وكيل خصم دى دشفيع ترڅو چې دى ونه سپاري مبيع موكل ته ،اوشفيع لره خيار رؤيت اوخيار عيب شته اګركه شرط لګولى وي مشترى له عيب څخه د برات .

**تشريح** :(۵) شفيع لره په شفعه كې خصومت اومنازعت جائز دى اګركه دقاضى مجلس ته دمشفوعه ځمكې ثمن (روپى) رانه وړي ولې چې دقاضى له قضاء څخه وړاندي پرشفيع ثمن لازم نه دي لهذا دثمنو حاضرول هم

لازم نه دي ،بیاچې کله قاضي د شفیع په حق کې د مشفوعه ځمکې فیصله وکړي نو اوس پر شفیع باندي ثمن راوړل لازم دي همدا ظاهرروایت دی .

(۶)که شفیع بائع دقاضي په مجلس کې حاضرکړاومبیع تراوسه دبائع په لاس کې ده مشتری ته یې تسلیم کړي نه ده نوشفیع له بائع سره دشفعه په باره کې جنجال کولی شي په دې وجه چې قبضه دبائع ده لهذا دمالک په شان له بائع سره خصومت صحیح دی .

(۷)لیکن شفیع چې کومه بیّنه پربائع پیښوي قاضي به هغه نه اوري ترڅوچې مشتری هم حاضرنه وي ولې چې پرمبیع قبضه دبائع ده اودمبیع مالک مشتری دی لهذاددوئ دواړووجودضروري دی اوددوئ په موجودوالی کې به قاضي بیع فسخ کوي ،اودمبیع له تسلیمولوڅخه وړاندي عهده یعنې ذمه واري پربائع ده یعنې که دمبیع کوم مستحق ښکاره شونوشفیع لره به دثمنوضامن بائع وي ولې چې دعقدحقوق له عاقدسره متعلق وي.

(۸)یعنې داخیستلووکیل دشفیع خصم دی ترڅوچې هغه مبیع موکل ته ونه سپاري مثلاچادبل چاڅپاره کوروراخیستی نوپه شفعه کې به خصم (مدعی علیه )وکیل یعنې خریداروي ولې چې خصومت دعقدله حقوقوڅخه دی او د عقدحقوق له عاقدسره متعلق وي اوعاقددلته اخیستونکی یعنې وکیل دی لهذاشفیع به اخیستونکی یعنې وکیل ته دثمن په حواله کولوسره کوراخلې .هوکه اخستونکی کورخپل موکل ته حواله کړنوبیابه مدعی علیه موکل وي ولې چې دمبیع موکل ته له سپارولوڅخه وروسته داخیستونکی قبضه باقي نه پاتې کیږي اونه اخستونکی ددې مالک دی .

(۹)شفیع دا مشفوعه دخیارعیب یاخیاررؤیت په وجه سره واپس کولی شي ولې چې دشفعي دحق په سبب سره دکوروړل دخرید(اخیستلو)په منزله کې دی نولکه څرنګه چې داخیستلوپه صورت کې مشتری لره خیارشته همداشان به دشفعه دحق په وجه سره دوړلوپه صورت کې هم شفیع لره اختیاروي ،اګرکه مشتری بائع له هرقسمه عیب څخه بری کړی وي مثلامشتری بائع ته دبیع پروخت وویلې وي چې که په دې مبیع کې کوم عیب ښکاره شونوته له دې څخه بری یې نودشفیع په حق کې دمشتری داوینالغوه ده ولې چې مشتری دشفیع نائب نه دی لهذادمشتری په ساقطولوسره دشفیع حق نه ساقطیږي .

(۱۰)وَإِنْ اخْتَلَفَ الشَّفِيعُ وَالْمُشْتَرِي فِي الثَّمَنِ فَالْقَوْلُ لِلْمُشْتَرِي (۱۱)وَإِنْ بَرْهَنَا فَلِلشَّفِيعِ (۱۲)وَإِنْ ادَّعَى الْمُشْتَرِي ثَمَنًا وَادَّعَى بَائِعُهُ أَقَلَّ مِنْهُ وَلَمْ يَقْبِضْ الثَّمَنَ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِمَا قَالَ الْبَائِعُ (۱۳)وَإِنْ قَبَضَ أَخَذَهَا بِمَا قَالَ الْمُشْتَرِي (۱۴)وَحَطُّ الْبَعْضِ يَظْهَرُ فِي حَقِّ الشَّفِيعِ لَا حَطُّ الْكُلِّ (۱۵)وَالزِّيَادَةُ

**ترجمه** :اوکه اختلاف وکړشفیع اومشتری په ثمنوکې نودمشتری قول به معتبروي ،اوکه دواړوبینه پیش کړل نودشفیع بینه به معتبروي ،اوکه دعوی وکړه مشتری دثمنواودعوی وکړه بائع له دې څخه دلږواوتراوسه په ثمنوقبضه نه وه کړي نوورې به یې شفیع په هغه قیمت باندی کوم چې بائع وایې ،اوکه یې قبضه کړي وه

نو وربه یې په هغه قیمت کوم چې مشتري وایې ،او بعض ثمن ساقطول ظاهرېږي دشفیع په حق کې نه ټول ثمن ساقطول ،او په ثمنو کې اضافه کول.

**تشریح** :(۱۰)که شفیع او مشتری په ثمنو کې اختلاف وکړ مثلاً مشتری وویل ما دا مکان په دوه زره اخیستی دی او شفیع وایې یا بلکه تا په زر روپۍ اخیستی دی نو د مشتری قول مع الیمن معتبر دی ولی چې شفیع د کم قیمت په اداء کولو سره پرده د استحقاق دار دعوی کوي او مشتری په کم قیمت باندي د هغه له استحقاق څخه منکر دی او قول منکر مع الیمین معتبر دی.

(۱۱)که له شفیع او مشتری څخه هریوه په مذکوره بالاصورت کې په خپله دعوی باندي ګواه پیش کړل نو د طرفینو په نزد د شفیع ګواه معتبر دي ولی چې ګواه دکوم شئ د الزام (کوم شئ پر چالازمول )لپاره وي او د شفیع ګواه ملزم دي په دې وجه چې د شفیع د ګواه د قبلولو په صورت کې پر مشتری باندي مکان شفیع ته سپارل لازم ګرځي حال دا چې د مشتری ګواه ملزم نه دي ولی چې د مشتری د ګواه د قبلولو په صورت کې شفیع لره بیا هم اختیار شته که یې خوښه وي نو مکان دي واخلي او که یې خوښه وي نو دي پرېږدي .د امام ابویوسف رحمه الله په نزد د مشتری ګواه معتبر دي په دې وجه چې ګواه د امر زائد لپاره مثبت وي او زیادت ثابتونکي ګواه اولی وي.

**فائده** :د طرفینو قول راجح دی لما فی الدر المختار:(وان برهنا فالشفیع احق )لان بینته ملزمة .وقال العلامة ابن عابدین :(قوله لان بینته ملزمة )ای للمشتری بخلاف بینة المشتری لان الشفیع مخیر و البینات للالزام فالاخذ ببینته اولی اتقانی (الدر المختار مع رد المحتار :۵/۱۶۱)

(۱۲)که بائع او مشتری په ثمنو کې اختلاف وکړ مشتری ثمني زیاتې یادوي او بائع لږ یادوي او حال دا دی چې بائع تر اوسه پر ثمنو قبضه نه ده کړي نو شفیع به یې پر هغه قیمت وړي کوم چې بائع یادوي .ولی چې که ثمن حقیقة هم هغه وي کوم چې بائع یادوي بیا خو ظاهره ده چې پر شفیع هغه لازم دي او که هغه وي کوم چې مشتری یادوي نو دا به ګڼل کیږي چې بائع له خپل طرف څخه مشتری لره قیمت کم کړی دی نو دا کمی د شفیع په حق کې هم ظاهرېږي.

(۱۳)او که بائع پر ثمنو قبضه کړې وي نو بیا به یې شفیع په هغه قیمت وړي کوم چې مشتری یادوي او د بائع د قول طرف ته به التفات نه کیږي ولی بائع چې کله ثمن وصول کړي نو بائع له منځ څخه په وتلو اجنبی شو او س اختلاف د شفیع او مشتری په منځ کې پاتې شو دکوم تفصیل چې تیر شو چې په داسې صورت کې د مشتری قول مع الیمین معتبروي .

(۱۴)که بائع له مشتری څخه څه روپۍ کمې کړي نو هم دومره مقدار له شفیع څخه هم ساقطیږي ولی چې د بائع له طرف څخه چې اسقاط ثمن کله له اصل عقد سره یو ځای شونو او س ثمن هغه شو کوم چې باقی پاتې شو ،او که بائع له مشتری څخه ټول ثمن ساقط کړل نو له شفیع څخه هیڅ نه ساقطیږي ولی چې د کل ثمن د ساقطولو په صورت کې دا خو بیع بلا عوضه ده (کومه چې باطله ده )یا هبه ده په دواړو صورتونو کې شفیع لره حق شفعه نشته .

(۱۵)قوله والزيادة اى لايظهر الزيادة فى حق الشفيع ،يعنى كه مشترى بائع ته په عقدكې له معلوم شويو ثمنو څخه زيات وركړنو دازيادت دشفيع پرذمه لازم نه دى ولى چې په دي كې دشفيع ضرردى په دي وجه چې هغه له دي څخه پرلړوروپېودوړلو مستحق ګرځيدلى وو.

(١٦) وَإِنِ اشْتَرَى دَارًا بِعَرَضٍ أَوْ عَقَارٍ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِقِيمَتِهِ وَبِمِثْلِهِ لَوْ مِثْلِيًّا) (١٧) وَبِحَالٍّ لَوْ مُؤَجَّلًا أَوْ يَصْبِرُ حَتَّى يَنْقَضِيَ الْأَجَلُ فَيَأْخُذَهَا (١٨) وَبِمِثْلِ الْخَمْرِ، وَقِيمَةِ الْخِنْزِيرِ إِنْ كَانَ الشَّفِيعُ ذِمِّيًّا (١٩) وَبِقِيمَتِهَا لَوْ مُسْلِمًا) (٢٠) وَبِالثَّمَنِ وَقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ لَوْ بَنَى الْمُشْتَرِي أَوْ غَرَسَ أَوْ كُلِّفَ الْمُشْتَرِي قَلْعَهُمَا (٢١) وَإِنْ قَلَعَهُمَا الشَّفِيعُ فَاسْتُحِقَّتْ رَجَعَ بِالثَّمَنِ فَقَطْ (٢٢) وَبِكُلِّ الثَّمَنِ إِنْ خَرِبَتِ الدَّارُ أَوْ جَفَّ الشَّجَرُ (٢٣) وَبِحِصَّةِ الْعَرْصَةِ إِنْ نَقَضَ الْمُشْتَرِي الْبِنَاءَ) وَالنَّقْضُ لَهُ (٢٤) وَبِثَمَرِهَا إِنِ ابْتَاعَ أَرْضًا وَنَخْلًا وَثَمَرًا أَوْ أَثْمَرَ فِي يَدِهِ (٢٥) وَإِنْ جَذَّهُ الْمُشْتَرِي سَقَطَ حِصَّتُهُ مِنَ الثَّمَنِ

**ترجمه** :اوكه يې واخيستى مكان دسامان ياځمكې په عوض نوورې به يې شفيع دهغه دقيمت په عوض اودهغه دمثل په عوض كه مثلي وو،اوفوري (دستي )به يې وركوي كه هغه معيادي وي يادي صبروكړي ترڅوچې تيره شې مده بيادي واخلى ،اوپه مثل شرابواوقيمت خنزيرباندي دي واخلي كه شفيع ذمى وي ،اوددي دواړودقيمت په عوض دي واخلي كه هغه مسلمان وي ،اوپه ثمنواودعمارت په قيمت اوددرخت دقيمت په عوض واخلي كه عمارت جوړكړمشترى ياپې درختي ولګولي يادي مجبوركړي مشتري ددي په كښلوباندي اوكه داكارونه شفيع وكړل بياځمكه دكوم بل چابنكاره شوه نواخلي به ثمن فقط،اوټول ثمن دي وركړي اووادي خلي كه خراب شومكان ياوچې شوي درختې ،اودحصي په مطابق دي خالى ځمكه واخلي كه مشتري رنګ كړى وي عمارت اوملبه (دعمارت سامان )به دمشترى وي ،اوله ميوي سره به يې وړي كه يې اخيستي وي ځمكه له درختواوميوي سره ياميوه پيداشوي وي دمشترى په قبضه كې ،اوكه ماتې كړي دامشترى نوساقطيږي همدومره حصه له ثمنوڅخه .

**تشريح** :(۱۶)كه چاكوم كوردسامان ياځمكې په بدله كې واخيستى نوشفيع به داددي سامان ياځمكې دقيمت په عوض كې وړي اوكه مشترى دمثلى شئ په عوض كې (يعنى دكيلي ياوزنى ياعددى متقارب شئ په عوض )اخيستى وي نوشفيع به داددي دمثل په عوض وړي ولى مشترى چې دكوم شئ په عوض دځمكې مالك كيږي شفيع دهغه دمثل په عوض مالك ګرځې ،بياكه هغه لره مثل كامل وي يعنى صورة ومعنى مثل وي لكه چې مشترى دمكيلي ياموزونى شيانوپه عوض كې مكان اخيستى وي ،نوشفيع دمثل كامل په عوض كې ددي مالك ګرځې اوكه مثل كامل نه وي لكه چې مشتري دسامان ياځمكې په عوض مكان اخيستى وي نوشفيع دمثل ناقص يعنى قيمت په عوض مالك ګرځې .

(۱۷)قوله وبحال لومؤجلاای اخذهابثمن حال لوكان الثمن مؤجلا،يعنى كه مشترى مان له بائع څخه په ثمن مؤجل (پور)سره اخيستى وي نوشفيع لره اختياردى كه يې خوښه وي نوپه نقدثمن(نغدوړپو) سره دي واخلي اوكه يې خوښه وي نودهغه مدي دتيريدلوانتظاردي وكړي دكومې چې بائع مشترى ته مهلت وركړى دى كله چې دامده تيره شي بيادي واخلي ،مګردمشتري په شان يې په ثمن مؤجل سره نه شي وړلى ولى چې كه بائع مشترى ته په مهلت وركولوراضى دى نودادي خبري لره مستلزم نه دى چې شفيع ته هم پرمهلت

ورکولوراضي دی ولی چې خلک په معاملاتو کې متفاوت دي لهذا د بائع له رضا څخه بغیر شفیع لره مهلت نه ثابتیږي.

(۱۸) که یوه ذمي له بل ذمي څخه د شرابو یا خنزیر په عوض کې مکان واخیستی او شفیع هم ذمي دی نو شفیع به دا مکان په مثل شراب او قیمت خنزیر سره وړي ولی چې دا بیع فیمابینهم صحیح ده او د شفعه حق د مسلمان په څیر ذمي لره هم شته او شراب دوئ لره داسې دي لکه زموږ لپاره چې سرکه ده او خنزیر داسې دی لکه زموږ لپاره چې پسه دی، نو شراب څرنګه چې له ذوات الامثالو څخه دي په دې وجه به شفیع د شرابو په مثل ورکولو سره مکان اخلي او خنزیر له ذوات القیمو څخه دی په دې وجه به شفیع د خنزیر د قیمت په ورکولو سره مکان وړي.

(۱۹) قوله وبقیمتهما لو مسلما ای یاخذ بقیمة الخمر والخنزیر لو کان الشفیع مسلما، یعنی که په مذکوره صورت کې شفیع مسلمان وي نو هغه به د شرابو او خنزیر دواړو په صورت کې د قیمت په ورکولو سره مکان اخلي، خنزیر څرنګه چې مثلي شئ نه دی په هر صورت به یې قیمت ورکوي او شراب اګر که مثلي دي مګر مسلمان لره څوک د هغو مالک جوړول ممنوع دی لهذا د مسلمان په حق کې د اغیر مثلي شمارل کیږي.

(۲۰) قوله وبالثمن وقیمة البناء ای ویاخذ الشفیع بالثمن وقیمة البناء الخ، یعنی که مشتری په مشفوعه ځمکه کې کور جوړ کړ یا یې باغ ولګاوو بیا د شفیع په حق د شفعه فیصله وشوه نو او س شفیع لره اختیار دی که یې خوښه وي نو د مشفوعه ځمکې او رنګ شوي عمارت او کښل شوي باغ قیمت په ورکولو سره دي واخلي او که یې خوښه وي نو مشتری ته دي د خپل تعمیر او باغ د کښلو حکم وکړي ولی چې مشتری په داسې محل کې تعمیر کړی دی له کوم سره چې د غیر مضبوط حق تړلی دی او صاحب حق مشتری ته د تعمیر حکم هم نه دی ورکړی لهذا مشتری ته به د خپل تعمیر د ړنګولو حکم ورکول کیږي.

(۲۱) او که شفیع د شفعه د حق په وجه سره ځمکه واخیستله او په هغې کې یې مکان جوړ کړ یا یې باغ کښینو د بیا د دې ځمکې کوم مستحق ښکاره شوا و مستحق شفیع ته د درختو او تعمیر د کښلو حکم وکړ نو که شفیع مکان له بائع څخه وړی وي نو په دې صورت کې به شفیع له بائع څخه ثمن واپس اخلي او که یې له مشتری څخه وړی وي نو په دې صورت کې به له مشتری څخه ثمن واپس اخلي څرنګه چې شفیع لره مبیع نه ده تسلیم شوي په دې وجه د رجوع بثمنو حقدار دی، پاتې شو د تعمیر او درختو قیمت نو هغه له هیچا څخه نه شي اخیستلی په دې وجه چې د تعمیر او درختو قیمت خو په هغه صورت کې واپس اخیستلی شي په کوم کې چې ده ته دهوکه ورکړل شوي وي حال دا چې په دې صورت کې خو مشتری یا بائع شفیع ته دهوکه نه ده ورکړي بلکه شفیع په خپله په دعوی کولو سره دوئ په ځمکه ورکولو مجبور کړي وو.

(۲۲) قوله وبکل الثمن ای یاخذ الشفیع بکل الثمن ان خربت الدار الخ، یعنی که د مشتری په قبضه کې مشفوع مکان منهدم (رنګ) شو یا تعمیر و سوځیدو او یا باغ و و د هغه درختي وچې شوي په دې شرط چې دا په آفت سماوی سره وي د چا په فعل سره نه وي نو شفیع لره اختیار دی که یې خوښه وي نو د ټول ثمن په اداء کولو سره دي مکان واخلي ولی چې تعمیر او درختي تابع دي د کوم په مقابله کې چې ثمن نه وي لهذا د دوئ د کمښت او زیاتوب په

وجه سره به په ثمنو كې كمښت يازياتوب نه كيږي، اوكه يې خوبنه وي نودشفعه دعوى دې پريږدي ولې چې شفيع لره حق شته چې هغه د مال په عوض دكورله مالك جوړيدلو څخه منع شي .

(۲۴)قوله وبحصة العرصة اى ويأخذ الشفيع بحصة العرصة الخ ،يعنى كه دمشفوعة ځمكې عمارت مشترى ړنګه كړه نوله شفيع څخه دعمارت په اندازه قيمت ساقطيږي اودشفيع كه خوښه وي نوخالي ځمكه دهغې په حصه ثمنوسره اخستلى شې اوكه يې خوښه وي نوبالكل دې پريږدي ولې چې تعميروغيره اوس دمشترى داتلاف په وجه سره مقصودي شئ شوپه دي وجه به دوس ددي په مقابل كې ثمن راځې لهذاټول به پرځمكه اوتعميرباندې تقسيم كړاى شې دځمكې په حصه كې چې څومره ثمن كيږي شفيع به دهغه په عوض ځمكه واخلي ،اودتعميرملبه (سامان )دمشترى حق دى ،شفيع ته دسامان دوړلوحق نشته ولې چې سامان په جلاوالى سره اوس تابع نه شوپاتې چې دځمكې په تبع سره دشفيع حق جوړشې .

(۲۵)قوله وبثمرها اى يأخذ الشفيع بثمرها ،يعنى كه چاځمكه له درختواوميوې سره يوځاى واخيسته اوديبع په وخت يې دميوې ذكرهم وكړنوشفيع به يې له ميوې سره وړي ولې چې دپيدائشې اتصال په وجه سره ميوه دځمكې تابع ده ،همداشان كه يې ځمكه له درختوسره يوځاى واخيستله يابرپردرختوباندې ميوه پيداشوه نوهم به شفيع ځمكه له ميوې سره وړي ولې چې په اصل مبيع كې ثابت شوى حق دمتولدمن المبيع طرف ته هم سرايت كوي لهذاپه ميوه كې هم دشفيع حق ثابتيږي .

(۲۶)اوكه ميوه مشترى وښكوله نوله شفيع څخه به دميوې په اندازه قيمت ساقطيږي ولې چې په بيع كې دميوې په ذكركولوسره ميوه هم مقصوداپه بيع كې داخله شوې ده لهذاددې په مقابله كې به هم ثمن وي .

## بَابُ مَاتَجِبُ فِيهِ الشُّفْعَةُ وَمَا لَاتَجِبُ

داباب دهغوشيانوپه بيان كې دى په كوموكې چې شفعه واجبيږي اوپه كوموكې چې شفعه نه واجبيږي كله چې مصنف رحمه الله دنفس ثبوت شفعه له بيان څخه فارغ شونوپه تفصيل يې شروع وكړه چې په كوموشيانوكې شفعه واجبيږي اوپه كوموكې نه واجبيږي ،ولې چې تفصيل بعدالاجمال اوقع فى النفس وي.

(۱)إنما تجب الشفعة في عقار ملك بعوض هو مال (۲)لا في عرض وفلك وبناء ونخل بيعا بلا عرصة (۳)ودار جعلت مهرا أو أجرة أو بدل خلع (۴)أو بدل صلح عن دم عمد أو عوض عتق (۵)أو وهبت بلا عوض مشروط (۶)أو بيعت بخيار للبائع (۷)أو بيعت فاسدا ما لم يسقط الفسخ بالبناء (۸)أو قسمت بين الشركاء (۹)أو سلمت شفعته ثم ردت بخيار رؤية أو شرط أو عيب بقضاء (۱۰)وتجب لو ردت بلا قضاء أو تقايلا

**ترجمه** :ثابتيږي شفعه په هغه ځمكې كې كومه چې مملوكه شې په داسې عوض سره كوم چې مال وي .نه په اسبابوكې اوپه كښتۍ كې اوپه عمارت كې اوپه درختوكې كومې چې خرڅې شوې وي بغيرله ځمكې څخه ،اوپه هغه كوركې كوم چې مقررشوى وي مهريااجرت يابدل خلع ،يادصلح ددم عمدله طرف څخه يادازادي عوض ،ياهبه كړل شوى وي بلاعوض مشروط ،ياخرڅ شوى وي دبائع له خيارسره ،ياخرڅ شوى وي په بيع فاسدې سره ترڅوچې نه وي فاسدشوى حق دفسخ په عمارت جوړلوسره ،ياتقسيم كړل شوى وي په

شرکاؤ کې ،یاپرینبودل شوي وي دهغه شفعه بیاواپس کړل شوی وي دخیارؤیت یاخیارشرط یاخیارعیب په سره دقضاء په ذریعه سره ،اوواجیږي که واپس کړل شوی وی بلاقضاء یادواړو اقاله کړي وي.

**تشریح** :(۱)شفعه په هره داسې ځمکه ،مکان وغیره کې ثابتیږي دکوم چې مشتری دمال په عوض کې مالک شې ولې چې دشرعی شرط رياعت ممکن دی یعنی مشتری چې دکوم مال په بدله کې مالک جوړشوی دی شفیع هم دهغه دمثل په اداء کولو سره دهغې مالک کیدای شي .

(۲)قوله لافي عرض وفلك الخ ای لاتجب الشفعة في عرض وفلك الخ ،يعنی په منقولي سامانو او کښتيانوکې شفعه نشته لقوله ﷺ﴿ لَا شُفْعَةَ إِلَّا فِي دَارٍ رَبْعٍ أَوْ حَائِطٍ ﴾ (له مکان اوباغ څخه په علاوه کې شفعه نشته )همدراز حق شفعه خلاف قیاس ثابت دی نودقیاس په ذریعه سره منقولی شیان له غیرمنقولی شیانوسره نه شي ملحق کیدای ،همداشان که عمارت یاباغ له ځمکې څخه بغیرخرڅ کړای شې نوپه دي کې هم شفعه نشته ولې چې صرف عمارت اودرختولره دوام نشته نوداهم له منقولاتو څخه دي اوپه منقولي شیانوکې شفعه نشته ،البته که یې له عمارت اودرختوسره ځمکه هم خرڅه کړي وي نوبیاتبعاللارض په دوئ کې هم شفعه ثابتیږي .

(۳)قوله ودارجعلت مهراالخ ای لاتجب الشفعة في دارجعلت مهراالخ ،يعنی که مشتری دمال په عوض دځمکې مال نه ووجوړشوی نوپه داسې ځمکه کې به هم شفعه نه وي لهذاپه داسې کورکې شفعه نشته کوم چې کوم کس دنکاح پروخت دښځې په مهرکې ورکړي ولې چې ښځه دمال په عوض کې مالکه نه ده جوړه شوي ،اوپه داسې کورکې هم شفعه نشته کوم چې مالک دکوم بل کورلپاره اجرت مقررکړي یعنی ددي په بدله کې مالک کوم بل مکان په کرایه ونیسي.اوپه داسې کورکې هم شفعه نشته دکوم په بدله کې چې ښځه له خپل خاوندسره خلع (دښځې دمال په عوض کې طلاق اخیستلوته خلع ویل کیږي )کړي وي یعین کوم کورچې دخلع دبدل په ډول سره خاوندته ورکوي په داسې مکان کې هم شفعه نشته .

(۴)اوپه داسې مکان کې هم نشته دکوم پرمالک چې دیوچادقتل کولو قصاص واجب وي بیاهغه دمقتول له ورثه وسره پردي کوردقصاص په بدله کې مصالحت کړی وي یعنی دمقتول ورثه ته یې په صلح کې ورکړي ،اوپه داسې مکان کې هم شفعه نشته کوم چې غلام خپل مالک ته ورکړي اوخپل ځان دهغه په بدله کې ازادکړي ،ولې چې شفعه په مبادلة المال بالمال کې وي په مبادلة المال بغيرالمال کې نه وي ولې چې په شفعه کې شفیع دهغه عوض مثل ورکوي کوم چې دځمکې اخیستونکی مالک ته ورکړی دی نوکه مالک ته حاصلیدونکی عوض مال نه وي نوشفیع دهغه دمثل په ورکولو باندي قادرنه دی لهذاشفعه نه ثابتیږي .

(۵)قوله اووهبت بلاعوض مشروط ای لاتجب الشفعة في داروهبت بلاعوض مشروط،يعنی که واهب کوم مکان چاته بلاعوض هبه کړنو دهغه شریک یاهمسایه لره دشفعه حق نشته ولې چې هبه مبادلة المال بالمال نه ده حال داچې شفعه په مبادلة المال بالمال کې ثابتیږي ،البته که هبه مشروط بالعوض وي (مثلاواهب ووایې وهبت لك هذه الدار على كذامن الدراهم )نوحق شفعه ثابتيږي ولې چې هبه بالعوض ابتداء هبه ده انتهاء بيع ده لهذاپه داسې صورت کې به شفیع لره حق وي .

(۶)قوله او بیعت بخيار البائع ای لاتجب الشفعة في دار بيعت بخيار البائع ،يعنى كه بائع بشرط خيار كوم مكان خرڅ كړنو شفيع لره حق شفعه نشته ولي چې دشرط خيارپه وجه سره دبائع ملک نه زائليږي نوګويا خرڅ كړی يې نه دی لهذا شفيع لره حق شفعه نشته ،بیاكه بائع دبیع په نافذولوسره خیارساقط كړنو شفعه ثابتيږي ولی چې اوس دزوال ملک مانع زائل شوا وبيع لازمه شوه .

**فائده**: اوكه چاپه شرط دخيارسره مكان واخيستي نو شفيع لره شفعه ثابتيږي ولی چې دمشتری دخيارشرط په صورت كې دبائع دملک دزائليدلو لپاره هيڅ مانع نشته .

(۷)قوله او بیعت فاسدا ای لاتجب الشفعة في دار بيعت بيعا فاسدا ،يعنى كه چاكوم مكان په بيع فاسدې سره واخيستې نوپه دې مكان كې شفيع لره حق شفعه نشته ولی چې له قبضې څخه وړاندې دبائع ملک نه ده زائل شوی او له قبضې څخه وروسته داعقدواجب الفسخ دی حال داچې په اثبات شفعه كې فسخ عقدنشته بلكه دفسادتقرير دی په دې وجه جائزنه دی ،البته كه په بيع فاسده كې حق فسخ ساقط شومثلا مشتری په اخيستل شوې ځمكه كې تعمیرجوړكړيايې مبيع وړاندې خرڅه كړه نوپه دې سره حق فسخ ساقطيږيا ودمشتری پرذمه قیمت واجبيږي په دې وجه په داسې صورت كې شفيع لره حق شفعه ثابتيږي ولی چې مانع زائل شو .

(۸)قوله او قسمت بين الشركاء ای لاتجب الشفعة لجارهم بالقسمة في دار قسمت بين الشركاء ،يعنى كه په كومه ځمكه كې څوكسان شريک وي بيا هغوئ په خپل منځ كې داځمكه تقسيم كړي نو ددې تقسيم په وجه سره ددوئ همسايه لره حق شفعه نشته ولی چې تقسيم مبادلة المال بالمال نه دی حال داچې شفعه په مبادلة المال بالمال كې واجبيږي .

(۹)قوله او سلمت شفعته ثم ردت الخ ای لاتجب الشفعة في دار اشتريت وسلم الشفيع ثم ردت الدار بخيار رؤية الخ ،يعنى كه چاكوم مكان واخيستي اوشفيع دشفعه دعوی ونه كړه بيامشتری دخياررؤيت ياخيارشرط ياخيارعيب په وجه سره دقاضي په حكم مكان واپس كړنوداځكه چې من كل الوجوه فسخ ده عقدجديدنه دی لهذا اوس شفيع لره حق شفعه نشته .

(۱۰)البته كه مشتری له قضاء قاضي څخه بغيرمبيع واپس كړه اويابائع اومشتری په خپل منځ كې اقاله وكړه نو شفيع لره اوس حق شفعه حاصل دی ولی چې دابائع اومشتری په حق كې خوفسخ بيع ده اودكوم دريم په حق كې بيع جديده ده نودشفيع په حق كې دبيع جديد والی په وجه سره شفيع لره حق شفعه حاصل دی .

**فائده**: له كوم مسجديامدرسې سره كه متصل كومه ځمكه يادوكان وغيره خرڅ شي نودمسجددمتولی مدرسې دمهتمم لپاره دمسجداومدرسې په وجه سره دشفعې حق نشته .(ملخص ازامدادالاحكام: ۴/۱۷۰)

## باب ما يبطل به الشفعة

دا باب دهغوامورو په بيان كې دی په كوموسره چې شفعه باطليږي

دشئ بطلان تقاضاكوي چې اول به شئ موجودوي په دې وجه مصنف رحمه الله اول هغه اموربيان كړل په كوموسره چې شفعه ثابتيږي اوس له دې ځايه هغه اموربيانوي په كوموسره چې شفعه باطليږي .

(۱) وَتبطلُ بِترکِ المُواثبةِ او التَقرِيرِ (۲) وَبالصُلحِ عن الشُفعةِ على عِوضٍ وَعَليهِ رَدُهُ (۳) وَبِمَوتِ الشَفِيعِ لَا المُشترِي (۴) وَبِبَيعِ مَا يَشفَعُ بِهِ قَبلَ القَضَاءِ بالشُفعةِ (۵) وَلاشُفعةَ لِمَن بَاعَ اَو بِيعَ لَه (۶) اَو ضَمِنَ الدَرکَ عَن البَائِعِ (۷) وَمَن ابتَاعَ اَو ابتِيعَ لَه فَلَهُ الشُفعةُ (۸) وَاِن قِيلَ لِلشَفِيعِ اِنَّهَا بِيعَت بِالفٍ فَسَلَّمَ ثُمَّ عَلِمَ اَنَّهَا بِيعَت بِاَقَلَّ اَو بِبُرٍّ اَو شَعِيرٍ قِيمَتُه اَلفٌ اَو اَكثرُ فَلَهُ الشُفعةُ (۹) وَلَو بَانَ اَنَّهَا بِيعَت بِدَنَانِيرَ قِيمَتُهَا اَلفٌ فَلَاشُفعةَ لَه

**ترجمه**: اوباطلیږي د طلب مواثبت یا طلب تقریر په پرېښودلو سره ، او له شفعې څخه په صلح کولو سره په کوم عوض باندي او پر شفیع واجب ده د عوض واپس کول ، او د شفیع په مرګ سره نه د مشتری په مرګ سره ، او په خرڅولو سره د هغه شئ د کوم په وجه سره چي د شفعه دعوی کوي د شفعه له حکم کولو څخه وړاندي ، او څوک چي واخلي یا واخیستل شي دده لپاره نو هغه لره شفعه ده ، او که وویل شول شفیع ته چي مکان خرڅ شوی دی په زرروپۍ ده شفعه پرېښوده بیا معلومه شوه چي هغه خرڅ شوی دی په لږ و یا د غنمو په عوض یا د اوربشو په عوض د کوم قیمت چي زرروپۍ یا له دي څخه زیات دی نو ده لره شفعه شته ، او که ظاهره شوه چي هغه خرڅ شوی دی په دنانیرو سره د کوم چي قیمت زر درهمه دی نو شفعه نشته .

**تشریح**: (۱) که شفیع په بیع خبر شو او سره له قدرته یې طلب مواثبت پرېښودی نو د هغه حق شفعه باطلیږي ولی چي ده له طلب شفعه څخه اعراض وکړ او وړاندي تیره شوه چي شفعه کمزوری حق دی په اعراض سره باطلیږي ، همداشان که شفیع طلب مواثبت خو وکړ ، مګر طلب تقریر او اشهاد یې پرېښود یعني پر بائع یا مشتری یا له ځمکي سره یې ګواهان جوړ نه کړل نو څرنګه چي دا هم له حق شفعه څخه د اعراض دلیل دی لهذا شفعه باطلیږي .

(۲) قوله وبالصلح من الشفعة على عوض ای تبطل الشفعة اذا صالح المشتری الشفیع على عوض ، یعني که مشتری له شفیع سره دده د له حق شفعه څخه په کوم عوض صلح وکړه نو د شفیع حق شفعه باطلیږي ، او عوض به هم بیرته مشتری ته ورکوي (مثلاً شفیع مشتری ته وویل چي زر درهمه را کړه زه حق شفعه پرېږدم ، که مشتری ورکړل نو د شفیع حق شفعه باطلیږي او زر درهمه به بیرته مشتری ته واپس کوي ) ولی چي د خپل حق شفعه په بدل کي عوض اخیستل د اعراض دلیل دی لهذا حق شفعه باطلیږي ، او حق شفعه څرنګه چي محض د مالک جوړیدلو حق دی مالک جوړ شوی نه دی لهذا د هغه عوض اخیستل هم صحیح نه دي په دي وجه به عوض بیرته واپس کوي .

(۳) قوله وبموت الشفیع لاالمشتری ای تبطل الشفعة بموت الشفیع لابموت المشتری ، یعني که شفیع له بیع وروسته او د شفعه له فیصلي څخه وړاندي مړ شو نو شفعه باطلیږي ولی چي د مرګ په وجه سره د شفیع ملکیت ختمیږي په دي وجه دده حق شفعه هم ساقطیږي ، او وارث لره بې شکه چي ملک ثابتیږي مګر د وارث ملک له بیع وروسته ثابتیږي حال دا چي شفیع لره ملک د بیع له وخت څخه د قاضی تر قضاء پوري شرط دی نو څرنګه چي وارث لره د بیع پر وخت ملک ثابت نه دی لهذا وارث لره حق شفعه هم نشته ، او که مشتری مړ شي نو شفعه نه باطلیږي ولی چي د شفعه مستحق یعني شفیع موجود دی او د حق شفعه سبب (اتصال ملک ) هم متغیر شوی نه دی لهذا حق شفعه نه ساقطیږي .

(۴)قوله وبيع مابشفع به الخ اى وتبطل الشفعة ببيع الدارالتى يشفع بهاالخ ،يعنى كه شفيع دقاضى له طرف دشفعه دفيصلې له كولو وړاندې خپل هغه جائيداد خرڅ كړ دكوم په وجه سره چې هغه دشفعه دعوى كوي نو دهغه حق شفعه باطليږي ولى چې دمشفوعه ځمكې له مالک جوړيدلو څخه وړاندې سبب استحقاق شفعه (يعنى اتصال ملک )زائل شو لهذا حق شفعه هم باطليږي .

(۵)كه دبائع وكيل دبائع مكان خرڅ كړ او حال داچې همدا وكيل ددې مكان شفيع هم دى نو ده لره حق شفعه نشته ولى چې په خرڅولو سره دده له طرفه يو عقد تام شو په كوم كې چې دى دبائع وكيل وو اوس كه دى دشفعه په حق سره دامكان وړي نو دى به مشترى وي لهذا دعقد دسابقه عقد ماتولو سعى (كوشش )دى كوم چې جائزنه دى .

(۶)همداشان كه كوم كس دبائع له طرف څخه ددرک ضامن شي (دضامن بالدرک معنى داده چې څوک مشترى ته ووايې چې له فلان شئ بې فكره واخه كه دهغه شئ كوم مستحق ښكاره شو نو ستادروپو دادا، كولو زه ضامن يم )او حال داچې داضامن په خپله شفيع هم دى نو ده لره حق شفعه نشته ولى چې دسابق عقد تقرير او تصحيح دهمدې ضامن له طرف څخه شوي ده اوس كه دى دشفعه دعوى كوي نو دادعقد سابق دماتولو سعى ده كومه چې جائزنه ده .

(۷)كه څوک دمشترى له طرف څخه په وكيل جوړيدلو سره كوم مكان واخلي او حال داچې دى ددې مكان شفيع هم دى نو دې وكيل لره حق شفعه شته ولى چې حق شفعه داعراض په اظهار سره باطليږي نه درغبت په اظهار سره .او دشراء په صورت كې اظهار رغبت دى نه داعراض اظهار ،لهذا حق شفعه نه باطليږي .همداشان كه كوم كس لره مكان واخيستل شو حال داچې دى دهغه شفيع هم دى مثلا مضارب په مال مضاربت سره كوم مكان واخيستى حال داچې رب المال دهغه مكان شفيع هم دى نو رب المال ته حق شفعه ثابتيږي ولى چې دلته داعراض هيڅ دليل موجود نه دى .

(۸)كه شفيع ته داخبر ورسيد وچې فلانى كور (په كوم كې چې شفيع لره حق شفعه حاصل دى )په يو زر درهمه خرڅ شوده حق شفعه پريښود ،بيامعلومه شوه چې داكور خوله زرو دراهمو څخه په لږو خرڅ شوى دى ياپه دمره غنمو يا اوربشو خرڅ شوى دى دكومو قيمت چې زر ياله دې څخه هم زيات دى نو دشفيع ترک شفعه باطل دى بلكه شفيع لره اوس هم حق شفعه حاصل دى ولى چې اول خو ده دكثرت ثمن په وجه سره پريښى وو دكوم جنس چې ده ته خبر رسيدلى وو هغه جنس ده لره متعذر وو اوس ځرنګه چې دهغه په خلاف خبره ښكاره شوه په دې وجه ده لره حق شفعه ثابت دى ولى چې داختلاف ثمن په وجه سره په رغبت كې اختلاف وي .

(۹)كه په مذكوره بالاصورت كې وروسته معلومه شوه چې هغه كور خو په دومره دينارو خرڅ شوى دى چې دهغو قيمت زر درهمه دى نو دقياس تقاضاخو داده چې شفيع لره حق شفعه ثابت وي مګر استحساناشفيع لره حق شفعه نشته ولى چې دينار او درهم دثمنيت په حق كې يو جنس دي لهذا له يوه څخه اعراض له بل څخه عراض شمارل كيږي .

(۱۰) وَإِنْ قِيلَ لَهُ إِنَّ الْمُشْتَرِيَ فُلَانٌ فَسَلَّمَ فَبَانَ أَنَّهُ غَيْرُهُ فَلَهُ الشُّفْعَةُ (۱۱) وَإِنْ بَاعَهَا إِلَّا ذِرَاعًا فِي جَانِبِ الشَّفِيعِ فَلَا شُفْعَةَ لَهُ (۱۲) وَإِنْ ابْتَاعَ مِنْهَا سَهْمًا بِثَمَنٍ ثُمَّ ابْتَاعَ بَقِيَّتَهَا فَالشُّفْعَةُ لِلْجَارِ فِي السَّهْمِ الْأَوَّلِ فَقَطْ (۱۳) وَإِنْ ابْتَاعَهَا بِثَمَنٍ ثُمَّ دَفَعَ ثَوْبًا عَنْهُ فَالشُّفْعَةُ بِالثَّمَنِ لَا بِالثَّوْبِ

**ترجمه** :او كه وويل شول شفيع لره چې مكان اخيستى دى فلانكى ده شفعه پرېښوده بيا ښكاره شو چې اخيستونكى بل څوک دى نو ده لره شفعه شته ،او كه يې خرڅ كړ مكان مګر يو ګز د شفيع په طرف كې نو شفعه نشته ده لره ،او كه يې واخيسته له مكان څخه يوه حصه د ثمنو په عوض بيا يې واخيستى باقى مكان نو حق شفعه همسايه لره صرف په اولى حصي كې شته ،او كه يې واخيستى مكان د ثمنو په عوض بيا يې وركړه جامه دهغو په بدل كې نو شفعه به په ثمنو وي نه په جامه سره .

**تشريح** :(۱۰)كه شفيع ته داخبرورسيدوچې دمكان اخيستونكى فلانكى (مثلازيد)دى نوده شفعه پرېښوده بيامعلومه شوه چې اخيستونكى خوكوم بل څوک (مثلابكر)دى نوشفيع لره اوس هم حق شفعه ثابت دى ولى چې انسان لره دځينوخلكوهمسايتوب دهغوئ دښواخلاقوپه وجه قبول وي او دځينوهمسايتوب دهغوئ دبدواخلاقوپه وجه سره نه خوښوي نودشفيع اولنى لره دشفعه پرېښودل ددوهم لپاره دشفعه پرېښودلوته مستلزم نه دي .

(۱۱)كه چامكان خرڅ كړمګرله شفيع سره په متصل طرف كې يې ديوه ګزپه اندازه پرېښودترڅوشفيع لره حق شفعه ثابته نه شي نوشفيع له حق شفعه څخه محروميږي ولى كومه حصه چې خرڅه شوي ده همسايه دهغې شفيع نه دى اودكومې حصي چې همسايه دى هغه خرڅه شوي نه ده .

(۱۲)كه مشترى دكورڅه برخه (مثلاسمه حصه )دمعينوثمنو (مثلازردرهمو)په عوض واخيسته چې دهغې خبرشفيع ته ورسيدومګرهغه دشفعه دعوى ونه كړه بيامشترى پاتې نهه حصي واخيستى نوپه اولنى حصه كې شفيع لره حق شفعه وولى چې هغه همسايه وومګرپه پاتې نهه حصوكې دشفعه حق نه لري ولى چې مشترى داولنى حصي په اخيستلوسره دبائع شريک جوړشواوپه حق شفعه كې شريک له همسايه څخه مقدم دى يعنى دشريک په موجودوالى كې همسايه دشفعه حق نه لري په دي وجه اوس شفيع لره دشفعه حق نشته .

(۱۳)كه مشترى مكان دثمنوپه عوض واخيستى بيايې بائع ته دمسمى ثمنوپرځاى جامه وركړه نوشفيع به دشفعه دحق په وجه سره مكان په مسمى ثمنوسره وري نه دجامى په بدله كې ولى چې دمكان عوض ثمن مسمى دي دجامي دوركولواجازه خودبائع اومشترى په منځ كې دبل عقدپه وجه سره مشترى ته حاصله شوي ده دعقداول په وجه سره نه ده لهذاشفيع به يې دثمن مسمى په عوض وري .

(۱۴) وَلَا تُكْرَهُ الْحِيلَةُ لِإِسْقَاطِ الشُّفْعَةِ وَالزَّكَاةِ (۱۵) وَأَخَذَ حَظَّ الْبَعْضِ بِتَعَدُّدِ الْمُشْتَرِي لَا بِتَعَدُّدِ الْبَائِعِ (۱۶) وَإِنْ اشْتَرَى نِصْفَ دَارٍ غَيْرِ مَقْسُومٍ أَخَذَ الشَّفِيعُ حَظَّ الْمُشْتَرِي بِقِسْمَتِهِ (۱۷) وَلِلْعَبْدِ الْمَدْيُونِ الْأَخْذُ بِالشُّفْعَةِ مِنْ سَيِّدِهِ كَعَكْسِهِ (۱۸) وَصَحَّ تَسْلِيمُ الشُّفْعَةِ مِنَ الْأَبِ وَالْوَصِيِّ وَالْوَكِيلِ

**ترجمه**:اومكروه نه ده حيله كول دشفعه اوزكوة دساقطولولپاره ،اواخيستل دځينودحصي دتعددمشترى په وجه سره ده نه دتعددبائع په وجه سره ،اوكه يې واخيستى نصف مكان غيرمقسوم نواخلي به شفيع دمشترى

حصه دده له تقسيم سره ،او عبد مأذون مديون لره حق شته دشفعه په ذريعه سره داخيستلو له خپل مولی ځخه لکه چې د دې په عکس کې ،اوصحيح دی پرېښودل دشفعه دپلار ،وصی او وکيل له طرف ځخه.

**تشريح**:(۱۴)دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دحق شفعه له ثبوت ځخه وړاندې داسقاط شفعه لپاره حيله کول مکروه نه دي ولی چې له ثبوت حق ځخه وروسته په حيله کولوسره دچادحق په دفع کولوکې دهغه ضرراوپرهغه ظلم دی حال داچې له ثبوت ځخه وړاندې امکان ثبوت ختم کول ظلم نه دی ،دامام محمد رحمه الله په نزدله ثبوت ځخه وړاندې هم مکروه ده ولی چې شفعه له شفيع ځخه ددفع ضررلپاره مشروع شوې ده نوکه موږدحيلې اجازه ورکړونوله شفيع ځخه موضررختم نه کړ،دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دی لمافی الدرالمختار:واماالحيلة لدفع ثبوتها ابتداء فعندابی يوسف لاتكره وعند محمدتكره (ويفتی بقول ابی يوسف فی الشفعة (الدرالمختارعلی ردالمحتار:۵/۱۸۳)،همدا اختلاف دزکوة دساقطولپاره په حيله کې هم دی يعنی دامام ابويوسف رحمه الله په نزدجائزاو دامام محمد رحمه الله په نزدمکروه ده ،دامام محمد رحمه الله پرقول فتوی ده لمافی الشامية:وفی الزكاة (يفتی )علی قول محمدوهذاالتفصيل حسن (ردالمحتار:۲/۲۲)

(۱۵)ځوکسانويوه ځمکه واخيسته اوخرڅونکی يودی نوداخيستونکودتعددپه وجه سره به اخذشفعه هم متعدده وي يعنی شفيع لره داجائزده چې هغه دمتعددواخيستونکومتعددي حصې دشفعه دحق په وجه سره واخلي اوداهم جائزده چې دکوم يوه اخيستونکی حصه واخلي اودنورحصې پرېږدي ،اوکه خرڅونکي ځوکسان وي اواخيستونکی يووي نواخذشفعه به متعدده نه وي بلکه شفيع به ياخوټوله ځمکه اخلي يابه ټوله پرېږدي دفرق وجه داده چې که په دي دوهم صورت کې شفيع دځمکې بعض حصه واخلي اوبعض پرېږدي نوپرمشتری دعقدتفريق لازميږي په کوم کې چې دمشتری ضرردی حال داچې شفعه ددي لپاره مشروع شوي ده ترڅوله شفيع ځخه ضرردفع شي نوکه دشفعه په وجه سره دمشتری ضررله شفيع ځخه هم ديروي نوداسې شفعه مشروع نه ده ،په خلاف داول صورت ولی چې په هغه کې شفيع ديوه مشتری قائم مقام ګرځي چې په هغه سره په نوروم‌شتريانوتفريق صفقه نه لازميږي لهذادهغوئ ضررهم نشته په دي وجه داصورت مشروع دی.

(۱۶)که بائع له مکان ځخه نصف حصه پربل چاخرڅه کړه اوکومه حصه چې يې خرڅه کړي وي هغه غيرمقسومه ده بيامشتری اوبائع په خپل منځ کې تقسيم وکړنوشفيع لره داحق دی چې کومه حصه چې له کومه ځايه هم دمشتری په برخه رسيدلي ده هغه په شفعه واخلي که هغه حصه دشفيع په طرف کې وي اوکه نه وي يادي شفعه پرېږدي ،شفيع لره داحق نه شته چې دی تقسيم مات کړي ولی چې تقسيم قبضې لره متمم دی په دي وجه چې له تقسيم ځخه بغيرد منفعت تکميل نه کيږي اوشفيع دمشتری قبضه نه شي ماتولی نوکوم چې متمم قبضه وي هغه هم نه شي ماتولی.

(۱۷)مأذون مقروض غلام لره جائزده چې دشفعه ددعوی په کولوسره دمولی مکان وغيرواخلي مثلا دمولی دمکان څنګ ته دده دمأذون مقروض غلام مکان دی مولی خپل مکان خرڅ کړنوغلام لره جائزده چې دی دشفع دعوی وکړي اودمولی دامکان واخلي لکه څرنګه چې ددي عکس جائزدی مثلامأذون مقروض غلام مکان خرڅ کړنودده مولی لره داجائزده چې دشفعه دعوی وکړي دامکان واخلي ولی چې په شفعه وړل

داخيستلو په درجه کښ دی او کله چې پرغلام محيط قرض دی نو په دي وخت کښ په غلام او مولی کښ يو ه لره له هغه بل څخه کوم شئ اخيستل جائزوي نو دشفعه په وجه سره يو ه لره د هغه بل مکان ورل به هم جائزوي .

(۱۸) که کوم داسې مکان خرڅ شو په کوم کښ چې يو ماشوم لره حق شفعه ثابت وي او د ماشوم پلار يا وصی يا وکيل له حق شفعه څخه دست بردار شي يعنې شفعه پريږدي نو دشيخينو په نزد د دوئ شفعه پرېښودل صحيح ده ،حال داچې د امام محمد رحمه الله د پلار وغيره شفعه پريښودل نه معتبروي ولې چې حق شفعه داسې حق دی کوم چې ماشوم لره ثابت دی دکوم دابطال حق پلار وغيره نه لري لکه څرنګه چې دوئ لره دده دحق قصاص دابطال حق نشته ،دشيخينو دليل دادی چې په شفعه يو قسم تجارت دی په کوم کښ چې دنفع او نقصان دواړو احتمال شته اوپر ماشوم دپلار وغيره ولايت شفقتي دی او کله په ترک شفعه کښ شفقت وي لهذا مصلحت په همدي کښ دی چې پلار وغيره لره دترک شفعه اختيار وي .

## كِتَابُ الْقِسْمَةِ

### داکتاب دقسمت (تقسيم) په بيان کښ دی

قسمة داقتسام نوم دی لکه چې قدرت داقتدار نوم دی ،اوشرعا د حقوقو تمييز او دحصو تعديل ته قسمة ويل کيږي. دقسمة سبب دټولو شرکاؤ يا دځينو شرکاؤ له خپل ملک څخه علی وجه المخصوص داتنفاع طلبول دي .دقسمت رکن هغه فعل دی په کوم سره چې په حصو کښ افراز او تمييز حاصل شي لکه په مکيلي شئ کښ کيل او په موزوني کښ وزن او په عددی کښ عدد .او د قسمة شرط دادی چې په قسمة سره به منفعت نه ختميږي ،او دقسمة حکم دشريک حصه په جلا ډول سره متعين کول دی .دجواز قسمة دليل دادی چې نبی کريم ﷺ خيبر پر صحابه کرامو ﷺ تقسيم کړی وو .

له کتاب الشفعه سره دکتاب القسمة مناسبت دادی چې قسمة او شفعه دواړه د حصه شائعه له نتائجو څخه دي ولې چې دشفعه په اسبابو کښ ترټولو قوی سبب شرکت فی نفس المبيع دی ،بيايې دشفعه احکام دقسمة په احکامو له دي وجه مقدم کړي دي چې تملک بالشفعة کله کله دقسمة لپاره سبب ګرځي او سبب له مسبب څخه مقدم وي په دي وجه يې دشفعه احکام مقدم ذکر کړل .

(۱) هِيَ جَمْعُ نَصِيبٍ شَائِعٍ فِي مُعَيَّنٍ (۲) وَتَشْتَمِلُ عَلَى الْإِفْرَازِ وَالْمُبَادَلَةِ (۳) وَهُوَ الظَّاهِرُ فِي الْمِثْلِيِّ فَيَأْخُذُ حَظَّهُ حَالَ غَيْبَةِ صَاحِبِهِ وَهِيَ فِي غَيْرِهِ فَلَا يَأْخُذُ (۴) وَيُجْبَرُ فِي مُتَّحِدِ الْجِنْسِ عِنْدَ طَلَبِ أَحَدِ الشُّرَكَاءِ لَا فِي غَيْرِهِ

**ترجمه** :هغه جمع (يوځای) کول دي دهغه حصې کومه چې شائع وي ،او قسمة مشتمل دی دحصه په جلاکولو باندي او پر مبادله باندي ،او افراز غالب وي په مثلی شيانو کښ نو ورلی شي خپله حصه دملګري دغائب والي په حالت کښ او مبادله غالبه وي په غير مثلی کښ نو نه شي ورلی ،او جبر به کول کيږي په متحد الجنس کښ له شرکاء څخه ديوه دطلب پروخت نه په غير متحد الجنس کښ .

**تشريح** :(۱) مصنف رحمه الله دقسمة اصطلاحی تعريف په دي ډول کړی دی چې په يو معين شئ کښ شائع حصه يوځای کول ته قسمت ويل کيږي مثلا يو مکان دڅو کسانو په منځ کښ مشترک دی نو ددي مکان په هرجزء کښ

دهريوه شريک حصه شائعه شته نو كله چې دامكان پردې شركاء تقسيم شي نو دمكان په اجزاء كې دهريوه منتشره حصه او س مجتمع (يوځاى) شوه دهمدې منتشرو اجزاء ديوځاى كولو نوم قسمة دى .
(٢)تقسيم پر دوو خبرو مشتمل وي (١) افراز يعنى ديوه حصه دهغه بل له حصې څخه جلاكول (٢) مبادله يعنى ديوه حصه دبل په حصه بدليدل .افراز يعنى ديوه حصه دهغه بل له حصې څخه جلاكيدل خوپه تقسيم كې ښكاره ده ،پاتې شوه مبادله نوهغه هم په تقسيم كې موندل كيږي ولى دتقسيم په نتيجه كې چې څه ديوه په حصه كې جمع شول له هغه څخه بعض خودده حق دى او بعض دبل شريک حق وو او دهغه بل شريک حصه هم همداشان ده چې له هغې څخه څه دده حق دى او څه دمخكنى شريک حق وو مثلا زيد او بكر دواړو يو كور وانيستى نو ددواړو په ملكيت كې شيوع ده بيا چې يې كله تقسيم كړنو يو طرف زيد ته ورسيد او بل طرف بكر ته حال داچې ددواړو په ملكيت كې شيوع وه نو كومه حصه چې زيد ته رسيدلې ده په هغه كې دبكر حصه وه او د بكر په حصه كې دزيد حصه وه او س گواكى زيد له خپلې حصې سره دبكر حصه يوځاى كړه او دده دحصې په بدله كې يې هغه حصه وركړه كومه چې دزيد په هغه طرف كې وه چې دبكر په حصه كې دى .نو په تقسيم كې يو شريک دبل شريک حق دخپل هغه حق په عوض كې وړي كوم چې دبل شريک په حصه كې دده پاتې شوى دى او همدا مبادله ده .
(٣)نو څرنگه چې په قسمة كې دافراز او مبادله دواړه اړخه شته مگر په مثلى شيانو كې (مكيلات موزنات او عددي متقارب شيان )افراز ډير ښكاره ده ولى چې دمثلى شيانو په ابعاضو او افرادو كې تفات نه وي مثلا له مشترک غنمو څخه چې كوم يو شريک وړي هغه په ظاهر او باطن هر اعتبار سره دهغه مثل وي كوم چې دوهم شريک وړي په دې وجه په مثلى شيانو كې دافراز معنى غالبه ده .
يا څرنگه چې په افراز كې خپل عين حق وړل كيږي لهذا په مثلى شيانو كې دشريک دنه موجودوالى په صورت كې هم هغه خپله حصه وړلى شي ولى چې داخپله حصه وړل دي كوم لره چې دشريک وجود ضروري نه دى ،او په غير مثلى شيانو (لكه حيوانات ،اوعروض )كې دتفاوت په وجه سره دمبادله معنى ډيره ښكاره ده ولى چې په دوو اسانو كې ډيرفرق وي نو كومه يوه حصه خپل حق گڼل ممكن نه دي لهذا ديوه شريک دنه وجود په صورت كې هغه بل شريک لره دخپلې حصې دوړلو حق نشته ولى چې مبادلې لره دهغه بل شريک وجود ضروري دى.
(٤)كه مشترک شيان متحد الجنس وي مثلا صرف اوزې وي يا صرف جامې وي او له شركاء څخه كوم يوه له قاضى څخه دقسمة مطالبه وكړه او نور شريكان په تقسيم راضى نه وي نو قاضى به جبرا ددوئ په منځ كې تقسيم كوي ولى چې په مذكوره صورت كې دمبادلې معنى ډيره ظاهره ده او په مبادله كې چې كله له ده سره دغير حق متعلق وي نو دقاضى جبر جاري كيږي.او كه مختلف الجنس وي مثلا او ښان ،اسان او پسونه وغيره وي نو قاضى نور شريكان په قسمت نه شي مجبور كولى ولى چې په مختلف الجنس شيانو ديېخې ډير تفاوت په وجه سره مساوات او برابري مشكله ده ،البته كه ټول شريكان په تقسيم راضى شي نو بيا ددوئ درضا او خوښى په وجه سره تقسيم جائز دى ولى چې حق ددوئ دى .

(۵) وندب نصب قاسم رزقه في بيت المال ليقسم بلا أجر (۶) وإلا نصب قاسم يقسم بأجر (۷) بعدد الرؤس (۸) ويجب أن يكون عدلاً أميناً عالماً بالقسمة (۹) ولا يتعين قاسم واحد (ولا يشترك القسام (۱۰) ولا يقسم العقار بين الورثة بإقرارهم حتى يبرهنوا على الموت وعدد الورثة (۱۱) ويقسم في المنقول والعقار المشترى (۱۲) ودعوى الملك

**ترجمه**: او مستحب دى قاسم مقرركول چې دهغه تنخواه له بيت المال څخه وي ترڅو هغه تقسيم وكړي بلا اجرته. كنه نو مقررېږي به قاسم كوم چې تقسيم كوي په اجرت سره. دشركاء دعدد روس مطابق. او واجب ده چې قاسم عادل وي امين وي عالم بالقسمة وي. او متعين كېږي دي نه صرف يو قاسم او نه دي شريكان كيږي تقسيم كونكى. او نه دي تقسيمېږي ځمكه دورثه وپه منځ كې د دوئ په اقرار سره ترڅو چې هغوئ ثبوت پېښ كړي پر مرګ او دورثه وپر شمار. او تقسيمېږي به منقولي مال او اخيستل شوي ځمكه. او دملك مطلق په دعوى كې.

**تشريح**: (۵) يعنى قاضى ته په كار ده چې دى يو داسې قاسم (تقسيم كونكى) مقرر كړي چې دهغه تنخواه بيت المال څخه وي ترڅو هغه دخلكو په منځ كې بغيرله مزدورى اخيستلو دجائيداد ونو تقسيم كوي ولى چې تقسيم دعمل قضاء له جنس څخه دى په دې دول چې په تقسيم سره دقطع جدال (دجنجال دختمولو) تكميل كيږي لهذا دقاسم رزق دقاضى له رزق سره مشابه شو په دې وجه به دده رزق هم دقاضى درزق په څير له بيت المال څخه وي. همدراز قاسم هم دقاضى او مفتى په شان دعامو خلكو دمفاد لپاره وي لهذا دقاضى او مفتى په شان به دقاسم رزق هم له بيت المال څخه وي.

(۶) قوله والا فينصب قاسم يقسم باجراى وان لم يتيسر نصب قاسم رزقه من بيت المال ينصب قاسم وجعل رزقه على المتقاسمين. يعنى كه قاضى داسې قاسم مقرر نه كړي چې دهغه تنخواه له بيت المال څخه وي نو بيا دې داسې قاسم مقرر كړي كوم چې له متقاسمينو څخه په اجرت اخيستلو سره تقسيم وكړي او اجرت به له متقاسمينو څخه په دې وجه اخلي چې دتقسيم نفع متقاسمينو ته رسيږي نو دقاسم اجرت به هم دمتقاسمينو په ذمه وي.

(۷) قوله بعدد رؤس اى يجب على المتقاسمين الاجرة على عدد رؤسهم. يعنى دتقسيم اجرت دامام صاحب په نزد دمتقاسمينو دشمار په حساب سره دى دملكيت په حساب سره نه دى ولى چې اجرت دتميز الحصص په مقابله كې دى په كوم كې چې هيڅ تفاوت نشته لكه دكثير والاحصه چې جلا كيږي همدا شان دقليل والاحصه جلا كيږي بلكه كله خو دقليل والا دحصه په جلا كولو كې دومره مشقت وي كوم چې دكثير والا په حصه كې نه وي لهذا اجرت به دملكيت په حساب سره نه وي. دصاحبينو په نزد به اجرت دتقسيم حصص په حساب سره وي ولى چې اجرت دتقسيم ملک بوج او خرچه ده نو بقدر ملک به وي.

**فائده**: دامام صاحب قول راجح دى لمافى الهندية: واجرة القسام اذا استاجر الشركاء للقسمة فيما بينهم على عدد الرؤس لا على مقادر الانصباء (هندية: ۲۲۱/۵) وقال العلامة الحصكفى: وهو على عدد الرؤس) مطلقا لا الانصباء خلافا لهما. قال العلامة ابن عابدين: (قوله خلافا لهما) حيث قالا الاجر على قدر الانصباء لانه مؤنة الملک وله ان الاجر مقابل بالتميز وهو قد يصعب فى القليل وقد ينعكس فتعذر اعتباره فاعتبر اصل التميز ابن كمال (الدر المختار مع الشامية: ۱۸۰/۵)

(۸)ضروري ده چې قاسم به عادل پرهيزګار امانت دار اوپه تقسيم پوه وي په دي وجه چې تقسيم دعمل قضاء له جنس څخه دی لهذا دقاضي صفات په تقسيم کونکی کې هم ضروري دي ،همدارازپه دي وجه هم دقاسم امين والی اوعالم بالقسمة والی ضروري دی چې دامين پرقول اعتماد اودامين پرقسمة قدرت ضروري دی اوددي شيانو لپاره دقاسم امين والی اوعالم بالقسمة والی ضروري دی.

(۹)قاضي دي خلګ په يوه قاسم نه مجبوروي يعنی خلګ دي پردي نه مجبوروي چې دتقسيم لپاره په صرف همدايو کس په اجرت نيول کيږي بل کس به نه نيول کيږي ولی چې دتقسيم لپاره څوک په اجرت نيول عقداجاره ده اوپه عقودو کې جبرنه وي ،همدرازتقسيم کونکي به داسې نه پريږدي چې هغوئ په خپل منځ کې شرکت وکړي ولی چې په دي ډول سره به هغوئ په يوبل په اعتماد کولو سره بيخې ډيراجرت اخلي په کوم کې چې دعامو خلګو نقصان دی.

(۱۰)که قاضي ته شرکاء حاضرشول اوددوئ په قبضه کې مکان ياځمکه ده اودعوی يې وکړه چې موږته داځمکه له فلانی ميت څخه په ميراث کې پاتي شوي ده لهذا دازموږپه منځ کې تقسيم کړه نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبه قاضي داځمکه نه تقسيموي ترڅوچې داخلګ دخپل مورث پرمرګ اودهغه دوارثانوپه شمارباندي ګواه پيښ نه کړي ولی چې ددي ځمکې تقسيمول قضاء علی الميت ده په دي وجه چې ځمکه ترتقسيم وړاندي دميت ملک ده نودصرف دعوی بلابيّنه په وجه سره قضاء علی الميت صحيح نه ده.

**فائده**:دصاحبينو په نزدبه قاضي ځمکه صرف دوارثانو په اعتراف سره تقسيموي ولی چې ددي خلګو قبضه ددوئ دملکيت دليل ده اوددوئ اقرارددوئ دربښتياګوئي نښه ده اوددوئ کوم مزاحم هم نشته لهذا قاضي به يې ددوئ په منځ کې تقسيموي ،البته دتقسيم په تحرير کې به داسې ليکي چې ماداځمکه ددي خلګو په وينا سره تقسيم کړي ده ترڅو دقاضي داتقسيم صرف تردوئ محدودپاتي شي له دوئ څخه علاوه پرکوم بل شريک داحکم ونه شي.

(۱۱)که مال مشترک له ځمکې څخه علاوه منقولی شئ وواوڅوکسانودعوی وکړه چې داموږته په ميراث کې رسيدلی دی لهذا داپرموږتقسيم کړه نوبالاتفاق به يې قاضي تقسيموي ولی چې دمنقولی شئ په تقسيم کې فائده ده په دي وجه چې منقولی شئ دحفاظت محتاج دی نوله تقسيم څخه وروسته چې هريوه ته څه په لاس ورشي هغه ده هغه حفاظت کوي ،اوکه دځمکې قابضينو دادعوی وکړه چې داځمکه موږاخيستي ده اوله قاضي څخه يې دتقسيم کولو مطالبه وکړه نوهم به بالاتفاق قاضي داتقسيموي په دي وجه چې له بيع څخه وروسته داځمکه دبائع په ملک کې پاتي نه شوه نوددي تقسيمول قضاء علی الغيرنه ده.

(۱۲)قوله ودعوی الملک ای وبقسم فی دعوی الملک ،يعنی که قابضينو صرف دخپل ملکيت دعوی وکړه اوملک سبب يې بيان نه کړچې داځمکه څرنګه زموږپه ملک کې راغلي ده اوله قاضي څخه يې دتقسيم غوښتنه وکړه نوهم به يې قاضي تقسيموي ولی چې په دي صورت کې قابضينو دملک غيراقرارنه دی کړی لهذا دقاضي تقسيم قضاء علی الغيرنه ده.

(۱۳) وَلَوْ بَرْهَنَا أَنَّ الْعَقَارَ فِي أَيْدِيهِمَا لَمْ يُقْسَمْ حَتَّى يُبَرْهِنَا أَنَّهُ لَهُمَا (۱۴) وَلَوْ بَرْهَنَا عَلَى الْمَوْتِ وَعَدَدِ الْوَرَثَةِ وَالدَّارُ فِي أَيْدِيهِمَا وَمَعَهُمَا وَارِثٌ غَائِبٌ، أَوْ صَبِيٌّ قُسِمَ بِطَلَبِهِمَا (۱۵) وَنُصِبَ وَكِيلٌ أَوْ وَصِيٌّ يَقْبِضُ نَصِيبَهُ (۱۶) وَلَوْ كَانُوا مُشْتَرِينَ وَغَابَ أَحَدُهُمْ، (۱۷) أَوْ كَانَ الْعَقَارُ فِي يَدِ الْوَارِثِ الْغَائِبِ (۱۸) أَوْ حَضَرَ وَارِثٌ وَاحِدٌ لَمْ يُقْسَمْ

**ترجمه**: كه دوو شريكانو بيّنه پيش كړه چې ځمكه د دوئ په قبضه كې ده نو تقسيم به نه كول كيږي ترڅو چې دوئ دا ثابته كړي چې هغه ځمكه د دوئ دواړو ده، او كه دوه شريكان بيّنه پيش كړي پر مرګ او دورثه وپر تعداد باندي او مكان د دوئ دواړو په قبضه كې وي او له دوئ دواړو سره يو بل وارث هم وي كوم چې غائب وي يا ماشوم وي نو تقسيم به كيږي د دوئ دواړو په غوښتنه سره، او مقرريږي به وكيل يا وصی چې هغه قبض كړي د هغه حصه، او كه هغوئ اخيستونكي وو او غائب وو له دوئ څخه يو، يا ځمكه د غائب وارث په قبضه كې وه يا د ماشوم په قبضه كې وه، يا حاضر وو صرف يو وارث نو تقسيم به نه كيږي.

**تشريح**: (۱۳) كه يوه ځمكه د دوو كسانو په قبضه كې وي او دواړو پر دي قبضه ګواه پيش كړل بيا يې له قاضي څخه د تقسيمولو غوښتنه وكړه نو قاضي به دا ځمكه د دوئ په منځ كې نه تقسيموي ترڅو چې دوئ پر دي باندي ګواه پيش نه كړي چې دا ځمكه زموږ ملك ده ولې چې احتمال شته چې دا دي د كوم بل چا ځمكه وي د دوئ په قبضه كې دي اجارة يا اعارة وي لهذا ترڅو چې په ګواهانو سره د دوئ ملكيت ثابت نه شي تر هغه وخته به تقسيم نه كيږي، په دي مسئله اوتيره شوي مسئله كې فرق دادی چې هلته له قبضي سره د ملك دعوى هم شته يعني قابضين د خپل ملكيت دعوى هم كوي او دلته صرف قبضه ده د ملك دعوى نشته.

(۱۴) او كه دوه وارثان قاضي ته راغلل او دخپل مورث پر وفات او دوارثانو پر تعداد يې ګواهان پيش كړل او مورثي كور د دوئ په قبضه كي وو او له دوئ دواړو سره يو بل وارث هم وو كوم چې في الحال غائب دی يا له دوئ سره يو وارث نابالغ ماشوم وو نو قاضي به دا كور د دي حاضر وو وارثانو په مطالبه سره تقسيموي.

(۱۵) قاضي به د غائب له طرف څخه وكيل او د نابالغ له طرف څخه وصی مقرروي كوم چې د غائب او نابالغ حصه قبض كړي ولی چې په دي كې د غائب او نابالغ رعايت او د دوئ فائده ده.

(۱۶) كه د تقسيم غوښتونكي وارثان نه وو بلكه اخيستونكي وو مګر له دی اخيستونكو څخه يو غائب وو نو قاضي به د حاضرينو په غوښتنه سره كور نه تقسيموي ولی چې په وارث او اخيستونكي كې فرق دی په دي ډول چې د وارث ملك د خلافت ملك دی نو له وارثانو څخه يو د ميت له طرفه خصم او بل د خپل ځان له طرفه خصم دی په دي ډول د قاضي قضاء د متخاصمينو په حضور كې شمارل كيږي حال دا چې د مشتری ملك جديد دی نو حاضر د غائب نائب نه شي جوړيدلی په دي ډول په دي صورت كې د قاضي حكم قضاء علی الغائب شمارل كيږي كوم چې جائز نه دی.

(۱۷) همداشان كه ټوله ځمكه يا د هغې بعض حصه د هغه وارث په قبضه كې وي كوم چې غائب دی نو د حاضرينو په غوښتنه سره به قاضي تقسيم نه كوي ولی چې قبضه د غائب ده نو د غائب يا د هغه د وكيل له حضور څخه بغير د قاضي تقسيم كول قضاء علی الغائب ده كوم چې ناجائز ده، همداشان كه ځمكه د نابالغ په

قبضه کې وي نو هم به ځمکه نه تقسیمیږي ولې چې دا دصغیر له طرف څخه د کوم خصم حاضر بغیر قضاء علی الصغیر ده کومه چې ناجائزه ده ولې چې خصم حاضر نه دی او په خپله صغیر خصم نه دی.

(۱۸) که له وارثانو څخه یو حاضر شو او دتقسیم مطالبه یې وکړه نو قاضي به تقسیم نه کوي اګر که هغه دمورث پرمرګ او دوارثانو په تعداد باندي ګواه هم پیش کړي ولې چې تقسیم کول دقاضي حکم دی او دقاضي حکم لره دمدعی او مدعی علیه وجود ضروري دی حال دا چې دا خو یو فرد دی نو یو فرد به یا مدعی جوړیږي یا مدعی علیه، دواړه نه شي کیدای.

(۱۹) وَقُسِمَ بِطَلَبِ أَحَدِهِمْ لَوِ انْتَفَعَ كُلٌّ بِنَصِيبِهِ وَإِنْ تَضَرَّرَ الْكُلُّ لَمْ يُقْسَمْ إِلَّا بِرِضَاهُمْ وَإِنِ انْتَفَعَ الْبَعْضُ وَتَضَرَّرَ الْبَعْضُ لِقِلَّةِ حَظِّهِ قُسِمَ بِطَلَبِ ذِي الْكَثِيرِ فَقَطْ (۲۰) وَيُقْسَمُ الْعُرُوضُ مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ (وَلَا يُقْسَمُ جِنْسَانِ (۲۱) وَالْجَوَاهِرُ وَالرَّقِيقُ (۲۲) وَالْحَمَّامُ وَالْبِئْرُ وَالرَّحَا إِلَّا بِرِضَاهُمْ (۲۳) دُورٌ مُشْتَرَكَةٌ (۲۴) أَوْ دَارٌ وَضَيْعَةٌ أَوْ دَارٌ وَحَانُوتٌ قُسِمَ كُلٌّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَةٍ

**ترجمه**: او تقسیمیږي به دیو شریک په غوښتنه سره که نفع اخیستلی شوای هریوه پرخپله حصه باندي او که دټولو نقصان وو نو تقسیم به نه کیږي مګر دټولو په خوښه سره او که ځینو فائده اخیستلی شوای او ځینو ته ضرر وو د حصي دکموالي په وجه سره نو تقسیمیږي به ددیري حصي والا په غوښتنه سره، او تقسیمیږي به اسباب (سامان) چې دیوه جنس وي او نه به تقسیمیږي ددوو جنسونو والا، او (نه به تقسیمیږي) جواهر او غلام، حمام او څاه او ژرنده مګر دټولو په خوښه سره، څو مشترک مکانونه دي، یا مکان او ځمکه ده یا مکان او دوکان دي نو تقسیمیږي به هریوه ځانته ځانته.

**تشریح**: (۱۹) که له شرکاؤ څخه هریوه په خپله حصه باندي وروسته له قسمة نفع اخیستلی شوای نو له شرکاؤ څخه دیوه په غوښتنه سره به قاضي تقسیم کوي ولې چې په تقسیم کې دمطالبه کونکی دمنفعت تکمیل دی او تقسیم دده حق دی لهذا پر قاضي تقسیم کول واجب دی. که مشترک شئ دومره کوچنی وو چې په تقسیم کې دهر شریک ضرر وو نو قاضي به تقسیم نه کوي ولې چې جبر علی القسمة دتکمیل منفعت لپاره دی حال دا چې په دي صورت کې خو تفویت منفعت دی تکمیل نه دی، همدرازه په دا سې صورت کې دتقسیم طلب کولو والا متعنت دی بلا وجه دبل چا ته نقصان رسوي لهذا حاکم به دده غوښتنه نه مني. البته که ټول شرکاء په قسمة راضي وي نو قاضي به تقسیم کوي ولې چې حق خو ددوئ دي او دوئ پرخپل کار ښه پوهیږي چې په تقسیم کې ددوئ څه ګټه ده.

(۲۰) که هغه شئ دا سې وي چې له شرکاء څخه یو خوله تقسیم وروسته له خپلې حصي څخه دکثرت په وجه سره انتفاع حاصلوی شي او دهغه بل په وجه دقلت حصه نقصان وي نو که دیر حصي والا مطالبه وکړه نو قاضي به تقسیم کوي ولې چې دی له خپلې حصي څخه نفع اخیستلی شي لهذا دده مطالبه معتبره ده ولې هغه بل ته اګر که ضرر دی مګر دچا حق دغیر دضرر په وجه سره نه باطلیږي، او که لږ حصي والا مطالبه وکړه نو قاضي به تقسیم نه کوي ولې چې دتقسیم دمطالبه کونکی نقصان دی بیا هم مطالبه کوي نو دی متعنت دی لهذا دده مطالبه معتبره نه ده.

**الالفاظ**: ای شرکاء فیما یمکن قسمته اذا طلبوها لم یقسم؟

**فقل**:السكة الغير النافذة ليس لهم ان يقسموها وان اجمعوا على ذالك.(الاشباه والنظائر)

(۲۱)يعنى كه په سامان كې څوكسان سره شريک وي اوهغوئ دتقسيم مطالبه وكړه نوكه عروض ټول يوجنس وي نوقاضى به تقسيم كوي ولى چې دمتحدالجنس والى په وجه سره مقصوديودى نوله تقسيم څخهه تعديل فى القسمة اوتكميل المنفعة حاصليږي په دي وجه داتقسيم جائزدى .اوكه عروض مختلف الجنس وي نوقاضى به بعض په بعضوكې نه تقسيموي چې څينوشركاؤته بعض اجناس وركړي اوڅينونوروته بيانوربعض اجناس وركړي ولى چې په اجناسوكې اختلاط نشته نوپه تقسيم سره تميزنه راځي بلكه په تقسيم سره بعض اجناس دبعضوپه عوض كې ولاړل كوم لره چې دطرفينوتراضى ضروري ده دقاضى جبرجائزنه دى .

(۲۲)قوله والجواهروالرقيق اى لايقسم الجواهروالرقيق ،يعنى امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې قاضى به مشترک جواهرات اوغلامان (جبرا)نه تقسيموي ولى چې په انسانانوكې باطنى تفاوت بيخي ډيردى نودادعروض مختلف الاجناسوپه شان دي اوپه جوهراتوكې خوترانسانانوهم ډيرتفاوت دى په دي وجه به يې قاضى نه تقسيموي ،صاحبين فرمايي چې غلامان صرف نارينه يابنځينه وونوغلامان به تقسيموي دمتحدالجنس والى په وجه سره كمافى الابل والغنم.

**فائده**:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافى اللباب:قال الامام بهاء الدين فى شرحه الصحيح قول ابى حنيفة رحمه الله واعتمده المحبوبى والنسفى وصدرالشريعة وغيرهم كذافى التصحيح (اللباب فى شرح الكتاب على هامش الجوهرة :۲/۳۱۹).وقال العلامة الحصكفى :ولاالرقيق وحده لفحش التفاوت فى الآدمى وقالايقسم لوذكورافقط واناثافقط كماتقسم الابل والغنم ورقيق المغنم ولاالجواهر(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۵/۱۸۳)

(۲۳)قوله والحمام والبئروالرحى الخ اى لايقسم الحمام والبئروالرحى الخ ،يعنى قاضى به حمام ،څاه ،اوژرنده نه تقسيموي همداشان هرهغه شئ چې طرفينولره مضروي هغه به نه تقسيموي ولى چې له تقسيم څخه وروسته په دوئ كې دهريوه شريک حصه دقابل انتفاع نه كيدلوپه وجه سره دتهولوضرردى البته كه شركاء راضى وي بياتقسيم كول صحيح دى ولى چې حق ددوئ دى اودوئ پرخپل كاربنه پوهيږي چې په تقسيم كې ددوئ څه ګټه ده .

(۲۴)يعنى كه څومكانونه دڅوشريكانوسره مشترک وي اوپه يوه ښاركي وي نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبه قاضى له دي څخه هريوجلاجلاتقسيموي ولى چې مكانونه داختلاف مقاصدواواختلاف محال اودهمسايه ګانوپه وجه سره اجناس مختلفه دي نويوكوردبل كورپه عوض كې په تقسيمولوكې برابري ممكنه نه ده په دي وجه به داسې تقسيم نه كوي مګركه شركاء په دي ډول تقسيم كولوراضى وي نوبيادي تقسيم كړي لماقلنا.صاحبين فرمايي چې كه بعض مكانونه په بعضوكې تقسيمول دشركاء په حق ښه وودهريوه ترجلاجلاتقسيمولوڅخه نوقاضى به بعض دنوروبعضوپه عوض كې تقسيموي ولى چې قاضى له محافظت حقوقوسره پرفعل اصلح ماموردى .

**فائده**:دمام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافى اللباب :قال الاسبيجابى الصحيح قول الامام وعليه مشى البرهانى والنسفى وغيرهما(اللباب فى شرح الكتاب على هامش الجوهرة :۲/۳۲۰)وقال العلامة ابن عابدين :اقول ولعل هذافى زمانهم والافالمنازل والبيوت

ولو من دار واحدة تتفاوت تفاوتاً فاحشاً في زماننا بدل عليه قولهم هنا لان البيوت لاتتفاوت في معنى السكنى ولهذا لو اجر اجرة واحدة في كل محلة كذا ماذكره وفي خيار الرؤية والناس هم هناك بقول زفر من انه لابد من رؤية داخل البيوت لتفاوتها تأمل (رد المحتار: ۱۸۳/۵)

(۱۲۳) او که څمکه او مکان مشترک وي يا مکان او دوکان مشترک وي نو هر يو به عليحده تقسيموي ولې چې جنس مختلف دی او برابري ممکنه نه ده.

(۲۵) وَيُصَوِّرُ الْقَاسِمُ مَا يَقْسِمُهُ وَيَعْدِلُهُ وَيَذْرَعُهُ وَيُقَوِّمُ الْبِنَاءَ (۲۶) وَيُفْرِزُ كُلَّ نَصِيبٍ بِطَرِيقِهِ وَشُرْبِهِ (۲۷) وَيُلَقِّبُ الْأَنْصِبَاءَ بِالْأَوَّلِ وَالثَّانِي وَالثَّالِثِ وَيَكْتُبُ أَسَامِيَهُمْ وَيُقْرِعُ فَمَنْ خَرَجَ اسْمُهُ أَوَّلًا فَلَهُ السَّهْمُ الْأَوَّلُ وَمَنْ خَرَجَ ثَانِيًا فَلَهُ السَّهْمُ الثَّانِي (۲۸) وَلَا تَدْخُلُ فِي الْقِسْمَةِ الدَّرَاهِمُ إلَّا بِرِضَاهُمْ (۲۹) وَإِنْ قُسِمَ وَلِأَحَدِهِمْ مَسِيلٌ أَوْ طَرِيقٌ فِي مِلْكِ الْآخَرِ لَمْ يُشْتَرَطْ فِي الْقِسْمَةِ صُرِفَ عَنْهُ إنْ أَمْكَنَ وَإِلَّا فُسِخَتْ الْقِسْمَةُ

**ترجمه**: او نقشه دي جوړي کړي قاسم د هغه کوم چې دی تقسيموي او برابر دي کړي هغه او په گزسره دي ناپ کړي او دعمارت قيمت دي ولګوي، او جلا دي کړي هره حصه د هغې له لاري او داو بو له حق سره، او نوم دي کښېږدي په حصو باندي اول، دوهم، دريم، او ودي ليکي د شرکاؤ نومان او قرعه اندازي (هيسکه) دي وکړي نو د چا نوم چې اول راووځي هغه لره اوله حصه ده او د چا نوم چې دوهم راووځي هغه لره دوهمه حصه ده، او نه دي داخلوي په تقسيم کي دراهم مګر د دوئ په خوښه سره، او که تقسيم وکړل شو او د کوم يوه او به يا د تګ راتګ لاره د هغه بل په ملک کي پاتې شوه حال دا چي د تقسيم پروخت يې دا شرط نه وو لګولی نو ودي ګرځوي له ده څخه که ممکنه وه که نه نو فسخ دي کړي تقسيم.

**تشريح**: (۲۵) د تقسيم طريقه داده چې قاسم چې کوم شئ (يعنی څمکه، مکان وغيره) تقسيموي اول دي پر کاغذ د هغه نقشه جوړه کړي ترڅو د هغه ياد ساتل ممکن وي او هغه دي پر سهام قسمة باندي برابر تقسيم کړي او په ګزسره دي ناپ کړي ترڅو د څمکي مقدار معلوم شي او که په هغې کي عمارت وي نو د هغه قيمت دي ولګوي ولې چې دعمارت ماليت په قيمت لګولو سره معلوميږي او دعمارت قيمت دي په دې وجه لګوي چې کله کله په اخر کي د دې ضرورت پېښيږي.

(۲۶) يادي د هر شريک حصه له لاري او داو بو له حصي سره جلا کړي ترڅو د بعض شرکاؤ د حصه له بعضو نورو سره تعلق پاتې نه شي او په حصو کي تميز محتقق شي.

(۲۷) يادي ديوي حصي نوم اول کښېږدي او کومه چې له هغه سره متصله ده د هغې نوم د ي دوهم کښېږدي يا دريم علی هذا القياس دي د پاتې نور نوم کښېږدي يادي د کاغذ په جلا جلا ټوټو باندي د هر صاحب حصه نوم وليکي يا دي قرعه اندازي وکړي د کوم نوم چې اول راووځي هغه ته به له حصو څخه اوله حصه وي او د چا نوم چې دوهم راووځي هغه لره به دوهمه حصه وي وهلم جرا.

(۲۸) په تقسيم کي دي دراهم او دنانير نه شاملوي مثلاً يو مکان د دوو کسانو په منځ کي مشترک دی د تقسيم پروخت قاسم داسې ووايي چې چا چې فلانی حصه ويوړه هغه څرنګه چې لرله هغه بلي حصي څخه لويه ده لهذا هغه به دا بل شريک ته دومره دراهم ورکوي نو په دې شان تقسيم دي نه کوي ولې چې تقسيم په مشترک شئ کي جاري کيږي او مشترک خو څمکه ده دراهم او دنانير مشترک نه دي، البته که شرکاء په تقسيم کي

ددراهمو په شاملولو باندي راضي وي نو بيا جائزده ولی چې په تقسيم کې ددراهمو ادنانيرو په داخلولو سره تقسيم عقد معاوضه جوړيږي او په معاوضاتو کې جبرنه وي البته په خپل منځې رضا سره جائزدي.

(۲۹) بياکه قاسم دشرکاء په منځ کې تقسيم وکړاو ديوه شريک داو بولاره دبل شريک په حصه کې راغله يا ديوه دتګ اوراتګ لاره دهغه بل شريک په حصه کې راغله او حال داچې ددي شرط په تقسيم کې نه وولګول شوی نو که دمسيل اولاري دبل شريک له حصي څخه اړول ممکن وي نو ده لره اختيار نشته چې دبل شريک په حصه کې دتګ راتګ او او بولاره جوړه کړي ولی چې په دي کې دبل شريک ضرردی لهذا دی به خپله لاره دهغه له حصي څخه اړوي ،اودلاري وغيره دهغه بل شريک له حصي څخه اړول ممکن نه وو نو بيا دي داتقسيم فسخ کړي ولی چې په دي تقسيم کې خلل دی لهذا بيرته دي له سره نوی تقسيم وکړي.

(۳۰) سُفْلٌ لَهُ عُلْوٌ وَسُفْلٌ مُجَرَّدٌ وَعُلْوٌ مُجَرَّدٌ قُوِّمَ كُلٌّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَةٍ وَقُسِمَ بِالْقِيمَةِ (۳۱) وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الْقَاسِمَيْنِ إِنْ اخْتَلَفُوا (۳۲) وَلَوْ ادَّعَى أَحَدُهُمْ أَنَّ مِنْ نَصِيبِهِ شَيْئًا فِي يَدِ صَاحِبِهِ وَقَدْ أَقَرَّ بِالِاسْتِيفَاءِ لَمْ يُصَدَّقْ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ (۳۳) وَإِنْ قَالَ اسْتَوْفَيْتُ وَأَخَذْتُ بَعْضَهُ صُدِّقَ خَصْمُهُ بِحَلِفِهِ (۳۴) وَإِنْ لَمْ يُقِرَّ بِالِاسْتِيفَاءِ وَادَّعَى أَنَّ ذَا حَظُّهُ وَلَمْ يُسَلَّمْ إِلَيْهِ وَكَذَّبَهُ شَرِيكُهُ تَحَالَفَا وَفُسِخَتْ الْقِسْمَةُ

**ترجمه**: کښته مکان دی او پر هغه بالاخانه ده او صرف کښته مکان دی او صرف بالاخانه ده نو قيمت به لګول کيږي د هريوه عليحده او تقسيميږي به دقيمت په اعتبار سره ،او قبليږي به قاسمانو ګواهي که شرکاء اختلاف وکړي ،او که دعوی وکړه له شرکاء څخه يوه چې زماله حصي څخه ده دبل شريک په قبضه کې ده حال داچې ده اقرار کړی وو دپوره حق دوصول کولو نو دده تصديق به نه کيږي مګرپه بيّنه سره ،او که يې وويل چې ما پوره حق وصول کړی وو مګر تابعض حصه لاندي کړه نو تصديق به کيږي دده دخصم دهغه له قسم سره ،او که يې اقرار نه وو کړی دپوره حق دوصول کولو او دعوی يې وکړه چې دا زماحق دی کوم چې ماته نه دی راکړل شوی او دده تکذيب وکړ دده شريک نو دواړه به قسم اخلي او فسخ کيږي به تقسيم.

**تشريح**: (۳۰) که يوسفل سره له بالاخاني مشترک وي او يوسفل بغيرله بالاخاني مشترک وي او يوه بالاخانه مشترکه وي بغيرله سفله نو دهريوه به په جلاجلا قيمت سره اندازه لګول کيږي او دقيمت په حساب سره به تقسيميږي له دي څخه ماسوا په کومه بله طريقه سره تقسيم کول معتبرنه دی ،داامام محمد رحمه الله مسلک دی ،دشيخينو په نزد به يې په ګزسره ناپ کړي او تقسيم به يې کړي ،داامام محمد رحمه الله دليل دادی چې سفل دداسې کارونو لپاره په کارراځي دکوم لپاره چې بالاخانه په کارنه شي راتلای مثلاً په سفل کې څاه ،زيرزميني (تهه خانه)،او اصطبل (داسانه طويله) جوړول ممکن دي او په بالاخانه کې ممکن نه دي نو دبرابر تقسيمولو هيڅ صورت نشته ماسواله دي چې دهريوه په قيمت سره اندازه ولګول شي.

**فائده**: دامام محمد رحمه الله قول راجح دی لمافی الهندية: ومحمد رحمه الله فی ذالک کله يعتبر المعادلة بالقيمة وعليه الفتوى (الهندية: ۲۰۴/۵). وقال العلامة الحصکفی: (سفل له) ای فوقه (علو) مشترکان (وسفل مجرد) مشترک والعلو لآخر (وعلو مجرد) مشترک والسفل لآخر (قوم کل واحد) من ذالک (عليحدة وقسم بالقيمة عند محمد وبه يفتى (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۱۸۵/۵)

(۳۱) که تقسيم کونکو شرکاء په خپل منځ کې اختلاف وکړ مثلاً يوه شريک ووېل زماله حصي څخه څه څمکه دفلانی په حصه کې ده حال داچې هغه منکردی بيا دوو قاسمانو ګواهي ورکړه چې مدعی خپله حصه پوره

پوره وري ده نودشيخينوپه نزدبه دقاسمانوگواهي قبليږي ،حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزددقاسمانوگواهي معتبره نه ده ولى چې قاسم پرخپل فعل (يعنى دتقسيم پرفعل )گواهي وركوي حال داچې پرخپل فعل گواهي معتبرنه ده ،دشيخينودليل دادى چې هغوئ پرخپل فعل گواهي نه ده وركړي بلكه دمدعى پرفعل يې گواهي وركړي ده چې مدعى خپله حصه پوره پوره وړي ده لهذا ددوئ گواهي معتبره ده .

ف: دشيخينو قول راجع دى لماقال العلامة الحكفي: انكر بعض الشركاء بعد القسمة استيفاء نصيبه وشهد القاسمان بالاستيفاء لحقه تقبل وان قسما باجر في الاصح ،وقال العلامة ابن عابدين :(قوله تقبل )لانهما شهدا بالاستيفاء وهو فعل غيرهما لابالقسمة وفي الجوهرة هذا قولهما وقاسم القاضي وغيره سواء (الدر المختار مع الشامية: ۵/۱۸٦)(كذافي القول الراجح: ۲/۲۸۱)

(۳۲)كه پرشركاؤكې يوه په تقسيم كې دغلطى دعوه وكړه اووې ويل كوم څه چې ماته په تقسيم كې رسيدلي وو له هغه څخه فلانى شئ زمادفلانى ملكرى په قبضه كې دى ،يعنى په غلطى سره داشئ دهغه قبضه ته رسيدلى دى حال داچې مدعى دتقسيم پروخت په خپله گواهي وركړي وه چې ماخپل حق پوره وصول كړى دى نوپه دې دعوى كې به دده دقول تصديق نه كيږي مگرداچې مدعى پرخپله دې دعوى باندې گواه پيش كړي ولى چې دى له تقسيم څخه وروسته دفسخ دعوى كوي نوبغيرله گواهانوبه دده دقول تصديق نه كيږي .

(۳۳)كه له تقسيم څخه وروسته له متقاسمينو څخه يوه وويل چې ماخپله حصه پوره وصول كړه بيايې وويل چې زماله حصې څخه تاڅه وړي دي ،اومدعاعليه له دې څخه منكردى نوله مدعى څخه به د بينې مطالبه وكړل شي كه هغه بينه پيش نه كړاى شوه نودمدعى عليه قول به سره له يمينه معتبروي ولى چې مدعى پرده دغصب دعوى كوي اودى منكردى اوقول دمنكرمع اليمين معتبروي .

(۳۴)كه مدعى مذكوردعوى وكړه چې دتقسيم پروخت ماته ترفلانى حده پوري حصه رسيدلي وه اوده مدعى عليه په قبضه كې يې ديوې حصې طرف ته په اشاره كولوسره وويل چې مدعى عليه زمادا حصه ماته نه ده سپارلي حال داچې مدعى له دې څخه وړاندې پرخپل ځان دوصول حق گواهي نه ده وركړې .اودده شريک (مدعى عليه )دده تكذيب وكړنودواړه به قسم اخلي اوتقسيم به فسخ كړي ولى چې دوئ دواړوله تقسيم څخه په حاصل شوي مقداركې اختلاف كړى دى نوداختلاف دمبيع اوثمنوپه مقداركې له اختلاف سره مشابه شولهذا اتحالف واجب دى .

(۳۵)وَلَوْ ظَهَرَ غَبْنٌ فَاحِشٌ فِي الْقِسْمَةِ تُفْسَخُ (۳٦)وَلَوْ اسْتُحِقَّ بَعْضُ شَائِعٍ مِنْ حَظِّهِ رَجَعَ بِقِسْطِهِ فِي حَظِّ شَرِيكِهِ وَلَا تُفْسَخُ الْقِسْمَةُ (۳۷)وَلَوْ ظَهَرَ فِي التَّرِكَةِ دَيْنٌ رُدَّتْ (۳۸)وَلَوْ تَهَايَآ فِي سُكْنَى دَارٍ ،أَوْ دَارَيْنِ أَوْ خِدْمَةِ عَبْدٍ ،أَوْ عَبْدَيْنِ ،أَوْ غَلَّةِ دَارٍ أَوْ دَارَيْنِ صَحَّ )(۳۹)وَفِي غَلَّةِ عَبْدٍ أَوْ عَبْدَيْنِ ،أَوْ بَغْلٍ أَوْ بَغْلَيْنِ ،أَوْ رُكُوبِ بَغْلٍ ،أَوْ بَغْلَيْنِ أَوْ ثَمَرِ شَجَرَةٍ ،أَوْ لَبَنِ شَاةٍ لَا

**ترجمه** :اوكه ظاهرشوديرغبن په تقسيم كې نوفسخ كيږي به ،اوكه مستحق بنكاره شوبعض شايع دده په حصه كې نورجوع به كوي دهمدې مطابق دشريک په حصه كې اوفسخ كيږي به نه تقسيم ،اوكه ښكاره شوپه تركه كې قرض نوردكيږي به تقسيم ،اوكه يې نوبت مقرركړپه اوسيدنه كې ددوويايوه مكان يادديوه يادوو غلامانوپه خدمت كې ياديوه يادوومكانوپه حاصلاتوكې نوصحيح دى .اوديوه دووغلامانوياديوه يادوو خچرانوياديوه يادووخچرانوپه سورلى كې يادرختي په ميوه كې يادبزې په شيدوكې نوصحيح نه دى.

**تشريح** :(۳۵)كه له تقسيم څخه وروسته په تقسيم كې غبن فاحش ښكاره شوه مثلاً ديوې برخې قيمت سل روپۍ دى قاضي دتقسيم پروخت زر روپۍ گرځولې وو نوتقسيم به فسخ كيږي ولې چې دقاضي ذمه واري عادلانه تقسيم كول دي او كله چې غبن فاحش ښكاره شونو معلومه شوه چې دقاضي تقسيم پرعدل مبني نه دى .يو قول دادى چې دمتقاسمينوپه خوښه سره تقسيم شوي وي نو دغبن فاحش په وجه سره تقسيم نه فسخ كيږي مگرصحيح داده چې دغبن فاحش دښكاره كيدلوپه وجه سره په هرحال كې تقسيم فسخ كيږي .

(۳۶)كه له تقسيم څخه وروسته ديوه شريك دڅه غيرمعيني حصې دريم كس مستحق ښكاره شومثلاً يو مكان ددوكسانوپه منځ كې مشترك وونصف ديوه اونصف دبل وو ،له تقسيم څخه وروسته ديوه دغيرمعين نصف حصې دريم كس مستحق ښكاره شونو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به تقسيم نه فسخ كيږي دكوم يوه دحصې دنصف چې مستحق ښكاره شوهغه لره داحق حاصل دى چې دمستحق په اندازه دي له خپل شريك څخه ويوسې يعنى په مذكوره صورت دي دخپلې حصې ربع (كومه چې دټول مكان ثمن دى )له خپل شريك څخه يوسې څرنگه چې ددې نقصان جبيره په مذكوره طريقه سره ممكنه ده لهذاتقسيم به نه فسخ كيږي .امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې دريم كس ښكاره شواوتقسيم دده په خوښه نه دى شوى لهذاداتقسيم صحيح نه دى نو داتقسيم به فسخ كيږي لهذا ابيرته به له سره نوى تقسيم كيږي .

**فائده**:دطرفينو قول راجح دى لمافي الدرالمختار:(ولو)استحقاق (بعض شائع من نصيبه لاتفسخ)جبر اخلافاللثاني،قال ابن عابدين الشامي:ان قول محمد كقول الامام وهو الاصح كمافي الهداية(الدر المختار مع الشامية:۱۸۷/۵)

(۳۷)كه وارثانو تركه تقسيم كړه بيا پرميت دخلكو قرض ثابت شونو كه قرض پرتركه محيط وي اوكه محيط نه وي په دواړوصورتونوكې به تقسيم فسخ كيږي ولې چې كه قرض محيط وي نوتركه دپوروړوحق دى .وارثانو دنورحق تقسيم كړى دى په دې وجه به تقسيم فسخ كيږي اوكه قرض محيط نه وي نوځرنگه چې له تركه سره دغرماء حق تړلى دى په دې وجه داتقسيم صحيح نه دى په دې وجه به فسخ كيږي .البته كه وارثانو دپوروړوقرض اداء كړيا پوروړوقرض معاف كړنوبيابه تقسيم نه فسخ كيږي ولى كوم شئ چې له تقسيم څخه مانع ووهغه اوس پاتې نه شو .بقول محشى مذكوره بالامسئله دكنزالدقائق په اكثرونسخوكې نشته .

(۳۸)تهايؤله مهايات څخه ده دفقهاؤپه اصطلاح كې دمنافعوتقسيم ته ويل كيږي .كله چې مصنف رحمه الله دقسمة اعيان له بيان څخه فارغ شونو دقسمة منافع بيان يې شروع كړ .صورت مسئله دادى چې دووكسانوپه يو مشترك مكان كې نوبت مقرركړچې يوه مياشت به په دې كې يواوسيږي اوبله مياشت به بل اوسيږي .ياپې په دوومشتركومكانوكې نوبت مقرركړچې په يوه مكان كې به يواوسيږي اوپه بل كې به هغه بل اوسيږي نو دااستحسانا جائزدى لقوله تعالى ﴿لها شرب ولكم شرب يوم معلوم﴾ داد حضرت صالح عليه السلام داوښې په باره كې نازل شوى دى چې يوه ورځ به اوبو څښلونوبت ددې اوښې وي اويوه ورځ به دنوروخلكو دڅارويو نوبت وي .همدارازنبي كريم ﷺ په غزوه بدركې يواوښ په دريوكسانوكې تقسيم كړى ووهغوئ پردې په نوبت سره سوړلې كوله .همدارازپردې ـ امت اجماع هم ده .همداحكم په يوه يادووغلامانوپه نوبت دخدمت

كولو هم دى مثلا يوه ورځ به ديوه خدمت كوي او بله ورځ به دبل خدمت كوي ،يا به يو غلام ديوه خدمت كوي او بل به دبل خدمت كوي ،همدا شان دا حكم ديوه يا دوو مشتركو مكانو دكتني هم دى مثلا ديوي مياشتي كته به يي يو وړي او دبلي مياشتي كته به يي بل وړي يا ديوه مكان كته به يو وړي او دبل كته به بل وړي .

(۳۹)قوله ولوفي غلة عبداوعبدين الخ اى لوتهايئافي غلة عبداوعبدين الخ ،يعني كه دووشريكانو ديوه غلام يا دوو غلامانو په كټه كي يا ديوه خچر يا دوو خچرانو په كټه كي نوبت مقرر كړ ،يا ديوه خچر يا دوو خچرانو په سورلى كي ،يا ديوي درختي په ميوه كي ،يا ديوي بزي په شيدو كي يي نوبت مقرر كړنو دا ته صورتونه صحيح نه دي ،اولني اودريم صورت بالاتفاق صحيح نه دى ولى چي په نوبت كي تعاقب دئ يعني يو له بله وروسته دى نو په كټه كي دزيادت اوكمښت احتمال دى لهذا برابري نه شي كيداى .اودوهم او څلورم صورت دامام صاحب په نزد جائزنه دى ولى چي دنوبت مقررولو جواز دضرورت پر اساس دى او دلته ضرروت نشته ولى چي اجرت تقسيمدلى شي .دصاحبينو په نزد جائز دى ولى چي دا تحادوخت په وجه سره په دواړوكي مساوات ممكن دى .او پنځم او شپږم صورت په دي وجه جائزنه دى چي ركوب (سپرتيا) دراكب په وجه سره متفاوته وي لهذا په دواړوكي برابري نشته .اواووم اواتم صورت هم بالاتفاق په دي وجه ناجائزدى چي نوبت خو دضرورت په اساس په منافعو كي جائز شوى دى حال دا چي ميوه او شيدي خوله اعيانو څخه دي په دي كي تقسيم جاري كيداى شي په دي وجه تهايؤ جائزنه ده .

## كِتَابُ الْمُزَارَعَةِ

داكتاب دمزارعت په بيان كي دى

مزارعة له زرع (په معنى دكرلو ،تخم پاشلو) څخه دى او په شريعت كي عقدعلى الزرع ببعض الخارج (يعني دحاصلاتو په بعض حصه باندي دكښت كولو عقدكولو )ته مزارعة ويل كيږي ،مزارعت ته مخابره او محاقله هم ويل كيږي .

دكتاب المزارعة له كتاب القسمة سره مناسبت دادى چي په مزارعة كي هم له كښت څخه چي كوم حاصلات حاصليږي هغه دمزارع او دځمكي دمالك په منځ تقسيميږي ،نو دتقسيم املاك ترحده په دواړوكي اشتراك موجود دى په دي وجه دقسمة داحكامو له ذكر كولو څخه وروسته مصنف رحمه الله دمزارعة احكام ذكر كړي دي .

(۱)هِيَ عَقْدٌ عَلَى الزَّرْعِ بِبَعْضِ الْخَارِجِ (۲) وَتَصِحُّ بِشَرْطِ صَلَاحِيَةِ الْأَرْضِ لِلزِّرَاعَةِ وَأَهْلِيَّةِ الْعَاقِدَيْنِ وَبَيَانِ الْمُدَّةِ وَرَبِّ الْبَذْرِ وَجِنْسِهِ وَحَظِّ الْآخَرِ وَالتَّخْلِيَةِ بَيْنَ الْأَرْضِ وَالْعَامِلِ وَالشَّرِكَةِ فِي الْخَارِجِ (۳) وَأَنْ تَكُونَ الْأَرْضُ وَالْبَذْرُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ وَالْبَقَرُ لِآخَرَ ,اوتَكُونَ الْأَرْضُ لِوَاحِدٍ وَالْبَاقِي لِآخَرَ اويَكُونَ الْعَمَلُ لِوَاحِدٍ وَالْبَاقِي لِآخَرَ

**ترجمه** :هغه عقد دى پر كرهنه دبعض حاصلاتو په عوض كي ،او دا صحيح دى په دي شرط چي قابله وي ځمكه دكرهني او اهل وي متعاقدين او بيان شوى وي مدت ،او دتخم والا او كښت جنس او دهغه بل حصه

اوتخليه وي دځمكې اومزارع په منځ كې اوشركت وي په حاصلاتو كې ،اوداچې وي ځمكه اوتخم ديوه اوغويي اوكاردبل ياوي ځمكه ديوه اوباقي دهغه بل ياوي كارديوه اوباقي دهغه بل.

**تشريح** :(۱)مصنف رحمه الله دمزارعت اصطلاحي تعريف په دي ډول كړى دى چې مزارعت دكښت كولوهغه عقدته ويل كيږي كوم چې دځمكې دحاصلاتوپه بعض حصه مثلاثلث ياربع وغيره باندي منعقدشي ،داشرط دى چې دبعض حاصلاتوپه عوض كې به وي نوكه ټول حاصلات دځمكې مالك لره وي نودامزارعت نه دى بلكه استعانت بالعامل دى اوكه ټول حاصلات عامل لره وي نوهم مزارعت نه بلكه دمالك له طرف څخه عامل ته ځمكه په عارية سره وركول دي.

(۲)دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدپه ثلث اوربع ياكم وزيات سره مزارعت باطل دى لان النبى ﷺ نهى عن المخابرة (وهي المزارعة)يعني نبي كريم ﷺ له مخابره څخه منع فرمايلې ده ،اومخابره مزارعت ته ويل كيږي ،همداشان يوه وجه دفساددا هم ده چې په مزارعت كې اجرت مجهول يابالكل معدوم وي په دي وجه جائزنه دى .دصاحبينوپه نزدمزارعت په ثلث اوربع وغيره سره جائزدى ولې كله چې نبي كريم ﷺ خيبرفتح كړنودهغه ځاى يهوديې پرهغه ځاى برقرار وساتل اودامعامله يې ورسره وكړه چې كوم حاصلات چې وي دهغه نصف به مسلمانانوته وركوي ،نوكه مزارعت جائزنه واى نونبي كريم ﷺ به ولې كاوو.همداراز مزارعت خوعقدشركت بين المال والعمل دى نولكه څرنګه چې مضاربت جائزدى چې په هغه كې هم ديوه مال اودبل عمل وي نوهمداشان مزارعت هم بايدجائزوي.

**فائده**:دامت دتعامل اودخلكودضرورت په وجه سره فتوى دصاحبينوپرقول ده لمافي الدرالمختار:(وعندهماتصح وبه يفتى )للحاجة وقياساعلى المضاربة (الدرالمختار:۵/۱۹۳)له همدي وجه مصنف رحمه الله راتلونكي مسائلي دصاحبينوپرمسلك متفرع كړي دي.

دصاحبينوپه نزددصحت مزارعت لپاره څوشرطونه دي (۱)ځمكه به دزراعت قابله وي داشرط په دي وجه دى چې له دي څخه بغيرمقصودنه حاصليږي .(۲)دځمكې مالك اوكښت كونكى به دواړه اهل عقديعنى عاقل بالغ وي ولې چې دمتعاقدينوله اهليت څخه بغيرعقدنه صحيح كيږي اوله عقل اوبلوغ څخه بغيرعاقداهل عقدنه دي .(۳)دزراعت دمدي بيانول ضروري دي چې ديوه كال لپاره ده ياددووكالولپاره ،ولې چې دمدت مجهول والى داختلاف سبب جوړيږي مثلادځمكې مالك به دخپلې ځمكې دزرفارغه كولومطالبه كوي اومزارع به دډيرمدي لپاره دفصل پرځمكه دبرقرار ساتلوتقاضاكوي .(۴)دابيان كول ضروري دى چې تخم به دچاوي دځمكې دمالك يا دمزارع ترڅوچې دامعلومه شي چې معقودعليه څه شئ دى دځمكې منافع دي اوكه دمزارع منافع يعني كه تخم دمزارع وي نومطلب به يې داوي چې هغه دځمكې منافع حاصلوي اوكه تخم دځمكې دمالك وي نومطلب به يې داوي چې هغه دمزارع منافع حاصلوي .(۵)اودتخم جنس معلومول ضروري دى چې غنم كړي يااوربشې وغيره ولې چې دتخم بعض اقسام دځمكې لپاره مضروي اوبعض غيرمضر،لهذادتخم معلومول ضروري دى ترڅومفضي للنزاع نه شي.

(۶)دچاله طرفه چې تخم نه وي دهغه حصه معلومول ضروري ده ولې چې هغه دخپلې حصې مستحق دشرط په وجه سره وي نودهغه حصه معلومول ضروري ده كنه نودشرط په وجه سره به استحقاق څرنګه ثابت شي (۷)دځمکې مالک به دځمکې اودمزارع په منځ کې تخليه کوي چې په ځمکه کې دزميندارهيڅ دخل پاتې نه شي داشرط په له دي وجه دي ترڅوچې دمزارع عمل كول ممكن شي (۸)اودصحت مزارعت لپاره داهم شرط دی چې دځمکې په حاصلاتوکې به دمزارع اورب الارض په منځ کې اشتراک دشيوع په طريقه سره وي ولې چې مزارعت انتهاء شركت دی ،نوكه په حاصلاتوكې اشتراک مشاعاشرط نه شي بلكه دكوم يوه لپاره دڅه معلوموحاصلاتومثلالس قفيزه شرط ولګول شي نودامزارعت باطل دی ولې چې په دي سره شركت منقطع كيږي په دي وجه چې كيداى شي چې دځمکې ټول حاصلات دي صرف لس قفيزه وي نوهغه بل ته دهيڅ شئ دنه پاتې كيدلوپه وجه سره شركت منقطع كيږي .

(۳)دصاحبينوپه نزددمزارعت دري صحيح اوجائزصورتونه دي په دي وجه له دي صورتونوڅخه ديوه وجودهم شرط دی .نمبر۱- ځمکه اوتخم به ديوه له طرف څخه وي غويي اوكاربه دبل له طرف څخه وي ،داصورت جائزدی ولې چې په دي صورت کې دځمکې مالک مستاجردی عامل يې دبعضوحاصلاتوپه عوض په اجاره نيولی دی اوغويي داجيردعمل تابع دي ولې چې دعمل آله ده اوداداسې صورت دی لكه چې مستاجرخياط اجيركړي ترڅوهغه په اجاره سره په خپله ستنه دمستاجرجامي وګنډي لهذاداجائزدی .
نمبر۲- ځمکه ديوه وي اوكار،غويي اوتخم دبل وي داصورت هم جائزدی ولې چې ددي حاصل دادی چې دتخم مالک دځمکې دمالک ځمکه په كرايه باندي اخلي دځمکې دبعضوحاصلاتوپه عوض کې كوم چې جائزدی .نمبر۳- كه ځمکه ،تخم اوغويي ديوه وي اوعمل دبل وي نوداهم جائزدی ولې چې ددي حاصل دادی چې دځمکې مالک كاركونكی دځمکې دمالک په الاتوسره دكاركولولپاره مزدوركړی دی نوداداسې ده لكه مستاجرچې خياط اجيركړي ترڅودمستاجرپه ستنه سره دمستاجرجامي وګنډي لهذاداجائزده .

(۴)لِأَنْ كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ وَالْبَذْرُ لِآخَرَ, (۵)أَوْ كَانَ الْبَذْرُ لِأَحَدِهِمَا وَالْبَاقِي لِآخَرَ, (۶)أَوْ كَانَ الْبَذْرُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْبَاقِي لِآخَرَ (۷),أَوْ شَرَطَا لِأَحَدِهِمَا قُفْزَانًا مُسَمَّاةً (۸)أَوْ مَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَالسَّوَاقِي, (۹)أَوْ أَنْ يَرْفَعَ رَبُّ الْبَذْرِ بَذْرَهُ, أَوْ أَنْ يَرْفَعَ الْخَرَاجَ, وَالْبَاقِي بَيْنَهُمَا فَسَدَتْ (۱۰)فَيَكُونُ الْخَارِجُ لِرَبِّ الْبَذْرِ وَلِلْآخَرِ أَجْرُ مِثْلِ عَمَلِهِ, أَوْ أَرْضِهِ وَلَمْ يَزِدْ عَلَى مَا شَرَطَ

**ترجمه** :نوكه وه ځمکه اوغويي ديوه اوتخم اوكاردبل ،يااوتخم ديوه اوباقي دبل ،يااوتخم اوغويي ديوه اوباقي دبل ،يادواړوشرط ولګاوديوه لپاره دمعين قفيز،يادلښتيانودحاصلاتو،يادا چې وړي به دتخم والاخپل تخم يابه اول اداء كوي خراج اوپاتې به ددواړومشترک وي نوفاسددی ،نووي به حاصلات دتخم دوالااودهغه بل لپاره به اجرت مثل وی دهغه دعمل يادهغه دځمکې اوزيات به نه وركول كيږي له هغه مقدارڅخه كوم چې دواړوشرط كړی دی .

**تشريح** :(۴)له دي ځخه وراندي مصنف ﷫ دجوازشرائط بيان كړي وواوس له دي ځايه شروط فساديانوي .لكه چې فرمايي چې كه ځمکه اوغويي ديوه وي اوكاراوتخم دبل وی نوظاهرالروايت مطابق داصورت باطل دی ولې چې په دي صورت کې دتخم مالک ځمکه په كرايه اخيستی ده اواجرت يې

دحاصلاتو څه حصه مقررکړی دی ،اوغوایان یې هم دځمکې پرمالک لازم کړي دي نوګویاده غوایان دځمکې تابع ګرځولي دی حال داچې غوایان دځمکې تابع ګرځول صحیح نه دي ولی چې دغوایانو منفعت دځمکې څیرول دي او دځمکې منفعت دکښت شنه کول دي په دواړوکې ډیرفرق دی حال داچې تبعیت لپاره اتحادضروري دی.

(۵) که تخم دیوه له طرفه وي او ځمکه ،غویې اوکارتول دبل له طرف څخه وي نوداصورت هم ناجائزدی ولی چې دلته دځمکې مالک عامل جوړیږي حال داچې وړاندي تیره شوه چې په ځمکه کې به دځمکې دمالک هیڅ دخل نه وي.

(۶) اوکه تخم اوغویې دیوه وي اوځمکه اوعمل دبل وي یعنی دکاښتکارله طرف څخه تخم اوغویې وي اودځمکې دمالک له طرف څخه ځمکه اوکاروي نوداصورت هم ناجائزدی ولی چې په دې صورت کې هم دځمکې مالک عامل جوړیږي حال داچې داجائزنه ده.

(۷) اودصحت مزارعت لپاره داهم شرط دی چې دځمکې په حاصلاتوکې به دمزارع اورب الارض په منځ کې اشتراک دشیوع په طریقه سره وي ولی چې مزارعت انتهاء شرکت دی نوکه په حاصلاتوکې اشتراک مشاعاشرط نه شي بلکه دکوم یوه لپاره دڅه معلوموحاصلاتو مثلالس قفیزه شرط ولګول شي نودامزارعت باطل دی ولی چې په دې سره شرکت منقطع کیږي په دې وجه چې کیدای شي چې دځمکې ټول حاصلات دي صرف لس قفیزه وي نوهغه بل ته دهیڅ شئ دنه پاتې کیدلوپه وجه سره شرکت منقطع کیږي.

(۸) همداشان هغه حاصلات کوم چې دلښتیانوپه شاواخواوي دیوه لپاره شرط کړل نودمزارعت داصورت باطل دی ولی چې په دې کې هم دصورت سابقه په شان دانقطاع شرکت امکان دی ولی کیدای شي چې حاصلات صرف په لښتیانوشنه شي ،ماذیانات اوسواقی هغه لښتیانوته وایې چې له نهرڅخه کوچني وي دواړه مرادف الفاظ دي.

(۹) همداشان که دواړوداشرط ولګاوو چې دچاله طرفه چې تخم وي هغه به لومړی له حاصلاتوڅخه دتخم اندازه وړي اوکوم چې باقی پاتې شي هغه به ددواړومشترک وي نوداصورت هم ناجائزدی ولی چې په دې سره هم شرکت منقطع کیږي په دې وجه چې کیدای شي چې دځمکې ټول حاصلات دي دتخم په اندازه وي نوهغه بل ته به هیڅ پاتې نه شي .همداشان که ځمکه خراجي وه اوپه مزارعت کې داشرط ولګول شوچې دځمکې له حاصلاتوڅخه به لومړی خراج اداء کوو پاتې به ددواړوپه منځ کې مشترک وي نوکه پرځمکه خراج متعین مقدارو ومثلاپنځوس منه نوداصورت هم ناجائزدی ولی چې په دې سره هم شرکت منقطع کیږي په دې وجه چې کیدای شي چې دځمکې ټول حاصلات دي پنځوس منه وي.

(۱۰) قوله فیکون الخارج لرب البذرای اذافسدت المزارعة فیکون الخارج لرب البذر یعنی که عقدمزارعت فاسدشونوټول حاصلات به دتخم والاوړي په دې وجه چې داحاصلات دده دملک (تخم) نماء (زیادت) دی ،اوهغه بل ته به دده دعمل اجرت مثل ورکوي که هغه عامل وي ،یابه دده دځمکې اجرت مثل ورکوي که هغه دځمکې مالک وي ،مګرداجرت مثل په له مقدارڅخه زیات نه وي کوم چې دعقدپروخت شرط کړل شوی وو مثلاعامل ته

یې دنصف حاصلاتو شرط لګولی وونواوس به دااجرت مثل له نصف حاصلاتو څخه زیات نه وي ولی چې له نصف حاصلاتو څخه دزیات حق په ساقطولو خودی په خپله راضي شوی وو،دادشیخینو مسلک دی حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزد به اجرت مثل ورکوي که له شرط شوی مقدار څخه کم وي او که زیات وي.

**فائده:** دشیخینو قول راجح دی لمافی اللباب: قال فی التصحیح ومشی علی قولهما المحبوبی والنسفی (اللباب فی شرح الکتاب علی هامش الجوهرة ک ۲۸۰/۱)

**مسئله:** دیو کس ځمکه ده دوهم کښت کونکی دی اودریم کس برمه ده چې په هغې سره ځمکې ته اوبه ورکوي حاصلات په دریو برخو ویښل کیږي هریوه ته یوه یوه حصه ورکول کیږي ،دمزارعت دا صورت جائز نه دی بلکه ټول حاصلات به دځمکې دمالک اومزارع په منځ کې تقسیمیږي اودبرمې مالک ته به اجرت مثل دنغدوپه صورت کې حاصلیږي (ملخص ازاحسن الفتاوی : ۷/۳۷۸)

(۱۱) وإن صحت فالخارج علی الشرط وإن لم يخرج شیء فلا شیء للعامل (۱۲) ومن أبی عن المضي أجبر إلا رب البذر (۱۳) وتبطل بموت أحدهما (۱۴) فإن مضت المدة والزرع لم يدرك فعلی المزارع أجر مثل أرضه حتی يدرک (۱۵) ونفقة الزرع عليهما بقدر حقوقهما كأجرة الحصاد والرفاع والدياس والتذرية (۱۶) فإن شرطاه علی العامل فسدت

**ترجمه:** اوکه عقدمزارعت صحیح شونو حاصلات به دشرط مطابق وي اوکه هیڅ شئ نه شو حاصل نو هیڅ به نه وي عامل لره .اوکوم چې انکاروکړي دمعاملې له پوره کولو څخه نوهغه به مجبورکیږي مګردتخم والا.اوباطلیږي دکوم یوه په مرګ سره ،اوکه مدت ختم شواوکښت نه وو پوخ شوی نوپرمزارع اجرت مثل دی دځمکې ترڅوچې پوخ شي ،اودکښت خرڅ به پردواړووي ددواړودحقوقو په اندازه لکه دېرې کولو اجرت .دوړلواجرت ،اودپاکولواجرت ،اوکه دواړوداشرط ولګاووچې خرڅه به پرعامل وي نومزارعت فاسدیږي.

**تشریح:** (۱۱)دصحت مزارعت لپاره چې کوم شرائط دي متعاقدینو دهغو په رعایت کولو سره عقدمزارعت وکړاومثلا حاصلات یې نصف نصف تقسیمول شرط کړل نوکوم حاصلات چې وي هغه به دشرط مطابق تقسیمیږي ولی عقدچې کله صحیح وي نومسمی واجبیږي ،اوکه په کومه وجه سره هیڅ حاصلات ونه شول نوعامل ته به هیڅ اجرت نه حاصلیږي ولی چې مزارعت یاخواجاره ده یاشرکت دی ،که اجاره وي نوداجارې په عقدصحیح کې مسمی واجبیږي کوم چې دلته معدوم دی لهذاد غیرمسمی مستحق نه دی ،اوکه شرکت وي نوشرکت خوپه حاصلات کې دی له حاصلاتوماسواپه بل شئ کې نه دی اوحاصلات شوی نه دي لهذاد هیڅ شئ مستحق نه دی.

(۱۲)که دشروط صحت مطابق دمزارعت معامله دمتعاقدینو ترمنځ فیصله شوه اوس که له متعاقدینو څخه هغه یوچې دهغه تخم نه وو دمعامله له پوره کولو څخه منع شونو حاکم به هغه پرمعامله کولو مجبوروي په دې وجه چې په عقدپوره کولو کې ده ته هیڅ نقصان نه رسیږي اوعقدهم لازم شوی دی لهذاهغه به په پوره کولومجبوره کیږي ،البته که کوم داسې عذرپیښ شوچې په هغه سره اجاره فسخ کیدله نوپه هغه سره مزارعت هم فسخ کیږي .اوکه تخم والاله تخم پاشلو څخه وړاندې له کارکولو منع شونوهغه به دمزارعت په پوره

کولو نه مجبوره کيږي ولې چې بغير د هغه له نقصان څخه دا معامله نه شي پوره کيدلې په دي وجه چې هغه به خپل تخم په ځمکه کې هلاکوي بيا به دا عقد پوره کيږي په کوم کې چې في الحال نقصان دی.

(۱۳) که له متعاقدينو څخه کوم يو مړشي نو د قياس تقاضا داده چې عقد مزارعت باطل شي ولې چې مزارعت عقد اجاره دی او د اجاري حکم وړاندي تيرشوی دی چې د احد المتعاقدين په مرګ سره باطليږي ،ليکن استحسان دادی چې که کښت شين شوی وي نو عقد نه باطليږي بلکه عقد اجاره به اوس هم پاتي وي ترڅو چې کښت وريبل شي بيا په باقي مده کې باطل دی ولې چې د عقد تر مذکوره مدت پوري په برقرار ساتلو کې د دواړو رعايت دی.

(۱۴) که د مزارعت مدت ختم شو مګر کښت تر اوسه پوري اوم دی نو عامل به د خپلي حصي په اندازه د ځمکي اجرت مثل اداء کوي ترڅو چې کښت پخيږي مثلا يوه مياشت د کښت تر پخيدلو او ريبلو پوري پاته ده نو د يوي مياشتي اجرت مثل به ورکوي ولې چې په دي کې بقدر الامکان د جانبينو رعايت دی ،ليکن څرنګه چې اوس عقد مزارعت ختم شوی دی او کښت د دواړو مشترک دی لهذا له دي څخه وروسته به هريو د خپلي حصي په اندازه د مصرف او کار ذمه واروي.

(۱۵) قوله کاجر الحصاد الخ ای کما يجب عليهما اجر الحصاد وغيره مطلقا،يعني په مذکوره بالا صورت کې پر هريوه د خپلي حصي په اندازه مصرف لازم دی لکه څرنګه چې که کښت پوخ شي که په مدت پوره شوی وي او که نه وي نو له دي څخه وروسته د کښت د ريبلو ،يوځای کولو ،د غلي د پاکولو اجرت پر دواړو د حصو په اندازه دی ولې چې د کښت په تکميل سره عقد هم پای ته ورسيدی او مال د متعاقدين په منځ کې مشترک شو نو خرڅه به هم پر دواړو وي.

(۱۶) او که د کښت له پخيدلو څخه وروسته اعمال (مثلا ريبل ،يوځای کول ،وغيره ) صرف د عامل پر ذمه لازم کړل شول نو دا عقد فاسد دی ولې چې دا داسي شرط دی چې عقد يې مقتضي نه دی او له متعاقدينو څخه ديوه فائده هم ده او داسي شرط عقد فاسدوي ،ليکن له امام ابويوسف رحمه الله څخه مروي ده چې د کښت له پخيدلو څخه وروسته مذکوره امور د عامل پر ذمه لګول مفسد عقد نه دي.

**فائده**:د بلخ مشائخو د خلګو د تعامل په وجه سره د امام ابويوسف رحمه الله پر قول فتوی ورکړي ده لمافي الدر المختار:(وصح اشتراط العمل) کحصاد ودياس ونسف على العامل (عند الثاني للتعامل وهو الاصح) وعليه الفتوى (الدر المختار على هامش ردالمحتار:۱۹۸/۵)

## كتاب المساقاة

داکتاب د مساقات په بيان کې دی

مساقات له سقي څخه دی په معنی د اوبه کولو ،شرعا هغه عقد دی چې يو کس خپل باغ ته د دی لپاره ورکړي ترڅو هغه يې اصلاح وکړي او پالنه يې وکړي او عامل ته له حاصلاتو څخه معلومه حصه ورکړي ،اهل مدينه مساقات ته معامله وايي.

دمساقات له مزارعت سره مناسبت ظاهر دی چې دواړه دملک دمنفعت دتحصيل لپاره مشروع عقوددي همداوجه ده چې دحکم، شرائطو او اختلاف ائمه کې مساقات دمزارعت په شان دی. په دواړو کې فرق صرف دومره دی چې په مزارعت کې دکرکيل د آلاتووغيره په ذريعه سره دکښت پالنه کيږي او په مساقات کې ددرختو اصلاح وغيره وي. بيامناسب خو داووچې دمساقات احکام يې له مزارعت څخه وړاندې ذکرکړې وای ولې چې دمساقات جوازله ډيروعلماؤ څخه منقول دی او په احاديثو کې هم وارد دی چې نبی کريم ﷺ له خيبروالوسره دمساقات معامله کړې وه، ليکن دمزارعت دمسائلو دکثرت په وجه سره دهغه داحکامو دپيژندلو ډير ضرورت وو په دې وجه مصنف رحمه الله مزارعت مقدم کړ، همدارنګه په دې کې هم دامام ابوحنيفه رحمه الله او صاحبينو هغه اختلاف دی کوم چې په مزارعت کې تيرشو.

**فائده**: په مساقات کې هم فتوی دصاحبينو پر قول ده لماقال العلامة ابراهيم ابن محمد الحلبي: (وهي) المساقاة (كالمزارعة حكما) حيث يفتى على صحتها (وخلافا) حيث تبطل عند الامام، وتصح عندهما كالمزارعة وبه قالت الائمة الثلاثة (مجمع الانهر: ۴/۱۳۸)

(۱) هِيَ مُعَاقَدَةُ دَفْعِ الْأَشْجَارِ إلَى مَنْ يَعْمَلُ فِيهَا عَلَى أَنَّ الثَّمَرَ بَيْنَهُمَا (۲) وَهِيَ كَالْمُزَارَعَةِ (۳) وَتَصِحُّ فِي الشَّجَرِ وَالْكَرْمِ وَالرِّطَابِ وَأُصُولِ الْبَاذِنْجَانِ (۴) فَإِنْ دَفَعَ نَخْلًا فِيهِ ثَمَرَةٌ مُسَاقَاةً وَالثَّمَرَةُ تَزِيدُ بِالْعَمَلِ صَحَّتْ، وَإِنْ انْتَهَتْ لَا كَالْمُزَارَعَةِ (۵) وَإِذَا فَسَدَتْ فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِهِ (۶) وَتَبْطُلُ بِالْمَوْتِ (۷) وَتُفْسَخُ بِالْعُذْرِ كَالْمُزَارَعَةِ بِأَنْ يَكُونَ الْعَامِلُ سَارِقًا أَوْ مَرِيضًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْعَمَلِ

**ترجمه**: هغه باهم عقد دی د درختو ورکولو هغه کس ته کوم چې به دهغو پالنه کوي په دې شرط چې ميوه به د دواړو مشترکه وي، او هغه دمزارعت په شان دی، او صحيح دی په خرماوو کې او په درختو کې او په انګورو کې او په رطبه کې او بانجنو په بوټو کې، او که يې ورکړې دخرما درختې پر مساقات او ميوه لويه دله په عمل سره نو صحيح دی او که يې لويدل پای ته رسيدلي وو نو صحيح نه دی لکه مزارعت، او کله چې مساقات فاسد شي نو عامل لره به اجرمثل وي، او عقد مساقات باطليږي په مرګ سره، او فسخ کيږي دعذر په وجه سره دمزارعت په شان مثلا عامل غل وي يا دومره ناروغه وي چې پر عمل قادر نه وي.

**تشريح**: (۱) مصنف رحمه الله دمساقات اصطلاحی تعريف په دې ډول سره کړی دی چې مساقات هغه عقدته ويل کيږي چې کوم کس خپل باغ داسې کس ته ورکړي چې هغه يې پالنه وکړي په دې شرط يې ورکړي چې په دې کې چې څه حاصلات وشي هغه به مونږ دواړه په خپل منځ کې تقسيموو.

(۲) مساقات په ټولو احکامو، شروطو او اختلاف کې دمزارعت په شان دی چنانچه دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد ميوې دجزء شائع په عوض کې مساقات دمزارعت په شان ناجائز دی او دصاحبينو په نزد جائز دی.

**فائده**: دصاحبينو قول مفتی به دی لمافی الهندية: المعاملة في الاشجار والكرم بجزء من الثمر فاسدة عند ابی حنيفه وعندهما جائزة اذا ذكر مدة معلومة وسمى جزء مشاعا والفتوى على انه تجوز وان لم يبين المدة كذا في السراجية (الهندية: ۵/۲۷۸)

(۳) يعنی مساقات دصاحبينو په نزد جائز دی په خرماوو او نورو درختو کې، په انګورو کې، په سبزيانو کې، او د بانجنو په بوټو کې ولې چې دمساقات جواز دحاجت او ضرورت په وجه سره دی او حاجت په مذکوره ټولو شيانو کې شته.

(۴)که دباغ مالک عامل ته دخرماو وباغ په مساقات سره ورکړپه کوم کې چې خامي خرماوي وي کومې چې دعامل په پالنه سره نوري لویدلي شوای نو دمساقات داصورت دضرورت پراساس جائزدی ،اوکه میوه پخ شوي وه دعامل په پالنه سره نوري نه شوای لویدلي اودعامل دکوم عمل مزیدضرورت نه وونودمساقات داصورت جائزنه دی ولی چې عامل دخپل عمل په وجه سره مستحق ګرځي نوکله چې میوه پخ شوي ده نودده دعمل هیڅ دخل پاتي نه شولهذاداصورت ناجائزدی لکه چې په مزارعت دکښت له پخیدلوڅخه وروسته څرنګه چې دعامل دعمل ضرورت نه پاتې کیږي لهذااوس داچاته په مزارعت سره ورکول ناجائزدی.

(۵)که په کومه وجه سره مساقات فاسدشونوعامل ته به اجرمثل ورکول کیږي ولی چې مساقات فاسده داجاره فاسده په معنی کې دی نولکه څرنګه چې په اجاره فاسده کې اجیرته اجرمثل ورکول کیږي نوپه مساقات کې به هم اجرمثل ورکول کیږي ،لیکن اجرمثل به په عقدکې له مشروط مقدارڅخه زائدنه وي کمامر.

**مسئله** :یوکس خپله ځمکه چاته په دي شرط ورکوي چې په دي کې باغ ولګوه .دباغ په درختوکې به دی دنصف مالک وي ددي دري صورتونه جوړیږي (۱)که یې له باغ سره په ځمکه کې هم دشرکت شرط ولګوی نوعقدفاسددی (۲)که یې په ځمکه کې دشرکت شرط ونه لګاوولیکن دعقدمده یې بیان نه کړه نوداعقدهم فاسددی (۳)صرف په درختوکې دشرکت شرط ولګول شواودعقدمده هم معینه کړل شوه نوداعقدصحیح دی اودعقدمدي په ختمیدلوسره به دځمکي مالک لره اختیاروي چې په نصف قیمت سره درختي واخلي یایې وکاږي ،اوپه دوهم صورت کې دټولودرختومالک عامل دی اودځمکي مالک لره به دځمکې اجرمثل ورکول کیږي اوده لره به اختیاروي چې درختي واخلي یاله عامل څخه دکښلومطالبه وکړي .په اول صورت کې دجوازحیله داکیدای شي چې دځمکي نیمایې دباغ دنیمایې په عوض خرڅه کړي اوعامل دي په اجرقلیل سرداجیرکړي (ملخص ازاحسن الفتاوی :۷/۳۷۸)

(۶)داحدالمتعاقدین په مرګ سره هم مساقات باطلیږي ولی چې مساقات داجاري په معنی کې دی اواجاري حکم تیرشوچې داحدالمتعاقدین په مرګ سره باطلیږي لهذامساقات هم داحدالمتعاقدین په مرګ سره باطلیږي ،لیکن استحسان داتقاضاکوي چې که دځمکي مالک مړشواومیوه تراوسه کچه وه نودمیوي ترپخیدلوپوري دي عامل پردي عمل برقراروساتل شي ولی چې عامل لره له عمل څخه په منع کولوکې ضرردی حال داچې په عمل برقرارساتلوکې دوراثانوهیڅ ضررنشته .

(۷)دکوموعذرونوپه اساس چې مزارعت فسخ کیږي دهغوعذرونوپه وجه سره مساقات هم فسخ کیږي مثلاعامل غل دی دمیوي له پخیدلوڅخه وړاندي یې غلاکوي نوپه دي کې دځمکي دمالک داسې نقصان دی چې ده دهغه التزام نه دی کړی لهذاهغه مساقات فسخ کولی شي .همداشان که عامل داسې مریض شوچې کاریې نه شوکولی نوهم به عقدمساقات فسخ کیږي ولی چې په داسې صورت کې به هغه په مزدورانوسره کارکوي کوم چې ده لره نقصان دی اوده ددي التزام نه دی کړی .

## كِتَابُ الذَّبَائِحِ

### داکتاب دذبیحوپه بیان کې دی

دکتاب الذبائح له ماقبل سره مناسبت دادی چې مزارعت اوذبح دواړه فی الحال دمال اتلاف(ضائع کول) اوفی المآل انتفاع وي ،یعنی لکه څرنګه چې په مزارعت کې تخم په ځمکه کې دفن کیږي ترڅوپه مستقبل کې نفع حاصله شي همداشان ذبح کونکی خپل څاروی فناکوي ترڅودهغه له غوښې څخه نفع حاصله کړي .

(۱)هي جمع ذبيحة وهي اسم لما يذبح والذبح قطع الأوداج (۲) وحل ذبيحة مسلم وكتابي وصبي وامرأة وأخرس وأقلف (۳) لا مجوسي ووثني ومرتد ومحرم (۴) وتارك اسم الله عمدا وحل لو ناسيا (۵) وكره أن يذكر مع اسم الله غيره وأن يقول عند الذبح اللهم تقبل من فلان، وإن قال قبل التسمية والإضجاع جاز (۶) والذبح بين الحلق واللبة

**ترجمه** :هغه جمع ده دذبیحه اوهغه نوم دی دهغه کوم چې ذبح کیږي اوذبح قطع کول (پریکول )دي درګو ،اوحلاله ده ذبیحه دمسلمان اودکتابی اودنابالغ اودښځې اودګونګي اودغیرمختون (ناسنته ).نه دمجوسي اوبت پرست اومرتداومحرم ،اودقصدابسم الله پرینبودونکی اوحلاله ده که یې هیره شي ،اومکروه ده داچې ذکرکړي دالله تعالی له نامه سره دبل چانوم یاووایي دذبح کولوپروخت ای الله قبول یې کړي دفلانی له طرفه ،اوکه یې وویل له بسم الله ویلواوځپه کولووړاندي نوجائزده ،اوذبح دحلق اوله سینې څخه دپورته هډوکي په منځ کې وي .

**تشریح** :( ۱)ذبائح دذبیحة جمع ده اوذبیحة مذبوح څاروی ته ویل کیږي اومجازاًهغه څاروی ته ویل کیږي کوم چې عنقریب ذبح کیږي ،بیاذبح پردوه قسمه ده اختیاري اواضطراري .مصنف رحمه الله دذبح اختیاري تفصیل مقدم کړی دی چې داسې یې فرمایلي دي چې ذبح دغاړي دمخصوصوڅلوررګوپریکولوته ویل کیږي ،اوداج دودج جمع ده له دي څخه مرادحلقوم (په کوم سره چې ساه وځي ننوځي )،مری (په کوم سره چې غذاء دننه ځي )اودحلقوم اومری ښی اوکیڼ هغه دوه پنډرګونه (په کوموکې چې دوینې سیلان وي )دي .

**فائده**:داټولوته معلومه ده چې په دنیاکې دغوښې دخوراک دستوراورواج انتهایي قدیم دی لیکن له اسلام څخه وړاندي دڅارویودغوښودخوړلوعجیبی عجیبی طریقي بغیرله کومې پابندي اختیارکړل شوي وي. دمردارغوښه خوړل کیدله .دژوندی څاروی څه اندامونه (دضرورت مطابق )پریکیدل خوړل کیدل. دڅارویودروح کښلولپاره هم انتهایې بی رحمانه سلوک کیدی ،چیرته به په لرګیانوسره په وهلو ،اوچیرته به دغښوپه باران کولوسره دڅارویوروح ایستل کیدله .

اسلام ترټولووړاندي خوداتفریق وکړچې دمردارغوښه یې حرامه کړه ،کومه چې دانسان جسماني اوروحاني دواړه صحتونه بربادونکي ده .هغه څاروي یې حرام کړل دکوموپه غوښه سره چې دانسان اخلاق مسموم (زهرجن )کیږي ،لکه خنزیر،پښو ،سپی ،ځناوروغیره .بیاکوم څاروي چې یې حلال وګرځول دهغوددغوښوپه خوړلوکې یې هم داسې پاکه طریقه وښودله چې په هغې سره ناپاکه وینه بیخې ډیره ووځي .اوڅاروی ته ډیرلږتکلیف ورسیږي .په طبی اصولودانساني صحت اوغذائي اعتدال کې له دي څخه ښه کومه طریقه نه شې کیدلی لکه څرنګه چې دموجوده زماني ډاکټرانوپه طبی تحقیق سره ثابته کړي ده .په هرحال اسلام

دځارویو دغوښې په خوړلو کې انسان ازادنه دی پرېښی چې لکه څرنګه چې د درختو میوې اوسبزیات وغیره چې څرنګه یې هم خوښه وي پرېکړي او وې خوري، همداشان دې ځاروي هم څرنګه یې خوښه وي وخوري.
دابښکاره خبره ده چې دانسان غذاء که له نباتاتو څخه وي او که له حیواناتو څخه وي، ټول دالله تعالی پیداکړل شوي نعمتونه دي اوپه دې حیثیت سره هرخورک دالله تعالی دنوم په اخیستلو سره خوړل اوله خورک څخه په فارغه کېدلو دالله تعالی شکراداء کول سنت اسلام دی، کوم چې نبی کریم ﷺ په خپل قول او فعل سره دومره عام کړی چې هغه یو اسلامي شعارجوړ شو، لیکن دځارویو په ذبح کولو باندې دالله تعالی دنوم ذکرکولو معامله له دې څخه څه وړاندې ده چې دځاروی غوښه بغیرله دې څخه نه حلالیږي، کوم غافل انسان چې ترکاري، میوه وغیره بغیردالله تعالی له نامه څخه پرې کړي نوده ته غافل، تارک سنت خو ویل کیږي لیکن دده خورک ته حرام نه شي ویل کېدلی، په خلاف دځاروی چې دده دذبح پروخت دبسم الله ویل دده دحلالوالی شرط دی، له دې څخه بغیرکه دذبح ټول آداب پرځای هم کړای شي نوبیا هم ځاروی مرداراو حرام دی.
حضرت شاه ولی الله قدس سره په حجة البالغة کې لیکي، چې دځارویو معامله دعامو نباتاتي مخلوقات په شان نه ده، ولې چې په دوئ کې دانسان په څیر روح ده، دانسان په څیردلیدلو، اوریدلو، بویولو، اودګرځیدو راګرځیدو آلات او اعضاء دي، دانسان په څیرپه دوئ کې احساس او اراده او تریوه حده ادراک هم موجوددی، ددې سرسری تقاضاداوه چې دځارویو خورک مطلقا حلال نه وای لیکن دحکمت الهیه تقاضاوه چې ده انسان مخدوم کائنات جوړکړله ځارویو څخه خدمت اخیستل، دهغوئ شیدې څښل اودضرورت پروخت په ذبح کولو سره یې دهغوئ غوښه هم دانسان لپاره حلاله کړه، مګرله دې سره یې ددې دحلالوالی لپاره څوارکان اوشرائط هم راوښودل چې له هغو څخه بغیرځاروی نه حلالیږي (جواهرالفقه: ۲/۳۶۹تا ۳۷۰)
(۲) دمسلمان ذبیحه حلاله ده په دې شرط چې دالله پرنامه ذبح وکړي لقوله تعالی ﴿ وحرمت علیکم المیتة والدم ......الاماذکیتم ﴾ (حرام کړل شوي دي پرتاسې مرداراووینه ..........مګرکوم چې تاسې ذبح کړی) په کاف خطاب سره مسلمانانو ته خطاب دی. همداشان داهل کتابو ذبیحه هم حلاله ده لقوله تعالی ﴿ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ ﴾ (داهل کتابو ذبیحه حلاله کړل شوي ده ستاسې لپاره) له طعام څخه مرادمذبوح ځاروی دی ولې چې مطلق طعام خودهرکافرحلال دی له حضرت ابن عباس ؓ څخه هم دطعام همداتفسیرمروی دی. همداشان دنابالغ، ښځې، ګونګی اوغیرمختون (چې سنت شوی نه وي) ذبیحه هم حلاله ده په دې شرط چې په تسمیه اوذبح پوهیږي ولې چې دذبیحه دحلالوالی مدارپه مسلمان اوکتابی والی سره ده نه په بالغ اومذکروالي وغیره سره. ګونګی اګرکه تسمیه نه شي ویلی مګردادعذرپه وجه سره ده لهذادده دصاحب ملت والی دتسمیه قائم مقام دی.
**فائده**: اوس صورت حال دادی چې یهودیان خواوس هم دذبح کولو پروخت دخپلو مذهبي قواعدو اهتمام کوي، چې دذبح پروخت دالله تعالی نوم هم ذکرکوي اوعروق اربعه دشریعت مطابق پرېکوي، لیکن عیسایانو ټول شیان پرېښي دي، اوس هغوئ نه خودالله تعالی نوم ذکرکوي اونه هم دعروقو اربعه وپه مشروع

طريقه دپرېكولو اهتمام كوي په دي وجه ديهوديانو ذبيحه زموږلپاره جائزده او دعيسايانو ذبيحه جائزنه ده (تقريرترمذى ۲/۲۳۶)

**فائده:** كه دذابح په باره كښ معلوم نه وي چې دده څه عقائد دي ؟يادامعلوم نه وي چې ده په كومه طريقه سره څاروى ذبح كړى دى ؟ددادسې ذبيحه په باره كښ حكم مختلف دى (۱)كه دمسلمانانوښاروي يعنى ددي ښاراكثره ابادي مسلمانان وي ،دداسې ښارپه بازارونوكښ چې كومه غوښه خرڅيږي دهغې خورک حلال دى ،اګركه موږدذبح كيدلوپه وخت كښ نه وى ليدلى ،اونه دامعلوم وي چې ذبح كونكى دبح كولوپروخت بسم الله ويلې وه اوكه يې نه وه ويلي ؟وجه يې داده چې په اسلامي ښاركښ چې كوم شئ خرڅيږي دهغه په باره كښ په همدا ګڼل كيږي چې دادشريعت داحكاموافق دي اوموږته په مسلمانانو دحسن ظن دلرلوحكم شوى دى .(۲)كه دكوم ښاراكثره ابادي كفارغيراهل كتاب وي ،نودددي ښارپه بازاركښ چې كومه غوښه خرڅيږي هغه دمسلمانانولپاره حلاله نه ده ،ترڅوچې كومه غوښه چې اخيستل كيږي دهغې په باره كښ ديقين په درجه كښ يادغالب ګمان په درجه كښ دامعلومه نه شي چې دادهغه څاروى غوښه ده كوم چې مسلمان ياكتابى په شرعي طريقه سره ذبح كړى دى .داصورت بالكل واضح دى (۳)دلوړدوهم صورت حكم دهغه ښارپه باره كښ هم دى دكوم ابادي چې دمسلمان ،بت پرست اوآتش پرست په منځ كښ مخلوطه وي .په دي وجه چې دكومې غوښې په باره كښ چې شک پيداشي هغه حلاله نه ده ترڅوچې ددي حلالوالى ظاهرنه شي ددى دليل دحضرت عدي بن حاتم ﷺ هغه حديث دى كوم چې وړاندي تيرشوپه كوم كښ چې نبى كريم ﷺ هغه ښكارحرام ګرځولى وودكوم په ښكاركښ چې داسې بل سپى هم شامل شي چې دهغه دپرېښودلوپروخت بسم الله نه وي ويل شوي .(۴)كه دكوم ښاراكثره ابادي داهل كتابووي نودددي ښاردغوښوهم هغه حكم دى كوم چې دمسلمانانودښاردى (يعنى دهغه ښارغوښه اخيستل اوخوړل حلال دي )په دي وجه چې دذبح په معامله كښ دهغوئ حكم دمسلمانانوپه شان دى .ليكن كه ديقين ياغالب ګمان په درجه كښ معلومه شي چې ددي ښاراهل كتاب په شرعي طريقه سره څاروي نه ذبح كوي نوپه دي صورت كښ دددي ښارغوښه اخيستل اوخوړل جائزنه دي ،ترڅوچې دامعلومه نه شي چې بعينه داغوښه كومه چې زه اخلم په شرعي طريقه سره ذبح شوى څاروى غوښه ده ،اونن دمغربي ملكونوداكثروښارونوهمداحكم دى (فقهى مقالات : ۴/۲۴۴تا۲۴۹)

**فائده:** دښځې ذبح كړل شوى بلاشبه حلال دى ،كوم كسان چې دي ته حرام وايي هغوئ ګنهګاردي ،البته څرنګه چې ښځې په دي كارلږپوهيږي او دضعف قلب په وجه داحتمال هم شته چې لاس دي نه وچليږي ،په دي وجه بلاضرورته نن صبا دوئ ته دذبح كارسپارل مناسب نه دى ،ليكن په حلالوالى كښ ياهم شبه نشته يعنى جائزدى (امدادالمفتيين :۲/۹۵۷)

(۴)قوله لامجوسى اى لايحل ذبيحة مجوسى ،يعنى دمجوسيانو(داورعبادت كونكي ،يادلمرعبادت كونكي )ذبيحه حلاله نه ده ولى چې دنبى كريم ﷺ ارشاددى ﴿سنّوا بهم سنّة أهل الكتاب غير ناكحي نسائهم ولا آكلي ذبائحهم﴾ (يعنى له مجوسيانوسره داهل كتابوپه شان معامله كوئ مګرله دوئ سره نكاح مه كوي اوددوئ ذبيحه مه خورئ )،همداراز مجوس نه حقيقة اهل توحيددي اونه دتوحيدمدعيان دي په دي وجه ددوئ ذبيحه حلاله نه

ده .همداشان دبت پرستانو ذبيحه هم حلاله نه ده ولې چې بت پرست هم دمجوسيانو په څېر مشرک دي دکوم سماوي ملت اعتقادنه لري .همداشان دمرتدذبيحه هم حلاله نه ده ولې چې دمرتدهيڅ مذهب نه وي په دې وجه چې که هغه دکوم سماوي دين طرف ته منتقل شوی وي پرهغه دی نه پرېښودل کيږي .همدشان دمحرم بالحج يامحرم بالعمره ذبيحه (مراددښکارذبح کول دي )هم حلاله نه ده ولې چې ذبح کول فعل مشروع دی حال داچې دمحرم لپاره دښکارذبح کول غيرمشروع دی لهذاداذبح نه شمارل کيږي .البته که محرم غيرصيدذبح کړي نوحلال دی ولې چې غيرصيدذبح کول فعل مشروع دی په دې وجه چې حرم دبزي وغيره لپاره دامن ځای نه دی .

(۴)قوله وتارک التسمية عمدا اى لايحل ذبيحة تارک التسمية عمدا ،يعنې که ذبح کونکي دذبح کولوپروخت عمداً تسميه پرېښوده که ذابح مسلمان وي اوکه اهل کتاب وي نودده ذبيحه مرداره ده نه به خوړل کيږي لقوله تعالى (ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه)(يعنې پرکوم چې دالله تعالى نوم نه دی ذکرشوی هغه مه خورئ)، اوکه تسميه عمداً نه بلکه په هيره سره پاتې شوه نوحلاله ده ولې چې په دې صورت کې هم په حرام ګرځولوکې حرج عظيم دی ولې چې انسان له نسيان څخه لږ خالي وي .

**فائده**:علماکرامودا هم ليکلي دي چې سوره برأت (کوم چې دکفارودقتل پرحکم مشتمل دی )له بسم الله الرحمن الرحيم څخه خالي اېښودل شوې دی ولې چې بسم الله درحمت کلمه ده کومه چې دموقع مقتضى نه ده. همداشان دځاروی دذبح پروخت هم صرف بسم الله الله اکبرويل مقررشوی دی دبسم الله الرحمن الرحيم دويلوحکم نه دي شوی ولې چې دذبح په صورت کې دقهراوعذاب شکل دی اوداد کلمه رحمت (يعنی بسم الله الرحمن الرحيم چې په دې کې درحمان اورحيم لفظونه شته )مقتضى نه دی .(مظاهرحق :۴/۴۶)

**الالغاز**: ای مسلم عاقل ذبح وسمى ولم تحل؟

**فقل**:داسمى ولم يرد بها التسمية على الذبيحة .(الاشباه والنظائر)

**دمشينې ذبيحې حکم** :دمشين په ذريعه سره ځاروی ذبح کول ناجائزاوغيرشرعي دی البته که چادمشين په ذريعه سره ځاروی ذبح کړنودهغه غوښه خوړل حلال دي ،په دې شرط چې ذبح کونکی مسلمان وي يعنې بټن مسلمان وهلی وي اودبټن دوهلوپروخت يې بسم الله ويلي وي ،غرض داچې دداسې ذبيحې په حلت کې څه شبه نشته مګرمعهذاداطريقه بلاشبه غلطه اوناجائزده فقط والله تعالى اعلم (مأخوذازاحسن الفتاوى :۷/۴۷۶)

**سوال** :اوکه ډيرځاروي دمشين لاندې ودرول شي اويوځل بسم الله هم وويل شي نوآياهغه ټولو ځارويو دحلال والي لپاره کافي ده ياصرف داول ځاروي لپاره کفايت کوي اونورټول ځاروي مرداريږي؟

**ځواب** :ددې متعلق دنصوصواواصول شرعيه مقتضى داده چې بسم الله ويل اوذبح دواړه متصل واقع وي، معمولی ديوونيم منټ اندازه تقديم هيڅ اثرنه لري ،ځکه له دومره فرق کولوڅخه لاچاري ده مګرله دې څخه که ډيرتقديم وشونوداتسميه به دذبح دنه متصل والی په وجه سره کالعدم ګرځي اوځاروی به مرداريږي ......په مبسوط کې دامام محمد رحمه الله په حواله دانقل شوی دي ارايت الذابح يذبح الشاتين والثلاثة فيسمى على الاولى

ربع التسمية على غير ذالك عمدا قال يأكل الشاة اللتي سمى عليها ولا يأكل ماسوى ذلك (بدائع الصنائع: ۵/۴۹)............البته كه يې دوه بزي يو ځاى كړي اوپه يوه وخت كې يې د دواړو پرغاړه چاړه تيره كړه نو دا تسميه د دواړو لپاره كافى ده او دواړه حلاليږي لواضجع شاتين وامر السكين عليهما معا انه تجزى في ذالك تسمية واحدة (بدائع: ۵/۵۰)

د روايات مذكوره په رڼايې كې تر بحث لاندي مسئله :دير ځاروي تر مشين لاندي ودرول شي اوپه بسم الله ويلو سره د دوئ غاړي پري كړل شي ،په دي كې په غير مشروع طريقه سره ذبح كولو له ګناه څخه علاوه صرف هغه ځاروي حلال دي پر كوموچې چاره په يو وخت كې تيره شوي ده ،په دي شرط چې د مشين د چاړي د چلولو پروخت بسم الله ويل شوي وي او د ځينو صحابه كرامو ﷺ په نزد دا هم د ذبح د غير مشروع طريقه د كيدلو په وجه سره حرام دي ،او د كوموځارويو په غاړه چې چاړه له بسم الله ويلو وروسته تدريجا تيره شوي ده هغه د ترك تسميه په وجه سره د جمهورو په نزد حرام او مردار دي (جديد معاملات كى شرعى احكام :۳/۱۰۶)

**فائده**:د ذبح پروخت د الله تعالى نوم ذكر كول ضروري دى ليكن بسم الله په عربي ژبه سره ويل ضروري نه ده چې كه څوك د ذبح پروخت ووايې چې د الله په نوم ذبح كوم بيا هم جائز دى ،په احسن الفتاوى :۷/۴۰۵.كې دي لان الفقهاء رحمهم الله لم يشترطوا العربية ولو كان لذكروه ،ليكن افضل او مستحب همدا ده چې په عربي كې داسې وويل وايې بسم الله الله اكبر............او كه نابالغ د ذبح طريقه زده وي او بيا د الله تعالى په نامه سره ذبح وكړي نو دده ذبيحه هم حلاله ده .همداشان د ګونګى مسلمان ذبيحه هم حلاله ده لما في الشامية :۵/۲۹۷:وشرط كون الذابح مسلما حلالا الى ..........قوله ولو الذابح مجنونا او امرأة او صبيا يعقل التسمية والذبح ويقدر او اقلف او اخرس (جديد معاملات كى شرعى احكام :۳/۹۴)

(۵) د ذبح پروخت د الله تعالى له نامه سره بل څوك ذكر كول يا داشان ويل اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ من فُلَانٍ مكروه دي ،د دي دري صورتونه دي (۱) د بل چا ذكر د عطف په ډول سره متصل وكړي مګر عطف ونه كړي لكه چې داسې وايې بِاسْمِ اللّٰهِ. مُحَمَّدٌ رسول الله نو دا مكروه ده او ذبيحه حلاله ده ولى چې د لته يې نبى كريم ﷺ له الله تعالى سره شريک كړى نه دى كه شريک كول مقصود واى نو محمد به مجرور وي حال دا چې محمد مجرور نه دى بلكه مرفوع دى مګر څرنګه چې يې صورةً د الله تعالى له نامه سره غير يو ځاى كړى دى په دي وجه دا مكروه تحريمي ده .(۲) د ذبح پروخت د الله تعالى له نامه سره د بل چا نوم په عطف كولو سره ذكر كړي بِاسْمِ اللهِ وَمُحَمَّدٍ رسول الله نو په دي صورت كې دا ذبيحه د ما اهل لغير الله كيدلو په وجه سره حرامه ده ولى چې د تسميه پروخت يې له الله تعالى سره غير ذكر كړى دى (۳) د ذبح پروخت صورةً ومعنى په هر اعتبار سره د بل چا ذكر د الله تعالى له نامه څخه جلا وكړي مثلاً له تسميه او ذبيحه چپه كولو وړاندي يا له ذبح څخه وروسته ووايې اللهم تقبل من فلان .نو دا صورت جائز دى ولى چې په دي صورت كې له الله تعالى سره د چا د شريكولو هيڅ شائبه نشته .

(۶) ذبح اختياري د حلق او لبه (د سيني لوړه وكى) په منځ كې وي ولى چې له حضرت ابن عباس ﷺ څخه مروى ده الذكوة في الحلق واللبة (ذبح د حلق او لبه په منځ كې وي )،باقي شوه ذبح اضطراري نو په هغې كې د ذبح محل متعين نه دى بلكه د بدن په هره حصه كې زخم جوړول او وينه بهول كافى ده .

(۷) والمذبح المريء والحلقوم والودجان وقطع الثلاث كاف (۸) ولو بظفر وقرن وعظم وسن منزوع وليطة ومروة وما أنهر الدم (۹) إلا سنا وظفرا قائمين (۱۰) وندب حد الشفرة (۱۱) وكره النخع وقطع الرأس والذبح من القفا (۱۲) وذبح صيد استأنس وجرح نعم توحش أو تردى في بئر (۱۳) وسن نحر الإبل وذبح البقر والغنم وكره عكسه وحل (۱۴) ولم يذك جنين بذكاة أمه

**ترجمه** :اومذبح مرئ ،حلقوم اودوه شاه رګه دي اوپريکيدل ددريو کافي دي ،اګرکه په نوک ياشکرياهډوکي ياغابښ سره وي کوم چې کښل شوی وي يادنرکل په پوستکي ياپه تيره ډبره ياپه داسې شئ سره وي کوم چې وينه وبهوي ،مګرغابښ اونوک کوم چې دواړه په خپل ځای وي ،اومستحب ده دچاړي تيره کول ،اومکروه ده دهډوکی ترمازغوپورې پرې کول اودسرپرې کول اوذبح کول دڅټ له طرف څخه ،اوذبح کيږي به هغه ښکارکوم چې مانوس وي اوزخمي دي کړای شي هغه څاروی کوم چې وحشي شي ياولويږي څاه ته ،اوسنت دی نحرکول داوښ اوذبح کول دغوا اوبزي اومکروه دی ددي عکس مګرحلال دی ،اونه ذبح کيږي جنين دده دموربه ذبح کيدلو سره .

**تشريح** :(۷)په ذبح کې څلوررګونه پرې کيږي حلقوم (دساه دتلوراتلولاره )اومرئ (دخورک څښک لاره )اودوجان (دوه شاه رګه کوم چې دحلقوم اومرئ په ښی اوکيڼ طرف کې واقع دي )،نوکه يې داڅلوررګونه پرې کړل نوبالاتفاق دداسې څاروی خوړل حلال دي لقوله ﷺ «أفر الأوداج بما شئت»(پرې کړه دوه رګونه په به کوم شئ چې وغواړي )اوداج جمع دی چې دهغي لږترلږه دري افرادوي لهذاله دي څخه دوه شاه رګه اومرئ (نرخره )مراددي اودادري داسې دي چې له حلقوم څخه بغيرنه شي پرې کيدلی لهذابالضرورة حلقوم هم په پرې کيدونکورګوکې شامله شوه په دې ډول په ذبح کې پرې کيدونکي رګونه څلورشول .اوکه اکثر(يعنی دري )رګونه پرې شول له څلوروڅخه هردري چې وي نوهم دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دهغه خوړل حلال دي ،دصاحبينوپه نزدد حلقوم اومرئ اواحدالودجين پرې کيدل ضروري دي .

**فائده**:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافي الهندية :وان قطع اکثرهافکذالک عندابی حنيفة وقالالابدمن قطع الحلقوم والمرئ واحدالودجين والصحيح قول ابی حنيفة لماان للاکثرحکم الکل (هندية :۵/۲۸۷)

**فائده**:په حديث شريف کې مطلقاعروق ثلاثه ذکرشوي دي دحلق اومرئ نوم نشته ،له عروق څخه داسې عروق مراددي دکوموپه پرې کيدلوکې چې توصيه فی اخراج الروح والدم وي نوکه په مافوق العقده باندي دحلق اومرئ اطلاق هم نه وي نوبياهم په هرکيف عروق خوموجوددي دکوموقطع چې دتوصية فی اخراج الروح باعث ده لهذادمافوق العقده په حالت کې هم دعروق ثلاثه دمنقطع کيدلوپه وجه سره ذبيحه حلاله ده (ازاحسن الفتاوی :۷/۴۲۲).له اهل تجربه څخه معلومه شوي ده چې دذبح عروق په فوق العقده ذبح کولوسره هم پرې کيږي لهذادي په حلت کې شبه نشته (عزيزالفتاوی :۱/۷۰۸)

(۸)قوله ولوبظفروقرن ای يجوزالذبح ولوبظفروقرن الخ ،يعنی په پرې شوي نوک اوشکر،په کښل شوي غابښ وليطه (دبانس تيره پوستکی )اومروه (سپينه نری تيره ډبره )سره دڅاروی ذبح کول جائزدي همداشان په هرداسې تيره شئ سره هم ذبح کول جائزدي کوم چې رګونه پرې کوي اووينه بهوي ولی چې دذبح حقيقت هم درګوپرې کول اووينه بهول دي.

(۹)مګرپه خپل ځای قائم (یعنی کوم چې له انسان اوځاروی څخه جلاشوی نه وي )غاښ اونوک سره ذبح کول جائزنه دي اګرکه رګونه پرې کوي اووینه بهوي لقوله ﷺ ﴿كُلُّ ما أنهر الدّمَ ما خلا الظّفر والسِّنّ﴾ (یعنی کوم شئ چې وینه بهوي په هغه سره ذبح شوی خورئ مګرپه غاښ اونوک سره ذبح شوی مه خورئ)،همداراز پردي دامت اجماع هم ده .

(۱۰)دذابح لپاره مستحب ده چې دځاروي له څملولووړاندي خپله چاړه تیره کړي لقوله ﷺ ﴿وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبحة وليحد أحدكم شفرته﴾ (یعنی کله چې تاسې ذبح کوی نوپه ښه طریقه سره ذبح وکړئ اوله تاسې څخه ذبح کونکی دي خپله چاړه تیره کړي ).

**فائده**:سلیقه مندی دهرعمل روح ده اوشریعت ددي ډیرساتونکی دی ده په هرهرشئ کې ددي تعلیم ورکړی دی اوتاکیدیې هم کړی دی ،دځاروی ذبح کول خوله ده څخه داعلی اوافضل مخلوق یعنی انسان دغذاء په خاطرحلال کړای شوی ده لیکن په ذبح کولوکې چې کوم تکلیف دي ځاروي ته رسیږي دهغه متعلق تاکیددی چې داډیرلږوي ،لکه چې دچاړي له وړاندي څخه دتیره کولوحکم دهمدي لپاره دی چې څومره رګونه چې پرې کیږي زرترزره پرې شي اوداځاروی دژونداومرګ له کش مکش څخه زرنجات ومومي .اوزړې (چاړه وغیره )چې څومره تیره وي همدومره به تکلیف هم کم وي اود جسم اوروح تعلق به هم په دي سره زرمنقطع کیږي ،دراحت ورکولویو مطلب داهم بیان شوی دی چې له ذبح کولو څخه وروسته دی ښه یخیدلوته پریښودي .نبی کریم ﷺ دچاړودتیره کولواودهغوله ځارویو څخه دپټولوحکم فرمایلې دی ،اوپه تلوارسره یې دذبح کولوحکم فرمایلې دی ،اودځاروی په وړاندي یې دچاړي له تیره کولوڅخه منع فرمایلې ده ،داکاربایدله وړاندي څخه وشې یعنی چاړي دځارویوپه وړاندي تیري نه کړای شې اوپه تلوارسره دذبح کولوحکم فرمایلي دی (مسائل رفعت قاسمی :۵/۱۱۶)

**فائده**:له ذبح کولو څخه وړاندي دځاروی بې هوشه کول خلاف سنت دی ،شریعت چې کومه ذبح کول دحلال والی شرط ګرځولی دی ددي علت لکه څرنګه چې له نصوصو څخه واضح دی دادی چې بهیدونکي وینه دذبیحه له بدن څخه ووځي اودسائنس له قواعدو څخه ددي قوی احتمال دی چې دځاروی طبیعت :ده دهوش په حالت کې قوی وي ،اوڅومره درجه کې چې بې هوشې وي همدومره اندازه دده طبیعت ضعیف وي ،اودویني خارجول دطبیعت کاردی ،نوڅومره چې طبیعت قوي وي وینه به ډیره خارجیږي .اوڅومره چې په طبیعت کې ضعف وي وینه به کمه خارجیږي ،نوقصدادطبیعت ضعیفه کول ودویني دلږایستلواهتمام کول دي .کوم چې دشارع له مقصودسره صریح مزاحمت دی داخوشرعي خلاف ورزي ده ، اووینه په بدن کې ډیره موجوده ده سره له دي چې لږوځې هغه له غوښي سره ګډیږي ،اوحال داچې دځاروی په خپله مړه کیدلوسره توله وینه په غوښه کې دګډیدلوپه وجه سره دطب نبوی ﷺ دمنشاء خلاف دی اوپه بې هوش کولوسره اویاذبح کولوسره خوڅه ناڅه وینه په غوښه کې خامخاشاملیږي اوداله شریعت څخه خلاف دی .اوکه په کومه وجه سره بلاتدبیراختیاري وي (یعنی له بې هوشه کولوبغیردکوم ځاروی وینه کمه ووځې )په دي کې مکلف معذوردی له دي څخه دحرمت یاکراهت حکم نه کول کیږي (امدادالفتاوی :۳/۶۰۸)

(۱۱): بح نره دچاړي ترنخاع (حرام مغز) پوري رسول مکروه ده همداشان دڅاروی له يخيدلو څخه وړاندې دڅروی سرپري کول هم مکروه دي ولی چې په دي کې بلافائدي حيوان ته عذاب ورکول دي کوم چې منهی عنه دی .همداشان که چاېزه دڅټ له طرف څخه ذبح کړله او هغه ترهغه وخت پوري ژوندی وه چې دهغي هغه رګونه هم پري شول دکوموچې پري کول ضروري دي نوداهم مکروه ده بياهم دا سې به خوړل کيږي ولی چې مکروه فعل حرمت نه ثابتوي ،اوکه بزه دضروري رګونوله پري کيدلو څخه وړاندې مړه شوه نونه به خوړل کيږي ولی چې ددي مرګ په ذبح سره نه دی واقع شوی .

**فائده**:دحيوان دذبح کولوپروخت دلاندې اموررعايت بايدوکړل شي ،(۱)حيوان ته نه ذبح کولوڅخه وړاندې بايدخورک ورکړل شي اوبه وروڅښل شي ورته تږی ساتل مکروه دی .(۲)مذبح ته دبيولوپروخت په کښولوسره بيول مکروه دي .(۴)په اساني سره دي حيوان څملول شي بي ځايه سختي کول مکروه دي .(۵)دقبلي طرف ته په مخ کرځولوسره دي په کيڼ اړخ څملول شي چې روح يې په اساني سره ووځي ،له دي څخه خلاف کول مکروه دي (۵)له څلوروپښوڅخه دي دري وروتړي .(۶)چاړه دي تيره کړي ،په پڅه چاړه سره ذبح کول مکروه دي (۷)که چاړه تيره کوي نوله حيوان څخه دي پټه تيره کړي ولی چې حيوان ته مخامخ تيره کول مکروه دي (۸)دحيوان له څملولووړاندې دي چاړه تيره کړي .وروسته دچاړي تيره کول مکروه دي (۹)په حديث شريف کې دي چې يوکس حيوان څملا وواوچاړه يې تيره کوله ددي په ليدلوسره نبی کريم ﷺ وفرمايل ته بزي ته له يوځل څخه زيات مرګ ورکول غواړي ،(۱۰)ديوه څاروي دبل مخ ته ذبح کول مکروه دي .(۱۱)په سختی سره دي ذبح نه کوي چې سربې پري شي ياترحرام مغز(په غاړه کې دننه سپين رګ )پوري چاړه ورسيږي ولی چې دامکروه ده (۱۲)له غاړي څخه لوړذبح کول مکروه دي اومنع دي ولی چې په دي حيوان ته له ضرورت څخه زياته ايذاء رسول دي (۱۳)له ذبح څخه وروسته دحيوان له يخيدلووړاندې دي سرنه جلاکوي اونه دي پوستکی کاږي ولی چې دامکروه ده (فتاوی رحيميه :۱۰/۶۸)

**فائده**:که دذبح کولوپروخت دچرګې سرپري شي نوددي څه حکم دی .الجواب باسم ملهم الصواب : قصداًداسې کول مکروه دي ،بلاقصده څه کراهت نشته ،غوښه په هرصورت مکروه نه ده والله سبحانه وتعالی اعلم (احسن الفتاوی :۷/۴۰۷)

(۱۲)کوم ښکارچې مانوس وي نودهغه ذکاة (ذبح )داده چې مابين الحلقوم واللبة ذبح کړای شي ولی چې ذبح اختياري (ذبح اختياري هغه ده چې په هغې کې په مذکوره بالاطريقي سره په ذبح کولوقدرت وي )که مقدوره وي نوذبح اضطراري (ذبح اضطراري هغه ده چې په هغي کې په کوم ځای چې هم په زخم لګولوسره وينه بهول کيږي )کافی نه ده .اوکوم حيوان چې پيدائشي وحشي وي ياوپه وحشي کيدلوسره وتښتي ياپه څاه کې ولويږي په دي دول چې اوس دده ذبح اختياري مقدوره نه وي نودهغه ذکاة ذبح اضطراري ده کوم چې په نيزه سره اوزخمي کول دي ولی چې په مذکوره صورتونو کې همدامقدورده .

(۱۳)په اوښ کې مستحب دادی چې نحرکړای شي (نحردادی چې له سيني څخه لوړچې دحلقوم کومه حصه يوځای شوي ده چيرته چې غوښه لږوي هغه پري کړای شي )ولی چې همدامتوارث ده اوداوښ درګوديوځای

کېدلو ځای هم دی لهذا دلته تول رګونه پري کیږي ،ضابطه داده چې دکوم حیوان چې هم غاړه اوږده وي هغه دي نحر کیږي ،اودغوا ،بزي وغیره په حق کې ذبح کول مستحب ده ولی چې ددوئ رګونه هلته جمع وي چیرته چې ذبح کیږي ،اوکه یې ددي عکس وکړیعنی اوښ یې ذبح کړاوغوا ،بزه وغیره یې نحر کړه نودحصول مقصود (یعنی وینه بهول )په وجه سره داهم جائزده مګر دخلاف سنت په وجه سره مکروه ده .

(۱۴)که چااوښه نحر کړه یایې غوااوبزه حلاله کړه بیایې ددي په نس کې مړبچی وموندی نودامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دمور ذبح کول دده ذبح نه شمارل کیږي بلکه دی به علیحده ذبح کیږي ولی چې دمور په ذبح کولو سره دجنین وینه نه بهیږي لهذا دی به نه خوړل کیږي که یې ویښتان شنه شوي وي اوکه نه وي (یعنی خلقت یې تام شوی وي اوکه نه وي ).حال داچې دصاحبینو په نزد که یې خلقت تام شوی وونو خوړل کیږي اوکه نه ووتام شوی نونه خوړل کیږي .

**فائده**: دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدر المختار: وفی منظومة النسفی قوله ان الجنین مفرد بحکمه ،لم یتذکی بذکاة امه لحذف المصنف ان وقالا ان تم خلقه اکل لقوله ﷺ ذَکَاةُ الْجَنِينِ ذَکَاةُ أُمِّهِ ،حمله الامام علی التشبیه ای کذکاة امه بدلیل انه روی بالنصب ولیس فی ذبح الام اضاعة الولد لعدم التیقن بموته (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۵/۲۱۳)،وفی اللباب: قال فی التصحیح واختار قول ابی حنیفة الامام البرهانی والنسفی وغیرهما (اللباب علی هامش الجوهرة: ۲/۲۳۸)

## فَصلٌ فِیمَا یَحِلُ اکله وما لا یَحِلُ

دافصل دهغه شیانو په بیان کې دي دکوموچې خورک حلال دی اودکوموچې خورک حلال نه دی کله چې مصنف رحمه الله دذبح له تفصیل څخه فارغ شونودهغه حیوانانو تفصیل یې شروع کړدکوموچې خوړل حلال دي اودکوموچې خوړل حلال نه دي ولی چې له مشروعیت ذبح څخه اصل مقصود توسل الی الاکل دی ،بیایې دذبح تفصیل په دي وجه مقدم کړچې ذبح دماکول حیوان لپاره شرط ده اوشرط له مشروط څخه مقدم وي .

(۱)لَا یُؤْکَلُ ذُو نَابٍ وَمِخْلَبٍ مِن سَبُعٍ وَطَیرٍ (۲)وَحَلَّ غُرَابُ الزَّرْعِ لَا الْأَبْقَعُ الَّذِي یَأْکُلُ الْجِیَفَ (۳)وَالضَّبُعُ وَالضَّبُّ (۴)وَالزُّنْبُورُ وَالسُّلَحْفَاةُ وَالْحَشَرَاتُ (۵)وَالْحُمُرُ الْأَهْلِیَّةُ وَالْبَغْلُ وَحَلَّ الْأَرْنَبُ (۶)وَذَبْحُ مَا لَا یُؤْکَلُ لَحْمُهُ یُطَهِّرُ لَحْمَهُ وَجِلْدَهُ (۷)إلَّا الْآدَمِيَّ وَالْخِنْزِیرَ (۸)وَلَا یُؤْکَلُ مَائِيٌّ إلَّا السَّمَکُ غَیرَ طَافٍ وَحَلَّ بِلَا ذَکَاةٍ کَالْجَرَادِ (۹)وَلَوْ ذَبَحَ شَاةً فَتَحَرَّکَتْ ،أَوْ خَرَجَ الدَّمُ حَلَّ ،وَإِلَّا لَا إنْ لَمْ یَدْرِ حَیَاتَهُ ،وَإِنْ عَلِمَ حَلَّ ،وَإِنْ لَمْ تَتَحَرَّکْ وَلَمْ یَخْرُجْ الدَّمُ

**ترجمه**:نه دي خوړل کیږي دداړووالااوپنجې والاله ځناوروا ومرغانو څخه ،اوحلال دی دکښت کارغه نه برګ کارغه کوم چې مردار خوري ،اونه ګورکښ اوسمساره ،اومچمچۍ اوکیشف اوپه ځمکې اوسیدونکي حیوانان ،اوکورني خره اوخچراوآس اوحلال دی سوی ،اوذبح کول دداسي حیوان کوم چې نه خوړل کیږي پاکوي دهغه غوښه اودهغه پوستکی ،ماسواله انسان اوخنزیر څخه ،اونه دي خوړل کیږي دریابي حیوانان مګر ماهی کوم چې داوبو پرسرنه وي راغلی اوحلال دی بلاذبح دملخ په شان ،اوکه یې ذبح کړه بزه اوهغې حرکت وکړیاوینه ووتله نوحلاله ده کنه نونه ده که معلوم نه وي دهغې ژوند اوکه معلوم وي نوحلاله ده اګر که حرکت ونه کړي اونه وینه ووځي .

**تشریح**: (۱) دهرقسم ذی ناب (هغه غوښه خوړونکی حیوان چې دهغه هغه دوه لوی غاښونه وي دکومې په ذریعه سره چې هغه غوښه پرې کوي یاښکار نیسي) ځناور خوړل جائزنه دي ولی چې نبی کریم ﷺ دخیبرپه ورځ فرمایلي وو ﴿أكل كل ذي ناب من السباع حرام﴾ (یعنی له ځناورو څخه دهرذی ناب خوړل حرام دي)، اوپه مرغانوکې دهرذي مخلب (مراد هغه مرغه دی کوم چې په خپلو تیرو پنجو سره ښکار مرکوي) خوړل جائزنه دي ولی چې په حدیث شریف کې دي چې نبی کریم ﷺ دهمدي خیبرپه ورځ خاطفه حرام گرځولي دي اوله خاطفه څخه مراد هغه مرغه دی کوم چې له هوا څخه په حمله کولو سره شئ پورته کوي لکه بازوغیره.

(۲) دکښت دکارغه خوړل جائزدي کوم ته چې زاغ ویل کیږي ولی چې هغه دانه خوري مردارنه خوري لهذا هغه له سباع الطیر څخه نه دی، البته غراب ابقع (یعنی په کوم کې چې سپین اوتوررنگ گډ شوی وي، دده غاړه دېښوپه نسبت ډیره سپینه وي) به نه خوړل کیږي ولی چې هغه مردار خوري.

(۳) قوله والضبع والضب ای لایحل اکل الضبع والضب، یعنی دضبع (بجو، گورکښ، دځناوروپه جنس کې له سپي څخه لږلوی اودلوی سروالاقوی حیوان دی) خوړل جائزنه دي ولی چې ضبع له ځناورو څخه دی، اوضب (سمساره) خوړل جائزنه دي لحدیث ابی داؤدان رسول الله ﷺ ﴿نهی عن اکل لحم الضب﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ دسماري له خوړلو څخه منع فرمایلي ده). دائمه ثلاثه په نزد سمساره حلاله ده ولی چې حضرت عباس رضي الله عنه فرمایي چې دنبی کریم ﷺ پردسترخوان سمساره وخوړل شوه که حرامه وای نونه به خوړل کیده، احناف ددي ځواب ورکوي چې داپه ابتداء اسلام باندي محمول ده ولی چې داسلام په ابتداء کې صرف دري شیان حرام وو قال الله تعالی ﴿قُل لَّا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ﴾ وروسته ډیرشیان حرام کړل شول.

(۴) قوله والزنبورای لایحل اکل الزنبور، یعنی دمچ مچۍ، کشف اوهرقسم حشرات الارض (چنیجان یاکوچنی کوچنی حیوانان لکه چونگښه، موږک، سرطان، اوماروغیره) خوړل جائزنه دي ولی چې داله خبائثو څخه دي قال الله تعالی (وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ) (یعنی حراموي هغه پردوئ خبائث).

(۵) دکورنیو خروخوړل جائزنه دی ﴿لحدیث ثعلبة الخشني أنه قال حرم رسول الله صلی الله علیه وسلم لحوم الحمر الأهلية﴾ (یعنی نبی کریم ﷺ دکورنیو خروغوښه حرامه وگرځوله)، همداشان دخچرغوښه خوړل هم جائزنه ده که هغه دخري له نس څخه پیداشوی وي ولی چې له خري څخه دپیداکیدلو په وجه سره به دده هم هغه حکم وي کوم چې دده اصل دی. دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دآس غوښه خوړل مکروه تحریمي ده ولی چې دادښمن دویرولو آله ده نواحترامادده خوړل مکروه دي، حال داچې دصاحبینو په نزد دآس غوښه خوړل (له کراهت تنزیهی سره) جائزده ﴿لحدیث جابر بن عبدالله رضي الله عنه قال اکلنا لحم الفرس علی عهد رسول الله ﷺ﴾ (یعنی موږ دنبی کریم ﷺ په زمانه کې دآس غوښه وخوړله). او دوئ په خوړلو کې څه حرج نشته ولی چې نه داله ځناورو څخه دی اونه مردارخوري لهذا دادهوسۍ مشابه دی.

**فائده**: دآس دغوښې په باره کې دامام صاحب قول راجح دی لمافی الهندیة: یکره لحم الخیل فی قول ابی حنیفة خلافا لصاحبیه ...وقال الشیخ الامام السرخسی ماقاله ابوحنیفة احوط وماقالا الاوسع (الهندیة: ۵/۲۹۰) وقال ابن عابدین الشامی: (قوله وعلیه الفتوی

)الهرمكروه كراهة التنزيهية وهوظاهر الرواية كمافي الكفاية وهو الصحيح على ماذكره فخر الاسلام وغيره قهستاني ثم نقل تصحيح كراهة التحريم عن الخلاصة والهداية والمحيط والمغني وقاضيخان والعمادي وغيرهم وعليه المتون (ردالمحتار: ۵/۲۱۳)

**فائده:** دبعض نسل حيوانانوپه باره كې مشهوره ده چې ددوئ دنسل كشي لپاره دخنزيرماده منويه دټيسټ ټيوب په ذريعه يادجفتى (وطى )په ذريعه استعماليږي له كوم ځخه چې بچى پيداكيږي داسې غواته جرمنى ياغيرملكي غواويل كيږي دداسې غواد غوښې څه حكم دى ؟نوپوه شه چې دحيواناتونسل له مورځخه ثابتيږي ،دنرد ماده منويه هيڅ اعتبار نشت لكه چې فقها وليكلي دي چې كه له بزې سره كوم ځناوروطى وكړي نوبچى دمورپه تابع كيدلوسره حلال دى ،لهذادجرمنى غواياكوم بل حيوان چې دهغه مورحلال حيوان وي نوهغه ذبح كول اودهغه غوښه خوړل شرعاجائزدي ،لماقال العلامة الكاساني في البدائع الصنائع: ۵/۶۹:حتى ان البقرة الاهلية اذانزعهاثوروحشي فولدت فانه يجوزان يضحى به وان كانت البقرة وحشية والثوراهليالم يجزلان الاصل في الولدالام لانه ينفصل عن الام (جديدمعاملات كې شرعى احكام: ۳/۳۹)

(۶)كه چاداسې حيوان ذبح كړچې دهغه غوښه خوړل حلال نه وي نودهغه پوستكى اوغوښه پاكيږي نوكه په اوبوكې دداسې ذبح شوى حيوان غوښه ولويږي نوهغه نه مرداريږي ولى چې دذبح اثردادى چې په دي سره رطوبات اوبهيدونكي وينه ختميږي اونجس هم هماد وه شيان دي دپوستكى اوغوښې ذات نجس نه دى لهذاكله چې دازائل شول نوپوستكى اوغوښه پاكيږي لكه چې په دباغت سره پاكيږي ،دامام شافعى رحمه الله په نزدپه ذبح كولوسره پوستكى اوغوښه نه پاكيږي ولى چې دذبح اثرپه اباحت لحم كې اصل دى اودغوښې اوپوستكى په طهارت كې تابع دى اوتابع له اصل ځخه بغيرنه وي نوكله چې په ذبح كولوسره دداسې حيوان غوښه مباح نه ګرځي نوپاكيږي هم نه .

(۷)البته دانسان اوخنزيرغوښه په ذبح كولوسره نه پاكيږي يادانسان په غوښه كې دذبح دعدم تاثيروجه دانسان مكرم اومحترم والى دى اوپه خنزيركې دعدم تاثيروجه دخنزيرنجس العين والى دى .

(۸)داوبوپه حيواناتوكې (دسمندر،درياب وغيره )له ماهى ماسواهيڅ حيوان هم حلال نه دى لقوله تعالى ﴿ويحرم عليهم الخبائث﴾ (يعنى حراموي هغه پردوئ خبائث )اوله ماهى ماسوادااوبونورحيوانات له خبائثوځخه دي ولى چې هغه طبائع سليمه مكروه بولي ،اوله ماهيانوځخه هم دطافى (كوم ماهى چې په اوبوكې په خپل مرګ سره ومري اوداوبوپرسرراشي اودهغه نس داسمان طرف ته وي هغه ته طافى ويل كيږي )خوړل مكروه ده لقوله ﷺ ﴿وماطفى فلاتاكلوه﴾ (يعنى كوم چې سرچپه شوى وي هغه مه خورئ)،دملخ خوړل حلال دي ،دماهى اوملخ دذبح كولوضرورت هم نشته لقوله ﷺ ﴿أحلت لنا ميتتان السمك والجراد﴾ (يعنى زموږلپاره حلال كړل شوي دي دوه مردي يعنى ماهى اوملخ ).

**فائده:** دامام شافعى رحمه الله په نزددسمندرټول حيوانات حلال دي مګرخنزير،سپى اوانسان جائزنه دي لقوله تعالى (أحل لكم صيد البحر)(ستاسي لپاره ددرياب ښكارحلال كړل شوى دى )،همدرازپه حيوان كې اصل حرامونكى شئ وينه ده حال داچې داوبوپه حيواناتوكې وينه نه وي ولى چې وينه لرونكى حيوان په اوبوكې نه شي اوسيدلاى.

**فائده**: دجيهنګي خوړل جائزدي او که يا؟ دجيهنګي په باره کې دحضرت شيخ الاسلام مفتي محمدتقي عثماني دامت برکاتهم يوتحقيق نقل کوم، فرمايي، دلغت ډيروماهرينو (پوهانو) ددې خبرې صراحت کړې دی چې جينهګادماهي يوقسم دی لکه چې ابن دريدپه جمهرة اللغة کې ليکلي دي چې، والربيان ضرب من السمک، اربيان (جينهګا) دماهي يوقسم دی (جلد ۳، صفحه ۴۱۴) دلغت په مشهورکتاب قاموس اوتاج العروس کې هم جينهګاپه ماهي کې شمارکړې دی (جلد ۱، صفحه ۱۴۶)، همداشان علامه دميری په خپل کتاب حيواة الحيوان کې فرمايلي دي چې الروبيان هوسمک صغيرجداًاحمر، جينهګاډيرکوچنی ماهي دی دکوم چې رنګ سوروي (جلد ۱، صفحه ۴۷۳)

دلغت دماهرينوددې تصريحاتوپراساس له احنافوڅخه ډيروحضراتو دجينهګې دحلال والی فتوی ورکړې ده، لکه صاحب فتاوی حماديه وغيره. زموږشيخ المشائخ حضرت مولانااشرف علي تهانوی رحمه الله په خپل کتاب امدادالفتاوی کې فرمايلي دي دماهي څه خواص لازمه په کوم دليل سره نه دي ثابتي شوي چې دهغوئ په انتفاء سره سمکيت منتفي شي، اوس مدارصرف دعدول مبصرينوپه معرفت باندې دی، اوس وخت له ماسره حيواة الحيوان ددميري په کوم کې چې له ماهيات حيوانات څخه بحث شوی دی، موجوددی په دې کې تصريح ده، الروبيان هوسمک صغيرجدا، په هرحال احقرته په اوس وخت کې خودده دسمک (ماهي) والی په باره کې بالکل اطمينان دی ولعل الله يحدث بعدذالک امرا، والله اعلم (امدادالفتاوی ۴/۱۰۳:)

ليکن دموجوده زماني دعلم حيواناتوماهرين (پوهان) جينهګاپه ماهي کې نه شماري، بلکه ددوئ په نزدجينهګاداوبودحيواناتويومستقل قسم دی، دوئ وايي چې جينهګادژويو له خاندان څخه يوفرددی نه چې دماهي کوم قسم دی، دماهرين حيواناتوپه نزددماهي تعريف دادی: هوحيوان ذوعمودفقري يعيش في الماء ويسبح بعواماته ويتنفس بغلصمته، هغه درېږ دهډوکی درلودونکی حيوان دی، کوم چې په اوبوکې اوسيږي، په خپله وزرونوسره لامبوهي، اوپه شونډانو سره ساه اخلي (انسائيکلوپيډياآف بريټانيکا: ۹/۳۰۹، مطبوعه ۱۹۵۰ء)

ددې تعريف له مخې جينهګاپه ماهي کې داخل نه دی، ولې چې په جينهګې کې دملاهډوکی هم نشته اونه جينهګاپه شونډانو سره ساه اخلي، همدارازجديدعلم حيوان، حيوانات په دوولويوقسمونوتقسيموي، (۱) الحيوانات الفقريه (vertebrate) (۲) الحيوانات الغيرالفقريه (invertebrate)

اول قسم دهغه حيواناتودی په کوموکې چې دملاهډوکی وي اوپه کوموکې چې اعصابي نظام هم موجودوي اودوهم قسم دهغوحيواناتودی په کوموکې چې دملاهډوکی نه وي اوپه کوموکې چې اعصابي نظام هم موجودنه وي. ددې تقسيم په لحاظ سره ماهي دحيواناتوپه اول قسم کې شمارل کيږي حال داچې جنيهګاپه دوهم قسم کې شمارل کيږي، دانسائيکلوپيډياآف بريټانيکا (۶/۳۶۳ مطبوعه ۱۹۸۸ء) مطابق دنوي فيصد حيواناتوتعلق له دې دوهم قسم سره دی. همداراز داقسم حشرات الارض ته هم شامل دی.

همداشان مستاني په دائرة المعارف کې د ماهي تعريف په دي الفاظو سره کړی دی ،حيوان من خلق الماء وآخر رتبة الحيوانات الفقرية دمه احمر يتنفس في الماء بواسطة خياشيم وله كسائر الحيوانات الفقرية هيكل عظمی ،ماهی په اوبو کې اوسيدونکی حيوان دی ،دريړهډوکي لرونکو حيواناتو کې دده درجه په اخير کې ده ،دده وينه سره ده پوزي دنلوپه ذريعه سره ساه اخلي ،اودنورو ريړهډوکو لرونکو حيواناتو په شان دده بدن جثه هم ډيره لويه وي (دائرة المعارف :جلد ۱۰ صفحه ۶۰)

محمد فريد وجدی د ماهی تعريف په دي ډول کړی دی ،السمک من الحيوانات البحرية وهو يكون في الرتبة الخامسة من الحيوانات الفقرية دمها بارد احمر ،يتنفس من الهواء الذائب في الماء بواسطة خياشيمها وهي محلاة باعضاء تمكنها من المعيشة دائما في الماء وتعرم فيه بواسطة عوامات ولبعضها عوامة واحدة ،ماهی له سمندري حيواناتو څخه دی اودريړهډوکي لرونکو حيواناتو کې دده درجه پنځم نمبر ده دده وينه يخه او سره ده ،په اوبو کې له تحليل شوي هوا گانو څخه د خيشوم په ذريعه هغه ساه اخلي او هغه په داسي اعضاء سره ښائسته دی د کومو په کومک سره چې ده لره هميشه په اوبو کې اوسيدل آسان دي ،ماهی د خپلو وزرو په ذريعه سره په اوبو کې لامبو وهي او د ځينو ماهيانو صرف يو وزر وي.

د ماهی داتعريفات پر جينهگي نه صادقيږي ،د دي تعريفاتو له مخي جنيهگا په دي وجه له ماهی څخه خارجيږي چې په جينهگي کې د ملاهډوکی نه وي لهذاکه مورد ماهرين حيواناتو د قول اعتبار وکړو نو جينهگا ماهی نه دی او په دي صورت کې د حنفيه و د اصل مذهب مطابق د هغه خوړل جائز نه دي.

ليکن دلته سوال داپيداکيږي چې آيا جينهگي په ماهی والی يانه ماهی والی کې به د ماهرينو حيواناتو د دي علمي تحقيقاتو اعتبار کيږي اوکه د عرف عام يعنی په خلګو کې د متعارف اصطلاحی مفهو اعتبار به کيږي ؟او په دي کې هيڅ شک نشته چې که د دوو ځايونو عرف په خپل منځ کې مختلف وي نو په دي صورت کې به د اهل عربو عرف معتبروي ،ولی په حديث کې چې له مرده سمندري حيواناتو څخه د سمک (ماهی )کوم استثناء چې شوي ده هغه د عربي ژبي په اساس شوي ده (لهذا د کوم حيوان په سمک کې په داخليد لو يانه داخليد لو کې به د عربي ژبي عرف معتبروي ،مترجم )او داخبره وړاندي تيره شوه چې ابن دريد ،فيروزآبادی ،زبيدی او دميري په شان ماهرين لغت پر دي متفق دي چې جينهگا ماهی دی.

لهذا د دي تفصيل مطابق له احنافو څخه چې کومو حضراتو د علم حيوان ،د بيان کړي تعريف په رڼايي کې جينهگا له ماهی څخه خارج گڼلی هغوئ د دي خورک ممنوع گرځولی دی ،اوکومو حضراتو چې د اهل عربو د عرف مطابق جينهگا په ماهي کې شمار کړی دی هغوئ د جواز فتوی ورکړي ده.

د جواز قول په دي وجه راجح معلوميږي چې په دي شان مسائلو کې د شريعت مزاج دا دی چې هغه د خلګو د عام عرف اعتبار کوي ،فنی باريکيانو ته نه ګوري ،لهذا فتوی ورکولو پروخت د جينهگي په مسئله کې سختي کول مناسب نه دي ،بالخصوص په داسي حال کې چې په بنيادي ډول سره دامسئله اجتهادي ده چې د ائمه ثلاثه په نزد جينهگي په حلال والی کې هيڅ شبه نشته ،همدا راز په کومه مسئله کې د فقهاو اختلاف

دتخفيف باعث دی البته بياهم دجينهګي له خورک څخه احتراز کول ډيرمناسب اوډيرا حوط اوډيرا ولی دی .فقط والله سبحانه وتعالی اعلم (فقهي مقالات جلد ۳، صفحه ۲۱۷تا ۲۲۱)

(۹) که چاناروغه بزه ذبح کړه اوذبح کولو پروخت هغې څه حرکت وکړيا له هغې څخه وينه راووتله نوهغه حلاله ده اوکه نه هغې حرکت وکړاونه دهغي وينه ووتله نوهغه حلاله نه ده ولی چې دحرکت اووينې داورويا يوه وجود دژوندعلامه ده لهذاذابح ژوندی بزه حلاله کړې ده په دي وجه حلاله ده، اوددواړو (حرکت اووينه) نه وجوددمرګ علامه ده لهذادابه ګڼل کيږي چې ده مرداره بزه ذبح کړي ده په دي وجه حلاله نه ده، هوکه په کومه ډول سره دذبح پروخت په دي کې ژوندمعلوم شي نوهغه په ذبح کولوسره حلال ګرځي اګرکه نه هغه حرکت وکړي اونه وينه ووځي اوکه ژوندمعلوم نه وي نوحلاله نه ده ولی چې اصل بقاء ماکان علی ماکان دی نودشک په وجه سره دژونددزوال حکم نه کول کيږي .

## كِتَابُ الْاُضْحِيَّةِ

### داکتاب داضحيه په بيان کې دی

اضحيه په لغت کې هغه حيوان ته ويل کيږي کوم چې دضحی پروخت ذبح کړل شي بيا په کثرت سره په هغه حيوان کې مستعمله شوه کومه چې دقرباني په ورځوکې هروخت ذبح کړای شي، اوشرعاً دمخصوص حيوان دقربت په نيت سره په مخصوص وخت کې ذبح کولوته ويل کيږي .

ذبح عامه ده که په نيت دتقرب وثواب وي يادالله تعالی پرنامه دخورک لپاره ذبح شوي وي اواضحيه خاص هغه ده کومه چې دتقرب په نيت سره ذبح کړای شي نوله ذبائح څخه وروسته داضحيه ذکرکول تخصيص بعدتعميم دی .

داضحيه لپاره شرط دادی چې اضحيه کونکی به مسلمان وي اود ومره غنی شرط ده په څومره سره چې صدقه فطرواجبيږي، داشرائط چې په چاکې موجودشي که مذکروي اوکه مؤنث نوپرهغه اضحيه واجب ده، داضحيه سبب وخت يعنی ايام نحردي، داضحيه رکن دهغه څاروی ذبح کول دي دکوم چې داضحيه په ډول سره ذبح کول جائزدي، داضحيه حکم په دنياکې دواجب اداء کول دی اوپه عقبی کې ثواب موندل دي.

( ۱ )تَجِبُ علی حُرٍّ مُسْلِمٍ مُقِيمٍ مُوسِرٍ عن نَفْسِهِ لَا عن طِفْلِهِ شَاةٌ أو سُبُعُ بَدَنَةٍ ( ۲ ) فَجْرَ يَوْمِ النَّحْرِ إلَى آخِرِ أَيَّامِهِ ( ۳ ) وَلَا يَذْبَحُ مِصْرِيٌّ قبل الصَّلَاةِ وَذَبَحَ غَيْرُهُ ( ۴ ) وَيُضَحِّي بِالْجَمَّاءِ وَالْخَصِيِّ وَالثَّوْلَاءِ ( ۵ ) لَا بِالْعَمْيَاءِ وَالْعَوْرَاءِ وَالْعَجْفَاءِ وَالْعَرْجَاءِ وَمَقْطُوعِ أَكْثَرِ الْأُذُنِ أو الذَّنَبِ أو الْعَيْنِ أو الْأَلْيَةِ ( ۶ ) وَالْأُضْحِيَّةُ من الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَجَازَ الثَّنِيُّ من الْكُلِّ وَالْجَذَعُ من الضَّأْنِ

**ترجمه** :واجب ده پرازاد، مسلمان، مقيم، غنی باندي له خپل طرف څخه نه دده دکوچنی اولادله طرف څخه يوه بزه يااومه حصه داوښ ياغوا، دعيدالاضحی په ورځ له طلوع فجرڅخه بيادايام نحرتراخيرپوري، اوذبح دي نه کوي دښاروالادادخترله لمانځه څخه وړاندي اوذبح دي کوي دغيرښاروالا، اوقرباني کولی شي دبې

ښکره اوخصی اولیوني ،نه دړانده او کانړه او انتهايي کمزوراوګوډ اوداکثرغوږاولکی اوغابښ اوسترګې يالم ډیري کړل شوي ،اوقرباني داوښ اوغوااوپسه اوبزې وي اوجائزدی ثنی له ټولو څخه اوجذع له پسه څخه .

**تشريح**:(۱)قرباندي په هرازاد ،مسلمان اومقيم (که په ښارکې وي يا په کلوکې وي )واجب ده اوشرط دادی چې غني (دصدقة الفطرغنی مرادده )وي ولی چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی ﴿من وجد سعة فلم يضح فلا يقربن مصلانا﴾ (کوم غنی چې قرباني ونه کړي هغه دي زموږعيدګاه ته نږدې نه راځي )ظاهره ده چې داسي شديدوعيدپه غيروجوب کې نه وي ،دکوچنيانوله طرف څخه دي قرباني نه کوي همداظاهرالرواية دی مګرحسن ابن زياد رحمه الله له امام ابوحنيفه رحمه الله نقل کړی دی چې دکوچنيانوله طرف څخه دي هم قرباني کوي هغه يې پرصدقة نطرقياسوي ،هرکس دي يوه بزه ذبح کړي يادي داووکسانوله طرف څخه يواوښ ياغواذبح کړي ،اوپه اوښ اوغواکې هريوله اووڅخه دلږوکسانولپاره هم کافی دی ،دقياس تقاضاخوداده چې دبزې په شان دهرکس له طرف څخه يواوښ يايوه غواوي مګرپه حديث شريف کې دي حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې موږله نبی کريم ﷺ سره غوااواوښ داووکسانوله طرف څخه قرباني کړه ،دبزې په باره کې څرنګه چې نص نشته لهذاهغه په خپل اصل پاتې ده .

**فائده**:له غنی کيدلو څخه مراددادی چې دضرورت اصليه ماسوادنصاب مالک وي ،له ضرورت اصليه څخه مرادهغه ضرورت دی کوم چې له نفس ياعزت سره متعلق وي يعنی دهغه دنه پوره والی په وجه سره دنفس ياعزت دتللوخطره وي مثلاخورک څښک ،جامې اغوستل ،اوداوسيدلومکان ،اهل صنعت وحرفت لپاره دهغوئ دکارکولواوزار،باقی لوی لوی ديګونه ،غټ غټ فرشونه ،شاميانې ،ريډيو،ټيپ ريکارډر، اوټلويږون ،وی سی اروغيره داټول په اسباب ضروريه کې داخل نه دي ،په دي وجه ددي په مالک باندي قرباني واجب ده ،په داسې حال کې چې ددي قيمتونه نصاب ته رسيږي .

**فائده**:که دڅوورونومال مشترک وي نوهغوئ ټول برابرحصه لرونکی دي اوقرباني پرهغه کس واجب ده له کوم سره چې له حاجات ضروريه څخه فارغ بقدرنصاب مال موجودوي ،نوکه ددي ورونومال مشترک دومره اندازه قيمت لري چې له قرض اداء کولوڅخه وروسته دهريوه حصه نصاب ته رسيږي نوپه دوئ کې پربالغانوباندي قرباني فرض ده ،پرنابالغونشته .اوپرکوموچې فرض ده له هغوئ څخه پرهريوه يوه بزه يادغوا،غوايي ،ګاميښي ،اواوښ يااوښې اومه حصه قرباني کول ضروري ده ،اودټولوله مشترک مال څخه صرف ديوې بزې ذبح کول کافی نه دي ،همداشان که يوه بزه دقرباني په نيت سره ددوکسانوله طرف څخه ذبح کړای شي نوکه فرض قرباني اداء کول مقصودوي اوکه نفلي ،ناجائزده (کفايت المفتی :۸/۱۷۸)

**فائده**:پرقرباني دااشکال کيږي چې په دري ورځوکې په يوه وخت په لکهاوځاروي هلاکيږي نوددي مضراثرپرقومي اقتصادالويږي چې ځاروي به کم شي اوټول کال به خلکوته دغوښې په حصول کې مشکلات پيداشي ليکن داخيالات صرف دهغه انسان پرذهن مسلط کيږي کله چې هغه دخالق کائنات دقدرت کامله اودهغه دنظام تحکم له مشاهدي څخه بالکليه غافل شي .حال داچې دقدرت نظام په ټول عالم

کي له هميش څخه دادی چې کله په دنياکې دکوم شئ ضرورت ډيروي نو الله رب العالمين دهغه شئ پيداوارهم ډيروي اوکله چې ضرورت کميږي نو پيداوارهم کميږي.
حضرت مولانامفتی محمدشفيع صاحب نورالله مرقده فرمايي چې الله تعالى چې کوم اشياء صرف (مصرف کيدونکي شيان) دانسان اوحيوان لپاره پيداکړي دي ترڅوچې هغه مصرفيږي دهغوبدل من جانب الله پيداکيږي، دکوم شئ چې مصرفيدل زيات وي الله تعالى دهغه پيداوارهم زياتوي، په څارويوکې بړې اوغواوې ترټولوزياتې مصرفيږي چې هغه په ذبح کولوسره خوړل کيږي، اوپه شرعي قربانيواوکفاراتواوجناياتوکې هغه ذبح کيږي، هغه چې څومره په کارکيږي الله تعالى همدومره دهغوپيداوارزياتوي دکوم چې په هرځای کې مشاهده کيږي، چې دبزوتعدادهروخت دچاړې لاندې له اوسيدلوباوجودپه دنياکې ډيردی، دسپيواوپشوګانوتعداددومره نه دی حال داچې دسپی اوپشي نسل په ظاهره بايدډيروای چې هغه په يوه نس کې ترڅلوروپنځو بچيانوپورې پيداکوي، بزه اوغوازيات سي زيات دوه بچيان پيداکوي، غوابزه هروخت ذبح کيږي، سپی اوپشي ته څوک لاس نه وروړي، مګريادامشاهده ناقابل انکارده چې په دنياکې دغوااوبزوتعداددسپی اوپشي په نسبت ډيردی، له کله څخه چې په هندوستان کې دغواپرذبيحه باندې پابندي لګيدلې ده له هغه وخت څخه هلته دغواپيداواريه همدې نسبت سره کم شوی دی، کنه نوهرکلی اوهرکوربه له غواووڅخه ډک وای کومې چې دنه ذبح کيدلوپه وجه سره پاتې شوې دي.
عربوچې له کله څخه په سورلۍ اوباروړلوکې له اوښانوڅخه کاراخيستل لرکړهلته داوښانوپيداوارهم لږشو، په دې سره دملحدانه شبه ازاله وشوه کومه چې داحکام قرباني په مقابله کې داقتصادي اومعاشي تنګۍ داندېښنې په وړاندې کولوسره کيږي. (معارف القران: ۷/۳۰۳)
**فائده**: کوم حاجی چې په اتم تاريخ منی ته له روانيدلوڅخه وړاندې په مکه مکرمه کې پنځلس ورځې ياله دې څخه زيات وخت مقيم اوسيدلی وي نوده په ذمه دحج له قرباني ماسوايعنی دمال قرباني (اضحيه) هم واجب ده اوکوم چې داسې نه وي يعنی مقيم نه وي نوځکه چې دمسافرپرذمه قرباني واجب نه ده په دې وجه پرمسافرحاجی دمال قرباني واجب نه ده صرف دحج تمتع ياحج قران قرباني واجب ده (جديدمعاملات کې شرعی احکام: ۳/۱۲۲)
(۲) قرباني تردريوورځوپورې جائزده يوه يوم النحريعنی لسم ذی الحجه اودوه ورځې له دې څخه وروسته يعنی يولسم اودولسم ذی الحجه ولې چې له حضرت عمراوحضرت علی اوحضرت ابن عباس ﷺ څخه مروی ده چې هغوئ وويل ايام نحردري دي أولها أفضلها. ظاهره داده چې هغوئ داله نبی کريم ﷺ څخه اوريدلې ده ولې چې دمقاديروپه مقررکولوکې درأي دخل نه وي، امام شافعی رحمه الله فرمايي له يوم النحرڅخه وروسته تردريوورځوپورې قرباني جائزده په دې ډول ده په نزدقرباني په څلوروورځوکې جائزده.
(۳) دقرباني وخت دلسم ذی الحجه له طلوع فجرڅخه شروع کيږي، ليکن دښارخلګوته ترهغه وخت پورې قرباني کول جائزنه ده ترڅوچې امام المسلمين داخترله لمانځه څخه فارغ نه شي. يادلمرپه زوال کيدلوسره

دلمانځه وخت تیرشي نوهم قرباني ذبح کول جائزده ولی چې دبناری په حق کې شرط دادی چې دده داخترلمونځ یاداخترد لمانځه وخت له قرباني ذبح کولوڅخه وړاندي وي که له دي دواړه څخه یوموجودنه شونودفقدان شرط په وجه سره قرباني جائزنه ده ،هود کلیو والاوته له طلوع فجرڅخه وروسته قرباني ذبح کول جائزده ولی چې پردوئ صلوة عید فرض نه دی نوتقدیم الصلوة یاتقدیم وقت الصلوة هم شرط نه دی.

**فائده**:دیوملک داوسیدونکی واجب قرباني په بل ملک کې دکولودلاندینیومختلفوصورتونوشرعي حکم واضح کړه.

(۱)عموماًپه سعودی عربیه کې له هندوستان څخه په جهت مغرب کې دواقع کیدلوپه وجه سره اسلامي تاریخ یوه ورځ مقدم وي اودهغه په نسبت په هندوستان کې اسلامي تاریخ یوه ورځ مؤخروي ،په داسي صورت کې که په هندوستان کې اوسیدونکی په سعودی کې اوسیدونکی کوم کس دخپلي واجب قرباني هلته کولولپاره وکیل جوړکړي اودلوړذکرشوی تفصیل مطابق په سعودی کې چې کومه ورځ لسم ذی الحجه وي په هغه ورځ دلته په هندوستان کې نهم ذی الحجه وي نوپه سعودی کې اوسیدونکی وکیل دلته داوسیدونکی کس قرباني په اوله ورځ کولی شي که یا؟

(۲)په کوم ملک کې چې اسلامي تاریخ عموماًیوه ورځ مقدم وي اودهغه ځای اوسیدونکی کس په داسي ملک کې کوم کس دقرباني وکیل جوړکړي چیرته چې اسلامي تاریخ دمؤکل دملک په نسبت یوه ورځ مؤخروي نوپه دي صورت کې دقرباني وکیل په خپل ملک کې دقرباني په دریمه ورځ دمؤکل قرباني کولی شي که یا؟حال داچې په دي ورځ دمؤکل په ملک کې ددیارلسم ذی الحجه کیدلوپه وجه سره دقرباني وخت ختم شوی دی؟

(۳)په کوموددوملکوکې چې دلمرطلوع اوغروب دمقدم اومؤخرکیدلوپه وجه سره دشپي اوورځي ابتداء څوګانتي (ساعتونه )مقدم اومؤخروي په داسي دوو ملکوکې په مؤخرابتداء والاملک کې اوسیدونکی دخپلي قرباني وکیل په مقدم ابتداء والاملک کې څوک جوړکړي نوداوکیل په خپل ملک کې دقرباني په اوله ورځ دقرباني په ابتدائي وخت کې دمؤکل له طرف څخه قرباني کولی شي اوکه یا؟که وکیل لره داولي ورځي په ابتداء کې قرباني کول جائزنه وي نوبیاهغه څه وخت قرباني کولی شي؟بینواتوجروا!

**الجواب**:حامداومصلیاومسلما:په بل ملک کې دچاپه وکیل جوړلوسره دقرباني دکولومختلف صورتونه چې په سوال کې مذکوردي دهغودحکم دمعلومولواوفهمولولپاره اولاًله سوال سره متعلق دځومسائلوزده کول ضروري دي ،دامسائل په لاندي ډول سره دي؟

(۱)داحقیقت دربناورځي په شان واضح دی چې په دنیاکې په ټولوملکونواوټولوښارونوکې دشپي اوورځي پیل په یوه وخت نه وي بلکه له تقدیم اوتاخیرسره وي اوهمدشان په ټولوعلاقواوملکونوکې اسلامي تاریخ هم یوشان نه وي بلکه یوله بل څخه په لیري علاقواوملکونوکې اسلامي تاریخ مقدم اومؤخروي.

(۲)په هرملک کې په مقامي ډول سره دقرباني دورځوپه شروع کیدلوسره دهغه ځای په اوسیدونکو دشرائطودموجودوالی په صورت کې قرباني واجبیږي اوپه یوه ځای کې هم دقرباني دوخت له شروع

کیدلو څخه وړاندي دهغه ځای په اوسیدونکو باندي قرباني نه واجبیږي ،(۳)هرځای دلسم ذوالحجه دصبح صادق په طلوع کیدلو سره دقرباني وخت شروع کیږي.
(۴)له قرباني واجبیدلو څخه وړاندي که قرباني ذبح کړای شوه نوقرباني نه اداء کیږي ،قبل الوجوب دقرباني په نیت سره که قرباني ذبح کړای شي نودقرباني دوخت له شروع کیدلو څخه وروسته اودقرباني واجب کیدلو څخه وروسته به **دوهم محل قرباني** کوي .لکه چې کوم کس دکوم وخت فرض لمونځ دلمانځه له وخت شروع کیدلو څخه وړاندي اداء کړي نوفرض اداء نه شول اودوخت له شروع کیدلو څخه وروسته به دوهم ځل لمونځ اداء کوي .(۵)دکوم کس پرذمه دقرباني له واجبیدلووروسته دقرباني کولودصحیح والی لپاره دقرباني څاروی چې چیرته وي دهغه ځای دقرباني دوخت شروع کیدل اوباقي پاتي کیدل شرط دی.
(۶)په مالدارمقیم کس له قرباني واجبیدلو څخه وروسته که دده متعین شوی وکیل په خپل ځای کې دقرباني دوخت له شروع کیدلووروسته قرباني ذبح کړي نوصحیح اوجائزده .(۷)که دمؤکل په ځای کې دقرباني وخت شروع نه وي اودوکیل په ځای کې شروع وي نووکیل لره په ځای کې دمؤکل له طرف څخه دده واجب قرباني کول جائزنه ده اگرکه دقرباني دڅاروی په ځای کې دقرباني وخت شروع شوی وي .(بدائع ۴/۱۹۸/۲۲۱:.شامی :۵/۱۹۸/۲۰۲)
دلوړذکرشویومسائلوله تفصیل څخه وروسته په سوال کې دذکرشویومختلفوصورتونوځواب فهمول آسان دی کوم چې په لاندي ډول سره دی.
(۱)په دي صورت کې دسعودی اسلامي تاریخ ددي ځای له اسلامي تاریخ څخه یوه ورځ مقدم وي نوپه سعودی کې دقرباني والاوکیل دلته داوسیدونکی کس له طرف څخه دقرباني په اوله ورځ واجب قرباني نه شي کولی ،وکیل لره دهغه ځای دقرباني په دوهمه ورځ قرباني کول ضروري دي ،که وکیل دهغه ځای په اوله ورځ یعني په لسم ذی الحجه قرباني وکړه نودمؤکل له طرف څخه واجب قرباني نه ده اداء شوي اودده لره دوهم ځل قرباني کول ضروري ده.
(۲)په دي صورت کې په اولنی ملک کې داوسیدونکی کس وکیل په خپل ملک کې دقرباني په دریمه ورځ دمؤکل له طرف څخه قرباني کولی شي ولی چې دمؤکل پرذمه دقرباني له واجبیدلو څخه وروسته دهغې داداء دصحیح والی اوجائزوالی لپاره دقرباني څاروی چې په کوم ځای کې وي دهغه ځای دقرباني دوخت بقاء ضروري ده اگرکه دمؤکل په ځای کې دقرباني وخت ختم شوی وي.
(۳)په دي صورت کې دقرباني دمالک له طرف څخه دقرباني وکیل په خپل ملک کې دقرباني داولي ورځې په پیل کې قرباني نه شي کولی بلکه دقرباني مالک چې په کوم ځای کې اوسیږي په هغه ځای کې دصبح صادق له طلوع څخه وروسته وکیل په خپل ځای کې دهغه له طرف څخه دهغه واجب قرباني ذبح کولی شي ،که له دي څخه وړاندي وکیل دمؤکل له طرف څخه قرباني ذبح کړي نودمؤکل پرذمه دقرباني له واجب کیدلو څخه وړاندي اداء شوي شمارل کیږي لهذادمؤکل له طرف څخه **واجب** قرباني نه ده اداء شوي اومؤکل لره په خپل ځای کې دقرباني دوخت له شروع کیدلو څخه وروسته اوپرده له قرباني واجبیدلو څخه وروسته

دوهم ځل قرباني كول ضروري ده لكه چې فرض لمونځ له وخت څخه وړاندي اداء شي نوفرض نه اداء كيږي اودوخت له شروع كيدلو څخه وروسته دوهم ځل فرض لمونځ اداء كول ضروري وي .فقط والله تعالى اعلم (عصرحاضركى مسائل كاحل ،۳۲۵تا۲/۳۲۸)

**مسئله** ،په يوځاى كې چې داخترلمونځ اداء شي نوټولو (ښاروالاو)لره قرباني كول جائزده كه (لمونځ )په مسجدكې وي اوكه په عيدګاه كې وي ،په معذوراوروغ كې هيڅ فرق نشته قال العلامة الحصكفى رحمه الله :واول وقتها بعدالصلوة ان ذبح فى مصراى بعداسبق صلاة عيدولوقبل الخطبة لكن بعدهااحب ,وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله :(قوله بعداسبق صلوة عيد)ولوضحى بعدماصلى المسجدولم يصل اهل الجبانة اجزاه استحسانالانهاصلوة معتبرة حتى لواكتفوابهااجزأتهم وكذاعكسه هداية (ردالمحتار:۵/۲۰۲)والله سبحانه وتعالى اعلم(احسن الفتاوى :۷/۵۲۴)

(۴)دجماء څاروى (يعنى دكوم چې پيدائشي شكرنه وي )قرباني جائزده ولى چې له شكرسره كوم مقصودمتعلق نه دى ،همداشان دخصى څاروى قرباني جائزده ولى چې دده غوښه ډيرغوړه وي ،همداشان دثولاء څاروى (يعنى ليونى څاروى )قرباني جائزده په دي شرط چې وابنه خوري ولى چې داسي جنون مقصودته مخل نه وي .

**فائده**:كه دكوم څاروى شكرمات شوى وي نودهغه قرباني جائزده ،ليكن كه دڅاروى شكرترمغزپوري مات شوى وي نوبيادهغه قرباني جائزنه ده لمافى الشامية :(قوله يضحى بالجماء )هى التى لاقرن لهاخلقة وكذاالعظماء التى ذهب بعض قرنهابالكسراوغيره فان بلغ الكسرالى المخ لم يجزقهستانى (ردالمحتار:۵/۲۲۷)

(۵)قوله لابالعمياء والعوراء اى لايجوزان يضحى بالعمياء والعوراء ،يعنى دړانده څاروى قرباني جائزنه ده ،همداشان دعوراء (يعنى يوستركې )څاروى قرباني جائزنه ده ،همداشان دداسي ګوډڅاروى قرباني جائزنه ده كوم چې ترمذبح خاني پوري نه شي تلى ،اودداسي كمزوري څاروى قرباني جائزنه ده دكوم په هډوكوكې چې مغزنه وي ولى چې دنبى كريم ﷺ ارشاددى چې څلورنقصه په قرباني كې جائزنه دي ،يوهغه چې له سره هيڅ نه وينې بل هغه چې واضح مريض وي بل هغه چې واضح ګوډوي ،اوبل هغه چې انتهائي كمزوروي ،همداشان دهغه څاروى قرباني هم جائزنه ده دكوم چې لكۍ ياغوږېږي وي يااكثرېږي وي ولى چې له حضرت على رضي الله عنه څخه مروى ده چې نبى كريم ﷺ ماته حكم وكړچې موږبه غوږوګوروسترګې اوغوږونه ،اوذبح نه كړوصاف ړونداوهغه چې غوږونه يې غوڅ كړاى شوي وي.اوكه دلكۍ اوغوږاكثره برخه پاتي وي نوجائزده ولى چې للاكثرحكم الكل ،همداشان دداسي څاروى قرباني جائزنه ده دكوم چې غاښونه مات وي ياېې سترګه وتلې وي ياېې له نيمايي څخه زيات لم پري شوى وى ولى چې دالله تعالى په حضوركې هديه وركول دي نوهغه خودي داسي ناقصه نه وي چې خلك يې لاهم نه خوښوي .

(۶)قرباني داوښ ،غوااوبزي وي ولى چې شرعاًدهمدوئ قرباني معلومه شوي ده له دوئ څخه دغيرقرباني له نبى كريم ﷺ څخه مروى نه ده ،اوله مذكوره څارويوڅخه دثنى ياله ثنى څخه دزيات عمروالاقرباني صحيح ده له ثنى څخه دكم عمروالاقرباني صحيح نه ده ،بياپه اوښانوكې ثنى هغه دى چې پنځه كلنى وي اوپه غوااوګاميښې كې دوه كلنى ثنى ده اوپه پسه اوبزي كې يوكلنى ثنى دى ،البته په پسه كې جذع يعنى

شپږمياشتنى هم جائزده په دي شرط چې چاغ اوتازه وي په دي دول چې كه په ټنى ګانوكې ايله كړاى شي نوفرق يې نه كيږي ﴿لقوله ﷺ يجوز الجذع من الضأن أضحية﴾ (دپسه جذع په قرباني كې جائزدى).

(۷)وإن مات أحد السبعة, وقال الورثة: اذبحوا عنه, وعنكم صح, (۸)وإن كان شريك الستة نصرانيا أو مريدا اللحم لم يجز عن واحد منهم (۹)ويأكل من لحم الأضحية, ويؤكل غنيا, ويدخر (۱۰)وندب أن لا ينقص الصدقة من الثلث وأطعموا القانع والمعتر ويتصدق بجلدها أو يعمل منه نحو غربال وجراب (۱۱)وندب أن يذبح بيده إن علم ذلك (۱۲)وكره ذبح الكتابي (۱۳)ولو غلطا, وذبح كل أضحية صاحبه صح, ولا يضمنان)

**ترجمه** :اوكه مړشويوله اووشريكانوڅخه اوويل وارثانوچې ذبح يې كړئ دادمړي له طرف څخه اوله خپل طرف څخه نوصحيح دى ،اوكه وودشپږواوومشريك نصراني يامرتديا صرف دغوښونيت كونكى نوجائزنه ده دكوم يوه له طرف څخه په دوئ كې ،اوخوړلى شي دقرباني غوښه اوخوړلاى يې شي په غني باندي اوذخيره كولى يې شي ،اومستحب ده داچې لږنه كړي صدقه له ثلث څخه اوصدقه دي كړي ددي پوستكى يادي جوړه كړي كڅوره ياغلبيل (چهونكى )،اومستحب ده چې ذبح وكړي په خپل لاس سره كه په ذبح كولوپوهيدى ،اومكروه ده په كتابى ذبح كول ،اوكه دوه كسان غلطي وكړي هريوذبح كړي دهغه بل قرباني نوددواړوله طرف څخه صحيح ده اويوهم ضامن نه دى .

**تشريح** :(۷)كه دقرباني په اوبن ياغواكې اوه كسان شريك وواوله قرباني كولووړاندي له دوئ څخه يومړشواودده وارثانونوروشريكانوته وويل چې تاسي له خپل طرفه اوددي مړي له طرف څخه داڅاروى قرباني كړئ نوكه هغوئ داسې وكړل نودټولوله طرف څخه قرباني اداء كيږي ولى چې مقصودقربت حاصلول دي اودميت له طرف څخه په قرباني كولودامقصودحاصليږي په دي وجه چې نبى كريم ﷺ دخپل امت له طرف څخه قرباني كړي وه .

**فائده**:داوبن ياغواپه قرباني كې دشريكانوتعداداوه ضروري دى كه له اووڅخه زيات كسان شريك شول نوديوه قرباني هم نه صحيح كيږي ،مولانامفتي رشيداحمدصاحب نورالله مرقده ليكي :دغواپه څيرپه اوبن كې هم زيات ترزيات اوه كسان شريكيدلى شي كه له اووڅخه زيات شول نوديوه قرباني هم نه صحيح كيږي .والله سبحانه وتعالى اعلم (احسن الفتاوى :۷/۵۰۷)

(۸)كه له شپږوشريكانوسره اووم شريك نصراني وويااووم مرتدشو(العياذبالله )ياله شريكانوڅخه يوه دقرباني نيت نه ووكړى بلكه دغوښي دحاصلولوپه نيت ورسره شريك شوى وونوپه دي درېوواړوصورتونوكې ديوه له طرف څخه هم قرباني نه صحيح كيږي ولى چې شرط داده چې دټولوشريكانونيت به ثواب اوتقرب حاصلول وي اګركه دتقرب اوثواب لاري مختلفي وي مثلايوه دقرباني اوبل دهدى اوبل دتمتع نيت كړى وي نوقرباني صحيح كيږي ،اوپه مذكوره بالاصورتونوكې څرنګه چې داشرط يعنى دتقرب نيت دځينوشركاوله طرف څخه نه دى متحقق شوى لهذاديوه له طرف څخه هم قرباني نه صحيح كيږي ولى چې په اراقة الدم كې تجزى نه شته چې دځينوله طرف څخه تقرب وي اودځينوله طرف څخه تقرب نه وي .

**فائده**:كه دغوا په قرباني كې او ه كسان شريک شول نو دغوښې دتقسيم پروخت دي غوښه په اندازه سره نه تقسيموي بلكه په برابر برابروزن كولو سره دي تقسيم كړي ولې چې كه ديوه په حصه كې زياته غوښه ولاړه نو دادسود په حكم دكيدلو په وجه سره ګناه عظيم جوړيږي د دي زياتي غوښې خوړل هم جائزنه دی ،هو البته كه له غوښې سره سراو پښې يا د پوستكی ټوټې هم شامل كړای شي نو اوس په اندازه سره تقسيم كول هم جائزدی په دي شرط چې سراو پښې په هره حصه كې وي لمالي الدرالمختار:ويقسم اللحم وزنالاجزافاالااذاضم معه من الاكارع اوالجلد(الدر المختار على هامش ردالمحتار:۵/۲۲۳)

**فائده**:كه دغوا په قرباني كې ديوكوراوسيدونكي ورونه ياقريبان سره شريكان وي نودغوښې دتقسيمولوضرورت نشته ،كه وغواړي نوغوښه دي يوځاى كښيږدي اوخوري دي ،په شامي كې ددي تصريح شوي ده چې تقسيمول لازم نه دی ،كه يې تقسيم كړي اوكه يې ونه كړي نوهيڅ حرج نشته (عزيزالفتاوى :۱/۷۱۸)

**فائده**:همداشان كه ټول شريكان دغوښې له تقسيمولوڅخه وړاندي فقراء ته صدقه كول وغواړي نوداهم جائزدي ،مولانامفتی رشيداحمدصاحب نورالله مرقده ليكي :كه څوكسان په څاروی كې شريكان وي اوهغوئ ټول غوښه په خپل منځ كې نه تقسيموي بلكه په خپله خوښه اورغبت سره يې يوځايي پرفقراء اواحباء كې تقسيمول ياپخول اوهغوئ ته ميلمستياكول وغواړي نوجائزدي ،قال العلامة ابن عابدين رحمه الله :(قوله ويقسم اللحم)انظرهل هذه القسمة متعينة اولاحتى لواشترى لنفسه ولزوجته واولاده الكباربدنة ولم يقسموهاتجزيهم ولاوالظاهرانهالاتشترط لان المقصودمنهاالاراقةوقدحصلت(ردالمحتار:۵/۲۰۲)والله سبحانه وتعالى اعلم(احسن الفتاوى:۷/۵۰۴)

**فائده**:دحرام كسب والاكس كه دغوا په قرباني كې شريک شي نوپه دي سره دنورورشريكانوپرقرباني اثرپريوځي كه يا په دي باره كې دحضرت مولانامفتی رشيداحمدصاحب نورالله مرقده له احسن الفتاوی څخه يوه فتوى بلفظه نقل كوم .سوال :په يوه غواكې دبينک ياانشورنش ملازم ياكوم داسي كس شريک شوچې دهغه ټوله يااكثره امدنى حرامه ده ودده په شركت سره دنورشريكانوپرقرباني څه اثرپريوځي كه يا؟بينواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب

په دي صورت كې ديوه قرباني هم صحيح نه شوه ،قال العلامة الحصكفي رحمه الله :وان مات احدالسبعة المشتركين فى البدنة وقال الورثة اذبحوا عنه وعنكم صح عن الكل استحسانا لقصدالقربة من الكل ولوذبحوهابلااذن الورثة لم يجزهم لان بعضهالم يقع قربة وان كان شريک الستة نصرانيا اومريداللحم لم يجزعن واحدمنهم لان الاراقة لاتتجزأ هداية ،وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله :(قوله وان كان شريک الستة نصرانيا الخ) وكذا اذا كان عبدا اومدبرا يريدالاضحية لان نيته باطلة لانه ليس من اهل هذه القربة فكان نصيبه لحما منع الجواز اصلابدائع (ردالمحتار:۵/۲۰۷)(احسن الفتاوى:۷/۵۰۳)

(۹)قرباني كونكی لره اختيار دی كه يې خوښه وي دقرباني غوښه دي خپله وخوري او خپلو ماشومانو ته دي ورو خوروي او كه يې خوښه وي نو اغنياء اوفقراء ته دي وروخوروي اوكه يې خوښه وي نو دخپل ځان لپاره يې ذخيره كولو هم شي ولی چې نبی كريم ﷺ فرمايلي وو چې ماتاسي دقربانيو دغوښو له خوړلو منع كړي واست

نواوس يې خورى او ذخيره يې کړئ ،او کله چې داجائزده چې صاحب قرباني يې په خپله وخوري حال دا چې هغه غني دى نو نوروغنيانو ته يې هم ورخوروليشي .
(۱۰)مګرمستحب داده چې صدقه له يوه ثلث څخه کمه نه کړي ولى چې دمصرفولو جهات دري دي خوړل ،ذخيره کول لماروينا او بل چاته دخوراک لپاره ورکول لقوله تعالى (واطعموا القانع والمعتر)(يعنى وريې کړه دخوراک لپاره صابراو بې صبرته )لهذا په دري جهاتو به اثلاثا تقسيميږي ،دقرباني پوستکى که يې خوښه وي نو صدقه دي کړي ولى چې پوستکى دقرباني جزء دى او که يې خوښه وي له هغه څخه دي کوم داسي شئ جوړ کړي چې په کورکې کاريږي مثلاتوشه دان ،غلبيل وغيره ،البته په خرڅولوسره يې قيمت پرخپل ځان نه شي مصرفولى يعنى په پوستکى کې دتمول په نيت سره څه تصرف نه شي کولى .
**فائده**:دقرباني پوستکى بعينه مسجدته ورکول (په دي شرط چې هغه بعينه دمسجد په کارکې استعمال شي يعنى خرڅ نه کړاى شي )همداشان له هغه څخه بوشکه جوړول اومسجدته ورکول جائزدي ولى چې دپوستکى بعينه تصدق صدقه نافله ده او صدقه نافله مسجدته ورکول جائزده اوچې پوستکى خرڅ کړي نو دهغه قيمت مسجدته ورکول جائزنه دى ولى چې دقيمت تصدق واجب دى او دصدقه واجبه لپاره تمليک شرط دى او مسجد محل تمليک نه دى .
همداشان دپوستکى قيمت دمسجد دملازمينواونورواوقافوپه تنخواه ګانوکې ورکول هم جائزنه دى همداشان بعينه پوستکى يادهغه قيمت دمسجدمؤذن ياامام ته دهغه دخدمت په معاوضه کې ورکول هم جائزنه دي ،البته که يې داماماومؤذن دمقررکولوپروخت صاف ورته ويلي وي چې دقرباني په پوستکوکې ستاهيڅ حق نه وي له دي څخه وروسته بعينه پوستکى يادهغه قيمت ورکړل شي نوجائزدى او به صورت ثانيه کې دده فقيروالى شرط دى ،همداشان دهغه قيمت دمسجدپه جوړښت کې صرف کول هم جائزنه دى .هوبعينه پوستکى که دمسجدياوقافوپه کارکې استعمال کړاى شي نوجائزدى مثلادمسجديامدرسې لپاره بوښکه جوړه کړاى شي .
بنوهاشموته بعينه پوستکى ورکول صحيح دى ياکه هغوئ بعينه پوستکى استعمال کړي ياپې خرڅ کړاويسي يې استعمال کړي ولى چې دپوستکى بعينه تصدق صدقه نافله ده او صدقه نافله بنوهاشم ته ورکول جائزده مګرکه پوستکى خرڅ کړي نو دهغه قيمت بنوهاشم ته ورکول جائزنه دى ولى چې دقيمت تصدق واجب دى او هغوئ دصدقات واجبه ومصرف نه دي (امدادالاحکام :۲۰۶/۴)
**فائده**:دقرباني پوستکى که دقرباني والاچاته ورکړي او هغه کس کوم ته چې پوستکى ورکړل شوى دى ،پوستکى خرڅ کړي کوم معلم (ښوونکى )ته يې په تنخواه کې ورکړي ياپې دمسجدپه تعميرکې مصرف کړي نو جائزدى ليکن که يې دقرباني والاپه خپله خرڅ کړي نوبيادى ددي پوستکى روپۍ دمعلم وغيره په تنخواه يامسجدکې نه شي مصرفولى بلکه صدقه کول لازم دى (کفايت المفتى :۸/۲۲۷)
**فائده**:که چاله قرباني وروسته پوستکى په اوربوخ کړاوويې خورى نوپرده ضمان نشته ؟............الجواب باسم ملهم الصواب :دبيع په صورت کې داشرط ده چې په باقي پاتي کيدونکى شئ

به يې بدلوي ،په خپله په استعمالولوکې داشرط نه دی ،په دي وجه خوړل جائزدي ،والله تعالی اعلم بالصواب (احسن الفتاوی :۷/۵۲۲)

(۱۱)افضل داده چې خپله قرباني په خپل لاس سره ذبح کړي په دي شرط چې ذبح کول يې زده وي ولی چې داعبادت دی اوداسي عمل چې عبادت وي په خپله سرته رسول افضل دی ،لیکن که يې بل ته دذبح کولوحکم وکړنوهم جائزدی ولی چې نبی کریم ﷺ له خپل ځان سره سل اوښان بیولي وو له هغوڅخه يې څه بالاشپیته په خپل لاس سره ذبح کړي وو اوپاتي يې په حضرت علی رضي الله عنه ذبح کړي وو.

(۱۲)قرباني په کوم اهل کتاب ذبح کول مکروه ده ولی چې داداسي کاردی کوم چې قربت اوثواب دی او اهل کتاب دقربت اوثواب اهل نه دي .البته دمسلمان په امرسره که ده ذبح کړه نوجائزده ولی چې داهل کتابوذبیحه صحیح ده ،البته که يې په مجوسی اوبت پرست وغیره سره ذبح کړه نوجائزنه ده ولی چې دمجوسي بت پرست وغیره ذبیحه حلاله نه ده نوکه هغه ذبح کړه نودڅاروی غوښه به حلاله نه وي .

(۱۳)که دووکسانوپه خپل منځ کې په دي دول غلطي وکړه چې هریوه دهغه بل دقرباني څاروی ذبح کړنودقیاس تقاضاداده چې داجائزنه وي اوهریوهغه بل ته ضامن شي ولی چې هریوه دخپل ملکري له اجازي څخه بغیرذبح کړي ده لهذادمتعدی کیدلوپه وجه سره به ضامن وي ،مګراستحساناددواړوله طرف څخه جائزدي اوله دواړوڅخه پریوه هم ضمان نشته ولی چې دهریوه څاروی دهغه په تعین سره دقرباني لپاره متعین شونوګویادلالةً دمالک له طرف څخه هرداسي کس ت دذبح کولواجازه شته کوم چې دذبح اهل وي لهذاهریوه ذبح کول جائزده اوهریودهغه بل له طرف څخه دوکیل والی په وجه سره ضامن هم نه ګرځي .

## كتاب الكراهية

### داکتاب دمکروه شیانوپه بیان کې دی

کراهية دنه خوښولوپه معنی دی نودادمحبت اوخوښي ضد دی ،نومکروه خلاف مندوب اوخلاف محبوب ته ویل کیږي ،په کتاب الاضحیه کې ډیرمسائلي داسي وي دکوموحکم چې کراهت وولکه په شپه کې قرباني ذبح کول ،دقرباني شیدي لوښل ،اودهغي وړي پړي کول وغیره نومصنف رحمه الله مناسبه وګڼله چې دکراهت تفصیل بیان شي په دي وجه يې له کتاب الاضحیه وروسته کتاب الکراهية ذکرکړی دی.

ف:ځیني علماپه دي ځای کې دکتاب الحظروالاباحة عنوان اینبی دی دانبه عنوان دی ولی چې دحظرمعنی منع ده اودااباحت معنی جوازده اوپه دي کې ممنوع اوجائزدواړه قسمه مسائلي بیان شوي وي ،اوځیني علماء دکتاب الاستحسان عنوان اینبی دی ولی چې په دي کې دڅه داسي شیانوذکردی کوم چې شریعت مستحسن ګرځولي دي ،اوځینودکتاب الزهدوالورع عنوان اینبی دی ولی چې په دي کې دڅه داسي شیانوذکردی دکوموچې شریعت اجازت ورکړی دی لیکن زهددهغودترک مقتضی دی .

(۱)اَلْمَكْرُوْهُ اِلَى الْحَرَامِ اَقْرَبُ ،وَنَصَّ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ اَنَّ كُلَّ مَكْرُوْهٍ حَرَامٌ

**ترجمه** :مکروه حرام ته ډیرنږدي دی اوتصریح کړي ده امام محمد رحمه الله چې هرمکروه حرام دی

**تشريح:** (۱)شيخينو دتعارض ادله په وجه سره مکروه امر(حرمت ته په ترجيح ورکولوسره )حراموته ډيرنږدي بللی دی ،حال داچې امام محمد رحمه الله فرمايې چې هرمکروه حرام وي ،مګرکله چې امام محمد رحمه الله ته په مکروه کې نص قطعي په لاس نه ورځي نودی هغه لره دحراموپرځای په مکروه سره تعبيرکوي نودامام محمد رحمه الله په نزددمکروه نسبت حراموته داسي دی لکه دواجبونسبت الى الفرض ته .دااختلاف دمکروه تحريمي په باره کې دی ترکومه چې مکروه تنزيهی دی نو هغه بالاتفاق اقرب الى الحلال وي .

**ف:** دشيخينو قول مختاردی لمافي الدرالمختار:(وعندهما)وهو الصحيح المختار ومثله البدعة والشبهة (الى الحرام اقرب)فالمكروه تحريما (نسبته الى الحرام كنسبة الواجب الى الفرض)(الدرالمختار على هامش ردالمحتار:۵/۲۳۷)

## فَصلٌ في الاكلِ وَالشربِ

دافصل دخوراک اوڅښاک دشيانوپه بيان کې دی

کتاب الكراهية په څوفصلومشتمل دی له هغوڅخه دالومړی فصل دخورک او څښاک دشيانوپه بيان کې دی چې دخورک کوم شيان حرام اوکوم مکروه اوکوم مباح دي ددي فصل دتقديم وجه داده چې دخورک څښاک شيانوته حاجت ډيروي .

(۱) كُرِهَ لَبَنُ الأَتَانِ(۲)وَالأَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالإِدِّهَانُ وَالتَّطَيُّبُ مِنْ إِنَاءِ ذَهَبٍ وَفِضَّةٍ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ(۳)وَحَلَّ الشُّرْبُ مِنْ إِنَاءٍ مُفَضَّضٍ وَالرُّكُوبُ عَلَى سَرْجٍ مُفَضَّضٍ وَالْجُلُوسُ عَلَى كُرْسِيٍّ مُفَضَّضٍ،وَيَتَّقِي مَوْضِعَ الْفِضَّةِ(۴)وَيُقْبَلُ قَوْلُ الْكَافِرِ فِي الْحِلِّ وَالْحُرْمَةِ(۵)وَالْمَمْلُوكِ وَالصَّبِيِّ فِي الْهَدِيَّةِ وَالإِذْنِ وَالْفَاسِقِ فِي الْمُعَامَلاتِ لا فِي الدِّيَانَاتِ(۶)وَمَنْ دُعِيَ إِلَى وَلِيمَةٍ وَثَمَّةَ لَعِبٌ وَغِنَاءٌ يَقْعُدُ,وَيَأْكُلُ

**ترجمه** :مکروه دي دخرې شيدې ،اوخورک اوڅښک اوتيک لګول اوخوښبويې لګول دسروااوسپينوزروله لوښي څخه نارينه اوښځې لره نه دمسواوښيښي اوبلوراوعقيق له لوښيوڅخه ،اوحلال دي څښل له هغه لوښي څخه چې دسره اوسپين پرې کارشوي وي اوسپريدل پرهغه ځين چې سره اوسپين زرپرې کارشوي وي اوکښيناستل پرهغه څوکۍ باندې چې سره اوسپين زرپرې کارشوي وي اوليرې داوسې دسپينوزروله ځايه ،اومنل کيږي به دکافرخبره په حلت اوحرمت کې ،اودغلام اونابالغ په هديه کې اوپه اجازت کې اودفاسق والاپه معاملاتو کې ،نه په دياناتو کې ،اوچاته چې دعوت ورکړل شودوليمي لپاره اوپه هغه ځای کې لهولعب اوغزلي وي نوکښي دي ني اوخورک دي وکړي .

**تشريح** :(۱)دخرې شيدې مکروه تحريمي دي ولی چې شيدې له غوښي څخه پيدا کيږي لهذادخرې شيدې دهغې دغوښي په شان مکروه تحريمي دي .

(۲)دسرواوسپينوزروپه لوښوکې نارينه اوښځوتولولره خورک ،څښک ،تيل لګول ،اوخوشبولګول جائزنه دي ولی چې له حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه مروی ده چې نبی کريم ﷺ وفرمايل دسرواوسپينوزروپه لوښی کې مه څښئ اومه ريښم اوديباج په تن کوئ په دي وجه چې هغه دپه دنياکې دکافرانولپاره دي اوستاسي لپاره په اخرت کې دي ،درانګ (يوقسم عمده سيسه )شيشه ،بلور(يوقسم شيشه ،سپين اوشفاف جوهر)اوعقيق (سوررنګی قيمتی ډبره )دلوښوپه استعمالولوکې څه حرج نشته ولی چې نبی کريم ﷺ دپيتل له لوښی څخه

اودس اوغسل فرمايلي دی اورانګ وغیره دپيتل په شان دي دسروراوسپینوپه معنی سره نه دي لهذا دهغو استعمال جائزدی.

**الالغاز**: ای اناء من غیر النقدین ولیس مغسوبا ولا مملوکا للغیر یحرم استعماله؟

**فقل**: المعمول من اجزاء الادمی (الاشباه والنظائر)

(۳)په کومولوښو چې دسپینوزرو ملمع (سپین زرکارشوي) وي په هغو کې څښل دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جائزدي، همدا شان پرکوموڅیزونوچې دسپینورزوملمع وي پرهغو سپریدل اوپه کومه کرسی چې دسپینو زرو ملمع وي پرهغه کښېنستل دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جائزدی په دي شرط چې دسپینوزرو له ځایه ځان وساتي ولی چې که چادسپینوزروګوتمی په ګوته کړی وي اوپه لپه کې یې اوبه وڅښلي نوځرنګه چې خوله پرسپینوزرونه لګیږي په دي وجه مکروه نه ده نومذکوره بالاشیان هم مکروه نه دي ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدمکروه دي.

ف:دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الهندیة: ولاباس بالشرب والاکل من اناء ملعب مفضض.....وعن ابی یوسف انه کره جمیع ذالک قیل محمد معه وقیل مع ابی حنیفة....وفی البزازیة والصحیح قول ابی حنیفة کذافی المضمرات (الهندیة: ۵/۳۳۴)،مګرپه دي زمانه کې دامام ابویوسف رحمه الله پرقول عمل کول اولی دی سدالباب استعمال اللهب والفضة للرجال لان العوام لایمیزون بین موضع الفضة وغیرها).

(۴)دکافرقول دحلال اوحرام په باره کې مقبول دی له حلال اوحرام څخه مرادحلت اوحرمت دی کوم چې دمعاملات په ضمن کې وي نوپه معاملاتو کې دکافرخبره معتبره ده حتی که چاله خپل مجوسی مزدورڅخه له بازاره غوښه راوغوښته هغه غوښه راوړه اووي ویل چې دادمسلمان یاکتابی دذبیحه غوښه ده نومالک لره دهغې خوړل جائزدي ولی چې کافرعاقل هم دی اودخپل مذهب داعتقادپه وجه سره دروغ هم بدګڼي لهذاخبرصحیح دی په دي وجه معتبردی.

(۵)قوله والمملوک والصبی فی الهدیة والاذن ای یقبل قول المملوک والصبی فی الهدیة والاذن ،یعنی په هدیه اوذن فی التجارت کې دغلام اونابالغ په قول اعتبارکول جائزدی مثلاکوم غلام یانابالغ چاته وویل چې زمامولی یازماپلاررستالپاره داهدیه راکړي ده نوهغه لره ګنجائش شته چې هغه قبوله کړي ولی چې عادت جاریه دادی چې خلک په دوئ سره هدایاوي لیږي اواذن فی التجارت ورکوي ،اوپه معاملاتو (لکه وکالت ،مضاربت ،وغیره )کې دفاسق قول منل کیږي ولی چې معاملات دهرقسم خلګوپه منځ کې کیږي نوکه دعادل والی شرط ولګول شي نودابه مفضی الی الحرج شي.

(۶)قوله لافی الدیانات ای لایقبل قول الفاسق فی الدیانات ،یعنی په دیاناتو (مثلااوبوپه پاکوالی یانجس والی نبودلو کې )له عادل څخه ماسوادبل چاخبره نه معتبریږي ولی چې دمعاملاتوپه شان ددي وقوع ډیره نه ده په دي وجه دعادل والی شرط په دي کې لګول لازمي دی لهذاله مسلمان عادل ماسوادبل چاخبره به نه منل کیږي ،دابایدیادوساتل شي چې معاملات دبندګانوترمنځ وي لکه وکالت ،مضاربت وغیره ،اودیانات دبنده ګانواوالله تعالی په منځ کې وي لکه دخورک دحلال والی یاحرام والی خبرورکول.

(۷) كه څوک دوليمي ميلمستياته وغوښتل شوهلته په تللوسره ده وليدل چې لهو اولعب شروع دى ياغزلي شروع دي نوپه كښينستلواودوى خوړلوكې څه حرج نشته ولې چې دعوت قبلول مسنون دى په حديث شريف كې دي چې څوک دعوت نه قبلوي هغه زمانافرماني وكړه لهذادكوم بل چادفسق په وجه سره به دعوت نه پريښودل كيږي ليكن داحكم دهغوخلګولپاره دى كوم چې دقوم پيښوانه وي اوكه هغه عالم دين وي اودفسق په منع كولو قادروي نومنع دي كړي اوكه قادرنه وي نوهلته دي نه كښيني ولې چې په دي سره ددين اوعلم بدنام كيږي.

## فَصلٌ فِي اللّبسِ

## دافصل داغوستلوپه بيان كې دى

له خورک څښک څخه وروسته دنوروشيانوپه نسبت ډيرضررورت داغوستلودشيانودى په دي وجه يې دنوروشيانوله بيان څخه وړاندي داغوستلودشيانوبيان مقدم كړ.

(۱) حَرُمَ لِلرَّجُلِ لَا لِلمَرأَةِ لُبسُ الحَرِيرِ (۲) إِلَّا قَدرَ أَربَعِ أَصَابِعَ (۳) وَحَلَّ تَوَسُّدُهُ وَافتِرَاشُهُ (۴) وَلُبسُ مَا سَدَاهُ حَرِيرٌ وَلُحمَتُهُ قُطنٌ أَو خَزٌّ (۵) وَعَكسُهُ حَلَّ فِي الحَربِ فَقَط (۶) وَلَا يَتَحَلَّى الرَّجُلُ بِالذَّهَبِ وَالفِضَّةِ إِلَّا بِالخَاتَمِ وَالمِنطَقَةِ وَحِليَةِ السَّيفِ مِنَ الفِضَّةِ (۷) وَالأَفضَلُ لِغَيرِ السُّلطَانِ وَالقَاضِي تَركُ التَّخَتُّمِ (۸) وَحَرُمَ التَّخَتُّمُ بِالحَجَرِ وَالحَدِيدِ وَالصُّفرِ وَالذَّهَبِ (۹) وَحَلَّ مِسمَارُ الذَّهَبِ يُجعَلُ فِي حَجَرِ الفَصِّ وَشَدُّ السِّنِّ بِالفِضَّةِ (۱۰) وَكُرِهَ إِلبَاسُ ذَهَبٍ وَحَرِيرٍ صَبِيًّا (۱۱) لَا الخِرقَةُ لِوَضُوءٍ وَمُخَاطٍ وَالرَّتَمُ

**ترجمه**: حرام دي دنارينه لپاره نه دښځې لپاره دوريښمو جامه په تن كول، مګرپه اندازه دڅلوروګوتو، اوحلال ده پروريښموتكيه كول اودهغونالى، اودهغې جامي په تن كول چې دهغې داوږدوالي تارونه د وريښموي اودساره تارونه يې دپنبه ياوړيووي، اوددي عكس حلال دى صرف په جنګ كې، اونارينه دي زينت نه حاصلوي په سرواوسپينوزروسره مګرګوتمۍ اوكمربنداودتوري كېنه له سپينوزروڅخه، اوافضل دى دغيرسلطان اوقاضى لپاره دګوتمۍ ترک كول، اوحرام دى ګوتمۍ په ګوته كول دډبري اواوسپيني اودپيتل اودسروزرواوحلال دي دسرورزروميخ كوم چې ولګول شي دغمى په سورى كې اوتړل دغابن دسپينوزروپه تارسره نه په سروزروسره، اومكروه دي وريه تن كول دسروزرواووريښموماشوم ته، نه دسمال داودسه داوبودوچولويا پوزي دپاكولو لپاره اوتاردخبري دياددساتلولپاره.

**تشريح**: (۱) دحرير(وريښموڅخه جوړه شوي جامه) په تن كول دنارينه ولپاره حلال نه دي اوښځولره حلال دي ولې چې دحضرت ابوموسى اشعرى ﷺ حديث دى ان رسول الله ﷺ قال أُحِلَّ الذَّهَبُ وَالحَرِيرُ لِلإِنَاثِ مِن أُمَّتِي وَحُرِّمَ عَلَى ذُكُورِهَا (يعنى حريراوسره زرزمادامت دښځولپاره حلال كړاى شوى دى اودامت دنارينه ولپاره حرام كړل شوي دي).

(۲)دوریښمو په تن کول حرام دي البته په لږه اندازه کې معاف دي اوقلیل مقدار دریویاڅلورګوتوسره برابردی ولی چې نبی کریم ﷺ ددریواوڅلوروګوتوپه اندازه له وریښموڅخه منع نه کوله اودنبی کریم ﷺ په باره کې منقول دي چې ده ﷺ داسي جبه په تن کوله چې دکومي چې جهالردوریښموو.

(۳)پروریښموپه تکیه کولواوپرهغه په څملاستلوکې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدڅه مضائقه نشته ولی چې په دي کې استخفاف بالحریردی نوداداسي ده لکه پرنالی باندي تصویرونه پرکومه چې کښیناستل جائزدي اوپه تن کول یې جائزنه دي ،دصاحبینوپه نزدپرحریروتکیه کول اوپرهغوڅملاستل هم مکروه دي ولی چې په حدیث شریف کې عام ممانعت دی کوم چې تکیه وغیره ټولوته شامل دی.

(۴)دداسي جامي په اغوستلوکې څه حرج نشته چې دهغي تانا(هغه تارکوم چې دجامي په جوړلوکې داږدوالی په طرف کې وي )دوریښموي اوبانا(هغه تارکوم چې دجامي په جوړلوکې دعرض په طرف کې وي )دوړیویاخزووي (خز:دکوم چې تاناددوریښموي اوباناديواوبووالاحیوان دوېښتانووي )ولی چې جامه خوهغه وخت جامه وي چې جوړه کړای شي اوجوړیدل یې په باني سره وي نوبانامعتبردی نه تانا.

(۵)اوددي پورته ذکرشوي جامي عکس (یعنی دکومي چې بانا له وریښموي اوتانا له وړیویاخزڅخه وي )بالاتفاق دجنګ په دوران کې اغوستل جائزدي ولی چې له دي څخه دښمن ویریږي .اوپه عاموحالاتوکې جائزنه ده ولی چې ضرورت نشته .پاتي شوخالص وریښم نودهغودجنګ په وخت کې په اغوستلوکې اختلاف دی دصاحبینوپه نزددجنګ پروخت یې په اغوستلوکې څه حرج نشته په دي وجه چې په جنګ کې ددي ضرورت وي ولی چې توره یې نه شي پري کولای اودښمن هم له دي څخه ویریږي ،دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددجنګ په وخت کې هم دهغواغوستل مکروه دي ولی چې نبی کریم ﷺ دوریښموله اغوستلوڅخه مطلقامنع فرمایلې ده هیڅ تفصیل یې نه دی بیان کړی چې په غیرجهادکې مکروه ده اوپه جهادکې مکروه نه ده ،اودجنګ په حالت کې نوري جامي هم کارکولی شي لهذادهغوضرورت نشته.

ف:دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الهندیة :ولاباس بلبس الحریروالدیباج فی الحرب وقیل یکره وهوالاصح (الهندیة ۵/۳۳۱:

ف:نن صبامصنوعي وریښم استعمالیږي دهغواستعمال جائزدي اګرکه په عرف کې هغوته وریښم ویل کیږي ،هوکه دکومي جامي اصلي وریښمن والی په تحقیق سره ثابت شي نودهغي استعمال دنارینه ولپاره جائزنه دی (احسن الفتاوی:۸/۶۶)

**دلباس اجمالي بنيادي اصول** :دلباس متعلق دکوم خاص هیئت اووضع شریعت پابندي نه ده لګولي ،البته دلباس حدودیې مقررکړي دي له هغوڅخه بایدتجاوزونه شي ،نوکوم لباس چې په دي شرعي حدودوکې وي هغه ته شرعي لباس ویل کیږي کنه نوخلاف شرع ورته ویل کیږي ،هغه حدوددادي (۱)لباس به دومره کوچنی ،نرم ،یاچست نه وي چې هغه اندامونه ښکاره شي دکوموچې پټول واجب دي ،بلکه لباس بایدداسي وي چې په هغه سره مکمل عورت پټیږي .(۲)په لباس کې دي دکافرانواوفاسقانونقالي اوتشبه نه غوره کوي .(۳)له

کوم لباس څخه چې تکبرا وتفاخراواسرف اوتنعم مترشح کیږي له هغه څخه دي اجتناب وشي .(۴)مال دارکس دي دومره کمزوری لباس نه په تن کوي چې لیدونکی دی مفلس وګنې ،(۵)له خپل مالی استطاعت څخه ډیرقیمت دلباس اهتمام دي نه کوي .(۶)نارینه دي پرتوګ ،لنګ اوباجامه وغیره دومره نه کښته کوي چې پیڅي یادبیډیو څه حصه په هغه کې پټه شي .(۷)دنارینه ولپاره داصلي وریښمولباس په تن کول حرام دي .(۸)نارینه دي ښځینه لباس اوښځې دي دنارینه لباس نه په تن کوي .(۹)لباس بایدصاف ستهراوي ،نارینه ولره سپین لباس ډیرخوښ کړل شوی دی .(۱۰)خالص سورلباس دنارینه ولپاره مکروه دی ،البته که کوم بل رنګ ورسره ګډوي یاسري لیکي لرونکی وي نومضائقه نشته .(جدید معاملات کې شرعی احکام:۳/۴۵)

(۶)دنارینه ولپاره دسرواوسپینوزورګینه په تن کول جائزنه ده ولی چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی چې وریښم اوسره زرزمادامت پرنارینه وحرام دي اودښځولپاره حلال دي ،اوسپین زردسروزرو په حکم کې دي لهذا دسپینوزروګینه په تن کول هم جائزنه ده .البته دسپینوزروګوتمې جائزده اوسنت دادی چې یومثقال (مثقال څلورماشي څلوررتی وي )په اندازه یاله دي څخه لږوي ،همداشان که منطقه (کمربند )اودتوري ګینه دسپینوزرووي نوپه دي کې هم څه حرج نشته په دي شرط چې دسپینوزروپرځای لاس نه لګیږي ولی چې ددي په اباحت کې اثارموجوددي ،ښځولره دسرواوسپینوزروګینه په تن کول جائزدي .

(۷)نارورینه ولره دسپینوزروګوتمې په ګوته کول جائزده مګرله سلطان اوقاضی ماسوادنوروخلګوپه حق کې ددي ترک افضل دی ولی چې نورخلګ دي ته ضرروت نه لري حال داچې سلطان اوقاضی دادمهرپه ډول استعمالوي .

**فــائده**:دځینوکسانوغاشونه شوري اودځینوخوځیږي له دي څخه وروسته ځیني کسان دسرویاسپینو زروپښونه ورکوي شرعاداجائزده اوکه یاله دي سره داودا سه اوغسل حکم څه دی؟

واضح دي وي چې داسي پوښ ورکول ځرنګه چې په ضرورت کې داخل دی اوپه ایسته کولوکې حرج دی هغه مدفوع دی لهذاداسي پوښ ورکول جائزدی اوبي له ایسته کولوبي اودس اوغسل صحیح کیږي ونظائرهامشهورة وفی کتب القوم مشهورة بل نصواعلی جواز اتخاذ الاسنان من الذهب وشدهابه ولوکان مانعاعن صحة الغسل لمااجوابه (احسن الفتاوی:۲/۳۲)

(۸)دډبري ،پیتل اوسروزروګوتمې په ګوته کول دنارینه لپاره حرامه ده ،دډبري دګوتمې دحرمت وجه داده چې له ډبروڅخه خلګ بتان جوروي نودالډبر سره مشابه شوه اودپیتل دګوتمې په باره کې وارددي چې نبی کریم ﷺ دیوکس په لاس کې دژړوګوتمې ولیدله نووي فرمایل ماته له تاڅخه دبتانوبوئ راځي ،لهذادژړوپرګوتمې به داورسپیني ګوتمې قیاسیږي ،اودیوبل کس په لاس کې داورسپیني ګوتمې ولیدله نووي فرمایل زه پرتادجهمنیانوګینه وینم ،اودسروزرودګوتمې په باره کې دځینوحضراتورأیه داده چې په دي کې څه حرج نشته ولی چې سره زرا وسپین زردواړه یوجنس دي په دواړوکې اصل حرمت دی لیکن کله چې دسپینوزروګوتمې جائزده نودسروزروګوتمې به هم جائزوي ،موږځواب ورکووچې دمهرجوړولو ضرروت په ادنی یعنی سپین زروپوره کیږي په دي وجه دسروزرودګوتمې دجوړلوضرورت نشته .

(۹)كه دګوتمۍ دغمی په سوری كې دسروزرومیخ ټک وهول شي نوداجائزدی ولی چې دسروزرومیخ په دي وخت كې تابع دی لكه چې په جامه كې نقش نګاردی اوحكم پرمبتوع جاري كیږي نه پرتابع.

**سوال**:نن سباولایتی ګهړیاني (ساعتونه )دسرواوسپینوچې كوم رائج دي دهغواستعمال جائزدی كه ناجائز،دننه پرزي يې ټولي داورسپیني وي بالاخول چې وي په هغه كې هم غالب حصه دنوروده‌اتووي اولږدسروري ،همداراز داهم بیان كړئ چې آیاپه داسي شیانوبه زكوة وركول كیږي اوكه یا،اودهم تحریركړئ چې فاؤنټین قلم (ولایتی قلم )په كوم كې چې دسرونب (دقلم سر)وي دهغه استعمال هم جائزدی اوكه ناجائز؟بینوا اتوجروا.

**جواب**:داولایتی ساعتونه دكوموچې كیس دسرواوسپینووي په دي كې څرنګه چې نوردهاتونه غالب اوسره اوسپین مغلوب وي په دي وجه دادسرواوسپینوپه حكم كې نه دي بلكه دعامودهاتوپه څیرپه اسباب اومتاع كې داخل دي ،(صرح به فی الهدایة وغیرها)لهذادهغواستعمال نارینه ولره جائزدی اوزكوة هم دسرواوسپینوپه څیرپرهغونشته ،البته كه دتجارت ساعتونه وي نودعام تجارتي مالونوپه څیرپرهغوهم زكوة شته ،په فاؤنټین قلم كې هم چې كوم نب وي هغه هم غالبادسرونه وي په دي وجه جائزدی (جدیدمعاملات كې شرعی احكام:۳/۹۱)

(۱۰)هلكانوته سره یاوریښم وریه‌تن كول مكروه دي ولی چې كله دنارینه ویه حق كې تحریم ثابت شواوپه‌تن كول حرام شول نووریه‌تن كول به هم حرام وي لكه دشرابو څښل چې حرام دي ورڅښل هم حرام دي ،نوماشوم اګركه نابالغ دی مكلف نه دی لیكن دهغه ولی لره دامكروه ده چې ماشوم ته سره یاوریښم وریه‌تن كړي.

(۱۱)قوله لاالخرقة لوضوء ای لاتكره الخرقة لوضوء ،یعنی داوداسه داوبوداوچولولپاره یادپوزي دپاكولولپاره دسمال ساتل ،یادكومي خبري دیادساتلولپاره پرګوته تارتړل مكروه نه دي دځینوعلماء رأیه داده چې له متكبرینوسره دمشابهت په وجه مكروه دي ،مګرصحیح داده چې په خلكوكې دداسي دسمال ساتلوعادت په عامه بناررونوكې عام دی اومارآه المسلمون حسنا فهو عندالله حسن.اودرتم (دیادساتلو لپاره پرګوته تارتړل )په باره كې مروی ده چې نبی كریم ﷺ ځینوصحابه كرامو ﷺ ته دصحیح غرض لپاره ددي امركړی وولهذادامكروه نه ده.

## فصل في النظر واللمس

### دافصل دكتلواولاس لګولوپه بیان كې دی

كله چې مصنف رحمه الله داغوستلوله مسائلوڅخه فارغ شونوڅرنګه چې داستبراء له مسائلوڅخه دكتلو دمسائلووقوع كثیره ده اودكثرت وقوع تقاضاداده چې له استبراء څخه وړاندي دلیدلومسائل بیان شي په دي وجه مصنف رحمه الله هم دكتلومسائل وړاندي بیان كړي.

(۱) لَا يَنْظُرُ إِلَى غَيْرِ وَجْهِ الْحُرَّةِ وَكَفَّيْهَا (۲) وَلَا يَنْظُرُ مَنْ اشْتَهَى إِلَى وَجْهِهَا إِلَّا الْحَاكِمُ وَالشَّاهِدُ. (۳) وَيَنْظُرُ الطَّبِيبُ إِلَى مَوْضِعِ مَرَضِهَا (۴) وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ إِلَّا الْعَوْرَةَ (۵) وَالْمَرْأَةُ لِلْمَرْأَةِ وَالرَّجُلِ كَالرَّجُلِ لِلرَّجُلِ (۶) وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى فَرْجِ أَمَتِهِ وَزَوْجَتِهِ (۷) وَوَجْهِ مَحْرَمِهِ وَرَأْسِهَا وَصَدْرِهَا وَسَاقِهَا, وَعَضُدِهَا لَا إِلَى ظَهْرِهَا وَبَطْنِهَا, وَفَخِذِهَا (۸) وَيَمَسُّ مَا حَلَّ النَّظَرُ إِلَيْهِ

**ترجمه**: نه دي ګوري دازادي ښځي له مخ اوورغويو علاوه ته ،او نه دي ګوري هغه كوم ته چې شهوت وي ددي مخ مګر حاكم او شاهد ،او كتلى شي طبيب دهغې دمرض ځاى ،او كتلى شي نارينه دبل نارينه بدن ماسوا له ستر ځخه ،او ښځه دښځې او نارينه په حق كې داسي ده لكه نارينه چې دنارينه په حق دى ،او ليدلى شي نارينه دخپلي مينځي او ښځي فرج ،او دخپلي محرمي مخ او سر او سينه او پنډليانى او څنګلي نه دهغې نس او شا او ورنونه ،او لاس وروړلى شي هغه اندام ته دكوم طرف ته چې كتل حلال دي .

**تشريح**: (۱) دنارينه لپاره دكومي ازادي پردى ښځي بدن ته كتل جائزنه دي ماسوا دهغې له مخ او ورغويو ځخه لقوله تعالى (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا) (ښځي دي خپل ښائست نه ښكاره كوي مګر هغه چې له دي ځخه ښكاره شئ وي) حضرت على او حضرت ابن عباس ﷺ ددي ايت په تفسير كې فرمايې چې له ماظهر منها ځخه مراد رانجه او ګوتمي دي ،بيا دحال په ذكركولو سره محل مراددى يعنى له رانجو ځخه مراد ستر ګې او هغه په مخ كې وي نوله رانجو ځخه مراد مخ دى او له ګوتمي ځخه مراد ګوته ده او هغه په ورغوي كې ده نوله ګوتمي ځخه مراد ورغوى دى لهذا له ماظهر منها ځخه مخ او ورغوي مراد دي ،همدا راز دمخ اولاسونو په ښكاره كولو كې ضرورت دى ولى چې ښځې ته له نارينه وسره داخيستلو او خرڅولو ضرورت پيښيږي او په لاروكې دتګ راتګ ضرورت پيښيږي .

(۲) ليكن كه كوم څوك دپردى ښځې مخ ته په كتلو سره له شهوت ځخه په امن نه شو پاتي كيدلاى نو هغه دي دهغې مخ ته هم نه ګوري ولى چې نبى كريم ﷺ په شهوت سره كتلو ته دستر ګوزنا ويلي ده ،البته كه ضرورت وي نو بيا جائز ده مثلا قاضي چې كله پريوه اجنبي ښځه حكم كول وغواړي همدا شان شاهد چې كله پريوه اجنبي ښځه شاهدي وركول وغواړي نو هغه لره دهغې ښځې مخ ته كتل جائزدى اګر كه ده ته دشهوت دپيښيدلو ويره وي ولى چې قاضي لره دحكم په ذريعه او شاهد لره دشاهدي په ذريعه دخلكو دحقوقو دژوندي كولو حاجت دى او دا ضرورت ښځې ته له كتلو بغير نه پوره كيږي په دي وجه له خوف شهوة باوجود دوئ لره داجنبي ښځې مخ ته كتل جائزدى .

(۳) طبيب (ډاكټر) ته جائزده چې دښځي له جسم ځخه دمرض ځاى ته وګوري ولى چې ضرورت دى ،دكتلو طريقه به يې داوي چې دمريضي ټول بدن دي ماسوا دمرض له ځايه پټ وساتل شي بيا دي طبيب دا دمرض ځاى ته وګوري ،او تركومه چې ممكنه وي خپل نظر دي كښته وساتي ولى كوم شئ چې دضرورت په وجه سره جائزوي هغه صرف دضرورت ترحده وي .

**ف**: مفتي محمد شفيع رحمه الله په خپل تفسير معارف القران كې دښځې پردى نارينه ته دمخ دښكاره كولو دعدم جواز تصريح كړي ده لكه چې فرمايې :او دا ښكاره ده چې دحسن او زينت اصل مركز دانسان مخ دى او زمانه دفتني ،فساد ،او غلبه هوى او غلفت ده په دي وجه ماسوا له مخصوص ضرورتونو مثلا علاج معالجه يا كومه

شديده خطره وغيره ښځې لره دغيرمحارمو په مخ كې خپل مخ قصداښكاره كول ممنوع دي اونارينه ولره دهغې طرف ته قصدا نظركول هم بغيرله ضرورت شديده جائزنه دي (معارف القران: ۶/۴۰۶)

اوحضرت تهانوي نورالله مرقده په بهشتي زيوركې ليكي :ځواني ښځې لره دپردي كس په مخ كې مخ ښكاره كول صحيح نه دي اونه دي داسي ځاى دريږي چيرته چې يې كوم بل پردى كس ووينې (بهشتي زيور:ص۲۵۷)

ف:حضرت شيخ الاسلام مولانامفتي محمدتقي عثماني صاحب دامت بركاتهم دشرعي پردي تفصيل بيان فرمايلې دى .څ... ... :دشرعي پردي دكومي چې په قرآن اوسنت كې حكم وركړل شوى دى دري درجي دي (اعلى درجه ،متوسط درجه ،اوادنى درجه )اوهره درجه دپردي اوسترپه لحاظ سره له بلي درجې لوړه اواعلى ده اوفوقيت لري اودااتولي درجي په قرآن اوحديث سره ثابتي دي اوله دي څخه كومه درجه نه ده منسوخه شوي .البته په مختلفو حالاتودښځوطرف ته دمختلفودرجوحكم متوجه كيږي هغه دري درجي په لاندي ډول سره دي .

**اوله درجه** :دښځوخپل جسم دخپل كورپه څلورودېوالونوياپردي اوهودج وغيره كې داسي پټول چې دهغوئ ذات اودهغوئ لباس اودهغوئ دظاهري اوپټ زينت كومه حصه اودهغوئ دجسم كومه حصه مخ اولاسونه وغيره كوم پردي نارينه ته ښكاره نه شي .

**دوهمه درجه** :دښځوپه څادري يابرقع سره په دې ډول پرده كول چې مخ ،اولاسونه اوپوره جسم اودزينت لباس ښكاره نه شي بلكه دښځې پوره بدن له سرڅخه ترپښوپوري پټ وي .

**دريمه درجه** :دښځې په څاروغيره سره په دې ډول پرده كول چې دهغې مخ اولاسونه اوپښې لڅې وي .

اوله درجه اصل ده اودهغې ثبوت :دښځوپه پرده كې اصل خواوله درجه ده ،هغه داچې ښځه په كوركې دننه پاتې شي اوبلاضرورت له كورڅخه راونه وځي (دضرورتونوبيان به ان شاء الله وړاندي راشي )ددې دليل دقرآن كريم ايت دى چې (وقرن في بيوتكن)(سورة الاحزاب:۳۳)ظاهردى چې داحكم ازواج مطهراتولره خاص نه دى ،په دې وجه چې له دې ايت څخه وړاندې اوله دې آيت څخه وروسته چې كوم احكام دي هغه بالاجماع په امهات المؤمنين پوري خاص نه دي ،بل ځاى الله ﷻ فرمايلي دي (واذاسألتموهن متاعافسئلوهن من وراء حجاب)(سورة الاحزاب:۵۳)،يعنى كله چې تاسي له ازواج مطهراتوڅخه كوم شئ غواړې نودپردي له شاپې غواړي .داآيت دحضرت زينب ﷺ دوليمي پرموقع نازل شواوپه همدي وخت كې دهغې اودنورونارينه وترمنځ يوه پرده واچول شوه ،همداشان دالانديني حديث هم پرهمدي دلالت كوي عن ابن مسعود ﷺ ان رسول الله ﷺ قال:المرأة عورة فاذاخرجت استشرفها الشيطان (اخرجه الترمذي وقال حديث حسن صحيح غريب)..................الخ.

ددوهمې درجي ثبوت :ليكن څيني وختونه ښځې لره دخپل طبعي حوائجولپاره له كورڅخه دوتلوضرورت پيښيږي په دې صورت كې دې لره له خپل كورڅخه وتل جائزدي ،په دې شرط چې هغه په برقع ياڅادرسره خپل ځان داسي پټ كړي چې دهغې دبدن كومه حصه ښكاره نه وي ،داد حجاب دوهمه درجه ده .دحجاب دادوهمه درجه هم په قرآن كريم سره ثابته ده په قرآن كريم كې الله تعالى ارشادفرمايلي دى (ياايهاالنبى قل

لازواجک وبناتک ونساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن )(الاحزاب :۵۹)،ای نبی ﷺ !ته خپلو ازواجو ته او خپلو لورانو ته او دنورو مسلمانانو ښځو ته ووايه چې پر خپل ځان څادر دونه راوځروي .ظاهره ده چې پر ښځې دڅادر له ځرولو څخه مقصود دادی چې دهغې پوره بدن حتی چې دهغې مخ هم پټ شي .او دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ دروايت مطابق جلباب هغه څادر ته ويل کيږي کوم چې له پورته څخه نيولی يا تر ګېنته پوري ټول جسم پټ کړي ........له حضرت بن عباس او حضرت قتاده ﷺ څخه داهم مروی ده چې ښځه دي خپل جلباب په خپل تندی وپيچې اودي تري او بيادي پر خپله پوزه وپيچې ،اګر که دواړه سترګې ښکاره شي ،ليکن خپل سينه اودمخ اکثره برخه دي پټه کړي (روح المعانی :۲۲/۸۹)په هرحال داايت پردي خبره دلالت کوي چې ښځه کله چې دکوم ضرورت په وجه له کوره راوځي نودهغې لپاره شرعاداحکم دی چې خپله مخ پټ ي اوراووځي.

دحجاب ددريمي درجي ثبوت :دحجاب دريمه درجه داده چې کله ښځه له خپل کور څخه راوځي نودهغې بدن له سر څخه بيا تر ښپو پوري پټ وي ،البته دضرورت په وخت خپل مخ اولاسونه ښکاره کړي په دي شرط چې له فتني څخه مامونه وي .دحجاب په دي دريمه درجه دقران کريم دسورة نورد ايت دلالت کوي (وقل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن ويحفظن فروجهن ولايبدين زينتهن الاماظهر منها)(سورة نور: ۳۱)يعني ته ﷺ مسلمانو ښځو ته ووايه چې هغوئ خپل نظرونه ګېنته وساتي او دخپلو شرمګاو وحفاظت وکړي او خپل زينت ښکاره نه کړي مګر کوم چې په هغي کې ښکاره شئ دی ،دماظهر منها په تفسير کې دمفسرينو اختلاف دی له حضرت عبدالله بن عباس ،حضرت عبدالله بن عمر او حضرت عائشه ﷺ څخه مروی ده چې دي حضراتو دماظهر منها تفسير په وجه او کفينو سره کړی دی ،دحضرت عطاء ،حضرت عکرمه ،حضرت سعيد بن جبير ،حضرت ابو الشعثاء ،حضرت امام ضحاک ،او حضرت ابراهيم نخعی رحمهم الله تعالی هم همدا قول دی ،البته حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دماظهر منها تفسير په څادر او جلباب سر کړی دی .دلومړي تفسير مطابق داآيت پردي دلالت کوي چې ښځې لره دضرورت پروخت دمخ او لاسونو ښکاره کول جائز دي .

او داحديث هم پردي دلالت کوي عن عائشة ﷺ ان اسماء بنت ابی بکر دخلت علی النبی ﷺ وعليها ثياب رقاق فاعرض عنها وقال :يااسماء ان المرأة اذابلغت المحيض لم يصلح ان يری منها الاهذا وهذا واشار الی وجهه وکفيه (ابوداؤد)له حضرت عائشه صديقه ﷺ څخه روايت دی چې يو ځل حضرت اسماء بنت ابی بکر نبی کريم ﷺ ته په دي ډول سره راغله چې دهغې پرتن نرمي جامي وي ،نبی کريم ﷺ له هغې اعراض وفرمايه او هغې ته يې وفرمايل چې ای اسماء !کله چې ښځه بالغه شي نودامناسبه نه ده چې دهغه دجسم کومه حصه وليدل شي ماسوا له دي څخه او له دي څخه او نبی کريم ﷺ مخ او لاسونو ته اشاره وکړه .......الخ.

ترکومه چې دښځې مخ او لاسونو ته دکتلو په باره کې دفقهاء دمذاهبو تعلق دی نودټولو فقهاء پردي اتفاق دی چې که دلذت حاصلولو په نيت سره کتل وي يادکتلو په نتيجه کې ددا سې فتني خطره وي کومه چې مفضی الی الخلوة وي نو په دي صورت کې کتل جائز نه دي بلکه په داسې صورت کې دښځې مخ او لاسونو ته دکتلو په حرمت کې دهيڅ اختلاف نشته ،ليکن که نارينه په فتنه کې له مبتلاء کيدلو څخه محفوظ وي او په

کتلوسره دلذت حاصلول هم مقصودنه وي نوددي په جوازکې اختلا ف دی ،دحنفيه اومالکيه ويه نزدپه داسې صورت کښې دمخ اولاسونوطرف ته کتل جائزدي اواکثرشوافعواوبعض حنابله وهم همدامذهب دی لیکن دشوافعواوحنابله وپه نزدمختارمذهب مطلقاعدم جوازدی اگرکه دشهوت اوفتنې اندیښنه نه وي .........الخ.

په هرحال دټول بحث خلاصه داده چې ښځې ته دقرآن کريم په ذريعه ددې خبرې حکم ورکړل شوی دی چې هغه دې په خپل کورکښې اوسيږي اوبلاضرورته دې له کوره نه راوځي اوکه هغه دکوم ضرورت په وجه راوتله نو دې لره حکم دادی چې په برقع ياڅادرسره خپل مخ پټ کړي اوداچې خپل مخ به نه ښکاره وي ،البته دوه صورتونه لدې څخه مستثنی دي :يوداچې دمخ دښکاره کولوداسې ضرورت وي چې دمخ په پټولوکښې نقصان کیدای شي ،لکه په په رش (گڼه گوڼه )کښې درفتارپه دوران کښې ،يادکوم بل ضرورت پروخت مثلاًدشاهدي وغيره دورکولوپه وخت کښې .دوهم صورت دادی چې دکسب اوکارپروخت بلاقصده دهغې مخ ښکاره کيږي .البته په دې دووصورتونوکښې نارينه وته حکم دادی چې هغوئ دې خپل نظرونه کښته ساتي .والله سبحانه اعلم (تقهی مقالات :۲تا۴۲/۸۸)

(۴)نارينه دبل نارينه (اگرکه بې ژيرې وي په دې شرط چې دشهوت ويره نه وي )ټول جسم ته کتلی شي ماسواله نامه څخه نيولې بياترزنګنونوپورې درمياني جسم ته لقوله ﷺ عورة الرجل ماين السرة الی رکبتيه (يعنی دنارينه واجب السترېدن له نامه څخه ترزنګنوپورې دی ).

ف:داحنافوپه نزدنوه په سترکښې شامل نه دی اوزنګنونه شامل دي ،دامام شافعي رحمه الله په نزددې برعکس دی ،زموږدليل دنوه دنه واجب السترپه باره کښې دنبی کريم ﷺ ارشادمبارک دی چې العورة مادون سرته حتی تجاوزرکبتيه (يعنی دنارينه واجب السترېدن له نامه څخه نيولې حتی چې له زنګنوڅخه تجاوزوکړي ).اودزنګنوپه باره کښې دنبی کريم ﷺ ارشاددی عورةالرجل ماين سرته الی رکبته (يعنی دنارينه واجب السترجسم دنامه اودهغه دداروزنګنومنځ دی )په دې روايت کښې رکبته غايه ده اوغيه کله په مغياکښې داخله وي اوکله نه وي مګردلته په دخول کښې احتياط دی لهذاموږاحتياطاًدغايه (زنګنونه )په مغيا(واجب الستر)کښې ددخول حکم وکړ.همداراز له حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوی دی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل زنګنونه واجب السترېدي .

(۵)قوله والمرأة للمرأة والرجل کالرجل للرجل ای المرأة فی النظر الی المرأة والرجل کالرجل فی النظر الی الرجل ،يعنی يوې ښځې لره دبلې ښځې دومره اندازه جسم ته کتل جائزدي څومره چې نارينه لره دنارينه جسم ته کتل جائزدي ولې چې مجانست موجوددی اوشهوت غالبامعدوم دی کمافی النظرالرجل الی الرجل .همداشان ښځې لره دنارينه له جسم څخه هغواعضاء ته کتل جائزدی کوموته چې دنارينه له جسم څخه نارينه کتلی شي په دې شرط چې دشهوت ويره نه وي ولې چې کوم اعضاء چې په سترکښې داخل نه دي هغوته په کتلوکښې نراوښځه يوشان دي لکه چې دهرکس لباس اوسورلی ته نراوښځه ټول کتلی شي .

(۶)نارينه لره دخپلې مينځې (مرادداسې مينځه ده چې ده لره حلاله وي په دې سره احترازوشوله مجوسيه مينځې څخه )اودخپلې زوجې شرمگاه ته كتل جائزدي داقول ددې امراجازت دى چې نارينه لره دخپلې مذكوره مينځې اوزوجې ټول بدن ته په طريقه اولى سره كتل جائزدي الاصل فيه قوله ﷺ (قال غُضّ بصرَكَ إلا عن زَوجِكَ,وَأمَتِكَ)(يعنى خپلې سترگې بندې كړه ماسواله خپلې ښځې اومينځې څخه )،ليكن ښه داده چې له نارينه اوښځې څخه يوهم دهغه بل فرج ته ونه گوري ولى چې ويل كيږي چې له دې څخه دنسيان ناروغي پيداكيږي .

(۷)نارينه لره جائزده چې دخپلومحرماتو(مثلامور،خور،عمه ،خاله وغيره )مخ ،سر،سينې ،پنډليانواو څنگلوته وگوري ولى چې محارم په خپل منځ كې يوبل ته بلااجازته اوشرمه ځې راځي نوكه دې اعضاءته كتل حرام وگرځول شي نوحرج ته به نوبت ورسيږي اوحرج شرعامدفوع دى ،البته دخپلومحرماتونس ،شا اوورنوته كتل جائزنه دي ولى چې ښځې ته دخپلومحارموپه مخ كې دمواضع زينت دښكاره كولواجازت وركړل شوى دى اونس،شااوورون له مواضع زينت څخه نه دي په دې وجه دادخپلومحارموپه مخ كې ښكاره كول جائزنه دي .

(۸)نارينه لره چې له ذوات محارم څخه دكومواعضاء ليدل جائزدي دهغومس (لاس لگول )كول هم جائزدي ولى چې نبى كريم ﷺ به حضرت فاطمه ﷺ پرسرمچوله اوفرمايل به يې چې زه له دې څخه دجنت خوښبويې محسوسوم .همداراز دسفرپروخت ددې ضرورت پېښيږي اودمحرمه والى په وجه سره شهوت هم كم دى ،البته كه دشهوت ويره وه بيادې نه ورته گوري اونه دې مس كوي .

(۹)وَأمَةُ غَيرِهِ كَمَحرَمِهِ(۱۰)وَلَهُ مَسُّ ذٰلِكَ إن أرَادَ الشِّرَاءَ,وَإن اشتَهَى(۱۱)وَلَاتَعرِضُ الأمَةُ إذَابَلَغَت فِي إزَارٍ وَاحِدٍ(۱۲)وَالخَصِيُّ وَالمَجبُوبُ وَالمُخَنَّثُ كَالفَحلِ(۱۳)وَعَبدُهَا كَالأجنَبِيِّ(۱۴)وَيَعزِلُ عَن أمَتِهِ بِلَا إذنِهَا,وَعَن زَوجَتِهِ بِإذنِهَا

**ترجمه** :اودغيرمينځه دمحرمې په شان ده ،اونارينه لره جائزده هغې ته لاس وروړل كله چې اراده وكړي دهغې داخيستلواگركه شهوت وي ،اوسامنې نه انى دې جائې مينځې لره كله چې هغه حداشتهاء ته ورسيږي په يوه لنگ كې ،اوخصي اومجبوب اونرښځې دنارينه په شان دي ،اودښځې غلام داجنبى نارينه په شان دى ،اوعزل كولى شي له خپلې مينځې څخه ددې له اجازته بغيراوله ښځې څخه دهغې په اجازت سره .

**تشريح** :(۹)دبل چامينځه دمحرمې په شان ده يعنى نارينه لره چې څومره اندازه دخپلومحارموښځوبدن ته كتل جائزدى هغومره اندازه دبل چادمينځې بدن ته كتل هم جائزدي ولى چې مينځه دخپل مولى دضرورتونولپاره دكاركولوپه جاموكې دباندې وځي ،نوددې حال له ټولونارينه وسره داسې دى لكه دښځې حال له خپلومحارموسره چې له هغوئ څخه ټول بدن عمومانه شي پټيدلاى نوددې ضرورت په وجه سره مينځه دمحرماتوپه شان گرځول شوې ده .

(۱۰)دبل چادمينځې كومواعضاء ته چې كتل جائزدي داخيستلوپروخت دهغواعضاء مس كول هم دضرورت په وجه سره جائزدي اگركه ده لره دشهوت ويره وي ،ليكن دعلماء رأيه داده چې داخيستلوپروخت

شهوت له وجودسره نظرخوجائزدی ولی چې ضرورت دی لیکن مس کول ناجائزدي ولی چې دایوقسم استمتاع ده اودبل چاپه مینځه سره استمتاع جائزنه ده .

(۱۱)کله چې مینځه داشتهاء حدته ورسیږي یعنی ددي په شان سره وطی کیدای شي نوهغه دي په بازارکې دخرڅولولپاره په یوه ازارکي نه بیایې په کوم سره چې صرف مادون السرة الی الرکبة پټ شوي وي بلکه هغې ته قمیص هم وراغوندي ولی چې وراندي تیره شوه چې دمینځې نس اوشاواجب الستردي اوکله چې هغه دجماع قابله شي نوهغه دبالغي په حکم کې ده لهذااوس دي لره نس اوشالځه پرېښودل جائزنه دي .

(۱۲)یعنی خصی ،مقطوع الذکراومخنث (نرښځی )پردی ښځې ته په کتلوکې دروغ کس په شان دي په دي وجه چې حضرت عائشه ﷺ فرمایې چې خصی کول مثله ده ،نوکوم شئ چې له خصی کیدلوڅخه وراندي حرام ووهغه دده خصی والی نه مباح کوي ،اومقطوع الذکرځرنګه چې په موښلوسره منی خارجولی شي لهذااهم دعامونارینه وپه حکم کې دی .اوبدکارنرښځی ځرنګه چې فاسق نارینه دی لهذادهغه هم هغه حکم دی کوم چې دعامونارینه ودی .

(۱۳)دښځې غلام دخپلې مالکي په حق کې داجنبی نارینه په شان دی یعنی دکومې ښځې غلام لره داجائزنه دی چې خپلې مالکي ته وګوري ماسواله هغواعضاء څخه کوم چې اجنبی کس له دي ښځې څخه لیدلی شي ولی چې داغلام دنورونارینه وپه شان نارینه دی اودخپلې مالکي محرم هم نه دی اونه یې خاونددی اوکوم زیات ضرورت هم نشته ولی چې دی له کورڅخه دباندي کارونه کوي په دي وجه دی داجنبی نارینه وپه حکم کې دی .

(۱۴)نارینه لره له خپلې مینځې څخه دهغې اجازت څخه بغیرعزل کول (یعنی دانزال پروخت نطفه دباندي تویول )جائزدی ولی چې نبی کریم ﷺ دیوي مینځې مولی ته ویلې وواعزل انت ان شئت (که ستازړه غواړي نوعزل کوه )،همداراز په دي وجه هم چې په وطی کې دمینځې حق نشته ،هوله خپلې ښځې څخه بغیردهغې له اجازته عزل کول جائزنه دی ولی چې نبی کریم ﷺ له ازادي ښځې څخه له عزل کولوڅخه منع فرمایلې ده ،همداراز په دي وجه هم چې په وطی کې ددي حق دی لهذادهغې له اجازت څخه بغیرخاوندعزل نه شي کولای .

## فصل في الاستبراء وغيره

### دافصل داستبراء رحم وغیره په بیان کې دی

استبراء لغة مطلق براءت اوصفائي طلب کولوته ویل کیږي اوپه اصطلاح کې دیوه حیض په ذریعه سره صفائې طلب کولوته ویل کیږي یعنی له اخیستل شوي مینځې سره دي وطی نه کوي ترڅوهغې ته یوحیض ورنه شي یاوضع حمل ونه شي ولی چې کیدای شي چې دادي له خپل مخکنی مولی څخه حامله وي نوله استبراء څخه وراندي په وطي کولوکې داوبواونسابواختلاط لازمیږي ،له وغیره څخه دمصافحي ،معانقي اودمچې اخیستلواحکام مرادي .

(۱) من ملك أمة حرم عليه وطؤها، ولمسها، والنظر إلى فرجها بشهوة حتى يستبرئ (۳) وكره تقبيل الرجل، ومعانقته في إزار واحد، ولو كان عليه قميص واحد جاز كالمصافحة

**ترجمه**: كوم كس چې مالك شي دمينځې نو حرام ده له هغې سره وطى كول، او هغې ته لاس وروړل او كتل دهغې شرمګاه ته په شهوت سره ترڅوچې هغه استبراء وكړي. له چاسره دوه مينځې دي كومې چې سره خوندي دي له هغو دواړوڅخه ده مچه واخيستله په شهوت سره نو حرام ده له كومې يوي سره وطى كول او دواعی وطی ترڅوچې دهغې بلي شرمګاه پرخپل ځان حرامه نه كړي په ذريعه دملك يا په ذريعه دنكاح يا په ذريعه دعتق. او مكروه ده له نارينه څخه مچه اخيستل، او معانقه كول صرف په تهبند كې. او كه وي پر هغه قميص نو جائزده لكه مصافحه كول.

**تشريح**: (۱) كوم كس چې دكومې مينځې مالك شي نو پر هغه له هغې سره وطى كول، مس كول او دهغې فرج ته په شهوت سره كتل حرام دي ترڅوچې په وضع حمل يا يوه حيض سره استبراء وكړي ولی چې په غزوه اوطاس كې مسلمانانو قيدی ښځې ومونديلي نو نبی كريم ﷺ حكم وفرمايه چې له كومې حاملې ښځې سره وطى مه كوئ ترڅوچې وضع حمل وشي او له كومې غير حاملې ښځې سره وطى مه كوئ ترڅوچې هغې ته حيض ورشي. دحديث دنوي ملك دموجوديدلو په صورت كې دوجوب استبراء لپاره مفيددی.

(۲) كه دكوم كس په ملك دوه مينځې وي كومې چې په خپل منځ كې سره خوندي وي (مراددوه داسې مينځې دي كومې چې په يوه وخت كې ديوه كس په نكاح كې نه شي سره جمع كيدای) هغه له هغوئ داوړوڅخه په شهوت سره مچه واخيستله نو څرنګه چې جمع بين الاختين نكاحا وملكا جائزنه ده لهذا دا كس اوس له هغوئ دواړوڅخه له يوي سره هم نه وطى نه كولی شي او نه دواعی وطی (مثلامچه اخيستل، په شهوت سره لاس وروړل، په شهوت سره دهغې فرج ته كتل) ترڅوچې هغه له دي دواړوڅخه دكومې يوي فرج پرخپل ځان له دريو طريقوڅخه دكومې يوي په ذريعه سره حرام نه كړي هغه دري طريقې دادي له دواړوڅخه كومه يوه بل چاته په ملك كې وركړي خواه په هغه يې خرڅه كړي يا يې هغه ته هبه كړي. كومه يوه بل چاته په نكاح وركړي، له دواړوڅخه يوه ازده كړي.

(۳) يونارينه لره دبل نارينه څخه مچه اخيستل او غاړه غړی كيدل په داسې حالت كې مكروه ده چې هغه صرف يو تهبند (لنګ) تړل وي ولی چې له اتصال الجلد بالجلد څخه دشهوت دراپورته كيدلو ويره ده، او كه يې پرتهبند كرته هم اغوستې وه نو په دي وخت كې بلاكراهته جائزده ولی چې نبی كريم ﷺ له حضرت جعفرطيار رضی الله عنه سره معانقه وفرمايله كله چې هغه له حبشې څخه تشريف راوړ او دهغه ستركې يې مچ كړي لهذا مچه اخيستل او معانقه كول دواړه جائزدي لكه څرنګه چې مصافحه كول جائزدي ولی چې مصافحه كول متوارث دي وقال ﷺ من صافح أخاه المسلم وحرك يده في يده تناثرت ذنوبه.

**ف**: بغيرله كومې شديدې مجبوري غيرمحرمې ښځې ته لاس وروړل شرعا لويه ګناه ده، رسول الله ﷺ دادلاس زنا بللی ده، لكه چې په بخاري شريفې په راويت كې دي چې اليدان تزنيان وزناهما البطش، يعنی دلاسونو هم زنا شته، دلاسونو زناداده چې (دپردی نارينه او ښځې) يو بل نيول، وقال ﷺ ان يطعن فی رأس احدكم بمخيط من

حديدخبرله من ان ميس امرأة لاتحل له ،رواه الطبراني والبيهقي .يعنی په خپل سرکې ستن دننه کول ډيرښه دي تردي چې داسي ښځه مس کړي کومه چې ده لره حلاله نه وي (جديد معاملات کې شرعي احکام :۸۴/)

ف:نارينه چې له نارينه ياښځه له ښځې څخه مچه واخلي دملاقات يادرخصتي په وخت کې که په شهوت سره وي نومکروه تحريمي ده اوکه داعزازاواکرام په غرض سره وي نوجائزده .دکوم عالم اونيک صالح کس دلاس مچول تبرکاجائزدي ،همداشان دمتدين حاکم اوسلطان عادل دمخ مچول هم جائزدي اوځينوحضراتو ويلي دي چې سنت دي .دغيرعالم اوغيرعادل دمچي اخيستلواجازت نشته .اوکه دهغه داسلام تعظيم اواکرام مقصودوي نوجائزده اوکه حصول دنيامقصودوي نومکروه ده .

ف:دځينوجهلاؤعادت دی چې دملاقات پروخت خپل لاس مچوي نودامکروه ده دکوم چې اجازت نشته اوهمدشان دبل لاس مچول په داسي حال کې چې هغه عالم ياعادل نه وي مکروه ده ،دعلماء اوامراء په مخ کې ځمکه مچول مکروه ده اودي کونکی اوپه دي راضي کيدونکی دواړه ګنهګاردي په دي وجه چې دادبتانوله عبادت سره مشابه ده .

ف:دراتلونکي دتعظيم لپاره دريدل مندوب دي ،خپل ځان لره قيام خوښول مکروه دي اوکه دهغه له خوښولوبغيرخلک ودريږي نومکروه نه ده .

ف :مصافحه داده چې په مخامخ دريدلوسره دلاس ورغوی دبل دلاس له ورغوي سره يوځای کړي اوسنت داده چې مصافحه په دواړولاسونوسره وي اودملاقات پروخت له سلام څخه وروسته وي اوپه مصافحه کې بټه ګوته ونيسي په دي وجه چې په دي کې يورګ دی دکوم په کښيکښلوسره چې محبت پيداکيږي .

ف:دعصرله لمانځه اودفجرله لمانځه څخه وروسته اوله جمعي اوعيدينوڅخه وروسته دمصافحي رواج بدعت له کوم څخه چې احترازواجب دی (اشرف الهداية)

## فصل في البيع والاحتكار والاجارة وغيرها

دافصل دبيع ،احتکاراواجارې وغيره په بيان کې دی

دبيع بيان يې دخورک څښک اولمس اووطی له بيان څخه مؤخرکړولی چې ددي افعالواثردانسان له بدن سره متصل دی اوپه کوم کې چې اتصال ډيروي هغه احق بالتقديم دی .

(۱) كُرِهَ بَيْعُ العَذِرَةِ لَا السِّرْقِين (۲) وَلَهُ شِرَاءُ أَمَةٍ قَالَ بَكْرٌ وَكَّلَنِي زَيْدٌ بِبَيْعِهَا (۳) وَكُرِهَ لِرَبِّ الدَّيْنِ أَخْذُ ثَمَنِ خَمْرٍ بَاعَهَا مُسْلِمٌ لَا كَافِرٌ (۴) وَاحْتِكَارُ قُوتِ الْآدَمِيِّ وَالْبَهِيمَةِ فِي بَلَدٍ يَضُرُّ بِأَهْلِهِ (۵) لَا غَلَّةُ ضَيْعَتِهِ وَمَا جَلَبَهُ مِنْ بَلَدٍ آخَرَ (۶) وَلَا يُسَعِّرُ السُّلْطَانُ إِلَّا أَنْ يَتَعَدَّى أَرْبَابُ الطَّعَامِ عَنِ الْقِيمَةِ تَعَدِّيًا فَاحِشًا

ترجمه :مکروه ده دپاخانې بيع نه دګوبرو ،جائزده دزيدمينځه اخيستل (دکومې متعلق چې )بکروويل چې زه وکيل جوړکړی يم زيددهغې دخرڅولو ،اومکروه ده قرضخواه لره ثمن اخيستل دهغه شرابوکوم چې خرڅ کړي وي مسلمان نه کافراو(مکروه ده )احتکاردانسانانودغذاء اودحيواناتودغذاء په داسي ښارکې چې

احتكار مضروي ددي ښار والا ته نه دخپلي ځمکې دغلي او هغه غله چې راوړي يې وي له بل ښار څخه ،اونرخ دي نه مقرروي سلطان مګر دا چې تجاوز وکړي غله خرڅونکي له اصل قيمت څخه ډېر تجاوز.

**تشريح** :(۱) دپاخانې بيع مکروه ده ولې چې هغه نجس العين ده اوپه عام ډول دخلګو له هغې څخه دفائدې اخيستلو عادت هم نشته ،البته که له خاوري يا ايروسره ګډه وي نوبيا جائزده ولې چې په خاوره اوايره کې ګډه پاخانه داسې داه لکه دزيتون په تيلوکې چې نجاست ګډشي نولکه څرنګه چې په دې قسم روغن زيتون سره انتفاع جائزده همداشان په خاوره کې په ګډه پاخانه سره هم انتفاع جائزده .اودګوبرولېدووغيره بيع جائزده ولې چې ګوبروغيره مال دی په دې وجه چې دځمکې دتقويت لپاره په ځمکه کې اچول کيږي اوهرمال محل بيع ده نوګوبرهم محل بيع ده لهذا دګوبروغيره بيع جائزده .

(۲) قوله لشراء امة زيد الخ اى يجوزله شراء امة زيد الخ ،يعنی که په بازارکې کومه مينځه خرڅيدله خالدته دامعلومه وه چې دامينځه دزيدده يوبل کس مثلابکروايې چې زيدزه ددې دخرڅولو وکيل جوړکړی يم نوخالدلره جائزده چې دامينځه واخلي اوله دې سره وطي وکړي يعنی ده لره ددې ضرورت نشته چې دبکردوکالت لپاره ګواه طلب کړي ولې چې په معاملاتوکې ديوه عاقل مميزانسان قول معتبروي که نارينه وي اوکه ښځه ،مسلمان وي اوکه کافر،عادل اوکه فاسق ،البته شرط دادی چې بائع ثقه کس وي يادمشتری غالب ګمان داوي چې بائع صادق دی ،کنه نوخالدلره دداسې مينځې اخيستل جائزنه دي .

(۳) که دکوم مسلمان پرچاپوربانديې وي اومقرض دشرابوپه خرڅولوسره دهغه قرض اداء کوي نوکه مقروض کس مسلمان وي نوقرضخواه لره ددې پيسو اخيستل حلال نه دي ولې چې دشرابوخرڅونکي مسلمان ددې شرابودثمنومالک شوی نه دی بلکه ددې مالک خومشتری دی لهذادشرابومالک لره دغيرملک دهغه له خونبې بغيرورل اوقرضخواه ته ورکول جائزنه دی .اوکه دشرابوخرڅونکی مقروض ذمی کافروي نوقرضخواه لره ددې پيسو اخيستل حلال دي ولې چې ذمی دشرابوپه خرڅولوسره دقيمت مالک ګرځي لهذاقرضخواه لره ددې پيسوپه اخيستلوکې څه حرج نشته .

(۴) قوله واحتكارقوت الادمى والبهيمة فى بلديضرباهله اى يكره الاحتكارقوت الادمى والبهيمة فى بلديضرباهله ،يعنی دانسانانودغذاء (غنم ،اوربشي ،ورېژي وغيره )اودحيواناتودغذاء (بوسه ،چاره )احتکار(دګرانيدلوپه انتظارکې اېښودل اونه خرڅول ترڅوچې له ګراني وروسته ډېره ګټه وکړي )مکروه ده حال داچې دښارخلګوته په دې کې نقصان وي لقوله ﷺ المحتکرملعون (يعنی احتکارکونکی ملعون دی )،اوکه اهل ښارته مضرنه وي نومکروه نه دی .

ف :هغه احتکارله کوم څخه چې په حديث کې منع شوي ده دهغه تعريف علامه نووی رحمه الله داليکلي دی چې غله دغلاء اوګراني په وخت کې دتجارت په نيت سره اخيستل اواېښودل اوفی الحال نه خرڅول دزيات ګرانيدلوپه انتظارکې ترڅوچې زياتي پيسې ترلاسه کړي ،اومنع په هغه صورت کې ده چې داغله په خپل ښارکې واخلي اوو ي ساتي ،اوکه يې له کوم بل ځای څخه راوړي وي ،يايې دارزانۍ په زمانه کې واخيستله

اويايې وساتي دګرانۍ په زمانه کې دخرڅولولپاره نوپه دي کې څه حرج نه شته داحتکارممنوع نه دی (الدر المنضود: ۵/۳۸۷)

(۵)قوله لاغلة ضيعته اى لايكره احتكار غلة ارضه ،يعنى چاچې دخپلي ځمکې غله دګرانيدلولپاره وساتله يايې له کوم بل ښارڅخه راوړه اودګرانيدلوپه انتظارکې يې وساتله نوداکس محتکرنه شمارل کيږي اول خوپه دي وجه احتکارنه دی چې داخپل خالص حق دی دنوروحق له دي سره متعلق شوی نه دی ،اودوهم په دي وجه احتکارنه دی چې دعاموخلکوحق له هغې غله سره متعلق وي کومه چې په ښارکې جمع کړای شي اوکومه چې له فناء ښارڅخه راوړل شي پاتي شوه له کوم ليري ښارڅخه راوړل شوي غله نوله هغې سره دعاموخلکوحق متعلق نه دی نواحتکارهم نه دی.

(۶)يعنى سلطان لره دامناسبه نه ده چې هغه په خپله رآيه سره پرخلکوکوم نرخ مقررکړي ولي چې ثمن دعاقدحق دی دهغه دمقررولوحق هم هغه لره دی ،هوکه غله خرڅونکي له حدڅخه تجاوزوکړي دومره ګراني شروع کړي په کومه کې چې دعاموخلکوضرروي نوبيادي داهل رآيه په مشوره سره نرخ مقررکړي ترڅوخلک دهغوئ له ظلم اوستم څخه محفوظ پاتي شي.

(۷)وَجَازَ بَيْعُ الْعَصِيرِ مِنْ خَمَّارٍ (۸)وَإِجَارَةُ بَيْتٍ لِيُتَّخَذَ بَيْتَ نَارٍ أَوْ بِيعَةً أَوْ كَنِيسَةً أَوْ يُبَاعَ فِيهِ خَمْرٌ بِالسَّوَادِ (۹)وَحَمْلُ خَمْرٍ لِذِمِّيٍّ بِأَجْرٍ (۱۰)وَبَيْعُ بِنَاءِ بُيُوتِ مَكَّةَ وَأَرَاضِيهَا (۱۱)وَتَعْشِيرُ الْمُصْحَفِ وَنَقْطُهُ (۱۲)وَدُخُولُ ذِمِّيٍّ مَسْجِدًا (۱۳)وَعِيَادَتُهُ (۱۴)وَخِصَاءُ الْبَهَائِمِ وَإِنْزَاءُ الْحَمِيرِ عَلَى الْخَيْلِ (۱۵)وَقَبُولُ هَدِيَّةِ الْعَبْدِ التَّاجِرِ وَإِجَابَةُ دَعْوَتِهِ وَاسْتِعَارَةُ دَابَّتِهِ وَكُرِهَ كِسْوَتُهُ الثَّوْبَ وَهَدِيَّتُهُ النَّقْدَيْنِ

**ترجمه**: جائزده شيره خرڅول پرشراب جوړونکی باندي ،اوکورپه کرايه ورکول ترڅوپه هغې کې اتشکده ، ديهودوعبادت خانه ،يانصارى ؤعبادت خانه جوړه شي ياخرڅ کړای شي په هغه شراب په کليوکې ،اوذمي شراب اوچتول پرمزدوري ،اوخرڅول عمارت دمکي مکرمي دمکانواودهغي ځمکه ،اودقرآن پرهرولسوآيتونونښان لګول اونقطي لګول اوقرآن ښائسته کول ،اوداخليدل دذمي په مسجدکې ،اودهغه پوښتنه کول دناروغي په حالت کې ،اوخصى کول دڅارويواودخروپراسانوخيږول ،اوقبلول هديه دتاجرغلام اوقبلول دهغه دعوت دميلمستيااوپه استعاره وړل دهغه دڅاروی اومکروه ده دتاجرغلام جامه وراپه تن کول اوهديه کول دهغه نقدينولره.

**تشريح**: (۷)دانګوروشيره پرداسي کس خرڅول جائزده دکوم په باره کې چې دامعلومه وي چې هغه له دي څخه شراب جوړوي ولي چې معصيت له عين شيره سره متعلق نه دی بلکه دشيره له تغيره وروسته دی ،همدرازپه شيره کې داصلاحيت شته چې له هغې څخه جائزشيان جوړول کړای شي نوفسادپه نفس شيره کې نه دی بلکه دمشري په اختياررولوکي دی ،اوپه ايام فتنه کې معصيت څرنګه چې له عين سلاح سره متعلق دی په دي وجه په دي ورځوکې سلاح خرڅول مکروه ده ولي چې موږپه بديوکې له تعاون اوکومک کولوڅخه منع کړل شوي يو.

(۸)قوله واجارة بيت ليتخذفيه بيت نار اى جاز اجارة بيت ليتخذفيه بيت نار ،يعنى که کوم مسلمان خپل مکان په کليوکې پرکرايه ورکړترڅوپه هغه کې دمجوسيانواتشکده (مجوسيان داورعبادت کوي دعبادت لپاره يې

جلاخايونه جوړکړي دي په هغوکې اوربليږي هغوته اتش کده ويل کيږي )جوړه کړي ياپه هغه کې ديهودوعبادت خانه جوړه شي يانصاری په هغه کې خپل گرجاگهر(کليسا)جوړه کړي ياپه کليوکې مکان ددي لباره په کرايه ورکړي چې په هغه کې شراب خرڅ کړای شي نودامام صاحب په نزدداجائزده اودصاحبينوپه نزدجائزنه دي ولې چې په دي ټولوکې پرگناه اعانت دی اوموږپه گناهونوکې له کومک کولوڅخه منع شوي يو،دامام صاحب دليل دادی چې اجاره دکورپرمنفعت وارده شوي ده نه پرمذکوره اموروباندي همداوجه ده چې که دي خلگوپه مکان کې مذکوره شيان جوړنه کړل بيابه هم دمکان په ورسپارلوکرايه جاري کيږي اومکان په کرايه ورکولوهيڅ گناه نشته بلکه گناه خوپه مستاجرکې ده اومستاجرفاعل مختاردی اودفاعل مختاردعمل کوم بل کس ذمه وارنه وي .

ف:دسواديعنی کليوقيددکوفي دياباني علاقوپه اعتبارسره دی چې دکوفي اکثرياباني خلگ ذميان وو له کوفي ماسواپه نوريياباني علاقوکې کافرانولره دعبادت خانودجوړلوگنجائش نشته ولی چې هلته داسلام شعائرظاهره شوي دي .

(۹)کوم مسلمان دذمي شراب په مزدوري ورسره وړي نودامام صاحب په نزدداجائزدی اودصاحبينوپه نزدجائزنه ده ولی چې داپرگناه اعانت دی په دي وجه جائزنه دی .دامام صاحب دليل دادی چې گناه په شراب څښلوکې ده اوشراب مختارڅښي اودفاعل مختاردفعل نسبت دبل طرف ته نه شي کيدلای .اودشرابوله وړلوسره څښل لازم نه دی بلکه کله شراب دتويولوياسرکه جوړلولپاره وړل کيږي .

ف:دصاحبينوقول راجح دی لماقال العلامة ابن عابدين:(قوله وحمل خمر ذمی)قال الزيلعی وهذاعنده وقالاهومكروه لانه ﷺ لعن فی الخمر عشرة وعدمنها حاملهاوله ان الاجارة علی الحمل وهوليس بمعصية ولاسبب لهاوانماتحصل المعصية بفعل فاعل مختاروليس الشرب من ضرورات الحمل لان حملهاقديكون للاراقة وللتخلل فصاركمااذااستاجره لعصرالعنب اوقطعه والحديث محمول علی الحمل المقرون بقصدالمعصية،اه زادفی النهاية وهذاقياس وقولهمااستحسان (ردالمحتار:۵/۲۷۷)

(۱۰)قوله وبيع بناء بيوت مكة ای جازبيع بناء بيوت مكة ،په مکه مکرمه کې دخپلو مکانودعمارت خرڅول خوبالاتفاق جائزدی ولی چې هغه دجوړونکی ملکيت دی ،البته ځمکه خرڅول يې مختلف فيه ده دامام صاحب په نزدمکروه ده اودصاحبينوپه نزدجائزده ولی چې ټول شرعي احکام په دي ځمکوکې ظاهريږي مثلاً څوک مرشي نودهغه په ځمکه کې بالاتفاق ميراث جاري کيږي اووارثان هغه تقسيمولی شي نوبيع به يې هم جائزوي .دامام صاحب دليل دادی چې دکعبة الله بيع وقف کيدلوپه وجه سره جائزنه ده اومکه مکرمه دکعبې فناء ده لهذادهغې بيع هم جائزنه ده .

ف:په متن کې مذکورقول دصاحبينودی اوهمدامفتی به دی لمافی الدرالمختار:(و)جاز(بيع بناء بيوت مكة وارضها)بلاكراهة وبه قال الشافعی وبه يفتی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۵/۲۷۸)

(۱۱)قوله وتعشيرالمصحف ای جازتعشيرالمصحف ،يعنی په قرآن مجيدکې له هرولسوآيتونوڅخه وروسته نښان لگول جائزدی ولی چې آيتونه توقيفي دي په هغوکې درأيه هيڅ دخل نشته اوتعشيردآيتونودحفاظت لپاره دی لهذاتعشيرهم مستحسن دی ،اودإعراب داظهارلپاره نقطي (مراداعراب دی )لگول جائزدی ولی چې

عجمي خلك بغير له اعراب څخه قران مجيد نه شي لوستلاى .دقران مجيد په سپينو يا سرو زرو سره په بنائسته كولو كې څه حرج نشته په دي وجه چې په دي كې دقرآن مجيد تعظيم او بزرگي ده .

(۱۲)قوله ودخول ذمى فى مسجداى جازدخول ذمى فى مسجد،يعنى په مسجدحرام اوټولومسجدونوكې دذميانو داخليدل داحنافو په نزد جائزده دشوافعو په نزدپه مسجدحرام كې جائزنه ده په نورومساجدوكې جائزده لقوله تعالى (إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا)(مشركين ناپاک دي نوله دي كال څخه وروسته دي دوئ مسجدحرام ته نه داخليږي )،داحنافو دليل دادى چې دنبى كريم ﷺ په خدمت كې دقبيله بنوثقيف وفدحاضرشوكوم چې په دي وخت كې كافران وونبى كريم ﷺ هغوئ په مسجدحرام كې واوسول ،همدراز دكافربدن ناپاک نه دى بلكه دهغه عقيده ناپاكه ده اوداعتقادپه خرابي سره دمسجدناپاكوالى نه لازميږي .

(۱۳)قوله وعيادته اى جازعيادة المسلم ذميا،يعنى مسلمان لره دذمى په عيادت كې څه حرج نشته ولى چې دايوقسم نيكي ده اواسلام دنيكي له كارڅخه منع نه كوي ،همدراز داثابته ده چې نبى كريم ﷺ دخپل همسايه يهودى عيادت فرمايلى وواوهلته په تللوسره نبى كريم ﷺ هغه ته دكلمه تلقين وكړكوم چې هغه قبول كړاومسلمان مړشوپركوم چې نبى كريم ﷺ دالله تعالى شكراداء كړ.

(۱۴)قوله وخصاء البهائم اى جازخصاء البهائم ،يعنى دحيوانانوپه خصي كولوكې څه مضائقه نشته ولى چې په دي كې فائده ده په دي وجه چې خصي څاروى چاغ وي اودهغه غوښه ډيره ښه وي ،اودخره پراس په خيږلوكې څه حرج نشته ولى چې له دي څخه خچرپيداكيږي اوپرخچرنبى كريم ﷺ سپورشوى دى نوكه په دي كې څه حرج واى نونبى كريم ﷺ نه پرسپريدو.

ف:دبعض نسل حيوانانوپه باره كې مشهوره ده چې ددوئ دنسل كشى لپاره دخنزيرماده منويه دټيسټ ټيوب په ذريعه يادجفتى (وطى )په ذريعه استعماليږي له كوم څخه چې بچى پيداكيږي داسې غواته جرمنى ياغيرملكي غواويل كيږي دداسې غوادغوښي څه حكم دى ؟نوپوه شه چې دحيواناتونسل له مورڅخه ثابتيږي ،دنردماده منويه هيڅ اعتبارنشت لكه چې فقهاوليكلي دي چې كه له بزي سره كوم څناوروطى وكړي نوبچى دمورپه تابع كيدلوسره حلال دى ،لهذادجرمنى غواياكوم بل حيوان چې دهغه مورحلال حيوان وي نوهغه ذبح كول اودهغه غوښه خوړل شرعاجائزدي ،لماقال العلامة الكاسانى فى البدائع الصنائع: ۵/۶۹ :حتى ان البقرة الاهلية اذانزعليهاثورو حشي فولدت فانه يجوزان يضحى به وان كانت البقرة وحشية والثوراهليالم يجزلان الاصل فى الولدالام لانه ينفصل عن الام (جديدمعاملات كے شرعى احكام: ۳/۳۹)

ف:څرنګه چې په حيواناتوكې دنسب لحاظ ساتل شرعاضروري نه دى اوپه حيوانانوكې نسل دمورتابع وي لهذاپردي اساس دحيوانانودافزائش نسل (يعنى دنسل دزياتوالي )لپاره انجكشن (ستن )لګول كوم قبيح عمل نه دى (ملخص ازفتاوى حقانية : ۲/۳۹۹)

(۱۵)دغلام ماذون فى التجارة هديه قبلولواودهغه دعوت قبلول اودهغه كوم څاروى په استعارة بيول جائزدي دقياس تقاضاخوداده چې له مذكوره اموروڅخه يوهم جائزنه وي ولى چې دامحض تبرعات دي

او غلام د تبرع اهل نه دی مګر استحساناً د جائز ګرځول شوي دي د استحسان وجه داده چې هدیه ورکول او اخیستل وغیره د تجارت له ضروراتو څخه دي، همدارازحضرت سلمان فارسي ﷺ له ازادیدلو څخه وړاندې نبي کریم ﷺ ته هدیه پېښ کړي وه او نبي کریم ﷺ قبول کړي وه او ثابته ده چې نبي کریم ﷺ د غلامانو دعوت قبول فرمایو، لیکن که هغه جامې یادراهم یادنانیر په هدیه کوي نودامکروه ده ولې چې دا د تجارت له ضروراتو څخه نه دي او محض تبرع ده د کوم چې غلام اهل نه دی.

(۱۶) وَاسْتِخْدَامُ الْخَصِيِّ (۱۷) وَالدُّعَاءُ بِمَعْقِدِ الْعِزِّ مِنْ عَرْشِكَ [ (۱۸) وَبِحَقِّ فُلَانٍ (۱۹) وَاللَّعِبُ بِالشِّطْرَنْجِ وَالنَّرْدِ وَكُلِّ لَهْوٍ [ (۲۰) وَجَعْلُ الرَّايَةِ فِي عُنُقِ الْعَبْدِ (وَحَلُّ قَيْدِهِ (۲۱) وَالْحُقْنَةُ (۲۲) وَرِزْقُ الْقَاضِي (۲۳) وَسَفَرُ الْأَمَةِ وَأُمِّ الْوَلَدِ بِلَا مَحْرَمٍ (۲۴) وَشِرَاءُ مَا لَا بُدَّ لِلصَّغِيرِ مِنْهُ وَبَيْعُهُ لِلْعَمِّ وَالْأُمِّ وَالْمُلْتَقِطِ لَوْ فِي حِجْرِهِمْ) (۲۵) وَتُؤَجِّرُهُ أُمُّهُ فَقَطْ

**ترجمه**: او (مکروه دی) خدمت اخیستل له خصي څخه، او دعاء غوښتل پر عرش د عزت باری تعالی د موضع انعقاد سره، او بحق فلان دعا غوښتل، او بازی کول د شطرنج او نرد شیر او هر قسم لهو لعب، او اچول د غلامی د نښان د غلام په غاړه کې او حلال دی غلام بندي کول، او حقنه کول، او د قاضي تنخوا مقررول، او سفر کول د مینځې او ام ولد بغیر له محرم څخه، او اخیستل د داسي شئ له کوم څخه چې چاره نه وي صغیر لره او خرڅول اکا او مورا و ملتقط لره که هغه د دوئ په پالنه کې وي، او پر مزدوري یې ورکولی شي ماشوم د هغه مور فقط.

**تشریح**: (۱۶) قوله واستخدام الخصی ای یکره استخدام الخصی، یعنی له خصیانو څخه خدمت اخیستل مکروه ده ولې چې له خصیانو څخه په خدمت اخیستلو کې درغبت بنکاره کول د دې عمل باعث دي حال دا چې داعمل (ځان خصي کول) مثلاه او حرام دی نبي کریم ﷺ له دې څخه منع کړې ده.

(۱۷) قوله والدعاء بمقعد العزمن عرشک ای ویکره الدعاء بمعقد العزمن عرشک، عرش څرنګه چې حادث دی لهذا په دعاء کې داسي الفاظ ویل مکروه دي په کوموکې چې د الله تعالی د عزت لپاره د قرار ځای عرش ثابت شي مثلاً په دې دول دعاء کول اسئلک بمعقد العزمن عرشک ولې چې معقد له عقد څخه دی د غوټې د تړلو ځای په معنی، نو معنی دا شوه چې زه له تا څخه سوال کوم ستا له عرش سره د عزت د غوټې د تړلو د مقام په واسطه سره، نو په دې کې عرش ته د عزت د تړلو مقام ویل موهم د حدوث دي په دې وجه چې عرش حادث دی نو له عرش متعلق عزت به هم حادث وي حال دا چې الله تعالی له خپلو ټولو صفاتو سره قدیم دی، امام ابویوسف رحمه الله داسي دعاء جائزه ګڼي ولې چې په حدیث شریف کې شته، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِمَعْقِدِ الْعِزِّ مِنْ عَرْشِكَ, وَمُنْتَهَى الرَّحْمَةِ مِنْ كِتَابِكَ وَبِاسْمِكَ الْأَعْظَمِ وَجَدِّكَ الْأَعْلَى, وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ، احوط امتناع ده لمالی الدر المنتقی: ۲۲۳/۴ والاحوط الامتناع لکونه خبر واحد فیما یخالف القطعی.

(۱۸) قوله وبحق فلان ای یکره الدعاء بان یقول بحق فلان، یعنی په دعاء کې داسي ویل چې ای الله بحق فلان زما حاجت پوره کړي دا هم مکروه ده ولې چې پر الله تعالی د هیچا حق نشته بلکه هغه چې چاته څه ورکوي محض د هغه فضل دی.

**ف**: لیکن که حق د حرمت، عظمت او وسیله په معنی واخیستل شي نو په دې کې څه حرج نشته له حدیث شریف څخه هم د دې تاکید کیږي قال ﷺ اللهم انی اسألک بحق السائلین علیک.

(۱۹)قوله واللعب بالشطرنج ای ویکره اللعب بالشطرنج ،یعنی په شطرنج (شطرنج دشین په کسره سره دادسنسکرت لفظ دی کوم چې په اصل کې له چترنگ څخه معرب دی ،په هندوستان وغیره کې یومشهوره بازی ده په کومه کې چې په شپږقسمه گټوسره بازی کیږي کوموته چې شاه ،فرزین ،فیل،اسپ ،رخ اوپیدل ویل کیږي )اونردشیر(چوسر ،یوقسم بازی ده کومه چې اردشیربن بابک شاه ایران ایجادکړي وه )اوهرقسم عبثه بازی مکروه ده اوکه په دي کې څه راکړه ورکړه شرط وي نوبیادجوا(قمار)کیدلوپه وجه سره حرامي دي اوکه داسي کوم شرط نه وي نوبیادعبث اولغووالی په وجه سره ممنوع دي په حدیث شریف کې له خپلي ښځې سره له ملاعبت ،شهسواري اوغشي ویښتلوماسوانورلي بازیاني حرامي گرځول شوي دي قال ﷺ کُلُّ لَعِبِ ابنِ آدمَ حرامٌ إلّا ثلاثةٌ مُلاعبةُ الرّجلِ أهلَه، وتأديبُه لفرسِه، ومُناضلتُه بقوسِه.

ف:داسي بازي اوتماشي چې په هغوکې څه معتدبهافائده ددین اودنیانه وي هغه ټولي ممنوع اوناجائزي دي خواه که پرهغوبازي ولگول شي یاپه انفرادي ډول سره وشي لهذاکبوتربازی ،پتنگ بازي ،بیټربازی ،مرغ بازی ،چوسر ،شطرنج ،تاش ،دسپیانوریس وغیره ټول دهمدي ناجائزصورت افراددي (جواهرالفقه ۲/۳۵۲:)

ف:له کوموبازیانوڅخه چې څه دنیوي یادیني فوائدحاصلیږي هغه جائزدي ،په دي شرط چې دهمدي فوائدوپه نیت سره وکول شي محض دلهواولعب په نیت سره نه وي لیکن ددي په کولوکومه معاوضه یاانعام شرط مقررول جائزنه دي مثلاًدگیندبازی چې له دي څخه جسماني ورزش جوړیږي اوکیږي (لهذاوالی بال ،فټ بال ټول جائزدي )یادلاټې وغیره بازی یادپهلوانانوغیرایستل وغیره کوم چې په قوت جهادکې معین کیدای شي ،هدااشان معمه بازی ،شعربازی ،تعلمي تاش دبایللویاگټلوبازی لگول ،مگرپه دي کوم رقم یامعاوضه مقررول جائزنه دي بلکه قمارحرام دی (جواهرالفقه )

(۲۰)قوله وجعل الرایة فی عنق العبدای ویکره جعل الرایة فی عنق العبد،یعنی دغلام په غاړه کې دغلامي نښان اچول جائزنه دی دکوم چې صورت دادی چې داورسپیني دروندطوق دغلام په غاړه کې واچوي ظالمانوخلگوبه غلام دتکلیف ورکولولپاره دغلام په غاړه کې داورسپیني طوق اچاووچې دهغه دثقل په وجه سره به هغه خپل سرته حرکت نه شوورکولی نوداځرنگه چې محض ظلم دی په دي وجه ممنوع دی ،هودغلام په پښوکې زولني اچول جائزدي ترڅوغلام ونه تښتي اوداطریقه په مسلمانانوکې رائجه پاتي شوي ده .

(۲۱)قوله والحقنة ای حل الحقنة للتداوی ،یعنی حقنه کول (یعنی دپاخانې په لاره سره دننه دوائي رسول )جائزدی په دي شرط چې په دي سره صرف دکومې ناروغي علاج کول مقصودوي دقوت دحاصلولولپاره نه وي ولی چې دتداوی اباحت په احادیثوسره ثابت دی .

(۲۲)قوله ورزق القاضی ای وحل رزق القاضی من بیت المال ،یعنی که امیرالمؤمنین قاضی ته له بیت المال څخه رزق ورکړي اوقاضی یې قبول کړي نوپه دي کې څه حرج نشته ولی چې په خپله نبی کریم ﷺ عتاب ابن اسیدمکې مکرمې اوحضرت علی ﷺ دیمن عامل مقررکړل اودهغوئ لپاره یې نفقه مقرره کړه .همدراز

ځرنګه چې قاضي د مسلمانانو د امورو لپاره محبوس دی په دي وجه به د هغه نفقه هم د مسلمانانو له مال څخه وي او د مسلمانانو مال بيت المال دی.

(۲۳) قوله وسفر الامة وام الولد بلامحرم ای وحل سفر الامة وام الولد بلامحرم ،يعنی که مينځه او ام ولد بغير له محرم څخه سفرو کړي نو په دي کې څه حرج نشته ولی چې ددوئ په حق کې (په ليدلو او مس کولو کې) بول خلک د محارمو په درجه کې دي ،مګر دا د اهل صلاح د زماني خبره ده نن د فسق او فجور او فساد په دي زمانه کې ددي اجازت نشته.

(۲۴) قوله وشراء مالابد ای وحل شراء مالابد الغ ،يعنی اکا لره جائزده چې د خپل وروردنابالغ اولاد لپاره د هغه د ضرورت شئ واخلي يا يې خرڅ کړي ،همداشان مورلره جائزده چې هغه د خپل نابالغ اولاد لپاره د هغه د ضرورت شيان واخلي يا يې خرڅ کړي ،همداشان لاوارث ماشوم ترڅو چې د ملتقط په پالنه کې وي نو هغه لره هم ددي ماشوم د ضرورت د شيانو خرڅول او اخيستل جائزدي دوئ لره دا اجازت په دي وجه دی چې په دي کې د نابالغ ضرر دفع کيږي کنه نو نابالغ لره به نقصان وي.

ف: د نابالغ په حق کې تصرف پردري قسمه دی (۱) کوم چې محض مفيد وي لکه چې ماشوم ته يو شئ هبه کول ددي قسم تصرف هرچالره اختيارشته که هغه د ماشوم ولی وي يا کوم پردی کس وي (۲) په کوم کې چې د ماشوم محض ضرروي لکه د ماشوم غلام ازادول او د هغه ښځي ته طلاق ورکول ددي قسم د تصرف اختيار هيچالره نه شته ،(۳) کوم چې مترددبين النفع والنقصان وي لکه د ماشوم کوم شئ خرڅول وغيره ددي قسم تصرف اختيار د ماشوم پلار ،نيکه او د هغه وصيانو لره دی کوم بل چالره ددي اختيار نشته.

(۲۵) اکا او ملتقط لره دا جائزنه ده چې ماشوم پر مزدوري ولګوي ،البته مورلره دا حق حاصل دی چې هغه ماشوم له يو چا سره مزدور کړي په دي شرط چې ماشوم د مور په پرورش کې وي ولی چې مورلره دا حق شته چې د ماشوم منافع بلاعوضه تلف کړي مثلا په ماشوم خپل خدمت وکړي حال داچې اکا او ملتقط لره دا حق نشته چې هغوئ د ماشوم منافع بلاعوضه تلف کړي.

## كتاب إحياء الموات

### دا کتاب د احياء الموات په باره کې دی

د احياء لغوی معنی ده کوم شئ ژوندی کول ،او موات په لغت کې مالاروح له (په کوم کې چې روح نه وي (بالارض لامالک لها (داسي ځمکه د کومې چې مالک نه وي) ته ويل کيږي ،او شرعا احياء موات غير ابادي ځمکه په تعمير يا کښت کولو سره د انتفاع قابل جوړلو ته ويل کيږي.

شرعي تعريف يې امام قدوری رحمه الله په دي ډول کړی دی الموات مالاينتفع به من الارض لانقطاع الماء عنه او لغلبة الماء عليه او ما اشبه ذالک ممايمنع الزارعة (يعنی ارض موات هغه ځمکه ده کوم چې په يوه وجه سره د انتفاع قابله نه وي که اوبو منقطع والی په وجه سره وي او که ډيرو اوبو دراتلو په وجه سره وي يا په دي شان د کوم بل سبب په وجه سره کوم چې له کښت کولو څخه مانع وي ،مثلا پر ځمکه ريګ يا ډبري ډيري شي يا ځمکه بنوره شي.

کتاب احیاء الموات له کتاب الکراهیة سره مناسبت دادی چې په دې کتاب کې هم ډیرمکروه احکام اوډیرغیرمکروه احکام ذکرشوي دي ،علامه عینی رحمه الله یې دمناسبت وجه په دې ډول بیان کړې ده چې موات ناقابل انتفاع دي اوسره اوسپین زر ،اووریښم هم ناقابل انتفاع دي ولی چې دسرواوسپینوزروپه لوښوکې خورک څښک حرام دی اووریښم دنارینه ولپاره ناقابل انتفاع دي ،البته دومره فرق شته چې موات عادة دانتفاع قابل نه دہ اومذکوره شیان شرعاناقابل انتفاع دي .

(۱)هِيَ أَرْضٌ تَعَذَّرَ زَرْعُهَا لِانْقِطَاعِ الْمَاءِ عَنْهَا أَوْ لِغَلَبَتِهِ عَلَيْهَا غَيْرُ مَمْلُوكٍ بَعِيدَةٌ مِنَ الْعَامِرِ (۲)وَمَنْ أَحْيَاهُ بِإِذْنِ الْإِمَامِ مَلَكَهُ (۳)وَإِنْ حَجَرَ لَا (۳)وَلَا يَجُوزُ إحْيَاءُ مَا قَرُبَ مِنَ الْعَامِرِ (۵)وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي مَوَاتٍ فَلَهُ حَرِيمُهَا أَرْبَعُونَ ذِرَاعًا مِنْ كُلِّ جَانِبٍ )(۶)وَحَرِيمُ الْعَيْنِ خَمْسُمِائَةٍ (۷)فَمَنْ حَفَرَ فِي حَرِيمِهَا مُنِعَ مِنْهُ (۸)وَلِلْقَنَاةِ حَرِيمٌ بِقَدْرِ مَا يُصْلِحُهُ (۹)وَمَا عَدَلَ عَنْهُ الْفُرَاتُ وَلَمْ يَحْتَمِلْ عَوْدَهُ إلَيْهِ فَهُوَ مَوَاتٌ وَإِنْ احْتَمَلَ لَا )(۱۰)وَلَا حَرِيمَ لِلنَّهْرِ

**ترجمه** :موات ځمکه ده دکومې چې متعذروي کرل داوبودمنقطع والی په وجه سره له دې څخه داوبودغلبې په وجه سره پردي اوغیرمملوک وي اوابادي ته نږدې نه وي ،اوچاچې اباده کړه داسې ځمکه :بادشاه په اجازت سره نومالک کرځي دهغې ،اوکه یې دډبروپاڼ جوړکړنونه ،اوجائزنه ده ابادول دهغې ځمکې کومه چې نږدې وي آبادي ته ،اوکوم کس چې څاه وکندي په بناره ځمکه کې نوهغه لره دهغه حریم دی ځلوېښت ګزه له هرطرف څخه ،اودچشمې حریم پنځه سوه ګزه دی له هرجانب څخه ،نوکوم کس چې څاه وکندي دهغه په حریم کې نومنع کیږي به له هغه ،اوکاریزلره حریم دی په اندازه دضرورت دهغه ،اوهغه ځمکه چې له هغه څخه وګرځي فرات اواحتمال نه وي دهغه دراګرځیدلودهغې طرف ته نوهغه موات ده اوکه احتمال وي نونه ده .اوحریم نشته دلښتې .

**تشریح** :(۱)مصنف رحمه الله دموات شرعي تعریف په دې ډول کړی دی چې موات هغه ځمکه ده په کومه کې چې کښت کول مشکل وي داوبودمنقطع والی په وجه سره یادډیرواوبودراتلوپه وجه سره پرهغې اودچاملوکه نه وي ،له ابادي څخه لیرې وي .له ابادي څخه لیرې والی دامام ابویوسف رحمه الله په نزدشرط دی ولی ظاهره ده چې کومه ځمکه کلي ته نږدې وي له هغې څخه دهغه داوسیدونکوانتفاع منقطع نه وي نوموات هم نه ده نودحکم مدارپرقرب اوبعددی .حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزدشرط دادی چې دکلي داوسیدونکوانتفاع حقیقة له دې ځمکې څخه منقطع وي نوداسې ځمکه موات ده اګرکه کلي ته نږدې وي .

ف:دامام محمد رحمه الله قول راجح دی لمافی الدرالمختار:واعتبرمحمدعدم ارتفاق اهل القریة به وبه قالت الثلاثة قلت وهذاظاهرالروایة وبه یفتی..........عن قاضیخان ان الفتوی علی قول محمد(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۵/۳۰۷)

(۲)دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدچاچې کومه غیراباده ځمکه دامام المسلمین په اجازت سره اباده کړه نوهغه دهغې مالک ګرځي اوچاچې دامام له اجازت څخه بغیراباده کړه نوهغه دهغې مالک نه ګرځي ولی چې غیراباده ځمکه هم له مال غنیمت څخه ده اوپه مال غنیمت کې چالره داحق نشته چې دی هغه دامام له اجازت څخه بغیربوسي .اودصاحبینوپه نزددامام له اجازت څخه بغیرهم ابادونکی مالک ګرځي ولی چې دامال مباح دی اوپرمال مباح چې څوک وراندې قابض شي هغه دهغه دی .

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الدرالمختار: (ان اذن له الامام فی ذالک) وقالا يملکها بلااذنه الخ وفی الشامية: وقول الامام هو المختار ولذاقدمه فی الخانية والملتقى كعادتهما وبه اخذ الطحاوی وعليه المتون الخ (الدرالمختار مع الشامية: ۵/۳۰۷)

ف: بعض وختونه حکومت کومه ويرانه (بنجاره) ځمکه دڅوکلونو لپاره کوم چاته په ليزيا اجاره سره ورکوي ليکن دا ليزا وجاره موجب ملک نه دي بلکه ترڅومره مدت پوري چې ځمکه په ليزوغيره سره حاصل کړل شوي وي دهغه مدت له ختميدلو څخه وروسته به ځمکه بيرته حکومت ته واپس کيږي (فتاوی حقانية: ۶/۴۱۵)

(۳) قوله وان حجر لا ای ان حجر ارض الموات لايملکه ،يعنی که چا له غير ابادي ځمکې څخه د خلکو د منع کولو لپاره له غير ابادي ځمکې څخه دنښې په ډول سره دډبرو يا ړ راتاو کړ مګر تر دريو کلونو پوري يې ځمکه اباده نه کړای شوه نو داکس به د دې ځمکې مالک نه ګرزي بلکه امام دي له هغه (محجر) څخه هغه ځمکه واخلي او کوم بل ته دي ورکړي ولی چې تحجير احياء نه ده او امام خو هغه ته ددې مقصد لپاره ورکړې وه چې هغه دا اباده کړي تر څو دهغې له عشر او خراج څخه مسلمانانو ته ګټه ورسيږي ليکن کله چې دا مقصود حاصل نه شو نو د تحصيل مقصود لپاره به يې بل چاته ورکړي.

(۴) کومه ځمکه چې ابادي ته نږدې وي هغه موات نه ده په دې وجه دهغې احياء هم جائز ه نه ده بلکه هغه به داهل قريه دڅرځای او کهليان (دپرې شوي فصل داچولوځای) لپاره پريښودل کيږي ولی چې له دې ځمکې سره دکلي دخلکو حق متعلق دی ولی چې په داسي ځمکه کې دځمکې والاو حاجت ثابت دی لهذا دا موات نه ده.

(۵) چاچې په ځنګل (غير اباده ځمکه) کې څاه وکندی نو داکس دڅاه دحريم (دڅاه چارچاپيره) هم مالک ګرځي په دې وجه چې له څاه څخه بغير له حريمه کامل نفع نه شي اخيستل کيدای نو که هغه څاه څارويو ته داوبو ورکولو لپاره وي نو دهغه حريم له هرجانب څخه څلويښت ګزه دی ولی چې مقصود دڅاه له مالک څخه دضرر دفع ده او دضرر دفع له دې څخه په لږ مقدار کې ممکنه نه ده .او که څاه دکښتونو داوبو کولو لپاره وي نو دهغه حريم شپيته ګزه دی ولی چې دداسي څاه لپاره په حديث شريف کې شپيته ګزه حريم ثابت دی .او دشپيتوزراعو قول دصاحبينو دی ،او دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دهغه حريم هم څلويښت ګزه دی ولی چې په حديث شريف کې راغلي دي ﴿من حفر بئرا فله مما حولها أربعون ذراعا﴾ او دا حديث شريف عام دی په دې کې دڅارويو داوبولو او دکښتونو داوبه کولو هيڅ فرق نه دی بيان شوی او دامام صاحب اصول دادي چې پر خاص مختلف فيه باندي له عمل کولو څخه پر عام متفق عليه عمل کول اولی دی.

ف: دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی لمافی الشامية: (قوله ويفتی بقول الامام) وقدم الافتاء بقولهما ايضا لكن ظاهر المتون والشروح ترجيح قوله فانهم قرروا دليله وأيده بما لامزيد عليه واخر فی الهداية دليله فاقتضى ترجيحه ايضا كما هو عادته وذكر ترجيحه العلامة قاسم فی تصحيحه (ردالمحتار: ۵/۳۰۸)

(۶) که چا غير اباده ځمکه وکندله او له هغې څخه جاري چشمه (چينه) را ووتله نو دچشمې حريم له هر طرف څخه پنځه سوه ګزه دی ولی چې په حديث شريف کې دچشمې لپاره حريم پنځه سوه ګزه مقرر شوی دی ،همدا راز چشمه دزراعت لپاره رايستل کيږي نو ضروري ده دداسي ځای موجود والی په کوم کې چې اوبه

ولاړي شي اوداسي حوض موجودوالی په کوم کې چې اوبه جمع شي اوداسي لښتی موجودوالی په کوم کې چې اوبه ترکښت پوري ولاړي شي ددي وجوه پراساس دچشمي حریم ډیرمقررشوی دی .

(۷)نوکه کوم کس دبل چاډځاه یاچینې په حریم کې ځاه کندل وغوښتل نوهغه به منع کیږي ولی چې داولنی دڅاه په کندلوسره پرحریم دهغه حق ثابت شوی دی نودهغه بل دڅاه په کندلوسره داولنی حق فوت کیږي یادهغه په حق کې خلل راځي په دي وجه اولنی لره حق شته چې هغه له ځاه کندلوڅخه منع کړي .

(۸)کاریزلره دومره حریم دي دڅومره چې ضرورت وي ،له امام محمد ؒ څخه یوراویت دادی چې داستحقاق حریم په سلسله کې کاریزدڅاه په شان دی .ځینې حضرات وایي چې دامام ابوحنیفه ؒ په نزدکاریزلره ترهغه وخته هیڅ حریم نشته ترڅوچې دهغه اوبه پرځمکه نه وي ښکاره شوي اوکله چې ښکاره شي نوبیادچینې حکم لري لهذادهغه لپاره به حریم پنځه سوه ګزه وي .

ف:دامام محمد ؒ قول راجع دی لماءاخرصاحب الهدایة التعلیل لقوله ولم یتعرض لذکرتعلیل قولهماوهذاامارة الترجیح لقول الراجح عندصاحب الهدایة ،وقال ابن عابدین :(قوله وعن محمدکالبئر)قال الاتقانی قال المشائخ الذی فی الاصل ای من ان القناة کالبئرقولهماوعنده لاحریم لهالانهابمنزلة النهرمالم یظهرماؤهاعلی وجه الارض ولاحریم للنهرعنده فان ظهرکالعین الفوارة حریمهاخمسمائة ذراع(ردالمحتار:۵/۳۰۹).

(۹)ددریاب اوبه کله کله خپل ځای پریږدي په بل طرف بهیدل شروع کوي نوکه دفرات (دکوفي ددریاب نوم دی )دریاب یاددجلی دریاب (دبغدادددریاب نوم دی )خپل ځای پریښودنوکتل کیږي به چې دي ځای ته داوبودیرته راتللوامکان شته اوکه یا.په دوهم صورت کې که داځای دچاحریم نه وي نودامواتو دی لهذادامام ابوحنیفه ؒ په نزددامام په اجازت سره ددي احیاء جائزده .په اولنی صورت کې ددي احیاء جائزنه ده ولی چې داتراوسه ددریاب په حکم کې ده په کوم کې چې دعاموخلګوحق دی لهذاددي احیاء اګرکه دامام په اجازت سره وي جائزنه ده ،دفرات اودجلي خصوصیت نشته بلکه دهردریاب همدا مذکور حکم دی .

(۱۰)که دچالښتی دبل په ځمکه کې تیرشوی وي نودصاحبینوپه نزددلښتی لره حریم شته یعنی لږترلږه به دلښتی پنډلونه دلښتی والاوي ترڅوهغه پردي تګ وکړای شي اودلښتی دکندلوپروخت دهغه خاوره پردي واچوي ولی چې دلښتی لپاره دپنډل وجودضروري دی نوظاهره داده چې پنډل به دلښتی دمالک وي .دامام ابوحنیفه ؒ په نزدلښتی لره حریم نشته ولی چې پنډل هم دځمکې له جنس څخه دی لهذاظاهره داده چې پنډل دصاحب ارض دی اوقول دهغه معتبردی کوم لره چې ظاهرالحال ګواه وي لاداچې دلښتی مالک ګواه پیش کړي چې پنډل زمادی ولی چې ګواه دخلاف ظاهرداثبات لپاره وي .

ف:دصاحبینو قول راجع دی ولی چې له حریم څخه بغیرله لښتی څخه کامله انتفاع ممکنه نه ده لمافی الشامیة:قوله والنهرفی ملک الغیرلاحریم له الخ )قیل ان هذه المسئلة علی ان من احیاء نهرافی موات لایستحق له حریماعندهوهمایستحقه وقال عامتهم الصواب ان یستحقه بالاجماع القانی عن شروح الجامع الصغیرثم نقل عن المحققین ایضاانهالیست مبنیة علی ذالک وان للنهرفی الموات حریمااتفاقاومثله فی الاختیار(ردالمحتار:۵/۳۱۰)

## فصل في الشرب

### دا فصل د اوبو د نوبت په بیان کې دی

کله چې مصنف رحمه الله د ارض موات د اباد ولو له بیان څخه فارغ شو نو اوس له احیاء موات سره د متعلقو مسائلو یعنی د اوبو د نوبت وغیره احکام بیانوي ولی چې د احیاء موات لپاره احتیاج دی د اوبو د نوبت او د اوبو نوبت محتاج الیه دی ،هسی خو د محتاج الیه مقدم والی مناسب دی مګر څرنګه چې د احیاء موات فروعات ډیر دي په دي وجه احق بالتقدیم دی .

((١)هو نصيب الماء(٢)الأنهار العظام كدجلة والفرات غير مملوك ولكل أن يسقي أرضه, ويتوضأ به, ويشرب به وينصب الرحى عليه, ويكري نهرا منها الى أرضه إن لم يضر بالعامة(٣)وفي الأنهار المملوكة والآبار والحياض لكل شربه وسقي دوابه لا أرضه,(٤)وإن خيف تخريب النهر لكثرة البقر يمنع(٥)والمحرز في الكوز والحب لا ينتفع به إلا بإذن صاحبه

**ترجمه** :هغه حصه ده د اوبو ،لوی لښتیان لکه دجله او فرات غیر مملوک دي او هر کس لره جائزده چې خپلې ځمکې ته اوبه ورکړي او اودس وکړي له دي څخه او اوبه وڅښي له دي څخه او جوړه کړي ژرنده پردي او وکندي له دي څخه لښتیان د خپلو ځمکو طرف ته که مضر نه وي عامو خلګو لره ،او له مملوکو لښتیانو ،څاه ګانو او حوضونو څخه هریوه لره د اوبو څښلو حق شته او خپلو څارویو ته د اوبو ورکولو حق شته نه خپلو ځمکو د اوبولو ،او که ویره وي د لښتي د خرابیدلو د غوایانو د کثرت په وجه سره نو منع کیږي به ،او کومې چې محفوظې وي په کوزه کې او په منګیانو کې فائده به نه اخیستل کیږي له هغو څخه مګر دا چې اجازت ورکړي د هغو مالک .

**تشریح** :(١)شرب د شین په کسره سره د اوبو نوبت ته ویل کیږي قال الله تعالی (لها شرب ولكم شرب يوم معلوم)،او په شریعت کې شرب وایي د اوبو هغه حصي ته له کومې څخه چې په خپل نوبت کې نفع واخیستل شي د کښتونو د اوبو لو لپاره یا د څارویو د اوبولو لپاره .

(٢)لوی لښتیان لکه دجله او فرات ،دا د چا مملوک نه دي په دي کې د ټولو خلګو حق شته ولی چې دا سي لښتیان د چا په قبضه او ملک کې نه دي لهذا له دي څخه چې کوم څوک هم وغواړي خپله ځمکه دي اوبه کړي ،اودس دي وکړي ،ودي څښي،پردي دي ژرنده جوړه کړي او که وغواړي نو له دي څخه دي نور لښتیان کار کړي او خپلې ځمکې ته دي بوځي په دي شرط چې له لښتي کندلو څخه عامو خلګو ته څه نقصان ونه رسیږي ولی چې له مباح شئ څخه انتفاع په دي صورت کې جائزه نه ده په کوم کې چې عامو خلګو ته ضرروي ولی چې له عامه خلګو څخه ضرر دفع کول واجب دي .

(٣)او کوم لښتیان یا څاه ګان یا تالاب چې د چا په ملک کې وي نو له هغوئ څخه هریوه ته د اوبو د څښلو او څارویو ته د اوبو ورکول جائز دي لقوله ﷺ (المسلمون شركاء في الماء والكلأ والنار)(ټول مسلمان په اوبو ،وښو او اور کې شریکان دي )،البته له دي څخه د ځمکې اوبه کول جائز نه دي ولی چې د دي کوم انتهاء نشته لهذا په دي کې د مالک ضرر دی په دي وجه جائز نه ده .

(۴)اوکه دمملوک لښتي ددیرغوایانووغیره دراتلوپه وجه سره دخرابیدلوویره وي نومالک لره جائزده چې خلک له دي څخه منع کړي ولی چې اصل حق خودمالک دی دنوروليپاره حق شرب خودضرورت په اساس مونږثابت کړی وولیکن کله چې اصل مالک ته ضررر سیږي نودنورودحق دثابتولوکومه معنی نشته ،ولی چې په دي صورت کې دمالک منفعت باطلیږي .

(۵)اوچاچې اوبه په کوزه ،منګی وغیره لوښوکې محفوظي کړي نوهغه دمحفوظ کونکی ملک دی اوس په دي کې دعاموخلکوحق نشته ولی چې دااوبه ددي محرزملک دي نوداداسي شوه لکه څوک چې ښکارونیسي نوله دي څخه دعاموخلکوحق ختمیږي ،البته دمذکوره بالاراویت په وجه سره دمحرزپه ملک کې شبه ده لهذاکه څوک داسي اوبه غلاکړي نودهغه لاس نه پري کیږي ،اوکه مالک اجازه ورکړه نوبیاله دي قسم ابوڅخه فائده اخیستل جائزده .

ف:که کوم کس له قدرتي چیني څخه دپائپ دکښنولوپه وجه سره اوبه حاصلي کړي نوپه پائپ کې داوبوپه راتلوسره دپائپ دمالک ملک ثابتیږي (ملخص ازاحسن الفتاوی :۸/۴۶۳)

(۶)وَكَرْيُ نَهْرٍ غَيْرِ مَمْلُوكٍ مِن بَيْتِ الْمَالِ) فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ شَيْءٌ يُجْبَرُ النَّاسُ على كَرْيِهِ (۷) وَكَرْيُ مَاهُوَ مَمْلُوكٌ على أَهْلِهِ ,وَيُجْبَرُ الْآبِي على كَرْيِهِ )لَا أَنْ(۸) وَمُؤْنَةُ كَرْيِ النَّهْرِ الْمُشْتَرَكِ عليهم من أَعْلَاهُ فَإِنْ جَاوَزَ أَرْضَ رَجُلٍ بَرِيءَ (۹) وَلَا كَرْيَ على أَهْلِ الشَّفَةِ (۱۰) وَتَصِحُّ دَعْوَى الشِّرْبِ بِغَيْرِ أَرْضٍ

**ترجمه** :اوصفائي دغیرمملوک لښتي یاویالي به له بیت المال څخه وي اوکه نه وي په هغه کې څه نومجبوره کیږي خلک دهغه پرصفائې ،اوصفائي دمملوک لښتي یاویالي به دهغه پرمالک وي نومجبوره کیږي به انکارکونکی دهغه پرصفائي ،اودصفائي مصرف دمشترکوویالوپرشریکانودي له لوړطرف څخه نوکله چې تیره شي ویاله دچاله ځمکي څخه نوهغه بری کیږي ،اونه شته صفائي پرڅښونکو،اوصحیح ده داوبودنوبت دعوی له ځمکي څخه بغیر.

**تشریح** :(۶)دغیرمملوکي ویالي کیندل به بیت المال سره کوي ولی چې دادعاموخلکودمصلحت لپاره ده اوبیت المال هم دعاموخلکودمصلحت لپاره وي ،اوکه په بیت المال کې دومره پیسي نه وي نوبیادي امام المسلمین په زور سره پرخلکووکړي ولی چې امام دخلکودڅارني لپاره مقررشوی دی ،اوپه همداسي پرېښودلوکې دخلکو ډیر نقصان دی لهذاامام به هغوئ پردي مجبوره کوي ،همدراز مروی ده چې حضرت عمر ﷺ پرهمداسي موقع خلک مجبوره کړي ووخلکوپردي له ده ﷺ څخه شکایت وکړنوده ﷺ په ځواب کې وفرمایل چې کهٔ تاسي ازادپرېښودل شي نوتاسي به خپل اولادونه خرڅ کړي.

(۷)کومي ویالي چې دخلکومملوکې وي نوهغه به هغه کیندي دکوموچې په هغوکې حق دی ولی چې دادهمدي خلکومخصوص حق دی اوالغرم بالغنم (بوج دفائدي په اندازه وي )اوکه له هغوئ څخه له دي کارڅخه انکاروکړي نوهغه به مجبوره کیږي ترڅوضررعام دفع شي .

(۸)اوکه کوم لښتي یاویاله دڅوخلکوسره مشترکه وي نودهغه کیندل اوجوړول پرهغوخلکودی کوم چې په هغه کې شریکان دي اوکیندل به لوړي خواشروع کوي اودهغه مصرف به پرهغوئ ټولودشرب اوځمکوپه

تناسب سره وي ليکن دچاله ځمکې څخه چې کيندل وړاندي ځې نووړاندي پرهغه مصرف نشته ولی چې مصرف پرمنافع اخيستونکووي اودچاله ځمکې څخه وياله تيره شي نودهغې منافع له هغه سره متعلقي نه پاتي کيږي لهذادهغه پرذمه به دوړاندي مصرف نه وي ،دادامام صاحب مذهب دی ،دصاحبينوپه نزدبه تراخره پوري پرتهولووي ولی چې داسفل محتاج له څرنګه چې کښته خلک دي لوړخلک هم دي ولی چې لوړخلک هم دزياتواوبودبهولومحتاج دي کنه نوداوبودجمع کيدلوپه وجه سره به دهغوئ کښتونه خراب شي اوداوبوبهيدلولاره کښته ده .

**ف**:دامام صاحب قول راجح دی لمافی الشامية :الفتوی علی قول الامام کمافی الکفاية وغيرهاعن الخانية والقهستانی عن التتمة (ردالمحتار:۵/۳۱۴)

(۹)له ويالي څخه پراوبوڅښونکوباندي له کيندلوڅخه هيڅ لازم نه دي ولی چې اول خوهغوئ غيرمحدوداومجهول دي اوپرغيرمحدوداومجهولوکسانوکوم شئ لازمول بي معنی دي اودوهمه وجه داده چې هغوئ تابع دي اوحکم پرمتبوع جاري کيږي نه پرتابع .

(۱۰)که دچاځمکه نه وي اوهغه له ويالي څخه دشرب دعوی وکړي نودقياس تقاضاخوداده چې دهغه دعوی مسموع نه وي مګراستحساناًدهغه دعوی صحيح ده ولی چې کيدای شي چې څوک خپله ځمکه خرڅه کړي اوحق شرب خرڅ نه کړي لهذادهغه دعوی صحيح ده .

(۱۱)نهربين قومٍ اختصموافي الشرب فهوبينهم على قدرأراضيهم(وليس لأحدأن يشق منه نهراًأوينصب عليه رحىً أودالية أوجسراًأويوسع فم النهر(۱۲)أويقسم بالأيام,وقدوقع القسمة بالكوى أويسوق نصيبه إلى أرض له أخرى ليس لهافيه شرب بلارضاهم(۱۳)ويورث الشرب, ويوصى بالانتفاع بعينه,(۱۴)ولايباع,ولايوهب(۱۵)ولوملأأرضه ماءً فنزت أرض جاره أوغرقت لم يضمن

**ترجمه** :يوليښتي ياوياله دکوم قوم په منځ کې مشترک دی هغوئ جنجال وکړاوبوپه نوبت کې نوهغه به دهغوئ په منځ کې په اندازه دهغوئ دځمکووي اونشته کوم يوه لره اختيارچې له هغه څخه ليښتي وکاروي ياپردي ژرنده ياپل جوړکړي لويه کړي دليښتي خوله ،ياداوبوتقسيم دورخوپه اعتبارسره وکړي حال داچې تقسيم شوی وي دورخونوپه اعتبارسره يابوځې اوبه خپلې بلې ځمکې ته کومې لره چې په دي ليښتي کې داوبوحق نشته دشريکانوله خوښی څخه بغير،اوپه ميراث وړل کيږي داوبونوبت اووصيت کيدای شي دبعينه له دي څخه دنفع اخيستلو،اوخرڅيدای نه شي اونه هبه کيدای شي ،اوکه يې ډکه کړه خپله ځمکه له اوبوڅخه نونقصان ورسيدی دهمسايه ځمکې ته ياهغه ډوبه شوه شوه نوضامن نه دی .

**تشريح** :(۱۱)که يوليښتي دډيروکسانوترمنځ مشترک وي اوهغوئ په خپل منځ کې په مقدارشرب کې اختلاف وکړي نودهغوئ په منځ کې به دهغوئ دځمکوپه تناسب سره شرب تقسيمېږي ولی چې له شرب څخه مقصوددځمکې اوبه کول دي اوددي حاجت دځمکې دقلت اوکثرت په وجه سره مختلف وي نوظاهره داده چې داوبوحق به دهغه دځمکې اودهغه دحاجت په اعتبارسره وي ،اوله هغوئ څخه به کوم يوه ته دنوروشريکانوله اجازت څخه بغيرداحق نه وي چې ليښتي وکيندي ياپرليښتي ژرنده جوړه کړي ياپرهغې رهټ

ولګوي يا پر هغه پل جوړ کړي يا د لښتي خوله پراخه کړي ولې چې په دي کې د مشترک لښتي کناره ماتيږي ، همداراز د ژرندي او پل وغيره په صورت کې به ځاى هم نيسي کوم چې د شرکاء له اجازت څخه بغير ممنوع دى .
د ين چکى (ژرنده) يعنى په اوبو سره چليدونکي د غنمو اوړه کولو ژرنده کومه چې به پخوا د لښتي پر غاړه جوړيده چيرته چې به شوه ځاى وغيره وو تر څو چې اوبه په زور سره ولګيږي او د اوبو په زور سره ژرنده و چليږي اوس خو په بجلي سره او په انجن (ماشين) سره چليږي او هغه پخواني رواج ختم شو (اشرف الهداية)
(۱۲) قوله او يقسم بالايام وقد وقعت القسمة بالكوى اى ليس لاحدهم ان يقسم بالايام الخ ،همدشان كه له وړاندي څخه داوبو تقسيم د موريانو په اعتبار سره شوى وو چې د هريوه کښت ته اوبو د راتلو لپاره په لښتي کې مورى جوړه شوي وه او س له شرکاء څخه کوم يو د اوبو تقسيم د ورځو په اعتبار سره کول غواړي چې يوه ورځ به ټول لښتي ديايي او بله ورځ بل شريک الخ نو ده لره د اختيار نشته لان القديم يترک على حال ولې چې په دي کې د هريوه حق بېکاره شوى دى .
(۱۳) قوله او يسوق شربه الى ارض له الخ اى ليس لاحدان يسوق شربه الى ارض له ،همداشان له شريکانو څخه کوم يوه لره دا حق نشته چې هغه د نورو شريکانو له اجازي بغير د لښتي اوبه خپلي بلې ځمکې ته بوځي د کومې ځمکې چې شرب په دي لښتي کې نه شته ولې چې له مرورزماني څخه وروسته ويره ده چې هغه به په دي ځمکې لپاره هم په دي وياله کې د شرب دعوى وکړي لهذا هغه به له وړاندي څخه لامنع کيږي .
(۱۴) او په شرب کې ميراث هم جاري کيږي ولې چې دا مالي حق دى لهذا په دي کې ميراث جاري کيږي اوددي له عين څخه د انتفاع وصيت هم جائزدى چې فلانکى دي له دي څخه خپله ځمکه دوه ورځې اوبه کوي او باقي ورځې به زماد وارثانو وي ولې چې د موصى به جهالت وصيت لره مانع نه دى ولې چې په وصيت کې انتهائي وسعت دى حتى چې د معدوم وصيت او د معدوم لپاره هم جائزدى .البته د شرب بيع او هبه کول صحيح نه دي ولې چې په مقدار کې جهالت دى معلومه نه ده چې څومره اوبه به راشي ،ظاهرالرواية د عدم جوازدى ،خيني مشائخ د بيع په جوازقائل دي ،دضرورت شديده پروخت دهغوئ دقول داختيار ولو گنجائش شته (ازاحسن الفتاوى : ۸/۴۶۴)
(۱۵) كه چاخپله ځمکه په معتاد طريقه سره اوبه کړه اوله دي څخه اتفاقاً دهمسايه ځمکه خرابه شوه يا ډوبه شوه نو په اوبه کونکى هيڅ تاوان نشته ولې چې دهغه له طرف څخه ظلم او تيرى نه دى متحقق شوى په دي وجه چې دهغه مقصد صرف دخپلې ځمکې اوبه کول وو نه دبل دځمکې خرابول او پر متسبب غيرمتعدي باندي ضمان نه وي .

## كتاب الاشربة

### داكتاب داشربه په بيان کې دى

اشربه د شراب جمع ده لغة هر هغه مائع شى دى کوم چې څښل کيږي که حلال وي او که حرام وي لکه اوبه ،رس شربت ،شات وغيره او شرعًا نوم دى دهغو حرامو شرابو کوم چې نشه کونکي وي .مصنف صاحب رحمه الله له

مسائل شرب ځخه وروسته كتاب الاشربه په دي وجه ذكر كړچې په شرب او اشربه دواړوكې اشتراك لفظي موجود دى ،او داشربه ځيني قسمونه حرام دي په دي وجه يې شرب له اشربه ځخه مقدم كړ.

**الحكمة**: حكمة حرمة الخمرهى ام الخبائث وراس المصائب والنقائص ،ضررهايتناول الروح والجسدوالمال والولدوالعرض والشرف ،فكم خربت دوراواذهبت عقاراوالامت فتاواثارت محناوولدت احناونقلت العقل من حالة التفكيروالتدبيروالحكمة والرشادالى الجنون والبغى والفساد ،وكم احدث من العداوة والبغضاء بين الاخ واخيه ،والابن وابيه ،وكم فرقت الاصدقاء ،وشتت شمل الاخلاء،يشربهاالصعلوك فيخيل له انه الخليفة على العرش ،والجبان فيرى نفسه فارس بنى عبس ،والغبى فيقول اناأياس فى الذكاء وارسطوفى الحكمة ،والجاهل فينادى اناحبرالامة ،فلامكنت ياعقاروشلت يمينك ايهاالخماروسحقالكم ايهاالاشرار(حكمة التشريع)

قَالَ رَحِمَهُ اللهُ (١) وَالشَّرَابُ مَايُسْكِرُ (٢) وَالْمُحَرَّمُ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ اَلْخَمْرُ ,وَهِيَ النَّيِّءُ مِنْ مَاءِ الْعِنَبِ إِذَا غَلَا وَاشْتَدَّ وَقَذَفَ بِالزَّبَدِ وَحَرُمَ قَلِيلُهَا وَكَثِيرُهَا (٣) وَالطِّلَاءُ ,وَهُوَ الْعَصِيرُ إِنْ طُبِخَ حَتَّى ذَهَبَ أَقَلُّ مِنْ ثُلُثَيْهِ (٤) وَالسَّكَرُ ,وَهُوَ النَّيِّءُ مِنْ مَاءِ الرُّطَبِ (٥) وَنَقِيعُ الزَّبِيبِ ,وَهُوَ النَّيِّءُ مِنْ مَاءِ الزَّبِيبِ وَالْكُلُّ حَرَامٌ إِذَا غَلَا وَاشْتَدَّ وَحُرْمَتُهَا دُونَ حُرْمَةِ الْخَمْرِ

**ترجمه**: شراب هغه دي چې نښه راوړي ،اوحرام له هغوځخه ځلوردي ،خمر ،هغه خامي اوبه دی دانګوروکله چې جوش وخوري اوخنډي شي اوځګونه وغورځوي اوحرام دي له دي ځخه لږ اوډير ،طلاء ،هغه شيره ده کله چې پخه شي حتى چې ختم شي له دوو ثلثو ځخه لږ ،سکرهغه خامي اوبه دي دلندوخرماوو ،اونقيع الزبيب هغه خامي اوبه دي دکشمشو اوداټول حرام دي کله چې جوش وخوري اوخنډي شي اوددي حرمت لږدی له حرمت خمرځخه نونه کافرکيږي ددي حلال ګڼونکی بخلاف دخمرو.

**تشريح**: (١)مصنف رحمه الله دشرابو اصطلاحي تعريف کړی دی چې دشريعت په اصطلاح کې شراب هغه دي کوم چې نښه راوړي اومست اوبي هوشه کړي.

(٢)دحرامواشربه ځلورقسمونه دي /**نمبر ١**.خمر ،داد انګورونيښتيځل شوي اوبه دي کله چې پريښودل شي ترڅوچې هغه جوش وخوري اوتيزي اوقوي شي اوځګونه وغورځوي ،داد امام ابوحنيفه رحمه الله قول دی ،دصاحبينوپه نزدچې کله تيزشي اومسکرشي نوداخمردي ځګونه غورځول شرط نه دي ولی چې له ځګ غورځولوځخه بغيرهم خمرورته ويل کيږي .امام صاحب رحمه الله ځګ غورځول شرط ګرځولی دی ولی چې دخمراحکام قطعي دي په ځګ غورځولوسره شبه ختميږي اوقطعي خمرجوړيږي ،دصاحبينوقول راجح دی لمافى الشامية:(قوله وهوالاظهر)واعتمده المحبوبى والنسفى وغيرهماتصحيح قاسم وقال فى غاية البيان واما اخذبقولهمار فعاللتجاسر العوام لانهم اذاعلمواان ذالک يحل قبل الزبديقعون فى الفساد(ردالمحتار:٥/٣١٨).اوبالاجماع دخمرقليل اوکثيردواړه حرام دي ولی چې دخمرقليل مقدارداعی الی الکثيروي.

/**نمبر ٢**.دوهم شئ طلاء ده کوم ته چې باذق هم ويل کيږي هغه داده چې دانګورونيښتيځل شوي اوبه دومره پخي کړای شي چې په پخولوسره هغه له دووثلثوځخه لږوچې شي اوله يوثلث ځخه زياتي باقي پاتي شي ،دځينوحضراتورأيه داده چې کله يوثلث وچې شي نودي ته طلاء ويل کيږي اوکله چې نصف وچې شي نودي ته منصف ويل کيږي اوکله چې لږپخې شي نودي ته باذق ويل کيږي اوټول حرام دي کله چې جوش وخوري ،خنډي شي اودمخکنی اختلاف مطابق ځګونه وغورځوي ./نمبر٣.(۴)دريم شئ سکردی يعنی

دپخولندوخرماوورس كوم چې جوښ وخوري اوخنډ شي اومسكرشي ددي په حرمت دصحابه كرامو ﷺ اجماع ده.

/**نمبر ۳.**(۵)څلورم شئ نقيع زبيب دی هغه دكشمشوخامې اوبه دي كله چې جوش وخوري اوخنډي شي نو داحرام دی ،اودااخيرنې دري قسمه شراب هغه وخت حرام دي كله چې جوش وخوري اوخنډي شي ليكن ددي دريوحرمت دخمروپه نسبت كم دی ولی چې دخمروحرمت قطعي دی حال داچې ددي دريوحرمت په اجتهادسره دی همداوجه ده چې دخمرويوڅاڅكی څښونكی ته حدورکول كيږي حال داچې ددي دريو څښونكی ته حدنه وركول كيږي ترڅوچې په نشه كې مشت نه شي ،اوهمداوجه ده چې ددي دريوحلال كڼونكی ته كافرنه ويل كيږي په خلاف دخمروچې دهغوپرحلال ګڼونكی به دكفرفتوی لګول كيږي.

(٦)وَالحَلَالُ مِنهَا أَربَعَةٌ نَبِيذُ التَّمرِ وَالزَّبِيبِ إِن طُبِخَ أَدنَى طَبخَةٍ وَإِنِ اشتَدَّ إِذَا شُرِبَ مَا لَا يُسكِرُ هُ بِلَا لَهوٍ وَطَرَبٍ (٧)وَالخَلِيطَانِ (٨)وَنَبِيذُ العَسَلِ وَالتِّينِ وَالبُرِّ وَالشَّعِيرِ وَالذُّرَةِ طُبِخَ أَوَ لَا (٩)وَالمُثَلَّثُ العِنَبِيُّ)(١٠)وَحَلَّ الِانتِبَاذُ فِي الدُّبَّاءِ وَالحَنتَمِ وَالمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ (١١)وَخَلُّ الخَمرِ سَوَاءٌ خَلَّلَت أَو تَخَلَّلَت (١٢)وَكُرِهَ شُربُ دُردِيِّ الخَمرِ وَالِامتِشَاطُ بِهِ وَلَا يُحَدُّ شَارِبُهُ إِلَّا إِذَا سَكِرَ

**ترجمه** :اوحلال له دوئ څخه څلوردي نبيذتمراونبيذزبيب كه پاخه كړای شي لږاګركه خنډشي كله چې وڅښي دومره اندازه چې نشه يې نه كړي بلالهولعب،اونبيذشهداوانځراوغنم اواوربشي اوجوارکه پاخه كړای شي اوكه پاخه نه شي اومثلث عنبی ،اوحلال دي نبيذجوړول په دباءاوحنتم اومزفت اونقيركې ،اودشرابوسركه كه جوړه كړای شوي وي ياجوړه شوي وي ،اومكروه دي دشرابوكچره څښل اوپه هغوسره سرخيشتول اوحدبه نه جاري كيږي دهغوپه څښونكی له نشه كيدلوڅخه بغير.

**تشريح** :(۶)څلورقسمه شراب حلال دي مصنف رحمه الله په لوړعبارت كې داڅلورقسمه مع شرائط حلت بيان كړي دي /نمبر۱.نبيذتمروزبيب(هغه اوبه په كوموكې چې چهواري ياوڅكې واچولې شي اوپرېښودل شي ترڅوچې دهغوحلاوت په اوبوكې ووځي ،اول ته نبيذتمراودوهم ته نبيذزبيب ويل كيږي )كله چې له دي دواړوڅخه هريولږشانته پاخه كړای شي .دادشيخينوپه نزدله لاندي شرائطوسره حلال دي اګركه په دي كې شدت راشي اوځګونه وغورځوي ،اول شرط دادی چې دومره اندازه وڅښي دكوم په باره كې چې دڅښونكی غالب ګمان داوي چې دامانه نشه كوي ،دوهم شرط دادی چې دلهواوطرب په نيت سره نه وي بلكه دتقويت بدن لپاره وي ،دامام محمد رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په نزدپه هرحال حرام دي.

**ف**:فتوی دامام محمد رحمه الله پرقول ده لمافي الدرالمختار:(وحرمهامحمد)ای الاشربة المتخذة من العسل والتين ونحوهما،قال العلامة ابن عابدين تحت (قوله ونحوهما)كالتمروالزبيب والعنب فالمرادالاشربة الاربعة التی هی حلال عندالشيخين اذاغلت واشتدت والافلاتحرم كثيرهاالفاقا(قوله وبه يفتی)ای بقول محمدبفتی..........لقوله ﷺ كُلُّ مُسكِرٍ خَمرٌ وَكُلُّ خَمرٍ حَرَامٌ(الدرالمختارمع الشامية ۵/۳۲۲:)

/**نمبر ۲.**(۷)خليطان (چې دخرماوواووڅكواوبه سره ګډي شي اولږپخې شي ياپرېښودل شي ترڅوچې جوش وخوري اوخنډي شي نودي ته خليطان ويل كيږي )هم حلال دي ،منقی يوقسم لوی لری كشمش دي (چې ځينې خلك وڅكې ورته وايي) ./**نمبر ۳.**دشاتو.انزرو.غنمو.اوربشواوجوارونبيذهم دشيخينوپه

نزدحلال دي كه پاخه كړاى شي اوكه يا ،مګردلته هم دنبيذالتمروالزبيب شرائط معتبردي .دامام محمد رحمه الله په نزدداهم مطلقاحرام دي كه قليل وي اوكه كثير،په دي كې هم فتوى دامام محمد رحمه الله پرقول ده تقدم الحوالة تحت نبيذالتمروالزبيب .

/نمبر ۴.مثلث عنبى يعنى دانګوروننبتيځل شوي اوبه كله چې دومره پخې شي چې دوه ثلثه ختمي شي اوصرف يوثلث پاتي شي اګركه په دي كې جوش اوتيزوالى پيداشي اوځګونه وغورځوي نوداهم دشيخينو په نزدبشرائط مذكوره حلال دي ،دامام محمد رحمه الله په نزدمطلقاحرام دي ولى چې له حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه مروى ده چې نبى كريم ﷺ وفرمايل ،مااسكركثيره فقليله حرام (دكوم چې كثيرنشه راوړي دهغه قليل هم حرام دي )،په دي كې هم دزماني دفسادپه وجه سره فتوى دامام محمد رحمه الله پر قول ده تقدم الحوالة تحت نبيذالتمروالزبيب.

(۱۰)په دباء (له كدوڅخه جوړشوى لوښى ته دباء ويل كيږي )حنتم (دزرغون رنګ دخاورې كوزې ته حنتم ويل كيږي )مزفت (دتاركول په شان يوشئ دى كوم ته چې زفت ويل كيږي كله چې پريولوښى دهغه پالش وشي نوهغه لوښى ته مزفت ويل كيږي )اونقير(د لرګې چې منځ ويستل شوى وي هغه لوښي ته نقيرويل كيږي ) كې دنبيذوپه جوړلوكې څه حرج نشته ،دجاهليت په زمانه كې به خلګوپه دي لوښوكې شراب جوړول كله چې دشرابوحرمت نازل شونونبى كريم ﷺ ددي لوښوله استعمال څخه منع وفرمايله ترڅودشرابونفرت په زړوكې كښيني بياڅه وخت وروسته چې كله مقصدحاصل شونونبى كريم ﷺ ددي لوښوداستعمال اجازت وركړاولومړى حكم يې منسوخ كړ.

(۱۱)قوله وخل الخمرسواء خللت اوتخللت اى وحل خل الخمرسواء خللت اوتخللت ،يعنى كله چې له شرابوڅخه په خپله سركه جوړه شي يادېوشئ په اچولوسره سركه جوړه كړاى شي لكه چې مالګه ياګرمي اوبه په كې واچول شي نوهغه حلاليږي ولى چې دسركې په جوړيدلوسره موجب حرمت وصف مفسدزائليږي په دي وجه حلاليږي ،له شرابوڅخه سركه جوړل مكروه هم نه ده ولى چې دسركې په جوړلوكې دشرابواصلاح ده اواصلاح مباح ده .

(۱۲)دشرابوكچره (لكه چې دتيلوغيره كچره وي كوم چې دلوښي په پاى كې سره جمع شي همداشان دشرابوهم كچره وي )څښل اوپه هغوسره سرخشتول هم مكروه دى ولى چې په كچره كې دشرابواجزاء دي اوله حراموڅخه نفع اخيستل حرام دي ،البته دكچره پرڅښونكي حدنه جاري كيږي ترڅوچې دكچري له څښلوڅخه نشه نه شي ولى چې له دي څخه طبيعتونه نفرت كوي نودناقص والى په وجه سره دي ته دشرابوحكم نه شي وركول كيدلاى بلكه له خمروڅخه دعلاوه شرابوپه حكم كې دي .

ف عموماپه مشرباتواومأكولاتوكې الكحل (يوبې رنګه ،آتش ګير،الوتونكى سياله ماده كومه چې له ميټهاسون خصوصاله ګلوكوزڅخه بذريعه تخميرجوړيږي .كوم چې دشرابواصل دى ،اسپرټ)له تعفن (بدبويه كيدلو)څخه دحفاظت په خاطراچول كيږي نوداستعمال په ضرورت كې داخل دى په تلهى كې نه دى لهذاجائزدى (ازاحسن الفتاوى :۸/۴۸۹)

ف: دالكحل (اسپرټ)څوقسمونه دي (۱)هغه اسپرټ كوم چې د منقى ،انگورو،يا خرماوو له شرابو څخه جوړشوي وي ،داقسم بالاتفاق ناپاك دي ،په كومه دواء كې چې گډشوي وي هغه هم ناپاكه او څښل يې حرام دي ،البته دشديداضطرارپه حالت كې دداسي دواء دڅښلو رخصت شته اودشديداضطرارحالت دادى چې دماهرمعالج ظن غالب داوي چې دي مريض ته په كومه بله دواء سره شفاء نه حاصليږي نوپه داسي صورت كې ددي قسم اسپرټ دگډشوي دواء دخوړلو بقدرضرروت گنجائش شته ففى النهاية عن الذخيرة الاستشفاء بالحرام يجوز اذاعلم ان فيه شفآء ولم يعلم دواءاخر (البحر الرائق: ۱/۱۲۲)

(۲)دوهم قسم هغه اسپرټ دي كوم چې له مذكوره شيانو څخه علاوه له كوم بل شئ مثلا ،اوربشو ،آلو ، شاتو وغيره له شرابو څخه جوړشوي وي نوددي په طهارت اوحرمت كې دفقهاء اختلاف دى دامام اعظم ابوحنيفه او امام ابويوسف په نزدداپاك دي اودومره اندازه څښل يې هم حلال دي چې په هغه سره نشه نه شي ،(په دي شرط چې څښل يې دلهولعب په نيت سره نه وي )اودامام محمد رحمه الله په نزددانجاست خفيفه دي اوددي لږاندازه څښل هم جائزنه دي ،فتوى اگركه په عامو حالاتو كې دامام محمد رحمه الله پرقول وركړل شوي ده مگرپه اسپرټو كې څرنگه چې عموم بلوى ده ،لهذاپه كومه دواء كې چې دوهم قسم اسپرټ يا الكحل گډشوي وي دهغې په باره كې گنجائش شته چې دامام اعظم او ابويوسف پرقول عمل وكړل شي ،اگركه تقوى او احتياط دامام محمد رحمه الله پرقول په عمل كولو كې دى .

(۳)دريم قسم هغه اسپرټ دي كوم چې له يوقسم شرابو څخه هم نه وي جوړشوي بلكه له كوم بل پاك او حلال شئ څخه مثلاله منقى ،خرما ،آلو ،اوربشو ،شهدوغيره څخه جوړشوي وي دابالاتفاق دټولوپه نزدپاك دي اوپه كومه دواء كې چې گډشوي وي هغه هم پاكه او حلاله ده .

لوړذكرشوى تفصيل هغه وخت دى كله چې معلومه وي چې اسپرټ كوم قسم دي اوكه معلومه نه وي چې داكوم قسم دي نوڅرنگه چې دناپاكي ظن غالب نه دى ،بلكه محض شبه ده چې كيداى شي چې له قسم اول څخه وي نومحض ددي شبه پراساس به ددي دنجاست ياحرمت حكم نه لگول كيږي ،لهذاپه كومه دواء كې چې داسي اسپرټ ياالكحل وي چې دهغه په باره كې معلومه نه وي چې له مذكوره دريو قسمونو څخه له كوم قسم څخه دي نودداسي دواء دخوړلواوڅښلوگنجائش شته اوپركومې جامې چې داسي دواء يااسپرټ ولگيږي هغې ته ناپاكه نه ويل كيږي ،كه له پرېمنځلوڅخه بغيرلمونځ په كې اداء شي نولمونځ صحيح كيږي البته كوم كس چې له داسي اسپرټو څخه هم پراجتناب قدرت لري نوترڅومره حده چې اجتناب وكړي ښه ده (جديدمعاملات كې شرعى احكام :۱/۹۷)،دحضرت شيخ الاسلام مفتى محمدتقى عثمانى صاحب دامت بركاتهم رأيه داده چې په دي وخت كې ډيرمقدارالكحل هغه دي كوم چې له انگوراوخرماوو څخه علاوه له نوروشيانو څخه جوړيږي ،فرمايې :ان معظم الكحول التى تستعمل اليوم فى الادوية والعطوروغيرهالاتتخذمن العنب اوالتمر انماتتخذمن الحبوب اوالقشوراوالبترول وغيره (تكملة فتح الملهم: ۳/۶۰۸)

# كتاب الصيد

## دا كتاب د ښكار په بيان كې دی

صيد لغة مصدر دی د ښكار كولو په معنی او هغه شئ ته هم صيد ويل كيږی كوم چې ښكار كيږي كه ماكول وي او كه غير ماكول ، او په اصطلاح كې هر هغه حيوان دی كوم چې طبعا وحشی وي او خپل حفاظت په خپله كولی شي او بغير له حيلي (چل) څخه نه شي نيول كيدلای.

دكتاب الصيد له ماقبل سره مناسبت دادی چې صيد او اشربه دواړه غفلت پيدا كونكي شيان دي ، بيا يې د اشربه بيان په دي وجه مقدم كړ چې په اشربه كې غفلت د صيد په نسبت ډير دی لهذا اشربه د قوي والی په وجه سره احق بالتقديم دي .

(۱) هو الاصطياد (۲) ويحل بالكلب المعلم والفهد والبازي وسائر الجوارح المعلمة (ولابد من التعليم (۳) وذا بترك الاكل ثلاثا في الكلب وبالرجوع إذا دعوته في البازي (۴) ومن التسمية عند الإرسال ومن الجرح في أي موضع كان (۵) فإن أكل منه البازي أكل ، وإن أكل منه الكلب او الفهد لا ، (۶) وإن أدركه حيا ذكاه (۷) وإن لم يذكه او خنقه الكلب ولم يجرحه او شاركه كلب غير معلم او كلب مجوسي او كلب لم يذكر اسم الله عليه عمدا حرم

**ترجمه** :هغه ښكار كول دي ، او حلال دی په تعليم يافته سپي ، پړانګ ، بازا و نورو تعليم يافته حيوانانو سره او ضروري ده تعليم يافته والی ، او دا په خوړک پريښودلو سره دی دري ځله د سپی په حق كې او په بيرته راتلو سره دی كله چې يې راوغواړي د باز په حق كې ، او (ضروري ده ) بسم الله ويل د پريښودلو پروخت او (ضروري ده ) زخمي كول كه په هر ځای كې هم وي ، نو كه خوړک وكړله دي څخه باز نو خوړل كيږي به او كه خوړک وكړ سپی يا پړانګ نو نه ، او كه يې وموندی ښكار ژوندی نو ذبح دي كړي ، او كه يې ذبح نه كړ يا يې غاړه ورخپه كړه سپی او زخمي يې نه كړ هغه يا شريک شوله هغه سره غير تعليم يافته سپی د مجوسی سپی يا داسي سپی چې پر هغه عمدا بسم الله نه وه ويل شوي نو ښكار حرام دی .

**تشريح** :(۱) مصنف رحمه الله د صيد لغوی معنی بيان كړي ده چې صيد مصدر دی له صاد يصيد صيدا څخه د ښكار كولو په معنی پر مفعول هم دي اطلاق كيږي ويل كيږي صيد الامير ای مصيوده و يعنی هغه شئ كوم چې ښكار شي .

(۲) په تربيت يافته سپی ، پړانګ ، بازا و تولو زخمي كونكو تربيت يافته حيوانانو سره ښكار كول جائز دی لقوله ﷺ لعدی بن حاتم الطائی رضي الله عنه اذا ارسلت كلبک المعلم وذكرت اسم الله عليه فكل وان اكل منه فلا تاكل لانه انما امسكه على نفسه (يعنی كله چې تا خپل تعليم يافته سپی پريښودا و پر هغه دي د الله تعالی نوم ذكر كړی وي نو خوره او كه سپی له هغه څخه خوړک كړی وونومه خوره په دي وجه چې سپی ښكار د خپل ځان لپاره نيولی دی ) ، مګر د خنزير ، يږ ، او زمري ښكار له دي څخه مستثنی دی ولی چې هغه جائز نه دی . مګر ښكار كونكی حيوان لره دري شرطونه دي يو دا چې هغه به تعليم يافته وي ، دوهم شرط دادی چې ښكاری حيوان په بسم الله ويلو سره پريښودل شي ، دريم شرط دادی چې هغه ښكار زخمي كړي ، د دي دريو شرطونو دليل د باری تعالی دا ارشاد دی (يسئلونک ماذا احل لهم قل أحل لكم الطيبات وما علمتم من الجوارح مكلبين............ فكلوا مما أمسكن عليكم)(خلک

اوکوم ،،،،،،،،،په دي ایت مبارکه کې له تعلمونهن څخه دتعلیم شرط معلوم شو ،اوله من الجوارح څخه دزخمي کولو شرط معلوم شو ،اوله اذکروا اسم الله علیه څخه دبسم الله ویلو شرط معلوم شو.
(۳)بیادسپي اودده په شان تولو ځناوروتعلیم یافته اوتربیت یافته والی دادی چې دري ځله ښکار ونیسي مګردهغه غوښه وغیره ونه خوري ،دبازاونوروڅیرونکو مرغانوتربیت یافته والی دادی چې کله ته هغه راوبولي نوهغه راشي ولی عادة چې کوم شئ حیوان ته مرغوب وي دهغه پرېښودل دهغه دتربیت یافته والی علامه ده ،نودسپی عادت دادی چې شئ اخلي اوتښتي کله چې یې داعادت پرېښود نوداده دتربیت یافته والی علامه ده اودباز عادت وحشت اوتنفردی نوپه رابللوسره راتلل دهغه دتربیت یافته والی علامه ده .
(۴)قوله ومن التسمیة ای ولابدمن التسمیة ،یعنی تسمیه هم ضروري ده یعنی دتربیت یافته حیوان په ښکارپسي دپرېښودلوپروخت دي پرېښودونکی بسم الله الله اکبروایي نوکله چې کوم کس خپل تربیت یافته سپی یابازیاشاهین په ښکارپسي دپرېښودلوپروخت پرهغه بسم الله الله اکبروواېي اوهغه ښکارونیسي اوزخمي یې کړي اوله زخموڅخه ښکارمړشي نودهغه خوړل جائزدی .اوداهم ضروري ده چې ښکاربه زخمي کوي که یې زخمي نه کړ،وښکارمړشونوهغه حلال نه دی دازخمي کول دذبح اضطراري درجه لري اوپه ذبح اضطراري کې چې دبدن په کومه حصه کې هم زخم وشي هغه کافي ده .
(۵)که باز،شاهین اونوروښکاري مرغانوڅخه کوم یوه ښکارونیوا وله هغه څخه یې خورک پیل کړنوهغه ښکاربه خوړل کیږي ولی چې دښکارنه خوړل دمرغانوپه تعلیم کې شامل نه دی ،اوکه سپی ،یاپړانګ یاله نوروځناوروڅخه کوم یوه ښکارونیوا وله هغه څخه یې پخپله خورک پیل کړنوا وس به دانه خوړل کیږي ولی چې دځناوروښکارخوړل دنه تعلیم یافته اوتربیت یافته والی علامه ده .
(۶)که ښکارکونکی سپی یاکوم بل ښکاری حیوان په ښکارپسي ایله کړهغه ولاړی ښکاریې ونیوا وسپی ایله کونکی هم په داسي حال کې وررورسیدوچې ښکارژوندی نواوس دهغه ذبح کول واجب دي ولی چې په حدیث شریف کې دي فان امسک علیک وادرکته حیافاذبحه (که سپی ستاپاره ونیوا وتاهغه ژوندی وموندنوهغه ذبح کړه )،همداراز دسپی وغیره مړکول دذبح بدل دی اوله حصول مقصودبالبدل څخه وړاندي په قدرت علی الاصل سره دبدل حکم ساقطیږي .نوکه هغه ذبح کول پرېښودل ترڅوچې ښکارمړشونواوس دهغه خوړل جائزنه دي ولی چې له قدرت علی الذبح باوجودپه نه ذبح کولوسره هغه مرداریږي .
(۷)اوکه ښکارکونکی ښکارژوندی وموندمګرهغه یې ذبح نه کړنودهغه خوړل جائزنه دي لماقلنا.اوکه سپی دښکارغاره خپه کړه اومړیې کړیاپې په سینه ټکوروسره وکړه اوقتل یې کړاوښکاریې مجروح نه کړنوداښکاربه نه خوړل کیږي ولی چې دښکارداسي زخمي کول چې دهغه وینه ووځي شرط دی کوم چې په غاړه خپه کولو وغیره سره نه حاصلیږي .همداشان که له تربیت یافته سپی سره بل غیرتربیت یافته سپی دښکارپه وژلوکې شریک شو ،یادکوم مجوسي سپی له هغه سره شریک شو ،یاداسي سپی چې دهغه دپرېښودلوپروخت عمداتسمیه ویل ترک شوي وي نوداسي ښکارخوړل جائزنه دی ولی چې مبیح اومحرم جمع شول نواحتیاطابه دحرمت طرف ته ترجیح ورکول کیږي .

(۸) وَإِنْ أَرْسَلَ مُسْلِمٌ كَلْبَهُ فَزَجَرَهُ مَجُوسِيٌّ فَانْزَجَرَ حَلَّ وَلَوْ أَرْسَلَهُ مَجُوسِيٌّ فَزَجَرَهُ مُسْلِمٌ فَانْزَجَرَ حَرُمَ) (۹) وَإِنْ لَمْ يُرْسِلْهُ أَحَدٌ فَزَجَرَهُ مُسْلِمٌ فَانْزَجَرَ حَلَّ (۱۰) وَإِنْ رَمَى وَسَمَّى وَجَرَحَ أُكِلَ وَإِنْ أَدْرَكَهُ حَيًّا ذَكَّاهُ، وَإِنْ لَمْ يُذَكِّهِ حَرُمَ، (۱۱) وَإِنْ وَقَعَ سَهْمٌ بِصَيْدٍ فَتَحَامَلَ وَغَابَ وَهُوَ فِي طَلَبِهِ حَلَّ، وَإِنْ قَعَدَ عَنْ طَلَبِهِ ثُمَّ أَصَابَهُ مَيِّتًا لَا (۱۲) وَلَوْ رَمَى صَيْدًا فَوَقَعَ فِي مَاءٍ أَوْ عَلَى سَطْحٍ أَوْ جَبَلٍ ثُمَّ تَرَدَّى مِنْهُ إِلَى الْأَرْضِ حَرُمَ وَإِنْ وَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ ابْتِدَاءً حَلَّ

**ترجمه**: اوكه يې ايله كړ خپل سپى بيا وشكاره هغه مجوسي نو هغه تيز شو نو ښكار حلال دى، او كه ايله كړ هغه مجوسي بيا وشكاره هغه لره مسلمان نو هغه تيز شو نو حرام دى، او كه ايله نه كړ سپى هيچا بيا وشكاره هغه لره مسلمان نو هغه تيز شو نو حلال دى، او كه يې غشى واركړاو بسم الله يې وويله او زخمي يې كړ نو خوړل كيږي به او كه يې ومونده ژوندى نو ذبح دي كړي او كه يې ذبح نه كړ نو حرام دى، او كه ولګيدى غشى پر ښكار او هغه دغشي په ورلوسره غائب شو او ښكاري دهغه په طلب كې وو نو بيا يې ومونده مړ شوى نو حلال دى او كه كښينستى دهغه له طلب كولو څخه بيا يې ومونده هغه مړ نو حلال نه دى، او كه يې وويشت ښكار يا هغه ولويدى په اوبو كې يا پر بام يا پر غره ولويدى له هغه ځاى څخه پر ځمكه ولويدى نو هغه حرام دى او كه ولويدى پر ځمكه ابتداء نو حلال دى.

**تشريح**: (۸) كه كوم مسلمان خپل تربيت يافته سپى په ښكار پسي ايله كړي په دا مابين كې كوم مجوسي سپى وشكاره دكوم په وجه سره چې سپى نور تيز شو او ولاړى ښكار پې ونيو نو هغه ښكار حلال دى ولى چې دمجوسي دشكارلو په وجه سره ارسال مسلم نه ختميږي ولى چې دكوم فعل ختميدل له هغه څخه په قوي يا برابر فعل سره وي حال دا چې دمجوسي للكارنا خو كمتر دى لهذا په دي سره دمسلمان فعل نه ختميږي، او كه مجوسي خپل سپى په ښكار پسي ايله كړي په دي مابين كې مسلمان وشكاره كوم چې سپى ومانه او ولاړى ښكار پې ونيو نو نه به خوړل كيږي ولى چې شكارل له ارسال څخه كمتر دى په همدي وجه سره په سابق كې دحرمت شبه نه وه ثابته شوي نو حلت په درجه اولى سره نه ثابتيږي.

(۹) او كه سپى چانه وو ايله كړى بلكه هغه په خپله په ښكار پسي منډي كړي په دي مابين كې كوم مسلمان هغه وشكاره كوم چې هغه قبول كړاو نور تيز شو او ولاړى ښكار پې ونيو دهغه په خوړلو كې څه حرج نشته ولى چې دسپى منډه وهل او دمسلمان زجر په درجه كې سره برابر دي نو دسپى منډه دمسلمان په زجر سره منسوخه كيږي لهذا وس به داسي ګڼل كيږي چې سپى مسلمان په ښكار پسي ايله كړى دى په دي وجه دښكار خوړل حلال دي.

(۱۰) كه چا ښكار طرف ته غشى واركړاو دغشي دوارولو پر وخت يې بسم الله وويله غشى ولاړى او پر ښكار ولګيد او ښكاري زخمي كړاو هغه مړ شو نو هغه حلال دى ولى چې دغشي په وارولو سره هغه ذابح (ذبح كونكى) شو په دي وجه چې غشى دذبح آله ده او څرنګه چې دا ذبح اضطراري ده لهذا دښكار ټول بدن دذبح محل دى دغاړي پري كول ضروري نه دي. او كه يې په مذكوره بالاصورت كې ښكار ژوندى ومونده نو دهغه ذبح كول ضروري دي او كه يې ذبح نه كړ نو حلال نه دى لما مر في مسئلة وان ادرك المرسل الصيد حيا الخ.

(۱۱) كه په ښكار غشى ولګيد او هغه په مشقت سره دزخم په برداشتولو سره منډه واخيسته حتى چې دښكاري له نظر څخه غائب شو او ښكاري مسلسل دهغه په تلاش كې وو تر څو چې صيد مذكور يې مړ ومونده نو خوړل

کيږي به ولی چې ښکاري مفرط نه دی او ذبح اضطراري يې کړی ده نو د صيد مرګ به لاهغې څخه شمارل کيږي ،او که په دي مابين کې ښکاري له تلاش کولو څخه کنېينستی نو او س د مړه موندلو په صورت کې هغه حلال نه دی ولی چې کيدای شي چې مرګ دي په کوم بل سبب سره واقع شوی وي او په دي باب کې موهوم د متحقق په شان دی .

(۱۲) که چا ښکار په غشی وویشت بيا هغه په اوبو کې ولويد او مړ شو نو حلال نه دی ولی چې کيدای شي چې په اوبو کې د غرقيدلو په وجه سره دي مړ شوی وي .همداشان که له غشی لګيدلو وروسته هغه پر بام يا پر غره ولويدی بيا له هغه ځايه پر ځمکه ولويدی او مړ شو نو هم به نه خوړل کيږي ولی کيدای شي چې له بام يا غره څخه در الويدلو په وجه سره دي مړ شوی وي .او که ابتداء پر ځمکه ولويدی نو حلال دی ولی چې له دي څخه ځان ساتل ممکن نه دي نو که په دي صورت کې هم د حرمت حکم وکړل شي نو د باب اصطياد دروازه به وتړل شي .

(۱۳) وماقتله المعراض بعرضه او البندقة حرم (۱۴) وان رمى صيدا فقطع عضوا منه أكل الصيد لا العضو (۱۵) وان قطعه أثلاثا والأكثر مما يلي العجز أكل كله (۱٦) وحرم صيد المجوسي والوثني والمرتد (۱۷) وان رمى صيدا فلم يثخنه فرماه الثاني فقتله فهو للثاني وحل (۱۸) وان أثخنه فللأول وحرم الصيد لمن أخذه (۱۹) وضمن الثاني للأول قيمته غير مانقصته جراحته (۲۰) وحل اصطياد مايؤكل لحمه ومالايؤكل

**ترجمه**: او کوم ښکار چې قتل کړي معراض غشی د عرض په طرف سره يا بندقه نو هغه حرام دی ،او که يې وويشت ښکار نو پرې يې کړه له هغه څخه کوم عضو نو خوړل کيږي به ښکار نه عضو ،او که يې پرې کړ پر دري حصې کولو سره او اکثر حصه د لکۍ طرف ته وه نو خوړل کيږي به ټول ښکار ،او حرام دی د مجوسي او بت پرست او مرتد ښکار ،او که يې وويشت ښکار او هغه يې سست نه کړ بيا وويشتی کوم بل چا او قتل يې کړ هغه نو هغه د هغه بل دی او حلال دی ،او که يې سست کړی وو نو د اول دی او حرام دی ،او ضامن دی ثانی اول لره د هغه د قيمت ماسوا له هغه څخه چې کم کړی دی د هغه زخم ،او حلال دی ښکار کول د هغه حيوان د کوم چې غوښه خوړل کيږي او د هغه د کوم چې غوښه نه خوړل کيږي .

**تشريح**: (۱۳) پر کوم ښکار چې بغير له تيرې خوا څخه غشی عرضا ولګيږي او ښکار مړ شي نو حلال نه دی ولی چې بغير له تيرو څخه غشی په عرضا لګيدلو سره ښکار نه زخمي کيږی بلکه داسي غشی ښکار ځپي او ماتوي حال دا چې د ښکار زخمي کيدل ضروري دي تر څو ذبح معنی متحققه شي علی ما قدمنا .او که د غشی تيره طرف ولګيدا و ښکار يې زخمي کړ نو حلال دی ولی چې د ذبح معنی متحققه شوه ،او داسي ښکار به هم حلال نه دی کوم چې بندقه (بندقه د خټې ګردي لوټي ته ويل کيږي کوم چې په غليل کې اېښودل کيږي او ښکار پر کيږي ) ولګيږي او له هغه څخه مړ شي ولی چې بندقه ښکار ځپي او ماتوي زخمي کوي يې نه ولی چې داهم داسي دی لکه پر کوم ښکار چې غشی عرضا ولګيږي .

**ف**: سوال دادی چې کوم کس په بسم الله ويلو سره د ټوپک يا توپنګچي وغيره په ګولی سره ښکار وکړي او هغه ښکار هلاک شي نو هغه حلال دی او که يا؟ دا مسئله د متقدمينو فقهاؤ په کتابو کې نشته په دي وجه چې په هغه

زمانه كې بندوق وغيره رواج نه وواودعلماء عصرپه منځ كې په دي مسئله كې اختلاف دی ،دعلماء عصريوجماعت داحيوان حلال ګڼي حال داچې بل جماعت يې حلال نه ګڼي ،کوم حضرات علماء چې دحيوان حلال ګڼي هغوئ فرمايې چې په حقيقت کې په كوم وخت کې چې ګولۍ لګيږي نو هغه ګولۍ پوري وري وځې ...اوبيادګولۍ دوتلوپه وجه سره دومره وينه ووځې چې ډيروخت په چاره سره دذبح كولوپروخت هم دومره وينه نه ووځې ،لهذاذبح چې كوم اصل مقصددی چې وينه په حيوان كې دننه پاتي نه شي ،بلكه دباندي ووځي ،دامقصدپه دي سره حاصليږي لهذاپه ګولۍ سره شوی ښكارحلال دی .

كوم حضرات علماء چې داحيوان حرام ګڼي هغوئ فرمايې چې دبندوق ګولۍ په خپله غوځونكې نه وي ،په دي وجه چې هغه تيره نه وي اوكله چې په ښكارلګيږي نودهغې په نتيجه كې ښكارزخمي كيږی البته ځرنګه چې هغه ګولۍ له ليري ځخه اوپه تيزرفتارسره راځي په دي وجه هغه جسم څيري كوي اودننه ځي كنه نوپه دي ګولۍ كې په خپله دجارح اومحددوالی اودجسم دڅيري كولوصلاحيت نشته په دي وجه هغه ګولۍ دمحددپه حكم كې داخله نه ده ،بلكه دمثقل په حكم كې ده ،په دي وجه په ګولۍ سره ښكارشوی حيوان حلال نه دی ،لكه چې علامه شامي په ردالمحتاركې فرمايلي دي چې دګولۍ دلګيدلوپه وجه سره چې كوم مرګ واقع كيږي هغه داندفاع عنيف يعنی شديدثقل په وجه سره واقع كيږي ............حضرت ګنګوهی اوزموږدعلماء ديوبندځخه دډيروحضراتوهمدافتوی ده چې په ګولۍ سره ښكارشوی حيوان حلال نه دی ترڅوچې هغه باقاعده ذبح نه كړای شي .....بايدياد وساتل شي چې مذكوره بلااختلاف هغه وخت دی چې كله ګولۍ تېره اوتيزه ځوكه لرونكې نه وي ليكن كه ګولۍ داسي جوړه شوي وي چې تېره اوتيزه ځوكه لرونكې وي نوپه دي صورت كې هغه حيوان بالاتفاق حلال دی (تقريرترمذی ۲/۱۳۲)

(۱۴)كه چاښكارپه غشي وويشت كوم چې دښكاركومه عضوه يې پري كړه اوښكارمړشونوښكاربه خوړل كيږي ولی چې زخمي كيدل (ذبح اضطراري )متحققه شوه ليكن پري شوی عضوبه نه خوړل كيږي لقوله ﷺ ماابين من الحی فهوميت (يعنی كوم چې له ژوندی ځخه جلاكړل شوي وي هغه مرداره ده ).

(۱۵)كه غشی ښكارثلاثاپه دي ډول سره پري كړچې دښكاراكثره برخه دلكۍ په طرف كې پاتي شوه اولږبرخه دسرطرف ته نوټول ښكارحلال دی ولی چې اوداج (دكوم حيوان هغه رګونه چې دذبح پروخت پري كيږي )زړه له دماغ سره نښلوي نوكله چې دسردطرف ثلث پري شونوپه دي سره رګونه پري كيږي لكه ځرنګه چې په ذبح كې رګونه پري كيږي ګواكي داحيوان ذبح شولهذاداحلال دی ،اوكه سرطرف ته له نيمايې ځخه زيات پري شواودلكۍ طرف ته له نيمايې ځخه لږپاتي شونودابه ګڼل كيږي چې داله ژوندي حيوان ځخه يوعضوپري شوی دی لهذادسرطرف حلال دی اودلكۍ طرف مرداردی نه به خوړل كيږي .

(۱۶)كه مجوسي يامرتديابت پرست ښكارووېښتی اوهغه مړشونونه خوړل كيږي ولی چې داكسان دذبح اختياري اهل نه دي بلكه ددي كسانوذبح شوی حيوان مردارشمارل كيږي ،نودذبح اضطراري اهل هم نه دي البته داهل كتابوښكارحلال دی ولی چې اهل كتاب دذبح اختياري اهل دي نودذبح اضطراري اهل به هم وي .

(۱۷)كه چاښكارو ويشت غشى پرولګيدمګرهغه يې كمزوري نه كړاوله حيزامتناع (له خپل حفاظت كولو)څخه يې نه وو ايستلى چې بل كس دغشي په ويشتلوسره قتل كړنوداددوهم كس دى ولى چې په حقيقت كې دوهم كس دا ښكاركړى دى اودنبى كريم ﷺ ارشاددى الصيد لمن اخذه (يعنى ښكاردهغه دى چاچې ونيو)اودا ښكارحلال دى ولى چې اول خوداله حيزامتناع څخه نه دى ايستلى لهذادهغه ذبح اضطراري (يعنى دجسم په كومه حصه كې زخم كول)معتبردى كوم چې ددوهم كس په ويښتلوسره حاصله شوه.

(۱۸)اوكه اول په ويشتلوسره هغه داسې كمزوري كړچې اوس هغه په حيزامتناع (دخپل ځان دحفاظت قابل) نه شوياتي بيابل كس هغه په ويښتلوسره قتل كړنودا ښكارداول دى ،اوداحلال نه دى ولى چې كيداى شي چې ددې مرګ دې ددوهم په ويښتلوسره حاصل شوى وي اوددوهم كس ويښتل ذبح اضطراري ده حال داچې ددې خوذبح اختياري اوس مقدوره ده ولى چې داول په ويښتلوسره اوس هغه په تښتيدلويا الووتلوسره نه شي كولى لهذا ذبح اضطراري اعتبارنشته.

(۱۹)اوپه دې دوهم صورت كې دوهم كس داول لپاره دښكاردقيمت ضامن دى ولى چې ددوهم په ويښتلوسره دهغه مملوك ښكارتلف شوالبته له قيمت څخه به دزخم په اندازه كميږي يعنى دښكارپه قيمت كې چې داول په زخمي كولوسره څومره نقصان راغلى دى هغه به كميږي ولى چې ثانى دوال زخمي ښكار تلف كړى دى لهذا پرهغه به ضمان هم دزخمي ښكاروي.

(۲۰)يعنى دماكول اللحم اوغيرماكول اللحم دواړو قسمو حيوانانو ښكارجائزدى ولى چې دښكاري دماكول اللحم حيوان ښكاركول خوله غوښي اوبقيه اجزاء څخه دانتفاع سبب دى اودغيرماكول اللحم ښكاركول له پوستكي ،ويښتانو ،ښكرونووغيره څخه دانتفاع سبب دى كوم چې جائزاموردي لهذاددواړو قسمو حيوانانو ښكاركول جائزدى.

## كتاب الرهن

### داباب دګروي په بيان كې دى

له كتاب الصيد څخه وروسته دكتاب الرهن دراوړلووجه داده چې له صيداورهن دواړو څخه مقصود دسبب مباح په ذريعه سره دمال تحصيل دى .رهن لغة حبس يعنى دكوم شي منع كولوته ويل كيږي قال الله تعالى (كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ)(هرنفس به په خپلو اعمال كفريه كې محبوس وي)اوپه شريعت كې داسې مالى شى دكوم حق په عوض كې بندولوته ويل كيږي له كوم څخه چې دحق وصولي ممكنه وي.

ګروشوي شى ته رهن (من قبيل اطلاق المصدروارادة المفعول)اومرهون ويل كيږي اومرتهن رهن اينبودنكي اوراهن رهن وركونكي ته ويل كيږي.

(۱)هو حبس شيء بحق يمكن استيفاؤه منه كالدين (۲)ولزم بالايجاب والقبول (۳)وتم بقبضه محوزا مفرغا مميزا (۴)والتخلية فيه وفي البيع قبض (۵)وله أن يرجع عن الرهن مالم يقبضه (۶)وهو مضمون بالأقل من قيمته ومن الدين (۷)فلو هلك وقيمته مثل دينه صار مستوفيا دينه، وإن كانت

أَكْثَرَ مِن دَيْنِهِ فَالْفَضْلُ أَمَانَةٌ وَبِقَدْرِ الدَّيْنِ صَارَ مُسْتَوْفِيًا ، وَإِن كَانَتْ أَقَلَّ صَارَ مُسْتَوْفِيًا بِقَدْرِهِ وَرَجَعَ الْمُرْتَهِنُ بِالْفَضْلِ (٨) وَلَهُ أَن يُطَالِبَ الرَّاهِنَ بِدَيْنِهِ وَيَحْبِسَهُ بِهِ (٩) وَيُؤْمَرُ الْمُرْتَهِنُ بِإِحْضَارِ رَهْنِهِ وَالرَّاهِنُ بِأَدَاءِ دَيْنِهِ أَوَّلًا

**ترجمه**: اوهغه منع كول دي دكوم شي دداسي حق په بدله كې دكوم چې وصول كول له هغه (رهن) څخه ممكن وي لكه قرض ،اولازميږي په ايجاب اوقبول ،اومرتهن په قبضه سره په داسي حال كې چې هغه مجتمع او مفرّغ او مميزوي ،اوتخليه كول په رهن كې اوپه بيع كې دقبضي په حكم كې دي ،اوراهن لره جائزده چې رجوع وكړي له رهن څخه ترڅو چې مرتهن هغه قبض نه كړي ،اوهغه مضمون دى له دين او قيمت څخه دكمتر په عوض كې ،نوكه هغه شى هلاک شواودهغه قيمت دهغه دپوربرابروي نومرتهن دخپل دين وصول كونكى شواوكه قيمت زيات وي دهغه له دين څخه نوزائدامانت دى اوبقدردين وصو ل كونكى شواوكه قيمت كم وي نوبقدرقيمت وصول كونكى شواومرتهن به وصول كوي زائد ،اومرتهن لره جائزده چې مطالبه وكړي له راهن څخه دخپل دين اوبندي كولى شي هغه ددين په وجه سره ،اوامربه كيږي مرتهن ته دمرهون دحاضرولواوراهن ته دهغه ددين داداء كولوله دي څخه وړاندي .

**تشريح**: (١) رهن په لغت كې حبس الشئ يعنى دكوم شى منع كولوته ويل كيږي اوشرعي تعريف يې مصنف رحمه الله په دي ډول كړى دى حبس الشئ بحق يمكن استيفاؤه منه ،يعنى دكوم شي منع كول دداسي حق په بدله كې چې دهغه وصول كول له رهن څخه ممكن وي مثلاً دزيدپربكرزرروپۍ قرض دي زيد ددي قرض په بدله كې دبكربندوق درهن په ډول له ځان سره كښيښودنوكه په خپل وخت بكردزيدقرض اداء نه كړنوزيدله دي بندوق څخه خپل قرض وصول كولا ى شي .

(٢) رهن په ايجاب اوقبول سره منعقدكيږي ولى چې رهن هم يوعقددى نودنوروعقودوپه شان رهن هم په ايجاب اوقبول سره منعقدكيږي ،بنه به داواى چې مصنف رحمه الله دلزم بايجاب وقبول پرځاى ينعقدبايجاب وقبول ويلي واى ولى چې رهن په ايجاب اوقبول سره منعقدكيږي لازميږي نه .اوپه قبضه سره رهن تام اولازميږي قبضه دلزوم رهن لپاره شرط ده لقوله تعالى (فرهان مقبوضة) باري تعالى دلته رهن دمقبوض والى په صفت سره متصف كړى دى اوكله چې دنكري وصف بيانيږي نوهغه عام وي نومعلومه شوه چې رهن له وصف قبض سره مشروع دى .

(٣) قوله وقبضه اى لزم الرهن بقبضه ،ليكن په ځينونسخوكې ويتم بقبضه دى اومعنى هم دا صحيح ده ،يعنى كله چې مرتهن پررهن قبضه وكړي نوعقدرهن په دريوشرطونوسره تاميږي يوداچې رهن به محوز (يعنى مجتمع غيرمتفرق وي نوميوه پردرختوبغيرله درختواوكښت پرځمكه بغيرله ځمكې په رهن اېښودل صحيح نه دي ولى چې محوزنه دي )وي ،اودوهم شرط دادى چې رهن به مفرغ (يعنى مشغول بحق راهن به نه وي مثلاً داسي كورپه رهن اېښودل جائزنه دي په كوم كې چې راهن په خپله اوسيږي ياېې خپل سامان په هغه كې اېښى وي ولى چې مفرغ نه دى )وي ،اودريم شرط دادى چې رهن به مميز (يعنى رهن به مشاع نه وي مثلاً دمشترک غلام نصف ياثلث درهن په ډول سره اېښودل جائزنه دي ولى چې رهن مميزنه دى )وي .

(۴)او تخليه په رهن او بيع کې قبضه شمارل کيږي يعنې که راهن په مرهون شي او مرتهن کې داسې تخليه وکړي چې که هغه دا په خپله قبضه کې اخيستل وغواړي نو وړی يې شي ،يا بائع په همدې شان سره خپل خرڅ کړی شی دمشتري مخ ته کښيښود چې که هغه په هغه قبضه کول وغواړي نو قبضه کولی شي نو دا ددې دواړولره قبضه شمارل کيږي ولې چې تخليه له تسليم يعنې رفع الموانع عن القبض څخه عبارت ده او تسليم لره حکم بالقبض ضروري دی لهذا تخليه قبضه شمارل کيږي .

ف:نن صبا د رهن يو نوی صورت دا هم متعارف شوی دی چې شی مرهون د مرتهن په قبضه کې نه ورکول کيږي ،بلکه هغه بدستور د راهن په قبضه کې پاتي کيږي اوهغه دا استعمالوي ليکن په سرکاري کاغذاتو کې دا ليکل کيږي چې فلانی شی (مثلاً موټر)له مرتهن سره رهن دی دکوم چې نتيجه دا راوځي چې که مرتهن ته ترمقرر وخت پورې خپل قرض وصول نه شي نو هغه لره دا حق حاصل دی چې هغه دا شی مرهون په بازار کې خرڅ کړي او خپل قرض وصول کړي ،دې ته په عربي کې الرهن السائل يعنې بهيدونکی رهن ويل کيږي ،درهن دا صورت بايد جائز شي ولې چې په دې صورت کې چې کله مرتهن په کاغذاتو قبضه وکړه نو ګويا هغه په مرهون شي باندې قبضه وکړه له دې څخه وروسته هغه مرهون شی راهن ته دعارية استعمال لپاره ورکړ لهذا دا صورت بايد جائز شي ،البته مرهون شی ترڅو چې د راهن په استعمال کې وي تر هغه وخته پورې به دهغه په ضمان کې وي (ماخوذ از تقرير ترمذی :۱/۱۷۸)

(۵)ترڅو چې مرتهن پر رهن قبضه نه وي کړې نو راهن لره اختيار دی که يې خوښه وي نو شی مرهون دې مرتهن ته وسپاري او که يې خوښه وي نو له رهن څخه دې رجوع وکړي ولې چې دعقد رهن لزوم د مرتهن پر مرهون په قبضه کولو سره کيږي کوم چې تر اوسه نه ده شوي لهذا دا عقد پر راهن لازم نه دی او له غير لازم عقد څخه رجوع کول صحيح ده .

(۶)کله چې راهن مرهون شی مرتهن ته حواله کړي نو اوس مرهون د مرتهن په ضمان کې داخليږي (يعنې دهلاکت په صورت کې به مرتهن ضامن وي )ولې چې د رهن په مضمون والی دصحابه کرامو اجماع ده ،نو که مرهون له مرتهن سره دهغه له تعدی بغير هلاک شو نو مرهون له خپل قيمت او قرض څخه په اقل سره مضمون دی يعنې که دمرهون قيمت کم وي نو مرتهن به دقيمت په اندازه ضامن وي او که قرض د مرهون له قيمت څخه کم وي نو مرتهن به دقرض په اندازه ضامن وي او دزائد قيمت ضامن به نه وي ولې چې مرتهن به دهمدومره ضامن وي له څومره څخه چې ده قرض وصول کيدای شي او هغه دقرض په اندازه دی .

(۷)نو که مرهون هلاک شو د مرتهن په لاس کې او د مرهون قيمت او قرض سره برابر وو نو دا به ګڼل کيږي چې مرتهن خپل حق وصول کړ ولې چې دمرهون قيمت د مرتهن له ذمې سره متعلق وو ،او که د مرهون قيمت له قرض څخه زائد وي نو زائده حصه به د مرتهن په لاس کې امانت وي ولې چې د مرهون شی همدومره حصه مضمونه ده له څومره څخه چې وصولي کيدای شي ،او که د مرهون قيمت له قرض څخه کم وي نو د قيمت په اندازه به له راهن څخه قرض ساقطيږي او پاتې قرض به مرتهن له راهن څخه اخلي ولې چې دقرض وصولي د مرهون

دماليت په اندازه سره وي يعنى دمرهون چې څومره قيمت وي قرض به هغومره وصول شمارل كيږي دباقي پاتي قرض په باره كې به مرتهن په راهن رجوع كوي.

(۸)مرتهن دوخت په پوره كيدلوسره له راهن څخه دخپل قرض مطالبه كولى شي ولى چې اصل حق خودمرتهن دراهن پرذمه پاتي دى لهذامرتهن ته دمطالبي حق شته اوكه راهن دمرتهن حق نه اداء كوي بلكه ټال متهول كوي نوبندي كولى يې هم شي ولى چې دچادحق په اداء كولوكې ټال متهول كول ظلم دى اوبند دظلم بدله ده.

(۹)كله چې مرتهن دخپل قرض مطالبه وكړي نوده ته به دمرهون شي دحاضرولوحكم كيږي ولى چې پرراهن قبضه دوصولولو قبضه ده نودا جائزنه ده چې دوصولولوله قبضي سره سره دقرض مطالبه وكړي اوپرهغه هم قبضه وكړي ،بياچې كله مرتهن مرهون شى حاضركړي نوراهن ته به حكم وركول كيږي چې لومړى ته ددده قرض اداء كړه ولى چې مرهون متعين شى دى په دي كې دراهن حق متعين دى اودمرتهن په دراهموكې حق متعين نه دى ولى چې هغه غيرمتعين دي لهذادبرابري دثابتولولپاره به لومړى راهن ته دقرض داداء كولوحكم كيږي ترڅودمرتهن حق هم متعين شي.

(۱۰)فَإِنْ كَانَ الرَّهْنُ فِي يَدِ الْمُرْتَهِنِ لَا يُمَكِّنُهُ مِنَ الْبَيْعِ حَتَّى يَقْضِيَهُ الدَّيْنَ فَإِذَا قَضَى سَلَّمَ الرَّهْنَ (۱۱)وَلَا يَنْتَفِعُ الْمُرْتَهِنُ بِالرَّهْنِ اسْتِخْدَامًا وَسُكْنَى وَلُبْسًا وَإِجَارَةً وَإِعَارَةً (۱۲)وَيَحْفَظُهُ بِنَفْسِهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ وَخَادِمِهِ الَّذِي فِي عِيَالِهِ (۱۳)وَضَمِنَ بِحِفْظِهِ بِغَيْرِهِمْ وَبِإِيدَاعِهِ وَتَعَدِّيهِ قِيمَتَهُ (۱۴)وَأُجْرَةُ بَيْتِ حِفْظِهِ وَحَافِظِهِ عَلَى الْمُرْتَهِنِ وَأُجْرَةُ رَاعِيهِ وَنَفَقَةُ الرَّهْنِ وَالْخَرَاجُ عَلَى الرَّاهِنِ

**ترجمه** :اوكه مرهون شى دمرتهن په قبضه كې وي نوقدرت دي نه وركوي راهن ته دخرڅولوترڅوچې هغه دده قرض اداء نه كړي نوكله چې هغه قرض اداء كړي نومرهون شى دي هغه ته وسپاري .اوفائده دي نه اخلي مرتهن له مرهون څخه دخدمت اخيستلواوداوسيدلواوداغوستلواوپه اجاره دوركولواوپه عارية دوركولو،اوحفاظت دي كوي دمرهون په خپله اوپه خپله ښځه اوپه خپل اولاداوپه خپل هغه خادم سره كوم چې دده په عيال كې دى ،اوضامن دى په حفاظت كولوله دي څخه دعلاوه په ذريعه سره اوودويعت په ذول سره په وركولواوپه تعدى كولوسره دهغه دقيمت ،اواجرت دمرهون دحفاظت دكوراودهغه دمحافظ پرمرتهن دى اواجرت دمرهون دشپون اوخرچه دمرهون اوخراج دراهن پرذمه دى.

**تشريح** :(۱۰)كه رهن دمرتهن په قبضه كې وي نوترڅوچې دهغه له قيمت څخه خپل قرض وصول نه كړي ترهغه وخته دي راهن درهن دخرڅولوقدرت نه وركوي ولى چې درهن حكم ددين تراداء كولوپوري رهن له مرتهن سره محبوس ايښودل دي حال داچې دراهن هغه لره خرڅول داحبس باطلوي ،كله چې راهن قرض اداء كړي نومرتهن ته به ويل كيږي چې رهن راهن ته وسپاره ولى چې دمرتهن دين كوم چې درهن له تسليمولو څخه مانع ووهغه اوس پاتي نه شو.

(۱۱)مرتهن دي له مرهون شي څخه نفع نه اخلي نوكه مرهون غلام وونوپه هغه دي خدمت نه كوي اوكه مكان وونوپه هغه كې دي نه اوسي اوكه جامه وه نونه دي په تن كوي اونه دي مرهون شى چاته په كرايه وركوي ولى

چې مرتهن ته صرف د مرهون شي له خپل ځان سره منع کولو حق شته نه له هغه څخه د نفع اخيستلو ،همداشان مرهون شی چاته په عاريه سره ورکول هم جائزنه دی ولی چې کله مرتهن په خپله له مرهون شی څخه نفع نه شي اخيستلای نو بل څوک هم پرهغه نه شي مسلط کولای .

فائده :مرتهن لره له مرهون شی څخه نفع اخيستل جائزنه دي اګرکه راهن دهغه اجازت ورکړي ولی چې دمرتهن په حق کې داسود جوړيږي اوسود دچاپه اجازه ورکولوسره نه رواکيږي نن صباغالبه داده چې خلک دنوورځمکې پررهن ددي لپاره اخلي ترڅو دهغې له حاصلاتو څخه نفع حاصله کړي نو اګرکه دعقدپروخت ددي شرط ونه لګول شي بياهم ناجائزده ولی چې المعروف کالمشروط دی .

ف:مولاناخالدسيف الله رحمانی صاحب فرمايي :دحنابله ويه نزدپه دي مسئله کې ډيرتفصيلات هم شته اودمعمول مطابق داقوالو کثرت او اختلاف هم .حاصل دادي چې (۱)له رهن څخه دنفع اخيستلوشرط صحيح نه دی .شرط فاسددی (۲)مال مرهون اخراجاتومتقاضی دی اوکه دسورلی لائق ياشيدي کونکی حيوان صورت وي نودهغه اخراجات پوره کول اوله هغه څخه نفع اخيستل جائزدي اګرکه رهن ايښودونکی اجازت نه وي ورکړی (۳)داسي شيان کوم چې دحيواناتوله قبيلې څخه نه وي لکه مکانات وغيره ،له هغوئ څخه نفع اخيستل جائزنه ده .نه بلااجازته اونه دهغه په اجازت سره ،هودمکان دمروجه کرايه په اداء کولوسره مرتهن په خپله په دي کې قيام کولای شي

له دي تفصيلاتو څخه وروسته عرض دی چې دشريعت مزاج ته نږدي رأيه هغه معلوميږي کومه چې دامام احمدبن حنبل دمکاناتو وغيره په باره کې ده ،په اصولي ډول سره پرمال مرهون دمالک په اجازت سره هم نفع اخيستل بايد جائزنه شي ولی چې داکل قرض جرنفعافهوربوا(له کوم قرض څخه چې نفع حاصله کړای شي هغه سوددی )مصداق معلوميږي ،اودسوداخيستل اوورکول په اجازت سره هم صحيح نه دي.

په دي وجه له مال مرهون څخه دانتفاع په سلسله کې داتفصيل دی چې که خرڅونکی له مال رهن څخه داستفادي شرط نه وولګولی ،له وړاندي څخه ددي کس دنوروخريدارانوله مال مرهون څخه انتفاع معلومه اومعروفه نه وه اوپه دي علاقه کې هم له مال مرهون څخه دانتفاع رواج اوچلن نه ووياخودخريدارپه اجازه سره له دي څخه استفاده کيدلای شي اوکه له مذکوره دريوخبرو څخه يوه خبره متحققه شوه نوانتفاع جائزنه ده وولی چې دخريداوفروخت په معامله کې ديوفريق له طرف څخه داسي اضافه مشروطول دکومې چې هغه کومه معاوضه نه اداء کوي ربواده اودفقهاءپه نزدمعروف هم دمشروط په حکم کې دی المعروف کالمشروط شرطالکه چې دعلامه ابن همام رحمه الله بيان دی :والغالب من احوال الناس انهم انمايريدون عندالدفع الانتفاع ولولاه لمااعطاه الدراهم وهو بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط وهومايعين المنع(فتح القدير: ۹/۷۴)(جديدفقهي مسائل :۱۵۸/۴)

ف:که له عقدرهن څخه وروسته دقرض له اداء کولووړاندي راهن غائب شي اودهغه کوم وارث هم نه وي نومرتهن دي درهن له قيمت څخه خپل قرض وصول کړي ،دباقی مرهون حکم دلقطي دی لهذاهغه پرفقراء مصرفول صحيح دي (ماخوذازامدادالاحکام : ۴۹۴/)

(۱۲)مرتهن به درهن حفاظت په خپله کوي يا دي په خپله ښځه اولوی اولادسره کوم چې دده په عيال کې شامل وي کوي اوپادي په خپل داسي غلام سره کوم چې دده په عيال کې شامل وي (دچاپه عيال کې له شامليدلوڅخه مراددادی چې يوځاي ګذرونده سره کوي )ولی چې عادة خلګ په همدي کسانوسره دشي حفاظت کوي لهذادخلګودعادت په وجه سره په مذکوره بالاافرادوسره درهن حفاظت کول صحيح دی.

(۱۳)که مرتهن په کوم داسي چاسره درهن حفاظت وکړکوم چې دده په عيال کې شامل نه وه ،يايې مرهون شی چاته په امانت ورکړيامرتهن په تعدی کولوسره په خپله هغه تلف کړنودرهن دهلاکت په صورت کې مرتهن درهن دقيمت ضامن دی ولی چې په مذکوره دريوسره صورتونوکې مرتهن تعدی کونکی شمارل کيږي.

(۱۴)په کوم کورکې چې دمرهون حفاظت کيږي دهغه کرايه اودمرهون دمحافظ مزدوري دمرتهن پرذمه دي ولی چې دمرهون حفاظت پرمرتهن واجب دی لهذاپرحفاظت چې کومه خرچه راځي هغه به دمرتهن پرذمه وي ،اوکه مرهون مال څاروي وي نودشپون تنخواه اودمرهون نان نفقه دراهن پرذمه دي ،همدشان که مرهون خراجي ځمکه وي نودهغي خراج هم دراهن پرذمه دی ،کوم کس قسم خرچه پرراهن اوکوم قسم خرچه پرمرتهن ده ،په دي سلسله کې قاعده کليه داده چې دمرهون دمصلحت اوبقاء لپاره چې کومي خرچې ته احتياج وي هغه دراهن پرذمه ده اوکومه خرچه چې دمرهون له حفاظت سره متعلقه وي هغه دمرتهن پرذمه ده.

## بَابُ مَا يَجُوزُ ارْتِهَانُهُ وَالارْتِهَانُ بِهِ وَمَا لَا يَجُوزُ

داباب دهغوشيانوپه بيان کې دی دکوموچې درهن په ډول سره ايښودل اودکوموپه عوض کې چې رهن ايښودل جائزوي اوکوم چې جائزنه وي.

کله چې مصنف رحمه الله درهن له اجمالي بيان څخه فارغ شونوپه تفصيل يې شروع وکړه چې کوم شيان درهن په ډول ايښودل اودکوموشيانوپه عوض کې رهن ايښودل جائزدي اوکوم کوم جائزنه دي ،ولی چې تفصيل له اجمال څخه وروسته راځي.

(۱)لَايَجُوزُ رَهْنُ الْمُشَاعِ (۲)وَلَا الثَّمَرَةِ عَلَى النَّخْلِ دُونَهَا وَلَا زَرْعٍ فِي الْأَرْضِ دُونَهَا وَلَا نَخْلٍ فِي الْأَرْضِ دُونَهَا (۳)وَالْحُرِّ وَالْمُدَبَّرِ وَالْمُكَاتَبِ وَأُمِّ الْوَلَدِ (۴)وَلَا بِالْأَمَانَاتِ (۵)وَبِالدَّرَكِ (۶)وَالْمَبِيعِ (۷)وَإِنَّمَا يَصِحُّ بِدَيْنٍ وَلَوْ مَوْعُودًا (۸)وَبِرَأْسِ مَالِ السَّلَمِ وَثَمَنِ الصَّرْفِ وَالْمُسْلَمِ فِيهِ (۹)فَإِنْ هَلَكَ صَارَ مُسْتَوْفِيًا

**ترجمه** :صحيح نه ده په رهن ايښودل دمشاع اوپردرختولګيدلي ميوي له درختوبغيراودځمکي کښت له ځمکي بغيراوپه ځمکه کې درخته بغيرله ځمي اودازاداومدبراوام ولداونه دامانت په عوض ،اونه رهن بالدرک اونه رهن بعوض مبيع اوصحيح دی دقرض په عوض کې اګرکه هغه موعودوي ،اودبيع سلم دراس المال په عوض اودثمن صرف په عوض اودمسلم فيه په عوض کې ،نوکه هلاک شونوشومرتهن دخپل حق وصولونکی.

**تشريح** :(۱)شی مشاع (مشترک غيرمنقسم شی )له چاسره په رهن ايښودل جائزنه دی ولی چې له رهن څخه مقصوداستحکام اومضبوطي ده ترڅوراهن له قرض څخه انکارونه کړي اواستحکام لره ضروري ده چې رهن

له مرتهن سره مسلسل محبوس وي او مرتهن لره د دين ترادا، کولو پوري د رهن د محبوسو لو حق وي حال دا چې شي مشاع مسلسل محبوس نه شي اينبودل کيدلای ولی چې په دي کې دراهن د بل شريک حق دی کوم چې په مرهون کې دخپل حق نوبت غواړي مثلاً هغه غواړي چې يوه ورځ مرهون شی له ماسره وي اويوه ورځ له مرتهن سره ،ظاهره ده چې په دي سره د مرتهن دائمي قبضه فوتيږي .

ف:دامام شافعي رحمه الله په نزدد شي مشاع په رهن سره اينبودل جائزدي ولی چې دده په نزد د رهن حکم دادی چې هغه خرڅ کړای شي او شی مشاع خرڅيدلای شي نو هغه د رهن په ډول سره اينبودل هم جائز دی.

(۲)قوله والثمرة على النخل اى لايصح رهن الثمرة على النخل ،يعنی دداسي ميوي په رهن سره اينبودل کومه چې پردرختووي بغيرله درختوڅخه جائزنه دي ولی چې دامحوزنه دي .همداشان کښت بغيرله ځمکې څخه اودرختي بغيرله ځمکې څخه په رهن اينبودل جائزنه دي ولی چې داهم محوزنه دي کمامر، همداراز مرهون له داسي شي سره خلقةً متصل دی کوم چې مرهون نه دی نو دا د مشاع په درجه کې دی .

(۳)قوله والحر والمدبر والمكاتب اى لايصح رهن الحر والمدبر والمكاتب ،يعنی آزادکس ،مدبر ،مکاتب او ام ولده له چاسره په رهن اينبودل جائزنه دي ولی چې آزادکس خوله سره مال نه دی او باقي مال دي مګر په دوئ کې دحريت دپيداکيدلو په وجه سره له دوئ څخه وصوليابي ممکنه نه ده حال دا چې رهن دوصوليابي لپاره اينبودل کيږي لهذا مذکوره شيان په رهن اينبودل جائزنه دي .

(۴)قوله ولابالامانة اى لايصح الرهن بالامانة الخ ،يعنی دامانت په فهرست کې دشامليدونکوشيانوپه عوض رهن اينبودل صحيح نه دی لکه چې يوشی له چاسره په وديعت اينبودل شوی وي اوله موَدع (له چاسره چې امانت اينبودل شوی وي )څخه دهغه په عوض کې رهن وغوبښتل شي .ياکوم شی دعاريت (کوم څوک دکوم شي دمنافعوبغيرله عوض څخه مالکولوته عاريت ويل کيږي )په ډول سره چاته ورکړل شوی وي اوله مستعير(چاته چې شی عارية ورکول شوی وي )څخه دهغه په عوض کې رهن وغوبښتل شي نو دا صحيح نه دي وجه داده چې رهن د دين مضمون په عوض کې اينبودل صحيح دي حال دا چې مذکوره شيان مضمون نه دي ولی چې که مال وديعت له موَدع يامستعار(په عاريه اخيستل شوی شی )له مستعيرڅخه هلاک شي نو دا کسان ضامن نه دي .

(۵)قوله وبالدرک اى لايصح الرهن بالدرک ،يعنی رهن بالدرک صحيح نه دی ،درک دخساري اونقصان په معنی سره .کله په دي ډول سره وي چې کوم کس کوم شی اخلي مګرهغه ويريږي چې چيرته ددي کوم مستحق بنکاره نه شي نو يودريم کس ده ته وايي چې ته بې فکره اوسه دمستحق دبنکارکيدلو ذمه واريم که مستحق بنکاره شونوزه به له بائع څخه ستاثمن واپس اخلم ،دي ته کفالت بالدرک ويل کيږي او دا جائزدی ليکن که دادريم کس ددي احتمالي استحقاق په عوض کې له مشتري سره کوم شی په رهن کښيږدي نو دا جائزنه دی ولی چې رهن ددي لپاره اينبودل کيږي ترڅو دضرورت پروخت له هغه څخه وصولي وکړای شي دلته پرضامن کوم واجب حق نشته ولی چې تراوسه دمستحق دنه بنکارکيدلو په وجه سره پربائع دمشتري کوم حق نه دی لازم شوی نو پرضامن هم کوم حق لازم نه دی نو وصولي به دکوم شي وي .

(۶) قوله وبالمبيع اى لايصح الرهن بالمبيع ،يعني كه بائع دمبيع په عوض كې له مشتري سره كوم شى رهن كښيښودنه داجائزنه دى ولى چې مبيع مضمون بغيره دى اومضمون بغيره په عوض كې رهن ايښودل صحيح نه دى ،مضمون بغيره هغه شي ته ويل كيږي دكوم په هلاكيدلو سره چې مثل ياقيمت هيڅ شى نه واجبيږي البته دهغه په عوض كې چې كوم شى حاصليدونكى ووهغه اوس نه حاصليږي لكه دبائع په قبضه كې چې مبيع دى اوهغه له ده سره هلاك شي نوپرده هيڅ ضمان نه واجبيږي البته دبيع [illegible] وجه سره ثمن ساقطيږي نودمبيع په عوض كې رهن ايښودل صحيح نه دي ولى رهن چې دكوم شي په عوض كې دى هغه مضمون بغيره دى.

(۷) يعني رهن ايښودل جائزنه دي مگرددين مضمون (مضمون داسم مفعول صيغه ده هغه دين دكوم چې مستقرض ضامن وي )په بدله كې ولى چې رهن ددين دوصولي لپاره ايښودل كيږي نوكه دين نه وي نووصولي به دكوم شي وي .اوددين په عوض كې رهن ايښودل صحيح دي اگركه هغه دين موعودوي مثلاًيوكس له بل سره وعده وكړه چې زه به تاته زردرهمه قرض دركړم ليكن تراوسه يې وركړي نه دي اوددي موعودقرض په بدله كې هغه رهن كښيښودنودارهن جائزدى ولى چې دخلگوعمومي عادت دادى چې لومړى رهن ايږدي بياقرض وركوي نوكه داناجائزوگڼل شي نودقرض دروازه به وتړل شي لهذاموعودقرض ته دموجودپه درجه وركول سره داجائزگرځول شوى دى.

(۸) قوله وبرأس مال السلم وثمن الصرف اى يصح اخذ الرهن برأس مال السلم ولمن الصرف ،يعني دبيع سلم درأس المال په عوض كې اودبيع صرف دثمن په عوض كې اودبيع سلم دمسلم فيه په عوض كې رهن ايښودل صحيح دي .دامام زفر رحمه الله په نزدصحيح نه دي ولى چې درهن حكم دحق وصولول دي حال داچې ددي شيانوپه بدله كې درهن ايښودلوپه صورت كې دحق وصولول نه بلكه په حق كې تبديلي راځي يعني رأس المال بل شى دى اودرهن په ايښودلوسره په بدله كې كوم بل شى وركول كيږي .زموږدليل دادى چې په مذكوره شيانواورهن كې په ذاتى لحاظ سره اگركه مجانست نشته مگرمن حيث المالية مجانست شته اوله رهن څخه وصولي من حيث المالية وي لهذادا په حق كې تبديلي نه بلكه دحق وصولي ده ،پاتي شوعين رهن هغه خوله مرتهن سره امانت دى.

(۹) كه دبيع صرف دثمن يادبيع سلم درأس المال په عوض كې كوم شى رهن كښيښودل شونوكه په همدي مجلس كې قبل الافتراق رهن هلاك شي نوبيع صرف اوبيع سلم تاميږي ،كه دمرهون قيمت له ثمن صرف يارأس المال سره برابروي نوحكمامرتهن دخپل حق وصولونكى گڼل كيږي ولى چې من حيث المالية اتحادجنس موجوددى اوقبضه هم متحققه شوي ده.

(۱۰) وَلِلْأَبِ أَنْ يَرْهَنَ بِدَيْنٍ عليه عَبْدًا لِطِفْلِهِ (۱۱) وَصَحَّ رَهْنُ الْحَجَرَيْنِ وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ فَإِنْ رَهَنَتْ بِجِنْسِهَا وَهَلَكَتْ هَلَكَتْ بِمِثْلِهَا من الدَّيْنِ وَلَا عِبْرَةَ لِلْجَوْدَةِ (۱۲) وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا على أَنْ يَرْهَنَ الْمُشْتَرِي بِالثَّمَنِ شيئا بِعَيْنِهِ فَامْتَنَعَ لم يُجْبَرْ وَلِلْبَائِعِ فَسْخُ الْبَيْعِ إلَّا أَنْ يَدْفَعَ الْمُشْتَرِي الثَّمَنَ حَالًّا أو قِيمَةَ الرَّهْنِ رَهْنًا (۱۳) ,وَإِنْ قال لِلْبَائِعِ أَمْسِكْ هذا الثَّوْبَ حتى أُعْطِيَكَ الثَّمَنَ فَهُوَ رَهْنٌ

**ترجمه** :اوپلارلره جائزده چې په رهن كښيږدي دخپل قرض په عوض كې دخپل زوى غلام ،اوصحيح دى په رهن ايښودل دسرواوسپينوزرواومكيلي اوموزني شيانونوكه رهن ايښودل شوى وودهغه دجنس په عوض

کې نو هلاکیږي همدمره اندازه له دین څخه او اعتبار نشته دښوا وکوته و ،او چاچې خرځ کړ غلام په دي شرط چې په رهن به ایږدي مشتري دثمن په عوض کې یو معین شی او هغه منع شونو نه شي مجبوره کیدای او بائع ره اختیاردی چې بیع فسخ کړي مگر داچې ورکړي مشتري ثمن فی الحال یادرهن قیمت په رهن کښیږدي ،او که یې وویل بائع لره چې کښیږده داجامه ترڅو چې زه تاته اداء کړم ثمن نو هغه رهن دی .

**تشریح** ،(۱۰)پلارلره جائزده چې هغه دخپل نابالغ زوی غلام دخپل قرض په عوض کې له قرضخواه سره په رهن کښیږدي ولی چې پلارلره دزوی پر مال باندي ولایت حاصل وي دکوم په وجه سره چې هغه دهغه مال له چاسره دامانت په ډول ایښودلای شي حال داچې دامانت په صورت کې دمال حفاظت ډیرنشته ولی چې که هلاک شي نو پرمودَع ضمان واجب نه دی حال داچې درهن ایښودلو په صورت کې له امانت څخه حفاظت ډیردی ولی چې دهلاکیدلو په صورت کې مرتهن دهغه ضامن وي لهذا دنابالغ مال له چاسره درهن په ډول په طریقه اولی ایښودلای شي .

(۱۱)اودحجرینو (یعنی دراهم اودنانیرو)اودمکیلي اوموزوني شیانو په رهن ایښودل جائزدي ولی چې له رهن څخه مقصوددحق وصولیابي ده کوم چې له مذکوره شیانو څخه وصول کیدای شي ،نو که مذکوره شیان دخپل جنس په عوض کې رهن ایښودل شوي وي او هلاک شول مثلاً دیو من غنمو قرض په بدله کې یو من غنم درهن په ډول سره کښیښودل شول او مرهون هلاک شو نو ددي یو من غنمو په اندازه دین (یومنم غنم )هم هلاک (ساقط)کیږي اگر که مرهون شی اودین په ښه والي اوجوړښت کې سره مختلف وي ولی چې په اموال ربویه کې له خپل جنس سره دمقابلي پرو خت جودت غیر معتبردی.

(۱۲)که چاپه دي شرط غلام خرځ کړچې مشتري به دهغه دثمن په عوض کې کوم معین شی درهن په ډول سره ایږدي نو دا جائزدی اوس که مشتري ددي شي معین له رهن ایښودلو څخه منع شونو مشتري به نه مجبوره کیږي ولی چې عقدرهن نه دی تام شوی په دي وجه چې عقدرهن په قبضه سره تامیږي کوم چې دلته نه ده متحقق شوي ،البته بائع لره اختیاردی که یې خوښه وي نو درهن په پرېښودلو دي راضي شي او که یې خوښه وي نو بیع دي فسخ دي کړي ولی چې په بیع کې وصف مرغوب فیه (یعنی رهن ایښودل )فوت شو ،همداشان که مشتري دمبیع ثمن نقدورکړل نوهم بائع لره دبیع دفسخ کولو اختیارنشته ولی چې مقصودحاصل شو او یامشتري دبائع له طرف څخه دشرط کړل شوی شی مرهون قیمت درهن په ډول سره کښیږدي نو بائع لره دفسخ بیع اختیارنشته ولی چې دمشروط رهن مقصودله قیمت څخه حاصلیږي.

(۱۳)که چاکومه جامه ددراهمو په عوض کې واخیسته بیامشتري بائع ته وویل ته داجامه له ځان سره کښیږده ترڅو چې زه تاته ثمن درکړم نو داجامه له بائع سره رهن ده ولی چې اگر که ده درهن لفظ نه دی ویلي مگر په دي کلام کې درهن معنی موجوده ده ولی چې ده وویل چې دثمن ترورکولو یې کښیږده ،او همدادرهن حقیقت دی او په عقودو کې دمعانی اعتبار وي .

(۱۴)وَلَوْ رَهَنَ عَبْدَيْنِ بِأَلْفٍ لَا يَأْخُذُ أَحَدَهُمَا بِقَضَاءِ حِصَّتِهِ كَالْمَبِيعِ (۱۵)وَلَوْ رَهَنَ عَيْنًا عِنْدَ رَجُلَيْنِ صَحَّ وَالْمَضْمُونُ عَلَى حِصَّةِ دَيْنِهِ فَإِنْ قَضَى دَيْنَ أَحَدِهِمَا فَالْكُلُّ رَهْنٌ عِنْدَ الْآخَرِ (۱۶)وَبَطَلَ بَيِّنَةُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى رَجُلٍ أَنَّهُ رَهَنَهُ عَبْدَهُ وَقَبَضَهُ (۱۷)وَلَوْ مَاتَ رَاهِنُهُ وَالْعَبْدُ فِي أَيْدِيهِمَا يُرْهَنُ كُلُّ وَاحِدٍ عَلَى مَا وَصَفْنَا كَانَ فِي يَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفُهُ رَهْنًا بِحَقِّهِ

**ترجمه** :اوكه يې رهن كښېښودو دوه غلامان دزرو په عوض كې نو نه شي وړلى كوم يو دهغه دحصې په اداء كولوسره لكه په مبيع كې ،اوكه يې رهن كښېښودو معين شى له دووكسانوسره نوصحيح دى اومضمون پرهريوه باندې دهغه ددين حصه ده نوكه يې اداء كړدكوم يوه قرض نوټول شى به رهن وي له هغه بل سره،اوباطله ده بينه له دواړوڅخه دهريوه پركوم كس باندې چې هغه رهن اېښى وو له ده سره خپل غلام اوقبض كړى يې ووهغه ،اوكه مړشودهغه راهن اوغلام ددواړومرتهنانوپه قبضه كې وواوهريوه بينه پېش كړه لكه څرنګه چې موږبيان وكړنوكيږي به دهريوه په لاس كې نصف غلام رهن دهغه دحق په عوض كې .

**تشريح** :(۱۴)كه چادزرودراهموپه عوض كې دوه غلامان رهن كښېښودل اودايې معلوم نه كړچې په دوئ كې هريودڅومره قرض په عوض كې رهن دى اوس پېښه داوشوه چې ده ديوه دقيمت په اندازه سره قرض اداء كړنوراهن له له دواړوغلامانوڅخه يوله مرتهن څخه نه شي وړلاى ترڅوچې پاتې قرض اداء نه كړي ولې چې دادواړه غلامان راهن لره په قضاء دين كې دباعثيت دمبالغي په غرض سره ددين دهرجزء جزء په عوض كې محبوس دي ،همداحكم دمبيع هم دى مثلاكه يوكس له بل څخه دوه غلامان دزرودراهموپه عوض كې واخيستل بيايې بائع ته پنځه سوه وركړي نومشتري لره داحق نشته چې له بائع څخه يوغلام اوس وصول كړي بلكه كله چې ٠ هغه پوره ثمن اداء كړي بيابه ده ته مبيع حواله كيږي لماقلنا.

(۱۵)كه پرچا ٠ ؤوكسانودين وومقروض ددواړوددين په عوض كې يوشى رهن كښېښودنوداړهن صحيح دى اوټول شى له دوئ دواړوڅخه له هريوه سره رهن دى په دې وجه چې په يوه معامله كې دټول شي طرف ته رهن اضافت كړل شوى دى اوپه رهن كې شيوع نشته (ولې چې تعددمستحقين په محل واحدكې تعددنه ثابتوي )اودرهن حكم ددين په مقابله كې دمرهون شي محبوس والى دى په كوم كې چې تجزى نشته په دې وجه به داشى له دواړوسره محبوس وي .دمرهون دهلاكيدوپه صورت كې به هريوبقدرحصه دين ضامن وي ولې چې دحق په وصولي كې تجزي كيداى شي نودهلاكت پروخت هرمرتهن دخپلې حصې وصولونكى ګرځي لهذامرهون به دهريوه ددين په اندازه سره مضمون وي .اوكه راهن له دوئ دواړوڅخه دكوم يوه دين اداء كړنواوس به پوره مرهون شى دهغه بل په قبضه كې رهن پاتې كيږي ترڅوچې هغه هم خپل قرض وصول نه كړي ولې چې پوره شى له دوئ څخه له هريوه سره بلاتفريق رهن دى لكه چې دمرتهن ديووالي په صورت كې .

(۱۶)له زيداوبكرڅخه هريوه دعوى وكړه چې له خالدسره چې كوم غلام دى ده هغه غلام له موږسره درهن په ډول اېښى وواوپركوم چې موږقبضه كړي وه يعنى هريوه دادعوى وكړه چې ده له ماسره رهن اېښى وواوهريوه پرخپله دعوى ګواه هم پېش كړل نوددواړوبينه باطله ده قاضى به ديوه په حق كې هم فيصله نه كوي ولې چې دواړه دخپل مرتهن والى اوديوكس دراهن والى اودهغه ديوه غلام درهن والى مدعى دي حال داچې دامحاله ده ولې چې يوغلام له دووكسانوڅخه له هريوه سره په يوه وخت كې رهن نشي كيداى اودكوم يوه په حق كې

په فیصله ورکولو سره ترجیح بلامرجحه راځي اودواړولره دنصف نصف دفیصلي کولوپه صورت کښ شیوع لازمیږي کومه چې باطله ده کمامر،لهذادواړو مدعیانوګواهیانې باطلي دي .
(۱۷)اوکه په مذکوره بالاصورت کښ راهن مړشواوغلام ددي دواړومدعیانوپه قبضه کښ وواوله دواړوڅخه هریوه له ده سره ددي غلام پررهن والی ګواه پیش کړل نوقاضی به له دواړومدعیانوڅخه هریوه لره دنصف غلام درهن والی فیصله وکړي کوم چې به هغوئ دخپل خپل حق لپاره خرڅ کړي داحکم استحساناًدی ولی چې دراهن په ژوندکښ درهن مقصدادادی چې مرتهن هغه دوصولي لپاره له خپل ځان سره کښیږدي اودراهن دمرګ په صورت کښ درهن حکم دادی چې هغه خرڅ کړای شي اوقرض اداء کړای شي نوپه لومړی صورت کښ شیوع مضره ده په دي وجه موږهغه باطل وګرځوی اوپه دوهم صورت کښ شیوع مضره نه ده په دي وجه مواجازت ورکړ.

## باب الرهن یوضع علی ید عدل

### داباب دمرهون شي له عادل سره دایښودلوپه بیان کښ دی

مصنف دراهن اومرتهن له ذات سره متعلق له احکاموفارغ شونودهغوئ دنائب یعنی عادل سره دمتعلقه احکامو بیان یې شروع کړولی چې نائب همیشه له اصل څخه وروسته وي ،راهن اومرتهن چې دشي مرهون کوم :ریم کس ته په سپارلوراضی شي هغه کس ته عادل ویل کیږي .

(۱)وضعاالرَّهنَ علی یَدَيْ عَدْلٍ صَحَّ وَلَایاخذه أَحَدُهُمَامنه حقهماوَیَهْلِکُ فِي ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ فَإِنْ وَکَّلَ الرَّاهِنُ الْمُرْتَهِنَ اوالْعَدْلَ او غَیْرَهُمَابِبَیْعِه عِنْدَحُلُولِ الدَّیْنِ صَحَّ فَإِنْ شُرِطَتْ فِي عَقْدِ الرَّهْنِ لَمْ یَنْعَزِلْ بِعَزْلِهِ وَبِمَوْتِ الرَّاهِنِ وَالْمُرْتَهِنِ وَتَبْطُلُ بِمَوْتِ الْوَکِیلِ حتی لَایَقُومُ وَارِثُهُ وَلَا وَصِیُّهُ مَقَامَهُ

**ترجمه** :دواړوکښیښودمرهون شی له عادل سره نوصحیح دی اونه شي وړلی هغه له دوئ څخه یوهم له عادل څخه اوهلاکیږي دمرتهن په ضمان کښ ،اوکه وکیل جوړکړراهن مرتهن لره یاداد ریم عادل کس لره یاله دي دوڅخه علاوه کوم بل چالره دمرهون شي دخرڅولودوخت په پوره کیدلوسره نوداصحیح دی ،اوکه وکالت شرط کړل شوپه عقدرهن کښ نووکیل نه معزولیږي دراهن په معزولولوسره ،اودراهن اومرتهن په مړه کیدلوسره ،اووکیل لره جائزده دهغه خرڅول دراهن دورثه وپه عدم موجودوالی کښ ،اوباطلیږي دوکیل په مرګ سره ،اونه به خرڅوي مرهون راهن یامرتهن مګردهغه بل په خوښه سره .

**تشریح** :(۱)که راهن اومرتهن له کوم عادل سره درهن په ایښودلوراضی شول نوداجائزده ولی چې پررهن قبضه دمرتهن حق ده کله چې هغه دخپل حق په اسقاط باندي راضی دي نوله صحت څخه کوم شی مانع نشته اوس له راهن اومرتهن څخه یوه لره هم له عادل څخه داخیستلوحق نشته ولی چې دثالث په لاس کښ دحفاظت کولوپه لحاظ سره له رهن سره دراهن حق متعلق دی اودحق دوصولولوپه لحاظ له رهن سره دمرتهن حق متعلق دی لهذاکوم یوه لره دهغه بل دحق دباطلولوحق نشته .که مرهون له ثالث سره هلاک شونودمرتهن په ضمان کښ هلاکیږي ولی چې دمالیت په حق کښ دثالث قبضه دمرتهن قبضه وي .

(۲)كه راهن مرتهن ياعادل له دي دواړوڅخه ماسوابل كس دمدت دين په تيريدلوسره دمرهون دخرڅولووكيل جوړكړنوداوكالت جائزدى په دي وجه چې راهن دمرتهن شي مالک دی اومالک لره اختياروي چې څوک وغواړي هغه دي دخپل مال دخرڅولووكيل جوړكړي .

(۳)اوكه دعقدرهن پروخت وكالت شرط كړل شومثلا راهن ووايې چې زه داشى په رهن ايږدم په دي شرط سره چې دقرض دميعادپه پوره كيدلوسره فلانكى كس زماله طرف څخه وكيل دى چې داخرڅ كړي نواوس راهن لره داحق نشته چې وكيل معزول كړي اوكه يې معزول كړنوهغه نه معزول كيږي ولى چې داوكالت دعقدرهن له اوصافوڅخه يووصف اوله حقوقوڅخه يوحق جوړشوى دى فيلزم بلزوم اصله (اى رهن).

(۴)قوله وبموت الراهن والمرتهن اى لم يعنزل الوكيل بموت الراهن والمرتهن ،يعنى كه راهن يامرتهن مړشونوهم مذكوروكيل نه معزوليږي په دي وجه چې دراهن په مرګ سره رهن نه باطليږي ولى چې دموكل دمرګ په وجه سره چې چيرته هم وكالت باطليږي دوارثانودحق په وجه سره وي ولى چې ملكيت دوراثانوطرف ته منتقل كيږي مګردلته داسي نه ده ولى چې دمرتهن حق دوارثانوله حق څخه مقدم دى اودمرتهن په مرګ سره په دي وجه نه معزوليږي چې مرتهن خودى وكيل نه دى جوړكړى لهذامرتهن دوكيل له وكالت څخه اجنبى دى اوداجنبى په مرګ سره وكيل نه معزوليږي.

(۵)دراهن په ژوندكې وكيل لره جائزووچې دراهن په نه موجودوالى كې مرهون خرڅ كړي لهذادراهن له مرګ څخه وروسته هم ده لره داحق پاتي كيږي چې دراهن دوارثانودنه موجودوالى په صورت كې مرهون خرڅ كړي .

(۶)اوكه وكيل مړشوخواه كه وكيل په خپله مرتهن وي ياعادل وي ياكوم بل كس وي نودوكيل وكالت ختميږي دوكيل وارثانوياوصى ته داحق نه منتقل كيږي ولى چې په وكالت كې ميراث نه جاري كيږي ولى چې ميراث په هغوحقوقوكې جاري كيږي كوم چې مورث لره واجب وي نه په هغوحقوقوكې كوم چې دمورث پرذمه واجب وي .

(۷)له راهن اومرتهن څخه يوه لره هم داحق نه شته چې هغه مرهون شى دهغه بل له رضااوخوښي څخه بغيرخرڅ كړي مرتهن خوپه دي وجه داحق نشته چې مرهون دراهن ملک دى اودراهن له طرف څخه اجازه نشته ،اوراهن لره په دي وجه داحق نشته چې دمرهون په ماليت كې دراهن په نسبت دمرتهن حق ډيردى نوپه دي صورت كې راهن مبيع مشتري ته په حواله كولوقادرنه دى حال داچې دبائع لپاره ضروري ده چې دمبيع پرحواله كولوبه قدرت لري .

(۸)فإن حل الأجل وغاب الراهن أجبر الوكيل على بيعه كالوكيل بالخصومة من جهة المطلوب إذا غاب موكله أجبر عليها(۹)وإن باعه العدل وأوفى مرتهنه ثمنه فاستحق الرهن وضمن فالعدل يضمن الراهن قيمته أو المرتهن ثمنه وإن مات الرهن عند المرتهن فاستحق وضمن الراهن قيمته مات بالدين وإن ضمن المرتهن رجع على الراهن بالقيمة وبدينه

**ترجمه** :كه يې موده پوره شوه اوراهن غائب وونووكيل مجبوركراى كيږي پربيع دهغه شي لكه وكيل بالخصومة له جهة دمطلوب چې كله غائب شى موكل دهغه نومجبوركراى كيږي اوكه عادل خرڅ كړاومرتهن

خپل ثمن ترلاسه کړي بيا راهن مستحق شوا وضامن شونو عادل راهن لره ضامن کيږي دهغه دقيمت يامرتهن لره دهغه دپيسو اوکه رهن مړشونه مرتهن سره بيامستحق وګرځيدی اوراهن ضامن شودهغه دقيمت اوکه مرتهن ضامن شورجوع دي وکړي پرراهن باندي په قيمت اوپه دين سره .

**تشريح** :(۸)که دقرض داداء کولووخت راورسيدواوراهن غائب وواوهغه وکيل دکوم په قبضه کې چې مرهون شی دی هغه دهغه شی له خرڅولو څخه انکارکوي نوقاضی به پروکيل جبروکړي ترڅوهغه مرهون شی خرڅ کړي ولی چې دوکيل په انکارکولوکې دمرتهن دحق ابطال دی اودبل حق له ابطال څخه دساتلولپاره جبرکول جائزدی .همداحکم دوکيل بالخصومت هم دی مثلاکوم کس بل څوک وکيل بالخصومت جوړکړاوموکل غائب شواووکيل دقاضی په مخ کې له خصومت څخه انکاروکړنووکيل به پرخصومت مجبوره کيږي لماقلنا .

(۹)له کوم عادل سره چې يې رهن ايښی ووهغه دوخت په پوره کيدلوسره مرهون شی خرڅ اوثمن يې مرتهن ته ورکړي بياکوم بل کس په مرهون شي کې خپل استحقاق ثابت کړچې دهغه په وجه سره عادل ضمان اداء کړنوعادل لره اختياردی که يې خوښه شوه نوله راهن څخه دي ضمان واخلي ولی چې عادل دهمدي راهن وکيل وونوکومه ذمه واري چې پرعادل راځي دهغه په سلسله کې به هغه راهن ته رجوع کوي .اوکه يې خوښه شوه نوله مرتهن څخه دي ضمان واخلي ولی چې عادل دضمان داداء کولوپه وجه سره دمرهون مالک ګرځي نوثمن هم دعادل کيږي اوعادل ثمن مرتهن ته له دي وجهې حواله کړي وي چې هغه په خپل ګمان سره مرهون شی دراهن ملک ګڼلی وولیکن کله چې معلومه شوه چې دراهن ملک نه دی بلکه خپله دعادل ملک دی نوهغه دخپل حق مرتهن ته په ورکولوراضی نه دی په هرحال اوس دامعلومه شوه چې دمرتهن ثمن وصول کولوناحقه دي لهذاعادل لره حق شته چې له مرتهن څخه ثمن بيرته واخلي .بياکه ده له راهن څخه ضمان اخيستی نودمرهون دپوره قيمت ضمان به اخلي اوکه يې له مرتهن څخه ضمان اخيستی نوصرف دومره ضمان به اخلي څومره چې يې مرتهن ته ورکړي وي .

(۱۰)که دمرتهن په قبضه کې مرهون غلام مړشوبيادهغه مستحق ښکاره شونومستحق لره اختياردی که يې خوښه وي له راهن څخه دي ضمان واخلي اوکه يې خوښه وي له مرتهن څخه دي ضمان واخلي ولی چې ددواړوله طرف څخه زياتی متحقق شوی دی دراهن له طرف څخه زياتی دادی چې هغه دغيرغلام دخپل قرض په بدله کې رهن ايښی دی اودمرتهن زياتی دادی چې هغه دمستحق پرغلام دهغه له اجازت څخه بغيرقبضه کړي ده .بياکه راهن ضمان اداء کړنوپه دي صورت کې داغلام دمرتهن دقرض په عوض کې مړشوی دی نوګواکي دمرتهن قرض مړشو (يعنی ساقط شو )لهذا اوس به راهن مرتهن ته هيڅ شی نه ورکوي ولی چې هغه دقرض په بدل کې دغلام قيمت ورکړی دی .

(۱۱)اوکه مستحق له مرتهن څخه تاوان واخيستی نومرتهن به له راهن څخه دغلام هغه قيمت هم اخلي کوم چې ده مستحق ته ورکړی دی اوخپل قرض به هم وصول کړي .قيمت به له دي وجهې اخلي چې مرتهن دراهن له طرف څخه مغرور (دهوکه شوی )دی اوقاعده ده چې پرمغرورکوم تاوان راځي هغه به له دهوکه ورکونکی

ځخه وصول کوي او دین به په دي وجه وصول کوي چې کله د هغه د صولولو قبضه ماته شوه نو د قرض حق یې بیرته را وګرځیدو.

## بَابُ التَّصَرُّفِ فِي الرَّهْنِ وَالْجِنَايَةِ عَلَيْهِ وَجِنَايَتِهِ عَلَى غَيْرِهِ

دا باب په مرهون شي کې د تصرف کولو او پر هغه د جنایت کولو او مرهون د جنایت علی الغیر په بیان کې دی.
په مرهون شي کې تصرف کول او پر هغه جنایت کول یا د هغه پر یو چا جنایت کول دا طبعاً له نفس رهن ځخه وروسته وي نو وضعاً هم مصنف رحمه الله د دي امورو احکام مؤخر کړل تر ځو وضع د طبع مطابق وي.

(۱) وَيُوقَفُ بَيْعُ الرَّاهِنِ عَلَى إِجَازَةِ مُرْتَهِنِهِ أَوْ قَضَاءِ دَيْنِهِ (۲) وَنَفَذَ عِتْقُهُ وَطُولِبَ بِدَيْنِهِ لَوْ حَالًّا) وَلَوْ مُؤَجَّلًا أُخِذَ مِنْهُ قِيمَةُ الْعَبْدِ وَجُعِلَتْ رَهْنًا مَكَانَهُ (۳) وَلَوْ مُعْسِرًا سَعَى الْعَبْدُ فِي الْأَقَلِّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنَ الدَّيْنِ وَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى سَيِّدِهِ (۵) وَإِتْلَافُ الرَّاهِنِ كَإِعْتَاقِهِ (۵) وَإِنْ أَتْلَفَهُ أَجْنَبِيٌّ فَالْمُرْتَهِنُ يُضَمِّنُهُ قِيمَتَهُ وَيَكُونُ رَهْنًا عِنْدَهُ (۶) وَخَرَجَ مِنْ ضَمَانِهِ بِإِعَارَتِهِ مِنْ رَاهِنِهِ فَلَوْ هَلَكَ فِي يَدِ الرَّاهِنِ هَلَكَ مَجَّانًا (۷) وَبِرُجُوعِهِ عَادَ ضَمَانُهُ

**ترجمه**: موقوفه پاتې کیږي د راهن بیع د مرتهن په اجازې پورې یا په اداء کولو پسې د هغه د پور، او نافذیږي د هغه آزادول او مطالبه به کیږي له هغه ځخه د قرض که فوري وي او که میعادي وي نو اخیستل کیږي به له هغه ځخه د غلام قیمت او اینبودل کیږي به رهن د غلام په عوض کې، او که راهن مفلسه وي نو سعایت به کوي غلام د خپل قیمت او قرض ځخه په کم کې او بیا به رجوع کوي په دي باره کې پر خپل مولی، او تلف کول د راهن د ده د آزادولو په شان دي او که تلف کړ هغه اجنبي نو مرتهن به تاوان اخلي له هغه ځخه د هغه د قیمت او هغه قیمت به رهن وي له ده سره، او وځي د مرتهن له ضمان ځخه راهن ته د عاریة ورکولو په وجه سره نو که هلاک شو له راهن سره نو مفت هلاکیږي، او په واپس کولو سره راګرځي ضمان.

**تشریح**: (۱) که راهن د مرتهن له اجازي ځخه بغیر مرهون شی خرځ کړ نو دا بیع موقوفه ده ولی چې د مرهون شی له مالیت سره د مرتهن حق متعلق دی لهذا د مرتهن له اجازي ځخه بغیر دا بیع نه نافذیږي. او که مرتهن اجازت ورکړ یا راهن د مرتهن قرض اداء کړ نو بیع نافذیږي ولی چې مانع زائل شو.

(۲) که مرهون غلام وو راهن د مرتهن له اجازت ځخه بغیر هغه آزاد کړ نو آزادي یې نافذیږي ولی چې راهن عاقل بالغ او د احکام شرعیه مکلف دی لهذا د هغه تصرف به نه لغو کیږي. پاتې شوه بیع هغه په دي وجه سره جائزه نه وه چې پر مرهون شی د راهن قبضه نه وه حال دا چې په بیع کې پر مبیع د بائع قبضه ضروري ده تر ځو تسلیم ممکن وي، او په آزادولو کې ځرنګه چې د تسلیم ضرورت نشته لهذا د آزدونکی قبضه هم ضروري نه ده. او س که راهن مالداروي او دین فوري وي نو له راهن ځخه به د دین د اداء کولو مطالبه کیږي او که دین مؤجل وي نو له راهن ځخه به د غلام قیمت اخیستل کیږي او د میعاد تر پوره کیدلو پوري به بطور رهن اینبودل کیږي ولی چې راهن د مرتهن د وصولي قبضه ختمه کړي ده لهذا مرتهن به د غلام قیمت له خپل ځان سره د رهن په ډول ایږدي تر ځو د قرض د وصولولو لپاره استیثاق حاصل وي.

(۳) که راهن تنګ لاسی (مفلس) وي نو د غلام په قیمت او دین کې چې کوم یو لږ وي د هغه په اندازه دي په غلام کسب وکړي ولی چې کله له معتق ځخه د حق وصولول متعذر شول نو چا چې د هغه له اعتاق ځخه ګټه

اخيستي ده پر هغه به رجوع كيږي لكه څرنګه چې مشترک غلام كوم يو شريک آزاد كړي نو كه آزدونكى مفلس وي نو په غلام كسب كول كيږي .بيا چې څومره قرض غلام اداء كړي كله چې مولى غنى شي نو هغه به له خپل مولى څخه بيرته اخلي ولى چې معتَق دهغه قرضه اداء كړي ده او غلام په دي اداء كولو كې مضطر دى متبرع نه دى لهذا هغه لره پر خپل مولى درجوع كولو حق شته .

(۴) او راهن مرهون لره هلاكول داسي ده لكه دراهن مرهون لره آزادول يعنى پورته ذكرشوى تفصيل په دي صورت كې هم دى چې راهن رهن هلاک كړي البته په دي صورت كې مرتهن په هلاک شوى غلام سعاية (كسب) نشي كولاى ولى چې په هلاک شوى غلام كسب كول محال دي .

(۵) كه كوم اجنبى كس مرهون هلاک كړنو له دي اجنبى كس څخه په ضمان اخيستلو كې خصم مرتهن دى نو له اجنبي څخه به درهن قيمت واخلي او له ځان سره به يې بطوررهن كښيږدي ولى تر كله چې رهن قائم وي دعين رهن حقدار مرتهن دى او قيمت دعين قائم مقام دى لهذا دقيمت دوصولولو حق به هم دمرتهن وي .

(۶) او كه مرتهن مرهون شى راهن ته عاريةً وركړ او راهن پر هغه قبضه وكړه نو مرهون دمرتهن له ضمان څخه خارجيږي (يعنى او س دهلاک په صورت كې مرتهن ضامن نه دى ) ولى چې دراهن په قبض كولو سره دمرتهن موجب ضمان قبضه ختمه شوه نو كه دراهن په قبضه كې هلاک شونو بلاشي هلاكيږي ولى چې دخپل مالک په لاس كې هلاک شوى دى .

(۷) قوله وبرجوعه عادضمانه اى وبرجوع الرهن الى يدالمرتهن عادالضمان ،يعنى مرتهن لره داحق شته چې هغه راهن ته په عاريت سره وركړى مرهون شى بيرته وسي ولى چې دضمان له حق څخه په ماسوا كې عقدرهن پرخپل حال پاتي دى ،نو بيا كه مرتهن له راهن څخه مرهون بيرته واخيستى نودمرتهن ضمان هم بيرته راګرځي ولى چې دضمان سبب يعنى قبضه بيرته راوګرځيده .

(۸) وَلَوْ أَعَارَهُ أَحَدُهُمَا أَجْنَبِيًّا بِإِذْنِ الْآخَرِ سَقَطَ الضَّمَانُ وَلِكُلٍّ أَنْ يَرُدَّهُ رَهْنًا (۹) وَإِنِ اسْتَعَارَ ثَوْبًا لِيَرْهَنَهُ صَحَّ (۱۰) وَلَوْ عَيَّنَ قَدْرًا أَوْ جِنْسًا أَوْ بَلَدًا فَخَالَفَ ضَمِنَ الْمُعِيرُ الْمُسْتَعِيرَ أَوِ الْمُرْتَهِنَ (۱۱) وَإِنْ وَافَقَ وَهَلَكَ عِنْدَ الْمُرْتَهِنِ صَارَ مُسْتَوْفِيًا وَوَجَبَ مِثْلُهُ لِلْمُعِيرِ عَلَى الْمُسْتَعِيرِ (۱۲) وَلَوِ افْتَكَّهُ الْمُعِيرُ لَا يَمْتَنِعُ الْمُرْتَهِنُ إِنْ قَضَى دَيْنَهُ

**ترجمه** :او كه مرهون شى وركړ كوم يوه اجنبى ته دهغه بل په اجازت سره نو ساقطيږي ضمان او هر يوه لره حق شته چې هغه ردكړي او رهن يې كړي ،او كه يې استعارة واخيسته جامه تر څو هغه په رهن كښيږدي نو صحيح ده ،او كه يې متعين كړ مقدار ،جنس او ښار او هغه مخالفت وكړ نو تاوان به اخلي معيرله مستعير څخه يا له مرتهن څخه ،او كه يې دهغه موافق كار وكړ او جامه ضائع شوه له مرتهن سره نو شو مرتهن خپل حق وصولونكى او واجبيږي همدومره معيرلره پر مستعيرباندي ،او كه خلاسه كړه جامه معير نو له جامي وركولو دي منع نه كړي مرتهن كه راهن دده قرض اداء كړى وي .

**تشريح** :(۸) كه په راهن او مرتهن كې كوم يوه دهغه بل په اجازت سره مرهون كوم اجنبى كس ته عارية وركړ نو دضمان حكم ساقطيږي نو كه هغه له مستعير سره هلاک شي نو هيڅوک يې ضامن نه دى مستعير خو په دي وجه ضامن نه دى چې دهغه قبضه ،دامانت قبضه ده او امين ضامن نه وي ،او مرتهن په دي وجه ضامن نه

دي چې هغه خود قبضي په وجه سره ضامن وو كله چې قبضه پاتي نه شوه نوضمان هم نه پاتي كيږي .اوراهن اومرتهن هريوه لره دااختيار شته چې له مستعير څخه مستعار شي واپس واخلي اوبيرته يې په رهن كښيږدي دعقد جديد ضرورت نشته ولې چې تراوسه دهغه رهن والې په خپل حال پاتي دي .

(۹) زيد مثلاً له خالد څخه جامه عاريةً واخيستله ترڅوهغه له كوم بل كس سره په رهن كښيږدي اوله هغه څخه قرض واخلي اوخپل ضرورتونه پوره كړي نوداجائزدي ولې چې داد معير (خالد) له طرف څخه تبرع ده .بياكه خالد كوم مقدارمتعين كړى نه وي يعنى دايې نه وي ويلي چې ددومره قرض په بدل كې رهن كښيږده له دي څخه په زيات ياكم كې يې مه ايږده نومستعير (زيد) چې هغه دڅومره مقدارپه عوض كې رهن كښيږدي جائزدي ولې چې اجازت مطلق دي .

(۱۰) اوكه معيركوم مقدارمتعين كړى وومستعيرله هغه څخه دزيات ياكم په عوض كې په رهن كښيښنوديامعيردكوم متعين جنس په باره كې ويلي ووچې ددي په بدل كې يې په رهن كښيږده دكوم بل شي اجازت يې ورنه كړمستعيرله هغه څخه مخالفت وكړ،يايې دكوم خاص ښارقيد لګولى ووچې په دي ښاركې يې رهن كښيږده هغه دهغه خلاف وكړنوداجائزنه دي ولې معيرچې دكوم ښاراوكوم مقداراوجنس قيدلګولى ووپه هغه كې ضرورڅه فائده شته لهذادهغه مخالف كول جائزنه دي .بياكه مستعيردمعيردحكم مخالفت وكړاومستعارشى هلاك شونومعيرلره اختياردى كه يې خوښه وي نوله مستعيرڅخه دي ضمان واخلي اوكه يې خوښه وي نوله مرتهن څخه دي ضمان واخلي ولې چې له مستعيراومرتهن څخه هريودمعيرپه حق كې زياتي كونكى دى نومستعيردغاصب په شان دى اومرتهن دغاصب الغاصب په شان دى .

(۱۱) اوكه مستعيردمعيردحكم مطابق كاروكړمثلاً دڅومره مقدارپه عوض كې چې يې درهن ايښودلواجازه وركړي وه ياپه كوم ښاركې چې يې درهن ايښودلواجازه وركړي وه دهغه مقدارپه عوض كې اوپه هغه ښاركې يې په رهن كښيښنوداوس هغه جامه له مرتهن سره هلاكه شوه نوكتل كيږي به كه دمستعاراومرهون شي قيمت دقرض برابريازيات وي نودمذكورحكم مطابق دمرتهن قرض له راهن څخه ختميږي ولې چې دمرتهن قبضه دوصولي قبضه ده لهذادهلاكت مرهون په وجه سره مرتهن قرض وصولونكى شمارشوى دى .نوڅومره قرض چې ووهغومره روپى دمعيرپرمستعيرلازمي شوي ولې چې مستعيردمعيرله مال څخه خپل هغومره قرض اداء كړى دى .

(۱۲) اوكه مستعاردمرهون له قيمت سره برابروي اودراهن دتنګ لاسي په وجه سره معيردمرهون شي خلاصول وغوښتل نومرتهن ته دمنع كولوحق نشته كه يې دهغه قرض اداء كړولى چې كه كوم متبرع دقرض اداء كول وغواړي نوبيا شكه پرمرتهن جبرنه شي كولاى ليكن كه قرض اداء كونكى متبرع نه وي نوبياپرمرتهن درهن دواپس كولولپاره جبركيداى شي اوپه مذكوره صورت كې معيرمتبرع نه دى ولې چې دعاريت دوركولوپه وخت كې كه څه هم هغه متبرع دى مګرپه خلاصولوكې هغه متبرع نه دى بلكه هغه خپل مال خلاصوي لهذادمعيراداءكول دراهن داداءكولوپه شان ده .نومرتهن لره دمرهون دمنع كولوحق نشته كه يې منع كوي نوپه زوربه تري اخيستل كيږي .

(۱۳) وَجِنَايَةُ الرَّاهِنِ وَالْمُرْتَهِنِ عَلَى الرَّهْنِ مَضْمُونَةٌ (۱۴) وَجِنَايَتُهُ عَلَيْهِمَا وَعَلَى مَالِهِمَا هَدَرٌ (۱۵) وَإِنْ رَهَنَ عَبْدًا يُسَاوِي أَلْفًا بِأَلْفٍ مُؤَجَّلٍ فَرَجَعَتْ قِيمَتُهُ إِلَى مِائَةٍ فَقَتَلَهُ رَجُلٌ وَغَرِمَ مِائَةً وَحَلَّ الْأَجَلُ فَالْمُرْتَهِنُ يَقْبِضُ الْمِائَةَ قَضَاءً مِنْ حَقِّهِ وَلَا يَرْجِعُ عَلَى الرَّاهِنِ بِشَيْءٍ (۱۶) وَلَوْ بَاعَهُ بِمِائَةٍ بِأَمْرِهِ قَبَضَ الْمِائَةَ قَضَاءً مِنْ حَقِّهِ وَرَجَعَ بِتِسْعِمِائَةٍ (۱۷) وَإِنْ قَتَلَهُ عَبْدٌ قِيمَتُهُ مِائَةٌ فَدَفَعَ بِهِ افْتَكَّهُ بِكُلِّ الدَّيْنِ (۱۸) وَإِنْ مَاتَ الرَّاهِنُ بَاعَ وَصِيُّهُ الرَّهْنَ وَقَضَى الدَّيْنَ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَصِيٌّ نَصَبَ لَهُ الْقَاضِي وَصِيًّا وَأَمَرَ بِبَيْعِهِ)

**ترجمه** :اوجنایت دراهن او مرتهن پرمرهون شي باندي مضمون دی او جنایت دمرهون پردوئ دواړو او ددوئ پرمال غیرمضمون دی اوکه يې رهن کښيښود غلام کوم چې برابردی له زرورويوسره دزرو روپو مؤجلوپه عوض کې اولړشودهغه قيمت ترسلوپوري بياهغه لره چاقتل کړاوهغه سل تاوان اداء کړاومده پوره شوه نومرتهن به قبضه کوي په سلودخپل حق دوصول کولوپه جهت سره اونه به واپس اخلي له راهن څخه څه ،اوکه خرڅ کړهغه مرتهن په سل روپی دراهن په اجازت سره نو قبضه به کوي پرسلودخپل حق دااخيستلوپه وجه سره اووړي به له راهن څخه نهه سوه ،اوکه هغه داسي غلام کړدکوم قيمت چې سل روپی دی نو قاتل به ورکول کيږي دمقتول په عوض کې اوراهن به هغه خلاص کړي دټول پورپه عوض کې ،اوکه راهن مړشونوخرڅوي به دهغه وصي مرهون شي اواداء به کړي دين اوکه نه وودهغه کوم وصي نومقرربه کړای شي هغه لره وصي اوهغه ته به حکم ورکول شي دهغه دخرڅولو.

**تشريح** :(۱۳)که پرمرهون باندي به خپله راهن جنايت وکړنودامضمون (موجب ضمان )دی ولی چې په دي سره دمرتهن محترم حق کوم چې په رهن پسي متعلق دی فوتيږي لهذامالک دضمان به دضمان به حق کې اجنبي ګرځول کيږي .همداشان که مرتهن پرمرهون باندي جنايت وکړنوداهم مضمون دی نودمرتهن قرض له راهن څخه دجنايت په اندازه سره ساقطيږي ولی چې راهن مالک دی مرتهن دهغه په مملوک مال باندي تعدي وکړه اوهغه يې فوت کړيه دي وجه مرتهن ضامن کيږي .

(۱۴)اوکه مرهون په راهن يامرتهن ياله دوئ څخه دکوم يوه پرمال جنايت وکړنودامفت دی(يعني موجب ضمان نه دی)په دي شرط چې جنايت موجب قصاص نه وي که موجب قصاص وونوقصاص به اخيستل کيږي .دمرهون جنايت پرمرهون په دي وجه هدردی چې داپرمالک دخپل مملوک جنايت دی اودمملوک جنايت پرمالک که موجب مال وي نوهغه معتبرنه وي .اوپرمرتهن دجنايت په صورت کې په دي وجه ضمان نشته چې مرهون داجنايت دمرتهن په ضمانت کې کړی دی لهذاله دي جنايت څخه خلاصول دمرتهن پرذمه دی نوپه يوه طرف کې پرمرتهن لره ضمان واجب شي اوبل طرف ته پرمرتهن ضمان واجب شي په دي کې هيڅ فائده نشته لهذاداجنايت موجب ضمان نه دی .

(۱۵)که مقروض له قرض خواه سره خپل يوغلام بطوررهن کښيښوددکوم قيمت چې درهن پرورځ زردرهمه وواوقرض هم زردرهمه دی بيادغلام قيمت کم شواوصرف سل درهمه شوبياداغلام چاقتل کړاوقاتل سل درهمه دهغه دقيمت ضمان اداء کړبيادقرض مده ختمه شوه نومرتهن به دخپل حق دوصولولوپه ډول سره پرسل درهمه قبضه وکړي اوپه پاتي نهه سوه درهمه به پرراهن رجوع وکړي ولی چې هغه ابتداء دخپل قرض

وصولونكې ګرځول شوي وو او كه صرف قيمت كم شوې وای غلام نه وای هلاک شوی نو په دې سره پر مرتهن ضمان نه واجبيد و بلكه هغه به عين غلام سپارلی وای او خپل ټول قرض به يې وصول كاوو.

(۱۶) او كه په مذكوره بالاصورت كې مرهون مړ نه شو بلكه راهن مرتهن ته حكم وكړ چې مرهون خرڅ كړه هغه په سل روپۍ خرڅ كړ او داسل درهم يې دخپل قرض په بدل كې وصول كړي نو پاتې نهه سوه درهمه اوس هم دراهن پر ذمه پاتې دي او مرتهن به دهغو په باره كې پر راهن رجوع كوي ولې كله چې مرتهن دراهن په حكم سره خرڅ كړ نو داداسې ده لكه راهن چې په خپل خرڅ كړې وي او كه هغه خپله خرڅ كړې وای او ثمن سل درهم يې مرتهن ته وركړې وای نو نهه سوه درهمه به دراهن پر ذمه پاتې وای لهذا په مذكوره صورت كې هم همدا حكم دی.

(۱۷) او كه داصورت پېښ شو چې راهن چې كوم غلام دزرو درهمو په عوض كې رهن اېښی وو له مرتهن سره دموجود والي په وخت كې كوم غلام دامرهون غلام قتل كړ او دقاتل غلام قيمت صرف سل درهمه وو يا بحكم شرع همدا قاتل غلام مرتهن ته مرهون غلام په بدله كې وركړل شو نو دشيخينو په نزد به راهن مرتهن ته خپل ټول پور وراداء كړي ا ردمرهون قائم مقام قاتل غلام به واخلي ولې چې قاتل غلام دمرهون قائم مقام دی لهذا په نفس غلام كې تغير نه شو واقع نو داداسې شوه ګويا اولنی غلام موجود دی او دهغه قيمت كم شوی دی.

ف: دشيخينو قول راجح دی لمافي الدرالمختار: (ولو قتله عبد قيمته مائة فدفع به افتكه) الراهن وجوبا (بكل الدين)........ وقال محمد ان شاء افتكه بكل دينه او تركه على المرتهن بدينه وهو المختار كمافي الشرنبلالية عن المواهب لكن عامة المتون والشروح على الاول (الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ۳۶۹/۵)

(۱۸) كه راهن مړ شو نو دهغه وصی (كوم ته چې وصيت وكړل شي) به مرهون شی خرڅ كړي او دمرتهن قرض دي اداء كړي ولې چې رهن دراهن يا مرتهن په مرګ سره نه باطليږي او وصی دموصی قائم مقام وي لهذا دموصی په شان به وصی هم دمرهون په خرڅولو سره دمرتهن قرض اداء كړي. او كه دراهن كوم وصی نه وي نو قاضی به دميت كوم وصی مقرر كړي او دې مقرر شوی وصی ته به حكم وكړي چې مرهون خرڅ كړه او دمرتهن قرض اداء كړه.

## فصل

دافصل دمتفرقات رهن په بيان كې دی، څرنګه چې دمصنفينو عادت دی چې دمتفرقاتو ذكر د كتاب په اخير كې كوي په دې وجه مصنف رحمه الله دافصل دكتاب الرهن په اخير كې راوړی.

(۱) رَهَنَ عَصِيرًا قِيمَتُهُ عَشَرَةٌ بِعَشَرَةٍ فَتَخَمَّرَ ثُمَّ تَخَلَّلَ، وهو يساوي عَشَرَةً فَهُوَ رَهْنٌ بِعَشَرَةٍ (۲) وَإِنْ رَهَنَ شَاةً قِيمَتُهَا عَشَرَةٌ فَمَاتَتْ فَدُبِغَ جِلْدُهَا، وهو يساوي دِرْهَمًا فَهُوَ رَهْنٌ بِدِرْهَمٍ (۳) وَنَمَاءُ الرَّهْنِ كَالْوَلَدِ وَالثَّمَرِ وَاللَّبَنِ وَالصُّوفِ لِلرَّاهِنِ وهو رَهْنٌ مع الأَصْلِ وَيَهْلِكُ مَجَّانًا (۴) وَإِنْ هَلَكَ الأَصْلُ وَبَقِيَ النَّمَاءُ فُكَّ بِحِصَّتِهِ وَيُقْسَمُ الدَّيْنُ على قِيمَتِهِ يوم الْفِكَاكِ وَقِيمَةِ الأَصْلِ يوم الْقَبْضِ، وَسَقَطَ من الدَّيْنِ حِصَّةُ الأَصْلِ وَفُكَّ النَّمَاءُ بِحِصَّتِهِ (۵) وَتَصِحُّ الزِّيَادَةُ في الرَّهْنِ لَا في الدَّيْنِ (۶) وَمَنْ رَهَنَ عَبْدًا بِأَلْفٍ فَدَفَعَ عَبْدًا آخَرَ رَهْنًا مَكَانَ الأَوَّلِ وَقِيمَةُ كُلٍّ أَلْفٌ فَالأَوَّلُ رَهْنٌ حتى يَرُدَّهُ إلَى الرَّاهِنِ وَالْمُرْتَهِنُ في الآخَرِ أَمِينٌ حتى يَجْعَلَهُ مَكَانَ الأَوَّلِ

**ترجمه** : رهن يې کینبوده شيره دکومې چې قیمت لس درهمه دی دلس درهموپه عوض کې نوهغه شراب جوړشول بیاسرکه جوړه شوه او هغه برابره ده له لس درهمو سره نو هغه رهن دی دلسو درهموپه عوض .او که یې رهن کینبوده بزه چې دهغې قیمت لس درهمه دی دلس درهموپه عوض کې او هغه مړه شوه بیا دهغې پوستکی پوخ کړای شو او هغه برابروو له یوه درهم سره نوهغه رهن دی دیوه درهم په عوض کې .او درهن زیاتوب لکه بچی او میوه او شیدي اووړۍ ټول دراهن دي او هغه به رهن وي له اصل سره او هلاکیږي به مفت.او که زیاتوب باقي پاتي شو او هلاک شو اصل نو خلاصیږي به دهغې دحصي په موافق نو تقسیمیږي به قرض دهغه په قیمت کوم چې دخلاصولو په ورځ وي او داصل پر قیمت کوم چې دقبضې په ورځ وونو ساقطیږي له قرض څخه داصل حصه او خلاصیږي به زیاتوب دهغه دحصي په عوض کې .اوصحیح ده زیادت کول په مرهون کې نه په قرض کې .او که یې په رهن کینبود غلام دزروپه عوض کې بیایې ورکړ بل غلام بطوررهن داول پرځای او قیمت دهریوه زروي نو هغه اول رهن دی ترڅوچې مرتهن یې واپس کړي راهن ته او مرتهن دهغه بل غلام په حق کې امین دی ترڅوچې هغه رهن کړي داول پرځای .

**تشریح** :(۱)که زید له بکرڅخه لس درهمه قرض واخیست بیایې دهغه په بدل کې دانګوروشیره په رهن کینبوده چې دهغې قیمت هم لس درهمه وو بیاله دي شیري څخه شراب جوړشول اوبیاپه خپله شرابو څخه سرکه جوړه شوه او اتفاقاددي سرکې قیمت هم لس درهمه دی نو اوس به داسرکه دلسودرهموپه عوض کې رهن شمارل کیږي ولی چې دانګورشیره اوسرکه دواړه مبیع جوړیدلای شي او کوم شی چې مبیع جوړیدلای شي هغه مرهون هم جوړیدلای شي په مابین کې اګرکه هغه شیره شراب جوړشوي وي مګرهغه څرنګه چې دبقاء عقدپه حالت کې دده اوبقاء شراب هم محل عقدجوړیدلای شي مثلاچادانګوروشیره واخیستله اوله قبضې کولوڅخه وړاندي له هغې شیري څخه شراب جوړشول نوعقدپه هغوکې برقرارپاتي کیږي .

(۲)او که راهن دلسودراهموقرض په بدله کې یوه بزه په رهن کینبوده چې دهغې قیمت هم لس درهمه دی اوهغه بزه له مرتهن سره هلاکه شوه نودمرتهن قرض ساقطیږي لیکن که یې دهغې بزي پوستکی وایستی اودباغت یې ورکړاودهغه قیمت یودرهم وونواوس ګویادرهن نهه حصي هلاکې شوي اویوه حصه باقي ده لهذادقرض هم نهه حصي هلاکې اویوه حصي باقي شمارل کیږي اوداپوستکی به دیوه درهم په عوض کې رهن شمارل کیږي .

(۳)له مرتهن سره چې په رهن کې کومه نماء (زیاتوب )راځي مثلادرهن بچی .میوه .شیدي اووړۍ وغیره هغه ټول دراهن دي ولی چې دراهن دمملوک نماء اوزیاتوب دی او دانماء به هم له خپل اصل سره رهن وي ولی چې نماء داصل تابع ده .او که نماء هلاکه شوه نوپرمرتهن ضمان نه راځي ولی کوم شی چې داصل مقابل وي له هغه څخه دتابع هیڅ حصه نه وي ولی چې تابع مقصودا په عقد کې داخل نه دی .

(۴)او که اصل مرهون هلاک شي اونماء باقي پاتي شي نونماء به بقدرحصه دین خلاصیږي ولی چې نماء اوس دخلاصون په وجه سره مقصوده شوه او تابع چې کله مقصود شي نو دهغه مقابل کې قیمت وغیره راځي اوس به داڅرنګه معلومیږي چې نماء دڅومره اندازه قرض په بدل کې محبوسه ده نو ددي صورت دادی چې

داصل دهغې ورځې قيمت په کومه ورځ چې مرتهن په هغه قبضه کړې ده اودنماء دهغې ورځې قيمت په کومه ورځ راهن هغه خلاصوي به معلوم کړي اوپرهغو دواړو به دمرتهن قرض تقسيم کړای شي نوکوم چې داصل په مقابل کې راشي دقرض هغه مقدار به ساقطيږي اوکوم مقدار چې دنماء په مقابل کې راشي راهن به دهغه په اداء کولوسره نماء خلاصه کړي مثلاقرض لس درهمه دی اوداصل مرهون (مثلا)بزې قيمت دقبضې په ورځ لس درهمه دي اودنماء (مثلادبزې دبچي )قيمت دخلاصولوپه ورځ پنځه درهمه دی نودواړو قيمت پنځلس درهمه شواوس به قرض پرمجموعه قيمت باندې تقسيم کړای شي نوددين دوه ثلثه (يعنی شپږدرهمه اوديوه درهم دوه ثلثه )داصل (بزې )په مقابل کې راځي لهذا دقرض دامقدار به ساقطيږي اوددين يوثلث(يعنی درې درهمه اوديوه درهم يوثلث)دنماء په مقابله کې راځي کوم چې به راهن اداء کوي اونماء به خلاصوي .

(۵)په رهن کې زيادت کول جائزدی مثلايوکس يوه جامه دلسوروپوپه بدل کې رهن ايښې وه له دې څخه وروسته يې يوه بله جامه رهن کېښوده نوداجائزده ولې چې داداسې ده لکه په ثمن اومثمن کې چې زيادت وکړي نولکه څرنګه چې په ثمن اومثمن کې زيادت کول جائزده همداشان په رهن کې هم زيادت کول جائزده لهذاپه مذکوره صورت کې دواړه جامې دلسوروپوپه عوض کې رهن دي .مګرپه دين کې دطرفينورحمهماالله تعالی په نزداضافه کول جائزنه ده مثلاپه مذکوره صورت کې راهن وويل ماته نورې پنځه روپۍ هم په قرض راکړه اوزماهغه جامه کومه چې له تاسره دلسوروپوپه عوض رهن وه اوس دې دپنځلسوروپوپه عوض کې رهن وي ،نودطرفينوپه نزدداجامه دزيات شوي دين په عوض کې رهن نه ده ولې چې په دين کې اضافه په رهن کې شيوع پيداکوي په دې ډول سره چې مثلاراهن يوه جامه دزروروپوپه عوض کې رهن ايښې وه بيامرتهن قرض زيات کړدوه زره يې کړنواوس دجامې نصف غيرمعين دزروروپوپه بدل کې رهن شواونصف غيرمعين دهغونوروزروروپه بدل کې رهن شونوپه جامه کې شيوع پيداشوه اودا وړاندې تيره شوه چې رهن مشاع جائزنه دی .حال داچې دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپه قرض کې هم اضافه جائزده .

ف :دطرفينوقول راجح دی لمافی اللباب :قال ابويوسف رحمه الله تجوزالزيادة فی الدين ايضاقال فی التصحيح واعتمدقولهماالنسفی وبرهان الائمة المحبوبی کماهوالرسم (اللباب فی شرح الکتاب :۳۰۵/۱).وقال العلامة الحصکفی :(والزيادة فی الرهن تصح )وتعتبر قيمتهايوم القبض ايضا(وفی الدين لا)تصح خلافاللثانی والاصل ان الالحاق باصل العقدانمايتصوراذاکانت الزيادة فی معقودبه اوعليه والزيادةفی الدين ليست منهما(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار:۳۷۲/۵)

(۶)که پرڅلورزردرهمه قرض ووهغه دهغه په بدل کې يوداسې غلام رهن کېښودچې دهغه قيمت زردرهمه دی بياراهن مرتهن ته داول پرځای يوبل غلام بطوررهن ورکړاودهريوه غلام قيمت زردرهمه دی نودوهم غلام له مرتهن سره امانت دی اواول غلام رهن دی ترڅوچې مرتهن هغه راهن ته واپس کړي نوکه په همدې مابين کې اول غلام هلاک شونودمرتهن قرض ساقطيږي ولې چې درهن دهلاکت په صورت کې قرض ساقطيږي .اودوهم غلام له مرتهن سره امانت دی په دې وجه چې اول غلام دمرتهن په ضمان کې دی لهذادوهم غلام دهغه په ضمان کې نه داخليږي ولې چې راهن اومرتهن ديوه غلام په ضمان کې په داخليدلوراضي دي ددواړوپه دخول راضي نه دي ،بياچې کله مرتهن اول غلام واپس کړي نواوس دوهم غلام دهغه پرځای رهن شمارل کيږي .

## كتاب الجنايات

### دا كتاب د جناياتو په بيان كې دى

جنايات د جناية جمع ده لغة د تعدى او تجاوز په معنى ده ،او د شريعت په اصطلاح كې د فعل حرام نوم دى كه د دي فعل وقوع په مال كې وي او كه په نفس كې وي ،مګر د لته د فقهاؤ په عرف كې جنايت له هغه تعدى څخه عبارت دى كوم چې د انسان په نفس يا اطرافو (لكه لاس ،پښې ،پوزه او غوږ وغيره )كې واقع شوى وي .

د كتاب الجنايات له كتاب الرهن سره مناسبت دا دى چې رهن او د جناياتو احكام دواړه محافظ دي ،رهن د مال د حفاظت لپاره دى او د جناياتو احكام د نفوسو د حفاظت لپاره دي ،او څرنګه چې مال د نفس د حفاظت ذريعه او وسيله ده او وسيله او ذريعه احق بالتقديم وي په دي وجه كتاب رهن مقدم كړاى شو .

(۱) موجب القتل عمدا ،وهو ما تعمد ضربه بسلاح ونحوه في تفريق الأجزاء كالمحدد من الحجر والخشب والليطة والنار الإثم والقود عينا (۲) إلا أن يعفى لا الكفارة (۳) وشبهه ،وهو أن يتعمد ضربه بغير ما ذكر ،(۳) الإثم والكفارة ودية مغلظة على العاقلة لا القود (۳) والخطأ ،وهو أن يرمي شخصا ظنه صيدا أو حربيا فإذا هو مسلم أو غرضا فأصاب آدميا (۵) وما جرى مجراه كنائم انقلب على رجل فقتله (۶) الكفارة والدية على العاقلة (۷) والقتل بسبب كحافر البئر وواضع الحجر في غير ملكه الدية على العاقلة لا الكفارة (۸) والكل يوجب حرمان الإرث إلا هذا (۹) وشبه العمد في النفس عمد فيما سواها

**ترجمه** :د قتل موجب په داسي حال كې چې هغه عمدا وي او هغه دا دى چې قصد وكړي د وژلو په اسلحه سره او په هغه سره كوم چې د اسلحي په شان وي د بدن د اجزاء په جلا كولو كې لكه تيره لرګى او ډبره او د بانس پوستكى او اور ګناه ده او متعين قصاص ،مګر دا چې معاف كړاى شي نه كفاره ،او موجب شبه عمد او هغه دا دى چې قصد وكړي د وژلو له مذكوره شيانو څخه په ما سوا سره ،ګناه ده او ديت مغلظه ده پر عاقله باندي نه قصاص ،او موجب قتل خطاء ،او هغه دا دى چې وويشتي كوم كس د ښكار په ګمان سره يا د حربي كافر په ګمان سره حال دا چې هغه مسلمان وي يا وار وكړي پر نښان باندي او هغه ولګيږي پر انسان باندي ،او د جاري مجرى خطاء موجب لكه چې ويده راواوړي پر كوم كس باندي او هغه قتل كړي ،كفاره ده او ديت دى پر عاقله ،او د قتل بسبب موجب لكه د څاه كيندونكى يا د ډبري او ښودونكى د بل په ملك كې ،ديت دى پر عاقله نه كفاره ،د ټول اقسام واجبوي له وراثت څخه محرومولى مګر د آخري قسم ،او شبه عمد په وژلو كې ،عمد دى له دي څخه په ما سوا كې .

**تشريح** :هسي خو د قتل بيخي ډير قسمونه دي مګر د راتلونكي احكام يعني قصاص ،ديت ،كفاره وغيره چې له د قتل له كوموا قسامو سره متعلق دي هغه اقسام پنځه دي /نمبر۱ :قتل عمد /نمبر۲ :شبه عمد /نمبر۳ :قتل خطاء /نمبر۴ :قائم مقام خطاء /نمبر۵ :قتل بسبب .د كومو تفصيل چې مصنف صاحب په راتلونكي عبارت كې بيان فرمايلى دى .

(۱)قتل عمد دا دى چې د انسان په اسلحه سره د وژلو قصد وكړي يا په داسي شي سره د وژلو قصد وكړي كوم چې د انسان د اجزاء په پري كولو كې د اسلحي قائم مقام وي لكه تيره لرګى ،ډبره ،د بانس پوستكى او اور وغيره .وجه دا ده چې د قتل عمد لپاره قصد ضروري دى او قصد يو مخفي شى دى پر كوم چې بلا دليله

خبرتیاممکنه نه ده، اوکله چې قاتل داسې آلات استعمال کړل په کوم سره چې قتل واقع کیږي نو داد قتل د قصد دلیل دی په دې وجه به دې ته قتل عمد ویل کیږي .دقتل عمد حکم دادی چې قاتل سخت ګناه ګاردی ولی چې له شرک بالله څخه وروسته دانسان قتل له اکبرالکبائرڅخه دی اوله قاتل څخه به قصاص اخیستل کیږي اوقصاص متعین دی لقوله تعالی (کتب علیکم القصاص في القتلی).دامام شافعی یوقول دادی چې قصاص متعین نه دی بلکه دمقتول اولیا، دقصاص اوددیت په اخیستلوکې مختاردي .قوله موجب القتل .مرفوع مبتدا، دی اوالاثم والقود ځینا .ددې لپاره خبردی وهوماتعمدالی النار .جمله معترضه ده.

ف:دقصاص لفظي معنی مماثلت ده .مراددادی چې څومره ظلم چې کوم څوک پربل چاوکړي هغومره بدله دهغه بل نه اخیستل جائزده .له هغه څخه زیادت کول جائزنه ده .په همدا وجه ده چې دشریعت په اصطلاح کې قصاص ویل کیږي دقتل کولو اوزخمي کولو هغي سزاته په کومه کې چې دمساوات اومماثلت رعایت کړل شوي وي.

ف:دقصاص اخیستلوحق اګرکه دمقتول داولیاؤدی .مګرباجماع امت هغوئ لره دخپل دي حق په خپله دوصولولو اختیارنشته .چې په خپله قاتل ووژني بلکه ددې حق دحاصلولولپاره دسلطان مسلم یادهغه دکوم نائب حکم ضروري دی .ولی چې قصاص په کوم صورت کې واجبیږي په کوم کې نه واجبیږي .دهغه جزئیات هم دقیق دي کوم چې هرکس نشي معلومولای .له دې څخه علاوه دمقتول اولیا په خپله غصه کې دمغلوب کیدلو په وجه سره زیادتي هم کولای شي .په دې وجه باتفاق علماء امت دقصاص دحق دحاصلولولپاره داسلامي حکومت طرف ته رجوع کول ضروري ده (معارف القرآن :۱/۴۳۷)

(۲)البته که دمقتول اولیاء قاتل معاف کړي یاله هغه سره صلح وکړي نوبیابه قصاص نه اخیستل کیږي ولی چې قصاص اخیستل داولیاء حق دی نوهغوئ یې معافولی هم شي .اودقتل عمد په صورت کې پرقاتل کفاره نشته ولی چې قتل عمد ګناه کبیره ده اوپه کفاره کې دعبادت معنی شته لهذا ګناه کبیره دکفاري لپاره سبب نه شي ګرځیدلای .امام شافعی په قتل عمد کې هم دکفاري دوجوب قائل دی هغه قتل عمدپرقتل خطاء قیاسوي.

(۳)قتل شبه عمد دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دادی چې قاتل په داسې شي سره دوژلوقصدوکړي کوم چې نه اسلحه وي اوداسلحې قائم مقام وي اوداشبه عمدپه دې وجه دی چې قاتل داسې آله استعمال کړي ده کومه چې غالباپه قتل کې نه استعمالیږي بلکه په دې آله سره دغیرقتل یعنی تادیب وغیره قصدکیږي نودعمدیت دمعنی دقاصروالي په وجه سره به دې ته شبه عمدویل کیږي .دصاحبینو په نزدشبه عمد دادی چې قاتل په داسې شي سره دمقتول دوژلوقصدوکړي په کوم سره چې غالباقتل نه کیږي .لهذا دصاحبینو په نزدکه قاتل په لویه ډبره یاپه لوي لرګي سره وژل وکړل نوداشبه عمدنه بلکه قتل عمددی ولی چې په دې سره غالباقتل واقع کیږي نوداقتل لره دوضع شوي آلي په درجه کې ده .دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لماقال العلامة ابراهیم ابن محمدالحلبي:وعنه(ای عن ابی حنیفه)انمایجب اذاجرح وهوالاصح (مجمع الانهر:۴/۳۱۹)

(۴)قوله والاثم والکفارة ای موجب شبه عمدالاثم والکفارة ،یعني دشبه عمد علی اختلاف القولین حکم دادی چې قاتل گناه گاریږي ولی چې قاتل دوژلو قصد کړی دی او دقاتل پرعاقله (له کومي محکمي سره چې دچاتعلق وي هغه محکمي والادهغه عاقله دي اوکه یې له محکمې سره تعلق نه وي نودهغه دخاندان والاته عاقله ویل کیږي )دیت دی ولی چې شبه عمددباری تعالی ددي ارشاد(ومن قتل مومناخطاء الخ )په قضیه کې داخل دی .اودیت مغلظه (یعني سل اوښان چې له هغوئ څخه به پنځه ویښت یوکلني وي اوپنځه ویښت به دوه کلني اوپنځه ویښت به دري کلني اوپنځه ویښت به څلورکلني وي )دی ولی چې پردي دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده .اوشبه عمدموجب قصاص نه دی یعني دشبه عمدپه صورت کې به له قاتل څخه قصاص نه اخیستل کیږي ولی چې دقتل آلي ته په کتلوسره شبه عمدله قتل خطاء سره مشابه دی .قوله وشبهه ای وموجب شبهه،مرفوع مبتداء دی اوالاثم والکفارة ددي لپاره خبردی ،اووهوان یتعمدضربه الخ ،جمله معترضه ده .

**فائده** :ددیت په باره کې قاعده داده چې کوم دیت چې براه راست په قتل سره واجبیږي هغه دقاتل پرخاندان واجبیږي اوکه له قتل څخه وروسته په مصالحت وغیره سره واجب شونوهغه پرخپله پرقاتل واجبیږي .

(۵)قوله والخطاء ای وموجب الخطاء ،قتل خطاء پردوه قسمه دی /نمبر۱:خطاء فی القصد./نمبر۲:خطاء فی الفعل .خطاء فی القصددادی چې کوم کس په دي گومان سره ووژني چې ښکاردی یامعلومه شي چې هغه انسان وو.یاکوم کس حربي وگڼي اووي وژني اوهغه مسلمان وي .اوخطاء فی الفعل دادی چې کوم څوک دښکاریانښاني لورته غشی وارکړي اوهغه دنښاني پرځای پرانسان ولگیږي .قوله والخطاء ای وموجب الخطاء ،معطوف علیه اووماجری مجراه ،معطوف دی ،معطوف سره له معطوف علیه مرفوع مبتداء دی اوالکفارة والدیة علی العاقلة ،ددي لپاره خبردی ،او ،وهوان یرمی شخصا الخ ،جمله معترضه ده .

(۶)قوله وماجری مجراه ای موجب ماجرای مجراه ،دقتل څلورم قسم دخطاء قائم مقام دی ،دخطاء قائم مقام دادی چې کوم کس مثلا دخوب په حالت کې اړخ بدل کړي اوکوم بل څوک ترده لاندي شي اومړشي ،په خطاء اوقائم مقام کې فرق دادی چې په خطاء کې دقاتل له طرف څخه قصددقتل شته حال داچې په قائم مقام خطاء کې دقاتل له طرف څخه قتل نشته ولی چې نائم دکوم شي قصدنه شي کولای .

(۷)قوله والکفارة والدیة علی العاقلة ای موجب الخطاء ومایجری مجراه الکفارة والدیة علی العاقلة ،دقتل خطاء (دواړه قسمه )اودقائم مقام خطاء حکم دادی چې په دي کې پرقاتل کفاره ده اودقاتل پرعاقله دیت دی لقوله تعالی (فتحریر رقبة مؤمنة ودیة مسلمة الی اهله) (یعني رقبه مؤمنه دي آزاده کړي اودمقتول والاؤته دي دیت ورکړي ) .

څرنگه چې په قتل قائم مقام خطاء کې هم هغه حکم دی کوم چې دخطاء دی دقتل خطاء په دواړو قسمونو کې پرقاتل گناه نشته ،مگرمراددقتل دگناه نفی ده فی نفسه فعل له گناه څخه خالي نه دی ولی چې دغشي ویشتلوپروخت چې له کوم احتیاط باید کاراخیستل شوی وای ده هغه احتیاط ونه کړ .

(۸)قوله والقتل بسبب ای موجب القتل بسبب ،دقتل پنځم قتل بسبب ده ،قتل بسبب دادی چې مثلا چادحاکم له اجازت څخه بغیر دبل چاپه ځمکه کې څاه وکیندی یاپه هغه کې څوک ولویږي اومړشي یایې دهمداسي

خمكې دلارې په منځ كې ډيره كنيښوده چې له هغې سره په ټكر كيدلو باندې څوك مړشودې ته قتل بسبب په دې وجه ويل كيږي چې دځاه كيندونكى دمقتول په وژلوكې متعمدنه دى اونه مخطى دى هودځاه په كيندلوكې هغه په تعدى كولوسره دقتل سبب جوړشو.

(٩)يعنى دقتل بسبب حكم دادى چې دځاه كيندونكي پرعاقله ديت دى ولى چې دى دتلف كولوسبب جوړشوى دى ،البته پرده كفاره نه واجبيږي ولى چې دى بنفسه دقتل مباشرنه دى ،قوله والقتل بسبب اى موجب القتل بسبب ،مرفوع مبتداء دى او،الدية على العاقلة ،دې لره خبردى ،اوكحافرالبيرالغ ،دقتل بالسبب تفسيردى.

دقتل يونوى قسم :دساؤت افريقې ځيني مسلمانوډاكټرانودادارالعلوم ديوبندله حضرت مولانامفتى نظام الدين صاحب څخه دقتل ديونوى قسم په باره كې سوال كړى دى دهغوسوال اودحضرت مفتى صاحب ځواب دهمده په الفاظونقل كوم .فرمايي :يوتهينزيا(euthansia)يايوتهينزيامطلب دادى چې مريض كوم چې په شديدتكليف كې مبتلاء وي ،اودهغه دژوندي پاتي كيدلوكوم اميدنه وي وياهغه ماشومان كوم چې ترغيرمعمولي حدپوري معذوروي ،اودهغوئ ژوندمحض يوقسم بوج وي دداسي مريضانواوماشومانوژوندختم كول ترڅوهغوئ له تكليف څخه نجات وومومي ،اوپه آساني سره پرهغوئ مرګ راشي .يوتهنزياپردوه قسمه ده (١)ايكټيو(actiye)(٢)پسيو(passive).

دايكټيويوتهنزياصورت دادى چې ډاكټرانولره مريض ته ترمرګ پوري درسولولپاره كوم مثبت عمل كول په كاروي ،مثلاً دكينسرمريض كوم چې په شديدتكليف مبتلاء وي ياهغه مريض كوم چې دبې هوشي ښكاروي ،همدراز ددې په باره كې دډاكټرانوداخيال وي چې دده دژوندانه اوس كوم اميدنشته ،داسي مريض ته دردد كمونكي تيزه دواپه ډيره اندازه كې وركول كيږي ،په كومه سره چې دمريض ساه دريږي .همداشان كله داسي مريض دكوم په سركې چې شديدزخم لګيدلى وي ،يادمننجائټس په شان ناروغي په وجه سره بې هوشه وي اودهغه دروغتياكوم امكان دډاكټرانوپه نزدنه وي محض په مصنوعي تدبيرونوسره دهغه ساه چلول كيږي ،كه دامصنوعي آله ليري كړاى شي نودمريض دساه تلل راتلل بنديږي ،په داسي حالاتوكې دامصنوعي آلات ليري كول ترڅومريض په مكمل ډول سره مړشي ،داهم دايكټيويوتهنزيايوقسم دى.

(٢)دپسيوتوتهيريامطلب دادى چې دمريض دمړه كولولپاره كوم عمل اوتدبيرنه كيږي ،بلكه دهغه دژوندي پاتي كيدلولپاره چې كوم ضروري علاج كول په كاروي هغه نه كيږي ،اوهغه مريض مړكيږي ،مثلاً دكينسريابې هوشي يادماغي زخم يامننجائټس مريض په نمونيه اخته شي كوم چې قابل علاج دى ،ليكن ډاكټرددې مريض علاج ونه كړي ،ترڅودده مرګ زرترزره واقع شي ،همداشان داسي ماشومان كوم چې په شديدډول سره معذوروي مثلاً دهغوئ دملاپه هډوكي كې داسي خرابي وي دكومي په وجه سره چې دهغه ښېنې مفلوجې وي ياپه بولوياپاخانه قابوباقي نه پاتي كيږي ،دماشوم دماغ دپيدائش په وخت كې مجروح شوى وي ،په داسي حالت كې ټول ژوندمريض يودروندبارګرځي .اوس كه داسي ماشومانوته نمونيه ياكوم بل قابل علاج مرض پيداشي ،نودهغوئ دعلاج په نه كولوسره هغوئ ته له ژوندانه څخه دنجات

وي اوهغه دروغتياكوم امكان دډاكټرانوپه نزدنه وي محض په مصنوعي تدبيرونوسره دهغه ساه چلول كيږي ،كه دامصنوعي آله ليري كړاى شي نودمريض دساه تلل راتلل بنديږي ،په داسي حالاتوكې دامصنوعي آلات ليري كول ترڅومريض په مكمل ډول سره مړشي ،داهم دايكټيويوتهنزياډيوقسم دى .

(۲)دپسيوتوتهيرامطلب دادى چې دمريض دمړه كولوپاره كوم عمل اوتدبيرنه كيږي ،بلكه دهغه دژوندي پاتي كيدلوپاره چې كوم ضروري علاج كول په كاروي هغه نه كيږي ،اوهغه مريض مړكيږي ،مثلاً دكينسرياپي هوشي يادماغي زخم يامننجائټس مريض په نمونيه اخته شي كوم چې قابل علاج ده ،ليكن ډاكټرددي مريض علاج ونه كړي ،ترڅوددې مرګ زرترزره واقع شي ،همداشان داسي ماشومان كوم چې په شديدډول سره معذوروي مثلاً دهغوئ دملاپه هډوكي كې داسي خرابي وي دكومي په وجه سره چې دهغه پښي مفلوجې وي ياپه بولوياپاخانه قابوباقي نه پاتي كيږي ،دماشوم دماغ دپيدائش په وخت كې مجروح شوى وي ،په داسي حالت كې ټول ژوندمريض يودروندبارګرځي .اوس كه داسي ماشومانوته نمونيه ياكوم بل قابل علاج مرض پيداشي ،نودهغوئ دعلاج په نه كولوسره هغوئ ته له ژوندانه څخه دنجات وركولوصورت اختياروي پسيويوتهينزياده .په هرحال ديوتهنزيامقصدمريض اودهغه اعزّاته له طويل تكاليفو څخه نجات وركول دي .

نوآياپه مذكورالصدرصورت كې اسلام عمداًكوم داسي فعل اجازت وركوي دكوم په ذريعه سره چې كوم مريض ته له شديدوتكاليفو څخه دنجات وركولوپاره ترمرګه رسول كيږي ،اوآيااسلام ددي مقصدپه خاطردمعالجي دپرېښودلواجازت وركوي ؟

الجواب :لومړى مسئله ،ديوتهنزيا(۱،۲)ددي دواړوتدبيرونومقصدغرض مريض لره يادهغه متعلقينولره له تكاليفو څخه نجات وركول يادهغوئ تكاليف كمول مذكوردي ،په دي وجه لومړى خبره خوداده چې ددي تجربه هيچالره نشته اونه كيداى شي ،چې په طبعي مرګ كې ډيرتكليف وي ياپه غيرطبعي مرګ كې ډيروي په دي وجه چې تجربه خوبه هغه چاته وي كوم چې له مرګ څخه وروسته ژوندى شي اوبيان وكړي اوداسي نه شوي ده اونه كيداى شي .بلكه مشاهده ددي خلاف ده ،په طبعي مرګ كې اكثره تكليف كم ليدل كيږي ،اوپه غيرطبعي مرګ كې ډيرليدل كيږي .

همداشان په متعين مريض اوپاى وازي كې مشاهده اكثره ددي ده چې دپاى وازى په پالنه كې په ظاهره تكليف ښكاريږي .مګرله مرګ څخه وروسته سكون اوتسلي ډيره زركيږي ،چې څومره چې دده په وس كې ووهغه يې وكړل وړاندي دقدرت خبره وه كومه چې دده په اختياركې نه ده په دي وجه ډيرزرصبراوسكون حاصليږي .په خلاف دغيرطبعي مرګ چې دهغه رنج اوغم ډيروختونه دماغ خرابوي ،ياله كلنواوزمانو وروسته ختميږي .

اوكه داشبه وي چې ډيروختونه مريض اوپاى وازپه دي تكليف اوسختئ كې كلنوكلنومبتلاء وي ،اوپه دي تدبيرونوسره زرله دي تكاليفو څخه خلاصيږي ،نوددي ځواب دادى چې ددنياژوندڅوورځې اومحض عارضي دى ،اوآخرت دائمي دى ،اواصلي ژونددائمي اوابدي وي ،كوم چې دآخرت ژوندى دى ،هلته كله هـ

مرګ نه راځي ،دلته كه په ويريدلوسره غيرطبعي مرګ طاري كړای شي نوله دي څخه په ويريدلوداسي كونكی دآخرت ژوند دهميشه لپاره تباه اوبربادېږي ،اوكله مرګ هم نه راځي چې خلاصي حاصله شي ،په دي وجه عقلاهم داجانب مرجح نه شي كيدلای چې ددي په وجه سره دي دمذكوره تدابيرو اجازت وركړل شي ،غرض دتجربي اومشاهدي وغيره په حيثيت سره داجازت هيڅ مرجح نشته .

دوهمه خبره داده چې اګركه په تجربه يامشاهده وغيره دلائلوسره كومه فيصله ونه شي بياهم دصادق اومصدوق په خبره سره داخبره متعينه ده چې مؤمن لره په طبعي مرګ اوشهادت كې تكليف ډيرلږوي اوغيرمؤمن لره په هرحال كې تكليف ډيرزيات وي ،ارشادرباني (والنازعات غرقاوالناشطات نشطا)كې هم همداخبره ښودل شوي ده چې كه طبعي مرګ وي ياغيرطبعي مرګ وي په دواړوحالتونوكې مومن لره تكليف لږوي ،نوكه ددواء وغيره په ذريعه سره غيرطبعي مرګ طاري كړای شي نومريض خوشهيد كيږي اوداګركه دده لپاره ښه ده مګردغيرطبعي مرګ طاري كونكی اكثره وختونه دقتل دګناه په وبال كې مبتلاء كيږي ،اوډيروختونه ديت اوضمان وغيره واجب الاداء كرځي اوتوبه كول هم لازم ګرځي ،لكه څرنګه چې دهغه حمل په ساقطولوكې دقتل دګناه وبال راځي په كوم كې چې دروح دراتلوګمان وي ،اوپه ځينوصورتونوكې ديت اوضمان هم شرعالازميږي اوكله چې دروح دمحض ګمان اواحتمال په صورت كې داسزااووبال دی ،نودروح ديقينا موجودوالی په صورت كې چې كوم وبال وي هغه ظاهردی ،په داسي موقع كې لږترلږه دقتل ګناه خوضروروي .

درواياتوجمع كولوداوخت محل نه دی ،احاديثوته په رجوع كولوسره ددي تفصيل معلوميدلای شي ،چې مريض ته چې كوم غيراختياريه تكاليف رسيږي اوهغه پرهغوصبركوي اوخپل خدای ﷻ ته يې سپاري نوهغه لره داتكاليف دهغه دګناهونوكفاره جوړيږي ،اوپه آخرت كې يې درجاتي لوړيږي ،اوښه ژوندوركول كيږي ،حتی كه مړكيدونكی معصوم يانابالغ وي ،نودهغه په دي تكليفونوسره دهغه والدينواومتعلقينوپای وازانوته كله چې هغوئ پردي صبركوي اودكلفت په برداشتولوسره يې الله ﷻ ته تفويضوي نودهغوئ ګناه هم ختميږي اوآخرت يې ښائسته كيږي.

بالكل همداحال دبالغينواوغيرمعصومينودمتعلقينواوپای وازانوهم وي چې په دي تكاليفوصبر كونكو اودهغه دصحت **اوروغتياپه تدبيرمشغول پاتي** كيدونكولپاره داتكاليف كفاره ذنوب اوپه آخرت كې ددرجاتودلوړوالي ذريعه جوړيږي ،اوبياهميشه هميشه ترابدالاباد پوري راحت اوسكون ورته حاصليږي.

په دي وجه له دواړوتدبيرونوڅخه دكوم يوه تدبيرحكم يااجازت په شريعت مقدسه كې هيڅكله نشته ،البته ددواړتدبيرونوپه حكم كې فرق دادی چې په نمبرا كې غيرطبعي مرګ په دواء وغيره سره طاري كولوكې خوپرداسي كونكي دقتل ګناه اووبال راځي ،ډيروختونه شرعاديت اوضمان وغيره هم لازميږي ،اوپه نمبر۲كې داحكم (يعنی دقتل ګناه وغيره )خونه شته ،ليكن ترك تدبيراودصحت لپاره ترك سعی فعل مذموم اوقبيح اودشريعت له منشاء څخه خلاف ده اوكه دسستي اولاپرواهي په وجه سره كه داسي وكړای شي نومؤاخذه په هم ضروروي .(نظام الفتاوی :۳۸۹/۱تا۳۹۲)

## باب مایوجب القود ومالا یوجبه

دا باب دهغو امورو په بیان کې دی کوم چې موجب قصاص دي او کوم چې موجب قصاص نه دي
مصنف رحمه الله د قتل دانوا عو له بیان څخه فارغ شو نو په تفصیل یې شروع وکړه چې کومه نوعه موجب قصاص ده او کومه د قصاص موجبه نه ده.

(۱) یجب القصاص بقتل کل محقون الدم علی التابید عمدا (۲) ویقتل الحر بالحر وبالعبد (۳) والمسلم بالذمي لا بالمستامن (۴) والرجل بالمرأة والکبیر بالصغیر والصحیح بالأعمی والزمن وناقص الأطراف وبالمجنون والولد بالوالد (۵) ولا یقتل الرجل بالولد والأم والجد والجدة کالأب (۶) وبعبده ومدبره ومکاتبه وبعبد ولده وبعبد ملک بعضه (۷) وان ورث قصاصا علی أبیه سقط (۸) وانما یقتص بالسیف

**ترجمه**: واجبیږي قصاص د هر داسې کس په عمدا وژلو سره کوم چې محفوظ الدم وي د همیشه لپاره. او قتل کیږي به حر، د حر او غلام په بدله کې، او مسلمان د ذمي په بدله کې او مسلمان او ذمي نه قتل کیږي د مستامن په بدله کې. او نارینه د ښځې په بدله کې او بالغ د نابالغ په بدله کې او روغ د ړانده، شل، ناقص الاعضاء او لیوني په بدله کې او زوی د پلار په بدله کې. او نه قتل کیږي کوم کس د زوی په بدله کې او مور او نیکه او انا د پلار په شان دي. او مالک (نه قتل کیږي) د خپل غلام او مدبر او مکاتب او د خپل زوی د غلام په بدله کې کوم چې مالک وي د هغه د بعض. او که وارث شو د قصاص پر خپل پلار باندي نو ساقطیږي. او قصاص به اخیستل کیږي په صرف توره سره.

**تشریح**: (۱) قصاص هغه وخت واجبیږي (ثابتیږي) کله چې مقتول داسې کس وي چې د هغه وینه د همیشه لپاره محفوظه وي او عمدا وژل شوی وي لکه مسلمان او ذمي. په خلاف د واده شوي زاني او مرتد چې محفوظ الدم نه دي. همدا شان حربي کافر او مستامن دی ولی چې حربي خو محقون الدم نه دی او مستامن اګر که په دارالاسلام کې محقون الدم دی مګر دا علی التابید نه دی بلکه کله چې هغه واپس دارالحرب ته ولاړ شي نو هغه مباح الدم ګرځي.

(۲) ازاد کس ازاد په بدل کې هم قتل کیږي او د غلام په بدل کې هم قتل کیږي او غلام هم د ازاد او غلام دواړو څخه د هر یو په بدل کې قتل کیږي ولی چې د باری تعالی ارشاد (ان النفس بالنفس) (یعنی نفس دی د نفس په مقابل کې قصاص کړای شي) مطلق دی. همدا راز په قصاص کې مساوات ضروري دی او په مذکوره کسانو کې د معصوم الدم والی په اعتبار سره مساوات موجود دی.

ف: د امام شافعي رحمه الله په نزد آزاد قاتل د غلام مقتول په بدل کې نه شي قتل کیدای ولی چې د قصاص لپاره په قاتل او مقتول کې د مساوات موجود والی ضروري دی حال دا چې حر مالک او غلام مملوک دی او په مالک او مملوک کې مساوات نشته لهذا قصاص به هم نه وي. احناف ځواب ورکوي چې مساوات د عصمت تر حده په دواړو کې موجود دی یعنی حر او غلام دواړه معصوم الدم دي ولی چې د عصمت حصول په اسلام او په دارالاسلام کې د موجود والي په وجه سره ثابتیږي او دا دواړه خبرې په غلام او حر دواړو کې متحققي دي لهذا ثابته شوه چې د دواړو په منځ کې مساوات شته لهذا دیوه په له هغه بل څخه قصاص هم اخیستلی کیږي.

(۳)قوله والمسلم بالذمي اي يقتل المسلم بالذمي .يعني مسلمان به دذمي کافرپه بدل کې قصاصيږي ولې چې نبي کريم ﷺ مسلمان دذمي په بدل کې قتل کړی وو.همدارازذمي ځکه چې دعلی التابيدمحفوظ الدم والی په وجه سره له مسلمان سره مساوي دی په دي وجه به دذمي په بدله کې مسلمان قتل کيږي .البته مسلمان اوذمي به دمستامن په بدله کې نه قصاصيږي ولې چې مستامن دعلی التابيدنه محفوظ الدم والی په وجه سره له مسلمان اوذمي سره مساوي نه دی.

(۴)قوله والرجل بالمراة والکبير بالصغير ای يقتل الرجل بالمراة والصغير بالکبير الخ .يعني نارينه به دښځې په بدل کې قتل کيږي اولوی به دکوچني په بدل کې ،اوصحيح اعضاء والابه دناقص الاعضاء په بدل کې اوعاقل به دمجنون په بدل کې اوروغ به دړانده په بدل کې ،اودشل په بدله کې اوزوی به دپلارپه بدله کې قتل کيږي ولې چې په نصوصوکې تعميم دی .همدرازدعصمت ترحده په دي ټولوکې مساوات موجوددی اوپه دي باب کې همدامساوات فی العصمة معتبردی ولې چې که دقصاص لپاره دهرقسم مماثلت اعتباروکړای شي نودقصاص دروازه به بنده شي دکوم په نتيجه کې به چې فتني ډيري شي .

(۵)پلاربه دزوی په بدل کې نه قتل کيږي لقوله ﷺ لايقادالوالدبولده والسيدبعبده (له پلارڅخه به دخپل زوی په بدل کې قصاص نه اخيستل کيږي اوله مولی څخه به دخپل غلام په بدل کې قصاص نه اخيستل کيږي ).همدارازپلاردزوی دژوندانه سبب دی نوزوی لره داستحقاق نه شي حاصليدای چې هغه پلارفناء کړي .همداحکم دنيکه ،انا ،دموردپلار ،اودموردموروان علاهم دی لمابينا .

(۶)قوله وبعبده ای لايقتل المولی بعبده .يعني که مولی خپل غلام يامدبريامکاتب قتل کړنودهغوئ په بدل کې به مولی نه قتل کيږي ولې چې په دي صورت کې دقصاص وارث مولی دی نوخپل ځان لره به پرخپل ځان قصاص واجبول لازم شي کوم چې باطل دی .که چادخپل زوی غلام قتل کړنوهم به قاتل نه قتل کيږي ولې چې زوی هم پرخپل پلاردقصاص مستحق نه شي ګرځيدلای .همداشان که يې کوم داسي غلام قتل کړچې دهغه دبعض حصي قاتل مالک دی نوهم به قاتل نه قتل کيږي ولې چې په قصاص کې تجزی نشته چې دهغه دخپلي حصي قصاص خوونه خيستل شي اودهغه بل دحصي قصاص واخيستل شي .

(۷)که کوم څوک پرخپل پلاردقصاص وارث شي نوقصاص ساقطيږي ولې چې فرع پرخپلواصولوقصاص نه شي واجبولی .ددي صورت دادی چې چاخپل خسرقتل کړاودقاتل له زوجي څخه ماسوادمقتول هيڅ وارث نشته بياله قاتل څخه دقصاص له اخيستلووړاندي دابنځه مړه شوه نوددي ښځې زوی (کوم چې دقاتل له نطفې څخه دی )ددي قصاص وارث شوکوم چې دده پرپلارواجب دی نودا قصاص ساقطيږي .

(۸)قصاص به په توره سره اخيستل کيږي په کوم بل شي سره نه اګرکه قاتل له توري اواسلحي ماسواپه کوم بل شي سره مقتول کړی وي لقوله ﷺ لاقودالابالسيف (يعني قصاص نشته مګرپه توره سره )،مګرله توري څخه مراداسلحه بياکه توره وي ياکلاشينکوف وي وغيره .

ف:امام شافعي رحمه الله فرمايي چې قاتل چې په کوم فعل سره مقتول قتل کړی وي په دي شرط چې هغه فعل مشروع وي نوله قاتل سره به هغه فعل کيږي ولې چې يوه يهودي ديومسلماني ښځې سرددووډبروپه منځ کې

اینبې وواوتړکولی یې وو .نونبی کریم ﷺ حکم وفرمايه چې ديهودی سردي هم همداسې ورو تړکول شي ،احناف ځواب ورکوي چې مذکوریهودی مشهورفسادي ووپه دي وجه نبی کریم ﷺ سیاسة همداشان حکم فرمایلی وودنبی کریم ﷺ داحکم قصاصانه وو.

(٩)مكاتب قتل عمدا وترك وفاء ووارثه سيده اقتص(١٠)اولم يترك وفاء وله وارث يقتص(١١)وان ترك وفاء ووارثا لا(١٢)وان قتل عبد الرهن لايقتص حتى يجتمع الراهن والمرتهن(١٣)ولأبي المعتوه القود والصلح لا العفو بقتل وليه(١٤)والقاضي كالأب(١٥)والوصي يصالح فقط(١٦)والصبي كالمعتوه(١٧)وللكبار القود قبل كبر الصغار وان قتله بمر يقتص إن اصابه الحديد والا لا كالخنق والتغريق(١٨)ومن جرح رجلا عمدا وصار ذا فراش ومات يقتص(١٩)ومن مات بفعل نفسه وزيد وأسد وحية ضمن زيد ثلث الدية

**ترجمه** :كوم مكاتب قتل كړای شو عمدا وهغه پرېښود دكتابت په اندازه مال اودهغه وارث صرف دهغه مالک دی ،یاهغه نه وو پرېښی دكتابت په اندازه مال اودهغه كوم وارث وونو قصاص به اخيستل كيږي ،اوكه يې پرېښود دبدل كتابت په اندازه مال اووارث نونه ،اوكه قتل كړای شو مرهون غلام نوقصاص به نه اخيستل كيږي ترڅو چې يوځای شي راهن اومرتهن ،اودمعتوه پلارلره صرف قصاص اوصلح ده نه معاف كول دهغه دولی په قتل كولوسره ،اوقاضي دپلارپه شان دی ،اووصی صرف صلح كولی شي ،اونابالغ دمعتوه په شان دی ،اوبالغ وارثانولره قصاص شته دنابالغوله بالغ كيدلو څخه وړاندي اوكه قتل كړای شو څوک په كدال سره نوقصاص به اخيستل كيږي كه ورسيدی ده ته داورسپيني والاطرف كه نه نونه لكه ترغاړه نيول اوډوبول،اوچاچې زخمي كړكوم څوک عمدا یاهغه صاحب فراش پاتي شواومړشونوقصاص به اخيستل كيږي ،اوكه مړشوپه خپل فعل سره اودزيد اوزمري اومارپه فعل سره نوضامن دی زيد دثلث ديت .

**تشريح** :(٩)كه چامكاتب عمدا قتل كړاوهغه دومره مال پرېښود چې په هغه سره بدل كتابت اداء كيدای شواي اوله مولی څخه ماسوا كوم بل څوک دهغه وارث نه وونودشيخينو رحمهما الله تعالی په نزد به له قاتل څخه قصاص اخيستل كيږي اودقصاص اخيستلو حق مولی لره دی .دامام محمد رحمه الله په نزدمولی لره دقصاص اخيستلوحق نشته ولی چې دقصاص اخيستلوپه سبب كې اشتباه ده په دي وجه چې كه ومنل شي چې هغه دازادي په حالت كې مړشوی دی نودقصاص اخيستلوسبب ولاء ده ،اوكه داومنل شي چې دغلامي په حالت كې مړشوی دی نودقصاص اخيستلوسبب ملک دی لهذامولی لره دقصاص اخيستلوحق نشته ،دشيخينو رحمهما الله تعالی دليل دادی چې په دواړوصورتونوكې دقصاص اخيستلوحق مولی لره حاصل دی ولی چې مولی معلوم دی اوحكم (يعنی قصاص وصول كول )هم متحددی سبب اگركه مشتبه ده مگرداحكم لره مضرنه دی .

**ف**:دشيخينو قول راجح دی : كماقال ابراهيم ابن محمدالحلبي :وكذايقتص المولى ان كان له وفاء ولاوارث له غيره سيداى المكاتب عندالشيخين لان حق الاستيفاء للمولى يتعين لانعدام الوارث وتعددالسبب لايقتضى تعددالحكم لايؤدى الى المنازعة لاتحادالحكم للمولى ،خلافالمحمدفان عنده لايقتص المولى لانه لايستوفى لاشتباه سبب الاستيفاء وهوالولاء ان مات حراوالملک ان مات عبدا(مجمع الانهر:٣/٣١٧)وقال محشى الكنز:بان اختلاف السبب لايفضى الى المنازعة من الفتح والعينى بتوضيح زيادة (وعليه المتون )(هامش الكنز:ص٣٥٠)

(۱۰)که چامکاتب قتل کړ مګر هغه دومره مال نه پرېښود چې په هغه سره بدل کتابت اداء شي او د هغه ورثه هم موجود وي نو په دې صورت کې بلاتفاق قصاص اخیستل کېږي او د قصاص اخیستلو حق مولی لره دی ولې کله چې ده دومره مال نه دی پرې ایښې چې په هغه سره بدل کتابت اداء شي نو هغه د بدل کتابت له اداء کولو څخه عاجز شو نو هغه غلام مړ شوی دی لهذا حق قصاص صرف مولی لره حاصل دی.

(۱۱)که چامکاتب عمداً قتل کړ او هغه د بدل کتابت په اندازه مال پرېښود او له مولی څخه علاوه د مقتول نور وارثان هم شته نو په دې صورت کې هیچا لره د قصاص اخیستلو حق حاصل نه دی اګر که ورثه له مولی سره یو ځای شي ولې چې په دې صورت کې د قصاص په مستحق کې اشتباه ده په دې وجه چې که ازاد مړ شوی وي نو مستحق قصاص ورثه دي او که غلام مړ شوی وي نو مستحق قصاص مولی دی.

(۱۲)که چامرهون غلام قتل کړ نو تنها راهن یا مرتهن لره د قصاص اخیستلو حق نشته بلکه د دواړو یو ځای کېدل شرط دي مرتهن خو په دې وجه یواځې د قصاص اخیستلو حقدار نه دی چې مرتهن د غلام مالک نه دی او راهن یواځې په دې وجه حقدار نه دی چې که راهن د قصاص متولی شي نو په دې سره د مرتهن حق فی الدین باطلېږي ولې چې له قاتل څخه په قصاص اخیستلو سره رهن بلابدله هلاکېږي او د بلابدل هلاکت رهن په صورت کې د مرتهن حق فی الدین باطلېږي.

که چا د کوم معتوه (پاګل) کوم قریب قتل کړ نو د معتوه پلار لره له قاتل څخه د قصاص اخیستلو او له هغه سره د صلح کولو حق شته نه د معافولو مثلاً د کوم معتوه زوی چا عمداً قتل کړ نو اوس د دې معتوه پلار لره دا حق حاصل دی چې د خپل دې لمسی قصاص واخلي ولې چې پلار لره د خپل معتوه زوی پر نفس باندې ولایت حاصل دی او قصاص اخیستل د ولایت علی النفس له باب څخه دی لهذا پلار لره د قصاص اخیستلو حق شته .همدا شان د معتوه پلار لره دا حق هم حاصل دی چې هغه له قاتل سره پر مال باندې صلح وکړي ولې چې په دې کې د معتوه فائده ده چې هغه د مال مالک ګرځي کوم چې به د ده په کار راشي .مګر پلار لره دا حق نشته چې هغه قصاص معاف کړي ولې چې په دې کې د معتوه نقصان دی.

(۱۳)لکه څرنګه چې پلار لره د قصاص اخیستلو او صلح کولو اختیار شته همدا شان قاضی لره هم شته ولې چې قاضی او پلار د واړو لره ولایت حاصل دی په دې وجه چې که کوم کس عمداً قتل کړای شي او د هغه کوم ولي نه وي نو د هغه قصاص به سلطان وصول کوي او قاضي د سلطان نائب دی لهذا قاضی لره به هم د قصاص اخیستلو حق حاصل وي.

(۱۴)او که په مذکوره بالاصورت کې د معتوه پلار هم نه وي البته د پلار وصی وي نو هغه صرف پر مال صلح کولی شي قصاص نه شي اخیستلی ولې چې د قصاص اخیستلو حق هغه وخت وي چې هغه لره پر نفس ولایت حاصل وي او وصي لره د معتوه پر نفس ولایت حاصل نه دی.

(۱۵)او نابالغ ماشوم په مذکوره بالاحکم کې د معتوه په شان دی یعنی که د هغه کوم ولي چا قتل کړ مثلاً د هغه اخیافي ورور (صرف په مور ګډ ورور) چا قتل کړ او د هغه نابالغ پلار موجود وي نو د هغه پلار لره اختیار شته که یې خوښه وي نو له قاتل څخه دې قصاص واخلي او که یې خوښه وي نو پر مال دې صلح ورسره وکړي ولې چې

پلارله دنابالغ پرنفس ولايت حاصل دى .مگرپلارله دقصاص دمعافولوحق نشته ولى چې په دي كې دنابالغ نقصان دى .

(۱۶)يوكس چاعمداقتل كړاودهغه په اولياءكې بعض نابالغ دي اوبعض بالغ نودداامام ابوحنيفه رحمه الله په نزبالغين له قاتل څخه قصاص اخيستلى شي دنابالغودبالغ كيدلوانتظاركول ضروري نه دي .اودصاحبينوپه نزدبه دنابالغانوتربلوغ پوري مؤخركيږي ولى چې قصاص دټولومشترک حق دى لهذادټولوپه وصولوسره به وصوليږي حال داچې په نابالغوكې دځپل دي حق دوصولولوصلاحيت نشته .دامام صاحب دليل دادى چې دقصاص حق ټولوته برابرحاصل دى متجزي نه دى ولى چې دده سبب يعنى په قرابت كې تجزي نشته نوكله چې بالغينولره كامل حق حاصل دى نودنابالغوپه وجه سره به بالغان دځپل دي حق له وصولولوڅخه نه منع كيږي .

ف:دامام صاحب قول راجح دى كماعلم من صنيع صاحب الهداية حيث اخردليله وهذاترجيح قول الراجح عندصاحب الهداية وقال العلامة الحصكفى :(وللكبارالقودقبل كبرالصغار)خلافالهماوالاصل ان كل مالايتجزأاذاوجدسببه كاملاثبت لكل على الكمال كولاية انكاح وامان(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: ۵/۳۹۳ )

(۱۷)كه كوم كس په بيلچه سره قتل كړاى شونوكه پرهغه اورسپينه لگيدلي وه نودهغه په بدله كې به قاتل قصاصيږي ولى چې دبيلچې په تيره طرف سره قتل كول په آله قتل سره قتل كول دي لهذاله قاتل څخه به قصاص اخيستل كيږي اوكه پرهغه لرگى لگيدلى وونوقاتل به نه قصاصيږي بلكه پرهغه به ديت واجب وي ولى چې پردي دقتل عمدتعريف نه صادقيږي .لكه چې يوڅوک كوم بل څوک ترغاړه ونيسي اوياپې په اوبوكې په ډوبولوقتل كړي نوله قاتل څخه قصاص نه اخيستل كيږي بلكه پرهغه ديت واجبيږي په دي كې دصاحبينواختلاف دى اوداختلاف مبنى دى دامام صاحب اوصاحبينوپرهغه اختلاف باندي كوم چې دقتل شبه عمدپه تعريف كې دى .

(۱۸)كه چاعمداكوم كس زخمي كړاومجروح صاحب فراش شواوپرهمدي حال پاتي شوترڅوچې مړشونوپرجارح قصاص لازميږي ولى چې دمرگ سبب (زخم )متحقق شولهذادمرگ وقوع به له همدي څخه گڼل كيږي ولى چې ظاهراكوم داسي شى نه دى موندل شوى كوم چې دسبب حكم باطل كړي .

(۱۹)كه چاځپل ځان زخمي كړاوبل كس مثلازيدهم دى زخمي كړاوزمري هم دى زخمي كړاومارهم وچيچى ياهغه له دي ټولوزخمونوڅخه مړشونوپه زيدثلث ديت لازميږي ولى چې دزمري اومارفعل جنس واحددى ولى چې دنه مكلف والي په وجه سره ددواړوفعل په دنيااوآخرت دواړوكې لغوه دى اوپه ځپل دمقتول فعل جلاسبب دى كوم چې په دنياكې لغوه اوپه آخرت كې معتبردى ولى چې په اخروي اعتبارسره دده دافعل گناه دى كوم چې به له ده سره حساب كيږي اودزيدفعل جلاسبب دى كوم چې په دنيااواخرت دواړوكې معتبردى نومقتول ددريوسببونوپه وجه سره مړشوى دى اودزيدفعل ددي دريويوثلث دى لهذاپرده به ديت هم يوثلث لازميږي .

(۲۰)ومن شهر على المسلمين سيفاوجب قتله ولاشيء بقتله) (۲۱)ومن شهر على رجل سلاحاليلااونهارافي المصراوغيره أوشهرعليه عصاليلافي مصراونهارافي غيره فقتله المشهورعليه فلاشيءعليه (۲۲)وإن شهرعصانهارافي مصرفقتله المشهورعليه قتل به (۲۳)وإن شهر

الْمَجْنُونِ عَلٰى غَيْرِهٖ سِلَاحًا فَقَتَلَهُ الْمَشْهُوْرُ عَلَيْهِ عَمْدًا تَجِبُ الدِّيَةُ (۲۴) وَعَلٰى هٰذَا الصَّبِيُّ وَالدَّابَّةُ (۲۵) وَلَوْ ضَرَبَهُ الشَّاهِرُ فَانْصَرَفَ فَقَتَلَهُ الْآخَرُ قُتِلَ بِهِ الْقَاتِلُ (۲۶) وَمَنْ دَخَلَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ لَيْلًا فَأَخْرَجَ السَّرِقَةَ فَاتَّبَعَهُ فَقَتَلَهُ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ)

**ترجمه**:اوكوم كس چې راوباسي توره پرمسلمانانوباندې نوواجب دی دهغه قتل كول اوهيڅ نه واجبيږي دهغه په قتل كولوسره ،اوچاچې راويستله پرکوم کس اسلحه په شپه کې ياپه ورځ کې په ښارکې ياپه غيرښارکې يايې راواچته کړه پرهغه لاټۍ په شپه کې په ښارکې ياپه ورځ کې په غيرښارکې نوبياقتل کړه لره مشهورعليه نوهيڅ نه دی واجب پرهغه ،اوکه يې راواچته کړه پرده لاټۍ په ورځ کې په ښارکې نوقتل کړهغه لره مشهورعليه نوقتل کيږي به دهغه په عوض کې ،اوکه راوويستله مجنون اسلحه پربل چاباندې بياقتل کړهغه لره مشهورعليه عمدانوديت واجبيږي ،اوپرهمدي حکم ده نابالغ اودابه .اوکه وواهه يوڅوک توره راايستونکي اوولاړی بياقتل کړهغه لره بل چانوقتل کيږي به قاتل ،چاته چې راغی کوم کس اوراويست ده دغلامال بيامالک په هغه پسې شواوقتل يې کړهغه نوهيڅ نه دي واجب پرهغه باندې.

**تشريح** :(۲۰)که چاپرمسلمانانو توره راوکښله يعنی دمسلمانانودوژلواراده يې وکړه نوپرمسلمانانو واجب ده چې هغه قتل کړي ولی چې داباغي دی اودبغاوت په وجه سره دهغه عصمت اوحفاظت ختم شوی دی لهذادهغه قتل کول جائزدی.همدارازدهغه له قتل کولوڅخه بغيرله خپل نفس څخه مدافعت هم مشکل دی لهذادهغه قتل کول جائزدی ،اوچاچې هغه قتل کړپرهغه هيڅ نه واجبيږي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ (مَنْ شَهَرَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ سَيْفًا فَقَدْ أَبْطَلَ دَمَهُ (چاچې پرمسلمانانوتوره راوکښله نوهغه خپله وينه باطله کړه ).

(۲۱)همداشان که چاپربل چاپه ښارکې ياله ښارڅخه دباندې اسلحه راوکښله که په شپه کې وي اوکه په ورځ کې وي ،يايې په شپه کې په ښارکې لاټۍ راوکښله يايې له ښارڅخه دباندې په ورځ کې لاټۍ راوکښله نومشهورعليه (پرچاچې لاټۍ راکښل شوي ده )هغه قتل کړنوپرهغه هيڅ واجب نه دي لماقلنا.

**فائده** :لاټۍ راواچتونکي لره په ښارکې دشپې اوپه ورځ کې دځنګل قيدپه دې وجه ولګول شوچې په لاټۍ سره اګرکه انسان زرنه قتل کيږي مګرپه شپه کې ياپه ځنګل کې کوم کومک کونکی نه شي پيداکيدای کوم چې دی خلاس کړي لهذااوس مشهورعليه په خپله دفاع کې دهغه په قتل کولوکې مجبورشمارل کيږي.

(۲۲)اوکه په ښارکې په ورځ کې يوکس پربل لاټۍ راواچته کړه مشهورعليه (پرکوم کې چې لاټۍ راواچته شوي ده )په قابوپيداکولوسره لاټۍ اوچتونکی قتل کړنوله مشهورعليه څخه به قصاص اخيستل کيږي ولی چې لاټۍ داسلحې په شان نه ده يعنی په دې سره انسان زرنه وژل کيږي اوپه ښارکې دی کومک کونکی پيداکولی شي چې دی خلاس کړي لهذاده دقتل اقدام کول زياتی (ظلم )دی په دې وجه به له ده څخه قصاص اخيستل کيږي.

(۲۳)که مجنون پرکوم کس باندې اسلحه راوکښله مشهورعليه هغه عمداقتل کړنودطرفينوپه نزدپرقاتل ديت واجب دی اودامام ابويوسف رحمه الله په نزدديت نه واجبيږي ولی چې دمجنون فعل معتبردی نوپه دې سره دهغه عصمت ساقط شمارل کيږي لهذاپرقاتل هيڅ نه واجبيږي .دطرفينودليل دادی چې داصحيح نه ده چې دمجنون فعل دهغه عصمت ساقطوي ولی چې په مجنون کې اختيارصحيح نه دی همداوجه ده چې که هغه

ځوک قتل کړنو پرده قصاص نه واجبیږي لهذا دمجنون عصمت نه ساقطیږي یعنی دهغه قتل کول جائزنه دی. بیادي تقاضاخوداده چې پرقاتل قصاص واجب شي لیکن څرنګه چې دقاتل په حق کې یوامرمبیح موجوددی په دي وجه پرقاتل قصاص نشته دیت واجب دی اوهغه امرمبیح دمجنون شردفع کول دي.

ف: دطرفینو قول راجح دی لمافی الدرالمختار: وان شهرالمجنون علی غیره سلاحافقتله المشهورعلیه (عمداتجب الدیة) فی ماله (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار: ۵/۳۸۸)، وقال ابراهیم ابن محمدالحلبی: وعن ابی یوسف لاتجب الدیة فی الصبی والمجنون ویجب الضمان فی الدابة، وقال الشافعی رحمه الله لاتجب فی الکل لانه قتله دفعاعن نفسه ولنان الفـ ل من هذه الاشیاء غیرمتصف بالحرمة فلم یقع بغیاف‌لاتسقط العصمة به لعدم الاختیار الصحیح ولهذالایجب القصاص علی الصبی والمجنون بقتلهماولاالضمان بفعل الدابة واذالم یسقط کان قضیته ان یجب القصاص لانه قتل نفسامعصومة الاانه لایجب القصاص لوجودالمبیح وهودفع الشرفیجب الدیة فی الادمی والقیمة فی الدابة (مجمع الانهر: ۴/۳۲۲)

(۲۴) همداشان که کوم نابالغ پربل کس توره راوکښله اوهغه داهلک قتل کړنوپرهغه هم ددي هلک دیت لازم دی لماقلنا، علی هذا القیاس که دڅاڅاروي پرڅاحمله وکړه اوهغه داڅاروی قتل ک نوپرهغه دڅاروي قیمت لازمیږي لماقلنا.

(۲۵) که چاپه ښارکې پربل کس اسلحه راوکښله اومشهورعلیه یې څه زخمي کړاوولاړی اوس یې دوهم ځل ـ وهلواراده نشته مشهورعلیه په هغه پسي شواوهغه یې قتل کړنوله قاتل څخه به قصاص اخیستل کیږي ولی کله چې شاهرمشهورعلیه پرینبوداودوهم ځل یې دوهلواراده نشته نوشاهرمحارب پاتي نه شولهذاهغه معصوم الدم شونو که مشهورعلیه اوس هغه قتل کړي نویومعصوم الدم کس به یې قتل کړی وي اودمعصوم الدم کس قتل کول موجب قصاص دی.

(۲۶) دچاکورته غل داخل شواومال مسروق یې دباندي راویستی اووتښتیدودکورمالک هغه تعقیب کړاوغل یې قتل کړنوپرقاتل هیڅ نه واجبیږي لِقَوْلِهٖ علیه الصَّلَاةُ وَالسَّلَام [قَاتِلْ دُوْنَ مَالِکَ (دخپل مال لپاره جنګ وکړه)]، همداراز په دي وجه هم چې ابتداء کورته دننه په داخلیدلوسره دخپل مال دحفاظت لپاره دهغه قتل کول جائزدی نوانتهاء له کورڅخه دباندي دخپل مال دبیرته اخیستلولپاره هم دهغه قتل کول جائزدی، په دي شرط چې دی بغیرله قتل کولوله هغه څخه خپل مال نه شي اخیستلای.

## بَابُ الْقِصَاصِ فِيمَا دُوْنَ النَّفْسِ

دباب دنفس څخه دعلاوه قصاص په بیان کې دی

کله چې مصنف رحمه الله دنفس دقصاص له بیان څخه فارغ شونوله نفس څخه کم یعنی داعضاؤ(اندامونو) دقصاص په بیان یې شروع وکړه ولی چې جزء دکل تابع دی اوکل متبوع دی اومتبوع احق بالتقدیم دی.

(۱) اِقْتَصَّ بِقَطْعِ الْيَدِ مِنَ الْمِفْصَلِ، وَإِنْ كَانَتْ يَدُ الْقَاطِعِ أَكْبَرَ وَكَذَا الرِّجْلُ وَمَارِنُ الْأَنْفِ وَالْأُذُنُ (۲) وَالْعَيْنُ إِنْ ذَهَبَ ضَوْءُهَا وَهِيَ قَائِمَةٌ، وَإِنْ قَلَعَهَا لَا (۳) وَالسِّنُّ وَإِنْ تَفَاوَتَا (۴) وَكُلُّ شَجَّةٍ تَتَحَقَّقُ فِيهَا الْمُمَاثَلَةُ) وَلَا قِصَاصَ فِي عَظْمٍ (۵) وَطَرَفٍ فِي رَجُلٍ وَامْرَأَةٍ (۶) وَحُرٍّ وَعَبْدٍ وَعَبْدَيْنِ (۷) وَطَرَفِ الْكَافِرِ وَالْمُسْلِمِ سِيَّانِ (۸) وَقَطْعِ يَدٍ مِنْ نِصْفِ سَاعِدٍ وَجَائِفَةٍ بَرِئَ مِنْهَا (۹) وَلِسَانٍ وَذَكَرٍ (۱۰) إِلَّا أَنْ يَقْطَعَ الْحَشَفَةَ (۱۱) وَخُيِّرَ بَيْنَ الْأَرْشِ وَالْقَوَدِ إِنْ كَانَ الْقَاطِعُ أَشَلَّ أَوْ نَاقِصَ الْأَصَابِعِ (۱۲) أَوْ كَانَ رَأْسُ الشَّاجِّ أَكْبَرَ

**ترجمه**: قصاص به اخيستل كيږي دلاس په پريكولوكې له مروندڅخه اگركه دقاطع لاس لوى وي اوهمداشان پښه ده اودپوزي نرمى اوغوږ. اوسترگه ده كه ختم شي دهغې نوراوسترگه قائمه پاتي شي اوكه يې وكښله سترگه نونه. اوغاښ اگركه متفاوت وي. اوهرهغه زخم په كوم كې چې متحقق كيداى شي مماثلت. اوقصاص نشته په هډوكى كې. اودنارينه اوښځې په اطرافوكې. اودازاداوغلام اوددووغلامانوپه اطرافوكې. اودمسلمان اوكافرطرف يوشان دي. اوپه لاس پريكولوكې له نيمايې مروندڅخه اوپه جائفه زخم كې له كوم ځخه چې جوړشوى وي. اوپه ژبه اوذكركي. مگرداچې پريكړى وي دذكرسر. اواختياربه وركول كيږي په قصاص اوديت كې كه دقاطع لاس شل ياناقص الاصابع وي. ياوي دزخم كونكى سرلوى.

**تشريح**: (۱)كه چېرته مداد چالاس له مفصل (بند) څخه پرې كړنودپرې كونكي لاس به پرې كيږي لقوله تعالى (والجروح قصاص)(دزخمونوبدله دهغوبرابرده):اگركه دقاطع لاس دمقطوع له لاس څخه لوى وي ولى چې دلاس كارنيول دي لهذادلاس په كوچني والى يالوى والى سره دلاس په منفعت كې څه فرق نه راځي. همداحكم دپښې په پري كولو(په دي شرط چې له بندڅخه يې پرې كړي وي)اودپوزې دنرمې برخې اودغوږدپري كولوپه صورت كې هم دى ولى چې په دې ټولوصورتونوكې دقصاص په اخيستلوكې دمماثلت رعايت ممكن دى.

ف:قصاص ځكه چې له مماثلت څخه خبروركوي لهذااصول دادي چې دجنايت فيمادون النفس هرهغه صورت په كوم كې چې مماثلت كيداى شي په هغه كې به قصاص وي له په مذكوره بالاصورتونوكې. اوپه كوم صورت كې چې مماثلت متعذروي نوقصاص به نه وي لكه دمروندا وځنگلي په منځ كي اويادځنگې اواوږي په منځ كې لاس پري كړاى شي نودمماثلت رعايت ممكن نه دى لهذاقصاص نشته.

(۲)قوله والعين ان ذهب ضوزها وهي قائمة اى يقتص فى ضرب العين ان ذهب ضوزها وهي قائمة. يعنى كه چاكوم بل څوك پرسترگه ووهه اوسترگه پرخپل ځاى پاتي وه مگرصرف دهغې رڼائي ختمه شوه نودمماثلت دممكن والى په وجه سره قصاص اخيستل كيږي. اودقصاص اخيستلوصورت يې دادى چې دضارب پرمخ اودوهمه سترگه به لندي وړى كښيښودل شي اودكومې سترگې رڼائي چې ورختموي دهغې په مقابل كې به گرمه شيشه كښيښودل شي نودهغې رڼائي به ختمه شي همداله صحابه كرامو ﷺ څخه منقول ده. اوكه چاڅوك پرسترگه وواهه اوهغه يې دباندي راويستله نوپرده قصاص نشته ولى چې دسترگې په راكښلوكې مماثلت ممكن نه دى. البته ديت به اخلي.

(۳)قوله والسن وان تفاوتا اى يقتص فى قلع السن وان تفاوتا. يعنى كه چادبل كس غاښ وروكښى نوپه دي كې قصاص شته لقوله تعالى (والسن بالسن)(دغاښ په بدل كې غاښ دى). اگركه دقالع اومقلوع په غاښونوكې فرق وي چې ديوه غاښ لوى وي اودهغه بل غاښ كوچنى وي ولى چې په دي سره دغاښ په منفعت كې هيڅ فرق نه راځي.

(۴)اصول دادي چې هرهغه زخم چې په هغه کې مماثلت ممکن وي په هغه کې قصاص شته لقوله تعالیٰ والجروح قصاص )(دزخمونو بدله دهغوئ برابره ده ).او چيرته چې مماثلت ممکن نه وي هلته قصاص نشته .نو که چادبل هډوکي ورمات کړنو ځرنګه چې دقصاص په اخيستلو کې دکمي بيشي داحتمال په وجه سره مماثلت متعذردی لهذا قصاص نه واجبيږي .البته دغاښ دماتولو په صورت کې قصاص شته لقوله عمروابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنهما لاقصاص فی عظم الافی السن (دحضرت عمراوحضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه قول دی چې په هډوکي کې قصاص نشته مګرپه غاښ کې شته ).

(۵)قوله وطرفی رجل وامرأة ای لاقصاص ايضافی طرفی رجل وامرأة .يعنی دنارينه اوښځې په اطرافو کې قصاص نشته يعنی دجنايت فيمادون النفس په صورت کې دنارينه اوښځې په منځ کې قصاص نشته لهذا که نارينه دښځې لاس ورپرې کړيا ښځې دنارينه لاس ورپرې کړنو له يوه ځخه هم قصاص نه اخيستل کيږي .

(۶)قوله وحروعبدای لاقصاص بين حروعبد .يعنی دآزاداوغلام اودووغلامانو په منځ کې هم په فيمادون النفس کې قصاص نه شته ولی چې دانسان اطراف داموالو په درجه کې اينبودل شوي دي لهذا په دوئ کې مماثلت شرط دی ښکاره خبره ده چې دنارينه اوښځې په اطرافو کې دتفاوت فی القيمة په وجه سره مماثلت نشته همداشان دحراوغلام په اطرافو کې اودووغلامانو په اطرافو کې هم دتفاوت فی القيمة په وجه سره مماثلت نشته په دې وجه قصاص نه واجبيږي .

(۷)البته دمسلمان اوکافر(مرادذمی کافردی )په منځ کې په اطرافو(اعضاء)کې قصاص واجب دی ولی چې دمسلمان اوکافردواړو داطرافو قيمت شريعت يومقررکړی دی لهذا مساوات اومماثلت متحقق کيدای شي په دې وجه دمسلمان اوکافرپه اطرافو کې قصاص واجبيږي .

(۸)قوله وقطع يدمن نصف الساعدای لاقصاص فی قطع يدمن نصف الساعد .يعنی که چادبل کس لاس دبازوپه منځ کې ورپرې کړيايې بل ځوک ټه جائفه زخم (کوم زخم چې تردننه پورې سرايت وکړي )سره زخمي کړيا هغه له دې زخم ځخه جوړشونو په دې دووصورتونو کې په جنايت کونکي باندې قصاص نشته ولی چې دمماثلت رعايت ممکن نه دی په دې وجه چې بازوخوهډوکی دی په کوم کې چې مماثلت متعذردی کمامر.اوله جائفه زخم ځخه عموما انسان نه جوړيږي نو دقصاص اخيستلو په صورت دجنايت کونکی دنه روغيدلو غالب ګمان دی حال داچې اول خوروغ شوی وو لهذا دمماثلت رعايت ممکن نه دی .

(۹)قوله ولسان وذکرای لاقصاص فی قطع لسان وذکر .يعنی که چادبل ژبه ورپرې کړه .يايې ذکرورپرې کړنو قصاص نه واجبيږي .دامام ابويوسف رحمه الله په نزد که يې ژبه ياذکرله بيخ ځخه ورپرې کړی وونو قصاص واجبيږي که نونه واجبيږي ولی چې له بيخ ځخه دپرې کولوپه صورت کې مماثلت ممکن دی په دې دول چې دهغه بل والابه هم له بيخ ځخه ورپرې کړي .زموږدليل دادی چې ژبه اوذکرکله منقبض وي اوکله خلاس وي يعنی اوږده کيږي لهذا دمساوات اعتبارممکن نه دی .

(۱۰)البته که يوچادبل کس حشفه (دعضوتناسل سر)(يعنی سنت شوی ځای )ورپرې کړنو قصاص به اخيستل کيږي ولی چې دقطع ځای معلوم دی نودلاس له بند ځخه دپرې کولو په شان په دې کې هم مماثلت

ممکن دی په دي وجه قصاص واجبیږي ،هو که یې دحشفي بعض حصه وریږي کړه نو دمماثلت دنه ممکن والي په وجه سره به قصاص نه اخیستل کیږي .

(۱۱) که یو چا دبل کس سالم لاس وریږي کړاو دپري کونکی لاس شل وو یا یې ګوتي کمي وي نو د چا چې لاس پري شوی دی هغه لره اختیار دی که یې خوښه وي دجانی معیوب لاس دي وریږي کړي او په دي صورت کې هغه لره له دي ماسوا هیڅ شی نشته او که یې خوښه وي نو دلاس پوره دیت دي واخلي وجه یې داده چې کامل حق وصولول خو متعذر دي ولی چې دجانی خو کامل لاس نشته نو له دي څخه علاوه به څه چاره وي چې په چشم پوشي کولو سره پر ناقص راضي شي او له خپل حق څخه په لږ راضي کیدل او چشم پوشي کول ده لره جائزده .نو داداسي ده لکه چې څوک دبل چامثلي شی تلف کړي بیا اتفاقاً د تلف شوی شی صرف کمزوری قسم په بازار کې پاتي شي نو صاحب حق لره اختیار دی که یې خوښه وي نو دهمدي کمزوري شي په اخیستلو دي راضی شي او که یې خوښه وي دخپل شي قیمت دي واخلي .

(۱۲) که چا کوم بل څوک پر سر ووا هه او زخم دهغه دسر دواړه طرفه (یعنی راسته او چپه) ونیول او حال دا چې دشاج یعنی سرماتونکي سر د مشجوج (یعنی څوک چې زخمي کړای شوی دی) له سر څخه لوی دی دازخم دهغه دسر دواړه طرفه نه نیسي نو مشجوج لره اختیار دی که یې خوښه وي نو دخپل زخم په اندازه دي قصاص واخلي ،او دایې هم په اختیار کې ده چې له کوم طرف څخه چې وغواړي شروع دي کړي ،او که یې خوښه وي نو کامل دیت دي واخلي وجه داده چې دشاج دسر دواړو طرفونو په ماتولو کې دشاج پر جنایت زیاتی دی کوم چې جائز نه دی او دمشجوج دزخم په اندازه په ماتولو کې دومره عیب نه لاحق کیږي څومره چې مشجوج ته لاحق شوی دی نو په دي شان سره دمشجوج حق ناقص پاتي کیږي لهذا مشجوج لره اختیار دی .

## فَصلٌ

### دا فصل له دم عمد څخه دمصالحت وغیره په بیان کې دی

څرنګه چې دصلح تصور له جنایت څخه وروسته دی په دي وجه یې له جنایت څخه وروسته دصلح احکام په مستقل فصل کې ذکر کړل .

(۱) وَإِنْ صُولِحَ عَلَى مَالٍ وَجَبَ حَالًا وَسَقَطَ الْقَوَدُ (۲) وَيَتَنَصَّفُ إِنْ أَمَرَ الْحُرُّ الْقَاتِلُ وَسَيِّدُ الْقَاتِلِ رَجُلًا بِالصُّلْحِ عَنْ دَمِهِمَا عَلَى أَلْفٍ فَفَعَلَ (۳) فَإِنْ صَالَحَ أَحَدُ الْأَوْلِيَاءِ عَنْ حَظِّهِ عَلَى عِوَضٍ أَوْ عَفَا فَلِمَنْ بَقِيَ حَظُّهُ مِنَ الدِّيَةِ (۴) وَيُقْتَلُ الْجَمِيعُ بِالْفَرْدِ (۵) وَالْفَرْدُ بِالْجَمْعِ اكْتِفَاءً (۶) فَإِنْ حَضَرَ وَاحِدٌ قُتِلَ لَهُ وَسَقَطَ حَقُّ الْبَقِيَّةِ كَمَوْتِ الْقَاتِلِ

**ترجمه** :او که صلح وکړل شو پر مال باندي نو واجبیږي مال فی الحال او ساقطیږي قصاص ،او نصف به اخلي که امر کړی وو ازاد قاتل او دقاتل غلام مالک چا ته دصلح کولو ددوئ دويني له طرف څخه په زر باندي او هغه صلح وکړه ،او که صلح وکړي کوم یو له اولیاء څخه دخپلي حصي له طرف څخه پر عوض باندي یا معاف کړي خپل حق نو کوم چې باقي پاتي دي هغوئ ته به حصه حاصلیږي صرف له دیت څخه ،او قتل کیږي به

جماعت ديوه په بدله کې اويو د جماعت په بدل کې اکتفاء ،اوته حاضرشي يونوسل کيږي به دهغه لپاره اوساقطيږي دباقي پاتي شويو ورثه حق لکه چې دقاتل دمړکيدلو په صورت کې.

**تشريح** :(۱)که دقاتل او مقتول اوليا په کوم معلوم مال باندي صلح وکړه چې قاتل به دومره مال ورکړي اودمقتول اولياء به له حق قصاص څخه لاس په سر کيږي نو داصحيح ده له قاتل څخه قصاص ساقطيږي اومصالح عليه مال پرهغه في الحال واجب ګرځي که په لږمال صلح شوي وي او که په پرډيرمال لقوله تعالى (فمن عفي له من اخيه شئ فاتباع بالمعروف واداء اليه باحسان)(هغه قاتل کوم ته چې دهغه دمقتول وروړله څخه څه معافي حاصله شي نوتابعداري کول په کاردي ددستورموافق اوپه ښه طريقه سره دهغه اداء کول په کاردي)،همدراز قصاص دوارثانوداسي حق دی کوم چې په معافولوسره ساقطول جائزدی نودعوض په اخيستلوسره ساقطول يې هم جائزدي ،اودمصالح عليه في الحال واجبيدلووجه داده چې داماال دمتعاقدينوپه رضامندي سره واجب شوی دی اوقاعده داده چې کوم مال چې دعقدپه سبب کې دمتعاقدينوپه خوښه سره واجب شي هغه في الحال واجب الاداء وي.

(۲)زيدآزاددی اوبکردخالدغلام دی زيداوبکرساجدقتل کړدکو. په .جه سره پردوئ دواړو قصاص .اجب شوليکن په دوئ کې زيداودبکرمولی خالدزاهدوکيل جوړکړچې هـ .. دساجدله وراثانوسره دزرود همو په عوض کې صلح وکړي زاهدصلح وکړه نواوس به زردرهمه زيداوخالدنصف نصف اداء کړي ,ی چې دازردقصاص بدل دي اوقصاص پردوئ دواړوبرابردی نودقصاص بدل به پردواړوبراب ی.

(۳)که دمقتول له وراثانو څخه يوه دڅه عوض په بدل کې له قاتل سره مصالحت وکړ يايوه خپل حق قصاص معاف کړنودباقي وارثانوحق هم ساقطيږي ولی چې هرکس لره دخپلې حصي دوصولولوياساقطولوحق حاصل دی نوکله چې يوه دخپلي حصي په بدله کې پرڅه عوض صلح وکړه يايې خپله حصه معاف کړنودوارثانوحق قصاص هم ساقطيږي ولی چې قصاص تجزی نه قبلوي لهذا دهغوئ حصه په مال يعنی د..ت باندي بدليږي اوپه ديت کې ټول وارثان برابرشريک دي اومال تجزی هم قبلوي لهذاديوه دخپلي حصي په ساقطولوسره دنوروحصي نه ساقطيږي.

(۴)که يوجماعت کوم کس عمدا قتل کړنوله هغوئ ټولو څخه به قصاص اخيستل کيږي ولی چې دصنعاء اوه کسان ديوه کس په قتل کې سره شريک شوي وونوحضرت عمر رضي الله عنه ټول قتل کړل اووي فرمايل چې که ټول اهل صنعاء هم په ګډه سره داکارکړی وای نوما به ټول قتل کړی وای.

(۵)قوله والفردبالجمع اکتفاء ای يقتل الفردبالجمع اکتفاء بذالک للباقين،يعنی که يوه کس يوجماعت قتل کړاودمقتولينواولياء دقصاص اخيستلوپاره حاضرشول نوقاتل به ددي ټولوله طرف څخه قتل کيږي اوپرهمدي به اکتفاء کيږي له دي څخه علاوه به دمقتولينوداولياء لپاره هيڅ هم نه وي ولی چې هغوئ ټول دده پرقتل سره جمع شول اوپه خروج ريح کې تجری نشته لهذا دابه ګڼل کيږي چې هريوه خپل پوره حق قصاص علی سبيل الکمال حاصل کړ.

**ف**: امام شافعي رحمه الله فرمايي چې كه قاتل ټول على سبيل التعاقب قتل كړي وي نو اولني لره به له قاتل څخه قصاص واخيستل شي او دباقي لپاره به دقاتل په تركه كې ددیت حكم وكړل شي او كه يې ټول دفعة وژلي وي يايې وژاندي وروسته قتل كړي وي مگر اول معلوم نه وي نو بيابه قرعه (ايسكه) اچول كيږي دكوم يوه نوم چې راووتى دهغه لپاره به قتل كيږي او دباقي پاتي شويو لپاره به ددیت حكم وكړل شي.

(۶) كه دمقتولينو له اوليا، څخه كوم يو حاضرشونو بيابه هم دهغه لپاره قاتل قتل كيږي اودباقي پاتي شويو حق ساقطيږي ولى چې دهغوئ حق په قصاص كې دى او دقصاص محل فوت شونو داداسي شو لكه هغه قاتل چې مړشي پر كوم چې قصاص وي نو قصاص هم ساقطيږي ولى له كوم محل څخه قصاص وصوليږي هغه محل ختم شو لهذا قصاص هم ساقطيږي.

(متن) ولاتقطع يدرجلين بيد وضمنا ديتها (۷) وان قطع واحديميني رجلين فلهما قطع يمينه ونصف الدية (۸) فان حضر واحدفقطع يده فللآخر عليه نصف الدية (۹) وان اقر عبدبقتل عمديقتص به (۱۰) وان رمى رجلاعمدافنفذ السهم منه الى آخر يقتص للاول وللثاني الدية (۱۱)

**ترجمه**: او نه به پرې كيږي د دووكسانو لاس ديوه لاس په بدل كې او دواړه به ضامن گرځي دلاس ددیت. او كه پرې كړيوه كس د دووكسانو ښي لاس نو دهغوئ دواړو لپاره دهغه لاس پرې كول او نصف ديت اخيستل دي. نو كه حاضرشويو او پرې يې كړ دهغه لاس نو دهغه بل لره پرده نصف ديت دى. او كه اقرار وكړ غلام دقتل عمدنو قصاص به اخيستل كيږي دهغه په وجه سره. او كه يې وويشتى كوم كس او هغه بل طرف ته غشى ووتى او بل كس كې ولگيد نو قصاص به اخيستل كيږي اولني لره او دوهم لره ديت دى.

**تشريح**: (۷) كه دووكسانو په گډه سره ديو كس لاس ورپرې كړنو په دوئ دواړو كې به له يوه څخه هم قصاص نه اخيستل كيږي ولى چې په دوئ دواړو كې هريوه بعض لاس پرې كړى دى په دې وجه چې انقطاع يد د دوئ دواړو په زور سره حاصل شوي ده او محل يعنى لاس متجزى هم دى لهذا له دوئ دواړو څخه به دهريوه طرف ته دبعض يد دپرې كولو اضافت كيږي نو كه په دوئ كې دهريوه پوره لاس پرې كړاى شي نو په جنايت او قصاص كې به مماثلت پاتي نشي. او پر دوئ دواړو د مقطوع كس نصف ديت واجب دى ولى چې ديوه لاس ديت دپوره نفس ددیت نصف دى او دوئ دواړو يو لاس پرې كړى دى لهذا پر دوئ دواړو نصف ديت او پر هريوه دنصف ديت نيمايي يعنى دديت څلورمه حصه واجبيږي.

(۸) كه يو كس د دووكسانو ښي لاسونه ورپرې كړل بيا هغوئ دواړه دقصاص اخيستلو لپاره حاضر شول نو هغوئ دواړو لره حق دى چې دهغه لاس ورپرې كړي او له هغه څخه نصف ديت واخلي او هغه ديت به خپل منځ كې نصف نصف تقسيم كړي وجه يې داده چې هغوئ دواړه د استحقاق په سبب كې سره برابر دي نو دواړه به په استحقاق كې هم سره برابر وي.

(۹) او كه له هغوئ دواړو څخه يو دقصاص اخيستلو لپاره حاضر شو او هغه دمجرم لاس ورپرې هم كړنو هغه بل لره به پر مجرم اوس صرف نصف ديت وي وجه داده چې حاضر لره دثبوت حق په وجه سره خپل حق وصولول جائز دى او دخپل حق په وصولي كې دومره تاخير كول چې هغه بل هم حاضرشي پرده واجب نه ده. او كله چې ده خپل حق وصول كړ (يعنى دمجرم لاس يې ورپرې كړ) نو هغه بل لره دخپل حق دوصولولو محل باقي پاتي نه

شوېه دي وجه دهغه حق په ديت کې متعين شوېه دي وجه به اوس هغه بل لره صرف نصف ديت وي .او دهغه حق له معافولو يا وصول عوض څخه بغيرنه ساقطيږي .

(۱۰)که غلام دچاد عمدا قتل کولو اقرار وکړنو پرغلام قصاص لازميږي ولی چې له غلام څخه په قصاص اخيستلو کې پرغلام څه تهمت نشته (په دي وجه چې له مولی څخه زيات دغلام نقصان دی ).البته که غلام پرځان باندي دچادمال اقرار وکړنو داځرنگه چې دمولی دحق دابطال اقراردی نو دتهمت په وجه سره صحيح نه دی.

(۱۱)که چايو څوک عمدا په گولۍ يا غشي سره وويښت او هغه دهغه له بدن څخه ووتله او پربل کس ولگيدله او په دي سره دواړه مړه شول نو قتل اول ځرنگه چې عمد دی لهذا دهغه په وجه سره پرده قصاص لازميږي او قتل ثانی ځرنگه چې قتل خطاء دی لهذا دهغه په وجه سره دقاتل پرعاقله (خاندان) باندي ديت واجبيږي .

فصل

دافصل دتعدد دجنايت په بيان کې دی

کله چې مصنف رحمه الله ديوه جنايت له بيان څخه فارغ شونو دجنايات متعددو بيان يې شروع کړو لی چې دوه له يو څخه وروسته وي .

(۱) ومن قطع يد رجل، ثم قتله أخذ بالأمرين لو عمدين او مختلفين أو خطأين تخلل بينهما برء او لا إلا في خطأين لم يتخلل بينهما برء فتجب دية واحدة (۲) كمن ضرب بمائة سوط فبرأ من تسعين ومات من عشرة (۳) وإن عفا المقطوع عن القطع فمات ضمن القاطع الدية (۴) ولو عفا عن القطع وما يحدث منه او عن الجناية لا (۵) فالخطأ من الثلث والعمد من كل المال

**ترجمه** :او چاچې پري کړد چالاس بيايې قتل کړهغه نومواخذه به وي له هغه څخه ددواړوشيانو اگرکه عمداوي ياخطاء وي يامختلف وي ددي دواړوپه منځ کې روغتيا راغلي وي يانه وي مگرپه هغو دوو خطاوو کې چې دهغوئ په منځ کې روغتيانه وي راغلي چې په هغوئ کې صرف يو ديت واجبيږي ،لکه چې څوک يو بل کس سل دړي ووهي بيا هغه جوړشي له نيوي څخه او مړشي له لسو څخه ،او که يې معاف کړمقطوع له فعل قطع څخه بيا هغه مړشونو ضامن دی قاطع دديت ،او که يې معاف کړله فعل قطع څخه او کوم چې پيداکيږي له هغه څخه يا يې جنايت معاف کړنونه ،نو دخطاء په صورت کې به ديت له ثلث څخه معافيږي او په عمد کې به له ټول مال څخه .

**تشريح** :(۱)چاچې دچالاس ورپري کړاو بيايې قتل کړنو ددي شپږصورتونه دي (۱)دواړه فعلونه عمدا صادر شوي وي او په منځ کې دمجروح لاس روغ شوي وي (۲)دواړه عمدا صادر شوي وي او په منځ کې دمجروح لاس روغ شوی نه وي (۳)دواړه فعلونه خطاء صادرشوي وي او په منځ کې دمجروح لاس روغ شوي وي(۴)دواړه فعلونه خطاء صادرشوي وي او په منځ کې دمجروح لاس روغ شوي نه وي وي(۵)لاس يې عمدا وريري کړی وي او قتل خطاء شوی وي او په منځ کې دمجروح لاس روغ شوي وي(۶)لاس يې خطاء وريري کړی وي او قتل عمدا صادرشوی وي او په منځ کې دمجروح لاس روغ شوي نه وي وي.نو په مذکوره شپږوصورتونو کې به له هغه څخه ددواړو فعلونو بدله اخيستل کيږي البته دخطاء په هغو دوو صورتونو کې

چې په هغوئ کې لاس روغ شوی نه وي يعنې په څلورم او شپږم صورت کې ،چې په دې دووصورتونو کې به دفعلونو په سزاکې تداخل وي او په دواړو کې يو ديت واجبيږي .دلته قاعده داده چې اصلاً په عقوباتو کې تداخل دی او ل فعل ددوهم لپاره متمم گرځول کيږي الا داچې که ددواړو جمع کول ممکن نه وي ياخو په دې وجه چې ددواړو فعلونو حکم سره جلا وي مثلاً قطع خطاء وي او قتل عمداً وي يا ددې عکس وي او ياخو له فعل اول څخه مجروح روغ شوی وي نو په دې دووصورتونو کې څرنګه چې تداخل ممکن نه دی لهذا دهريوه فعل سزابه هم جلا جلا وي .نو ددې قاعدې له مخې په پورته ذکرشويو شپږوصورتونو کې دڅلوم او شپږم صورت په سزاکې تداخل کيږي او په پاتې څلورصورتونو کې تداخل نشته .

(۲)يعنې لکه څرنګه چې دپورته ذکرشويو دووصورتونو په سزاکې تداخل کيږي همداشان که يو چاڅوک نحفه سل دري ووا هه اوله هغو څخه يې نيوي دوري په ملاوواهه اولس دري يې پرسرووا ه له اولنيونيوي دروڅخه هغه مړنه شو بلکه روغ شواو داخيرنيولسودرو په وجه سره مړشونوصرف دورستنيولسودروديت واجبيږي دلومړنيونيوي دروهيڅ ضمان نه واجبيږي ولی کله چې دې نيوي دروڅه اثرباتي نه شونودهغوضمان هم نه واجبيږي هودلومړنيونيوي دروپه وجه سره به قاضی هغه ته تعزيرورکوي ترڅوآينده داسې حرکت ونه کړي .

(۳)که زيد دبکرلاس وربري کړبکرزيد معاف کړ بيا دهمدې زخم په وجه سره بکر مړشونوپرزيد ديت واجبيږي نومړنی معافی ختمه شوه ولی چې بکرخوزيد له قطع يدڅخه معاف کړی ووقتل خويې نه وومعاف کړلهذا دزيدپرذمه ديت واجبيږي .اوکه بکرزيدته داسې وويل چې ماقطع معاف کړې ده اوله قطع څخه پيداکيدونکی اثرمې هم معاف کړی دی ،يايې داسې وويل چې زه دده داخطاء بخښم ،اوس که بکردلاس دپرې کيدلو په وجه سره مړشونوپرزيد دقتل ديت نه واجبيږي ولی چې دبکرپه قول سره دقتل معافی هم ثابتيږي .

(۴)يعنې که مقطوع قاطع معاف کړمثلاً وي ويل ،چې ماقطع معاف کړې ده اوله قطع څخه پيداکيدونکی اثرمې هم معاف کړی دی ،بيامقطوع له همدې قطع څخه مړشونودمقطوع قاطع لره دامعافول صحيح دي ليکن څرنګه چې دمقطوع له طرف څخه داتبرع ده او تبرع دمرض په حالت کې له ثلث مال څخه نافذيږي .

(۵)نوکه قاطع خطاء دده لاس وربري کړی وونودهغه معافی به له ثلث مال څخه وي ولی چې دخطاء موجب مال دی اوله مال سره دوارثانوحق متعلق شوی دی لهذا دقاطع معافی به له ثلث مال څخه وي ،نوکه مقطوع لره هيڅ مال نه وي نوقاطع ته ثلث ديت ورمعاف دی اوديت دوه ثلثه دقاطع پرعاقله دمقطوع وارثانوته ورکول لازم دي ،اوکه قاطع عمداً دمقطوع لاس وربري کړی وونودقاطع معافی به دمقطوع له ټول مال څخه وي ولی چې دعمدموجب قصاص دی اوقصاص مال نه دی لهذا دمقطوع دمريض والي په صورت کې دوراثانوحق له هغه سره نه دی متعلق شوی لهذا په دې صورت کې به معافی له ټول مال څخه وي .

(۶)وإن قطعت امرأة يد رجل عمدا فتزوجها على يده، ثم مات فلها مهر مثلها (۷) والدية في مالها وعلى عاقلتها لو خطأ (۸) وإن تزوجها على اليد وما يحدث منها أو على الجناية فمات منه فلها مهر مثلها (ولا شيء عليها لو عمدا (۹) ولو خطأ رفع عن العاقلة مهر مثلها ولهم ثلث ما ترك وصية (۱۰) ولو قطع يده فاقتص له فمات الأول قتل به (۱۱) وإن قطع يد القاتل وعفا ضمن القاطع دية اليد

**ترجمه**:اوكه پري كړ ښځې دنارينه لاس عمدااونارينه له دي سره نكاح وكړه پرڅپل لاس بياهغه مړشونوښځې لره دهغې مهرمثل دی ،اوديت به ددي له مال څخه وركول كيږي اوددي پرقوم به وي كه يې خطاء وربري كړی وو ،اوكه يې نكاح وكړه دهغه پرلاس اوڅه چې پيداكيږي له دي څخه ياپرجنايت باندي ياهغه مړشوله دي څخه نوښځې لره به مهرمثل وي اوپردي به هيڅ نه وي كه عمداووااوكه خطاء وونورفع كيږي ددي له عاقله څخه ددي مهرمثل اوهغوئ لره به وي ثلث تركه دوصيت په ډول سره ،اوكه دچالاس پرې شواودهغه قصاص واخيستل شوبيامړشواول نوقتل كيږي به دهغه په بدل كې ،اوكه يې پري كړ دقاتل لاس اوبيايې معاف كړه نوضامن دی قاطع دلاس ددیت .

**تشريح** :(۶)كه كومې ښځې دكوم كس لاس وربري كړ كه عمداوي اوكه خطاء وي نوپرښځه ضمان واجبيږي ،مگرنارينه وويل چې ته له ماسره نكاح وكړه. اودلاس پري كولوپه وجه سره چې زماكوم حق ستاپرذمه دی هغه به مهروي ښځې داقبول كړنونكاح وشوه اوپرښځې چې كوم تاوان لازم ووهغه مهرګڼل كيږي ليكن بياداسې پېښه وشوه چې خاوندقطع يدپه وجه سره مړشونونكاح خوصحيح ده البته كوم مهرچې يې مقرركړی ووهغه صحيح نه دی لهذاښځې لره مهرمثل واجبيږي وجه يې داده چې نكاح دلاس پرارش وشوه ياچې كله قطع يددقتل طرف ته سرايت وكړنومعلومه شوه چې دقطع يدهيڅ ارش نشته نومسمی معدوم شولهذامهرمثل واجبيږي .

(۷)اودخاونداوارثانوته به ديت وركول كيږي ولې چې خاوندقطع يدمعاف كړی وودقتل معافي يې نه وه كړي ،بياكه ښځې عمدالاس پري كړی وونوديت دښځې په مال كې واجبيږي ولې چې داقتل عمددی اودقتل عمدتاوان عاقله نه شي برداشت كولی ،اوكه ښځې خطاء دده لاس وربري كړی وونوديت دښځې پرعاقله واجبيږي ولې چې دقتل خطاء ديت پرعاقله وي .

(۸)اوكه مقطوع كس له لاس پري كونكې ښځې سره په قطع يداوله قطع يدڅخه چې كوم اثرپيداكيږي يادي دجنايت په بدل كې نكاح وكړه بيامقطوع له قطع څخه مړشونوښځې لره مهرمثل واجبيږي ولې چې موجب عمدقصاص دی اوقصاص مال نه دی لهذامهرمثل واجبيږي لكه چې دخنزيرياشرابو دمهرمقرر كولوپه صورت كې چې مهرمثل واجبيږي ،اودخاونداوارثانولره پرښځه هيڅ شی نه واجبيږي كه هغې عمداپري كړی وو ولې چې كله ده قصاص مقرركړكوم چې ددي صلاحيت نه لري نوداا(يعنې قصاص مهرمقرركول )پرسقوط قصاص دده رضاده لهذاقصاص له اصل. څخه ساقط شوپه دي وجه وارثانولره دښځې پرذمه هيڅ نه واجبيږي .

(۹)قوله ولوخطاء رفع عن العاقلة مهرمثلهااي لوكان القطع خطاء رفع عن العاقلة مهرمثلها ،يعنې كه ښځې دده لاس خطاء وربري كړی وونودښځې له عاقله څخه ددي مهرمثل په اندازه سره ديت مرتفع كيږي ولې چې په دي صورت كې دجنايت موجب ديت دی اوديت دمال والی په وجه سره مهرجوړيدای شي ،ليكن مقطوع په دي صورت كې دمرض الموت مريض شمارل كيږي ،اوقاعده داده چې دمرض الموت مريض كه داسې كاروكړي كوم چې

دده له حوائج اصلیه څخه وي نو هغه دده له ټولي ترکي څخه معتبروي ،او که داسي کار وکړي کوم چې دده له حوائج اصلیه څخه نه وي نو په دي کې هغه دمرض الموت مریض شمارل کیږي او دده داتصرف صرف په ثلث ترکه کې نافذیږي یعنی داسي کارته دوصیت درجه ورکول کیږي.اونکاح کول څرنګه چې له حوائج اصلیه څخه ده په دي وجه به دښځې مهرمثل له ټول مال څخه معتبروي لهذا دمهرمثل په اندازه به له ټول مال څخه ساقطیږي او دښځې پرعاقله دلته دیت لازم شویعنی لس زره درهمه او دښځې مهرمثل مثلا اوه زره درهمه دي نوله عاقله څخه خواوه زره درهمه دمهرمثل ساقط شول اوڅرنګه چې مقطوع پوره دیت مهرمثل ګرځولی وولهذاپاتي دري سوه هم باید ساقط شوی وای لیکن له اوه زره څخه په زیات کې دمقطوع تصرف په مرض الموت کې دمبتلا والی په وجه سره وصیت شمارل کیږي په دي وجه زائدصرف له ثلث ترکه څخه ساقطیږي لهذا که دمقطوع نوره ترکه هم وه کومه چې ددي دري زره دوچنده ده نوله عاقله څخه دادري زره هم ساقطیږي ،او که له دي دري زرو څخه علاوه دمقطوع نورمال نه وي نوله دي څخه یوزرساقطیږي او دښځې عاقله به دوه زره درهمه دمقطوع وارثانوته اداء کوي .

(۱۰)که چا دیوبل کس لاس وریږي کړاوله قاطع څخه ددي قصاص واخیستل شو بیامقطوع اول له همدي قطع ید څخه مړشو نو مقطوع ثاني (قاطع )به دمقطوع اول په بدله کې قتل کیږي ولی چې داول له مرګ څخه ښکاره شوه چې جنایت دقتل عمدوواودمقطوع اول حق له مقطوع ثاني څخه دنفس دقصاص اخیستلووحال داچې ده دقطع ید قصاص اخیستی دی او دقطع ید دقصاص په اخیستلوسره دقتل دقصاص حق نه ساقطیږي .

(۱۱)که چاکوم کس قتل کړ دمقتول وارث دقاتل لاس وریږي کړبیاله قاتل څخه چې کوم قصاص اخیستل وو دمقتول وارث هغه معاف کړنو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد به دمقتول وارث دي قاتل ته دقطع ید دیت ورکوي ،اوصاحبین فرمایي چې دیت به نه ورکوي ولی چې دمقتول وارث خپل حق وصول کړی دی په دي وجه چې ده لره خودقتل دنفس بجمیع اجزاء دتلف کولوحق حاصل دی لهذا دقاتل دلاس په تلف کولوسره دهغه دیت دمقتول پر وارث نه لازمیږي .دامام صاحب دلیل دادی چې دمقتول دوارث حق خوله قاتل څخه قصاص اخیستل وو اوکله چې هغه قصاص معاف کړبیا دقاتل لاس پري کول ددي وارث له طرف څخه زیاتی شو لهذا دی به دلاس دیت ورکوي .

ف :دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لماقال العلامة الحصکفي :وان قطع ولی القتیل ید القاتل وبعدذالک عفاعن القتل ضمن القاطع دیة الید لانه استوفی غیرحقه لکن لایقتص للشبهة وقالالاشیٔ علیه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار :۵/۳۰۱ ).وقال الشیخ غلام قادر النعماني حفظه الله :القول الراجح هو قول ابی حنیفه رحمه الله لان قوله قوله المتون ,قال العلامة ابو البرکات النسفي وان قطع ید القاتل وعفاضمن القاطع دیة الید (القول الراجح :۲/۳۳۵ )

## بَابُ الشَّهَادَةِ فِي الْقَتْلِ

### داباب دقتل په باره کې دګواهي ورکولو په بیان کې دی

مصنف رحمه الله شهادت في القتل له حكم قتل څخه وروسته ذكر كړولي چې شهادت في القتل له قتل سر متعلق امر دی او متعلق شی له شي څخه په درجه كې كم وي په دي وجه هغه مؤخر ذكر كول مناسب دی.

(۱) ولا يقيد حاضر بحجته إذا أخوه غاب عن خصومته فإن يعد لا بد من إعادته ليقتلا (۲) ولو خطأ أو دينا لا (۳) فإن أثبت القاتل عفو الغائب لم يقد (۴) وكذا لو قتل عبدهما وأحدهما غائب (۵) وإن شهد وليان بعفو ثالثهما لغت فإن صدقهما القاتل فالدية لهم أثلاثا (۶) وإن كذبهما فلا شيء لهما وللآخر ثلث الدية (۷) وإن شهدا أنه ضربه فلم يزل صاحب فراش حتى مات يقتص

**ترجمه**: او قصاص نه شي اخيستلی حاضر په خپل حجت سره په داسې حال كې چې دده ورور غائب وي له خصومت څخه بيا كه هغه راغی نو ضروري ده دبينه اعاده ترڅو هغوئ دواړه قصاص واخلي. او كه دخطاء ياقرض دعوه وي نو نه. بيا كه ثابت كړ قاتل معافول دغائب نو نه به قتل كيږي. او همداشان كه قتل كړای شو ددواړو غلام او يوله دوئ څخه غائب وو. او كه گواهي وركړه دوو وليانو ددريم په معاف كولو نو لغو ده بيا كه تصديق وكړ ددي دواړو قاتل نو ديت به دوئ لره اثلاثا وي. او كه يې تكذيب وكړ ددوئ دواړو نو هيڅ نشته دوئ دواړو لره او دريم لره ثلث ديت دی. او كه دوو كسانو گواهي وركړه چې ده هغه ويشتلی وو بيا هغه صاحب فراش پاتي شو ترڅو چې مړ شو نو قصاص به اخيستل كيږي.

**تشريح**: (۱) قوله ولا يقيد اي لا يقتص. كه څوك قتل شو او دده دقصاص مستحق دمقتول دوه زامن وي او له دي دواړو څخه يو غير حاضر وي او دوهم په گواهانو سره داقتل ثابت كړي نو اوس داحاضر له دي قاتل څخه قصاص نه شي اخيستلی ترڅو چې دده ورور رانه شي او كله چې هغه غير حاضر راشي نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به غائب له خپل طرف څخه بيرته دعوه وكړي او گواه به پيش كړي ترڅو له قاتل څخه دوئ دواړه په گډه سره قصاص واخلي. او دصاحبينو په نزد پر غائب بيرته گواه وړاندي كول ضروري نه دي بلكه دده نه راتلو سره دي بغير له گواه وړاندي كولو قاضی دقصاص فيصله وكړي. دامام صاحب او صاحبينو بنياد ي اختلاف په دي كې دی چې دوارثانو حق په قصاص كې دوارثت په طريقه سره دی او كه دخلافت په طريقه سره. دحق قصاص بطريق خلافت مطلب دادی چې دمورث دملك له ثابتيدلو څخه بغير دوارثانو ملكيت ثابت شي. او دحق قصاص بطريق وراثت مطلب دادی چې داحق لومړی مورث لره ثابتيږي او بيا پوره پوره وارث ته حاصليږي. او قاعده داده چې دوارثانو ملكيت چې په كوم ځای كې بطريق وراثت ... ي په هغه ځای كې له وارثانو څخه هريو په خصومت كې دنورو لوقائم مقام شمارل كيږي او له دوئ څخه يو د باقي وارثانو له طرف څخه خصم جوړيدلی شي. او په خلافت كې له وارثانو څخه كوم يو دنورو وارثانو له طرف څخه خصم نه شي جوړيدلای. نو دصاحبينو په نزد دقصاص دملك ثبوت دوارثت په طريقه سره دی لهذا يو وارث دنورو له طرف څخه خصم كيدای شي په دي وجه غائب ورور لره دوهم ځل دگواه پيش كولو ضرورت نشته. او دامام صاحب رحمه الله په نزد دقصاص دملك ثبوت دخلافت په طريقه سره دی لهذا يو وارث دنورو له طرف څخه خصم نه شي جوړيدلای په دي وجه غائب ورور لره دوهم ځل دگواه وړاندي كول ضروري دي.

ف: دامام صاحب قول راجح دی لما اخر صاحب الهدایة دلیله وقدمه صاحب الملتقی علی هامش مجمع الانهر، وقال المفتی غلام قادر حفظه الله: القول الراجح هو قول ابی حنیفة ........ وقال العلامة ابراهیم الحلبی، فلو اقام احد بنین حجة بقتل ابیهما عمدا والآخر غائب لزم اعادتهما بعد عود الغائب خلافا لهما (القول الراجح: ۲/۳۳۵)

(۲) قوله ولو خطاء او دینا لا ای لو کان القتل خطاء او کان الحق الذی ادعاه دینا لا یعید بینة اجماعا، یعنی که خطاء قتل شوی وو او دمقتول له دوو زامنو څخه یو حاضر او بل غائب وو او حاضر په ګواهانو سره قتل خطاء ثابت کړ یا غائب راغی نو بالاتفاق پر غائب لازم نه دی چې هغه قتل خطاء دوهم ځل په ګواهانو سره ثابت کړي، همدا حکم په دي صورت کې هم دی چې دداسي دووورونو پلار پر یو چا څه قرض پر یښی وي یعنی دقرض په صورت کې هم دغیر حاضر وررله راتګ څخه وروسته دوهم ځل په ګواهانو سره دقرض دثابتولو ضرورت نشته ولی چې دقتل خطاء او قرض موجب مال دی او په مال کې دملک ثبوت په طریقه دوارثت سره وي نو یو وارث دباقی وراثانو قائم مقام ګرځي په دي وجه غائب لره دوهم ځل دګواه وړاندي کولو ضرورت نشته.

(۳) که دقصاص اخیستلو ده ورونه مستحق وو له دواړو څخه یو غائب وو حاضر قتل په ګواهانو سره ثابت کړ مګر قاتل دعوی وکړه چې دده غائب وررور خپل حق قصاص ماته رامعاف کړی دی او خپله داعوی یې په ګواهانو سره ثابته کړه نو اوس به له قاتل څخه قصاص نه اخیستل کیږي ولی چې ګواکی قاتل دادعوی وکړه چې ستاحق له قصاص څخه ساقط شوی دی او دمال طرف ته منتقل شوی دی او قاتل دخپلي دي دعوی اثبات صرف په دي ډول سره ګولای شي چې دغائب له طرف څخه عفو ثابته کړي کوم چې ده په ګواهانو سره ثابته کړه او په دي صورت کې حاضر دغائب له طرف څخه خصم ګرځي نو کله چې قاتل خپله دعوی په ګواهانو سره ثابته کړه نو دقاضی دافیصله چې واقعي غائب ده ته خپل حق قصاص رمعاف کړی دی داقضاء علی الغائب نه ده لهذا قصاص ساقطیږي.

(۴) همدا حکم په دي صورت کې هم دی چې یو غلام ددووکسانو په منځ کې مشترک وي او هغه لره څوک عمدا قتل کړي او له دواړو شریکانو څخه یو غائب دی نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد اوس داحاضر له قاتل څخه قصاص نه شي اخیستلای ترڅو چې دوهم رانه شي او دعوی وکړي او ګواه پیښ کړي، او که قاتل په ګواهانو سره ثابته کړه چې غائب زه معاف کړی یم نو حاضر دغائب له طرف څخه هم خصم دی او له قاتل څخه قصاص ساقطیږي لما قلنا.

(۵) که دمقتول دري وارثان وي او له دوئ څخه دوو داګواهي ورکړه چې دریم خپل حق قاتل ته معاف کړی دی نو داګواهي لغوه ده او معافی به ددي دواړو ګواهي ورکونکوله طرف څخه شمارل کیږي ولی چې هغوئ په خپل ګمان سره په دي ډول ګواهي ورکولو سره دقصاص پرځای خپل ځان لره مالی نفع (دیت) اختیار وي لهذا دا په خپله ددوئ ا .صرف څخه معافی شمارل کیږي ولی چې ددوئ ګمان دادی چې قصاص ساقط شوی دی او ددوئ داګمان صرف ددوئ په حق کې معتبر دی، نو که قاتل ددوئ دواړو تصدیق وکړ مګر مشهود علیه ددوئ تصدیق ونه کړ نو دیت به ددوئ ترمنځ په دري ثلثه تقسیمیږي ولی کله چې قاتل ددوئ دواړو تصدیق وکړ نو ګویا دوئ لره یې ددیت دووثلثو اقرار وکړ نو دده دا اقرار خو صحیح دی مګر قاتل دخپل تصدیق سره

پرځای دادعوه هم کوي چېددریم حق ساقط شوی دی حال داچې هغه دده تصدیق نه کوي لهذا دقاتل قول به معتبرنه وي اودډریم دحصې دیت پرده واجب دی.

(۶)اوکه قاتل ددوئ دواړوتکذیب وکړنواوس به له دیت څخه دوئ دواړوته هیڅ نه ورکول کیږي ولی چې دوئ دواړودډریم پرعفوپه ګواهي ورکولوسره دااقراروکړچې ددوئ حق قصاص باطل شوی دی نوددوئ اقرارپه خپله ددوئ په حق کې صحیح دی اودوئ دادعوه هم وکړه چې ددوئ حصه په مال بدله شوې ده نوپه دې دعوی کې له بینه بغیرددوئ تصدیق نه شي کیدای ،البته دریم ته به یوثلث دیت ورکول کیږي ولی چې دلوړنیودووپرده دعفودعوی کول اودده انکارکول دلوړنیودووله طرف څخه ددې دریم په حق کې دابتداء عفوپه درجه کې ده په دې وجه دده حق قصاص په مال سره بدلیږي .

(۷)که دووګواهانوګواهي ورکړه چې فلانکی کس مثلاً زیدعمداً وواهه کړ(په دې شرط چې په اسلحه یې قتل کړی وي )اوزیدله همدې وهلوڅخه مسلسل صاحب فراش پاتې شوبالآخرهغه ددې زخم په وجه مړشونوله قاتل څخه به قصاص اخیستل کیږي ولی چې دګواهانومذکوره ګواهي داسې ده لکه چې هغوئ په قتل عمدسره ګواهي ورکړې وي اودقتل عمدپه ګواهي سره پرقاتل قصاص واجبیږي .

(۸)وَإِنْ اخْتَلَفَ شَاهِدَا الْقَتْلِ فِي الزَّمَانِ أَوِ الْمَكَانِ أَوْ فِيمَا وَقَعَ بِهِ الْقَتْلُ أَوْ قَالَ أَحَدُهُمَا قَتَلَهُ بِعَصًا ,وَقَالَ الْآخَرُ لَمْ أَدْرِ بِمَاذَا قَتَلَهُ بَطَلَتْ (۹)وَإِنْ شَهِدَا أَنَّهُ قَتَلَهُ ,وَقَالَا لَا نَدْرِي بِأَيِّ شَيْءٍ قَتَلَهُ وَجَبَ فِيهِ الدِّيَةُ (۱۰)وَإِنْ أَقَرَّ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَّهُ قَتَلَهُ ,وَقَالَ الْوَلِيُّ قَتَلْتُمَاهُ جَمِيعًا لَهُ قَتْلُهُمَا ,وَلَوْ كَانَ مَكَانَ الْإِقْرَارِ شَهَادَةٌ لَغَتْ

**ترجمه** :اوکه اختلاف وکړدقتل دووګواهانوپه وخت کې یاپه مکان کې یادقتل په آله کې یاوویل یوه له دوئ څخه چې ده دی قتل کړی په لاټی سره اووویل دوهم چې ماته نه ده معلومه چې په کوم شي سره یې قتل کړی دی نوګواهي باطلیږي ،اوکه دووګواهي ورکړه چې ده قتل کړی دی اوموږنه یوخبرچې په کوم شي سره یې قتل کړی دی نوواجبیږي دیت ،اوکه له دووڅخه هریوه اقراروکړچې ماقتل کړی دی اوویل ولی چې تاسې دواړوپه ګډه سره دی قتل کړی دی نوده لره جائزده ددې دواړوقتل کول اوکه وي داقرارپرځای ګواهي نولغوه ده .

**تشریح** :(۸)که دووګواهانودقتل ګواهي ورکړه لیکن دقتل په زمانه کې دواړواختلاف وکړیوه وویل چې درمضان په لسم یې قتل کړی دی اودوهم وویل چې درمضان په شلم یې قتل کړی دی .یایې دقتل په مکان کې اختلاف وکړمثلاًیوه وویل په کوټه کې یې قتل کړی دی اودوهم وویل چې په پښین کې یې قتل کړی دی ،یایې دقتل په آله کې اختلاف وکړیوه وویل چې په لاټی سره یې قتل کړی دی اودوهم وویل چې په توره سره یې قتل کړی دی ،یایوه وویل چې په لاټی سره یې قتل کړی دی اودوهم وویل چې ماته نه ده معلومه چې په کوم شي سره یې قتل کړی دی ،نوپه دې ټولوصورتونوکې دګواهانوګواهي باطله ده ولی چې قتل دوه ځله نه شي کیدای په دې وجه دلسم رمضان قتل جلادی اودشلم رمضان قتل جلادی ،دکوټه قتل جلادی اودپښین قتل جلادی نوپه هریوه قتل یویوګواه دی لهذا دګواهانودنصاب دنه پوره والی په وجه سره داګواهي معتبرنه ده .

(۹) که ګواهانو ګواهي ورکړه چې مثلاً زيد عمر قتل کړ او وي ويل چې موږ ته نه ده معلومه چې په څه شي سره يې قتل کړنو پر قاتل ديت واجبيږي دقياس تقاضا خو داده چې دا ګواهي معتبره نه وي ولې چې دقتل مجهول ګواهي ده په دي وجه چې که آله قتل مجهوله وي نو قتل به هم مجهول وي ليکن استحسانا دا ګواهي معتبره ګڼل شوي ده ولې چې ګواهانو دمطلق قتل ګواهي ورکړي ده او مطلق مجمل نه دی چې له بيان څخه وړاندي ممکن العمل نه وي بلکه مطلق ممکن العمل وي لهذا دقتل په موجب کې ادانی (يعنی ديت) به واجب ګڼل کيږي.

(۱۰) او که له دوو کسانو څخه هريوه اقرار وکړ چې فلانکی ما قتل کړی دی او دمقتول ولی وايې چې تاسي دواړو په ګډه سره قتل کړی دی نو ولی لره ددوئ دواړو قتل کول جائز دي ولی جې له دواړو څخه هريوه دانفرادا قتل او پر خپل ځان دقصاص اقرار کړی دی او پر مقر باندي دقصاص په واجبيدلو کې مقر له دمقر تصديق کړی دی البته په انفرادا قتل کې يې دهغه تکذيب وکړ او مقر له که په بعض مقربه کې دمقر تکذيب کوي نو په دي سره باقی اقرار نه باطليږي لهذا دمقتول ولی لره له دوئ دواړو څخه قصاص اخيستل صحيح دي. او که مذکوره صورت داقرار پرځای په شهادت کې پيښ شي نو شهادت لغوه دی مثلاً دوو کسانو ګواهي ورکړه چې عمر فلانکی کس مثلاً زيد قتل کړی دی او دوه نور ګواهي ورکړي چې ده لره فلانکی کس مثلاً بکر قتل کړی دی او دمقتول ولی وو ايې چې دوئ دواړو قتل کړی دی نو ولی لره ددوئ دواړو قتل کول جائز نه دي ولی چې مشهود له که په بعض مشهود به کې دشاهد تکذيب کوي نو په دي سره دشاهد فسق ثابتيږي لهذا ددا سي شاهد شهادت معتبر نه دی.

## بَابٌ فِي اعْتِبَارِ حَالَةِ الْقَتْلِ

دا باب دحالت قتل په اعتبار کې دی

احوال ځرنګه چې دذواتو لپاره صفات دي په دي وجه مصنف رحمه الله له قتل او متعلقات قتل څخه وروسته دقتل احوال ذکر کړل.

(۱) الْمُعْتَبَرُ حَالَةُ الرَّمْيِ فَتَجِبُ الدِّيَةُ بِرِدَّةِ الْمَرْمِيِّ إِلَيْهِ قَبْلَ الْوُصُولِ لَا بِإِسْلَامِهِ (۲) وَالْقِيمَةُ بِعِتْقِهِ (۳) وَلَا يَضْمَنُ الرَّامِي بِرُجُوعِ شَاهِدِ الرَّجْمِ بَعْدَ الرَّمْيِ (۴) وَحَلَّ الصَّيْدُ بِرِدَّةِ الرَّامِي لَا بِإِسْلَامِهِ (۵) وَوَجَبَ الْجَزَاءُ بِحِلِّهِ لَا بِإِحْرَامِهِ

**ترجمه**: معتبر دغښی ويشتلو وخت دی نو واجبيږي ديت دمرمی اليه په مرتد کيدلو سره له غښی رسيدلو څخه وړاندي نه دهغه په مسلمانيدلو سره. او قيمت دغلام په ازاديدلو سره، او نه ضامن کيږي ددبرو غورځونکی درجم دګواه په رجوع کولو سره له رمی څخه وروسته، او حلال دی ښکار دغښی ويښتونکی په مرتد کيدلو سره نه دهغه په مسلمانيدلو سره، او واجبيږي جزاء په حلاليدلو سره نه په احرام تړلو سره.

**تشريح** :(۱)دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دغښي ويشتلو دحالت اعتبار دی نه دغښي دلګيدلو دحالت نو که غښي ويشتونکی دمسلمان طرف ته غښي وارکړله غښي لګيدلو څخه وړاندي هغه مرتدشو (العياذبالله )نودامام صاحب په نزدپرغښي ويشتونکی ديت واجبيږي .اودصاحبينوپه نزدپرغښي ويشتونکی هيڅ نه واجبيږي ولی ده چې کوم کس تلف کړی دی هغه دتلف پروخت دمرتدکيدلوپه وجه سره غيرمعصوم دی اوغيرمعصوم په تلف کولوسره هيڅ نه واجبيږي .دامام صاحب دليل دادی چې دضمان لزوم دفعل په سبب سره وي ولی چې دانسان په وس کې صرف دده فعل دی او هغه دلته غښي ويشتل دی پاتي شوغښي لګيدل هغه دده دوس خبره نه ده نودغښي ويشتلوپه حالت کې دی قاتل وګرځيدواوپه دې وخت کې مقتول مسلمان وولهذاديت واجبيږي .همداوجه ده چې که چادا سلام په حالت کې دښکار طرف ته غښي وارکړاوله غښي لګيدلوڅخه وړاندي هغه مرتدشو(العياذبالله )بياغښي ولاړی اوپرښکارولګيداوپه دې سره ښکارمړشونوددې خوړک حلال دی معلومه شوه چې اعتباردغښي دويشتلوحالت ته دی .همدې خودقياس تقاضاده چې پرغښي ويشتونکی قصاص لازم شي ولی چې ده محفوظ الدم مسلمان قتل کړی دی ليکن دشبه په وجه سره قصاص ساقط دی ديت واجب دی .اوکه چاکافرپه غښي وويشت اوهغه له غښي لګيدلوڅخه وړاندي اسلام قبول کړنوبالاتفاق .غښي ويشتونکی باندي ديت نه واجبيږي ولی چې دغښي ويشتلوپه حالت کې دده وينه مباح وه ولهذاددغښي ويشتل موجب ضمان نه ده .

ف:دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی .اودصاحبينوله خپل قول څخه رجوع ثابته ده لمافي البحرالرائق:والأصل في مسائل هذاالكتاب ان يعتبروقت الرمي بالاتفاق وانماعدل ابويوسف ومحمدعن ذالک فيمااذارمى الى مسلم فارتدوالعياذبالله قبل الاصابة ان حاله علی مابيناه في اول هذاالفصل (البحرالرائق:۱/۳۲۶)

(۲)قوله والقيمة بعتقه اى تجب القيمة بعتق العبدبعدالرمى قبل الاصابة .يعنى که غښي ويشتونکی دچادغلام په طرف غښي وارکړله غښي لګيدلوڅخه وړاندي مالک هغه ازادکړبياغښي پرغلام ولګيداوغلام مړشونوپه غښي ويشتونکی دغلام قيمت واجبيږي نه ديت .ولی چې غښي ويشتونکی دغښي ويشتلوپه وخت کې دغلام قاتل دی اودغښي ويشتلوپه حالت کې هغه غلام وولهذاددده قيمت واجب دی .

(۳)پرکوم کس ګواهانوګواهي ورکړه چې ده داحصان په حالت کې زناکړي ده قاضي دهغوی دګواهي مطابق دهغه دسنګسارکولوحکم ورکړاوس يوچادهغه طرفته ډبره وارکړه له ډبري لګيدلوڅخه وړاندي دزنااله ګواهانوڅخه کوم ګواه له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نوددډبري ويشتونکی ضامن نه دی ولی چې دډبري دويشتلودحالت اعتباردی اوپه دې وخت کې مشهودعليه مباح الدم وو .البته په رجوع کونکی ګواه باندي ضمان لازميږي که هغه يواځي رجوع وکړه نوپرده ربع ديت لازميږي اوکه څلوروواړه ګواهانورجوع وکړه نوکامل ديت لازميږي.

(۴)که کوم مسلمان دښکارطرف ته غښي وارکړاوپرښکارترلګيدلووړاندي غښي ويشتونکی مرتدشو(العياذبالله )بیاهغه غښي پرښکارولګيداوپه دې سره ښکارمړشونوحلال دی ولی چې دغښي دويشتلودحالت اعتباردی اوپه دې وخت کې غښي ويشتونکی مسلمان دی لهذاددده ښکار حلال دی اوکه

مجوسي غښې وارکړاوله غښې لګیدلو څخه وړاندي هغه مسلمان شونوښکار حلال ن دی ولی چې دغښې دوېښتلو دحالت اعتباردی اوپه دي وخت کې هغه مجوسی دی لهذا ده ښکار حلال نه دی.
(۵)اوکه کوم محرم دښکارطرف ته غښې وارکړاوپرښکارترلګیدلووړاندي دی له احرام څخه ووتی یاغښې پرښکاروولګیداوپه دي سره ښکارمړشونوپرغښې ویښتونکی دښکارجزاء لازمه ده ولی چ درمی دحالت اعتباردی اوپه حالت رمی کې هغه محرم وواوپرمحرم دښکارجزاء لازمیږي ،اوکه چاله غښې ویښتلوڅخه وروسته احرام وتاړه بیاغښې پرښکارولګیدنوپرده دښکارجزاء نه ده لازمه ولی چې دغښې ویښتلوپروخت هغه محرم نه دی اواعتبار دحالت رمی دی.

# كتَابُ الدِّيَات

## داکتاب ددیاتوپه بیان کې دی

دیات ددیة جمع ده .شرعاهغه مال ته ویل کیږي کوم چې دنفس بدل وي .اوارش هغه مال ته ویل کیږي کوم چې له نفس څخه په کم جنایت کې واجب وي .دکتاب الدیات مناسبت له جنایاتوسره ظاهردی چې دیت پرانسان دجنایت ... دوموجبو(قصاص اودیت )څخه یودی،بیاخرنګه چې په قصاص کې داحیاء معنی ددیت په نسبت زیاته ده په دي وجه یې دقصاص بیان له دیت څخه مقدم کړ.

(۱)دِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ أَرْبَاعًا مِنْ بِنْتِ مَخَاضٍ إِلَى جَذَعَةٍ وَلَا تَغْلِيظَ إِلَّا فِي الْإِبِلِ (۲)وَالْخَطَأُ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ أَخْمَاسًا ابْنُ مَخَاضٍ وَبِنْتُ مَخَاضٍ وَبِنْتُ لَبُونٍ وَحِقَّةٌ وَجَذَعَةٌ (۳)أَوْ أَلْفُ دِينَارٍ أَوْ عَشَرَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ (۴)وَكَفَّارَتُهُمَا مَا ذُكِرَ فِي النَّصِّ (۵)وَلَا يَجُوزُ الْإِطْعَامُ وَالْجَنِينُ (۶)وَيَجُوزُ الرَّضِيعُ لَوْ أَحَدُ أَبَوَيْهِ مُسْلِمًا (۷)وَدِيَةُ الْمَرْأَةِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ دِيَةِ الرَّجُلِ فِي النَّفْسِ وَفِيمَا دُونَهَا وَدِيَةُ الذِّمِّيِّ وَالْمُسْلِمِ سَوَاءٌ

**ترجمه** :دشبه عمددیت سل اوښان دي په څلورقسمه له بنت مخاض څخه ترجذعه پوري اوتغلیظ نشته مګرپه اوښانوکې اودخطاء دیت سل اوښان دي پنځه قسمه ابن مخاض اوبنت مخاض اوبنت لبون اوحقه اوجذعه ،یازردیناره یالس زره درهمه دي اوددي دواړوکفاره هغه ده کومه چې مذکوره ده په نص کې اوجائزنه ده خورک ورکول اوکوم بچی چې دموربه نس کې وي اوجائزده شیدې خوړونکی،ماشوم که دهغه له موراوپلارڅخه کوم یومسلمان وي اودښځې دیت نیمایې ده دنارینه ددیت په نفس کې اوله نفس څخه په کم کې اودمسلمان اوذمی دیت برابردی.

**تشریح** :(۱)په قتل شبه عمدکې دقاتل پرعاقله دیت مغلظه دی ،دشیخینوپه نزددیت مغلظه څلورقسمه اوښان دي یعنی پنځه ویشت بنت مخاض ،پنځه ویشت بنت لبون ،پنځه ویشت حقې ،اوپنځه ویشت جزعې دي ولی چې نبی کریم ﷺ په څلورقسمه اوښانوفیصله فرمایلې وه .دامام محمد رحمه الله په نزدسل اوښان په دریې قسمه سره دي دیرش جزعې ،دیرش حقې ،اوڅلویشت ثنیه یاثنی دي ثنی هغه اوښ دی چې پنځه کاله یې پوره شوي وي اوپه شپږم کې شروع وي اوثنیات به حامله هم وي (دشیخینوقول راجح دی ).اوپه دي کې تغلیظ صرف دڅلوروقسمه یادري قسمه اوښانوپه لازمولوکې دی .اومذکوره بالاتغلیظ صرف په هغه صورت کې دی چې دیت داوښانوپه ذریعه سره داداء کولواراده وي اوله اوښانوڅخه

ماسوادراهمواودنانيروداداء كولوپه صورت كې تغليظ نشته ولى چې تغليظ توقيفي دى كوم چې صرف داوښانوپه صورت كې دى.

(٢)قوله والخطاء اى دية الخطاء مائة من الابل ،دقتل خطاء په وجه سره پر عاقله ديت اوپر خپله پر قاتل كفاره واجب دة لقوله تعالى (ومن قتل مؤمنا خطاء فتحرير رقبة مؤمنة ودية مسلمة إلى أهله)(يعنى چاچې كوم مسلمان خطاء قتل كړنورقبه مؤمنه دي ازاده كړي اودمقتول والاوته دي ديت وركړي ).اوپه قتل خطاء كې ديت سل اوښان په پنځه قسمه سره دي شل بنت مخاض ،شل ابن مخاض ،شل بنت لبون ،شل حقې ،اوشل جذعې دي ولى چې همداتفصيل دحضرت ابن مسعود ﷺ په روايت كې مروى دى ،همدراز په قتل خطاء كې قاتل معذوروي په دي وجه پرده په واجب شوي ديت كې بايدتخفيف وي اوپه مذكوره ديت كې دشبه عمددصورت په نسبت تخفيف دى ولى چې هلته څلوريادري قسمه داوښانواداء كولوحكم وودلته دپنځه قسمه اوښانوحكم دى.

(٣)قوله او الف دينار او عشرة آلاف درهم اى دية القتل خطاء امامائة من الابل اخماسااو الف دينار من الذهب اوعشرة آلاف درهم من الورق ،يعنى كه دقتل خطاء ديت په سروزروسره اداء كيږي نويوديت زردیناره دى اوكه په سپينوزروسره اداء كيږي نولس زره دراهم دي ولى چې له حضرت ابن عمر ﷺ څخه مروى ده چې نبى كريم ﷺ ديومقتول دديت په باره كې دلسوزروحكم فرمايلي وو.دامام مالك ﷫ اوامام شافعى ﷫ په نزددولس زره درهمه دي .اوپه دراهمواودنانيروكې وزن سبعه معتبردى (يعنى ددرهم وزن دري ماشي يوه رتى اوديوي رتى پنځمه حصه ده ، اوددينارووزن څلورماشي اوڅلوررتى دي په دي دول داواومثقالواولسودرهمووزن برابريږي همدي ته وزن سبعه ويل كيږي ).

(٤)په قتل شبه عمداوقتل خطاء كې پرقاتل كفاره لازمه ده اوكفاره هغه ده كومه چې په آيت مبارك كې مذكوره ده چې يومؤمن غلام به ازادوي كه غلام نه ووبيابه پرلپسي دوه مياشتي روژه نيسي قال الله تبارك وتعالى (ومن قتل مؤمنا خطاء فتحرير رقبة مؤمنة ودية مسلمة الى اهله ........فمن لم يجدفصيام شهرين متتابعين )(اوكوم څوک چې كوم مسلمان په خطاء سره قتل كړي نوپرهغه ديومسلمان مملوک ازادول دي اودمقتول والاوته دي ديت وركړي ..........بياكوم كس ته چې په لاس ورنه شي نومتواتر(متصلي )دوه مياشي روژي دي )مذكوره آيت اگركه دقتل خطاء په باره كې واردشوى دى مگرپه حق قتل كې شبه عمدهم خطاء دى.

(٥)مگرپه دي دووصورتونوكې شپيتومسكينانوته خورک وركول كفايت نه كوي ولى چې دشپيتومسكينانودخورک په باره كې نص نه دى واردشوى اومقاديرتوقيفي دي په رأيه سره مقررول يې صحيح نه دي ،اوكوم غلام چې په كفاره كې اداء كيږي دهغه مسلمان والى اوسليم الاعضاء والى ضروري دى لهذاكوم ماشوم چې دمورپه نس كې وي هغه په كفاره كې آزادول كافى نه دى ولى چې دهغه په باره كې معلومه نه ده چې سليم الاعضاء دى اوكه نه دى.

(٦)اوكه غلام شيدي رودونكى ماشوم وي اودهغه له مورااوپلارڅخه كوم يومسلمان وي نودهغه په ازادولوسره كفاره اداء كيږي ولى چې داحدالابوين په مسلمان والى سره ماشوم هم مسلمان شمارل كيږي

او ماشوم څرنګه چې ښکاره دی لهذا دغه سليم الاطراف والی هم به ښکاره وي په دې وجه دداسي غلام په کفاره کې ازادول صحيح دي.

(۷) دښځې ديت مطلقاً دنارينه ددیت نصف دی که په نفس کې وي او که په اطرافو کې وي لقوله ﷺ دية المرأة على النصف من دية الرجل (دښځې ديت دنارينه ددیت نصف دی) دا روايت له حضرت علي رضی الله عنه موقوفاً او مرفوعاً دواړه قسمه مروی دی. همدارازدښځې حال دنارينه له حال څخه ناقص دی او دښځې منفعت دنارينه له منفعت څخه کم دی لهذا دانقصان به په ديت کې هم ظاهرېږي. او دمسلمان او ذمي ديت برابر دی ولې چې دنبي کريم ﷺ ارشاد مبارک دی دية كل ذي عهد في عهده ألف دينار (د هر ذمي ديت په داسي حال کې چې هغه پرخپل عهد ذمه باندې باقي پاتې وي زر ديناره دی). همدراز دا دحضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه فيصله هم ده. دامام شافعي رحمه الله په نزد ذمی که يهودی يا نصراني وي نو دهغه ديت څلور زره درهمه دی او که مجوسي وي نو دهغه ديت اته سوه درهمه دی. او دامام مالک رحمه الله په نزد ديهودي او نصراني ديت شپږ زره درهمه دی.

## فصل

### دا فصل له نفس څخه دکم ددیت په بيان کې دی

مصنف رحمه الله چې دنفس ددیت له بيان څخه فارغ شو نو دملحقاتو ددیت په بيان يې شروع وکړه ولې چې ملحق بالشئ له شئ څخه وروسته وي.

(۱) في النفس والمارن واللسان والذكر والحشفة والعقل والسمع والبصر والشم والذوق واللحية إن لم تنبت وشعر الرأس (۲) والعينين واليدين والشفتين والحاجبين والرجلين والأذنين والأنثيين وثديي المرأة الدية (۳) وفي كل واحد من هذه الأشياء نصف الدية وفي أشفار العين الدية وفي أحدها ربعها (۴) وفي كل أصبع من أصابع اليدين أو الرجلين عشرها وما فيها مفاصل ففي أحدها ثلث دية الأصبع ونصفها لو فيها مفصلان (۵) وفي كل سن خمس من الإبل أو خمسمائة درهم (۶) وكل عضو ذهب نفعه ففيه دية كيد شلت وعين ذهب ضوءها

**ترجمه**: په نفس کې او په پوزه کې او په ژبه کې او په ذکر کې او په حشفه کې او په عقل کې او په سمع کې او ديد کې او په قوت شامه کې او په قوت ذائقه کې او په ږيره کې که بيرته نه شوه راشنه او د سر په ويښتانو کې (ديت دی). او په سترګو کې او په لاسونو کې او په شونډو کې او وريځو کې او په پښو کې او په غوږو کې او په خايو کې او دښځې په تيانو کې ديت دی. او له دې شيانو څخه په هريوه يوه کې نصف ديت دی او دسترګو په بڼو کې پوره ديت دی او په يوه بانه کې ربع ديت دی. او په هره ګوته کې دلاسو او دپښو لسمه حصه ددیت ده او په کومه ګوته کې چې څوبنده وي نو له هغوئ څخه په هريوه کې ثلث ديت دی او نصف ديت دی که په هغې کې دوه بنده وي او په هر غاښ کې پنځه اوښان دي يا پنځه سوه درهمه دي. او هر هغه اندام چې دهغه نفع ختمه شي نو په هغه کې ديت دی لکه چې لاس شل شي او دسترګو روښنائي ختمه شي.

**تشريح**: (۱)قوله وفي النفس والمارن واللسان الخ .داټول معطوفات خبرمقدم اوالدية يې مبتدا، مؤخره ده .يعنې په نفس کې ديت دی که صغيروي اوکه کبير،وضيع وي اوکه شريف،مسلم وي اوکه ذمي ولې چې په حرمت اوعصمت کې داټول برابردي .اوپوزې دنرمې حصې په پرې کولوکې کامل ديت دی اودژبې په پرې کولوکې کامل ديت دی اودذکراوحشفې په پرې کولوکې کامل ديت دی اوکه يې څوک پرسرداسې ووهه چې دهغه عقل زائل شونوپرهغه کامل ديت دی اوپه کڼولو .اوړندولوکې ديت دی .اودچادبويولو اوڅکلودقوت په ختمولوکې ديت دی که چادبل ژيرياد سرويښتان داسې وروخريل چې بيرته راشنه نه شول نوپرهغه کامل ديت دی .دانساني اعضاء په باره کې قاعده کليه داده چې دچادعضوپه پرې کولوسره که دهغه عضوکامل منفعت ختم شويا له هغه اندام څخه چې کوم جمال مقصودووهغه زائل شونودادنفس انساني دضائع کولوپه شان دی لهذاپردې کامل ديت نفس واجبيږي نومذکوره بالااعضاء همداسې دي چې دځينوپه پرې کولوسره کامل منفعت زائليږي اودځينوپه پرې کولوسره مقصودي جمال زائليږي په دې وجه په هغوئ کې کامل ديت دی.

(۲)ددواړوسترګوپه ضائع کولوکې کامل ديت دی ،ددواړولاسونوپه پرې کولوکې کامل ديت دی .په دواړوشونډوکې کامل ديت دی ،ددواړووريزوپه غوڅولوکې کامل ديت دی ،ددواړوپښوپه پرې کولوکې کامل ديت دی ،په دواړوغوږونوکې کامل ديت دی ،په دواړوخايوکې کامل ديت دی اودښځې په دواړوتيانوکې کامل ديت دی .ددې ټولودليل هغه قاعده کليه ده کومه چې په مخکنۍ مسئله کې تيره شوه.

(۳)له مذکوره بالادوواعضاء څخه که يې يوضائع کړنونصف ديت واجبيږي ولې چې ديوه عضوپه پرې کولوسره نصف منفعت يانصف جمال فوت کيږي لهذاديت به هم نصف واجب وي ،اودسترګوڅلورسره بانوګان که يې داسې وکښل چې بيرته راشنه نه شول نودکامل جمال دفوت کيدلوپه وجه سره په دې کې پوره ديت واجبيږي اوپه دووکې نصف اوپه يوه کې ربع ديت واجبيږي لمابينا.

(۴)ددواړولاسونواودواړوپښولـه ګوتوڅخه په هريوه ګوته کې دپوره ديت عشردی ولې چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي په هرګوته کې لس اوښان دي .ښکاره خبره ده چې لس اوښان دپوره ديت لسمه حصه ده ،اوټولې ګوتې په منفعت کې دمساوات په وجه سره په ديت کې هم سره برابرې دي .په کوموګوتوکې چې درې بندونه دي که يې له هغوڅخه يوبندپرې کړنودګوتې دديت ثلث واجبيږي .اوپه کوموګوتوکې چې دوه بندونه دي په هغوکې که يې يوپرې کړنودګوتې دديت نصف واجبيږي بدل به پرمبدل تقسيميږي.

(۵)که چادچاغاښ خطاء مات کړنوپه هرغاښ کې دپوره ديت نصف عشردی يعنې پنځه اوښان واجبيږي لقوله ﷺ في کل سن خمس من الابل (په هرغاښ کې پنځه اوښان دي )،بياغاښونه اوداړې ټول په حکم کې سره برابردي ولې چې په داړوکې دژولومنفعت دی نوپه ضواحکوکې زينت دی.

(۶)که چاڅوک په کوم عضووواهه اودهغه منفعت ختم شونواګرکه هغه عضوپرخپل ځای پاتې وي نوهم پوره ديت واجبيږي لکه چې دپرې کولوپه صورت کې پوره ديت واجبيږي مثلاًپرلاس يې وواهه هغه شل

شويايې پرسترګه وواهه سترګه باقي وه مګرديديې ختم شونوپوره ديت واجبيږي ولې چې له اعضاء څخه مقصودمنفعت دی نودمنفعت ختميدل دعضودپري کيدلوپه شان دی.

## فَصْلٌ فِي الشِّجَاجِ

دافصل دسردزخمونوپه بيان کې دی

کوم زخم چې پرمخ اوسرباندي وي هغه ته شجة ويل کيږي اوجمع يې شجاج ده اودپاتي جسم زخم ته جراحة ويل کيږي چې جمع يې جراحات دي ،له نفس څخه دکم درجه والاجنايتونواوديتونوکې شجاج هم داخل دی ليکن دکثرت مسائلوپه وجه سره منصف رحمه الله دشجاج احکام په مستقل فصل کې بيان فرمايلي دي.

(۱)وفي الْمُوضِحَةِ نِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ وفي الْهَاشِمَةِ عُشْرُهَا وفي الْمُنَقِّلَةِ عُشْرٌ وَنِصْفُ عُشْرٍ وفي الْآمَّةِ وَالْجَائِفَةِ ثُلُثُهَا (۲) فَإِنْ نَفَذَتْ الْجَائِفَةُ فَثُلُثَاهَا (۳) وفي الْحَارِصَةِ وَالدَّامِعَةِ وَالدَّامِيَةِ وَالْبَاضِعَةِ وَالْمُتَلَاحِمَةِ وَالسِّمْحَاقِ حُكُومَةُ عَدْلٍ) (۴) وَلَا قِصَاصَ في غَيْرِ الْمُوضِحَةِ (۵) وفي أَصَابِعِ الْيَدِ نِصْفُ الدِّيَةِ وَلَوْ مع الْكَفِّ وَمَعَ نِصْفِ سَاعِدٍ نِصْفُ الدِّيَةِ وَحُكُومَةُ عَدْلٍ

**ترجمه** : په موضحه کې دديت شلمه حصه ده اوپه هاشمه کې لسمه حصه ده اوپه منقله کې لسمه اوشلمه حصه ده اوپه آمه ياجائفه کې ثلث ديت دی اوکه يوبل طرف ته ووزي جائفه نودوه ثلث دديت دي ،اوپه حارصه اودامعه اودامیه اوباضعه اومتلاحمه اوسمحاق کې دعادل فيصله ده ،اوقصاص نشته له موضحه څخه په ماسواکې ،اوديوه لاس په ګوتوکې نصف ديت دی اګرکه له ورغوي سره وي اوله نيمايي بازوسره نصف ديت دی اودعادل فيصله ده.

**تشريح** :(۱)شجاج دسراومخ زخم ته ويل کيږي اودپاتي نورجسم زخم ته جراحت ويل کيږي ،دسراومخ زخمونه پرلس قسمه دي ./**نمبر ۱**:حارصه :داهغه زخم دی چې په پوستکی کې خراش وکړي اوبس (يعنی ګرځاري يې کړي )./**نمبر ۲**:دامعه :داهغه زخم دی چې وينه خوښکاره شي مګرونه بهيږي لکه په سترګوکې اوښکه چې ښکاريږي خومګربهيږي نه ./**نمبر ۳**:داميه :داهغه دی چې وينه هم وبهيږي ./**نمبر ۴**:باضعه :داهغه دی په کوم کې چې غوښه پرې شي ./**نمبر ۵**:متلاحمه :داهغه دی په کوم کې چې( دباضعه په نسبت )ديره غوښه پرې شي مګرسمحاق ته ونه رسيږي ./**نمبر ۶**:سمحاق :داهغه دی په کوم کې چې غوښه پرې شي اوسمحاق ته ورسيږي سمحاق دغوښې اودسردهډوکی ترمنځ نرمه پرده ده ./**نمبر ۷**:موضحه :داهغه دی چې هډوکی ښکاره شي ./**نمبر ۸**:هاشمه :داهغه دی په کوم کې چې هډوکی هم مات شي ./**نمبر ۹**:المنقلة :داهغه دی په کوم کې چې هډوکی په ماتيدلوسره له خپله ځايه وښوري ./**نمبر ۱۰**:آمه :داهغه دی کوم چې ام دماغ ته ورسيږي ام دماغ هغه پرده ده چې په هغې کې دماغ دی.

که موضحه خطاء وي نوپه دي کې نصف عشرديت (پنځه اوښان )دي ،په هاشمه کې عشرديت (لس اوښان )دي ،په منقله کې دعشرديت اونصف عشرديت مجموعه (يعنی پنځلس اوښان )دي ،په آمه کې ثلث ديت واجب دی لقوله ﷺ وفي الموضحة خمس من الإبل وفي الهاشمة عشر وفي المنقلة خمسة عشر وفي الآمة ثلث الدية (يعنی په موضحه

كې پنځه اوښان دي اوپه هاشمه كې لس اوپه منقله كې پنځلس اوپه آمه كې ثلث ديت دى ).اوپه جائفه زخم كې ثلث ديت دى لقوله ﷺ في الجائفة ثلث الدية (په جائفه كې ثلث ديت دى )،او جائفه هغه زخم دى كوم چې ترجوفه ورسيږي كه په سينه كې وي يا په نس كې وي يا په ملا وغيره كې وي .

(۲)كه جائفه زخم يوبل طرف ته ووتى نودادوه جائفي ګڼلي كيږي لهذا ديت دوه ثلثه واجبيږي كماقضى بذلک ابوبكر ﷺ .

(۳)له موضحه څخه په كمه درجه كې چې كوم شپږقسمه زخمونه دي يعني حارصه ،دامعه ،داميه،باضعه ،متلاحمه ،اوسمحاق ،په دي كې دامام ابوحنيفه ﷫ دمذهب مطابق نه قصاص شته اونه ديت بلكه حكومت عدل دى يعنى عادل كس چې څه فيصله وكړي هغه واجبيږي ولى چې ددي شپږقسمه زخمونو لپاره كوم تاوان مقررنه دى اوهسي بې زايه يې پرېښودل هم صحيح نه دي لهذا په دي كې دعادل فيصله معتبره ده ،دكوم چې صورت دامام طحاوى ﷫ دقول مطابق داده چې كوم سالم غيرزخمي غلام دي قيمت كړاى شي بيادي دوهم ځل له زخم سره قيمت كړاى شي اوبيادي ددواړوقيمتونوپه منځ كې تفاوت ته وكتل شي كه هغه تفاوت دقيمت نصف عشروونو ديت دعشرنصف دي واجب كړاى شي اوكه تفاوت دربع عشرپه اندازه وونوربع عشرديت دي واجب كړاى شي .

له پورته ذكرشويو لس قسمه زخمونو څخه په اووم قسم (يعنى موضحه )كې قصاص شته په دي شرط چې عمداوي ولى چې قصاص مساوات غواړي اوپه موضحه كې مساوات ممكن دى په دي ډول چې ترهډوكي دېري كړاى شي اوپري دي شودل شي ،له موضحه څخه لوړچې كوم دري قسمه زخمونه دي په هغوكې بالاتفاق قصاص نشته ولى چې مساوات متعذردى .

(۴)اوله موضحه څخه چې په كښته درجه كې كوم زخمونه دي په هغوكې دامام ابوحنيفه ﷫ په نزد قصاص نشته .دامام محمد ﷫ په نزدله سمحاق څخه ماسواپه دانوركې قصاص شته اوهمدا ظاهرالرواية دى اوهمدا صحيح ده ولى چې مساوات ممكن دى په دي ډول سره چې دمجروح دزخم په ناپولوسره دي جارح همدومره اندازه زخمي كړي .

(۵)ديوه لاس په ټولوګوتوكې نصف ديت دى ولى چې په يوه ګوته كې عشرديت (لس اوښان )دي نوپه پنځوګوتوكې نصف ديت (پنځوس اوښان )كيږي ،اوكه يې له ګوتوسره ورغوى هم پري كړنوهم نصف ديت لازميږي ولى چې ورغوى دګوتو تابع دى .كه يې ګوتي له نيمايې بازوسره پري كړي نوپه ګوتواوورغوى كې نصف ديت دى اوپه نيمايې بازوكې حكومت عدل (دكوم چې صورت مخكي ذكرشو)دى ولى چې بازودګوتواوورغوى تابع نه دى اوهغه همداسي بې زايه هم نه شي پرېښودل كيداى لهذا په دي كې به دعادل فيصله معتبره وي .

(٦) وفي قطع الكف وفيها أصبع او أصبعان عشرها او خمسها ولا شيء في الكف (٧) وفي الأصبع الزائدة (٨) وعين الصبي وذكره ولسانه إن لم تعلم صحته بنظر وحركة وكلام حكومة عدل (٩) شج رجلا موضحة فذهب عقله او شعر رأسه دخل أرش الموضحة في الدية (١٠) وإن ذهب سمعه او بصره او كلامه لا وإن شجه موضحة فذهبت عيناه او قطع أصبعا فشلت أخرى او قطع المفصل الأعلى فشل ما بقي او كل اليد او كسر نصف سنه فاسود ما بقي فلا قود (١١) وإن قلع سنه فنبتت مكانها أخرى سقط الأرش (١٢) وإن أقيد فنبتت سن الأول يجب

**ترجمه**: او دورغوى په پري كولو كې په داسي حال كې چې په هغه كې يوه ګوته يادوه ګوتې وي د ديت لسمه حصه ده يا پنځمه حصه ده او په ورغوى كې هيڅ نشته. او په زياته ګوته كې. او د ماشوم په ستر ګه كې او د هغه په ذكر كې او په ژبه كې كه معلوم نه وه د هغه صحت په ليدلو او حركت كولو او خبري كولو سره د يو عادل فيصله ده. زخمي يې كړ كوم كس نو د هغه عقل ختم شو يا يې د سرويښتان نو داخليږي د موضحه تاوان په ديت كې. او كه باقي پاتي نه شو د هغه سماعت او ديدياګويائي نو نه. او كه يې ولګاوه پر كوم كس موضحه زخم نو صائع شو د دواړه ستر ګي يا يې پري كړه د هغه ګوته نو شل شوه د وهمه ګوته يا لوړ بند نو شل شو باقي پاتي يا يې ټول لاس شل شو يا يې نصف دانت مات كړ نو تور شو باقي نو قصاص نشته او كه يې وكښى د ځاغابن بيا راشين شو د هغه پرځاى بل يو نو ساقطيږي تاوان او كه يې قصاص واخيستل شو بيا راشين شو د اول كس غابن نو تاوان واجبيږي.

**تشريح**: (۶) كه چا دبل كس ورغوى وريري كړ په كوم كې چې صرف يوه ګوته وه پاتي ځلور ګوتې نه وي نو پرقاطع باندي عشر ديت يعنى لس اوښان واجبيږي او كه ګوتې دوي وي نو خمس ديت يعنى شل اوښان واجبيږي. او په ورغوى كې هيڅ نه واجبيږي ولى چې ګوتې اصل دي او ورغوى تابع دى په دي وجه چې دلاس منفعت بطش (نيول) دى او نيول د ګوتو په وجه سره حاصليږي.

(۷) قوله وفي الاصبع الزائدة وعين الصبي الخ. له خپلو ټولو معطوفاتو سره خبر مقدم دى او حكومة عدل مبتداء مؤخره ده. يعنى كه چا د بل زياته ګوته وريري كړه نو د آدميت د شرافت په خاطر په دي كې حكومة عدل دى ولى چې دا د انسان جزء دى اګر كه د دي منفعت يا زينت نشته. همداشان كه چا د كوم ماشوم ستر ګه يا ذكر يا ژبه وريري كړه او تراوسه د دي اعضاء روغ والى نه وو معلوم شوى يعنى دستر ګو ديد. د ذكر حركت كول او د ژبي خبري كول معلوم نه وو نو په دي كې حكومت عدل دى ولى چې د دي اعضاء منفعت معلوم نه دى په دي وجه كامل ديت نه شي واجبيدلاى لهذا د يوه عادل فيصله په دي كې معتبره ده. بيا ماشوم كه په ستر ګه سره ديد كولاى شي او په ژبه سر خبري كولاى شي او ده ذكر حركت كولاى شي نو دا د دي اعضاء د روغ والى علامت دى.

**الالغاز**: اى جان اذامات المجنى عليه فعليه نصف الدية واذا عاش فعليه الدية؟

**فقل**: الختان اذاقطع حشفة الصبى خطا باذن ابيه فان مات الصبى وجب على الخاتن نصف الدية وان عاش فعلى الخاتن الدية كلها (الاشباه والنظائر)

(۸) كه چا د بل پر سر باندي داسي موضحه زخم ولګاوه د كوم په وجه سره چې د هغه عقل ختم شو نو پر جارح ټول ديت لازميږي او د موضحه تاوان هم په دي كې داخليږي ولى چې د عقل په ختميدلو سره د ټولو اعضاء منفعت فوتيږي نو دا داسي ده لكه څوك چې په موضحه زخم سره زخمي كړاى شي او بيا هغه له دې ځخه مړ شي نو د موضحه تاوان په كل ديت كې داخليږي. همداشان كه له موضحه زخم څخه وروسته د هغه د سر ويښتان داسي ضائع شول چې بيرته راشنه نه شول نو د سر د ويښتانو په ضائع كيدلو كې كل ديت دى او د دي زخم تاوان هم په دي كې داخليږي ولى چې جزء په كل كې داخل وي.

(۹)كه دمذكوره موضحه زخم په وجه سره دمجروح قوت سامعه ياباصره ياقوت كلام ختم شونوپرجارح له ديت سره ددي زخم تاوان هم لازم دى داصورت دتيرشوى صورت په شان نه دى چې دزخم تاوان په ديت كې داخل شي بلكه داعضاء مختلفه دتلف كولو په شان دزخم تاوان په ديت كې نه داخليږي ولى چې له دي منافعو څخه هريو منفعت مستقل دى .په خلاف دعقل چې دهغه منفعت دټولو اعضاء طرف ته راګرځي .

**الالغاز**: اى رجل قطع اذن انسان وجب عليه خمسمائة دينار وان قطع راسه فعليه خمسون دينارا؟!

**قل**: اذا خرج راس المولود فقطع انسان أذنه ولم يمت فعليه ديتها وان قطع راسه فعليه الغرة وغرة الغلام يساوى خمسين دينارا (الاشباه والنظائر).

(۱۰)كه چادبل سرداسي ورزخمي كړچې دهغه په وجه سره دهغه دواړه سترګي ضائع شوي ياپې دچاګوته وېږي كړه دكوم په وجه سره چې بله متصله ګوته هم شله شوه ياپې برسيره بندپري كړدكوم په وجه سره چې باقي پاتي ګوته هم شله شوه ياپې ټول لاس ضائع شويا چادبل نصف غاښ ورمات كړاوپه دي سره پاتي غاښ هم تور شونو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په دي ټولو صورتونو كې تاوان واجب دى قصاص نه واجبيږي ولى چې قصاص مساوات غواړي اودلته مساوات ممكن نه دى اوچيرته چې مساوات ممكن نه وي هلته قصاص نه وي په دي وجه قصاص نه واجبيږي اوكله چې قصاص واجب نه شونوتاوان به وركوي .اوهمدا راجح ده لمافي اللباب :والصحيح قول ابى حنيفة وعليه مشى البرهاني والنسفي وغيرهماتصحيح (اللباب في شرح الكتاب على هامش الجوهرة ۲/۱۷۲:)

(۱۱)كه چادكوم كس غاښ وروكښى بيادهغه پرځاى بل غاښ راشين شونو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد ددي جرمانه ساقطه شوه ولى چې دغاښ دمنفعت اوزينت په بيرته راګرځيدلو سره دمجروح دحق جبيره وشوه .دصاحبينو په نزد دغاښ كښونكي پرذمه پوره تاوان لازم دى ولى چې دكښونكي له طرف څخه دموجب تاوان جنايت صدورشوى دى ،پاتي شونوى غاښ راشين كيدل نو دالله تعالى له طرف څخه نوى نعمت اواحسان دى.

**ف**: دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى لمافي الدرالمختار:(الان قلعت )السن (فنبت اخرى فانه يسقط الارش عنده كسن صغير)خلافالهما(الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ۵/۳۱۵)

(۱۲)اوكه زيد دبكرغاښ وروكښى بكرقصاص دزيد غاښ وروكښى بيادبكرغاښ راشين شونو پربكرلازمه ده چې دى به دزيد دغاښ ارش يعنى پنځه سوه درهمه ادا ، كوي ولى چې دبكردغاښ په راشنه كيدلو سره معلومه شوه چې ده دزيد غاښ ناحقه وركښلى وولهذا پربكر دزيد دغاښ ديت لازميږي .

(۱۳)وان شج رجلا فالتحم ولم يبق له اثر او ضرب فجرح فبرا وذهب اثره فلا ارش (۱۴)ولا قود بجرح حتى يبرا (۱۵)وكل عمد سقط فيه قود ه بشبهة كقتل الاب ابنه عمدا فديته في مال القاتل .(۱۶)وكذا ما وجب صلحا او اعترافا ولم يكن عمدا (۱۷)وعمد الصبي والمجنون خطا وديته على عاقلته ولا تكفير فيه ولا حرمان عن الميراث والمعتوه كالصبي

**ترجمه**: او كه يې زخمي كړ كوم كس يا هغه زخم ډك شو او نه شو پاتې د هغه اثر يا يې و واهه او زخمي يې كړ يا هغه روغ شو او نه شو پاتې د هغه اثر نو تاوان نشته، او قصاص نشته د زخم تر څو چې روغ شي، او هر هغه عمد د كوم چې قصاص ساقط شي د شبه په وجه سره لكه قتل كول د پلار زوى لره نو د هغه ديت د قاتل په مال كې دى، او همداشان كوم چې واجب شي په صلح يا اقرار سره يا كم وي له نصف عشر څخه، او عمد د نابالغ او مجنون خطاء دى او د هغه ديت د هغه پر عاقله دى، او نشته كفاره په دي كې او نه محروم والى او معتوه د نابالغ په شان دى.

**تشريح**: (۱۳) كه يو چا د بل چا سر ور زخمي كړ يا هغه زخم ډك شو او د هغه اثر پاتې نه شو او ويښتان و نيو، يا يې پر نور جسم و واهه او هغه زخمي شو يا هغه زخم ډك شو او د هغه اثر پاتې نه شو نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد له جارح څخه جرمانه ساقطيږي ولى چې د جرماني لازمونكى عيب د مجروح پر بدن باندي او س پاتې نه شو او صرف درد او الم موجب جرمانه او تاوان نه دى همدا وجه ده چې كه څوك بل څوك ووهي مگر زخمي يې نه كړي نو پر ضارب څه تاوان نشته. د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد پر جارح د درد رسولو جرمانه واجب ده ولى چې موجب ديت عيب اگر كه زائل شو مگر له زخم څخه حاصل شوى درد خو نه ده زائل شوى او د جرماني مقدار به يو عادل كس بيانوي. د امام محمد رحمه الله په نزد پر جارح باندي د طبيب اجرة او د دواء خرڅه واجب ده ولى چې پر مجروح باندي د طبيب اجرة او د دواء قيمت د جارح د فعل په وجه سره لازم شوى دى.

**ف: د امام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دى** لمافي الشامية: وفي البرجندى عن الخزانة والمختار قول ابى حنيفة، درمتقى وعليه اعتمد المحبوبي والنسفي وغيرهما لكن قال في العيون لايجب عليه شئ قياسا وقالا يستحسن ان تجب حكومة عدل مثل اجرة الطبيب (ردالمحتار: ۵/۳۱۵)

(۱۴) كه چا كوم كس زخمي كړ نو له جارح څخه به قصاص نه اخيستل كيږي تر څو چې مجروح روغ شي ولى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د مجروح له روغيدلو څخه وړاندي د قصاص له اخيستلو منع فرمايلي ده. همدا راز په زخمونو كې د حال اعتبار نشته بلكه د انجام اعتبار دى په دي وجه چې فى الحال د هغه حال معلوم نه دى كيداى شي چې زخم ډير شي او د هلاكت نفس سبب وگرځي لهذا له روغيدلو څخه وروسته يوه خبره يقيني كيږي چې پر جارح د زخم تاوان دى يا د اتلاف نفس تاوان.

(۱۵) مصنف رحمه الله يو اصول بيانوي چې هر هغه قتل چې په هغه كې د كومې شبهې په وجه سره له قاتل څخه قصاص ساقط شي او ديت واجب شي مثلا پلار زوى عمدا قتل كړ نو پر قاتل (پلار) باندي قصاص نشته بلكه له ده څخه به ديت اخيستل كيږي، نو داشان ديت د قاتل په مال كې واجبيږي پر عاقله نه واجبيږي، او دا ديت به قاتل په دريو كلونو كې اداء كوي.

(۱۶) همداشان هر هغه مالي جرمانه كومه چې پر قاتل د صلح يا د قاتل د قتل خطاء د اقرار كولو په وجه سره واجبه شوي وي هغه به هم د قاتل له مال څخه اداء كيږي پر عاقله واجبه نه ده لقول عمر رضي الله عنه لايعقل العاقلة صلحا ولا اعترافا (يعنى خاندان مال صلح او مال اقرار نه شي برداشتولاى). همدا راز په دي صورت كې څرنگه چې ديت د عقد په وجه سره واجب شوى دى او عاقله د عقد په وجه سره واجب شوى ديت نه شي برداشتولاى بلكه د قتل په وجه سره واجب شوى ديت برداشتوي. همداشان هغه ديت چې د پوره ديت شلمه حصه نه وي بلكه

كمه وي نوداسي ديت هم پرعاقله نه دى بلكه پخپله دمجرم په ذمه وي ولى چې عاقله ديت برداشتوي ترڅوپرقاتل څه تخفيف وي حال داچې داكوم زيات مقدارنه دى چې مجرم يې په خپله نه شي برداشتولاى.
(۱۷)نابالغ اومجنون كه عمداكوم جرم كوي نوهغه هم خطاء شمارل كيږي لهذادوئ دجرم په صورت كې ددوئ پرعاقله ديت واجبيږي ولى چې ددوئ لره قصدصحيح نشته په دي وجه چې عمداوقصدخوپه علم پسې موقوف دي اودعلم ذريعه عقل دى حال داچې په مجنون كې عقل بالكل نشته اوپه نابالغ كې ناقص دى لهذاددوئ له طرف څخه عمداوقصدنه شي متحقق كيدلاى همداوجه ده چې دوئ گناه گاريږي هم نه.
(۱۸)همداشان كه ماشوم (نابالغ )يامجنون خپل كوم قريب قتل كړي دكوم چې دى وارث دى نودددوئ داقتل دقتل خطاء په حكم كې دى اوسره له دي چې په قتل خطاء كې كفاره لازميږي مگرپرماشوم اومجنون كفاره هم نشته اودمقتول له ميراث څخه هم نه محروميږي ولى چې داقتل ددوئ په حق كې گناه نه گڼل كيږي لهذانه پردوئ كفاره شته اونه له ميراث څخه محروميږي ،اوپه لوړذكرشوى حكم كې معتوه دماشوم په حكم كې دى.

## باب في الجنين

### داباب دجنين په بيان كې دى

جنين فعيل په معنى دمفعول يعنى مجنون سره دى اومجنون دمستورپه معنى دى .جنين هغه ماشوم دى كوم چې تراوسه دموړپه رحم كې مستوروي اوكله چې پيداشي نوهغه ته وليدويل كيږي له دي څخه وروسته هغه ته رضيع ويل كيږي .جنين څرنگه چې دجزء من الكل په حكم كې دى په دي وجه مصنف رحمه الله دده احكام داجزاء حقيقه داحكامو له بيانولو څخه وروسته ذكركړي دي .ياپه دي ډول ووايه چې په انسان اودانسان په متعلقاتودجنايت له بيان څخه چې فارغ شونودمن وجه انسان احكام يې شروع كړل اومن وجه انسان جنين دى.

(۱)ضرب بطن امرأة فألقت جنينا ميتا تجب غرة نصف عشر الدية)فإن ألقته حيا فمات فدية (۲)وإن ألقته ميتا فماتت الأم فدية وغرة وإن ماتت فألقته ميتا فدية فقط (۳)وما يجب فيه يورث عنه ولا يرث الضارب فلو ضرب بطن امرأته فألقت ابنه ميتا فعلى عاقلة الأب غرة ولا يرث منها (۴)وفي جنين الأمة لو ذكرا نصف عشر قيمته لو كان حيا وعشر قيمته لو أنثى)

**ترجمه** :واريې وكړدښځې پرنس نوواچاووهغې ماشوم مړنوواجبيږي غره ،اوهغه دديت لسمه حصه ده اوكه يې واچاووهغه ژوندى بياهغه مړشونوديت واجبيږي ،اوكه يې واچاوومړبياموره مړه شوه نوديت اوغره واجبيږي اوكه موره مړه شوه بياهغې مړماشوم واچاوونوصرف ديت شته ،اوكوم چې واجبيږي په دي كې هغه په ميراث كې وړل كيږي له دي څخه اووارث نه دى وهونكى اوكه يې ووهله خپله ښځه پرنس نوواچاووهغې هلك مړنودپلارپرعاقله غره ده اوميراث نه شي وړلى له دي څخه ،اودمينځې په ماشوم كې كه هغه مذكروي شلمه حصه ده دده دقيمت كه ژوندى واى اولسمه حصه ده دهغه دقيمت كه مؤنث وو.

**تشريح** :(۱)كه چاښځه پرنس په لغته يابل شي سره ووهله چې دهغه په وجه سره هغې جنين (مړماشوم )واچاوو نوپه دي كې پرضارب باندي يوه غره واجب ده ولي چې دبنوهذيل يوي ښځې بله ښځه پرنس ووهلي وه چې په هغه سره مضروبه ښځه او دهغې جنين دواړه مړه شول ،نونبي كريم ﷺ دښځې ددیت او دجنين دغره حكم فرمايلي وو .غرة الشئ .خيار الشئ اواول الشئ ته ويل كيږي غرة الشهر په معنى داول الشهر.او په اصطلاح كې غره ددیت دلسمي حصي نصف ته ويل كيږي څرنګه چې دامقادير په ديت كې ترټولو كښته درجه او اول ديت دی په دي وجه دي ته غره ويل كيږي ،يعني كه جنين مذكر وو نودنارينه ددیت نصف العشر (شلمه حصه يعني پنځه سوه درهمه )واجب دي او كه جنين مؤنث وونو دښځې ددیت عشر (لسمه حصه يعني پنځه سوه )واجب دي .دنارينه ددیت شلمه حصه او دښځې ددیت لسمه حصه دواړه پنځه سوه كيږي ولي چې دښځې ديت دنارينه ددیت نصف دی .او كه مضروبه ښځې ژوندی ماشوم واچاوو بيا هغه مړشو نوپرضارب باندي كامل ديت واجبيږي ولي چې ضارب ماشوم له پيدا كيدلو څخه وړاندي دوهلوپه ذريعه سره خطاء ضائع كړ.

(۲)اوكه مضروبه ښځې مړماشوم واچاوو بيا مورهم مړه شوه نوپرضارب دمورد قتل په وجه سره ديت اودجنين په وجه سره غره واجبيږي ولي چې دتعدداثرپه وجه سره فعل هم متعدد شمارل كيږي لهذا دادوه جنايتونه شمارل كيږي .اوكه دضارب په ضرب سره اول مورمړه شوه بيادهغې له نس څخه مړماشوم ووتی نوپرضارب صرف دمورديت واجب دی او په جنين كې هيڅ نه واجبيږي ولي چې ظاهره داده چې دجنين دمرګ سبب دمورمرګ دی ولي چې دده ژوند دمورله ژوند څخه او دده ساه اخيستل دمورله ساه اخيستلو څخه ده نودده مرګ دمورپه مرګ سره متحقق شوی دی.

(۳)څه چې په جنين كې واجبيږي كه غره وي اوكه ديت نوهغه دده دوارثانو دی ولي چې دادنفس بدل دی اوبدل عن المقتول ورثه لره دی .ليكن كه ضارب هم دده وارث وونوهغه به له ميراث څخه محروم وي مثلاً كه چاخپله ښځه په نس كې په لغته ووهله چې په دي سره هغې مړماشوم واچاوونو دضارب (پلار )پرعاقله غره ده اوضارب په دي غره كې دميراث مستحق نه دی ولي چې قاتل ته ميراث نه وركول كيږي .

(۴)كه چامينځه پرنس ووهله چې په دي سره هغې ماشوم واچاوونوماشوم كه مذكروونو دهغه په ژوندی پيدا كيدلو دهغه دقيمت نصف عشريعني شلمه حصه واجبيږي .اوكه هغه مؤنث وي نولسمه حصه واجب ده .دمور دقيمت اعتبارنشته ولي چې واجب مقدار دجنين دنفس بدل دی لهذا دهغه اندازه به دده په ذات سره كيږي وفي هذه صورة تفضيل الانثى على الذكر في الارش .

(د)فان حرر دسيده بعد ضربه فالقته فمات ففيه قيمته حيا ولا تجب الدية وان مات بعد العتق (۲)ولا كفارة في الجنين (۷)وان شربت دواء لتطرحه او عالجت فرجها حتى اسقطته ضمن عاقلتها الغرة ان فعلت بلا اذن)

**ترجمه** :نوكه ازاد كړ هغه لره دهغه مولی دهغه له وهلو څخه وروسته او هغې ماشوم واچاوو او هغه مړشونو په دي كې دهغه قيمت دی دژوندی والی .اوكفاره نشته په جنين كې .كه ښځې دواء وڅښله ترڅو حمل ضائع

کړي یا یې څه شی کښېښود په خپله شرمګاه کې حتی چې هغه یې وا چاوو نو ضامن ګرځي ددي عاقله دغره که دي کړی وي بلا اجازته.

**تشریح** :(۵)که چا دبل کس مینځه پرنس په لغته ووهله او ترا وسه هیڅ نه وو شوي چې مالک اعلان وکړ چې ددي مینځې په نس کې چې کوم ماشوم دی هغه ما ازاد کړله دي څخه وروسته مینځې ژوندی جنین وا چاوو بیا هغه مړ شو نو په دي صورت کې پرضارب دژوند ماشوم قیمت لازمیږي یعنی که هغه ماشوم ژوندی وای نو دهغه ماشوم چې څه قیمت وای هغه پرضارب لازمیږي دقیاس تقاضا داده چې دیت واجب شي ولی چې له خروج څخه وروسته ماشوم ژوندی او آزاد دی مګر کوم ضرب چې ددي ماشوم دمرګ سبب دی هغه ددي ماشوم درقیت په حالت کې واقع شوی دی لهذا دهغه داعتبار کولو په وجه سره قیمت واجبیږي ولی چې وړاندي ذکر شو چې اعتبار درمی حالت لره دی.

(۶) دچا په وهلو سره چې جنین ولوید او مړ شو نو پرضارب کفاره واجبه نه ده بې شکه مندوبه ده .دائمه ثلاثه په نزد کفاره واجب ده ولی چې ضارب قاتل دی .زموږ دلیل دادی چې کفاره په قتل کې واجبیږي حال دا چې دجنین ژوند معلوم نه دی نو قتل هم یقیني نه دی .مذکوره اختلاف هغه وخت دی چې په وهلو سره مړ ماشوم ولویږي او که ژوند ماشوم ولوید بیا مړ شو نو بالاتفاق کفاره واجب ده.

(۷) که کومې ښځې دخپل حملې دضائع کولو په غرض سره کومه دواء وڅښله یا یې وخوړله یا د بولو په ځای کې څه شی کښېښود چې دهغه په وجه سره حمل ضائع شو نو که ښځې داکار دخپل خاوند له اجازت څخه بغیر کړی وو نو دښځې پر عاقله نصف عشر دیت یعنی ددیت شلمه حصه لازمیږي ولی چې ښځې په تعدی کولو سره حمل ضائع کړ لهذا پردي ضمان واجبیږي او دا ضمان به دښځې عاقله برداشتوي او ښځې دده دمیراث مستحقه نه ده ولی چې ښځې قاتله ده .او که ښځې دخاوند په اجازت سره حمل ضائع کړ نو هیڅ ورکول نه لازمیږي ولی چې دښځې له طرف څخه زیاتی نه دی موجود شوی.

## باب مایحدثه الرّجل فی الطّریق

داباب دهغو شیانو په بیان کې دی کوم چې انسان په لاره کې جوړوي

مصنف چې دقتل دمباشرت له احکامو څخه فارغ شو نو قتل لره دسبب جوړیدونکي شیانو احکام یې شروع کړل څرنګه چې داول وقوع کثیره او بلا واسطه ده په دي وجه یې دهغه احکام وړاندي ذکر کړل.

(۱) وَمَنْ أَخْرَجَ إِلَى الطَّرِيقِ الْعَامَّةِ كَنِيفًا أَوْ مِيزَابًا أَوْ جُرْصُنًا أَوْ دُكَّانًا فَلِكُلٍّ نَزْعُهُ (۲) وَلَهُ التَّصَرُّفُ فِي النَّافِذِ إِلَّا إِذَا أَضَرَّ وَفِي غَيْرِهِ لَا يَتَصَرَّفُ إِلَّا بِإِذْنِهِمْ (۳) فَإِنْ مَاتَ أَحَدٌ بِسُقُوطِهَا فَدِيَتُهُ عَلَى عَاقِلَتِهِ كَمَا لَوْ حَفَرَ بِئْرًا فِي طَرِيقٍ أَوْ وَضَعَ حَجَرًا فَتَلِفَ بِهِ إِنْسَانٌ (۴) وَلَوْ بَهِيمَةً فَضَمَانُهَا فِي مَالِهِ

**ترجمه** :چا چې راویستله دشارع عام طرف ته بیت الخلاء یا ناوه یا چهجا یا دکان نو هر کس لره حق شته دهغه دماتولو .او ده لره دتصرف حق شته په نافذه کوڅه کې مګر دا چې مضروي او په غیرنافذه کې دي تصرف نه کوي مګر داهل کوڅې په اجازه سره .نو که مړ شو څوک دهغه په لویدلو سره نو دهغه دیت دده پر عاقله دی لکه

چې څوک وکیندي څاه په لاره کې یاکښېږدي ډبره اوضائع شې په دي سره کوم انسان ،اوکه څاروی وي نو دهغه ضمان به دده په مال کې وي.

**تشریح** :(۱)که چادشارع عام طرف ته بیت الخلاراویستله ،یایې ناوه ولګوله ،یاکومه چوتره یادکان جوړکړنوهرکس لره ددي شیانودماتولو اختیارشته ولی چې په دي شیانوسره خلګوته ضرررسیږي وقال ﷺ لا ضرر ولا ضرار في الإسلام (په اسلام کې ضرراوضرارنشته )یعنی نه ابتداء ضرررسول جائزدی اونه چاته دضرررسولوپه نتیجه کې هغه لره زیات ضرررسول جائزدی .همداراز په شارع عام (عامه لار)کې دټولو خلګوحق شته لهذاهریوه لره دااختیارشته چې داضرردفع کړي.

(۲)اوپه داسي کوڅه کومه چې هغه بل طرف ته ووځي په هغې کې مذکوره بالاشیان جوړول صحیح دي په دي شرط چې خلګوته په دي سره تکلف ونه رسیږي ولی چې په داسي ګلۍ کې هریوه لره دتیریدلوحق شته نوداسي شي دجوړولوحق به هم وي کوم چې خلګولره مضرنه وي ولی چې داسي شیان دتیریدلوپه درجه کې دي کله چې دتیریدلوحق لري نوددي شیانوجوړلوحق هم لري ،اوکومه ګلۍ چې هغه بل طرف ته نه ووځي (یعنی بنده وي )په هغې کې مذکوره شیان جوړول اوتصرف کول جائزنه دي ترڅوچې ددي کوڅې اوسیدونکي ددي اجازت ورنه کړي ولی چې داسي کوڅه دهمدي خلګوملک وي همداوجه ده چې په هرحال کې له دوئ څخه هریوه لره دشفعه حق حاصل دی لهذاپه دي کې هیڅ قسم تصرف ددوئ له اجازت څخه بغیرجائزنه دی.

(۳)که چاپه لاره کې له مذکوره شیانوڅخه کوم شی جوړکړهغه په کوم کس راولویدل چې په دي سره هغه کس مړشونودجوړونکي پرعاقله باندي دهغه دیت واجبیږي ولی چې ددي کس دضائع کیدلوسبب همدی شونوداداسي ده لکه چې څوک دمسلمانانوپه لاره کې څاه وکیندي یاډبره کښیږدي بیادهغه په وجه سره کوم انسان ضائع شي نودضائع شوی.دیت ددي فاعل پرعاقله لازم دی ولی چې دافاعل په خپل دي کارکې له حدڅخه تجاوزکونکی دی لهذاکوم نقصان چې دده له فعل څخه پیداشي نوهغه ددي ضامن دی.

(۴)قوله ولو بهیمة فضمانها فی ماله ای لو کان الهالک بسقوط نحو الکنیف بهیمة فضمانها فی مال المخرج،یعنی که دده ددي فعل په وجه سره کوم څاروی تلف شونودهغه تاوان دفاعل په مال کې واجبیږي ولی چې خاندان مالی تاوان نه شي برداشتولای ،صرف دنفس تاوان برداشتوي.

(۵)وَمَنْ جَعَلَ بالوعةً في طريقٍ بِأمرِ سُلْطانٍ او في مِلْكِهِ او وَضَعَ خشبةً فيها او قنطرةً بِلَا إذْنِ الإمَامِ فَتَعَمَّدَ رَجُلُ المُرُورَ عليها لم يَضْمَنْ (۶)وَمَنْ حَمَلَ شيئًا في الطَّرِيقِ فَسَقَطَ علىٰ إنْسانٍ ضَمِنَ وَلَوْ كانَ رِدَاءً قد لَبِسَهُ فَسَقَطَ لا (۷)مَسْجِدٌ لِعَشِيرَةٍ فَعَلَّقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ قِنْدِيلًا أو جَعَلَ فيه بَوَارِيَ أو حَصَاةً لِعِطَبٍ بِهِ رَجُلٌ لم يَضْمَنْ وَإنْ كانَ مِنْ غيرِهم ضَمِنَ (۸)وَإنْ جَلَسَ فيه رَجُلٌ مِنْهُمْ فَعَطِبَ بِهِ أحَدٌ ضَمِنَ إنْ كانَ في غيرِ الصَّلاةِ وَإنْ كانَ فيها لا

**ترجمه** :اوچاچې جوړه کړه موری په لاره کې دبادشاه په اجازه سره یاپه خپل ملک کې یایې کیښودلرګی په لاره کې یایې پل جوړکړیادبادشاه له اجازت څخه بغیرپیاکوم کس قصدوکړدتیریدلوپردي نوضمان نشته ،اوچاچې اوچت کړکوم شی په لاره کې اوهغه ولویدی پرکوم انسان باندي نوضامن ګرځي ،اوکه وي هغه څادرکوم چې ده په تن کړی وي اوهغه ولویدی نوضامن نه دی ،یومسجددی دکوم قوم اوخوړندکړله دوئ

څخه يو کس په هغه کې قنديل ياې خپور کړيه دي کې پوزى ياډبري ياهلاک شويه دي سره کوم نس نوضامن نه دى اوکه له اهل محلې څخه ماسوابل چاايښي وي نوضامن دى ،اوکه کېنيستې په مسجدکې کوم کس له اهل محله څخه ياهلاک شودده په وجه سره کوم کس نوضامن دى که په لمانځه کې نه ووا وکه په لمانځه کې وونوضامن نه دى.

**تشريح** :(۵)که کوم کس په لاره کې چوبچه (مورى،اوپه ديوال کې داسې سورى چې په هغه سره دننه اوبه دباندې راوځي )وکيندله نوکه يې دسلطان په اجازت سره داکارکړى وي ياې په خپله ځمکه کې کيندلى وي ،ياې دسلطان له اجازت څخه بغيرپه لاره کې لرګى ايښې وي ياې پل جوړکړياکوم کس قصداًهلته تيريداوپه دې کې ولويدهلاک شونوپه دې څلورووارو صورتونوکې ددې کس په ذمه هيڅ نه واجبيږي په لومړي صورت کې خوپه دې وجه پرده ضمان نشته چې هغه دسلطان په اجازت سره دى لهذاکيندونکى زياتى کونکى نه شمارل کيږي ،اوپه دوهم صورت کې په دې وجه ضامن نه دى چې ده په خپل ملک کې تصرف کړى دى اوپه خپل ملک کې هغه دتصرف مجازدى لهذاپرده ضمان نشته ،اوپه آخري دووصورتونوکې ځرنګه چې هغه کس قصداًپه لرګى ياپل تيرشوى دى لهذادهلاکت نسبت په خپله دتيريدونکى طرف ته کيږي نه دپل جوړونکى اولرګى ايښودونکى وطرف ته .

(۶)که کوم کس په لاره له خپل سامان سره روان وواوهغه سامان ولويداوپه هغه سره کوم انسان هلاک شونودسامان والاضامن دى اوکه هغه څادراغوستې وواوهغه څادرولويداودهغه په وجه سره کوم کس هلاک شونوپرڅادر والاضمان نشته په دواړوصورتونوکې وجه دفرق داده چې سامان وړونکى دسامان دحفاظت په قصدکولوسره تګ کوي لهذادلته دسلامتى دوصف قيدلګول کيږي (يعنى دده مروريه دې شرط سره مشروط دى چې کوم بل کس به ته ضررنه رسيږي )ولى چې دده په قصداودحفاظت دارادې په وجه سره پرده څه تنګى نشته اودڅادراغوستونکى مقصددڅادرحفاظت نه وي نوکه په دې صورت کې دسلامتى دوصف قيدولګول شي نوحرج لازميږي په دې وجه دڅاراغوستل بغيرله کوم قيدڅخه جائزګرځول شوى دى .

(۷)دکوم قوم مسجدد ى په هغه کې له همدې قوم والاڅخه يوکس قنديل ځوړندکړياې پوزى خپورکړياې په هغه کې ډبري خيري کړي ياپه دې سره اتفاقاًکوم انسان مړشونودقنديل وغيره ايښودونکى کس باندې څه ضمان نشته .اوکه ددې کارونوکونکى له اهل محله څخه نه وي بلکه کوم بل غيرکس وي نوهغه ضامن ګرځي وجه فرق داده چې دمسجددامورواتنظام داهل مسجدکاردى لهذادهغوئ فعل مطلقامباح دى، دسلامتى په قيدسره مشروط نه دى ،اوځرنګه چې دمسجدانتظام له اهل محله څخه ماسوادنوروخلګوکارنه دى لهذادهغوئ فعل به دسلامتى په شرط سره مشروط وي اوچيرته چې داشرط موجودنه شي نوهغه به ضامن وي داداامام صاحب قول دى اودصاحبينوپه نزدپردى کس که هم داکارونه وکړي نوضامن نه دى ولى چې دادثواب کاردى پردې هغه ته ثواب ورکول کيږي لهذاپردى کس هم داهل مسجدپه شان دى .

**ف**:دصاحبينوقول راجح دى کمالى الشامية :قال العلامة ابن عابدين رحمه الله :فانه نقل عن الحلوانى ان اكثرالمشائخ اخذوابقولهماوعليه الفتوى(ردالمحتار: ۵/۳۲۲)

(۸) نه اهل مسجد څخه کوم کس په مسجد کې ناست وو کوم بل کس له هغه سره ټکر شو او هلاک شو نو که هغه کس لمونځ اداء کاوو نو بالاتفاق ضامن نه دی او که يې لمونځ نه اداء کاوو نو دا امام صاحب په نزد ضامن دی ولی چې مسجد د لمانځه لپاره جوړ شوی دی لهذا د لمانځه د اداء کولو او نه اداء کولو د حالتونو په منځ کې تفاوت ظاهرول ضروري دی د کوم چې صورت دادی چې د لمونځ کونکی لپاره کښېنستل مطلقا مباح او د لمونځ نه اداء کونکی لپاره په شرط د سلامتی سر مباح و ګرځول شي . او د صاحبينو په نزد ضامن نه دی ولی چې مسجد د لمانځه او ذکر د واړو لپاره جوړ ېږي نو کله چې د جماعت لمونځ اداء کوي نو لړ انتظار خو به کوي لهذا بغير له لمانځه هم په مسجد کې کښېنستل مباح شول نو بغير له لمانځه ناست کس به هم ضامن نه وي .همدراز که هغه په لمانځه کې وي نو بالاتفاق ضامن نه دی او په حديث شريف کې راغلي دي چې کوم کس د لمانځه پ انتظار کې کښيني هغه هم په لمانځه کې شمارل کيږي لهذا بغير له لمانځه کس هم په لمانځه کې شمارل کيږي لهذا داسي کس هم ضامن نه ګرځي .

ف :د صاحبينو پر قول فتوی ده لمافی الشامية :فانه نقل الحلوانی ان اکثر المشائخ اخذوا بقولهما وعليه الفتوی ونقل عن صدر الاسلام ان الاظهر ماقالاه لان الجلوس من ضرورات الصلوة فيکون ملحقا بها وفی العينی بقولهما قالت الثلاثة وبه يفتی (رد المحتار: ۲ ۲ ۳/۵)

## فَصلٌ فِي الحَائِطِ المَائِلِ

دا فصل د کاږه (ړنګيدونکي) ديوال په بيان کې دی

مصنف صاحب د مباشرت قتل او قتل لره د سبب جوړيدونکو د احکامو له بيانولو څخه وروسته اوس د داسي قتل احکام بيان وي کوم چې له جماداتو يعنی کاږه ديوال سره متعلق دي ،هسي خو مناسب داوه چې دا فصل يې له جناية البهيمة څخه مؤخر کړی وای ترڅو د جماداتو له بيان څخه د حيواناتو احکام مقدم وای ليکن څرنګه چې د جرصن ،ميزاب وغيره له مسائلو سره د دي فصل مناسبت وو په دي وجه يې د حيواناتو له احکامو څخه دا مقدم کړل.

(۱) حائط مائل إلى طريق العامة ضمن ربه ماتلف به من نفس أو مال إن طالب بنقضه مسلم أو ذمي ولم ينقضه في مدة يقدر على نقضه (۲) وإن بناه مائلا ابتداء ضمن ماتلف بسقوطه بلا طلب) (۳) وإن مال إلى دار رجل فالطلب إلى ربها (۴) فإن أجله أو أبرأه صح بخلاف الطريق (۵) حائط بين خمسة أشهد على أحدهم فسقط على رجل ضمن خمس الدية (۶) دار بين ثلاثة حفر أحدهما فيها بئرا أو بنى حائطا فعطب به رجل ضمن ثلثي الدية

**ترجمه** :يو ديوال کوږ شو د شارع عام طرف ته نو ضامن ګرځي د هغه مالک د هغه کوم چې ضائع شي په هغه سره نفس يا مال که مطالبه کړي وي د هغه د چپه کولو کوم مسلمان يا ذمی او ده نه وي چپه کړی په دومره موده کې چې په هغه کې دی قادر وي د هغه په چپه کولو ،او که ده کوږ جوړ کړله ابتداء څخه نو ضامن ګرځي د هغه کوم چې ضائع شي د هغه په چپه کيدلو سره بلا مطالبه ، او که کوږ شو د چا د مکان طرف ته نو د مطالبي حق مالک مکان لره دی ،او که هغه مهلت ورکړي ده ته يا يې بری کړي نو صحيح دی په خلاف د لاري ،يو ديوال

مشترک دی د پنځو په منځ کې گواه پيښ کړای شول له دوو څخه پر يوه بيا ديوال پر چا را ولويد نو ضامن گرځي دخمس ديت .يو مکان مشترک دی د دريو تر منځ وکيندی په هغه کې له دوو څخه يوه څاه يايې جوړ کړ ديوال يا هلاک شو په دي سره يو کس نو ضامن گرځي د دوو ثلثو د ديت .

**تشريح** :(۱)که دچاديوال دمسلمانانو دعامي لاري طرف ته کوږ شو خلگو له مالک څخه دهغه دچپه کولو مطالبه وکړه او پردي گواه هم قائم کړل مگر هغه ديوال چپه نه کړ حال دا چې دومره مده تيره شوه چې که ده غوښتی نو ديوال يې چپه کولی شوای مگر ده چپه نه کړ .بيا ديوال چپه شو نو په دي سره چې کوم مال يا نفس تلف شي مالک به دهغه ضامن وي ولی چې خلگو مطالبه وکړه او ده له قدرت سره ديوال ــ نه کړ نو دا ده له طرف څخه تعدی ده لهذا ضامن کيږي .البته دنفس ضمان پر عاقله دی او دمال ضمان د ديوال پر مالک دی .دمصنف رحمه الله دا ويل چې .خلگو له ده څخه دديوال چپه کولو مطالبه کړې وي .دا قيد احترازي دی لهذا که خلگو د چپه کولو مطالبه نه وه کړي او په دي سره کوم نفس يا مال ضائع شو نو مالک ضامن نه دی .دچپه کولو په مطالبه کې مسلمان .ذمی .ماذون في الخصومت غلام او نابالغ ټول سره برابر دي ولی چې دا ټول اهل خصومت دي او په حق مرور کې ټول سره برابر دي .

(۲)که چا له پيله ديوال کوږ جوړ کړ او هغه چپه شر او په هغه سره څوک هلاک شو نو دخلگو له طرف څخه دچپه کولو له مطالبي بغير هم مالک ضامن کيږي ولی چې دا له پيل څخه زيات او تجاوز دی په دي وجه چې دا سي ديوال له پيل څخه دلاري سور نيسي .نو دا سي ده لکه چې څوک په لاره کې ډبره کښيږدي يا څاه وکيندي او په دي سره څوک هلاک شي .

(۳)که دچاديوال دبل چا دکور طرف ته کوږ شو نو دچپه کولو دمطالبي حق صرف مالک مکان لره دی ولی چې په مکان کې صرف دمالک حق دی لهذا دمطالبي حق به صرف همده لره وي .هو که کوم کرايه دار وغيره په دي کور کې اوسيږي نو هغه لره هم حق دی چې له مالک څخه دکاږه ديوال دسمولو مطالبه وکړي .

(۴)او که دمکان مالک دديوال مالک ته مهلت ورکړ يا يې هغه له دي څخه برې کړ نو دا صحيح ده نو ـ که په دي ديوال سره څوک ضائع شو نو دديوال مالک ضامن نه دی ولی چې ده ته دکاږه شوي ديوال دبرقرار ساتلو حق ورکړل شوی دی .البته که دچاديوال دعامي لاري طرف ته کوږ شوی وي او قاضی دديوال مالک ته مهلت ورکړ يا يې هغه برې کړ بيا په دي سره څه نقصان پيښ شو نو دديوال مالک برې نه دی ولی چې دا دعامو مسلمانانو حق دی قاضی لره په عامه مسلمانانو دمفيد تصرف حق حاصل دی دمضر تصرف حق نه لري .

(۵)که يو ديوال کوم چې دپنځو کسانو په منځ کې مشترک وي دلاري طرف ته مائل شو (کوږ شو )ليکن دچپه کولو لپاره گواه پر يوه پيښ کړای شول يعنی دچپه کولو مطالبه په دي پنځو کې صرف له يوه څخه وکړل شوه له پاتي څلورو څخه و نه کړل شوه نو که له دي ديوال څخه څه نقصان پيښ شو نو پاتي څلور به ضامن نه وي ولی چې له دوی څخه مطالبه نه ده شوی او صرف دا کس له کوم څخه چې مطالبه شوي ده دخمس ديت ضامن دی ولی چې مطالبه له همدي يوه څخه شوي وه لهذا هغه دخپل ملک په اندازه سره ضامن گرځي .

(۶) که کوم مکان ددریو کسانو په منځ کې مشترک وي له دوئ څخه یو ه دهغونوروددوو له اجازت څخه بغیر په دې مکان کې څاه وکیندی یا یې دیوال جوړکړچې په هغه کې په لویدلو سره یا له هغه سره په ټکر کیدلو سره کوم انسان هلاک شونو څاه کیندونکی اودیوال جوړونکی به ددیت ددووثلثوضامن وي ولې چې داکس دخپلو نوروددوو شریکانو په حصه کې دتصرف کولو په وجه سره تجاوزکونکی دی او څرنګه چې په خپله حصه کې تجاوزکونکی نه دی لهذا دخپلې حصې پرده څه ضمان نشته اودخپلو ملګرو په حصو کې دتجاوز په وجه سره ضامن دی اوبنکاره خبره ده چې دده دملګرو دوه حصې دي لهذا دی به ددوثلثو ضامن وي .دصاحبینو په نزددنصف دیت ضامن دی ولې چې څاه کیندونکی دخپل ملکیت په اعتبارسره متعدی نه دی اودشریکینو دملکیت په اعتبارسره متعدی دی نودتلف دوه قسمونه شول لهذا دیت به هم پردواړونصف نصف منقسمیږي .

ف: دامام صاحب قول راجح دی کمایعلم من صنیع الهدایة حیث اخر دلیله وهذا ترجیح لقول الراجح عند صاحب الهدایة ,وقال العلامة الحصکفی: (داربین ثلاثة حفر احدهم فیها بئرا اوبنی حائطا فعطب به رجل ضمن ثلثی الدیة) لتعدیة فی الثلثین وقد حصل التلف بعلة واحدة فیقسم بالحصة وقالا انصافا لان التلف قسمان معتبر وهدر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: ۵/۴۲۶)

## بَابُ جِنَايَةِ الْبَهِيمَةِ وَالْجِنَايَةِ عليها وَغيرِ ذٰلک

دا باب دڅاروي دجنایت او پرڅاروي دجنایت وغیره په بیان کې دی

کله چې مصنف رحمه الله دانسان دجنایت داحکامو له بیان څخه فارغ شونو دڅارویو دجنایت احکام یې شروع کړل ددې باب دتاخیر وجه داده چې انسان رتبة له څاروی څخه مقدم دی نوذکرایې هم مقدم کړترڅو ذکرله رتبې سره برابرشي .مګرسوال دادی چې دجنایت مملوک ذکرخوله دې باب څخه وروسته راځي حال داچې هغه خو هم انسان دی ؟ځواب :مناسب خودغه وو چې داباب یې له جنایت مملوک څخه وروسته ذکرکړی وای مګر څرنګه چې دڅارویو له جماداتو سره هم مناسبت شته چې په دواړو کې قوت نطق نشته او په تیرشوی فصل کې دجماداتو ذکر وو په دې وجه یې دجماداتو له بیان څخه وروسته دڅارویو احکام ذکرکړل .

(۱) ضَمِنَ الرَّاكِبُ مَا وَطِئَتْ دَابَّتُهُ بِيَدٍ أَوْ رِجْلٍ أَوْ رَأْسٍ أَوْ كَدَمَتْ أَوْ خَبَطَتْ (۲) لَا مَا نَفَحَتْ بِرِجْلٍ أَوْ ذَنَبٍ إِلَّا إِذَا أَوْقَفَهَا فِي الطَّرِيقِ, (۳) وَإِنْ أَصَابَتْ بِيَدِهَا أَوْ رِجْلِهَا حَصَاةً أَوْ نَوَاةً أَوْ أَثَارَتْ غُبَارًا أَوْ حَجَرًا صَغِيرًا فَفَقَأَ عَيْنًا لَمْ يَضْمَنْ, وَلَوْ كَبِيرًا ضَمِنَ (۴) فَإِنْ رَاثَتْ أَوْ بَالَتْ فِي طَرِيقٍ لَمْ يَضْمَنْ مَنْ عَطِبَ بِهِ وَإِنْ أَوْقَفَهَا لِذَلِكَ, وَإِنْ أَوْقَفَهَا لِغَيْرِهِ ضَمِنَ) (۵) وَمَا ضَمِنَهُ الرَّاكِبُ ضَمِنَهُ السَّائِقُ وَالْقَائِدُ (۶) وَعَلَى الرَّاكِبِ الْكَفَّارَةُ لَا عَلَيْهِمَا

**ترجمه** :ضامن دی سپوردهغه کوم چې لاندې کړي دده سورلی په خپله مخکینی یاوروستني پښه سره یادسرپه ټکرسره یایې وخوري یاټاپ ووهي ،نه دهغه کوم چې په لغته ووهي یایې په لکۍ سره ووهي مګرهغه وخت کله چې دی هغه ودروي په لاره کې ،اوکه وپاشلې هغې په مخکنی یاوروستنی پښه سره ډبره یادخرمازوڼی یایې ګرزیاکوچنۍ ډبره اوهغې ویستله سترګه نوضامن ندی اوکه غټه ډبره وي نوضامن دی ،اوکه هغې لیدوکړل یایې بولې وکړې په لاره کې نوضامن دی دهغه کوم چې ددې په وجه سره هلاک شي اګرکه یې دروليي وي په لاره کې دهمدې لپاره اوکه یې درولې وه دکوم بل کارلپاره نوضامن دی اودکوم چې ضامن وي سپوردهغه ضامن دی سائق اوقائد هم ،اوپرسپاره کفاره شته نه په سائق اوقائدباندي .

**تشريح** :(۱)كوم كس چې په سورلى باندې سپوروي نو هغه چې څه په خپله مخكښې ياورستنى پښه سره خراب كړي ،يادسرپه ټكرسره څوک ووهي ،ياپې په خپلو غابښوسره پرې كړي ياپې په څنګ وواهه نوپه دې ټولوصورتونوكې پرسپاره باندې ضمان راځي ولې چې دمسلمانانوپه عامه لاره كې هرمسلمان لره تګ كول مباح دې په دې شرط چې له ممكن الاحترازامورو څخه ځان وساتي نوكه له ممكن الاحترازامورو څخه ځان نه ساتي نوضامن كيږي ولې چې په عامولاره كې تګ كول من وجه په خپل حق كې اومن وجه دبل په حق كې تصرف دى لهذاداباحت دسلامتى په شرط سره مشروط دى اومذكوره امورممكن الاحترازدې (ولې چې په لاره دتګ كولو لپاره داامورضروري نه دې )بياهم هغه ځان ونه ساتى لهذاضامن ګرځي .

(۲)قوله لامانفحت برجل اوذنب اى لايضمن الراكب مانفحت برجل اوذنب ،يعنى دهغه ضامن نه دى كوم چې څاروى په لغته ياپه خپله لكۍ سره ووهي ،البته كه سپاره سورلى په لاره كې ودرولى بياهغې په لغته وهلوياپه لكۍ سره چاته څه نقصان ورساوونوپه دې صورت كې سپورضامن دى ،په دې باره كې قاعده داده چې دمسلمانانوپه عامه لاره كې تګ كول ټولولره مباح دى مګرپه دې قيدسره مقيددى چې له كوم ضررڅخه ځان ساتل ممكن وي له هغه څخه به ځان ساتي اوله غيرممكن الاحترازڅخه دځان ساتلوقيدنشته .نودڅاروى چالره ترپښولاندي كولوياپرې كولوڅخه احترازممكن دى په دې وجه دهغه سپورضامن دى اودڅاروى له لغتې وهلوياپه لكۍ سره وهلوڅخه ځان ساتل ممكن نه دى په دې وجه دهغه سپورضامن نه دى اوپه لاره كې دڅاروى له درولوڅخه احترازممكن دى لهذاضامن دى .

**ف**:زموږپه موجوده زمانه كې چې كومې سورلياني رائجي دي ،مثلاسائيكل ،ركشه ،موټر،ټيكسي ،بس ،ټرک وغيره ،ددې ټولوحكم دراكب دابه په شان دى ،لهذاكه ددې سورليانوپه وجه سره چاته نقصان ورسيدونوراكب ضامن دى ،البته په دسورليانوكې دمخكې اوشاته په نقصان رسولوكې څه تفريق نشته لكه څرنګه چې په څاروى كې تفريق شته ،په دې وجه چې څاروى متحرک بالاراده دى لهذاكه څاروى له شاڅخه څوک په لغته وواهه نوهغه دراكب طرف ته نشي منسوب كيدلاى ،په خلاف دموټرچې هغه متحرک بالاراده نه دى په دې وجه دموټرهرحركت دراكب طرف ته منسوبيږي ،لهذاهغه (دمباشروالى په وجه سره )په هرصورت كې ضامن دى ..................البته دډرائيورمباشروالى ضروري دى كه نه نوضامن نه دى مثلايوكس په صحيح طريقه سره دټريفک داصولومطابق موټرروان كړى دى ناڅاپه يوكس صرف ديوه فټ په فاصله دموټرمخته راټوپ كړاوهلاک شونوپه دې صورت كې دامباشرت دسائق سياره (ډرائيور)طرف ته نه منسوبيږي بلكه دابه ويل كيږي چې ګويادې كس خودكشى (ځان وژنه )وكړه ،لهذادمباشرت نسبت به په خپله دده دذات طرف ته كيږي ،دډرائيورطرف ته به نه كيږي ،لهذاډرائيورضامن نه دى .(تقريرترمذى ۱/۳۳۴:)

**ف**:همداشان كه يوچاصحيح سلامت موټرپرشارع عام (عامه لار)باندې داصولومطابق روان كړ دسفرپه منځ كې ناڅاپه موټركې داسې خرابي پيداشوه چې دهغې په وجه سره موټردډرائيورله كنټرول څخه ووتى اوكوم كس يې وواهه ياپې دچاكوم شى تلف كړنوپه دې صورت كې ډرائيورضامن نه دى لماقال شيخ الاسلام مفتى

محمدتقي العثماني مدظلهم: اذا كانت السيارة سليمة قبل السير بها وكان السائق يتعهدها تعهدا معروفا ثم طرأ عليها خلل مفاجئ في جهاز من جهازتها حتى خرجت السيارة من قدرة السائق وتمكنه من ضبطها فصدمت انسانا فقد افتت اللجنة الدائمة للبحوث والافتاء في المملكة العربية السعودية بانه لا ضمان على السائق وكذالك لو انقلبت بسبب ذالك على احد او شئ فمات او تلف فلا ضمان عليه (بحوث في قضايا فقهية معاصرة ص ۳۱۳)

ف: او كه حادثه د كوم دريم كس په فعل سره واقع شوه مثلا ډرائيور د اصولو مطابق موټر چلا وو چې كوم بل كس د روان موټر مخ ته يو كس ورټيل واهه موټر پر هغه تير شو نو په دې صورت كې هغه ټيل وهونكى كس ضامن دى ډرائيور ضامن نه دى . او كه له حادثي څخه متاثر كس په خپله كوم داسي فعل وكړ كوم چې د حادثي لپاره زيات مؤثر سبب جوړ شو مثلا ډرائيور د اصولو مطابق موټر چلاوو چې ناڅاپه كوم كس په دومره كمه فاصله كې د موټر مخ ته راغى چې اوس موټر درول او هغه كس ساتل ډرائيور لره ممكن نه وو نو په دې صورت كې هم ډرائيور ضامن نه دى (ماخوذ عن بحوث في قضايا فقهية معاصرة: ص۳۱۲)

(۳) كه د چاسورلى منډي وهلي او د منډو په وجه سره يې شګې، دخرمازني، ګرزاو غبار يا كوچنى كوچنى ډبري پاشلي او په هغه سره د چا ستر ګه ړنده شوه نو سپور كس ضامن نه دى او كه غټه ډبره وي نو بيا سپور ضامن نه دى ولى چې له شګو او غيره څخه د رفتار په دوران كې ځان ساتل ممكن نه دى او له لويو ډبرو څخه ځان ساتل ممكن دى (ولى چې څاروى د سپاره د نه تجربي په وجه سره غټي ډبري غورځوي) په دې وجه په لومړيو صورتونو كې ضامن نه دى او په اخري صورت كې ضامن دى .

(۴) كه روان څاروى په لاره كې خوشايې يا بولي وكړي او په هغه سره په شويدلو كوم انسان مړ شو نو سپور ضامن نه دى ولى چې په لاره كې د څاروى تګ كول له خوشايو او بولو څخه ډيرلږ خالي وي لهذا دا د تګ له ضرورياتو څخه دى له كوم څخه چې ځان ساتل ممكن نه دي اګر كه سپاره څاروى د بولو وغيره لپاره درولى وي ولى چې ځيني څاروى داسي وي كوم چې له درولو څخه بغير بولي نه كوي نو د هغه د درولو ضرورت دى په دې وجه په دې سره كه كوم كس هلاک شي نو سپور ضامن نه دى . او كه يې هسي درولي وي بيا هغې بولي وكړي او په هغه كوم څوک وشويدو او هلاک شو نو اوس سپور ضامن دى ولى چې دا درول بلا ضرورته دي په دې وجه په دې صورت كې سپور تجاوز كونكى شمارل كيږي .

(۵) په كوم صورتونو كې چې پر راكب ضمان واجبيږي په هغوكي پر سائق (د شاله طرف څخه شړونكى) او قائد (د مخ له طرف څخه كښونكى) باندي هم ضمان واجبيږي ولى لكه څرنګه چې راكب د هلاكت سبب دى همدا شان د څاروي شړونكى او كښونكى هم د هلاكت سبب دى په دې وجه چې هغه څاروى محل هلاكت ته قريب كړى دى دا د دوى له طرف څخه تجاوز دى لهذا ضامن ګرځي .

(۶) البته د پښو دلاندي كولو په صورت كې پر راكب كفاره هم شته ولى چې راكب د قتل مباشر دى په دې وجه چې د ده د بوج په وجه سره انسان مړ شوى دى پاتي شو د څاروى بوج نو هغه د انسان د بوج تابع دى په دې وجه د مباشرت قتل نسبت د انسان طرف ته كيږي . حال دا چې په سائق او قائد باندي كفاره نشته ولى چې دا دواړه د قتل مباشر نه دي بلكه مسبب دي ولى چې په مقتول او دوى كې هيڅ قسم اتصال نشته او پر مسبب كفاره نشته .

(۷) ولو اصطدم فارسان أو ماشيان فماتا ضمن عاقلة كل واحد منهما دية الآخر (۸) ولو ساق دابة فوقع السرج على رجل فقتله ضمن (۹) أو قاد قطارا فوطئ بعير إنسانا ضمن عاقلة القائد الدية فإن كان معه سائق فعليهما (۱۰) وإن ربط بعيرا على قطار رجع عاقلة القائد بدية ما تلف على عاقلة الرابط (۱۱) ومن أرسل بهيمة وكان لها سائقا فأصابت في فورها ضمن (۱۲) وإن أرسل طيرا أو كلبا ولم يك سائقا له (۱۳) أو انفلتت دابة فأصابت مالا أو آدميا نهارا أو ليلا لا (۱۴) وفي فقء عين شاة القصاب ضمن النقصان (۱۵) وفي عين بدنة الجزار والحمار والفرس ربع القيمة

**ترجمه**: او كه سره ټكر شوي دوي سورلياني يا دوه پياده كسان او دواړه مړه شول نو ضامن كيږي د هريوه عاقله دهغه بل د ديت او كه يې وشاړه څاروى او ولويد و دهغه زين پر يو چا او هغه يې قتل كړ نو ضامن دى. او كه يې كش كړ داوښانو قطار نو بيا تر پښو لاندي كړ او ښ كوم انسان نوضامن كيږي د كشونكي عاقله د ديت او كه وي له هغه سره شړونكى هم نو پردواړو دى. او كه يې تړلى وو اوښ په قطارپسي نو وادي خلي د قائد عاقله كوم تاوان چې شوى وي د تړونكي له عاقله څخه، او چاچې خوشې كړ څاروى او هغه له شاپسې وو شړونكى او هغه نقصان وكړ له خلاصيد و سره سمدستي نو ضامن به وي، او كه يې پرېښود مرغه يا سپى او نه شايې ونه شړ ه يا وتښتيد و څاروى او هغه نقصان وكړ يا د مال يا دانسان په شپه كې يا په ورځ كې نوضامن نه دى. او په سترګه ايستلو كې د قصاب د بزې ضامن ګرځي د نقصان، او د قصاب دغوا او اوښ په سترګه ايستلو كې او د آس او خره په سترګه ايستلو كې ضامن ګرځي د ربع قيمت.

**تشريح**: (۷) كه دوه سورلياني يا دوه پياده كسان په خپل منځ كې خطاء سره ټكر شول او دواړه مړه شول نو دهريوه پر عاقله باندي دهغه بل يوه ديت واجبيږي ولى چې دهريوه په مرګ كې اګر كه په خپله د مړه د فعل دخل هم شته مګر د مرګ نسبت دغير د فعل طرف ته كيږي ولى چې دهريوه خپل فعل خو مباح دى موجب ضمان نه دى. اګر كه دده ملګري فعل (په لاره تګ كول) هم مباح دي ليكن دچا فعل مباح چې پر غير واقع كيږي نو هغه موجب ضمان وي. شرط دادى چې دواړه به آزاد وي او كه دواړه غلامان وي نو پر هيچا هيڅ هم نه لازميږي.

(۸) كه چا څاروى دشاله طرف څخه وشاړه اتفاقا دهغه زين پر يو چا ولويد چې په هغه سره هغه هلاك شو نو شړونكى ضامن دى ولى چې هغه د قتل سبب دى او قاعده داده چې په سبب كې تعدى موجب ضمان ده او تعدى هغه دلته داكړي ده چې زين يې تړلى نه دى او كه يې تړلى وي نو مضبوط يې نه دى تړلى.

(۹) كه كوم كس داوښانو قطار روان كړى وي او هغه قطار څوك تر پښو لاندي كړي نو پر قطار كښونكى قائد باندي ضمان لازميږي ولى چې پر قطار كښونكي باندي د قطار حفاظت لازم دى كوم چې ده نه دى كړى او قاعده داده چې په سبب قتل كې تعدى وي نو هغه موجب ضمان ده په دي وجه قائد ضامن دى. او كه له ده سره سائق د شاله طرف څخه شړونكى هم وي نو په دي صورت كې سائق او قائد دواړه ضامن دي ولى چې د قتل په سبب جوړيدلو كې سائق او قائد مساوي دي.

(۱۰) كه كوم كس داوښانو قطار روان كړى وي بل چا دهغه په بې خبري كې له شا څخه په قطار پسي خپل اوښ وتاړه بيا هغه اوښ څوك هلاك كړ نو پر قطار والا باندي ديت واجبيږي ولى چې هغه دومره غفلت ولي وكړ كه هغه غفلت نه واى كړى نو كوم بل كس دهغه په قطار پسي اوښ نه شواى تړلاى لهذا داده له طرف څخه تعدى

ده په دي وجه ضامن دی ،بيا به دقائد خاندان درابطه خاندان څخه دادیت وصول کوي ولی چې دقائد عاقله درابط دعمل په وجه سره په دیت اداء کولو مجبور شول.

(۱۱)که چاحیوان (سپی )پرېښوداودی له وړاندي څخه دهغه شړونکی ووحیوان فوراپرچاحمله وکړه اوهلاک یې کړنوسائق دهغه ضامن دی ولی چې دسوق په وجه سره دحیوان فعل تلف دده طرف ته منتقل کیږي.

(۱۲)اوکه چامرغه خوشې کړاوله شاه څخه یې وشاړه هغه فوراڅوک هلاک کړنودی ضامن نه ګرځي ولی چې مرغه دسوق (شړلو )احتمال نه لري لهذاسوق اوعدم سوق دهغه په حق کې برابردي .همداشان که چاسپی خوشې کړاوله شاڅخه یې ونه شاړه هغه څوک هلاک کړنوضامن نه دی ولی چې په حیواناتوکې سوق معتبردی نودسپی دخوشې کولوپه صورت کې دسوق دنه وجودپه وجه سره دسپی فعل دمرسِل طرف ته نه مضافیږي .امام ابویوسف رحمه الله په ټولوصورتونوکې ضمان واجب کړی دی ترڅودخلګواموال له ضائع کیدلو څخه محفوظ پاتي شي وعليه الفتوى لمافي الدر المنتقى :وعن ابي يوسف انه يضمن اى احتياطالاموال الناس كمافي المجتبى ونحوه(الدالمنتقى:۴/۳۷۷)

(۱۳)همداشان که کوم څاروی په خپله وتښتیدواوپه دي سره دچانفس یامال ته تاوان ورسیدوکه شپه وي اوکه ورځ وي دڅاروی مالک ضامن نه دی ولی چې له مالک څخه کوم داسي فعل نه دی صادرشوی چې دڅاروی فعل دهغه طرف ته منسوب کړای شي لهذامالک ضامن نه دی.

(۱۴)که چادقصاب دبزي سترګه ویستله نوپه دي سره چې دبزي په قیمت کې څومره اندازه کمي راځي هغه به له ده څخه اخیستل کیږي ولی چې له بزي څخه مقصودغوښه ده لهذاصرف نقصان واجبیږي .دقصاب قیداتفاقی دی که نه بزه چې دهرچاوي دهغي همداحکم دی.

(۱۵)قوله وعين بدنة الجزاروالفرس والحماربربع القيمة اى وفى قفاء عين بدنة الجزاروالفرس والحماربربع القيمة ،يعنى دقصاب دغوااواوښ دسترګي په ایستولوکې اودآس اوخره دسترګي په ایستلوکې دربع قیمت ضامن ګرځي ولی چې مروی ده چې نبی کریم ﷺ دڅاروی په سترګه کې دڅلورمي دقیمت فیصله فرمایلې وه اوحضرت عمر رضي الله عنه هم همداسي فیصله فرمایلې وه .دلته

باب جناية المملوك والجناية عليه

داباب دمریي دجنایت اوپرمریي باندي دجنایت کولوپه بیان کې دی

مصنف رحمه الله چې کله دمالک یعني حردجنایت له بیان څخه فارغ شونودمریي دجنایت بیان یې شروع کړڅرنګه چې مریی رتبةً ترازادموخردی ځکه یې ذکراًهم موخرکړی دی چې ذکردرتبه مطابق شي،ترحیوان دمریي رتبه بلنده ده مګرڅرنګه چې دحیوان جنایت دراکب،سائق اوقائدپه اعتبارسره وواوداخلک مالک دي ځکه یې دحیوانانودجنایت بیان مقدم کړ.

(۱)جنايات المملوك لاتوجب الاّدفعا واحدالوفحلاله والاّقيمة واحدة(۲)جنى عبده خطاءً دفعه بالجناية فيملكه اوفداه بارشها(۳)فان فداه فجنى فهي كالاولى(۴)وان جنى جنايتين دفعه بهما اوفداه بارشيهما(۵)فان اعتقه غيرعالم بالجناية ضمن الاقل من قيمته ومن الارش

(۶) ولو عالما بها لزمه الارش کبیعه (۷) وتعلیق عتقه بقتل فلان ورمیه وشجه ان فعل ذالک (۸) عبد قطع ید حر عمدا ودفع الیه فحرزه فمات من الید فالعبد صلح بالجنایة وان لم یحرزه رده علی سیده ویقاد

**ترجمه** :دمریي جنایتونه نه واجبوي مګر سپارل یو ځل که هغه محل وو ده لره که نه یو اځي یو قیمت ،یو مریي جنایت وکړ خطاءً نوور دي کړي هغه دجنایت په بدله کې بیا هغه ددي مریي مالک ګرځي او یا دي فدیه ورکړي دهغه ذتاوان بیا که ده فدیه ورکړه او هغه بیا جنایت وکړ نو د دغه جنایت حکم د لومړي جنایت په شان دی او که یې دوه جنایتونه وکړل نو ور دي کړي مریی دد واړو په بدله کې یا دي فدیه ورکړي دد واړو دتاوان او که یې آزاد کړ هغه په داسي حال کې چې دی له جنایت بې خبره وو نو ضامن کیږي په کم دده دقیمت او تاوان نه او که دی په جنایت خبر وو نو لازمیږي پرده باندي تاوان لکه خرڅول دده،او دده آزادیدل دفلان تر قتل کولو یا دهغه دویشتلو یا زخمي کولو پوري معلق وي که مریی ددي کارونو مرتکب وو،یوه مریي دیوآزاد چالاس غوڅ کړ قصداً او دی هغه ته ورکړل شو بیا هغه دی آزاد کړ بیا هغه سړی دلاس دزخم په وجه مړ شو نو مریی صلح شو له جنایت نه او که هغه آزاد کړی نه وو نو بیا دی واپس خپل مالک ته ورکول کیږي او له ده څخه قصاص اخیستل کیږي.

**تشریح** :(۱)که یو ې منځي یا مریي ډیر نقصانات کړي وو نو ددوئ پر مولی باندي فقط یو ځل دوئ نقصان والاوو ته حواله کول واجب دی په دي شرط چې په ده کې دحواله کولو صلاحیت وي یعنې له دغو نقصانو وروسته هغه آزاد شوی نه وي او نه مکاتب یا مدبر ګرځیدلی وي او که چیرته هغه ددي قابل نه وي یعنې مولی هغه آزاد کړی وي یا مکاتب یا مدبر کړی وي نو دی به یې فقط یو ځل نقصان والاوو ته ورکوي یعنې دهر هر نقصان والا ته دهغه پوره پوره قیمت ورکول دده پر ذمه لازم نه دي بلکې په یو ځل ورکولو سره دی بری کیږي.

(۲)که یوه مریي خطاءً یو جنایت وکړ (که یې خوک وژلی وي یا یې تر هغه کم جنایت کړی وي) نو دهغه مولی ته ویل کیږي چې تا لره اختیار دی یا دا مریی دجنایت ولي ته ورکړه او یا دهغه فدیه ورکړه .وجه یې داده چې دجنایت خطاء دیت پر عاقله باندي کیږي او دمریي عاقله دهغه مولی دی بیا که مولی مریی ورکړ نو ولي دجنایت دهغه مالک ګرځي او هغه لره له ده سوا بل شی نه کیږي او که مولی فدیه ورکړه نو د تاوان په اندازه فدیه به ورکوي دخطاء قید په دي وجه ورسره ویل شو یدی چې که مریي په قصد یو څوک وواژه نو په هغه صورت کې دامذکور حکم نه دی بلکې پر مریي باندي قصاص شته .

(۳)که دمولی دفدیه ورکولو وروسته مریي بیا جرم وکړ نو د دغه جرم هغه حکم دی کوم چې دمخکیني جنایت وو نو مولی ته بیا حکم ورکول کیږي چې یا مجنی علیه ته مریی ورکړه او یا دهغه فدیه ورکړه ځکه لومړی جنایت په فدیه ورکولو سره ختم شو دغه نوی جرم ابتدائي جرم شمارل کیږي .

(۴)که مریي جرم وکړ او مالک دهغه دجرم فدیه لا نه وه ورکړې چې مریي بل جرم وکړ نو مولی ته یې ویل کیږي چې یا دا مریی دد واړو جرمونو مستحقینو ته ورکړه او دواړه مجنی علیهما به په قدر دخپل حق هغه سره تقسیم

کړي اويادي مولى هرفريق ته دهغه دنقصان په اندازه فديه ورکړي ځکه لوړې جرم دغلام په رقبه پورې معلق کيدل ددوهم جنايت تعلق نه منع کوي لهذا ددواړو جناياتو تاوان به ورکوي.

(۵) که مولى مجرم مريى آزاد کړاو حال داچې مولى دمريي په جرم باندې خبرنه وونو دده مولى دده ترقيمت اوجنايت چې کوم يو کم وي په هغه سره ضامن ګرځي ولى چې کله دده ته دمريي دجرم علم نشته نو دمولى عمل (اعتاق العبد) دانه ګڼل کيږي چې هغه دمريي فديه ورکول اختيار کړى دى ځکه بيله علمه ديو شي اختياريدل نه شي کيداى البته دده داسې يوه رقبه آزاده کړي ده چې په هغې پورې دولي جنايت حق معلق شوى دى لهذا پرده باندې ضمان لازميږي. بيادتاوان اوقيمت ترمنځ چې کوم يو کم وي هغه پرلازميږي وجه يې داده چې که چيرته تاوان کم وي نو پرمولى باندې له تاوان علاوه کوم بل شى نه لازميږي ځکه به هم دا تاوان ورکوي اوکه قيمت کم وونو مولى به په قدر د قيمت ضائع کړى وي زيات يې نه دى کړى لهذا پرمولى باندې هم دا قيمت لازميږي.

(۶) اوکه مولى دمريي په جنايت باندې خبروو بياهم ده هغه مجرم مريى آزاد کړنو بيا يواځي تاوان لازميږي ځکه باوجود دعلم داسې تصرف کړى دى چې دهغه په وجه اوس مريى مجنى عليه ته نه شي ورکول کيداى نوداسې دي ووبل شي چې مولى ګواکي فديه ورکول خوښ کړى دى ولى مخيربين الشيئين چې کله يوداسې فعل اختيار کړي چې په هغودوکې ديوه داختيارولوڅخه مانع وي نو بيادده لپاره هغه بل متعين دى لکه داعتاق په صورت کې چې دمولى دعلم اونه علم په وجه علحده علیحده احکام دي همدارنګه که مولى دامريى خرڅ کړنو هم دده دعلم اونه علم جلاجلا احکام دي ځکه دخرڅيدوپه صورت کې هم مريى مجنى عليه ته نه شي ورکول کيداى.

(۷) قوله تعليق عتقه الخ دامجرور دى دماتن پرقول: كبيعه. باندې عطف دى اى وكتعليق عتق العبد بقتل فلان الخ. يعني که يوچادخپل مريي آزاديدل ديوچاترقتل پورې معلق کړ مثلا مريي ته يې وويل که تافلان شخص وواژه نو ته آزاديې. يادي يوڅوک په ډبره (تيګه) وويشت يايې دهغه په سرماتيدوپورې معلق کړ مثلا ورته ويې ويل که تافلان په ډبره وويشت يادي دهغه سرزخمي کړنو ته آزاديې نومريي دغه مشروط کارو کړآزاديږي ځکه چې ترآزاديدووروسته اوس دامريى مجنى عليه ته نه شي ورکول کيداى نوپه دغوصورتونوکې هم مولى دفديه اختيارونکى شمارل کيږي.

(۸) که دچامريي عمداً ديوچالاس غوڅ کړپه دې سره مالک مريى مجنى عليه ته ورکړياد قاضي په قضاء سره يابيله قضاء دقاضي اومجنى عليه هغه مريى آزاد کړيادغه سرى دلاس دزخم څخه مړشونودمريي پرسابق مالک باندې هيڅ شى نه واجبيږي اومريى بدل صلح ګڼل کيږي داسې ويل کيږي چې له جنايت نه وله جنايت څخه پرپيداشوي اثرباندې پردغه مريي باندې صلح واقع شوې وه. اوکه مجنى عليه مريى نه ووآزاد کړى نودهغه سړي دمرکيدووروسته مريى سابق مالک ته ورکول کيږي اودمجنى عليه اولياء اختيارلري چې يادا مريى قصاصاً قتل کړي اويايې معاف کړي ځکه چې کله مجنى عليه دى آزاد کړى نه دى

اوله لاس غوڅیدو څخه بې مرګ رامنځ ته شونو داخبره ظاهره شوه چې د لاس دیت واجب نه وو بلکې قصاص واجب وو لهذا قصاص اخیستل کیږي، البته د مقتول اولیاء اختیار لري که قصاص اخلي او که یې معاف وي.

(۹) جنی مأذون مدیون خطأ فحرره سیده بلا علم علیه قیمته لرب الدین وقیمته لولي الجنایة (۱۰) مأذونة مدیونة ولدت بیع معها ولدها وإن جنت فولدت لم یدفع الولد له (۱۱) عبد زعم رجل ان سیده حرره فقتل ولیه خطأ لاشی له علیه (۱۲) قال معتق لرجل قتلت اخاک خطأ وانا عبدک وقال بعد العتق فالقول للعبد (۱۳) وإن قال لها قطعت یدک وانت امتي وقالت بعد العتق فالقول لها (۱۴) وکذا کل ما اخذ منها الا الجماع والغلة

**ترجمه**: ماذون مدیون مریي جنایت وکړ خطاءً او مالک دی آزاد کړیله علمه نو پر مالک باندي یو قیمت لازمیږي د قرض غوښتونکي لپاره او یو قیمت د ولي جنایت لپاره. ماذونه مدیونه منځه وه هغه ماشوم یې پیدا شو خرڅه دي کړای شي سره له ماشومه د قرض لپاره او که یې جنایت وکړ بیا یې بچی پیدا شو نو بیا یې دا بچی نه ورکول کیږي دیو چا مریی دی یو بل سړي ګمان وکړ چې دده مریي مالک دا مریی آزاد کړی دی یا دغه مریي ولي دګمان کوونکي قتل کړ خطاءً نو دګمان کوونکي پر هغه مالک باندي هیڅ شی نشته معتق وویل یو چا ته چې ما ستا ورور وژلی وو په خطاء سره په داسې حال کې چې زه ستا مریی وم او هغه وویل چې نه ته آزاد ید وورو سته دي وژلی دی نو د مریي قول معتبریږي او که یې منځې ته وویل چې ما ستا لاس په داسې حال کي غوڅ کړی وو چې ته زما منځه وې او منځې وویل چې نه له آزادیدو وروسته دي غوڅ کړی دی نو د منځې قول معتبریږي. همدارنګه په هرهغه شي کې چې له منځې څخه اخیستل شوی وي مګر نه جماع او غله.

**تشریح**: (۹) که یو ماذون فی التجارة مریي یو جنایت وکړ چې زرروپۍ قرض هم پر باندي دی او مالک دی آزاد کړ په داسې حال کې چې مالک تر دي وخته د هغه په جنایت علم نه لري نو بیا پر مالک باندي دوه ضمانه واجبیږي یو ضمان (یعني د مریي قیمت) د قرض غوښتونکي لپاره او بل ضمان د مجنی علیه لپاره خکه هغه دوه حقه تلف کړي دي چې د هغو څخه هریو جلا جلا مضمون دی او هغه دوه حقه د جنایت د ولي لپاره د مریي رقبه او د قرض غوښتونکو لپاره د مریي خرڅول دی.

(۱۰) د یو چا ماذونه فی التجارة منځه وه چې د خلکو دومره قرضه پر باندي وه چې د هغې تر قیمت زیاته وه له هغه وروسته د هغې زوی پیدا شو نو د قرض غوښتونکو لپاره دا منځه سره له بچي خرڅول کیږي او که داسې منځې کوم جنایت کړی وو بیا یې ماشوم پیدا شو نو بیا که مولی غوښتل چې منځه مجنی علیه ته ورکړي نو د منځې بچی نه شي ورکولای وجه د فرق یې دا ده چې قرض یو وصف حکمي دی چې د منځې پر ذمه واجب دی چې د منځې د غاړي څخه د هغې د خرڅیدو په صورت کې وصولیږي او د وصف حکمي په باره کې قاعده دا ده چې هغه د ماشوم طرف ته هم سرایت کوي لهذا منځه سره د بچي هم خرڅول کیدای شي او د جنایت په صورت کې مجنی علیه ته ورکول پر منځه واجب نه دی بلکې پر مولی باندي واجب دی نو د مولی دا منځه

ورکول وصف حکمي نه دی بلکې فعل حقيقي دی او دفعل حقيقي په باره کې قاعده داده چې هغه دماشوم طرف ته سرايت نه کوي لهذا په دې صورت کې ماشوم ولي دجنايت ته نه ورکول کيږي .

(۱۱)دبکرد مريي په باره کې زيد دعوی وکړه چې بکرد امريی آزاد کړی دی اتفاقًا دغه مريي دزيد داولياؤ څخه يو څوک خطاء قتل کړنو زيد لره دبکرپرذمه هيڅ شی نه لازميږي څکه زيد پخپله دعوی او خيال سره (چې بکر خپل مريی آزاد کړی دی ) داثابته کړه چې دبکرپرذمه نه مريی ورکول واجب دی او نه دتاوان فديه ورکول واجب ،البته دی پخپل خيال داسې ګڼي چې ددې مريي پرعاقله باندې ديت شته نو څرنګه چې دهغه دادعوی بلا حجت ده لهذا دادعوی يې هم قابل قبول نه کيږي .

(۱۲)که چاخپل مريی آزاد کړ بيا دغه مريي خپل آزادوونکي ته وويل چې ماستاورورهغه وخت خطاء وژلی ووچې زه مريی وم اوهغه آزادوونکي ورته وويل چې نه ! بلکې تاهغه وخت وژلی ووچې ته آزادشوی وې،نودمريي قول معتبريږي څکه مريي جنايت منافی الضمان حالت ته منسوب کړی دی نو دی پرخپل ځان باندې دضمان دوجوب څخه منکر دی اوده آزادوونکی مدعي دی چې ضمان ستاپرذمه شته په داسې موقع کې دمنکرقول مع اليمين معتبريږي .

(۱۳)يو چاخپله منځه آزاده کړه بيايې خپل آزادوونکي ته وويل چې ماستالاس هغه وخت غوڅ کړی ووچې زه ستامنځه وم اوهغه ورته وايې چې نه ! بلکې تاهغه وخت غوڅ کړی ووچې کله ته آزاده شوې وې،نودمنځې قول معتبريږي څکه مولی لومړی دضمان دسبب اقرارو کړبيايې داسې دعوی وکړه چې دی له ضمان څخه بري کوي نو دده قول نه معتبريږي .

(۱۴)له جماع اوګټې سِوا هرهغه شی چې له دغې منځې څخه اخيستل شوی دی په هغه کې همدا حکم دی چې دمنځې قول معتبريږي مثلاً مولی وويل چې ماله تاڅخه مال اخيستی دی په داسې حال کې چې ته زمامنځه وې هغه وايې نه! بلکې هغه وخت دې اخيستی ووکله چې زه آزاده شوې وم نودمنځې قول معتبريږي البته په جماع اوګټه کې که دااختلاف راغی نو استحساناً دمولی قول معتبريږي مثلاً مولی ورته وويل چې ماله تاسره هغه وخت وطی وکړه کله چې ته زمامنځه وې اوهغه وايې چې نه !بلکې هغه وخت چې زه آزاده وم،يامولی ورته ووايې چې ماستاګټه هغه وخت اخيستې ده چې ته زمامنځه وې هغه وايې نه ! بلکې هغه وخت چې زه آزاده وم،په دغو دواړو صورتونو کې دمولی قول استحساناً معتبريږي .

(۱۵)عَبدٌمَحجورٌ اَمَرَ صَبِيًّا حُرًّا بِقَتلِ رَجُلٍ فَدِيَتُه عَلٰى عَاقِلَةِ الصَّبِيِّ وَكَذَا اِن اَمَرَ عَبدًا عَبدٌ (۱۶)قَتَلَ رَجُلَينِ عَمدًا وَلِكُلٍّ وَلِيَّانِ فَعَفَا اَحَدُ وَلِيَّي كُلٍّ مِنهُمَا دَفَعَ سَيِّدُه نِصفَه اِلَى الاٰخَرَينِ اَو فَدَاه بِالدِّيَةِ (۱۷)فَاِن قَتَلَ اَحَدَهُمَا عَمدًا وَالاٰخَرَ خَطَاءً فَعَفَا اَحَدُ وَلِيِّ العَمدِ فَدٰى بِالدِّيَةِ لِوَلِيِّ الخَطَاءِ وَبِنِصفِهَا لِلاٰخَرِ وَلِيِّ العَمدِ اَو دَفَعَه اِلَيهِم اَثلَاثًا (۱۸)عَبدٌ هُمَا قَتَلَ قَرِيبَهُمَا فَعَفَا اَحَدُهُمَا بَطَلَ الكُلُّ

**ترجمه** :يوه محجورمريي امرکړآزادهلک ديوچاپه وژلوباندې،هلک هغه سړی قتل کړنو دهغه ديت دهلک پرعاقله باندې کيږي اوهمدارنګه که امرکړمريي بل مريی ،يوه مريي دوه انسانان قتل کړل عمدًا اودهريوه دوه وليان دې بيا له دوو وليانو څخه هريوه معاف کړنوورديې کړي دهغه مولی نيم مريی هغه نورودوو ته اويادې فديه ورکړي په ديه سره اوکه يې قتل کړيو عمدًا اوبل خطاء بيامعاف کړدعمدله دوو وليانو څخه يوه

نوفديه دكل دية دي وركړي دخطادووليانوته اونصف ديت دي وركړي دعمديوه ولي ته يادي وركړي مريي هغه ته اثلاثا ،ددووكسانومريي قتل كړ دهغوئ يوقريب يامعاف كړله هغوئ نه يوه نوباطليږي ټول .

**تشريح** :(۱۵)كه يومحجورمريي يونابالغ هلك ته ووېل چې فلان شخص ووژنه ،هغه هلك دده دوېناسره سم هغه فلان قتل كړنوديت دقاتل هلك پرعاقله باندي واجبيږي پرهلک باندي هيڅ شی نه واجبيږي .ځكه دقتل صدورله مريي څخه نه بلكې له هلک څخه شوی دی اودماشومانوافعال معتبريږي نولهذاديت دماشوم پرعاقله باندي كيږي ،همدارنګه كه يوه محجورمريي بل مريي ته داسې ووېل چې فلان سړی ووژنه مامورمريي هغه وواژه نوقصاص له قاتل مريي څخه اخيستل كيږي كه قتل عمدًاوونه له آمر څخه لماقلنا .

(۱۶)ديوچامريي دوه كسان ووژل اودمقتولينوڅخه هريوه دوه وليان درلودل ديوه دوه وليان زيداوبكردي اودبل دوه وليان خالداوعمردي له قاتل څخه قصاص نه وواخيستل شوی چې دهريوه مقتول له دووليانوڅخه يو يوه (مثلازيداوخالد) خپل حق معاف كړنواوس له قاتل څخه قصاص نه شي اخيستل كيدای البته باقي دووليانوهريوه بكراوعمرلره نصف ديت يعني پنځه زره درهمه كيږي مجموعه زردرهمونه واجبيږي،يادي مولی دوئ دواړوته نيم مريي وركړي ځكه كه څلورواړه اولياء حقداروای نودمريي وركولوپه صورت كې به دڅلورواستحقاق يواځي په يوه مريي كې وواوچې كله څلورونه دوويې خپل معاف كړنوله حق څخه نيم ساقط شواوفقط نيم باقي دی لهذاباقي دووليانوته يواځي نيم مريي وركول كيږي اودفديه وركولوپه صورت كې دڅلورووواړوحق شل زره درهمه ووځكه ددووكسانوديت دومره كيږي ليكن چې كله له څلوروڅخه دووخپل حق معاف كړنونصف حق ساقط شوفقط نصف باقي دی لهذامولی به دواړوته فقط لس زره درهمه وركوي .

(۱۷)اوكه مريي دواړه عمدًانه ووقتل كړي بلكې يويې عمدًااوبل يې خطاءً قتل كړی ووياداعمدًاقتل شوي له دووليانو څخه يوه خپل حق معاف كړنواوس له قاتل څخه قصاص نه شی اخيستل كيدای البته مولی به پنځلس زره درهمه وركوي چې له هغوڅخه پنځه زره دعمدًامقتول دهغه ولي دي چې خپل حق يې نه دی معاف كړی اولس زره دخطاء مقتول ددووليانودي ځكه دقتل خطاء دوليانوپه حق لس زره درهمه كې معافي وغيره نه ده راغلې لهذاهغوئ ته پوره ديت يعني لس زره درهمه وركول كيږي اودقتل عمددوليانوڅخه يوه خپل حق معاف كړی دی ځكه دهغه بل حق پنځه زره درهمه وركول كيږي اوكه مولی مريي وركاوه نومريي به هغوئ دريواړوته اثلاثاوركړي يعني دمريي دوه ثلثه به دقتل خطادوليانولپاره وي اويوثلث به يې دقتل عمدله دوو،وليانوڅخه ديوه لپاره شي چاچې خپل حق نه دی معاف كړی لماقلنا.

(۱۸)كه ددووكسانويومشترک مريي ووهغه مريي ددي دواړويوقريب قتل كړياله هغوئ دواړونه يوه هغه معاف كړنودامام صاحب رحمه الله په نزدقصاص اومال دواړه باطل شويعني نه اوس هغه بل شريک له مريي څخه قصاص اخيستلای شي اونه ديت،ځكه ترمعافی مخكې ددواړوحق دقصاص په ډول واجب شوی ووچې شيوع پكې وه لكه په ملک كې چې شيوع وي اوس چې كله يوه حق معاف كړنودهغه حصه ساقطه شوه دهغه بل حق هم له قصاص څخه مال ته بدل شواودهغه حق نصف دی نوپه دي كې ترددی چې دغه بل

شریک نه چې کوم سړي ورکول کیږي ، داکوم نصف بدل دی ځکه لکه څرنګه چې په دي کې دا احتمال شته چې بنایي دا به دهغه نصف بدل وي کوم چې دهغه بل حق دی همدارنګه دا احتمال هم شته چې دهغه نصف بدل وي کوم چې معاف کړای شوی دی او مال ؛ شک او تردد په وجه نه واجبیږي ، امام ابویوسف رحمه الله فرمايي چې معافي کوونکی به یاهغه بل ته خپل نصف حصه مريی ورکوي اويا به څلورمه حصه ددیت ورکړي

**فائده** : دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی بعلمه من صنع صاحب الهداية حيث اخر دلـله وهذا ترجيح لقول الراجح عنده.

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله : فان قتل عبده قريبهما وان عفا احدهما بطل كله وقالا يدفع الذي عفانصف نصيبه للآخر اويفديه بربع الدية وقيل محمدمع الامام ووجهه انه انقلب بالعفو مالاوالمولى لايستوجب على عبده دينا فلاتخلفه الورثة فيه والله اعلم (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۵/ ۴۳)

## فصل

### دا فصل پرمريي دجنايت په بيان کې دی

مصنف رحمه الله دمريي پرغيرباندي دجنايت کولو له بيان څخه فارغ شو نو خپله پرمريي اومملوک باندي دجنايت احکام يې شروع کړل ځکه فاعل (جنايت کوونکی فاعل وي ) وجوداً پر مفعول (مجنی عليه مفعول وي) باندي مقدم وي نو ذکراً يې هم مقدم کړی دی چې ذکرا و وجودسره مطابق شي .

(۱) قتل عبد خطاء تجب قيمته ونقص عشرة لو كانت قيمته عشرة آلاف او اكثر وفي الامة عشرة من خمسة آلاف (۲) وفي المغصوب تجب قيمته مابلغت (۳) وماقدر من دية الحر قدر من قيمته ففي يده نصف قيمته (۴) قطع يد عبد فحرره سيده فمات منه وله ورثة غيره لايقتص (۵) والا اقتص منه (۶) قال احد كما حر فشجا فبين في احدهما فارشيهما للسيد (۷) فقأ عيني عبد دفع سيده عبده واخذ قيمته او امسكه ولاياخذ النقصان (۸) جنى مدبر او ام ولد ضمن السيد الاقل من القيمة ومن الارش (۹) فان دفع القيمة بقضاء فجنى اخرى شارك الثاني الاول (۱۰) ولو بغير قضاء اتبع السيد او ولي الجناية

**ترجمه** : ووژل شو مريی په خطاء سره نو واجبيږي دهغه قيمت اوکميږي لس درهمه که يې قيمت لس زره ياترهغه زيات وو او په مينځه کې لس کميږي له پنځه سره څخه . او په مغصوب مريي کې واجبيږي دهغه قيمت څومره چې وي او څومره مقدار چې مقرر وي دآزاد ددیت څخه هغه مقرريږي دمريي قيمت نو ده په لاس کې دی نصف قيمت دهغه غوڅ کړای شو لاس دمريي اوآزاد کړهغه خپل مالک بیا هغه له دغه لاس څخه مړ شو او هغه لره وارث وو بل څوک نو قصاص نه شي اخيستلای که نه بيا قصاص اخيستلای شي . ورته ويې وويل : نه تاسو دواړو څخه يو آزاد دی او هغوی زخمي کړای شول بيا په دوی کې ديوه دآزادي بيان وشو نو دهغه تاوان مالک لره کيږي يو چا ورړندې کړې دواړې سترګې دمريي ورديي کړي دهغه مولی مريی او دهغه قيمت واخلي يا دي وګرځوي او نقصان دي نه اخلي . جنايت وکړ مدبريا ام ولد نو مالک ضامن ګرځي دا قل له قيمت او تاوان څخه . بياکه ده ورکړ قيمت دقاضي په قضا سره بيا هغه بل جنايت وکړ نو شريک کيږي دوهم له اول سره اوکه يې دقاضي له قضا ، بغير ورکړ نو دوهم سري دي په مالک پسي شي يا دلومړي جنايت په ولي پسي .

**تشريح** :(۱)كه يوچادبل چامريي په قتل خطاء سره ووژه نوپرهغه ... واجبيږي.مگر دا قيمت به ترلس زره درهمه زيات نه وي ځکه دكامل (يعني حر) ديت لس زره درهمه دی نوكه دمريي (چې ناقص ) دقتل په صورت كې هم دلسوزرودرهمو حكم وركړل شي نودكامل اوناقص ترمنځ مساوات راځي .نوكه دوژل شوي مريي قيمت لس زره درهم ياترهغه زيات وونودديي لپاره چې دمملوك مرتبه ترآزادكمه ثابته شي بايدله لسوزرودرهمونوڅخه لس درهم كم كړي، همدا حكم دمنځې هم دی چې كه دهغې قيمت دآزادې ښځې ترديت يعني پنځوزرودرهمونه زيات وونوله پنځوزروڅخه دي لس درهم كم كړي

(۲)اوكه چاپومريي غصب كړيياهغه دغاصب په لاس كې هلاک شونوپه دي صورت كې دمريي پوره قيمت واجبيږي هرڅومره چې وويعني كه څه هم ترلس زره زيات وي پوره قيمت واجبيږي ځکه دغصب ورودپرمال باندي كيږي ځکه دغصب په وجه واجب ضمان دمال مقابل كيږي لهذا دمريي ماليت چې څومره وي هغه پوره واجبيږي.

(۳)يعني هرهغه مقدارچې دآزادديت په ډول مقرروي هغه دمريي دقيمت په ډول مقرريږي لهذاچيرته دحرنصف ديت وي هلته دمريي نصف قيمت دی ځکه په مريي كې قيمت داسي دی لكه په حركې ديت.نوكه چادمريي لاس ورغوڅ كړنوپرهغه باندي دمريي نصف ديت واجبيږي ليكن دا قيمت به ترپنځه كم پنځه زره درهمه زيات نه وي ځکه له انسان څخه لاس دهغه نصف دی نوپركل باندي قياسيږي كوم حكم چې دكل مريي په باره كې دی هغه يې دنصف يعني لاس په باره كې دی نودحراومريي د فرق لپاره له پنځوزرودرهمونوڅخه پنځه درهمه كميږي.

(۴)كه چادزيدمريي لاس ورغوڅ كړبيازيددغه مقطوع اليدمريي آزادكړترآزاديدوروسته دهغه زخم په وجه دامريي مړشونوكه ددغه مريي له مولی بغيرنوروارثان هم وي نوپه دغه صورت كې په اتفاق سره له قاتل څخه قصاص نه اخيستل كيږي بلكې دلاس تاوان اوترعتق مخكې چې كوم نقصان راغلی دی هغه واجبيږي ځکه من له الحق مشتبه دی ځکه كه دلاس غوڅيدووخت ته اعتباروي نوحق دمولی كيږي اوكه دمرگ وخت ته اعتباروي نوحق دوارثانوكيږي لهذادشبهې په وجه قصاص ساقط دی.

(۵)قوله والاّاقتص اي وان لم يكن للعبدورثة غيرالسيداقتص من القاطع.يعني كه دمريي له مولی علاوه كوم بل وارث نه وونودشيخينورحمهماالله په نزدپه دي صورت كې قصاص واجبيږي،اودامام محمد رحمه الله په نزدپه دي صورت كې هم قصاص نه واجبيږي ځکه دلته سبب دحق مختلف دی ولی دلاس غوڅيدودوخت په اعتبارسره دمولی حق دملكيت په وجه دی اوله مرگ وروسته دمولی حق دولاء په طريقه سره دی اوپه قابل احتياط اموروكې دسبب اختلاف دمستحق داختلاف په درجه كې دی نودلته هم په مستحق كې شبه پيداشوې ده ځکه دلته هم قصاص نه واجبيږي .دشيخينورحمهماالله دليل دادی چې داخبره يقيني ده چې په دواړوصورتونوكې مولی لره ولايت حاصل دی يعني مقتضی له (مولی) معلوم دی اوحكم دقصاص

متحد دی نو خامخا قصاص واجبېږي په لومړي صورت کې مقتضی له مجهول دی چې مولی دی او که وارث؟ لهذا دغه صورت پر هغه باندي قیاسول نه صحیح کیږي.

**فائده**: دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی لماقال العلامة الحصکفی رحمه الله: اقتص منه عندهما ان كان وارثه سيده فقط والا فلا اتفاقا لاشتباه من له الحق كمامر وعند محمد رحمه الله لاقصاص اصلا وعليه ارش اليد ومانقصه الى حين العتق وقولهما اصح (الدر المنتقى فى شرح الملتقى: ۴/ ۳۹۱)

(۶) که چا خپلو دوو مریانو ته وویل چې له تاسو دواړو څخه یو آزاد دی او آزاد کړه یې معلوم کړی نه وو چې یو بل چا د دواړو سرونه زخمي کړل چې په هغه کې تاوان واجبېږي بیا که ده معتَق معلوم کړنو هم د دواړو تاوان مولی ته ورکول کیږي ځکه که څه هم له دوئ څخه یو آزاد شوی دی چې تاوان خپله هغه ته ورکول کیږي مګر دلته عتق مبهم دی پر معلوم باندي نه دی وارد شوی او زخم پر معین باندر اغلی دی نو د زخم په حق کې دوئ دواړه پوره مملوک شمارل کیږي او چې کله دواړه مملوک ثابت شول نو د دواړو تاوان مولی ته ورکول کیږي.

(۷) زید د بکر د مریي دواړې سترګې ورواېستلې نو څرنګه چې په دواړو سترګو کې پوره قیمت واجبېږي لهذا بکر دي د اخپل مریی زید ته ورکړي او له زید څخه د هغه پوره قیمت واخلي او که مریی نه ورکوي نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد بکر له زید څخه نقصان هم نه شي اخیستلای او د صاحبینو رحمهما الله په نزد نقصان اخیستل جائز دی ځکه په اطرافو کې مالیت معتبر دی نو پر نورو ټولو اموالو باندي قیاسیږي نو لکه څرنګه چې په نورو اموالو کې داجائزه ده چې په قدر نقصان ضمان واخلي همدارنګه په مذکور صورت کې هم ضمان اخیستل صحیح کیږي، دامام صاحب رحمه الله دلیل دادی چې د مریي په اطرافو کې له مالیت سره آدمیت هم ملحوظ دی لهذا هغه پر محض اموالو باندي قیاسول صحیح نه دی او د آدمیت حکم دادی چې ضمان پر اجزاؤ باندي نه منقسم کیږي نو چې کله د آزاد سترګې وروباسي خو داحکم نه دی چې د سترګو او نورو اعضاؤ تر منځ حساب کیږي بیا د تلف شده اجزاؤ ضمان واجب وګڼل شي او باقي په قدر د ضمان واجب نه وي.

**فائده**: دامام صاحب رحمه الله قول راجح دی لمايعلم من صنيع صاحب الهداية حيث اخر دليله وهذا الترجيح قول الراجح عند صاحب الهداية وايضا رجحه ابراهيم بن محمد الحلبى صاحب مجمع الانهر، حيث قال: لهما انه فى الجناية بمنزلة المال فاوجب ذالک تخيير المولى على الوجه المذكور كمافى سائر الاموال، وله ان المالية وان كانت معتبرة فى الذات فالآدمية غير مهدرة فيه وفى الاطراف ومن احكام الادمية ان لاينقسم الضمان على الجزء الفائت والقائم بل يكون بازاء الفائت لاغير ولايتملک الجثة ومن احكام المالية ان ينقسم على الجزء الفائت والقائم فقلنا بانه لاينقسم اعتبار اللآدمية ويتملک الجثة اعتبار اللآدمية وهذا اولى مما قالاه لان فيما قالاه اعتبار جانب المالية فقط. (مجمع الانهر: ۴/ ۳۹۲)

(۸) که مدبر یا ام ولد خطاً یو جنایت وکړنو مولی به د هغه د قیمت او تاوان څخه چې کوم یو کم وي د هغه ضامن کیږي ځکه د مولی تدبیر یا استیلاد د مدبر او ام ولد له ورکولو څخه مانع دی لیکن څرنګه چې دی بلا اختیار دی لهذا اداسي دی لکه یو څوک چې خپل جنایت کار مریی قبل العلم بالجنایة آزاد کړي.

(۹) او که مدبر یا ام ولد له یو جنایت وروسته بل جنایت وکړحال دا چې مولی د قاضي په حکم د لومړي جنایت ولي ته د هغه قیمت ورکړی وو نو اوس پر مولی باندي هیڅ شی نه واجبېږي ځکه د مریي د ټولو جنایتونو بدل پر مولی باندي یو قیمت واجبوي او یو قیمت د لومړي جنایت ولي ته په ورکولو کې مولی متعدي هم نه دی

لهذا له هغه يوه قيمت نه علاوه پرمولى باندي هيڅ نه واجبيږي، البته ددوهم جنايت ولي دي دلومړي جنايت په ولي پسي شي اوله هغه سره دي په قيمت کې شريک شي چې هغه اخيستى دى ولى دلومړي جنايت ولي داسي شى قبض کړى دى چې په هغه پوري دبل جنايت دولي حق متعلق شوى وو.

(۱۰)اوكه مولى دلومړي جنايت ولي ته دقاضى دفيصلي بغيرقيمت ورکړي نوددوهم جنايت ولي ته اختيارشته چې ياپه مولى پسي شي ځکه مولى په اختيارسره هغه شى دلومړي جنايت مستحق ته ورکړى دى په کوم پوري چې ددوهم جنايت دولي حق متعلق شوى دى لهذادامولى دطرفه ددوهم جنايت دولي په حق کې تعدّى شمارله کيږي نوځکه ددوهم جنايت ولي له مولى څخه دمطالبې اختيارلري، بياچې ددوهم جنايت ولي ته ځومره ضمان ورکړي هغه به دلومړي جنايت له ولي څخه واپس واخلي ځکه هغه بلاحق هغه قبض کړى دى اوكه يادي دوهم ولي دلومړي جنايت په ولي پسي شي ځکه هغه ددوهم ولي حق ناجائزقبض کړى دى.

## بَابُ غَصْبِ الْعَبْدِ وَالْمُدَبَّرِ وَالصَّبِيِّ وَالْجِنَايَةِ فِي ذَالِكَ

داباب دمريي، مدبراوماشوم دغصب کولواوپه هغه وخت کې له هغوئ څخه دجنايت دواقع کيدوپه بيان کې دى ترديمخکې فقط دمريي دجنايت على العبديان وشوپه دغه باب کې دجنايت مع الغصب دواړوذکردى نوداپه منزله دمرکب له مفرده دى اومفردترمرکب مقدم وي.

(۱)قَطَعَ يَدَ عَبْدِهِ فَغَصَبَهُ رَجُلٌ وَمَاتَ مِنْهُ ضَمِنَ قِيمَتَهُ اَقْطَعَ (۲)وَإِنْ قَطَعَ يَدَهُ فِي يَدِ الْغَاصِبِ فَمَاتَ مِنْهُ بَرِئَ (۳)غَصَبَ مَحْجُوْرٌ مِثْلَهُ فَمَاتَ فِي يَدِهِ ضَمِنَ (۴)مُدَبَّرٌ جَنَى عِنْدَ غَاصِبِهِ ثُمَّ عِنْدَ سَيِّدِهِ ضَمِنَ قِيمَتَهُ لَهُمَا وَرَجَعَ بِنِصْفِ قِيمَتِهِ عَلَى الْغَاصِبِ وَدَفَعَ إِلَى الْأَوَّلِ ثُمَّ رَجَعَ بِهِ عَلَى الْغَاصِبِ (۵) وَبِعَكْسِهِ لَا يَرْجِعُ بِهِ ثَانِيًا (۶)وَالْقِنُّ كَالْمُدَبَّرِ غَيْرَ أَنَّ الْمَوْلَى يَدْفَعُ الْعَبْدَ هُنَا وَثَمَّهُ الْقِيمَةَ

**ترجمه**: يوچادخپل مريي لاس ورغوڅ کړبيابل سړي هغه غصب کړاوهغه مړشوله دغه لاس غوڅيدوڅخه نودلاس غوڅ شوي مريي دقيمت ضامن کيږي، اوکه غوڅ کړاى شودهغه لاس دغاصب په قبضه کې بيامړشوله لاس څخه نوغاصب بري کيږي غصب کړمحجورمريي دخپل ځان په شان بل مريى بياهغه مړشودده په قبضه کې نوضامن کيږي، مدبرجنايت وکړدخپل غاصب په وړاندي بيادخپل مالک په وړاندي نوضامن کيږي دقيمت ددواړولپاره اواخلي به دهغه نصف قيمت له غاصب څخه اوورکوي به يې واول ته بيابه اخلي نصف قيمت له غاصب څخه، اوددي په عکس کې به يې نه اخلي هغه دوباره، اومريى دمدبرپه شان دى سواله دي نه چې مالک به دلته مريى ورکوي اوهلته به قيمت.

**تشريح**: (۱)چادخپل مريي لاس ورغوڅ کړبياپه دغه حال کې بل چاهغه مريى غصب کړاودغاصب په قبضه کې دهغه زخم په وجه مړشونوپرغاصب باندي دهغه قيمت واجبيږي مګرپوره قيمت نه بلکې دلاس غوڅيدوپه وخت کې چې دهغه کوم قيمت وي هغه واجبيږي.

(۲)اوکه يوځل غاصب غصب کړبيامالک دغاصب په وړاندي دهغه لاس ورغوڅ کړچې بيادغاصب په قبضه کې دهغه لاس څخه مړشونوپه دغه صورت کې پرغاصب باندي هيڅ شى نه واجبيږي ددواړوصورتونوترمنځ فرق دادى چې لکه ځرنګه چې بيع سبب دملک دى همدارنګه غصب هم سبب دملک دى اوترسبب ملک

[illegible] بقه زخم سرایت ختمیږي لهذا په لومړي صورت کې دغصب په وجه سرایت ختم شوولی [illegible] داسي شولکه په یوآسماني آفت سره چې مړشوځکه نوپه دغه صورت کې دلاس غوځ شوي مریي قیمت واجبیږي. وپه دوهم صورت کې ځرنګه چې مالک دغاصب په قبضه کې دمریي لاس ورغوځ کړی دی نوداسي وګڼه چې هغه لومړی له غاصب څخه هغه قبض کړی دی بیایې دهغه لاس ورغوځ کړی دی ځکه چې کله مالک په هغه حالت کې دمریي لاس ورغوځوي نودی پرمریي باندي استیلاء هم لري لهذادلاس غوځیدل دمالک په قبضه کې شمارله کیږي ځکه غاصب بري کیږي.

(۳)یوه محجورمریي دخپل ځان په شان بل محجورمریی غصب کړبیادغاصب په قبضه کې دغه مغصوب مریی مړشو نو غاصب ضامن ګرځي یعنې پرهغه باندي دمغصوب مریي قیمت لازمیږي ځکه دمحجورپه فعل کې منع نشته لهذا دی دخپل فعل په وجه ماخوذکیږي مګرځرنګه چې غاصب خپله محجوردی ځکه دآزادیدوروسته قیمت وربانديکیږي.

(۴)که چادبل چامدبّرمریی غصب کړاودغاصب په قبضه کې مدبّریوجنایت وکړبیاغاصب دغه مدبّرمالک ته ورواپس کړدمالک سره مدبّردوباره یوجنایت وکړنومالک دمدبّردپوره قیمت ضامن ګرځي چې دواړوولیانودجنایت ته نیم نیم ورکول کیږي ځکه مولی دسابق تدبیرپه وجه خپل ځان پخپله مدبّردجنایت ولي ته له ورکولوڅخه عاجزکړیعنې ځرنګه چې مولی مریی مدبّرکړی دی ځکه اوس دغه مریی دجنایت ولي ته نه شي ورکولای،لیکن بیاهم دی له هغه څخه فدیه ورکول نه شي اختیارولای ځکه پرده باندي دمدبّرپوره قیمت واجبیږي ولی دولیانوحق په مریي ورکولوکې ووچې کله ده مریی مدبّروګرځاوه نودهغوئ حق یې باطل کړ،بیادغه قیمت ددوولیانوترمنځ نیم نیم ځکه تقسیمیږي چې په موجب دضمان کې هغوئ دواړه برابردي .بیامالک له غاصب څخه نیم قیمت اخیستلای شي ځکه مالک ته نیم قیمت دهغه جنایت په وجه ورکول کیدی کوم چې دغاصب په قبضه کې صادرشوی وو،اوهغه نیم هم دلومړي جنایت وولي ته ورکول کیږي ځکه دهغه حق په پوره قیمت کې دی ولی چې مدبّرکله دهغه په حق کې جنایت وکړنودهغه هیڅ مزاحم نه وو بیامزاحم (ددوهم جنایت دولي ) په وجه دهغه حق نیم کړی دی لیکن له غاصب څخه داخیستل شوي مدبّرکوم بدل چې اوس په لاس راغلی دی نودلومړي جنایت ولي دهغه داخیستلوحقدارګرځي چې دهغه حق پوره اداشي.اوکوم مقدارچې مولی دلومړي جنایت ولي ته دوباره ورکړی دی دهغه په باره کې به غاصب ته رجوع کوي چې دمولی سره محفوظ کیږي ځکه دانصف چې دلومړي جنایت ولي له مالک څخه دوباره اخیستی دی داهغه جنایت عوض دی کوم چې دغاصب په قبضه کې له مدبّرڅخه صادرشوی ووځکه مالک ددوباره اخیستلوحقدارګرځي.

(۵)قوله وبعکسه لای وبعکس ماذکره لایرجع المولی علی الغاصب بالقیمة،یعنې که مریي له مالک سره جنایت وکړبیادی یوچاغصب کړاودغاصب سره هغه بل جنایت ترسره کړنوپرمالک باندي قیمت واجبیږي چې ددوئ دواړوترمنځ برابرتقسیمیږي اومالک به دنصف قیمت په باره کې پرغاصب باندي رجوع کوي ځکه پرمالک باندي نصف تاوان دداسي سبب په وجه لازم شوی دی چې هغه دغاصب په وړاندي پیداشوی دی لیکن مولی

دوباره غاصب ته رجوع نه شي کولای ځکه مالک چې کوم څه دلومړي جنايت ولي ته دوباره ورکړي دي داهغه جنايت په وجه سره دی کوم چې خپله دمالک سره پيدا شوی دی لهذامولی غاصب ته درجوع حق نه لري.خلاف له سابق صورت نه چې هلته مولی دلومړي جنايت ولي ته کوم څه دوباره ورکړي وه هغه دهغه جنايت په وجه وو چې دغاصب سره راپيدا شوی وو.

(۶)اوقن دمدبرپه شان دی يعني که دمدبرپرځای مغصوب مريی وو بياهم همدا تفصيل دی که چيرته غاصب دچامريی غصب کړمريي دغاصب په قبضه کې يوجنايت ورکړبياغاصب مريی خپل مالک واپس ورکړمريي دمالک په وړاندي بياجنايت وکړنومالک به مريی ددواړوجنايتونوولیانوته ورکوي هغه به يې پخپل منځ کې تقسيموي بيابه له غاصب څخه نيم قيمت اخلي دلومړي جنايت ولي ته به يې ورکوي.بيابه دوباره مالک غاصب ته رجوع کوي نصف قيمت به له هغه څخه اخلي .ليکن دومره فرق يې شته چې دمريي په صورت کې مريی ورکول کيږي اودمدبرپه صورت کې دهغه قيمت.ولی دتدبيرپه وجه مدبردجنايت ولي ته نه شي ورکول کيدای.

(۷)مدبرجنی عند غاصبه فرده فغصبه فجنی علی سیده قیمته لهمارجع بقیمته علی الغاصب ودفع نصفهاالی الاول ورجع بدالک النصف علی الغاصب (۸)غصب رجل صبیاحرافمات فی یده فجاءة اوبحمی لم یضمن وان مات بصاعقة اونهش حیة فدیته علی عاقلة الغاصب (۹)کصبی اودع عبدافقتله وان اودع طعامافاکله لم یضمن

**ترجمه** :يوه مدبرجنايت وکړدخپل غاصب سره هغه واپس کړاوبيايې غصب کړدغه مريی بيايې جنايت وکړنودهغه پرمالک باندي دهغه قيمت واجبيږي ددواړولپاره اواخلي به دهغه قيمت له غاصب څخه اوورکوي به ددغه قيمت نصف واول ته اودابه هم له غاصب څخه اخلي .يوچاغصب کړآزادماشوم اوهغه مړشودهغه په قبضه کې يوناڅاپه يادتبې په وجه نونه ضامن کيږي اوکه هغه مړشوبرېښناپه لوېدوسره يادمارپه چيچلوسره نودهغه ديت دغاصب پرعاقله باندي کيږي.لکه هغه ماشوم چې ده ته ورسپارل شوی وي يومريی اوهغه يې قتل کړي اوکه خوراکي شی ورسپارل شوی وواوهغه وخوړنونه ضامن کيږي.

**تشريح** :(۷)که يوچامدبرغصب کړمدبردهغه په وړاندي جنايت وکړغاصب مدبرمالک ته واپس ورکړدوباره يې غصب کړاومدبردوباره دغاصب په وړاندي يوجنايت وکړنوپرمالک باندي واجب دی چې دی دهغه پوره قيمت ددواړوجنايتونو وليانوته نصف نصف ورکړي ولی مريی مالک مدبرګرځولی دی اومريی چې مدبروګرځيدداددي مانع شوچې هغه دجنايت په بدله کې ورکړای شي لهذااوس دمدبرقيمت ورکول کيږي.اوبيابه مالک له غاصب څخه پوره قيمت وصول کړي ځکه دواړه جنايتونه دغاصب په قبضه کې ترسره شوي دي نولهذادواړوضمان پرغاصب باندي کيږي.اوله غاصب څخه اخيستل شوی پوره قيمت به نصف دلومړي جنايت وولي ته ورکړي ځکه هغه دپوره قيمت مستحق ګرځيدلی ووولی پرهغه باندي دجنايت په وخت کې دهغه هيڅ مزاحم نه وو بيادمزاحم (دوهم جنايت دولي )په وجه دهغه حق نصف شوی دی. ليکن له غاصب څخه داخيستل شوي مدبربدل چې اوس موجودشونودلومړي جنايت ولي دهغه داخيستلوحقدارګرځي چې دهغه پوره حق اداکړای شي اودانصف چې ده دلومړي جنايت وولي ته ورکړی

دی دابه بیاله غاصب څخه وصول کړي څکه استحقاق په هغه سبب راغلی دی کوم چې دغاصب په قبضه کې ترسره شوی وواو مالک غاصب ته درجوع حق لري او دانصف مالک ته سالم ورپاتیږي دلومړي جنایت وولي ته به یې نه ورکوي.

(۸)که یو چاداسي یو آزادماشوم غصب کړچې خپل حال یې نه شوای بیانولای او بیا هغه دغاصب په قبضه کې یوناڅاپه مړشو یاپه تبه سره مړشو نو غاصب نه ضامن کیږي اوکه دبرېښنا په لوید وسره مړشو یامارو چیچه مړشو نو دغاصب پرعاقله باندي دیت واجبیږي ددواړو صورتونو ترمنځ فرق دادی چې غاصب دغصب په وجه ضامن نه دی بلکې داتلاف دسبب ګرځیدو په وجه ضامن ګرځي نو په دوهم صورت کې څرنګه چې غاصب داتلاف سبب جوړکړی دی څکه برېښنا هرځای نه رالویږي اومارهرځای نه وي نوغاصب ماشوم دبرېښنالوید واو مارانو ځای ته په وړلوسره متعدي دی څکه په دي صورت کې پرغاصب باندي ضمان راځي اوپه لومړي صورت کې غاصب داتلاف سبب نه دی څکه ناڅاپه مړکیدل یاپه تبه سره مړکیدل هرځای وي نولهذا په دغه صورت کې غاصب متعدي نه دی څکه پرده باندي ضمان نشته.

(۹)قوله کصبی اودع عبدافقتله ای یضمن عاقلة الفاصب کمایضمن عاقلة الصبی، یعني دغاصب عاقله ضامن کیږي لکه چې یوماشوم ته که چایومریی ودیعت کیښوداوماشوم هغه قتل کړي نودماشوم پرعاقله باندي دیت واجبیږي اوکه دماشوم په وړاندې خوراکي شیان کښیښودل شی اوماشوم هغه وخوري نوپرماشوم باندي ضمان نشته ددواړوصورتونوترمنځ فرق دادی چې په دوهم صورت کې مالک معصوم مال له داسي ماشوم سره ودیعت ایښی دی چې هغه دودیعت ساتلواهل نه دی نومالک خپله دخپل مالک عصمت ختم کړچې کله داثابته شوه چې دهغه مال معصوم نه دی نوپرماشوم باندي ضمان نه راځي،اوپه لومړي صورت کې دمریي عصمت دمالک دحق په وجه سره نه بلکې خپله دمریي دحق په وجه سره دی څکه دویني وغیره په حق کې مریي ته دآزاددرجه حاصله ده نوپه دي صورت کې دمریي دعصمت دنه ختمیدو په وجه پرماشوم باندي ضمان واجبیږي.

## كتاب القسامة

### داكتاب دقسامة په بيان كې دى

قسامة په لغت کې مطلقاً دقسم په معنی دی اوپه اصطلاح دشرع کې دمخصوص عدد(پنځوسو) په سبب مخصوص (په محله کې دمړي پیداکیدل) اووجه مخصوصه (دپنځوسوکسانوپنځوسوقسمونوخوړلوته ) ویل کیږي،ددي خبرې تشریح داسي ده چې په یوه محله یامکان کې داسي یومقتول پیداشي چې قاتل یې معلوم نه وي حال داچې پرهغه دخفه کیدو یاجراحت یواثرموجودوي نودهغه ځای له پنځوسوکسانوڅخه قسم اخیستل کیږي په دي ډول چې هریوبه قسم اخلي چې والله ! دامانه دی قتل کړی اونه ماته ددي قاتل معلوم دی،اوشرط یې دادی چې پنځوس بالغ سړي به وي اوکه داشمیرپوره نه وونوله موجوده کسانوڅخه به مکررقسم اخیستل کیږي ترڅوپنځوس پوره شي اوله قسم وروسته ددیت حکم ورکړل کیږي چې ویني له ناحق بهیدوڅخه محفوظې شي.

محلې والاؤته دقسم وركولو اوله هغوئ څخه ددیت اخیستلو عقلي وجه داده چې دمحلې حفاظت دهغوئ ذمه واري ده نوچې په دوئ كې مقتول پیداشو معلومه شوه چې هغوئ خپله ذمه واري نه ده اداكړې لهذا له هغوئ څخه قسم اودیت اخیستل كیږي .

له ماقبل سره یې مناسبت دادی چې دقتل په ځینوصورتونوكې دقسامت ضرورت پیښیږي ځكه یې داددیاتوپه آخركې دمستقل كتاب ترعنوان لاندې بیان كړی دی

(۱)قتيل وجد في محلة لم يدر قاتله حلف خمسون رجلا منهم يتخيرهم الولي بالله ماقتلناه وماعلمنا له قاتلا فان حلفوا فعلى اهل المحلة الدية (۲)ولا يحلف الولي (۳)وحبس الابي حتى يحلف (۴)وان لم يتم العدد كرر الحلف عليهم ليتم خمسون (۵)ولا قسامة على صبي ومجنون وامراة وعبد (۶)ولا قسامة ولا دية في ميت لااثر به اويسيل دم من انفه اوفمه اودبره (۷)بخلاف عينه واذنه (۸)قتيل على دابة معها سائق اوقائد اوراكب فديته على عاقلته

**ترجمه** :یوداسې مقتول پیداشوپه یوه محله كې چې دهغه قاتل معلوم نه وونوقسم اخیستل كیږي له پنځوسوكسانو څخه په هغوكې به یې منتخبوي دهغه مقتول ولي چې والله مونږنه دی قتل كړی اونه مونږدهغه په قاتل علم لرو بیاكه دوئ قسم واخیست نوپراهل محله باندې دیت كیږي،اوقسم نه وركول كیږي وولي ته اوقیدكړای كیږي متكرترهغه پورې چې قسم واخلي اوكه عددپوره نه شونومكرریږي له موجوده كسانوڅخه ترڅوچې پنځوس پوره شي.اوقسامة نشته پرماشوم باندې اولیوني اوښځه اومریي باندې.اونشته قسامة اونه دیت پرهغه مړي باندې چې پرهغه باندې هیڅ نښه نه وي یایې له پوزې وینې بهیدلې وي یاله خولې څخه له دبرې څخه .خلاف له سترګواوغوږونوڅخه .مقتول پیداشوپرحیوان باندې سپورچې له هغه سره ترمخ كشوونكی شته یاترشاشړونكی شته یابل ورسره سپوردی نودهغه مړي دیت دهغه پرعاقله باندې كیږي .

**تشریح** :(۱)كه په یوه محله كې مقتول پیداشواودامعلومه نه شوه چې چاداقتل كړی دی نودمقتول ولی به دمحلې له خلكوڅخه پنځوس كسان دقسم اخیستلوپاره انتخابوي ځكه حق دیمین ولی لره حاصل دی لهذاانتخاب حق هم ولي لره حاصل دی اوظاهره ده چې دداسې خلكوانتخاب به كوي چې پرهغوئ باندې دقتل شبهه وي یابه دمحلې نیک خلک انتخابوي چې هغوئ ددروغوله قسم اخیستلوڅخه ډډه كوي اوسې په دې طریقه قاتل معلومیږي،بیاله دغوخلكوڅخه هریوداسې قسم اخلي چې والله ! مادانه دی قتل كړی اونه ماته ددې قاتل معلوم دی .بیاچې كله هغوئ قسم واخلي نوقاضي به هغوئ ته ددیت اداكولوحكم وركوي چې دمقتول وینې له ناحق بهیدوڅخه محفوظې شي .

(۲)كه دمحلې په خلكوكې دمقتول ولي هم وي نوله هغه څخه به قسم نه اخیستل كیږي ځكه ولي مدعي دی اوپرمدعي باندې بیّنه دي قسم نشته لقوله ﷺ :البينة على المدعي واليمين على من انكر(پرمدعي باندې ګواهان دي اوڅوک چې منكروي پرهغه قسم دی ) .

(۳)بیاكه دمحلې په خلكوكې كوم چې ولي منتخب كړي وویوه له قسم اخیستلوڅخه انكاروكړنوهغه به محبوس كړای كیږي ترڅوقسم واخلي ځكه په محله كې دقتل په وجه دمحلې والاؤته قسم وركول دمقتول دورثؤحق دی لهذاكه یوڅوک له قسم څخه انكاروكړي نوقید كړای كیږي به .

(۴)كه دمحلې دخلكو شمير پنځوسوته نه ورسيدنو بيا دې له موجوده كسانو څخه مكرر قسم واخيستل شي ترڅو پنځوس قسمونه پوره شي حتى كه چيرته يونفروونوله هغه څخه به پنځوس ځله قسم اخيستل كيږي ځكه داثابت بالسنة دى نوتر امكانه پوري يې تكميل واجب دى اوچيرته چې نص وارد وي هلته دحكم په فائده باندي خبريدل شرط نه دى همدارنګه حضرت عمر ﷺ يوځل دقسامت حكم وكړچې كله يې دمحلې والاوو څخه قسم واخيست نوهغه نه څلويښت قسمونه شول بياده ﷺ په دوئ كې له يوه نفر څخه مكرر قسم واخيست.

(۵)په قسامت كې ماشوم اوليونى نه داخليږي،همدارنګه پرښځه اومريي باندي هم قسامة نشته ځكه داكسان له اهل نصرت څخه نه دي حال داچې قسم پرهغو خلكو باندي كيږي چې اهل نصرت وي يعني قسامة پرهغو خلكو باندي دى كوم چې مدد كولاى شي.

(۶)كه په يوه محلّه كې يوداسي مړى پيداشوچې دزخم يونښان يادوهلويادخفه كيدونه وونو بيا پرمحلّه والاوو باندي قسامة اوديت هيڅ شى نشته ځكه داسړى مقتول نه دى بلكې پخپل مرګ مړشوى دى ولى دهغه دمقتول كيدوهيڅ دليل نشته،نوكه دچاترپوزه ياخوله يادُبره وينې بهيدلي وي نودمحلّې پرخلكو باندي قسامت اوديت هيڅ شى نشته ځكه له دغوځايونو څخه وينه بې دچادكاروائي په ناروغي وغيره سره وځي لهذاداد هغه دمقتول كيدودليل نه دى.

(۷)بخلاف عينه واُذنه اى بخلاف مااذاسال الدم من عينه واذنه فان فيهماالقسامة،يعني كه وينه دهغه له ستركو ياغوږو څخه وتلي وي نودامقتول شمارل كيږي،ځكه عادةً داخبره معلومه شوي ده چې دمړي ترستركه ياغوږوينه بهيدل هغه وخت راځي چې ديوژوندي له جانبه له هغه سره دفعل (وهلوټكولو وغيره) ارتكاب شوى وي.

(۸)كه يومقتول پرآس يابل شي سپورومونډل شي اوهغه حيوان يوچاترمخ كشاويا ترشاوريسي وودشړلوليپاره ياورسره سپوروونوپه دغودريووا ړوصورتونوكې دهغه مقتول ديت ددغوكسانو پرعاقله باندي كيږي ځكه مقتول دهغه په قبضه كې دى داداسي دى لكه دهغه په كوركې چې پيداشي.

(۹)مَرّتْ دَابّةٌ عَلَيهَاقَتِيلٌ مِن بَينِ قَريَتَينِ فَعَلى أقرَبِهِمَا (۱۰)وَإن وُجِدَ فِي دَارِ إنسَانٍ فَعَلَيهِ القَسَامَةُ وَالدِّيَةُ عَلى عَاقِلَتِه (۱۱)وَهِيَ عَلى أهلِ الخِطّةِ دُونَ السُّكَانِ وَالمُشتَرِينَ فَانْ لَم يَبقَ وَاحِدٌ مِنهُم فَعَلى المُشتَرِينَ (۱۲)وَإن وُجِدَ فِي دَارٍ مُشتَرَكَةٍ عَلى التّفَاوُتِ فَهِيَ عَلى الرُّؤسِ (۱۳)وَإن بِيعَ وَلَم يَقبِض فَعَلى عَاقِلَةِ البَائِعِ (۱۴)وَفِي الخِيَارِ عَلى ذِي اليَدِ (۱۵)وَلاتَعقِلُ عَاقِلَةٌ حَتّى يَشهَدَ الشُّهُودُ أنّهَا لِذِي اليَدِ (۱۶)وَفِي الفُلكِ عَلى مَن فِيهِ مِن الرُّكَابِ وَالمَلاحِينَ (۱۷)وَفِي مَسجِدِ مَحَلّةٍ عَلى أهلِهَا وَفِي الجَامِعِ وَالشَّارِعِ لاقَسَامَةَ وَالدِّيَةُ عَلى بَيتِ المَالِ (۱۸)وَيُهدَرُ لَو فِي بَرّيّةٍ اووَسَطِ الفُرَاتِ وَلَو مُحتَبَسًا بِالشَّاطِي فَعَلى أقرَبِ القُرَى.

**ترجمه**:يوحيوان تيرشوچې مړى پرې بارووددووكليوترمنځ نوقسامة په دوارو كې چې كوم يوكلى نژدې وي پرهغه دى .اوكه مقتول پيداشوديوچاپه كوركې نوپرهغه باندي قسامة دى اوديت دهغه پرعاقله باندي كيږي، اوديت پراهل خطه باندي دى نه پراوسيدونكواوخريدارانوباندي اوكه چيرته له هغوئ څخه يوهم باقي نه وونوبيا پر خريدارانو باندي دى اوكه يې پيداكړپه يوداسې مكان كې چې مشترک على التفاوت

وونو قسامة دسرونو پرشمير باندي كيږي او كه مكان خرخ شوی وو او قبض شوی نه وونو دبائع پر عاقله باندي كيږي او په خيار كښ پر قابض باندي دی او ديت دي نه وركوي عاقله تر هغه پوري چې گواهي وركړي گواه چې دی قابض دی او كه مقتول په كښتۍ كښ وونو پر هغو خلكو دی چې په كښتۍ كښ دي يعني سواريان او ملاح كښتۍ وان او كه دمحلې په مسجد كښ نو دمحلې پر خلكو باندي كيږي او په جامع مسجد كښ يا په عامه لاره كښ وونو بيا قسامة نشته او ديت پر بيت المال باندي كيږي او هدر كيږي كه چيرته مقتول په يوه ځنگله كښ يا په وسط فرات كښ وو او كه تړل شوی وو په كناره پسې نو پر نژدې كلي باندي كيږي .

**تشريح** :(۹)كه يو آس يا بل حيوان چې مقتول پر تړلی وو ددوو كليو ترمنځ پيدا شو او له هغه سره هيڅوك نه وونو چې كوم كلي ته ډير نژدې وي قسامة او ديت پر هغه باندي كيږي لانه ﷺ اتى بقتيل وجدبين قريتين فامران يذرع فوجد احدهما اقرب بشبر فقضى عليهم بالقسامة وهكذا كتب عمر رضي الله عنه حين كتب اليه في القتيل بين قريتين (يعني نبي كريم ﷺ ته يو داسې مقتول را وړل شو چې ددوو كليو ترمنځ پيدا شوی وونو هغه ﷺ ددوو كليو ترمنځ دخمكې ناپولو حكم وركړ په ناپولو سره معلومه شوه چې يو كلی فقط يوه لويشت دهغه بل كلي په نسبت نژدې دی نو هغه ﷺ دقسامة حكم دهغه كلي پر خلكو باندي وكړ، او همدارنگه فيصله حضرت عمر رضي الله عنه كړي وه چې كله له هغه رضي الله عنه څخه پوښتنه شوې وه ) او كه په نژدې والي كښ دواړه كلي سره برابر وونو بيا پر دواړو باندي كيږي .

(۱۰)كه چيرته مقتول ديو چا په سرای كښ پيدا شو نو قسامة دسرای پر مالک باندي كيږي ځكه سرای دهغه په قبضه كښ دی او ديت دهغه پر عاقله باندي كيږي ولې دهغه قوت او نصرت په عاقله سره دی.مگر شرط دادی چې دمقتول ولي به دسرای په مالک باندي دقتل دعوی كوي كه يې په بل چا باندي دقتل دعوی وكړه نو بيا دسرای پر مالک باندي قسامة نشته .

(۱۱)قسامة پر اهل خطه باندي دی كه څه هم له هغوئ څخه يو پاتې وي په مكان كښ پر او سيدونكو (كرايه دارانو او عارية اخيستونكو ) او مشتريانو باندي نشته ځكه صاحب خطه دمدد لپاره مختص دی كرايه دارنه دی ځكه دمالک سكونت لازم او دائمي دی او صاحب خطه اصيل دی او مشتري دخيل دی او ولايت دتدبير پر اصيل دی دخيل دهغه مزاحم نه شي كيدای نو تقصير له اهل خطه څخه دی دا دطرفينو رحمهما الله مسلک دی.دامام ابو يوسف رحمه الله په نزد پر ټولو باندي دی او كه له اهل خطه ؤڅخه يو اځې يو په محله كښ پاته وونو قسامة او ديت پر هغه باندي كيږي، لماقلنا.ليكن كه له اهل خطه ؤڅخه يو هم پاته نه وونو بيا مشترين ذمه دار كيږي قسامة او ديت پر مشترينو (اخيستونكو ) باندي كيږي ځكه تر دوئ چې مقدم وو هغوئ او س نشته نو ولايت خالص ددوئ پاتې شو ځكه نو ذمه داري هم پر دوئ راځي .

**فائده** :په مذكورصورت كښ دطرفينو رحمهما الله قول راجح دی لمافي الدّرالمختار:(وهي) الدية والقسامة (على اهل الخطة)قال العلامة ابن عابدين رحمه الله:قوله دون السكان) كالمستاجرين والمستعيرين فالقسامة على اربابها وان كانوا غيبا,تاترخانيه ............الخ(الدّرالمختار مع الشامية:۵/۴۴۷)

**فائده** :له اهل خطه څخه مراد هغه خلک دي چې له وخته دځمكې مالكان وي له كوم وخت نه چې امام ښار فتح كړی وي او ځمكه يې دمجاهدينو ترمنځ تقسيم كړي وي هر يوه ته يې دهغه خپله حصه ليكلې وركړي وي .

(۱۲)اوكه مقتول په يوداسي مكان كې پيداشوچې هغه دځوكسانوترمنځ مشترك وواودشريكانومقدارملكيت هم مختلف وومثلامذكورمكان نصف ديوه وواوثلث دبل ووسدس دريم وونوحصوته اعتبارنه وركول كيږي بلكې درؤسودشميرمطابق پردريوواړوشريكانوباندي ديت برابرتقسيميږي ځكه دتدبيرپه ولايت كې ټول برابردي .

(۱۳)كه يوچامكان اخيستى وواوقبض كړى يې لانه ووچې په هغه كې يومقتول پيداشونوداامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدديت دبائع پرعاقله باندي كيږي ولى داامام صاحب رحمه الله په نزدديت مدارپرقبضه باندي دى اوقبضه تراوس دبائع قائمه ده نوديت هم دبائع پرعاقله باندي كيږي اودصاحبينورحمهماالله په نزدديت دمشتري پرعاقله باندي راځي ځكه دصاحبينورحمهماالله په نزدمداردضمان ملكيت دى اوملكيت مشتري لره حاصل دى لهذاديت دمشتري پرعاقله باندي كيږي .

(۱۴)قوله وفي الخيارعلى ذي اليداى وفي البيع بالخيارعلى عاقلة ذي اليد .يعني كه دعاقدينوڅخه ديوه لپاره دري ورځي خيارشرط وونوداامام صاحب رحمه الله په نزدديت پرهغه چاواجبيږي دچاپه قبضه كې چې په دغه وخت كې مكان دى .دصاحبينورحمهماالله په نزدمدارپرملكيت دى اوهغه غيرمحقق دى لهذاآينده چې داسراى دچاملك ته ځي ديت دهغه پرعاقله باندي واجبيږي .

**فائده** :په دواړومسئلوكې داامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافي الدرالمختار:(وان بيعت ولم تقبض) حتى وجدفيهاقتيل (فعلى عاقلة البائع وفي البيع خيارعلى عاقلة ذي اليد) خلافالهماوقال العلامة ابن عابدين رحمه الله :فالحاصل انه اعتبراليدوهمااعتبراالملك وان وجدواالاتوقف على قرارالملك (الدرالمختارمع الشامية:۵/۴۴۷)

(۱۵)كه په يوه مكان كې مقتول پيداشونودقاعدې مطابق دمكان دخاوندپرعاقله باندي ديت كيږي كه عاقله انكاروكړچې دامكان دده سري ملك نه دى بلكې هغه په عاريةً ياإجارةً اخيستى دى نوترڅوچې گواه گواهي ورنكړي چې دامكان واقعي دده قبض كوونكي ملك دى پرعاقله باندي ديت نه كيږي ځكه دقبض كوونكي مالك كيدل ضروري نه دى دااحتمال موجوددى چې دامكان دقبض كوونكي ملك نه وي ځكه ترڅوچې دده ملك په گواهانوسره ثابت نه شي پرعاقله باندي ديت نه كيږي .

(۱۶)قوله وفي الفلك اى ان وجدقتيل في الفلك الخ .يعني په كښتۍ كې يومقتول سرى پيداشونوقسامة دكښتۍ پرملاحينواوپرسواريانوباندي كيږي كه يې هغوئ مالكان وي اوكه يې مالكان نه وي ځكه كښتۍ دهغوئ په قبضه كې ده داداامام ابويوسف رحمه الله پرمسلك باندي ظاهردى ولى دهغه پرمسلك قسامة پرمالكانو اوسكانودواړوباندي دى اودطرفينورحمهماالله په نزددكښتۍ مالك كيدل ځكه ضروري نه دى چې كښتۍ گرځي راگرځي لهذاپه هغې كې قبض معتبردى ملك نه دى معتبرلكه په حيوانانوكې چې قبض معتبردى .

(۱۷)قوله وفي مسجدمحلة اى ان وجدقتيل في مسجدمحلة .يعني كه مقتول ديوې محلې په مسجدكې پيداشونودهغه مسجدپرخلكوباندي قسامة واجبيږي ځكه دهغه مسجددتدبيرولايت همدغوخلكولره حاصل دى .اوكه په جامع مسجدياعامه لاره باندي مقتول پيداشونوپه هغه كې قسامة نشته ځكه جامع مسجدياعامه لاره

خودتړلو خلکو لپاره دي په هغه کې دچاخصوصيت نشته اوددغه مقتول ديت پربيت المال باندي واجبيږي ځکه بيت المال دعامو مسلمانانو دمصائبو لپاره دی .

(۱۸)که مقتول په يوه ځنګله کې پيداشوچې نژدي هيڅ آبادي نه وه نو دهغه مقتول هيڅ شی نشته ځکه ځنګل دهيچاپه قبضه کې نه دی اوچې کله دی په داسې ځای کې پيداشوچې هلته هيڅوک مددګار دده دمدد لپاره نه شي رسيدلای نوهيڅوک قصوروالانه شي کيدای،که مقتول په وسط فرات (ياپه يوه بله لويه واله کې چې دچاملک نه وه ) پيداشوچې په هغې کې اوبه بهيدلي نوهغه هم هيڅ تاوان نه لري،ځکه داډول دريابونه (سندونه) دهيچاپه قبضه اوملک کې نه دي، که مقتول ديودرياب په کناره کې اينبودل شوی وونوبياچې دغه درياب ته کوم کلی ترټولونژدي وي قسامة اوديت پرهغه کلي باندي کيږي ځکه ددرياب داډول کناره دنژدي خلکوپه قبضه کې ده اوددي ځای دنصرت لپاره همداخلک مختص دي .

(۱۹)وَدعوى الولِيّ على واحِدٍ من غيرِ أهلِ المَحَلّةِ يُسقِطُ القَسامةَ عَنهم وَعَلى مُعَيّنٍ مِنهم لا (۲۰)وَإن التَقى قومٌ بِالسُيوفِ فَاجلَوا عَن قَتيلٍ فَعَلى أهلِ المَحَلّةِ إلّا أن يَدّعِي الوَلِيّ على أولٰئكَ أو على مُعَيّنٍ مِنهم (۲۱)وَإن قالَ المُستَحلِفُ مِنهم قَتَلَه زَيدٌ حَلَفَ بِاللهِ ماقَتَلتُ وَلا عَرَفتُ لَه قاتِلاً غَيرَ زَيدٍ (۲۲)وبطل شَهادةُ بَعضِ أهلِ المَحَلّةِ عَلى قَتلِ غَيرِهِم أو واحِدٍ مِنهم

**ترجمه** :اودعوه کول دولي پريوچاداهل محلې نه غيرنوساقطيږي قسامة له اهل محلې څخه اوپريوه معلوم چاداهل محلې نه کيږي،اوکه يولوی قوم سره وجنګيدل په توروبياسره ولاړل مقتول يې پرينبودنو قسامة پراهل محلّه باندي کيږي مګرداکه ولي دعوه وکړه دجنګيدونکوخلکوڅخه په يوه معلوم چاباندي اوکه قسم والاوويل له دوئ څخه چې دامقتول زيدقتل کړی دی نوهغه ته قسم ورکول کيږي چې والله مانه دی وژلی اونه ماته دهغه قاتل معلوم دی له زيدنه سوا ،اوباطله ده داهل محلې ګواهي دغيرپرقتل باندي ياله دوئ څخه ديوه معلوم چاپرقتل باندي .

**تشريح** :(۱۹)که دمقتول ولي دغيرمحلې پرخلکودعوی وکړه نوداد عوی له اهل محلّه څخه قسامة ساقطوي ځکه پراهل محله باندي قسم اوديت دمقتول دولي ددعوی په وجه لازميږي چې کله هغه پرغيرباندي دعوی وکړه نوله دوئ څخه قسامة ساقطيږي،اوکه ولي دمحلې دخلکوڅخه پريوه معلوم چاباندي دعوی وکړه نوبياله اهل محلې څخه قسامة نه ساقطيږي ځکه دمقتول ولي پخپله دعوی کې داهل محلې څخه تجاوزنه دی کړی بلکې په هغوئ کې يې تعين کړی دی نوداپرهغوئ دلزوم قسم سره منافي نه دی.ددواړوصورتونوترمنځ دفرق وجه داده چې پراهل محلّه باندي دقسامت واجب کيدل ددي خبرې دليل دی چې قاتل له دوئ څخه دی اودولي پرغيرمحله والاؤباندي دعوی کول ددي خبرې بيان دی چې قاتل له هغوئ څخه نه دی حال داچې اهل محلّه به هغه وخت دديت تاوان پرسرباروي چې کله قاتل له دوئ څخه وي ځکه په دي صورت کې داخلک تقديرًاقاتل دي ولی دوئ دقاتل مخه نه ده نيولي .

(۲۰)که ديوه قوم خلک دعصبيت پربنيادپخپل منځ کې په توړوسره وجنګيدل چې کله دوئ له هغه ميدان څخه ولاړل هلته يومقتول پيداشونودهغه ديت دمحلې پرخلکوباندي کيږي ځکه مقتول ددوئ ترمنځ پيداشوی دی حال داچې ددي علاقې حفاظت پردوئ لازم وو،البته که دمقتول ولي دعوی

پر جنګیدونکو خلکو باندي په هغو کې په یوه معلوم چاباندي وکړه نوبیا د محلې پر خلکو باندي قسامة او دیت نه لازمیږي. ولې د مدعي قول د خپل حق په باره کې حجت دی لهذا د ګواه دوړاندي کولو بغیر جنګ کوونکي او د محلې خلک بري کیږي.

(۲۱) که مستحلف (چاته چې قسم ورکول کیږي) وویل چې دامقتول فلان سړي مثلاً زید قتل کړی دی نو دهغه دا خبره معتبره نه ده ځکه د دې خبرې په ذریعه خصومت له خپل ځان څخه لیرې کول غواړي لهذا هغه ته قسم ورکول کیږي قسم به دا سې کوي چې والله مانه دی قتل کړی او نه زه دهغه قاتل سوا د زید نه پیژنم.

(۲۲) په کومه علاقه کې چې مقتول پیدا شوی دی که دهغې علاقې دوو کسانو ګواهي ورکړه چې فلان سړي (چې د دی کلي نه دی) د دې مقتول قاتل دی نو دهغوئ دا ګواهي نه قبلیږي ځکه د اتهمت موجود دی چې دوئ قسامة او دیت له خپل ځانه اړوي او د متهم ګواهي نه قبلیږي. همدارنګه که هغوئ د دې علاقې پر یو معلوم چاباندي ګواهي ورکړه چې د دې علاقې فلان سړي دا قتل کړی دی نو هم د دوئ ګواهي نه قبلیږي ځکه په دغه صورت کې هم د اتهمت موجود دی چې دوئ له خپل ځان څخه قسامت او دیت دفع کول غواړي.

## کتاب المعاقل

### دا کتاب د معاقل په باره کې دی

معاقل. د معقله جمع ده د دیت په معنی. دلته په عبارة کې مضاف مقدر دی ای کتابُ اهلِ المعَاقِلِ. ځکه د دیت بیان مخکې تیر شوی دی دلته مقصد د من تجب علیهم الدیة. بیان دی.

له ماقبل سره یې مناسبت دا دی چې په ماقبل کې د قتل خطاء موجب دا سې بیان شوی دی چې پر عاقله باندي دیت واجبیږي مګر دا بیان نه دی شوی چې عاقله چاته ویل کیږي څه احکام یې دي؟ نو مصنف رحمه الله دغه تفصیلات د کتاب المعاقل. تر عنوان لاندي بیان کړي دي.

(۱) هي جمع معقلة وهي الدية (۲) كل دية وجبت بنفس القتل على العاقلة (۳) وهي أهل الديوان إن كان القاتل منهم (۴) وتؤخذ من عطاياهم في ثلث سنين فإن خرجت العطايا في أكثر من ثلث أو أقل أخذ منها (۵) ومن لم يكن ديوانيا فعاقلته قبيلته تقسم عليهم في ثلث سنين لا يؤخذ من كل في كل سنة إلا درهم أو درهم وثلث فلم يزد على كل واحد من كل الدية في ثلث سنين على أربعة

**ترجمه**: دا د معقله جمع ده او دا دیت دی. هرهغه دیت چې واجب وي په نفس قتل سره هغه پر عاقله باندي کیږي. او هغه به دفتروالاوي که قاتل له دوئ څخه وواواخیستل کیږي به په دریو کالو کې د دوئ له عطایاو څخه او که ووتې عطایا تر دریو کالو په زیاته موده کې یا په کمه موده کې نو بیا اخیستل کیږي له دوئ څخه. او څوک چې د دفتروالانه وو نو دهغه عاقله دهغه قبیله ده پر هغوئ تقسیمیږي په دریو کالو کې نه اخیستل کیږي له هریوه څخه په هرکال کې مګر یو درهم یا یو درهم او ثلث درهم نه زیاتیږي پر هریوه باندي له کل دیت څخه په دریو کالو کې تر څلورو درهمونو.

**تشریح**: (۱) معاقل معقلة (بفتح المیم وضم القاف) جمع ده په معنی د دیت سره. او دیت ته معقله ځکه ویل کیږي چې دا د عقل څخه ده او عقل په معنی د منع کولو سره نو دیت هم وینې د بهولو څخه منع کوي. او انساني

عقل ته هم ځکه عقل وايي چې عقل انسان دقبائحو څخه راګرځوي اوعاقله دقاتل نصرت كوونكوته اوعقل (يعني ديت) اداكوونكوته ويل كيږي.

(۲)هرهغه ديت چې محض دقتل په وجه لازم وي لكه په شبه عمدا وقتل خطاء كې نو هغه پرعاقله باندي كيږي ځكه حضرت عمر ﷺ دصحابه كرامورضى الله عنهم په موجودګي كې دقتل خطاء دديت حكم پرعاقله باندي كړى وو،داقيدچې محض دقتل په وجه لازم شوى وي،احترازي قيددى په دي سره احترازراغى دهغه صورت نه په كوم كې چې ديت محض دقتل په وجه سره نه بلكې دصلح په وجه لازم شوى وي ځكه ديت واجب بالصلح پرقاتل باندي لازميږي پرعاقله باندي نه لازميږي.

(۳)دقاتل عاقله دهغه اهل ديوان (ديوان هغه رجسترته ويل كيږي په كوم كې چې دوظيفه خورويافوځيانونومونه درج وي) كيږي په دى شرط چې قاتل له اهل ديوان څخه وي ځكه حضرت عمر ﷺ چې كله دفترونه (رجسترونه) مقرركړل نودهريوه ديت يې دهغه پرديوان والاو ومقرركړ،همدارنګه حضرت عمر ﷺ دصحابه كرامورضى الله عنهم په مجمع كې داكاركړى وو له صحابه كرامورضى الله عنهم څخه يوه هم ردنه دى كړى نودادصحابه كرامورضى الله عنهم څخه اجماع ده پردي كارباندي.همداوجه ده چې علماؤفرمايلي دي چې كه په دي زمانه كې يوداسي قوم وي چې دهغوئ ترمنځ مددګاري دكاروكسب په ذريعه وي نو هغه دكسب والادده عاقله كيږي.

**فائده** :دعاقله مداربرتناصردى په دي زمانه كې دتناصرڅوصورتونه دي مثلادسياسي جماعتونو.اهل حرفت. صنعتكارانو. تاجرانو.مزدورانواونوروتنظيمونه،لهذاكه قاتل دكوم سياسي جماعت يابوتنظيم كاركن وي نودهغه عاقله داجماعت ياتنظيم كيږي،اوكه قاتل له اهل ديوان څخه نه وواودكوم تنظيم ياسياسي جماعت كاركن هم نه وونودهغه عاقله دهغه عصبات (قريبان) دي اوپرهغوئ باندي وجوب دديت په ترتيب دارث دى. (جديدمعاملات كى شرعي احكام :۳/ ۱۹۶

(۴)اوديت دعاقله له داسي مال څخه اخيستل كيږي چې دوئ ته دعطيه په توګه (هغه مال چې ددفتروالاووته په كال كې يوځل يادوه ځله وركول كيږي اورزق هغه دى چې مياشتنى وركول كيږي) وركول كيږي اوپردوئ دحكم كيدووروسته ديت په دريوكالوكې له دوئ څخه اخيستل كيږي همداتقديرله پيغمبر ﷺ اوحضرت عمر ﷺ څخه مروي دى،بياكه دغه عطاياعاقله ته دراتلونكيودريوكالونه په يوه كال كې وركول شي نوكل ديت له هغوئ څخه اخيستل كيږي اوكه ددريوكالونوعطايامثلاپه شپږوكالوكې وركول شي نوپه شپږوكالوكې به اخيستل كيږي ځكه په عطاياؤكې ديت دتخفيف لپاره واجب كړاى شوى دى لهذاچې هركله عطاياحاصليږي ديت هم هغه وخت اخيستل كيږي.

(۵)كه قاتل له اهل ديوان څخه نه وونودهغه عاقله دهغه نسبي قبيله ده ځكه دده نصرت له هغوئ څخه دى اوپه عاقله كيدوكې نصرت معتبردى اوداديت پرقبيله باندي په دريوكالوكې تقسيميږي يعني هركال فى نفريودرهم يايودرهم اوثلث درهم په دغه حساب سره په دريوكالوكې له هرچاڅخه ترڅلوردرهمونوزيات نه

اخيستل كيږي بلكې يا دري درهم وصوليږي اويا زيات ترزيات څلور كيږي. دا هغه وخت چې كله عاقله كم وي كه عاقله زيات وونو له دي څخه هم كميږي.

(٦) فان لم تتسع القبيلة لذلك ضم اليهم اقرب القبائل نسبا على ترتيب العصبات (٧) والقاتل كاحدهم (٨) وعاقلة المعتق قبيلة مولاه (٩) ويعقل عن مولى الموالات مولاه وقبيلته (١٠) ولا تعقل عاقلة جناية العبد والعمد وما لزم صلحا او اعترافا الا ان يصدقوه (١١) وان جنى حر على عبد خطاء فهي على عاقلته

**ترجمه**: كه په قبيله كې ددې توان نه وونو ورضم دې كړاى شي دنسب په اعتبار نژدې قبائل دعصباتو په ترتيب سره. او قاتل هم ددوئ ديو فرد په حيث شمارل كيږي او دآزاد شوي عاقله دهغه دمولى قبيله ده او ديت به وركوي دمولى الموالات له طرفه دهغه مولى اودمولى قبيله اوتاوان به نه وركوي عاقله دمريي دجنايت او دجنايت عمد او دهغه چې لازم شوى وي په صلح سره ويا په اعتراف سره مګر داكه عاقله دهغه تصديق وكړي او كه جنايت وكړ آزاد په مريي باندي خطاءً نو دا تاوان دهغه پر عاقله باندي كيږي.

**تشريح**: (٦) كه دقبيله والاكم وودهريوه څخه په كال كې ديوه درهم په اخيستلو سره په دريو كالو كې ديت نه پوره كيده بيا به دعصباتو په ترتيب سره پرنورو قبيلو تقسيميږي چې دهغې قبيلې سره نژدې نسبي تعلق لري دعصباتو له ترتيب څخه مراد دا چې اول به دقاتل دقبيلې خلك له ورونو سره ګډيږي بيا له وررو سره كه په دوئ سره هم حساب پوره نه شو نو بيا ددوئ له آكاګانو سره كه په هغوئ سره هم پوره نه شو نو بيا د آكاګانو په زامنو سره.

(٧) په قتل خطاء كې قاتل هم ددیت په ادائيګي كې په عاقله كې داخليږي ددیت په ادائيګى كې دعاقله والاؤ څخه ديوه فرد په حيث شمارل كيږي ځكه قاتل حقيقةً فاعل دى نو دقاتل خارجول دنورو مواخذه كول هيڅ معنى نه لري. په داسي حال كې چې امام شافعي رحمه الله فرمايي چې پر قاتل باندي له ديت څخه هيڅ واجب نه دي ځكه پر قاتل باندي كل ديت نشته نو بعض هم نه كيږي ولى جزء له كل څخه نه مخالف كيږي. احناف رحمهم الله جواب وركوي چې په كل ديت واجبيدو سره قاتل پريشان اوبرباديږي چې په يوه جزء كې دا قباحت نشته.

(٨) يعني دمعتق (آزادشوي مريي) عاقله دهغه دمولى قبيله ده ځكه دهغه نصرت په دوئ سره دى اومؤيديې دا حديث شريف دى: مولى القومِ مِنهُم (يعني ديو قوم آزاد كړه مريى دهغه قوم سرى شمارل كيږي)

(٩) كه چاله نورو سره عقد موالات كړى وونو دهغه دجرم خطاء په صورت كې دهغه عاقله دهغه مولى اودمولى قوم ګڼل كيږي ځكه داهم دولاء العتاقة په ډول وَلاء ده چې په كې ديو بل مدد كول كيږي (عقد موالات دې ته وايي چې يو څوك له بل چا سره دا معاهده وكړي چې كه ما كوم جنايت وكړ نو دهغه تاوان پر تا باندي دى او كه زه مړ شوم نو زما وارث به ته يې).

(١٠) ديو چا عاقله دهغه دمريي دجرم ديت نه اداكوي اودهغه قتل ديت هم پر عاقله نه دى كوم قتل چې چا قصداً كړى وي بيا دمقتول بعض ورثه هغه معاف كړى وي په كوم سره چې دنورو وارثانو حق قصاص په مال

سره تبديليږي نو دا مال دقاتل عاقله نه برداشتوي او داسې ديت هم پر عاقله نه دی کوم چې پر مجرم باندي دصلح کولو په وجه لازم شوی وي، همدارنګه که مجرم جرم وکړيايې پر خپل ځان دجرم اعتراف وکړچې داجنايت ما کړی دی نو پرده باندي چې کوم ديت راځي هغه هم پر عاقله باندي نه بلکې پر مجرم باندي راځي ځکه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمايې چې دقتل عمد ديت به عاقله نه اداکوي اونه دصلح اونه داقرار کولو اونه دمملوک دجرم، البته که دجنايت کوونکي په اقرار کولو باندي عاقله هم دهغه تصديق وکړي نو بيا به عاقله دا ديت ورکوي ځکه تصديق دهغوئ له طرفه اقرار دی او المرء يوخذ باقراره.

(۱۱) که يوه آزاد سړي دبل چاپر مريي باندي جنايت وکړ خطاء يې هغه قتل کړ نو دهغه ديت دجنايت کوونکي پر عاقله باندي دی ځکه دادځان عوض دی او دځان عوض دقتل خطاء په صورت کې پر عاقله دی، البته که چاپر مريي باندي تر دي کم درجه جنايت وکړ نو دهغه عاقله يې نه برداشتوي ځکه دا دجنايت على الاموال په درجه کې دی.

## كتاب الوصايا

### دا كتاب دوصيتونو په بيان کې دی

وصايا وصيةٍ جمع ده او وصية اسم په معنی دمصدر دی ثم سَمی بِهِ المُوصی بِه، او په اصطلاح دشريعت کې وصيت هغه تمليک دی چې مابعدالموت طرف ته دتبرع په طريقه مضافيږي که تمليک عين وي او که تمليک دين يا منافع وي.

وصيت کوونکي ته موصِي وايي اوچاته چې وصيت کيږي هغه ته وصی او موصی اليه، او دچا لپاره چې وصيت کيږي هغه ته موصی له او په کوم شي چې وصيت کيږي هغه ته موصی به ويل کيږي.

له ماقبل سره يې مناسبت دا دی چې عمومًا انسان دمرګ په وخت وصيت کوي او مرګ دانسان آخري مرحله ده ځکه مصنف رحمه الله دژوند ټول معاملات بيان کړل په آخر کې يې وصيت بيان کړی دی.

دوصيت مشروعيت په كتاب الله او سنت رسول ﷺ سره ثابت دی، اما الكتاب فقوله تعالى: (مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ) واما السنة فماروی ان سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه قال مرضت مرضا اشرفت على الموت فعادنی رسول الله ﷺ فقلت يارسول الله ان مالی كثير وليس يرثنی الا ابنت لی واحدة أفاوصی بمالی كله؟ قال لا قلت فبنصفه؟ قال لا قلت فبثلثه قال نعم والثلث كثير انک ياسعد ان تدع ورثتک اغنياء خير من ان تدعهم عالة يتكففون الناس.

(۱) الوصيةُ تمليكٌ مضافٌ الى مابعد الموت (۲) وَهِيَ مستحبةٌ وَلاتصحُ بمازادَ على الثلث ولالقاتله (۳) ولوارثه اِن لَم تجزِ الورثةُ (۴) وَيوصي المسلمُ للذمي وبالعكس (۵) وقبولها بعد موته ويبطل ردها وقبولها في حياته (۶) وندبَ النقصُ من الثلث (۷) وَملكَ بقبوله (۸) اِلاّ اَن يَموتَ الموصى له بعد موت الموصي قبل قبوله (۹) وَلاتصحُ وصيةُ المديون اِن كانَ دينهُ محيطًا والصبيِّ والمكاتبِ (۱۰) وتصحُ وصيةٌ للحمل وبه اِن ولدتْ لاقل من وقتِ الوصيةِ ولاتصحُ الهبةُ له

**ترجمه**: وصيت يو داسې تمليک دی چې مابعدالموت طرف ته مضاف دی، او دا مستحب دی او صحيح نه دی چې تر ثلث زائد وي اونه دخپل قاتل لپاره اونه دخپل وارث لپاره که اجازه ورنه کړي وارثان او وصيت کولای شي مسلمان دذمي لپاره او عکس دهغه او دهغه قبليدل دموصي له مرګ وروسته کيږي او باطل دی

دهغه رد ول او قبلول دهغه په ژوند کې او مستحب دی تر ثلث کم وصیت کول او مالک ګرځي موصی له دهغه په قبلولو سره. مګر دا که موصی له مړ شو د موصي تر مرګ وروسته تر قبلیدو مخکې. او صحیح نه دی وصیت دمقروض که چیرته دهغه دین محیط وي او د ماشوم او د مکاتب او صحیح دی وصیت د حمل لپاره او په حمل سره که پیدا شو د وصیت له وخته څخه په اقل موده کې او صحیح نه ده هبه د حمل لپاره.

**تشریح**: (۱) وصایا. د وصیة جمع ده. وصیة اسم مصدر دی په اصطلاح د شریعت کې وصیة هغه تملیک دی چې مابعد الموت طرف ته د تبرع په طریقه مضاف وي که تملیک دعین وي او که تملیک د دین وي یا تملیک د منافع وي. څرنګه چې په وصیت کې تملیک د مالکیت د زوال زماني ته مضافیږي څکه نو قیاس خو دا وه چې دا باید جائز نه وای مګر په کتاب او سنت سره دهغه جواز ثابت دی قال الله تعالی: (فإن كانوا أكثر من ذلك فهم شركاء في الثلث من بعد وصية يوصى بها أو دين) پس که تر هغه زیات وارثان وو نو هغوئ په ثلث کې سره شریکان کیږي له وصیت وروسته یا له دین ادا کید و وروسته) وقال ﷺ: ان الله تصدق عليكم بثلث اموالكم في آخر اعماركم زيادة لكم في اعمالكم تضعونها حيث شئتم (الله تعالی صدقه کړې ده پر تاسو باندې ستاسې د مال په ثلث سره ستاسې د عمرونو په آخر کې ستاسې د اعمالو د زیات په غرض تاسې هغه مصرف کړئ چیرته چې مو خوښه وي).

(۲) وصیت واجب نه دی بلکې زیات تر زیات مستحب دی (په دې شرط چې د موصي پر ذمه باندې د الله تعالی کوم واجب حق پاته نه وي) څکه وصیت دهبه په شان تبرع ده او تبرعات واجب نه دي. د ټولې ترکه تر یوه ثلث په زیات سره وصیت کول هم جائز نه دی څکه تر یوه ثلث زیات د وارثانو حق دی مګر دا که وارثان اجازه ورکړي څکه د وارثانو د حق په وجه تر ثلث زیات وصیت ممنوع شوی وو نو دوئ د خپل حق د ساقطولو اختیار لري. همدا رنګه د قاتل لپاره وصیت کول جائز نه دی که عمداً یې قتل کړی وي او که یې خطاً. لقوله ﷺ: لا وصية لقاتل (د قاتل لپاره وصیت نشته) همدا رنګه که قاتل موصي قتل کړي غواړي چې ژر تر ژره مال یوسي او حال دا چې شریعت دا فیصله کړې ده چې دی به مال د موصي تر مرګ وروسته وړي لهذا دی د میراث په شان له وصیت څخه هم محروم کړای شوی دی.

(۳) قوله ووارث ای لاتصح الوصية لوارث. یعني وارث لره وصیت جائز نه دی لقوله ﷺ: ان الله اعطى كل ذي حق حقه فلا وصية لوارث (یعني الله تعالی هر حقدار ته حق ورکړی دی نو د وارث لپاره وصیت نشته) البته که چ د وارث لپاره وصیت وکړ بیا د موصي له مرګه وروسته ټولو وارثانو (په دې شرط چې وارثان به ټول بالغان وي) دهغه اجازه ورکړه نو بیا نافذ کیږي څکه دورته د حق په وجه وارث لره وصیت ممنوع وو نو دوئ د خپل حق د ساقطولو اختیار لري.

(۴) یعني مسلمان لره جائزه ده چې د ذمي لپاره وصیت وکړي او ذمي لره جائزه ده چې د مسلمان لپاره وصیت وکړي یعني د او وصیتونه صحیح او نافذیږي څکه ذمي د عقد ذمه په وجه په معاملاتو کې له مسلمانانو سره برابر شوی دی نو څرنګه چې په ژوند کې له جانبینو څخه تبرع کول جائزه ده همدا رنګه د مرګ په حالت کې هم جائزه ده.

(۵)دوصيت قبلولو اعتبار دموصي له مرګه وروسته دی ځکه دهغه دثبوت وخت دموصي له مرګ وروسته ده که موصی له دموصي په ژوند کې وصيت قبول کړي ياېې رد کړي نو دا باطل دی يعنې اعتبار نه لري .

(۶)که څوک غواړي چې وصيت وکړي نومستحب دادی چې دکل ترکه دريوه ثلث کم وصيت وکړي که وارثان غنيان وي اوکه فقيران وي ځکه ترثلث په کم وصيت کولو کې له خپلوقريبانو سره داسې صله رحمي ده چې هغه خپل څه مال ددوئ لپاره پريښود ،اوکه يې دبشپړثلث وصيت وکړنوځرنګه چې هغه خپل حق پوره وصول وکړ ځکه دده له طرفه هيڅ صله رحمي يا احسان پاته نه شو .

(۷)يعنې موصی له (دچالپاره چې وصيت شوی دی ) دموصی به (هغه شی چې وصيت په شوی دی ) هغه وخت مالک ګرځي چې کله دموصي له مرګ وروسته دی هغه قبول کړي ځکه وصيت دجديد ملک اثبات دی اوهيڅوک دبل چاملک دخپل ځان لپاره نه شي ثابتولای مګرکه دی هغه قبول کړي ځکه دموصی له قبلول ضروري دی .

(۸)البته يوه مسئله داسې ده چې په هغې کې موصی به دموصی له دقبليد وبغيردهغه په ملک کې راځي هغه داده چې موصي وصيت وکړي مړشي بيا موصی له هم دموصی به ترقبليد ومخکي مړشي نوپه دغه صورت کې استحسانا موصی به دموصی له دقبليد وبغيردهغه په ملک کې داخليږي،يعنې دموصی له دوارثانو په ملک کې داخليږي.وجه داستحسان داده چې دموصي له جانبه عقدوصيت داسې پوره شوی دی چې اوس فسخ کيدای نه شي اوتوقف خالص دموصی له دحق په وجه پاته ووچې کله موصی له مړشونوداشی دهغه په ملکيت کې داخل شولکه په بيع کې دمشتري لپاره خيارشرط وي اومشتري تراجازه مخکي مړشي .

(۹)قوله والمديون والصبی والمكاتب ،ای لاتصح وصية الصبی ولا وصية المكاتب ،که يوچاوصيت وکړاوڅومره قدرچې له ده سره مال شته هغومره دده پرذمه دخلکوقرضی دي نوداوصيت دده نه جائزکيږي ځکه تروصيت قرض مقدم دی ځکه قرض اداکول فرض دی اووصيت تبرع ده ،البته که قرض غوښتونکوقرض معاف کړنوبياهم دموصي وصيت نافذيږي ځکه اوس پرده باندي قرض نه دی پاتی،اوکه نابالغ ماشوم وصيت وکړنودهغه داوصيت صحيح نه دی ځکه وصيت محض تبرع ده اوماشوم دتبرعاتواهل نه دی لهذاماشوم نه دوصيت دتنجيزمالک ګرځي اونه يې دتعليق ،همدارنګه دمکاتب وصيت هم صحيح نه دی که څه هم هغه دومره قدرمال پريږدي مړشي چې دوصيت لپاره کافي وي ځکه دمکاتب مال تبرع نه شي قبلولای .

(۱۰)دحمل لپاره وصيت کول جائزدی مثلاداسې ووايې چې دفلانی ښځې په خيټه کې چې کوم ماشوم دی دهغه لپاره زرروپۍ وصيت کوم نوداجائزدی،همدارنګه په حمل سره ديوچالپاره وصيت کول هم جائزدی مثلاکوم شی چې زمادفلانی منځې په خيټه کې دی زه په هغه سره دزيدلپاره وصيت کوم نوداجائزدی، مګرشرط يې دادی چې دوصيت له وخته څخه به ترشپږومياشتوپه کمه موده کې پيداکيږي. وصيت دحمل لپاره دليل دادی چې په وصيت کې موصي موصی له يوډول خپل خليفه ګرځوي اوحمل په ميراث کې خليفه کيدای شي نوپه وصيت کې هم خليفه کيدای شي ،دوصيت په حمل سره دجواز دليل دادی چې حمل خوپيداکيږي ځکه خبره په داسې حمل کې ده چې دوصيت په وخت موجوديدل يې معلوم دی يعنې موږدا

فيدلګولی دی چې تر وصيت به تر شپږ مياشتې په کمه موده کې پيدا کيږي حال داچې په وصيت کې دومره توسيع شته چې دمعدوم شي وصيت کول هم صحيح دی مثلاً دغير موجودو شيانو وصيت کول جائز دی نو په حمل کې چې موجود دی په طريقه اولی سره جائز کيږي. مګر دحمل لپاره هبه کول صحيح نه دی ځکه په هبه کې دموهوب له قبض کول شرط دی او په حمل کې دقبض کولو اهليت نشته.

(۱۱) وَإِنْ أَوْصَى بِأَمَةٍ إِلَّا حَمْلَهَا صَحَّتِ الْوَصِيَّةُ وَالِاسْتِثْنَاءُ (۱۲) وَلَهُ الرُّجُوعُ عَنِ الْوَصِيَّةِ قَوْلًا أَوْ فِعْلًا بِأَنْ بَاعَ أَوْ وَهَبَ أَوْ قَطَعَ الثَّوْبَ أَوْ ذَبَحَ الشَّاةَ (۱۳) وَالْجُحُودُ لَا يَكُونُ رُجُوعًا

**ترجمه**: او که يې وصيت وکړ په منځه سره بغير دهغې دحمل نو صحيح دی وصيت او استثناء او ده لره جائز دی رجوع له وصيت څخه قولاً او فعلاً په دې ډول چې خرڅ کړي يا هبه کړي يا پرې کړي کپړه يا ذبح کړي پسه او انکار کول رجوع نه ګڼله کيږي.

**تشريح**: (۱۱) که يو چا دبل چا لپاره په منځه سره وصيت وکړ ليکن دهغې حمل يې مستثنی کړ مثلاً ويې ويل زما په فلانی منځه سره ما دزيد لپاره وصيت کړی دی سوا دهغې دحمل نه نو دا وصيت او استثناء دواړه صحيح دي ځکه خالص دحمل وصيت صحيح دی نو دحمل استثناء هم صحيح کيږي ځکه پرکوم شي چې دعقد ورود صحيح وي هغه دعقد څخه خارجول هم صحيح کيږي.

(۱۲) يعني موصي لره له خپل وصيت څخه رجوع کول جائز ده ولې وصيت يو عقد تبرع دی چې تر اوسه تام شوی نه دی نو دهبه په شان دهغه څخه هم رجوع کول صحيح دی ، بيا رجوع عن الوصية قولاً هم صحيح ده يعني په خوله درجوع تصريح وکړي مثلاً داسې ووايې رجعت عما اوصيت به له ، او رجوع عن الوصية فعلاً هم صحيح ده يعني په خوله څه ونه وايي البته يو داسې فعل وکړي چې پررجوع کولو باندې دلالت کوي مثلاً په کوم شي سره چې ده وصيت کړی دی هغه پر يو چا باندې خرڅ کړي يا يې هبه کړي يا يې دکپړې وصيت کړی وي بيا هغه پرې کړي يا يې دپسه وصيت کړی وي بيا هغه ذبح کړي نو داله وصيت څخه رجوع شمارله کيږي درجوع دتصريح کولو په صورت کې خو ظاهره ده او داسې فعل کول چې پررجوع باندې دال وي هم رجوع شمارله کيږي ځکه دلالت بيا دتصريح کار کوي لهذا دارجعت عما اوصيت له. قائم مقام کيږي.

(۱۳) له وصيت څخه انکار کول رجوع نه شمارله کيږي يعني که يو څوک دخپل وصيت څخه انکار وکړي ووايي ماوصيت نه دی کړی نو دامام محمد رحمه الله په نزد داله وصيت څخه رجوع کول نه دی ځکه انکار درحقيقت په زمانه ماضي کې نفی ده او دانتفاء في الماضي لپاره انتفاء في الحال ضروري ده په داسې حال کې چې درجوع عن الشئ لپاره اثبات شئ ضروري دی نو چې کله موصي رجوع کوي نو جحود في الماضي لغو کيږي. دامام ابويوسف رحمه الله په نزد له وصيت څخه انکار رجوع شمارله کيږي.

**فائده**: دامام محمد رحمه الله قول راجح دی لمافي الدرالمختار: (ولايجوز بجحودها) درر وكنز ووقاية وفي المجمع به يفتى ومثله في العيني ثم نقل عن العيون ان الفتوى على انه رجوع وفي السراجية وعليه الفتوى واقره المصنف ، قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله واقره المصنف) قال في شرح الملتقى ولكن المتون على الاول ولذا قدمه المصنف على عادته اه ، اقول اخر في الهداية دليله فكان مختاره قال في النهاية

وجزم به في المواهب والاصلاح قال في قضاء الفوائت من البحر واذا اختلف التصحيح والافتاء فالعمل فما وافق المتون اولى (الدر المختار مع الشامية:۵/٦٦٢)

## باب الوصية بثلث المال ونحوه

### داباب دثلث مال وغيره دوصيت په بيان کې دی

څرنګه چې دوارثانو داجازت بغیرانتهائی هغه مقدار چې پر هغه باندې دکتاب الوصایا دمسائلو مدار دی هغه ثلث مال دی نو مصنف رحمه الله دکتاب الوصایا مقدماتو دبیانولو وروسته هغه مسائل بیان کړي دي چې له دې باب سره تعلق لري.

(۱) اوصى لهذا بثلث ماله ولآخر بثلث ماله ولم تجز الورثة فثلثه لهما (۲) وان اوصى لآخر بسدس ماله فالثلث بينهما اثلاثا (۳) وان اوصى لاحدهما بجميع ماله ولآخر بثلث ماله ولم تجز الورثة فثلثه بينهما نصفان (۴) ولا يضرب للموصى له باكثر من الثلث الا في المحابات والسعاية والدراهم المرسلة (۵) وبنصيب ابنه بطل وبمثل نصيب ابنه صح فان كان له ابنان فله الثلث (٦) وبسهم او جزء من ماله فالبيان الى الورثة

**ترجمه** :ديوچالپاره يې وصيت وکړپه ثلث دمال سره اودبل لپاره يې هم په ثلث مال سره وصيت وکړاواجازه نه ورکوله وارثانو نودمال ثلث ددواړولپاره کيږي اوکه يې وصيت وکړدهغه بل لپاره دخپل مال په سُدس نوثلث ددوئ دواړوترمنځ اثلاثا شریک دی اوکه يې وصيت وکړديوه لپاره پخپل ټول مال سره اودبل لپاره دخپل مال په ثلث سره اوو ارثانو اجازه نه ورکوله نودمال ثلث ددوئ دواړوترمنځ نصف نصف کيږي،اونه مقرريږي دموصى له لپاره ترثلث زياته حصه مګرپه محابات اوسعايت اودراهم مرسله ؤکې،اوپه حصه دزوی وصيت کول باطل دی اودخپل زوی دحصه په مثل صحيح دی پياکه دده دوه زامن وونوهغوئ ته ثلث ورکول کيږي اوکه يې وصيت وکړديوه سهم يادخپل مال ديوه جزء نودبيان اختيارو ارثانولره دی.

**تشريح** :(۱)که چادخپل مال په ثلث سره وصيت وکړمثلاويې ويل زمادمال يوثلث دزيدلپاره وصيت دی اودبکرلپاره يې هم په ثلث مال سره وصيت وکړپه دي ډول دده دوه ثلث وصيت شومګروارثانوتريوه ثلث په زيات اجازه نه ورکوله نويوثلث ددواړوموصى له ترمنځ مساوي تقسيميږي ولي په دوو ثلثانوکې دموصي حق نښته څکه دواړه ثلثان نه شي ورکول کيدای بلکې يوثلث ورکول کيږي داچې يوثلث ددواړوموصى له دحق څخه کم دی اوپه سبب کې دواړه موصى له برابردي نوپه استحقاق کې به هم دواړه برابريږي څکه نويوثلث پردواړوباندي برابرتقسيميږي.

(۲)که موصي ديوه لپاره په يوه ثلث وصيت وکړاودبل لپاره يې په سُدس اووارثانوتريوه ثلث دزيات اجازه نه ورکوله نوديوه ثلث څخه به دوې حصې اول ته ورکولې کيږي اويوه حصه به دابل ته ولی په يوه ثلث ددواړوحق نه پوره کيږي نويوثلث پردوئ باندي ددوئ دحق مطابق تقسيميږي.

(۳)اوکه موصي ديوچالپاره پخپل ټول مال سره وصيت وکړاودبل لپاره يې په ثلث مال سره وصيت وکړمګروارثانودهغه اجازه نه ورکوله نودصاحبينو رحمهما الله په نزدترکه يوثلث څلورحصې کيږي دوئ دواړوته ورکول کيږي يعني درې حصې هغه ته چې په ټول مال سره وصيت ورته شوی دی اويوه حصه هغه ته

چالره چې په ثلث سره وصيت شوی وو ،څکه په دغه صورت کښې موصي ددوو شيانو اراده کړې ده **نمبر ۱**-ده غوښتل چې دټول مال مستحق يو وګرځوي مګر دده دااراده دوارثانو دحق په وجه نه شي ترسره کيدای **نمبر ۲**-بله يې دااراده وه چې دی يو موصی له ته پربل باندې ترجيح اوتفضيل ورکړي چې دهغه هيڅ مانع نشته لهذا داترجيح اوتفضيل ثابتيږي ددې هغه صورت دی چې دوئ بيان کړی دی .

دامام ابو حنيفة رحمه الله مسلک دادی چې يوثلث به دهغوئ ترمنځ نصف نصف کيږي،دامام صاحب رحمه الله دليل دادی چې کله وارثانو اجازه نه ده ورکړي نوترثلث زيات وصيت په غيرمشروع طريقه شوی دی لهذا داغيرمشروع مقدار اصلاباطل شو خالص دوصيت پاته شونو اول اودوهم دواړه برابرشول باقي اول لره که څه تفضيل حاصل وي هغه داستحقاق په ضمن کښې ثابتيږي اوچې کله استحقاق باطل شونوتفضيل هم باطليږي لهذا ثلث ددواړو ترمنځ برابر تقسيميږي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی لمافي الشافية :الصحيح قول الامام کمافي تصحيح العلامة قاسم والدر المنتقی عن المضمرات وغيره(ردالمحتار:۵/ ۴۷۲)

(۴)يعني امام ابو حنيفة رحمه الله ترثلث دزيات وصيت کولو په صورت کښې ترثلث زياتې حصې ته اعتبار نه ورکوي مثلا دزيد لپاره يې دټول مال وصيت وکړ اودبکرلپاره په نصف سره اوټوله ترکه پنځلس روپۍ دي نودزيدلپاره ترثلث لس روپۍ زيات چې يې کوم وصيت کړی دی هغه ته اعتبار نشته ګواکې دزيدلپاره يې دثلث وصيت کړی دی اودبکرلپاره چې يې ترثلث يونيمه روپۍ زيات وصيت کړی دی هغه ته هم اعتبار نشته ګواکې دبکرلپاره يې هم په ثلث وصيت کړی دی لهذا اوس به دترکه ثلث دوې حصې کوي يوه حصه زيدته اوبله حصه بکرته ورکول کيږي،مګردرې صورتونه له دې قاعدې څخه مستثنی دي يعنې محابات ،سعايت اودراهم مرسله.امام ابو حنيفة رحمه الله په دې کښې دقدروصيت لحاظ کوي يعنې په دې دريو صورتونو کښې هم وصيت په ثلث کښې نافذيږي مګرد هريوه موصی له لپاره چې يې څومره وصيت کړی دی ثلث ترکه به په هغه تناسب سره تقسيميږي چې صورتونه يې په لاندې ډول دي .

دمحابات (يوشی په کم قيمت خرڅول مثلا ددووسووروپوشی په پنځوس روپۍ خرڅولوته محابات ويل کيږي)صورت دادی چې مثلا دزيد دوه مريان دي په هغوکښې ديوه قيمت مثلا يو ولس سوه روپۍ دي اودبل قيمت شپږ سوه روپۍ دي اوس زيدپه اول سره وصيت وکړ دخالدلپاره اوپه بل سره دبکرلپاره اوداسې يې وويل :دامرييی به خالدخرڅوي په سل روپۍ اودابل به بکرخرڅوي په سل روپۍ بياکه زيدله دي دوومريانوعلاوه بل هيڅ شی نه وو پرې ايښی نووصيت خالص په ثلث کښې نافذيږي اوهغه ثلث دواړوموصی له ته دهغوئ دحق په تناسب سره ورکول کيږي نوګواکې زيددخالدلپاره په زرروپۍ اودبکرلپاره دپنځوسوووصيت کړی دی چې ثلث يې پنځه سوه روپۍ راځي نودخالدلپاره دپنځوسوودوه ثلثه اوبکرته يوثلث ورکول کيږي څکه دوصيت تناسب په دوئ دووکښې همدادی اوباقي قيمت دموصی وارثانوته ورکول کيږي .به هرحال دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد که چيرته داصورت مستثنی نه وي نودخالداوبکردواړو لپاره وله

پنځو سوو څخه نیم نیم کیدي او باقی قیمت د موصی وارثانو ته ورکول کیدي مګر دلته هغوئ خپل د اصول پرېښودل او د حق د تناسب دلحاظه یې ثلث تقسیم کړی دی.
دسعایت صورت دادی چې زید د خپلو دوو مریانو د عتق وصیت کړی دی اوله زید سره نور مال له دغو دوو مریانو علاوه نشته اوله دوئ څخه دیو ه قیمت دوه زره او دبل قیمت یو زر دي نو دا وصیت په ثلث کې نافذیږي او په دوه ثلثه کې پر دوئ باندي سعایت (په مریې ګټل وارثانو ته ورکول) واجبیږي چې دا خرڅ کړي وارثانو ته یې ورکړي لیکن دا ثلث دهغوئ دواړو د قیمت په تناسب سره تقسیمیږي او د دوئ دواړو د قیمت مجموعه دري زره دي چې ثلث یې یو زر دي نو دکوم مریي چې قیمت دوه زره دي د هغه له قیمت څخه شپږسوه شپږشپیته روپی ساقطیږي او باقی به دی ګټي وارثانو ته به یې ورکوي او دکوم مریي چې قیمت زر روپی دي دهغه له قیمت څخه دري سوه دري دیرش روپی ساقطیږي او دی به خپل بقیه قیمت ګټي وارثانو ته به یې ورکوي.
د دراهم مرسله ؤمطلب دادی چې دا به نه متعین کیږي چې ثلث دهغه او نصف دهغه وغیره بلکې دی به مطلقاً داسي وایي چې ددوه سوه روپی وصیت د خالد لپاره دی او سل روپی وصیت د بکر لپاره دی اوله هغه سره یواځي همدا دري سوه روپی دي نو دا وصیت خالص په ثلث یعنې سلو روپو کې نافذیږي او تقسیم د مقدار وصیت په تناسب سره کیږي لهذا له سلو روپو څخه اول ته شپږشپیته روپی او بل ته دري دیرش روپی ورکولي کیږي.
(۵) قوله وبنصیب ابنه بطل ای لو اوصی بنصیب ابنه بطل. یعنې که یو چا د خپل زوی په حصه میراث دیو چا لپاره وصیت وکړنو دا وصیت باطل دی ځکه دا وصیت دبل چا په مال کې دی لهذا دا جائزنه دی او که موصي وویل زما د زوی د حصي په اندازه د فلان لپاره وصیت کوم نو بیا دا وصیت جائز کیږي ځکه مثل حصه د زوی غیر د ه له حصه دزوی لهذا دا وصیت دبل په مال کې نه دی نو که دموصي یو زوی وي نو موصی له ته نصف مال ورکول کیږي که زوی د هغه اجازه ورکړه که نه موصی له لره ثلث مال ورکول کیږي او که دموصي دوه زامن وو نو موصی له ته یو ثلث مال ورکول کیږي دقیاس تقاضا خو دا وه چې موصی له ته نصف مال ورکول شي که ورثه اجازه ورکړي ځکه په دي صورت کې دهریوه زوی حصه نصف ده نو مثل ابن هم نصف کیږي لیکن څرنګه چې دموصي مقصود دادی چې موصی له دخپل یوه زوی په شان وبولي دا مقصود یې نه دی چې هغه ته له زوی څخه زیات ورکول شي لهذا موصی له دد ریم زوی په منزله کیږي نو مال د دوئ ترمنځ اثلاثاً تقسیمیږي.
(۶) قوله وبسهم او جزء من ماله الخ ای لو اوصی بسهم او جزء من ماله یعنې که چا دبل چا لپاره دخپل مال څخه دیوه سهم یا یوه جزء وصیت وکړ چې زما د مال یو سهم یا یو جزء د فلان لپاره وصیت دی نو دغه مقدار بیانول د وارثانو په اختیار دی هغوئ چې څه غواړي ورته یې کړي ځکه مقدار وصیت مجهول دی قلیل او کثیر دواړو لره شامل دی لیکن د مقدار مجهول کیدل دوصیت دصحت مانع نه دی او وارثان دموصي قائم مقام دي لهذا دوئ د مقدار د بیانولو اختیار لري.

**فائده**: مصنف رحمه الله دلته سهم او جزء یو بللي دي او دا د بعضو مشائخو قول دی، په داسې حال کې چې له امام صاحب رحمه الله څخه مروي دی چې د موصي له وارثانو څخه چې د چا حصه کمه وي موصی له ته هغومره حصه ورکوله کیږي، البته که دا حصه تر سدس کمه وه نو موصی له ته سدس پوره ورکول کیږي ځکه سهم په لغت کې شپږمه حصه ده او همدا له حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما څخه موقوفًا او مرفوعًا مروي دی.

(٧) فإن قال سدس مالي لفلان ثم قال له ثلث مالي له ثلث ماله (٨) وإن قال سدس مالي لفلان ثم قال له سدس مالي له السدس (٩) وإن أوصى بثلث دراهمه أو غنمه وهلك ثلثاه له ما بقي (١٠) ولو رقيقا أو ثيابا أو دورا له ثلث ما بقي (١١) وبألف وله عين ودين فإن خرج الألف من ثلث العين دفع إليه وإلا فثلث العين وكلما خرج شيء من الدين له ثلثه حتى يستوفي الألف (١٢) وبثلثه لزيد وعمرو وهو ميت لزيد كله ولو قال بين زيد وعمرو وميت لزيد نصفه (١٣) وبثلثه له ولا مال له له ثلث ما يملكه عند موته

**ترجمه**: او که یې وویل چې زما د مال سدس د فلان لپاره دی بیایې وویل دده لپاره زما د مال ثلث دی نو دهغه لپاره ثلث کیږي، او که یې وویل چې زما د مال سدس د فلان لپاره دی بیایې وویل زما د مال سدس دده لپاره دی نو دهغه لپاره سُدس کیږي او که یې وصیت وکړ د خپلو دراهمو د ثلث یا د خپلو پسونو د ثلث او هلاک شول دوه ثلثه نو دهغه لپاره ما بقي کیږي او که مریی یا مکانونه یا کپړې وي نو د ما بقي ثلث کیږي او که یې د زرو وصیت وکړ او مال څه نقد وو او څه دین وو که ووتي زر د نقد وله ثلث څخه نو هغه دي ده ته ورکړلي شي که نه د موجوده ثلث دي ورکړل شي او هرکله چې وصول شوي له دین څخه نو دهغه لپاره یې ثلث کیږي ترڅو چې پوره زر واخلي او که یې داسې وصیت وکړ چې ثلث د مال د زید او عمرو لپاره دی او حال دا چې عمرو مړ شوی دی نو د زید لپاره ټول ثلث کیږي او که یې وویل چې د زید او عمرو ترمنځ دی حال دا چې عمرو مړ شوی دی نو د زید لپاره نصف کیږي او که یې د چا لپاره د ثلث مال وصیت وکړ حال دا چې له ده سره مال نشته نو دهغه لپاره ثلث دهغه مال کیږي چې دی یې د مرګ په وخت کې مالک شي.

**تشریح**: (٧) که یو چا وویل چې زما د مال سدس د فلان لپاره وصیت دی بیایې دهغه سړي لپاره وویل چې زما د مال ثلث دهغه لپاره وصیت دی نو موصی له لره ثلث د مال کیږي ځکه په دې وجه چې ثلث سدس لره متضمن دی نو سدس په ثلث کې داخل دی نو د موصي دا قول تر ثلث زیات ته نه شاملیږي.

(٨) او که یې اول وویل چې زما د مال سدس د فلان لپاره وصیت دی بیایې دهمدې سړي لپاره وویل چې زما د مال سدس فلان لره وصیت دی نو ځرنګه چې د دوو سدسینو مجموعه ثلث کیږي نو باید چې موصی له ته ثلث ورکول شي مګر هغه ته خالص سدس ورکول کیږي ځکه چې قاعده ده چې معرفه کله مکرره ذکرشي نو ثاني عین اوله مرادیږي او دلته سدس مال ته مضاف دی او مال یاء د ضمیر متکلم ته مضاف دی ځکه نو سدس هم معرفه دی لهذا ثاني عین اول دی نو موصی له ته فقط یو سدس ورکول کیږي.

(٩) که له چا سره څه درهمونه او څه پسونه وو او له هغه سره له پسونو او درهمو علاوه نور هم دومره مال وو چې د پسونو یا درهمو تر ثلث دوه چنده وو بیا ده وویل چې زما د درهمو یو ثلث د فلان لپاره وصیت دی یا یې وویل چې زما د پسونو یو ثلث د فلان لپاره وصیت دی بیا داپیښه شوه چې له پسونو یا درهمو څخه دوه ثلثه هلاک شول او یو ثلث باقي پاته شو اوله دغه ثلث علاوه له موصي سره دومره مال موجود دی چې هغه ددې په مقابل

كې دوه ثلثان يا تر هغه زيات دي نو موصى له ته له دراهمو يا پسونو څخه چې کوم ثلث باقي دی هغه پوره ثلث ورکول کيږي ځکه په دراهمو او پسونو کې دموصى له او وارثانو دواړو حق دی يعني په يوه ثلث کې دموصى له حق دی او په دوو ثلثانو کې دوارثانو حق دی او دموصى له حق مقدم دی ځکه وصيت تر ميراث مقدم وي نو په دغه مال کې دموصى له حق اصالةً دی او دوارثانو حق تبعًا دی. بيا قاعده داده چې کله کوم مال پر اصل او تبع باندي مشتمل وي او له هغه څخه څه هلاک شي نو هلاکت د تابع طرف ته راګرځول کيږي داصل طرف ته نه نو دلته هلاکت دهغو دوو ثلثانو طرف ته راګرځول کيږي چې دوارثانو حق وو او اصل ثلث باقي دی لهذا هغه وموصى له ته ورکول کيږي.

(١٠) که چادمريانو يا کپړو يا مکانو په نسبت داوصيت کړی وو چې دهغو يو ثلث دي فلان ته ورکول شي او له دي وصيت وروسته دوه ثلثه مريان يا دوه ثلثه کپړې يا دوه ثلثه مکانونه ضائع شول يو ثلث باقي پاته شو او دا ثلث دهغه دنورو مالونو دثلث څخه ايستل کيدای شي يعني دموصي نور مالونه دومره دي چې تر دغه ثلث دوه چنده زيات دي نو موصى له ته له دغو شيانو څخه فقط يو ثلث ورکول کيږي. ليکن دعلماؤ رايه داده چې که کپړې مختلف الجنس وي نو دمابقي کپړو ثلث ورکول کيږي او که يو جنس وي نو پوره مابقي کپړې ورکولې کيږي ځکه دمتحد الجنس کيدو په صورت کې کپړې ددرهمونو مثل شوې چې تفصيل يې په تيره مسئله کې بيان شوی دی.

(١١) قوله وبالف وله عين ودين ای ان اوصى بالف وله عين ودين. يعني که يو چا وصيت وکړ چې زما دمال څخه دي فلان ته زر روپۍ ورکړلې شي يا ده څه مال نقد پر ښود او څه مال هغه دی کوم چې پر خلکو باندي قرض دی نو که نقد مال دومره وو چې ثلث يې زر روپۍ کيږي مثلا درې زره يا تر هغه زيات نقد مال موجود دی نو موصى له ته زر روپۍ له هغه نقد مال څخه ورکړلې کيږي ځکه چې ديو قسم کمي بغير هر حقدار ته خپل حق رسيدل ممکن دی نو موصى له ته دي هم خپل حق ورسول شي او که نقد مال دومره نه وو بلکې کم وو مثلا پنځلس سوه روپۍ دي باقي مال پر خلکو باندي قرض دی نو موصى له ته دي له نقد څخه يو ثلث ورکولې شي باقي حصه هغه ته له قرض څخه ورکول کيږي چې صورت يې دادی چې څومره قرض وصوليږي دهغه يو ثلث دي موصى له ته ورکول کيږي تر څو چې زر روپۍ پوره شي ځکه موصى له له وارثانو سره شريک دی او هغه له خالص نقد و څخه په ورکولو کې دوارثانو نقصان دی ولې عين پر دين فضيلت لري ځکه له خالص نقد و څخه نه ورکول کيږي.

(١٢) قوله وبثلثه لزيد وعمرو ای ان اوصى بثلثه لزيد وعمرو. يعني که چا دزيد او عمرو لپاره دخپل مال په ثلث سره وصيت کړی وو په داسي حال کې چې عمرو هغه وخت مړ شوی وو نو دا ثلث دمال ټول زيد ته ورکول کيږي ځکه ميت اهل وصيت نه دی نو دی دژوندي موصى له مزاحم نه شي کيدلای نو داداسي دی لکه يو څوک چې دزيد او ديوال لپاره وصيت وکړي نو ټول وصيت زيد لره کيږي، او که چا داسي وصيت وکړ چې زما دمال ثلث دي دزيد او عمرو ترمنځ تقسيم شي حال دا چې زيد مړ شوی دی نو عمرو لره دثلث مال نصف ورکول کيږي ځکه لفظ دبين داشتراک لپاره راځي نو ګواکې هغه داسي وصيت کړی دی چې دوئ دواړو هر يوه ته دي دثلث مال نصف ورکول شي.

(۱۳)قوله وبثلثه له ولا مال له اى ان اوصى بثلثه له الخ .يعنې كه چادبل لپاره دخپل مال په ثلث سره وصيت وكړحال داچې فى الحال له موصي سره هيڅ نشته بيا هغه ځه مال پيدا كړاو مړشونو دمرگ په وخت چې كوم څه دموصي ملكيت وي دهغه ديوه ثلث موصى له مستحق گرځي ځكه وصيت يو داسي عقد دى چې له مرگ وروسته سره تعلق لري اودهغه حكم هم له مرگ وروسته وي ځكه دمال درلودل دمرگ په وخت كې شرط دى نه ترمرگ مخته.

(۱۴)وبثلثه لأمهات أولاده وهن ثلاث وللفقراء والمساكين لهن ثلثة من خمسة وسهم للفقراء وسهم للمساكين (۱۵)وبثلثه لزيد وللمساكين لزيد نصفه ولهم نصفه (۱۶)وبمائة لرجل وبمائة لآخر فقال لآخر أشركتك معهما له ثلث كل مائة (۱۷)وبأربع مائة له وبمائتين لآخر فقال لآخر أشركتك معهما له نصف مالكل منهما (۱۸)وإن قال لورثته لفلان علىّ دين فصدقوه فإنه يصدق الى الثلث

**ترجمه** :وصيت يې وكړدخپل مال په ثلث سره دامهات اولادلپاره اوهغه دري دي اودفقيرانو او مسكينانو لپاره نو امهات اولادلره دري حصې كيږي له پنځوڅخه اويوه حصه دفقيرانو لپاره اويوه حصه دمسكينانو لپاره .دمال په ثلث سره يې وصيت وكړدزيدلپاره اودمسكينانو لپاره نوزيدلره دهغه نصف كيږي اومسكينانو لره نصف كيږي. دسلو وصيت يې وكړديوه سړي لپاره اودسلويې دبل سړي لپاره بيايې دريم نفرته وويل چې ماته شريک كړى يې ددوئ سره نوهغه لره دهرسلوثلث كيږي اوكه يې وصيت وكړدڅلوروسوو ديوه لپاره اوپه دوه سوه دبل لپاره بيايې دريم نفرته وويل چې ماته له دوئ سره شريک كړى يې نوده لره دهريوه دحصې نصف كيږي اوكه يې وويل خپلووارثانوته چې دفلان پرماباندي قرض دى اوهغوئ دده تصديق وكړدده تصديق ترثلث پوري كيداى شي.

**تشريح** :(۱۴)قوله وبثلثه لامهات اولاده اى لواوصى بثلثه لامهات اولاده .يعنې كه ديوه سړي دري اوم ولدوي هغه داسي وصيت وكړچې زمادمال ثلث زما امهات اولاداو مسكينانواو فقيرانوته وركړئ نو دشيخينو رحمهما الله په نزددتركه ثلث پنځه حصې كيږي له هغوڅخه دري حصې دامهات اولادلپاره اويوه حصه فقيرته اويوه حصه مسكين ته وركوله كيږي ځكه داقاعده ده چې كله الف لام پرجمع باندي داخل شي دجمعيت معنى ورختمه وي دجنسيت معنى پكې پيداكيږي اوجنس دكل داحتمال سره ادنى لره هم شامليږي نودلته ځرنگه چې پرټولو فقيرانواو مسكينانو باندي ثلث تقسيمول متعذردى نوله الفقراء او المساكين څخه يويو فردمراديږي اومال پرپنځو حصو باندي تقسيميږي له هغوڅخه دري امهات اولادته اويوه يوه فقراءاو مسكينانو ته وركوله كيږي.

(۱۵)قوله وبثلثه لزيد وللمساكين اى لواوصى بثلث ماله لزيد وللمساكين.يعنې كه چادخپل مال په ثلث سره وصيت وكړدزيداو مسكينانو لپاره نودهغه ثلث نصف زيدته وركول كيږي اونصف مسكينانوته وركول كيږي لماقلنا.

(۱۶)قوله وبمائة لرجل وبمائة لاخراى لواوصى بمائة لرجل وبمائة لآخر.يعنې كه يوچاديوه سړي لپاره په سلودرهمونووصيت وكړاودبل لپاره يې هم په سلودرهمونوسره وصيت وكړبيايې يوه دريم نفرته وويل چې

ماته له دوئ سره شریک کړی یې نو دادریم نفرله لومړنیو دوو څخه له هریوه څخه دسلو درهمو نو ثلث ورې یعني له اول څخه هم ۳۳ درهمه او دیوه درهم ثلث اوله دوهم څخه هم ۳۳ درهمه او دیوه درهم ثلث ورکول کیږي په دې طریقه دده حصه ۶۶ درهمه اودیوه درهم دوه ثلثان کیږي اوله لومړنیو دوو څخه له هریوه سره هم ۶۶ درهمه اودیوه درهم دوه ثلثان پاتیږي ځکه شرکت مساوات غواړي اومساوات ددوئ ترمنځ دمال داتحادپه وجه په مذکوره طریقه سره ممکن دی ځکه داوصیت په مذکوره طریقه نافیږي.

(۱۷)قوله وباربع مائة له ای لواوصی باربع مائة له الخ ،یعنې که یې دیوه لپاره دځلورو سوواودبل لپاره ددوو سوو وصیت وکړبیایې دریم نفرته وویل چې ته ماله دوئ سره شریک کړی یې نو څرنګه چې په دې صورت کې مال متفاوت دی لهذا په تیره طریقه سره مساوات په دغه صورت کې ممکن نه دی نو په دې صورت کې به دریم له لومړنیو هریوه سره مساوي ګڼل کیږي په دې ډول به دریم نفرته له اول څخه دوه سوه اوله دوهم څخه یوسل درهمه ورکول کیږي چې په لفظ دشرکت دامکان په اندازه عمل وکړای شي.

(۱۸)که چاخپلو وارثانوته وویل چې دفلان سړي پرماباندې قرض دی بیاکه هغه راغی اودقرض مطالبه یې وکړه نوچې دی کوم مقدار بیانوي تاسي به دده تصدیق وکړئ بیادموصی له مرګ وروسته هغه سړی راغی اودخپل قرض مطالبه یې وکړه اودهغه مقدار یې هم وښودنو استحساناتر یوه ثلثه پورې دهغه تصدیق کړل کیږي وجه داستحسان داده چې دلته دموصي مقصد دادی چې قرض غوښتونکی پر وارثانو باندې مقدم کړي اودلته دهغه قصد نافذیدای شي په دې ډول چې داوصیت وګڼل شي ځکه کله داسې پیښه شي چې دچاپرېل چاباندې حق وي مګر دهغه مقدار هغه ته معلوم نه وي نو اوس مقروض محتاج دی چې داډول وصیت وکړي چې په هغه سره دقرض غوښتونکي حق اداشي لیکن دمقدار دنامعلومتیا په وجه دی وایې چې تاسې دده تصدیق وکړئ نو داداسې وصیت شو چې په هغه کې دموصی به دمقدار بیانولو اختیار خپله موصی له ته ورکول شوی دی نو وصیت صحیح دی مګرموصی له ته اختیارنه ورکول کیږي چې هغه ترثلث زیات اختیار کړي اوکه یې اختیار روي نو هغه اعتبار نه لري.

(۱۹)فإن أوصى بوصايا عزل الثلث لأصحاب الوصايا والثلثان للورثة وقيل لكل صدقوه فيما شئتم وما بقي من الثلث فللوصايا (۲۰)ولأجنبي ووارثه له نصف الوصية وبطل وصيته للوارث (۲۱)وبثياب متفاوتة لثلاثة فضاع ثوب ولم يدر أي والوارث يقول لكل هلك حقك بطلت (۲۲)إلا إن يسلموا ما بقي فلذي الجيد ثلثاه ولذي الرديء ثلثاه ولذي الوسط ثلث كل (۲۳)وببيت عين من دار مشتركة وقسم وقع في حظه فهو للموصى له وإلا مثل ذرعه (۲۴)والاقرار مثلها

**ترجمه** :که یې څو وصیتونه وکړل نو جلاکیږي ثلث دوصیت والاوو لپاره اودوه ثلثان دوارثانو لپاره اوهریوه ته ویل کیږي چې تصدیق وکړئ په هغومره چې ستاسې خوښه وي اوڅه چې پاته شي له ثلث څخه هغه دوصیتونو لپاره کیږي اوکه یې وصیت وکړداجنبي لپاره اودخپل وارث لپآره نواجنبي ته نصف وصیت ورکول کیږي اودوارث لپاره وصیت باطل دی اوکه یې وصیت دمتفاوتو کپړودریو کسانو لپاره بیایوه کپړه ضائع شوه اودانه وه معلومه چې کومه کپړه ضائع شوې ده اووارث وایې هریوه ته چې ستاحق ضائع شوی دی نو وصیت باطلیږي ،مګرداکه هغه ورکړي مابقي دعمده والاته دوه ثلثان اوردي والاته دهغو دوه ثلثان

اومتوسط والاته دهريوه ثلث ،اوكه يې وصيت وكړ دمعلومې كمرې په مشترک سراى كې اوتقسيم وشواوواقع شوه دهغه په حصه كې نوهغه موصى له لره كيږي كه نه ياهغومره ځمكه وركوله كيږي اواقرارهم ددي په مثل دى.

**تشريح**:(۱۹)دادهغي مخكيني مسئلې يوبل صورت دى يعني كه موصي دقرض غوښتونكي نه ړه دمجهول وصيت كولو سره څه نوروصيتونه هم كړي ووڼو په دغه صورت كې لومړى ټول مال دړې حصې كيږي يادااصحاب الوصايالپاره يوثلث جلاا يښودل كيږي اودوارثانولپاره دوه ثلثان جلاا يښودل كيږي ځكه دااصحاب الوصاياثلث اودوارثانوثلثان معلوم دي اودقرض غوښتونكي حق مجهول دى او مجهول دمعلوم مزاحم نه شي كيداى بيادواړوفريقينوته ويل كيږي چې تاسي ددي قرض غوښتونكي تصديق وكړئ په څومره مقداركې چې ستاسې خوښه وي ځكه دادمستحق په حق كې قرض دى مګر دتنفيذ په حق كې وصيت دى نوچې هرفريق دڅه مقداراقراروكړنوداخبره ښكاره شوه چې دتركه په دووحصوكې دين شائع دى نواصحاب الوصاياچې په څومره مقداراقراروكړي دهغه يوثلث قرض غوښتونكي ته وركول كيږي اووارثان چې په څومره مقداراقراروكړي دهغه دوه ثلثان به وركوي هرفريق به دخپل اقرارمطابق ماخوذكيږي له هغه وروسته چې له ثلث ځخه څه پاتيږي هغه دوصيت والاووته وركول كيږي هغوئ به يې پخپل منځ كې تقسيموي اوله دووثلثانوځخه چې څه پاتيږي هغه به وارثان پخپل منځ كې سره تقسيموي.

(۲۰)قوله ولاجنبي ووارثه اى ان اوصى لاجنبى ووارثه ،يعني كه موصى دخپل وارث اويو اجنبي (بيګانه) سړي لپاره وصيت وكړنودوارث لپاره وصيت باطليږي او اجنبي لره دپوره وصيت نصف وركول كيږي ځكه داجنبي لپاره دوصيت كولواجازه شته مګر دوارث لپاره دوصيت كولو اجازه نشته لهذاچيرته چې دوصيت اجازه شته هلته وصيت صحيح دى اوچيرته چې دوصيت اجازت نشته هلته وصيت باطليږي.

(۲۱)قوله وبثياب متفاوتة ثلاثة اى لواوصى بثياب متفاوتة ثلاثة ،يعني كه له چاسره درې كپړې وي يوه عمده دوهمه متوسطه اودريمه ادنى قسم وي بياده په يوه سره وصيت دزيدلپاره وكړاوپه بله سره دبكرلپاره اوپه دريمه سره دخالدلپاره بيااتفاقاله دي دريوواړوځخه يوه ضائع شوه مګر دامعلومه نه شوه چې كومه يوه ضائع شوې ده اووارث له دوئ دريو واړونه هريوه ته داوايې چې ستاحق ضائع شونوپه دغه صورت كې ځرنګه چې مستحق مجهول دى نوقاضي په دوئ كې فيصله نه شي كولاى اودموصي مقصدهم نه حاصليږي ځكه جهالت مستحق دقاضي دقضاء اودموصي دغرض دتحصيل لپاره مانع دى نودا وصيت باطل دى.

(۲۲)اوكه په مذكورصورت كې وارثانوباقى دوې كپړې دوئ دريوواړو ته حواله كړې نوبيادا وصيت صحيح كيږي ځكه وصيت په اصل كې صحيح ووالبته دعارضي جهالت (چې مانع عن التسليم دى) په وجه سره باطل شوى ووچې كله وارثانوباقى كپړې حواله كړي نوبياوصيت بيرته صحيح كيږي ځكه مانع زائل شو ،اوس ددوئ ترمنځ دتقسيم داصورت دى چې دعمده كپړې والاته دعمده كپړې دوه ثلثان وركول كيږي اودادنى كپړې والاته دادنى كپړې دوه ثلثان وركول كيږي اودمتوسط كپړې والاته له دواړوځخه دهرې يوې يويوثلث وركول كيږي په دي دول هريوه ته دهغه دحق په رسيدو كې برابروالى راځي.

(۲۳) قوله وببیت عین من دار ای لو اوصی ببیت عین من دار، یعني که یوسړای د دوو کسانو سره شریک وو او ترا وسه د دوئ ترمنځ تقسیم نه وو شوی چې په دوئ کې یوه دیوې معلومې کمرې وصیت وکړ دیوبل چالپاره نو دا وصیت صحیح دی بیا که موصي مړ شو نو موصی به به وموصی له ته داسي ورکړي چې اول به دا سرای د دوو شریکانو ترمنځ تقسیم کړي بیا به وګوري چې هغه کمره دچا په حصه کې راغلې ده که هغه د موصي په حصه کې راغله نو موصی له ته هغه کمره ورکوله کیږي ځکه کوم شی چې مشترک وي له هغه ځخه کما حقه انتفاع نه شي حاصلیدای نو د موصي مقصد له سره دادی چې تر تقسیم وروسته به دا کمره موصی له ته ورکوله کیږي بیا چې کله له تقسیم وروسته مکمله کمره د موصي په حصه کې راغله نو د موصي وصیت باید نافذ کړای شي او که هغه د بل شریک په حصه کې راغله نو موصی له ته به د هغې کمرې په اندازه ځای له هغه طرفه ورکوي کوم طرف چې د موصي په حصه کې راغلی دی ځکه چې پر اصل موصی به باندي قدرت نشته نو د هغه بدل د هغه قائم مقام کیږي نو موصی له ته باید د هغې کمرې بدل ورکول شي.

(۲۴) په مذکور بالا صورت کې د اقرار عین هغه حکم دی لکه د وصیت یعني که یو چا د خپل مشترک سرای ځخه دیوې کمرې په باره کې د چالپاره اقرار وکړ او له اقرار وروسته هغه مکان تقسیم شو نو که کمره د مقر په حصه کې راغله نو مقر له ته به یې ورکړي او که د هغه بل شریک په حصه کې راغله نو مقر له ته به د هغې کمرې برابر د مکان په هغې حصه کې ځمکه ورکړي چې د مقر په حصه کې راغلې ده.

(۲۵) وَبِأَلْفِ عَيْنٍ مِن مَالِ آخَرَ فَأَجَازَ رَبُّ الْمَالِ بَعْدَ مَوْتِ الموصى وَدَفَعَهُ صَحَّ (۲۶) وَلَهُ الْمَنْعُ بَعْدَ الاجازة (۲۷) وَصَحَّ اقرار أحد الابنين بَعْدَ الْقِسْمَةِ بِوَصِيَّةِ أبيه في ثُلُثِ نَصِيبِهِ (۲۸) وَبِأَمَةٍ فَوَلَدَتْ بَعْدَ مَوْتِهِ وَخَرَجَا من ثُلُثِهِ فَهُمَا له (۲۹) وَإِلَّا أَخَذَ منها ثُمَّ منه (۳۰) وَلِابْنِهِ الْكَافِرِ أو الرَّقِيقِ في مَرَضِهِ فاسلم الابن او أُعْتِقَ قبل مَوْتِ الأَبِ ثُمَّ مَاتَ بَطَلَ كَالْهِبَةِ وَإِقْرَارِهِ (۳۱) وَالْمُقْعَدُ وَالْمَفْلُوجُ وَالأَشَلُّ وَالْمَسْلُولُ إِنْ تَطَاوَلَ ذلك ولم يَخَفْ منه الْمَوْتَ فَهِبَتُهُ من كل الْمَالِ وَإِلَّا فَمِنَ الثُّلُثِ

**ترجمه**: او که یې وصیت وکړ په زرو روپو معینو سره د بل له مال ځخه او اجازه وکړه د مال مالک د موصي له مرګ وروسته او وریې کړي نو صحیح دی، او له اجازي وروسته هم د منع کولو اختیار لري، او صحیح دی اقرار له دوو زامنو ځخه دیوه له تقسیم وروسته د خپل پلار د وصیت د خپلې حصې په ثلث کې او که یې وصیت وکړ په منځه سره بیا د هغې بچی پیدا شو د موصي له مرګ وروسته او دوئ دواړه ووتل له ثلث مال ځخه نو هغوئ دواړه موصی له ته ورکول کیږي، که نه بیا لومړی له منځې ځخه اخیستل کیږي بیا له بچي ځخه او که یې وصیت وکړ د خپل زوی لپاره چې هغه کافر وو یا مریی وو په خپل مرض الموت کې بیا هغه یا مسلمان شو یا آزاد شو نو وصیت باطلیږي لکه د ده هبه او اقرار او که د هغه مریض چې د پښو په بیماري اخته وو یا فالج زده وو یا شل وو یا د تې بي بیمار وو، بیماري زیاته شي او د هغې ځخه د مرګ خطره نه وي نو د هغوئ هبه د کل مال ځخه معتبریږي که نه بیا د ثلث مال ځخه.

**تشریح**: (۲۵) قوله وبالف عین ای لو اوصی بالف عین الخ، یعني که له چا سره د بل چا امانت دراهم پراته وو امین له هغو ځخه زر درهمه متعین دیو چالپاره وصیت وکړي نو ځرنګه چې دا وصیت د غیر په مال کې دی لهذا دا به

دمالک تراجازي موقوف وي که هغه دموصی له مرګ وروسته اجازه ورکړه او زردرهمه يې وموصی له ته حواله کړل نودا وصيت صحيح دی ځکه دمالک دا زردرهم ورکول دهبه په درجه کې دي او دهبې دتکميل لپاره قبض شرط دی.

(۲۶)اومالک لره اختيارشته چې له اجازې وروسته دزرودرهمونوله ورکولو څخه انکاروکړي ځکه دموصي دافعل دغير دمال څخه تبرع ده اوچې داغيرددې کاراجازه ورکوي نوداد هغه له طرفه هم تبرع کيږي اوپه تبرع کې متبرع لره داحق شته چې له تبرع کولو څخه منع وکړي.

(۲۷)يوسړی مړشوترشايې دوه زامن پاته شوهغودواړوذپلارترکه تقسيم کړه چې مثلاً زردرهمه وه بياله هغونې څخه يوه دااقرار وکړچې پلاردفلان سړي لپاره دخپل مال په ثلث سره وصيت کړی وونو استحساناًمقرخالص دهغه مال ثلث مقرله ته ورکولای شي کوم چې خپله دمقِرپه قبضه کې دی ځکه مقِرپه کل ترکه کې دشيوع په ډول دثلث دموصي له لپاره اقراروکړاوکل ترکه ددواړوپه قبضه کې ده نومقرپخپله حصه کې هم اودورورپه مقبوضه حصه کې هم دثلث اقرارکوونکی شونوخپله دده په حق کې خواقرارمتعبريږي دورورپه حق کې نه معتبريږي ځکه پرورورباندی دی ولايت نه لري لهذا خالص دمقرپه مقبوضه حصه کې ثلث موصی له ته ورکول کيږي.

(۲۸)قوله وبامة فولدت ای لو اوصی بامة فولدت الخ.يعني که چادبل لپاره په يوه منځه سره وصيت وکړبيادهغې منځې دموصي له مرګ وروسته اودموصی له ترقبلولومخکې زوی پيداشونوکه منځه سره له بچې دمړه له ثلثه وځي يعنې منځه اوبچی يې دواړه دمړه دترکه يوثلث وي نومنځه سره له بچې دموصی له کيږي ځکه بچې نما ءالأم دی نودمورتابع ګرځي په وصيت کې داخليږي.

(۲۹)قوله والا اخذمنهما ای وان لم يخرجامن الثلث اخذمنها.يعني که منځه سره له بچې دمړه له ثلثه څخه نه وتل نو دصاحبينو رحمهما الله په نزدبه دی خپل ثلث په دواړوحاصل کړي څومره چې دده په حصه کې راغلل هغه به واخلي ځکه چې کله بچې په وصيت کې داخل شي نودااسې دی ګواکې ايجاب پردواړوباندې واردشوی دی نويوپربل باندې نه شي مقدم کيدای، دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدبه دی خپل ثلث له مورڅخه اخلي که په مورسره دده ثلث پوره شوخوفبهاکه نه که څه حصه پاته شوه نوهغه کمی به په بچې سره پوره کړای شي ځکه په عقدکې مور اصله ده نوپه تنفيذدعقدکې هم مور اصل اومقدم کيږي.

**فائده**: دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی لمافی الدرالمختار:والايخرجاخذالثلث منهامنه لان التبع لايزاحم الاصل وقالايأخذمنهماعلى السواء(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار:۵/۲۸۰)وايضااخذصاحب الهداية دليله فكان مختارا له.

(۳۰)قوله ولابنه الكافرای لو اوصی لابنه الكافر.يعني که يوداسې مريض چې په مرض موت اخته وه دخپل کافرزوی لپاره ديوشي وصيت وکړيادغه مريض په مرض موت کې دخپل مريي زوی لپاره دوصيت وکړبيادغه هلک دده ترمرګ مخته مسلمان شويا آزادشونوداوصيت باطل دی لکه يوڅوک چې خپل کافرزوی ته په مرض موت کې يوشی هبه کړي يادهغه لپاره په قرض اقراروکړي نوداټول باطل دی دوصيت دبطلان وجه خوظاهره ده چې هغه ته دعقدپه حالت کې اعتبارنشته بلکې دمرګ په وخت کې اعتبارورکول کيږي اودمرګ په وخت کې

هغه دده وارث دی ځکه له میراث څخه مانع کفر وو او س هغه مسلمان شو او د وارث لپاره وصیت صحیح نه دی او څرنګه چې هبه او اقرار هم په مرض موت کې د وارث لپاره صحیح نه دي لهذا دا د واړه هم باطل دي.

(۳۱) د مرض موت په باره کې قاعده داده چې له کوم مرض څخه د هلاکت خطره غالبه وي هغه مرض موت دی او په کوم مرض کې چې د مرګ خطره غالبه نه وي هغه مرض موت نه دی، لکه یو څوک چې د پښو په بیماري اخته شي یعنې ولاړیدای نه شي یا فلج وهلی وي یا یې د بدن یو اندام شل وي یا دتبې بې په بیماري اخته وي او دا بیماري تر ډیره وخته اوږده شي چې له هغې څخه د مرګ ویره نه وي نو دا مرض موت نه شمارل کیږي یا که د غه مریض په دغه حالت کې هبه وکړه نو هغه له ټول مال څخه ګڼله کیږي ځکه دا سړی روغ شمارل کیږي او د روغ هبه له کل مال څخه وي، او که دا مذکوره بیماریانې په ابتدائی حالت کې وي او د مریض حالت قابل اطمینان نه وي بلکې له دغو بیماریانو څخه د مړکید و خطره وي نو بیا دا بیماریانې مرض موت شمارلې کیږي نو په دغه وخت کې د دوئ د یو شي هبه کول د وصیت په شان له ثلث د مال څخه معتبریږي.

## باب العتق في المرض

دا باب په مرض الموت کې د آزادولو په بیان کې دی

په مرض الموت کې آزادول د وصیت له انواعو څخه یو نوعه ده او څرنګه چې په مرض موت کې د مریي آزادولو مخصوص احکام دي ځکه نو مصنف رحمه الله داله صریح وصیت څخه راجلا کړ ددي لپاره یې مستقل باب قائم کړی دی

(١) تحريره في مرضه ومحاباته وهبته وصية (٢) ولم يسع ان أجيز (٣) فإن حابا فحرر فهي أحق (٣) وبعكسه استويا (٥) وإن أوصى أن يعتق عنه بهذه المائة عبدا فهلك منها درهم لم تنفذ (٦) بخلاف الحج به (٧) ويعتق عبده فمات فجنى ودفع بطلت وإن فدى لا (٨) وبثلثه لزيد وترك عبدا فادعى زيد عتقه في صحته والوارث في مرضه فالقول للوارث ولا شيء لزيد إلا أن يفضل من ثلثه شيء أو يبرهن على دعواه (٩) ولو ادعى رجل دينا والعبد عتقا وصدقهما الوارث سعى في قيمته وتدفع إلى الغريم

**ترجمه**: د مریض آزادول په مرض موت کې او په کم قیمت خرڅول او هبه کول د وصیت په حکم کې دی، او سعی دې نه کوي مریی که هغوئ اجازه وکړه او که یې محابات وکړ بیا یې آزاد کړ نو محابات زیات حقدار دی او د دې برعکس دواړه برابر دي او که یې داوصیت وکړ چې زماله طرفه دي آزاد کړای شي مریی د دې سلو روپو په عوض کې بیا له هغو څخه یو درهم هلاک شو نو نه نافذ کیږي، خلاف د حج د وصیت نه، او که یې وصیت وکړ د خپل مریي د آزادوالي بیا مړ شو او مریي جنایت وکړ او هغه ورکړل شو نو وصیت باطلیږي او که فدیه ورکړل شوه بیا نه باطلیږي، او که یې د زید لپاره د ثلث مال وصیت وکړ او یو مریی یې پریښود بیا زید دعوی وکړه د هغه د آزادید و په خپل صحت کې او وارث په مرض کې نو د وارث قول معتبریږي او زید لره هیڅ شی نه کیږي مګر دا که د هغه له ثلث څخه څه شی پاته شي، یا دی ګواهان وړاندې کړي په خپله دعوی باندې او که یو سړي دعوی وکړه د قرض او مریي دعوی وکړه د آزادید و او د دوئ دواړو تصدیق وارثانو وکړ نو ودې ګټي خپل قیمت او قرض دي ورکړل شي قرض غوښتونکي ته.

**تشريح** :(۱)که يو چا پخپل مرض موت کښې خپل مريي آزاد کړيا يې يوشی خرڅ کړ محابات يې وکړ (يعني په کم قيمت يې خرڅ کړ مثلا دووسوو روپوشی يې په پنځوس روپې خرڅ کړ)يا يې يوشی هبه کړنو دا ټول دوصيت په حکم کې دی يعني له ثلث دمال څخه معتبر دي.داعقود په حقيقت کې وصيت نه دي ځکه په وصيت کې تمليک مابعد الموت مضافيږي او داعقود في الحال منجز شوي دي مګر په مرض موت کې دواقع کيدو په وجه ددي حکم دوصيت په شان دی چې له ثلث دمال څخه معتبريږي اوله ثلث مال څخه دمعتبريدو وجه يې داده چې له بقيه مال سره دوارثانو حق متعلق شوی دی نو تر ثلث زيات دی محجور عليه دی .

(۲)که چا په خپل مرض موت کې مريی آزاد کړ يا که دده له مرګ وروسته دده وارثانو دمريي دآزاديدو اجازه وکړه نو بيا پر مريی باندي دڅه ګټلو او وارثانو ته دحواله کولو حق نشته ځکه په مرض موت کې آزادول وصيت دی او تر ثلث زيات وصيت دوارثانو دحق په وجه ممنوع دی چې اوس دوارثانو داجازت په وجه ممنوع نه دی پاتی .
(۳)که چا په مرض موت کې بيع محابات وکړه (يعني په کم قيمت يې يوشی خرڅ کړ) نيا ده يو خپل مريی آزاد کړ حال داچې دمريض ثلث دترکه ددي دواړو ګنجائش نه لري نو په دي صورت کې محابات اولی او مقدم دی تر عتق لهذا مبيع مشتري ته حواله کړای کيږي او مريی به خپل قيمت دوارثانو لپاره ګټي .ځکه محابات داسي يو وصيت دی چې دعقد معاوضه په ضمن کې ثابت شوی دی نو محابات لفظا تبرع نه ده بلکې يواځې معنًا تبرع ده او عتق لفظا او معنی دواړه قسم تبرع ده نو په نظر ولفظ ته محابات لره قوت حاصل دی ځکه نو محابات تر عتق مقدم دی .
(۴)قوله وبعكسه استويا،اى ان حرر فحابى استويا،اوکه ددي برعکس کار وشو يعني لومړی يې خپل مريی ازاد کړ بيا يې له چا سره محابات وکړنو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد په دي صورت کې عتق او محابات دواړه برابر دي اوله ثلث مال څخه بقدر حصه دواړه نافذ کيږي ځکه عقد محابات لره ترجيح دقوت په وجه حاصله ده او عتق ته ترجيح دسبقت په وجه حاصله ده لهذا دواړه برابر دي.دصاحبينو رحمهما الله په نزد په دواړو مسئلو کې عتق تر محابات مقدم دی ځکه له عتق سره فسخ کله هم نه شي لاحقه کيدلای اوله محابات سره دمشتري له جانبه فسخ لاحقه کيدای شي ځکه نو عتق لره قوت حاصل دی نو په دواړو صورتونو کې عتق مقدم کيږي .
**فائده** :دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجع دی لمافي الدر المختار:(وبعكسه )بان حرر فحابى (استويا)وقالا عتقه اولى فى المسئلتين.وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله :(قوله وقالا عتقه اولى فيهما) اى فى المسئلتين لانه لايلحقه الفسخ ولذا ان المحاباة اقوى لانها فى ضمن عقد المعاوضة لكن ان وجد العتق اولا وهو لايحتمل الدفع تزاحم المحابات ابن كمال وقول الزيلعي والمصنف فى المنح وقالا هما سواء فى المسئلتين سبق قلم والصواب ماهنا كمانبه عليه الشلبي.(الدر المختار مع الشامية:۵/ ۶۸۲)
(۵)که چا دخپلو وارثانو په وړاندي داوصيت وکړ چې زما په دغو سلو درهمو يو مريی واخلئ آزادیي کړئ پر وارثانو باندي وصيت پوره کول لازم وو مګر اتفاقاله دغو سلو درهمو نو څخه يو درهم ضائع شو نه نوي ۹۹پاتی شو نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد په باقی نه نوي مريی اخيستل دده له طرفه آزاديدل نه شي

کیدای.اودصاحبینو رحمهماالله په نزداوس هم هغه حکم دی چې په باقی روپودي مریی واخلي آزاددي کړي.ځکه دآزادیدووصیت یوقسم قربت دی نوچې ترکومه حده ممکن وي داوصیت نافذول واجب دی .دامام صاحب رحمه الله دلیل دادی چې دموصي وصیت دسلودرهمونودمریي په اخیستلو اوآزادیدوسره پوره کیږي که ترسلودکم قیمت مریی آزادکړي نودموصي وصیت نه پوره کیږي ځکه ترسلودکم قیمت مریی آخیستل اوده له طرفه آزادیدل نه صحیح کیږي .

**فائده** :دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی لمالی الدرالمختار:ووصیه بان یعتق عنه بهذه المائة عبدلاتنفذالوصیة بمابقی ان هلک درهم لان القربة تتفاوت بتفاوت قیمة العبدبخلاف الحج وقالاهماسواء(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار:۵/ ۶۹۲)

(۶)که موصي داوصیت وکړچې زماله طرفه په دغوسلودرهمونوباندي حج وکړئ بیاله هغوڅخه څه دراهم هلاک شول نوبالاتفاق په مابقی سره دموصي له طرفه حج کول واجب دی.بیاکه دومره پاتی ووچې دموصي له ښار مثلاکوئټې څخه حج په کیدای شوای نوله کوئټې ښاره دي حج وکړي.اوکه دومره مقدارروپۍ پاتی وې چې له کوئټې څخه حج نه شوی کیدای البته دکراچي له ښاره کیدای شوای نوبیادي دکوئټې پرځای له کراچي ښارڅخه حج وکړای شي ځکه له حج څخه مقصودقربت دی چې دالله تعالی حق دی اوالله تعالی په هیڅ صورت کې نه بدلیږي نوداسي دی لکه دیوچالپاره دسلودرهمونووصیت وکړي اتفاقاله هغوڅخه څه ضائع شي نوموصی له ته باقی دراهم ورکول کیږي ځکه په موصی له کې تبدیل نه دی راغلی .

(۷)قوله ویعتق عبده فمات ای ان اوصی بعتق عبده فمات.یعنې که چاپخپل مرض موت کې وصیت وکړچې زمادامریی آزادکړئ بیاموصي مړشواومریی یوجنایت وکړچې دهغه په وجه دامریی دجنایت ولي ته سپارل ضروري وونومذکوروصیت باطلیږي ځکه دلته دوارثانودامریی دجنایت ولي ته سپارل سم کاردی ځکه دولي جنایت حق ترموصي مقدم دی نودموصی له ترحق په طریقه اولی مقدم کیږي ولی دموصی له ملکیت دموصي له طرفه حاصلیږي.لیکن که چیرته وارثانوددي مریي فدیه اداکړه نوفدیه دوارثانوپرمال باندي راځي اووارثانوپه فدیه اداکولوکې تبرع کوونکي شمارل کیږي ځکه فدیه ورکول پردوئ باندي واجبه نه وه نودوئ پخپل اختیارسره دو.کړې ده لهذادموصي وصیت جائزدی .

(۸)قوله وبثلثه لزید وترک عبدااي لواوصی بثلثه لزید وترک عبداالخ.یعنې که موصی دیوچالپاره مثلازیدته دخپل مال دثلث وصیت وکړاودموصي یومریی هم شته اوس دموصي وارث اوزیددواړه ددي خبرې اقرارکوي چې موصي دامریی آزادکړی دی البته په دي کې اختلاف دی چې کله یې آزادکړی دی زیدوایې چې موصي په حالت دصحت کې آزادکړی دی اووارث وایې چې په مرض موت کې یې آزادکړی دی دزیدمطلب دادی چې دامریی موصي په حال دصحت کې آزادکړی دی لهذاداله ټول مال څخه شمارل کیږي اودباقی ثلث مستحق زه یم.اودوارث مطلب دادی چې په حال دمرض کې یې ازادکړی دی لهذاداوصیت شمارل کیږي ځکه داله ثلث مال څخه آزادیږي اوعتق تروصیت مقدم دی نولومړی به له ثلث څخه مریی آزادیږي بیاکه څه پاتی شول هغه به زیدته ورکول کیږي نومصنف رحمه الله فرمایي چې په دي دعوی کې دوارث قول سره له یمین معتبریږي ځکه زیدمدعي دی اووارث منکردی اودگواهانودنشتوالي په صورت کې دمنکرقول سره له یمینه

معتبريږي.نوزيدته هيڅ نه ورکول کيږي.البته که دمريي ترآزاديدووروسته له ثلث څخه څه شي پاتي شونوهغه زيدته ورکول کيږي يازيدخپله دعوی په ګواهانوسره ثابته کړي نوبيادزيدقول معتبردی ځکه ثلث مال زيدته ورکول کيږي .

(۹)که چاپرمړي باندي دقرض دعوی وکړه اودې مړه مريي دعوی وکړه چې زمامرحوم مولی زه دصحت په حالت کې آزادکړی يم اودمړي وارث ددواړوتصديق وکړچې تاسې دواړه رښتياوايئ است اومړه له دغه مريي سوانورمال نه ووپري ايښی نوامام ابوحنيفة رحمه الله فرمايي چې مريی ازاددی ليکن پرهغه دالازمه ده چې خپل قيمت وګټي قرض غوښتونکي ته يې ورکړي.اودصاحبينورحمهما الله په نزدمريی آزاددی اوپرهغه باندي دڅه مال ګټل واجب نه دي ځکه وارث دعتق اوقرض دواړوتصديق کړی دی نومطلب يې دادی چې دادواړه يوځای په حال دصحت کې واجب شوي دي اوقاعده داده چې په حال دصحت کې پرآزادشده باندي دمال ګټل واجب نه دي.دامام صاحب رحمه الله دليل دادی چې قرض ترعتق اقوی دی چې تقاضايې داده چې عتق باطل شي مګرعتق له وقوع وروسته نه باطليږي نوداصورت څني جوړيږي چې عتق به نافذومنوپرمريي باندي دي دقرض غوښتونکي دمال ګټل واجب کړای شي .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی لان قوله قول المتون وايضا اخر صاحب الهداية دليله وذا من علامة الترجيح عنده.

(۱۰)وبحقوق الله قدمت الفرائض وإن أخرها كالحج والزكاة والكفارات (۱۱)وإن تساوت في القوة بدئ بمابدأبه (۱۲)وبحجة الإسلام أحجوا عنه رجلا من بلده يحج عنه راكبا والا فمن حيث يبلغ (۱۳)ومن حج عن بلده حاجا فمات في الطريق وأوصى بأن يحج عنه يحج عنه من بلده (۱۴)والحاج عن غيره مثله

**ترجمه** :اوکه يې وصيت وکړپه حقوق الله باندي نومقدم کيږي فرائض که څه هم ده مؤخرذکرکړي وي لکه حج .زکوة اوکفارات اوکه په قوت کې سره برابروونوبياشروع په هغه کيږي په کوم سره چې ده شروع کړي وي اودحج اسلام په وصيت کې دي حج وکړای شي دده له جانبه يوڅوک دده له ښاره څخه حج دي وکړي سپوريااله هغه ځايه چې خرچ کافي وي اوهغه سړی چې له ښاره ووت دحج په اراده سره اومړشوپه لاره کې اووصيت يې وکړچې حج دي وکړای شي زماله طرفه نوحج دي وکړای شي دهغه له ښاره څخه اودبل له طرفه حج کونکی دهغه په شان دی .

**تشريح** :(۱۰)قوله وبحقوق الله تعالى اى لواوصى بحقوق الله تعالى .يعني څوک چې دحقوق الله څووصيتونه وکړي نوپه هغوکې که بعض فرائض اونورغيرفرائض وونوفرائض ترنوروووصيتونومقدم کيږي برابره ده چې موصي دوصيت په وخت کې کوم يومخکي بيان کړی وي ياوروسته مثلاحج.زکوة اوکفارات وغيره (داټول فرائض دي ځکه بايدترټولومخکي اداکړای شي ) ځکه فرائض ترغيرفرائضواهم دي .

(۱۱)اوکه يې دمتساوی فی القوة شيانووصيت کړی وويعني ټول يودول فرائض وويا واجبات وونوپه دوئ کې چې موصي کوم يومخکي بيان کړی وي هغه دي مخکي پوره کړای شي ځکه داپه قوة کې متساوي دي اوانسان اهم شی مخکي بيانوي نومخکي بيان شوی اولی وي .

(۱۲)قوله وبحجة الاسلام اى لو اوصى بحجة الاسلام،يعني كه چا(مثلازيد) په مرض موت كې دخپل طرف څخه دحج كولو وصيت وكړ نو پروارثانو باندي واجب دی چې دموصي له ښاره څخه څوک دحج لپاره وليږدوي (داوجوب هلته دی چې ثلث تركه دسفرخرڅ لپاره كافي وي) ځكه پرزيد باندي دخپل ښار څخه حج كول واجب وو نو حج بدل به هم دزيد له ښار څخه كوي او حج بدل پياده نه بلكې سپوربه يې كوي ځكه خپله پرزيد باندي په پياده حج كول لازم نه وو نو غيربه هم حج هغسې اداكوي څرنګه چې پرزيد باندي واجب وو .كه دموصي مال دومره نه وو چې دهغه دثلث څخه حج وكړاى شي نو په دي صورت كې چې دكوم ځاى څخه كيداى شي له هغه ځايه دي وكړي چې ترحده دامكان پوري وصيت نافذ شي .

(۱۳)يو څوک چې دحج په اراده سره له ښاره ووځي بيا په لاره كې مړ شي او دمرګ په وخت داوصيت وكړي چې زما د طرفه دي حج وكړاى شي نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دهغه دطرفه دهغه له ښاره به حج كول كيږي،او صاحبين رحمهما الله فرمايي چې تر كوم ځاى پوري هغه رسيدلى دى له هغه ځايه دي حج وكړي ،دصاحبينو رحمهما الله دليل دادى چې موصي دسفرپه اراده وتلى دى نو چې څومره سفريې كړى دى هغه قربت واقع شوى دى او دهغه په اندازه قطع مسافت فرض ساقط شوى دى لهذا بل څوک به له همدغه ځاى څخه دحج لپاره ليږدول كيږي،دامام صاحب رحمه الله دليل دادى چې دده عمل دمرګ په وجه باطل شوى دى لهذا اوس دده وصيت ازسرنو دحج وصيت شو او مخته داخبره تيره شوه چې كله دحج وصيت وشي نو دموصي له ښاره حج كول واجبيږي،دامام صاحب قول راجح دى لمافى الدر المنتقى :۲/ ۴۲۲)وقوله قياس ..........وجزم به فى التنوير وعامة المتون فكان القياس هنا هو المعتمد فافهمه وتنبه له ايضا.

(۱۴)اودغيرله طرفه دحج كوونكي هم همدا حكم دى يعنې كه څوک دبل چا له طرفه دحج كولو لپاره روان وو په لاره كې مړ شو نو اوس چې بل كوم څوک دحج كولو لپاره ليږدول كيږي نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد به دوصيت كوونكي له ښاره څخه ليږدول كيږي او دصاحبينو رحمهما الله په نزد چيرته چې دمړي نائب مړ شوى دى له هغه ځايه به ليږدول كيږي .

## باب الوصية للاقارب وغيرهم

### داباب دقريبانو او غيرقريبانو لپاره دوصيت كولو په بيان كې دى

په دي باب كې دمخصوص قوم لپاره دوصيت ذكردى او په تيروبابونو كې على وجه العموم دوصيت داحكامو ذكروز او خصوص هميشه په وجود كې ترعموم وروسته وي ځكه يې داباب وروسته كړى دى .

(۱)جيرانه ملاصقوه (۲)واصهاره كل ذي رحم محرم من امرأته (۳)واختانه زوج كل ذي رحم محرم منه (۴)وأهله زوجته (۵)وآله أهل بيته وجده أهل بيت أبيه (۶)وإن أوصى لأقاربه او لذوي قرابته او لأرحامه او لأنسابه) فهي للأقرب فالأقرب من كل ذي رحم محرم منه (۷)ولا يدخل الوالدان والولد والوارث (۸)ويكون للاثنين فصاعدا (۹)فإن كان له عمان وخالان فهي لعميه (۱۰)ولو كان له عم وخالان كان له النصف ولهما النصف (۱۱)ولو له عم وعمة استويا (۱۲)ولولد فلان للذكر والأنثى على السواء (۱۳)ولورثة فلان للذكر مثل حظ الأنثيين

**ترجمه** :دموصي ګاونډيان هغه دي چې دده له كورسره متصل وي.او دده خسرګنى هغه خلک دي چې دده دښځي ذى رحم محرم وي. او دده زوم هغه څوک چې دده دمحرمو ښځو خاوند وي.او دده اهل دده ښځه

ده.اوددو آل دده دخاندان والادي اودده جنس دده دپلاردخاندان والادي اوکه يې وصيت وکړ دخپلو قريبانو لپاره ياقرابت والاياذوى الارحام يادخاندان والالپاره نو هغه داقرب فالاقرب لپاره کيږي دده له ذى رحم محرموڅخه اونه داخليږي مورا وپلاراوزوى اووارث اوکيږي ددوويازياتولپاره بياکه وودده دوه آکاګان اودوه ماماګان نووصيت دده دآکاګانولپاره کيږي اوکه يې يوآکااودوه ماماګان وونودآکالپاره نصف وصيت کيږي اوددواړوماماګانولپاره هم نصف کيږي.اوکه يوآکايوه عمه وه نودواړه برابردي اودکه دفلان داولادلپاره وصيت وکړي نود مذکراومؤنث لپاره برابرحصّه کيږي اوکه يې دفلان دوارثانولپاره وصيت وکړنودنارينه لپاره ددووښځوبرابره حصّه کيږي.

**تشريح** :(۱)که چادخپلوګاونډيانولپاره وصيت وکړچې زمادګاونډيانولپاره زمادمال ثلث دى نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدګاونډيان هغه خلک دي دچاکورچې دده له کورسره متصل وي ځکه تسميةً اوعرفاًهمداخلک جيران دي ځکه جوارله قرب څخه عبارت دى اوقريب هغه متصل دى (چې کوريې متصل وي) ځکه غيرملاصق دملاصق په نسبت بعيددى.

(۲)که چادخپلې خسرګنۍ لپاره وصيت وکړچې زمادمال ثلث زمادخسرګنۍ لپاره وصيت دى نوداوصيت دهرداسې چالپاره کيږي چې دده دښځې ذى رحم محرم وي لکه پلار،ورور،آکا،ماماوغيره دامسئله دعربوپرعرف بناء ده ،زموږپه اصطلاح خسردښځې پلارته ويل کيږي نودهغه لپاره وصيت له خسره خاصيږي.

(۳)که چادخپل اختان لپاره وصيت وکړ(دعربوپه اصطلاح ختن دذى رحم محرم ښځوخاوندانوته ويل کيږي لکه دلور،خور،ترورخاوند) بياداوصيت دموصي دټولوذى رحم محرم ښځوخاوندانولره شامل دى .زموږپه اصطلاح ختن زوج البنت ته ويل کيږي ځکه زموږپه اصطلاح داډول وصيت خالص په زوج البنت پورې مختص دى.

(۴)موصي وصيت وکړچې زمادمال څخه دومره دفلان شخص مثلازيداهل ته ورکړئ نوداامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدله اهل څخه مراددزيدښځه ده لهذاددې وصيت حقداره دزيدښځه ده .اودصاحبينورحمهماالله په نزدپه اهل کې هغه ټول خلک داخل دي دکوموډنفقې چې زيدذمه واردى لکه ښځه،بچيان،مريان اوخادمان ځکه په عرف کې داټول خلک داخل دي،دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزداهل دلفظ حقيقي معنى ښځه ده په نوروبې اطلاق مجازاکيږي لکه چې الله تعالى دحضرت موسى عليه السلام په باره کې فرمايلي دي:(وسارباهله) يعنې ده خپله کوروالابوتله ولاړ) داستدلال وجه داده چې په دې وخت کې له حضرت موسى عليه السلام سره له ښځې سوانورقريبان نه وو،لهذاله اهل څخه مرادښځه ده.

(۵)موصي وصيت وکړچې زماله مال څخه دومره دفلان شخص (مثلازيد) آل ته ورکړئ نوله دې څخه دزيدکوروالااوخاندان مراديږي ځکه له آل زيدڅخه هغه قبيله مراديږي دکوم طرف ته چې دزيدنسبت کيږي .اوکه موصي دخپل جنس لپاره وصيت وکړنوله هغه څخه دده دپلاردخاندان خلک مراددي ځکه انسان دخپل پلاردخاندان هم جنس وي،لهذاده له جنس څخه دده دپلاردخاندان خلک مراديږي

(۶)كه يو سړي دخپلو قريبانو .خپلوانو ياذوى الارحام ياخپل خاندان لپاره وصيت وكړنو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد داوصيت دهغه له ذى رحم محرم قريبانوڅخه اقرب فالاقرب ته كيږي ځكه وصيت اخت الميراث دى اوپه ميراث كښ اقرب فالاقرب معتبيريږي نوپه وصيت كښ هم اقرب فالاقرب معتبريږي لهذا داقرب په موجودګي كښ ابعدلره وصيت نه وركول كيږي.صاحبين رحمهما الله فرمايي چې داوصيت په لفظ داقارب دموصي هغوټولوقرابتونولره كيږي چې په اسلام كښ دهغه انتهائي جداعلى طرف ته منسوب وي يعني دهغه په اجدادوكښ اول هغه چې مسلمان شوى وي دهغه داولادلپاره كيږي بيا په هغه كښ قريب اوبعيد مذكراومؤنث ټول برابر دي.

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافى الشامية :وقول الامام هوالصحيح كمافى تصحيح القدورى والدرالمنتقى. (ردالمحتار:۵/۴۸۵)

(۷)ليكن دموصي مورا وپلار او دهغه بچيان اودهغه وارث په مذكوره وصيت كښ نه داخليږي ځكه اقارب هغه دي چې دبل چاپه واسطه قريب وي اووالدين اواولادخوځپله قريبان دي په هغوكښ واسطه نشته،همدارنګه دوارث لپاره وصيت نه كول كيږي.

(۸)مذكوره وصيت (داقاربو وغيره لپاره وصيت ) ددوويازياتو كسانولپاره كيږي ځكه اقارب وغيره دجمع صيغې دي اودميراث په باب كښ دجمع صيغې ددوولپاره استعماليږي نوپه باب دوصيت كښ هم ادنى جمع دوه كيږي.

(۹)داپرماقبل باندي تفريع ده چې داقاربولپاره په وصيت كولوكښ وصيت داقرب فالاقرب لپاره كيږي يعني كه چاداقاربولپاره وصيت كړى وو او حال داچې دهغه دوه آكاګان (تره ګان ) اودوه ماماګان موجوددي اوله هغوئ سوانورهيڅوك نه لري نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدداوصيت دهغه دد وآكاګانوترمنځ نصف نصف كيږي اودواړه ماماګان يې محروم كيږي ځكه امام صاحب رحمه الله اقرب ته اعتبار وركوي كمافى الارث اواقرب آكادى.

(۱۰)اوكه دموصي خالص يوآكااودوه ماماګان پاتې وونوپه دي صورت كښ نصف وصيت دآكالپاره كيږئ اوباقى نصف ددواړو ماماګانوترمنځ برابركيږي ځكه په لفظ داقارب كښ معنى دجمع معتبرول ضروري دى حال داچې آكايودى ځكه هغه ته نصف وركول كيږي باقى دهغه چاكيږي چې ترآكاوروسته اقرب دى وي.

(۱۱)اوكه دموصي يوآكااويوه ترورپاتې وه نوپه استحقاق دوصيت هغوئ دواړه برابردي ځكه په قرابت كښ دواړه برابردي نوپه استحقاق كښ هم برابريږي.اوڅرنګه چې دلفظ جمع معنى په دواړوسره متحققه كيږي لهذاكه دموصي ماماګان هم وونوهغوئ ته هيڅ نه وركول كيږي.

(۱۲)قوله ولولدفلان اى لواوصى لولدفلان الخ.يعني كه چادفلان (مثلازيد) داولادلپاره وصيت وكړمثلاويې ويل چې زمادمال ثلث دفلان داولادلپاره دى نوداوصيت دفلان (زيد) داولادترمنځ مشترك كيږي مذكراومؤنث په دي كښ برابردي ځكه دلفظ ولداطلاق پرټولوباندي مساوي دى.

(۱۳) قوله ولورثة فلانٍ فللذكر مثل حظ الانثيين اى لو اوصى لورثة فلان للذكر مثل حظ الانثيين، يعني كه چا د فلان د وارثانو لپاره وصيت وكړنو دا وصيت د فلا د وارثانو ترمنځ د (للذكر مثل حظ الأنثيين) نارينه لره د دوو ښځو برابر حصه ده) مطابق كيږي يعني تر ښځه د نارينه حصه دوه چنده كيږي ځكه په لفظ د ميراث سره ايجاب تفضيل لره مقتضي دى كما في الميراث.

## باب الوصية بالخدمة والسكنى والثمرة

### دا باب د خدمت، او سيدلو او ميوې د وصيت په بيان كې دى

مصنف رحمه الله له اعيانو سره متعلق د وصيت له بيان څخه فارغ شو نو د منافعو متعلق د وصيت بيان يې شروع كړ، د دې باب ؟ تاخير وجه دا ده چې منافع وجوداً تر اعيانو وروسته وي نو مصنف رحمه الله وضعاً هم مؤخر بيان وكړ چې وضع د وجود مطابق شي.

(۱) وَتَصِحُّ الْوَصِيَّةُ بِخِدْمَةِ عَبْدِهِ وَسُكْنَى دَارِهِ مُدَّةً مَعْلُومَةً وَأَبَدًا (۲) فَإِنْ خَرَجَ الْعَبْدُ مِنْ ثُلُثِهِ سُلِّمَ إِلَيْهِ لِيَخْدُمَهُ وَإِلَّا خدم الْوَرَثَةَ يَوْمَيْنِ وَالْمُوصَى لَهُ يَوْمًا (۳) وَبِمَوْتِهِ يَعُودُ إِلَى وَرَثَةِ الْمُوصِي (۴) وَلَوْ مَاتَ فِي حَيَاةِ الموصى بَطَلَتْ (۵) وَبِثَمَرَةِ بُسْتَانِهِ فَمَاتَ وَفِيهِ ثَمَرَةٌ له هذه الثمر وإن زاد له هذه الثَّمَرَةُ وَمَا يَسْتَقْبِلُ كَغَلَّةِ بُسْتَانِهِ (۶) وَبِصُوفِ غَنَمِهِ وَوَلَدِهَا وَلَبَنِهَا الْمَوْجُودِ عِنْدَ مَوْتِهِ قال أَبَدًا أَوْ لَا

**ترجمه**: او صحيح دى وصيت د خپل مريي د خدمت او د خپل كور د اوسيدو تر معلومې مودې پورې او د هميشه لپاره بيا كه ووت مريى له ثلث د مال څخه نو وردي كړي هغه ته چې د هغه خدمت وكړي كه نه بيا دي د وارثانو خدمت وكړي دوې ورځې او د موصى له يوه ورځ او د موصى له په مرګ سره راګرځي د موصي د وارثانو طرف ته او كه هغه مړ شو د موصي په ژوندكې نو بيا وصيت باطليږي او كه يې وصيت وكړ د خپل باغ د ميوې بيا مړ شو او په هغه كې ميوه وه نو موصى له لره هغه ميوه كيږي او كه يې لفظ د ابداً ورزيات كړ نو هغه لره د غه ميوه كيږي او آينده چې كومه ميوه پيدا كيږي هغه هم دده كيږي لكه د باغ د حاصلاتو وصيت او كه يې وصيت وكړ د خپل پسه د وړيو يا د هغه د بچي يا د هغه د شيدو نو موصى له لره هغه كيږي چې موجود وي د موصي د مرګ په وخت كې كه يې ابداً لفظ ويلى وي او كه نه.

**تشريح**: (۱) د خپل مريي د خدمت او د خپل سراى د سكونت تر معلومو كلونو پورې ديو چا لپاره وصيت كول جائز دى او د هميشه لپاره هم وصيت جائز دى ځكه څرنګه چې په منافع كې دا جائز دى چې د موصي په ژوندكې غير د هغه مالك كړي او په عوض او غير عوض د واړو طريقو سره جائز دى مثلاً په عوض د اجرت د منافع يو څوک مالک ګرځول يا مفت عاريةً يو چا ته شي وركول نو همدا رنګه د موصي له طرفه د خپل مرګ وروسته هم څوک د منافع مالک ګرځو جائز كيږي.

(۲) بيا كه مريى د موصي له ثلث مال څخه وتلاى شواى يعني د موصي د كل مال يو ثلث د مريي د قيمت سره برابر وي يا زيات وو نو دا مريى به د موصى له د خدمت لپاره موصى له ته سپارل كيږي ځكه د موصي د مال په يوه ثلث كې د موصى له داسې حق دى چې وارثان له ده سره مزاحم نه شي كيدلاى، او كه موصي لره له دې مريي

سوانو رمال نه وونو د امريې به دوي ورځې دموصي دوارثانو خدمت كوي اويوه ورځ به دموصى له خدمت كوي ځكه دموصى له حق په يوه ثلث كې دى اودوارثانو حق په دووثلثانو كې دى او څرنګه چې دمريي تقسيمول ناممكن دى ځكه نوپه دي كې نوبت مقرريږي.

(۳)بياكه موصى له مړشونو دامريي دموصي دوارثانو طرف ته عودكوي دموصى له وارثان حق دانتفاع نه لري ځكه موصي دموصى له دخدمت لپاره وركړى وونو دموصى له وارثانو ته نوكه چيرته حق انتفاع دموصى له دوارثانوجانب منتقل شي نودموصى له وارث ازسرنو دموصي دملک دهغه درضامندي بغير مستحق كيږي حال داچې داكار جائزنه دى.

(۴)اوكه دموصي په ژوندكې موصى له مړشونو وصيت باطليږي ځكه وصيت تمليک منسوب الى الموت دى اوفى الحال دموصي ملک په هغه كې قائم دى اوظاهره خبره ده چې تردي وروسته په موصى له كې دمالک كيدو اهليت نشته.

(۵)قوله وبثمرة بستانه اى لواوصى بثمرة بستانه.يعني كه موصي دخپل باغ په ميوه ديوچالپاره وصيت وكړنو دموصي دمرګ په وخت كې چې كومه ميوه ده موصى له خالص دهغې مستحق كيږي آينده چې كومه پيداكيږي دهغې مستحق نه ګرځي اوكه موصي دوصيت كولوپه وخت كې داسي وويل چې زمادباغ ميوه دهميشه لپاره دفلان لپاره وصيت دى نوپه دي وصيت كې هغه ميوه هم داخله ده چې دموصي دمرګ په وخت موجوده ده اوهغه هم داخله ده چې دموصي له ژوندوروسته پيداكيږي اوكه موصي دميوې پرځاى دباغ دحاصلاتو وصيت وكړنو دا وصيت موجوده اوآينده دواړولره شامليږي ددواړوصورتونوترمنځ فرق داچې چې لفظ دثمرة عرفاهغې ميوې ته ويل كيږي چې موجوده وي لهذامعدوم (چې آينده پيداكيدونكې ده) لره نه شامليږي البته كه په وصيت كې يوداسي لفظ ووچې پرهميشګي يې دلالت كاودنوبيا آينده پيداكيدونكې ميوې لره هم شامليږي.باقى لفظ دغله (يعني حاصلات) دخپلې وضعي معنى په اعتبارسره موجوداومعدوم دواړولره شامله ده ځكه دداوړوصورتونوترمنځ فرق كول پكاردى.

(۶)قوله وبصوف غنمه اى لواوصى بصوف غنمه الخ.يعني كه موصي ديوچالپاره دخپلوپسونودړويو وصيت وكړيايې دپسونودشيدويادهغودبچيانووصيت وكړبياموصي مړشونوموصى له لره له دغوشيانو څخه چې كوم شي موجوددى هغه كيږي كه هغه پخپل وصيت كې داسي لفظ چې پرهميشګي دلالت كوي ويلى وي اوكه يې نه وي ويلى ځكه وصيت خالص ترهغه موجودشي پوري تعلق نيسي چې دايجاب په وخت يعني دموصي دمرګ په وخت موجودوي اوآينده چې كومې وړۍ وغيره پيداكيږي هغه بالفعل معدوم دي لهذاهغوته وصيت نه شامليږي.

## بابُ وَصِيَّةِ الذِّمِّي

داباب دذمي دوصيت په بيان كې دى

مصنف رحمه الله دمسلمانانودوصيت له بيان څخه فارغ شونويې دذميانودوصيتونوبيان شروع كړځكه په معاملاتوكې ذمي دمسلمانانوتابع دى اومسلمان متبوع دى اوتابع ترمتبوع مؤخروي.

(۱) وَبَيْعَةٌ وَكَنِيسَةٌ فِي صِحَّتِهِ فَمَاتَ فَهِيَ مِيرَاثٌ (۲) وَإِنْ أَوْصَى بِذَلِكَ لِقَوْمٍ مُسَمَّيْنَ فَهُوَ مِنَ الثُّلُثِ (۳) وَبِدَارِهِ كَنِيسَةً لِقَوْمٍ غَيْرِ مُسَمَّيْنَ صَحَّتْ (۴) كَوَصِيَّةِ حَرْبِيٍّ مُسْتَأْمَنٍ بِكُلِّ مَالِهِ لِمُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ

**ترجمه**: يوه ذمي خپل سراى بيعه، يا كنيسا وګرځاوه په خپل صحت كې بيا مړشونو دا سراى ميراث كيږي او كه يې وصيت وكړ په دغو شيانو سره د متعين قوم لپاره نو هغه له ثلث څخه معتبريږي او كه يې وصيت وكړ د خپل سراى د كنيسه جوړيدو د يو غير معين قوم لپاره نو دا صحيح دى لكه وصيت كول د مستامن كافر پخپل ټول مال سره د يو مسلمان يا ذمي لپاره.

**تشريح**: (۱) كه يوه ذمي د خپل صحت په زمانه كې خپل سراى د عيسايانو عبادت خانه يا د يهوديانو عبادت خانه وګرځاوه بيا دى مړشو نو دده په وصيت عمل نه كيږي بلكې دا سراى دده وارثانو ته وركول كيږي ځكه چې كله دده د خپل صحت په وخت كې دا ويلي دي نو دا وصيت نه دى بلكې وقف دى او د ذمي وقف د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد لازم نه دى او د صاحبينو رحمهما الله په نزد كه چيرته ګناه نه وه لازميږي كه نه بيا نه لازميږي او دلته وقف دى او ظاهره خبره ده چې ګناه ده ځكه بالاتفاق دا وصيت صحيح نه دى.

(۲) او كه ذمي دا وصيت وكړ چې زما له دغه سراى څخه دې د فلان معين قوم لپاره د يهوديانو عبادت خانه جوړه كړاى شي نو څرنګه چې دا وصيت دى لهذا دا صحيح دى او په ثلث د مال كې نافذ كيږي ځكه په وصيت كې څوك خپل خليفه او د موصى به مالك ګرځول كيږي او د ذمي استخلاف هم جائز دى او تمليک يې هم جائز دى لهذا دا وصيت جائز دى.

(۳) قوله وبداره كنيسة لقوم غير مسمين اى لو اوصى بداره كنيسة الخ، يعني كه ذمي مذكور وصيت د غير معين قوم لپاره كړي وو نو د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد جائز دى او د صاحبينو رحمهما الله په نزد نا جائز دى، ځكه دا وصيت ګناه ده، كه څه هم د دوئ په اعتقاد قربت دى او د ګناه وصيت باطل دى ځكه د هغه په نافذ كيدو كې ګناه برقرار ساتل دي چې دا كار نا جائز دى، د امام صاحب رحمه الله دليل دا دى چې دا د هغوئ د اعتقاد مطابق قربت دى او شريعت مونږ ته دا حكم راكړى دى چې مونږ به دوئ او د دوئ اعتقاداتو ته تعرض نه كوو ځكه د هغه دا وصيت صحيح ګڼل كيږي، د امام صاحب رحمه الله قول راجح دى لما يعلم من صنيع صاحب الهداية حيث اخر دليله وهذا ترجيح الراجح عنده.

(۴) قوله كوصية حربي اى صحت هذه الوصية كماتصح وصية حربي، يعني مذكور وصيت صحيح دى لكه يو حربي كافر چې په دار اسلام كې د يو مسلمان يا ذمي لپاره پخپل ټول مال سره وصيت وكړي نو دا جائز دى ځكه تر ثلث زيات وصيت ممتنع كيدل د وارثانو د حق په وجه سره دى په همدي وجه د وارثانو په اجازه سره هغه نافذ كيږي مګر څرنګه چې د حربي مستامن په دار حرب كې د موجود و وارثانو لپاره كوم داسي حق نشته چې د هغه رعايت وكړاى شي ځكه نو چې هغه د ټول مال وصيت كړى دى دا صحيح دى.

## باب الوصي

دا باب د وصي په بيان كې دى

مصنف رحمه الله دموصی له له احکامو څخه فارغ شونو دوصي یعني موصی الیه احکام یې شروع کړل ځکه چې دموصی له احکام دخپل کثرت په وجه معرفت ته زیات محتاج دي ځکه یې دهغه احکام دموصی الیه تر احکامو مخکې ذکر کړل.

(۱) ولو أوصى إلى رجل فقبل عنده ورد عنده فهو رد وإلا لا (۲) وبيع التركة كقبوله (۳) وإن مات الموصي فقال لا أقبل ثم قبل صح إن لم يخرجه قاض منذ قال لا أقبل (۴) وإلى عبد وكافر وفاسق بدل بغيرهم (۵) وإلى عبده وورثته صغار صح وإلا لا (۶) ومن عجز عن القيام بها ضم إليه غيره (۷) وبطل فعل أحد الوصيين (۸) إلا في التجهيز وشراء الكفن وحاجة الصغار والاتهاب لهم ورد وديعة عين وقضاء دين والخصومة في حق الميت وتنفيذ وصية معينة وعتق عبد معين

**ترجمه**: یو څوک یې وصی وګرځاوه او هغه قبول کړ دده په وړاندې او ردیې کړ دده په وړاندې نو ردیږي که نه بیا نه ردیږي. دوصی خرڅول دترکه دوصیت دقبلیدو په شان دی او که موصی مړ شو او وصي وویل زه یې نه قبلوم بیا یې قبول کړ نو صحیح دی که قاضی برطرف کړی نه وو له هغه وخت څخه چې ده ویلي وو لا اقبل. او که یې مریی، یا کافر یا فاسق وصي وګرځاوه نو قاضی دي بدل کړي په نورو سره او که یې وصی مقرر کړ خپل مریی او حال دا چې دهغه وارثان کم عمره وو نو صحیح دی که نه بیا نه دی صحیح او کوم څوک چې عاجزوي دوصیت دترسره کولو څخه نو قاضی دي له هغه سره یو بل څوک ملګری کړي او باطل دی فعل له دوو. وصیانو څخه دیوه غیر له تجهیز. تکفین. او کفن اودنابالغوله حاجاتو دهغوئ لپاره. دخرید کولو. دهغوئ لپاره هبه قبلولو او معین امانت واپس کولو او قرض اداکولو او معین وصیت نافذ ولو او معین مریی آزادولو او مړي دحقوقو په باره کې دخصومت نه.

**تشریح**: (۱) که موصي یو څوک وصی وګرځاوه او وصی دموصي په مخ کې دا رد کړ نو دا ردیې صحیح دی ځکه دا تبرع ده نو ده لره اختیار شته که یې برقرار ساتی او که یې ردوي همدارنګه موصی پر ده باندې دتصرف في الوصیة لازم کولو ولایت نه لري او په دې صورت کې موصي لره دوکه هم نشته او که وصی دموصي په مخ کې داوصیت قبول کړ مګر وروسته یې دموصی پس شا اوصیت رد کړ نو دا ردیې نه صحیح کیږي ځکه مړه پر ده باندې اعتماد وکړ مطمئن شو نو که دا ردصحیح وګڼل شي نو موصي په دوکه کې لویږي.

(۲) که موصي یو څوک وصی وګرځاوه هغه دوصیت تر قبلیدو مخکې دموصی له ترکه څخه یو شی خرڅ کړ نو دا ددې دلیل دی چې وصی وصی کیدل قبول کړی دی او دا بیع نافذیږي ځکه له وصی څخه صادره شوې ده نو له دې څخه ثابته شوه چې دوصایت دقبلیدو لپاره تلفظ ضروري نه دی بلکې په فعل او عمل سره هم قبلیدل صحیح دی.

(۳) که دموصی دوصیت په وخت کې وصي وصی کیدل قبول نه کړ او دموصی تر مرګ وروسته یې هم لومړی خل وویل چې ما داوصایت نه دی قبول کړی او بیایې وویل چې ما وصایت قبول کړی دی نو دوصی اوس وصایت قبلول صحیح دی په دې شرط چې دده له دې وینا څخه چې ما وصایت نه دی قبول کړی قاضی دی له وصایت څخه خارج کړی نه وي ځکه که دده وصی کیدل قبول نه شي نو په دې کې دمړه ضرر دی ځکه هغه پر ده

باندي اعتماد كړی دی مړشوی دی نو ددي لپاره چې مړله ضرر څخه په امان شی دده دوصی كيدو اقرار صحيح ګڼل كيږي .

(۴)قوله والى عبد وكافر اى لواوصى الى عبد وكافر الخ .يعني كه چادبل چامړيی یاكافر یافاسق خپل وصی مقرر كړنو قاضي ته پكار دی چې دوئ له وصيت څخه خارج كړي نورخلك ددوئ قائم مقام وګرځوي وجه يې داده چې دادري واړه له عيب څخه خالي نه دي،ځكه چې دمريي ولايت خودمولی پر كرم اونظر باندي دی كه هغه اجازه وركړي نو باقي دی كه نه ختم او وروسته تراجازه هم چې كله يې مولی وغواړي هغه محجور كولای شي او په كافر كې دنقصان باعث دادی چې دی كافردی چې دينې دښمني يې دي ته هڅوي چې دی دمسلمان لپاره شفقت پرېږدي او په فاسق كې كمی دادی چې په خيانت سره متهم دی لهذا په دغو وجوهو سره قاضي بايد دوئ له وصايت څخه خارج كړي ددوئ پرځای نورخلك مقرر كړي .

(۵)قوله والى عبده وورثته صغار صح اى لواوصى الى عبده الخ .يعني كه چاخپل مريی وصی مقرر كړ حال داچې دموصی وارثان نابالغ دي نو داوصيت صحيح دی ځكه دهغه خپل مريی عاقل بالغ دی او دتصرف په باره كې مستقل دی دبل چاپرده باندي ولايت هم نشته ځكه دموصی واړه اولادونه كه څه هم ددي مريی مالكان دي ليكن هغوئ پرده باندي داسي ولايت نه لري چې دی له تصرف څخه رامنع كړي نو دهيڅ مانع دنه موجوديت په وجه صحيح دی او كه په وارثانو كې بالغ موجود وي نو بياداوصيت نه صحيح كيږي ځكه بالغ وارثان ددي حق لري چې مريی منع كړي او دتصرف اجازه ورنكړي ولی بالغ وارث ددغه مريی مولی دی چې پر هغه باندي يې ولايت حاصل دی لهذا مريی دوصايت دحق له پوره كيدو څخه عاجزاو قاصر كيږي نو وصايت هيڅ فائده نه كوي .

(۶)كه يووصی دوصيت له ترسره كولو څخه عاجزوي نو قاضی دي له ده سره دموصي اودهغه دوارثانو درعايت لپاره يوغيرعاجزڅوك ورسره ملګری كړي چې په ځينو امورو كې كفايت وكړي .

(۷)كه چادووكسانو ته يوځای ياجلاجلا يو په بل پسی وصيت وكړ نو دطرفينو رحمهما الله په نزدله دوئ دواړو څخه يوه ته دبل په نه موجودګي كې په دي وصيت كې تصرف كول ناجائزدی ځكه په وصيت كې دتصرف كولو ولايت دموصی له طرفه په سپارلو سره حاصليږي نو دسپارلو وصف معتبريږي او دلته موصی دواړه سره يوځای كړي ولايت يې ورته سپارلی دی نو وصف داجتماع معتبريږي او موصي هم ددواړو په رايه راضي شوی دی نه ديوه په رايه سره لهذا ديوه تصرف نه صحيح كيږي .

(۸)په مذكوره مسئله كې ويل شوي ووچې كه وصی دوه كسان وونوله دواړو څخه يوه ته دبل په نه موجودګی كې په وصيت كې دتصرف كولو اختيار نشته ليكن له دي څخه څو شيان مستثنی دي :**نمبر - ۱**:په تجهيز ميت (هغه ټول كارونه چې مړی ترقبرپوري ورته مجبوروي)كې به يووصی دبل انتظارنه كوي.**نمبر - ۲**:دمړي دكفن اخيستو ضرورت وي نو يووصی يې دبل بغيراخيستلای شي.ددي دواړو صورتونو وجه داده چې هغه بل ته په انتظاركولو كې دمړي دخرابيدو خطره شته .

**نمبر - ۳:** که دموصی دوړوماشومانولپاره دخوراک اوجامووغیره داخیستوضرورت وونوهم یووصی دبل انتظارنه کوي څکه هغه ته په انتظارکولوکې دماشومانودضائع کیدواندیښنه شته. **نمبر - ۴:** که دموصی ماشومانوته چاهبهٔ یوشی ورکړنودهغه دقبلیدولپاره به هم یووصی دبل انتظارنه کوي . **نمبر - ۵،** که له موصی سره دچامتعین امانت پروت ووهمدارنګه که پرموصی باندي دچاڅه قرض وونودهغوپه واپس کولوکې به یووصی دبل انتظارنه کوي څکه دغه اموړله باب ولایت سره تعلق نه لري بلکې له باب اعانت څخه دي همدا وجه ده چې چاته دموصی له طرفه ولایت حاصل نه وي هغه هم داامورترسره کولای شي مثلا صاحب ودیعت چې خپل سامان په لاس ورشي یاقرض غوښتونکي ته دخپل حق جنس په لاس ورشي نوهغوئ یې خپله اخیستلای شي .

**نمبر - ۶:** **نمبر - ۷:** دموصی دیوخاص وصیت په پوره کولواودهغه دیومعین مریی په آزادولوکې هم یووصی دبل انتظارنه کوي څکه په دې کې ددواړورایه ته ضرورت نشته . **نمبر - ۸:** دمړي دحقوقوپه باره کې له یوچاسره خصومت کوي نوهم یووصی یې کولای شي دبل انتظاردي نه کوي څکه خصومت ددواړودجمع کیدوپه صورت کې هم یویې کوي ددي لپاره چې ددواړودخصومت څخه په مجلس قضاء کې شوروغوغارامنځ ته نه شي څکه دبل موجودیدل ضروري نه دی .

(۹) ووصی الوصي وصيّ التركتين (۱۰) وتصحّ قسمته عن الورثة مع الموصى له ولو عكس لا (۱۱) فلو قاسم الورثة وأخذ نصيب الموصى له فضاع رجع بثلث ما بقي (۱۲) وإن أوصى الميت بحجة فقاسم الورثة فهلك ما في يده أو دفع إلى من يحج عنه فضاع في يده يحج عنه بثلث ما بقي (۱۳) وصحّ قسمة القاضي وأخذ حظ الموصى له إن غاب (۱۴) وبيع الوصي عبدا من التركة بغيبة الغرماء

**ترجمه :** اووصي وصي ،وصي دی ددواړوترکو ،اوصحیح دی دوصی تقسیم کول دوارثانوله طرفه له موصی له سره اوکه ددي عکس ووبیاصحیح نه دی ،بیاکه یې تقسیم وکړله وارثانوسره اودموصی له حصه یې واخیسته اوهغه ضائع شوه نوثلث دمابقی دي واخلي ،که مړي دحج وصیت وکړاووصی مال تقسیم کړوارثانوته بیاضائع شوهغه څه چې دوصی په لاس کې ووا ویایې ورکړهغه چاته چې حج کوونکی دی ددهٔ له طرفه بیا هغه له لاسه ضائع شونودمړي له طرفه دي حج وکړای شي په ثلث دمابقی سره اوصحیح دی دقاضي تقسیم کول او خیستل دهغه دموصی له حصه دهغه لپاره که چیرته هغه غائب وي اوصحیح دی خرڅول دوصي دترکه مریی دقرض غوښتونکوپه غیاب کې .

**تشریح** :(۹) موصي مثلازیدوصی وګرځاوه اوزیدترخپل مرګ مخکې بکرخپل وصی وګرځاوه نوداحنافو رحمهم الله په نزدبکرپه دواړوترکوکې وصي ګڼل کیږي دامام شافعی رحمه الله په نزدبکردزیدپه ترکه کې وصي ګرځي مګردموصی اول دترکه وصی نه بلل کیږي هغه وصی تاکل پروکیل تاکلوباندي قیاس کړی دی یعنې لکه څرنګه چې دوکیل وکیل دموکل اول وکیل نه شي کیدای دموکل ثانی وکیل ګرځي همدا رنګه دوصي وصي هم دی .داحنافو رحمهم الله دلیل دادی چې موصی زیدخپل قائم مقام وګرځاوه نودادلالة اذن دی چې زیدبکرخپل قائم مقام ګرځولای شي څکه موصی پوهیږي چې ښایې دکومواموړولپاره چې ماوصی کړی دی دهغوترپوره کیدومخکې دی خپله مړشي نوبیابه دی دهغه وصیت څنګه نافذوي نوداسي ښکاري چې

موصي په دي خبره باندي راضي دی چې وصي خپل قائم مقام بل وصي مقرر کړي لهذا بکر به دواړو ترکو کې وصي شمارل کیږي .

(۱۰) که وصي د وارثانو په نه موجودګي کې دهغوئ د طرفه نائب شوله موصی له سره یې تقسیم وکړنو دهغه داتقسیم کول صحیح دی اوکه ددي عکس وویبانه دی صحیح یعني که موصی له موجودنه وو او وارثانو موجود وونوله وارثانو سره داوصي د موصی له حصه نه شي تقسیمولای ځکه وصي او وارث دواړه دمړه قائم مقام دي او موصی له دمړه قائم مقام نه دی لهذا وصي لره داجائزه ده چې دمړه د بل قائم مقام قائم مقام شي مګر هغه داحق نه لري چې دموصی له قائم مقام شي .

(۱۱) بیا که یې دموصی له په نه موجودګي له وارثانو سره مال تقسیم کړ دموصی له حصه یې خپله قبض کړه او هغه له ده څخه ضائع شوه نو موصی له به له باقي ترکه څخه ثلث مال اخلي ځکه وصي چې کوم تقسیم کړی دی داتقسیم نه دی صحیح شوی ځکه موصی له ته له باقي ترکه څخه ثلث مال ورکول کیږي. البته وصي دهغه نه ضامن کیږي ځکه وصي په دي کې امین دی او امین که متعدي نه وونو پر ده باندي ضمان نه راځي .

(۱۲) که موصي دحج وصیت کړی وو او وصي له وارثانو سره دا مال تقسیم کړ د وصیت مطابق وصي دحج حصه قبض کړه بیا دغه حصه له وصي څخه ضائع شوه (هلاکه شوه) یا وصي هغه چاته ورکړه چې دموصی له طرفه حج ته ځي بیا له هغه څخه هلاکه شوه نو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد په دواړو صورتونو کې له مابقي ترکه څخه حج کول لازمیږي ځکه تقسیم بذات خود مقصود نه وي بلکې له تقسیم وروسته له تقسیم څخه په حاصل شده حصو چې کوم کار کیږي هغه اصل مقصود وي او دلته اصل مقصود د حج ادائیګي ده نو ترڅو چې حج اداشوی نه وي تر هغه وخته تقسیم ته اعتبار نه ورکول کیږي لهذا د مابقي ترکه له ثلث څخه به حج اداکیږي .

(۱۳) که موصی له غائب وو او قاضي له وارثانو سره مال تقسیم کړ او د موصی له حصه یې پخپله قبض کړه له خان سره یې وساتله نو دا صحیح دی ځکه قاضي ددي لپاره مقرر شوی دی چې د مسلمانانو د امورو نګراني وکړي خاص بیا د مړو او غائبینو لپاره ځکه دا خلک خپله له تصرف کولو څخه قاصر دي لهذا د قاضي داکار چې دغائب حصه یې جلاکړي او هغه یې قبض کړي صحیح دی .

(۱۴) قوله وبیع الوصی عبداً ای وصح بیع الوصی الخ .یعني که موصی مقروض وي او دهغه وصي د قرض غوښتونکو په نه موجودګي کې له ترکه څخه یو مریی خرڅ کړنو دابیع جائزه ده ځکه وصي دموصي قائم مقام وي نو موصي که چیرته په خپل ژوندکې دا مریی خرڅ کړی وای خو دابیع جائزه وه که څه هم ده په مرض موت کې دابیع کړې وای نو د وصي بیع هم جائزه ده همدارنګه په دي وجه هم جائزه ده چې د قرض غوښتونکو حق له مالیت سره تعلق لري نه د مریي له صورت سره او د مریي په خرڅولو سره مالیت نه باطلیږي ځکه د مریي په بدله کې روپۍ موجودې دي ځکه دابیع جائزه ده .

(۱۵) وضمن الوصی إن باع عبداً أوصی ببیعه والتصدق بثمنه إن استحق العبد بعد هلاک ثمنه عنده ویرجع في ترکة المیت (۱۶) وفي مال الطفل إن باع ماله واستحق المبیع وهلک الثمن في یده فهو علی الورثة في حقهم (۱۷) وصح احتیاله بماله لو خیر اله (۱۸) وبیعه وشراؤه مما یتغابن (۱۹) وبیعه علی الکبیر غیر العقار ولا یتجر في ماله (۲۰) ووصي الأب أحق بمال الطفل من الجد فان لم یوص الاب فالجد کالاب

**ترجمه** : او ضامن گرځي وصی که یې خرڅ کړ هغه مریی د کوم چې د خرڅلاو او د ثمنو د خیرات ټولو وصیت شوی وو او که د بل چا مستحق وگرځید مریی وروسته له دي چې د هغه ثمن له وصي څخه هلاکې شوې او دی به یې اخلي د مړي له ترکه څخه او د ماشوم په مال کې که یې د هغه مریی خرڅ کړ او هغه د بل چا مستحق وگرځید او ثمن دده له لاسه هلاکې شوې او ماشوم به اخلي له وارثانو څخه د خپلې حصی په اندازه او صحیح دی حواله کول د وصی د نابالغ مال لره که خیر وو د هغه لپاره او د هغه خرڅول او اخیستل په دومره نقصان سره څومره چې خلک هغومره د وکه کیږي او صحیح دی د بالغ شیان خرڅول له ځمکې نه علاوه او تجارت به نه کوي د موصی په مال کې او د پلار وصی زیات حقداردی د ماشوم د مال ترنیکه او که پلار وصی نه درلود نو بیا نیکه د پلار په شان دی .

**تشریح** : (۱۵) موصی وصیت کړی وو چې زما مریی دي خرڅ کړای شي د هغه قیمت دي پر مسکینانو باندي صدقه کړای شي وصی د وصیت مطابق مریی خرڅ کړ او ثمن یې قبض کړې بیا ثمن د وصی څخه هلاکې شوې او مریی هم بل مستحق پیدا شو نو د مشتري کوم پیسې چې وصی وصول کړي دي او هغه هلاکې شوې دي په هغو سره وصی ضامن گرځي چې د خپل طرف څخه به د هغه ضمان اداکوي ځکه عاقد وصی دی او د بیع د حقوقو ذمه واري پر عاقد باندي راځي بیا چې وصی کوم ضمان مشتري ته اداکړی دی هغه به د مړه له ترکه څخه وصول کړي ځکه وصی د مړه لپاره عامل دی لهذا دی حق لري چې اداکړده ضمان د مړه له ترکه څخه وصول کړي لکه وکیل چې خپل موکل ته د رجوع حق لري .

(۱۶) که وصی میراث تقسیم کړ او په وارثانو کې یو نابالغ ماشوم دی چې د هغه په حصه کې یو مریی راغی هغه چې وصی خرڅ کړ او ثمن یې قبض کړې بیا ثمن د وصی له لاسه هلاک شوې او مریی د بل چا مستحق وگرځید نو وصی مشتري لره د ثمنو ضامن گرځي بیا څرنگه چې وصی د ماشوم لپاره کارکوونکی دی ځکه به نو مذکوره ضمان د ماشوم له مال څخه واپس واخلي بیا به ماشوم داثمن چې دده له حصی څخه وصی مشتري ورکړي دي له نورو وارثانو څخه واخلي ځکه داخبره مخته تیره شوه چې له تقسیم وروسته که د کوم شي بل څوک مستحق پیدا شو نو تقسیم ماتیږي لهذا د ماشوم په حصه کې چې څومره نقصان راغلی دی هغه به له نورو وارثانو څخه وصولوي .

(۱۷) که د مذکور یتیم مال پر چا باندي قرض وو او مقروض په دي باره کې د بل چا حواله ورکړه یعني بل څوک یې وروښود چې له هغه څخه خپل قرض وصول کړئ او محتال علیه هم دا حواله ومنله نو که د یتیم په حق کې د حواله په قبلولو کې کومه فائده وه نو د وصی د هغه لپاره قبلول صحیح دی ځکه د وصي ولایت بناء بر شفقت دی نو کوم صورت چې د ماشوم لپاره بهتروي هغه اختیارولای شي .

(۱۸) قوله وبیعه وشرائه بمایتغابن ای صح بیع الوصی وشراؤه بمایتغابن. یعني که داوصی د یتیم په مال سره خرید و فروخت کوي نو په دومره نقصان سره خرید و فروخت ورته جائزدی چې هغومره نقصان په داسی شیانو کې د تاجرانو ترمنځ رواج وي او که غبن فاحش یعني زیات نقصان وو نو بیا دده خرید و فروخت ناجائزدی ځکه په غبن فاحش کې هیڅ شفقت نشته .

(۱۹) قوله وبيعه على الكبير اى صح بيعه على الكبير الخ .يعني كه دموصى يو بالغ زوى وو او هغه غائب وو نو وصى دهغه بالغ هلک له ځمکې نه علاوه دنورټول سامان دخرڅولو اختیار لري ځکه پرکوموشیانوچې دپلار ولایت ووپرهغو دوصى هم ولایت شته او پلار دبالغ زوی له ځمکې نه علاوه پرنورسامان باندې ولایت لري لهذا وصی لره هم ولایت حاصل دی .البته وصی دیتیم په مال کې تجارت نه شي کولای مطلب داچې وصی دیتیم په مال کې دخپل ځان لپاره تجارت نه شي کولای ځکه دی دمال دحفاظت لپاره مقرر کړی دی نه دتجارت لپاره او دیتیم لپاره تجارت کول یې صحیح دی کمامر.

(۲۰) كه دموصى پلار يعني ديتيمانو نيكه هم موجود وو او وصى هم موجود وو نوزمونږ په مذهب وصی ترنیکه دیتیم دمال زیات حقدار دی او دامام شافعي رحمه الله په نزد نیکه زیات حقدار دی ځکه شریعت نیکه دپلار قائم مقام ګرځولی دی آن چې هغه دپلار په نه موجودیت کې دپلار دمیراث مستحق کیږي .زمونږ دلیل دادی چې کله موصی خپل وصی مقرر کړنو دپلار ولایت دوصی طرف منتقل شونو ګواکې دپلار ولایت قائم دی لهذا وصی پرنیکه باندې داسې مقدم دی لکه خپله دپلار په موجودګۍ چې پلار پرنیکه باندې مقدم وي .اوکه پلار کوم وصی نه وو مقرر کړی نونیکه دپلار په درجه کې کیږي ځکه ترنورو خلکو پیاینیکه یتیم ته ترټولو زیات ورقریب دی او ترټولو زیات شفیق دی.

## فصل في الشهادة

### دافصل دوصیانو دشهادت په بیان کې دی

مصنف رحمه الله چې دوصیت له بیان څخه فارغ شونو دشهادت بیان یې شروع کړځرنګه چې وصیت اصل دی او په هغه کې شهادت یو عارض دی او عارض مؤخروي ځکه یې دشهادت احکام مؤخر ذکر کړي دي.

(۱) شهد الوصيان ان الميت أوصى لزيد معهما لغت (۲) إلا ان يدعي زيد (۳) وكذا الابنان (۴) وكذا الوشهدا لوارث صغير بمالٍ (۵) أو لكبير بما للميت (۶) ولو شهد رجلان لرجلين على ميت بدين ألف درهم وشهد الآخران للأولين بمثله تقبل وإن كانت شهادة كل فريق بوصية ألف لا

**ترجمه**: ګواهي ورکړه دوو وصیانو چې مړه وصی ګرځولی دی زید له دوئ سره نو ګواهي لغوه ده مګر داکه زید دعوی وکړه او همدارنګه ددووزامنو ګواهي او همدارنګه که دواړو ګواهي ورکړه دنابالغ وارث لپاره یا دبالغ لپاره دمړه دمال اوکه ګواهي ورکړه دوو کسانو دنورو دوو کسانو لپاره پرمړه باندې دیوزرروپو قرض او ګواهي ورکړه دوئ دلومړنیو دووشاهدانو لپاره دیوزرروپو نو ګواهي یې قبلیږي اوکه وه ګواهي دهرفریق پریوزر دوصیت باندې نو بیا نه قبلیږي.

**تشریح**: (۱) که دووصیانو داګواهي ورکړه چې موصی یوبل دریم کس مثلا زید هم له موږسره وصی ګرځولی وونوداګواهي لغوه کیږي ځکه دادوه ګواهان پخپله ګواهي کې متهم دي اودمتهم ګواهي نه معتبریږي دتهمت وجه یې داده چې دادوه کسان دخپلې دې ګواهي په ذریعه دخپل ځان لپاره یوبل معین او مددګار ثابتوي ځکه ددوئ ګواهي نه ده معتبره.

(٢)البته كه زيد خپله هم دوصى كيدودعوه وكړه اوبيادغودووگواهانوگواهي وركړه نوبيابې شكه چې دزيدوصي كيدل ثابتيږي ځكه قاضي داحق لري چې هغه له دي دوووصيانو سره يوبل وصي ملگرى كړي په دي شرط چې هغه دريم په دي راضي وي كه څه هم څوک ددغه دريم په وصي كيدوباندي گواهي ورنه كړي نوچې كله قاضي خپله دوصي مقرركيدوحق لري نودلته ددغووصيانودگواهي قبليدوحق هم لري حاصل داچې ددغه دريم تقررقاضي كړى دى البته ددغودووصيانوپه گواهي سره قاضي ددريم وصي دمتعين كيدوله مشقت څخه محفوظ شونودهغه وصي كيدل دقاضي په تقررسره شوى دى نه دگواهانوپه گواهي سره

(٣)همدارنگه كه يوسړى مړشودوه زامن يې پاتي شوهغوئ دواړوگواهي وركړه چې زموږپلارفلان شخص مثلازيدخپل وصي مقرركړى وونودهغوئ داگواهي باطليږي ځكه هغه داړه هلكان په دي گواهي كې متهم دي اودمتهم گواهي نه معتبريږي دتهمت وجه يې داده چې دوئ گواهي وركوي ددي لپاره چې دتركه يومحافظ دوئ ته ورپيداشي .

(٤)موصى مړشواودهغه دوه وصيان دي اويونابالغ ماشوم دى نوځرنگه چې دماشوم په مال كې ددغودووصيانودتصرف كولوحق شته كه دماشوم مال له تركه څخه وي ياله تركه علاوه وي اوس داوصيان ديومال په باره كې داگواهي وركوي چې فلان مال ددغه ماشوم دى نوددوئ داگواهي نه ده معتبره ځكه دوئ پخپله دغه گواهي كې متهم دي تهمت يې دادى چې دكوم مال په باره كې دوئ گواهي وركوي په هغه كې خپل تصرف ثابتوي .

(٥)قوله اولكبراى لوشهدالكبيرالخ .يعني كه دغودووصيانودموصى ديوبالغ وارث لپاره دمړه دمال گواهي وركړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدجائزنه دى اودصاحبينو رحمهما الله په نزدجائزدى ځكه چې كله وارث بالغ دى نودوصيانوپه تركه كې دتصرف كولوحق نشته لهذاپه دي گواهي كې تهمت نشته ځكه داگواهي معتبره اوجائزه ده .دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادى چې بالغ كه چيرته غائب وونودهغه دمال دحفاظت اودمنقولي مال دخرڅولوولايت وصي لره حاصل دى لهذاتهمت په دغه صورت كې هم برقراردى ځكه دهغوئ داگواهي نه ده معتبره .

**فائده** :دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لماقال المفتي غلام قادر النعماني:القول الراجح هو قول ابي حنيفة رحمه الله قال العلامة وهبة الزحيلي قال ابوحنيفة رحمه الله بطل شهادة الوصيين لوارث صغير بمال مطلقاولوارث كبير بمال الميت ..........وهذاهو الراجح لدى الحنفية(القول الراجح:٢/٣٨٧)

(٦)يوسړى مړشوبيادووكسانومثلازيداوبكرگواهي وركړه چې دمرحوم پرذمه دخالداوشاهدزرزرهمونه قرض دي همدارنگه خالداوشاهدگواهي وركړه چې پرمرحوم باندي دزيداوبكرزرزرهمونه قرض دي نودادواړه گواهياني معتبري دي اوكه هرفريق دبل په حق كې دقرض پرخاى دوصيت گواهي وركړي نودهرفريق گواهي باطله ده ځكه قاعده داده چې چيرته ددواړوفريقواشتراک ثابت شي هلته ددواړوگواهي باطليږي اوچيرته چې شركت نه ثابتيږي هلته گواهي نه باطليږي اوس دقرض په صورت كې ځرنگه چې قرض واجب في الذمه وي اوذمه داسي شى دى چې مختلف حقوق بغيراشتراک قبلوي نودلته ددواړوفريقوپه كوم

شي کې شرکت نه ثابتيږي لهذا دقرض په صورت کې ددواړوګواهي معتبره ده اودوصيت په صورت کې ددواړوفريقودحق تعلق له ترکه سره راځي له ذمه سره نه راځي ځکه ذمه خودمرګ په وجه ختمه شوه نوپه ترکه کې ددواړوفريقوشرکت ثابتيږي لهذا دواړه ګواهيانې باطليږي .

## كتاب الخنثى

داکتاب دخنثى داحکامو په بيان کې دى .

خُنثى فُعلى وزن دى له تخنث څخه دى په معنى ملائمت اونرمي دى اودخنثى په اعضاؤکې هم ملائمت اونرمي وي،په اصطلاح کې خنثى هغه زوکړې دى چې فرج اوذکردواړه لري .

له ماقبل سره يې مناسبت دادى چې اصل دادى چې دانسان لپاره يوه آله وي اوغالب الوجودهم همدادى اودوه آله درلودل نادرالوجوددى اوغالب الوجودترنادرالوجوداحق بالتقديم وي .

(۱)هو من له فرج و ذكر فإن بال من الذكر فغلام وإن بال من الفرج فأنثى (۲)فإن بال منهما فالحكم للأسبق (۳)فإن استويا فمشكل ولا عبرة بالكثرة (۴)إن بلغ وخرجت له لحية او وصل إلى النساء فرجل وإن ظهر له ثدي او لبن او أمكن وطؤه فامرأة (۵)وإن لم تظهر له علامة او تعارضت فمشكل (۶)فيقف بين صف الرجال والنساء (۷)وتبتاع له أمة تختنه فإن لم يكن له مال فمن بيت المال ثم تباع (۸)وله أقل النصيبين فلو مات أبوه وترك ابنا له سهمان وللخنثى سهم

**ترجمه** :خنثى هغه دى چې ذکراوفرج دواړه ولري بياکه يې له ذکرڅخه بولې کولې نودانردى اوکه بولې دفرج له خواکوي نوښځه ده .اوکه له دواړوخواووڅخه بولې کوي نوحکم هغه اسبق لره دى اوکه دواړه برابروي نوخنثى مشکل دى اوکثرت لره اعتبارنشته بياکه هغه بالغ شواوږيره يې راغله ياېې له ښځوسره کوروالـه وکړنودانردى اوکه يې ښکاره شوتيان ياشيدې ياحيض ورته راغى ياېې حمل ونيويا وطى ورسره ممکنه وه نودا ښځه ده .اوکه کومه علامه ښکاره نه شوه يامتعارض علامات ښکاره شول نودامشکل دى بيادرول کيږي دښځواونارينه ؤدصف په منځ کې اوورته وادي اخيستل شى منځه چې ختنه وروکړي اوکه يې مال نه درلودنودبيت المال څخه دي ورواخيستل شي بيادي خرڅ کړاى شي اوده لره له دوحصوکمه حصه ده بياکه پلارمړشويوزوى يې پاته شونوزوى لره دوې حصې اوخنثى لره يوه حصه ده .

**تشريح** :(۱)که ديوماشوم ذکراوفرج دواړه وونوداخنثى دى بياکه يې له ذکرڅخه بولې کولې نوهلک شمارل کيږي اوکه يې دفرج دخوا څخه بولې کولې نودا ښځه ګڼله کيږي،ځکه په کومه عضوه سره چې بولې کوي دادليل دى چې اصل عضوهمدا ده هغه بله عارضى ده اوپه منزله دعيب ده .

(۲)اوکه يې له دواړولاروڅخه بولې کولې نوچې له کومې عضوى نه مخکې بولې وځي هغه عضومعتبره ده اواصلى شمارله کيږي اودهغى حکم پرده باندي جارى کيږي ځکه سبقت دليل دى چې مجرى اصلى همدادى هغه بل عارضى دى ،همدارنګه له کومې عضوى نه چې مخکې بولې راوځي دهغه حکم کول کيږي بياچې کله له دوهمې عضوې نه بولې راتويږي دهغه په وجه اول حکم نه متغيرکيږي .

(۳)اوکه دواړه عضوې په سبقت کې برابرې وي نودصاحبينو رحمهما الله په نزدترکومه عضوه چې زياتې بولې تويږي هغه عضوه معتبره اواصلى شمارله کيږي اودهغى حکم پرې جاري کيږي ځکه په

ډېروا حكاموكې للاكثر حكم الكل وي، دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد كثرت دبولولره اعتبار نشته ځكه كثرت دبولو كله په يوه عضوه كې دپراخوالي اودبلې دتنګوالي په وجه سره وي لهذادادكومې عضوې داصلي كيدو ياعارضي كيدو علامه نه ده.

**فائده**: دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى لمافي الدر المختار: وان بال منهما فالحكم للاسبق وان استويا فمشكل ولاتعتبر الكثرة قال العلامة ابن عابدين رحمه الله (قوله ولاتعتبر الكثرة) لانهاليست بدليل على القوة لان ذالك لاتساع المخرج ........ وقداستقبح ابو حنيفة رحمه الله ذالك فقال وهل رايت قاضيا يكيل البول بالاواقي. الدر المختار مع الشامية: ۵/۵۱۳)

(۴) مذكوره علامات تربلوغ مخكې علامات دي، چې كله خنثى بالغ شي نوبيايې علامات دادي چې كه چيرته دهغه ږيره راشي ياله ښځوسره دوطی كولو قدرت ولري يادنارينه ؤپه شان هغه له ذكرڅخه احتلام كيږي يادهغه تيان دنارينه په شان برابروراخلي اوونه تلي نو دا خنثى بيا نرشمارل كيږي ځكه په هغه كې دنرعلامات موندل شوې دي اوكه يې دښځوپه شان تيان راختلي اووتلي ښكاره شول يايې په تيانوكې شيدې پيداشوې ياحيض ورغى يايې حمل ونيوياله هغه سره دفرج له لارې وطى كول ممكن وونو په دغوټولوصورتونوكې داخنثى ښځه شمارله كيږي ځكه داټولې دښځوعلاماتي دي.

(۵) اوكه له مذكوره علاماتوڅخه يوه علامه هم ښكاره نه شوه يامتعارض علامات ښكاره شول نوداخنثى مشكل دى چې خپل مخصوص احكام لري اجمالاً يې دادى چې په ديني اموروكې دخنثى مشكل په باره كې په احوط اواوثق باندې عمل كول كيږي اودكوم حكم په ثبوت كې چې شك وي دهغو دثبوت حكم نه كول كيږي ددغه اجمال تفصيل مصنف رحمه الله په راتلونكو عباراتوكې بيان كړيدى.

(۶) جماعت په لمانځه كې به خنثى مشكل دنارينه ؤاوښځوپه صف كې درول كيږي ځكه كيداى شي ښځه وي نوكه دنارينه ؤپه صف كې ودريږي دكوموتارينه ؤسره چې محاذات ودريږي دهغوئ لمونځ فاسديږي اوكيداى شي چې نروي نوكه دښځوپه صف كې ودريږي نودهغوئ لمونځ فاسديږي لهذااحوط واوثق دادى چې دنارينه ؤاوښځوپه صف كې ودريږي.

(۷) كه خنثى مشكل حدد شهوت ته ورسيږي (اوده ختنه نه يې شوې) نوكه له ده سره مال وي په هغه سره دې يوه مينځه واخيستله شي چې دده ختنه وروكړي ځكه دامينځه به دده مملوكه شي اومملوكه مالک ته كتلاى شي كه چيرته خنثى مشكل نروو اوكه مؤنث وه نونظرالجنس الى الجنس اخف دى. لهذاپه دې مملوكه مينځه سره دې دده ختنه وكړله شي اوكه له ده سره مال نه و، نوبيادې امام دبيت المال په مال سره مينځه واخلي (ځكه بيت المال دمسلمانانو دحوائجولپاره دى) چې دده ختنه وروكړي اودامينځه به بقدرحاجت (يعني دده ترختنه كولوپورې) دده مملوكه وي اوله ختنه كولووروسته به امام دامينځه خرڅه كړي اودهغې ثمن به بيت المال ته واپس وركړي ځكه نورضرورت نه دى پاتى.

(۸) اوپه ميراث كې خنثى ته تردووحصوكم وركول كيږي نوكه دخنثى مشكل پلارمړشي په وارثانوكې يوهلک اويوخنثى مشكل پاتى شي نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدميراث ددوى دواړونرمنځ په دريوحصوباندې تقسيميږي دهلک لپاره دوې حصې اودخنثى لپاره يوه حصه كيږي. ځكه دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدخنثى دميراث په باب كې دښځې په حكم كې دى داځكه كه خنثى هلک فرض كړاى شي نوزياته

حصه ورکوله کیږي او که انجلۍ فرض کړای شي نو کمه حصه ورکوله کیږي نو کمه حصه متیقنه ده او په زیاته کې شک دی او د شک په وجه مال نه واجبیږي البته که دهغه له خنثی مشکل نه سوا څه نور خلک هم وي یعنې که دخنثی دمؤنث فرض کیدو په صورت کې دده حصه دمذکر فرض کیدو تر صورت زیاته وي نو بیا دمذکر حصه ورکوله کیږي دمؤنث نه ورکوله کیږي مثلا یوه ښځه مړه شوه زوج ،ابوین او ولد خنثی یې پاتې شول نو مسئله به له دولسو (۱۲) څخه ښودله کیږي دری به زوج ته څلور ابوینو ته او پنځه خنثی ته ورکول کیږي په دې صورت کې که خنثی مؤنث فرض کړای شي نو خنثی ته شپږ حصې ورکولې کیږي او مسئله عائله کرځي عول یې دیارلسو ته کیږي مګر څرنګه چې دمؤنث فرض کیدو په صورت کې دده حصه تر مذکر فرض کیدو نه زیاته ده لهذا ده ته دمذکر حصه ورکوله کیږي.

**فائده**: صاحبین رحمهما الله فرمایي چې خنثی ته دنصف مرد میراث او نصف ښځه میراث ورکول کیږي همدا قول دامام شافعي رحمه الله او عامر بن شراحیل رحمه الله هم دی، بیا دامام شعبي رحمه الله دقول دقیاس مطابق په تخریج کې دصاحبینو رحمهما الله اختلاف دی. دامام محمد رحمه الله په نزد په مذکوره مسئله کې ترکه پر دولسو حصو تقسیمیږي دزوی لپاره اوه برخې او خنثی لره پنځه حصې کیږي او امام یوسف رحمه الله فرمایي چې ترکه اوه برخې کیږي څلور دزوی لپاره دري حصې دخنثی کیږي.

امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې کل ترکه څلور حصې فرضیږي خنثی ته دنصف ښځې میراث ورکول کیږي او دنصف هلک میراث ورکول کیږي چې مجموعه یې دري حصې جوړیږي ځکه دانجلۍ میراث کل دی یعنې که څلور حصې وي نو ټولې دانجلۍ کیږي چې نصف یې دوې حصې دي او دانجلۍ میراث ټول دوې حصې دي چې نصف یې یوه حصه کیږي نو چې کله دوې حصې او یوه حصه سره یو ځای شي مجموعه یې دري حصې کیږي نو دخنثی کل میراث دري حصې دي او دهلک کل میراث څلور واړه حصې دي نو چې کله هلک او خنثی دواړه سره جمع شي نو موږ به هغه حساب سره کل ترکه تقسیموو ټولې اوه حصې کیږي لهذا هلک ته څلور حصې او خنثی ته دري حصې ورکولې کیږي.

امام محمد رحمه الله فرمایي چې خنثی که چیرته هلک وي نو ټول ددوئ دواړو تر منځ نصف نصف تقسیمیږي او که خنثی انجلۍ وي نو ټول مال دري حصې کیږي دوې حصې دهلک او یوه حصه دانجلۍ کیږي موږ داسې یو عدد ته ضرورت لروچې په نصف او حصه سره تقسیم وي او کم داسې عدد شپږ دی نو دخنثی دهلک فرضیدو په صورت کې مال ددواړو تر منځ نیم نیم تقسیمیږي یعنې دواړو لره دري دري حصې ورکولې کیږي او دخنثی انجلۍ فرضیدو په صورت کې مال دري حصې کیږي دوې حصې هلک ته یوه حصه انجلۍ ته ورکوله کیږي نو ثابته شوه او خنثی لره دوې حصې خویقیني دی او شک خالص په یوه حصه زائده کې دی چې دهلک فرضیدو په صورت کې ده ته ورکوله کیده هغه حصه دې پر منځ نیمی شي نیمه دې هلک ته او نیمه دې خنثی ته ورکوله شي نو هلک ته دري کاملې حصې او یوه نیمه حصه ورکولې کیږي او خنثی ته دوې کاملې حصې او یوه نیمه حصه ورکوله کیږي نو څرنګه چې په حصوکې کسرشته ځکه موږ اصل مخرج یعنې

شپږاوددواړووارثانوسهام دوه چنده کړل چې هغه کسرله منځه ووځي نوله دولسوڅخه مسئله بنودله کیږي چې اوه حصې هلک ته اوپنځه حصې خنثی ته ورکولې کیږي .

## مسائل شتى

## متفرقه مسائل دي

دمصنفینو رَحِمَهُمُ اللهُ داعادت دی چې دکتاب په آخرکې دتیروبابونوسره متعلق څه داسې مسائل ذکرکوي چې له کوم خاص باب سره تړاونه لري ،تردي عنوان لاندي مصنف رَحِمَهُ اللهُ دکتاب له شروع څخه تردي ځایه دتیروشویودیروبابونونادرمسائل ذکرکړي دي .

(۱) إيماءالأخرس و كتابته كالبيان بخلاف معتقل اللسان في وصيته ونكاح وطلاق وبيع وشراء وقود (۲) لا في حد (۳) غنم مذبوحة وميتة فإن كانت المذبوحة أكثر تحرى وأكل وإلا لا (۴) لف ثوب نجس رطب في ثوب طاهر يابس فظهر رطوبته على الثوب ولكن لا يسيل إذا عصر لا يتنجس (۵) رأس شاة متلطخ بدم أحرق وزال عنه الدم فاتخذ منه مرقة جاز والحرق كالغسل (۶) سلطان جعل الخراج لرب الأرض جاز وإن جعل العشر لا (۷) ولو دفع الأراضي المملوكة إلى قوم ليعطوا الخراج جاز

**ترجمه** :دګونګي اشاره کول اودهغه لیکل دبیان په شان دی خلاف دهغه چې ژبه یې بنده وي په نکاح ،طلاق،خرید وفروخت اوقصاص کې نه په حدکې،څه پسونه حلال شوي دي اوڅه مردار دي پاکه مذحه پسونه زیات وونوتحری دي وکړي اودي خوري که نه بیادي نه خوري.ویبچله شوه ناپاکه کپړه په وچه پاکه کپړه کې بیابکاره شوه دهغی لمدوالی پرپاکه کپړه باندي لیکن اوبه نه ترڅخیږي که ونښتیځله شي نونه مرداریږي،دپسه سربه وینوککړوسوځول شواووینه ترې زائله شوه بیادهغه څخه شورباجوړه شوه نوجائزه ده.اوسوځول دپریمنځلوپه شان دی پاچادځمکې والاپاره خراج مقررکړنوجائزدی اوکه یې عشرمقرریبانه دی جائز،اوکه یې ورکړه مملوکه ځمکه یوقوم ته چې هغوئ اداکړي خراج نوجائزدی .

**تشریح** :(۱)دګونګي اشاره اوخط لیکل په سره دبیان کولوپه شان دی لهذادګونګي په اشاره سره وصیت کول ،نکاح کول،طلاق ورکول،خرید وفروخت کول اودقصاص اقرارکول داټول امورصحیح دي همدارنګه کددي اموروپه باره کې خط ولیکي نوهغه هم معتبردی داعقودنافذیږي ځکه دااحکام له حقوق العبادڅخه دي چې بنده حاجت اوضرورت ورته لري نودضرورت پربنیاددګونګي اشاره معتبره ګڼل شوې ده ،مګردمعتقل اللسان انسان اشاره اوخط معتبرنه دي .معتقل اللسان هغه څوک دی چې په شروع کې ګونګی نه وواوس دیوه عارض په وجه دهغه ژبه بنده شوه ددواړوترمنځ دفرق وجه داده چې اصل دانسان نطق اوکلام دی اواشارات هغه وخت قابل اعتبارات کیږي چې کله اشارات معهوداومعلوم وي اوداسې اشارات دګونګي وي اودچاچې ژبه دعارض په وجه بنده شوې ده دهغه اشارات داسې نه دي ځکه دهغه اشارات اوس شروع شوي دي خلک دهغه له اشاراتوسره مانوس نه دي لهذادهغه داشاراتوپه سنجولوکې څه مشکلات وي ځکه دهغه اشارات معتبرنه دي .البته که دهغه ژبه دډیره وخته څخه بنده وي نوبیاپه دغه وخت کې دی هم

دګونګي په حکم کيږي. دمصنف رحمه الله دقول: في وصية ونکاح وطلاق وبيع وشراء وقود. تعلق له کالبيان سره دی، يعني په دي امورو کې دګونګي اشاره او خط دڅېږي ديان په شان دی.

(۲) که ګونګی په خط او يا اشاره سره دګوم حد په باره کې ګواهي ورکړي نو دا نه معتبرېږي د مذکوره امورو او حدودو ترمنځ فرق دا دی چې په حدکې معمولي غوندي شبهه هم نه شي برداشت کيدای ځکه الحدود تندرء بالشبهات (يعني حدود د شبهې په وجه له منځه ځي) او په نورو امورو کې معمولي شبهاتی برداشت کيدای شي.

(۳) ډېر پسونه ځيني حلال شوي او ځيني مردار پر يوه ځای پراته دي او دا معلوم نه دی چې کوم مردار دي او کوم ځيني يې حلال شوي دي (ځکه د ټولو غاړې غوڅې شوې دي) که په کومه علامه سره دا معلومه شي چې دا مذبوح دي او دا مردار دي نو بيا خو خبره واضح ده چې مذبوحه خوړل کيږي او مردار نه خوړل کيږي او که هيڅ علامه نه وه نو که حلال شوي پسونه زيات وو نوله غور او فکر وروسته له د غوڅخه د هغو پسونو خوړل جائز دی د کومو په باره کې چې دده په فکر کې دا واقع شوې ده چې دا مذبوحه دي او د کومو په باره کې چې دهغه دا خيال دی چې دا مردار دي د هغو خوراک ناجائز دی ځکه د مذبوحه پسونو کثرت او غلبه هم اباحت فائده کوي هم دا وجه ده چې د مسلمانانو په ښارونو کې حرام. غلا شوي. غصب شوي او مباح شيان خرڅيږي مګر د مباح شيانو کثرت دی ځکه ويل کيږي چې د مسلمانانو په بازارونو کې خريد و فروخت جائز دی. او که دواړه برابر وو يا مردار زيات وو نو بيا د هغو خوړل ناجائز دی ځکه دلته د اباحت دليل نشته.

(۴) که يوه لمده ناپاکه کپړه په بله وچه پاکه کپړه کې ونغښتل شي نو د ناپاکی کپړې لمدوالي په هغه پاکه کپړه کې ښکاره شي مګر هغه ناپاکه کپړه دومره لمده وي چې په نښتيځلو او به نه ترې څڅيږي نو په داسي لمدوالي سره دا پاکه کپړه نه ناپاکه کيږي ځکه چې کله له ناپاکه کپړې څخه او به نه څڅيږي نو نجاست هم نه ورځه جلا کيږي البته وچه کپړه د هغې دلمدوالي په وجه څه لمديږي چې د هغې په وجه دا نه نجسه کيږي.

(۵) که يو چاپه وينو ککړ سر و سو خاوه چې د سو خولو په وجه يې وينه زائله شوه بيا له هغه ځخه شوربا تيار کړای شوه نو د هغې خوراک جائز دی ځکه په اور سوځل د پريمنځلو قائم مقام دی ولی اور په سر کې ټول نجاست سوځوي لهذا اوس په هغه کې کوم نجاست نه دی پاتی.

(۶) که پاچا د يو چا د خراجی ځمکې خراج معاف کړ نو د هغه دا معافی صحيح ده او که يې ديو چا د عشري ځمکې عشر زميندار ته ورمعاف کړ نو دا معافی يې نه ده صحيح وجه دفرق يې دا ده چې د ځمکې خراج د پاچا حق وي نو که يې پاچا معاف کړي دا معافی صحيح ده بخلاف عشر چې هغه د مسکينانو او فقيرانو حق دی چې پاچايې د معافولو اختيار نه لري د عشر په مسئله کې د عدم جواز قول اجماعی دی البته په خراج کې اختلاف دی مذکور تفصيل د امام ابو يوسف رحمه الله قول دی.

**فائده**: دامام ابو يوسف رحمه الله قول مفتی به دی لما في الهنديه: (سلطان) جعل الخراج لرب الارض جاز وان جعل العشر له كذا في الكنز وهذا عند ابي يوسف رحمه الله وقال ابو حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله لايجوز فيهما وعلى قول ابو يوسف رحمه الله الفتوى. (الهنديه: ۲/ ۲۰۰) ولی رد المحتار: حيث قال ترک السلطان او نائبه الخراج لرب الارض او وهبه له ولو بشفاعة جاز عند الثاني ......... ولو ترک العشر لايجوز اجماعا (رد المحتار: د/ ۵۱۹)

(۷)كه يو قوم دخراجي ځمكې دخراج له اداكولو څخه عاجز شو پاچا دا ځمكه نورو خلكو ته په اجاره وركړه چې دځمكې د اجرت نه دځمكې خراج اداكړاى شي نودا صحيح دى ځكه دځمكې په خراج كې دمجاهدينو حق دى نوپه بيكاره پرېښودلوكې دهغوئ حق فوتيږي اوكه له اجرت څخه دخراج داداكولووروسته څه پاتې شو نوهغه دځمكې سابقه مالكانوته وركول كيږي .

(۸)ولو نوى قضاء رمضان ولم يعين اليوم صح ولو عن رمضانين كقضاء الصلاة صح وان لم ينو اول الصلاة عليه او آخر صلاة عليه (۹)ولو ابتلع ريق غيره كفر لو صديقه والا لا (۱۰)اقتل بعض الحاج عذر في ترك الحج (۱۱)تزوجني من شدى فقالت المرأة شدم لم ينعقد النكاح (۱۲)ولو قال رجل لامرأة خويشتن را زن من گردانيدى فقالت گردانيدم وقال پذيرفتم ينعقد (۱۳)دختر خويش را به پسر من ارزانى داشتى فقال داشتم لا ينعقد منعها زوجها عن الدخول عليها وهو يسكن معها في بيتها نشوز (۱۴)ولو سكن في بيت الغصب فامتنعت لا (۱۵)قالت لا اسكن مع امتك واريدبيتا على حدة وليس لها ذلك

**ترجمه** :اوكه يې نيت وكړ دقضاء رمضان اوورځ يې معلومه نه كړه نوصحيح دى كه څه هم ددووروژو قضاء وي لكه دلمانځه قضاء چې صحيح ده كه څه هم نيت يې نه وي كړى دلومړي لمانځه يادآخري لمانځه چې دده پرذمه.دي ديوچالاښي يې تيرې كړي نوكفاره به وركوي كه داځوک هغه ته محبوب ووكه نه ياښته.دځينوحاجيانووژل كيدل عذردى حج ته دنه تلولپاره .ته زمابنځه شوې .هغې وويل هو! شوم.نونكاح نه منعقده كيږي تاځان زمابنځه كرځولى دى .هغې وويل هو! ځان مي ستابنځه كرځولى دى اوسړي وويل ماقبوله كړه يې نونكاح منعقده كيږي .تاخپله لوررما:زوى لاتقه كڼلې ده،هغى وويل هو !لاتقه مي كڼلې ده،نونكاح نه منعقده كيږي .ښځې منع كړخپل خاوندهغي ته له ورتلوڅخه په داسې حال كې چې دى له دې سره يوځاى ددې په خونه كې اوسيږي نافرماني ده كه دى اوسيږي دغصب په كوركې ياښځه منع شوه نوپه دې صورت كې نافرمانه نه كڼله كيږي .ښځې وويل چې زه نه اوسيږم ستاله منځې سره يوځاى اودجلاكور مطالبه يې وكړه نوهغې لره داحق نشته .

**تشريح** :(۸)كه دچاله ذمې څخه درمضان مبارک څوروژې قضاشوې وي هغه قضائى روژه ونيوه مګردانيت يې ونه كړچې فلانۍ خاصه ورځ روژه ده نودده داروژه قضائى روژه شمارله كيږي.اوكه يې ديوې قضائى روژې په نيولوكې ددووقضائى روژونيولونيت كړى وونودانيت صحيح دى مګرروژه :يوې رمضان روژه شمارله كيږي.لكه دلمانځه قضاء مثلاديوچاپرذمه ډيرلمونځونه ووهغه ديوه لمانځه قضاء راوړه نوداجائزدى كه څه هم دانيت يې نه ووكړى چې ترټولولومړى قضائى لمونځ دى ياآخري لمونځ دى مګرددوروژوياددوولمونځوپه باره كې دااقول دبعض حضراتودى .اصح دادى چې په لمانځه اوروژه كې تعين ضروري دى اوكه يې تعين نه شوكولاى نوداسې نيت دي وكړي چې زماپرذمه چې دماسپښين لومړى لمونځ قضاء باقي دى دهغه قضاء كوم .

(۹)كه يوه روژتې ديوچالاښي تيرې كړي نوچې دچالاښي يې تيرې كړي دي كه چيرته هغه دده محبوب اومعشوق وونوپرتيرونكي باندي دروژې كفاره لازميږي ځكه دمحبوب له لاښوڅخه طبيعت كراهت نه محسوسوي لهذادمحبوب دلاښوحكم ددوډۍ خوړلودى اوكه هغه دده محبوب نه وونوپرده باندي كفاره نه

لازميږي ځکه دغير محبوب له لاړو ځخه طبيعت كراهت محسوسوي اوپه داسې شي سره كفاره نه لازميږي له كوم ځخه چې طبيعت كراهت محسوسوي، البته دهغې روژې قضاء پرلازمه ده .

(۱۰)كه مكې مكرمې ته تلونكي حاجيان په لاره كې ووژل شونوداپه دغه كال حج ته دنه تلوپه باره كې دخلكولپاره عذردى ځكه په لاره كې امن نشته چې حج ته دتللو له شرائطو ځخه يو شرط دى .

(۱۱)كه چاپردې ښځې ته وويل :توزن من شدى ،يعنې ته زمامينه شوې يې ،هغې په جواب كې ورته وويل :شدم ،شوې يم .په دې سره نكاح نه منعقده كيږي ځكه دسړي دغه الفاظ پرايجاب باندې دال نه دي،اوكه چاپيګانه ښځې ته وويل :خويشتن رازنى من كردانيد ،يعنې تاځيل ځان زما ښځه ګرځولى دى ،هغې په جواب كې ورته وويل :ګردانيدم،يعنې ګرځولى مې دى،په دې باندې هغه سړي وويل :پذيرفتم.يعنې ماقبوله كړې يې،نوپه دې سره نكاح منعقده كيږي ځكه دهغه په كلام كې ايجاب اوقبول دواړه پيدا دي .

(۱۲)كه يوچابل چاته وويل :دخترخودرابه پسرمن ارزانى داشتى،يعنې تاځپله لورزمادزوى لائقه كړې ده،هغه په جواب كې ورته وويل :داشتم،كړې مې ده،نوپه دې سره نكاح نه منعقده كيږي ځكه دهغه داكلام پرايجاب اوقبول مشتمل نه دى ،ځكه خپله لوردبل چادزوى په لائقه كولوسره ددوئ ترمنځ عقدنكاح نه حاصليږي .

(۱۳)كه يوې ښځې خپل خاوندخپل ځان ته دراتلوځخه منع كړحال داچې داخاوندله پخوا ځخه له دې سره ددې په مكان كې اوسيده نودامنع كول دښځې نافرماني شمارله كيږي ځكه داخپل ځان بلاوجه له خاوندځخه منع كوي لهذاپه دې وخت كې ددې ښځې نان ونفقه ددغه خاوندپرذمه نه واجبيږي ځكه دنافرمانې ښځې نان ونفقه دخاوندپرذمه نه كيږي .

(۱۴)كه خاونددچامكان غصب كړى وواودغه دغصب په مكان كې دى اوسيده اودابنځې ځان ته له ورتلوځخه منع كړنوبيادابنځه نافرمانه نه ګڼله كيږي ځكه ښځه حق په جانب ده ولې په داسې مكان كې اوسيدل حرام دى لهذاددې ښځې نان ونفقه دخاوندپرذمه هم هغسې لازمه ده .

(۱۵)كه يوه ښځه خپل خاوندته ووايې چې زه ستاله منځې سره نه اوسيږم اوزه عليحده مكان غواړم نوښځه داحق نه لري ځكه خاوندخادم ته ضرورت لري ځكه دابنځه په دې خبره سره منځه نه شي جلاكولاى .

(۱۶)قالت مراطلاق ده فقال داده ګيراوكرده ګيراوداده باداوكرده باد،ينوى ولوقالَ داده است اوكرده ايست يقع نوك ولاولوقال داده انكاروكرده انكارلايقع (۱۷) وان نوى وى مرانشايد تاقيامت أوهمه عمر ) لايقع إلا بنية حيله زنان كن إقرار بالثلاث جيله خويش كن لا (۱۸) كابين ترابخشيدم مراازجنګ بادار،إن طلقها سقط المهر وإلا لا (۱۹) ولو قال المولى لعبده يا مالكي وقال لأمته انا عبدك لايعتق برمن سوګنداست كه اين كارنكنم فهذا إقرار باليمين بالله تعالى وان قال برمن سوګنداست بطلاق زمه ذالك فإن قال قلت ذالك كذبا لايصدق (۲۰) ولوقال مراسوګندخانه است كه اين كارنكنم فهو إقرار باليمين بالطلاق قال للبائع بهابازده فقال البائع بازبدهم يكون فسخاللبيع (۲۱) وان فعلت كذاماذمت ببخارافخرج منها ورجع وفعل لايحنث باع اثاثايدخل تحتهافي البيع

**ترجمه**: ښځې وويل ماته طلاق راکړه او خاوند ورته وويل درکړی مې وګڼه ياشوی یې وګڼه یادربه کړای شي یاوبه کړای شي نو نیت به معلومول وي او که یې وويل درکړی مې دی یاکړی مې دی نو طلاق واقع کیږي که یې نیت وي او که یې نه وي. او که یې وويل درکړی یې وبوله یاکړی یې وبوله نو نه واقع کیږي که څه هم نیت یې کړی وي .دازه ترقیامته یاټول عمر په کارنه لرم نو طلاق نه واقع کیږي مګر په نیت سره ته دښځو حیله وکه داقرار دی په دریو طلاقو سره ته خپله حیله وکړه نه دی اقرار .تاته مې دربخښلی دی مهر ماله خپل جنجال ځنې لیري کړه .که یې طلاق ورکړ مهر ساقطیږي که نه بیانه ساقطیږي .خپل مریی ته یې وويل ای زما مالکه! یایې منځې ته وويل زه ستامریی یم .نه آزادیږي .پرماقسم دی چې زه داکارنه کوم .اقراردی دالله تعالی په قسم سره او که یې وويل زماقسم په طلاق سره نولازمیږي پرده باندې دا .بیاکه ده وويل چې مادروغ ويلي دي نو دده تصدیق نه کول کیږي .او که یې وويل زماقسم دی په کورسره چې داکار کوم نو دااقراردی دطلاق دقسم .بائع ته یې وويل بیایې قیمت کړه بائع وويل بیایې قیمت کوم نو داد بیع فسخ کیږي که مادا کار وکړ ترڅو چې زه په بخارا کې یم بیاله بخارا څخه ووت اوواپس راغی هغه کاریې وکړ نو نه حانث کیږي که یې خره خرڅه کړه نو دهغې بچی (کوترکی) په بیع کې نه داخلیږي .

**تشریح** :(۱۶)که ښځې خپل خاوندته وويل :مراطلاق ده .یعنې ماته طلاق راکړه .هغه په جواب کې ورته وويل :داده گیر .یعنې درکړی یې وګڼه .یاکرده گیر .یعنې کړی یې وبوله .یایې وويل :داده باد .درکړل شوی یې فرض که .یایې وويل :کرده باد .فرض که داکارشوی دی .که په دې څلوروالفاظو سره هغه دطلاق ورکولو نیت کړی وو نو طلاق واقع کیږي او که یې نیت نه وو کړی نو هسې داکلمات په خوله ویلو سره طلاق نه لویږي .ځکه داالفاظ له کنایاتو څخه دي لهذا په دې کې نیت معتبردی .او که خاوندپه جواب کې ورته وويل چې درکړی مې دی یاکرده است یعنې کړی می دی نو فوراطلاق واقع کیږي که یې نیت وي وکه نه وي ځکه دااخبارعن الطلاق دی په هرصورت طلاق په واقع کیږي او که یې وويل داده انګاز یعنې درکړی یې فرض که یایې وويل :کرده انګاز .یعنې کړی یې فرض که نوپه دې سره طلاق نه واقع کیږي که څه هم دطلاق نیت یې کړی وي ځکه دااخبارعن الطلاق نه دي ولې معنی یې داده چې ته فرض که چې طلاق واقع دی لهذاپه دې سره طلاق نه واقع کیږي .

(۱۷)که خاونددخپلې ښځې په باره کې وويل :مرانشاید تاقیامت اوهمه عمر .یعنې مالره ترقیامته یاپه ټول داپکارنده ده .په دې الفاظو سره بغیرنیت دطلاق طلاق نه واقع کیږي ځکه داالفاظ له کنایاتو څخه دي چې بغیردنیت نه طلاق نه واقع کیږي .او که خاوندښځې ته وويل :حیله زنان کن .ته دښځو حیله وکړه .داخبره ددریو طلاقونو اقراردی ځکه داعدة دشمارپه معنی دی چې له دریو طلاقونو څخه کنایه ده او که یې ورته وويل :حیله خویش کن .ته خپله حیله وکړه .نو دادریو طلاقونو اقرارنه دی ځکه داپه عرف کې له طلاق څخه کنایه نه ده .

(۱۸)که يوې ښځې خاوندته ووېل :کابين ترابخشيدم مراازجنگ بازدار،يعنې ماتاته مهردربخښلی دی نورماته له جګړوڅخه نجات راکړه،نوکه چيرته ددې په جواب کې خاونددې ته طلاق ورکړنوطلاق واقع کيږي اومهرساقطيږي که نه بيانه ساقطيږي ځکه ښځه ګواکې پرمهرباندې خلع کول غواړي يادمهرپه عوض طلاق غواړي چې کله طلاق ورنه کول شي نودهغې دمهرساقطيدوهم هيڅ وجه نشته .

(۱۹)که مولی خپل مريی ته داسې ووېل :ای زمامالکه! ياپې خپلې منځې ته ووېل :زه ستامريی يم نوپه دې خبره سره مريی اومنځه نه آزاديږي ځکه داالفاظ په اعتاق کې نه صراحةً اونه کنايةً استعماليږي،اوکه چاووېل برمن سوګنداست که اين کارنه کنم،يعنې پرمادی قسم وي چې زه به داکارنه کوم،نوداخبره په الله تعالی سره دقسم خوړلواقراردی بياکه ده داکاروکړنوحانث کيږي اوپرهغه باندې کفاره لازميږي اوکه چاووېل :برمن سوګنداست بطلاق،زماپه طلاق قسم دی که زه به داکارنه کوم،نوداقسم دهغه پرذمه کيږي ځکه داله يمين منعقده څخه اخباردی بياکه هغه وروسته داکاروکړنودهغه ښځه طلاقه کيږی اوکه وروسته ده ووېل چې مادروغ ويلي وونوده دويناته هيڅ اعتبارنه ورکول کيږي ځکه په سابق کې ديمين منعقده په باره کې له اخبارورکولوڅخه رجوع ده لهذاده تصديق نه کول کيږي .

(۲۰)که چاووېل :مراسوګندخانه است که اين کارنه کنم،يعنې زمادې په کورقسم وي چې زه به داکارنه کوم نوداد طلاق دقسم اقراردی ځکه دقسم مداربرعرف باندې دی اوپه عرف کې کورله ښځې څخه کنايه ده ځکه په داډول الفاظوسره دطلاق قسم منعقدکيږي اوکه مشتري بائع ته ووېل :بهابازده،يعنې قيمت يې بياوبنايه،بائع په جواب کې ووېل چې بيانوم يې نودداوړپه دې خبروسره بيع فسخ شوه ځکه قيمت بياغوښتل اوواپس کول فسخ بيع ده .

(۲۱)اوکه چاووېل :زه چې ترڅوپه بخاراکې يم که مي فلان کاروکړنوزماښځه طلاقه ده،بيادی له بخاراڅخه ولاړی اودوباره راغی هغه کاريې وکړنودده پرښځه باندې طلاق نه واقع کيږي،که چاداسې يوه خره څخه کړه چې بچې (کوتړکی) هم ورسره وونوداکوتړکی په بيع کې نه داخليږی . دادوې مسائلی دکنزپه اکثرونسخوکې نه پيداکيږي .

(۲۲)العقارُ المُتنازَعُ فيه لايُخرجُ من يدِ ذي اليدِ مالم يُبَرهِن المدعی (۲۳)عقارٌ لافي وِلايةِ القاضي لايَصِحُّ قضاؤُهُ فيه (۲۴)إذاقضی القاضي في حادثةٍ ببيّنةٍ ثم قال رجعتُ عن قضائي أوبدالي غيرُ ذلک او رقفت في تلبيس الشهودِ او أبطلتُ حُكمي وَنحو ذلک لايُعتَبرُ وَالقضاءُ ماضٍ إن كان بعدَ دعوی صحيحه وَشهادةٍ مستقيمةٍ (۲۵)خباقوما لم نسألْ رجلاعن شيءٍ فأقرّ بهٖ وهم يرَونه ويَسمعون كلامَهُ وَهو لايَراهم جازت شهادتُهم (۲۶)وإن سمعوا كلامَه ولم يروه لا (۲۷)باع عقاراوبعضُ أقاربه حاضرٌ يَعلمُ البيعَ ثم ادّعی لاتُسمعُ دعواهُ (۲۸)وَهبت مهرَها لزوجِها فماتت فطالبَ ورثتُها بمهرِها وقالوا كانت الهِبةُ في مرضِ موتِها وقال بل في الصحّةِ فالقول له (۲۹)أقرّ بدينٍ او غيرِه ثم قال كنتُ كاذبًا فيما أقررتُ حلفَ المُقرّ له أنّ المُقرّ ما كان كاذبًا فيما أقرّ به ولستَ بمُبطِلٍ فيما ادّعيتَ عليه (۳۰)والإقرارُ ليس بسببٍ للمِلكِ

ترجمه :متنازع ځمکه دقابض له قبضې څخه نه وځي ترڅوچې مدعی بيّنه قائم نه کړي،يوه ځمکه ده چې دقاضي په ولايت کې نه نوصحيح نه ده دهغه فيصله په هغې کې ،کله چې قاضی فيصله وکړي په يوه مقدمه

کې په ګواهانو سره بیاوواییې چې مارجوع کړې ده له خپلې فیصلې څخه یاماته ښکاره شو دخپلې فیصلې خلاف یازه واقع شوی وم دګواهانو په دام کې یاماخپله فیصله باطله کړه یاداسې نور څه وویل نو دې ته اعتبارنشته او فیصله نافذه کیږي که صحیح وه دعوی اوله شهادة مستقیمه وروسته. څه خلک یې پټ کړل بیایې له یوه سړي څخه سوال وکړدیوشي په باره کې هغه اقرار وکړ دهغه شي او دکمرې خلکو ولیدی او دده خبرې یې اوریدلې او دغه سړي دوئ نه لیدل نو جائزه ده ګواهي او که هغوئ دده خبرې اوریدلې او دی یې نه لیدی نو بیا نه ده جائزه. چې خرڅه کړې خمکه او ښځه قریبان یې حاضرو وچې هغوئ په بیع باندې خبروو بیا ده دعوی وکړه نه اوریدله کیږي. ښځې خپل مهر خپل خاوند ته هبه کړ بیا مړه شوه مطالبه وکړه ددې وارثانو ددې دمهر له خاوند څخه او وویل دوئ چې هبه شوې وه دهغې په مرض موت کې او خاوند وویل چې په حال دصحت کې شوې وه نو دخاوند قول معتبریږي اقرار یې وکړ دقرض یابل شي بیایې وویل چې مادروغ ویلی دې په هغه کې چې مااقرار کړی دی نو له مقرله څخه قسم اخیستل کیږي چې دی دروغجن نه وو یخپل اقرار کې اوزه پرباطل نه یم په هغه کې دکوم شي چې زه دعوی کوم په دې سره اقرار دملک سبب نه دی.

**تشریح**:(۲۲)متنازع فیه خمکه دقابض له لاسه نشي اخیستله کیدای ترڅو چې مدعی پردې باندې ګواهان پیش نه کړې چې داخمکه دمدعی علیه په قبضه کې ده ځکه دمدعی خالص دومره ویناچې متنازع فیه خمکه دمدعی علیه په قبضه کې ده ددعوی دصحت لپاره کافي نه ده بلکې ددعوی دصحت لپاره دمدعی علیه قبضه په ګواهانو سره ثابتول ضروري ده.

(۲۳)کومه متنازع فیه خمکه چې دکوم قاضي زیرحکومت نه وي دهغې په باره کې دهغه قاضي حکم صحیح نه دی ځکه قاضي پرداسې خمکه باندې ولایت نه لري. مګرصحیح دادی چې دمتنازع فیه خمکه دقاضي زیرحکومت کیدل ضروري نه دی لمافي التنویر وشرحه عقار لافي ولاية القاضي يصح قضائه فيه كمنقول هو الصحيح.

(۲۴)که په یوه مقدمه کې قاضي دګواهانو په ګواهي سره یو حکم صادر کړاو بیایې وویل چې زه له خپلې فیصلې څخه رجوع کوم یایې وویل چې ماته دخپلې فیصلې خلاف ثابت شو یایې وویل چې زه دګواهانو په چل کې راګیر شوم یایې وویل چې ماخپله فیصله باطله کړه یایې دې ته ورته بل څه وویل نو دې ویناته هیڅ اعتبار نشته او کوم حکم چې مخکې ورکول شوی دی هم هغه بحال پاتیږي په دې شرط چې دعوی حق وګواهانو سم وي ځکه دقاضي لومړنی رایه ته په قضاء سره ترجیح حاصله شوې ده لهذا اوس په دې دویمه رایه او اجتهاد سره سابقه رایه نه ماتیږي.

(۲۵)که چاڅه خلک په یوه کمره کې پټ کړل او بیایې له یوه نفر څخه چې مدعی علیه وودیو شي سوال وکړچې زما فلان شی له تاسره شته که نه هغه اقرار وکړ او داپه کمره کې خلک هغه ویني او دهغه اقرار وغیره اوري په داسې حال کې چې اقرار کونکی دوئ لره نه ویني نو پردغه اقرار باندې ددې خلکو ګواهي صحیح کیږي ځکه دادانیکې شهادت لپاره علم شرط دی لقوله ﷺ: اذاعلمت مثل الشمس فاشهد والافدع. او داشرط پرځای شوی دی لهذا دهغوئ ګواهي صحیح ده.

(۲۶)که چیرته دغو خلکو د مقرخبرې اوريدلی مگر هغه يې نه ليدی نوبيادوئ گواهي دهغه دااقرارپه باره کې نه قبليږي ځکه آوازديوچاله بل چاسره مشابه کيدای شي ممکن چې مِقرکوم بل څوک وي نوخالص پرآوازاوريدوباندې گواهي ته اعتبارنه ورکول کيږي .
(۲۷)که چاپوه ځمکه خرڅه کړه اودهغه يوقريب هلته په دې وخت کې موجودووچې دده په بيع ډيرښه خبروواوس که داقريب په دغه ځمکه دعوی وکړي چې دازماده ياپوڅه يې زماده نوددې سرې دادعوی نه اوريدله کيږي ځکه دبيع په وخت کې دهغه موجودگی دهغه له جانبه ددې خبرې اقراردی چې داځمکه دبائع مِلک دی اوزماپکې هيڅ حق نشته .
(۲۸)که يوې ښځې خپل مهرخپل خاوندته وروبخښه بيابځه مړه شوه له هغه وروسته دهغې وارثانوله خاوند دمهرمطالبه وکړه اودمهربخښلوپه باره کې يې ووېل چې هغې په مرض موت کې مهربخښلی وو ،اوخاوند ووېل چې دصحت په حالت کې يې بخښلی وونوبيادې وارثان پرخپله دعوی باندې گواهان پيش کړي که نه بيادخاوندقول ته اعتبارورکول کيږي ولې وارث پرزوج باندې دمهردعوی کوي اوزوج منکردی اوقول دمنکرمعتبريږي .
(۲۹)که يوه سړي دبل په قرض وغيره سره اقراروکړبيايې ووېل چې داماددروغواقرارکړی دی نومقرله ته دې داسې قسم ورکول شي چې والله دامقرپخپل اقرارکې دروغجن نه دی اونه زه پخپله دعوی کې دروغ وايم ،داامام ابويوسف رحمه الله قول دی ،طرفين رحمهما الله فرمايي چې له مقرله څخه قسم نه اخيستل کيږي ځکه اقرارشرعًاحجت دی دهغه په وجودکې دقسم ضرورت نشته لکه دگواهانوپه وجودکې ،امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې دقرض اخيستلو او ورکولوپه وخت خلک داسې يوخط ليکي نوپرداسې موقع باندې خالص اقرارکافي نه دی .
(۳۰)اقرارکول دمِلک سبب نه شي کيدای مثلاًکه زيددبکرلپاره په څوروپوسره اقراروکړچې په واقعه کې دزيدپرذمه نه وې اوبکرپوهيږي چې دی پخپل اقرارکې دورغجن دی نودااقراردبکرلپاره ددغوروپو دمالک کيدوسبب نه شي کيدای بلکې دهغه عهدله مخې چې دبکراودالله تعالی ترمنځ دی بکرلره ددې مال اخيستل صحيح نه دی که څه هم حاکم په دې دعوی سره ضرورهغه وراخلي مگرداد نيوی حکم دی په آخرت کې دهغوحساب ورکول ضرورشته،البته که زيدپخپله خوښه رضاسره ورکړي نوداورکول ازسرنومالک گرځول دی په هغه دروغجن اقرارسره يې مالک نه گرځوي .

(۳۱)قال لآخر وكلتك ببيع هذا فسكت صار وكيلا وكلها بطلاقها لا يملك عزلها (۳۲)وكلتك بكذا على إني متى عزلتك فأنت وكيلي يقول في عزله عزلتك ثم عزلتك (۳۳)ولو قال كلما عزلتك فأنت وكيلي يقول رجعت عن الوكالة المعلقة وعزلت عن الوكالة المنجزة (۳۴)قبض بدل الصلح شرطا إن كان دينا بدين (۳۵)ادعى رجل على صبي دارا فصالحه أبوه على مال الصبي فإن كان للمدعي بينة جاز إن كان بمثل القيمة أو أكثر مما يتغابن الناس فيه وإن لم يكن للمدعي بينة أو كانت غير عادلة لا وإلا لا (۳۶)قال لا بينة فبرهن او لا شهادة لي فشهد تقبل (۳۷)للإمام الذي ولاه الخليفة أن يقطع أنسانا من الطريق الجادة إن لم يضر بالمارة (۳۸)ومن صادره السلطان ولم يعين بيع ماله فباع ماله صح

(۲۹)خوفها بالضرب حتى وهبته مهرها لم يصح ان قدر على الضرب (۳۰)وإن أكرهها على الخلع وقع الطلاق ولا يلزم المال (۳۱)ولو أحالت انسانا على الزوج بالمهر ثم وهبت المهر للزوج لا يصح

**ترجمه** :ويې ويل بل چاته چې ماوكيل كړى يې ته ددي شي په خرڅولو سره .هغه خاموش پاتى شونو وكيل شو،خپله ښځه يې وكيله وګرځوله دهغې دطلاق نونه مالک كيږي دهغه دمعزول كيدو .ماته وكيل كړى يې ددي كارپه دي شرط چې كله زه تامعزول كړم نوته زماوكيل يې،وايې به دهغه دمعزول كيدولپاره چې ماته معزول كړى يې ماته معزول كړى يې .اوكه يې وويل چې كله زه تامعزول كړم نوته زماوكيل يې نووايې به مارجوع كړي ده له معلق وكالت څخه اوته مې معزول كړى يې له موجوده وكالت څخه،بدل صلح قبض كول شرط دى كه صلح دين وه ددين عوض كه نه بيانه ده،يوچادعوه وكړه پرماشوم باندي دمكان ياصلح وكړه له هغه سره دهغه پلاردماشوم پرمال باندي نوكه له مدعي سره بيّنه وونوجائزدى كه مثل قيمت وويادومره زيات چې خلک دومره نقصان برداشتوي اوكه نه وولههغه سره بيّنه ياغير عادل وونوجائزنه دى ويې ويل چې له ماسره بيّنه نشته بيايې بيّنه قائم كړل يايې وويل چې له ماسره ګواه نشته بيايې ګواهان راوستل نوقبليږي .دهغه امام حق شته چې خليفه متصرف ګرځولى وي ددي چې وركړي څمكه يوانسان ته له عامى لاري نه كه ضررنه ووتيريدونكولره .څوک چې پاچاجرمانه كړى وي اودايې نه تعين كړى چې خپل مال خرڅ كړه هغه خپل مال خرڅ كړنوصحيح دى .ويې ويروله خپله ښځه په وهلوسره آن تردي چې هبه كړهغې خپل مهرده ته نوصحيح نه دى كه هغه قدرت درلودپروهلوباندي اوكه يې ښځه خلع كولوته مجبوره كړه نوواقع كيږى طلاق اومال نه ساقطيږى اوكه ښځې حواله كړيوڅوک پرزوج باندي بياهغې هبه كړمهرزوج ته نوصحيح نه دى .

**تشريح** :(۳۱)يوه سړي بل ته وويل چې ماته ددى شي دخرڅيدولپاره وكيل ګرځولى يې،هغه خاموش پاتى شونووكيل ګرځي څكه پرداسې موقع باندي دهغه خاموشي اودوكالت نه ردول دوكالت دقبليدودليل دى .اوكه چاخپله ښځه وكيله وګرځوله چې ته خپل ځان ته طلاق وركړه نوبياداخاوندهغه ښځه له وكالت څخه نه شي معزول كولاى څكه خاوند طلاق دښځې ترفعل معلق كړى دى نوپه دي كې ديمين معنى راځى اوله يمين څخه رجوع صحيح نه ده .

(۳۲)يوسړي بل ته وويل مادهغه كارلپاره ته وكيل ګرځولى يې په دي شرط چې كله زه تامعزول كړم نوته زماوكيل يې نوكه وروسته داموكل غوښتل چې هغه معزول كړي نودوه ځله به داسې وايې چې ماته معزول كړى يې ماته معزول كړى يې ،نوهغه معزول كيږي،دوهم ځل داويل چې ماته معزول كړى يې څكه ضروري دى چې هغه كوم وكالت پرمعزول كيدوباندي معلق كړى وولههغه څخه هم معزول شي .

(۳۳)كه موكل ديوچادوكيل كيدوپه وخت داسې ويلي ووچې كله زه تامعزول كړم نوته زماوكيل يې نوداسې وكيل كه موكل معزول كاوه نوداسې به وايې چې ماچې كوم وكالت مشروط اومعلق كړى وولههغه څخه مارجوع وكړه اواوس چې كوم وكالت دى له هغه نه مې ته معزول كړى يې څكه كه چيرته له رجوع كولوبغيرله وكالت منجزه څخه هغه معزول كړي نوبياهغه وكيل ګرځي ولى كلمه دكلماترغيرمتناهى حدپورى تكرارافعال غواړي لهذاله رجوع بغيرمعزول كول مفيدنه ثابتيږي .

(٣۴)که دچاپرذمه څه روپۍ قرض وي اودی دقرض په بدله کې پرقرض ورکولوباندی صلح وکړي مثلا ديوسري پرذمه ديرش روپۍ وي هغه انکاروکړمدعي ګواهان پيش کړل له هغه وروسته شل روپۍ دوې مياشتې وروسته ورکولوباندي صلح وشوه نودصلح پرهغه بدل باندي دلته په ناست مجلس کې قبض دهغی صلح دصحيح کيدولپاره شرط دی ځکه دعقدمداينت په وجه چې قرض غوښتونکی دکوم شي مستحق ګرځي دهغه پرغيرباندي صلح کول پرعقدمعاوضه باندی حمل کيږي نوداعقدصرف ګرځي ځکه ترافتراق مخکې دعوضينو قبضول ضروري دی اوکه دقرض صلح پرقرض واقع نه شوه نوپه هغه مجلس کې قبض هم نه شرطيږي .

(٣۵)که چاپرنابالغ ماشوم باندي دمکان دعوی وکړه اودهغه ماشوم پلاردهغه له مال څخه څه ورکړل له مدعی سره يې صلح وکړه نوکه چيرته مدعي دخپلی دعوی ثبوت په ګواهانوسره ورکړاودماشوم پلارروپۍ هم دمکان دقيمت برابرورکړې وي ياېې دومره زياتې ورکړې وي چې هغومره زيادت خلک په قيمتونوکې کوي نوبيادا صلح صحيح ده ځکه په دې کې دماشوم فائده ده چې دهغه خپل مکان سالم ورته پاتی شی که نه مدعي دی ګواهان پيش کړي هغه به مکان اخلی .اوکه له مدعي سره ګواهان نه وويا ګواهان وومګردګواهي قابل نه وومثلاعادل نه وونودا صلح نه صحيح کيږي ځکه په دی صورت کې دماشوم مکان ته دمدعي له خوا څخه هيڅ خطره نشته پلارهم چې دماشوم مال په صلح کې ورکوي تبرع کوي چې دهغه حق نه لري .

(٣۶)که مدعی لومړی داېيان وکړچې له ماسره دخپل دی حق پردعوی باندي ګواهان نشته بيايې ګواهان پيش کړل نوداګواهان مقبول کيږي ځکه دهغه دقول اوعمل ترمنځ تطبيق داسی دی چې لومړی يې دهيرې په وجه انکاروکړبيايې په يادشول ګواهان يې پيش کړل لهذادهغه دګواهانودقبليدوهيڅ مانع نشته .ياګواهانو وويل چې دفلان سري په دی دعوی کې زموږ ګواهی نشته اوبيايې دهغه پردعوی باندي ګواهي ورکړه نوداګواهي قبليږي ځکه په دی صورت کې هم په پورتنی مذکوره طريقه سره تطبيق ممکن دی .

(٣٧)کوم حاکم ته خپله پاچاعهده ورکړې وي هغه ته دااختيارشته چې له عامې لارې څخه يوچاته يوقطعه ځمکه ورکړي په دې شرط چې پردې عامه لاره باندي تيريدونکوته په هغه سره تکليف ونه رسيږی ځکه امام المسلمين ته دعاموخلکوپه حق کې دداسی تصرف حق حاصل دی چې په هغه کې دمسلمانانوفائده وي اوحاکم ځرنګه چې دامام المسلمين نائب وي ځکه هغه ته هم دااختيارشته .

(٣٨)هغه ځوک چې پاچاجرمانه کړی وي اودايې معلومه کړې نه وي چې دی دي خپل مال خرڅ کړي جرمانه دي اداکړي بلکې له هغه څخه دمقدارمعين مطالبه وي نودجرمانه په سبب هغه ته دخپل مال خرڅول صحيح دی ځکه داخرڅلاوپخپل اختياردی دپاچاله جانبه پرهغه باندي هيڅ زوراوجبرنه دی راغلی .اوکه پاچاداحکم کړی ووچې ته خپل مال خرڅ کړه جرمانه اداکړه په دي صورت کې دهغه خرڅول نه صحيح کيږي ځکه داپه زور خرڅول دی دده پخپله خوښه خرڅول نه دی .البته که بياهم دی پخپله خوښي سره قيمت واخلی وبيع صحيح کيږي ځکه بيامانع له منځه ځي .

(۳۹) که چاځپله ښځه په وهلوټکولوسره وویروله چې داځپل مهروبخښي چې بیاهغې دوهلوله ډاره مهروبخښه نوکه واقعاخاونددا وهله نوبیاددې بخښه صحیح نه ده ځکه داپه خوښې بخښل نه بلکې دمجبورۍ له لارې بخښل دی. اوکه یې نه وهله هسې یې داروله اوبیاښځې مهروبخښه نودابخښنه صحیح کیږی ځکه په دې صورت کې زورنه ثابتیږي چې دنه صحیح کیدوسبب وو.

(۴۰) که خاوندښځه دخلع اخیستلوته مجبوره کړه ښځې خلع وکړه اوبدل خلع یې هغه مهروګڼه کوم چې دخاوندپرذمه واجب دی نوپه دې خلع سره طلاق واقع کیږي، ځکه دمکره طلاق واقع کیږي اوبدل خلع یعنې هغه مال چې دخاوندپرذمه دی نه ساقطیږي بلکې هغه به دی ښځې ته حواله کوي ځکه دمهردسقوط لپاره رضامندي شرط ده چې دلته نشته.

(۴۱) دیوې ښځې پرذمه څه قرض ووهغه قرض دی ښځې دځپل مهرپه عوض کې دځپل خاوندپرذمه وروااړاوه یعنې قرض غوښتونکی ته یې وویل چې زماله خاوندڅخه دځپل قرض په بدل کې زمامهرواخله، بیایې مهرخاوندته وروبخښه نودهغې دابخښنه نه صحیح کیږي ځکه له هغه سره دبل چایعنې قرض غوښتونکي حق متعلق شوی دی اوس ښځې ته دهغه اختیارنه دی پاتی.

(۴۲) اتخذ بئرا في ملكه أو بالوعة فنز منها حائط جاره فطلب تحويله لا يجبر عليه وإن سقط الحائط منه لم يضمن (۴۳) ولو عمر دار زوجته بماله بإذنها فالعمارة لها والنفقة دين عليها ولنفسه بلا إذنها فله ولها بلا إذنها فالعمارة لها وهو متطوع (۴۴) ولو أخذ غريمه فنزعه إنسان من يده لم يضمن (۴۵) في يده مال إنسان فقال له سلطان ادفع إلي هذا المال وإلا اقطع يدك أو أضربك خمسين فدفع لم يضمن (۴۶) وضع منجلا في الصحراء ليصيد به حمار وحش وسمى عليه فجاء في اليوم الثاني ووجد الحمار مجروحا ميتا لم يؤكل (۴۷) كره من الشاة الحياء والخصية والغدة والمثانة والمرارة والدم المسفوح والذكر ونخاع الصلب

**ترجمه**: یوځپل مِلک کې یې څاه (کوهی) جوړکړیایې دمرداري دایستلونالی جوړه کړه بیادهغه لمدوالی دګاونډي دیوال ته ورسید او هغه مطالبه وکړه چې دانالی یاڅاه کوم بل طرف ته واړوي نوجبربه نه پرې کوي بیاکه دیوال ړنګ شونونه ضامن کیږي آبادي یې جوړه کړه دښځې په مکان کې ځپل مال سره دهغې په اجازه سره نوآبادي دښځې کیږي اومصرف یې دهغې پرذمه کیږي اوکه یې دځان لپاره آبادي وکړه دهغې داجازت بغیرنوبیاآبادي دخاوندکیږي اوکه یې آبادي دښځې لپاره کړي وه دهغې داجازت بغیرنوآبادی دښځې کیږی اودی متبرع دی اوکه یې ځپل مقروض ونیوه اوبیایوچاورځنی خلاص کړنوهغه نه ضامن کیږی دیوچاپه لاس کې دبل مال دی بیاپاچاهغه ته وویل چې دامال ماته راکړه که نه ستالاس غوڅوم یادې پنځوس درې وهم اوهغه ورکړنونه ضامن کیږی. په ځنګل کې یې دام وداراوه چې په هغه سره ښکارکړي وحشي خراوبسم الله یې وویله پرهغه باندې بیاپه دویمه ورځ راغی اوحماروحشي یې پیداکړچې مړشوی وونونه به یې خوري. په پسه کې مکروه دي: شرمګاه.... مرغړي. مثانه. تریخی. جاري وینه. آله تناسل. دملادلوی هډوکي مغزه.

**تشريح** :(۴۲)که چاپخپل ملک کې يوه څاه وکيندله يايې دمرداري دايستلوليپاره نالۍ جوړه کړه،اوددې دګاونډي ديوال ته لمدوالي ورسيداوګاونډي له هغه څخه غوښتنه وکړه چې ته داڅاه يانالۍ کومبل طرف ته واړوه ماته نقصان رسوي نوڅاه اونالۍ مالک پرګرځولوباندي نه مجبورکيږي ځکه دايې خالص پخپل ملک کې تصرف کړی دی چې دده حق دی،البته له ګاونډي څخه ددفع ضررليپاره که هغه په نرمي سره دڅاه اونالۍ ګرځولومطالبه وکړه نوبه دي کې هيڅ حرج نشته،بياکه ددي لمدوالي څخه دګاونډي ديوال ړنګ شونوهم دڅاه يانالۍ مالک نه ضامن کيږي ځکه داسبب دجوړيداپه درجه کې دی چې بلاتعدی موجب ضمان نه دی اوڅاه وغيره کيندل تعدی نه ده لهذاپرمالک باندي ضمان هم نه راځي .

(۴۳)که خاونددخپلې ښځې په مکان کې دښځې په اجازه سره پخپلوپيسوآبادي وکړه نوداعمارت دهغې ښځې کيږي ځکه ملک دښځې دی اودښځې خاوندته حکم کول هم صحيح دی نوګواکې ښځې خپله آبادي کړي ده لهذاآبادي دښځې پرملک باندي پاتيږي اوڅه مصرف چې پرهغې باندي کيږي هغه به دښځې پرذمه وي ځکه خاونددآبادي په جوړولوکې متبرع نه دی لهذادی به دمصرف په باره کې ښځې ته رجوع کوي اوکه هغه بلااجازت دخپلې ښځې ليپاره دښځې په مکان کې آبادي وکړه نوبياآبادي دخاوندکيږي ځکه په کوموآلاتوسره چې آبادي شوي ده هغه دده په ملک کې دی؛دده له رضامندي بغيرنه شي کيدای البته څرنګه چې دښځې ځمکه په آبادي نيولې ده لهذادښځې دمطالبې په وخت دفارغ کيدوامرکړل کيږي .اوکه خاونددښځې په سرای کې دهغې ليپاره دهغې داجازت بغيرآبادي کړي وه نوآبادي دښځې کيږي اوکوم مصرف چې پرراغلی دی هغه دخاوندله طرفه تبرع ده لهذادهغه ورکول ضروري نه دی ځکه داخوقرض نه دی

.

(۴۴)که چاخپل قرضدارونيوه اويوبل څوک راغی دده له لاسه يې قرضدارخلاص کړهغه وتښتيدی غائب شونوپريښودونکی نه ضامن کيږي ځکه داپريښودل خالص سبب دی اودپريښودلواوتلف کيدوترمنځ دفاعل مختارفعل (يعني تښتيدل اوغائب کيدل) داخل شوی دی لهذادتلف کيدونسبت فاعل مختارته کيږي دپريښودلوطرف ته نه کيږي .

(۴۵)له يوچاسره دبل چامال ووله چاسره چې ووهغه ته پاچاوويل چې دامال ماته راکړه که نه يې ادي دغلا په جرم نيسم اولاس درنه غوځوم يادي پنځوس دري وهم .هغه له ډاره دامال پاچاته ورکړنواوس به هغه ددي مال تاوان نه ورکوي ځکه له هغه څخه دغه مال په زوراخيستل شوی دی لهذاضمان پرمکره باندي شته نه پرمکرَه باندي .

(۴۶)يوه ښکاري په ځنګل کې بسم الله الله اکبروواياه دحماروحشي دښکارکولوپه نيت يې لوَمه ودروله په دابله ورځ چې راغی نوحماروحشي زخمي شوی مردارشوی پروت دی نودهغه خوراک نه دی حلال ځکه دحماروحشي دحلاليدوشرط ذبح کول يازخمي کول دی چې هغه کاردلته نه دی شوی ځکه نودهغه خوراک هم نه حلاليږي .

(۴۷)له پسونو او نورو حلالو حيواناتو څخه دغه اته شيان خوړل مکروتحريمي دي :دبولوځاى، خصيتين. مرغړي، مثانه، تريخى (په ځيګر کې دصفرا يوه تيلۍ غوندې ده چې دچربې په هضم کې کارکوي) جاري وينه ،دتناسل آله او حرام مغزه (حرام مغزه دشيدو په شان سپين شيان دي چې دملا په تيريغني شنجې کې له ملا څخه ترغاړې پورې وي) دکراهيت وجه يې داده چې طبيعت له دغو شيانو څخه کراهت محسوسوي ،البته دوينو حرمت په نصوصو سره ثابت دی لهذا دويني خوراک حرام دی دنورو شيانو دا مکروه تحريمي دی .

(۴۸)لِلقاضي أنْ يَقرِضَ مَالَ الغَائِبِ وَالطِّفلِ وَاللُّقطةِ(۴۹)صَبِيٌّ حَشَفَتُهُ ظاهِرةٌ بِحَيثُ لَو رَآهُ انسانٌ ظَنَّهُ مَختُونًا وَلا تُقطَعُ جِلدَهُ ذِكرَهُ إلا بِتَشديدٍ تَرَكَ كَشَيخٍ أَسلَمَ وَقالَ أهلُ النَّظرِ لا يُطِيقُ الخِتَانَ (۵۰)وَوَقتُهُ سَبعٌ سِنِينَ (۵۱)وَالمُسابَقَةُ بِالفَرسِ وَالإبِلِ وَالأرجُلِ وَالرَّمي جائِزةٌ وَحَرُمَ شَرطُ الجُعلِ مِن الجَانِبَينِ لا مِن أحَدِ الجانِبَينِ (۵۲)وَلا يُصَلِّي على غَيرِ الانبياءِ وَالملائِكَةِ إلا بِطَرِيقِ التَّبعِ (۵۳)والاعطاءُ بِاسمِ النَّيروزِ وَالمِهرجانِ لا يَجُوزُ(۵۴)وَلا بَأسَ بِلُبسِ القَلانِسِ وَيُسَنُّ لُبسُ السَّوادِ وَارسالُ ذَنَبِ العِمامَةِ بَينَ الكَتِفَينِ إلى وَسطِ الظَّهرِ (۵۵)لِلشَّابِّ العالِمِ أن يَتَقَدَّمَ على الشَّيخِ الجاهِلِ (۵۶)وَلِحافِظِ القُرآنِ أن يَختِمَ في كُلِّ أربَعينَ يَومًا

**ترجمه** :قاضى لره جائزدی چې په قرض ورکړي دغائب او ماشوم مال او لقطه،يو ماشوم دی چې سردذکرېې دومره پراخ دی چې يو انسان ورته وګوري نو داګمان پرې کوي چې دامختون دی ،اونه غوڅيږی دهغه دذکرپوست مګر په تکليف سره نوپرې دې ږدي لکه بوډاچې اسلام راوړي اودنظرخاوندان ووايې چې دادختنه کولو طاقت نه لري، او دختنه مستحب وخت اوم کال دی او مسابقه کول په آسانو ،اوښانو ،پياده او په نښه ويشتلو سره جائزه ده،او حرام دی مال شرطول له جانبينو څخه نه له يوه جانبه څخه اودرود دې نه وايي پرغيرله انبياؤ او ملائکه ؤ مګر په تبع سره اوچاته څه ورکول دنوروز او مهرجان په نامه سره جائزنه دی ،اوخولۍ په سرکول باک نه لري اومستحب دی توره جامه آغوستل اوپريښودل دشملې دپګړۍ ددووا وږوترمنځ ترملا پورې او ځوان عالم لره جائزدی چې تربوډا امي مخته شي او حافظ قرآن لره مناسب دی چې ختم دقرآن کريم په څلويښتو ورځو کې وکړي .

**تشريح** :(۴۸)قاضي ته جائزدی چې دغائب چا ،نابالغ ماشوم او لقطه مال چاته چې وغواړي په قرض ورکړي ځکه دقاضى په قرض ورکولو سره ددې مالونو حفاظت نه فوتيږی ځکه چې قاضى وروسته دغه مالونه بغيردنقصان وصول کولای شي اوله قاضي علاوه نوروخلکوته دا اختيارنشته ځکه هغوئ ته وروسته وصول کول مشکل دی .

(۴۹)که ديو ماشوم دذکرسردومره پراخ ووچې يو څوک ورته وګوري نودختنه شوي ګمان پرې کوي او اوس دهغه دذکرپوست غوڅول مشکل معلوميږي نو دختنه بغيردې پريږدي ځکه پوست خوددې لپاره غوڅوي چې سردذکر ښکاره شي اوچې کله سرخپله ښکاره وي نودپوست غوڅولو ضرورت نشته ،لکه يو بوډاچې مسلمان شي اوتجربه کار ډاکټروايې چې دادختنه کولو طاقت نه لري اوپه ختنه کولو سره په تکليفيږی نو هغه ته هم ختنه نه ورکيږي ځکه دهغه عذر ښکاره دی .

(۵۰) دختنه کولو لپاره مناسب وخت اوم کال دی، دځینو حضراتو رایه داده چې تر بلوغ مخته ختنه نه کیږي ځکه ختنه دطهارت لپاره وي او تر بلوغ مخته دده پر ذمه طهارت نه دی لازم لهذا تر بلوغ مخکې بلاضرورت تکلیف ورکول دی، لیکن اشبه بالفقه دادی چې که چیرته ماشوم قوي وو دختنه کیدو تکلیف یې برداشت کولای شوای نو ختنه دي وروکړي که نه بیا دي نه ورکوي.

(۵۱) دآسانو غلول، داوښانو مسابقه کول او پیاده سره ځغاسته چې وګوري څوک مخته دی او غشي ویشتل زده کول جائز دی ځکه مجاهدین دغو ریاضتونو ته ضرورت لري، او له دواړو جانبینو څخه مال شرطول حرام دی مثلا زید او بکر آسان سره وځغلوي او داشرط کړي چې که دزید آس مخته شو نو بکر به سل روپۍ ورکوي او که دبکر آس مخته شو نو زید به سل روپۍ ورکوي داکار حرام دی ځکه داقمار دی چې حرمت یې په نص سره ثابت دی او له یوه جانبه مال شرطول استحسانا حرام نه دی مثلا داسې شرط ولګوي چې که دزید آس مخته شو نو بکر به سل روپۍ ورکوي او که دبکر آس مخته شو نو هیڅ شی نشته ځرنګه چې داصورت دقمار نه دی لهذا دا صحیح دی.

(۵۲) له پیغمبرانو او فرشتو علاوه دنورو خلکو پر نامه درود وسلام ویل مناسب نه دی ځکه درود لیږدول ډیرلوی تعظیم دی چې دداسې خلکو لپاره مناسب نه دی چې له هغوئ څخه خطاکاري او ګناهونه صادریږي، البته دپیغمبرانو او فرشتو په تبعیت کې جائز دی مثلا چې څوک داسې ووایې اللهم صلِّ علی محمدٍ وعلی فلان، نو دا جائز دی ځکه دادنبي کریم ﷺ تعظیم دی، دصحابه کرامو رضوان الله عنهم له نامه سره رضی الله عنه ویل له تابعینو او له هغوئ وروسته دامت دنیکو خلکو له نومونو سره رحمه الله ویل مستحب دی او راجح مذهب دادی چې ددې عکس هم صحیح دی یعنې دصحابي له نامه سره رحمه الله ویل او دتابعي او وروسته بزرګانو سره رضی الله عنه ویل هم صحیح دی.

(۵۳) دکافرانو ... پر نامه مثلا نوروز او مهرجان باندې خیرات کول عطیه ورکول جائز نه دی ځکه په دې کې دکافرانو سره تشبه ده چې ممانعت یې راغلی دی، قال ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم.

(۵۴) دخولۍ په پر سر کیدو کې هیڅ حرج نشته له ګوشه داره خولۍ څخه مراد عامه خولۍ ده که دونو وي او که سوتې مګر داچې دوریښمو یا سپینو او سرو زرونه وي، توره جامه آغوستل مستحب دی ځکه نبي کریم ﷺ مکې مکرمې ته دننوتلو په وخت توره پګړۍ وهلې وه، او دپګړۍ شمله ددوواړو تر منځ دملا تر نیمایي پورې رسیدل مستحب دی ځکه نبي کریم ﷺ داسې پرې اینې وه.

**فائده**: دحدیث دالفاظو مطابق خولۍ باید ګول (یعنې مدوره وي) او په ځینو روایاتو کې له نبی کریم ﷺ سره درې ډوله خولۍ ثابتې دي یو قسم هغه خولۍ وه چې له سر سره مښتې وه. دوهم قسم هغه خولۍ چې له سر څخه څه بالا وه. دریم قسم خولۍ له مذکوره دواړو قسمونو څخه نسبتا څه زیاته له سر څخه پورته او خلاصه وې چې غوږونه هم په پټیږي (کتاب الوسیلة للموصلی: ۶/ ۱۱۶) لهذا داهر قسم خولۍ په سر کول صحیح ده او زموږ په زمانه کې چې کومې خولۍ رواج دي په هغو لو سره سنت اداکیږي. البته دلباس مطابق خولۍ باید چې ښه عمده خولۍ وي ......دقراقلي خولۍ چې څو مره قسمونه زموږ په وخت کې رواج دي

دهغوتولو استعمال جائزدی اوپه هغوتولوسره دخولی سنت اداکیږی الخ (جدیدمعاملات کی شرع احکام :۳/ ۶۶)

**فائده** :پګړی تړل درسول الله ﷺ اوصحابه کرامورضی الله عنهم اجمعین څخه ثابته ده .څکه پګړی تړل مسنون دی،البته داسنت زائده دی چې دمستحب درجه لري،اودادلباس سنت دی ،لهذاکه يوڅوک دسنت داتباع په نيت پګړی وتړي نوبلاشبه موجب ثواب ګرځي اوکه يې څوک ونه تړي نوهيڅ ګناه هم نشته .څکه له رسول الله ﷺ څخه پرپګړی تړلوباندي مواظبت نه دی ثابت ،لکه صاحب دزادالمعادچې فرمايي چې رسول الله ﷺ کله دپګړی بغيرخالص خولی استعمال کړې ده اوکله يې بغيرخولی خالص پګړی استعمال کړې ده اوکله يې خول يعني جنګي خولی استعمال کړې :ه يعني په کومه موقع چې يې کومه يوه مناسبه بللی :ه هغه يې استعمال کړې ده .

**فائده** :دپګړی تړلوصحيح طريقه داده چې پرسريې ګول راتاوه کړي ويې تړي اوپوره سرپه هغې سره پټ کړي يوڅې دسرشاوخواپګړی تړل اوپه منځ کي سرلوڅ پريښودل مکروه دی.البته پرخولی باندي دپګړی تړلوپه صورت کي دسرمنځ په پګړی پټول ضروري نه دی اونه په دی کي هيڅ کراهت شته.مګردېيان جوازلپاره نبي کريم ﷺ بغيرخولی هم پګړی استعمال کړې ده .ليکن عام معمول ترپګړی لاندي خولی اېښودل وو په پګړی تړلوکي دمخ خواته پرتندي باندي محراب جوړول په هيڅ کوم معتبرکتاب کي نه دي راغلي البته علماء اوصلحاء پرتندي باندي محراب جوړوي.لهذامحراب جوړل دپګړی تړلوسنت نه دی خوکه جوړشي نوهيڅ باک نه لري .

**فائده** :له صحيح رواياتوڅخه دپګړی دجامې په هکله کوم خاص مقدارمتعين کيدل نه دی ثابت شوی څکه هرڅوک دخپل حيثيت مطابق چې څومره مناسب ګڼي پګړی تړلای شي البته چې ډيره زيات اوږده نه وي اونه ډيره کمه وي بلکې درميانه وي وفی اللباس والزينة فی الشريعة الاسلامية :المطلب الثانی :قدرالعمامة لقدکانت عمامة رسول الله ﷺ وسطالاکبيرة ولاصغيرة وانه لم يثبت فی طولها وعرضها شیء فينبغی التوسط فيها اقتداء بالنبی ﷺ .

**فائده** :دپګړی شمله بايدکم ترکمه دڅلوروګوتوبرابره اوزيات ترزياته يولاس وي اوشمله دومره اوږدول چې دناستې په وخت کي ترملاتيره وي صحيح نه ده (فتاوی عالمګيريه :۵/ ۳۳)له رسول الله ﷺ څخه دشملي مختلفي طريقي ثابتي دي اوحضراتوفقهاؤکرامو رحمهم الله ليکلی دي چې دپګړی شمله دشاخواته ددواړواوږوترمنځ پريښودل افضل اومستحب دی اوراسته طرف ته پريښودل هم جائزدی البته چپ طرف ته په پريښودلواونه پريښودلوکي دعلماؤاختلاف دی څينوجائزبللی دی اوڅينوناجائزاوبدعت ګڼلی دی ........بياهم که چيرته څوک دخپل عادت ياسهولت په وجه دسنت ګڼلوبغيرشمله چپ طرف ته پريږدي نوبه هرحال ناجائزکارنه دی.درسول الله ﷺ دپګړی په باره کي دوې شملي اويوه شمله دواړي له احاديثوڅخه ثابتيږی لهذادپګړی يوه شمله پريښودل هم صحيح ده اودوې شملي پريښودل هم صحيح ده .

**فائده** :لمونځ کول په پګړی اوبغيرپګړی کي آياپه ثواب کي فرق راځي که نه ؟ ددي سوال ترجواب مخکي په دي خان پوه کړئ چې په کومه علاقه کي له پګړی بغيرلباس نامکمل ګڼل کيږی اوبغيرپګړی له کوره وتل

اودلويانوپه مجلس كې ګډون كول معيوب ګڼل كيږي هلته بغيرپګړۍ لمونځ كول مكروه دی اوداپه دي وجه نه چې په سنت سره عمل نه دی شوی بلكې په دی وجه چې ددي علاقې په اعتبارسره بغيرپګړۍ لباس نامكمل دی اوپه نامكمل لباس كې لمونځ كول مكروه دی ،وتكره صلاته فی ثياب البذلة بلبسهاالی بيته .(ردالمحتار: ۱/ ۶۴۰ )،امدادالفتاوی: ۱/ ۲۵۶)

اوځرنګه چې پګړۍ تړل سنت زائده دی چې دمستحب درجه لري لهذاكه داتباع سنت په نيت پګړۍ وتړله شی نوموجب ثواب دی ليكن پردي بنيادداننه شي ويل كيدای چې له پګړۍ سره لمونځ كول زيات ثواب لري ترهغه چې بغيرپګړۍ اداشي اوداحاديثوپه ذخيره كې دتلاش كولوباوجودداسي كوم حديث نه دی موندل شوی چې په هغه سره داثابته شي چې له پګړۍ سره لمونځ دهغه لمانځه په نسبت زيات ثواب لري چې بغيرپګړۍ اداشي،البته داسي موضوعی له ځانه جوړشوي احاديث پيداكيږی چې په هغوكې دپګړۍ دلمونځ فضيلت بيان شوی دی خوهغه احاديث په اتفاق دمحدثينوپه دي وجه چې موضوعی دي قابل رداوغيرمعتبردي ودي كتل شي :(الموضوعات الكبری لملاعلی القاری:ص ۲۳۲ ،الفوائدالمجموعة فی الاحاديث الموضوعة :ص ۱۸۷ ،وتذكرة الموضوعات:ص ۱۵۵ ،المصنوع فی معرفة الموضوع:ص ۸۷ ،جديدمعاملات كی شرعی احكام: ۳/ ۶۶ تا ۷۵ ).

(۵۵)تربوډابي علمه سړي دځوان عالم مخته تلل جائزدی ځكه چې ځوان عالم تربوډابي علمه افضل دی قال الله تعالی:قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَايَعْلَمُون ) وقال تعالی:(أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِى الأَمْرِ مِنكُمْ )،داصح قول مطابق له اولی الامرڅخه علماء مراددي .

(۵۶)حافظ قرآن لره پكاردی چې يوقرآن كريم په څلويښت ورځې كې ختم كړي چې په لوستلوكې ګړبړنه وي ځكه مقصودفهم دقرآن كريم اوعبرت حاصلول دی نه محض تلاوت كول .

## كِتَابُ الْفَرَائِضِ

داكتاب دفرائضوپه بيان كې دی

مصنف رحمه الله دوصيت له مسائلوڅخه فارغ شونوځرنګه چې وصيت اخت الميراث دی په دي وجه يې له وصيت څخه وروسته دميراث مسائلي ذكركړي دي .ياداچې وصيت دمرض الموت په وخت كې دتصرف كولونوم دی اوفرائض له موت څخه دوروسته تصرف نوم دی.

فرائض دفريضة جمع ده ،فريضة له فرض څخه مشتق دی كوم چې دقطع كولواوتقدير(اندازه كولو)په معنی دی ويل كيږي فرض القاضی النفقة ای قدرها.ياد لفظ فرض جمع يعنی فرائض دعلم ميراث نوم وګرځيداوعلم فرائض اصطلاحي تعريف په دي ډول سره شوی دی ،هوعلم باصول من فقه وحساب يعرف به حق كل من التركة ،يعنی علم فرائض دفقه اوحساب دځه اصولوعلم دی دكوم په ذريعه سره چې دوراثانوحقوق معلوميږي .علم فرائض افضل ترين علم دی قال الله تعالی (فريضة من الله)(يعنی داحكم دالله له طرف څخه مقرركړل شوی دی )،وقال النبی ﷺ تعلموا الفرائض وعلموها الناس (يعنی فرائض زده كړئ اوخلكوته يې ورزده كړئ )وقال ﷺ تعلموا الفرائض وعلموها فانها نصف العلم (يعنی فرائض زده كړئ اوخلكوته يې ورزده كړئ دانصف علم دی ).

**فان قيل** :مامعنی قوله ،فانها نصف العلم؟

**قيل** : لأن للانسان حالتين حالة حياة وحالة موت والفرائض من احكام الموت فيكون لفظ النصف ههنا عبارة من قسم عن قسمين.

(۱) يبدأ من تركة الميت بتجهيزه ثم ديونه ثم وصيته ثم يقسم بين ورثته، (۲) وهم ذو فرض أي ذو سهم مقدر فللأب السدس مع الولد او ولد الابن (۳) والجد كالأب إن لم يتخلل في نسبته إلى الميت أم (۳) إلا في ردها إلى ثلث ما بقي، وحجب أم الأب فيحجب الإخوة (۵) وللأم الثلث ومع الولد او ولد الابن او الاثنين من الإخوة او الأخوات لا فإن كان له إخوة فلأمه السدس ومع الأب واحد الزوجين ثلث الباقي بعد فرض احدهما

**ترجمه** :شروع به کيږي دميت له ترکي څخه دده په تجهيزاوتکفين بيادده قرض بيادده وصيت بيابه تقسيميږي دهغه دوارثانوپه منځ کې ،هغوئ اصحاب فرض يعنی دمقرروحصوو الادي نوپلارلره سدس دی له زوی يالمسی سره اونيکه دپلارپه شان دی که نه راغله دهغه په نسبت کې مورمگرپه راگرځولو کې دهغه دحصي دباقي مانده دثلث طرف ته اواناله په محرومولوکې نومحرومولوکې نومحروموي هغه ورونواوخويندولره ،اومورلره ثلث دی اوله اولاداواولادالابن سره اگرکه هرڅومره کښته وي اوله دووررونواوخويندوسره نه دهغوئ له اولادسره سدس دی اوله پلارسره ياله خاوندياله ښځې سره ثلث باقي دی وروسته له مقررولودهغه دحصي.

**تشريح** :(۱)دميت له ترکي (دميت هغه پرېښی مال له کوم سره چې دکوم بل چاحق متعلق نه وي )څخه به ترټولوړاندي دهغه دکفن اودفن انتظام کيږي ولی چې انسان محترم دی که ژوندی وي اوکه مړشي نولکه څرنگه چې هغه په ژوندکې دخپل مال ترټولوړاندي خپله حقداروو همدا شان له مرگ څخه وروسته به هم هغه لوڅ نه پرېښودل کيږي .بياچې څه پاتي شي له هغه څخه که دده پرذمه قرض وي نوهغه به ادا ، کيږي يعنی قرض له وصيت څخه مقدم دی ولی چې دقرض اداء کول واجب دي اووصيت تبرع ده اوواجب دتقديم ډيرحقداردی .بياکه څه ترکه پاتي شوه نوپه هغې کې به دده وصيت پوره کيږي (که هغه دچاليپاره څه وصيت کړی وي )قال الله تعالى (فان اكثر من ذالک فهم شركاء في الثلث من بعد وصية يوصي بها او دين)(نوکه له دي څخه زيات وارثان وي نوهغوئ په دريمه کې شريکان دی له وصيت څخه وروسته ياله دين اداء کولوڅخه وروسته )،په دي شرط چې وصيت له ثلث ترکه څخه زيات نه وي .بياچې څه پاتي شي هغه به دميت په وارثانوتقسيموي لقوله ﷺ الحقوا الفرائض بأهلها فما ابقت فلأولى عصبة ذكر (ذوی الفرضوته دهغوئ حصي ورکړئ بياچې کوم مال پاتي شي هغه به هغه نارينه قريب ته ورکول کيږي کوم چې له مړی سره ډيرنژدي قرابت لري ).

(۲)دميت وارثان په دري قسمه وي اول ذوی الفروض ،دوهم عصبات ،دريم ذوی الارحام .ذوی الفروض هغه دمقرروحصووالاوارثان دي دکوموحصي چې په قران مجيدياحديث رسول ﷺ کې متعيني شوي وي .اوداسي وارثان چې دهغوئ حصي متعيني شوي دي دولس کسه دي له هغوئ څخه ترټولومخکي دميت پلاردی ،نوپلارته دولداوولدولدپه موجودوالی کې سدس ورکول کيږي لقوله تعالى (ولابويه لكل واحد منهما السدس مما ترک ان كان له ولد)داخودولددصورت حکم دی اوولدالولدڅرنگه چې شرعاولدشمارل کيږي په دي وجه دولدالولدهم همدا حکم دی .

**ف**:پلارلره دوه حالتونونورهم شته يوداچې له پلارسره که دميت لوريالمسی ياکروسی وغيره مونث اولادوي نودپلارحصه سدس مع العصبه ده يعنی له ترکي څخه به شپږمه حصه ورکول کيږي بيا باقي ترکه

پروا ر ثانو له تقسیمولو وروسته كه څه پاتي شي هغه به هم پلار ته وركول كيږي .او دوهم حالت يې دا چې كه دميت نارينه يا ښځينه هيڅ اولاد نه وي نو بيا به ټول مال پلار ته وركول كيږي ولې چې پلار عصبه هم دى .

(۳)له ذوى الفروضو څخه دوهم دميت نيكه(دپلار له طرفه) دى نو كه دميت پلار ژوندى نه وي نو دميت نيكه دميت دپلار په حكم كې دى يعنې پورته ذكرشوي دري حالتونو دنيكه دي په دي شرط چې دنيكه او ميت په منځ كې دميت دمور واسطه نه وي لكه دپلار پلار ريا دنيكه پلار الخ او كه دنيكه او ميت په منځ كې دام واسطه وي نو هغه جد فاسد دى لكه اب ام الاب (دپلار دمور پلار)،جد فاسد له ذوى الفروضو څخه نه دى بلكه هغه له ذوى الارحامو څخه دى .

(۴)نيكه دپلار په حكم كې دى مګر په دوو مسئلو كې دپلار په حكم كې نه دى له دي دوو مسئلو څخه يوه داده چې كله ميت مور .پلار او ښځه يا خاوند پريږدي نو دپلار دموجودوالى په وجه سره خاوند يا ښځې ته له حصي وركولو څخه وروسته چې څه پاتي شي مورته دهغه پاتي شوى ثلث وركول كيږي ليكن په همدي صورت كې كه دپلار پرځاى نيكه وي نو په دي صورت كې مورته دكل مال ثلث وركول كيږي داسي دنه ده چې خاوند يا ښځې ته له حصي وركولو وروسته چې څه پاتي شي مورته به دهغه ثلث وركول كيږي .دوهمه مسئله داده چې دميت دپلار په موجودوالى كې دميت اناله ميراث څخه محروميږي او دنيكه په موجودوالى كې دميت دپلار مور يعنى دميت اناله خپلې حصي څخه نه محروميږي .له دي دوو مسئلو څخه ماسوا دنيكه او پلار ټول احكام يو شان دي لكه چې دميت ورونه او خويندي دنيكه په موجودوالى كې محروم وي لكه څرنګه چې دپلار په موجودګي كې ورونه او خويندي محروم وي ولې چې نيكه دپلار قائم مقام دى .دمصنف رحمه الله دقول فيحجب الاخوة همدا مطلب دى چې دنيكه په موجودوالى كې دميت ورونه او خويندي له ميراث څخه محروميږي .

(۵)له ذوى الفروضو څخه دريم دميت مورده دمور لپاره دري حالتونه دي يو دا چې كه دميت اولاد او اولاد الاولاد نه وي او دوه يا له دوو څخه زيات ورونه او خويندي هم نه وي نو مورته دتركي ثلث وركول كيږي لقوله تعالى (فان لم يكن له ولد وورثه ابواه فلامه الثلث) .دوهم حالت دادى چې كه دميت اولاد وي اګر كه څو مره هم كښته وي يا دوه يا له دوو څخه زيات ورونه او خويندي وي نو بيا دميت مورته سدس وركول كيږي لقوله تعالى (ولابويه لكل واحد منهما السدس مما ترك ان كان له ولد) ،وقال الله تعالى (فان كان له اخوة فلامه السدس ) .او كه دخويندو او ورونو اولاد وي نو په دي صورت كې دا حكم نه دى دمصنف رحمه الله دقول لااولاد هم همدا مطلب دى چې دخويندو او ورونو داولاد په موجودوالى په صورت كې دا حكم نه دى .دريم حالت دادى چې دپلار او احد الزوجين په موجودوالى كې دا حد الزوجين له حصي وركولو څخه وروسته دباقى مانده تركي ثلث مورته وركول كيږي ولې چې له حضرت عمر رضي الله عنه دښځې او والدينو په باره كې پوښتنه وشوه نو هغه رضي الله عنه ښځې لپاره ربع مور لره دمابقي ثلث او پلار لره مابقي مقرر كړ .

(۷) وللجدات وإن كثرن السدس إن لم يتخلل جد فاسد في نسبتها إلى الميت وذات جهتين كذات جهة واحدة (۸) والبعدى تحجب بالقربى والكل بالأم (۹) وللزوج النصف ومع الولد أو ولد الابن وإن سفل الربع (۱۰) وللزوجة نصفه الربع ومع الولد أو ولد الابن وإن سفل الثمن (۱۱) وللبنت النصف وللأكثر الثلثان وعصبها الابن وله مثلا حظها (۱۲) وولد الابن كولده عند عدمه ويحجب بالابن ومع البنت لأقرب الذكور الباقي (۱۳)

وللابنات السدس تكملة للثلثين (و حجبن ببنتين) إلا أن يكون معهن أو أسفل منهن ذكر فيعصب من كانت بحذائه، و من كانت فوقه ممن لم تكن ذات سهم، وتسقط من دونه

**ترجمه** :اوجداتو لره اګرکه زیاتي وي سدس (یعنې شپږمه )دی که نه شي راجدفاسد دهغو په نسبت کې دمیت طرف ته او ددوجهتونو والادیوه جهت والاپه شان ده اولیري والامحجوبه وي په نږدي والاباندي اوټولي محرومیږي په مورسره ،اوخاوندلره نصف دی اوله اولاداواولادالابن سره اګرکه ځومره هم کښته وي ربع ده ،اوښځي لره ربع ده اوله اولاداواولادالابن سره اګرکه ځومره هم کښته وي ثمن دی ،اولورنصف دی اوزیاتولره دوه ثلثه دي ،اوعصبه ګرځوي هغوئ لره زوی،اوزوی لره ددوولورانوبرابره حصه ده ،اولمسی دزوی په شان دی دهغه په نه موجودوالی کې ،اومحرومیږي په زوی سره اوله لورسره قریب مذکرلره باقي ده ،اولمسیولره سدس دی چې پوره کوي دوه ثلثه ،اومحرومیږي په دوولورانوسره مګرداچې وي له هغوئ سره یاله هغوئ ځخه کښته کوم مذکرنوهغه عصبه ګرځوي هغولره چې له دوئ سره برابروي اوهغولره چې له دوئ ځخه لوړوي له هغو ځخه کوم چې صاحب سهم نه دي اوساقطیږي له دي ځخه علاوه .

**تشریح** :(۶)له ذوی الفروضو ځخه شپږم دمیت جده صحیحه ده جداتولره دري حالتونه دي یوداچې جدي لره سدس دی اګرکه متعددي وي ولی چې له حضرت ابوهریره ﷺ ځخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ جدي لره ثلث مقررکړ.مګرشرط دادی چې جده صحیحه وي .جده صحیحه هغه ده چې دهغې اودمیت په منځ کې دجدفاسدواسطه نه وي لکه اناډپلارله طرفه ،واناډمورله طرفه ،اوداناموردپلارله طرفه اوداناموردمورله طرفه .داټولي جدات صحیحه دي ولی چې ددوئ اودمیت په منځ کې جدفاسدیعنی نیکه دمورله طرفه نشته هودنیکه موریادهغه انا(دواړه دمورله طرفه )جدات فاسده دي ولی چې ددوئ اودمیت په منځ کې دجدفاسدواسطه شته .

(۷)اوکه دیوي جدي له میت سره ځوقرابتونه وي اودبلې صرف یوقرابت وي دادواړه په میراث کې سره برابري دي ،ددووقرابتوصورت داسي کیدای شي چې مثلادیوښځې یولمسی دزوی له طرفه اویولمسی دلورله طرفه دی اوددوئ دواړوپه منځ کې نکاح وشوه بیادهغوئ اولادوشونودهغوئ داولاددانښځه په دووقرابتوسره جده ده یعنی دمورله طرفه اناده اودپلارله طرفه هم اناده .

(۸)دجدي دوهم حالت دادی چې دلیري قرابت والاجده دنږدي قرابت والی جدي په موجودوالی سره محرومیږي .اودریم حالت دادی چې دموربه موجودوالی کې ټولي جدي که قریبي وي اوکه لیري وي محرومیږي ولی چې په حصصوکې دمقدم اومؤخراعتبارکیږي کومه چې وړاندي وي هغه ته حصه ورکول کیږي .که هغه نه وه نو وروسته والاته ورکول کیږي.

(۹)له ذوی الفروضوځخه پنځم خاوندی خاوندلره دوه حالتونه دي یوداچې که دمیت اولادنه وي نوخاوندلره دښځي له ترکي ځخه نصف دی ،اودوهم حالت دادی چې دمیت اولادوي یادمیت دزوی اولادوي اګرکه ځومره هم کښته وي نو خاوندته دترکي ربع ورکول کیږي )لقوله تعالی [ولکم نصف ماترک أزواجکم إن لم یکن لهن

ولدٌ فإن كان لهن ولد فلكم الربع مما تركن (څه چې ښځه پرېښودل د هغه نيمايي ستاسي لپاره دي كه د ښځې اولاد نه وي او كه اولاد دوي نو ستاسي لپاره ربع ده).

(۱۰) له ذوي الفروضو څخه شپږم دميت ښځه ده، ښځې لره دوه حالتونه دي يو دا چې ښځې ته د خاوند له تركي څخه ربع ده كه ميت اولاد يا اولاد اولاد نه وي، او دهم حالت دادى چې د اولاد په موجودوالي كې يا د زوى داولاد په موجودوالي كې اگر كه هرڅو مره هم كښته وي ښځې ته د تركي اتمه حصه وركول كيږي كه ښځه يوه وي او كه ډيري وي لقوله تعالى (وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم) (او ښځې لره د تركي ربع ده كه ستاسي اولاد نه وي او كه ستاسي اولاد وي نو هغوئ لره د تركي اتمه حصه ده).

(۱۱) له ذوي الفروضو څخه اوم دميت لور ده. دميت لور لره دري حالتونه دي يو دا چې كه يوه وي نو هغې لره د تركي نصف دى. دوهم حالت دادى چې كه دوه يا له دوو څخه زياتي وي نو د تركي دوه ثلثه دي. دريم حالت دادى چې كه وارثان زوى او لور دواړه وي نو زوى لور عصبه گرځوي يعنى په دي وخت كې دا دواړه عصبه گرځي او د عصبه والي په صورت كې د زوى حصه د دوو لورانو برابره وي لقوله تعالى (يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ فَإِن كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ) (الله تعالى تاسي ته حكم دركوي ستاسي د اولاد په باره كې د زوى حصه د دوو لورانو برابر ده. كه ښځې له دوو څخه زياتي وي نو هغوئ لره د تركي دوه ثلثه دي او كه يوه وي نو هغې لره نصف ده).

(۱۲) مصنف رحمه الله په مابين كې د لمسى مختصر حالت بيان كړى دى اگر كه لمسى له ذوي الفروضو څخه نه دى لكه چې فرمايي چې دميت د ځوندي زوى د نه موجودوالي په صورت كې لمسى د زوى په مرتبه كې دى يعنى كوم حق چې د زوى وي هغه د لمسى وي ولى چې په دي وخت كې لمسى د زوى قائم مقام دى. او د زوى په موجودوالي كې لمسى محروميږي ولى چې په عصباتو كې داقرب د موجودوالي په صورت كې ابعد محروميږي. او كه له بنت سره والد الابن وي يا ولد الابن وي يا د هغو مجموعه وي نو له بنت سره له دوئ څخه چې كوم اقرب مذكوري له تركي څخه بنت ته د نصف حصي له وركولو څخه وروسته چې څه باقي پاتي شي هغه به د هغه وي ولى چې ولد الابن عصبه دى او له ذوي الفروضو څخه وروسته چې څه پاتي شي هغه اقرب عصبه ته وركول كيږي.

(۱۳) له ذوي الفروضو څخه اتم دميت لمسى ده اولمسى كه يوه وي يا ډيري وي دميت د يوي لور د موجودوالي په صورت كې يې حصه سدس ده ترڅو چې دوه ثلثه پوره شي ولى چې يوي لور ته د تركي نصف وركول كيږي اولمسى ته له سدس وركولو وروسته د دواړو حصه ثلثان كيږي ولى چې لمسى د لوڼه مرتبه كې ده په دي وجه د وثلثان كوم چې د ثلثانو حق دى په دوئ كې به پوره كيږي. مگر په دوئ كې د مرتبې د فرق په وجه سره لور ته نصف وركول كيږي او لمسى ته سدس وركول كيږي. او كه لوراني دوه يا له دوو څخه زياتي وي نو په دي صورت كې لمسياني محروميږي ولى چې لمسيانو ته سدس د ثلثانو د تكميل لپاره وركول كيدو كوم چې اوس په خپله په لورانو سره پوره شو لهذا ابنات الابن محروميږي. هو كه له دوئ سره كوم هلك وي يعنى د دوئ ورور وي يا له هغه څخه په كښته درجه كې وي يعني د دوئ وراره وي نو هغه خپلي خويندي

اولوړي عصبه ګرځوي په دي شرط چې لوړي ذوی الفروض نه وي ،دمصنف رحمه الله دقول ممن لم تکن ذات سهم هم همدا مطلب دی چې لوړي ذوی الفروض نه وي که نه نو هغه به خپله حصه وړي او عصبه نه ګرځي .
اوکومي چې له دوئ څخه دکښته درجي لمسياني وي هغه محرموي مثلا ديوه ميت دري يادوه لوراني اويوه لمسی اوکړوسی اويوه دلمسی لمسی يعنی دمړي سروتی. وي نوپه دي صورت کې دوولورانوته دوه دريمې ورکول کيږي اوکومه يوه دريمه حصه چې پاتي شي هغه به دکړوسی په سبب دلمسی ،کړوسی. اوکړوسی په منځ کې تقسيميږي هوکړوسی ته به له نجونو څخه دوچنده ورکول کيږي اودميت سروتی کومه چې له کړوسی څخه په کښته درجه کې دی هغه محرومه پاتي کيږي لقوله تعالی (يوصيکم الله في اولادکم للذکر مثل حظ الانثيين )(الله تعالی تاسي ته حکم درکوي ستاسي داولادپه باره کې ،دزوی حصه ددوولورانوبرابره ده ).

(۱۴)وَالأَخَوَاتُ لِأَبٍ وَأُمٍّ كَبَنَاتِ الصُّلْبِ عِنْدَ عَدَمِهِنَّ (۱۵)وَلِأَبٍ كَبَنَاتِ الِابْنِ مَعَ الصُّلْبِيَّاتِ وَعَصَّبَهُنَّ إِخْوَتُهُنَّ وَالْبِنْتُ وَبِنْتُ الِابْنِ (۱۶) وَلِلْوَاحِدِ مِنْ وَلَدِ الْأُمِّ السُّدُسُ, وَلِلْأَكْثَرِ الثُّلُثُ ذُكُورُهُمْ وَإِنَاثُهُمْ سَوَاءٌ )(۱۷)وَحُجِبْنَ بِالِابْنِ وَابْنِهِ وَإِنْ سَفَلَ, وَبِالْأَبِ وَالْجَدِّ وَالْبِنْتُ تَحْجُبُ وَلَدَ الْأُمِّ فَقَطْ(۱۸ )وَعَصَبَةٌ أَيْ مَنْ أَخَذَ الْكُلَّ إِنِ انْفَرَدَ, وَالْبَاقِي مَعَ ذِي سَهْمٍ)(۱۹ )وَالْأَحَقُّ الِابْنُ ثُمَّ ابْنُهُ, وَإِنْ سَفَلَ ثُمَّ الْأَبُ ثُمَّ أَبُ الْأَبِ وَإِنْ عَلَا(۲۰ )ثُمَّ الْأَخُ لِأَبٍ وَأُمٍّ ثُمَّ الْأَخُ لِأَبٍ ثُمَّ ابْنُ الْأَخِ لِأَبٍ وَأُمٍّ ثُمَّ ابْنُ الْأَخِ لِأَبٍ ثُمَّ الْأَعْمَامُ ثُمَّ أَعْمَامُ الْأَبِ ثُمَّ أَعْمَامُ الْجَدِّ عَلَى التَّرْتِيبِ (۲۱ )ثُمَّ الْمُعْتِقُ ثُمَّ عَصَبَتُهُ عَلَى التَّرْتِيبِ )

**ترجمه** :اوحقيقي خويندي دلورانوپه شان دي دهغوئ په نه موجودوالی کې اوعلاتي خويندي دلمسيوپه شان دي له لورانوسره اوعصبه کوي دوئ لره ددوئ وروراولوراولمسی. اويوااخيافی وروراوخورلره سدس دی اوزياتولره سدس دی ددوئ مذکراومونث برابردي اومحروميږي په زوی اولمسی سره اګرکه کښته وي اوپه پلاراونيکه سره ،اولورمحروموي صرف اخيافی اولاداوعصبه ده يعنی کوم چې ټول مال وړي کله چې هغه يواځي وي .اوباقی مانده له صاحب سهم سره ،اوزيات حقدارزوی دی بيالمسی اګرکه کښته وي بياپلاربيانيکه اګرکه لوړوي بياحقيقي وروربياعلاتي وروربيادحقيقي وروزوی بيادعلاتي وروزوی بيااکاګان بيادپلااکاګان بيادنيکه اکاګان په ترتيب سره اوبياازادونکی بيادهغه عصبات په ترتيب سره .

**تشريح** :(۱۴)له ذوی الفروضو څخه نهم دميت حقيقي خويندي دي اوحقيقي خويندي دلورانواولمسيودنه موجودوالی په صورت کې دلورانوپه حکم کې دي نوکه يوه خوروي نونصف ترکه به ورکول کيږي ولی چې لورکه يوه وي نوهغې ته نصف ملاويږي اوخوردلورقائم مقام ده ،اوکه دوه يااله دووڅخه زياتي خويندي وي نوهغوئ ته دوه ثلثه ورکول کيږي ولی چې دوويااله دووڅخه زياتولورانوته دوه ثلثه ملاويدل اوخويندي له خپلوورونوسره عصبه ګرځي لقوله تعالی (يستفتونک قل الله يفتيکم في الکلالة ان امرو هلک ليس له ولدوله اخت فلهانصف ماترک وهويرثهاان لم يکن لهاولدفان کانتااثنتين فلهماالثلثان )(له تا ﷺ څخه فتوی غواړي ،ورته وايه چې الله تعالی تاسي ته دکلاله په باره کې فتوی درکوي چې که انسان مړشي اودهغه اولادنه وي اودهغه خوروي نوهغې لره دترکي

نيمايي ده او وروړ د خور وارث دی كه د خور اولاده وي .او كه خويندي دوه وي نو هغوئ لره دوه دريمي دي له تركي څخه ).

(١۵) له ذوی الفروضو څخه لسم علاتي خويندي دي (هغه خويندو ته ويل كيږي چې صرف په پلار شريكې وي )علاتي خويندي له حقيقي خويندو سره داسي دي لكه څرنگه چې لمسياني له لورانو سره وي او دلمسيو نسبت له لورانو سره په مخكنی متن كې ذكر شوی دی .خويندي كه علاتي وي كه حقيقي وي دهغوئ ورور هغوئ عصبه گرځوي يعنی ورور خوپه خپله عصبه وي دهغه په وجه سره خويندي هم عصبه گرځي لقوله تعالى (يوصيكم الله في اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين )(الله تعالى تاسي ته حكم دركوي ستاسي د اولاد په باره كې .دزوی حصه دلورانو دحصو برابره ده ).همداشان دميت لور او لمسى هم خويندي عصبه گرځي يعنی داتولي يو ځای عصبه گرځي له ذوی الفروضو څخه پاتي شوي تركه ټوله دوئ وړي لقوله ﷺ اجعلوا الأخوات مع البنات عصبة (اخوات له بناتو سره عصبه كړئ ).

(١٦) له ذوی الفروضو څخه يولسم او دولسم اخيافي خويندي او وروڼه دي (كوم چې صرف په مور شريک وي هغه ته اخيافي خوراو وروروبل كيږي )اخيافي خويندا او وروڼو لره كه يو وي نو سدس دی او كه زيات وي نو ثلث دی په دوئ كې دنارينه او ښځې دواړو حصي سره برابري دي يعنی داد حقيقي او علاتي خويندو په شان نه دي چې نارينه ته د ښځې دوچنده حصه وركول كيده له لقوله تعالى (يستفتونک قل الله يفتيكم في الكلالة ان امرؤ هلک ليس له ولد وله اخت فلها نصف ماترک وهو يرثها ان لم يكن لها ولد فان كانتا اثنتين فلهما الثلثان )(له تا ﷺ څخه فتوی غواړي .ورته ووايه چې الله تعالى تاسي ته دكلاله په باره كې فتوی دركوي چې كه انسان مړشي او دهغه اولاده وي او دهغه خوروي نو هغې لره د تركي نيمايي ده او وروړ دخور وارث دی كه دخور اولاده نه وي .او كه خويندي دوه وي نو هغوئ لره دوه دريمي دي له تركي څخه ).

(١٧) او خويندي او وروڼو څرنگه چې هم وي .علاتي وي كه اخيافي وي دميت دزوی اولمسی او كړوسی وغيره نارينه اولاد او دپلار او نيكه په .موجودوالی كې ټول محروميږي ولی چې په آيت شريف كې خويندا او وروڼو ته ميراث په كلاله پسي مشروط كړی دی او كلاله هغه ده دكوم چې پلار او زوی نه وي لهذا دپلار او زوی په موجودوالی كې خويندي او وروڼو له ميراث څخه محروميږي .او دميت سكنی لور او لمسی صرف اخيافي خويندي او وروڼه محروموي وجه هغه ده چې داخيافي خويندو او وروڼو ميراث په كلاله پسي مشروط دی او كلاله هغه ده دكوم چې پلار او اولاد نه وي او ښځت خو ولد دی .پاتي شو حقيقي او علاتي خويندي او وروڼه نو هغه په لور او لمسی سره نه محروميږي ولی چې مشروط بالكلاله مقدري حصي يعنی نصف .ثلث .سدس او ثلثان دي له كوم ذوی الفرض سره عصبه والی په كلاله پوري مشروط نه دی لهذا حقيقي او علاتي دعصبه والي په وجه سره وارث كيدای شي.

(١٨) قوله وعصبة ای الورثة ذوفرض وعصبة .له دي ځايه دوارثانو ددوهم قسم بيان دی .دوارثانو دوهم قسم عصبات دي .عصبه هغه وارث دی چې كه يو اخي وي يعنی ذوی الفروض نه وي نو ټول مال هغه ته وركول كيږي او كه له ذوی الفروض سره وي نو له ذوی الفروضو څخه پاتي شوی مال هغه ته وركول كيږي

**فائدة**: عصبه پر دوه قسمه دي يو عصبه نسبي، دوهم سببي. عصبه نسبي هغه ته ويل کيږي کوم چې د نسب په ذريعه سره وي او عصبه سببي مولى عتاقه يعنى د ميت ازادکونکي ته ويل کيږي په ميراث کې عصبه نسبي مقدم وي.

(۱۹) د عصباتو ترتيب دادى چې ترټولو په لومړۍ درجه کې عصبه د ميت زوى دى بيا لمسى دى بيا کړوسى دى همداشان وړاندې اگر که څومره هم ترکښته وي لقوله تعالى (ولابويه لکل واحد منهما السدس مما ترک ان کان له ولد) وجه استدلال داده چې باري تعالى پلار د ولد په موجودوالى کې ذوى الفرض گرځولى دى او زوى لره يې کومه حصه نه ده مقرره کړې لهذا متعينه شوه چې له پلار څخه چې څه پاتې شي هغه به زوى ته ورکول کيږي نو دا دليل دى چې زوى له پلار څخه په عصوبت کې مقدم دى ولې چې په يو ځاى کې پلار هم عصبه دى مگر د لته د زوى په موجودوالى کې يې هغه عصبه نه ده گرځولى نو دا د زوى د مقدم والى دليل دى. او که د دې سلسلې (فروع ميت) کوم وارث نه وي نو بيا د ميت پلار وارث دى، که پلار نه وي نو نيکه وارث دى که دانه وي نو غورنيکه وارث دى اگر که څومره هم د لوړې درجې وي ولې چې الله تعالى د خويندو او ورونو ميراث په کلاله پورې مشروط کړى دى او کلاله هغه ده د کوم چې پلار او زوى نه وي نو معلومه شوه چې د پلار په موجودوالى کې ورونو ته ميراث نه ورکول کيږي لهذا پلار، نيکه له ورونو او اعمامو څخه په عصوبت کې مقدم دى.

(۲۰) او که د دې سلسلې (يعنى اصول ميت) هم کوم يو موجود نه وي نو بيا د ميت سکنى ورور وارث دى او که دهغه سکنى ورور هم نه وي نو بيا علاتي ورور (يعنى صرف په پلار شريک ورور) وارث دى ولې چې د حقيقي ورونو قرابت له ميت سره د علاتي ورونو په نسبت ډيرې دى. او که دا هم نه وي نو بيا د حقيقي ورور زوى وارث دى او که هغه هم نه وي نو بيا د علاتي ورور زوى وارث دى، ورور که حقيقي وي او که علاتي وي له اکاگانو څخه مقدم دى ولې چې ورور د اکاگانو په نسبت ميت ته ډير قريب دى په دې وجه چې ورور جزء الاب دى او چچا جزء الجد دى. او که په دې سلسله (جزء الاب) کې هم کوم وارث نه وي نو بيا د ميت اعمام وارث دى ولې چې داد پلار له اکاگانو څخه ميت ته ډير قريب دي، او که دا هم نه وي نو بيا د پلار اکاگان دي او که دا هم نه وي نو بيا د ميت د نيکه اکاگان او په همدې مذکوره ترتيب سره يعنى په دې ټولو کې سکني په علاتيانو باندې مقدم دي د سکنيو د موجودوالي په صورت کې علاتي اکاگانو ته حق نه ورکول کيږي ولې چې د حقيقيانو قرابت له ميت سره د علاتيانو په نسبت ډيرې دى.

(۲۱) له پورته ذکر شويو ټولو نسبي عصباتو څخه وروسته د ميت د ازادونکي درجه ده کوم ته چې مولى العتاقه او عصبه سببي ويل کيږي ولې چې نبى کريم ﷺ يو معتق ته وفرمايل چې ستا د ازاد کړل شوي که کوم وارث نه وي نو ته د هغه عصبه يې. او که په خپله معتق نه وي نو د هغه عصباتو ته په همدې پورته ذکر شوي ترتيب سره ميراث ورکول کيږي لما قلنا.

(۲۲) وللابي فرضين النصف والثلثان عصبة باخوتهن (۲۳) ومن يدلي بغيره حجب به (۲۴) والمحجوب يحجب کالاخوين او الاخ... يحجبان الام من الثلث الى السدس مع الاب ولا يحجب... او اختلاف الدين او الدار (۲۶) والکافر يرث بالسبب والسبب

كالمسلم (ولو حجب أخذ هما بالحاجب (۲۸) لا بنكاح محرم ويرث ولد الزنا واللعان بجهة الأم فقط ووقف للحمل حظ ابن (۲۹) ويرث إن خرج أكثره فمات لا أقله (۳۰) ولا توارث بين الغرقى والحرقى إلا إذا علم ترتيب الموتى

**ترجمه**: اوهغه ښځې دكومه چې حصه نصف اوثلثان دي هغه عصبه گرځي په خپلو وروڼو سره نه له هغوئ څخه په ماسوا سره اوكوم چې منسوب وي دغيرپه ذريعه سره هغه محروميږي دهغه په موجودوالي سره ماسوا اله اخيافي اولاد څخه ،اوكوم چې محجوب وي هغه محجوبولى شي لكه دوه وروڼه اودوه خويندي گرځوي دمورحصه دسدس طرف ته له پلار سره نه هغه كوم چې محروم وي دغلام والى يامباشرة قاتل والى يااختلاف دين يااختلاف دارپه وجه سره ،اوكافروارث وي دنسب اوسبب په وجه سره دمسلمان په شان ،اوكه محجوب وي يوقرابت نووارث دى حاجب په قرابت سره نه له محرم سره له نكاح كولو ،اووارث دى ولدزنااوولدلعان صرف دمورله جهت څخه اوموقوف به پاتي كيږي حمل لره ديوزوى حصه اووارث دى كه اكثرراووتى بيامړشونه داقل په صورت كې اووراثت نه جاري كيږي په ډوبيدونكويا سوځيدونكوكې مگرداچې معلوم وي دمړه كيدونكو ترتيب.

**تشريح**: (۲۲) دكوموښځوحصه چې نصف يادوه ثلثه دي لكه لوراني اولمسياني اوحقيقي اوعلاتي خويندي نوهغوئ له وروڼوسره عصبه گرځي اوبل له هيچاسره عصبه نه دي ،دمصنف رحمه الله داويناد لورانواوخويندوپه حق كې خوظاهرده ولى چې دلورانواوخويندوعصوبت پروروڼومقصوردى ليكن دبنات الابن عصوبت په وروڼوپوري مقصورنه دى بلكه هغوئ له خپلوابناء اعمام سره هم عصبه گرځي نودهغوئ په حق كې ددي تشريح داسي كيداى شي چې هغوئ له خپلووروڼوسره عصبه گرځي اوكوم چې دوروريه حكم كې دي له هغوئ سره هم عصبه گرځي ابناء اعمام دوروڼويه حكم كې دي.

(۲۳) اودكوم كس چې له ميت سره قرابت دكوم بل چاپه واسطه سره وي نودهغي واسطي دموجودوالي په وخت كې هغه كس محروم پاتي كيږي مثلاًدنيكه قرابت له ميت سره دپلارپه ذريعه سره دى اودلمسى قرابت له ميت سره دزوى په ذريعه سره دى نودپلارپه موجودوالى كې نيكه اودزوى په موجودوالى كې لمسى محروم پاتي كيږي .ماسوا اله اخيافي وروڼواوخويندوڅخه چې دهغوئ قرابت دموريه ذريعه سره دى ليكن هغوئ له دي قاعدي څخه خارج دي لهذاهغوئ دموريه موجودوالى كې نه محروميږي ولى چې اخيافي خويندي اووروڼه دمورحصه نه وړي ولى چې مورد ولادت په وجه سره وارثه ده او اخيافي خويندي اووروڼه داخوة په وجه سره وارث دي نودجهت ارث دمختلف والي په وجه سره دموريه وجه دهغوئ محروم والى نه متصوركيږي.

(۲۴) كوم وارث چې دكوم قريب په وجه سره له تركي څخه محروميږي هغونورمحجوبولى شي مثلاًديوه ميت دوه وروڼه يادوي خويندي اوموراوپلارخلوروارثان پاتي شول نوپه دي صورت كې دادوه وروڼه يادوي خويندي دمورحصه له ثلث څخه دسدس طرف ته محجوبوي يعني دميت دپلاردموجودوالي په وجه سره اگركه دادوه وروڼه يادوي خويندي محروميږي ليكن بياهم ددوئ په وجه سره مورته شپږمه حصه وركول كيږي كه دوئ نه واى نومورته به ثلث وركول كيدو.هوكوم كس چې دغلام والي په وجه سره

يا دمورث په خپل لاس دقتل كولو په وجه سره يا له مورث سره ددين دمختلف والي په وه سره له تركه څخه محروم شي نوهغه كوم بل څوك نه شي محرومولای ولی چې په دي خلګوكي دميراث اهليت نشته لهذا دادمعدوم په درجه كې دي په دي وجه داكوم بل وارث له ميراث څخه نه شي محرومولای.

(۲۵)لكه څرنګه چې مسلمان په خپل منځ كي ديوبل وارث وي همداشان كافران په خپل منځ كې دنسب اوسبب دواړوپه وجه سره يودبل وارثان دي ولی چې كافرمختاراومكلف دی لهذاكوم اسباب چې دملك لپاره موضوع دي په هغواسبابو سره دوئ هم دمسلمانانو په شان مالكان ګرځي.

**فائده** :له نسب څخه مراددادی چې مثلاپه خپل منځ كې پلارزوی ياوروراوخوروي اوله سبب څخه مراددادی چې مثلاپه خپل منځ كې خاونداوښځه وي يايودبل ازادكړای شوی وي يوكس په دووسببونوسره هم وارث كيدای شي مثلايوكس له كومي مينځې سره نكاح كړي وه بيايې هغه واخيستله اوآزاده يې كړه نوداكس ددي مينځې دخاوندوالي په وجه سره هم وارث دی اوآزادولوپه وجه سره هم وارث دی.

(۲۶)كه په كوم كافرداسي دوه قرابتونه سره جمع شي چې كه دأپه دووكسانوكي وای نويوبه محجوب اوبل به حاجب وای نوپه داسي صورت كې فقط دحاجبوالي په اعتبارسره ده ته ميراث وركول كيږي مثلايوآتش پرست له خپلي مورسره نكاح كړي وه له هغې څخه دده زوی پيداشونوداهلک ددي ښځې زوی هم دی اولمسی هم دی اوس كوم وخت چې دابنځه مړه شي نودهلک ته به ددي ښځې دزوی والي په وجه سره ميراث وركول كيږي دلمسي والي په وجه سره به ميراث نه وركول كيږي ولی چې لمسی دزوی دموجودوالي په وجه سره محروم اومحجوب وي په مذكوره صورت كې زوی په خپله ددي لمسي پلاردی.

(۲۷)قوله لابنكاح محرم ای لايرث الكافربنكاح محرم ،يعنی له خپل محرم سره دنكاح كولو په وجه سره كوم كافرته ميراث نه وركول كيږي مثلاكوم كافرله خپلي لوريا له خپلي مورسره نكاح وكړي وروسته هغه مړه شي نودي كافرته دخاوندوالي په وجه سره ددي ښځې ميراث نه وركول كيږي ولی چې له اسلام قبلولو څخه وروسته دوئ پردي نكاح نه پريښودل كيږي لهذادوئ دانكاح دنكاح فاسدي حكم لري په دي وجه.

(۲۸)ولدزنااوهغه ماشوم چې دهغه په سبب دخاونداوښځې ترمنځ لعان شوی وي دخپلي موروارث كيږي. دپلاردتركه وارث نه شي كيدای ځكه له پلارڅخه خودهغه رشته له پخوانه پرې شوې ده له مورسره دهغه رشته قائمه ده ځكه دموروارث كيدای شي .دامام ابويوسف رحمه الله په نزددحمل لپاره ديوه زوی دحصې په اندازه تركه راګرځول كيږي يعني كه دمړه ښځه حامله وه اووارثانوغوښتل چې تركه تقسيم كړي نودحمل لپاره به له تركه څخه ديوه زوی حصه عليحده كړي باقي مال به تقسيم كړي .دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددڅلوروهلكانو ياانجونو څخه چې دڅاحصه زياته وي هغه دي پريښودله شي ځكه له يوې خيټې څخه دڅلوروماشومانو پيداكيدل متصوردي.

**فائده** :دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دی ،حضرت مولانامفتی رشيداحمدصاحب رحمه الله فرمايي :دتركه په تقسيم كې بهترداده چې دحمل دپيدايش انتظاروكړای شي چې دهغه وارث كيدل ياغيروارث

کيدل نړاونبخه نبکاره شي. خو که انتظار نه کوي او ترپيدا يښ مخته ترکه تقسيمول غواړي نو د حمل لپاره دي د ذکورة او انوثت جلا جلا مسئلي راوباسي (په کوم صورت کې چې د حمل حصه زياته وي هغه دي د حمل لپاره امانت پريږدي ) . ( احسن الفتاوی :۹/ ۳۰۰ ) وقال شارح التنوير:(ووقف للحمل حظ ابن واحد) اوبنت واحدة ايهما كان اكثر وعليه الفتوى لانه الغالب (الدر المختار على هامش رد المحتار:۵/۵۶۵).

(۲۹ )بيا که د ماشوم حصه زياته شوه بيا مړشونو وارث ګرځي او که يې حصه لږشوه بيا مړشونو بيا وارث نه ګرځي ځکه د وارث کيدو لپاره د مورله خيټې نه ژوندي پيدا کيدل شرط دی او اکثر د کل قائم مقام کيږي لهذا که اکثر ژوندی پيدا شو بيا مړشونو وارث ګرځي که نه بيا وارث نه ګرځي.

(۳۰ )که خوتنه قريبان په اوبو کې ډوب شو يا وسوځل مړه شونو له هغوئ ځخه يو د بل وارث نه شي کيدای داسې ګڼل کيږي چې ګواکې ټول پريوه ځای مړه شوي دي. البته که د مړه شويو کسانو ترتيب معلوم شي چې فلان مخته مړشوی دی او فلان وروسته نو په دي وخت کې له هغوئ ځخه وروسته مړشوی د مخکيني وارث ګرځي.

(۳۱)وَذُو رَحِمٍ وهو قريبٌ ليس بِذِي سَهمٍ ولا عَصَبةٍ ولَايرث مع ذِي سَهمٍ وعَصَبةٍ سوى أحد الزَّوجَين لعدم الرَّدِّ عليهما (۳۲)وترتيبهم كترتيب العَصَبات (۳۳)والتَّرجِيحُ بقُربِ الدَّرَجةِ ثمّ بكون الأصلِ وارِثًا (۳۴)وعِند اختِلافِ جِهةِ القَرابَةِ للأَب ضِعفُ قرابةِ الأُمّ (۳۵)وإن اتّفق الأصول فالقِسمَةُ على الأَبدان (۳۶)وإلّا فالعَدَدُ منهم والوَصفُ من بطنٍ اختلف (۳۷)ومخارجها اثنان للنّصفِ وأربعة وثمانية وثلاثة وستة لسميها (۳۸)واثنا عشر وأربعة وعشرون بالاختلاط (۳۹)وتعول بزيادة (۴۰)فستة تعول إلى عشرة وترا وشفعا واثنا عشر إلى سبعة عشر وترا وأربعة وعشرون إلى سبعة وعشرين

**ترجمه** :او ذورحم دی ،هغه دادی چې قريب وي او صاحب سهم نه وي او عصبه نه وي او وارث نه ګرځي له صاحب سهم سره او له عصبه سره هيڅوک سوا احد د زوجينو د عدم رد پرېوئ دوو باندي .او د دوئ ترتيب د عصباتو د ترتيب په شان دی او ترجيح د قرب د درجي په اعتبار سره دی بيا اصل وارث ګرځي او چې کله د قرابت جهت مختلف شي د پلار د قرابت والا ورله دوه چنده دی د مور د قرابت ځخه .او که اصول متفق وو بيا تقسيم پر ابدانو باندي کيږي که نه بيا په عدد انو سره کيږي او وصف د هغي خيټې ځخه په کومه کې چې اختلاف راغلی وي،او د فروضو مخارج دادي : د دوو عدد د نصف لپاره او څلور او اته او دري او شپږ د خپلو همنامو لپاره .او د دوولسو او څلورويشتو عدد دی د اختلاط په صورت کې او عول راځي د زيادت په صورت کې پس شپږ عول کوي تر لسو پوري طاق او جفت او دوولس تر اوولسو پوري د طاق په طريقه او څلورويشت تر اووه ويشتو پوري.

**تشريح** :(۳۱ )قوله وذورحم ،بالرفع عطف على قوله وعصبة يعني ثم الورثة ذو فرض وعصبة وذورحم ،يعني دريم قسم وراثان ذوارحام دي .او ذورحم هغه رشته دار ته وايي چې نه ذی فرض وي او نه عصبه وي يعني نه په شريعت کې د هغه حصه متعينه وي او نه له عصباتو ځخه وي .او ذورحم د ذوی الفروض او عصباتو په وجود کې وارث نه شي کيدلای، ځکه له ذوی الفرض ځخه پاتی شوې ترکه ردول يا عصباتو ته ورکول اولی دی تر دي چې ذوی

الارحام ته ورکړل شي.ځکه ذوی الفروض اوعصبات ترذوی الارحام مره ته په نسبت زيات قريبان دي .سوادیوه دزوجينوچې دهغوسره چې ذوی الفروض موجودهم وي بياهم ذی رحم ته حصه رسيږي.چې وجه يې داده چې په ميراث کې چې ددوئ دحصو ورکولو وروسته کوم څه پاتی شي هغه پردوئ باندي نه رديږي .

**فائده** :يعنې پاتی شوی مال خاوندواوښځې ته دوباره نه ورکول کيږي خلاف دنوروذوی الفروضوچې که دهغوئ دحصوڅخه څه مال پاتی شي نوهغه بيرته دهغوئ دورکړل شويوحصوپربرابرورکول کيږي.نوچې دزوجينودحصو ورکولووروسته کوم څه پاتی شي اودشرعي قانون له مخې دامال هغوئ ته دوباره نه ورکول کيږي اوله دوئ سواکوم ذوی الفرض یاعصبه نه وي نوپه دغه وخت کې ددغه مال وارث له ذی رحم سوابل هيڅوک نشته په دي وجه ذی رحم دهغوئ باوجودوارث ګرځي.

(۳۲)دذوی الارحام ترتيب دعصباتودترتيب په شان دی يعنې اول دمړه دفروع مثلادهغه دزامنواولمسيانو اولادوارث ګرځي که څه هم هرڅومره کښته وي بياکه فروع نه وونودمړه اصول مثلاجدفاسداوجدات فاسده که څه هم هرڅومره لوړې وي اوکه داهم نه وونوبيادمړه دموراوپلارفروع يعنې اخيافي یاعلاتی وروڼواوخويندو اولاد ،بيابياداجدادواوجداتوفروع علی هذالقياس

(۳۳)په ذوی الارحاموکې ددرجې دقرب په اعتبارپخپل منځ کې ترجيح وي مثلادمړه دلوربچی دده دلوردبچي تربچي اودمړه دزوی دلورترلورمقدم دی ځکه په دوئ کې ارث دعصوبت په طريقه دی لهذااقرب ترأبعدمقدم کيږي،اوکه يې په درجه کې فرق نه ووبيادااصل په وارث کيدوسره ترجيح ورکوله کيږي يعنې که په ذوی الارحاموکې ټول سره برابروبيادوارث اولادته ترجيح ورکوله کيږي دغيروارث پراولادباندي که هغه دعصبه اولادوي یاذوی الفروض اولادوي مثلادزوی له خوادلمسي لور.دلورله خوادلمسي ترلورمقدمه ده .اوهمدارنګه دزوی له خوالمسی (هلک ) دلورله خواترلمسي مقدم کيږي ځکه په دي دووقسمونوکې دادواړه مړه ته دقرب په لحاظ که څه هم په درجه کې سره برابردي ليکن په لومړي صورت کې دزوی له خوادلمسي دلوراصل يعنې (دزوی زوی ) اوپه دوهم صورت کې دلمسي دزوی اصل يعنې (همدغه دزوی زوی ) وارث دی نوپه استحقاق ارث کې دمقدم کيدوپه وجه دهغوئ اولادته ترجيح ورکوله کيږي.

(۳۴)که دذوی الارحام جهت دقرابت له مړه څخه مختلف وويعنې يوه مړه ته دپلارله طرفه قرابت درلوداوبل مړه ته دمورله طرفه قرابت درلودنوهغه چې دپلارله طرفه قرابت لري هغه ته دوه چنده ورکول کيږي ترهغه چې دمورله طرفه قرابت لري مثلاسړی مړشودپلارنيکه(دمورله طرفه ) اودمورنيکه(دپلارله طرفه ) يې پاتی شواول ته دوه ثلثان اودوهم ته يوثلث ورکول کيږي .ځکه حضرت عمر ﷺ په اخيافی کاکااوخاله کې .کاکاته ثلثان اوخاله ته دثلث ورکولوحکم فرمايلی دی.

(۳۵)اوکه دذوی الارحامواصول په نارينه توب اوښځينه توب کې سره برابروونوبياترکه دهغوئ پرسرونوباندي تقسيميږي مثلادمړه ديوې خورياداووخويندواولاددی بياکه چيرته هغوئ هلکان

وونو هريوه ته برابره حصه ورکوله کيږي اوکه ټول انجونه وي بياهم برابري حصې ورکولې کيږي اوکه هلکان او انجوني وي نوځرنګه چې دهغوئ اصول يعني ميندې دمړه په خوروالي کې برابرې دي نوپه دغه صورت کې ترکه دهغوئ پرسرونوباندي للذکرمثل حظ الانثيين مطابق تقسيميږي يعني هلک ته دوه حصې ورکولې کيږي او انجلۍ ته يوه حصه.

(۳۶) اوکه چيرته دهغوئ اصول په ذکورة اوانوثت کې مختلف وي نوبياترکه دهغوئ پرشميرباندي تقسيميږي اوپه کوم بطن اودرجه کې چې دااختلاف راغلی وي په هغه کې دوصف يعني نارينه توب اوښځينه توب فرق لحاظيږي مثلا دمړه دلورله خوايوه لمسۍ ده دهغې لوراويوبې دلورله خوالمسی دی هغه لورځوندۍ دي نوپه دغه صورت کې لومړي ته يوثلث اودوهم ته دوه ثلثه ورکول کيږي. ځکه لۀ کوم ځای نه چې دهغوئ بطن يعني درجه مختلفه شوې ده هلته يوه طرف ته هلک اوبل طرف ته انجلۍ ده نودلمسي (هلک) لورته دلمسي په اعتباردوه ثلثه ورکول کيږي اودلمسۍ لورته دلمسۍ په اعتباريوثلث

(۳۷) مصنف رحمه الله لـه دغه ځايـه دسهامو دمخارجوبيان کړی دی دترکـه دتقسيم پـه وخت کـې دي تـه ضرورت پيداکيږي پـه قرآن کـريم کـې چـې کـومې حصـې مـذکوري دي هغـه دوه قسمـه دي دري يو قسم يعنـي نصف ،ربع ،ثمن ،اودرې بـل قسم يعنـې ثلث ،ثلثـان ،سدس ،دهرقسم سهام پخپل منځ کـې نسبت دتضعيف اوتنصيف سـره لـري لکـه نصف ضعف دربع دی اوربـع ضعف دثمن اوثمن نصف دربع دی اوربع نصف دنصف دی اونصف ضعف الضعف دثمن دی اوثمن نصف النصف دنصف دی ،همداسي نسبت پـه ثلث ،ثلثان اوسدس کـې هـم دی .لـه کـوم عدد څخـه چـې کسريعني حصه وايستل شي هغه عدد دهغه مخرج کيږي اوکوم چې دجزء لپاره مخرج وي هغه دکـل لپاره هـم مخـرج کيـږي نودنصف لپـاره مخـرج ددوو(۲) عـدددی اودڅلورولپاره دڅلـورو(۴) عـدددی اوداتولپـاره داتـو(۸) عـدددی اودثلثـان ثلث لپـاره ددريـو(۳) عـدددی اودسدس لپـاره دشپږ(۶) عـدددی يعنـي هرعـدد دخپل همنام لپـاره مخـرج دی .نـوچي کلـه پـه مسائلوکي لـه دغوفروضـوڅخه يويوراشـي نـومخرج دهغـه همنـام ګرځـي مثلانښـځه مـړه شـوه خاونـداوزوی يـې پـاتی شـونوخاوندته دزوی پـه وجـه ربـع ورکولـه کيـږي پـه دغـه صـورت کـې لـه مـذکوره فروضـوڅخه يـواځي ربـع دی لهذامسـئله لـه څلوروڅخـه جـوړيږي اوهمـداڅلور ددي مسئلې مخرج ګڼل کيږي اوکـه پـه کـوم صـورت کـې يـواځي ثمـن راغلـی وونواتـه دهغـی مسئلې مخـرج ګرځي .اوچـې کلـه لـه دغوفروضـوڅخه دوه دوه يـادري دري راشـي اوټـول يوقسم وي نودهغوئ مخرج هغـه دی چې پـه دوئ کـې دکـم عـددمخرج وي مثلانښـځه مـړه شـوه خاونـديوه لوراويوآکـايي پـاتی شـول نوخاوندتـه دانجلۍ پـه وجـه ربـع ورکولـه کيـږي اوانجلـۍ تـه دتنهاپـای کيدوپـه وجـه نصف ورکـول کيـږي نودلتـه پـه مسئله کـې ربـع اونصف سـره جمـع شـوي دي چـې دواړه لـومړي قسم فـروض دي اوپـه دواړوکـې کـم عـدد څلوردی نوهغـه څلـورمخرج ګرځـي .همدارنګـه کـه

په كوم صورت كې يواخې ددوهم قسم فروض جمع وونو په هغوكې چې كوم يولوړعدد وي هغه مخرج ګرځي مثلاً ثلث او سدس جمع شونو سدس مخرج ګرځي. اوكه داسې يوصورت ووچې دلومړي قسم يواخې نصف ددوهم قسم له يوه يادوويادريوسره جمع شونوبيامسئله له شپږوڅخه جوړيږي او مخرج د شپږوعدد ګرځي.

(۳۸) اوكه دلومړي قسم څخه ربع اوددوهم قسم د ثلثان يا ثلث يا سدس يادريوسره جمع شونو مخرج ددوولسوعدد جوړيږي مثلاً يوسړى مړشونبخه، موراويوآكايي پاتې شول نودښځې حصه ربع ده اودمورحصه ثلث دى نوځرنګه چې په دې صورت كې ربع او ثلث سره راغلي دي لهذا ددې مسئلې مخرج دوولس راځي. اوكه له لومړي قسم څخه ثمن اوله دوهم قسم څخه يو يادري وارو ورسره جمع شول نوبيامخرج دڅلورويشتوعدد جوړيږي مثلاً يوسړى مړشونبخه، دوې لونې اويوآكايي پاتې شول نودښځې حصه ثمن دى اوددوانجونو حصه ثلثان دي نومسئله به دڅلورويشتوڅخه جوړيږي، اوله دې څخه داهم معلومه شوه چې كه چيرته يو وارث دنصف مستحق وي اوبل دحصې وغيره نوپه دې صورت كې به مخرج شپږكيږي په دې حساب داختلاط مخرج دري كيږي.

**فائده**: مذكوري مسائلې هغه وخت دي چې كله په هغوئ كې يويازيات ذوي الفروض موجودوي اوكه په مسئله كې يواخې عصبات وونوبيامسئله دهغوئ دسرونو دحساب څخه بنودله كيږي يعنې څومره سرونه چې وي هغومره مسئله جوړيږي، كه عصبات يواخې نارينه وونوبيادهريوه يوسرشمارل كيږي اوكه له هغوئ سره ښځينه هم وي نوبيادمؤنث په مقابله كې مذكرپه دوشمارل كيږي اوپه قاعده دللذكرمثل حظ الانثيين، تقسيم كيږي.

(۳۹) اوددې مخارجودحصوپه زياتوب سره دامخارج عول كيږي، دفرائضوپه بعضومسائلوكې داسې صورتونه راځي چې دمخرج عددكم وي اودوارثانوسهام زيات وي نوهلته بيامخرج څه اندازه زياتيږي چې ټولووارثانوته دهغوئ حصې پوره وروسيږي اودې زياتوب ته په علم ميراث كې عول ويل كيږي اودازياتوب په دې دريومخرجونوكې كيږي چې ددواړوحصوپه يوځاى والي سره پيدا كيږي يعنې شپږ، دوولس اوڅلورويشت. دباقي ذوي الفروضوسهام چې له كوم مخرج څخه ايستل كيږي هغه ټول اووه دي يعنې: ۲، ۳، ۴، ۸، ۶، ۱۲، ۲۴، په دغواووكې يواخې په دريوآخري كې عول كيږي.

(۴۰) دشپږوعددترلسوپوري عول كيږي په طاق اوجفت دواړوطريقوسره يعنې دشپږوعول اووااونهوته كيداى شي اواته اولس هم مثلاً دمړه وارثان خاونداودوې حقيقي خويندي دي، اصل مسئله له شپږوڅخه جوړيږي چې دري حصې دزوج اوڅلورخويندوته وركول كيږي دري اوڅلورمجموعه اووه دي. چې ترمسئله زيات دي نوددغې مسئلې عول اووته وركول كيږي چې دهغوڅخه ددواړوفريقوسهام پوره راوځي اوددولسوعول تراوه لسوپوري كيږي مګرطاق وي جفت نه وي يعنې ددوولسوعول

دیارلس.پنځلس اواوه لس كيداى شي څوارلس اوشپاړلس نه وي.مثلاسړى مړشوزوجه .موراودوې حقيقي خويندي يې پاتى شو .اصل مسئله له دوولسوڅخه اېښودله كيږي چې دهغوڅخه درې حصى زوجه ته دوې مورته اواته خويندوته وركولى كيږي چې مجموعه يې ديارلس كيږي.ترمسئله زياتى دي لهذاعول ديارلسوته وركول كيږي چې دهغوڅخه دټولوسهام پوره راوځي .دڅلورويشتوعول يواځي تراوه ويشتوپوري راځي يعني نه پنځه ويشت اوشپږويشت وي اونه تراوه ويشتولوړيږي مثلاسړى مړشوزوجه .دوې لونه .موراوپلاريې پاتى شو .اصل مسئله له څلورويشتوڅخه جوړيږي چې په هغوكې درى حصى زوجه ته شپاړس لونوته اوڅلورمورته څلورپلارته وركولى كيږي چې مجموعه يې اوه ويشت راځي چې تراصل مسئله زيات دي لهذاددي مسئلى عول اوه ويشتوته كيږي.

(۳۱)فإن انكسر حظ فريق ضرب وَفق العَدد في الفريضة إن وافق وإلا فالعدد في الفريضة فالمبلغ مخرجه (۳۲)وإن تعدد الكسر وتماثل ضرب واحد وإن تداخل فالاكثر (۳۳)فإن توافق فالوفق (۳۴)وإلا فالعدد في العدد ثم وثم ثم جميع المبلغ في الفريضة وعولها (۳۵)وما فرض يرد على ذوي الفروض بقدر فروضهم إلا على الزوجين فإن كان من يرد عليه جنسا واحدا فالمسألة من رؤوسهم كبنتين أو أختين (۳۶)وإلا فمن سهامهم فمن اثنين لو سدسان وثلاثة لو ثلث وسدس وأربعة لو نصف وسدس وخمسة لو ثلثان وسدس (۳۷)أو نصف وسدسان (۳۸)أو نصف وثلث (۳۹)ولو مع الأول من لا يرد عليه اعط فرضه من أقل مخارجه ثم اقسم الباقي على من يرد عليه كزوج وثلاث بنات (۵۰)وإن لم يستقم فإن وافق رؤوسهم فاضرب وفق رؤوسهم في مخرج فرض من لا يرد عليه كزوج وست بنات وإلا فاضرب كل عدد رؤوسهم في مخرج فرض من لا يرد عليه كزوج وخمس بنات (۵۱)ولو مع الثاني من لا يرد عليه اقسم ما بقي من مخرج فرض من لا يرد عليه على مسألة من يرد عليه كزوجة وأربع جدات وست أخوات لأم

**ترجمه**:اوكه ماته شى حصه ديوفريق نوضربيږى وفق درؤسوپه اصل مسئله كې كه توافق ووكه نه كل عددرؤس په اصل مسئله كې بياهغه حاصل ضرب مخرج ګرځي اوكه ډيرځايه كسروواوتماثل ووبوبياضربيږى يواوكه تداخل ووبياهغه ډيرعدداوكه توافق ووبياوفق دعددكه نه بياعددرؤس په بل عددكې ضربيږي بياحاصل ضرب په اصل مسئله اوعول كې ضربيږي اوڅه چې پاتى شى هغه پرذوى الفروضوباندى راردیږي دهغوئ دسهامومطابق سوادزوجينوبياكه دغه من يردعليه جنس واحدووبوبيامسئله دهغوئ درؤسودعددڅخه اېښودله كيږى لكه دوې لونې يادوې خويندي كه نه بيادهغوئ دسهاموموافق اوله دووڅخه ښودله كيږي كه دوه سدسان وواوله دريوڅخه كه ثلث اوسدس وواوله څلوروڅخه كه نصف اوسدس وواوله پنځوڅخه كه ثلثان اوسدس ياسدس يانصف اودوه سدسه ووبانصف اوثلث وواوكه ووله اول سره هغه چې پرهغه باندي ردنه كيدى نوورديي كړي دهغه فرض داقل دمخارجوڅخه بيادي باقى پرمن يردعليه باندي تقسيم كړي لكه خاونداودرې لونې اوكه بياپوره تقسيم نه كيدى نوبياكه ددوئ په رؤسوكې توافق ووبيادي ضرب كړي وفق درؤسودمن لايردعليه په مخرج كې لكه خاونداوشپږلونې كه نه بيادي ضرب كړي كل رؤس دمن لايردعليه دفرض په مخرج كې لكه خاونداوپنځه لونې اوكه ووله دوهم سره من لايردعليه نوتقسيم دي كړي هغه چې پاتى شي دمن لايردعليه دفرض دمخرج څخه دمن يردعليه پرمسئله باندي لكه ښځه اوڅلورجدات اوشپږاخيافى خويندي.

**تشريح** :(۴۱)کله داسې يوصورت مخته راځي چې سهام پرورثه ؤباندي برابرنه تقسيمېږي نوکي په سهامواوعددورثه ؤکې کسرواقع کيږي ددغه کسرليري کولوته دميراث په اصطلاح کې تصحيح وايي.بياکه دوارثانوديوفريق حصه پرهغوئ باندي پوره نه تقسيميدله بيابه ورته وګوروچې که چيرته دحصه والاؤاوعددترمنځ دتوافق نسبت وونودوارثانو دعددوفق به راواخلوپه اصل مسئله کې (يعني هغه چې دټولوحصومخرج ګرځيدلی وو )،به يې ضرب کړومثلاوارثان ابوين اولس لونې دي مسئله له شپږوڅخه جوړيږي ابوينوته سدسان بلاکسرورکول کيږي اولسولونوته له ابوينوڅخه باقی مانده څلورحصی ورکولې کيږي اوڅلورپرلسوباندي بلاکسرنه تقسيميږي اودڅلوروااولسوترمنځ دتوافق نسبت دی ددوپرعددباندي دواړه تقسيمېدای شي نودعددرؤس يعني لسووفق پنځه به راواخلي په اصل مسئله يعني شپږوکې به ضرب کړای شي حاصل ضرب ديرش کيږي اوس به مسئله له ديرشوڅخه بنودله کيږي چې بلاکسرپروارثانوباندي تقسيميږي چې پنځه پنځه سهام ابوينوته ورکولي شي اوله لسولونوڅخه هري يوې ته دوې دوې سهام ورکولې کيږي اوکه دحصواودهغوداخيستونکو ترمنځ دتوافق نسبت نه وو(بلکي تباين وولکه دڅلوروااودريوترمنځ يادپنځواوشپږوترمنځ) نوبياپه دي صورت کې ټول عددرؤس په اصل مسئله کې ضربيږي اوڅه چې حاصل ضرب راووځی له هغه څخه بياټولي حصې تقسيميږي همدارنګه په دی حساب سره ټولو ته خپله خپله حصه پوره وررسيږي.

(۴۲)اوکه کسرڅوځايه راغلی وويعني دوارثانوڅوفريق وواودهرفريق سهام په هغوئ پوره نه رسيدی بلکې په ټولوکې کسرراته نوکه دټولوفريقوپه عددرؤس کې دتماثل نسبت وو(يعني په شمارکې ټول سره برابروو )نوله دوئ څخه به دهرفريق عدداصل مسئله په عددکې ضرب کړی شي مثلاپه وارثانوکې درې لونې دي اودرې اعمام(تره ګان دي ) مسئله له دريوڅخه جوړيږي لونوته دوه اواعماموته يوه حصه ورکوله کيږي اوپه دواړوفريقوکې کسردی اودواړه فريق په عددکې سره برابردي لهذاديوه فريق عددبه راواخلي په اصل مسئله کې به يې ضرب کړي حاصل ضرب نه جوړيږي اوله نهوسهاموڅخه شپږبناتوته اودرې اعماموته ورکول کيږي په دي ډول کسرختم کيږي اوکه دټولوفريقوپه عددرؤسوکې دتداخل نسبت وويعني داسې ووچې له هغوئ نه څيني زيات اوځيني کم وواوزيات عددپرکم باندی بلاکسررسيده نوچې دکوم فريق کسان زيات وي دهغوئ عددرؤس داصل مسئلي په عددکې ضربيږی مثلاپه وارثانوکې څلورزوجاتی دي درې جداتی دي اودوولس اعمام دي.مسئله له دوولسوڅخه بنودله کيږي زوجاتوته ربع يعني درې سهام ورکول کيږي چې پردوئ باندي برابرنه تقسيميږي اودعددرؤس اوسهام ترمنځ تباين دی نوموړعددرؤس راواخيست چې څلوردی اوجداتوته سدس يعني دوه سهام ورکول کيږي چې پرهغوئ باندي برابرنه تقسيميږي اودعددرؤس اوسهام ترمنځ نسبت تباين دی موږعددرؤس راواخيست چې درې دي.اودولسوااعماموته باقی مانده يعني اوه سهام ورکول کيږي چې پرهغوئ باندي برابرنه تقسيميږي نوموږدهغوئ عددرؤس راواخيست بياموددريوواړوفريقودعددرؤس ترمنځ نسبت ملاحظه کړنودفريق اول اوثاني عددرؤس(چې څلوراودرې دي ) دفريق ثالث له عددرؤس سره دتداخل نسبت لري نوموږدفريق

ثالث عددرؤس په اصل مسئله كې ضرب كړحاصل ضرب يوسل څلورڅلويښت جوړشوچې پرټولو وارثانو باندې بلاكسر تقسيمېږي.

(۴۳) قوله وان توافق فالوفق اى ان توافق بعض اعدادرؤس بعضا فالحكم ان يضرب وفق احدالاعدادفى جميع العددالموافق. يعنې كه دوارثانو دفريقو په عددكې دتوافق نسبت وو(يعنې هغه يو داسې عددوچې په يوه دريم عددسره دواړه فناكيداى شي لكه اته اوشل چې دڅلوروعددېې فناكولاى شي) نوپه دغه صورت كې ديوه عددوفق په بل پوره عددكې ضربېږې بيادحاصل ضرب اودريم عددترمنځ نسبت كتل كيږي كه دتوافق نسبت وونوحاصل ضرب ددريم عددپه وفق كې ضربېږي اوكه دتباين نسبت وونوپه كل عددكې ضربېږي بيادحاصل ضرب اوڅلورم اوپنځم عددترمنځ نسبت كتل كيږي بيادټولو اعدادوحاصل ضرب په اصل مسئله كې ضربېږي مثلاپه وارثانوكې څلورزوجاتې، اتلس لونې پنځلس جداتې اوشپږاعمام دي.مسئله له څلورويشتوڅخه ښودله كيږي .زوجاتوته دكل تركه ثمن يعنې درې سهام وركول كيږي دسهامواوعددزوجات ترمنځ تباين دى نوموږدهغوئ عددرؤس .څلورمحفوظ كړل اواتلسولونوته ثلثان يعنې شپاړلس سهام وركول كيږي دسهامويعنې شپاړلسواودهغوئ دعددرؤس يعنې اتلسو ترمنځ توافق بالنصف دى نوموږنصف عددرؤس يعنې نه محفوظ كړل.اوپنځلسوجداتوته سدس يعنې څلورسهام وركول كيږي دسهامويعنې څلورواوعددرؤس يعنې پنځلسو ترمنځ تباين دى نوموږپنځلس كل عددرؤس محفوظ كړل.اوشپږاعمام څرنګه چې عصبه دي اوله تركه څخه يوسهم پاتې شوى دى لهذاهغوئ ته يوسهم وركول كيږي ددوئ دسهم يعنې يوه اودهغودعددرؤس يعنې شپږوترمنځ تباين دى نوموږدهغوئ كل عددرؤس يعنې شپږمحفوظ كړل.اوس دټولوفريقومحفوظ اعدادرؤس ۴، ۹، ۱۵، ۶، دي اوموږدهغوئ ترمنځ نسبت تلاش كړدڅلوروا وشپږوترمنځ توافق بالنصف دى څكه دڅلورونصف يعنې دوه موپه شپږوكې ضرب كړل حاصل ضرب دوولس دي اوبياددوولسواونهوترمنځ توافق بالثلث دى نوددوولسوثلث يعنې څلورموپه نهوكې ضرب كړل نوحاصل ضرب شپږديرش دي بيادشپږديرشواوپنځلسوترمنځ توافق بالثلث دى دشپږديرشوثلث يعنې دوولس موپه پنځلسوكې ضرب كړل نوحاصل ضرب يوسل اتياشول بياموددغه مجموعه په اصل مسئله يعنې څلورويشتوضرب كړه چې څلورزره درې سوه شل (۴۳۲۰)حاصل شوبيايوسل اتيا(۱۸۰)دهريوه په حصه كې له ضربولوڅخه دڅلوروزوجاتو مجموعه پنځه سوه څلويښت (۵۴۰)اوهريوه ته يوسل پنځه ديرش (۱۳۵)اواتلسولونوته مجموعه دوه زره اته سوه اتيا(۲۸۸۰)اوهرې يوې ته يوسل شپېته (۱۶۰)اوپنځلسوجداتوته مجموعه اوه سوه شل (۷۲۰)اوشپږواعماموته مجموعه يوسل اتيا(۱۸۰)اوهريوه ته ديرش وررسيږي.

**فائده**: آسانه طريقه يې داده چې دټولو وارثانو درؤسوذواضعاف اقل راوايستل شي كوم عددچې حاصل ذواضعاف راووت هغه عددپه مسئله كې ضرب كړاى شي له حاصل ضرب څخه صحيح تقسيم كيږي په مذكورصورت كې حاصل ذواضعاف اقل دوولس دي .دوولس چې په مسئله كې ضرب كړاى شي حاصل ضرب يوسل شپږڅلويښت دي چې دهغه څخه صحيح تقسيم كيږي .همدارنګه حاصل ذواضعاف اقل

دتولوو ارثانو په سهامو کې ضرب کړي حاصل ضرب ددي وارثانو سهام کيږي بيا دهرفريق سهام دهغه فريق پرعددرؤس باندي تقسيم کړاى شي حاصل تقسيم دهغه فريق في نفرسهم کيږي.

(۴۴)قوله والافالعددفي العدداى وان لم يوافق بعض الاعدادبعضايضرب احدالاعدادفي جميع الثانى الخ.يعني كه دتولوفريقوعددپخپل منځ کې سره متباين وونوديوه فريق عددبل فريق په عدد کې اوبياحاصل ضرب ددريم فريق په عدد کې اوبياپه آخرکې حاصل ضرب دهغې مسئلې په عدد کې ضرب کړاى کيږي اوكه مسئله عوليه وه په عول کې ضربيږي مثلايوسړى مړشوددوې ښځې شپږجدات .لس لوڼي .اوه آکاګان يې پاتى شول .نواصل مسئله له څلورويشتو(۲۴)ښودله كيږي چې ثمن يې (درې) دي دووښځوته ورکول کيږي اودهغوئ دعددرؤس يعنې دوواوسهامويعنې دريوترمنځ تباين دى څكه كل عددرؤس يعني دوه محفوظ شو.اودڅلورويشتويوسدس (يعني څلور) شپږوجداتوته ورکړل کيږي دهغوئ دعددرؤس اوسهامويعنې څلوروترمنځ توافق بالنصف دى څكه نصف عددرؤس يعنې درې محفوظ وساتل شو.اودڅلورويشتودوه ثلثه (يعنې شپاړلس) لسولوڼوته ورکول کيږي دهغوئ دعددرؤس يعني لساوسهامويعني شپاړلسوترمنځ توافق دى څكه نصف عددرؤس (يعني پنځه )محفوظ شو.اوله څلورويشتوڅخه باقى مانده پنځه سهام اعماموته ورکول کيږي څكه اعمام عصبه دي اواعامودعددرؤس يعني اوواودهغوئ دسهامويعني پنځوترمنځ تباين نسبت دى څكه مودهغوئ عددرؤس محفوظ کړ.اول ټول ۲، ۳، ۵، ۷، متبائنه اعدادشوبيامودوه په دريوکې ضرب کړل شپږترې جوړشوبيامو حاصل ضرب شپږپه پنځوکې ضرب کړل ديرش څيني جوړشوبيامو ديرش په اووکې ضرب کړل نودوه سوه لس شو.بيامودغه مجموعه په اصل مسئله څلورويشتوکې ضرب کړل نوټول ۵۰۴۰پنځه زره څلويښت شوله دي څخه ټولوته برابرې حصې ورکولې کيږي په دې ډول چې حاصل ضرب دوه سوه لس دهرفريق په حصه کې ضرب کړي نوددووزوجاتومجموعه شپږسوه ديرش اوهرې يوې ته درې سوه پنځلس رسيږي اودشپږوجداتومجموعه اته سوه څلويښت اوهرې يوې ته يوسل څلويښت رسيږي.دلسولوڼومجموعه درې زره درې سوه شپيته (۳۳۶۰)کيږي هرې يوې ته درې سوه شپږديرش رسيږي اوداوواعامومجموعه دوه سوه لس اوهريوه ته ديرش رسيږي.

**فائده** :په دې صورت کې هم دوارثانودرؤسويعنې شپږ،دوه .لس .اوه ذواضعاف اقل ايستلوڅخه حاصل ذواضعاف اقل دوه سوه لس جوړيږي چې په اصل مسئله يعني څلورويشتوکې دضربولوڅخه حاصل ضرب ۵۰۴۰راوځي چې ټولوته څيني برابرسهام رسيږي.

(۴۵)اوذوى الفروضوته چې حصص ورکړل شي کوم مال چې پاتى شى هغه ذوى الفروضوته دهغوئ دحصوموافق ورکول کيږي سوادزوجينو(چې دوئ كه څه هم له ذوى الفروض څخه دي) مګرهغوئ ته له پاتى شوې مال څخه هيڅ نه ورکول کيږي اوددغه پاتى شوې مال دوباره ورکولوته دميراث په اصطلاح کې ردّ ويل کيږي.چې طريقه يې داده چې پرکوموورثانوچې ردكيداى شي كه هغوئ ديوه جنس وونودهغوئ حصې دهغوئ دشمارموافق کيږي مثلاديوه مړي وارثان يواځې دوې لوڼې يادوې خويندې دي نوددوئ

مسئله له دريو ښخه جوړيږي له دريو ښخه دوې حصې هغوئ ته ورکولې کيږي يوه حصه پاتيږي اوس دا يوه حصه پرهغوئ باندې ردېدو صورت داسې جوړيږي چې دهغوئ حصې دهغوئ دعدد موافق ګرځي يعنې اصل مسئله له دوو ښخه جوړيږي په دې ډول پرهغوئ باندې صحيح تقسيم کېداى شي.

(۴۶)قوله والافمن سهامهم اى وان لم يكن من يرذعليه من الورثة جنساواحدافيجعل المسئلة من سهامهم.يعنې پرکوموو ارثانو چې ردکېداى شي هغوئ ځوجنسه وونو بيا مسئله دهغوئ دحصو له شمار ښخه نيو دله کيږي يعنې لومړى به داصل مسئلې ښخه چې ځومره حصې هغوئ ته رسيدلې وې هغه به جمع کړاى شي اوکوم چې حاصل جمع وي هغه به داصل مسئلې عدد وګڼل شي مثلاکه دوه کسان دشپږمې حصې والاسره جمع شول لکه دمړه جده او اخيافى خورنو په دې صورت کې به مسئله له شپږو ښخه جوړيږي له شپږو ښخه به هريوه ته يوه يوه حصه ورکوله کيږي نودوا ړوته به دوه سهام وررسيږي نو اصل مسئله به له دوو ښخه ړدې په دې ډول پرهغوئ باندې ترکه.په صحيح ډول تقسيميږي اوکه دثلث اوسدس والاسره جمع شولکه موراودوې اخيافې خويندې نو په دې صورت کې به مسئله له شپږو ښخه نيو دله کيږي اودوارثانوکل سهام درې دي نواصل مسئله به له دريو ښخه جوړيږي چې له هغو ښخه به يو سهام مورته اودوه سهام اخيافى خويندوته ورکول کيږي.

(۴۷)اوکه دسدس اونصف والاسره جمع شو مثلايوه لوراويولمسى نو اصل مسئله له شپږو ښخه جوړيږي اودورثه ؤ مجموعه سهام ځلوردي درې سهام دلوردي اويو سهم دلمسي دى نومورړمسئله له ځلورو ښخه ړدو چې له هغو ښخه درې حصې لورته ورکولې کيږي اويوه حصه لمسي ته.

(۴۸)اوکه دثلثان اوسدس والاسره جمع شو مثلادمړه دوې لونې اوموروه .يادنصف اودوو سدسانو والاسره جمع شو مثلايوه حقيقى خوراويوه اخيافى خوروه يادنصف اويوه ثلث والاسره جمع شونو په دغو دريو واړو صورتونوکې اصل مسئله له شپږو ښخه نيودله کيږي اوورثه ؤته چې سهام رسيږي په درې واړه صورتونوکې پنځه دي لهذا مو ړمسئله له پنځو ښخه ړدو.

(۴۹)اوکه له اول سره من لايرذعليه وويعنې که وارثان يوجنس وواوله دوئ سره يوداسې وارث هم وو چې پرهغه باندې ردنه شواى کېداى(مثلاله هغه سره دمړه خاوندوويايې ښځه وه )نو په دې صورت کې دخاوند يابنځې حصه ترټولو کمه حصه مخرج السهم ښخه جوړيږي اوورکول کيږي اوباقى پرهغويوه جنس وارثانوباندې تقسيميږي مثلايوه ښځه مړه شوه اوپه وارثانوکې يې يوخاوند اودرې لونې پاتې شوې نودخاوند حصه ده لهذادهغه حصه ترټولو له کم مخرج يعنې ځلورو ښخه يوه حصه خاوندته ورکوله کيږي باقى درې حصې درې لونوته ورکولې کيږي داهغه صورت دى چې دمن لايرذعليه له حصې ورکولو ښخه وروسته باقى مانده پروارثانوباندې برابرې تقسيميږي.

(۵۰) او که د من لایرد علیه له حصو ورکولو څخه وروسته باقي مانده پر وارثانو باندي برابر نه تقسیمیده نو د تصحیح قاعده دي جاري کړای شي یعني ودي ګوري چي د عدد رؤس او سهامو ترمنځ توافق شته که نه؟ که توافق وو نو وفق رؤس دي په اصل مسئله کي ضرب کړای شي مثلا بښځه مړه شوه خاوند او شپږ لوڼې یې پاتي شوي نو د خاوند فرض له اقل مخارج (یعني څلورو) څخه یوه حصه دي ورکړي دري حصې پاتي شوي چي پر لوڼو باندي برابري نه تقسیمیږي او د شپږو او دریو ترمنځ توافق دی ځکه د هغوی د عدد رؤس شپږو وفق یعني دوه په اصل مسئله یعني په څلورو کي ضربیږي حاصل ضرب اته راوځي چي د هغو څخه دوې حصې خاوند ته ورکولې کیږي او شپږ حصې شپږو لوڼو ته ورکولې کیږي. او که د عدد رؤس او سهامو ترمنځ توافق نه وو تباین وو نو کل رؤس د من لایرد علیه د فرض په مخرج کې ضربیږي مثلا بښځه مړه شوه خاوند او پنځه لوڼې یې پاتي شوي نو خاوند ته له اقل مخارج (یعني څلورو) څخه یوه حصه ورکوله کیږي باقي دري حصې پاتیږي چي هغه پر پنځو انجونو باندي برابري نه تقسیمیږي او د پنځو او دریو ترمنځ د تباین نسبت دی ځکه کل عدد رؤس یعني پنځه په اصل مسئله یعني څلورو کي ضربیږي حاصل ضرب شل کیږي نو خاوند ته پنځه او انجونو ته مجموعه پنځلس او فی نفر دري دري سهام وررسیږي.

(۵۱) او که د ثاني سره من لایرد علیه وو یعني که د خاوند یا بښځي سره مختلف الجنس هغه وارث وو چي پر هغه باندي رد کیدای شوای نو من لایرد علیه ته له حصي ورکولو وروسته دي باقي مانده مال د من یرد علیه پر مسئله باندي تقسیم کړي که د هغوی پر سهامو برابر تقسیم کیدی مثلا سړی مړ شو بښځه، څلور جدات او شپږ اخیافي خویندې یې پاتي شوې نو د من لایرد علیه اقل مخرج څلور دي زوجې ته د هغه ربع یعني یوه حصه ورکول کیږي وروسته دري حصې پاتیږي چي د من یرد علیه پر سهامو باندي برابر تقسیمیږي ځکه د اخیافي خویندو حق ثلث او د جداتو حق سدس دی نو اخواتو له دوې حصې او جداتو له یوه حصه کیږي. بیا څرنګه چي د من یرد علیه او د هغوی په سهامو کي کسر دی لهذا د تصحیح ضرورت دی بیا مو د اخواتو او جداتو دواړو د عدد رؤس او عدد سهام نسبت وکوت نو د څلورو جداتو او د هغوی د سهامو ترمنځ د تباین نسبت دی او د شپږو اخواتو او د سهامو ترمنځ توافق بالنصف نسبت دی نو موږ د هغوی د عدد رؤس وفق یعني دري را واخیستل او هغه مو د جداتو په عدد رؤس یعني څلورو کي ضرب کړل او حاصل ضرب یعني دوولس مو په اصل مسئله یعني څلورو کي ضرب کړل نو ټول حاصل ضرب اته څلویښت شو چي له هغو څخه مسئله صحیح کیږي بیا له اته څلویښت سهامو څخه زوجې ته دوولس او څلورو جداتو ته مجموعه دوولس او فی نفر دري دري او شپږو اخیافي خویندو ته مجموعه څلور ویشت او فی نفر څلور سهام رسیږي

(۵۲) وإن لم يستقم فاضرب سهام من يرد عليه في مخرج فرض من لا يرد عليه كأربع زوجات وتسع بنات وست جدات (۵۳) ثم اضرب سهام من لا يرد عليه في مسألة من يرد عليه وسهام من يرد عليه فيما بقي من مخرج فرض من لا يرد عليه (۵۴) وإذا انكسر فصحح كما مر (۵۵) وإن مات البعض قبل القسمة فصحح مسألة الميت الأول وأعط سهام كل وارث ثم صحح مسألة الميت الثاني وانظر بين ما في يده من التصحيح الأول وبين التصحيح الثاني لثلاثة أحوال فإن استقام ما في يده من التصحيح الأول فلا ضرب وصحتا من تصحيح مسألة الميت الأول (۵٦) وإن لم تستقم فإن كان بينهما موافقة فاضرب وفق التصحيح الثاني في كل التصحيح الأول

**ترجمه**: اوكه پوره تقسيم نه كيدى نوضرب دي كړي دمن يردعليه سهام دمن لايردعليه دفرض په مخرج كي لكه څلورزوجات اونه لوڼي اوشپږجدات بيادي ضرب كړي دمن لايردعليه سهام دمن يردعليه په مسئله كي اودمن يردعليه سهام په هغه كي چې باقى پاتى شي دمن لايردعليه له مخرج څخه اوكه كسرواقع شوبيادي تصحيح وكړي لكه چې مخكې تيرشو. اوكه مړه شول څيني ترتقسيم مخكې نوتصحيح دي وكړي داول مړي دمسئلې اووردي كړي دهروارث حصه بيادي تصحيح وكړي ددوهم مړي دمسئلې بيادي لحاظ كړي داول تصحيح مافى اليداودتصحيح ثانى درې احوال بياكه برابره وه دتصحيح اول مافى اليدله تصحيح ثانى سره نودضرب ضرورت نشته بلكې دواړې مسئلې صحيح كيږي داول مړي له تصحيح څخه اوكه برابرنه وونوبياكه چيرته ددوئ ترمنځ موافقت وونوضرب دي كړي دتصحيح ثانى وفق په كل تصحيح اول كي.

**تشريح**: (۵۲)يعني كه چيرته له مخرج څخه دخاونديانبڅې له حصى وركولووروسته باقى مانده دهغومختلفوورثانو پرحصوباندي برابرنه شواى تقسيميداى پركوموباندي چې ردكيداى شي دهغوئ تول سهام دي دخاونديانبڅې دفرض په مخرج كې ضرب كړي حاصل ضرب دټولوورثانولپاره مخرج گرځي مثلاسړى مرشوڅلورزوجات اونه لوڼي اوشپږجدات پاتي دي نواصل مسئله له څلورويشتوڅخه بنودله كيږي دامسئله رديه ده موږدمن لايردّعليه اقل مخارج يعني اتوطرفته ردكړه بياموږدهغوڅخه ومن لايردّعليه ته دهغوئ حصه يعني ثمن وركړله هغه وروسته اوه حصې پاتى شوې چې دمن يردعليه پرمسئله (چې پنځه دي ) برابرنه شواى تقسيميداى لهذادمن يردّعليه جميع مسئله يعني پنځه مودمن لايردّعليه دفرض په مخرج يعني اتوكې ضرب كړل حاصل ضرب څلويښت كيږي چې دهغوڅخه ددواړوفريقومسئله صحيح كيږي.

(۵۳)ترديي وروسته كه چيرته غواړئ چې له دي مبلغ څخه دهرفريق حصه جوړه كړئ نودهغوورثه وُسهام پركوموباندي چې ردنه شي كيداى دمن يردعليه داصل مسئلې په عددكې ضرب كړئ حاصل ضرب مبلغ مذكوردمن لايردّعليه حصه كيږي .بيادي دمن يردّعليه سهام په هغه عددكې ضرب كړاى شي كوم چې دنه رديدونكوورثانودمخرج څخه باقى پاتى دي حاصل ضرب دهغه فريق حصه كيږي مثلاپه مذكوره مسئله كې دزوجاتويوه حصه ده يوچې په پنځوكې ضرب شي حاصل ضرب پنځه دي لهذاله څلويښتوڅخه دزوجاتوحصه پنځه دي اودبناتوحصه څلوردي څلوردمن لايردّعليه دمخرج څخه په باقى مانده يعني اووكې ضربيږي حاصل ضرب اته ويشت كيږي لهذاله څلويښتوڅخه دبناتوحصه اته ويشت ده .

دجداتويوه حصه ده يوچې په اووكې ضرب شي حاصل ضرب اوه كيږي لهذاله څلويښتوڅخه دجداتو حصه اوه دي.

(۵۴)اوكه چيرته په دغه تقسيم كې په ټولويابعضوفريقوكې كسرراشي (يعنې دحصوعدد دوارثانو پرعددباندې پوره نه تقسيميږي ) نودتصحيح دقواعدوموافق دې دهغه تصحيح وكړاى شي،په مذكور صورت كې پردريوفريقوباندې كسرراغي يعنې څلورزوجات اودهغوئ پنځه سهام په دې كې كسر راغي.اودعددرؤس اوسهام ترمنځ دتباين نسبت دى اونه بنات اودهغوئ اته ويشت سهام په دې كې كسردى اودلته هم دعددرؤس اوسهام ترمنځ دتباين نسبت دى شپږجدات اودهغوئ په سهاموكې هم كسردى اودهغوئ دعددرؤس اوسهام ترمنځ دتباين نسبت دى .بياموږداعدادرؤس ترمنځ نسبت وكاته نودرؤس جدات اورؤس زوجات ترمنځ توافق بالنصف دى نوموږدڅلورونصف يعنې دوه په شپږكې ضرب كړل حاصل دولس شوددوولسواونهوبناتودعددرؤسوترمنځ نسبت توافق بالثلث دى نوموږدنهوثلث يعنې درې په دولسوكې ضرب كړل حاصل ضرب شپږديرش شوبياموشپږديرش په مسئله يعنې څلويښتوكې ضرب كړل حاصل ضرب يوزرڅلورسوه څلويښت (۱۴۴۰)شوچې دهغوڅخه دټولوفريقوپركسانوباندې مسئله صحيح تقسيميږي.

(۵۵)كله بيا داسې هم كيږي چې يوڅوك مړشي دهغه وارثان دده جائيدادنه تقسيموي بلكې په مشتركه ډول يې سره خوري بياپه دغووارثانوكې يوبل څوك مړشي همدارنګه بيادريم مړشي بياڅلورم غرض داچې ډيرى وارثان ترتقسيم مخكې مړه شي اوخپلې خپلې حصې خپلووارثانوته پريږدي په آخركې ددې مشتركه جائيداددتقسيم ضرورت پيداكيږي نومصنف رَحِمَهُ اللهُ له دې ځاى څخه ددې تقسيم طريقه بيانوي چې كه دتركه ترتقسيم مخكې يووارث مړشي نوپه دې وخت كې پرووارثانوباندې دتركه دتقسيم صورت داچې لومړى به دميت اول داصل مسئلې دقواعدومذكوره ومطابق تصحيح وكړاى شي اودهروارث چې څومره حصه جوړيږي هغه وركړله شى يعنې تعين كړاى شي.له هغه وروسته ددوهم مړي اصل مسئله دهغه پروارثانوباندې په مذكوره قواعدو سره تصحيح كړاى شي بيادې ورته وګوري چې دغه دوهم مړي ته چې دمخكينى تصحيح څخه كومه حصه رسيدلې ده دهغې دعدد(يعنې مافي اليد ) اودوهمې تصحيح دعددترمنځ له دريونسبتونو(يعنې توافق.تباين اوتساوى) څخه ديوه نسبت ضرورت شته بياچې دغه مړي ته له لومړى تصحيح كوم سهام رسيدلي دى هغه پردوهم تصحيح باندې پوره تقسيميداى شواى اوكسرنه راته نوبيادضرب ضرورت نشته داول ميت دتصحيح دعددڅخه دادواړې مسئلې صحيح كيږي مثلاً سړى مړشولور.موراوعلاتي خوريې پاتي شول .بيايې خوردتركه دتقسيم څخه مخكې مړه شوه په وارثانوكې يې خاونداومورپاتي شول نوداول مړه مسئله له شپږوڅخه جوړيږي درې حصې لورته يوه حصه مورته اودوې حصې خورته رسيږي.اودوهم مړه مسئله له دووڅخه جوړيږي يوسهم زوج ته اويومورته وركول كيږي .همدارنګه له لومړى مسئلې څخه چې كومه حصه ميت ثاني ته وررسيدلې ده يعنې دوه

سهام نوهغه پر:وهمه مسئله باندي صحیح تقسیمیږي لهذاله هغودووسهامو څخه یوسهم زوج ته اویومورته ورکول کیږي دبل کوم عمل ضرورت نشته.

(۵۲)اوکه هغه مافی الیدصحیح نه تقسیمیده نوبیابه ورته وګوروچي ددي دوویعني میت ثاني دحصی (مافی الید) اودوهمي تصحیح ترمنځ کوم نسبت دی که دتوافق نسبت وونودوهمي تصحیح وفق دلومړی تصحیح په کل عددکي ضربیږي بیاچې کوم انتهائی عددراوځي هم هغه ددواړو مسئلو صحیح مخرج ګرځي مثلایوسړی مړشوپه وارثانوکي یې یوه زوجه یوه علاتی خوراوپنځه آکاګان پاتي شول اصل مسئله له څلوروڅخه جوړیږي یوزوجی ته ورکول کیږي اویوه حصه خورته اوآکاګانوته یوه حصه ورکوله کیږي ،اوس دآکاګانوحصه پرهغوئ باندي صحیح نه تقسیمیږي لهذادهغوئ عدد رؤس په اصل مسئله کي ضربیږي حاصل ضرب شل جوړیږي چې دهغوڅخه دزوجې حصه پنځه کیږي خورته لس ورکول کیږي اواعماموته پنځه رسیږي ،بیاچې خورمړه شي په وارثانوکي یې زوج،مور،لوراویوآکاپاتی شي،اصل مسئله له دولسوڅخه جوړیږي چې زوج ته دري ،مورته دوه،لورته شپږ اوآکاته یوه حصه ورکوله کیږي بیاچې دي خورته له اولې مسئلې څخه لس سهام رسیدلي دي دهغواومسئله ثاني ترمنځ توافق بالنصف دی لهذادتصحیح ثاني وفق یعني شپږ په کل تصحیح اول کې ضربیږي حاصل ضرب یوسل شل (۱۲۰) جوړیږي همدایوسل شل ددواړومسئلو مخرج دی.

(۵۲)وَإِن كَانَ بَيْنَهُمَا مُبَايَنَةٌ فَاضْرِبْ كُلَّ التَّصْحِيحِ الثَّانِي فِي التَّصْحِيحِ الْأَوَّلِ فَالْمَبْلَغُ مَخْرَجُ الْمَسْأَلَتَيْنِ وَاضْرِبْ سِهَامَ وَرَثَةِ الْمَيِّتِ الْأَوَّلِ فِي التَّصْحِيحِ الثَّانِي أَوْ فِي وَفْقِهِ وَسِهَامَ وَرَثَةِ الْمَيِّتِ الثَّانِي فِي نَصِيبِ الْمَيِّتِ الثَّانِي أَوْ فِي وَفْقِهِ (۵۸) وَيُعْرَفُ حَظُّ كُلِّ فَرِيقٍ مِنَ التَّصْحِيحِ بِضَرْبِ مَا لِكُلٍّ مِنْ أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ فِيمَا ضَرَبْتَهُ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ (۵۹) وَحَظُّ كُلِّ فَرْدٍ بِنِسْبَةِ سِهَامِ كُلِّ فَرِيقٍ مِنْ أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ إِلَى عَدَدِ رُؤُوسِهِمْ مُفْرَدًا ثُمَّ يُعْطَى بِمِثْلِ تِلْكَ النِّسْبَةِ مِنَ الْمَضْرُوبِ لِكُلِّ فَرْدٍ (۶۰) وَإِنْ أَرَدْتَ قِسْمَةَ التَّرِكَةِ بَيْنَ الْوَرَثَةِ وَالْغُرَمَاءِ فَاضْرِبْ سِهَامَ كُلِّ فَرِيقٍ وَارِثٍ مِنَ التَّصْحِيحِ فِي كُلِّ التَّرِكَةِ ثُمَّ اقْسِمِ الْمَبْلَغَ عَلَى التَّصْحِيحِ (۶۱) وَمَنْ صَالَحَ مِنَ الْوَرَثَةِ عَلَى شَيْءٍ فَاجْعَلْهُ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ وَاقْسِمْ مَا بَقِيَ عَلَى سِهَامِ مَنْ بَقِيَ.
والحمدلله الذی بنعمته تتم الصالحات والصلوة والسلام علی رسوله محمد خیر خلقه وآله اجمعین الطیبین الطاهرین.

**ترجمه**:اوکه تباین وودهغوئ ترمنځ نوضرب دي کړي کل تصحیح ثانی په کل تصحیح اول کي بیابه حاصل ضرب ددواړومسئلومخرج وي،اوضرب دي کړي دمیت اول دورثهٔ وسهام په تصحیح ثانی کي یادهغه په وفق کي اودمیت ثانی دورثهٔ وسهام به دمیت ثانی په نصیب کي یادهغه په وفق کي ضرب کړي.اومعلومیږي دهرفریق حصه له تصحیح څخه دهغه په ضربولوسره کومه حصه چې هریوه لره ده له اصل مسئلي څخه په هغه کي په کوم کي چې ضرب کړی تاهغه په اصل مسئله کي اودهرشخص دحصي په نسبت قائمولو داصل مسئلي څخه دهرفریق دحصي دهغوئ دعددرؤسوسره تنهابیاورکول کیږي دهغه نسبت په اندازه دمضروب څخه هرفردته اوکه ته غواړي چې ترکه تقسیم کړي پرورثهٔ وباندي یاپرقرض خواهانوباندي نوضرب دی کړي دهروارث سهام له تصحیح څخه په جمیع ترکه کي بیادي تقسیم کړي مبلغ

پر تصحيح باندي او كه چا صلح وكړه له وارثانو څخه نو هغه دي معدوم فرض كړاى شي مابقي دي تقسيم كړى د باقي ورثه ؤ پر سهامو باندي.

**تشريح**: (۵۷) او كه دميت ثاني دمافي اليد او تصحيح ثاني ترمنځ دتباين نسبت وونو په دي وخت كې ددوهمي تصحيح كل عدد به لومړى تصحيح ضرب كړي ددي ضرب څخه چي كوم انتهائي عدد راوځي هغه ددوارو مسئلو مخرج كيږي يعني دهغه عدد څخه ددوارو مړو دوارثانو حصې پوره پوره راوځي او كه ددوارو مړو دوارثانو څخه دهر يوه حصه معلومول غواړئ نو داول مړي دوارثانو سهام دي ددوهمي تصحيح په عدد كې (كه دميت ثاني دمافي اليد او دهغه دتصحيح ترمنځ دتباين نسبت وو) يا دهغه په وفق كې (كه دمافي اليد او تصحيح ترمنځ دتوافق نسبت وو) ضرب كړى او ددوهم مړي دوارثانو سهام دي ددوهم مړي په حصه كې يا دهغه په وفق كې ضرب كړاى شي مثلا يو سړى مړ شو يه ورثه ؤكې يې يو د زوجه .يو د علاتي خوراو دري اعمام (آكاگان ) باتي شول نو اصل مسئله له څلورو څخه جوړيږي يو زوجي ته نصف خور ته او اعمامو ته يو سهم وركول كيږي چي پر اعمامو باندي برابرنه تقسيميده نو د اعمامو عدد رؤس په اصل مسئله كې ضرب كړى حاصل ضرب دولس كيږي چي دهغو څخه دري سهام زوجي ته شپږ سهام خور ته او دري سهام اعمامو نه وركولى كيږي.بيا چي زوجه مړه شي اووارثان يې پنځه ورونه دي مسئله دپنځو څخه جوړيږي او له تصحيح اول څخه دهغې مافي اليد دري سهام دي چي پر مسئله باندي برابرنه تقسيميږي او ددوارو ترمنځ تباين دى نو كل تصحيح ثاني به په كل تصحيح ثاني كې ضرب كړاى سي حاصل ضرب شپيته دي او همدا شپيته ددوارو مسئلو مخرج دى نو دميت اول څخه خور ته شپږ سهام وركول كيږي چې په تصحيح ثاني يعني پنځو كې ضربيږي حاصل ضرب ديرش كيږي او اعمامو ته له ميت اول څخه دري سهام وركول كيږي چې په تصحيح ثاني كې ضربيږي حاصل پنځلس كيږي او ورونو ته له ميت ثاني څخه پنځه سهام وركول كيږي چې دميت ثاني په مافي اليد(يعني دريو ) كې ضربيږي حاصل ضرب پنځلس كيږي.

(۵۸) اوله تصحيح څخه دهرفريق حصه په دي طريقه معلوميږي چې هرفريق ته چې كوم دداصل مسئلې رسيدلي دى هغه په هغه عدد كې ضربيږي كوم چې په اصل مسئله كې ضرب شوى و ..بيا چي ددغه ضرب څخه كوم حاصل شو هغه دهغه فريق حصه كيږي مثلا مړي دوې زوجات .څلور جدات لس لوڼي اواوه اعمام پريښودل.اصل مسئله دڅلورويشتو څخه جوړيږى چې دهغو څخه زوجاتو ته دري.جدانو ته څلور .لوڼو ته شپاړلس او اعمامو ته يوه حصه وركوله كيږي له تصحيح وروسته مسئله له پنځه زره څلويښتو څخه جوړيږي او په مذكور صورت كې دتصحيح لپاره څلورويشت په دوه سوه لس كې ضرب كړى شوي دي.اوس موږ غواړو مثلاچې دزوجاتو حصه معلومه كړو نوله څلورويشتو څخه دزوجاتو حصه دري دي هغه به په دوه سوه لسو كې ضرب كړو حاصل ضرب شپږ سوه ديرش كيږي نو د زوجاتو حصه شپږسوه ديرش دي او دهرې زوجي حصه دري سوه پنځلس دي .

(۵۹) او که د هر فریق د هر فرد حصه معلوم ول غواړئ نو دهغه طریقه داده چې اول دي ته وکتل شي چې هر فریق ته چې د اصل مسئلي د عدد څخه سهام رسیدلي وي هغه دهغه فریق د رؤس له عدد څخه جلا جلا کوم نسبت لري چې کله دا نسبت معلوم شي نو بیا دي د مضروب څخه دهغه نسبت موافق دهغه فریق هر فرد ته حصه ورکوله شي مثلا په مذکوره مسئله کې د زوجاتو د رؤسو او سهامو ترمنځ د تباین نسبت دی او د عدد رؤس یعني دوو او عدد سهام یعني دریو کې د دوه نیمو نسبت دی یعني دیوه او دوه نیمو ترمنځ چې کوم نسبت دی هغه نسبت د دوو او دریو ترمنځ دی نو هغه دوه نیم چې د عدد په مضروب یعني دوه سوه لسو کې ضرب کړای شي نو حاصل ضرب دري سوه پنځلس کیږي او همدا د هرې زوجې حصه جوړیږي.

(۶۰) او که د وارثانو او یا قرضخواهانو ترمنځ ترکه تقسیمول نو دهغه صورت دادی چې اول هر وارث یا هر قرض خواه ته چې کوم سهام له تصحیح څخه رسیدلي دي هغه دي د ترکه په انتهائی عدد کې ضرب کړای شي بیا د ضرب څخه کوم عدد حاصل شي هغه دي پر تصحیح باندي تقسیم کړای شي مثلا یوه ښځه مړه شوه په وارثانو کې یې زوج، مور او دوې حقیقي خویندي پاتی شوې نو اصل مسئله له شپږو څخه جوړیږي عولیه ده چې عول یې اته دي چې زوج ته دري حصې مور ته یوه حصه او دواړو خویندو ته دوه دوه حصې ورکولې کیږي نو موږ به فرض کړو چې کل ترکه پنځه ویشت دینار دي اوس نو ته غواړې چې د زوج حصه ورکړې نو له تصحیح څخه زوج ته ورکړای شوې حصه یعني دري په پنځه ویشت کې ضرب کړه حاصل ضرب پنځه اویا کیږي اوس دغه مبلغ پر تصحیح یعني اتو باندی تقسیم کړه چې دهغه څخه د زوج حصه نه دیناره او دیوه دینار دري ثمنه کیږي د نورو وارثانو حصې هم په دي ډول معلومیږي او پر قرض خواهانو باندی د تقسیم طریقه داده چې که چیرته د میت له ترکه څخه د قرض خواهانو قرض نه شوای اداکیدلای نو قرض خواهان په منزله د ورثه ؤ او دهغوئ دین په منزله د سهامو او دهغوئ مجموع دیون په منزله د مسئلې ګڼله کیږي بیا د مجموع دیون او ترکه ترمنځ نسبت کتل کیږي که نسبت تباین وو نو د قرض خواه قرض په ترکه کې ضربیږي حاصل ضرب پر مجموع الدیون باندي تقسیمیږی او که نسبت د توافق وو نو د ترکه په وفق کې ضربیږي حاصل ضرب د ترکه پر وفق باندي تقسیمیږي او که ترکه داخل وه په مجموع الدیون کې نو د هر قرض خواه دین د مجموع الدیون پر وفق باندي تقسیمیږي باقی عمل تقسیم د ترکه په ډول ترسره کیږي.

(۶۱) مصنف رحمه الله د قسمت د بیان څخه فارغ شو نو د تخارج بیان یې شروع کړ. که کوم وارث د خپلې په عوض څه روپۍ یا دوکان یا مکان وغیره واخلي صلح کول وغواړي او وارثان په دي باندي راضي شي نو دي ته تخارج وایي او دا جائز دی، اوس د تقسیم ترکه په وخت کې دا داسي وګڼئ چې ګواکي دا وارث دی نه. بلکي داسی ووایه چې هغه خپله حصه پخوا وصول کړي ده او بقیه ترکه د نورو وارثانو پر سهامو باندي تقسیم کړه مثلا ښځه مړه شوه وارثان یې زوج، مور او آکا دی او زوج پر یوه مقدار باندي صلح وکړه نو باقی ترکه د مور او آکا د سهامو مطابق اثلاثا تقسیمیږي یوه حصه عم ته او دوې حصې مورته ورکولې کیږي. ځکه اصل مسئله له شپږو څخه جوړیږي چې په هغو کې د زوج دري سهام هغه د بدل په صورت کې وصول کړي دي او مورته د شپږو ثلث یعني دوې حصې ورکولې کیږي او باقی یو سهم عم ته ورکول کیږي.

**فائده**: نن سبا عام طور خویندوته میراث نه ورکول کیږي بعض خلک هسې په رسمی ډول خویندوته د میراث ورکولو دعوه کوي چې دهغوی به جواب کې خویندي د زړه څخه بلکې محض په رسمی ډول انکار کوي. ظاهره خبره ده چې په دي ډول ترکه دورونولپاره حلاله نه ده.آسان صورت د تخارج دی په دي شرط چې خویندي په واقعی ډول په دي باندي راضي وي محض رسمی حیله نه وي . والله اعلم وعلمه اتم واکمل .

**(دژباړې پیل په کال ۱۴۳۴هق / رمضان المبارک اوپای په کال ۱۴۳۵هق / ذی الحجة )**